كشف الباري
عما في
صحيح البخاري
تصنيف
حضرت مولانا سليم الله خان

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

کتاب المغازی

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی
ترتیب وتحقیق ← مولانا ابن الحسن عباسی (مؤلف درس مقامات)
ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

جلد ⑩

خصوصیات

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق،
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب المغازی

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعة فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربي پیښور یونیورسټي

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پیښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه ختک
- علمیه کتب خانه اکوړه ختک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبۀ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبۀ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبۀ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبۀ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبة القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷٤۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامي کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲٤۷

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

کتاب المغازي

باب غَزْوَةِ الْعُشَيْرَةِ أَوِ الْعُسَيْرَةِ

بَاب ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُقْتَلُ بِبَدْرٍ

بَاب قِصَّةِ غَزْوَةِ بَدْرٍ

بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ...

بَاب:

بَاب عِدَّةِ أَصْحَابِ بَدْرٍ

بَاب دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُفَّارِ قُرَيْشٍ شَيْبَةَ وَعُتْبَةَ وَالْوَلِيدِ وَأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ وَهَلَاكِهِمْ

بَاب قَتْلِ أَبِي جَهْلٍ

شمیره	مضمون	صفحه

بَاب فَضْلُ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا

بَاب

بَاب شُهُودِ الْمَلَائِكَةِ بَدْرًا

بَاب

شمیره	مضمون	صفحه

بَابُ تَسْمِيَةِ مَنْ سُمِّيَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ الَّذِي وَضَعَهُ أَبُو عَبْدِ اللّٰهِ عَلَى حُرُوفِ الْمُعْجَمِ

شمیرہ	مضمون	صفحہ

بَاب غَزْوَةِ الرَّجِيعِ وَرِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَبِئْرِ مَعُونَةَ

بَاب - غَزْوَةِ الْحُدَيْبِيَةِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

بَاب - اسْتِعْمَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ خَيْبَرَ

بَاب - مُعَامَلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ خَيْبَرَ

بَاب بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ إِلَى الْحُرُقَاتِ مِنْ جُهَيْنَةَ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

بَابٌ قِصَّةِ وَفْدِ طَيِّئٍ وَحَدِيثُ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ

بَابٌ غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهِيَ غَزْوَةُ الْعُسْرَةِ

بَابٌ حَدِيثُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَقَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

غزاګانې لنډې لنډې......(د مرتب دقلم نه)

يو وضاحت

په دې تقرير کښې چه مونږ د صحيح بخاری کومه نُسخه د متن په طور استعمال کړې ده.په هغې باندې ډاکټرمصطفٰی ديب البغا تحقيقی کار کړې دې.ډاکټرديب په احاديثو باندې د نمبرو لګولو سره سره داحاديثو د مواضع متکرّره په ګوته کولو اِلتزام هم کړې دې.که يَو حديث روستو راتلونکې وی.نو دحديث په آخر کښې په نمبرو سره هغه په ګوته کوی.يعنی چه په دې نمبر باندې حديث راځی.اوکه حديث تيرشوی وی. نو د نمبر نه وړاندې [ر:] لګوی. يعنی چه دې نمبر ته دې رجوع اوکړې شی.

بسم الله الرحمن الرحيم

څه د خپل ځان په باره کښې

حامداً ومصلياً وبعد:
ديوبندسره نزدې اود تهانه بهون سره تقريباً متصل قصبه حسن پور لوهاري ضلع مظفرنګر يوپي انډيا د احقر مولد او مسکن قديم دې.دا قصبه د افريدو پښتنو کلې دې. دې بستئ ته دا شرف حاصل دې.چه حاجي امداد الله مهاجر مکي،حافظ ضامن شهيد ،او دمولانا شيخ محمد تهانوي پيراومرشد اود حضرت سيد احمد شهيد رحمهم الله معتمد خاص ميانجي نور محمد جهنجهانوي قيام هم په دې بستئ کښې پاتې شوې دې.اود تهانه بهون مذکور الصدر عارفين ثلاثه حسن پور لوهاري ته راغلي وو.اود ميانجي صاحب موصوف نه ئې استفاده کړې وه.او په مستفيدينوکښې بيا د حاجي صاحب فيض خوپه ځلورکنجه دنيا کښې نن هم جاري اوساري دې.او انشاء الله تعالى ترقيامته پورې به جاري وي.
د احقر تعلق هم د دغه آفريدي پښتنود يومتوسط خاندان سره دې.چه پيشه ئې طبابت راروانه وه.زما والد محترم جناب عبدالعليم خانصاحب مرحوم لا ماشوم وو.چه د نيکه د وفات سره دوي يتيم پاتې شو.ددې وجې د دوي د تعليم معقول بندوبست اونشو.اوهغوي د طب تعليم حاصل نکړې شو.د دوي د يوناني دوايانو دوکان وو.او دوي عطار وو.
اولنې تعليم: زما اولنې استاذ منشي بنده حسن رحمه الله دچا نه چه ما د اردو او فارسئ تعليم حاصل کړې وو. پرهيزګاراومتقي انسان وو.ما په خپل ژوند کښې د هغوي پشان ذاکر اود نوافلو په کثرت سره ادا کونکې چرته نه دې ليدلې.زما دويم استاذ منشي الله بنده رحمه الله وو.دچا نه چه ما د اردود او فارسئ تعليم په دوران کښې قرآن کريم په ناظره وئيلې وو. هغوي به د ماښام نه پس کورکښې د اورولو دپاره تشريف راوړلو.په قناعت او د دنيا نه په بې رغبتئ کښې بې نظيره وو.د هغوي معمول وو،چه روزانه به ئې يو قرآن کريم ختمولو. حال دا چه هغوي حافظ هم نه وو.
دعربئ د تعليم شروع: د قرآن کريم او اردو او فارسئ د تعليم نه د فراغت نه پس زه مدرسه مفتاح العلوم جلال آباد ضلع مظفرنګر کښې د حضرت مولانا مسيح الله خانصاحب رحمه الله په خدمت کښې حاضرکړې شوم.دلته مې د دوو کالو او شپږو مياشتو په موده کښې درجه رابعه پورې کتابونه اووئيل.بيا احقر ديوبند ته اوليږلې شو، هلته مې پنځه کاله تير کړل.د دارالعلوم رائج نصاب مې پوره کړل.جمله فنون منطق،فلسفه،ادب، اصول ،رياضي،فقه ،کلام او د حديث په نصاب کښې شامل ټول کتابونه مې ختم کړل.د دارالعلوم نه د فراغت په وخت کښې مې ۲۰ کاله عمر وو،او پاکستان نه وو جوړ شوې.
بيا مې تدريس شروع کړو،او پاکستان ته د هجرت نه وړاندې په جلال آباد مدرسه مفتاح العلوم کښې مې د درس نظامي پوره سره د جمله فنونو اودوره حديث اتۀ کاله تدريس اوکړو.پاکستان ته د راتلو نه پس درې کاله په دارالعلوم الاسلاميه اشرف آباد ټنډوالله يار

كښې مدرس پاتې شوې ووم .بيا لس كاله په دارالعلوم كراچۍ كښې او دارالعلوم سره سره يوكال په جامعة العلوم بنوری ټاؤ ن كښې هم د تدريس خدمات كول.په هره مدرسه كښې د حديثو د مركزی سبقونو نه علاوه په نورو فنونوكښې هم لوئې كتابونه زيردرس پاتې شوی وو.په ۱۹۲۷ء كښې مې د جامعه فاروقيه كراچۍ بنياد كيښودو.اود ۲۸ كالونه تراوسه پورې هم دلته كار كوم.

زما دوړوكوالی او د طالب علمۍ زمانه په لوبو او د هلكوانۍ په زمانه كښې تيره شوې ده. خو معلومه نه ده.چه وجه وه هم په دغه زمانه كښې داول نه واخله تر آخره پورې د استاذانو شفقت اوحسن ظن هميشه دپاره پاتې شوې دې.په دوی كښې د څه حضراتو د شفقت او د هغوی حسن ظن په وجه كله كله هغوی په دې نالائق شاګرد باندې ډير اعتماد اوفخر هم كړې دې.كوم چه په هغه وخت كښې هميشه دپاره زه شرمنده كړې يم.([1])

د ابتداء نه د څه درجه كښې دطالب علمۍ استعداد كښې استحكام پيدا شوې وو.ددې وجې ئې د هلكوانې لاپرواهی څه زياته نقصانی ثابته نشوه.دا بيله خبره ده.كه پوره توجه ئې سبقونو،مطالعې اوتكرارته وركړې وه. نو يقيناً ډيرښه صورت حال به وو.بهرحال هغه نقصان خو اوشو.بيا مې دتدريس په زمانه كښې ډيرمحنت اوكړو.اوپه څه ناڅه طريقه د تدريس دا زمانه هم تيره كړه. ([2])

---

[1]) ① حقيقت دا دې.چه الله تعالى مولانا ته غير معمولی صلاحيتونه وركړی دی.ددوی د حافظې واقعات چه واورې.نود قرون اولی د محدثينو د حافظې ياد تازه كيږی.دا واقعه به د ډيرو دپاره د تعجب باعث وی.چه په دې زمانه كښې هم داسې حضرات موجود دی.چاچه د يوې مياشتې نه په كمه موده كښې پوره قرآن پاك نه يواځې دا چه ياد كړې دې.بلكه د يادولو سره سره ئې په تراويحو كښې هم اورولې دې،،

هم د طالب علمۍ په زمانه كښې دوی د دارالعلوم ديوبند نه د رمضان په تعطيلاتوكښې كور ته راغلو. خيال ورته راغلو.چه د چهټيانوپه دې وقفه كښې د قرآن شريف څه حصه ياده كړم.رمضان رانزدې وو .مشوره دا اوشوه.چه روزانه به ربع پاره يادوی.او په تراويخوكښې به ئې اوروی.دغه شان به د رمضان تراويح هم كيږی.او دوی به اووه اته پارې هم يادې كړی وی.مولانا ته كيدې شي.پخپله هم د خپلې حافظې دقوت اندازه په هغه وخت كښې نه وه.نودوی روزانه د يو پۍ يادولو اراده اوكړه.دحفظ قرآن شروع ئې اوكه.خوچه كله د يادولو دپاره كيناستلو.نو روزانه به ئې د ربع پارې په ځاې يود نيمه پاره يادوله.اود شپې به ئې هغه په تراويحوكښې هم اوروله. يو طرف ته اوويشتمه شپه راغله.او بل طرف ته دوی ټول قرآن كريم حفظ كړواوپه تراويحوكښې ئې واورول.دعلاقې حافظانوته چه كله ددې خبر اوشو.نوډيرو ته يقين نه راتلو.خويوه واقعه كومه چه په وجود كښې راغلې ود.دهغې نه انكارڅنګه ممكن وو-

[2]) مولانا د فن تدريس شهسوار دې.دوی چه چرته هم پاتې شوی دی.د دينی علومو د تګو شمع به لګيدلې وه.ددې بوراګانود رونق نه دوی كله هم بې رونقه شوی نه دی.د دوی د ځوانۍ په زمانه كښې هم به د طالبانو يوه ډله هميشه دپاره دوی سره د لوستلو په غرض ډيره وو.په هغه وخت كښې د حديث وئيلو څو استاذان داسې هم وو.چاچه د درس نظامی د ابتدائی درجې سبقونو نه واخله تر صحاح سته پورې ټول كتابونه د بل چا د شركت نه بغيرصرف د دوی نه وئيلی وو.په درس نظامی كښې په هغه وخت كښې داسې معياری كتاب نه وو.دكوم چه دوی درس نه وركړی.په درس او تدريس كښې د دوی د محنت او شغف اندازه ددې نه لګولې شي،[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

دمولانا مسيح الله خان صاحب صحبت: زما په ژوند کښې د ټولونه زيات بدلون،د ديني جذباتو پرورش، داخلاقو او اعمالودحسن اوقبح احساس،د دې اصلاح ته توجه اوهميشه دپاره خپل ځان په رجال الدين کښې د شاملولو شوق اوجذبه،دحضرت مولانا مسيح الله خان صاحب په صحبت کښې چه پاتې شوم،نوپيدا شوه.دا بيله خبره ده.چه زه د نفس او شيطان د اغوا په وجه جوړ څه نه شوم.خوپه دې باندې شکرګذار يم.چه داهل حق علماؤ او اهل اصلاح په لمن کښې يم.او اميد وار يم.چه هم ددې تعلق په وجه به راسره الله تعالى د عفو او درګزر معامله اوکړي.اومغفرت به مې اوکړي.((وما ذلك على الله بعزيز)).

شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله : داحقيت دې چه ماته زماد فن حديث سره تعلق د شيخ الاسلام حضرت مولانا حسين احمد مدني نورالله مرقده د شاګردئ په وجه نصيب شوې دې.دحضرت د ترمذي درس روزانه به دوه دوه نيمې ګهنټې په داسې عجيبه انداز کښې وو.چه ستر ګوته هغه ښه منظرچرته بيا نه دې نصيب شوې.هغه شيخ د زمانې چه

...دتيرمخ بقيه] چه په کلونو ،به دوی د صحيح بخاري، صحيح مسلم ،صحيح ترمذي،سنن ابی داود او مشکواة شريف ټول جلدونه دوی مکمل په خپله ونيل.اودې سره سره به ئې لا زياتي هم د څه کتابونو سبقونه ونيل.،،

د ښه او مقبول استاذ په تعريف کښې دا خبره هم داخله ده.چه هغه دګرانې نه ګرانه مسئله په لطيفوکښې بيانې.اوطالبان دهغوی په درس کښې ستړې والې نه محسوسوی.يواستاذ چه په تفهيم و پوهولوکښې دغيرمعمولي صلاحيت او مهارت ولې نه وی.خوکه دهغه په انداز اوطرز تقريرنه په طالبانوباندې ذهني بوج غورځيږي.نوهغه ته د فن تدريس د ټولوښه صفاتو حامل مدرس نشي وئيلې.الله تعالى مولانا ته د تفهيم د غيرمعمولي صلاحيت سره سره د انداز بيان او اسلوب تقرير داسې زړه راښکونکې او خوښونکې صفت ورکړې دې.چه په ګهنټوبه ته ددوی په درس کښې ناست ې.خوته به ستړې والي بيخي نه محسوسوئ.داول نه آخره پورې به په درس کښې تازګي اوخوند خور وی.د دوی تدريسي ژوند تقريباً په نيمه صدئ باندې مشتمل دې.او اوس هم حالانکه دوی د قيمتي عمر ۶۸ منزلونه تيرکړی دی.د دارالحديث معموره فضاء د دوی د درس بخاری نه ګونج کوی. (يعنی آواز ئې په کښې راتمبيږی.،،

دشاګردانو وسيعه او مفيده حلقه،،

الله تعالى مولانا صاحب د شاګردانو په وسيع او مفيدې حلقې سره کامياب کړې دې.په دې وخت کښې د دنيا په مختلفو ملکونوکښې د مولانا صاحب شاګردان کوم اهم ديني خدمتونه کوی.هغه د شلو نه زيات ملکونه دی.په کوموکښې چه د پاکستان نه علاوه ناروې، جرمنی، ساوتهـ افريقه، سعودی عرب،کويت،قطر،عرب امارات،عمان ،انګليند، استريليا، کوريا، افريقه، فرانس، ملاوئشيا، رنګون،هندوستان،بنګله ديش،ايران او افغانستان وغيره ملکونه دی.ددوی د شاګردانو په دې وسيع حلقه کښې مصنفين هم دی.اومدرسين هم،مفتيان هم دی او عالمی سکالران هم،په جنګي محاذونوکښې دکافرانوسره مقابله کونکي هم،اوپه عالمي سطح باندې ديني فريضه پوره کونکي مبلغين هم،لوی لوی ديني ادارې قائمونکي اوچلونکي مهتممين هم،اود شيخ الحديث په منصب باندې ناست محدثين هم.،،

د دارالعلوم کراچئ صدر مدرس مفتی محمد رفيع عثماني صاحب،جستس مولانا محمد تقی عثماني صاحب،دجامعه بنوری اسلاميه ټاؤن مهتمم مولانا حبيب الله مختار صاحب،د درس نظامی د بعضې کتابونواردو شارح مولانا حنيف ګنګوهی او مولانا مفتی نظام الدين شامزئ غوندې د علم ستنې ددوی د شاګردانوپه حلقه کښې داخل دی) ـ

دهغوی د دیني،ملي، سیاسي،سماجي،اصلاحي، اوانتظامي خدماتوځه حد نه وو.هغوی د استقامت او ثبات جبل اعظم وو.په مسند درس چه به کله هغوی کیناستل.نوپه مخ باندې به ئې د خوشحالئ آثاربنکاره ښکاریدل.شخصیت ئې دومره زړه راښکونکې اوزړه ته پریوتونکې وو.چه زړونه به هغوی طرف ته راښکلې شو.کوم طالبان چه په ټول کال په درس کښې شریك وو.دهغوی دپاره به د حضرت په ذات ګرامي کښې د اولنئ ورځ پشان نوې والې او جاذبیت وو.خیال راځی.چه د نبی ﷺ د عاشقانوکله دا شان دې .نود نبی ﷺ به څه شان وو.

دحضرت په درس ترمذی کښې به د حدیثو په فني مباحثوښه تفصیل کولې شو. د اسناد،جرح وتعدیل،تطبیق او ترجیح بحثونه،فقهي،کلامي،تاریخي مسائل،او اخلاقي اواصلاحي خبرې به ئې ښه په تفصیل سره کولې.دصحاح سته اونورو کتابونو سبق به ورسره برابر پروت وو.دحوالې هره خبره به ئې په کتاب پرانستلو اودهغې د عبارت په وئیله او بیانوله.اوپه دې تفصیلي سبق کښې به دومره اطمینان وو.چه کله به هم دا نه محسوسیدله. چه د دوی ددې کارنه علاوه بل څه کار هم شته.دطالبانودهرقسم تپوسونو به ئې ډیره په ورین تندی سره تفصیلي جواب ورکول،کله به ئې په مخ باندې انقباض نه ښکاره کیدو،بلکه ډیرد انبساط او نشاط په کیفیت کښې به وو.

په دغه کال د حضرت شیخ الاسلام نورالله مرقده درس بخاری د زیاتو سفرونو په وجه متاثرشو.دغه شان د حضرت شیخ په نیز د جامع ترمذی د درس اهتمام زیات وو.ددې وجې د درس بخاري درس به د درایت په انداز کم کیدې شو.ټول کتاب خو خیر نه خو ۲۴ و ۲۵ پارې شلم ۲۰ شعبان باندې چه به امتحان ختمیدل.نوتردغه وخته پورې به ئې قراءةً اودرایةً درس کولو او په ۲۸ شعبان به ئې کتاب پوره کول.

شیخ الادب والفقه مولانا اعزاز علی ﷫ د ابوداود درس هم معاون وو.دهغوی د درس نه هم احقرډیرڅه زده کړی دی.ترمذی شریف دکتاب السیرآخره پورې اوشمائل ترمذی هم احقرد حضرت شیخ الادب نه وئیلی دی.

احقر په زمانه د تدریس کښې دحضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا﷫ د تصنیفاتو اوحواشو نه ډیره استفاده کړې ده.بلکه د تدریس دا ټوله زمانه د ،،الکوکب الدری ،بذل المجهود، اوجزالمسالك، او لامع الدراری، نه په استفاده کښې تیره شوې ده.د نورو تصانیفونه مې هم بغیردڅه شك نه استفاده کړې ده.اوبار بار مې کړې ده. خو د تعلق کوم کیفیت چه د حضرت شیخ د کتابونو سره پاتې شوې دې.هغه د نورو سره نه دې.ددې وجې د حضرت شیخ الاسلام نورالله مرقده نه پس که په ما باندې دعلم حدیث په باره کښې دچا د ټولونه زیات احسان وی.نوهغه د شیخ الحدیث ﷫ دې.

څه د کتاب په باره کښې

دصحیح بخاري کتاب المغازی دا درسي تقریر دترتیب وتحقیق د مراحلونه تیر شو.اواوس ستاسوپه لاسونوکښې دې.لکه څنګه چه د کشف الباری جلد اول په ابتداء کښې عرض کړې وو.چه دا په اصل کښې د صحیح بخاري زما درسي تقریر دې.دا تقریرمولوی رشید

احمد شريف كراچوي ټيپ كړې وو.دخپل څه درسي تقرير د ضبط كولوما چرته څه اهتمام نه دې كړې.اونه مې چرته ددې اراده وه.خود مولوی صاحب اصرارغالب شو.اود دغه كال د تقرير ټيپ كولواجازت مې وركړو.هغوی ډيرپه اهتمام سره د پوره صحيح بخاری درس ډيرې پيسې خرچ كړې اوټيپ ئې كړو.دا درسي تقرير دكيسټونه منتقل كيږی.كاپيانوته، او بيا دهغه ځاې نه د ترتيب اوتحقيق د مراحلونه تيريږی. اوكتابی شكل كښې راتلل ئې شروع شوی دی.

ددې درس آغاز په ۲۱ شوال ۱۴۰۲ھ كښې شوې وو.اوپه ۱۰ رجب ۱۴۰۷ھ ته ختم شو.چه د لوې اختر،سه ماهی،شش ماهی امتحانونواودجمعې د ورځې چهټيانې ترې اوباسې. نو ددې درس ټوله موده شپږ نيمې مياشتې جوړيږی.روزانه تقريباً دوه گهنټې جاری د صحيح بخاری دا درس په ۴۰۰ كيسټوكښې محفوظ شو.

ددې درس نه وړاندې احقرته ځليريش خله دبخاری شريف اوددې نه زيات د ترمذی شريف لوستلونوبت راغلې دې.اونوركتب صحاح هم باربار لوستلی دی.يوخودا د ځليريشت كالونو محنت وو.اوبيا مطبوعه اوغيرمطبوعه څومره مواد چه راسره وو. د هغې نه يوځل بيا د نوی سر نه د استفادې كوشش شوې دې.

د كرمانی،عسقلانی،عينی،قسطلانی،مهلب بن ابی صفر،ابن منير،ابن بطال، ابن التين، حضرت شاه ولی الله اومولانا انورشاه كشميری رحمه الله دشروحو نه،د شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله د لامع الدراری اومولانا محمد ادريس كاندهلوی رحمه الله د تراجمو نه مې ښه استفاده كړې ده.په غيرمطبوعه موادوكښې د خيرمولانا محمد جالندهری رحمه الله د شرح بخاری، اود مظاهرالعلوم سهارنپور شيخ الحديث مولانا محمد يونس صاحب د درسی افاداتونه مې ښه استفاده اخستې ده.

امام بخاری رحمه الله غزوات ډيرپه اهتمام اوتفصيل سره بيان كړې دی. خو د احاديثو په تخريج، د بابونوپه ترتيب، اود تراجم ابواب او واقعاتوپه ترتيب كښې دوی خپل ځان ته جدا يو اسلوب لری.اوهم هغه احاديث ذكركوی.كوم چه د دوی مخصوصو شرطونو سره برابر وی.ددې په وجه په بعضې ځايونوكښې ابهام پاتې كيږی.اوتركومې پورې چه د پوره ذكرشوې غزوې پس منظر وړاندې نه وی..نوخبره په پوهه كښې راتلل گران وی.د بعضې غزواتو په تاريخ وقوع كښې دعام اهل سيرنه جدا دوی ځان ته يومستقله رائې لری.ددې وجې دصحيح بخاری كتاب المغازی په درس كښې ددې خبرې ضرورت پيښيږی.چه د متعلقه غزوه تاريخی پس منظر،په تاريخ وقوع كښې د اصحاب سير اختلاف،اوقول راجح، دامام بخاری رجحان،اوچه ددوی رائې مربوطه بيان كړې شی.ددې نه پس به دبابونواود بخاری د احاديثو متعلق مباحثو بيان وی.نوپه دې تقرير كښې هم اول پوره تاريخی تفصيل سره متعلقه غزوه بيان شوې ده.په تاريخ وقوع وغيره كښې د اهل سيراختلاف، قول راجح،او د امام بخاری رحمه الله د رائې وضاحت شوې دې.ددې نه پس په ابواب اواحاديث بخاری باندې تفصيلی خبرې شوی دی.د غزواتو دبيانولونه وړاندې د مقدمې په توگه د جهاد مقصد ،ددې ضرورت،ددې قسمونه اود غلامۍ په مسئله باندې رڼا اچولې شوې ده.

دكتاب المغازي په دې جلد باندې د ترتيب اوتحقيق کارد جامعه فاروقيه استاذ د شعبة تصنيف وتاليف ملګرې زما ګران مولوي ابن الحسن عباسي سلمه کړې دې.دوی ډير په محنت او شوق سره اصل مراجع طرف ته مراجعت کړې دې.اوحوالې ئې راويستې دي. مفيدې حاشې ئې پرې ليکلي دي.په بعضې ځايونوکښې ئې اضافې هم کړی دی.اوددې تقرير په محقق جوړولوکښې ئې ډيرکوشش کړې دې.الله تعالى دې د بخاری دې درس ته قبوليت ورکړی.اودا دې زما دپاره اود مرتب دپاره صدقه جاريه اوګرځوی .آمين.

درخواست د مرتب

هغه ورځې زما د ژوند ښکلې ورځې وې.اوهغه شپې زما د ژوند ښائسته شپې وې.کله چه ما د سيرت نبوی يوځلنده باب پرانستل.اودغزواتو په تازه باغ کښې ورداخل شوم.هغه باغ چه دهغې د هريو ګل نه د وفا بوې ځی.کوم ځاې کښې چه د الفت د شهادتګاه بلبلان چغيږی.د خوشبواو نور هواګانې دهرطرف نه چليږی.دشهادت د سيلاب موجونه ليواله وی. چرته چه نظرد جلوو په طوفان کښې ډوبيږی.اود کفر او سرکشئ طغيانی هم په نظر راځی. دحق اوباطل کشمکش دا تاريخی واقعات اميرالمؤمنين في الحديث سيدنا امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې د «کتاب المغازی»په نوم باندې مرتب کړی دی. استاذ المحدثين شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب په اردوکښې بيان کړې دې.اوپه دې باندې د تحقيق اوتعليق سعادت زما په حصه کښې راغلو.بيشکه په يوارخ مطالعه ،اوپه هغې باندې کارکول چه دالله تعالى د طرفه چاته ددې توفيق ملاؤ شی.نوډيرلوې سعادت دې.مبارك اوقابل رشك دې.د ژوند هغه ګهړئ چه د د دواړو جهانو د سردار،غاښلې نبی کريم ﷺ دحيات طيبه د خوشحالی ورکونکی چينو نه په سيراب کيدوکښې تيرې شی.په دې سعادت باندې دخپل رب شکر څنګه اد کړم.هغه الفاظ دکوم ځاې نه راوړم.کوم چه زما د جذباتوعکاس او ترجمان جوړ شی.

نه ګلم نه برګ سبزم،نه درخت سايه دارم　　　درخيتم که دهقان بچه کار کشت مارا

دصحيح بخاری په دې تقريرپه ترتيب،تحقيق اوتعليق کښې مې خپل کوشش کړې دې.اود لاندينی اموراهتمام مې کړې دې.

① د تقريرژبه کافی حده پورې د تقريرد اسلوب نه مختلفه وی.د ترتيب ورکولوپه وخت کښې زبانی تقريرپه تحريری قالب کښې داچولوځه حده پورې کوشش شوې دې.خوخيال ددې خبرې هم ساتلې شوې دې.چه د درسی ژبې نوعيت بيخی ختم نشی.او لوستونکی ددې اصل درسی فضا تصوير او جهلك محسوس کړې.ځکه چه هغه ددې يو پرتاثير اړخ دې.يودرسی تقريرچه د سلسيس نه سليس کړې شی.اوهغه بيخی ختم کړې شی.دا د ترتيب په محاسنوکښې نشی شمارلې.په دې کښې دکمال پيمانه او معيار دا دې.که قاری ته د صاحب تقريرنه د براه راست استفادې موقع حاصله شوې وی.يا ورسره بالمشافه خبرې شوې وی.نوچه په مطالعې سره اوپه ذهن کښې دهغه طرز ادا ،اسلوب القاء اود صوت او صدا سره نقش شوې تصويرتازه شی.

② په تقرير كښې چه كوم واقعات،توجيهات،اوداحاديثو دتشريح سره متعلقه ټول مباحث د موجوده مراجع اومصادرو نه د جلد اوصفحې ذكركولوسره دنقل كولو اهتمام شوې دې.په ترتيب اوتحقيق كښې دا هم يوه مشكله مرحله وى.چه ډيرې خبرې مشهورې اود عوام او خواصو ژبه باندې وى.خوكله چه په اصل مراجعوكښې دهغې د معلومولو مرحله راشي. نو بعضې وخت كښې ګهنټې څه په ورځو پسې ورځې لګي.بيا چرته حواله ملاؤ شي.اويا بيا هم ملاؤ نشي.

③ كه د يوصحابى يا تابعي ذكر په تقرير كښې مختصر راغلى وى.نوپه حاشيه كښې په عربئ يا اردوكښې په اختصار سره دهغه د ژوند حالات بيانولې شى.

④ كه د مطالعې په دوران كښې د بحث سره متعلق څه نكته راته ملاؤ شوې ده. نو د لوستونكو د فائدې دپاره هغې ته هم په حاشيه كښې خاې وركړې شوې دې.

⑤ كله كله د څه اشكال په جواب كښې يا د څه مسئلې په وضاحت كښې د ضرورت او اهميت په بناء باندې لږ اوږدې حواشى هم ليكلې شوى دى.داصل كتاب شروع كيدونه وړاندې د دعوت اوجهاد په خپل مينځ كښې په ربط باندې په حاشيه كښې يومضمون هم ددې سلسلې يوه كړئ ده.په دې وخت كښې په عالم اسلام كښې يوطرف ته د دعوت اوتبيلغ د خاموش انقلاب خاموشه قافله روانه ده.بل طرف ته دمجاهدينوقافله هم د جهاد اسلامى ايمان تازه كونكې تاريخ تازه كوى.په ذكرشوى مضمون كښې د دعوت اوجهاد په خپل مينځ كښې ربط،د امت مسلمه دپاره دهريواهميت اوضرورت، او غلو اومبالغې په خارداره حصه كښې د داخليدونه بغير،په حدودوكښې دننه دننه دانهماك د حده پورې د دواړو شعبوسره تعلق ساتلوباندې رڼرا اچولې شوې ده.[1]

⑥ په تقريركښې كه د بخارى يا د حديث په بل كتاب كښې كه چرې د روايت د تخريج د حوالې ذكر راغلې دې.نودمحوله كتاب اومقام نه ددغه روايت تخريج په ګوته كړې شوې دې.

⑦ دطالبانو د نكته نظرنه يوه اهم كاردا هم شوې دې.چه دكتاب په آخره كښې د ټولو لويو غزاګانوخلاصه ما په خپلو الفاظوكښې ليكلې ده.چونكه تفصيلا داكثرو طالب علمانو په علم كښې وى.البته د حافظې سره تعلق ساتونكى بعضې خبرې مثلاً د غزوه تاريخ وقوع، دشركاؤ او شهداؤ شمار،غوندې څيزونه د ذهن نه اوځى.ددې وجې په مختصرو الفاظو كښې د غزواتو خلاصه ،دمتعلقې غزوې اجمالى نقشه پيش كول .اود اهمو واقعاتو تصوير كشى كولو سره سره په مختصر وخت كښې مطالعه اوداهمو خبرو يادولو كښې به انشاءالله ممد اومعاون ثابت شى.

ددې امورويه اهتمام كښې دخپل طاقته پورې دتقريرپه محقق جوړولوكښې پوره كوشش اومحنت كړې شوې دې.خودعصمت دعوى دهرظلوم اوجهول انسان دپاره دلوې نه لويه

---

[1])دا مضمون په ١٤١٢هـ كښې ليكلې شوې وو.د ماهنامه الفاروق كراچئ (شماره شوال ١٤١٢هـ) نه علاوه ماهنامه الحسن لاهور(شوال ١٤١٢هـ) هم دا شائع كړې دې.

غلطي ده.په دې کتاب کښې به يقيناً غلطياني وی.ددې کتابت د کمپيوټر دې.په کوم کښې
چه د کتابت دغلطيانو احتمال نسبتاً زيات وی.عالمانو ته درخواست دې.چه قابل اصلاح
څيز ورته په نظرراشی.نومونږ دې ضرور دهغه نه خبر کړی.
دشيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب مدظلهم شفقت،توجه ،نګرانی، اوهمت
اوحوصله اوچتولو سره د ترتيب اوتحقيق مراحل په آسانتيا سره پوره کيږی.دلوستونکی نه
د حضرت شيخ مدظلهم د صحت،عافيت او عمردرازئ دخصوصی دعاګانودرخواست دې.
اودا چه الله تعالی د صحيح بخاری د دې ټول تقريرد ترتيب، تحقيق اوتعليق کارآسانواو
پوره کولو لوتوفيق راکړی.چه دا کاردحضرت شيخ د افاداتو امين،اودهغوی علمی يادګار
شی. اودمرتب د توري عملنامې په توره شپه کښې روښانه سپوږمئ خو چه شی.انشاء الله
دصحيح بخاری به په اردو ژبه کښې هم يوه ښه شرح وی.
د اسلامی تاريخ د غزواتودا ځلندهٔ باب په حق اوباطل کښې يو مرکزی سبق ورکوی.بيشکه
قومونه په اوچتواخلاقو،دتهذيب اوتمدن په اعلی اوصالح قدرونو،اود ژوند په مختلفو
شعبوکښې همه ګير،جامع ضابطه حيات،او اصولوسره اوچتيږی.ترقی کوی. او کاميابيږی.
دقومونو، سلطنتونو،اوملکونود روښانه تهذيب ته د ژوند په جنګ کښې شکست
ورکونکې داسلامی تاريخ تيرشوې عظمت هم دا بنيادی راز دې.خودا خبره هم هيڅ کله
مونږ لره هيرول نه دی پکار،چه داسلام تيرشوې عظمت،اومخکنې هيبت،اود دوباره پيدا
کيدو راز د عزواتوتاريخ لوستلوکښې پټ دې.ددې دپاره د عزم اوايقان،جراءت اوايمان،
دجذبه جهاد سره سره د مادی قوتونود حاصلولو ضرورت او اهميت په خپل ځاې منلې
شوې دې.ځکه چه دجرم ضعيفی بهرحال سزا مرګ مفاجات دې.خوجغرافيائی نقطه نظرسره
د دنيا په نقشه باندې د زنځيرد کړو پشان مربوط عالم اسلام الميه په دې وخت کښې د
قوتونو کمې يا د افرادو عددی قلت نه دې.د ايمان او يقين کمزوری،د فانی دنيا سره
محبت،دجهاد د جذبې نشتوالې،اودالله په لاره کښې مرګ ته په ژوند باندې ترجيح ورکول
هم دمسلمانانو دموجوده ذلت او ښکته والی اصلی سبب دې.دکوم څيز پيشنګوئی په صدو
وړاندې د نبی ﷺ ژبې د «حب الدنيا وكراهية الموت» غوندې بليغو الفاظوکښې بيان کړې وه.
که دبدرفضا پيدا کړې شی.نو نن هم يقيناً فرشتې د نصرت دپاره دآسمان نه راکوزيدې
شی. خودا په هغه وخت کښې ممکن ده.چه د غزواتود ايمان تازه کونکی تاريخ نه د
مسلمانانو بچې بچې خبر وی.يوطرف ته دمسلمانانو د عام تعليمی ادارو د نظام تعليم دا
الميه څه کمه نه ده.چه د مسلمانانو بچو ته په فرانس ،روس ،ترکی، امريکې وغيره کښې
واقع شوې انقلاباتو،اودهغې داسبابواو عواملو او پس منظرنه ښه خبر ورکولې شی.خوبل
طرف ته داسلامی تاريخ او غزواتو نه دوی ته سرسری معلومات ورکولی شی.د مسلمانانو
په نوی نسل کښې د جهاد د جذبې نشونما ،دشهاد شوق، او داسلام د اوچتوالی په لاره
کښې د ځان قربانولو عزم دغزواتو او اسلامی جهاد کښې دځان قربانولو جنګونود واقفيت
پيدا کولونه بغيرڅنګه ممکن کيدې شی؟ په ګرکسونو (يو قسم مارغان دی،چه مرداری
خوری) کښې چه ا وسيږی هغه دهوکه ورکړې شوی باز ته څه خبر دې.چه څه دې کارد باز،

حقیقت دا دې.چه د غزواتو عبرتناك تاریخ د مسلمانانو دپاره په نوي زمانه کښې په توره شپه کښې ایمانی لالټین دې.په دې سره به دا حقیقت د دوی په ذهنونوکښې کینی.چه

برتر اندیشہ سود و زیاں ہے زندگی ہے کبھی جاں اور کبھی تسلیم جاں ہے زندگی

چرته خان ؤی اوچرته د خان سپارل وی ژوند،هم په دې سره به دمسلمانانو اوده شوې د جهاد جذبه متحرکه شی.اود اسلامی تاریخ ترتیب به د نوې سر نه ممکن شی.

ہاں دکھا دے اے تصور پھر وہ صبح و شام تو دوڑ پیچھے کی طرف اے گردش ایام تو

ابن الحسن عباسی

رفیق شعبه تصنیف واستاذ جامعه فاروقیه کراچی

۲۲ شعبان ۱۴۱۵ھ

•••••••••••••••••••••••••••••••••

بسم الله الرحمن الرحیم

د پیغمبرانوعلیهم السلام بعثت انعام خداوندی دې: دانبیاء علیهم السلام بعثت دالله تعالی ډیرلوې انعام او احسان دې.که پیغمبران علیهم السلام مبعوث شوی نه وو.اوهغوی تشریف نه وې راوړې.نودالله تعالی د ذات او صفاتو په باره کښې به مونږ ته څه علم نه ووحاصل شوې.دالله تعالی د مرضیاتو اونامرضیاتوعلم به راته نه وو.دالله تعالی د بندګئ اوعبادت طریقه به راته معلومه نه وه.دهدایت او ضلالت سعادت او شقاوت فرق به راته معلوم نه وو.دمعاش او معاد دین او دنیا،د غلامئ او حکمرانئ لارې به راته معلومې نه وې.دا دحضرات انبیاء علیهم السلام د تشریف راوړو و دهغوی د بعثت صدقه اووجه ده.چه الله تعالی دهغوی په ذریعه ټول کارونه منکشف او ښکاره کړل.

دګمراهئ په تیاره کښې صرف دعقل نور کافی نه دې: انسان ته عقل ورکړې شوې دې.د علم حاصلولو ذرائع هم ورکړې شوی دی.اوپه تجربې سره په عقل کښې زیاتوالې هم کیږی. خود انسان عقل او علم نابالغ دې.د انبیاء علیهم السلام د راهنمائې نه بغیردعقل اوانسانی علم دپاره صحیح لاره معلومول ګرانه بلکه ناممکنه ده.لکه ګوره ستا په سترګو کښې بینائی موجود ده.رڼا موجود ده.خوددې بینائې او رڼا باوجود په توره تیاره کښې په سترګو باندې تاته څه په نظر نه راځی.ترڅو پورې چه خارجی رڼا مدد اونکړی.په ورځ کښې د نمر رڼا مدد ګاره وی.اود شپې د ډیوې اوبجلئ رڼا په کښې د سترګونه کار اخستې شی. دغه شان د ضلالت په تیاره کښې اود ګمراهئ په ظلمت کښې دعقل نور اوددې رڼا د راهنمائئ نه قاصره اوعاجزه وی. ترڅو پورې چه د وحی نور د دې د امداد دپاره موجود نه وی.

انبیاء علیهم السلام د انسانی اعلی صفاتو حامل او د امتونو د هدایت په لاره راوستلو بې مثاله جذبه لری: الله سبحانه وتعالی انبیاء علیهم السلام مبعوث کړی دی.اوهغوی ته ئې خاندانی

شرافت ورکړې دې.په انسانی صفاتوکښې ئې هغوی ته اوچته درجه ورکړې ده.ددې وجې دهغوی شرافت،خوش اخلاقی،دهغوی صبر اوتحمل،اودهغوی دحسن سلوك جذبه بې مثاله وی .
ددې صفاتو سره سره الله تعالى هغوی ته د نبوت ثابتولودپاره خارق عادات يعنی معجزات هم ورکړې دی.هغوی راغلل.اودخپل قوم دهدايت فريضه ئې ادا کړه.او ددې دپاره هغوی د شپې او ورځې مسلسل محنت کولو.قرآن د حضرت نوح عليه السلام ذکرکړې دې.اوفرمائی.
﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ۝ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ۝ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝ ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ۝﴾ (١)
نوح عليه السلام عرض اوکړو.اې پروردګاره ما خپل قوم د شپې او د ورځې مسلسل حق دين طرف ته راوبلل.نو زما په رابللو هغوی نور تختی.اوما چه کله هغوی ته دحق دعوت ورکړې دې. دې دپاره چه تاسو د ايمان په سبب دهغوی ګناهونه معاف کړې.نودغه خلقو په غوږونو کښې ګوتې ورکړې.اوپه جاموکښې ئې ځان اونغښتل.اوپه کفرباندې کلك پاتې شول.اوډيره سرکشی ئې اوکړه.بيا هم ما هغوی ته په اوچت آواز باندې دعوت ورکړو.او په ښکاره مې پوهه کړو.او په پټه مې پوهه کړو.
قرآن کريم دا ارشاد د حضرت نوح عليه السلام په باره کښې فرمائيلې دې.خو د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام هم دا کيفيت وو.هغوی به په پوره دلسوزئ بلکه په بې غرضئ سره مسلسل اوپرله پسې محنت کولو.اودامت نيغې لارې ته راوستو دپاره به ئې خپل پوره طاقت خرچ کولو. بيا به څه کسانو د انبياء عليهم السلام په دعوت باندې لبيك وئيل.او،،مرده به دست زنده،، پشان به ئې خپل ځانونه پيغمبرانوعليهم السلام ته حواله کړل.اودهغوی د تعليماتو مطابق به ئې خپل ژوند تيرول.هغه خوش قسمه خلق وو.اوڅه خلقو د انحراف او استکبار طريقه اختيارکړه.اودې سره سره ئې د انبياء عليهم السلام په تعليماتو پورې ټوقې کولې. هغوی دا سوچ نه کول.چه الله تعالى مونږ ته دا عزت راکړو.چه دخپلو اوامرو او نواهی ئې مونږ مخاطبين جوړ کړو.بلکه هغوی برابر د نفس اماره بالسوء او شيطان لعين تابعدرائ ته ملا اوتړله.اوالله اودهغه د رسول صلى الله عليه وسلم نه بې ويزاره کيدل.
د انبياء نافرمانی دالله تعالى د عذاب موجب ده: انبياء عليهم السلام چونکه دالله تعالى نائبين وی. اودهغه د طرفه مبعوث شوی وی.اوددې دنيا خالق الله تعالى دې.نودانسانانو دپاره ضروری ده.چه هغوی د الله تعالى اودهغه د نائبينو پيغمبرانوعليهم السلام اطاعت او تابعداری اوکړی.خوکله چه هغوی بغاوت اختيار کړی.اوداللہ تعالى د تابعدارئ نه تختی.نوبيا دهغوی دپاره د الله تعالى د طرفه دعذاب بندوبست کيږی.اود هغوی د بغاوت په جرم کښې دهغوی دپاره دسزا فيصله کيږی.کله خوالله تعالى هغوی په عذاب کښې داسې اخته کړی.چه په زمکه کښې ئې ښخ کړی.کله هغوی په اوبوکښې غرق کوی.اوکله په

---
(١) نوح:۵تا۹_

هغوی باندې د آسمان نه د کاڼو باران کوی.کله سخت اوتنده سیلۍ دهغوی خاتمه کوی.
کله هغوی د خنزیرانو اوشادوګانوپه شکلونوکښې مسخ کړی.اودا عذاب د فرشتو په ذریعه سره ورکوی.اودا د عذاب ډیرسخت قسم دې.په دې کښې مهلت نه وی.په دې کښې د رجوع موقع لاس ته نه ورځی.اودغه شان هغه قومونه په چا باندې چه دا عذاب راشی.هغوی تهس نهس اوتباه او برباد کړې شی.
دویم قسم د عذاب دا وی.چه الله تعالی خپل بندګان دهغوی د قتال اوجنګ او جهاد دپاره اودروی.اودا صورت آسان دې.ځکه چه کله د قتال دپاره خلق مخامخ راشی. اوجنګ اوشی.
نوځه کسان یقیناً مړه شی.ځوځه خلق ژوندی پاتې شی.اوچه کوم کسان ژوندی پاتې شی.نو بهرحال هغوی ته موقع ملاویږی.چه هغه په خپل عمل باندې نظرثانی اوکړی.اوخپل عمل بدل کړی.اوهغه خلق کوم چه د مقابلې دپاره راځی.اوقتلولې شی. نو هغوی ته هم موقعه ملاوْ شی.چه هغوی د جنګ د تیارئ په دوران کښې سوچ اوکړی.که غواړی نواسلام قبول کړی.اودالله تعالی اطاعت اوتابعداری منظوره کړی.دعذاب دا دواړه طریقې دی.کله اولنۍ طریقه وی،یعنی د فرشتو په ذریعه عذاب ورکولې شی.اوپه دې کښې مهلت نه وی.اوکله بله طریقه وی.په هغې کښې مهلت وی.اودالله تعالی نائبین اونیکان بندګان په میدان جنګ کښې دکافرانو مقابله کوی.اوکله د عذاب دواړه طریقې جمع کولې شی.لکه ځنګه چه د جنګ بدر په موقع باندې الله تعالی فرشتې هم راولیږلې.اوهغوی په جنګ کښې حصه هم واخستله.اومشرکان ئې جهنم ته اورسول. او نبی ﷺ هم د ځان سره خپل درې سوه او دیارلس صحابه‌﵃ راوستل.اودکافرانو سره ئې قتال اوکړو.
جهاد کافرانو دپاره دالله تعالی چابک دې: دا قتال په اصل کښې دالله تعالی د باغیانودپاره اودالله تعالی په احکاماتو پورې توقې کونکو لره د منع کولودپاره اودالله تعالی نیکانو بندګانوته په آرام اواطمینان سره د عبادت موقع ورکولو دپاره وی.ددې جهاد اوقتال مقصد دا وی.چه د الله تعالی باغیان خپل انجام ته اورسولی شی.دالله تعالی په احکامو پورې استهزاء اوتوقونه دوی منع کړې شی.په حقیقت کښې خو د دوی قتل کونکې الله تعای دې.اودا دالله تعالی نائبین خو یوه واسطه او آله ده.لکه ځنګه چه د صدر مملکت دطرفه د یومجرم د پهانسی کولوحکم اوشی.اوجلاد هغه ته پهانسی ورکوی.نوهلته دا نشی وئیلې.
چه قتل کونکې جلاد دې.بلکه دغه صدر مملکت طرف ته د دې حکم نسبت کولې شی.
اولکه ځنګه چه یوکس غشې اولینده راواخلی.اودچا نښه واخلی.اوپه خپل غشی سره هغه هلاك کړی.نوپه حقیقت کښې هلاکونکې هم هغه تیرویشتونکې دې. غشې اولینده خو په مینځ کښې یوه واسطه ده. په قرآن مجید کښې فرمائیلی شوی دی.چه ﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ﴾ (١) ددې وجې په حقیقت کښې په جهاد کښې د کافرانود قتل نسبت الله تعالی طرف ته شوې دې.اوپه دې باندې د څه اعتراض ګنجائش نشته.ځکه چه په دنیا کښې دا خبره منلې شوې ده.چه کوم کس د حکومت باغی وی. دهغه جرم دمعافۍ قابل نه وی.ددنیا

---

(١) سورة التوبة: ١٤

دخو ورخو حكومت وي.او هغه باغي دغه حكومت نه وي پيدا كړې.هغه باغي دخپل ژوند تيرولو ددغه حكومت ذره برمحتاج نه وي.ددې باوجود عاقلان په دې باندې متفق دي.كه يوكس دحكومت باغي وي.نودهغه دغه جرم د معافئ قابل نه دې.اودهغه سزا مرګ دې.اوالله تعالى خوددې دنيا خالق هم دې اومالك هم دې.الله تعالى دغه باغي هم پيدا كړې دې.هغه په خپل مستعار ژوند كښې هره لمحه هره لحظه دالله تعالى محتاج هم وي.ددې باوجود كه هغه د الله تعالى نه بغاوت اوكړي.د الله تعالى د نائبينو انبياؤ نه بغاوت اوكړي، نوددې جرم د معافئ قابل كيدې شي؟ هرګز نه،دده سزا يقيناً هم مرګ پكار دې.ددې وجې كه اسلام جهاد مشروع كړې دې.اود دغې باغيانود ختمولودپاره اود الله تعالى په احكامو پورې دټوقوكولونه د هغوى منع كولودپاره،ئې دهغوى دا سزا مقرر كړې وي.چه دوى دې قتل كړې شي.اوددوى مالونه دې په اهل طاعت كښې تقسيم كړې شي.اوقيديان دې غلامان جوړ كړې شي.نودا خبره پكارده چه قابل اعتراض نه وي.

ايا دشمني اوعداوت په دې دوركښې دتهذيب اوتمدن مدعي قومونه برداشت كولې شي؟: نن په دې دور كښې كوم قومونه چه د متمدن كيدو دعويدار دي.آيا هغوى دخپلو دشمنانوخلاف لښكري حمله نه كوي؟ آيا هغوى دخپلو دشمنانوخلاف اعلان جنګ نه كوي؟ آيا دوى دهغوى په مالونو باندې قبضه نه كوي.اوبيا دغه مالونه په خپلوكسانو كښې نه تقسيموي؟ آيا هغوى خلق غلامان نه جوړوي؟په جنوبي افريقه كښې حكومت د سپينودې. ددوى ټوله آبادي څلور ملين ده.اوملك په حقيقت كښې د تورو دې.اودهغوى آبادي څليرشت ملين ده.دا څلور ملين اقليت په دې څليرشت ملين خلقو باندې حكومت كوي. اوهغوى ئې غلامان جوړ كړي دي.هغوى ته حقوق ملكيت حاصل نه دي.په كومو كورونو كښې چه هغوى اوسيږي.هغه كچه دي.اوهغوى د هغې مالكان نه دي.اوپه كومو شنو او ګنړو وېټو كښې چه هغوى كار كوي.دغه كاركونكي دهغې مالكان نه دي.كوم پيداوار چه په دغه پټو كښې كيږي.نودوى دهغې د خوراك نه محرومه ساتلي شي.هغوى صرف جوار خوري. امريكه ددغه حكومت حمايت كوي.برطانيه ددغه حكومت حمايت كوي.ولې دغه شان فلسطينيان امريكي،برطاني اوروس په شريكه د اسرائيلو د سازش په ذريعه دغلام جوړولو كوشش نه دې كړې.نوبيا په اسلام باندې كوم اعتراض دې.حالانكه داسلام عدل انصاف رواداري او رعايت دومره دې.چه بل څوك ددې تصور هم نشي كولې.جهاد كه په اسلام كښې مشروع ګرځولې شوې دې.نودا ددې دپاره چه دالله باغيان خپل انجام ته اورسوي. اودهغوى په مالونوكه د مال غنيمت په صورت كښې قبضه اوكړې شي.نودا ددې دپاره چه د هغوى طاقت ختم كړې شي. او هغوى ته د فساد پيدا كولوموقع ملاؤ نشي.اوكه هغوى غلامان جوړ كړې شي.نو ددې دپاره چه دوى د اسلام په لاركښې ركاوټ جوړ نشي. خوپه اسلام كښې دغلام كيدو په صورت كښې دوى سره د ښه سلوك كولوډيرتاكيد شوې دې. د نبي كريم ﷺ ارشاد دې.

((إخوانکم جعلهم الله فتیة تحت أیدیکم فمن کان أخوه تحت یده فلیطعمه من طعامه ویلبسه من لباسه ولایکلفه مایغلبه فإن کلفه مایغلبه فلیعنه)) (۱)
دا غلامان ستاسو ورونړه دي.الله تعالی دوی ستاسود لاندې د غلامانوپه حیثیت سره مقرر کړي دي. نودکوم کس لاندې چه دده ورور وي.نوهغه ته دې دخپل خوراك نه خوراك ورکوي. اود خپلو جامو نه دې ورته جامې اغوندوي.اوپه هغه دې دهغه د طاقت نه زيات بوج نه اچوي.که يوکس دهغه د طاقت نه زياته ذمه واري هغه ته حواله کړي. نو په خپله دې ورسره شامل شي.اودهغه دې په دغه کار کښې مدد کوي.
بهرحال دلته په مغازي کښې د جهاد بحث راخي.اورسول اللهﷺ چه کوم جهادونه کړي دي.دهغې تفصيلات راخي.ددې وجې ما په اول کښې تاسو ته اوخودل.چه دا جهاد په عقلي توګه باندې هم او په تاريخي اعتبارسره هم اوپه شرعي نقطه نظرسره هم ټيك اوبيخي صحيح دې.اوددې په نتيجه کښې چه کوم قتل،سلب د مالونو،اودغلام جوړولو کوم صورت حال پيدا کيږي.هغه هم بيخي صحيح دې.اوپه اقوام عالم کښې ددې نظيرونه مسلم اوپه موجوده وخت کښې هم رائج دي.نود دې وجې د اسلام په نظريه جهاد باندې د اعتراض کولوګنجائش نشته.
دجهاد اوقتال د مشروعيت په باره کښې د ټولونه اولنې نازل شوې ايت: دجهاد په باره کښې يوه خبره دا هم ياد ساتل پکار دي.چه نبیﷺ ترکومې پورې په مکه معظمه کښې وو.نود کافرانواومشرکانو زور ظلم زياتي باوجود د ﴿فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهٖ﴾ حکم وو. دقتال اوجهاد اجازت نه وو ورکړې شوې.کله چه نبیﷺ مديني منورې ته تشريف يوړو.نو د حضرت ابن عباسؓ د روايت مطابق کوم چه نسائي، ترمذي او احمد نقل کړې دې.(۲) اودغه شان د حضرت ابوهريرهؓ د روايت مطابق کوم چه منصف عبدالرزاق نقل کړې دې.دا آيت نازل شو.﴿أُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوْا وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ الَّذِيْنَ أُخْرِجُوْا مِنْ

---

۱) الحديث أخرجه الترمذی فی کتاب البر والصلة باب ما جاء فی الإحسان إلی الخدم رقم الحديث ۱۹۴۵ وقال هذا حديث حسن صحيح وأيضا أخرجه البخاری فی کتاب الأدب باب ما ينهی عن السباب واللعن رقم الحديث (۶۰۵۰) وفی کتاب الإيمان باب المعاصی من أمرالجاهلية رقم ۳۰ وفی کتاب العتق باب قول النبیﷺ العبيد إخوانکم فأطعموهم مما تأکلون رقم الحديث (۲۵۴۵) وأخرجه ابن ماجه فی کتاب الأدب باب الإحسان إلی المماليک رقم الحديث (۳۶۹۰) وأبوداود فی کتاب الأدب باب فی حق المملوک رقم ۵۱۵۸)
۲)الحديث أخرجه الترمذی فی کتاب التفسير عن ابن عباس أنه قال لما أخرج النبیﷺ من مکة قال أبوبکر أخروا ا نبيهم ليهلکن فأنزل الله﴿ أذن للذين يقاتلون بأنهم ظلموا وإن الله علی نصرهم لقدير﴾ الآية فقال ابوبکرلقد علمت أنه سيکون قتال قال الترمذی هذا حديث حسن (الجامع للإمام الترمذی (۳۲۵\۵) رقم الحديث (۳۱۷۱) وأخرجه النسائی فی کتاب الجهاد(۵\۶۲) وزاد قال ابن عباس فهو أول آية نزلت فی القتال وأحمد فی مسند عبدالله بن عباسرضی الله عنهما (۲۱۶\۱) وأخرجه الحاکم فی المستدرک (۲۴۶\۲) فی کتاب التفسير وأقره الذهبی)_

دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّآ أَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ إِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ۝ اَلَّذِيْنَ إِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ۝ (١)

اوس دجنګيدو هغه خلقو ته اجازت ورکړي شو.چا سره چه کافران جنګيږی.ځکه چه په دوی باندې ډير ظلم شوې دې.اوبيشکه الله تعالى د دوی په مدد باندې قادر دې.دا هغه خلق دی.چه دخپلو کورونو نه بغيرد څه وجې نه ويستلې شوی دی.صرف په دې خبره چه دوی وائى. زمونږ رب الله تعالى دې.اوکه الله تعالى خلق بعضې په بعضې نورو باندې نه دفع کول.نوپه پخوانئ زمانه کښې به د راهبانو خلوتخانې اود نصارو او يهوديانو عبادتخانې اوپه دې زمانه کښې د مسلمانانو جماتونه په کوموکښې چه په کثرت سره دالله تعالى نوم يادولې شى.ټول به نوړولې شوی وو.اوخوك چه د الله تعالى د دين مدد کوی.يقيناً الله تعالى به د هغه مدد اوکړی.اوبيشکه الله تعالى دقوت اوغلبې خاوند دې.دا خلق داسې دی.که مونږ دوی ته په دنيا کښې حکومت ورکړو.نو مونځ به قائموی.زکاة به ورکوی.اود نيکئ حکم به کوی.اود بدئ نه به منع کوی. او د ټولو کارونوپوره کول خو دالله تعالى په لاس کښې دی.

د ذکرشوو رواياتومطابق دا اولنې آيت دې.کوم چه د جهاد دپاره نازل شوې دې. او د بعضې حضراتو رائې دا ده.چه د جهاد دپاره اولنې آيت په دويمه پاره کښې د سورة بقره آيت ﴿وَقَاتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ۝﴾ (٢)اوجنګ کوئ هغه کسانو سرد چه تاسو سره جنګ کوی.اوزياتې مه کوئ.بيشکه الله تعالى زياتى کونکى نه خوښوی.نازل شوې دې.

د نورو حضراتو رائې دا ده.چه د جهاد دپاره اولنې آيت ﴿إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ﴾ الآية، (٣) بيشکه الله تعالى د مسلمانانو نه ددوی نفسونه او ددوی مالونه ددې خبرې په بدله کښې اخستى دی.چه دوی ته به جنت ملاويږی.اودوی به دالله تعالى په لارکښې جنګيږی.نور به هم قتلوی.اوپه خپله به هم قتليږی.نازل شوې دې.

ددې درې واړه آياتونو په باره کښې ونيلې شوی دی.چه دا د جهاد په باره کښې د ټولونه اول نازل شوی دی.(٤) خوراجح قول د اولنى آيت متعلق دې.(٥)

---

(١) سورة الحج:٣٩ تا ٤١)_

(٢) سورة البقرة :١٩٠)_

(٣) سورة التوبة :١١١)_

(٤)علامه آلوسى په روح المعانى کښې د ذکرشوی آيت په باره کښې دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما د روايت ذکرکولونه پس د باقې دوو آيتونو په باره کښې ليکى:،،
وأخرج ابن جرير عن أبى العالية إن أول آية نزلت فى القتال ﴿ وقاتلوا فى سبيل الله الذين يقاتلونكم ﴾ وفى الإكليل للحاكم إن أول آية نزلت فى ذلك ﴿ إن الله اشترى من المؤمنين ﴾ روح المعانى (١٤١/٩) دغه شان اوګورئ (فتح البارى٣/٨٠١٣)_

(٥) ځکه چه ددې متعلق روايات د عدد په اعتبار سره زيات اود سند په اعتبار سره اقوى دی)۔

دجهاد دوه قسمونه دفاعي اواقدامي: په دې باره کښې يوه خبره دا هم ياد ساتل پکاردي.چه يو جهاد دفاعي دې.اوبل جهاد اقدامي دې.هغه جهاد دکوم چه په آيت ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ﴾ کښې ذکر دې. دفاعي جهاد دې.او ﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ کښې هم د دفاعي جهاد ذکردې.علامه شبلي نعماني رحمه الله د اقدامي جهاد نه انکار کړې دې.([1]) خودا سراسرغلط دې.ځکه چه په قرآن مجيد کښې د اقدامي جهاد په باره کښې ذکرشوې آياتونه هم موجود دي.

① ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ ([2])

② ﴿أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا﴾ ([3])

③ ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ﴾ ([4])

دا درې واړه آيتونه په اقدامي جهاد باندې دلالت کوی.([5])

---

[1]) نو شبلي نعماني مرحوم په خپل سيرت کښې غزوه بدر وغيره د اقدامي جهاد په ځاې دفاعي ګرځولي دی.اوپه دې باره کښې هغوی د جمهورو عالمانو مخالفت کړې دې.اوګورئ سيرة النبی (۲۰۲\۱)

[2]) سورة التوبة :۵)_

[3]) الأحزاب:۶۱)_

[4])سورة الأنفال:۳۸)_

[5]) په حقيقت کښې انګريزانودخپل استعمار په دور کښې په مسلمانانوکښې دجهاد جذبې سړولو دپاره د يومنظم شازش لاندې دا پروپيګنډه کړې وه.چه اسلام يو وينه تويونکې مذهب دې.اود خپل مطلق العنان حکمرانۍ په وجه په دنيا باندې خور شوې وو.ددې دپاره ئې د غلام احمد قادياني اودهغه د ملګروضميرنې واخستل.هغوی دجهاد د منسوخ کيدو نه کوشش اوکړو.انګريزانوته ددې خبرې ويره وه.چه جهاد هميشه دپاره په مسلمانانوکښې د ايماني جوش اود تحريك اسلامي سبب دی.که ددې خلاف پروپيګنډه اونشوه.اوپه کوم وخت کښې هم په مسلمانانوکښې دا مذهبي جوش رابيدار شو.نوبيا ددې طوفان مخه نيول به دهغوی دپاره ګران شي.هم دا وجه ده.چه ډير مغرب زده مسلمانان بلکه بعضې اهل علم هم دهغوی د پروپيګنډې نه متاثره شول.اوداسلام ددفاع دپاره ئې معذرت خوانه لهجه اختيارکړه.اووې وئيل.چه اسلام د جهاد په صورت کښې چه دقتل او وينې تويولوکوم حکم ورکړې دې.نوهغه صرف دخپلې دفاع دحده پورې محدود دې.اوبنکاره ده.چه د دنيا هرمذهب دخپل ضرورت دپاره د وينې تويولو فتوی ورکوی،،
خودا خبره د حقيقت نه خلاف ده.ځکه چه د اسلام پوره تاريخ د اقدامي جهاد د عنواناتونه ډك دې.اکثر هم اسلامي لښکراقدام کوی.نودغيرمسلمو ښارونوته دروازه ټکوی.د ټولونه وړاندې کافرانو ته د اسلام دعوت ورکوی.که هغوی اسلام قبول کړی.اودمسلمانانو ورونړه شي.اوکوم حقوق چه مسلمانانوته حاصل وی.په هغې کښې ورسره شريك شي.که هغوی اسلام قبول نکړی . نوبيا به هغوی په جزيه ورکولوباندې آماده کولې شی.اوکه د جزيه ورکولونه هم انکار اوکړی . نو بيا دريم او آخرې صورت دجهاد او قتال دې.دا هم ددې اقدام نتيجه ده.چه په ځوکالونوکښې دننه دننه د قيصر اوکسری په محلاتو باندې داسلام بيرغ پرڅيدل.اود دنيا د مضبوط طاقتونه داسلامي حکومت لاندې شول،،
پخپله نبی ﷺ د غزوه خندق نه پس ارشاد فرمائيلې وو.((نغزوهم ولايغزونا)) د نن نه پس به مونږ دې کافراتوته د جنګ دپاره ورځو.اوهغوی به راسره جنګ نه کوی.هغوی به حمله کولوکښې په مونږ باندې وړاندې والی زړه نشی کولې.(صحيح بخاری کتاب المغازی[بقيه حاشيه په راروان مخ.....

اواقدا مى جهاد بيخى دعقل مطا بق دې.ځکه چه د جان او مال ډاکوان موجود وى.نو ددې نه وړاندې چه هغوى حمله اوکړى.دهغوى ختمول د عقل او هوښيارتيا عين مطابق دې.دغه شان که د ايمان ډاکوان اوپه ايمان باندې حمله کونکې موجود وى.نووړاندې ددې نه چه هغوى حمله اوکړى.اقدام کول اودهغوى ختمول عين عقلمندى ده.اولکه څنګه چه ډاکوان، ماتونکى ښناور،اوزهريله ښناور،مار،لړم،که چرته موجود وى.نود هغې دحملې کولونه وړاندې دهغې خاتمه کول ضرورى دى.اوکه انتظاربه کولې شى.چه هغوى په مونږ باندې حمله اوکړى.نوبيا به مونږ خپله دفاع کوو.اودهغې نه وړاندې به په هغې باندې اقدام نه کوو.نودا انتظارنشى کولې.بلکه د «قتل الموذى قبل الإيذاء» په اصولوبه عمل کول ضرورى وى.ځکه دفاعى جهاد هم مشروع او ثابت دې.اواقدامى جهاد هم.

دجهاد اداب: ددې نه پس په دې پوهه شئ،چه د جهاد آداب څه دى؟ په دې باره کښې د قرآن شريف دا آيت زمونږ پوره راهنمائى کوى.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ۝ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ۝﴾ (١)

.....دتيرمخ بقيه] باب غزوة الخندق (ص،٥٩٠)،،

د دې نه پس د الله تعالى پيغمبر ﷺ اقدام اوکړو.اومکه ئې فتح کړه.دغه شان غزوه بدراود نبى ﷺ آخرى غزا تبوك هم په اقدامى زمره کښې راځى،،

دا خبره په خپل ځاى باندې صحيح ده.چه اسلام د امن او صلحې مذهب دې.خوددې امن اوصلحې د ثابتولودپاره د اسلام د يوبديهى حکم نه انکار ته ضرورت نشته.اودا خبره هم يوحقيقت دى.چه اسلام د تورې په زور باندې نه دې خور شوې.د ده دا ښکاره اعلان دې.چه ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ﴾ دې دخپل ښکلې ضابطه حيات،اود ژوند په ټولوشعبوباندې جامع اصولوپه وجه عام شو.نورو قومونو هم په دې وجه دا قبول کړو.(د دارالعلوم ديوبند مهتمم حضرت مولانا حبيب الرحمن عثمانى په دې موضوع باندې يومستقل کتاب ،،کيا اسلام تلوار کے زور سے پھيلا؟،، په نوم باندې کتاب ليکلې دې.په کوم کښې چه ئې دا خبره په تاريخى اومضبوط دلائلو سره ثابته کړې ده.چه په قومونواوملکونوکښې د اسلام خوريدل د تورې د زور نتيجه نه ده.بلکه دا ددغه ذاتى کشش اوخوبى ده) خوپه دې کښې هم څه شك نشته.چه کله د اسلام داشاعت په لاره کښې دکفر قوتونه رکاوټ کيږى.نوبيا د دې ((خاشا ک غيرالله)) ته پوهکې ورکول او د اسلام د تبليغ په لار کښې د رکاوټ ختمولودپاره اسلام هم د اقدام حکم کړې دې.اوچونکه د کفر اواسلام جنګ به هميشه دپاره وى.ددې وجې ،،اقدام،، د پوره امت په ذمه د فرض کفايه په حيثيت سره فرض کړې شوې دې.نوپه مسلمانانوکښې يوه ډله داسې پکار ده.چه کومه د امت مسلمه د طرفه دا فريضه ادا کوى.اوهم دې طرف ته نبى ﷺ اشاره کوى.اوفرمائى.چه ،،

الجهاد ما ض منذ بعثنى الله إلى أن يقاتل آخر أمتى الدجال لايبطله جور جائرولا عدل عادل.(رواه ابوداود فى كتاب الجهاد باب فى الغزو مع أئمة الجور رقم الحديث (٢٥٣٢)،،

اوفرمائيلى ئې دى،((لا تزال طائفة من أمتى يقاتلون على الحق الظاهرين على من ناواهم حتى يقاتل آخرهم المسيح الدجال (رواه أبوداود فى كتاب الجهاد باب فى دوام الجهاد رقم الحديث ٢٤٨٤)_

(١) سورة الأنفال :٤٥تا ٤٧)_

اې دایمان خاوندانو! کله چه ستاسود یوې ډلې سره د مقابلې موقع راشي.نو(ددې ادابو خیال ساتئ:چه) په جهاد کښې ثابت قدم اوسیږئ.اود الله تعالی ډیر ذکر کوئ. دې دپاره چه تاسوکامیاب شئ.اوالله اودهغه د رسول د اطاعت خیال ساتئ.اوپه خپل مینځ کښې جهګړه مکوئ.ځکه چه په دې سره به تاسو بزدله شئ. اوستاسو باد به لاړ شي. او صبر کوئ.بیشکه الله تعالی د صبر کونکو سره دې.اودهغه کافرانو پشان مه کیږئ.(کوم چه هم په دې واقعه د بدرکښې) دخپلو کورنونه په تکبر سره راوځي.اوخلقوته دښودنې دپاره راوځي.اوخلق دالله تعالی د لارې نه منع کول غواړي.اوالله تعالی ته د هغوی د ټولواعمالو علم دې.

دا آیت په دې خبره باندې دلالت کوي.چه مجاهدینوته پکار دی.چه دالله تعالی د ذکر ډیراهتمام کوی.دا آیت په دې خبره هم دلالت کوی.چه مجاهدینو لره د صبراوتحمل نه کار اخستل پکار دی.دغه شان دا آیت دلالت کوی.چه مجاهدین دې غرور،فخر اوتکبرنه اختیاروی.اودا آیاتونه مونږ ته ښائی.چه مجاهدینوته پکار دی.چه الله اودالله د رسول د اطاعت لمن اونیسی.په دې صفاتو سره جهاد کول پکار دی.اوهم دا د جهاد آداب دی.([1])

دجهاد غرض او مقصد: اوس ددې نه پس دا خبره په ذهن کښې اوساتئ.چه د جهاد غرض او غایت او مقصد څه دې؟ دجهاد غرض اوغایت صرف اعلاء کلمة الله دې.د نبی ﷺ نه تپوس اوشو.چه یوکس د خپلې مړانې اوبهادرئ ښودلو دپاره قتال کوی.اویوکس د خپل وطن او قوم اوقبیلې په تعصب کښې (چه د اعلاء کلمة الله د جذبې نه خالی وی) قتال کوی.

په دوی کښې مجاهد فی سبیل الله کوم دې؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.((من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله)) ([2])اوکه یوکس دخپل قوم او وطن د حفاظت دپاره جهاد په دې غرض باندې کوی.چه دا د قوم مسلمانانو قوم دې.اودا وطن دمسلمانانو وطن دې.نو دا به جهاد فی سبیل الله وی.ځوکه داسلام د خیال ساتلونه بغیر صرف د قومیت او وطنیت په بناء باندې جنګیږی.نودا به جهاد فی سبیل الله نه وی.

[1]) نبی ﷺ فرمائیلی دی.(الغزو غزوان:. فأما من ابتغی وجه الله وأطاع الإمام وأنفق الکریمة ویاسرالشریک واجتنب الفساد فإن نومه ونبهه أجرکله وأما من غزا فخراً ورياءً وسمعة وعصی الإمام وأفسد الأرض فإنه لم یرجع بالکفاف) رواه ابوداود فی کتاب الجهاد، باب فیمن یغزو ویلتمس الدنیا رقم الحدیث ۲۵۱۵)_

[2])الحدیث أخرجه البخاری فی الجهاد باب من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا رقم ۲۸۱ وفی الخمس باب من قاتل للمغنم هل ینقص ممن أجره رقم ۳۱۲۶ وفی العلم باب من سأل وهو قائم عالماً جالساً رقم ۱۲۳ وفی التوحید باب قوله تعالی ﴿ ولقد سبقت کلمتنا لعبادنا المرسلین﴾ رقم ۷۴۵۸ وأخرجه مسلم فی کتاب الإمارة باب من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا رقم ۴۸۸۲ و۴۸۸۳ و ۴۸۸۴ و۴۸۸۵ وأخرجه أبوداود فی کتاب الجهاد باب من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا رقم ۲۵۱۷ والترمذی فی فضائل الجهاد باب ما جاء فیمن یقاتل رياءً وللدنیا رقم ۱۶۴۶ وابن ماجه فی الجهاد باب النیة فی القتال رقم ۲۷۸۳ والنسائی فی الجهاد باب من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا (۵۷/۱۲)_

امام بخاری رحمه الله يو باب قائم كړې دې.((باب لا يقول فلان شهيد)) [1] اوپه هغې كښې ئې يوه واقعه نقل كړې ده.چه يوكس كوم چه په پټه منافق وو.اودهغه نوم ،،قزمان،، وو.[2] هغه دمسلمانانو سره ملګرې شو.ښه جهاد ئې اوكړو.اوكافرانوته ئې ښه نقصان اورسولو. مسلمانانو ددغه كس په باره وئيل شروع كړل.چه ((ما أجزء منا اليوم أحد كما أجزأ فلان)) يعنى قزمان چه كومه كارنامه اوكړه.داسې كارنامه نن چا نه ده كړې.كله چه نبى عليه السلام دغه خبره واوريده.نو وې فرمائيل.((أما أنه من أهل النار)) خودا كس جهنمى دې.دا كس په جنګيدو جنګيدو كښې ډيرزخمى شو.اومرګ ته نزدې شو.نوحضرت قتاده بن نعمان رضى الله عنه دمرګ په وخت كښې ده ته ورغلو.اووې وئيل.((هنيألك الشهادة)) نوهغه اووئيل. ((والله إنى ما قاتلت على دين وإنما قاتلت على حسب قومى)) زه خو د ددين اسلام دپاره نه جنګيدم.بلكه زه د خپل قوم په حميت كښې جنګيدم.په دې سره.د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيشنګوئى صحيح ثابته شوه.[3]

---

[1])جامع بخارى كتاب الجهاد باب نمبر:۷۷ (۱\۴۰۶)_

[2])ددغه كس نوم ،،قزمان ظفرى (بضم القاف والظاء) اوكنيت ،،ابوالغيداق،، وو.(فتح البارى (۷\۴۷۳)

[3])د صحيح بخارى ذكر شوو بابونو كښې دغه شان په نورو كومو كومو ځايونوكښې چه امام بخارى ددې حديث تخريج كړې دې.هلته واقعه څه داسې ده.چه كله نبى صلى الله عليه وسلم ددغه كس په باره كښې اوفرمائيل.((أما أنه من أهل النار)) نو په صحابورضى الله عنهم كښې يوكس دده دعمل كتلو دپاره په دې غرض دقزمان سره سره اوسيدو.په جنګ كښې چه قزمان به چرته تلو.نو هغه به ورسره هم وو.كله چه قزمان سخت زخمى شو.اود زخمونو تاب ئې نشو راوړې.نوخپله توره ئې په زمكه كښې ښخه كړ.د.اود تورې په سوكه ئې خپله سينه كيخوده.اوپه هغې ئې خپل وزن ورواچولو.توره دهغه د بدن نه اخوا ته اووتله.اودغه شان خودكشى ئې اوكړه.اوختم شو.ورسره چه كوم صحابى وو(چه دهغه نوم علامه ابن حجر اكثم بن ابى الجون رضى الله عنه ليكلې دې.فتح البارى(۷\۴۷۳) دنبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو. او د هغه د خودكشۍ خبرئې وركړو،،
په تقرير كښې ذكرشوې د قتاده بن نعمان رحمه الله واقعه حافظ ابن حجر د علامه ابن الجوزى رحمه الله په حوالې سره نقل كړې ده.خو په آخر كښې ئې دا هم ليكلى دى.((وهذا الذى نقله أخذه من مغازى الواقدى وهو لا يحتج به إذا إنفرد فكيف إذا خالف (فتح البارى(۷\۴۷۶)).،
د ابن جوزى رحمه الله خيال دې.چه ذكرشوې واقعه د جنګ احد ده.اوپه صحيح بخارى كښې د ابوهريره رضى الله عنه هغه روايت په كوم كښې چه د زهرى نه شعيب روايت كړې دې.اودكوم متابعت چه معمرهم كړې دې.په هغې كښې د ((شهدنا:خيبر)) تصريح ده.البته د زهرى نه د يونس په روايت كښې د خيبر په ځاې د ،،حنين،، تصريح ده.(اوګورئ صحيح بخارى (۲\۷۲) كتاب المغازى باب غزوة خيبر رقم الحديث (۴۲۰۳و ۴۲۰۴) اوپه صحيح مسلم كښې د ،،معمرعن الزهرى،، په روايت كښې هم د ،،حنين،، ذكردې.(صحيح مسلم (۱\۷۲ كتاب الإيمان) خوشارح د مسلم امام نووى رحمه الله د قاضى عياض رحمه الله قول نقل كړې دې.چه ،،حنين،،غلط دې.((قال القاضى عياض صوابه خيبر)) اوګورئ شرح نووى (۱\۷۳) بهرحال واقعه د واقدى او ابن جوزى رحمهما الله په قول كه د ،،احد،، وى.يا د شعيب اومعمر رحمهما الله د روايت مطابق كه د ،،خيبر،، وى.يا ديونس[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

سردار كائنات ﷺ ته چه كله دهغه حال اوخودلې شو.چه هغه داسې وائي.اوهغه خودكشي اوكړه. نو نبي ﷺ اوفرمائيل.((إن الله ليؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر)) ([1])امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې هم ددې خودلو دپاره نقل كړې ده.چه ترڅوپورې دالله تعالى په لار كښې كلمې اوچتولو دپاره جهاد اونكړې شي.نوترهغه وخته پورې هغې ته جهاد فى سبيل الله نشى وئيلې.

غرض دا چه جهاد صرف هغه دې.چه په هغې كښې ټول قوت او طاقت دې دپاره خرچ كولې شي.چه دالله تعالى نوم اوچت شي.اود الله تعالى په دين باندې عمل كونكي خلق په آرام او سكون سره په دې باندې عمل اوكړې .چه نه څوك په دې پورې استهزاء كوى.اونه څوك ټوقې كوى.اونه څوك ددوئ په عبادت كښې دخل اندازكيدې شى.د جهاد دا مقصد دې.

اسلام په زور او توره نه بلكه په خپل صداقت او خوبيانو سره خور شوې دې: اوس دلته دوه مسئلې دى.يوه دا چه د اسلام دشمنانود جهاد په حوالې سره دا خبره مشهوره كړې ده.چه اسلام د تورې په زور سره خور شوې دې.لكه چه د اسلام خپل صداقت ددې د خوريدو سبب نه دې.

دا اعتراض بيخى غلط دې.اوپه دې كښې هيڅ حقيقت نشته.ځكه چه نبي ﷺ كله د اسلام دعوت شروع كړو.نو دوى يواځې وو.نه د نبي ﷺ سره اقتدار وو.اونه ددوى په لاس كښې توره وه.

رسول الله ﷺ چه كله داسلام دعوت شروع كړو.نو هغه كسان چه دوى به ئې ،،صادق اوامين،، ګڼړل.هم هغوى ئې دشمنان شول.اودخاندان هغه كسان چه عام طور دخاندانى تعلق په وجه مدد كوى.هغوى هم په دشمنئ او بغض كښې وړاندې وړاندې وو.په هغه وخت كښې رسول الله ﷺ دعوت وركړو.اوقسم قسم تكليفونه ئې برداشت كړل.د ظلم او ستم څه قسم داسې پاتې نشو.كوم چه كافرانو د دوى خلاف نه وى كړې.خوددې باوجود حضرت ابوبكر رضي الله عنه ايمان راوړو.حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه ايمان راوړو.حضرت عثمان بن عفان،

...دتيرمخ بقيه حاشيه] د روايت مطابق كه د ،،حنين،، وى.خوپه دې كښې دڅا هم اختلاف نشته.چه دغه خودكشي كونكي كس د جهاد اوشهادت په تمنا باندې نه جنګيدل.بلكه د قوم د حميت په وجه په جنګ كښې شريك وو.هم ددې نقطه نظر په بنياد امام بخاري رحمه الله د دې حديث ،ترجمة الباب،، ((لايقول فلان شهد)) په عنوان قائم كړو.حافظ ابن حجر رحمه الله دترجمة الباب اوحديث مناسبت بيانوى اوليكى...،

ووجه أخذ الترجمة منه أنهم شهدوا برجحانه فى أمرالجهاد فلوكان قتل لم يمتنع أن يشهدوا له بالشهادة وقد ظهر منه أنه لم يقاتل لله وإنما قاتل غضباً لقومه.فلا يطلق على كل مقتول فى الجهاد أنه شهيد.لإحتمال أن يكون مثل هذا (فتح البارى(۶/۹۰) كتاب الجهاد)_~

[1])الحديث أخرجه البخارى فى كتاب الجهاد باب لايقول فلان شهيد رقم الحديث (۲۸۹۸) وفى المغازى باب غزوة خيبر رقم الحديث (۴۲۰۲و ۴۲۰۳) من حديث سهل بن سعد الساعدى و أبى هريرة وفى كتاب الرقاق باب الأعمال بالخواتيم وما يخاف منها رقم الحديث (۶۴۹۳) وفى كتاب القدرباب العمل بالخواتيم رقم الحديث (۶۶۰۶و ۶۶۰۷) وأخرجه مسلم فى كتاب الإيمان باب بيان غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه وإن من قتل نفسه بشئ عذب به فى النار (۳۱۱)_

حضرت علی بن ابی طالب،حضرت طلحه بن عبیدالله، حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت زبیربن العوامؓ او نورو ډیروحضراتو ایمان راوړل.کوم چه د اسلام پرقیدونکی ستوری دی.کوم زور وو په هغه وخت کښې چه خلق ئې د اسلام په قبلولو باندې مجبوره کول؟ کومه توره وه.چه هغوی ئې د اسلام په قبلولو باندې مجبوره کول. دوی اسلام راوړو. نودمصیبتونو ښکار شول.په امتحان کښې پریوتل.خو ددې مصیبتونو او امتحاناتو باوجود هغوی اسلام پرې نخودل.نودا وئیل چه اسلام د تورې په زور باندې خور شوې دې.غلطه ده.
دویمه خبره دا ده.چه دا خلق چه کوم اعتراض کوی.نو دې جاهلانوته دا معلومه نه ده.چه په زور اوزیاتی په ذریعه چه کوم اسلام قبول کړې شی.هغه معتبر نه وی.که ته دا واې.چه اسلام د تورې په زور سره خور شوې دې.نو ددې مطلب به دا وی.چه په زور باندې خلق مسلمانان ګرخولی شوی دی.د زړه په خوشحالئ سره هغوی اسلام نه دې قبول کړې.نوتاته دې دا خبره معلومه وی.چه کوم سړې صرف د ویرې د وجې د اسلام کلمه وائی.یا د څه طمعې او لالچ دپاره اسلام قبول کړی.نوهغه عندالله مسلمان نه دې.په قرآن مجید کښې فرمائیلی شوی دی.﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِیْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى یَكُوْنُوْا مُؤْمِنِیْنَ۝﴾ (١)اوکه ستا رب غوستل نو په مخ د زمکې به چه څومره خلق دی.ټولو به ایمان راوړې وې.آیا ته په خلقو باندې زور کولې شې.چه دوی ټول مسلمانان شی.
ایمان هغه معتبر دې.کوم چه په شوق او رغبت سره وی.په کوم کښې چه څه طمع څه لالچ او څه ویره نه وی.څه مجبوری نه وی.ددې وجې په زورسره د اسلام د خوریدو څه امکان نشته.
دریمه خبره دا ده.چه مونږ ته دې اوخودلې شی.چه آیا کوم کسان چه په زور او ظلم سره مسلمانان کړې شی.آیا هغوی داسلام دپاره داسې قربانئ ورکولې شی.څنګه چه صحابه کرامو ؓ ورکړې وې.په زور او زیاتی سره اسلام قبلونکو ته چه کله موقع ملاویږی.نو هغوی د اسلام نه خارجیږی.دهغوی نه خو د اسلام دپاره د قربانئ ورکول هیڅ تصور نشی کیدې.هغوی همیشه دپاره د تیختې لار لټوی.اوصحابه کرامؓ چا چه اسلام قبول کړې دې.هغوی د اسلام دپاره خپل کورونه پریخودی دی.خپل عزت او آبرو ئې لوټ کړې ده.د خپلو څانونو قربانئ ئې پیش کړی دی.هغوی د اسلام دپاره هرقسم تکلیفونه برداشت کړی دی.نو چه کوم خلق د اسلام دپاره هرقسم تکلیفونه برداشت کوی .دهغوی په باره کښې یو دعقل خاوند دا څنګه وئیلی شی.چه هغوی په زور او زیاتی سره اسلام قبول کړو.
ددې نه علاوه نبی ﷺ په مکه مکرمه کښې دیارلس کاله تیرکړی وو.د مکې مکرمې د قیام په زمانه کښې ۸۳ سړو او ۱۷ ښځو حبشې طرف ته دخپل حفاظت دپاره هجرت کړې وو.(٢) نو که هغوی په زوره باندې مسلمانان جوړولی شو.نو اول خو په مکه کښې په زور د

---

(١)یونس:۹۹)_

(٢)په دې هجرت کښې د عربو دڅو قبیلو کسان شامل وو.د بنوهاشم نه یو د بنو امیه اود دوی حلیف قبیلو نه اووه،د بنو عبدالشمس نه دوه،د بنو نوفل نه یو،د بنو اسد نه څلورو، د عبدبن قصی نه یو ،د بنو عبدالدیارنه پنځه،د بنو زهره او ددوی د حلفاؤ نه[بقیه حاشیه په راروان مخ....

مسلمانولو موقع کوم ځاې وه.په هغه وخت کښې د اسلام په لاس کښې نه اقتدار وو.او نه توره،دویمه خبره دا ده.چه هغوی د خپل اسلام دحفاظت دپاره حبشې ته هجرت ولې کړې وو.اوبیا چه حبشه ته اورسیدل.نوچه دحضرت جعفرطیار رضی الله عنه تقریرئې واوریدو.اصحمه (۱)کوم چه د حبشې بادشاه وو.مسلمان شو.په هغه باندې کوم زور وو.(۲)

....دتیرمخ بقیه حاشیه] شېر د بنو تمیم نه دوه، د بنومخزوم او دهغوی د حلفاؤ نه اته.د بنوجمح نه یوولس،د بنو تمیم نه څوارلس،د بنو عدی نه پنځو،اود بنو عامر اوبنو حارث نه اته اته سړی شامل وو.دغه شان چه حضرت عمار رضی الله عنه په کښې شامل کړې شی.نودا درې اتیا کسان جوړیږی.ګنی بیا دوه اتیا،دوی کښې اوولس ښځې هم شاملې وې.ابن هشام په خپل سرت کښې د هجرت کونکو سړو او ښځو تفصیلی ذکرنه پس لیکی.((فکان جمیع من لحق بأرض الحبشة وهاجر إلیها من المسلمین سوی أبنائهم الذین خرجوا بهم صغاراً أو ولدوا بها ثلاثة وثمانین رجلاً إن کان عماربن یاسر رضی الله عنه فیهم وهو یشک فیه (السیرة النبویة لابن هشام (۳۳۰/۱)-~

(۱)أصفحة بن أبحر النجاشی ملک الحبشة وإسمه بالعربیة عطیة،والنجاشی لقب له ،أسلم علی عهد النبی صلی الله علیه وسلم ولم یهاجر إلیها وکان ردا للمسلمین نافعاً (الإصابة فی تمییزالصحابة (۱۰۹/۱)_

(۲)حضرت جعفر رضی الله عنه په دې تقریرکښې دجاهلیت د زمانې وحشت او داسلامی اقدارو داسې ښکلې تصورکښی کړې ده.چه دغه تقریر د جامعیت بیان نمونه ده.د عربی ادب ښکلې ګلدسته،اود تاریخ اسلام یو قیمتی شهادت جوړ شوې دې.د هغې ابتدائی څه حصه دا ده،،

((أیها الملک کنا قوماً أهل جاهلیة نعبدالإصنام، ونأکل المیتة ونأی الفواحش ونقطع الأرحام، نسئ الجوار،ویأکل القوی منا الضعیف.فکنا علی ذلک حتی بعث الله إلینا رسولاً منا،نعرف نسبه،وصدقه وأمانته وعفافه. فدعانا إلی الله لتوحده،ونعبده،ونخلع ما کنا نعبد نحن وأباؤنا من دونه من الحجارة والأوثان وأمرنا بصدق الحدیث وأداء الأمانة وصلة الرحم، وحسن الجوار، و الکف عن المحارم والدماء . ونهانا عن الفواحش وقول الزور وأکل مال الیتیم وقذف المحصنات وأمرنا أن نعبدالله وحده لا نشرک به شیأ وأمرنا بالصلاة والزکاة والصیام . فصدقناه وآمنا به واتبعناه علی ما جاء به من الله ،فعبدنا الله وحده، فلم نشرک به شیأ وحرمنا ما حرم علینا وأحللنا ما أحل لنا، فعدا علینا قومنا فعذبونا وفتنونا عن دیننا لیردونا إلی عبادة الأوثان من عبادة الله تعالی وأن نستحل ما کنا نستحل من الخبائث فلما قهرونا وظلمونا وضیقوا علینا ،وحالوا بیننا و بین دیننا،خرجنا إلی بلادک وأخترناک علی من سواک ورغبنا فی جوارک ورجونا أن لا نظلم عندک أیها الملک (السیرة النبویة لابن هشام (۳۳۶/۱))،،

په پښتو کښې ددې مفهوم دا دې.،اې بادشاه مونږ جاهلان وو.دبتانوعبادت به مو کولو.مرداري به مو خوړلې.دبې حیاې کارونه به مو کول.خپلولئ به مو کټ کولې.ګاونډیانو سره به مو بد سلوک کولو.مضبوط به کمزورې خوړل.نو دجاهلیت هم دغه وحشت ښکار وو.چه الله تعالی هم په مونږ کښې یو پیغمبر راولیږلو. داسې پیغمبرچه دهغه حسب اونسب،د هغه صدق اودیانت، دهغه امانت او عفت دټولونه مونږ ښه خبر وو.هغه مونږ ته د توحید ربانی او عبادت الهی دعوت راکړو.مونږ او زمونږ پلار نیکونو چه د کومو بې روحه کاڼو او بتانوعبادت کولو.د هغې ټولو دپریخودو څودنه ئې راته اوکړه.دخبرې د رښتیا کولو اوخپلوانو سره خپلولئ ساتلو،اودګاونډیانو سره د حسن سلوک کولو.اد حرامو نه د بچ کیدو، اود فساد او وینې تویولو نه د منع کیدو حکم ئې راته اوکړو.د بې حیائې نه ئې مونږ منع کړو.د ناجائزه وینا کولو ممانعت ئې اوکړو.دیتیم د مال خوړلو نه ئې منع کړو.په پاکدامنو ښځویاندې دتهمت لګولونه د بچ کیدو تاکید ئې[باقی حاشیه په راروانه صفحه...

حضرت ابوذره غفاری رضی الله عنه په ابتداء.داسلام کښې په مکه مکرمه کښې د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.اواسلام ئې قبول کړو.اوواپس لاړو.خپلې قبیلې غفار ته ئې تبلیغ اوکړو.نو نیمه قبیله دده په دعوت باندې مسلمانه شوه.(۱)

دغه شان حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه مدینې منورې ته تشریف اوړې وو.اود دوی په دعوت سره د بنو عبدالاشهل پوره قبیله مسلمانه شوه.(۲) هلته کوم یو زور وو؟

په انصاروکښې اویا کسان د حج په موقع د نبی ﷺ په لاس باندې مسلمانان شوی وو.(۳) هلته کوم زور وو.نودا وئیل چه اسلام په جبر او زور باندې خور شوې دې.بیخی غلطه ده.

ددې نه علاوه تاسو دا هم وئیلې شئ.که اسلام په زور باندې خور شوې وی.نوموږ ته دا اوښائې.چه عیسایانواو یهودیانو په څوځاپونو کښې حکومت کړې کړې.اوهغوی د عیسائیت اویهودیت د خورولو دپاره ښه پوره کوشش کړې دې.دویرې حربه ئې استعمال کړې ده.دطمعې او لالچ جال ئې خور کړې دې.خوددې باوجود عیسائیت او یهودیت ته دومره ترقی نه وه حاصله شوې.څومره چه اسلام ته حاصله شوې ده.که چرته دا خبره وی. نو بیا خو پکارده.چه یهودیت او عیسائیت هم دومره خور شوې وو.څومره چه اسلام خور شوې دې.نن تاسو یورپ ته لاړ شئ اوګورئ نوحیران به شئ.چه انګریزان چا چه د برصغیر نه داسلام او دمسلمانانو نوم ختمول غوستل.د هغوی په خپل ملك کښې نن په سوونو جماتونه

.....دتیرمخ بقیه حاشیه] راته اوکړو.او موږ ته ئې حکم اوکړو.چه موږ دالله تعالی سره څوك نه شریك نکړو.صرف دهغه عبادت کوو.اوموڼځ کوو.او زکاة ورکوو.او روژې نیسو،،

نوموږ دهغه تصدیق اوکړو.په هغه باندې مو ایمان راوړو.اودالله تعالی د طرفه چه هغوی څه راوړل.دهغې تابعداری مو اوکړه.نو اوس موږ صرف دالله تعالی عبادت کوو.اود شرك نه بچ کیږو.حلال ،حلال ګنړو.اودحرامو نه منع کیږو.هم ددې وجې زموږ قوم زموږ دشمنان جوړ شول.موږ ته ئې تکلیفونه رارسول.اوموږ ئې دخپل دین په باره کښې په قسم قسم امتحانانو کښې اچولو.هغوی غواړی چه موږ بیا د بتانو عبادت شروع کړو.بیا خبائث حلال ګنړل شروع کړو،.اویوخل بیا په دې کښې آخته شو.کله چه هغوی په موږ باندې د زور زیاتی انتهاء اوکړه.او په موږ باندې ئې زمکه تنګه کړه.او زموږ د دین په مینځ کښې حائل شول.نو موږ ستا ملك طرف ته راؤوتو.اوستا په ګاونډتوب کښې مو رغبت اوکړو.او تول موپریخودل.ته مو خوښ کړې.زموږ امید دې.چه تاسو سره یو.نوپه موږ به ظلم نه کیږی،،

ددې جوش پیدا کونکی تقریر نه پس حضرت جعفر رضی الله عنه د سورة مریم ابتدائی آیاتونه اولوستل.د نجاشی سترګې داوښکو نه ډکې شوې.دهغه شاهانه سترګو د اسلام رڼړا اولیده،دهغه زړه د اسلام د حقانیت ګواه جوړ شو.اودهغه ژبې د ((أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً عبده ورسوله)) اووئیل. اود خپل خان دپاره ئې د سعادت ابدی اعلان اوکړو.په رجب نهمه هجری کښې کله چه نجاشی وفات شو.نو نبی ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم په بقیع کښې جمع کړل.اودهغه د جنازې مونځ ئې اوکړو.(دتفصیل دپاره اوګورئ سیرت ابن هشام (۱\۳۳۴تا ۳۳۳)_

(۱) صحیح مسلم (۲\۲۹۶)_

(۲) اوګورئ سیرت ابن هشام (۱\۴۳۷)_

(۳) سیرة ابن هشام (۱\۴۴۳)_

موجود دی.چرچ خرڅیږی.اومسلمانان هغه اخلی.او جماتونه پرې جوړوی .یواځې په لندن ښار کښې څلور سوه جماتونه دی.
دا صورت حال ښکاره ده چه د زور،ویرې،او تورې نه دې.خلق په خپل شوق سره په اسلام کښې داخلیږی.حالانکه نن صبا مسلمانان د اسلام پوره نمائندګان هم نه دی. د صحابه کرامو ﷺ په دور کښې خود اسلام ښکاره داسې شخصیات موجود وو.چه خلقو به دهغوی اعمال او اخلاق کتل.نو مسلمانیدل به،ددې وجې د جبر اواکراه څه احتمال او سوال نشته.
ددې نه علاوه یوه بله خبره هم په دې باره کښې کولې شی.هغه دا چه داسلام دا حکم دې.که په یوکافرباندې توره کیخودې شی.اوهغه کلمه اووئیله.نوبیا دهغه قتلول جائز نه دی.اګرچه هغه دغه کلمه صرف دخپل ځان د بچ کولو دپاره وئیلې وی.اوپه حقیقت کښې هغه ایمان نه وی راوړې.یا په اصل کښې هغه اسلام کښې نه وی داخل شوې.په دواړو صورتونوکښې د هغه قتل جائز نه دې.انسان ته خپل ځان خوږ وی.هغه دخپل ځان د بچ کولو دپاره ډیر دروغ وائی.دلته هم که صرف د ځان بچ کولودپاره ئې کلمه وئیلې وی.اود زړه نه ئې اسلام نه وی قبول کړې.اوروسته د کفرپه دین باندې قائم پاتې شی.نودلته څه زور نشته.چه دې په زور سره مسلمان کړی.
حضرت خالدبن ولید ﷺ داسې کسان قتل کړی وو.چا چه دمسلمانیدو اقرار کړې وو.(١)
کله چه نبی ﷺ ته ددې علم اوشو.نو ډیر خفه شو.اووې فرمائیل.((اللهم إنى أبرأ إليك مما صنع

١)په شوال اتمه هجری تح مکې نه پس او د غزوه حنین نه وړاندې نبی ﷺ دحضرت خالدبن ولید ﷺ په قیادت کښې دانصارو او مهاجرینو درې سوه اوپنځوس کسانو یو لښکرښنوجذیمه طرف ته د دوعوت اسلام په غرض اولیږل.هغه خلقو د اسلام اقرار په صحیح طریقه سره نشو کولې.د ((أسلمنا)) مونږ اسلام قبول کړو.په ځاې ((صبأنا)) (مونږ خپل دین بدل کړو) اووئیل.ځکه چه د قریشو کافرانو به د اسلام قبلونکی دپاره د ((أسلم فلان)) په ځاې ((صبأ فلان)) لفظ استعمالولو .
د دې وجې بنو جذیمه د اسلام اقرار په ((صبانا.. صبأنا)) لفظ وئیلو سره اوکړو.د((صبأ)) معنی د یو دین نه بل دین ته وتلو ته وائی.چونکه په دې لفظ کښې د اسلام داقرار مفهوم ښه واضح نه دې.ددې وجې خالد بن ولید په هغوی کښې بعضې قتل کړل.کله چه نبی ﷺ ته ددې خبر اوشو.نو ډیر خفه شو.او وې فرمائیل. ((اللهم إنى أبرأ إليک مما صنع خالد)) اوبیا نبی ﷺ حضرت علی ﷺ ته مال ورکړو.او بنوجذیمه ته ئې اولیږل.اودغه ټولو مقتولینو دیت ئې د مسلمانانو دطرفه ورکړو.(اوګورئ فتح الباری(٥٧/٨و ٥٨) وعمدة القاری(٣١٣/١٧))..
نسائی او بیهقی دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه په صحیح سند سره یوه واقعه ذکر کړې ده.په دغه واقعه کښې د انسانی عشق اوچه کوم کسان مړه کیدل.په هغوی باندې د مړه کیدو یوه عجیبه واقعه نقل کړې ده.چه د بنو جذیمه په دغه قیدیانوکښې یوقیدی مسلمانانو ته اووئیل.چه زه د بنو جذیمه نه یم.زما په دوی کښې د یوښځې سره عشق دی.تاسودغه ښځو ته ما بوځئ.زما تمنا ده.چه دمرګ نه وړاندې یو نظر هغه اووینم.دغه قیدی ښځوطرف ته بوتلې شو. هلته کښې ئې څو اشعار ا ووئیل.نوچه څنګه دغه قیدی قتل کړې شو.نوخپل ځاې نه یوه ښځه راووته.اودهغه په لاش باندې پریوته.اود دوو دریو چغو نه پس د هغې د ژوند شمع هم مړه شوه.نبی ﷺ ته چه کله دا واقعه بیان شوه.نو وې فرمائیل((أما کان فیکم رجل رحیم)) فتح الباری (٥٨/٨)_

عالدل» اې الله زه د خالد د کړو نه برى يم.([1]) نودهغوى په اسلام باندې د اقرار کولونه پس دهغوى قتل جائز نه وو.که به هرنيت سره هغوى دغه اقرار کړې وو. د دې وجې دا وئيل چه په زور،زياتى باندې خلق مسلمانان جوړ شوى دى.دا صحيح او ټيك نه ده.

په اسلام كښې دغلامئ مسئله: دويمه مسئله د غلامئ سره متعلق ده.حريت او آزادى دهر انسانى پيدائشى حق دې.اوانسان د پيدائش د وخت نه فطرةً آزاد وى.دې غلام جوړول څنګه صحيح كيدې شى؟ددې په باره كښې دا خبره پيژندل پكار دى.چه دانسان حريت او آزادى دده د. صفت ملكوتى تابع دې.كه په ده كښې دغه صفات حميده اوصفات حسنه موجود وى.كوم چه الله تعالى بيان كړى دى.نو هغه به د حريت مستحق وى.ګنى بيا به هغه د آزادئ مستحق نه وى.بلكه بيا هغه د بهائمو اوحيواناتو نه هم لاندې دې.دداسې خلقو په باره كښې الله تعالى فرمائيلى دى.﴿إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ﴾ (دا خلق دځناورو پشان دى. بلكه ددوى نه هم زيات ګمراه دى)([2]) اوفرمائيلى ئې دى﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ ([3]) بيشكه دالله په نيز كافران بدترين ځناور دى) اوښكاره ده چه ځناورو او څاروو ته د حريت حق حاصل نه وى.نوپه دې لحاظ سره كافرانو ته هم دحريت اوآزادئ حق حاصل نه دې. الله تعالى انسان ته دعلم او قدرت،سمع اوبصر،ارادې او تكلم قوت وركړې دې.

اودې ئې د خپلو صفاتو مظهر جوړ كړې دې.دده فرض وو.چه په خپل ځان كښې ئې ملكوتى صفات پيدا كړى وو.اوصفات حميده ئې روښانه كړى وو.خوكله چه ده د الله تعالى بغاوت ته ملاو اوتړله.او دالله تعالى نافرمانى ئې خپل شعار جوړ كړو.نوبيا دې د مقام تكريم نه اوغورځيدو اسفل السافلين ته لاړلو.اوددې په نتيجه كښې په ده كښې د حريت استحقاق باقى پاتې نشو.اوس دې د دې خبرې مستحق دې.چه د ده سرقلم كړې شى.اودې د مخ د زمكې نه ورك كړې شى.خو الله تعالى دده سزا دا مقرر كړه.چه ده ته دې د غلامئ طوق واچولې شى.څكه چه هركله ده خپل ځان د نافرمانئ په جرم كښې بنديوان كړو.اوپه كفر او شرك سره ئې ګنده كړو.نو آزادى اوحريت كوم چه دالله تعالى انعام وو.هغه دده نه سلب كړې شو.اوغلامى دده په مقدر كښې شوه.

دغلامئ دمسئلې ثبوت په قران او حديث دواړو كښې شته: دويمه خبره دا پيژندل پكار دى.چه كوم خلق مسلمانان وى.اود غلامئ په مسئله باندې اعتراض كوى.هغوى ته لږ دا سوچ پكار دې.چه د «ما ملكت أيمانكم» لفظ په قرآن پاك كښې پخلس ځله راغلې دې.([4]) كه په

---

[1] الحديث أخرجه البخاري فى كتاب المغازى باب بعث النبى ﷺ خالدبن وليد إلى بنى جذيمة رقم الحديث (۴۳۳۹) وفى كتاب الأحكام باب إذا قضى الحاكم بجور أو خلاف أهل العلم فهو رد رقم الحديث (۷۱۸۹)

[2] سورة الأعراف:۱۷۹)_

[3]) سورة الأنفال:۵۵)_

[4]) دا لفظ په سورة نساء كښې څلورځله،په آيت نمبر(۳و ۳۶) په سورة نحل كښې يوځاې (آيت نمبر ۷۱) په سورة مومنون كښې يو ځل (آيت نمبر ۶) په سورة نو ر[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

اسلام کښې د غلامۍ مسئله نه وه.نو قرآن مجید پنځلس ځله د «ماملکت أیمانکم» ذکرپنځلس ځله ولې کړې دې. قرآن مجید په کفاره، ظهار،کفاره یمین اوکفاره قتل خطا کښې د غلام آزادولو هدایت کړې دې.(۱) که په اسلام کښې د غلامۍ مسئله نه وه.نوبیا دا هدایات به ولې وو.دغه شان قرآن پاك د ،،مکاتب،، ذکرکړې دې.(۲) اوښکاره ده غلام نه مکاتب جوړولې شي.اوپخپله مکاتب د بدل کتابت ادا کولو پورې غلام وي.
د رسول الله ﷺ خوې حضرت ابراهیم صاحب د ماریه قبطیه ﷝ د بطن نه پیدا شوې وو. ماریه قبطیه د وینځې په حیثیت دنبی ﷺ سره وه.(۳) که دا قبیح اوناجائز وو.نوآیانبی ﷺ ته به ددې علم نه وو.
غرض دا چه دغلامۍ ثبوت د قرآن او حدیث دواړو نه دې.اوپه دې کښې څه قباحت نشته. دا په مثال سره داسې زده کړئ.چه په یوکس باندې دانهٔ راختلې وي.په داسې صورت کښې خو اول داسې کولې شي.چه په هغې باندې مرهم پټۍ اوکړي.په دې سره خوبه هغه ماده یا تحلیل شي.اویا به بهرته راوځي.که مرهم فائده اونکړي.نوبیا نشتر لګولې شي.(زخم څیرلې شي) اود اپریشن په ذریعه هغه خرابه ماده راویستې شي.اوکه هغه ماده دومره زیاته شوې وي.چه اوس په نشتر باندې دهغې اخراج کافي نه وي.اوهغه پوره اندام خرابوي.نوبیا په دې صورت کښې ټول اندام کټ کولې شي.اوبنه په رضا سره ئې خلق کټ کوي.ځکه که دغه اندام کټ نکړې شي.نو ټول بدن ته دهغې د خوریدو ویره وي.اودانسان د ختمیدو خطره وي. دغه شان د پیغمبران علیهم السلام مواعظ او نصیحتونه د مرهم او پټیو پشان دي.اود کافرانونه د کفرد مرض په لرې کولوکښې پیغمبران علیهم السلام ډیر په دلسوزئ او محنت سره پرله پسې ددې د زائله کولو کوشش کوي.اوکله چه مواعظ اونصیحتونه کار ورنکړي. نوبیا غلامي د نشترپه طورسره استعمالولې شي.په کومې سره چه ددوی آزادي ختمه کړې

...دتیرمخ بقیه حاشیه] کښې درې ځاې (آیت نمبر ۳۱ و ۳۳ و ۵۷) کښې په سورهٔ روم کښې یو ځاې (آیت نمر۲) سورهٔ احزاب کښې څلور ځله (آیت نمبر ۵۰،کښې دوه ځله او آیت نمبر ۵۲ و ۵۵) په سورهٔ معارج کښې یو ځاې (آیت نمبر ۳۰) راغلی دی.دا ټول پنځلس مقامات دی)_

(۱) په کفاره ظهارکښې د غلام آزادولو حکم الله تعالی په سورهٔ مجادله کښې په آیت نمبر ۳ کښې او په کفاره یمین کښې ئې دغلام آزادولو هدایت په سورهٔ مائده آیت نمبر ۸۹ کښې اود کفاره قتل خطاء کښې د غلام آزادولو حکم ئې د سورهٔ نساء په آیت نمبر ۹۲ کښې کړې دې)_

(۲) سورهٔ نور آیت نمر (۳۳) کښې دی.((وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا))

(۳) فی الإصابة (٤٠٤١٤) مارية القبطية أم ولد رسول الله ﷺ ماتت فی المحرم سنة ست عشرة .. فی خلافة عمر ﷛ فکان عمر ﷛ يحشرالناس لشهودها وصلى عليها ودفنها بالبقيع وفی تهذيب الکمال (١٩٢١١) وأول من ولد له ﷺ القاسم ثم زينب ثم رقية ثم فاطمة ثم أم كلثوم ثم فی الإسلام عبدالله ثم إبراهيم بالمدينة وأولاده كلهم من خديجة إلا إبراهيم فإنه من مارية القبطية وكلهم ماتوا قبله إلا فاطمة فإنها عاشت بعده ستة أشهر على الصحيح)_

شي.او ددوی د فساد بندولو دپاره اود عالم دامن دپاره لار هموراه کولې شي. اوکه دا نسخه هم کارورنکړی .نوبیا دوی قتلوې شي.دې دپاره چه دکفر زور ختم شي.اوپه دنیا کښې امن اوامان قائم شي.لکه څنګه چه ټول بدن ته دنقصان رسیدو ویرې د وجې یو اندام کټ کولې شي.دغه شان د کفر اوشرك په مرض کښې اخته کسان اودالله تعالی نه د بغاوت په وجه چه د دنیا امن خرابیږي.ددې ویرې د وجې هغوی ختمولې شي.

بهرحال د وئیلو مقصد دا وو.چه د غلامئ دا مسئله د عام امن قائم ساتلو دپاره داسې ده.لکه څنګه چه په بدن کښې دننه فاسده ماده چه د نشتر په ذریعه د لرې کولو کوشش کولې شي.

دا داسلام ډیر لوې احسان دې.چه ده دغلامانو سره د حسن سلوك ډیرتاکید کړې دې.او د غلامانو د آزادئ ترغیب ئې ورکړې دې.نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی.«من أعتق رقبة أعتق الله بكل عضو منه عضوا من النار» ([1])که څوك یو غلام آزاد کړی.نودهغه د هر اندام په آزادئ کښې به د آزادونکی اندام دجهنم نه الله تعالی آزاد کړی.اونبی ﷺ چه څه وخت وفات کیدو.نو په هغه وخت کښې هغوی وصیت کړې وو.«الصلاة وماملكت أيمانكم» ([2]) (دمونځ اود غلامانو زیات خیال ساتئ)

غرض دا چه د غلامئ په مسئله کښې داسلام په غلامانو باندې ډیرلوې احسان دې.اسلام. چه ددوی په باره کښې کوم اصلاحات کړی دی.اودوی ته ئې چه کوم رعایتونه ورکړی دی.د هغې خو عشرعشیر هم موجود نه دی.په اسلام باندې دظلم الزام لګول غلط دې.دغلامئ مسئله خو د وړاندې نه راروانه وه.([3]) اسلام دا نه ده شروع کړې.

---

[1])الحديث أخرجه البخارى فى كتاب الإيمان باب قول الله تعالى ﴿ أو تحريررقبة وأى الرقاب أزكى رقم الحديث (٦٧١٥) وأخرجه مسلم فى كتاب العتق باب فضل العتق رقم الحديث (٣٧٦٩)_

[2])الحديث أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب باب فى حق المملوك رقم الحديث ٥١٥٦) وابن ماجه فى أبواب الوصايا رقم الحديث (٢٦٩٨)_

[3])دمسئلې حاصل دا دې.چه غلامی اسلام نه ده پیدا کړې.د اسلام نه وړاندې د تهذیب اوتمدن د چمك دمك دعویدار،د روم او ایران حکومتونو اود دنیا په نورو قومونو اومذاهبو کښې دا عامه وه.په معمولی معمولی غلطو باندې به دانسانانو نه غلامان جوړولی شول.د وینځو اولاد به غلامان ګڼړلی شول.اودجنګ قیدانو نه غلامان جوړول خومعلومه وه،،
بیا د یوکس دغلام جوړولو مطلب به دا وو.که دې ژوندې وی.نودځناورو پشان ژوند به تیروی. نه به هغه ته د ژوند په حوشحالو کښې دحصې اخستلو څه حق وو.اونه به د قدرت د نعمتونونه د خپلې مرضئ مطابق د فائدې اخستلو ورته اختیار وو.ددنیادهر راحت نه د محروم غلام حیثیت د یوې روحه کانړی پشان وو.چه دهغې اوچتونکې که هغه کوم خوا اوپه کومه طریقه ویشتل غواړی. اولی ئې.د غلام حیثیت د یو بوجه اوړونکی ځناور نه زیات نه وو.په کوم باندې چه مالك څومره بوجه اوچول غوستل.اچول به ئې برې.اوچه څنګه به ئې شړل غوښتل.شړل به ئې،،
اسلام چه راغلو.نودغلام جوړولو نور ټول صورتونه ئې ختم کړل.صرف یو صورت ئې باقی پریخودل.اوهغه دا چه کله کافران دمسلمانانو د مقابلې دپاره میدان جنګ ته راشی.اود الله تعالی

دا باغيان قيديان شي.نودغه بنديان غلامان جوړولی شي.خوپه دې صورت کښې هم غلام جوړول متعين نه دی.بلکه مسلمانانوته اختيار ورکړې شوې دې.چه دغه قيديان قتل کړي.يا هغوی بغيرد فدية نه آزاد کړی.اوکه مناسب ګڼړی.فديه دې واخلی.اوهغوی دې پريږدی.اوکه غواړی نوغلامان دې ترې جوړ کړی.

بيا دغلامۍ په مسئله کښې د اسلام تصور هغه نه دی.کوم چه د جاهليت د زمانې يا نن د يورپ د غلامۍ تصور دې.اسلام چه څنګه انسان دپاره په دنيا کښې د ټولو نه زيات قابل احترام هستيانو والدينو سره د حسن سلوك حکم کړې دی.هلته ئې ورسره د ((وما ملکت أيمانکم)) زيادت هم کړې دې.فرمائي. ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ سورة النساء (٣٦) ،،او نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی. ((فأكرموهم كرامة أولادكم وأطعموهم مما تأكلون(ابن ماجه كتاب الأدب رقم الحديث (٣٦٩١) دخپل اولاد پشان د دوی خيال ساتئ.اوڅه چه په خپله خورئ.دوی باندې هم خوروئ،،

غرض دا چه اسلام ټول نظام د سختئ نه نرمئ ته راوستل،د دشمنئ نه دوستئ ته راوويستل، دحاكميت نه راوويستل په ورورولئ كښې ئې بدله كړه،،

بيا دا نه چه دا ټول څيزونه داسلام د عالمګيراو صالح قانون صرف د پاڼړو د حده پورې بناست دې.بلکه اسلام د دې نظام اوچته اخلاقی عملی نمونه خلقو ته پيش کړې ده.داسلام په تاريخ کښې د علم اومعرفت اوچتو درجو ته رسيدونکی څومره غلامان دی.چه د هغوی ژوند په سوونو آزادو کسانو دپاره د پسخيدو قابل دی.اوڅوك چه د علمی مهارت په وجه د زرګونو احرارو دپاره مرجع ګرځيدلې دی.كه دمكې عطاء بن ابن رباح رحمه الله وی.اوكه د يمن طاوس بن كيسان رحمه الله ، كه د مصريزيدبن حبيب وی.اوكه د شام او حجاز مكحول او ضحاك رحمهما الله وی.دحديث اوفقه دا ټول روښانه ستوری هم غلامان وو.دغلامانوسره داسلام دې عادلانه نظام دعملی نمونې اقرار د مغرب خلقو هم کړې دې.انګريزې ښخې ،،بلنټ،، د عربود ښارونودسيل نه پس په دې عادلانه نظام باندې اقرارکوی اوليكي: ،،دعربو دخپلو غلامانو سره د بدسلوكئ يوه واقعه هم مونږ پيش نكړې شوه.اوحقيقت دا دې.چه غلام دعربوسره دهغوی خادم نه وی.بلکه يوخوږ خوی ګنړلې شی،،

بيا اسلام د غلام دآزادئ دپاره ډېر مواقع ورکړې دي.تاسو به په قرآن کښې په كفاره يمين، كفاره ظهاراوكفاره قتل خطا كښې د غلام آزادولو حكم اوموميئ.د نبی ﷺ په احاديثو كښې به تاسو ته په دې باندې نورد اضافه هم ملاؤ شي.نبی ﷺ فرمائيلی دی.((من لطم مملوكه او ضربه فكفارته أن يعتقه ((سنن أبي داود كتاب الأدب حديث نمبر٥١٦٨)) پخپله نبی ﷺ شپږ شپيته غلامان آزاد کړی وو.حضرت عائشې (٦٩) حضرت ابن عباس اويا حضرت عثمان دخپلې محاصرې په دوران کښې شل حضرت حكيم بن حزام سل حضرت عبدالله بن عمر يوزر،حضرت عبدالرحمن بن عوف ديرش زره،اوذوالكلاع حميری په يو ورځ كښې اته زره غلامان آزاد کړی وو(رضي الله عنهم) د ذكرشوی اته حضراتو د آزاد كړو غلامانو تعداد يوكم څلويښت زره درې سوه دويشت (٣٩٣٢٢) جوړيږی... باقی،،

"قياس كن ز گلستان من بهار مرا،،

ددې ټولو اوصافو باوجود هم خلق په اسلام کښې دغلامئ په مسئله باندې اعتراض کوی.نو ددوی په باره کښې ددې نه سوا بل څه ونيلی شی.چه دوی ته د بغض اودشمنئ په وجه داسلام هريو څيزالټه په نظر راځي.

ان عقل کے اندھوں کو الٹی نظر آتی ہے   لیلیٰ نظر آتا ہے مجنوں نظر آتی ہے

(دپورتنی تفصيل اوزياتی تحقيق دپاره اوګورئ تكمله فتح الملهم كتاب العتق (٢٦٣/١ و ٢٧٢)،،

دعوت اوجهاد: داصل كتاب شروع كيدو نه وړاندې د دعوت اوجهاد اهميت په خپل مينځ كښې ربط باندې مونږ دلته لږ په تفصيل خبرې كوو..

اسلام د پوره ژوند د پوره نظام او د انسانى ژوند د كاملې ضابطې نوم دې.اولكه څنګه چه د انسان ژوند په مختلفو شعبو كښې تقسيميږى.دغه شان د ژوند د نظام كلى په مختلفو شعبو باندې مشتمل كيدل هم يو بديهى امر دې.هم دا وجه ده.چه په اسلام كښې شعبه معاشرت هم ده.او معيشت هم.شعبه سياست هم ده.اوحكومت هم.شعبه تصوف هم ده او خدمت خلق هم،شعبه تفسير هم ده اوحديث هم،شعبه فقه هم ده او افتاء هم،شعبه تاريخ هم ده او تحقيق هم،شعبه تبليغ هم ده او شعبه جهاد هم،داسلام روښانه تاريخ د زندګئ په هره شعبه كښې داسې داسې نامورې هستئ پيدا كړې دى.په كوموكښې چه د هريو وجود د اسلام د حقانيت دليل دې.داسلام په دې مختلفو شعبو كښې دوه شعبې د دعوت او دجهاد دى.ددعوت مطلب دا دې.چه د الله تعالى بندګان اسلام طرف ته او الله اودهغه د رسول پيغام طرف ته رابلل دى.ښې خبره خبرول.اوباخبره منونكو منل ،منونكو ته د عمل ترغيب وركول،د بدو نه منع كول اوبه نيكو باندې اماده كول.دا ټول په دعوت اوتبليغ كښې داخل دى.اوهم دا د امت مسلمه مقصد اود دوى د پيدانش مقصد دې.دالله تعالى ارشاد دې((كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ)) ال عمران: ١١٠) اې مسلمانانو! تاسوغوره امت ئې.چه دخلقو دپاره رويستې شوې ئې.دښه كارونو حكم به كوئ.اود بدو كارونو نه به منع كوئ..

ددې آيت نه څو آياتونه وړاندې دا تصريح موجود ده.چه په هر دور كښې په امت مسلمه باندې فرض كفايه ده.چه د دوى يوه ډله په دې كاركښې لګيا وى.اوكه د دعوت كار ټول امت پريږدى. نو ټول امت به ګناهګار وى.ارشاد دې((وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)) (آل عمران:١١) اويكارده چه په تاسو كښې يوه ډله داسې وى.چه خلقوته د ښيګئ دعوت وركوى.اودنيكئ د كارونو تعليم وركوى.اودګناه دخبرو نه ئې منع كوى.اودا هم هغه خلق دى.چه فلاح موندونكى دى..

ددې علمى ثبوت نه يواځې د نبى ﷺ د مكى ژوند نه نه، بلكه د ټول ژوند نه ملاويږى.كله به نبى ﷺ د صفا په غرباندې اوختل.اودعوت به ئې وركولو.اوبه(فاصدع بما تؤمر)) (اې محمد! تاته چه دځه حكم كيږى.هغه په ښكاره باندې واوروه) عمل كولو.كله به دطائف سردارانو ته ورتلل. اوهغوى ته به ئې د اسلام دعوت وركولو.اوكله به د عربو مختلفو سردارانو ته كوم چه به منى ته راغلى وو.ورتلل.اودحق دين دعوت به ئې وركولو.كله به ئې قيصر اوقصرى ته دعوتى خطونه ليږل. اوكله به ئې د قاريانواومبلغين جماعتونه جوړول او روانول.دې دپاره چه هغوى نوى مسلمانانوته د قرآن او اسلام احكام اوښائى.اوغيرمسلموته د اسلام دعوت وركړى.اوبه آخر كښې د خپلې تاريخى خطبې حجة الوداع په موقع باندې اوفرمائيل.((هل بلغت)) آيا ما د الله تعالى پيغام اورسول.خلقو په يوآواز سره اووئيل.((نعم))او جى،اوچونكه نبى ﷺ آخرى پيغمبر دې.د دوى نه پس ترقيامته پورې بل نبى نه راځى.ددې وجې د دعوت دا ذمه دارى ددوى نه پس د دوى په امت باندې پريوځى.د نبى ﷺ ارشاد دې((بلغوا عنى ولو آية)) زما يوه يوه خبره وړاندې اورسوئ.د دوى نه پس د دوى خان قربانونكى صحابه او مخلصان ملګرى رضی اللہ عنہم د دنيا ګوټ ګوټ ته د پيغام رسولو دپاره اووتل.كه ايران وى يا هندوستان،چين وى كه يونان،كه عرب وى اوكه شام،غرض دا چه دخپل راحت اوتكليف،دخلقو د سختئ اونرمئ اود موسم د يخنئ اوګرمئ پرواه ئې نه كوله.او مخلوق ته ئې د الله تعالى پيغام اورسولو...

ہاں گردش ایام کی زنجیر سے کہدو   خوشبو کا سفر وقت کا پابند نہیں ہے

د صحابو رضی اللہ عنہم ددې مباركې قافلې دمحبت او درد . فكراو كوشش ،اود امت سره ددوى د درد او

هغوى د زړه د خيګرد سوزيدو نتيجه ده.چه نن پيغام محمدى ﷺ

دشت میں دامن کہسار میں میدان میں ہے
بحر میں موج کی آغوش میں طوفان میں ہے
چین کے شہر مراقش کے بیاباں میں ہے
اور پوشیدہ مسلمان کے ایمان میں ہے
چشم اقوام یہ نظارہ ابد تک دیکھے
رفعت شان رفعنا لک ذکرک دیکھے

په مزه مزه د دعوت دا حلقه غټه شوه.اوپه مختلفو طبقو كښې تقسيم شوه.واعظانو او مقررينود تقرير په صورت كښې،مفسرينواو محدثينو ﷺ د درس قرآن او درس حديث په شكل كښې، مصنفينواو مؤلفينو د تصنيف اوتاليف په صورت كښې دعوت جارى اوساتل.

اوپه دې كښې هم څه شك نشته.كه تقريروى اوكه وعظ،كه درس قرآن وى اوكه درس حديث،كه تصنيف اوتاليف وى اوكه د تصوف د اصلاح نفس تعليم،په شرعى حيثيت سره دا ټول د دعوت اوتبليغ زمره كښې راځى.

خو د دعوت هغه خاص طريقه په كومه باندې چه ددې نقشې عكس په نظر راشى.كومه چه د پيغمبرانوعليهم السلام اوبيا خاص كرد نبى ﷺ په مكې دور كښې وه.هغه پريخودې شوې وه.په كومه كښې چه صرف طلب كونكو ته نه بلكه بې طلبوته تلل او د دې دعوت وركول دى.مولانا سيد سليمان ندوى ﷫ د پيغمبرانوعليهم السلام د دعوت اصول بيانوى.اوليكى.،،

د دعوت اوتبليغ په هغه اصولوكښې كوم چه د نبى ﷺ په سيرت كښې ښكاره معلوميږى.يو عرض دې.يعنې نبى ﷺ به ددې انتظار نه كولو.چه خلق دې د دوى په خدمت كښې حاضر شى. بلكه دوى به په خپله او د دوى داعيان به خلقو ته په خپله ورتلل.او د حق دعوت به ئې وركولو.تردې چه كله كله به د خلقو كورونو ته پخپله اورسيدل.اودحق كلمې دعوت به ئې ورته پيش كولو.دمكې معظمې نه طائف ته لاړلو.اوهلته ئې د عبد ياليل د سردارانو په كورونو كښې د تبليغ فرض ادا كړو.دحج په موسم كښې به يوې يوې قبيلې ته ورتلل.او هغوى ته به ئې دحق پيغام رسولو.او دهغوى د سختو جوابونو پرواه به ئې نه كوله.آخر هم په دې لټون كښې د يثرب هغه بختور ملاؤ شول.دچا په لاسونوچه د ايمان او اسلام دولت د مكې نه مدينې منورې ته منتقل شو.(مقدمه مولانا محمد الياس او ان كى دينى دعوت از سيد سليمان ندوى صفحه ٢٥)،،

ددعوت دا خاص طريقه چه په دې كښې د طالبانو تخصيص نه وى.بلكه دټول امت فكر وى.د ډير وخت نه يا خو هډو ود نه،او يا كه وه خو په هغه عموميت او اهميت سره نه وه.دكوم چه ضرورت وو.اودكومې چه امت د ډير وخت نه انتظار كولو.په كروړاؤ رحمتونه دې نازل شى په حضرت مولانا محمد الياس ﷫ باندې كوم چه الله تعالى عزوجل په اجتماعى توګه د دې كارد ژوندې كولودپاره منتخب كړو.يخ دې وى قبرونه دهغه چا چه ورسره ئې مرسته كړې وه.،،

د اسلام دويمه اهمه شعبه جهاد فى سبيل الله دې.جهاد دخپل شرعى معنى په اعتبار سره اګرچه عام دې.اوهرهغه محنت ته جهاد وئيلې شى.كوم چه د دين اسلام دپاره كيږى.خو په اصطلاحى اعتبار سره په عامه توګه د جهاد اطلاق په قتال فى سبيل الله باندې كيږى.د شريعت په اصطلاح كښې د جهاد تعريف دا دې.،،

((بذل المجهود فى قتال الكفار مباشرة أو معاونة بالمال أو بالرأى أو بتكثير السواد أوغير ذلك ثم غلب فى الإسلام على قتال الكفار قال ابن الهمام: هو دعوتهم إلى الدين الحق وقتالهم إن لم يقبلوا(مرقاة شرح مشكاة ٧/٢٦٤)،،

د كافرانو سره جنګيدلو،يا د جنګ كونكو مدد كولو ته جهاد وائى.برابره ده كه دغه مدد په مال يا په رائې او مشورې په صورت كښې وى.يا د مجاهدينو د تعداد زياتولوپه شكل كښې وى.ددې نه علاوه په هره طريقه چه د مجاهدينو سره مدد كول كولې شى.هغه په جهادكښې داخل دى.خوپه اسلامى اصطلاح كښې دكافرانو سره قتال كولوته جهاد وائى.علامه ابن الهمام ﷫ د جهاد تعريف كړې دې چه ،،جهاد خلقو ته د الله تعالى دحق دين دعوت وركول، اود دعوت نه قبلولو په صورت كښې دهغوى سره جنګ كولوته وئيلې شى.

په شرعي اعتبارسره د جهاد مفهوم عام كيدو نتيجه دا ده.چه دجهاد څو قسمونه دي.جهاد بالقلم،جهاد باللسان،جهاد بالسيف،دغه شان نبي ﷺ د يوې غزوې نه د واپسئ په موقع د نفس خلاف مجاهدې كولوته جهاد اكبر ونيلې وو.خو په دې كښې څه شك نشته.چه د جهاد د ټولو نه اهمه او لويه شعبه قتال دې.او چه جهاد في سبيل الله اووئيلې شي.نو هم دا معنى ترې اخستې شي.اوهم ددې ذكر الله تعالى كړې دې.اوفرمائي.﴿ وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة ويكون الدين كله لله﴾ (سورة انفال :٣٩) اوتاسودغه كافرانو سره ترهغه وخته پورې جنګيږئ.چه په دوى كښې فساد (د شرك عقيده) پاتې نشي.اودين خالص شي.دغه شان په سورة بقره كښې ئې فرمائيلي دي.﴿ كتب عليكم القتال وهو كره لكم وعسى أن تكرهوا شيأ وهو خير لكم وعسى أن تحبوا شيأ وهو شرلكم والله يعلم وأنتم لا تعلمون﴾ (البقرة:٢١٦) جهاد كول په تاسو باندې فرض كړې شو.اودا به طبعاً تاسوته ګران بنكارى.اودا كيدې شى.چه تاسو يو څيز بد ګنړئ.اوهغه ستاسو دپاره بهتر وى.اودا هم (ممكن ده) چه تاسو به يو څيز خوښ ګنړئ.اوپه هغې كښې به ستاسو دپاره شر وى.اوالله تعالى ښه پوهيږى.اوتاسو نه پوهيږئ،،

ددې آيت كريمه نه د جهاد فرضيت ثابتيږى.مولانا اشرف علي تهانوى رحمه الله ددې آيت په تفسير كښې ليكى،،، جهاد فرض دې.كله چه ددې شرطونو موجود شي.كوم چه د فقه په كتابونوكښې مذكور دى.او فرض په دوه قسمه دى.فرض عين او فرض كفايه.. كله چه د دين دشمنانان په مسلمانانو باندې حمله اوكړي.نوبيا جهاد فرض عين دې.ګنى فرض كفايه دې.(حاشيه برقرآن از مولانا اشرف علي تهانوى رحمه الله)،،

يعنى جهاد دفرضيت په اعتبار سره په دوه قسمه دې.يوجهاد اقدامى او بل جهاد دفاعى،جهاد دفاعى(كله چه كافران په مسلمانانو باندې حمله اوكړي) نودا فرض عين دې.اوجهاد اقدامى (كله چه مسلمانان په كافرانوباندې حمله اوكړي) دا فرض كفايه دې.دامت مسلمه نه يوه ډله داسې پكار ده.چه هغه د ټول امت د طرفه دا فرض ادا كوى.ګنى ټول امت به ګناهګار وى.د جهاد د مشروعيت نه پس د نبي ﷺ زيات عمرهم په جهاد كښې تيرشوې دې.ددې اندازه ددې نه لګى.چه دهجرت نه پس په لس كاله كښې نبي ﷺ په خپله په ٢۶ يا ٢٧ غزواتوكښې شركت كړې دې.اودصحابو رضي الله عنهم هغه لښكرې كومې چه نبي ﷺ ليږلې وې.دهغې شمار پنځه ديرش دى. كومې ته چه په اصطلاح كښې ،سريه،، وائى،،،

د نبي ﷺ دوفات نه پس صحابه كرام رضي الله عنهم د جهاد دپاره اووتل.د ګرمو علاقو اوسيدونكى دې مجاهدينوپه يخو شيو كښې اود طوفانونو نه ډكو ورځوكښې دالله تعالى د كلمې اوچتولو دپاره اود دين حق په ټولو باطلو دينونو باندې د اوچتولودپاره چه خپله وينه ئې د اسلامى ونې د لويولو دپاره تويه كړې ده.د دنيا د قومونو په تاريخ كښې ددې مثال نه ملاويږى.د قرون اولى هم دا مسلمانان وو.چه هغوى ته د دنيا وسعتونه راټول شول.د قيصر اوكسرىٰ قوتونه ټكړې ټكړې شول.كه تياره وه اوكه رنړا، كه هوا وه او كه اوبه،كه د شمنانو كثرت به ووبا طاقت،كه صحراء به وه اوكه درياب،كه ځنګل به وو اوكه غر،كه وچه به وه كه لونده،هيڅ يو څيزددې مجاهدينو په لار كښې ركاوټ نشو جوړيدې.كومو چه خپل سر په تلى كښې كيخودې وو.دشهادت د شوق نه ډك،د جهاد په جذبه مست،ددې مجاهدينو يو آواز،يوعزم،يو مقصد وو،،،اعلاء كلمة الله،، هم په دې اميد كښې به هغوى خپل ځانونه قربانول. چه

شب گریزاں ہوگی آخر جلوۂ خورشید سے   یہ چمن معمور ہوگا نغمۂ توحید سے

د اسلام د ونې هغه ګورې څانګې دكوم د آرام وركونكى او پرسكون سيورى د لاندې چه نن د دنيا مسلمانان آرام كوى.چاته معلومه ده چه ددې شاخونو جرړو ته اوبه وركولو او ددې د مضبوطولو دپاره دحجاز قافلې څومره وينه وركړې ده.داقبال اشعارو ددې ډيرښكلې عكس اخستې دې.

تھے وہی ایک ترے معرکہ آراؤں میں
دیں آذانیں کبھی یورپ کے کلیساؤں میں
شان آنکھوں میں نہ جچتی تھی جہانداروں میں
وہ جو جیتے تھے تو جنگوں کی مصیبت کیلئے
تھی نہ کچھ تیغ زنی اپنی حکومت کیلئے
جس کی ہیبت سے صنم سہمے ہوئے رہتے تھے

خشکیوں میں کبھی لڑتے کبھی دریاؤں میں
کبھی افریقہ کے تپتے ہوئے صحراؤں میں
کلمہ پڑھتے تھے وہ چھاؤں میں تلواروں میں
اور مرتے تھے تیری نام کی عظمت کیلئے
سربکف پھرتے تھے کیا دہر میں دولت کیلئے؟
منہ کے بل گرکے ھواللہ احد کہتے تھے

په غیرمسلموکښې ددغه مجاهدینو د دعوت طریقه دا وه.چه عام طور به دمسلمانانو فوځ دهغوی ښارونه خبر کړل.اود ټولو نه وړاندې به ئې کافرانو ته د اسلام دعوت ورکړو.که هغوی به اسلام قبول کړو.نو دمسلمانانو ورونړه به شول.اوچه کوم حقوق به مسلمانانو ته حاصل وو.په هغې کښې به هغوی هم شریك شو.اوپه بل صورت کښې به هغوی د جزیه ورکولو ته تیارولې شول.اوکه د جزیه نه به ئې هم انکار اوکړو.نو دریم صورت د توری او قتال وو.دغه شان په څو کلونو کښې د قیصر او کسری په شاهی محلاتو باندې داسلام بیرغ اولګولې شو.اودهغه وخت د دنیا سپرطاقتونه داسلامی حکومت لاندې راغلل.د جهاد د تاریخ کړئ چه د هغې ابتداء د بد راو احد نه شوې وه.د خورلس سوه کالو په موده باندې خوره ده.که په مینځ کښې چرته څه انقطاع راغلې ده.نوهغه ډیره موده نه ده پاتې شوې.خود جنګ بلقان او طرابلس نه پس د جهاد جذبه په عالم اسلام کښې لږ غوندې یخه شوې ده.،،

مرحبا صد مرحبا دافغانستان په هغه مجاهدینو،چا چه بغیرد سروسامان نه په الله تعالی باندې واډګیره اوکړه.اود جهاد بیرغ ئې پورته کړو.اومسلمانانو ته ئې د ذلت نه د وتلو لاره اوخودله.هم د دغه مجاهدینو د قربانۍ نتیجه ده.چه د روس طاقت درې ورې شو.په دخپل واك په ریاستونو کښې تقسیم شو.هم ددې جهاد نتیجه ده.چه کشمیری مسلمانان راویخ شول.د برما او فلسطین مسلمانان رابیدار شول.اوټول عالم اسلام متحرك شو،

عروق مردہ مسلم میں خون زندگی دوڑا سمجھ سکتے نہیں اس راز کو سینا و فارابی

د دعوت او جهاد په خپل مینځ کښې پوښان والی : جهاد او دعوت دواړه په خپل مینځ کښې مربوطې شعبې دی.هره یو د بل نه بغیرناقصه اوناتمامه ده.جهاد که د فاسدې مادې اخراج،سکون قلب.انسداد د فتنې اوفساد زیرې دې.نو دعوت د نیکئ په لاره روانونکې،د بدئ نه منع کونکې، دصحت معاشرې آسمانی نسخه هدایت دې.جهاد ربانی که مسلمانان د ذلت دکندې نه راوباسی.په کافرانو باندې د اسلام رعب اچول اود دین فطرت باغیانواوسرکشانودپاره دالله تعالی تازیانه ده.نو دعوت مسلمانانوته د دوی د ژوند مقصد خودلو.ددې مقصد د مقام تعین کولو،د تعیش په وادیانو کښې ګرځیدونکو ته د لار خودلو الهی پیغام دې.جهاد که واسطه ده.ددې چه د کافرانو غلبه ختمه شی.اودهغوی حکومتونه د مسلمانانو ماتحت شی.اودین حق غالب شی.نو دعوت ذریعه ده د دې چه د نور ایمان نه ظلمت د کفر لرې شی.اوپه زړونو باندې داسلام غلبه اوحکومت پاتې شی.اولکه څنګه که دجهاد مقصد ،،اعلاء کلمة الله،، نه شی.نودا قتل اوفساد نه سوا بل څه نه دی.دغه شان دعوت که داشاعت اسلام د نیت او روح نه خالی وی.نود شګوګل د ښکاریدو نه سوا بل څه نه.دې.جهاد او دعوت د یوغشی دوه ښکاره دی.یا داسې اووایه.چه د یو ښکار دوه غشی دی.که صرف دعوت وی اوجهاد نه وی.نود کفر بربریت او ظلم به د اسلام په لار کښې رکاوټونه اچوی.اود تبلیغ اسلام لارې به بندیږی.وکه جهاد وی او دعوت نه وی.نوبیا هم اسلام ته د ډیرو خطرو پیښیدو ویره ده.په اسلامی تاریخ کښې دا واقعات موجود دی.چه د دعوت د اهمې فریضې په پریخودلو مسلمانانوته ډیرې خطرې پیدا شوی دی.د تاتاریانود فتنې اصلی وجه هم دا د دوعت الی الله پریخودل وو.مولانا ابوالحسن ندوی رحمه الله د تاتاریانود فتنې اسباب بیانوی اولیکی.

دخوارزم شاهي بادشاهانو نه په دې موقع هم هغه غلطي شوې وه..كومه چه په سپين كښې د عربو حاكمانو كړې وه.اوهغوى قانون مكافات معاف نكړل.يعنى دا چه هغوى خپل ټول طاقت د سلطنت په ډيرولو او استحكام،اود دشمنانو په مخالفت كښې صرف كړې دې.اوهغه انساني آبادي كومه چه دهغوى د سرحد سره متصله وه.اوپخپله يوه دنيا وه.د تبليغ اسلام او هغوى ته دالله تعالى آخرى پيغام رسولو فكر نه وو.د ديني جذبې نه قطع نظر،.. د سياسي فراست او دوربينۍ هم دا تقاضا وه.چه هغوى دا وسيعه آبادي خپل هم خياله جوړه كړې.اود يوې عقيدې جوړولو كوشش اوكړې.اودغه شان د هميشه دپاره د دې خطرې نه به محفوظ شوې وې.كومه چه نه صرف دوى ته بلكه پوره عالم اسلام ته پيښ شوه.(تاريخ دعوت وعزيمت جلد اول صفحه ٣١٢)،،

اوحقيقت دا دې.كه د دعوت اهمه فريضه ئې پريخودې نه وې.اوپه اخلاص او داعيانه طريقه باندې ئې دخپل ګاونډ دغه انساني آبادئ ته د اسلام دعوت وركړې وو.نو د تاتاريانو دا حادثه چه د هغې دبربريت په عالم اسلام كښې څه چه په تاريخ عالم كښې هم نه ملاويږي.اونه به پيښ شي.اګرچه په ظاهره د هغې سبب د خوارزم شاه د قراقرم نه د راتلونكى سوداګرو اود بيا د چنګيزخان د سفير قتلول وو.خوپه اصل كښې ترك دعوت ددې سبب وو.هم دا وجه وه.چه كله روسته تاتاريانو ته د اسلام دعوت اورسيدو.نوپه يوكال كښې دننه دننه ټول تاتار قوم مسلمان شو.،،

حرم رسوا ہوا پیر حرم کی کم نگاہی سے   جوانان تتاری کس قدر صاحب نظر نکلے

مولانا ابوالحسن على ندوى رحمه الله ليكلي دى،،

نزدې وه چه ټول عالم اسلام د دې مصيبت په سيلاب كښې بهيدلې وو.اولكه څنګه چه دهغه وخت اهل نظراو درمندو مسلمانانو مصنفين ويره ظاهره كړې وه.چه د اسلام نوم او نشان به هم ختم شوې وو.خوپه دې كښې په تاتاريانو كښې اشاعت اسلام شروع شو.اوكوم كار چه د مسلمانانو تورو او د مسلمانانو بادشاهانو نشو كولې.هغه د اسلام داعيانو او دالله تعالى مخلص بندګانو اوكړو..(تاريخ دعوت وعزيمت (٣٢٢/١)،،

اوبيا هغه قوم چه عالم اسلام ډير لوې نقصان رسولې وو.داسلام محافظين جوړ شول.اوپه هغوى كښې بيا لوې لوې مجاهدين ،عالمانو او فقهاء پيدا شول

ہے عیاں فتنۂ تاتار کے افسانے سے   پاسباں مل گئے کعبے کو صنم خانے سے

نن عالم اسلام ته د دعوت او جهاد دواړو ضرورت دې:

نن چه عالم اسلام د تاريخ اسلام د نازك دور نه تيريږي.غيرمسلم قومونه دخپل ټولواسبابواو وسائلو د مسلمانانو خلاف متحد دى.هر صبا او هر بيګاه د اسلامي اتحاد ختمولو دپاره نوې حمله د كفر سره ښكاره كيږي.د كشمير په مسلمانانو باندې هغه تاريخ دوباره راوستې شي. كوم چه هندوانو په ١٩٤٧ء كښې دپاكستان دمهاجرينو خلاف په هغه وخت كښې تيار كړې وو.په هندوستان كښې برهمني سماج مذهبي سادهو د جماتونو نه مندرونه جوړولو باندې ګلك ولاړ دى.د برما او دفلسطين مسلمانان خالي لاس د جلا وطنۍ ژوند تيرولو باندې مجبور دې.داندلس هغه زمكه چه هغې اته سوه كاله د اسلام بيرغ پورته كتلې وه.نن د مسلمانانو په دې زمكه داسلام نوم او نشان هم نشته.د دې اندس هغه جمات چه د څلور سوه كالو نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان په آوازونو باندې آباد وو.نن هغه د دنيا د سيلانو دپاره تفريح ګاه جوړه شوې ده.په بيت المقدس باندې د يهوديانو تسلط دې.اود الله تعالى دا مقدس كور د مسلمانانو د لاس نه بهر دې،،

دیدۂ انجم میں ہے تیری زمیں آسماں   آه! کہ صدیوں سے ہے تیری فضا بے اذاں

په داسې حالاتوكښې ددې فرصت چرته شته.چه ددعوت او جهاد په فرضيت يا عدم فرضيت اويا په ضرورت او عدم ضرورت باندې دمناظرو مجلسونه ښانسته كولې شي.يا د يوې شعبې سره د تعلق په وجه د بلې شعبې په عدم اهميت باندې د دلائلو بازار ګرم ساتلې شي.

چمن بچاؤ کہ آشیاں کا وقت نہیں ہے   [بقیہ حاشیہ پر اردو لفظ.....

٦٧=کتاب المغازی

باب غزوة العشيرة أو العسيرة

قال ابن إسحاق أول ما غزا النبي صلى الله عليه وسلم الأبواء ثم بواط ثم العشيرة

[٣٧٣٣]حدثني عبد الله بن محمد حدثنا وهب حدثنا شعبة عن أبي إسحاق كنت إلى جنب زيد بن أرقم فقيل له كم غزا النبي صلى الله عليه وسلم من غزوة قال تسع عشرة قيل كم غزوت أنت معه قال سبع عشرة قلت فأيهم كانت أول قال العسيرة أو العشير فذكرت لقتادة فقال العشير[ر: ٣٩٤٩، ٤١٤٢، ٤٢٠١]

په غزوه اوسريه کښې فرق: په کوم قتال اوجهاد کښې نبی ﷺ په خپله باندې شرکت کړې وی.هغې ته د سیردعالمانوپه اصطلاح کښې ،،غزوه،، وائی.اوپه کوم قتال اوجهاد کښې نبی ﷺ په خپله شرکت نه وی کړې.بلکه څوك ئې امیر مقرر کړې وی.اودصحابو رضی الله عنهم ډله ئې د قتال اوجهاد دپاره لیږلې وی.هغه ته ،،سریه،، او،،بعث،، وائی.

دجهاد دسلسلې شروع د غزواتو نه شوې وه که د سرایا نه؟: خبره په دې کښې اوشوه.چه د جهاد دمشروعیت نه پس د جهاد ابتداء د سرایا نه شوې وه که د غزواتو نه.داکثرو اهل سیر دا رائې ده.چه ابتداء د سرایا نه شوې وه.د محمد بن سعد او واقدی هم دا رائې ده.([1]) او ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښې هم دا لیکلی دی.([2]) اوهم دا د حافظ ابن حجر رحمه الله او نورو محققینو رائې ده.([3])

اولنۍ سریه دحمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه وه.دویمه سریه د عبیده بن الحارث رضی الله عنه وه. دریمه سریه د سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه وه.([4]) او بیا ددې نه پس غزوه ابواء چه ،،غزوه ودان،، ورته هم ونیلی شی.پیښه شوې وه.

.....دتیرمخ بقیه حاشیه] د ګیرچاپیره ماحول تقاضا دا ده.چه هرمسلمان د دعوت اوجهاد آوازجوړ شی.اوپه دواړو شعبو کښې د هرې شعبې سره یا کم ازکم د یوې سره منسلك وی.بلکه په حدودو کښې دننه دننه دې فکرمند شی اوکار دې کوی.ځکه چه عالم اسلام ته نن د دې څومره ضرورت دې.ګیدې شی چه چرته نه وو.

عالم ہمہ ویرانہ ز چنگیزی افرنگ　　معمار حرم باز بہ تعمیر جہاں خیز
از خواب گراں، خواب گراں خواب گراں خیز

[1])اوګورئ طبقات ابن سعد (٢\٦) اوالکامل لابن الأثیر(٢\٧٨)_

[2])زاد المعاد (١\١٢٩)_

[3])فتح الباری (٦\٢٨٠)_

[4])البته ابن اسحاق رحمه الله وغیره سریه عبیده بن الحارث ته اولنۍ سریه وائی.((قال ابن اسحاق فکانت رایة عبیدة بن الحارث .. فیما بلغنی .. أول رایة عقدها رسول الله ﷺ ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

سریه حمزه بن عبدالمطلب: سریه حمزه بن عبدالمطلب ﷛ په باره کښې دا حضرات وائی.
چه په رمضان کال یو هجری کښې حضرت حمزه بن عبدالمطلب ﷛ لره نبی ﷺ د دیرشو
مهاجرینو د ډلې امیر مقرر کړو.او ،،سیف البحر،، طرف ته ئې ورته د روانیدو حکم اوکړو.
او وې فرمائیل چه د قریشو په درې سوو کسانو باندې مشتمله یوه قافله ددې تعاقب دې
اوکړې شی.کومه چه د ابوجهل په قیادت کښې د شام نه راروانه وه.دا حضرات لاړل.اود
قریشو د قافلې تعاقب ئې اوکړو.اودواړه مخامخ شو.خودقتال نوبت رانغلو.([1])

سریه عبیده بن حارث رضی الله عنه: ددې نه پس د شوال په میاشت کښې کال یو هجری
کښې نبی ﷺ حضرت عبیده بن الحارث ﷛ د شپیتو یا اتیا مهاجرینویوه ډله ،،رابغ،، ته
اولیږله.اود قریشو د قافلې د تعاقب حکم ئې ورته ورکړو.دا حضرات اورسیدل.دلته هم
مخامخ په مخامخ شول. حضرت سعدبن ابی وقاص ﷛ یوغشې دکافرانو طرف ته گزار
کړو.دا دمسلمانانو د طرفه نه د ټولو نه اولنې غشې وو.کوم چه د کافرانو سره په جهاد
کښې ویشتلې شوې وو.خودلته هم د قتال نوبت رانغلو.([2])

دکافرانود پنجې نه د مقداد او عتبه بن غزوان ازادی: یوه واقعه دا اوشوه.چه حضرت مقداد بن
عمرو او عتبه بن غزوان ﷠ دواړه صحابه وو.ایمان ئې راوړې وو.خود کافرانو په پنجه
کښې بندیوان وو.د هجرت موقع ورته نه ملاویده.دا دواړه د قریشو د قافلې سره شول.په
دې خیال که چرته موقع ملاؤ شوه.نو اوبه تختې.او مدینې ته به اورسی.کله چه د دې شپیتو
یا اتیا مهاجرینو سریه د قریشو د قافلې په تعاقب کښې دوی ته اورسیده.نو هغوی ته ډیره
ښکلې موقع ملاؤ شوه، او د کافرانو نه اووتل.د مسلمانانو سره شامل شول.او مدینې طیبې
ته راغلل .د قریشو د قافلې سردار عکرمه بن ابی جهل یا مکرزبن حفص وو.([3])

سریه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه: دې نه پس په ذی قعده یو هجری کښې نبی ﷺ د
حضرت سعد بن ابی وقاص ﷛ سره د شلومهاجرینو یوې ډله کښې اولیږل.وادی ,,حرار'' ([4])
کومه چه جحفۀ سره نزدې ده.هلته ئې ﷺ دوی ته د رسیدوحکم کړې وو.اود قریشو دقافلې
دتعاقب دپاره ئې ورته ونیلی وو.دلته هم د قتال نوبت رانغلو.اودا حضرات واپس راغلل.([5])

......دتیرمخ بقیه حاشیه....]فی الإسلام لأحد من المسلمین (السیرة النبویة لإبن هشام (٥٩٥\١) او نورو د
سیرت عالمانو سریه د حمزة بن عبد المطلب ﷛ ته اولنۍ وائی.حافظ ابن حجر ﷫ لیکی.((وعند
الأموی یقال أن حمزة بن عبد المطلب أول من عقد له رسول الله ﷺ فی الإسلام رایة وکذا جزم به موسی بن
عقبة وابو معشر والواقدی (فتح الباری (٢٨٠\٧)_~

[1])طبقات ابن سعد(٦\٢)_

[2])تاریخ الطبری (١٢١\٢)_

[3])أیضاً دغه شان سیرة ابن هشام (ص،٥٩٢)_~

[4])خرار .. موضع بالحجاز یقال هوقرب الجحفة وقیل واد من أودیة المدینة وقیل ما ء بالمدینة وقیل موضع
بالخیبر (معجم البلدان (٣٥٠\٢)_

[5]) طبقات ابن سعد (٨\٢) وسیرة ابن هشام (٢٠٠\١)_

غزوه ابواء: بيا په صفر دويمه هجرى كښې د غزوه ابواء واقعه پيښه شوه.په دې كښې رسول الله ﷺ په خپله تشريف اوړې وو.اود مهاجرينو يوه لويه ډله دوى سره شوه.حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه لره نبى ﷺ د مدينې منورې حاكم جوړ كړو.د نبى ﷺ مقصد په بنو ضمره باندې حمله كول وو.اود قريشو د قافلې تعاقب،كول وو[1] دقريشو قافله خو وتلې وه.البته د بنوضمره سره نبى ﷺ صلح اوكړه.په دې شرط چه هغوى به دمسلمانانو خلاف څه اقدام نه كوى.اود ضرورت په وخت به د مسلمانانو مدد كوى.اومسلمانان به د هغوى مدد كوى.[2] دلته هم قتال اونشو.،،ودان،، او ،،ابواء،، چونكه نزدې نزدې دى.ددې وجې دې ته ،،غزوه ابواء ،، هم وائى.او ،،غزوه ودان،، هم.[3]

غزوه بواط: ددې نه پس په ربيع الاول كښې د ،،غزوه بواط،، واقعه پيښه شوه.بواط (بفتح الباء وبضم الباء) دواړه شان وئيلى شى.دا د يو غر نوم دې.كوم چه د ،،ينبع،، سره نزدې دې.[4] رسول الله ﷺ دې دپاره روان شو.او د دوى سره دلته هم يوه لويه ډله وه.صحابه كرامو ﷺ ته په دې غزوه كښې هم د قتال نوبت رانغلو.د قريشو قافله د كومې په تعاقب كښې چه نبى ﷺ روان شوې وو.اوپه لږ څه كښې اووتله.او نبى ﷺ واپس تشريف راوړو په دې غزوه كښې نبى ﷺ سائب بن عثمان بن مظعون رضي الله عنه د مدينې حاكم جوړ كړې وو.[5]

غزوه عشيره: دې نه پس په جمادى الاولى دويمه هجرى كښې د ،،غزوه عشيره ،، واقعه پيښه شوه.دا عشيره مقام هم د ،،ينبع،، سره نزدې وو.[6] دلته نبى ﷺ د مهاجرينو په دوو سوو يا دوه نيمو سووكسانو باندې مشتمل لښكر واخستل اولاړلو.دلته هم د قتال نوبت رانغلو. د قريشو قافله وتلې وه.نبى ﷺ په دې سفر كښې د بنى مدلج سره صلح اوكړه.[7]

---

[1]) طبقات ابن سعد (۷\۲) وسيرة ابن هشام (۵۹۱\۱) وفتح البارى (۲۷۹\۷)_

[2])وفى هذه الغزوة وداع مخشى بن عمروالضمرى وكان سيدهم فى زمانه على أن لا يغزو بنى ضمرة ولايكثروا عليه جمعاً ولايعينو عدواً وكتب بينه وبينهم كتاباً (طبقات ابن سعد (۸\۲)_

[3])الأبواء قرية ممن عمل الفرع بينها وبين الجحفة من جهة المدينة ثلاثة وعشرون ميلاً والأبواء (بفتح الهمزة وسكون الموحدة) و ،،ودان،، مكانان متقاربان بينهما ستة أميال أو ثمانية (انظر فتح البارى(۲۷۹\۷) وطبقات ابن سعد (۸\۲) قال موسى ابن عقبة أول غزوة غزاها النبى ﷺ يعنى بنفسه ،،الأبواء،، (فتح البارى(۲۷۹\۷)_

[4])ينبع مدينة بين مكة والمدينة .. وهى قريبة من طريق الحاج الشامى أخذ أسمه من الفعل المضارع لكثرة ينابيعها (معجم البلدان (۴۵۰\۵) وفى طبقات ابن سعد وبين ينبع والمدينة تسعة برد (طبقات ابن سعد (۱۰\۲)

[5]) سيرة ابن هشام (۵۹۸) د ابن سعد د بيان مطابق حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه د مدينې حاكم جوړ كړې شوې وو.اوګورئ (طبقات ابن سعد (۸\۲) والله اعلم_

[6])قال الحافظ فى الفتح (۲۸۰\۷) وأما العشيرة فلم يختلف على أهل المغازى أنها بالمعجمة والتصغيروآخرها هاء قال ابن اسحاق هى ببطن ينبع)_

[7])طبقات ابن سعد(۹\۲و ۱۰)_

په دې غزوه كښې ابوسلمه بن عبدالاسد مخزومي رضي الله عنه دمدينې حاكم مقرركړې شوې وو.([1])
دا درې غزوات دی.د محمد بن اسحاق رائې دا ده.چه د ټولو نه وړاندې د ابواء واقعه پيښه شوې وه.اودا درې واړه سرايا كوم چه اكثر حضرات د اولنۍ هجرئ واقعات ښائی.دا د غزوه ابواء نه پس شوی دی.او دا د دويمې هجرئ واقعات دی.([2])

بهرحال امام بخاری رحمه الله د سرايا ذكر نه دې كړې.هغوی ذكر كړی دی.«أبواء ثم بواط ثم العشيرة» دا ترتيب د بخاری دی.او د جمهور هم دا رائې ده.اګرچه د بعضې خلقو رائې دا هم ده.چه په غزوات كښې ،،عشيره،، د ټولو نه وړاندې ده.([3])

غزوه بدر اولی: د غزوه عشيرة نه نبی صلی الله عليه وسلم په جمادی الاولی دويمه هجری كښې واپس راغلو. اس تقريبا لس ورځې د دوی شوې وې.چه كرزبن جابر فهری د مدينے طيبې په چراګاه باندې دشپې حمله اوكړه.نبی صلی الله عليه وسلم ته چه كله خبر ملاؤ شو.نو نبی صلی الله عليه وسلم د مهاجرينو يو جماعت سره دهغوی په تعاقب كښې روان شو.او مقام ،،سفوان،، ته اورسيدل.كوم چه د بدر سره نزدې دې.او هغه د نيولو او حملې نه بچ شو.نبی صلی الله عليه وسلم واپس راغلو.دې ته غزوه بدر اولی او غزوه سفوان هم وائی.په دې غزوه كښې هم قتال نه وو شوې.([4]) په دې غزوه كښې نبی صلی الله عليه وسلم حضرت زيدبن حارثه رضي الله عنه د مدينې حاكم مقرر كړې وو.([5])

كرزبن جابر فهری ته روستو الله تعالی د اسلام توفيق نصيب كړو.دعرنيين واقعه چه كله پيښه شوه.([6]) هم ددوی په قيادت كښې د صحابو رضي الله عنهم يوه ډله نبی صلی الله عليه وسلم د عرنيينو په تعاقب كښې اوليږله.

سريه د عبدالله بن جحش رضی الله عنه: ددې نه پس كله چه په رجب دويمه هجری كښې د عبدالله بن جحش دسرية واقعه پيښه شوه.دا سريه په دولسو كسانو باندې مشتمله وه.او

---

[1])طبقات ابن سعد(٩\٢)_

[2]) قال ابن اسحاق فی أمر كل هذه السرايا .. أن ذلک كله كان فی السنة الثانية من وقت التاريخ (تاريخ الطبری (١٢٠\٢)_

[3])دبخاری شريف د كتاب المغازی په اولنی حديث كښې زيد بن ارقم رضي الله عنه ،،غزوه عشيره،، ته اولنۍ غزا وئيلې ده.ددې تفصيل په دې حديث كښې راځی)_~

[4]) سيرة ابن هشام (٦٠٨) البته د سعد په نيز باندې دغزوه بدر اولی د غزوه عشيرة نه وړاندې ده.دهغوی په نيز غزوه بدر اولی په ربيع الاول دويمه هجرئ كښې او غزوه عشيره په جمادی الاخری دويمه هجرئ كښې پيښه شوې وه.(طبقات بن سعد (٩\٢)_~

[5])طبقات ابن سعد(٩\٢) وسيرة ابن هشام (٦٠١)_

[6])وفی الإصابة (٢٩٠\٣) كرزبن جابر رضي الله عنه القريشی الفهری كان من رؤساء المشركين قبل أن يسلم .. ثم أسلم .. بعث النبی صلی الله عليه وسلم فی آثارهم (أی العرنيين) خيلاً من المسلمين أميرهم كرزبن جابر .. وأمر النبی صلی الله عليه وسلم خالدبن الوليد أن يدخل من أعلی مكة فقتل من خيل خالد يمئذ رجلان وهما حبيش بن الأشعر الخزاعی وكرزبن جابر الفهری)_

حضرت عبدالله بن جحش ﷺ د دوی امیر مقرر کړې شوې وو.حضرت عبدالله بن جحش ﷺ ته نبی ﷺ یو خط ورکړو.او دا نې ورته اوونیل. چه دوه ورځې مزل کولونه پس به دا خط پرانیځې.اوکوم مضمون چه په دې کښې لیکلې شوې دې.دهغې مطابق به عمل اوکړې. نودا دولس کسان روان شول.دوه ورځې د مزل کولونه پس چه ئې کله خط پرانستلو .نو په هغې کښې لیکلی وو.چه تاسو د مکې او طائف په مینځ کښې ،،مقام نخله،، ته تاسو اورسئ.نود قریشو خبرمونږ ته راولیږئ.اوملګرو ته اختیار ورکړئ.چه د چا زړه غواړی. تاسو سره دې لاړ شی.اوچه د چا زړه غواړی.نو واپس دې راشی.حضرت عبدالله بن جحش ﷺ هغه خط پرانستلو.او خپلې ملګرو ته ئې واورولو.ټول ملګری حضرت عبدالله بن جحش ﷺ په تلو باندې تیار شول.([1])

په دوی کښې حضرت سعدبن ابی وقاص،حضرت عتبه بن غزوان،حضرت واقد بن عبدالله، حضرت مقداد بن عمرو،حضرت ابوحذیفه بن عتبه،حضرت عامر بن ربیعه، حضرت خالدبن بکیر،حضرت عامربن ایاس،حضرت عکاشه بن محصن،حضرت سهیل بن بیضاء،حضرت صفوان بن بیضاء ﷺ دا یوولس کسان وو.اودولسم حضرت عبدالله بن جحش ﷺ امیر وو. ([2])

---

[1]) نبی ﷺ په اول کښې د تلو یا ایساریدو اختیار نه وو ورکړې.بلکه فرمائیلې ئې وو.چه دوه ورځې د مزل کولو نه پس اختیار دې.چه دچا خوښه وی.لاړ دې شی.اوچه دچا خوښه وی واپس دې شی.په دې کښې مصلحت دا وو.که په اول کښې نبی ﷺ اختیار ورکړې وو.نو ممکن وه.چه ټول په تلوباندې آماده شوی وو.ځکه چه سړی ته د سفرد مشقت اندازه د اول نه نه کیږی.او چه روسته د سفر تکلیف اووینی.کیدې شی.چه څوك پښیمانه شوې وو.چه نبی ﷺ راته اختیار راکړې دې.نو بیا مونږ ولې نه پاتې کیږو.ددې وجې نبی ﷺ د دوو ورځو سفر کولو نه پس د وړاندې تلو او واپس کیدو اختیار ورکړو.ځکه چه د دوو ورځو د سفر دمشقت اندازه به ټولو ته شوې وی.دوه ورځې مزل کولونه پس چه کله ورته خط واورولې شو.نو د ابن اسحاق او ابن هشام د روایت مطابق ټول ښه په رضا باندې لاړل.اوڅوك هم واپس نشو.البته په معجم طبرانی کښې د جندب بجلی ﷺ په روایت کښې دی.چه ((فرجع رجلان ومضی الباقون)) دوه کسان واپس شول.او نور ټول لاړل.والله اعلم. (اوګورئ سیرة ابن هشام (۶۰۱) وفتح الباری (۱۵۵\۱۱)دغه شان ابن کثیر ﷫ د جندب بن عبدالله په روایت کښې هم د دوو کسانود واپس کیدو ذکرشته. اوګورئ تفسیرابن کثیر(۲۵۲\۱)_~

[2])حضرت عبدالله بن جحش ﷺ جلیل القدر صحابی دې.په سابقین اولینو کښې دې.جنګ بدر کښې دهجرت او حبشه طرف ته د هجرت کولو سعادت دوی ته حاصل دې.نبی کریم ﷺ چه کله دوی ددې سریه امیر جوړولو.نو وې فرمائیل.((لأبعثن علیکم رجلاً أصبرکم علی الجوع والعطش))زه به تاسو باندې داسې کس امیر جوړوم.چه هغه به په تاسو کښې د ټولونه زیات صبر کونکې وی.په جنګ احد کښې د دوی توره ماته شوه.نو نبی کریم ﷺ دوی ته د قجورې لخته ورکړه.هغه لخته ددوی په لاس کښې توره شوه.روسته دا توره په دوه سوه دیناره باندې خرڅ کړې شوه .هم په جنګ احد کښې دوی دخپل خان دپاره د شهادت دعا کړې وه.اودشهادت لویه درجه ئې بیا موندله.دسید الشهداء حضرت امیرحمزه ﷺ سره په یو قبر کښې دفن کړې شو.رضی الله عنه ورضی عنه (اوګورئ الاصابة فی تمیزالصحابة (۲۸۶\۲و ۲۸۷)_~

دا حضرات چه کله مقام نخله ته اورسیدل.نو عمروبن الحضرمی د قریشو قافله اخستې وه.اودوی سره ملاؤ شو.حضرت واقدبن عبدالله په غشی باندې گزاراوکړو.په هغې باندې عمروبن الحضرمی اولګیدلو.اوهغه مړ شو.[۱] دهغه ملګری اوتختیدل.د هغوی په مالونوباندې مسلمانانو قبضه اوکړه.دااولنې غنیمت وو په اسلام کښې چه مسلمانانو ته په لاس راغلو.او عمروبن الحضرمی په تاریخ اسلام کښې دکافرانو اولنې مقتول وو.کوم چه د مسلمانانو دطرفه مړ کړې شو.

حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه په خپل اجتهاد سره مال غنیمت تقسیم کړو.یوخمس ئې د بیت المال دپاره او ،،اربعة اخماس،، (څلورحصې) ئې په غانمینوکښې تقسیم کړو .بیا ددې نه پس مدینې منورې ته راغلل.او نبی صلی الله علیه وسلم ته ئې ټول حالات بیان کړل.هغه مال غنیمت ټولوسره محفوظ وو.

چونکه د رجب میاشت وه.او رجب په اشهرالحرم کښې وه.صحابه کرامو رضی الله عنهم دا ګمان اوکړو.چه دا د جمادی الثانی آخرې تاریخ دې.او په اصل کښې هغه د رجب تاریخ وو.نوځکه مشرکانو دا وئیل شروع کړل.چه دوی په اشهرالحرم کښې هم قتال جائز اوګرځولو.د حضرت ابراهیم علیه السلام په ملت کښې په اشهرالحرم کښې د قتال اجازت نه وو. اشهرحرم ،ذی قعده،ذی الحجه،محرم او رجب څلور میاشتې دی.چونکه په ذی الحجه کښې حج کیدو.نو یوه میاشت ددې نه وړاندې کوم چه حج ته د راتلو دپاره ده.اویوه میاشت روسته کومه چه د حج نه دواپسۍ دپاره ده.اویوه میاشت دحج،په دې درې واړو کښې قتال حرام کړې شوې وو.دې دپاره چه خلق په آرام او اطمینان سره حج اوکړی.د رجب میاشت به د عمرې دپاره وه.پنځلس ورځې بیت الله ته د راتګ دپاره اوپنځلس ورځې د واپس تلو دپاره،دا میاشت هم د قتال دپاره ممنوع وه.

په دې میاشتوکښې یوخود حج او عمرې د احترام د وجې قتال ممنوع شوې وو.او دویمه خبره دا وه.چه هم هغه زمانه وه.چه په دې کښې به غله یوځاې نه بل ځاې ته منتقل کیده.دې دپاره چه دا محفوظ پاتې شی.په دې څلورو میاشتوکښې دحضرت ابراهیم علیه السلام د زمانې راسې قتال ممنوع وو.[۲] اود ملت ابراهیمی په بقایا کښې دا خبره په مشرکانو کښې

---

[۱])وقالت الیهود تفاول بذلک علی رسول الله صلی الله علیه وسلم عمروبن الحضرمی قتله واقدبن عبدالله ،عمرو،عمرت الحرب، والحضرمی، حضرت الحرب،وواقدبن عبدالله وقدت الحرب. فجعل الله ذلک علیهم لا لهم (سیرة ابن هشام (۱۱ا۶۰٤)_

[۲])وفی الروض الأنف للسهیلی: ثم جعل الله الأشهر الحرم أربعة، ثلاثة سرداً وواحداً فرداً وهو رجب،أما الثلاثة فلیأمن الحجاج واردین إلی مکة وصادرین عنها شهراً قبل شهر الحج وشهراً بعده قدر ما یصل الراکب من أقصی بلاد العرب ثم یرجع حکمة من الله وأما رجب فللعمار یأمنون مقبلبین وراجعین نصف الشهر للإقبال ونصفه للإیاب .. فکانت الأقوات تأتیهم فی المواسم وفی سائر العام تنقطع عنهم ذوبان العرب وقطاع السبل فکان فی رجب أمان للسالکین إلیها مصلحة لأهلها ونظراً من الله لهم دبره وإبقاءه من ملة إبراهیم لم یغیر ،،حتی جاء الإسلام (الروض الأنف (۱۲ا۶۰)_

مشهوره او رائجه وه.دا واقعه په دیرشم رجب باندې پېښه شوې وه.چه مشرکانو ډیر شور جوړ کړو.نو الله تعالی دا آیات نازل کړو. ﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ۖ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ۗ﴾ (١)

خلق تاسونه په شهرحرام کښې دقتال په باره کښې تپوس کوی.تاسو ورته اوفرمائی .چه په دې کښې (په قصد سره) قتال کول ډیره لویه ګناه ده.خودالله تعالی د لارې نه څوك منع کول او دالله تعالی سره شرك کول اود مسجد حرام نه منع کول اواهل حرم دحرم نه ویستل دالله تعالی په نیزلوې جرمونه دی.او فتنه پیدا کول د قتل نه په څوچنده لویه ګناه ده.اودا کافران به همیشه دپاره تاسو سره جنګ کوی.دې دپاره چه تاسو د دین نه واړوی.که طاقت ئې کیږی.

مطلب دا دې.چه په کومه طریقه په اشهرالحرم کښې قتال کول حرام اوګناه ده.هم په دغه طریقه دمسجد حرام نه منع کول د دې نه لویه ګناه ده.اودغه شان د الله تعالی سره کفر کول ددې نه لوې جرم دې.

کله چه دا آیت نازل شو.نو دغه مجاهدینو ته خیال راغلو.چه په دې قتال به مونږ ته اجر او ثواب هم ملاویږی که نه؟ نو آیت نازل شو. ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ (٢)

کومو کسانو چه ایمان راوړې دې.اوهجرت ئې کړې دې.اودالله په لار کښې ئې جهاد کړې دې.هم داسې خلق د الله تعالی د رحمت امید ساتی.الله بښونکې او مهربانه دې.

په دې آیت کښې دوی ته بشارت ورکړې شو.چه دوی دپاره اجر شته.نبی کریم ﷺ ددې آیت د نزول نه پس هغه مال غنیمت د کوم تقسیم چه عبدالله بن جحش رضی الله عنه په خپل اجتهاد سره کړې وو.د هغوی دغه تقسیم باقی اوساتلو.یو خمس ئې د بیت المال دپاره او څلور اخماس ئې د غانمینو دپاره مقرر کړو.(٣)

او یوه واقعه دا پېښه شوه.چه د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه او حضرت عتبه بن غزوان رضی الله عنهما اوښ په لاره کښې ورك شو.دا دواړه د دغه اوښ په لټون کښې اووتل.اود دولسو صحابه کرامو رضی الله عنهم کومه ډله چه وه.(٤) هغوی سره مدینې ته اونه رسیدل.هلته دغه صحابو رضی الله عنهم د کافرانو دوه کسان حکم بن کیسان او عثمان بن عبدالله اونیول.

---

(١) سورة البقرة:٢١٧_

(٢) سورة البقرة:٢١٨_

(٣) تفسیر ابن کثیر (٢٥٤/١)_

(٤) دلته دې دا خبره یاده وی.چه د واقدی اوابن سعدد روایت مطابق دولس تعداد دې.او په ابن اسحاق،ابن هشام او طبری کښې دعروه په روایت د جماعت د امیر نه بغیرد دوی تعداد اته وو.او د امیرسره ئې نهه ذکر کړی دی.اود سدی په روایت کښې د اوو کسانو ذکردې.(اوګورئ سیرة ابن هشام (٦٠١) وتاریخ طبری (١٢٤/٢و ١٢٦) وطبقات ابن سعد(١٠/٢) دغه شان فتح الباری (١٥٥/١) باب ما یذکرفی المناولة کتاب أهل العلم بالعلم إلی البلدان وتفسیر ابن کثیر (٢٥٢/١)_

قریشو د دغه دووکسانو فدیه راولیږله.نبی ﷺ اوفرمائیل.چه زمونږ دوه ملګري سعد بن ابی وقاص اوعتبه بن غزوان رضی الله عنهما چه ترڅو پورې صحیح سالم نه وی راغلی.مونږ دا قیدیان نه پریږدو.که تاسو هغوی قتل کړل.نو مونږ به ستاسوکسان قتل کوو.
روسته حضرت سعداوعتبه رضی الله عنهما راورسیدل.نو نبی ﷺ د دغه قیدیانو،فدیه واخستله.او پرې ئې خودل.حکم بن کیسان رضی الله عنه خو مسلمان شو.او مکې ته واپس لانړلو.او دویم قیدی عثمان بن عبدالله واپس لاړو.اودکفر په حالت کښې مړ شو.
دغزواتو او سرایا په دې تاریخی منظرباندې د پوهیدو نه پس اوس لږکتاب طرف ته راشئ:
امام بخاری رحمه الله ددې کتاب عنوان قائم کړې دې.«کتاب المغازی» مغازی د ،،مغزی،، جمع ده.مغزی مصدر میمی هم کیدې شی.او ظرف مکان هم.دلته مصدری معنی متعین ده.د «غزایغزوغزواًومغزی»په معنی د قصد او ارادې راځی. (مغزی الکلام مقصده»
دلته دمغازی نه مراد «ماوقع من قصد النبی ﷺ الکفار بنفسه أولجیش من قبله» هغه قصد کوم چه نبی ﷺ کافرانو طرف ته کړې وی.برابره ده که په هغې کښې نبی ﷺ په خپله شریك شوې وی.اوکه دخپل طرف نه ئې د یو لښکر په لیږلو باندې اکتفاء کړې وی.
امام بخاری رحمه الله په کتاب المغازی کښې د ټولو نه وړاندې د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه روایت ذکرکړې دې.چه د هغوی نه کله تپوس اوشو.چه د نبی ﷺ د غزواتو شمار څومره دې؟ نو هغوی اوفرمائیل.نورلس،تپوس کونکی تپوس اوکړوزچه تاسو د نبی ﷺ سره په څومره غزاګانو کښې شرکت کړې وو؟ نو وې فرمائیل.په اوولس غزاګانو کښې ،راوی تپوس اوکړو.چه د ټولونه وړاندې کومه غزا واقع شوې وه.حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه جواب
ورکړو.غزوه عشیره یا عسیره،د حدیث راوی شعبه وائی.«فذکرت ذلك لقتادة رحمه الله فقال العشیر»
ترکومې پورې چه د غزوه عسیرة تعلق دې.نوهغه خو غزوه تبوك ده.دا د نبی ﷺ د ټولو نه آخری غزوه وه.او په دې کښې مسلمانان د عسر او مشقت سره مخامخ شوی وو. هم ددې په باره کښې قرآن پاك وئیلی دی.﴿ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُ فِیْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ ﴾ اوهم ددې وجې دې ته ،،عسیره،، وائی.
په حدیث باب کښې دی.«قلت فأیهم کانت أول؟» دعربئ قواعدو په رڼا کښې «فأیها» یا «فأیتهن» پکار وه.ځکه چه د ضمیر مرجع غزوة یا غزوات دی.هم دا وجه ده.چه د ترمذی په روایت کښې «فأیتهن» دی.بعضې تاویل کړې دې.چه «فأیهم» کښې مضاف محذوف دې. تقدیر د عبارت دا دې.«فأی غزوتهم».
په دې حدیث مبارك کښې حضرت زیدبن ارقم رضی الله عنه غزوه عشیره اولنئ غزوه ګرځولې ده. حالانکه ددې نه وړاندې غزوه ابواء اوغزوه بواط دوه غزاګانې واقع شوې وې.په دې لحاظ سره غزوه عشیره اولنئ نه دریمه غزوه ده.(دکومې تفصیل چه تیرشوې دې) علامه عینی رحمه الله په عمدة القاری کښې ددې په جواب کښې دا تاویلونه کړی دی.
① «إما أن یکون زید بن ارقم لم یکن یومئذ أسلم»

(۲) ((أو كانت ثلاث غزوات صغيرة فإن من عد من الصحابة رضي الله عنهم ذكر أعظمها)) يعنى په صحابو رضي الله عنهم كښې به ځنى حضراتو لويې لويې غزاګانې شمارلې.او ورې غزاګانې ئې نه شمارلې.اود غزود عشيره نه وړاندې چه كوم درې غزاګانې شوې وې.هغه ورې وې.ددې وجې زيد بن ارقم رضي الله عنه د هغې ذكر اونكړو.اوغزوه عشيرې ته ئې اولنۍ غزا اووئيله.(۱)

(۳) ((أو كانت .. بالنسبة إلى علمه))
علامه عينى رحمه الله دا درې واړه توجيهات كړى دى.په فتح البارى كښې حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باره كښې ليكى.

(۱) ((فغات زيد بن ارقم رضي الله عنه ذكر ثنتين منها ولعلهما الأبواء وبواط وكان ذلك خفى عليه لصغره))

(۲) ((ويحمل قول زيد بن ارقم على أن العشيرة أول ما غزا هو أى زيد بن ارقم والتقدير فقلت ما أول غزوة غزاها أى وأنت معه؟ قال العشير))

(۳) ((او عد الغزوتين وتهين واحدة.))
(الف) ددې توجيهاتو خلاصه دا شوه.چه حضرت زيدبن ارقم رضي الله عنه غزوه عشيره ته اولنۍ غزا د خپل علم مطابق وئيلى دى.اود اولنو دوو غزاګانو دوى ته علم نه وو.ددې وجې چه په هغه وخت كښې دوى اسلام نه وو قبول كړې.اويا دخپلې كم عمرۍ د وجې هغوى ته علم نه وو.
(ب) حضرت زيدبن ارقم رضي الله عنه دخپل شركت په اعتبار سره دې ته اولنۍ غزا وئيلې ده. چه دا د دوى اولنۍ غزا وه.چه دوى په كښې شركت كړې وو.د ټولوغزاګانو په اعتبارسره اولنۍ غزا وئيل دهغوى مقصود نه وو.
(ج) چونكه ابواء،بواط او عشيره درې واړه غزاګانې په نزدې نزدې زمانه كښې شوې وې.ددې وجې حضرت زيدبن ارقم رضي الله عنه اولنۍ دوه غزاګانې مستقل شمار نكړې.لكه څنګه چه ځنې اصحاب سيرد غزوه احزاب نه پس غزوه قريظه مستقله نه ده شمار كړې. څكه چه هغه د غزوه احزاب سره بيخى متصل وه.اودغه شان ځنى حضراتو غزوه حنين او طائف دوه غزاګانې د قرب د وجې يو شمار كړى دى.
دعلامه عينى رحمه الله په دويمه توجيه باندې دا اشكال كيږى.چه كه د ورو او معمولى كيدو په وجه ئې د دوو غزاګانو ذكرنه وى كړې.نوبيا د عشيره د غزا ذكرهم نه وويكار،څكه چه هغه هم څه لويه غزوه نه وه.اود ابواء اوبواط پشان په دې كښې هم قتال نه ووشوې.(۲) والله اعلم.

(۱) دغزوه عشيره‌نه وړاندې اكثر اهل سير د دوو غزواتو (ابواء او بواط) ذكر كړې دې.البته ابن سعد د درې غزواتو ذكركړې دې.د هغوى په نيز غزوه بدر اولى (غزوه د كرزبن جابر) هم دغزوه عشيره نه وړاندې ده.علامه عينى رحمه الله په دې دويمه توجيه كښې ((أوكانت ثلاث غزوات)) دابن سعد د روايت په وجه وئيلى دى.اوګورئ طبقات ابن سعد (۲\۸ ۹ ۰)_~
(۲) اوګورئ عمدة القارى (۱۷\۷٤) وفتح البارى (۲۸۰\۷و ۲۸۱)_~

دغزواتو تعداد: په حديث باب كښې دحضرت زيدبن ارقم رضی الله عنه نه د غزواتو په باره كښې تپوس شوې دې.دغزواتو په تعداد كښې د اصحاب سيرمختلف اقوال دى.

① د ابن سعد ،ابن اسحاق او واقدى رحمهم الله وغيره په نيز د غزواتو تعداد اوو ويش دى.

② په عبدالرزاق كښې په صحيح سند سره د حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله نه د غزواتو تعداد څلورويش منقول دې.

③ دحضرت جابربن عبدالله نه يوويش غزوات منقول دى.[1]

④ دحضرت بريده رضی الله عنه نه په يو روايت كښې د شپاړسو تعداد مروى دې.[2]

⑤ دبخارى په ذكرشوى حديث كښې حضرت زيدبن ارقم رضی الله عنه د نورلس تعداد خودلې دې.

⑥ محمدبن جريرطبرى رحمه الله په خپل تاريخ كښې د غزواتو تعداد شپږ ويش خودلې دې.[3]
مشهوره او صحيح خبره هم دا ده،چه د نبى كريم صلی الله علیه وسلم د غزاګانو تعداد اوويش دې.[4]
په دې اوويش غزواتو كښې نبى صلی الله علیه وسلم په نهه كښې قتال كړې وو. بدر، احد، خندق، قريظه ،مصطلق،خيبر ،فتح مكه،حنين او طائف[5]

د سرايا شمار: دغزواتو په شمار كښې د اختلاف پشان د سرايا په تعداد كښې هم اختلاف دې.① په اصحاب سير كښې د ا بن اسحاق اوابن هاشم په نيز باندې د سرايا شمار اته ديرش دې.[6] ② ابن سعد رحمه الله په طبقات كبرى كښې د سرايا تعداد اووه څلويښ ليكلى دى.[7] ③ د واقدى په نيزاته څلويښت دې.④ ابن جوزى رحمه الله په تلقيح كښې د ۵۶ خودلې دې.⑤ د مسعودى په نيز د سرايا تعداد شپيته (۶۰) دې.[8] ⑥ محمدبن جريرطبرى رحمه الله په خپل سند سره د محمد بن اسحاق نه د ۳۵ سرايا تعداد نقل كړې دې.[9]
دغزواتو او سرايا په تعداد كښې دا اختلاف څه حقيقى اختلاف نه دې.يوخو ددې وجې چه

---

[1])طبقات ابن سعد(۵۱۲) سيرة ابن هشام مع الروض الأنف (۳۵٤۱۲) وفتح البارى (۲۸۱۱۷)_

[2])عمدة القارى (۳۳۱۱۷)_

[3])علامه طبرى رحمه الله ليكى، ،((وكانت غزواته بنفسه ستا وعشرين غزوة ويقول بعضهم هن سبع وعشرون غزوة فمن قال هى ست وعشرون جعل غزوة النبى صلی الله علیه وسلم خيبر وغزوته من خيبر إلى وادى القرى غزوة واحدة .. ومن قال هى سبع وعشرون غزوة جعل غزوة خيبر وغزوة وادى القرى غزة أخرى فيجعل العدد سبعاً وعشرين (تاريخ الطبرى (٤٠٤١٢)

[4]) وړاندې ابن جرير ليكى،((قال محمد بن عمر: مغازى رسول الله صلی الله علیه وسلم ليس فيها إختلاف بين أحد فى عددها وهى سبع وعشرون غزوة تاريخ الطبرى (٤٠٥١٢)_

[5])اوګورئ الكمال لابن الاثير (۲۰۷۱۲) سيرة ابن هشام مع الروض الأنف (۳۵٤۱۲)_

[6])سيرة ابن هشام مع الروض ا لأنف (۳۵٤۱۲)_

[7])طبقات كبرى (۶۱۲)_

[8]) فتح البارى (۲۸۱۱۷)_

[9])تاريخ طبرى (٤٠٥١٢)_

عدد اقل د عدد اكثر نفى نه كوى.ممكن ده.چه څنو ته د څه غزواتو علم نه وو.ددې وجې هركس دخپل علم مطابق تعداد خودلې دې.

دويمه دا چه څنې اصحاب سير قريب الوقوع يا په يو سفر كښې واقع كيدونكې غزوات يو شمارى.ددې وجې د هغوى خودلې شوې تعداد كم دې.اونورو اصحاب سير غزوات اوسرايا جدا جدا شمارى.نودهغوى په نيزتعداد زيات شوې دې.لكه امام مغازى موسى بن عقبه غزوه احزاب اوغزوه خندق د قريب الوقوع په وجه يو شمار كړې ده.دغه شان بعضې اهل سيرو حنين او طائف دواړه غزاګانې يوشمارلى دى.[1]

دغه شان څنو غزوه خيبر او غزوه وادى قرى په يوسفر كښې د واقع كيدو په وجه يوه شمارلې ده.اوبعضې اهل سيرجدا جدا شمارلى وى.[2]

① بَاب غَزْوَةِ الْعُشَيْرَةِ ② بَاب ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُقْتَلُ بِبَدْرٍ ③ بَاب قِصَّةِ غَزْوَةِ بَدْرٍ ④ بَاب قَوْلِ اللهِ تَعَالَى إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ ⑤ باب بلا ترجمة ⑥ بَاب عِدَّةِ أَصْحَابِ بَدْرٍ ⑦ بَاب دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُفَّارِ قُرَيْشٍ ⑧ بَاب قَتْلِ أَبِي جَهْلٍ ⑨ بَاب فَضْلُ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا ⑩ باب بلا ترجمة ⑪ بَاب شُهُودِ الْمَلَائِكَةِ بَدْرًا ⑫ باب بلا ترجمة ⑬ بَاب تَسْمِيَةُ مَنْ سُمِّيَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ

امام بخارى په دې بابونو كښې دغزوه بدر سره متعلق هغه احاديث ذكر كړى دى.كوم چه ددوى د مخصوص شرطونو د دائرې لاندې راځى.اودخپل عادت مطابق ئې داسې احاديث هم راوړى دى.كوم چه غزوه بدر سره متعلق نه دى.خود څه خاص مناسبت په وجه ئې هغه ذكر كړى دى.

په تقريركښې حضرت شيخ الحديث مد ظلهم غزوه بدر اول ښه پوره په تاريخى تفصيل سره مربوط كړې ده.اوبيان كړې ده.اوددې نه پس ئې د ابواب بخارى سره متعلقه لفظى او نور ضرورى بحثونه كړى دى.تاسو اول دا تفصيلى قصه واورئ.وړاندې به د بابونو په تشريح كښې صرف دهغه مباحثو ذكر كيږى.كوم چه دحديث لفظى تشريح ،او ترجمة الباب سره متعلق وى.يا هغه واقعات كوم چه په ماقبل كښې نه وى ذكر شوې.(ازمرتب)

٢=بَاب ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُقْتَلُ بِبَدْرٍ

غزوه بدر كبرى: نبى كريم ﷺ په غزوه عشيره كښې د قريشو كومې قافلې په تعاقب كښې وتلې وو. هغه قافله شام ته دتجارت په غرض باندې روانه وه.په هغه وخت كښې دغه قافله بچ شوه او په وتلو كښې كاميابه شوه.اوس هم هغه قافله د سامان تجارت سره د شام نه مكې ته واپس راتلله.نبى كريم ﷺ ته معلومه شوه.چه قافله واپس راځى.نبى ﷺ صحابو ﷺ ته اوفرمائيل.اود دغه قافلې په تعاقب كښې د وتلو ذكرئې اوكړو.

په مسند احمد كښې دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د روايت مطابق درې سوه ديارلس او

[1])تاريخ طبرى (٤٠٤\١٢)_

[2])تاريخ طبرى (٤٠٤\١٢)_

په معجم طبراني كښې د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د روايت مطابق درې سوه څوارلس اوپه بيهقي كښې دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما د روايت مطابق درې سوه پنځلس صحابه كرام رضي الله عنهم د نبي ﷺ سره د قريشو د قافلې د تعاقب دپاره روان شول.(١) د رمضان دولسم تاريخ وو.(٢) چونكه د څه مسلح فوځ او مسلح لښكرسره د مقابلې موقع نه وه. په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې چه څوك جمع وو.او څوك په تلوباندې آماده شول.هغوى لاړل.اوهغوى د جنګ څه تيارې نه ووكړې.(٣) دوه اسونه وو،يو دحضرت مقداد بن اسود او بل د حضرت زبيربن العوام رضي الله عنهما وه.او اويا اوښان وو.(٤) دا حضرات په دې اوښانو باندې وار په وار سوريدل.د دوو دوو او دريو دريو په حصه كښې يو يو اوښ راغلې وو.د رسول الله ﷺ سره حضرت علي او حضرت ابولبابه بن عبدالمنذر رضي الله عنهما وو.كله چه به د نبي ﷺ وار راغلو.نو نبي ﷺ به په اوښ باندې سور شو.اودا حضرات به پيدل روان وو.اوكله چه به دهغوى وار راغلو.نو يوبل پسې به سوريدل.او نبي ﷺ به پيدل تلل.حضرت علي رضي الله عنه په خپل وار باندې دوى ته درخواست اوكړو.چه حضرت تاسو په اوښ تشريف كيږدئ.زه به پيدل ځم.او حضرت ابولبابه رضي الله عنه هم دا درخواست كړې وو.خو نبي ﷺ اوفرمائيل.په تګ كښې تاسو زما نه زيات تكړه نه يئ.او زه په اجر كښې ستاسو نه زيات مستغني نه يم.ماته هم د ثواب ضرورت دې.(٥)

بيرابي عنبه كوم چه د مدينې طيبې سره بيخي نزدې د يوميل په فاصله باندې دې.چه هلته اوسيدل.نو نبي ﷺ دلښكرمعائنه اوكړه.اوپه دوى كښې چه كوم د كم عمر وو.هغوى ئې واپس كړل.د هغه ځاې نه روان شو.او مقام روحاء ته اورسيدل.هلته نبي ﷺ حضرت ابولبابه بن عبدالمنذر رضي الله عنه دخپل قائم مقام په حيثيت د مدينې حاكم جوړ كړو.او مدينې منورې ته ئې اوليږلو.(٦) بيا د روحاء نه نبي ﷺ روان شو.او په لاره كښې ئې بسبس بن عمروجهني

---

(١) په جنګ بدر كښې د شريكو صحابو رضي الله عنهم په شمار كښې اختلاف د رواياتو او په هغې كښې تطبيق د پوره تفصيل سره په ((باب عدة أصحاب البدر)) لاندې راځي.)_

(٢) طبقات ابن سعد(١٢\٢)_

(٣) سيرة ابن هشام (٦٠٧) وطبقات ابن سعد (١٢\٢) وفتح الباري (٢٨٥\٧)_

(٤) دحضرت مقداد رضي الله عنه داس نوم ،،سبحه،، وو.اود حضرت زبير رضي الله عنه د اس نوم ،،سيل،، وو.په ځنى رواياتو كښې دى.چه دويم اس دحضرت مرثد بن ابى مرثد غنوى رضي الله عنه وو.اوګورئ (الكامل لابن الأثير (٨٣\٢)

(٥) عن عبدالله قال كنا يوم بدر كل ثلاثة على بعير.وكان علي وأبو لبابة رضى الله عنهما زميلى رسول الله ﷺ وكان إذا كانت عقبته قلنا إركب حتى غشي فيقول (ﷺ) ما أنتما بأقوى منى وما أنا بأغنى عن الأجر منكم الحديث أخرجه الحاكم فى المستدرك (٢٠١٣) وأقره الذهبي،،

په حضرت علي رضي الله عنه باندې خو ټول روايات متفق دى.البته د بل صحابي رضي الله عنه په نوم كښې اختلاف دې.دحاكم د ذكرشوى روايت مطابق حضرت ابولبابه رضي الله عنه دې.دابن اسحاق په نيز مرثدبن ابى مرثد غنوى رضي الله عنه دې.اوابونعيم د زيد بن حارثه رضي الله عنه نوم ليكلې دې.اوګورئ سيرت ابن هشام (٦١٣\١) وكامل ابن اثير (٨٣\٢) كه په مختلفو وختونو او مراحلوباندې محمول كړې شي.نو مطابقت راتلې شي)

(٦) طبقات ابن سعد(١٢\٢)_

اوعدی بن ابی الرغباء جهنی ﷺ ته حکم اوکړو.چه هغوی د قریشو حالات معلوم کړی.اود قافلې په باره کښې دې هم معلومه کړی.ددې نه پس نبی ﷺ مقام صفراء ته اورسیدل.[1] نونبی ﷺ ته معلومه شوه.چه قریش د تجارتی قافلې د حفاظت په غرض یو لوې لښکر راروان کړې دې.دا خبر بسبس بن عمرو ﷺ او عدی بن ابی الرغباء ﷺ ورکړو.
تراوسه پورې څلور سرایا او یو غزوه بدر اولی پیښه شوې وه.اوپه یوه کښې هم انصارو شرکت نه وو کړې.دبیعت عقبه په موقع باندې هم دا معاهده شوې وه.[2] چه انصار به په مدینه کښې دننه د نبی ﷺ امداد کوی.دمدینې نه بهر وتل اوپه دشمن باندې حملې کولو دپاره دانصارو سره څه معاهده نه وه شوې.اوس دلته نبی ﷺ د تجارتی قافلې په تعاقب کښې راوتلې وو.اودا ویره پیدا شوه.چه چرته لښکر ته مخامخ نشو.اود جنګ اوقتال نوبت رانشی.ددې وجې نبی ﷺ صحابو ﷺ ته اووئیل.«أشيروا علي أيها الناس» خلقو ماته مشوره راکړئ.د نبی ﷺ په دې ارشاد باندې حضرت ابوبکر ﷺ اودریدل.او وې وئیل.اوپه ډیر مناسب انداز کښې ئې د وفادارئ او د خپل تعاون یقین ورکړو.نبی ﷺ بیا اوفرمائیل.
«أشيروا علي أيها الناس» نوحضرت عمر ﷺ اودریدل.اوهغوی هم په غوره عنوان سره دخپلې وفادارئ اود ډلې د وفادارئ اظهار اوکړو.

دحضرت مقداد بن اسود رضی الله عنه تقریر: خو نبی ﷺ بیا اوفرمائیل.«أشيروا علي أيها الناس» نوحضرت مقداد بن اسود ﷺ اودریدلو.او وې فرمائیل.

«أمض لما أمرك الله فنحن معك والله لا نقول كما قالت بنو اسرائيل لموسى إذهب أنت وربك فقاتلا إنا ههنا قاعدون،، ولكن إذهب أنت وربك فقاتلا إنا معكما مقاتلون»

دا الفاظ محمد بن اسحاق نقل کړی دی.[3] د بخاری په روایت کښې دی.«ولكن نقاتل عن يمينك وعن شمالك وبين يديك وخلفك»[4]
نبی اکرم ﷺ چه کله دحضرت مقداد بن اسود ﷺ خبره واوریده.نو دخوشحالئ نه ئې مخ اوپړقیدو.اوځنې صحابه ﷺ فرمائی.چه مونږ ته خیال اوشو.چه کاش دا الفاظ مونږ وئیلی وو. اګرچه حضرت مقداد بن اسود ﷺ [5] دټولو د زړه خبره کړې وه.خواظهار دهغوی په ژبه

---

[1])وفي معجم البلدان (٤١٢\١٣) وادي الصفراء من ناحية المدينة .. وبينه وبين بدر مرحلة)_
[2])وفي تاريخ الطبرى (١٤٠\١٢) وذلک أنهم حين بايعوه بالعقبة قالوا: يا رسول الله إنا براء من ذمامک حتى تصل إلى دارنا وصلت إلينا فأنت في ذمامنا نمنعک مما نمنع منه أبناءنا ونساءنا)_
[3])سيرة ابن هشام (٦١٥\١)_
[4])بخاری کتاب المغازی باب نمبر ٤ حدیث نمبر(٣٩٥٢)_
[5])حضرت مقداد ﷺ دحقیقی پلار نوم عمرو دې.اسودبن عبدیغوث دې متنبی (په خوې توب سره نولې) جوړ کړې وو.ددې وجې دوی ته مقداد بن اسود ﷺ هم وئیلی شی.اوهم په دې نسبت باندې دوی مشهور دی.ددوی د وفات په باره کښې حافظ لیکی....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

باندې اوشو.ددې وجې د نورو تمنا پيدا شوه.چه نبى ﷺ په دې خبره دومره خوشحاله شو. كاش چه مونږ ددې خوشحالئ سبب جوړ شوى وو.

دحضرت سعد بن معاذرضى الله عنه جانثارانه تقرير: ددې باوجود نبى ﷺ بيا اوفرمائيل. «أشيروا على أيها الناس» نو صديق الانصار حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه اودريدلو.اوهغوى عرض اوكړو.يارسول الله داسې معلوميږى. چه تاسو د انصارو رائې معلومول غواړئ.ابوبكر رضی الله عنه د ټولو ترجمانى اوكړه.خوهغه مهاجر وو.عمر رضی الله عنه دټولو ترجمانى اوكړه.خوهغه مهاجر وو. مقداد بن اسود رضی الله عنه هم د زړه خبره اوكړه .خوهغه هم مهاجر وو.خبره هم هغه ده.چه نن د مدينې نه بهر د قتال كولو موقع راغله. او د انصارو سره د مدينې منورې نه بهر د كافرانو سره دمقابلې معاهده نه وه شوې.نو دوى ددې دپاره نن په خوشحالئ سره تيارهم دى كه نه دى؟ نددې وجى نبى ﷺ دانصارو رائې معلومول غوښتل. دحضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په تپوس كولو سره نبى ﷺ اوفرمائيل .آو،زه د انصارو رائې معلومول غواړم.په دې باندې حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه يوځان قربانونكې تقرير اوكړو.

«يارسول الله قد آمنابك وصدقناك وشهدنا أن ما جئت به هو الحق، وأعطيناك على ذلك عهوداً ومواثيقاً، على السمع والطاعة ولعلك يارسول الله خرجت لأمر فأحدث الله غيره.. فامض ..لما شئت وصل حبال من شئت،واقطع حبال من شئت،وسالم من شئت،وعاد من شئت،وخذ من أموالنا ما شئت،وأعطنا ما شئت،وما أخذت منا كان أحب إلينا مما تركت ،وما أمرت به من أمرنا فأمرنا تبع لأمرك،لئن سرت حتى تأتى برك الغماد لنسيرن معنك فوالذى بعثك بالحق لو استعرضت بنا هذا البحر لخضناه ،وما تخلف منا رجل واحد،وماكره أن نلقى عدونا إنا لصبر عند الحرب، صدق عند اللقاء،ولعل الله يريك منا ما تقر به عينك فسر بنا على بركة الله»[1]

اې دالله رسوله مونږ په تا باندې ايمان راوړې دې.اوستاسو تصديق مو كړې دې. اوددې خبرې ګواهى مو وركړې ده.چه تاسو څه راوړى دى.هم هغه حق دى.اوتاسو ته مونږ په دې پخې وعدې اوميثاقونه هم دركړى دى.اې دالله رسوله تاسو د مدينې نه په يوه اراده راوتلې وئ.او الله تعالى بل صورت پيدا كړو.چرته چه غواړئ. لاړ شئ. چاسره چه غواړئ.تعلقات قائم كړئ.اوچا سره چه غواړئ تعلقات ختم كړئ.چا سره چه غواړئ.نو صلح اوكړئ.اوچا سره چه غواړئ.دشمنى اوكړئ.(او اې دالله رسوله) تاسو زمونږ په مالونوكښې چه څومره غواړئ.نو واخلئ.اوچه څومره غواړئ.مونږ ته ئې پرېږدئ.اوتاسو چه زمونږ په مالونوكښې څه واخلئ.هغه به مونږ ته زيات خوښ وى.په مقابله دهغې چه تاسو ئې مونږ ته پرېږدئ.

...دتيرمخ بقيه]((كان المقداد عظيم البطن وكان له غلام رومى فقال له أشق بطنك فأخرج من شحمه حتى تلطف فشق بطنه ثم خالطه فمات المقداد وهرب الغلام .. واتفقوا على أنه مات سنة ثلاث وثلاثين فى خلافة عثمان رضی الله عنه (الإصابة (۳\٤٥٥)_

[1])شرح مواهب لدنيه (۱\٤١٣)_

اوتاسو چه څه حکم راکوئ.مونږ به د هغې تابعداری کوو.که تاسو مونږ برك الغماد پورې بوتلل غواړئ.نو مونږ به تاسو سره خامخا ځو.مونږ دالله په قسم سره وايو.چه تاسو ته چا دا حق دين درکړې دې.که تاسو مونږ ته دپه سمندر باندې د ورګډيدو حکم اوکړئ.نو مونږ به سمندر ته ورګډ شو.اوپه مونږ کښې به يو کس هم پاتې نشي.د دشمن سره مقابله کول په مونږ باندې بوجهه نه دې.مونږ دشمن سره د جنګيدو په وخت کښې ثابت قدم يو.اې دالله رسوله اميد دې چه الله تعالى زمونږ نه تاسوته هغه عمل اوښائى.چه په هغې سره به ستاسو سترګې يخې شي. بس دالله په ډاډ باندې ځئ.

کله چه حضرت سعدبن معاذ ﷺ (١) داسې په موثر انداز کښې دانصارو ترجمانى اوکړه.نو نبى ﷺ خوشحاله شو.او وې فرمائيل.الله تعالى ما سره وعده کړې ده.چه په تجارتی قافله اود قريشو په لښکر کښې به په يو باندې مونږ ته فتح راکوى.چونکه د فقر اومال د قلت زمانه وه.نو خواهش خو هم دا وو.چه د تجارتى قافلې سره مخامخ شى.خو دالله تعالى اراده بل څه وه.

وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ ۝ لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ۝ (٢)

اوياد کړئ. هغه وخت کله چه الله تعالى په دوو ډلو کښې ديوې تاسو سره وعده کړې وه.چه هغه به ستاسو دپاره وى.اوتاسو خوښول.چه د قوت نه خالى ډلې سره تاسو مخامخ شئ. اوالله تعالى دا غوښتل.چه حق په خپل حکم سره ثابت کړى.اوباطل ختم کړى.اګرچه مجرمان په دې باندې خفه کيږى.

الله تعالى دا فيصله کړې وه.چه نن دکفر طاقت ختمول دى.اود کفرملا ماتول دى. د دې وجې يوم بدر الله تعالى ،،يوم الفرقان،، اوګرځولو.(٣) ځکه چه په دې کښې د خيراوشر په مينځ کښې فرق ښکاره شو.په دې کښې د نور اوظلمت په مينځ کښې فرق ښکاره شو. او ددې يوم الفرقان دپاره الله تعالى د رمضان د مياشت انتخاب کړې وو.په کومه کښې چه د فرقان حميد نزول شوې وو.دغه شان د رمضان روژې هم فرق کونکى وى.په مينځ دحق اود باطل کښې،چه څوك دالله تعالى غلامى کوى.اودهغه د حکم مطابق لوږه تنده زغمى.او څوك دخپلې خيټې غلام جوړيږى.اودالله تعالى حکم شا ته غورځوى.نوالله تعالى ددې دپاره د رمضان مياشت منتخب کړه.اودا يوم البدر ئې يوم الفرقان کړه.

مقام بدر: بدر د مدينې منورې نه د ۸۰ ميله په فاصله باندې ديو کلى نوم دې.وئيلى شى. چه بدر بن يخلد بن نضر بن کنانه دا آباد کړې وو.د ځنى خلقو خيال دې.چه بدر بن الحارث

---

١) دمسلم شريف په روايت کښې دحضرت سعد بن عباده ﷺ نوم دې. خو د اصحاب سير په ټولو رواياتو کښې د سعد بن معاذ ﷺ نوم دې.ددې وجې د مسلم په روايت کښې د حضرت سعدبن عباده ﷺ نوم د راوى وهم ګرځولې شوې دې.اوګورئ ((تکملة فتح الملهم ،باب غزوة بدر حديث نمبر ۴۳۸۵)

٢)سورة الأنفال :٧)_

٣)قال الله تعالى ﴿ وما أنزلنا على عبدنا يوم الفرقان يوم التقى الجمعان ﴾ سورة الأنفال:٤١)_

دا اباد کړې وو.اودخنو خیال دې.چه هلته یو کوهې وو.دهغې نوم بدر وو.ددې په بنیاد ددې کلی نوم ،،بدر،، کیخودې شو.[1]

دابوسفیان ویره اود مکې خلقوته خبر ورکولو دپاره د سړې لیږل: بل طرف ته ابوسفیان چه تجارتی قافله ئې د شام نه رانه راروانه کړې وه.او مکې ته تلو. هغه سره فکر شو.چه چرته محمد (ﷺ) او دهغه ملګرې زمونږ د قافلې تعاقب اونکړی. ددې وجې هغوی په تاکید سره ددې په لټون اوتحقیق پسې شو.کله چه حجاز ته نزدې شو.نو هغه ته پته اولګیده.چه د نبی ﷺ د قافلې د تعاقب دپاره روان شوې دې.ابو سفیان ضمضم بن عمرو غفاری ته اجرت ورکړو.او وې لیږلو.چه مکې ته زرترزره اورسه.اود خپلې تجارتی قافلې خبر ورکړه.چه هغه په خطره کښې ده.نو ضمضم غفاری مکې مکرمې ته روان شو[2]

دعاتکه بنت عبدالمطلب خوب: اوس لا هغه رسیدلې هم نه وو.چه عاتکه بنت عبدالمطلب [3]یو خوب اولیدو.چه یو په اوښ سور کس په ،،ابطح،، کښې اوښ کینولې دې اواعلان کوی. ((ألا إنفروا یا آل غدر لمصارعکم فی ثلاث)) اې غدارانو! دخپل قتل ځایونو ته روان شئ. په درې ورځو کښې دننه دننه،

ددې نه پس دا کس مسجد حرام ته راځی.او هم دا اعلان کوی.او جبل ابی قبیس باندې خیژی.اودکانړی یوه ګټه ښکته راغورځوی.هغه ګټه ریزه ریزه کیږی.دمکې داسې یو کور پاتې نشی.چه دهغې ګټې ټوټې هغې کور کښې نه وې غورځیدلې[4]

عاتکه دا خوب خپل ورور عباس بن عبدالمطلب ته بیان کړو.اووې وئیل.داسې معلومیږی. چه ستا په قوم باندې څه مصیبت راتلونکې دې.او دا ئې ورته هم اووئیل.چه دا خوب چاته مه بیانوه.حضرت عباس داخوب خپل دوست ولیدبن عتبه ته بیان کړو.اوهغه ته ئې اووئیل. چه دا مه بیانوه.ولید خپل پلار عتبه ته ددې ذکر اوکړو.اوخبره په ټول ښار کښې خوره شوه. حضرت عباس مسجد حرام ته لاړلو.نو ابوجهل پرې آواز راویستلو.او پیغور ئې ورکړو. چه اوس خو ستاسو په خاندان کښې ښځې هم پیغمبرانې جوړیږی.[5] په دې دوران کښې ضمضم بن عمروغفاری راورسیدلو.ګریوان ئې شلولې وو.اود اوښ پوزه ئې پریکړې وه.او اعلان ئې کولو.((یا آل قریش أدرکوا عیرکم))[6]اې قریشو دخپلې قافلې خبر مو واخلئ.د ضمضم

---

[1])معجم البلدان (۱۱\۳۵۸)_

[2])ثقات ابن سعد(۲\۱۳) دغه شان سیرة ابن هشام (۱\۶۰۷)_~

[3])عاتکه بنت عبدالمطلب د نبی ﷺ ترور او د ابوطالب سکه خور وه.اودام المومنین ام سلمه رضی الله عنها د پلار ابو امیه بن المغیره ښځه وه.ددوی په اسلام راړو کښې اختلاف وو.د اکثرو رائې دا ده.چه دې اسلام قبول کړې وو(الإصابة (۴\۳۵۸)_~

[4])سیرة ابن هشام (۱\۶۰۸)_

[5])سیرة ابن هشام (۱\۶۰۸)_

[6])البدأیة والنهایة (۳\۲۵۸)_

بن غفاری د پیغام رسیدو نه پس اوس د عاتکه بن عبدالمطلب دخوب حقیقت ذهنونوکښې راغلو.اوس خلق فکر مند شول(۱)اوځه خلقو سره دا فکرهم پیدا شو.چه ځان بچ کړئ. خو دمکې یو کور هم داسې نه وو.چه دهغوی څه نا څه سرمایه په دې تجارتی قافله کښې نه وه لګیدلې.ځکه چه حالات بدل وو.قافلې د مسلمانان په ګیراؤ کښې وې.ددې وجې تجارت آزا نه وو.خودا لویه قافله وه.دابوسفیان غوندې مدبر ددې امیر وو.ددېوجې ټولو خلقو خپله سرمایه راټوله کړې وه.اودې قافلې ته ئې حواله کړې وه.(۲)

په دې خبر سره په ټوله مکه کښې یوه غوغا شوه.او ابوجهل خلق تیارول شروع کړل.ټول خلق تلو ته تیار شو.خو ابولهب لانړلو.دهغه په عاص بن هشام باندې څلور زره درهم قرض وو.او دا مقروض دخپلې غریبۍ په وجه د قرض په ادا کولوقادر نه وو.نو ابولهب پرې دباؤ واچولو.چه یا زما قرض ادا کړه.اویا زما په ځاې ته لاړشه.هغه د قرض د وجې د ابو لهب په ځاې باندې په لښکر کښې شامل شو.(۳)

دجهیم بن الصلت خوب: کله چه دا خلق روان شو.او مقام جحفة (۴) ته اورسیدل.هلته جهیم بن الصلت خوب اولیدو.چه یوسړې په اس باندې سور دې.اوهغه سره یو اوښ دې.هغه سړې وائی.«قتل أمية بن خلف، قتل ابوالحکم بن هشام، قتل عتبة بن ربيع، قتل شيبة بن ربيعة» ددې اعلان نه پس هغه سړې اوښ په یوه نیزه باندې وهی.اود نیزې په لګیدو د اوښ د بدن نه وینه راوځی.اوهغه وینه داسې ده.چه څومره خیمې د قریشو په دغه ځاې کښې وې.هغه ټولو ته دهغې دارې ورغلې.هغه دا خوب بیان کړو.ابوجهل ته چه کله ددې خوب خبر اوشو.نو وې ونیل چه په بنو مطلب کښې دا دویم پیغمبر پیدا شو.کله چه صبا ته د بدر په مقام کښې مقابله اوشی،نو مونږ به دا اوښایو.چه څوك به قتلیږی.(۵)

دابوسفیان ویره او لټون: ابوسفیان برابرپه دې لټون کښې وو.چه محمد (ﷺ) چه زمونږد قافلې په تعاقب کښې دې.دهغوی حال معلوم کړی.د بدر په مقام باندې یوه ډیرئ وه.او هغې ډیرئ سره یوه چینه وه.دهغه چینې سره مجدی بن عمروجهنی او دوه ښځې وې.په هغې کښې د یوې ښځې په بله باندې قرض وو.اوهغې ترې دخپل قرض مطالبه کوله.اوقرض دارې ښځې دهغې نه مهلت غوستلو.اوهغې ورته ونیل.چه د قریشو تجارتی قافله راروانه ده. هغه به دلته قیام کوی.ماته به د هغې دخدمت موقع ملاؤ شی.نو زه به مزدوری اوکړم .اوچه څه اوګټم.په هغې سره به ستا قرض خلاص کړم.د هغوی جګړه چه ئې

---

۱)البداية والنهاية (۲۵۸\۳)_
۲)طبقات ابن سعد (۱۳\۲)_
۳)سيرة ابن هشام (۶۱۰\۱)_
۴) الجحفة بالضم ثم السكون كانت قرية كبيرة .. على طريق المدينة من مكة على أربع مراحل وهي ميقات أهل مصر والشام إن لم يمروا على المدينة فإن مروا بالمدينة فميقاتهم ذو الحليفة (معجم البلدان (۱۱۱\۲)_
۵)البداية والنهاية (۲۶۵\۳و ۲۶۶)_

اولیده.نو مجدی بن عمرودهغوی په مینځ کښې بچ بچاؤ اوکړو.اووې وئیل.او د قریشو قافله رارروانه ده.په هغه وخت کښې به دا ستا قرض ادا کړی.(۱)

بسبس او عدی کوم چه نبی ﷺ د ابو سفیان د قافلې په جاسوسئ کښې لیږلی وو.دا دواړه حضرات مقام بدر ته رارسیدلی وو.چه ددې دواړو ښځو او مجدی بن عمرو خبرې ئې واوریدې.نو د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شول.او د حقیقت حال نه ئې خبر کړو(۲)اوس چه ابو سفیان بن حرب دلته راورسیدلو.نو مجدی بن عمرو ته ئې اووئیل.چه تا دلته د څه کسانو اوریدل راوریدل او ګرځیدل کتلی دی.مجدی ورته اووئیل.ما څوك نه دی لیدلی. البته یو دوه سوارهٔ راغلی وو.هغوی اوښانوته اوبه ورکړې.اومشك ئې ډك کړلو.اوبیا لاړل.

ابوسفیان چه اخوا دیخوا اوکتل.نود اوښ پچې هغه ته په نظر شوې.یوه پچه هغه راوچته کړه.اوهغه ئې ماته کړه.په هغې کښې دننه د قجورې هډوکې وو.چه دغه هډوکې ئې اولیدل.نوهغه سمدستی پوهه شو.چه دادیثرب(مدینې) دقجورو هډوکې دې.اودا د محمد (ﷺ) سړی وو.مونږ لره پکاردی.چه خپله لاره بدله کړو.نوهغه لاره بدله کړه.اود سمندر غاړې لار باندې روان شو.(۳) اودغه شان د خپلې قافلې په بچ کولو کښې کامیاب شو.

د قریشو د واپسئ دپاره د ابوسفیان پیغام: کله چه دا اطمینان ورته اوشو.چه قافله اوس محفوظ ده.نو هغه قریشو ته پیغام اولیږلو.«إنکم إنما خرجتم لتمنعوا عیرکم ورجالکم وأموالکم وقد نجاها الله فارجعوا»(۴)تاسو ددې دپاره راوتلې وئ.چه د خپلې قافلې سړو او مالونوحفاظت اوکړئ.الله تعالی ټول بچ کړو.نو تاسو واپس لاړ شئ.

دقریشولښکر ته دا پیغام اورسیدو.خو ابوجهل اووئیل، نه،مونږ سره د ګډیدونکې ښځې دی.اود طنبل وهونکی سړی دی.دخوراك ډیرمعقول او ښه انتظام دې.مونږ به بدر ته ځو. درې ورځې به هلته خوشحالی کوو.او د هغې نه پس به واپس راځو.(۵)

د بنو زهره واپسی: دبنو زهره سردار اخنس بن شریق اووئیل.مونږ خو دخپلې قافلې د حفاظت دپاره راغلی وو.قافله په حفاظت سره مکې ته روانه ده.اوس مونږ ته د وړاندې تلو ضرورت نشته.هغه خپل کسان ځان سره واخستل. او واپس لاړل.(۶)

دا خلق د بدرمقام ته د مسلمانانو نه وړاندې رارسیدلی وو.اوهلته چه کوم غوره ځای وو.په

---

۱)سیرة ابن هشام (۶۱۷\۱)_
۲)ایضاً)_
۳)سیرة ابن هشام ((۶۱۸\۱)_
۴)سیرة ابن هشام (۶۱۸\۱)_
۵)فقال ابوجهل والله لا نرجع حتی نرد بدراً .. فنقیم علیه ثلاثاً فننحر الجزور . ونطعم الطعام ونسقی الخمر،وتعزف علینا القیان، وتجمع بنا العرب بمسیرنا وجمعنا فلا یزالون یهابوننا أبداً بعدها فامضوا (السیرة النبویة (۶۱۸) والبدایة والنهایة (۲۶۶\۳)_
۶)طبقات ابن سعد (۱۴\۲)_

هغې باندې دوى قبضه كړې وه.اوهلته چه د اوبو كومه چينه وه.په هغې باندې ئې هم قبضه كړې وه.مسلمانان روسته راورسيدل.هغوى ته چه كوم ځاى ملاؤ شو.هغه بس شګه وه.په هغې كښې به پښې ښخيدلې.الله تعالى باران اوكړو.(١) قرآن كريم ددې ذكر په دې آيت كښې كړې دې.

﴿ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴾ (٢)

او الله تعالى باران اوكړو.دې دپاره چه تاسو پاك كړى.اوتاسو نه د شيطان پليتى لرې كړى. او ستاسو زړونه مضبوط كړى.او ستاسو قدمونه مضبوط كلك كړى.

د باران نتيجه دا شوه.چه دهغې په وجه هغه شګه كلكه شوه.اوپه كوم ځاى كښې چه مشركان وو.هلته ختې جوړې شوې.اوهغوى ته مشكلات او ګرانى پيدا شوه.

په دغه دوران كښې نبى ﷺ حضرت على،حضرت سعدبن ابى وقاص،اوحضرت زبيربن العوام ﷺ اوليږل.چه لاړ شئ.لږه د قريشو جائزه واخلئ.او راشئ.(٣) اتفاقى خبره وه.چه د قريشو دوه غلامان (٤) دوى ته لاس ورغلل.هغوى ئې اونيول.او رائې وستل.نبى ﷺ مونځ كولو.هغه حضراتو د دوو غلامانو نه د ابوسفيان د قافلې په باره كښې تپوس كولو.هغوى ورته اووئيل.مونږ د قريشو لښكرسره هغوى ته د اوبو وركولو دپاره راغلى يو.دابوسفيان د قافلې مونږ ته علم نشته.كله چه به هغه غلامانو د ابوسفيان د قافلې په باره كښې دخپلې لا علمئ اظهار اوكړلو.نو دوى به هغوى لره وهل شروع كړل.چه كيدې شى.د دې ويرې نه د ابوسفيان د قافلې څه حال اوښائى.كله چه به هغوى وهل اوخوړل. نو هغوى به اووئيل. آو قافله شته.صحابوﷺ به دهغوى وهل پريخودل.اوبيا به ئې ترې د قريشو د قافلې په باره كښې تپوس شروع كړل.نو هغوى به بيا وئيل.چه مونږ د قريشو مشكيان يو.د قافلې مونږ ته څه علم نشته.صحابوﷺ به هغوى دوباره ويرول او دهمكى به ئې وركوله.په دې دوران كښې نبى ﷺ سلام اوګرځولو.او وې فرمائيل.عجيبه خبره ده. كله چه هغوى دروغ وائى.نو تاسو ئې پريږدئ.اوچه كله رښتيا وائى.نو تاسو ئې وهئ.په الله قسم دا د قريشو سړى دى. بيا نبى ﷺ هغوى نه تپوس اوكړو.په لښكركښې څومره كسان دى؟ هغوى ورته اووئيل. مونږ ته څو تعداد معلوم نه دې.البته دومره ده چه ډير دى.نبى ﷺ ترې تپوس اوكړو.چه ښه

---

(١) سيرة ابن هشام (٢٦٦/١)_

(٢) سورة الأنفال :(١١)_

(٣) سيرة ابن هشام (٦١٦/١)_

(٤) په دوى كښې يو غلام د بنو الحجاج وو،دهغه نوم اسلم او دويم غلام د بنو العاص وو،دهغه نوم عريض ابو يسارليكلې دې.(سيره ابن هشام (٦١٦/١) خو په كنز العمال كښې دمسند احمد وغيره په حوالې سره د حضرت على ﷺ روايت دې.چه مونږ ته دوه كسان ملاؤ شو.يو قريشى وو.او يو دعقبه بن ابى معيط غلام وو.قريش خو زمونږ نه ا ووتل اوتختيدل،اوغلام مونږ اونيولو.او دهغه نه مو تپوسونه شروع كړل... اوګورئ كنزالعمال (٣٩٤/١٠) حديث نمبر (٣٠٠٤١)_

دا راته اوښايي چه هغوی روزانه څواوښان ذبح کوی؟ نو غلامانو اووئیل. یوه ورځ نهه او بله ورځ لس،نو نبی ﷺ اوفرمائیل.د نهه سوو نه تر یو زر پورې تعدا دې.او واقعی هم دغه شان وه.(۱)

دجنګ په شپه د نبی علیه السلام دعا: د حضرت علی ﷺ روایت دې.چه په کوم صبا باندې جنګ کیدونکې وو.په دغه شپه ټول صحابه ﷺ اوده شول.خو نبی ﷺ اوده نشو.او نبی ﷺ برابر د الله تعالی نه دعا اوالتجاء کوله.(۲)

د حضرت انس ﷺ روایت دې.چه نبی ﷺ په دغه شپه صحابه ﷺ میدان بدر طرف ته بوتلل.او د مکې د کافرانو د قتل ځاویونه ئې دوی ته اوخودل.(۳)

دحضرت سعد بن معاذ ﷺ په تجویزباندې د نبی ﷺ دپاره د ډیرئ دپاسه سپر تیارکړې شو.په هغه سپرکښې نبی ﷺ په دعا اوزارئ اوعبادت کښې مصروف وو. حضرت ابوبکر ﷺ دننه په سپرکښې ددوی سره موجود وو.او حضرت سعد بن معاذ ﷺ بهر په دروازه باندې پهره ورکوله.(۴)

کله چه صبا شو.نو نبی ﷺ مونځ ورکړو.اوددې نه پس نبی ﷺ د صحابه کرامو ﷺ صفونه برابر کړل.یو بیرغ د حضرت علی ﷺ په لاس کښې وه.اویو بیرغ د حضرت مصعب بن عمیر ﷺ په لاس کښې وه.یو بیرغ د یو انصاری ﷺ صحابی ﷺ په لاس کښې وه.(۵) دا د جمعې ورځ وه.اود رمضان د میاشتې اوولسم تاریخ وو.(۶)

دمشرکانوصفونه جوړول: یوخوا مشرکانو برابر صفونه جوړ کړی وو.او د جنګ دپاره ولاړ وو.اوس لا جنګ نه وو شروع شوې.چه یومشرك اووئیل.ماته اجازت اوکړئ.چه زه اوګورم. دمسلمانانو دامداد دپاره نور فوځ چرته په پټ ځای کښې خو نشته؟ نوهغه په اس باندې سور شو. او د ګیرچاپیره چکر ئې اولګولو.او واپس راغلو وې وئیل.بس هم دا دی.کوم چه مخامخ دی.نور فوځ د امداد دپاره نشته.خوزه دا وینم.چه دې کسانو د مدینې منورې نه سور مرګ په خپلو اوښانو باندې بار کړې دې.او راغلی دی.د تورې نه سوا دوی سره نور څه نشته.اوزما دا اندازه ده.چه په دوی کښې به هیڅ یوکس تر هغه وخته پورې مرګ قبول نکړی.ترڅو چه خپل مد مقابل مړ نکړی.که زمونږ کسان هم د هغوی په برابرئ باندې مړه شول.نو بیا به د ژوند څه مزه پاتې شی؟ نوسوچ او فکر اوکړئ.اوخه رائې قائمه کړئ.(۷)

---

(۱) سیرة ابن هشام (۱\۶۱۷) كنزالعمال (۱۰\۳۹۷) حديث نمبر(۲۹۹٤٤)_
(۲) كنزل العمال (۱۰\۳۹۷) حديث نمبر(۲۹۹٤٤)_
(۳) كنز لالعمال (۱۰\٤۲٤) حدث نمبر ۳۰۰۲۳)_
(۴) سیرة ابن هشام (۱\۶۲۰)_
(۵) سیرة ابن هشام(۱\۶۱۲)_
(۶) سیرة ابن هشام (۱\۶۲۶)_
(۷) ابن هشام دهغه الفاظ دا نقل کړی دی.((قال ما وجدت شيأ وقد رأيت يا معر قريش البلايا تحمل المنايا ،نواضح يثرب تحمل الموت الناقع ،قوم ليس لهم منعة ولا ملجأ إلا سيوفهم والله ما أرى أن يقتل رجل منهم حتى يقتل رجلاً منكم، فإذا أصابو منكم أعدادهم فما خيرالعيش بعد ذلك ؟ فروا رأيكم (سيرة ابن هشام (۱\۶۲۲)

دحكيم بن حزام عتبه ته د واپسئ مشوره ورکول: په دې دوران کښې حکيم بن حزام ،عتبه بن ربيعه ته ورغلو.او ورته ئې اووئيل.چه د عمروبن حضرمی خون بها په خپله ذمه واخله.او خلقو ته د واپس تلو اووايه.عتبه ددې دپاره تيار شو.دخلقو واپس تلو دپاره ئې خپله خطبه اووئيله.[1]

خوابوجهل هغه سره اختلاف اوکړو.او پيغور ئې ورکړو.چه دخپل ځوى ابوحذيفه رضي الله عنه د وجې د جنګ نه ډډه کوې.[2] چه هغه د مسلمانانو په لښکر کښې دې.په جنګ کښې د هغه د قتليدو ده ته ويره ده.

دعتبه دخپل ورور او پلار سره د مقابلې دپاره وتل: د ابوجهل د دې پيغور نتيجه دا راووته.چه عتبه دخپل ورور شيبه بن ربيعه اود خپل ځوى وليد بن عتبه سره ميدان جنګ ته د مقابلې دپاره راووتلو.اودوى نعره اولګوله. «هل من مبارز؟» څوك مقابله کونکې شته.په مسلمانانو کښې درې انصارى صحابه حضرت عوف بن الحارث، حضرت معوذ بن الحارث، او حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم د مقابلې دپاره راوړاندې شول.[3]

دحضرت عفراء رضى الله عنها يوخصوصيت: دحضرت عوف اوحضرت معوذ رضي الله عنهما دمور نوم حضرت عفراء دې.حضرت عفراء اولنې وادۀ دحضرت حارث سره کړې وو.د حارث نه ددې درې ځامن اوشول.حضرت عوف، حضرت معوذ او حضرت معاذ رضي الله عنهم.دحارث د وفات نه پس بيا حضرت عفراء د بکيربن ياليل سره وادۀ اوکړو.اود بکيربن ياليل نه ددې څلور ځامن پيدا شول.اياس عاقل خالد او عامر،دحضرت عفراء رضي الله عنها دا خصوصيت وو.چه دهغې دا اووه ځامن وو.او اووه په اووه واړه په جنګ بدر کښې شريك وو.[4] بهرحال کله چه دا درې واړه صحابه د مقابلې دپاره راووتل.نو عتبه اووئيل «من أنتم» تاسو څوك ئې؟ هغوى ورته اووئيل «رهط من الأنصار» مونږ دانصارو ډله يو.عتبه اووئيل «مالنا بكم حاجة» زمونږ تاسو

---

[1])وفى سيرة ابن هشام (٦٢٣\١) ثم قام عتبة بن ربيعة خطيباً فقال يا معشرقريش إنكم والله ما تصنعون بأن تلقوا محمداً وأصحابه شيأ والله لئن أصبتموه لا يزال الرجل ينظر فى وجه رجل يكره ألنظر إليه قتل أبن عمه . ابن خاله، أو رجلاً من عشيرته. فارجعوا وخلوا بين محمد وبين سائر العرب فإن أصابوه فذلک الذى أردتم وإن كان غير ذلک الفاكم ولم تعرضوا منه ما تريدون .)_

[2])أبوحذيفة بن عتبة بن ربيعة إسمه مهشم وقيل هشيم وقيل هاشم وقيل قيس.. كان من السابقين إلى الإسلام وهاجر الهجرتين وصلى إلى القبلتين .. ألم بعد ثلاثة وأربعين إنساناً ... كان ممن شهد بدراً استشهد يوم اليمامة وهو ابن ست وخمسين سنة (الإصابة (٤٢\٤ - ٤٣)_

[3])حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه مشهور انصارى صحابى دې.د ليلة العقبة په بيعت اوپه جنګ بدر کښې دشرکت شرف ورته حاصل دې.په غزوه موته کښې چه کله حضرت جعفرطيار رضي الله عنه شهيد شو.نو د نبى ﷺ د خودلى شوى ترتيب مطابق د اسلامى لښکربيرغ دوى واخستله.اوپه جنګيدو جنګيدو کښې د موتة په ميدان کښې ئې د شهادت پيالئ اوڅکله.(الإصابة (٣٠٦\٢)_

[4])اوګورئ (الإصابة (٢٦٤\٤)_

سره څه کار نشته.بیا عتبه اووئیل «یا محمد أخرج إلینا أکفاءنا من قومنا» زمونږ د قوم کسان چه زمونږ پشان وی.هغوی د مقابلې دپاره راولیږه.نونبی ﷺ حضرت علی رضی الله عنه حضرت حمزه او حضرت عبیده بن الحارث رضی الله عنه ته اوفرمائیل.ور وړاندې شئ.دا درې واړه وروړاندې شول.

چونکه ددوی په مخونو باندې پرده وه.څکه عتبه تپوس اوکړو.«من أنتم؟» دوی ورسره خپل تعارف اوکړو.نو عتبه اووئیل «نعم أکفاء کرام»آو دا کسان زمونږ پشان دی.اوعزتمند دی.[1] رسول الله ﷺ په دغه موقع باندې دا هم وئیلی وو.

«یا بنی هاشم قوموا قاتلوا بحقکم الذی بعث الله به نبیکم إذ جاؤوا بباطلهم لیطفئوا نور الله»[2]

اې بنوهاشم تاسود هغه حق سره اوځئ.کوم چه الله تعالی ستاسو نبی ته ورکړې او رالیږلې ئې دې.حالانکه دې کسانو باطل راوړې دې.اودالله تعالی نور (دین حق) مړکولو (ختمولو) دپاره راغلی دی.

په انفرادی مقابله کښې د عتبه، شیبه او ولید قتلیدل: حضرت علی حضرت حمزه او حضرت عبیده رضی الله عنهم انفرادی مقابلې دپاره اووتل. د حضرت علی رضی الله عنه مقابله د ولید سره اوشوه.اوهغه ئې جهنم ته اورسولو.اوحضرت حمزه رضی الله عنه مقابله د شیبه بن ربیعه سره اوشوه.اوهغوی هم په یو ګذار باندې دهغه کارختم کړو. اوحضرت عبیده بن الحارث رضی الله عنه مقابله د عتبه سره اوشوه.دواړه په یوبل باندې ګذارونه اوکړل.اوزخمیان شول.د عتبه ګذار باندې دحضرت عبیده پښه کټ شوه.حضرت علی اوحضرت حمزه رضی الله عنهما دخپل مقابل دقتلولونه پس دحضرت عبیده بن الحارث رضی الله عنه د مدد دپاره راغلل.اوچه راغلل نود عتبه کار ئې هم ختم کړو.[3]

دحضرت عبیده بن الحارث رضی الله عنه شهادت: حضرت عبیده بن الحارث هم د زخم په حالت کښې نبی ﷺ ته راوستې شو.حضرت عبیده تپوس اوکړو.یارسول الله زه شهید یم؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل بالکل ته شهید ئې.دشهادت نه وړاندې هغوی دا شعر اووئیل.

فإن یقطعوا رجلی فإنی مسلم أرجی به عیشا من الله عالیاً

والبسنی الرحمن من فضل منه لباساً من الإسلام غطی المساویا

که دوی زما پښه کټ کړه.نود څه پرواه خبره نه ده.زه مسلمان یم.اوزه دالله تعالی نه ددې په بدله کښې د اوچت ژوند امید ساتم.

الله تعالی په خپل فضل او رحم سره ماته د اسلام داسې جامې واغوستې.کوم چه ټولې خطاګانې پټې کړې.[4]

باقاعده د جنګ شروع: ابوجهل د عتبه، شیبه او ولید د قتل نه پس لښکرته مخامخ تقریر

---

[1]) سیرة ابن هشام (۶۲۵\۱)_
[2]) طبقات ابن سعد (۱۷\۲)_
[3])سیرة ابن هشام (۶۲۵\۱)_
[4])سیرة مصطفی (۷۸\۲)_

اوکړو.چه دې کسانو د جلدبازئ نه کار واخستلو.څکه قتل شول.په لات او عزى مې دې قسم وى.مونږ به تر هغه وخته پورې نه څو.ترڅو پورې چه مونږ دوى په پړو باندې اونه تړو.[1] او سخت جنګ شروع شو.ابوجهل دعا اوکړه.اې الله څوك چه خپلولئ پريكوى.او د نيكئ په ځاى بدئ ته رواج وركوى.هغه تباه او برباد كړه.[2]

دجنګ شروع کیدو نه پس د نبی ﷺ په دعا کښې مشغوله کیدل: بل طرف نبی ﷺ د جنګ شروع کیدو نه پس په دعا الحاح او زارئ کښې مشغول شو.نبی ﷺ دعا اوکړه.

((اللهم إني أنشدك عهدك ووعدك اللهم إن شئت لم تعبد بعد اليوم أبداً))[3]

اې الله چه تا کومه وعده او عهد کړې وو.دهغې دپوره کیدو درخواست درته کوم.اې الله که تاسو غواړئ.چه په مخ د زمکې دنن نه پس همشیه دپاره ستاسو عبادت اونشی.(نو ټیك ده. دا یو موتې مسلمانان به ختم شی) اوپه څنی روایاتوکښې راغلی دی.چه نبی ﷺ دا دعا کړې وه. ((اللهم أنجزلي ما وعدتني اللهم إن تهلك هذه العصابة من أهل الإسلام لا تعبد في الأرض))[4]

اې الله تاسو چه ما سره کومه وعده کړې وه.هغه پوره کړئ.اې الله که دمسلمانانو دا ډله هلاکه شی.نو بیا به په مخ د زمکې ستاسو عبادت اونشی.

په روایت کښې راځی.چه نبی ﷺ په دعا کښې دومره زاری او عاجزی اوکړه.چه د نبی ﷺ څادر مبارك د اوږې نه اوغورځیدل.حضرت ابوبکر ﷺ دوی ته تشریف راوړو.او عرض ئې اوکړو.((كفاك مناشدتك ربك فإنه سينجزلك ما وعدك))[5] دخپل رب په در کښې دومره زاری او عاجزی کافی ده.بیشکه الله تعالی به خپله وعده پوره کوی.کومه چه ئې تاسو سره کړې ده.

یواشکال اودهغې جواب: دلته اشکال دا دې.چه نبی ﷺ په دعا کښې دومره مبالغه کوله.او زاری اوعاجزی ئې کوله.او حضرت ابوبکر ﷺ دوی د نورې دعا نه منع کولو.چه الله تعالی تاسو سره وعده کړې ده.چه تاسو ته به غلبه درکوی.اوتاسو ته به کامیابی درکوی.نوآیا دالله تعالی په دغه وعده باندې دحضرت ابوبکر ﷺ یقین وو.اود نبی ﷺ نه وو؟

نوددې په باره کښې تاسو دا وئیلې شئ.چه د مقام الوهیت او ربوبیت ادب هم دا دې.چه د وعدې باوجود سرې په ویره کښې وی.اود وعدې باوجود سرې اوغواړی.اودا ګڼړی چه د الله تعالی ذات بینیازه دې.((لايسئل عما يفعل))دهغه نه تپوس نشی کولې. چه هغه دا کار اوکړو. نو ولې ئې اوکړو؟

نبی ﷺ په مقام خوف کښې وو.هغوی د مقام الوهیت او مقام ربوبیت پوره پوره ادب کولو.

---

[1])سیرة مصطفی (۹۱\۲)_

[2])دابوجهل د دعا الفاظ داسې منقول دی ((اللهم اعطعنا للرحم. وأتانا لما لا يعرف ، فأحنه الغداة فكان هو المستفتح (سیرة ابن هشام (۶۲۸\۱)_

[3])البداية والنهاية (۲۷۶\۳)_

[4])کنز العمال (۳۹۲\۱۱) رقم الحدیث ۲۹۹۳۹)_

[5])کامل لابن اثیر(۸۷\۲)_

او حضرت ابوبكر ﷺ په مقام رجاء كښې وو.په هغوى باندې د رجاء غلبه وه (۱)
دويمه خبره يود دا هم ده.هغه دا چه ممكن ده.نبى ﷺ دا ګڼړلى وى.چه الله تعالى خو وعده
كړې ده.خو كيدې شى.چه ددې وعدې د تكميل دپاره څه شرطونه اوڅه اسباب داسې
ضرورى وى.چه د هغې نه بغير دغه وعده پوره نشى.او زمونږ نه په دې شرطونو او دې
اسبابو كښې كوتاهى اوشى.ددې وجې په نبى ﷺ باندې ويره غالبه وه.او نبى ﷺ دعا
كوله. ددې نه پس نبى ﷺ د سپر نه رابهر شو.او نبى ﷺ اوفرمائيل.

«أبشر يا أبا بكر أتاك نصر الله هذا جبريل آخذ أبعنان فرسه» (۲)
ابوبكر زيرې! دالله تعالى مدد راغلو.دا جبريل دې ،دوى د خپل اس واګې نيولې دې.

په موټى خاورې سره د كافرانو اوتركيدل: جنګ شروع شو.او سخت جنګ وو.نبى ﷺ د
خاورو يو موټې راواخستل.او كافرانو طرف ته ئې اوويشتل.او «شاهت الوجوه» ئې درې څله
اوونيل.هم ددې په باره كښې الله تعالى فرمائيلى دى.(۳) ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ (۴)
او تا نه دى ويشتلې هغه يو موټې خاورې كله چه تا ويشتل كول بلكه الله تعالى ويشتى دى.
د يو موټې خاورې به څه حقيقت وى.دكافرانو يو زر لښكر وو.خو ددې لښكر داسې يوكس
هم پاتې نشو.چه د هغه په سترګو كښې دغه خاورې نه وى داخل شوې.هغه خاوره د هر يو
كس په سترګو كښې ورداخل شوه.اوهغوى سترګې مګل شروع كړلپه دې سره كافران اوتر
شو.(۵) مسلمانانو به هغوى نيول.او قيد كول.او قتلول.

---

(۱) حكى السهيلى عن شيخه أبى بكر بن العربى بأنه قال كان رسول الله ﷺ فى مقام الخوف والصديق فى مقام الرجاء وكان مقام الخوف فى هذا الوقت أكمل لأن الله أن يفعل ما يشاء فخاف أنا لا يعبد فى الأرض بعدها (البداية والنهاية (۲۷۲\۳)_

(۲) سيرة ابن هشام (۶۲۷\۱۱) وفى الكامل (۸۷\۲ و ۸۸) وخرج رسول الله ﷺ وهو يقول ﴿ سيهزم الجمع ويولون الدبر﴾ وحرض المسلمين وقال والذى نفس محمد بيده لا يقاتلهم اليوم رجل فيقتل صابراً محتسباً مقبلا غير مدبر إلا أدخله الله الجنة فقال عميربن الحمام الأنصارى .. وبيده تمرات يأكلهن بخ بخ ما بينى وبين أن أدخل الجنة إلا أن يقتلنى هولاء ثم ألقى التمرات من يده وقاتل حتى قتل و رمى مهجمع مولى عمربن الخطاب بسهم فقتل فكان أول قتيل وفى البداية والنهاية (۲۷۷\۳) فأخرج عمير تمرات فجعل يأكل منهن ثم قال لئن أنا أحييت حتى آكل تراتى هذه إنها حياة طويلة فرمى مان كان معه من التمر ثم قاتلهم حتى قتل ﷺ وهو يقول حين قاتل..

ركضا إلى الله بغير زاد ۞ إلا التقى وعمل المعاد
والصبر فى الله على الجهاد ۞ وكل زاد عرضة النقاد
غير التقى والبر والرشاد

(۳) تفسير ابن كثير (۲۹۵\۲)_

(۴) سورة الأنفال:۱۷)_

(۵) أيضاً)_

د ابوالبختری قتل: نبی ﷺ صحابو رضی الله عنهم ته په دغه دوران کښې دا هم فرمائیلی وو.څنی خلق د مسلمانانو د مقابلې دپاره راتلل نه غوستل.هغوی په زور باندې راوستې شوی دی.نو هغوی مه قتلوئ.په هغوی کښې حضرت عباس بن عبدالمطلب هم دې.او ابو البختری بن هشام هم په زور باندې راوستې شوې دې.
یوانصاری صحابی رضی الله عنه ابوالبختری (١) اونیولو.او ورته ئې اوونیل.چه رسول الله ﷺ ستا د قتل نه مونږ منع کړی یو.د ابو البختری یو ملګرې وو.هغه سره د مکې نه راغلې وو.هغه اوونیل.زما دا ملګرې (٢) هم مه قتلوئ.انصاری صحابی رضی الله عنه اوونیل. هرګز نه، نبی ﷺ صرف ستا په باره کښې حکم کړې دې.ستا د ملګری په باره کښې نه دی وئیلی. مونږ هغه نه پریږدو.ابوالبختری اوونیل.بیا داسې نشی کیدې.چه زما ملګرې دې زما وړاندې قتلولې شی.او زه دې ژوندې یم.او دا شعر ئې وئیل. او د حملې دپاره راغلو.

لن یسلم ابن حرة زمیله حتی یموت أو یری سبیله

د شریفې ښځې خوې خپل ملګرې قتل ته نه حواله کوی.تردې چه یا خو په خپله مړ شی.او یا بچ شی.خپله لار اووینی.آخری دا چه دغه انصاری صحابی رضی الله عنه هغه مړ کړو.(٣)
د عبیده بن سعید قتل: عبیده بن سعید یو لوې کافر وو.د هغه د بدن هیڅ یوه حصه هم د زغرې نه بهر نه وه. صرف سترګې ئې په نظر راتلې.حضرت زبیر بن عوام رضی الله عنه ورته په سوو (انتظار) کښې وو. او هغه ئې په نیزه په سترګه اووهلو.کومه چه د هغه د سر نه اخوا اووتله.او هغه راپریوتلو .اومړ شو.حضرت زبیر رضی الله عنه فرمائی.چه ما د هغه په سینه باندې پښه کیخوده.او ښه په زور سره مې ترې نیزه راوویستله.او د هغه نیزې څوکې کږې شوې وې.رسول الله ﷺ د حضرت زبیر رضی الله عنه نه دغه نیزه دیادګار په طور واخستله.اود نبی ﷺ نه پس بیا هغه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره وه.اود حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه پس د حضرت عمر رضی الله عنه سره وه.بیا د حضرت عثمان رضی الله عنه اوبیا دحضرت علی رضی الله عنه او په آخر کښې حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما ته راغله.(٤)
په دې جنګ کښې دقریشو تقریباً اویا کسان مړه شول.او اویا کسان قیدیان کړې شول(٥)
د حضرت عباس رضی الله عنه نیول: په قیدیانو کښې حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه هم وو. حضرت عباس ډیر اوګدقدوالا،لحیم شحیم جسیم سړې وو.دې حضرت ابوالیسر رضی الله عنه

(١) دده نوم مجزر بن ذیاد بلوی وو(اوګورئ البدایة والنهایة (٢٨٥\٣)_ ~
(٢) دهغه نوم جناده بن ملیحه وو(البدایة (٢٨٥\٣)_
(٣) البدایة والنهایة (٢٨٥\٣) وإنما نهی رسول الله ﷺ عن قتل أبی البختری لأنه کان أکف القوم عن رسول الله ﷺ وهو بمکة وکان لا یوذیه ولا یبلغه عنه شئ یکرهه وکان ممن قال فی نقض الصحیفة التی کتبت قریش علی بنی هاشم وبنی المطلب (سیرة ابن هشام (٦٢٩\١)_
(٤) اوګورئ بخاری غزوه بدر رقم الحدیث ٣٩٩٨)_ .
(٥) طبقات ابن سعد (١٨\٢١)_

([1]) قید کړي وو.دي ډیر کم قد ،ډیر زیات کمزوري او نري پري سړي وو.نبی ﷺ د دوی نه تپوس اوکړو،ابوالیسر تا عباس څنګه اونیولو؟ ابوالیسر ورته اووئیل.په حقیقت کښې ما دې په یواځې نه دې نیولې،یو سړی زما مدد کړې وو،هغه کس ما نه وړاندې لیدلې وو اونه روسته،نبی ﷺ ورته اوفرمائیل،هغه د آسمان فرښته وه،([2])

د جنګ نه پس د قریشو د سردارانو لعشونه په کوهی کښې د غورځولو حکم: د جنګ د ختمیدونه پس نبی ﷺ کریم ﷺ د قریشو سرداران په یوکوهی کښې د اچولو فیصله اوکړه. نو نبی ﷺ د هغه سردارانو لعشونه چه تعداد ئې خلورویش وو.په کوهی کښې اوغورځولو. او باقی مقتولین ئې هم دغه شان کندې اوکنستلې.اوپټ ئې کړل.([3])په سردارانو کښې د امیه بن خلف لعش چونکه ډیر خراب شوې وو.اوکله چه زغره دهغه د بدن نه اوویستې شوه.نو دهغه اندامونه جدا جدا شو.ددې وجې هغه هم په هغه ځاې کښې په خاورو کښې پټ کړې شو.او هغه په کوهی کښې اونه غورځولې شو. ([4])

د کافرانو مړو لعشونوته د نبی ﷺ خطاب: د نبی ﷺ دا عادت وو.چه کله به دوی په یو جنګ کښې فتح بیا مونده.نو د جنګ نه پس به ئې درې ورځې هلته قیام کولو.([5]) دوی دلته هم درې ورځې قیام اوکړو.کله چه دریمه ورځ شوه.نو نبی ﷺ د روانیدو حکم اوکړو نبی ﷺ زین برابر کړو.او په سورلۍ باندې کیناستلو.او هغه کوهی طرف ته روان شو.په کوم کښې چه د قریشو سرداران غورځولی شوی وو.د صحابو ﷺ خیال شو.چه د څه بل ضرورت دپاره به ځی.خو نبی ﷺ کوهی ته راغلو.او وې فرمائیل.

«یا امیة، یا أباجهل بن هشام، یا عتبة بن ربیعة یا شیبة بن ربیعة هل وجدتم ما وعدربکم حقاً فإنی قد وجدت ما وعدنی ربی حقاً» اې امیه، اې ابوجهل اې عتبه اې شیبه الله تعالی چه کومه وعده تاسو سره کړې وه.آیا تاسو هغه صحیح اوبرحق بیا مونده.الله تعالی چه کومه وعده ما سره کړې وه.هغه خو ما په حق بیا مونده.

حضرت عمربن خطاب ﷺ اوفرمائیل.«هل تکلم من أجساد لا أرواح فیها؟» تاسو دې بې روحه مړو سره خبرې کوئ.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.«والذی نفسی بیده ما أنتم بأسمع لما أقول منهم ولکن لا یستطیعون أن یجیبوا» قسم دې په هغه ذات د چا په قبضه کښې چه زما روح دې.د دوی په

---

[1] حضرت ابوالیسر انصار بدری صحابی ﷺ دې.لیلة العقبه ته حاضر شوې وو.په مدنیه منوره کښې ۵۵ھ دوی وفات شوی وو.دې د ټولو نه آخری بدری صحابی دې.چه په مدینه کښې وفات شوې دې.اوګورئ الاصابة فی تمییز الصحابة (۴\۲۲۱)۔

[2] تاریخ طبری (۲\۱۶۱)۔

[3] کامل لابن اثیر (۲\۹۰) البدایة والنهایة (۳\۲۹۳)۔

[4] سیرة ابن هشام (۱\۶۳۸)۔

[5] البدایة والنهایة (۳\۲۹۳)۔

مقابله کښې تاسو زما خبرې زیاتې نه اورئ.خوصرف دومره ده چه دوی جواب نشی راکولې.(۱)

مدینې منورې ته روانیدل او د دوو قیدیانوقتل: ددې نه پس نبی اکرم ﷺ ددې ځاې نه روان شو.(۲) او انصاری صحابی عبدالله بن کعب رضی الله عنه ته ئې د مال غنیمت حفاظت اوسپارلو.(۳) مدینې منورې ته نزدې مقام صفراء ته چه کله نبی ﷺ اورسیدل.نوپه قیدیانوکښې د نضربن حارث په باره کښې حکم اوکړو.چه هغه دې قتل کړې شی.نوحضرت علی رضی الله عنه هغه قتل کړو.(۴) دمقام صفراء نه چه کله روان شو.اومقام عرق الظبیه ته اورسیدل.نونبی ﷺ د عقبه بن ابی معیط دقتلولوحکم ورکړو.نوعاصم بن ثابت رضی الله عنه دهغه څټ قلم کړو.(۵)

دا دواړه قولاً او فعلاً په دواړو طریقو نبی ﷺ ته په تکلیف رسولو کښې مشغول وو. توقې اومسخرې به ئې کولې.عقبه بن ابی معیط بدبخته په یوځل د نبی ﷺ په مخ مبارك باندې لاړې (لعاب) توکلې وې.او یوځل نبی ﷺ په مسجد حرام کښې مونځ کولو.اود اوښ پلیتی او بچه دانئ ئې راوړه.د نبی ﷺ په شا باندې ئې ورغورځوله.ددې وجې نبی ﷺ دهغه د

---

(۱) البدایة والنهایة (۲۹۲\۳و ۲۹۳) په بعضې روایاتو کښې د نبی ﷺ دخطاب الفاظ داسې نقل شوی دی،،یا أهل القلیب بئس عشیرة النبی ﷺ کنتم لنبیکم کذبتمونی وصدقنی الناس وأخرجتمونی وآوانی الناس وقاتلتمونی نصرنی الناس هل وجدتم ما وعد ربکم حقاً قد وجدت ما وعدنی ربی حقاً (البدایة والنهایة (۲۹۲\۳) اهل قلیب ته چه کله نبی ﷺ خطاب اوکړو.نود حضرت ابوحذیفه په مخ باندې نبی ﷺ د غم او خفګان آثار اولیدل.نبی ﷺ اوفرمائیل.ابوحذیفه! کیدې شی د پلار دا حالت چه تا اولیدل.نو خفه شوې به ئې.وې وئیل نه،یارسول الله خبره صرف دومره ده.چه زما پلار د عقل او فضل مالك وو.که ژوندې پاتې شوې وو.نو زما دا امید دې.چه اسلام به ئې قبول کړې وو.اوس د کفر په حالت کښې دده مرګ ما خفه کوی.نبی ﷺ چه جواب واوریدو.نو دده دپاره ئې د خیر دعا اوکړه.(کامل ابن اثیر(۹۰\۲)، د نبی کریم ﷺ مړو سره په خطاب کولو باندې حضرت عمر رضی الله عنه ته اشکال پیښ شو.چه دبې روحه بدنونو سره خبرې کول څه معنی لری؟ نبی ﷺ چه کوم جواب ورکړو.د هغې نه دا ښکاره ده.چه الله تعالی کله اوغواړی.او څومره اوغواړی.مړو ته اورول کولې شی.حضرت عائشه رضی الله عنها چونکه د سماع موتی قائله نه وه.ددې وجې به هغوی په داسې روایاتو کښې تاویل کولو. حافظ ابن کثیر په البدایة کښې تبصره کوی اولیکی،،

قلت وهذا مما کانت عائشةرضی الله عنها تتاوله من الأحادیث وتعتقد أنه معارض لبعض الآیات وهذا المقام مما کانت تعارض فیه قوله ﴿ وما أنت بمسمع من فی القبور﴾ ولیس هو بمعارض له والصواب قول الجمهور من الصحابة رضی الله عنهم ومن بعدهم للأحادیث الدالة نصاً علی خلاف ما ذهبت إلیه رضی الله عنها (البدایة والنهایة (۲۹۲\۳)،، د مسئله سماع موتی تفصیل وړاندې راځی۔

(۲) مدینې منورې ته د روانیدو نه وړاندې دفتحې خوشخبرئ لیږلو دپاره نبی کریم ﷺ د مدینې پورته او ښکته دواړو طرفونو ته قاصد اولیږلو.پورته طرف ته عبدالله بن رواحه رضی الله عنه او ښکته طرف ته زید بن حارثه رضی الله عنه لاړل.(طبقات ابن سعد(۱۹\۲)۔

(۳) سیرة ابن هشام (۶۳٤\۱)۔

(۴) کامل ابن اثیر (۹۱\۲)۔

(۵) کامل ابن اثیر(۹۱\۲)۔

قتلولو حكم اوكړو.(١)

د مال غنيمت دتقسيم مسئله: ددې نه پس سوال پيدا شو د مال غنيت د تقسيم،مال غنيمت لا تقسيم شوې نه وو.په دې باره كښې په صحابوﷺ كښې اختلاف پيدا شو.چه كوم ځوانان وو. هغوى اوونيل.چه مونږ جنګ كړې دې.اوكافران مو قتل كړې اوبند كړى دى.نومال غنيمت مونږ ته ملاويدل پكار دى.اوچه كوم اكابرين او مشران وو.كه وړاندې وو.اوكه روستو وو.هغوى وئيل.كه تاسو شكست خوړلې وو.نو مونږ ته به راواپس كيدئ.تاسو وړاندې جنګ زمونږ په ډاډ او پشت پناهئ باندې كتلې دې.ددې وجې مونږ ته هم په مال غنيمت كښې حصه ملاويدل پكار دى.اوهغه حضرات كوم چه د رسول الله د حفاظت دپاره مقرر وو.هغوى وئيل.چه دمال غنيمت مونږ زيات مستحق يو.په دې باندې د قرآن شريف آيت نازل شو ﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ﴾ (٢) دا خلق ستا نه د مال غنيمت د حكم تپوس كوى.تاسو ورته اووائې.چه دا د دالله اودهغه د رسول دپاره دې. بهرحال نبى ﷺ دا مال بيا په ټولو مسلمانانو كښې برابر تقسيم كړل.(٣)

په غنيمت كښې حصه اخستونكې اته صحابه رضى الله عنهم: اته كسان داسې وو.چه هغوى په جنګ بدر كښې شريك شوى نه وو.خو په مال غنيمت كښې دهغوى حصه هم مقرر شوه.(٤)

① يو حضرت عثمانﷺ وو.د نبى ﷺ لور حضرت رقيه ﷺ دهغوى په عقد كښې ناسته وه.اوهغه د جنګ په وخت كښې بيماره وه.كله چه نبى ﷺ دجنګ دپاره روانيدل. نو حضرت عثمانﷺ ورسره تلل غوښتل.خو نبى ﷺ ورته په مدينه كښې د پاتې كيدو حكم اوكړو. اودحضرت رقيه په تيمارداريئ ئې هغه ماموره كړو.

(③ -②) طلحه بن عبيدالله اوحضرت سعيد بن زيد ﷺ دا د واړه عشره مبشره دى .دوى نبى ﷺ په يو مهم باندې روان كړى وو.ددې وجې دوى په جنګ كښې شركت اونكړې شو.په مال غنميت كښې نبى ﷺ دهغوى حصه هم مقرر كړه.

④ دحضرت ابولبابه بن المنذرﷺ ذكر مخكښې تيرشوې دې.چه نبى ﷺ دوى لره خپل قائم مقام جوړ كړو.اومدينې منورې ته ئې واپس ليږلې وو.ددې وجې دوى په جنګ كښې شريك نشو.هغوى هم نبى ﷺ بدرى شمار كړې وو.اوپه مال غنيمت كښې ئې هغوى ته هم حصه وركړې وه.

⑤ حضرت عاصم بن عدىﷺ دوى لره نبى ﷺ د مدينې منورې په پورته طرف كښې پريخودې وو.دوى ته هم حصه ملاؤ شوه.

⑥ حضرت حارث بن حاطبﷺ دوى هم نبى ﷺ په څه وجه باندې واپس ليږلى وو.

---

(١)البداية والنهاية (٣٠٦\٣) دغه شان اوګورئ دلائل ابى نعيم (٤٧١\٢)_

(٢)سورة الأنفال:١)_

(٣)البداية والنهاية (٣٠٣\٣)_

(٤)په دغه اتو كښې درې حضرات حضرت عثمان،حضرت طلحه،حضرت سعيدمهاجرين وو. او باقى پنځو د انصارو سره تعلق ساتل)_

(۷ - ۸) حضرت حارث بن صمه ﷺ او حضرت خوات بن جبیر ﷺ .. دې دواړو ته هم په مال غنیمت کښې حصه ورکړې شوې وه.([1])

مال خمس: د بدر د غنیمت نه خمس ویستې شوې وو که نه؟ په دې کښې اختلاف دې.د بعضې حضراتو دا رائې ده.چه خمس نه وو ویستلې شوې.خو دمحققینو رائې دا ده.چه خمس ویستلې شوې وو.([2])

دبدر دقیدیانو په باره کښې مشوره: د بدرد قیدیانو په باره کښې نبی ﷺ صحابه کرامو ﷺ سره مشوره اوکړه.چه دوی سره څه اوکړې شی؟ دحضرت عمربن الخطاب، حضرت سعد بن معاذ او حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ رائې دا وه.چه دوی قتل کړې شی.نبی ﷺ اوفرمائیل «إنما أمكنكم الله منهم» الله تعالی تاسوته په دوی باندې قدرت درکړې دې.اشاره دې خبرې ته وه.چه کله په دشمن باندې قدرت حاصل شی.نومعاف کول ئې ښه دی.حضرت ابوبکر ﷺ عرض اوکړو. یارسول الله چه دوی نه فدیه واخستې شی.او آزاد کړې شی.کیدې شی.الله تعالی دوی ته د ایمان توفیق ورکړی.او دوی زمونږ لاس او متې جوړې شی.اود اسلام دفاع کوی.اود اسلام داشاعت او ترقئ ذریعه جوړه شی.([3]) نبی ﷺ د فدیه اخستلو فیصله اوکړه.اود یو زر نه واخله تر څلورو زرو درهمو پورې فدیه ئې مقرر کړه.د هرکس حیثیت ته کتلې شوی وو.کوم کسان چه غریبانان وو.او فدیه ئې نشوه ورکولې.نو هغوی ئې د فدې ورکولو نه بغیر آزاد کړل.([4]) او کوم کسان چه په دوی کښې په لیکلو پوهیدل.هغوی سره ئې دا شرط اولګول.چه هغوی به دمسلمانانو لسو لسو ماشومانوته لیکل ښائی. نو حضرت

---

[1])طبقات ابن سعد(۱۲\۲)_

[2])وقد زعم أبوعبيدة القاسم بن سلام ﷺ أن رسول الله ﷺ قسم غنائم بدر على السواء بين الناس ولم يخمسها ثم نزل بيان الخمس بعد ذلك ناسخاً لما تقدم .. وفى هذا نظر والله أعلم فإن فى سياق الآيات قبل آية الخمس وبعدها كلها فى غزوة بدر فيقتضى أن ذلك نزل جملة فى وقت واحد غير متفاصل بتأخر يقتضى نسخ بعضه بعضا ثم فى الصحيحين عن على ﷺ أنه قال فى قصة شار فيه اللذين إجتب أسنمتهما حمزة ﷺ أن أحداهما كانت من الخمس يوم بدر ما يرد صريحاً على أبى عبيد ان غنائم بدر لم تخمس والله أعلم بل خمست كما هو قول البخارى وابن جرير وغيرهما وهو الصحيح الراجح والله أعلم (البداية والنهاية ۳۰۳\۳)

[3])عن ابن عباس حدثنى عمربن الخطاب قال إستشار رسول الله ﷺ أبابكر وعلياً وعمر ﷺ فقال ابوبكر ﷺ يا رسول الله هولا بنو العم والعشيرة والإخوان وإگى أرى أن تطخذ منهم الفدية فيكون ما أخذناه قوة على الكفار وعسى أن يهديهم الله فيكون لنا عضداً فقال رسول الهل ﷺ ما ترى يا ابن الخطاب؟ قال قلت والله ما أرى ما رأى دبوبكر ولكن أرى أن تمكننى من فلان قريبب لعمر أضرب عنقه وتمكن علياً من عقيل فيضرب عنقه وتمك حمزة من فلان فيضرب عنقه حتى يعلم الله أنه ليست فى قلوبنا هوادة للمشركين وهولاء صناديهم وأئمتهم وقادتهم فهوى رسول الله ﷺ ما قال أبوبكر ولم يهو ما قلت وأخذ منهم الفداء (البداية ولانهاية (۲۹۷\۳)_

[4])ابوعزه جمحی دوی لره نبی ﷺ بغیرفدیې آزاد کړو.(طبقات ابن سعد (۱۸\۲)_

زید بن ثابت ﷺ هم په دغه موقع باندې لیکل زده کړل.(۱)

د حضرت عباس رضی الله عنه فدیه: حضرت عباس بن عبدالمطلب ﷺ اوونیل.ما سره د فدیې ورکولو دپاره خو څه هم نشته.ما دغه شان آزاد کړئ.نبی ﷺ دحضرت عباس ﷺ فدیه څلور زره روپئ مقرر کړې وې.دا د ټولونه زیات مقدار وو.(۲) کله چه حضرت عباس اوونیل.ما سره هیڅ هم نشته.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.تا او ستا بی بی ام الفضل چه کوم مال موندلې وو.او په فلانی ځای کښې مو ښخ کړې دې.ولې هغه تا سره نه دې؟ حضرت عباس ﷺ ورته اوونیل. هغه مال خوزما او د ام الفضل نه سوا بل هیچا ته معلوم نه وو.تاسو ته د هغې په باره کښې علم اوشو.یقیناً ته دالله تعالی رښتینې رسول ئې.ددې نه پس عباس ﷺ فدیه ورکړه.(۳) د قرآن مجید آیت دې.﴿يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّمَن فِي أَيْدِيكُم مِّنَ الْأَسْرَىٰ إِن يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ (۴)

دحضرت عباس ﷺ بیان دې.چه په دې آیت کښې الله تعالی دوه وعدې کړې دی. یوه دا چه کوم مال ستاسو نه واخستې شو.الله تعالی به ددې نه غوره درکړی.که ستاسو په زړونوکښې خیر راغلو.حضرت عباس ﷺ فرمائی چه ددې نه پس ماته څلویښت غلامان ددې په عوض کښې راکړې شول.او هرغلام د مال په ګټلو کښې ماهر وو.دویمه وعده د مغفرت ده.زما امید دې.چه الله تعالی به خامخا زما مغفرت کوی.(۵)

نوفل بن حارث: دغه شان نوفل بن حارث یوبل قیدی وو.هغه نبی ﷺ ته اوونیل. ما سره د فدیې ورکولو دپاره هیڅ څه نشته.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.هغه په ،،حره،، کښې چه تا نیزې ایخودې دی.آیا هغه مال نه دې؟ نوهغه ډیر حیران شو.او وې وئیل.دهغې نیزو خو چاته علم نشته.یقینی ده چه الله تعالی به تاسو ته خودلې وی.اوته دالله تعالی رښتونې رسول ئې.او کلمه ئې اوونیله مسلمان شو.(۶)

---

(۱)طبقات ابن سعد(۲۲\۲)_

(۲)حضرت عباس ﷺ په دې موقع باندې دا هم وئیلی وو.چه ما اسلام قبول کړې دې.خود قریشو د بدو ردو وئیلو د وجې ما داسلام اعلان نشو کولې.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.که په حقیقت کښې تا اسلام قبول کړې وی.نو الله تعالی ښه پوهیږی تا ته به د هغې اجر ملاویږی.خو فدیه به په هر حالت کښې ورکوې.انصارو د حضرت عباس نه د فدیې نه اخستلو درخواست کړې وو.خو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.نه بلکه دې به فدیه ورکوی.ځکه چه حضرت عباس ﷺ مالدار وو.نو نه یواځې دا چه نبی ﷺ دهغه نه فدیه واخستله.بلکه هغه ته ئې د هغه د وراره عقیل او حلیف عتبه بن عمرو د طرفه د فدې ورکولو هم اوونیل نو حضرت عباس د هغه دواړو د طرفه هم فدیه ورکړه.(اوګورئ تاریخ طبری (۱۶۳\۳) حضرات عباس ټوله سل اوقیې سرۀ زر ادا کړی وو.دا دټولو نه زیاته وه.

(۳)البدایة والنهایة (۲۹۹\۳) دغه شان دلائل بیهقی (۱۴۱\۲)_

(۴)سورة الأنفال: ۷۰)_

(۵)ایضاً)_

(۶)دلائل بیهقی (۱۴۴\۳)_

ابوالعاص بن الربيع: هم په دې قيديانو كښې د نبى ﷺ زوم ابوالعاص بن الربيع هم وو.[1] حضرت زينب رضي الله عنها د مكې نه دخپل خاوند ابوالعاص په فديه كښې هغه هار راوليږل.كوم چه حضرت خديجې رضي الله عنها د واده موقع باندې حضرت زينب رضي الله عنها ته وركړې وو.كله چه نبى ﷺ ته هغه هار اورسيدل.نو دحضرت خديجې رضي الله عنها ياد ورته تازه شو.اود خپلې لور د بيكسئ او غريبئ خيال ورته راغلو.او د نبى ﷺ په سترګو كښې اوښكې راغلې.او نبى ﷺ صحابو رضي الله عنهم ته اووئيل.كه تاسو راضى ئې.نو دا هار به واپس كړې شى.اودې به بغير فديې آزاد كړې شى.ټولو صحابو رضي الله عنهم د زړه په خوشحالئ سره اجازت وركړو.او نبى ﷺ ابوالعاص نه دا وعده واخستله.چه ته به مكې ته د رسيدو نه پس زينب مدينې ته راليږې.هغه هار ئې ورته واپس كړو.او ابوالعاص ته ئې دتلو اجازت وركړو .ابوالعاص د خپلې وعدې مطابق حضرت زينب رضي الله عنها روانه كړه.او نبى ﷺ حضرت زيدبن ثابت او يوانصارى صحابى د حضرت زينب رضي الله عنها د راوستلو دپاره اوليږل .دا دواړه لاړل.اوحضرت زينب رضي الله عنها ئې مدينې ته راوستله.[2]

دابوسفيان ځوې عمرو: په قيديانو كښې د ابوسفيان ځوې عمرو هم وو.دابوسفيان او ځو نورو كسانو دا خيال وو.چه د يو قيدى فديه دې هم ورنكړې شى.زمونږ دومره كسان مړۀ شول.او اوس به ورته مونږ د روپو ډيرې هم وركوو.داسې مونږ نه كوو.خود مطلب بن ابى وداعه پلار چونكه په قيديانو كښې وو.نو مطلب څلور زره روپئ په پټه مدينې ته اوليږلې.او خپل پلار ئې آزاد كړل.چه هغه ته ئې اوكتل.نو نورو خلقو هم فديې ليږل شروع كړل.[3] خو ابوسفيان په خپله اولنئ خبره باندې ټينګ وو.هغه اووئيل.چه زما يو ځوې حنظله وژلې شوې دې.او اوس د دويم ځوې په بدله كښې زه دولت دهغوى په قدمونو كښې

---

[1]) ابوالعاص بن الربيع د قريشوپه شمارلې شوې امانت ګرسوداګرو كښې وو.حضرت خديجه رضى الله عنها د دوى ترور وه.د نبوت ملاويدو نه وراندې د حضرت خديجې رضى الله عنها په وينا باندې نبى ﷺ خپله مشره لور د حضرت زينب نكاح ده سره كړې وه.كله چه نبى ﷺ ته نبوت ملاؤ شو.نوحضرت خديجې او ددې ټولو لونړو ايمان راوړو.ابوالعاص په شرك باندې برقرار پاتې شو.قريشو ورته ډير اوئيل.كومه جينئ چه ستا خوښه وى.مونږ به د هغې وادۀ تا سره اوكو.خو د محمد (ﷺ) لور پريږده.خو ابوالعاص تيار نشو.او حضرت زينب رضى الله عنها؟؟ د هغه په عقد كښې پاتې شوه.د غزوه بدر نه پس هغوى د وعدې مطابق حضرت زينب رضى الله عنها مدينې ته روانه كړه.څوكاله پس د تجارت په غرض شام ته تلې وو.په واپسئ كښې د سامان تجارت سره د مسلمانانو وړو لښكرو دې بنديوان كړو.دوى په پټه حضرت زينب رضى الله عنها ته اورسيدو.هغې ورته پناه وركړه.نبى ﷺ اوفرمائيل.كه مناسب ګنړئ.د ابوالعاص سامان واپس كړئ.صحابو رضي الله عنهم يو يو تار راوړل.او واپس ئې كړو.ابوالعاص ددې ځاې نه مكې ته واپس لاړلو.او ټول شريكان ئې په حساب پوهه كړل.اودخپل مسلمانيدو اعلان ئې اوكړو.او وې وئيل.زه ددې دپارهرﺩلته راغلم.حساب مې اوكړو.چه صبا تاسو دا نشى وئيلې.چه ابوالعاص زمونږ روپئ اوخوړلې اود مطالبې د ويرې د وجې مسلمان شو.د حضرت ابوبكر رضي الله عنه په دور خلافت كښې په ذى الحجه ۱۲ھ كښې وفات شورضى الله عنه (اوګورئ تاريخ طبرى (۱۶۳\۲) دغه شان (الإصابة(۱۲۳\٤)_

[2])كامل ابن اثير (۹٤\۲)_

[3])كامل ابن اثير(۹۳\۲)_

واچوم.دا زما نه نۀ كيږى.حضرت سعدبن النعمان انصارى ﷺ دمديني منورې نه د عمرې دپاره راغلي وو.ابوسفيان هغه بندى كړل.او اعلان ئې اوكړو.چه مسلمانانو ترڅو پورې زما خوې آزاد كړې نه وى.ترهغه وخته پورې به زه دې نه آزادوم.نو نبى ﷺ د انصارو په وينا باندې دابوسفيان خوې آزادكړو.اودهغه په بدله كښې حضرت سعدبن النعمان ﷺ آزادشو[1]

سهيل بن عمرو: سهيل بن عمرو هم په قيديانو كښې وو.دې ډير لوې شاعر وو.اواسلام ئې نه وو راوړې.ددې وجې به ئې د نبى ﷺ خلاف اشعار وئيل.حضرت عمر ﷺ عرض اوكړو. يا رسول الله كه اجازت وى.نو دده مخكني دواړه غاښونه به مات كړم.چه ستا خلاف د شعر وئيلو قابل پاتې نشى.خو رحمة للعالمين ورته اوفرمائيل.نه ته دده دوه غاښونه مه ماتوه. كيدې شى.چه الله تعالى دده نه تاسو ته څه خوشحالى اوښائى.اودا ئې اوفرمائيل.زما سره ويره ده.كه زه دده مثله اوكړم.هسې نه چه الله تعالى زما مثله اوكړى.([2])

د عميربن وهب قبول اسلام: مكې ته چه كله د قريشو دناكامۍ او قتل او بند خبر اورسيدل. نو يوه غوغا شوه.د اويا كسانو قتل اود اويا كسانو قيد كيدل.څه معمولى نقصان نه وو.د قريشو خلق ډيرخفه او پريشانه وو.يوځل عميربن وهب او صفوان بن اميه د خانه كعبې دديوال په سيورى كښې ناست وو.او يوبل ته ئې وئيل.د ژوند مزه اوس ختمه شوه.د قريشو دسردارانو دقتل نه پس اوس د ژوند څه مزه پاتې نشوه.عمير اووئيل. په ما باندې قرض دې.او زما د بچو د كفالت مسئله ده.كه د قرض د بوج او دبچو دكفالت د بوج نه زه آزاد ووم.نويقيناً به مدينې ته تلې ووم.اومحمد (ﷺ) به مې قتل كړې وو.

صفوان بن اميه ورته اووئيل.ستا د قرض خلاصولو اود بچو د كفالت ذمه وارى زه اخلم.كه ته دا كار اوكړې.نوعمير يوه توره جوړه كړه.اودهغې تيرۀ طرف ئې تيز كړو.اوپه زهرو كښې ئې غوپه كړو.اود نبى ﷺ دقتل په اراده باندې مدينې منورې ته روان شو.دلته په مكه كښې صفوان خلقو ته دا خبره وئيل شروع كړله.چه په څو ورځو كښې دننه به تاسو ته دومره لويه خوشحالى واورم.چه ستاسو د خوشحالۍ به هډو څه انتها نه وى. د عمير خوې هم دمسلمانانو په قيد كښې وو.چه حضرت عمر ﷺ دې اوليدل.نو وې ګڼړل. چه دې په څه بله اراده باندې راغلې دې.حضرت عمر ﷺ ورورانډې شو.اودهغه توره باندې ئې قبضه اوكړه. اود نبى ﷺ په خدمت كښې ئې حاضر كړو.نبى ﷺ تپوس اوكړو.ته د څه دپاره راغلې ئې.ده

---

[1])ايضاً)_

[2])البداية والنهاية (٣١٠/٣) حضرت عمر ﷺ دده د غاښونو ماتولو اجازت اوغوښتل.نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.((وأنه عسى أن يقوم مقاماً لاتدمه)) حافظ ابن كثير رحمه الله ليكى.((قلت وهذا هوالمقام الذى قام سهيل بمكة حين مات رسول الله ﷺ وارتد من ارتد من العرب ونجم النفاق بالمدينة وغيرها فقام بمكة فخطب الناس وثبتهم على الدين الحنيف (البداية والنهاية (٣١٠/٣) وفى الإصابة (٩٤١٢) قال أبو سعد بن فضالة إصطحبت أنا وسهيل بن عمر إلى الشام فسمعته يقول سمت رسول الله ﷺ يقول مقام أحدكم فى سبيل الله ساعة من عمره خير من عمله فى أهله قال سهيل فإنما أرابط حتى أموت لاأرجع إلى مكة قال فلم يزل مقيماً بالشام حتى مات فى طاعون عمواس سنة ثمان عشرة)_

اووئيل.دخپل ځوي د خلاصولو دپاره راغلې يم.نبی ﷺ ترې بيا تپوس اوکړو.ده بيا اصلی خبره اونه خودله.نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.د صفوان او ستا په مينځ کښې د خانه کعبې د ديوال لاندې چه تاسو ناست وئ.څه خبره شوې وه.اوس هغه حيران شو.او وې وئيل.«أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أنك رسول الله» او هغه مسلمان شو.هغه اووئيل.زما اود صفوان په مينځ کښې چه کومه خبره شوې وه.هغه دالله تعالی نه سوا او زمونږ دواړو نه علاوه بل هيڅ چاته معلومه نه وه.که ته دالله تعالی نبی نه وې.نو الله تعالی به تاته دا خبره نه وه کړې.ددې نه پس نبی ﷺ دهغه قيدی آزاد کړلو.او نبی ﷺ صحابو ﷺ ته اوفرمائيل. خپل ورور عمير ته قرآن اوښائې.عمير اووئيل.يارسول الله ما چه د اسلام خلاف څومره کوششونه کړی دی.اوس تاسو ماته اجازت راکړئ.چه زه مکې ته لاړ شم.اودهغې تدارك اوکړم.اوهلته دکفرخلاف هغه ټول څه اوکړم.کوم چه ما تر اوسه پورې د اسلام خلاف کړی وو.نوعمير ددې ځاې نه واپس لاړلو.اوداسلام په دعوت اوتبليغ کښې لګيا شو.الله تعالی د دوی په وجه ځو کسانوته داسلام دولت ورکړو.([1])

يو سوال اودهغې جواب: د اسيران بدر د فدیې په باره کښې يوه قابل توجه خبره ده.هغه دا چه نبی ﷺ ته حضرت جبريل عليه السلام په دې موقع باندې راغلې وو.او خبر ئې ورکړې وو.چه ته خپلو صحابو ﷺ ته اختيار ورکړه.که دوی غواړی.نو فديه دې واخلی.او د هغوی بنديان دې آزاد کړی.که فديه ئې واخستله او هغوی ئې آزاد کړل.نو په راروان کال کښې به د دوی اويا کسان شهيدان شی.او که غواړی نه دا قيديان دې قتل کړی([2]) لکه څنګه چه وړاندې تيرشو.چه دحضرت ابوبکرصديق،اود څه نورو کسانو رائې دا وه.چه ددې خلقو نه دې فديه واخستې شی.او آزاد دې کړې شی.اودحضرت عمر،حضرت سعدبن معاذ او حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ رائې دا وه.چه دا قيديان دې قتل کړې شی.نبی کريم ﷺ د حضرت ابوبکراود فديې اخستلو مشوره ورکونکو نورو حضراتو په رائې باندې عمل اوکړو.اوفديه ئې واخستله.او آزاد ئې کړل.نوپه دې باندې د قرآن کريم دا آيت نازل شو.

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝ لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ ([3]) د نبی ﷺ دشان سره مناسب نه

---

[1])اوګورئ دلائل بيهقی (۱۴۸/۳و ۱۴۹)..

حضرت عمير ﷺ د حضرت عمر ﷺ د دور خلافت پورې ژوندې وو.په جنګ احد اوتبوك وغيره کښې د نبی ﷺ سره شريك شوې وو.دحضرت عمر ﷺ دخلافت په زمانه کښې دوی وفات شوی وو.(اوګورئ (الإصابة (۳۷/۳)_

[2])دا د حضرت علی ﷺ روايت دې.پوره حديث داسې دې.،

عن علی ﷺ عن رسول الله ﷺ أن جبريل هبط عليه فقال له خيرهم =يعنی أصحابک – فی أساری بدر القتل والفداء على أن يقتل منهم قابلاً مثلهم قالوا الفداء ويقتل منا .. رواه الترمذی وقال هذا حديث غريب (مشكواة المصابيح كتاب الجهاد باب حكم الأسراء رقم الحديث ۳۹۷۳)_

[3])سورة الأنفال:۶۷و ۶۸)_

دی.چه ددوی قیدیان باقی پاتې شی.(بلکه چه قتل کړې شی) ترڅوچه هغه په زمکه کښې د(دکافرانو) ښه وینه تویه نکړی.تاسو دنیا اوودې مال او اسباب غواړئ.او الله تعالی د آخرت (مصلحت) غواړی.اوالله تعالی د لوې حکمت خاوند دې.که دالله تعالی لیکل (د ازل) نه وو.نوکومه طریقه چه تاسو اختیار کړې ده.دهغې په باره کښې به په تاسو باندې لوېه سزا واقع شوې وه.

په حدیث کښې راځی.چه نبی ﷺ نزدې یوې ونې طرف ته اشاره اوکړه.او وې فرمائیل.چه عذاب دې ونې ته نزدې راغلې وو.اووې فرمائیل.که عذاب راغلې وو.نود عمر او سعد بن معاذ رضی الله عنهما نه سوا به ترې بل څوك نه وو بچ شوی.(1)

اوس سوال دا دې.چه دحضرت علی رضی الله عنه ددې روایت مطابق چه الله تعالی په قتلولو اوفدیه اخستلو کښې اختیار ورکړې وو.اوصحابو رضی الله عنهم د فدیې صورت اختیار کړو .نو په دې باندې دا وعید ولې نازل شو.

علامه طیبی رحمه الله په شرح دمشکاة کښې فرمائیلی دی.چه په اصل کښې دا اختیار دامتحان دپاره ورکړې شوې وو.کله څنګه چه د قرآن کریم په آیت ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ۝ وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ۝﴾ کښې ازواج مطهراتو ته اختیار د امتحان دپاره ورکړې شوې وو.دغه شان هاروت اوماروت دوه فرښتې چه د سحر دتعلیم دپاره کله راکوزې کړې شوې وې.نو د هغې مقصد هم امتحان وو.چه آیا دا خلق کفر کوی.او هلاکیږی. اوکه ددې نه بچ کیږی.او نجات مومی.دغه شان په معراج کښې نبی ﷺ ته د پیو اوشرابو پیاله ورکړې شوې وه.نبی ﷺ پئ اختیار کړلو.نو حضرت جبرئیل علیه السلام اوفرمائیل .((لوأخذت الخمر لغوت أمتك)) هلته هم چه نبی ﷺ ته کوم اختیار ورکړې شوې وو.هغه د امتحان دپاره وو.دغه شان دلته هم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته اختیار د امتحان دپاره ورکړې شوې وو.چه مسلمانان به ددې قیدیانو په باره کښې د قتل صورت اختیاروی .کوم چه د الله تعالی په نیز زیات خوښ وو.اوکه فدیه اخلی.کله چه مسلمانانو د فدیهٔ صورت اختیار کړو.نو عتاب نازل شو.بهرحال علامه طیبی رحمه الله دا جواب ورکړې دې.(2)

---

(1) سیرة مصطفی (۱۱٤\۲) بحواله د زرقانی (۱\۳۴۲)_~

(2) په اصل کښې دا اشکال واردیږی.د حضرت علی رضی الله عنه په ذکرشوی روایت باندې په کوم کښې چه داسیران بدر په باره کښې د قتل او فدیه اختیار دې.څکه چه اختیار دا تقاضا کوی.چه عتاب دې نازل نشی.دعتاب نزول ددې خبرې دلیل دې.چه اختیار نه وو ورکړې شوې.صحابو رضی الله عنهم دخپل طرف نه رائې قائم کړه.اوعمل ئې اوکړو.په دې سلسله کښې مروی ټولو احادیثو کښې د الله تعالی د طرفه د قتل او فدیهٔ په مینځ کښې د اختیار ورکولو څه ذکر نشته.،،
ددې وجې دحضرت علی رضی الله عنه ذکرشوې روایت د قرآن پاك د عتاب د آیت سره اود احادیثو د ظاهری مفهوم سره په ظاهره صحیح نه ښکاری.هم دا وجه ده.چه حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې حدیث د نقل کولو نه پس وائی.چه ((وهذا حدیث غریب جداً)) البدایة والنهایة (۲۹۸\۱۳).،
علامه توریشتی رحمه الله ددې حدیث په باره کښې لیکی،، ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

دا خبره دې ضرور په ذهن کښې کینولې شی.چه پخپله د نبی ﷺ او دحضرت ابوبکر رضی الله عنه رائې دا وه.چه فدیه دې واخستې شی.خو وعید ددوی دپاره نه وو.ځکه چه دهغوی مقصد د فدیه اخستو نه د اسلام فلاح اوکامیابی اود اسلام نفاذ وو.څه نور حضرات وو. چه د هغوی مقصد مال وو.اګرچه د فدیه مال اخستل حلال وو.خو بیا هم د حلال مال اخستلو قصد د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د منصب سره مناسب نه وو.ددې وجې الله تعالی په دې باندې د خفګان اظهار اوکړو.دا په حقیقت کښې تربیت وو.دصحابو رضی الله عنهم چه دمحمد ﷺ په خدمت کښې د اوسیدو نه پس هم ستاسو نظر دنیا طرف ته څی. ددې وجې د دې آیت نه بعضې عالمانو دا استدلال کړې دې.چه انبیاء علیهم السلام هم کله اجتهاد کوی.او دوی کله په خپل اجتهاد کښې غلط او خطا کیږی هم.خوالله تعالی خپل یو پیغمبر هم په غلطئ باندې نه پریږدی.د وحی په ذریعه په هغې باندې تنبیه رالیږی.

د انبیاء او فقهاؤ په اجتهاد کښې فرق: دې سره سره دا خبره هم په ذهن کښې ساتل پکار دی. چه دنبی ﷺ اجتهاد د فقهاؤ د اجتهاد پشان نه دې.دا اصولی خبره په ذهن کښې کینول پکار دی.چه د انبیاؤ علیهم السلام اجتهاد دوحی خفی په حکم کښې وی.اوکه په هغې باندې دالله تعالی د طرفه څه ترمیم نازل نشو.نو بیا هغه وحی خفی ،وحی جلی ګرځی.اوکه دهغې په باره کښې څه ترمیم راشی.دالله تعالی د طرفه، نو مونږ دا وئیلی شو.چه دهغه وحی خفی منسوخ شوه. په هغه وحی جلی سره کومه چه روستو د ترمیم او تبدیلئ دپاره

...دتیرمخ بقیه حاشیه]((هذا الحديث مشكل جداً لمخالفته ما يدل على ظاهر التنزيل ولما صح من الأحاديث فى أمرأسارى بدر أن أخذ الفداء كان رأياً راؤه .. فعوقبوا عليه ولوكان هناك تخيير بوحى سماوى لم يتوجه المعاقبة عليهم ...)) بیا وړاندې علامه توربشی په دې حدیث کښې تاویل کوی او لیکی.عین ممکن ده.چه دا حدیث دغزوه احد په باره کښې وی.په هغه وخت کښې صحابو رضی الله عنهم ته اختیار ورکړې شوې وو.په راوی باندې اشتباه راغلې ده.اوهغه دا د بدرد قیدیانو په باره کښې بیان کړو.دغه شان هغوی ددې حدیث د تفرد په باره کښې لیکی،،

((ومما جرانا على هذا التقدير سوى ما ذكرناه هو أن الحديث تفرد به يحيى بن زكريا ابن ابى زائدة عن سفيان من بين أصحابه فلم يروه غيره والسمع قد يخطئ والنسيان كثيراً يطرأ على الإنسان (شرح الطيبى (۱۹۱۸)

خو علامه طیبی رحمه الله دحضرت علی رضی الله عنه اوقرآن کښې د عتاب آیت په مینځ کښې تطبیق کړې دې.هغوی لیکی،،

((أقول وبالله التوفيق لا منافاة بين الحديث والآية وذلك أن التخيير فى الحديث وارد على سبيل الإختبار والإمتحان ولله أن يمتحن عباده بما شاء إمتحن الله تعالى أزواج النبى ﷺ بقوله ﴿ ياايها النبى قال لأزواجك إن كنتن تردن الحياة الدنيا وزينتها فتعالين أمتعكن ﴾ الآيتين. وامتحن الناس بتعليم السحر فى قول تعالى ﴿ وما يعلمان من أحد حتى يقولا إنما نحن فتنة ﴾ امتحن الناس بالملكين وجعل المحنة فى الكفر والإيمان بأن يقبل العامل تعلم السحر فيكفر ويؤمن بترك تعلمه ولعل الله تعالى إمتحن النبى ﷺ وأصحابه بين أمرين القتل والفداء وأنزل جبرئيل عليه السلام بذلك هل هم يختارون ما فيه رضا الله تعالى من قتل أعدائه أم يؤثرون الأعراض العاجلة من قبول الفدية؟ فلما إختاروا الثانى عوتبوا بقوله ﴿ ماكان لنبى أن يكون له أسرى..﴾ (شرح الطيبى على مشكاة المصابيح (۱۹۱۸و ۲۰)_

راغلي ده.د انبياؤ په اجتهاد کښې د خطاء او غلطئ احتمال نه وى.بلکه صرف د افضل او فاضل فرق وى.چه د کوم څيز د تبديلئ حکم ورکولې شى.هغه هم خطاء نه وى.البته هغه د ناسخ په مقابله کښې غيراولى اوغير افضل وى.دلته ډير لوئ دليل ددې خبرې دپاره موجود دې.چه رسول اللهﷺ د فديې فيصله اوکړه.او آيت نازل شو.﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرٰى﴾ الآية، د آيت د دې حکم د نزول نه پس هم نبىﷺ فديه برقرار اوساتله. نومعلومه شوه.چه دغه فيصله خطا نه وه.بلکه امتحان اخستې شوې وو.اود امتحان مقصد دا وو. چه اعلى افضل او اولى اختياروى.اوکه غير اولى او غير افضل اختياروى.نو اختيار کړې شو.غير اولى او غير افضل،اوبيا هغه ددې دپاره برقرار اوساتلې شو.چه هغه هم جائز وو.نو د انبياؤ په اجتهاد کښې چه کومه خطا او لغزش اوشى.هلته فرق د جائز او نا جائز اود خطاء اوثواب نه وى.بلکه هلته د راجح او ارجح، د فاضل او افضل اولى او غير اولى وى. ددې وجې چه د نبىﷺ نه چرته هم په اجتهاد کښې خطا شوې ده.نودهغې مطلب دا نه دې. چه والعياذبالله نبىﷺ حق پريخودې دې.اود باطل مرتکب شوې دې. بلکه دهغې مطلب دا دې.چه نبىﷺ په هيره باندې د اولى او افضل په مقابله کښې خلاف اولى کار اوکړو. هغه لغزش اګرچه د نبىﷺ د شان په اعتبار سره قابل مواخذه وى.خوبيا هم په هرحال هغه صحيح او جائز وو.

بَابُ ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُقْتَلُ بِبَدْرٍ

دغزوه بدر په اغاز کښې ددې ترجمة الباب وجه: امام بخارى رحمه الله دغزوه بدر شروع کوى.خود غزوه بدر شروع خو د وړاندې «باب قصة غزوة بدر» نه کيږى.سوال دا پيدا کيږى.چه امام بخارى رحمه الله لره پکار وو.چه دا ترجمه ئې ددې ځائې په ځائې دغزوه بدر په اختتام کښې راوړې وه.هغوى دا دلته د غزوه بدر نه وړاندې ولې ذکر کړه.دا ترجمه ئې وړاندې راوړه.په حقيقت کښې دې نکتې طرف ته اشاره وه.چه رسول اللهﷺ په جنګ بدر کښې دقتليدونکو کسان ذکر د غزوه بدر واقعه پيښيدو نه وړاندې کړې وو.چونکه امام بخارى رحمه الله د نبىﷺ په اتباع کښې ډير ممتاز وو.ددې وجې هغوى دده ذکر وړاندې اوکړو.

دا شو ددې ترجمې دغزوه بدر سره د تعلق په وجه د غزوه بدر نه د وړاندې ذکر کولو سبب، ددې نه پس روايت دې.

[٣٦٣٢] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حَدَّثَ عَنْ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ أَنَّهُ قَالَ كَانَ صَدِيقًا لِأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَكَانَ أُمَيَّةُ إِذَا مَرَّ بِالْمَدِينَةِ نَزَلَ عَلَى سَعْدٍ وَكَانَ سَعْدٌ إِذَا مَرَّ بِمَكَّةَ نَزَلَ عَلَى أُمَيَّةَ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ انْطَلَقَ سَعْدٌ مُعْتَمِرًا فَنَزَلَ عَلَى أُمَيَّةَ بِمَكَّةَ فَقَالَ لِأُمَيَّةَ انْظُرْ لِي سَاعَةَ خَلْوَةٍ لَعَلِّي أَنْ أَطُوفَ بِالْبَيْتِ فَخَرَجَ بِهِ قَرِيبًا مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ فَلَقِيَهُمَا أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ يَا أَبَا صَفْوَانَ مَنْ هَذَا مَعَكَ فَقَالَ هَذَا سَعْدٌ فَقَالَ لَهُ أَبُو جَهْلٍ أَلَا أَرَاكَ تَطُوفُ بِمَكَّةَ آمِنًا وَقَدْ أَوَيْتُمْ

الصُّبَاةَ وَزَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ تَنْصُرُونَهُمْ وَتُعِينُونَهُمْ أَمَا وَاللَّهِ لَوْلَا أَنَّكَ مَعَ أَبِي صَفْوَانَ مَا رَجَعْتَ إِلَى أَهْلِكَ سَالِمًا فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ وَرَفَعَ صَوْتَهُ عَلَيْهِ أَمَا وَاللَّهِ لَئِنْ مَنَعْتَنِي هَذَا لَأَمْنَعَنَّكَ مَا هُوَ أَشَدُّ عَلَيْكَ مِنْهُ طَرِيقَكَ عَلَى الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ أُمَيَّةُ لَا تَرْفَعْ صَوْتَكَ يَا سَعْدُ عَلَى أَبِي الْحَكَمِ سَيِّدِ أَهْلِ الْوَادِي فَقَالَ سَعْدٌ دَعْنَا عَنْكَ يَا أُمَيَّةُ فَوَاللَّهِ لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُمْ قَاتِلُوكَ قَالَ بِمَكَّةَ قَالَ لَا أَدْرِي فَفَزِعَ لِذَلِكَ أُمَيَّةُ فَزَعًا شَدِيدًا فَلَمَّا رَجَعَ أُمَيَّةُ إِلَى أَهْلِهِ قَالَ يَا أُمَّ صَفْوَانَ أَلَمْ تَرَيْ مَا قَالَ لِي سَعْدٌ قَالَتْ وَمَا قَالَ لَكَ قَالَ زَعَمَ أَنَّ مُحَمَّدًا أَخْبَرَهُمْ أَنَّهُمْ قَاتِلِيَّ فَقُلْتُ لَهُ بِمَكَّةَ قَالَ لَا أَدْرِي فَقَالَ أُمَيَّةُ وَاللَّهِ لَا أَخْرُجُ مِنْ مَكَّةَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ اسْتَنْفَرَ أَبُو جَهْلٍ النَّاسَ قَالَ أَدْرِكُوا عِيرَكُمْ فَكَرِهَ أُمَيَّةُ أَنْ يَخْرُجَ فَأَتَاهُ أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ يَا أَبَا صَفْوَانَ إِنَّكَ مَتَى مَا يَرَاكَ النَّاسُ قَدْ تَخَلَّفْتَ وَأَنْتَ سَيِّدُ أَهْلِ الْوَادِي تَخَلَّفُوا مَعَكَ فَلَمْ يَزَلْ بِهِ أَبُو جَهْلٍ حَتَّى قَالَ أَمَّا إِذْ غَلَبْتَنِي فَوَاللَّهِ لَأَشْتَرِيَنَّ أَجْوَدَ بَعِيرٍ بِمَكَّةَ ثُمَّ قَالَ أُمَيَّةُ يَا أُمَّ صَفْوَانَ جَهِّزِينِي فَقَالَتْ لَهُ يَا أَبَا صَفْوَانَ وَقَدْ نَسِيتَ مَا قَالَ لَكَ أَخُوكَ الْيَثْرِبِيُّ قَالَ لَا مَا أُرِيدُ أَنْ أَجُوزَ مَعَهُمْ إِلَّا قَرِيبًا فَلَمَّا خَرَجَ أُمَيَّةُ أَخَذَ لَا يَنْزِلُ مَنْزِلًا إِلَّا عَقَلَ بَعِيرَهُ فَلَمْ يَزَلْ بِذَلِكَ حَتَّى قَتَلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِبَدْرٍ

حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه فرمائي.چه دې دوست وو دامیه بن خلف ددوی په مینځ کښې د جاهلیت د زمانې نه دوستانه تعلقات وو.

قوله: وَكَانَ أُمَيَّةُ إِذَا مَرَّ بِالْمَدِينَةِ نَزَلَ عَلَى سَعْدٍ وَكَانَ سَعْدٌ إِذَا مَرَّ بِمَكَّةَ نَزَلَ عَلَى أُمَيَّةَ: اوامیه چه به کله په مدینه تیریدو.یعنی د تجارت په غرض چه به ئې کله د شام تجارت کولو.اومدینه به په لاره کښې راتله.نودهغه قیام به د حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه سره وو.اوکله چه حضرت سعد په مکه باندې تیریدلو.مثلاً دا چه کله به هغه دحج یا عمرې دپاره تلو.نود امیه سره به دیره کیدو.

قوله: فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ انْطَلَقَ سَعْدٌ مُعْتَمِرًا فَنَزَلَ عَلَى أُمَيَّةَ بِمَكَّةَ فَقَالَ لِأُمَيَّةَ انْظُرْ لِي سَاعَةَ خَلْوَةٍ لَعَلِّي أَنْ أَطُوفَ بِالْبَيْتِ: نوکله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت اوکړو.نو حضرت سعد رضي الله عنه دعمرې دپاره راغلو.اوامیه سره دیره شو.حضرت سعد رضي الله عنه امیه ته اووئیل.زما دپاره خالنه وخت اوګوره.چه زه د بیت الله طواف اوکړم.

قوله: فَخَرَجَ بِهِ قَرِيبًا مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ فَلَقِيَهُمَا أَبُو جَهْلٍ: نوامیه حضرت سعد رضي الله عنه د نصف النهار په وخت کښې بوتلو.او وې وئیل دا وخت د نمر دې.ګرمی زیاته وی.خلق په کورونو کښې دننه وی.ځکه امیه دا وخت مناسب اوګڼرلو.خوپه لاره کښې ورته ابوجهل ملاؤ شو.

قوله: فَقَالَ يَا أَبَا صَفْوَانَ مَنْ هَذَا مَعَكَ فَقَالَ هَذَا سَعْدٌ فَقَالَ لَهُ أَبُو جَهْلٍ أَلَا أَرَاكَ تَطُوفُ بِمَكَّةَ آمِنًا وَقَدْ أَوَيْتُمُ الصُّبَاةَ وَزَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ تَنْصُرُونَهُمْ وَتُعِينُونَهُمْ أَمَا وَاللَّهِ لَوْلَا أَنَّكَ مَعَ أَبِي صَفْوَانَ مَا رَجَعْتَ إِلَى أَهْلِكَ سَالِمًا: ابوجهل اوونيل.اې ابوصفوان! دا تاسره څوك دى.(ابوصفوان د اميه كنيت دى) اميه ورته اوونيل.دا سعد دى.نوابوجهل سعد رضي الله عنه ته اوونيل.ولې زه نه گورم.چه ته په مكه كښې داسې بغيرويرې په اطمينان سره گرځې.حالانكه تاسو د خپل نيكه دين نه اوړيدونكى كسانو ته ځاې وركړې دې.(صباة، دصابى جمع ده.بعضې خلق وائى.صابى هغه كس ته وائى.چه د يو دين نه بل دين ته اوړيدلې وى.چونكه صحابو رضي الله عنهم د بت پرستئ طريقه پريخودې وه.او په دين اسلام كښې داخل شوى وو.څكه ابوجهل ورته ،،صباة،، اوونيل.) اودا صرف نه چه ځاې مو ورته وركړې دې.بلكه ستاسو دا وينا هم ده.چه تاسوبه د هغوى مدد كوئ.په الله قسم كه ته د ابوصفوان سره نه وې.او ده تا ته پناه نه وه دركړې.نو ته به په خيريت سره خپل كور ته نه وې تلې.

قوله: فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ وَرَفَعَ صَوْتَهُ عَلَيْهِ أَمَا وَاللَّهِ لَئِنْ مَنَعْتَنِي هَذَا لَأَمْنَعَنَّكَ مَا هُوَ أَشَدُّ عَلَيْكَ مِنْهُ طَرِيقَكَ عَلَى الْمَدِينَةِ: نوحضرت سعد رضي الله عنه ورته اوونيل.او خپل آواز ئې په هغه باندې اوچت كړو.(يعنى څومره په زوره چه ابوجهل خبره كړې وه.دهغې نه زياته په زوره خبره حضرت سعد رضي الله عنه جواب وركړو) په الله قسم كه تا زه په مكه كښې په اطمينان سره د گرځيدو نه منع كړم.نو زه به خامخا تاسو دهغه څيز نه منع كړم.كوم چه به ستاسو دپاره زيات سخت اوگران وى.يعنى ستاسو لاره چه په اهل مدينه باندې تيريږى.

قوله: طَرِيقَكَ عَلَى الْمَدِينَةِ: منصوب دې.اوبدل واقع شوې دې.د ((ما هو أشد عليك)) نه،او((ماهوأشدعليك)) مفعول ثانى دې.د ((لأمنعن))دپاره،دويم صورت دا دې.چه ((طريقك على أهل المدينة)) تاسو مرفوع اووائې.او مبتدا محذوف ((هو)) اوگرځولې شى.

قوله: فَقَالَ لَهُ أُمَيَّةُ لَا تَرْفَعْ صَوْتَكَ يَا سَعْدُ عَلَى أَبِي الْحَكَمِ سَيِّدِ أَهْلِ الْوَادِي: اميه آخر كافر وو.او دابوجهل خيال ساتل دهغه مقصود وو.ددې وجې اميه حضرت سعد رضي الله عنه ته اوونيل.ته خپل آواز د ((سيد أهل الوادى)) په مقابله كښې مه اوچتوه.دا د ادب تعليم وركولې شى.چه دا د ((أهل الوادى)) سردار دې.ده سره په خبروكښې آواز پورته كول نه دى پكار.

قوله: فَقَالَ سَعْدٌ دَعْنَا عَنْكَ يَا أُمَيَّةُ: نو سعد رضي الله عنه اوونيل.اميه زمونږ نه اخوا شه.په الله قسم ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلى دى.چه د نبى صلى الله عليه وسلم ملگرى به تا قتلوى.
اوس د اميه نه د ابوجهل د ادب اواكرام خبره هيره شوه.هغه سره دخپل ځان فكر شو.څكه چه هغه ته پته وه.چه د نبى صلى الله عليه وسلم ارشاد غلط نه وى.ددې وجې ئې سمدستى تپوس اوكړو.((قال بمكة)) ما به په مكه كښې قتلوى. حضرت سعد بيا د عدم التفات اظهار اوكړو.او ورته ئې اوونيل.ماته څه پته نشته.((فَفَزِعَ لِذَلِكَ أُمَيَّةُ فَزَعًا شَدِيدًا))په دې خبره سره اميه ډير وارخطا شو.

امیه چه کله کور ته راغلو.نو وې وئیل ام صفوان تاته معلومه نه ده.چه سعد څه اووئیل.
ښځې ترې تپوس اوکړو.سعد تا ته څه اووئیل؟ وې وئیل سعد وائی.چه محمد (ﷺ) دوی ته خبر ورکړې دې.چه هغه کسان (صحابه رضی الله عنهم) به ما قتلوی.ما چه ترې کله تپوس اوکړو.چه په مکه کښې نوهغه د لاعلمئ اظهار اوکړو.ددې نه پس امیه اووئیل.((والله لا أخرج من مكة)) په الله قسم زه به د مکې نه بهرته نه اوځم.ځکه چه مکه خپل وطن دې. اوپه وطن کښې دننه د حفاظت اسباب په آسانیتا سره ملاویږی.هسې هم مکه حرم دې.اوحرم د امن ځاې دې.ددې وجې هغه سوچ اوکړو.چه دمکې نه بهرته وتل خطراتو ته دعوت ورکول دی.
کله چه د بدر ورځ شوه.نو ابوجهل دلښکر په صورت کښې د خلقو نه د وتلو مطالبه اوکړه.
او وې وئیل چه د خپلې تجارتی قافلې حفاظت اوکړئ.(ددې تفصیل تیر شوې دې) نوامیه وتل نه خوښول.هغه سره ویره وه.که زه دمکې نه بهرته لاړم.نو وژلې به شم.ابوجهل راغلو.
اوده ته ئې اووئیل.اې ابوصفوان! چه کله خلق تا اوګوری.چه ته روسته پاتې شوې.او لښکرکښې تلو ته تیار نه ئې.حالانکه ته د اهل مکه سردار ئې.نوهغوی به هم روسته پاتې شی.ابوجهل ورته مسلسل وینا کوله.آخردا چه امیه اووئیل.هرکله چه ته په ما باندې غالب شوې.نوپه الله قسم چه زه به د خپلې سورلئ دپاره د مکې غوره اوښ اخلم.(اوکه په لاره کښې راته کله موقع ملاؤ شی.نو زر به واپس راځم)
بیا امیه اووئیل اې ام صفوان (دا د امیه ښځه وه) زما تیارې مکمل کړه.ښځې ورته اووئیل تا د خپل یثربی ورور (حضرت سعد رضی الله عنه) خبره هیره کړه.وې وئیل نه هغه چرته هیرولې شم.ما خو د نزدې ځاې پورې د تلو اراده کړې ده.مطلب دا چه نور خلق دې اوګوری.او ورسته پاتې نشی.کله چه لښکر روان شو.نو د امیه خیال وو.چه موقع ورته څنګه ملاؤ شی.واپس به راشی.

قوله: فَلَمَّا خَرَجَ أُمَيَّةُ أَخَذَ لَا يَنْزِلُ مَنْزِلًا إِلَّا عَقَلَ بَعِيرَهُ فَلَمْ يَزَلْ بِذَلِكَ حَتَّى قَتَلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِبَدْرٍ: امیه چه کله روان شو.نو په لاره کښې چه به په کوم منزل باندې هم کوزیدل.نو امیه به خپل اوښ تړل.مطلب دا چه کله په یوځاې کښې کوز شو.نو نورو خلقو به خپل اوښان د څریدو دپاره آزاد پریخودل.او امیه به خپل اوښ تړل.چه موقع ورته ملاؤ شی.نو په اوښ به سور شی.او مکې ته به واپس لاړ شی.امیه په ټوله لاره هم داسې کول.خو کامیاب نشو.تردې چه الله تعالی هغه په بدر کښې هلاك کړو.

په جنګ بدرکښې د امیه بن خلف د قتل واقعه: دده د قتل واقعه داسې پیښه شوه.چه د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه او امیه په مینځ کښې تعلقات وو.دحضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه خواهش وو.چه امیه قتل نشی. کیدې شی.ده ته روسته د اسلام سعادت نصیب شی.
ددې وجې حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه د امیه اودهغه د خوې لاس اونیولو.حضرت بلال رضی الله عنه اوکتل.او نعره ئې اوچته کړه.((لانجوت إن نجا امية)) که امیه بچ شو.نو زه به ژوندې نه اوسم.او انصار ئې هغه طرف ته متوجه کړل.نو انصار وریسې شول.اول خو عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه دامیه خوې هغوی ته مخامخ کړو.په دې خیال چه دده په قتلولوکښې به مشغول شی.او په

دومره وخت کښې به زه اميه اوباسم. خو انصارو ډير زر د اميه څوي هلاك کړو.اوبيا ئې د اميه تعاقب شروع کړو.کله چه عبدالرحمن رضي الله عنه اوکتل.چه هغوی دوباره راځي.او اوس د تيختې څه لار نشته .نو هغه اميه لاندې سملولو.او په خپله دهغه په خيټه باندې سملاستلو.او مقصد ئې دا وو.چه ما وربانديې دپاسه اووينی.دا خلق به په دې خيال كه اميه قتلوی.هسې نه چه عبدالرحمن قتل شی.کيدې شی دې پريږدی.خودا کسان دهغې جذبې په وجه کومه چه د کفر په مقابله کښې ددوی په زړونو کښې موجود وه.مجبور وو.هغوی د عبدالرحمن دا چل هم ناکامه کړو.څکه چه د اميه لاش ښه غټ وو.عبدالرحمن رضي الله عنه چه کله دهغه دپاسه سملاستلو.نو دهغه قتلول نور هم ښه آسان شو.اوپه اذيت ناکه طريقه ئې هغه قتل کړوز. اوهغه دا چه دښکته نه ئې هغه په نيزو او په تورو باندې وهل.په دې کښې د عبدالرحمن پښه هم زخمي شوه.خو بې وسه شو.او اميه بن خلف هم هغوی جهنم ته اورسولو.

ترجمة الباب سره مناسبت: نبی صلی الله علیه وسلم چه دکومو کسانو د قتل پيشنګوئی کړې وه.په هغوی کښې اميه بن خلف هم وو.ددې وجې د ترجمة الباب «باب ذكر النبی صلی الله علیه وسلم من يقتل ببدر» سره مناسبت ښکاره دې.

۳=بَاب قِصَّةِ غَزْوَةِ بَدْرٍ

امام بخاری رحمه الله ددې ځاې نه غزوه بدر ذکر کوی.د غزوه بدر تفصيلات کوم چه تيرشو.هم دهغه تفصيلاتو اعاده به د بخاری په رواياتو اودبخاری د ابوابو په ضمن کښې کيږی.امام بخاری رحمه الله عنوان قائم کړې دې.«باب قصة غزوة بدر» او ددې نه پس ئې آيت ﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ﴾ الآية .دا د امام بخاری رحمه الله عادت دې.چه دوی د ترجمة الباب سره اکثر د آياتونو ذکر هم کوی.د آياتونو ذکر يو خو ددې دپاره کوی.چه تاسو ته معلومه شی.چه په دې باب کښې چه د کوم مضمون ذکر دې.هغه په دې آيت کښې بيان شوې دې.اوبوه وجه بله دا هم وی.چه امام بخاری رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره کوی.چه په باب کښې څومره تفصيلات بيان شوی دی.ټول ددې آيت نه ماخوذ دی.دا آيات ددې تفاصّيلو او مسائلو ماخذ دې.نود آيت تعلق هم د باب د مضمون سره خودل مقصود وی.اودا هم خودل وی.چه کوم تفصيلات مونږ بيانوو.هغه ټول ددې آيت نه ماخوذ دی. دلته ارشاد ربانی دې.

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی ﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ۝ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ۝ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ۗ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ۝ ﴾

او الله تعالی ستاسو مدد اوکړو.دبدر په جنګ کښې حالانکه تاسو کمزوری وئ. نوتاسو دالله نه ويريږئ.دې دپاره چه تاسو شکر اوکړې شئ.کله چه تا مسلمانانو ته وئيل .ولې ستاسو دپاره کافی نه ده.چه ستاسو رب د آسمان نه راکوزيدونکو درې زره فرشتې ستاسو د مدد دپاره راوليږی.اوکه تاسو صبر اوکړو.او بچ پاتې شوئ.اوهغوی په تاسو هم هغه وخت راغلو.نو ستاسو رب به په نښه دارو اسونو باندې پنځه زره فرښتې راوليږی .اودا خو الله

تعالى ستاسو زړونه خوشحاله كړل.اودې دپاره چه ستاسو زړونوته په دې سره تسكين ملاؤ شى.او مدد صرف دالله تعالى د طرفه دې.چه زبردست اود حكمت خاوند دې.دې دپاره چه بعضې كافرانو لره هلاك كړى.يا هغوى ذليل كړى.اوهغوى محرومه واپس شى.

«وأنتم أذلة» دلته د «أذلة» لفظ د كمزور د معنى دپاره دې.يعنى الله تعالى ستاسو مدد اوكړو. په داسې حالت كښې چه تاسو كمزورى وئې. تاسو ضعيفان او عاجزان وئې. اوپه تاسو كښې د مشركانود لوې لښكر د مقابلې طاقت نه وو.«أذلة»چه د ذليل جمع ده.ددې معنى دا نه ده.چه تاسو حقير او سپك وئى.بلكه ددې معنى كمزورې او عاجز ده.

فائده: حضرت شاه اسماعيل شهيد رحمه الله په يوځاې كښې ليكلى دى.(١) چه هرمخلوق د الله تعالى وړاندې ذليل دې.نو هلته د حضرت شاه صاحب رحمه الله مطلب دا دې.چه د الله تعالى هرمخلوق كمزورې دې.او الله تعالى طاقتور دې.مخلوق ضعيف دې.او الله تعالى قوى دې.دحضرت شاه صاحب دكلام مطلب دا نه دې.چه مخلوق د الله تعالى وړاندې حقير،ادنى اوخسيس دې.لكه څنګه چه بعضې حضراتو ددې دا مطلب راويستې دې.او وئيلې ئې دى.چه حضرت اسماعيل شهيد رحمه الله دالله تعالى وړاندې مخلوق ته ذليل وئيلى دى.او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم چونكه په مخلوق كښې شامل دې.د دې وجې شاه اسماعيل رحمه الله معاذالله د رسول الله صلى الله عليه وسلم توهين كړې دې.

خودا الزام سراسر غلط او بهتان دې.وړاندې بيان اوشو.چه په آيت كښې د «أذلة» لفظ دكمزورى او ضعيف په معنى دې.دحقير او خسيس په معنى كښې نه دې.دغه شان شاه صاحب چه څه وئيلى دى.چه هر مخلوق دالله تعالى په مقابله كښې ذليل دې.د هغې مطلب دا دې.چه دالله تعالى وړاندې مخلوق كمزورې او عاجز دې.دحضرت شاه صاحب هرګزدا مطلب نه دې.چه مخلوق د الله تعالى وړاندې حقير او سپك دې.

﴿اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ﴾ په باره كښې د اكثرو حضراتو رائې دا ده. چه ددې تعلق د ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ﴾ سره دې.اودامام بخارى رحمه الله دعمل نه هم دا ثابتيږى.ځكه چه دوى قصه د بدر بيانوى.اودهغې په ضمن كښې ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ﴾ ذكر كوى.او ﴿اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ....﴾ هم امام بخارى رحمه الله په غزوه بدر كښې بيان كړو.نو معلومه شوه.چه د امام بخارى رحمه الله په نيز هم د آيت ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ﴾ تعلق د بدر سره دې.اودا آيت د غزوه بدر سره متعلق دې.خود حضرت عكرمه رحمه الله او بعضې نورو حضراتو رائې دا ده.چه د﴿اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ....﴾ تعلق د ﴿وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ﴾ سره دې.اود ﴿وَاِذْ غَدَوْتَ﴾ دا آيت د غزوه احد سره متعلق دې.نودحضرت عكرمه رحمه الله ددې تفسيرى قول په اعتبارسره د ﴿اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ....﴾ تعلق هم د احد سره دې.د غزوه بدر سره نه دې.(٢)

---

(١) اوګورئ تاليفات رشيديه (ص،٨٩)_

(٢) وأما قوله ﴿إذ تقول للمؤمنين﴾ فاختلف فيها أهل التاويل فمنهم من قال هى [بقيه حاشيه په راروان مخ...

خولکه څنګه چه معلومه شوه.چه امام بخاري رحمه الله دخپل طریقې نه دا ښکاره کړه.چه ددې آیت تعلق د غزوه بدر سره دې.د دې تائید د ابن ابي حاتم د روایت نه هم کیږی.کوم چه هغوی د شعبی نه په صحیح سند سره نقل کړې دې.(۱) چه په یوم بدر باندې مسلمانانو ته دا خبر ملاؤ شو.چه جابر فهری دمشرکانود امداد دپاره یولوې لښکر راروان کړې دې. راځی. نوپه هغه وخت کښې الله تعالی د مسلمانانود تسلی او اطمینان دپاره دا آیت نازل کړو. د ابن ابی حاتم د روایت نه ښکاره واضحه ده.چه ددې آیت تعلق د غزوه بدر سره دې.

ددې نه پس دلته ذکر دې د درې زره فرښتو او ددې نه پس د پنځو زرو فرښتو ذکر دې.او په سورة انفال کښې د یو زر فرښتو ذکر دې.نو سوال دا پیدا کیږی.چه دا درې زره او پنځه زره او یو زر فرښتې راغلې وې که نه؟

په دې باره کښې یوه خبره خو دا هم شوې ده.چه یو زر فرښتې راغلې وې.او ددې نه پس درې زره فرښتې راغلې وې.اودهغې نه پس پنځه زره راغلې وې.حضرت قتاده د حضرت ربیع بن انس رحمه الله نه هم دا نقل کوی.چه ترپنځو زرو پورې فرښتې راغلې وې.(۲) اوقاضی بیضاوی رحمه الله هم دا نقل کړی دی.او د بعضې حضراتو رائې دا ده.چه د پنځو زرو فرښتو د راتلو نوبت نه وو راغلی.اوپه یو زر او درې زره فرښتو سره مدد شوې وو.(۳)

دلته دې دا خبره په ذهن کښې وی.چه فرښتې خو په احد کښې هم راغلې وې.او په حنین کښې هم،او په بدر کښې هم ،خود بدر خصوصیت دا دې.چه د بدر په موقع فرښتو په قتال کښې هم شرکت کړې دې.اوپه حنین کښې د دوی نزول صرف د خیر اوبرکت دپاره وو.اود احد په باره کښې دا وئیلی شوی دی.چه هغوی په قتال کښې شرکت نه دې کړې.هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حفاظت دپاره راغلې وې.

بهرحال چونکه د بدر واقعه ده.او دهغې یو عظیم الشان جزء دا دې.چه الله تعالی هلته د مسلمانانود مدد دپاره فرښتې رالیږلې وې.ددې وجې امام بخاری رحمه الله په دې آیت کښې د هغوی ذکر کړې دې.اوښودلې ئې دی.چه په بدر کښې د فرښتو نزول د امداد دپاره وو.

قال ابوعبدالله فورهم: غضبهم.

وَقَالَ وَحْشِيٌّ قَتَلَ حَمْزَةُ طُعَيْمَةَ بْنَ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ يَوْمَ بَدْرٍ

وَقَوْلُهُ تَعَالَى وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمُ الْآيَةَ(۴) الشَّوْكَةُ الْحَدُّ،

...دتیرمخ بقیه حاشیه] متعلقة بقوله ﴿ نصركم ﴾ فعلى هذا هي في قصة بدر،وعليه عمل المصنف وهو قول الأكثر وبه جزم الداودی وقیل هي متعلقة بقوله﴿وإذ غدوت﴾ فعلى هذا فهى متعلقة بغزوة أحد وهو قول عكرمة وطائفة انظر فتح الباری (۷\۲۸۵)_

(۱) فتح الباری(۷\۲۸۵)_

(۲) فتح الباری (۷\۲۸۵)-

(۳) ایضاً_

(۴) الأنفال:۷)_

[۳۷۳۵] حَدَّثَنِیْ یَحْیٰی بْنُ بُکَیْرٍ حَدَّثَنَا اللَّیْثُ عَنْ عُقَیْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ کَعْبٍ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ کَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ کَعْبَ بْنَ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَقُوْلُ لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا إِلَّا فِیْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَیْرَ أَنِّیْ تَخَلَّفْتُ عَنْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ یُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا إِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُرِیْدُ عِیْرَ قُرَیْشٍ حَتّٰی جَمَعَ اللّٰهُ بَیْنَهُمْ وَبَیْنَ عَدُوِّهِمْ عَلٰی غَیْرِ مِیْعَادٍ [ر: ۲۶۰۶]

قوله: وَقَالَ وَحْشِیٌّ قَتَلَ حَمْزَةُ طُعَیْمَةَ بْنَ عَدِیِّ بْنِ الْخِیَارِ یَوْمَ بَدْرٍ: دلته د طعیمه بن عدی بن الخیار ذکر دې.خو دا د راوی وهم دې.صحیح «طعیمة بن عدی بن نوفل» دې.دا حضرت وحشی دې.چه د حضرت حمزه رضی الله عنه قاتل دې.دلته امام بخاری دا ښائی.چه حضرت حمزه رضی الله عنه په جنګ احد کښې وحشی ولې قتل کړې وو؟ځکه چه حضرت حمزه رضی الله عنه طعیمه بن عدی په بدر کښې قتل کړې وو.د طعیمه وارثانو د جنګ احد په موقع باندې حضرت وحشی ته لالچ ورکړو.که تا حمزه رضی الله عنه قتل کړو.نوموږ به تا آزاد کړو.نوهغه د خپلې آزادئ په لالچ کښې په غزوه احد کښې حضرت حمزه رضی الله عنه شهید کړو.

دا واقعه به په تفصیل سره وړاندې راشي.دلته خو ئې صرف په دې مناسبت سره ذکر کوی.چه حضرت حمزه رضی الله عنه طعیمه په جنګ بدر کښې قتل کړې وو.چونکه ذکر د بدر دې.اودا جزء هم چه د حضرت حمزه رضی الله عنه طعیمه لره قتلول په جنګ بدر کښې پیښ شوې وو.ددې وجې ئې دلته بیان کړه.

وړاندې ددې نه پس دویم آیت دې.﴿وَإِذْ یَعِدُکُمُ اللّٰهُ إِحْدَی الطَّائِفَتَیْنِ﴾الآیة، امام بخاری رحمه الله دا ښائی.چه د الله تعالی دا وعده هم د بدر په باره کښې وه.د دې نه پس د حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه روایت دې.هغوی فرمائی.

قوله: لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا إِلَّا فِیْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَیْرَ أَنِّیْ تَخَلَّفْتُ عَنْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ یُعَاتَبْ أَحَدٌ: یعنی زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په هیڅ یوه غزوه کښې په کوم کښې چه هغوی شرکت کړې وو.نه یم پاتې شوې.سوا د غزوه تبوك نه.خو په بدر کښې هم متخلف شوې ووم.

یوددوی تخلف دغزوه بدر نه دې.او بل ددوی تخلف د غزوه تبوك نه دې.ددې ددو غزواتو نه علاوه په باقی نورو ټولو غزواتو کښې دوی د نبی صلی الله علیه وسلم سره شریك شوې وو.

یوه نکته: دلته په ظاهره اشکال دې.چه حضرت کعب بن مالك رضی الله عنه «إلا فی غزوة تبوك وغزوة بدر» ولې اونه وئیل.چه د «إلا» حرف استثناء نه پس ئې د غزوه تبوك سره غزوه بدر هم ذکر کړې وې.خو دوی داسې اونکړل.بلکه «إلا فی غزوة تبوك» نه ئې د «غزوة تبوك» استثناء جدا ذکر کړه.او «غیر أنی تخلفت فی غزوة بدر» سره ئې لفظ د «غیر» راوړلو.او د غزوه بدر نه ئې تخلف جدا ذکر کړو.

ددې وجه دا ده.چه تخلف خو په غزوه تبوك کښې هم شوې وو.او په غزوه بدر کښې هم شوې وو.خو د دواړو تخلف يو شان نه وو.په «غير أني تخلفت في غزوة بدر» کښې ئې لفظ د «غير» راوړلو.اودا ښودل غواړي.چه د غزوه تبوك د تخلف نه د غزوه بدر تخلف مختلف دې.اودا ددې وجې مختلف وو.چه په غزوه بدر کښې په متخلفينو باندې عتاب نه وو.څکه چه په غزوه بدر کښې نبی ﷺ د قتال په اراده باندې نه وو وتلی.هلته خود قريشو دقافلې تعاقب مقصود وو.ددې وجې چه څوك تلی وو.دهغوی دپاره فضيلت وو. اوچه څوك نه وو تلی.په هغوی باندې نکير نه وو.په خلاف دغزوه تبوك، څکه چه په غزوه تبوك کښې د تخلف اجازت نه وو.هلته چه کوم کسان روسته پاتې شوی وو.په هغوی باندې عتاب اوشو.ددې وجې په روايت کښې «إلا في غزوة تبوك» ئې جدا بيان کړو.او «غير أني تخلفت في غزوة بدر» ئې جدا بيان کړو.([1])

قوله: وَلَمْ يُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا إِنَّمَا خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ عِيرَ قُرَيْشٍ حَتَّى جَمَعَ اللَّهُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلَى غَيْرِ مِيعَادٍ: دغزوه بدرنه چه کوم کسان روسته پاتې شوی وو.په هغوی باندې عتاب نه ووکړې شوې. حضرت کعب رضي الله عنه ددې وجه دا خودلې ده.چه د نبی ﷺ اراده خو د قريشو تجارتی قافلې پسې تګ وو.خوالله تعالی دبغيرد څه اندازې نه مسلمانان او ددوی دشمنان جمع کړل.

په دې تجارتی قافله کښې ټول ديرش کسان وو.په بعضې رواياتوکښې دی.چه ټول څلوېښت کسان وو.اوپه بعضوکښې د شپيتو کسانو ذکردې.په دې قافله کښې يوزر اوښان اود پنځوسو زرو دينارو سامان وو.([2]) رسول الله ﷺ ديرش يا څلوېښت يا د شپيتو کسانود تعاقب اراده کړې وه.دهغوی په مقابله کښې دمسلمانانو ډله درې سوه او ديارلس کافی وه.ددې وجې که هلته څوك ايسارشوې وو.نوپه هغه باندې دڅه قسم خفګان اظهار نه وو شوې.ددې په عکس په غزوه تبوك کښې نبی ﷺ د ډيرلوې دشمن د مقابلې په نيت باندې وتلې وو.دلته نبی ﷺ د نفيرعام اعلان کړې وو.اود معذورو کسانونه سوا بل هيچاته د تخلف اجازت نه وو.حضرت کعب بن مالك رضي الله عنه په بدرکښې متخلف وو.خوڅه عتاب پرې نه ووشوې.خوپه غزوه تبوك کښې کله چه دوی تخلف اختيارکړو.نو په دوی باندې ئې سخت خفګان اوکړو.ددې ذکر وړاندې په غزوه تبوك کښې راځی.(انشاءالله)

دشبلی نعمانی مرحوم رحمه الله يو غلط فهمی: ددې ځاې نه دا هم معلومه شوه.چه شبلی نعمانی مرحوم چه څه وئيلی دی.چه رسول الله ﷺ اقدامی جنګ نه دې کړې .اوپه اسلام کښې اقدامی جهاد نشته.ددوی دا وينا غلطه ده.څکه چه نبی ﷺ دلته د قريشو د قافلې کومه اراده کړې وه.دا دنبی ﷺ د طرف نه هم اقدام وو.هغوی دا وائی.چه نه ،نبی ﷺ خو د

---

[1])اوګورئ فتح الباری(۲۸۶/۷)_~

[2])فتح الباری(۲۸۶/۷)_

قريشو دلښکرېه نيت (کوم چه په مدينه منوره باندې د حملې کولو په نيت د مکې نه راوتلی وو.) د دفاع اراده وه.([1])
خو ددوی دا وينا غلطه ده.ځکه چه د قريشو د لښکر روانيدو خوېه هغه وخت کښې وهم اوګمان هم نه وو.کله چه نبی ﷺ د قريشو د تجارتی قافلې دتعاقب اراده اوکړه .په روايت کښې هم دا دی ،چه((انما خرج رسول الله ﷺ يريد عير قريش))د دې نه ښکاره ظاهره ده.چه نبی ﷺ د قريشو د لښکر د دفاع دپاره نه وو وتلې.بلکه نبی ﷺ خو د تجارتی قافلې په تعاقب کښې وتلې وو.اودا د نبی ﷺ د طرفه اقدام وو.وړاندې په روايت کښې دی.((حتی جمع الله بينهم وبين عدوهم علی غير ميعاد)) د وتلوېه وخت کښې خو د مسلمانانو په وهم او ګمان کښې هم دا خبره نه وه.چه د قريشو د لښکر سره به جنګ کيږی.نودا وئيل چه په بدر کښې مسلمانان د قريشود حملې دفع کولودپاره وتلی وو .صحيح نه دی.اوددې روايت نه بيخی خلاف دی.

۴=باب قول الله تعالی ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ۝ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝ إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ۝ إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ۝ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَنْ يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝﴾

هغه وخت ياد کړه.کله چه تاسو خپل رب ته فرياد کولو.(خپل قلت اود کافرانو کثرت چه مو اوليدل) بيا الله تعالی ستاسوخبره واوريده.چه زه به په يو زر فرښتو سره ستاسو مدد اوکړم. کومې چه به پرله پسې راځی.اوالله تعالی دا صرف د مسلمانانو د خوشحالئ او اطمينان قلب دپاره کړې وو.او فتح او نصرت خو د الله تعالی سره دې.بيشکه الله تعالی زبردست اود حکمت خاوند دې.هغه وخت ياد کړئ.کله چه الله تعالی په تاسو باندې پرکالی راوسته. دخپل طرف نه د آرام درکولودپاره، اودآسمان نه ئې اوبه راورولې.چه تاسو پاك کړی.اود شيطان ناپاکی تاسو نه لرې کړی.او ستاسو زړونه مضبوط کړی.او ستاسو قدمونه کلك کړی.ياد کړئ.کله چه الله تعالی فرښتو ته حکم ورکولو.چه زه تاسو سره يم.نوايماندار ثابت قدم کړئ.زه به د کافرانو په زړونو کښې رعب واچوم.نوتاسو د کافرانو څټونه وهئ.اودوی په هريوبند باندې وهئ.ځکه چه دوی د الله تعالی اود هغه د رسول سره دشمنی کړې

---

[1] شبلی نعمانی مرحوم په خپل مشهور کتاب ((سيرة النبی) کښې په مستقل عنوان ((په غزوه بدر دوباره نظر)) قائم کړې دې.اوددې خبرې د ثابتولوکوشش ئې کړې دې.چه ددې غزا مقصد د قريشو د جنګی قافلې مقابله وه.د تجارت په قافله باندې حمله کول مقصد نه وو.اوګورئ ((سيرة النبی ﷺ (۱/۲۰۲)_

ده.او څوك چه الله تعالى او د هغه د رسول سره دشمنى كوى.الله تعالى (هغه ته) سخته سزا وركونكي دي.

① ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ﴾ ددې د تركيب په باره كښې دا خبره شوې ده.چه دا د ﴿وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ﴾ نه بدل دې.([1])

② دويمه خبره دا شوې ده.چه ﴿لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ﴾ كښې د ﴿لِيُحِقَّ الْحَقَّ﴾ سره ددې تعلق دې.([2])

③ اودريمه خبره دا هم شوې ده. چه ((اذكروا))د محذوف سره متعلق دې.([3])

مسلمانانو چه كله اوكتل.چه دكافرانو دا دومره لوې لښكر دې.او زمونږ شمار دوى په مقابله كښې ډيركم دې.نو هغوى اوونيل.((رب انصرنا على عدوك، يا غياث المستغيثين أغثنا))([4]) د مسلمانانوپه دې درخواست باندې الله تعالى دا آيت نازل كړو.

د مردفين معنى: د ،،مردفين،، معنى يا خو دا ده.چه دوى به د مومنانونه پس راځى.او دويمه معنى دا هم بيان شوې ده.چه هغوى به يويل پسې راځى.([5])

يوه شبه اودهغې جواب: دلته يوكس ته دا شبه كيدې شى.چه الله تعالى خو د يوې فرشتې په ذريعه هم د مسلمانانو مدد كولې شو.ددې يو زر او درې زرو او پنځو زرو د شمار څه ضرورت وو؟ يوې فرشتې ته دومره زيات طاقت وركړې شوې دې.چه هغه د زرګونو او لكهونو انسانانو د سترګى په رپ كښې خاتمه كولې شى.

نوتاسو دا وئيلې شئ:چه الله تعالى ته خو په دې باندې هم قدرت حاصل وو.چه هغه بغيرد فرشتې نه د((كن فيكون)) په ذريعه سره د كافرانو خاتمه كړې وه.خو چونكه ابليس په خپله د سراقه بن مالك په شكل كښې اودهغه لښكرد بنو مدلج د سړو په شكلونوكښې د كافرانود مدد دپاره راغلى وو.([6]) نودهغوى د مقابلې دپاره الله تعالى د فرشتو لښكر راؤليږل.يو خو ابليس ته په مخامخ د جواب وركولو په طور الله تعالى د مسلمانانو د اطمينان اود دوى د خوشحالئ دپاره د فرشتو دا لښكر راوليږل.او دويمه خبره دا هم وه.چه ددې دنيا معاملات الله تعالى ددې دنياوى عادت مطابق كوى.اوپه دنيا كښې عادت هم دا دې.چه د يو سړى په ذريعه مدد نشى كولې.بلكه كوم امداد چه ليږلې شى.هغه د لښكرپه صورت كښې وى.نو ددې وجې الله تعالى دلته د فرشتو امداد د لښكر په شكل كښې راوليږل.

---

[1])عمدة القارى(۷۹\۱۷)-
[2])عمدة القارى(۷۹\۱۷)_
[3]) تفسير كشاف(۱۹۹\۲)_
[4])عمدة القارى(۷۹\۱۷)_
[5])عمدة القارى(۷۹\۱۷)_
[6])تفسيرابن كثير(۳۱۷\۲)_

په بدر کښې د فرشتو د نزول فائدې: ① دفرشتو کوم راتګ چه شوې وو.په هغې سره خو يو خير او برکت پيدا شو ،اودغه خيراو برکت په وجه مسلمانانو ته فتح ملاؤ شوه.
② دويمه خبره دا اوشوه.چه الله تعالى دغه فرشتې ماموره کړې.چه هغوی د مسلمانانو په زړونوکښې د استقامت جذبه پيدا کړی.د ثابت قدمۍ جذبه پيدا کړی.ځکه چه فرشتو ته الله تعالى دا قدرت ورکړې دې.چه هغوی خپل خيالات په زړونوکښې اچوی.
③ دريمه فائده د فرشتو په راتګ کښې دا وه.چه د کافرانو په زړونوکښې رعب پيدا کړې شي.نود فرشتو په راتګ سره د کافرانوپه زړونوکښې رعب پيدا شو.
④ څلورمه فائده د فرشتو په راتګ سره دا هم اوشوه.چه الله تعالى باقاعده فرشتو ته د کافرانو په مقابله کښې د جنګ کولوحکم ورکړو.

قوله: ﴿وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ﴾: دلته په آيت کښې د باران د نازليدو ذکر دې.وړاندې بيان شوی دی.چه کافران راغلل.اود بدر په ميدان کښې ئې په ښه ځاې باندې قبضه کړې وه.او مسلمانان روسته راورسيدل.ددې وجې مسلمانانو ته ښه ځاې ملاؤ نشو.د اوبو چه کومه علاقه وه.هغه دهغوی په قبضه کښې وه.او مسلمانانو سره اوبه نه وې.اود مسلمانانو په علاقه کښې شګه هم زياته وه.په هغې کښې به پښې په زمکه کښې ښخيدې.ددې وجې الله تعالى باران نازل کړو.د هغې په وجه شګه کلکه شوه.اومسلمانانو دپاره په هغې باندې قدم کيخودل آسان او سهل شو.اودې سره مسلمانانو ته اوبه هم په زيات مقدار کښې ملاؤ شوې.
بهرحال ددې امورو په دې آياتونوکښې ذکر دې.کوم چه ټول په ټول د غزوه بدر سره متعلق دی.

[۳۷۳۶]حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ شَهِدْتُ مِنَ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ مَشْهَدًا لَأَنْ أَكُونَ صَاحِبَهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا عُدِلَ بِهِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَدْعُو عَلَى الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ لَا نَقُولُ كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى اذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا وَلَكِنَّا نُقَاتِلُ عَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ وَبَيْنَ يَدَيْكَ وَخَلْفَكَ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَقَ وَجْهُهُ وَسَرَّهُ يَعْنِي قَوْلَهُ [۴۳۳۳]

[۳۷۳۷]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ اللَّهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ حَسْبُكَ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ [رقم:۱۷۵۸]

قوله: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ مُخَارِقٍ:دا دحضرت عبدالله بن مسعود ﷛ روايت دې.دوی فرمائی.چه ما مقداد بن اسود اوليدلو.په داسې مقام کښې چه په هغه مقام کښې کيدل زما دپاره زيات محبوب وو.دهرهغه څيزنه کوم چه د هغې په مقابله کښې راوستې شي.

مطلب دا دې.که د دنیا د لوې نه لوې دولت ماته راکړې شي.نودهغې په مقابله کښې به زه هغه خوښوم.چه کوم مقام حضرت مقدادبن اسود رضی الله عنه ته حاصل وو.هغه ماته حاصل وې. دهغه تقریر په وجه کوم چه هغوی د نبی ﷺ په وړاندې کړې وو.چه مونږ داسې نه یو.چه هغه شان اووایو.څنګه چه د حضرت موسی علیه السلام قوم وئیلی وو.چه ((اذهب أنت وربك فقاتلا)) ددې پوره تفصیل وړاندې تیرشوې دې.

قوله: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ حَوْشَبٍ: په دې باب کښې دویم روایت د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې.په هغې کښې نبی کریم ﷺ دهغه دعا ذکردې.کومه چه نبی ﷺ د بدر په ورځ کړې وه.په دغه دعا کښې د مختلفو مروی الفاظو تفصیل هم تیرشوې دې.

۵=باب:

[۳۷۴۲\۳۷۳۹]بَاب حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْكَرِيمِ أَنَّهُ سَمِعَ مِقْسَمًا مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ يُحَدِّثُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ عَنْ بَدْرٍ وَالْخَارِجُونَ إِلَى بَدْرٍ[۴۳۱۹]

دبې ترجمې باب وجوهات: امام بخاری رحمه الله د باب ذکرکړې دې.او ترجمه موجود نه ده.داسې اکثر پیښیږی. ددې مختلف تاویلونه کیدی شی.

① دلته تاسو داسې وئیلي شئ.چه دامام بخاری رحمه الله دا باب ((كالفصل من الباب السابق)) دې. دا د باب سابق فصل دې.نو د ترجمې ضرورت نشته.په باب سابق کښې د فرشتو د شرکت بیان وو.اوپه دې باب کښې د هغه مجاهدینو ذکردې.دچا تعلق چه د انسانانو د ډلو سره دې.اوپه بدر کښې هغوی شرکت کړې وو.نودمجاهدین بدر ذکرپه اولنی باب کښې وو.او د مجاهدین بدر ذکر په دې باب کښې هم دې.صرف دومره خبره ده. چه هلته مجاهدین فرشتې دی.اودلته مجاهدین انسانان دی.ددې وجې د ترجمې ضرورت اونه ګنړلې شو.

② دویم یو صورت په داسې موقعو کښې دا هم کیدې شي.څنګه چه حضرت شیخ الهند رحمه الله ذکرکړې دې.چه امام بخاری کله کله د شاګردانو امتحان هم اخلی.نود باب ذکر کوی. اود ترجمې ذکرنه کوی.په دې سره ،،تشحیذ اذهان،، یعنی د ذهن تیزول مقصود وی.چه مونږ خو ترجمې لګوو.اوتاسو د تراجمو د اسلوب او انداز نه آشنا کوو.اوس تاسو اوښائې. چه تاسو ته څومره واقفیت شوې دې.په دې باب کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث ((لا یستوی القاعدون..)) امام بخاری رحمه الله بیانوی.اوتاسو اوګورئ چه په حدیث کښې فرمائیلی شوی دی.چه کوم خلق بدرته تلی وو.په هغوی کښې اوځوك چه نه ووتلی.په هغوی کښې ډیر لوې فرق دې.نوتاسو دلته داسې ترجمه لګولې شئ:((كم من فرق بين البدريين وغيرهم)) یا ((باب فرق المراتب بين البدريين وغيرهم))چه په بریین او غیر بدرین کښې ډیر فرق دې.چه د بدریین درجه اوچته ده.او د غیربدریین درجه دهغوی سره برابر نه ده.هم داوجه وه.چه د صحابه

کراموﷺ په ډله کښې خودا خبره منلې شوې وه.چه د بدریین درجه اوچته ده.دغه شان حضرت جبرئیلعلیه السلام د نبیﷺ په خدمت کښې حاضرشوې وو.او تپوس ئې کړې وو.چه ستاسو په نیز په بدریین او غیربدریین کښې څه فرق دې؟نو نبیﷺ اوفرمائیل.بدریین غوره دی.د غیربدریین نه،نوحضرت جبرئیلعلیه السلام اووئیل.چه زمونږ په نیز په آسمان کښې هم کومې فرشتې په بدرکښې شریکې شوې وې.هغوی د نورو فرشتو په مقابله کښې غوره شمارلې شی.([1])

امام بخاری رحمه الله د حضرت ابن عباسرضی الله عنهما روایت بیان کړې دې.ددې روایت حاصل دا دې.چه د قرآن شریف آیت ﴿لَايَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ﴾ د بدریینُ په باره کښې نازل شوې دې.چه کوم خلق په بدرکښې شریك شوی نه وو.دهغوی اوکم خلق چه شریك شوی وو.دهغوی درجې برابر نه دی.

دحضرت ګنګوهی رحمه الله رائې: حضرت ګنګوهی رحمه الله په «لامع» او«الکوکب الدری» کښې فرمائیلی دی.چه دا آیت صرف د برریینوپه باره کښې نه دې نازل شوې.بلکه دا عام دې.دعام کیدو مطلب دا دې.چه کوم خلق جهادته لاړ شی.د هغوی درجه اوچته ده.دهغه خلقو په مقابله کښې چاچه په جهاد کښې شرکت نه وی کړې.بیا ددې عام حکم لاندې بدریین هم داخل دی.چه څوك جنګ بدرته تلی وو.د هغوی درجه اوڅوك چه نه وو تلی دهغوی درجه د تلونکو په مقابله کښې کمه ده.([2]) حضرت شیخ الحدیث د بحرمحیط او علامه عینی رحمه الله نه د «کوکب» په حاشیه کښې ددې تائید هم نقل کړې دې.([3]) حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن التین رحمه الله نه هم دا نقل کړی دی.چه دا آیت عام دې صرف د بدریینو په باره کښې نه دې نازل شوې.البته بدریین ددې حکم په عموم کښې داخل دی.([4]) او ابوالسعود رحمه الله دمقاتل نه نقل کوی.چه دا آیت د غزوه تبوك په باره کښې نازل شوې دې.([5])

دحضرت شیخ الحدیث رائې: اوس پاتې شوه دا خبره چه دا عام دې.اوکه بدریین په دې کښې داخل دی.یا دا چه دا صرف د بدریینوپه باره کښې نازل شوې دې.نودحضرت شیخ الحدیث رحمه الله رائې دا ده.چه دا آیت د بدریینو په باره کښې نازل شوې دې.اوپه حدیث کښې «لا یستوی القاعدون عن بدر» نه دحضرت ابن عباسرضی الله عنهما هم دا مراد دی.

① اول خوددې وجې چه دامام بخاری رحمه الله د عمل نه ددې تائید معلومیږی.څکه چه دوی په غزوه بدر کښې دا ذکرکړې دې.ددې نه معلومیږی.چه دا آیت د غزوه بدر په باره کښې نازل شوې دې.

---

[1])ددې تفصیل په ((باب فضل من شهد بدراً)) کښې وړاندې راځی۔

[2])لامع الدراری (۲۵۰/۸)۔

[3])تعلیقات لامع الدراری از شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله (۲۵۰/۸)۔

[4])فتح الباری(۲۶۲/۸)۔

[5])تعلیقات لامع الدراری (۲۵۰/۸)۔

② ددې نه پس شيخ الحديث رحمه الله يوه خبره دا هم كړې ده.چه ددې آيت د تاريخ نزول نه هم ددې تائيد كيږى.چه دا د غزوه تبوك په باره كښې نه دې نازل شوې.نو كه د تاريخ نزول اعتبار اوكړې شى.نودهغې نه هم د غزوه بدر تائيد كيږى.د غزوه تبوك تائيد ترې نه كيږى. ځكه چه ددې آيت نزول هم په هغه زمانه كښې شوې وو.كله چه جنګ بدر پيښ شوې وو.
③ دريمه خبره حضرت شيخ الحديث صاحب يوه بله بيان كړې ده.چه په ترمذى كښې د حجاج به محمد رحمه الله روايت دې.په هغې كښې فرمانيلې شوى دى.چه «لما نزلت غزوة بدر قال عبدالله بن جحش وابن أم مكتوم: إنا أعميان يا رسول الله فهل لنا رخصة فنزلت لا يستوى القاعدون ..الخ»[1]
د ترمذى په دې روايت كښې دا صراحت موجود دې.چه كله د جنګ بدر واقعه پيښه شوه.نو په هغه وخت كښې حضرت عبدالله بن جحش او عبدالله بن ام مكتوم رضى الله عنهما نبى ﷺ ته راغلل. دواړه حضرات نابينا وو.هغى اووئيل.چه «هل لنا من رخصة؟» آيا مونږ ته به اجازت ملاؤ شى.كه مونږ شركت اونكړو.نو دا آيت نازل شو.
دامام ترمذى رحمه الله ددې روايت نه دا ثابته شوه.چه دا آيت د بدريينو رضى الله عنهم په باره كښې نازل شوې دې.

٦=بَاب عِدَّةِ أَصْحَابِ بَدْرٍ

[٣٧٣٩\٣٧٤٢] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ قَالَ اسْتُصْغِرْتُ أَنَا وَابْنُ عُمَرَ حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا وَهْبٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ قَالَ اسْتُصْغِرْتُ أَنَا وَابْنُ عُمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ وَكَانَ الْمُهَاجِرُونَ يَوْمَ بَدْرٍ نَيِّفًا عَلَى سِتِّينَ وَالْأَنْصَارُ نَيِّفًا وَأَرْبَعِينَ وَمِائَتَيْنِ

[٣٧٤٠] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ حَدَّثَنِي أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا أَنَّهُمْ كَانُوا عِدَّةَ أَصْحَابِ طَالُوتَ الَّذِينَ جَازُوا مَعَهُ النَّهَرَ بِضْعَةَ عَشَرَ وَثَلَاثَ مِائَةٍ قَالَ الْبَرَاءُ لَا وَاللَّهِ مَا جَاوَزَ مَعَهُ النَّهَرَ إِلَّا مُؤْمِنٌ

[٣٧٤١] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَحَدَّثُ أَنَّ عِدَّةَ أَصْحَابِ بَدْرٍ عَلَى عِدَّةِ أَصْحَابِ طَالُوتَ الَّذِينَ جَاوَزُوا مَعَهُ النَّهَرَ وَلَمْ يُجَاوِزْ مَعَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ بِضْعَةَ عَشَرَ وَثَلَاثَ مِائَةٍ

[٣٧٤٢] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

[1])الحديث أخرجه الترمذى فى كتاب تفسير القرآن باب ومن سورة النساء رقم ٣٠٣٢)_

قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّ أَصْحَابَ بَدْرٍ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ بِعِدَّةِ أَصْحَابِ طَالُوتَ الَّذِينَ جَاوَزُوا مَعَهُ النَّهَرَ وَمَا جَاوَزَ مَعَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ

قوله: حدثنا مسلم بن ابراهيم حدثنا شعبة: ① په دې باب کښې اولنې روايت د حضرت براء رضی الله عنه دې.دوی فرمائی.چه زه او ابن عمر رضی الله عنهما لره صغير او گرځولی شول.ددې نه پس ،،تحويل،، دې.اوامام بخاری رحمه الله خپل دويم سند بيانوی.په ،،وحدثنی محمود،، سره،هلته بيا حضرت براء رضی الله عنه راوی دې.فرمائی.چه زه او ابن عمر رضی الله عنهما په يوم بدر کښې صغير گرځولی شوی وو.اومهاجرين په دغه ورځ دشپيتو نه څه زيات وو.او انصار د دوو سوو نه زيات وو.

قوله: حدثنا عمرو بن خالد حدثنا زهير: ② ددې نه پس د حضرت عمروبن خالد رحمه الله روايت امام بخاری رحمه الله نقل کوی.په دې کښې هم حضرت براء رضی الله عنه راوی دې.فرمائی.چه د محمد صلی الله عليه وسلم په ملگرو کښې چه کوم په بدريينوکښې شامل او شريك شوی وو.هغوی ماته بيان کړې وو.چه بدريين د اصحاب طالوت د شمار برابر وو.ځوك چه د طالوت سره د نهر نه تيرشوی وو.اوهغوی درې سوه لس وو.او درې پرې دپاسه وو.يعنی درې سوه او ديارلس وو.

حضرت براء رضی الله عنه فرمائی.«لا والله ما جاوز معه النهر الا مؤمن» په الله ... دلته ،،لا،، د قسم د تاکيد دپاره راوړې شوې ده.دطالوت سره صرف هغه کسان د نهر نه تيرشوی وو.ځوك چه ايماندار وو.

قوله: حدثنی عبدالله بن رجاء حدثنا إسرائيل: ③ ددې نه پس ددې باب دريم روايت دحضرت عبدالله بن رجاء دې.حضرت براء رضی الله عنه فرمائی.چه مونږ اصحاب محمد صلی الله عليه وسلم به په خپل مينځ کښې خبرې کولې.چه د اصحاب بدر شمار د ملگرو د طالوت د شمار برابر دې.ځوك چه د طالوت سره د نهر نه تيرشوی وو. او د هغوی سره صرف اهل ايمان تيرشوی وو.چه د درې سوه او لسو نه څه زيات وو.

قوله: حدثنی عبدالله بن ابی شيبة...: ④ ددې نه پس يو بل روايت راځی.د عبدالله بن ابی شيبه.دلته هم حضرت براء رضی الله عنه راوی دې.فرمائی.چه مونږ به خبرې کولې.چه اصحاب بدر ددرې سروو اولسو نه څه زيات وو.اودهغوی سره صرف اهل ايمان د نهرنه تيرشوی وو.

د اصحاب بدر په تعداد کښې اختلاف د رواياتو اوددې په مينځ کښې تطبيق:

① رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په بدر کښې درې سوه او ديارلس سړی وو.
② په بعضې رواياتوکښې درې سوه او څوارلسو ذکردې.
③ اوپه بعضې رواياتوکښې د درې سوه او پنځلسو ذکردې.
④ اوپه بعضې رواياتوکښې د درې سوه او نورلسو ذکردې.

که نبی صلی الله عليه وسلم او يوهغه صحابی ځوك چه د شمارپه وخت موجود نه وو.خود لرې نه په اوښ باندې سوړ په نظر راتلو.شمار نکړې شی.نو تعداد به درې سوه او ديارلس شی.اوکه هغه صحابی شمارکړې شی.نوبيا به تعداد درې سوه او څوارلس شی.اوکه نبی صلی الله عليه وسلم ورسره هم

شمار كړې شى.نوبيا به تعداد درې سوه پنځلس شى.اوكه دغه څلور صحابه كرامﷺ كوم چه صغيرالسن وو.اوهغوى ته په جهاد كښې د شركت اجازت نه وو ملاؤ شوې.خو ورسره وو.نو تعداد به درې سوه او نورلس شى.(۱)

په دغه څلور صغيرالسن صحابوﷺ كښې يوحضرت انس ﷺ وو.يوحضرت عبدالله بن عمرﷺ وو.او يو حضرت جابرﷺ وو.اويو حضرت براء بن عازبﷺ وو.

امام بخارى رحمه الله چه كوم روايات نقل كړى دى.په هغې كښې د اصحاب بدر تعداد د اصحاب طالوت برابر خودلې شوې دې.اود اصحاب طالوت تعداد درې سوه او ديارلس وو. ددې نه معلومه شوه.چه امام بخارى رحمه الله د درې سوه او ديارلس شمار اعتباركړې دې.

په دې كښې د شپيتو نه زيات مهاجرين وو.اود دوه سوه او څلويښتو نه زيات انصاروو. شپيته او دوه سوه اوڅلويښت درې سوه شول.كه ته داسې اووايې.چه شپږ شپيته مهاجرين وو.او دوه سوه او اووه څلويښت انصار وو.نو درې سوه او ديارلس به برابر شى.اومورخينو او اصحاب السير د شپږ شپيتو او دوه سوه او اووه څلويښتو عدد نقل كړې دې.

په اصحاب بدراواصحاب طالوت كښې مطابقت: دلته د اصحاب بدر شمار د اصحاب طالوت د شمارمطابق خودلې شوې دې.په شماركښې خو موافقت دې چه دې.خو نور هم په څو وجوهاتو سره په دې دواړو ډلوكښې مطابقت شته.

① يو مطابقت دا دې.چه لكه څنګه د طالوت ملګرى «فئة قليلة» وړوكې جماعت «فئة كثيرة» لوې جماعت باندې غالب راغلې وه.دغه شان د نبىﷺ ملګرى هم د «فئة قليلة» مصداق وو.اودغه شان ددوى دشمن د «فئة كثيرة» مصداق وو.

② لكه څنګه چه دلته اصحاب بدر په ايمان كښې كامل او اكمل اوګرځولې شول.دغه شان اصحاب طالوت هم په كمال ايمان باندې موصوف ګرځولى شوى وو.

③ لكه څنګه چه دلته اصحاب رسولﷺ دالله تعالى په نصرت اودهغه په مددباندې بهروسه اوكړه.دغه شان هلته اصحاب طالوت هم دالله تعالى په نصرت او دهغه په امداد باندې بهروسه كړې وه.

مطلب دا چه په مختلفو وجوهاتوسره د بدرپه واقعه كښې د اصحاب طالوت د واقعې سره مشابهت موجود دې.

دلفظ ،،نيف،، تحقيق: «كان المهاجرون يوم بدر نيفا على ستين» دا لفظ «نيف»هم دې.او «نيّف»

---

[1])وفى الفتح (۲۹۱\۷) كان أهل بدر ثلاثمائة وثلاثة عشر وعن أبى أيوب الأنصارى قال خرج رسول اللهﷺ إلى بدر فقال لإصحابه تعادوا فوجدوهم ثلاث مائة وأربعة عشر رجلاً ثم قال لهم تعادوا فتعادوا مرتين فأقبل رجل على بكرله ضعيف وهم يتعادون فتمت العدة ثلاث مائة وخمسة عشر وروى البيهقى عن عبدالله بن عمروبن العاص قال خرج رسول اللهﷺ يوم بدر ومعه ثلاث مائة وخمسة عشر وهذه الرواية لا تنافى التى قبلها لإحتمال أن تكون الأولى لم يعد النبىﷺ ولا الرجل الذى أتى آخراً وأما الرواية التى فيها وتسعة عشر فيحتمل أنه ضم إليهم من أستصغر ولم يؤذن له فى القتال كالبراء وابن عمرﷺ وكذا أنسﷺ .. والله أعلم) .

بالتشديد ،هم دي، ،نيف، ، د ، ،بضع، ،په وزن باندي دي.او د ، ،بضع، اطلاق لكه څنګه چه د درې نه واخله ترنهو پورې كيږي.دغه شان د ، ،نيف، ، اطلاق هم د دريو نه واخله ترنهو پورې كيږي.

په روايت كښې فرمائيلې شوى دى.چه «ولم يجاوز معه إلا مؤمن بضعة عشر وثلاث مائة» په دې كښې دلته د ، ،بضع، ، لفظ د دريو دپاره استعمال شوې دې.يعنى «ثلاثة عشر وثلاث مائة» درې سوه اوديارلس تعداد مراد دې.

لكه چه امام بخارى د درې سوه څوارلس ،درې سوه پنځلس او درې سوه نورلس رواياتوپه مقابله كښې د درې سوه او ديارلس روايت ته ترجيح وركړې ده.اوهم دا زياته مشهوره ده.

دا خبره ورانډې خودلې شوې ده.چه اته صحابه كرام رضي الله عنهم هغه دى.كوم چه بدريان شمارلى شى.اګرچه هغوى په جنګ بدر كښې شركت نه وو كړې.دهغوى نومونه تيرشوى دى.

۷=بَاب دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُفَّارِ قُرَيْشٍ شَيْبَةَ وَعُتْبَةَ وَالْوَلِيدِ وَأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ وَهَلَاكِهِمْ

رسول الله ﷺ د كفارقريش يعنى شيبه،عتبه،وليداو ابوجهل دپاره خيرې كول اودهغوى دهلاكت بيان.

[۳۷۴۳] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ اسْتَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَعْبَةَ فَدَعَا عَلَى نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ عَلَى شَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ وَأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ فَأَشْهَدُ بِاللَّهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى قَدْ غَيَّرَتْهُمُ الشَّمْسُ وَكَانَ يَوْمًا حَارًّا [ر: ۲۳۷]

روايت باب د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروى دې.دوى فرمائى.چه نبى كريم ﷺ كعبې طرف ته مخ كړلو.اود قريشو يوې ډلې ته ئې خيرې اوكړې.په كومه كښې چه شيبه بن ربيعه،وليد بن عتبه،اوابوجهل بن هشام شامل وو.نبى ﷺ اوفرمائيل.واورئ.زه الله تعالى ګواه جوړوم.اودا خبره كوم.چه ما د بدرپه ورځ دا ټول راپرڅولې شوې كتلى دى.نمرد هغوى بدنونه خراب كړى وو.يعنى دهغوى بدنونه پړسيدلى وو.اورژيدلى وو د هغوى د بدنونو نه بدبوئې راتله.اوهغه د ګرمئ ورځ وه.

دغزوه بدرسره د حديث باب مناسبت: دلته امام بخارى رحمه الله دا روايت د بدر په باب كښې ذكركړې دې.حالانكه دا واقعه د بدر نه ده.دا دهغه وخت واقعه ده.چه نبى ﷺ د خانه كعبې سره څوا كښې مونځ كولو.كله چه د مانځه په دوران كښې نبى ﷺ سجدې ته لاړو.نود سجدې په حالت كښې د نبى ﷺ په شا مباركه باندې عقبه بن ابى معيط د اوښې بچى دانه اچولې وه.بنكاره ده.چه په دې سره د نبى ﷺ په مانځه كښې خلل راغلو.نو نبى ﷺ ورته خيرې اوكړې.چه «اللهم عليك بشيبة بن ربيعة ،اللهم عليك بعتبة ،اللهم عليك بالوليد،اللهم عليك بأبي جهل» او دبدر واقعه د هجرت نه پس راغلې ده.اودا واقعه د هجرت نه ورانډې ده. خو

امام بخارى رحمه الله دا حديث دلته ددې وجې ذكركړو.چه د نبى ﷺ د خيرو په نتيجه كښې د بدر په موقع د دوى هلاكت واقع شو.اوددغه خيرو اثر د بدرپه ورځ ښكاره شو.

يوسوال اودهغې جواب: دلته يوسوال كيږى.چه نبى ﷺ خو رحمة للعالمين وو.اونبى ﷺ خو هميشه دپاره خپلو دشمنانو ته دعا كړې ده.چه «اللهم اهد قومى فإنهم لايعلمون» اې الله زما قوم ته هدايت اوكړه.دوى نه پوهيږى.دوى زما مقام نه پيژنى.دلته په نبى ﷺ كښې دا تبديلى ولې راغله.نو ددې په باره كښې زمونږ استاذ شيخ الادب والفقه حضرت مولانا اعزاز على صاحب رحمه الله يوه عجيبه خبره كړې ده.هغوى فرمائى.وروره! خبره په اصل كښې دا وه.چه كله يوځيز د خپلې فطرى تقاضې نه بند كړې شى.نوپه هغې كښې جوش پيدا شى. دا به تاسو كتلې وى.چه ريل ګاډې روان وى.او دانجن نه چليږى.د انجن نه څنګه چليږى؟دومره وزنى او دومره درون ريل او انجن دا اوړى.اودومره په تيزئ سره ئې اوړى. د كراچئ نه ترلاهوره پورې اووه نيم سوه ميلو سفر په اتلس ګهنټوكښې كوى.نوته به واې.چه ورورره د ريل په انجن كښې بړاس پيدا كيږى.اوهغه بړاس دغه انجن او ريل ګاړى، بړاس څه ځيز دې؟ نو مولانا صاحب اوفرمائيل.چه په اصل كښې داسې كيږى.چه د اوبونه يو لوښې ډك كړې شى. اود هغې لاندې اور اولګولې شى.د اور په لګيدو سره اوبه ګرمې شى.اودهغه اوبوپه ګرميدو سره بړاس پيدا شى.اوددغه بړاس فطرت دې.چه ته دا آزاد پريږده.چه دې په فضا كښې تحليل شى.خو ته دا كوې.چه دغه پيدا كيدونكې بړاس بندوې.اوهغه ډير لطيف ځيز دې.ددې په وجه په دې كښې دومره طاقت پيدا شى.چه د هغې په ذريعه هغه په سوونو او زرګونو ټنه وزنى ريل اوړى.او تيز روان وى. دا مثال د موټر او بس هم دې.

ددې نه پس هغوى اوفرمائيل.چه چونكه مونځ د نبى ﷺ د سترګو يخوالې وو.په دې موقع باندې نبى ﷺ مونځ كولو.اوپه مانځه كښې چه دنبى ﷺ اود الله تعالى په مينځ كښې چه كوم ربط او تعلق قائم وو.ددې مشركانوپه حركت سره په دغه تعلق كښې اوپه دې فطرتى عمل كښې خلل واقع شو.نو د نبى ﷺ په فطرى عمل كښې د ركاوټ اچولوپه وجه اونبى ﷺ دخپل فطرت خلاف عمل كولوباندې د مجبوره كولونتيجه دا شوه.چه د نبى ﷺ عام عادت وو.(اوهغه دا چه نبى ﷺ ته كه به قوم تكليف اورسولو.نو دوى به ورته دعا كوله) ددې په خلاف نبى ﷺ دلته دهغه خلقو په حق كښې خيرې اوكړې كوم چه په دې حركت كښې شريك وو.او نبى ﷺ دالله تعالى په دې تعلق او ربط كښې خلل برداشت نكړو.اوچونكه دا خيرې د نبى ﷺ د ژبې نه وتلې وې.اوداسې د كمزورئ په حالت كښې وې. چه د نبى ﷺ دپاره به ددې نه زياته بې بسى او كمزورى نوره څه كيدې شوه.نوالله تعالى دغه دعا قبوله كړه.

يوخو د نبى ﷺ هسې خيرې كول كافى وو.او بيا د مظلوميت په انتهائى حالت كښې، ددې خيرود ژبې مباركې نه وتل د قبوليت يوزياتى سبب جوړ شو.چه نتيجه ئې دا شوه.چه د كومو كومو كسانو نومونه نبى ﷺ اخستى وو.په هغوى كښې هريو الله تعالى خپل انجام ته اورسول.

٨=بَاب قَتْلِ أَبِي جَهْلٍ

علامه عینی رحمه الله فرمائي.چه د ابوذر رحمه الله په نسخه کښې دا باب موجود نه دې.او په نورو نسخوکښې موجود دې.(١) او که دې طرف ته نظر اوکړې شي.چه په دې باب کښې د ابوجهل د قتل نه علاوه د نورو خلقو د قتل ذکر هم شته.نو مناسب دا ده.چه دا باب نه وې.ځکه چه ددې باب په احادیثو کښې صرف د ابوجهل قتل ذکرنه دې.بلکه د نورو ذکرپه کښې هم شته.خو علامه عینی دا هم فرمائیلی دی.چه چونکه په بعضې نسخوکښې ددې باب ترجمه داسې قائمه کړې شوې ده.((باب قتل أبي جهل وغيره)) یعنی د ابوجهل او ددې نه پس د((وغيره)) لفظ په کښې هم موجود دې.نود ابوجهل د قتل نه علاوه د نورو ذکر چه په کښې راغلې دې. هغه د ((وغيره)) لاندې راتلې شي.نوچه په ترجمه کښې د ((وغيره)) لفظ ته اوکتې شي. مناسب هم دا معلومیږی.چه دا باب وی.(٢)

علامه عینی رحمه الله چه کومه خبره کړې ده.هغه صحیح ده.خو ناکافی ده.ځکه چه په باب کښې بیشکه بعضې روایات داسې دی.چه په هغې کښې د ابوجهل نه علاوه د نورو کسانو د قتل ذکردې.لکه د عتبه،شیبه، وغیره د قتل ذکرپه کښې راغلې دې.یقیناً دوی د ((وغيره)) د لفظ لاندې شاملولی شی.

خو د حضرت زبیربن العوام رضي الله عنه په سلسله کښې یو روایت راځي.په هغه روایت کښې د چا د قتل ذکر هم نشته.نودهغه روایت مناسبت به ترجمة الباب سره څنګه وی؟ علامه عینی د ترجمة الباب سره دهغې دمناسبت په باره کښې دافرمائیلی دی.چه په دې روایت کښې د حضرت زبیر بن العوام په جنګ بدر کښې شرکت بیان شوې دې.نو ددې مطابقت د ترجمې سره راغلو(٣) خودعلامه عینی رحمه الله دا مناسبت بیانول کافی نه دی.ددې وجې د حضرت زبیر رضي الله عنه په غزوه بدر کښې دشرکت بیانولو سره د ((باب قتل أبي جهل وغيره)) سره مناسبت نه معلومیږی.ځکه چه په دغه روایت کښې نه د ابوجهل د قتل ذکرشته.اونه د غیر ابوجهل دقتل ذکر،نو صرف دا وئیل چه په دې سره د حضرت زبیر رضي الله عنه په جنګ بدر کښې شرکت ثابتیږی.اودا د باب سره مناسبت شو.خودا خبره کافی نه ده.(٤)

---

(١) عمدة القاری(١٧\٨٥)_

(٢) دغه شان حافظ صاحب لیکی.((تثبت هذه الترجمة للأكثر وسقطت لأبي ذر.. وثبوتها أوجه إذ لا تعلق لحديثها بباب عدة أهل بدر(فتح الباری (٧\٢٩٤)_~

(٣) علامه عینی رحمه الله د دې روایت د مطابقت په باره کښې لیکی.((مطابقته للترجمة ظاهرة فإنه يصرح بحضورالزبيربن العوام رضي الله عنه وقعة بدر فيدخل في العدة (عمدة القاری (١٧\٩٠)_~

(٤) خو لکه څنګه چه علامه عینی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د ابوذرپه نسخه کښې دا باب موجود نه دې.په نورو نسخوکښې موجود دې.نو که د ابوذرد نسخې اعتبار اوکړې شي.نو د علامه عینی رحمه الله بیان کړې مطابقت به صحیح شی.ځکه چه ((باب عدة أهل بدر)) سره ددې روایت مناسبت ښکاره دې.اود ابوذرپه نسخه کښې دا روایت اود دې باب نورټول روایات د ((باب عدة أهل بدر)) لاندې راغلې دې.

حافظ صاحب خو معامله بیخی ګول مول کړې ده.هغوی د مطابقت په باره کښې څه تسلی بخش خبره نه ده کړې.او زمونږ د بخاری شارحینو ﷫ هم ددې روایت د ترجمة الباب سره د مطابقت په باره کښې څه بحث نه دې کړې.حال دا چه د مطابقت مسئله اهمه ده.

د ترجمة الباب اوددې د ټولو روایاتوپه مینځ کښې دمطابقت ښه توجیه: په دې باره کښې یوه خبره دا کولې شي.چه ((باب قتل أبي جهل وغيره)) کښې ((وغيره)) کښې ضمير ابوجهل طرف ته نه دې راجع.(لکه څنګه چه علامه عینی ﷫ ضمیرده طرف ته راجع کړې دې) بلکه چه دا ضمیر ،،قتل،، طرف ته راجع کړې شي.نو مسئله به بیخی ښکاره شي.

نواوس به د باب مطلب دا وی.چه په دې باب کښې د ابوجهل د قتل ذکر دې.او د قتل ابوجهل نه علاوه د بدر د نورو څیزنو ذکرهم دې.نو اوس د حضرت زبیربن العوام ﷜ د روایت په باره کښې څه اشکال نه پاتې کیږی.ځکه چه په دې روایت کښې د ابوجهل یا غیر ابوجهل د قتل ذکر نشته.خو دا ورایت بهر حال د جنګ بدر سره متعلق دې.او په دې کښې د حضرت زبیر په جنګ بدر کښې د شرکت بیان دې.اودغه شان په دې صورت کښې د باب د نورو روایتونه د ترجمة الباب سره مناسبت په آسانتیا سره راځی.

په جنګ بدرکښې د ابوجهل د قتل واقعه: ددې باب په اولنو روایتونو کښې د ابوجهل د قتل بیان شوی دې.د دې واقعې تفصیل د حضرت عبدالرحمن بن عوف﷜ په روایت کښې دی. دوی فرمائی.چه زه د بدر په ورځ په میدان جنګ کښې ولاړ ووم.او د انصارو دوه هلکان زما ښی او ګس طرف ته ولاړ وو.زما په خیال کښې راغلل.که ددې دوو هلکانو په مینځ کښې زه چا اولیدم.نو هغه به ما غیر محفوظ اوګنړی.اوبه ما به حمله اوکړی.ددې زما سره ویره شوه.زه هم په دغه خیال کښې وم.چه په دې کښې یو زما نه تپوس اوکړو.تره تاسو ابوجهل پیژنئ.ما ورته اووئیل.آوزه ئې پیژنم.خوستاسودهغه سره څه کاردې؟ نوهغه اووئیل. چه ما اوریدلی دی.چه هغه به د رسول الله ﷺ په شان کښې ګستاخی کوله.ددې وجې ما دا عهد کړې دې.چه کله هغه ماته په نظر راشی.نو ((يموت الأعجل منا)) چه په مونږ دواړوکښې چه د چا مرګ وړاندې لیکلې شوې وی.هغه به مری.یابه زه مرم اویا به هغه وژنم.اوس لا یوځپله خبره نه وه ختمه کړې.چه بل رانه د ابوجهل په باره کښې تپوس اوکړو. مادهغه نه هم هغه تپوس اوکړو.اوهغه هم هغه خبره اوکړه.چه ابوجهل به د رسول الله ﷺ په حق کښې بد رد وئیل.نوما دا عهد کړې دې.چه زما سیورې به دهغه د سیوری نه ترهغه وخته پورې نه جدا کیږی.ترڅوچه زه هغه ختم نکړم.حضرت عبدالرحمن ﷜ فرمائی.چه ددې دواړو هلکانو خبرې چه ما واوریدې.زه په خپل اولنی خیال باندې ملامته شوم.په دې کښې ابوجهل په نظر راغلو.ما دغه ماشومانو ته اشاره اوکړه.چه ابوجهل دغه دې.نو لکه څنګه چه باز او شکرې په کونتره باندې حمله کوی.دغه شان دا دواړه هلکان په ابوجهل باندې حمله کونکی شو.اوهغوی ابوجهل زخمی کړلو.او د اس نه ئې راغزارکړلو.په دواړو هلکانو کښې د یو نوم معاذ او دبل معوذ وو.او دا دواړه د حضرت عفراء انصاریه ځامن وو.[1] دا د بخاری کتاب المغازی روایت دې.اود بخاری د کتاب الجهاد په روایت کښې دی.چه د

[1])صحیح بخاری کتاب الجهاد..أبواب فرض الخمس باب من لم یخمس الأسلاب رقم ۳۱٤۱)_

ابوجهل په قتل كولو كښې حضرت معاذبن جموح ورانډې وو.(۱)
حافظ ابن حجرؒ فيصله كړې ده.چه د عفراء دواړه ځامن معاذ او معو هم په قتل كښې شريك وو.او معاذبن عمروبن جموح رضي الله عنه هم په دې كښې شريك وو.د حافظ ابن حجرؒ وينا دا ده.چه د ابوجهل په قتل كښې زياته حصه د معاذبن عمرو رضي الله عنه وه.اوهم ددې وجې نه نبي ﷺ د ابوجهل سلب معاذبن عمروبن جموع ته وركړې وه.(۲)
په معاذبن حارث باندې د ابوجهل خوى عكرمه د خپل پلار بدلې اخستلوډپاره په توره حمله اوكړه.د هغه لاس په دغه حمله باندې كټ شو.د لاس صرف يو رګ د بدن سره پاتې شوې وو.او باقي لاس بيكارزوړند وو.ټوله ورځ حضرت معاذ رضي الله عنه هم په دغه كيفيت كښې د كافرانو سره جنګيدل.او ماښام چه كله درد او تكليف ئې زيات محسوس كولو. نو هغه خپله دغه لاس په زمكه باندې كيخودلو.او دپاسه ئې پرې پښه كيخوده.اوهغه ئې د بدن نه جدا كړو.دوى ددې نه پس تر څه مودې پورې ژوندې وو.البته ددوى ورور معوذ رضي الله عنه په غزوه بدركښې شهيد شو.
دجنګ نه پس نبي ﷺ اوفرمائيل.لاړ شئ. اوګورئ د ابوجهل څه اوشو؟ نو حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه لاړلو.عجيبه انتخاب دې.د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روايت كښې دي.چه په ليلة الجن كښې چه كله نبي ﷺ تشريف اوړلو.نوفرمائيلى ئې وو.زما سره به هغه كس خي.چه دهغه په زړه كښې د ذرۀ برابر تكبر نه وي.حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوډريدل.او نبي ﷺ هغه دځان سره بوتلې وو.لكه چه نبي ﷺ دهغه تصديق اوكړو.چه په ده كښې ذره برابر تكبر نشته.(۳) نو الله تعالى دلته د ابوجهل د سركټ كولوډپاره د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه انتخاب اوكړو.څكه چه په هغه كښې د ذرې برابر تكبر نه وو.او ابوجهل د تكبر مجسمه وه.د الله تعالى د حكمت بالغه تقاضا هم دا وه.چه ددې تكبر او غرور نه ډك كس د روح ويتسلو سامان دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په ذريعه باندې اوكړي.كوم چه د تواضع او عاجزئ مجسمه وه.نو حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه لاړلو.د ابوجهل په سينه باندې كيناستلو.او وې وئيل.«أخزاك الله يا عدوالله» اې دالله دشمنه! الله تعالى ته ذليله كړې.بيا حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دهغه سر د تنې نه جدا كړلو.په دغه وخت كښې ابوجهل اووئيل.سرمې لږ د لاندې نه كټ كړه.چه كله د سرنو قطار لګولى شي. نود سردار سر اوچت په نظرراخي.حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دهغه سركټ كړلو.او د نبي ﷺ په خدمت كښې ئې پيش كړو.اووې وئيل.«هذا رأس عدوالله» نبي ﷺ چه اوكتل نو وې فرمائيل.واقعي دا د ابوجهل سر دې.حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اووئيل.په الله قسم دا دابوجهل سردې.نو نبي ﷺ اوفرمائيل.«الحمد لله الذى أعز الإسلام وأهله» شكر دې دالله چا

(۱) ايضاً_
(۲) فتح البارى (۶/۲٤۸) كتاب فرض الخمس وفتح البارى(۷/۲۹۶)_
(۳) سيرة مصطفى (۱۲-۱۰۰) بحواله بناية شرح هدايه للحافظ العينى (۱۱/۲۸۶)_

چه اسلام او اهل اسلام ته عزت او ترقی ورکړه.([1])
حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په دې موقع دا هم ونیلی دی.چه یارسول الله دې بدبخته د مرګ په وخت کښې ماته دا هم ونیلې وو.چه محمدته خبر ورکړه.چه زما په زړه کښې تاسره کوم بغض اودشمنی وه.په دې وخت کښې هم په هغې کښې څه کمې نه دې راغلې.بلکه د وړاندې نه زیاته ده.نبی ﷺ اوفرمائیل.چه دا زما د امت فرعون دې.اود موسی علیه السلام اودبنی اسرائیلو د فرعون نه په کفر کښې زیات سخت دې.څکه چه د حضرت موسی علیه السلام په مقابله کښې چه کوم فرعون وو.هغه چه کله مړ کیدو.نوپه هغه وخت کښې نې د موسی علیه السلام د کلمې ونیلو کوشش کړې وو.او کله چه دې مړ کیدو.نو په کفرکښې نې د څپل کلک والی اظهار اوکړو.حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ چونکه دهغه سرکټ کړې وو.ددې وجې نبی ﷺ دهغه توره عبدالله بن مسعود ﷺ ته ورکړه.([2])

[۳۷۴۴] حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ أَخْبَرَنَا قَيْسٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ أَتَى أَبَا جَهْلٍ وَبِهِ رَمَقٌ يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ هَلْ أَعْمَدُ مِنْ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ

[۳۷۴۵] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح وحَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَنْظُرُ مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ قَالَ آأَنْتَ أَبُو جَهْلٍ قَالَ فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ قَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ أَوْ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ أَنْتَ أَبُو جَهْلٍ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَنْظُرُ مَا فَعَلَ أَبُو جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ فَقَالَ أَنْتَ أَبَا جَهْلٍ قَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ أَوْ قَالَ قَتَلْتُمُوهُ

[۳۷۴۵] حَدَّثَنِي ابْنُ الْمُثَنَّى أَخْبَرَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ أَخْبَرَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَحْوَهُ

[۳۷۴۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَتَبْتُ عَنْ يُوسُفَ بْنِ الْمَاجِشُونِ عَنْ صَالِحِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ فِي بَدْرٍ يَعْنِي حَدِيثَ ابْنَيْ عَفْرَاءَ [ر:۲۹۷۲]

اوس لږ دا روایتونه اوګورئ.ددې باب په شروع کښې په روایتونوکښې هم دا خبره بیان شوې ده.چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ابوجهل په میدان جنګ کښې په زمکه باندې پریوتې اوموندلو.نودهغه په سینه باندې کیناستلو.او ابوجهل ته نې اووئیل.«أنت أبوجهل»

---

[1])عمدة القاری(۸۶\۱۷)_
[2])السیرة الحلبیة (۱۷٤\۱۲)_

قوله: هَلْ أَعْمَدُ مِنْ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ؟ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ أَوْ قَالَ قَتَلْتُمُوهُ:

دوه مطلبه: ابوجهل اووئیل.((هَلْ أَعْمَدُ(۱) مِنْ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ)) یا((وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ أَوْ قَالَ قَتَلْتُمُوهُ))

① ددې جملې یو مقصد خو دا دې.چه په دې کښې ابوجهل دخپل تکبراظهار کوی.چه آیا دهغه کس نه زیات خوښ بل څوك شته.کوم چه تاسو قتلوئ؟ یا د هغه کس نه اوچت څوك شته.کوم چه تاسو قتل کړلو.یعنی ددېنه زیات خوښ او دده نه زیات لوې بل څوك نشته.

② خو علامه عینی،حافظ ابن حجر، علامه نووی او ابوعبیده وغیره ﷺ ددې یو بل مطلب هم بیان کړې دې.چه د ابوجهل ددې قول مقصد دا دې.چه زما قتلول ددې نه زیات څه نه دی.چه یو کس خپل قوم پخپله قتل کړلو.نو په دې کښې نه ستاسو دپاره څه د فخر خبره شته.او نه زما دپاره څه د پیغور خبره ده.(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې معنی په تائید کښې د طبرانی نه د عمروبن میمون یو روایت هم نقل کړې دې.په هغې کښې دی.چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کله د ابوجهل په سینه باندې اوختلو.نوهغوی ورته اووئیل.((أی عدوالله قد أخزاك الله)) اې دالله دشمنه الله تعالی ته رسوا کړې.نو ابوجهل په جواب کښې اووئیل.((وبما أخزانی من رجل قتله قومه)) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه ددې روایت نه معلومیږی.چه ابوجهل دا وئیل غوستل.چه ستاسو دپاره زما په قتل کښې څه کمال نشته.اوزما دپاره په دې کښې څه عار نشته.چه په هغې سره زه رسوا شم.ځکه چه یوکس هم خپل قوم قتل کړو.داڅه درسوائې خبره نه ده.دا خوهم داسې کیږی(۳)

بهرحال دې ټولو حضراتوپه ((أعمد من رجل قتلتموه)) کښې استفهام انکاری مراد اخستې دې.اودا مطلب ئې راوستې دې.چه په دې کښې ابوجهل دخپل تکبراوفخر خبره نه کوی.بلکه د خپلې رسوائې او ذلت دفاع کوی.والله اعلم.

دلته د باب دریم حدیث کم چه د حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دې.په هغې کښې ((أنت أباجهل)) راغلې دې.اوپه بعضې نسخوکښې ((أنت أبوجهل)) راغلې دې.

د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه دا ((أنت أبوجهل)) دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې د بعضې راویانو نه اصلاح ده.دې راویانوچه کله اوکتل.چه ((أنت أباجهل)) دقاعدې نه خلاف

---

(۱) واعمد: افعل التفضیل من عمد أی هلک ، یقال عمدالبعیر یعمد عمداً بالتحریک إذا ورم سنامه من عض القتب .. ویکنی بذلک عن الهالک وقیل معنی اعمد : أعجب، وقیل بمعنی أغضب (فتح الباری ۷\۲۹٤)_

(۲) علامه عینی رحمه الله لیکی.((هل أعمد من رجل أی هل أعجب من رجل قتله قومه یعنی لیس قتلکم لی إلا قتل رجل قتله قومه لا یزد علی ذلک ولا هو فخرلکم ولا عار علی)) عمدة القاری (۱۷\۸۵)_

(۳) فتح الباری(۷\۲۹٤)_

دي. نوهغوی دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې تصحیح اوکړه.او «أبا جهل» ئې په «أبوجهل» بدل کړو.ځکه چه اسماء سته مکبره په حالت رفعي کښې په الف سره نه وی.بلکه په واو سره وی.خوحافظ رحمه الله فرمائی.چه د حضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې معتبر اومعتمد هم دا دی. چه «أبا جهل» الف سره وئیلې شی.او بعضې راویانو دخپل طرف نه چه کومه اصلاح کړې ده.هغه صحیح نه ده. حافظ رحمه الله ددې وجه دا بیان کړې ده.چه یو خو به د جنګ بدر په آخر کښې روایت راشی.هلته «أنا أبا جهل» موجود دې.دویمه وجه دا ده.چه ددې حدیث راوی سلیمان تیمی رحمه الله تصریح کړې ده.چه حضرت انس رضی الله عنه ددې تلفظ په «أنت أبا جهل» الف سره کړې دې.دغه شان یحیی بن سعید قطان هم ددې تلفظ په الف سره کړې دې.نو هرکله چه دې دواړو حضراتو ددې تلفظ په «أبا جهل» الف سره کړې دې.نو بیا روسته د راویانودخپل طرف نه اصلاح ځنګه تینګ کیدې شی.ددې وجې صحیح خبره هم دا ده.چه دا لفظ «أنت أبا جهل» الف سره دې.(۱) نو اوس به سوال کیږی.چه بیا به د نحوی قاعدې مطابق ددې توجیه څه وی.نو ددې متعلق څوتوجیهات شوی دی.

① یوه خودا چه «أنت» مبتدا ،او «مقتول» خبرمحذوف دې.او «أباجهل» منادی دې.یعنی «أنت مقتول یا أبا جهل» (۲)

② علامه عینی رحمه الله ددې توجیه کړې ده.«أنت تکون أبا جهل» (۳)

③ داودی رحمه الله یوه بله خبره کړې ده.هغه دا چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د ابوجهل د تحقیر او تذلیل دپاره د صحیح «أبوجهل» مرفوع په ځائې قصداً دغه غلط «أنت أباجهل» منصوب اووئیل.(۴)

④ یوه توجیه دا هم شوې ده.چه په اصل کښې بعضې دعرب، قبائل اسماء سته مکبره په حالت رفعي،حالت نصبي اوحالت جری درې واړو حالتونوکښې په الف سره وائی.نو دا د دغه قبائلو دلغت مطابق دې.(۵)

[۳۷۴۷]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ حَدَّثَنَا أَبُو مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ أَنَا

---

۱)فتح الباری (۲۹۵/۷)-
۲)فتح الباری(۲۹۵/۷)-
۳)عمدة القاری(۸۵/۱۷)_
۴)فتح الباری(۲۹۵/۷)_
۵)فتح الباری(۲۹۵/۷)_

أَوَّلُ مَنْ يَجْثُو بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمَنِ لِلْخُصُومَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَقَالَ قَيْسُ بْنُ عُبَادٍ وَفِيهِمْ أُنْزِلَتْ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ قَالَ هُمُ الَّذِينَ تَبَارَزُوا يَوْمَ بَدْرٍ حَمْزَةُ وَعَلِيٌّ وَعُبَيْدَةُ أَوْ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْحَارِثِ وَشَيْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَعُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ [ر: ۳۷۴۹و۴۴۶۷]

[۳۷۴۸] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَزَلَتْ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ فِي سِتَّةٍ مِنْ قُرَيْشٍ عَلِيٍّ وَحَمْزَةَ وَعُبَيْدَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ [۳۷۵۰و۳۷۵۱و۴۴۶۶]

[۳۷۴۹] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الصَّوَّافُ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ كَانَ يَنْزِلُ فِي بَنِي ضُبَيْعَةَ وَهُوَ مَوْلًى لِبَنِي سَدُوسَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِينَا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ [ر: ۳۷۴۷]

[۳۷۵۰\۳۷۵۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُقْسِمُ لَنَزَلَتْ هَؤُلَاءِ الْآيَاتُ فِي هَؤُلَاءِ الرَّهْطِ السِّتَّةِ يَوْمَ بَدْرٍ نَحْوَهُ

[۳۷۵۱] حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ يُقْسِمُ قَسَمًا إِنَّ هَذِهِ الْآيَةَ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ نَزَلَتْ فِي الَّذِينَ بَرَزُوا يَوْمَ بَدْرٍ حَمْزَةَ وَعَلِيٍّ وَعُبَيْدَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَعُتْبَةَ وَشَيْبَةَ ابْنَيْ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ [۳۷۴۸]

[۳۷۵۲] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ السَّلُولِيُّ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ وَأَنَا أَسْمَعُ قَالَ أَشَهِدَ عَلِيٌّ بَدْرًا قَالَ بَارَزَ وَظَاهَرَ

قوله: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ: دا روايت د حضرت علی رضی الله عنه دي.دوی فرمائی.

قوله: أَنَا أَوَّلُ مَنْ يَجْثُو بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمَنِ لِلْخُصُومَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: زه به اولنی سړی يم.چه د قيامت په ورځ به د رحمان مخامخ د فيصلې دپاره کينم.او قيس بن عباد فرمائی. چه هم ددې حضراتو په باره کښې دا آيت نازل شوې وو. ﴿هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ﴾ دا هغه خلق دی.چاچه د جنګ بدره په ورځ مقابله او مبارزه اوکړه.د مسلمانانو دطرفه حضرت حمزه،حضرت علی اوحضرت عبيده رضی الله عنهم وو.اود کافرانو دطرفه شيبه،عتبه او وليد وو.

د**انا اول من يجثو معنى**: د ،،يجثو،، معنی دا.((من يقعد على الركبتين للخصومة)) حافظ ابن حجر رحمه الله

دلته يو قيد لګولې دې.چه دا ئې د مجاهدينوپه اعتبارسره «أول من يجثو» فرمائيلى دى. ځکه چه د اسلام دټولونه اولنئ دمجاهدينوډله چا چه کافران قتل کړى وو.هغه د حضرت حمزه،حضرت على او حضرت عبيده رضي الله عنهم ډله وه.نو «أنا أول من يجثو» هغوى په دې اعتبار سره فرمائيلى دى. (۱)

«أنا أول من يجثواللخصومة» کښې د خصومت نه څه مراد دې؟حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائيلى دى.چه د خصومت نه مراد دا دې.چه مشرکان به د قيامت په ورځ اووائى.چه مونږ په ظلم سره قتل کړې شوى وو.اودا حضرات به ددې په مقابله کښې دا ثابتوى.چه مونږ دوى په ظلم سره نه دى قتل کړى.بلکه د اعلاء کلمة الله او د اسلام د ترقئ دپاره مو قتل کړى دى. (لامع الدرارى ۲۵۳۱۸)_ حضرت ګنګوهى رحمه الله داتوجيه ددې دپاره کړې ده.چه هغوى فرمائيلى دى.د اهل کفرکلام به دا وى.چه مونږ په ظلم سره قتل شوى يو.اود اهل اسلام کلام به دا وى.چه مونږ په قتل کولوکښې په حق وو(۲)

څوک دچا په مقابله کښې وو؟: دجنګ بدر په ابتداء کښې درې سړى د مسلمانانو د طرفه او درې کسان د کافرانو د طرفه راوتلى وو.دکوموچه په دې حديث کښې ذکر دې.البته په دې روايت کښې دا نه دى خودلې شوې.چه څوك د چا په مقابله کښې وو.د ابن اسحاق او ابن سعد رحمهما الله د بيان مطابق حضرت عبيده رضي الله عنه،د عتبه په مقابله کښې او حضرت حمزه رضي الله عنه د شيبه په مقابله کښې او حضرت على رضي الله عنه د وليد په مقابله کښې وو.خود موسى بن عقبه په روايت کښې دى.چه حضرت عبيده رضي الله عنه د شيبه په مقابله کښې وو.او حضرت حمزه رضي الله عنه د عتبه په مقابله کښې وو.بعضې عالمانو رحمهم الله فرمائيلى دى.دحضرت على رضي الله عنه د وليد په مقابله کښې کيدل متفق عليه دى.خودا خبره صحيح نه ده.ځکه په بعضې رواياتوکښې دا هم شته.چه حضرت على رضي الله عنه د عتبه په مقابله کښې وو.حافظ رحمه الله د ابوداود نه د حارثه بن نضر په طريق سره ددې په ثبوت کښې روايت نقل کړې دې.(۳) نودا خبره متفق عليه خو پاتې نشوه.البته معقول هم دا معلوميږى.چه حضرت على رضي الله عنه د وليد په مقابله کښې وو.ځکه چه دا دواړه ځوانان وو.او حضرت حمزه رضي الله عنه او حضرت عبيده رضي الله عنه په مقابله کښې عتبه او شيبه وو.ځکه چه دوى د زيات عمر وو.د زيات عمرکسانود زيات عمرکسانوسره او د ځوان د ځوان سره مقابله معقوله په نظرراځى.(۴)

﴿هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ﴾ دا ايت دچا په باره کښې نازل شوې دې؟: دلته د بخارى د روايت نه معلوميږى.چه دا آيت د دې شپږو حضراتو په باره کښې نازل شوې دې.حالانکه صاحب جمل يو روايت نقل کړې دې.دهغې نه معلوميږى.چه دا آيت د اهل کتابو او اهل

---

(۱)فتح البارى(۲۹۷/۷)_
(۲)تعليقات لامع الدرارى ۲۵۳۱۸)_
(۳)فتح البارى(۲۹۸/۷)_
(۴)ايضاً)_

اسلام په مینځ کښې د مخاصمة په باره کښې نازل شوې دې.(١)
(۲۵۳)_ او علامه قسطلانی رحمه الله هم د حضرت قتاده رحمه الله په حوالې سره دا روایت نقل کړې دې.نود بخاری د روایت نه معلومیږی.چه دا آیت د اهل بدر په باره کښې نازل شوې دې.اود صاحب جمل او قسطلانی رحمهما الله د بیان نه معلومیږی.چه دا آیت د اهل کتابود مجادلې په باره کښې نازل شوې دې.(٢)
① مجاهد وئیلی دی.چه په اصل کښې په دې آیت کښې مثال بیان شوې دې.د مومن او د کافر،چه مومن د الله تعالی د دین اوچت والې غواړی.او ددې دپاره جنګیږی.اوکافر دالله تعالی د نور او د دین د ختمولو په کوشش کښې لګیا وی.حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی.چه د آیت دا توجیه زیاته ښه ده.ځکه چه په دې صورت کښې دا په اهل بدر باندې هم منطبق کیږی.او په اهل اسلام او اهل کتابوبه دې مذاکره باندې هم منطبق کیږی.(٣)
② اوداسودا هم وئیلې شی،چه ممکن ده. دا آیت د اهل بدر په باره کښې نازل شوې وی. اود اهل اسلام او اهل کتابود مذاکرې په باره کښې هم نازل شوې وی.ځکه چه په کومه زمانه کښې د بدر واقعه پیښه شوې وه.داهل اسلام او اهل کتابو مناظره هم په دغه زمانه کښې شوې وه.نوچا داد بدر طرف ته منسوب کړې ده.اوچا داهل اسلام اواهل کتابوبه مینځ کښې مجادلې او مناظرې طرف ته منسوب کړې ده.
ایا مبارزه بالقتال جائزده؟ ددې روایت نه یوه خبره دا هم معلومه شوه.چه مبارزه بالقتال جائزده.حسن بصری رحمه الله مبارزه بالقتال ته ناجائز وائی.
امام اوزاعی،سفیان ثوری،امام احمد امام اسحاق رحمهم الله فرمائی.چه مبارزه باذن الامام جائزده.اوددې نه بغیرجائز نه ده.(٤)
دلته حضرت حمزه،حضرت عبیده او حضرت علی رضی الله عنهم مبارزه بالقتال کړې وه.ددې نه جواز معلومیږی.

[۳۷۵۳]حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي يُوسُفُ بْنُ الْمَاجِشُونِ عَنْ صَالِحِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ كَاتَبْتُ أُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ فَلَمَّا كَانَ يَوْمَ بَدْرٍ فَذَكَرَ قَتْلَهُ وَقَتْلَ ابْنِهِ فَقَالَ بِلَالٌ لَا نَجَوْتُ إِنْ نَجَا أُمَيَّةُ [ر:۲۱۷۹]
په دې روایت کښې د امیه بن خلف د قتل واقعه ده.ددې تفصیل تیرشوې دې.

[۳۷۵۴]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ بْنُ عُثْمَانَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَرَأَ وَالنَّجْمِ فَسَجَدَ بِهَا

---
[١] لامع الدراری (۲۵۳/۸)
[٢] لامع الدراری (۲۵٤/۸)_
[٣] لامع الدراری (۲۵٤/۸)_
[٤] دتفصیل دپاره اوګورئ المغنی لابن قدامة (۱۷۶/۹)_

وَسَجَدَ مَنْ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا أَخَذَ كَفًّا مِنْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ فَقَالَ يَكْفِينِي هَذَا قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا [ر:١٠١٧]

په دې روايت کښې د شيخ نه (چاچه سجده نه وه کړې او.روسته کافر مړشوې وو) مراد اميه بن خلف دې.دده قتل چونکه په بدر کښې شوې وو.په دې وجه ددې مناسبت د «باب قتل أبي جهل وغيره» سره ښکاره دې.

په دې روايت کښې د سجدې ذکردې.چه نبی ﷺ سجده اوکړه.او نورو خلقو هم سجده اوکړه.په هغوی کښې مسلمانان هم وو او کافران هم،ددې سجدې وجه څه وه.نودا په «أبواب السجود» کښې تيره شوې ده.

[٣٧٥٥،٣٧٥٦] أَخْبَرَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ كَانَ فِي الزُّبَيْرِ ثَلَاثُ ضَرَبَاتٍ بِالسَّيْفِ إِحْدَاهُنَّ فِي عَاتِقِهِ قَالَ إِنْ كُنْتُ لَأُدْخِلُ أَصَابِعِي فِيهَا قَالَ ضُرِبَ ثِنْتَيْنِ يَوْمَ بَدْرٍ وَوَاحِدَةً يَوْمَ الْيَرْمُوكِ قَالَ عُرْوَةُ وَقَالَ لِي عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَرْوَانَ حِينَ قُتِلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ يَا عُرْوَةُ هَلْ تَعْرِفُ سَيْفَ الزُّبَيْرِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَمَا فِيهِ قُلْتُ فِيهِ فَلَّةٌ فُلَّهَا يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ صَدَقْتَ بِهِنَّ فُلُولٌ مِنْ قِرَاعِ الْكَتَائِبِ ثُمَّ رَدَّهُ عَلَى عُرْوَةَ قَالَ هِشَامٌ فَأَقَمْنَاهُ بَيْنَنَا ثَلَاثَةَ آلَافٍ وَأَخَذَهُ بَعْضُنَا وَلَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ أَخَذْتُهُ حَدَّثَنَا فَرْوَةُ حَدَّثَنَا عَلِيٌّ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ سَيْفُ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ مُحَلًّى بِفِضَّةٍ قَالَ هِشَامٌ وَكَانَ سَيْفُ عُرْوَةَ مُحَلًّى بِفِضَّةٍ

[٣٧٥٦] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لِلزُّبَيْرِ يَوْمَ الْيَرْمُوكِ أَلَا تَشُدُّ فَنَشُدَّ مَعَكَ فَقَالَ إِنِّي إِنْ شَدَدْتُ كَذَبْتُمْ فَقَالُوا لَا نَفْعَلُ فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ حَتَّى شَقَّ صُفُوفَهُمْ فَجَاوَزَهُمْ وَمَا مَعَهُ أَحَدٌ ثُمَّ رَجَعَ مُقْبِلًا فَأَخَذُوا بِلِجَامِهِ فَضَرَبُوهُ ضَرْبَتَيْنِ عَلَى عَاتِقِهِ بَيْنَهُمَا ضَرْبَةٌ ضُرِبَهَا يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ عُرْوَةُ كُنْتُ أُدْخِلُ أَصَابِعِي فِي تِلْكَ الضَّرَبَاتِ أَلْعَبُ وَأَنَا صَغِيرٌ قَالَ عُرْوَةُ وَكَانَ مَعَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ يَوْمَئِذٍ وَهُوَ ابْنُ عَشْرِ سِنِينَ فَحَمَلَهُ عَلَى فَرَسٍ وَوَكَّلَ بِهِ رَجُلًا [ر:٣٥١٦]

دحضرت زبير رضی الله عنه په بدن کښې د تورې نښې:

قوله: أَخْبَرَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ كَانَ فِي الزُّبَيْرِ ثَلَاثُ ضَرَبَاتٍ بِالسَّيْفِ إِحْدَاهُنَّ فِي عَاتِقِهِ إلخ:

د معمر رحمه الله روايت: دا روايت دې.«عن معمر عن هشام عن عروة» حضرت عروه د حضرت زبيربن العوام رضی الله عنه خوې وو.فرمائی.چه د حضرت زبير رضی الله عنه په بدن کښې درې زخمونه وو.يعنی د درې ګزارونو نښې وې.په دې کښې د يو ګزار نښه دحضرت زبير رضی الله عنه په اوږه

كښې وه. حضرت عروه فرمائي.چه ما به خپلې ګوتې د دغه نښوپه سورو کښې داخلولې.په دې کښې دوه نښې په جنګ بدرکښې راغلې وې.اويوه نښه په جنګ يرموك کښې راغلې وه. حضرت عروه فرمائي.چه کله عبدالله بن زبير رضي الله عنه قتل کړې شو.نو عبدالملك بن مروان زما نه تپوس اوکړو،چه ته د حضرت زبير رضي الله عنه توره پيژنې؟ ما ورته اووئيل.آو،عبدالملك اووئيل.په هغې کښې څه نښه ده؟ ما ورته اووئيل.((فيه فلة أفلها يوم بدر)) په هغې کښې خاپونه دې.(يعنی دهغې په تيره اړخ کښې لږه غوندې حصه ماته شوې ده) اودا خاپونه په کښې د بدرپه ورځ راغلې وو.عبدالملك اووئيل.صحيح واې.((بهن فلول من قراع الكتائب)) [1] يعنی د لښکر سره د مقابلې په وجه په دې توروکښې خاپونه جوړ شوی دی. د حضرت زبير رضي الله عنه دا توره د عبدالملك سره وه.هغه بيا حضرت عروه رضي الله عنه ته دهغه د پلار توره واپس کړه.دعروه خوې هشام وائي.چه مونږ په خپل مينځ کښې ددغه تورې درې زره درهمه قيمت لګولې وو.اوزمونږ بعضې وارثانو دغه په دې قيمت واخستله.[2] ((ولوددت أني كنت أخذته)) زما زړه دا غواړي.چه کاش دا ما اخستې وه.يعنی ما په هغه وخت کښې وانخستله.او اوس زه په دې خبره خفه يم.اوماته افسوس دې.چه کاش هم ما اخستې وه.
په وړاندينی روايت کښې دی.دحضرت زبير رضي الله عنه او حضرت عروه رضي الله عنه توره په سپينو زرو سره ښائسته کړې شوې وه.يعنی د هغې د لاسکی په لاندينی موټی باندې د سپينو زرو خول لګولې شوې وو.

دعبدالله بن مبارک رحمه الله روايت:

قوله: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ: ددې نه وړاندې د ((معمر عن هشام)) روايت وو.او دا روايت د عبدالله بن مبارک رحمه الله دې.هغه د هشام نه نقل کوی.او هشام د خپل پلار عروه نه نقل کوی.چه په جنګ يرموك کښې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم صحابو رضي الله عنهم حضرت زبير رضي الله عنه ته اووئيل.چه ته په روميانو باندې حمله ولې نه کوې؟ چه مونږ هم تاسره په حمله کښې شريك شو.نو حضرت زبير رضي الله عنه اووئيل.((إني إن شددت كذبتم)) که ما حمله اوکړه.نو

[1]) دا د نابغه ذبيانی د شعر دويمه مصرعه ده.پوره شعر دا دې.
ولا عيب فيهم غير أن سيوفهم،
بهن فلول من قراع الكتائب. ،،
فلول أي كلال، والقراع بكسر القاف المضاربة بالسيف، والكتائب جمع الكتيبة وهی الجيش (عمدة القاری (۹۰\۱۷) د شعر ترجمه دا ده....
ددی خلقو په (توروکښې) ددې نه سوا بل څه عيب نشته.چه د لښکرو سره په مقابله کښې ددوی په توروکښې خاپونه جوړ شوی دی، ،
وهومن المدح فی معرض الذم لأن الفل فی السيف نقص حسی لكنه لما كان دليلاً على قوة ساعدصاحبه كان من جملة كماله (انظرفتح الباری(۷۳۰۰۱۷)_
[2]) دا توره د هشام ورور عثمان بن عروه اخستې وه.(فتح الباری(۳۰۰۱۷)_

تاسوبه دروغژن ثابت شئ.مطلب دا دې.چه تاسو خو وائې.چه مونږ به تا سره په حمله کښې شريك شو.خو چه كله زه حمله اوكړم.نو تاسو به بيا شرکت نه کوئ.صحابو رضي الله عنهم اوونيل.مونږ به داسې نه کوو.نو حضرت زبير رضي الله عنه حمله اوکړه.او د روميانو صفونه ئې څيرې کول او بل طرف ته اورسيدل.«ومامعه أحد» او دوی سره څوك هم نه وو.حضرت زبير رضي الله عنه ووئيلی وو.چه «إن إن شددت كذبتم» هغه خبره صحيح ثابته شوه.بيا حضرت زبير رضي الله عنه چه د روميانو د صف نه په بل طرف واپس راغلو.نو روميانو د حضرت زبير رضي الله عنه د اس واګې اونيولو.

قوله: فَضَرَبُوهُ ضَرْبَتَيْنِ عَلَى عَاتِقِهِ بَيْنَهُمَا ضَرْبَةٌ ضُرِبَهَا يَوْمَ بَدْرٍ: هغوی ئې په اوږه باندې دوه ګذاره اووهل.دهغه دووګذارونو په مينځ کښې يوګذار بل وو.کوم چه په جنګ بدر کښې دوی ته لګيدلې وو.

په دې جنګ کښې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه هم دوی سره وو.دوی په دغه وخت کښې د لسو کالو وو.

د معمراو ابن مبارک رحمهما الله په روايتونوکښې تعارض: تاسو ته وړاندې دوه روايتونه دی.يود «معمرعن هشام» روايت اوبل د «عبدالله عن هشام» په دې دواړو روايتونوکښې په ظاهره تعارض معلوميږی.د«معمرعن هشام» د روايت نه خو دا معلوميږی. چه د حضرت زبير رضي الله عنه په بدن کښې د توری درې نښې وې. په دغه دريو کښې دوه په بدرکښې لګيدلې وې.او يوه نښه په جنګ يرموك کښې،او د عبدالله بن مبارك رحمه الله د روايت نه معلوميږی.چه په جنګ يرموك کښې دوه زخمونه وو.او په جنګ بدر کښې يو ضرب وو.دغه شان د عبدالله بن مبارك د روايت نه معلوميږی.چه درې واړه زخمونه په اوږه کښې وو.ځکه چه په دغه روايت کښې تصريح ده.چه په اوږه کښې ديرموك د دوو زخمونوپه مينځ کښې يوزخم د بدر وو.اود معمر په روايت کښې دی.چه صرف يو ضرب په اوږه کښې وو.نوپه دواړو روايتونوکښې دوه قسمه تعارض راغلو.

① يو تعارض خو دا دې.چه د معمرد روايت نه معلوميږی.چه عاتق (اوږه) باندې يو ضرب وو.او د عبدالله بن مبارك رحمه الله د روايت نه معلوميږی.چه په عاتق باندې درې ضربونه وو.

② دويم تعرض دا دې.چه د معمر د روايت نه معلوميږی.چه په دې درې واړوکښې دوه د بدر او يو ضرب د يرموك وو.اود عبدالله بن مبارك رحمه الله د روايت نه معلوميږی.چه دوه د يرموك وو.او يو د بدر وو.

دتعارض دحل دپاره مختلف توجيهات: ① حافظ ابن حجر، علامه عينی او علامه قسطلانی رحمهم الله فرمائی.چه په دې دواړو روايتونوکښې اختلاف دې. اولنې روايت «معمرعن هشام» دې.او دويم روايت «عبدالله بن المبارك عن هشام» دې.او ابن مبارك «أثبت عن معمر» دې.دغه شان د معمرعن هشام په روايت کښې کلام هم شته.نو د عبدالله بن مبارك رحمه الله روايت ته به ترجيح وی.اودا به وئيلی شی.چه درې واړه ضربونه په عاتق وو.په دې کښې دوه د يرموك او يو د بدر وو.

② دويم جواب دې حضراتو دا ورکړې دې.چه په حقیقت کښې د حضرت زبیر رضي الله عنه په بدن کښې درې نه بلکه پنځه ضربونه وو.په دې پنځو کښې درې د تورې وو.او دوه د نیزو وو.
نودمعمر په روایت کښې چه د کومو درې ضربونو ذکردې.په هغې کښې د «بالسیف» قید دې.چه د تورې زخمونه درې وو. یوپه عاتق وو.او دوه په غیر عاتق کښې وو.په اوړه کښې چه کوم زخم راغلې وو.هغه به بدری منلې شی.او په غیرعاتق کښې چه د زخم کوم دوه نښې وې.په هغې کښې یو ضرب د بدر وو.اوبل د یرموك،
اود عبدالله بن مبارك رحمه الله په روایت کښې په اوږه باندې چه کوم درې ضربونه خودلې شوی دی.مینځنې بدری خودلې شی.او هغه سیفی (یعنی د تورې گزار) وو.او کوم دوه چه یرموکی وو.هغه د نیزې وو.
نو په دې طریقه د یرموك ټول درې زخمونه وو.دوه په عاتق کښې وو.او یو په غیر عاتق کښې،د عاتق دواړه زخمونه د نیزې وو.اود غیرعاتق زخم د تورې وو.اود بدر دواړه زخمونه یو په عاتق کښې او یو په غیرعاتق کښې وو.اودا دواړه د تورې وو.([1])
نوچه د زبیر رضي الله عنه په بدن کښې پنځه زخمونه اومنلې شی.نود دواړو روایتونوپه مینځ کښې څه تعارض باقی نه پاتې کیږی.([2])
③ دریم جواب علامه کرمانی رحمه الله دا ورکړې دې.چه د معمر رحمه الله په روایت کښې «إحداهن فی عاتقه» نه په عاتق کښې د یو ضرب ثبوت کیږی.اود ابن مبارك رحمه الله د روایاتو نه معلومیږی. چه درې واړه ضربونه په عاتق کښې وو.نو ددې ساده باده جواب دا دې.چه په عدد کښې د مفهوم مخالف اعتبارنه وی.نوکه د معمر رحمه الله په روایت کښې «إحداهن فی عاتقه» دی.نوددې نه دا چرته لازمیږی.چه په عاتق کښې بل ضرب نه وو.ځکه چه عدد اقل د عدد اکثر نفی نه کوی. نو د عبدالله بن مبارك رحمه الله روایت د معمر رحمه الله د روایت سره معارض نه دې.
④ علامه کرمانی رحمه الله یو جوب دا هم ورکړې دې.چه یو ضرب بیخی د اوږې په مینځ کښې

---

[1])دا ددې نقشې په مدد سره زده کړه.

[2]) حافظ ابن حجر لیکی.((فإن كان إختلافاً على هشام فرواية ابن المبارك أثبت لأن فی حديث معمر عن هشام مقالاً وإلا فيحتمل أن يكون فی غير عاتقه ضربان أيضاً فيجمع بذلك بين الخبرين (فتح الباری ۲۹۹\۷) وكذا فی عمدة القاری(۱۱۷\۹۰)_~.

وو.او نور دوه هم په اوږه کښې وو.خوبیخی په مینځ کښې نه وو.بلکه طرفونو ته وو.د معمر په روایت کښې د ((إحداهن في عاتقه)) نه هغه بیخی مینځنی ضرب مراد دې. ([1])
علامه کرمانی رحمه الله دا دواړه خبرې د اولنی تعارض لرې کولو دپاره کړې دی.د روایتونو په مینځ کښې د تعارض لرې کولو دپاره هغوی هم هغه جواب ورکړې دې.کوم چه علامه عینی وغیره ورکړې دې.([2])

دحضرت گنگوهي رحمه الله توجیه: خو حضرت گنگوهی ددې ټولو نه جدا خبره کړې ده. اوډیره معقوله توجیه ده.دوی فرمائی.چه د حضرت زبیر رضي الله عنه په بدن کښې ټول څلور ضربونه وو.اودهغې ترتیب دا وو.یرموك،بدر،یرموك ،بدر،دوه نښې د بدر وې.او دوه د یرموك وې. کله چه راوی د حضرت زبیر رضي الله عنه د جنګ بدر د بهادرئ ذکرکولو.نو د جنګ بدر د دوو ضربونو ذکر ئې اوکړو.اود جنګ یرموك د یو ضرب په بیان باندې ئې اکتفاء اوکړه .اوکله چه راوی د حضرت زبیر رضي الله عنه د جنګ یرموك د بهادرئ ذکرکولو.نو دجنګ یرموك د دوو ضربونو ذکر ئې اوکړو.اود جنګ بدرپه یوضرب باندې ئې اکتفاء اوکړه.
دمعمر رحمه الله په روایت کښې چونکه د راوی د حضرت زبیر رضي الله عنه د جنګ بدر د بهادرئ بیان مقصود وو.نو ځکه ئې په دې کښې د بدر د دوو ضربونو ذکر اوکړو.او د یرموك د یو ضرب،اود عبدالله بن مبارك په روایت کښې د راوی د حضرت زبیر رضي الله عنه په جنګ یرموك کښې د بهادرئ ذکرمقصود وو.نوځکه ئې په کښې د جنګ یرموك د دوو ضربونواود جنګ بدرد یوضرب بیان اوکړو. ([3]) والله اعلم

جنګ یرموك: په دې روایت کښې دجنګ یرموك ذکر دې.یرموك د فلسطین سره نزدې د یوې علاقې نوم دې.بعضې وائی.چه دا د شام د یوې علاقې نوم دې.او بعضې وائی.چه یرموك د ،،اذرعات،، او ،،دمشق،، په مینځ کښې دیوځاې نوم دې.په کوم کښې چه د مسلمانانو او رومیانوپه مینځ کښې تاریخی جنګ شوې وو.کوم چه په تاریخ کښې د جنګ یرموك په نوم سره مشهور دې.([4])
دابن جریرطبری رحمه الله د بیان مطابق د جنګ یرموك دا واقعه په ۱۳هـ کښې پېښه شوې وه.اود محمدبن اسحاق په نیز دا واقعه په ۱۵هـ کښې پېښه شوې وه.دا جنګ د حضرت

---

[1])شرح الکرمانی(۱۵\۱۶۵)_
[2])شرح الکرمانی (۱۵\۱۶۵)_
[3])په لامع الدراری کښې دی.فالحاصل أن الضربات صارت أربعاً لکل یوم ضربتان غیر أن ضربتی یوم الیرموک وقعتا بحیث صارت ضربة من ضربتی یوم بدر بینهما هکذا
| ۱ یرموك | ۱ بدر | ۱ یرموك | وکانت الضربة الثانیة من ضربتی یوم بدر علی طرف الضربات صورتها
| ۱ یرموک | یرموک ۱ | ۱ بدر | ۱ بدر | وعلی هذا فلا خلاف بین الروایات فمن روی ضربة یوم الیرموک بالإفراد فمراده منها الضربة المتوسطة بینهما لا مطلقاً ..انظرلامع الدراری (۸\۲۵٤و ۲۵۵)_~
[4])عمدة القاری(۱۷\۹۰)_

عمر رضی الله عنه په زمانه کښې شوې وو.د اسلامی لښکر امیر حضرت ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه وو.اود رومیانو د لښکر جرنیل باهان ارمنی وو.علامه عینی رحمه الله د هغه نوم ماهان ارمنی خودلې دې.(۱)
په دې جنګ کښې څلور زره مسلمانان شهیدان شوی وو.اود رومیانو یولاکهه پنځه زره سړی قتل شوی وو.اوڅلویښت زره بندیان شوی وو.(۲)

---

(۱)عمدة القاری(۱۷\۹۰)_
(۲)جنګ یرموک د تاریخ اسلام په عظیم جنګونوکښې دې.په دې جنګ کښې د شکست نه پس رومیان بیا جنګ ته نه دی سم شوی.کله چه د اسلام لښکر نه بندیدونکې سیلاب د جزیره عرب نه اووتل اود قیصر او کسری طرف ته ئې مخ کړل.اودمشق ،حمص اود شام سره نزدې علاقوکښې ئې رومیانو ته شکست ورکړو.نو رومیان د دې علاقونه اووتل.اوپه دارالخلافه انطاکیه کښې جمع شول.اوهرقل ته ئې فریاد اوکړو.چه عربوټول شام باندې قبضه اوکړه.هرقل ترې تپوس اوکړو.عرب ستاسو نه په قوت کښې په شمار کښې او سازوسامان کښې کم دی.بیا تاسو ولې دهغوی په مقابله کښې نشئ ټینګیدې.نو یو تجربه کار بوډا ورته جواب ورکړو.اودا وجې ئې ورته بیان کړه،،
دعربو اخلاق زمونږ نه ښه دی.هغوی د شپې عبادت کوی.او د ورځې روژې نیسی.ظلم نه کوی.اود یوبل سره د برابرئ سلوك کوی.زمونږ حال دا دې.چه مونږ شراب څکو.زناکانې کوو.د اصولو پابندی نه کوو.او ظلم کوو.ددې اثر دا ذې.چه د هغوی په کار کښې جذبه او استقامت دې.او زمونږ هرکار ددې نه خالی دې،،
•قیصر ته چه هرکله د هرښارنه عیسایان فریادی راتلل شروع شول.نو قیصر ډیر په جوش او جذبه کښې راغلو.اوخپل پوره طاقت ئې د عربوپه مقابله کښې خرچ کولو ته تیارشو.نود سلطنت ټولو طرفونو.قسطنطنې،جزیره ،آرمینې، وغیره ته ئې حکمونه اولیږل.چه ټول فوځ په انطاکیه کښې جمع شی.ددې احکاموپه تعمیل کښې د فوځونوپوطوفان راغونډ شو.د انطاکیه څلورو طرفونوته د سترګوپه نظرد فوځونولښکرلګه د ملخانو خور شو.د بحر اوبرنه د راتلونکی فوځیانود جذبې دا حالت وو. چه فوځ به په کومه لاره باندې تلل،نو راهبان اود ګرجو عبادت ګذاربه راوتل.او فوځ سره به شاملیدل.
•د رومیانود فوځ جمع کیدو خبر چه کله مسلمانانو ته ملاؤ شو.نود اسلامی فوځ جرنیل حضرت ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه په دغه وخت کښې حمص کښې وو.دمسلمانانو په مشوره د هغه ځای نه روان شو.اوګیرچاپیره خور وور اسلامی لښکرئې.یرموك ته راجمع کړل.اودربارخلافت ته ئې د صورت حال نه خبرولوپاره خبر اولیږلو.حضرت عمر رضی الله عنه مهاجرین او انصار راجمع کړل. او صورت حال ئې ورته اوخودل.اومشوره اوشوه.چه یو زر نور امدادی فوځونه دې اولیږلی شی.او ورسره ئې د حضرت ابوعبیده رضی الله عنه په نوم یو پرتاثیرخط هم اولیکلو.اوقاصد ته ئې اوویل.چه خط ورته واوره.او زبانی ورته دا پیغام ورکړه.
*العمر یقرئک السلام ویقول لکم یا أهل الإسلام أصدقوا اللقاء وشدوا علیهم شداللیوث. ولیکونوا أهون علیکم من الذر.فإنا قد کنا علمنا إنکم علهیم منصورون،
•د رومیانو په دوه لاکهه فوځ باندې مشتمل لښکرراغلو.اویرموك ته مخامخ ،،دیرالجبل،، کښې دیره شول.د اسلامی لښکرتعداد د ۳۰ نه تر۳۵ زرو پورې وو.اوس دواړه فوځونه یوبل ته مخامخ وو.چه صبا شو.نو رومیان داسې په جوش اوجذبې سره رااووتل.چه مسلمانان حیران شول.خالد بن ولید رضی الله عنه چاچه په جنګ کښې امورو کښې غیرمعمولې صلاحیت لرلو.اسلامی لښکرپه ۳۶ حصو باندې تقسیم کړل.اوپه هره یو حصه باندې ئې بهادر، اودجنګ په امورو کښې چه ښه مهارت لرلو.جرنیل مقرر کړلو.په اسلامی لښکرکښې یو زر صحابه کرام رضی الله عنهم وو..... [بقیه حاشیه په بل مخ....

چونکه دحضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه سره د حضرت زبیر رضي الله عنه زیات محبت وو.ددې وجې به حضرت زبیر رضي الله عنه دې خان سره جنګ ته هم بوتلو.په جنګ یرموك کښې د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه (چه عمرئې د یوقول مطابق لس کاله اودبل قول مطابق دولس کاله وو.او د دولسو کالو قول صحیح دې.په حدیث کښې چه ئې لس کاله کوم وئیلی دی. نو دا ئې کسورحذف کړی دی.اووئیلې ئې دی) دحضرت زبیر رضي الله عنه سره وو.دوی به ئې په اس باندې سور کړې وو. حضرت زبیر رضي الله عنه چه به کله دحملې کولودپاره تلل.نوچونکه په حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه کښې د ماشوموالی نه د بهادرئ آثار ښکاریدل.ددې وجې هغوی یوسړې (چه نوم ئې معلوم نشو) مقررکړو.چه هغه حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه په قابو کښې ساتی. ځکه چه حضرت زبیر رضي الله عنه سره ویره وه.چه دې چرته د جنګ کولودپاره مجاهدینوسره په جنګ کښې شریك نشی.د دوی د کم عمرئ د وجې حضرت زبیر رضي الله عنه دا نه غوښتل.چه دوی په جنګ کښې شریك شی.خودعبدالله بن مبارك رحمه الله بیان دې.چه ددې باوجود حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه به د اس نه راکوزیدو.اوپه میدان جنګ به ئې زخمی کافران قتلول.(١)

....دتیرمخ بقیه حاشیه] یو سل هغه حضرات وو.چاته چه په جنګ بدر کښې دشرکت سعادت حاصل شوې وو.بل طرف ته د رومیانود د جوش دا حالت وو.چه دیرش زره کسانو به پښیوکښې بیړئ اچولې وې.اود واپس کیدو خیال ورته هم نه راتلل.د جنګ ابتداء د رومیانو د طرفه اوشوه.او دوه لاکهه لښکرسره راوراندې شول.مسلمانان ډیروخته پورې ثابت قدم وو.خو حمله دومره زوراوره وه.چه د مسلمانانو میمنه ماته شوه.اود فوځ نه جدا شوه.او مسلمانان په واپس تلوتلو د ښځو خیموته اورسیدل.مسلمانانوښځوچه دا اولیدل.نوډیره غصه ورته ورغله.اود خیموګکی ئې راوویستل. او چغې ئې کړې.نامرادو که په دې طرف راغلئ.نوپه دې لرګو به ستاسو سرونه مات کړو.چه دا ئې واوریدل.نو د میمنه سپه سالارحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه د اس نه راکوز شو.اویدل ئې حمله شروع کړه.دهغوی خوئ هم ورسره وو.اوداسې زبردسته حمله ئې اوکړله.چه دمسلمانانو خویدلی قدمونه بیا مضبوط شول.،،

"خالدفوځ روسته ایسارکړې وو.ناڅاپه ئې صفونه مات کړل.اوداسې زورزوره حمله ئې اوکړه.چه د رومیانو صفونه تربترا(خوا دیخوا) شول.دابوجهل خوئ حضرت عکرمه رضي الله عنه اووئیل.په مرګ به خوك بیعت اوکړی.څلور سوه مجاهدینو ورسره په مرګ باندې بیعت اوکړو.اوداسې په ثابت قدمئ سره اوجنګیدل.چه په زرګونو رومیان ئې قتل کړل.اوخپله هم ټول شهیدان شول.،،

"د جنګ دواړه طرفونه تراوسه پورې برابر وو.چه ناڅاپه د قیس بن هبیره رضي الله عنه کوم چه حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه د فوځ دیوې حصې سره د میسرې شا ته متعین کړې وو.د شا نه راووتل .اوداسې حمله ئې اوکړه.چه رومی لښکرپه تیښته مجبوره شو.چه دجنګ نه پس اوکتلې شو.نو رومیانو یولاکهه پنځه زره لاشونه پریخودی وو.او تښتیدلی وو.اوخلوېښت زره ژوندې بندیوان کړې شول.چه دربارخلافت ته ددې عظیم الشان فتحې خبر اورسیدل.نوحضرت عمر رضي الله عنه چه دا خبر واوریدو.په سجده پریوتلو.،، دصحیح روایت مطابق دجنګ یرموك دا واقعه په رجب ١٥هـ کښې پیښه شوې وه.(تاریخ طبری ٣٠) والله اعلم)~

(١)عبدالله بن زبیر یکنی أبا بکر الأسدی القرشی.کناه النبی صلى الله عليه وسلم بکنیة جده لأمه أبی بکرالصدیق وسماه بإسمه وهو أول مولود ولد فی الإسلام للمهاجرین بالمدینة أول سنة من الهجرة أذن أبوبکر فی أذنه وولدته أمه أسماء (بقباء) وأتته به إلی النبی صلى الله عليه وسلم فوضعته فی حجره فدعا بتمرة...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

ترجمة الباب سره مطابقت: دترجمة الباب سره به ددې روايت مطابقت هم په داسې صورت كښې وى. چه دعلامه عينى رحمه الله بيان كړې شوې د «وغيره» لفظ ورسره په ترجمه كښې ملحوظ اوساتلې شى.او «وغيره» كښې ضمير دابوجهل طرف ته نه بلكه قتل طرف ته راجع كړې شى.يعنى په دې باب كښې به د ابوجهل د قتل واقعه هم ذكركيږى.اودقتل ابوجهل نه علاوه د نورو واقعاتو ذكربه په كښې هم راځى.

چونكه په دې روايت كښې د حضرت زبير رضي الله عنه په بدن كښې د بدر په ورځ د زخم راتلو ذكردې.نو ددې وجې د «باب قتل أبي جهل وغيره» سره مناسبت ښكاره دې.

[٣٧٥٧] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ سَمِعَ رَوْحَ بْنَ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيثٍ مُخْبِثٍ وَكَانَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ الْيَوْمَ الثَّالِثَ أَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ فَشُدَّ عَلَيْهَا رَحْلُهَا ثُمَّ مَشَى وَاتَّبَعَهُ أَصْحَابُهُ وَقَالُوا مَا نُرَى يَنْطَلِقُ إِلَّا لِبَعْضِ حَاجَتِهِ حَتَّى قَامَ عَلَى شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ يُنَادِيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِهِمْ يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ أَيَسُرُّكُمْ أَنَّكُمْ أَطَعْتُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا تُكَلِّمُ مِنْ أَجْسَادٍ لَا أَرْوَاحَ لَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ قَالَ قَتَادَةُ أَحْيَاهُمُ اللَّهُ حَتَّى أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ تَوْبِيخًا وَتَصْغِيرًا وَنَقِيمَةً وَحَسْرَةً وَنَدَمًا [ر: ٢٩٠٠]

په دې روايت كښې د جنګ بدر په اختتام بأندې د كفارقريش د سردارانو په كوهى كښې د غورځولو واقعه بيان شوې ده،چه رسول الله ﷺ د صناديد قريشو په كوهى كښې د غورځولو حكم اوكړو.صناديد جمع د صنديد دى.سردار ته وائى.نبى ﷺ هغه كوهى ته لاړل.اوهغوى ته ئې خطاب اوكړو.نو د حضرت عمر رضي الله عنه شك پيدا شو.او هغوى تپوس اوكړو. «ماتكلم من اجساد لا أرواح لها؟» نو نبى ﷺ اوفرمائيل.«والذى نفس محمد بيده ما أنتم بأسمع لما أقول منهم» حضرت قتاده رحمه الله فرمائى.چه الله تعالى دغه كافران د نبى ﷺ د خبرو اوريدو دپاره ژوندى كړل.

.....دتيرمخ بقيه] فمضغها ثم تفل فى فيه، وحنكه فكان أول شئ دخل فى جوفه ريق رسول الله ﷺ ثم دعا له وبرك عليه وكان أطلس لا شعرله فى وجهه ولا لحيته وكان كثيرالصيام والصلاة .. ذا أنفة شدد البأس قابلاً للحق وصولاً للرحم. إجتمع له مالم يجتمع لغيره،أبوه حوارى رسول الله ﷺ أمه أسماءبنت الصديق وجدته صفية عمة رسول الله ﷺوخالته عائشةرضى الله عنها زوج انبى ﷺ وبايع رسول الله ﷺ وهو ابن ثمانى سنين قتله حجاج بمكة وصلبه يوم الثلثاء لسبع عشرة خلت من جمادى الأخرة سنة ثلاث وسبعين وكان بويع له بالخلافة سنة أربع وستين و روى عنه خلق كثير (انظرالإكمال فى أسماء الرجال لصاحب المشكاة،٦٦٨)_

[۳۷۵۸] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللَّهِ كُفْرًا قَالَ هُمْ وَاللَّهِ كُفَّارُ قُرَيْشٍ قَالَ عَمْرٌو هُمْ قُرَيْشٌ وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَةُ اللَّهِ وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ قَالَ النَّارَ يَوْمَ بَدْرٍ [ر: ۳۴۲۳]

دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت دي.دوى فرمائى.چه د ﴿الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللهِ كُفْرًا﴾ مصداق قريش دى.چا چه د الله د رسول چه د الله تعالىٰ لوي نعمت او رحمت وو.دهغه اطاعت اونكړو. اوخپل قوم ئې دارالبوار يعنى په هلاكت كښې اوغورځول.

[۳۷۵۹] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَفَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عليه فَقَالَتْ وَهَلَ إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيئَتِهِ وَذَنْبِهِ وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ الْآنَ قَالَتْ وَذَاكَ مِثْلُ قَوْلِهِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْقَلِيبِ وَفِيهِ قَتْلَى بَدْرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ لَهُمْ مَا قَالَ إِنَّهُمْ لَيَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ إِنَّمَا قَالَ إِنَّهُمُ الْآنَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ مَا كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ حَقٌّ ثُمَّ قَرَأَتْ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ يَقُولُ حِينَ تَبَوَّءُوا مَقَاعِدَهُمْ مِنَ النَّارِ [ر: ۱۲۰۵]

[۳۷۶۰] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ وَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَلِيبِ بَدْرٍ فَقَالَ هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ثُمَّ قَالَ إِنَّهُمُ الْآنَ يَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ فَذُكِرَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ إِنَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُمُ الْآنَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّ الَّذِي كُنْتُ أَقُولُ لَهُمْ هُوَ الْحَقُّ ثُمَّ قَرَأَتْ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى حَتَّى قَرَأَتِ الْآيَةَ [ر: ۱۲۰۴]

حضرت هشام دخپل پلار عروه نه روايت كوى.فرمائى.چه د حضرت عائشې رضی الله عنها وړاندې ددې خبرې ذكر اوشو.چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نبى ﷺ ته نسبت كوى.او دا حديث بيانوى. چه ((إن الميت ليعذب فى قبره ببكاء أهله)) چه مړى ته په قبر كښې دده د كور دخلقو په ژړا باندې عذاب وركولې شى.نوحضرت عائشې رضی الله عنها اوفرمائيل.

قوله: إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيئَتِهِ وَذَنْبِهِ وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ الْآنَ: يعنى نبى كريم ﷺ خودا فرمائيلى دى.چه هلته مړى ته دده د خطاء او ګناه په وجه عذاب وركولې شى.او بل طرف ته دكور خلق په هغې پسې ژاړى.

بيا حضرت عائشې رضی الله عنها اوفرمائيل.چه د ابن عمر رضی الله عنهما قول هم داسې دې.لكه څنګه چه د هغوى قول دې.چه نبى ﷺ د بدر په ورځ د ((اهل قليب)) په باره كښې فرمائيلى وو.چه ((إنهم ليسمعون ما أقول)) حالانكه نبى ﷺ دا نه دى فرمائيلې.بلكله ((إنهم الآن ليعلمون أن ما كنت أقول لهم حق)) ئې فرمائيلى وو.بيا حضرت عائشې رضی الله عنها دا آيت اولوستلو.﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾

دلته دوه مسئلې دي.يوه مسئله د سماع موتی ده.او دويمه مسئله دمړي ته د هغه د كور د خلقوپه ژړا باندې د عذاب وركولو د.اوپه دواړو مسئلوكښې يوه رائې دحضرت عائشې رضي الله عنها ده.او يوه رائې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ده.او په دواړو مسئلوكښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت صريحه صحيحه مرفوعه منقول دې.دكوم نه چه حضرت عائشه رضي الله عنها انكار كوي.

مسئله د سماع موتی: اولنۍ مسئله دا وه.چه نبی ﷺ قليب بدر ته تشريف يوړو.او ((إنهم الآن يسمعون ما أقول لهم)) ئې اوفرمائل.حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د ((ليسمعون)) لفظ نقل كړې دې.او حضرت عائشه رضي الله عنها ته چه ددې ذكر اوشو.نوهغوی اوفرمائيل.نبی ﷺ د((ليسمعون)) لفظ نه دې فرمائيلې.بلكه((ليعلمون)) ئې فرمائيلی دی.حضرت عائشه رضي الله عنها دسماع نفی كوی.اوعلم ثابتوی. ددوی دليل دا دې.چه په قرآن مجيد كښې ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ ([1]) وارد دی.او په يو آيت كښې دی.﴿وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ﴾ ([2]) په دې دواړو آياتونو كښې د سماع موتی نفی ده. نو د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت كښې د ((منهم الآن يسمعون)) څنګه ټيك كيدې شی.

دحضرت عائشې اوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهم اختلاف په دې مسئله كښې راغلو .دواړو ته شرف صحابيت حاصل دې.نو كه روستنی خلق په دې مسئله كښې اختلاف كوی.نو څه بد د خبره نه ده.كوم كسان چه د سماع موتی قائل دی.هغوی د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روايت سره استدلال كی.نو د دوی د ملامته كولو څه ګنجائش نشته.اوكوم خلق چه ددې نه انكار كوی.نو هغوی د حضرت عائشې رضي الله عنها په روايت باندې استدلال كوی.په هغوی باندې هم دڅه ملامتيا ګنجائش نشته.

خو يوه خبره ياد ساتئ.چه په سماع موتی كښې چه كوم اختلاف دې.دا د انبياء علهيم السلام په سماع كښې نه دې.د حضرات انبياء عليهم السلام سماع په اتفاق سره او په اجماع سره ثابته ده.البته د نورو مړو په باره كښې اختلاف دې.

سماع موتی د قائلينودلائل: ① دوی خو يو د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په ذكر شوی روايت باندې استدلال كوی.يعنی په قليب بدركښې د نبی ﷺ مړو ته خطاب كول اودهغوی دسماع تصريح.

② دويم دوی په هغه رواياتو باندې استدلال كوی.په كوموكښې چه مقبرې ته د تلو په وخت كښې د((السلام عليكم يا أهل القبور)) تصريح ده.([3])

③ دغه شان د حضرت انس رضي الله عنه روايت دې.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.كله چه مړې په قبر كښې كيخودې شی.اوخلق واپس لاړ شی.نو ((انه يسمع قرع نعالهم)) نو هغه مړې د دوی د پيزار آواز اوری.([4])

---

[1])سورة النمل:۸۰)_
[2])سورة فاطر:۲۲)_
[3])الحديث أخرجه الترمذی فی كتاب الجنائز باب ما يقول الرجل إذا دخل المقابر رقم ۱۰۵۳)_
[4])الحديث أخرجه البخاری فی كتاب الجنائز باب الميت يسمع خفق النعال (۱۷۸۱۱)_

④ د مړو دپاره د علم ثبوت خو متفق عليه دی.لکه څنګه چه حضرت عائشه ﷞ فرمائی.چه نبی ﷺ ((انهم ليعلمون)) فرمائيلی وو.دا حضرات وائی.چه که په يو مړی کښې دا صلاحيت وی.چه هغه علم لری.نوکه د هغه دپاره سماع هم ثابته شی.نوڅه اشکال دی؟ دعلم د صلاحيت د ثبوت نه پس د سماع د صلاحيت په ثبوت کښې څه استبعاد دی؟

د قائلين سماع موتی د طرفه د ايت قرانی توجيهات: ① د آيت ﴿اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى﴾ او ﴿وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ﴾ په باره کښې دا حضرات فرمائی.چه په دې دواړو آياتونو کښې د سماع نه نفی نه ده.د اسماع نفی ده.اودا ښيخی بديهی او ښکاره ده.چه په دواړو آياتونو صيغو کښې دباب افعال صيغې دی.نويقيناً په دې کښې به نفی د اسماع وی.د سماع به نه وی([1])

② حضرت شاه انورشاه کشميری ﷫ په فيض البارى کښې فرمائی.چه په آيت کښې د هغه سماع نفی ده.چه د هغې په جواب کښې مړې هم څه اووائی.د مطلق سماع نفی نه ده.بلکه د ،، خاص قسم سماع نفی ده.

③ حضرت شاه صاحب يوه توجيه د حضرت علامه سيوطی ﷫ په حوالې هم نقل کړې ده.چه په دې دواړو آياتونوکښې دا خودلې شوې ده.چه ته دې کافرانوته د مړو پشان اورول اوکړې خو څه هدايت نشې کولې.لکه څنګه چه مړوته اورول اوشی.خوبه دې اورولو سره هغوی نيغې لارې ته نشی راتلې.نودغه شان دا کافران هم نه په هدايت کيږی.نوبه دې آيت کښې د سماع نفی نه ده.بلکه د انتفاع باسماع نفی ده.([2])

په دې اجتهادی مسئلې کښې غلو صحيح نه ده: بهرحال دا مسئله اجتهادی ده.اوپه صحابه کرامو ﷡ کښې په دې مسئله باندې اختلاف موجوددې.نوکوم خلق چه د سماع موتی قائل نه دی.د هغوی په باره کښې دا وئيل چه دوی د اهل سنت والجماعت نه خارج دی.يا کوم خلق چه د سماع موتی قائل دی.هغوی د اهل سنت والجماعت نه خارج ګڼړل دا غلو او زياتې دې.([3])

---

[1])اوداسماع نفی د سماع نفی لره مستلزم نه ده، او په آيت کښې ،،ته اوروول نشی کولې،د دې نه دا نه لازميږی.چه هغوی اوريدل هم نشی کولې.دغه شان په قرآن په آيت کښې دی.چه ((اِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ اَحْبَبْتَ)) يعنی ته چه چاته غواړې هدايت نشې کولې.ددې نه دا نه لازميږی.چه څوك د هدآيت ادراك هم نشی کولې.

[2])فيض البارى(۴۶۸\۲)_

[3])د مولانا اشرف علی تهانوی ﷫ نه تپوس اوشو.چه اهل قبور اوری که نه،دوی ورته جواب ورکړو.دواړو طرفونو ته اکابرين او دلائل دی.د داسې اختلافی مسئلې حل څوك راوستې شی.اود علمی او عملی ضروورياتوځنې هم نه ده.چه د يوطرف ترجيح کښې تدقيق اوکړې شی.امداد الفتاوى (۳۷۹\۵) په يو بل ځای کښې فرمائی.دا مسئله نه د عقائد ضروريه سره تعلق ساتی.اونه د دين څه عمل په دې باندې موقوف دې.اونه د يو طرف جزم ضروری دې.په دې کښې د اشتغال ما لايعنی اهتمام دې (امدادالفتاوى(۴۳۷\۵)_

دعلماء ديوبند رحمهم الله مسلک: د انبياء عليهم السلام د حيات په باره کښې د علماء ديوبند مسلک دا دې چه انبياء عليهم السلام په خپلو قبرونوکښې د جسد عنصرى سره ژوندى دى. دا عقيده نه يواځې د علماء ديوبند ده.بلکه د ټول امت ده.حضرت مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله په ((المهند على المفند)) کښې ليکلى دى.((عندنا وعند مشائخنا حضرة الرسالة ﷺ حى فى قبره الشريف وحياته ﷺ دنيوية من غير تكليف وهى مختصة به ﷺ وبجميع الأنبياء صلوات الله عليهم والشهداء لابرزخية كما هى حاصلة لسائر المسلمين بل لجميع الناس))([1])

زمونږ او زمونږ د مشائخو په نيز نبى ﷺ په خپل قبر مبارك کښې ژوندې وې، اود دوى ژوند د دنيوى ژوند پشان دې.البته دا چه هغوى د احکامو مكلف نه دى.اودا حيات نبى کريم ﷺ اوټولو انبياوء او شهداء سره خاص دې.برزخى نه دې.کوم چه ټولو مسلمانانو بلکه ټولو خلقو ته حاصل دې.

ترکومې پورې چه د عام سماع موتى تعلق دې.نو په دې کښې دواړو طرفونو ته د اکابرينو دلائل دى.البته معتدله خبره دا معلوميږى.چه په کومو مواقعوکښې په رواياتو صحيحو سره اوريدل ثابت دى.هلته په اوريدو باندې عقيده ساتل پکار دى.او په کوم ځاى کښې چه ثابت نه دى.هلته دواړه احتماله شته.ځکه نه د قطعى اثبات گنجائش شته.اونه د قطعى نفى([2])

دويمه مسئله :

قوله: إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عليه: دا روايت د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې.خو دحضرت عمر رضي الله عنه نه دا هم منقول دى.چه کله دحضرت عمر رضي الله عنه آخرى وخت شونوصهيب رومى دوى ته راغلو.اوپه ژړاشو،حضرت عمر رضي الله عنه صهيب ته تنبيه ورکړه.او وې فرمائيل.تاته معلومه نه ده.چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.((إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِي قَبْرِهِ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عليه))([3])

دغه شان د نورو صحابوﷺ نه هم دا روايت منقول دې.خود ام المومنين حضرت عائشې رضي الله عنها مذهب ددې روايت د ظاهره نه خلاف دې.هغوى فرمائى.چه دا روايت د قرآن شريف د آيت ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ او﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ نه خلاف دې.ځکه چه ددې دواړو آياتونو نه معلوميږى.چه هرانسان ته به هغه څه ملاويږى.څه چه ده کړې وى.اود يو انسان بوج به په بل نشى اچولى.نو بيا د کور د خلقوپه ژړا سره مړى ته څنګه عذاب ملاويدې شى؟ نو د حضرت عمر رضي الله عنه دا حديث چه کله حضرت عائشې رضي الله عنها ته اورسيدو.نو هغې اوفرمائيل.((رحم الله عمر رضي الله عنه والله ما حدث رسول الله ﷺ إن الله ليعذب المؤمن ببكاء أهله عليه ولكن رسول الله ﷺ قال إن الله ليزيد الكافر عذابا ببكاء أهله عليه))([4])

---

[1])المهند على المفند (ص،۳۸)_

[2])معارف القرآن موالنا مفتى محمد شفيع صاحب (۶۰۴/۶)_

[3])فلما أصيب عمر رضي الله عنه دخل صهيب يبكى يقول واأخاه واصاحباه وقال عمر رضي الله عنه يا صيهب أتبكى على وقد قال رسول الله ﷺ إن الميت ليعذب ببعض بكاء أهله عليه أخرجه البخارى فى كتاب الجنائز. رقم ۱۲۸۷)

[4])أخرجه البخارى فى كتاب الجنائز رقم ۱۲۸۸)_

دا د بخاري د كتاب الجنائز روايت دې.اود بخاري په كتاب المغازي كښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت په باره كښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي.((انما قال رسول الله ﷺ إنه ليعذب بخطئته وذنبه وإن أهله ليبكون عليه الآن))

نوحضرت عائشې رضي الله عنها چه دا روايت وواريدو.نو دوه خبرې ئې بيان كړې.

① يوه دا چه ((إن الميت ليعذب ببكاء أهله عليه)) د كافر په باره كښې دې.د مومن په باره كښې نه دې.مومن ته به د اهل د ژړا په وجه عذاب نه وى.

② اودويمه خبره ئې دا اوكړه.چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.چه سړى ته دخپلې غلطئ اوګناه په وجه عذاب وركولې شى.كومه ګناه چه ده په خپل ژوند كښې كړې وه.اودده د كور خلق اوس ژاړى.(نو دكور دخلقوپه ژړا هغه ته پكارده چه عذاب نه ملاويږى)

وجوه تطبيق: علامه خطابى رحمه الله دا توجيه كړې ده.چه په ((ببكاء أهله عليه)) كښې ،،باء،، حاليه ده.او مطلب دا دې.((إن الميت ليعذب في حالة بكاء أهله عليه)) يعني دلته د كور خلق په هغې پسې ژاړى.او هلته مړى ته دهغه د بداعمالوپه وجه عذاب وركولې شى.دوى هم په مصيبت كښې اخته او هغه هم په مصيبت كښې بنديوان (١)

② داحنافو رحمهم الله مسلك لكه څنګه چه در مختار نقل كړې دې.اود اكثرو شوافعو مسلك دا دې.چه مړى ته د اهل د ژړا په وجه عذاب په هغه وخت كښې وركولې شي.كله چه مړى خپل اهل ته د ژړا وصيت كړې وى.زما په مرګ به تاسو ما پسې ژړا كوئ) (٢) كه ده وصيت نه وى كړې.اود كور خلق ژړا كوى.نود دوى په ژړا باندې مړى ته عذاب نه ملاويږى.

③ بعضې حضراتو دا هم وئيلى دى.چه د كور دخلقو په ژړا باندې مړى ته دا عذاب په هغه وخت كښې وركولې شى.چه مړكيدونكى ته دا علم وى.چه د كور د خلقو طريقه اوعادت دا دې. چه مړى پسې ژړا كوى.او ددې باوجود ده د كور خلق د ژړا كولو نه منع نكړل.نو چونكه ده دكور خلق نه دى منع كړى.ددې وجې ده ته عذاب وركولې شى.

④ يوه توجيه دا هم شوې ده.چه ((إن الميت ليعذب ببكاء أهله عليه)) دا د عالم برزخ په باره كښې دې.اود قرآن شريف آيت ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى﴾ د آخرت په باره كښې دې.نو په دواړو كښې څه تعارض نشته.دا توجيه علامه كرمانى رحمه الله كړې ده.

⑤ حافظ ابن حجر رحمه الله ددې يوه بله توجيه كړې ده.هغه دا چه په زمانه د جاهليت كښې به خلقو ډاكې وهلې.قتلونه به ئې كول.اوددې پشان نور حرام كارونه به ئې كول.كله چه به څوك مړ شو.نو د كور خلقو به دهغه د بهادرئ،دهغه د قتل ،اوپه جنګونو كښې دلوټ مار

---

(١) حكاه الخطابي ولا يخفى ما فيه من التكلف (فتح الباري(٣\١٥٤)_

(٢) اودا ددې وجې چه په زمانه د جاهليت كښې به كله څوك مړ كيدلو.نو د مرګ په وخت كښې به هغه د كور خلقو ته د ژړا كولو وصيت اوتاكيد كولو.مشهورشاعر د طرفه شعر دې.،،

إذا مت فانعيني بما أنا أهله وشقي على الجيب يا إبنة معبد)_

ذکرېه ژړا کښې کولو.نو «إن المیت لیعذب ببکاء أهله علیه» مطلب دا دې.چه دا د کور خلق د مړی کومې کارنامې یادوی.او ژړا کوی.هم ددې کارونو په وجه ده ته عذاب ملاویږی.[1]
بهرحال دا مختلف توجیهات شوی دی.

قوله: قال قتادة أحیاهم الله ثم أسمعهم قولهم: د حضرت ابوطلحه د روایت په آخرکښې د قتاده رحمه الله دا قول منقول دې.چه اهل قلیب ته الله تعالی د نبی کریم ﷺ د خطبې اوریدو دپاره ژوندی کړی وو.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه قتاده رحمه الله په خپل دې قول سره د هغه کسانو رد کوی.څوک چه د سماع موتی نه انکار کوی.ځکه چه قتاده رحمه الله د سماع موتی قائل وو.[2]
خو حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی.چه قتاده رضی الله عنه د سماع موتی قائل نه وو.بلکه هغه د حضرت عائشې رضی الله عنها هم خیال وو.ددې وجې هغوی «أحیاهم الله» اوونیل.اوتاویل ئې اوکړل.
که حضرت قتاده رحمه الله د سماع موتی قائل وو.لکه څنګه چه حافظ رحمه الله ګنړلې دی.نوبیا به «أحیاهم الله حتی أسمعهم» دتاویل څه ضرورت وو.[3]

۹=باب فضل من شهد بدرًا

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی.چه د امام بخاری رحمه الله مقصد ددې باب نه د اهل بدر مطلق فضیلت بیانول نه دی.بلکه د افضیلت بیانول مقصود دی.یعنی دا بیانول مقصودنه دی. چه اهل بدر صاحب الفضل وو.بلکه دا بیانول مقصود دی.چه اهل بدر په ټولو صحابو رضی الله عنهم کښې افضل وو.[4]

[۳۷۶۱] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ أُصِيبَ حَارِثَةُ يَوْمَ بَدْرٍ وَهُوَ غُلَامٌ فَجَاءَتْ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَرَفْتَ مَنْزِلَةَ حَارِثَةَ مِنِّي فَإِنْ يَكُنْ فِي الْجَنَّةِ أَصْبِرْ وَأَحْتَسِبْ وَإِنْ تَكُ الْأُخْرَى تَرَى مَا أَصْنَعُ فَقَالَ وَيْحَكِ أَوَهَبِلْتِ أَوَجَنَّةٌ وَاحِدَةٌ هِيَ إِنَّهَا جِنَانٌ كَثِيرَةٌ وَإِنَّهُ فِي جَنَّةِ الْفِرْدَوْسِ [ر: ۲۶۵۴]

---

[1] ددې ټولو توجیهاتو دپاره اوګورئ فتح الباری (۳/۱۵۴او ۱۵۵او ۱۵۶) حافظ ابن حجر رحمه الله ددې توجیهاتوپه تفصیل سره د ذکر کولو نه پس لیکی.((ویحتمل أن یجمع بین هذه التوجیهات فینزل علی إختلاف الأشخاص بأن یقال مثلاً من کانت طریقته النوح فمشی أهله علی طریقته أوبالغ فأوصاهم بذلک عذب بصنعه ومنا کان ظالماً فندب بأفعاله الجائرة عذب بما ندب به ومن کان یعرف من أهله النیاحة فأهمل نهیهم عنها .. عذب بالتوبیخ کیف أهمل النهی (وانظرفتح الباری ۳/۱۵۵)_

[2])فتح الباری (۷/۳۰۲)_

[3])لامع الدراری (۸/۲۵۶)_

[4])فتح الباری(۷/۳۰۵)_

ددې باب اولنۍ روايت د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې.دوی فرمائی.چه حضرت حارثه رضي الله عنه د بدر په ورځ شهيد شوې وو.اوهغه اوس لا هلك وو.د هغه مور د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.او وې وئيل.اې دالله رسوله! تاسو ته علم دې.چه د حارثه مقام زما په نيز څه وو؟(يعنی هغه زما ډير خوږ وو) كه د شهادت نه پس هغه په جنت كښې وی.نو زه به صبر كوم.اود الله نه به د ثواب اميد ساتم.او كه بله خبره وی.(چه هغه په جنت كښې نه وی) نو تاسو به اوګورئ چه زه به څه كوم.(يعنی زه به ښه ډيره ژړا او ويركوم)

«فَقَالَ وَيْحَكِ»نو نبی ﷺ ورته اوفرمائې.«ويحك» په تا باندې افسوس دې.د «ويحك» په باره كښې داودی فرمائی.چه دا كلمه د زجر ده.خوصحيح خبره دا ده.چه دا كلمه د ترحم ده.نبی ﷺ دلته د ترحم دپاره «ويحك» فرمائيلی دی.د زجر او توبيخ دپاره نه دی.([1])

«أوهبلت» آيا ستا عقل تلې دې؟([2]) آيا يو جنت دې.هلته خو ډير جنتونه دی. اوحارثه به په جنت الفردوس كښې وی.

حارثه بن سراقه رضی الله عنه: دحضرت حارثه رضي الله عنه د پلار نوم سراقه وو.حضرت سراقه هم صحابې وو.او په جنګ حنين كښې شهيد شوې وو.دحضرت حارثه رضي الله عنه د مور نوم ربيع بنت النضر رضي الله عنها وو.اودا د حضرت انس رضي الله عنه ترور وه.(دپلارخور) حضرت حارثه رضي الله عنه په انصاروكښې اول شهيد وو.چه په جنګ بدر كښې شهيد شوې وو.دحوض نه ئې اوبه څكلې.چه حبان بن العرقه هغه په تير باندې اوويشتل.او دوی شهيد شو.([3])

[٣٤٦٣] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ قَالَ سَمِعْتُ حُصَيْنَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا مَرْثَدٍ الْغَنَوِيَّ وَالزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ وَكُلُّنَا فَارِسٌ قَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا امْرَأَةً مِنَ الْمُشْرِكِينَ مَعَهَا كِتَابٌ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى الْمُشْرِكِينَ فَأَدْرَكْنَاهَا تَسِيرُ عَلَى بَعِيرٍ لَهَا حَيْثُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا الْكِتَابُ فَقَالَتْ مَا مَعَنَا كِتَابٌ فَأَنَخْنَاهَا فَالْتَمَسْنَا فَلَمْ نَرَ كِتَابًا فَقُلْنَا مَا كَذَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُجَرِّدَنَّكِ فَلَمَّا رَأَتِ الْجِدَّ أَهْوَتْ إِلَى حُجْزَتِهَا وَهِيَ مُحْتَجِزَةٌ بِكِسَاءٍ فَأَخْرَجَتْهُ فَانْطَلَقْنَا بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ خَانَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ فَدَعْنِي فَلِأَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ قَالَ حَاطِبٌ وَاللَّهِ

---

[1])ايضاً_

[2])أوهبلت ،الهمزة فيه للإستفهام والواو مفتوحة للعطف على مقدر .. من قولهم هبلته أی ثكلته وقد يرد بمعنى المدح والإعجاب (وانظر العمدة (٩٤\١٧) والفتح (٣٠٥\٧)_

[3])عمدة القاری(٩٤\١٧)_

مَا بِي أَنْ لَا أَكُونَ مُؤْمِنًا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَدْتُ أَنْ يَكُونَ لِي عِنْدَ الْقَوْمِ يَدٌ يَدْفَعُ اللّٰهُ بِهَا عَنْ أَهْلِي وَمَالِي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِكَ إِلَّا لَهُ هُنَاكَ مِنْ عَشِيرَتِهِ مَنْ يَدْفَعُ اللّٰهُ بِهِ عَنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ وَلَا تَقُولُوا لَهُ إِلَّا خَيْرًا فَقَالَ عُمَرُ إِنَّهُ قَدْ خَانَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ فَدَعْنِي فَلِأَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ أَلَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ لَعَلَّ اللّٰهَ اطَّلَعَ إِلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ أَوْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَدَمَعَتْ عَيْنَا عُمَرَ وَقَالَ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ [ر:٢٨٣٥]

دحاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه دمشرکانوپه نوم خط لیږل: دا د حضرت علی ﷛ روایت دې. په دې کښې د حضرت حاطب بن ابی بلتعه د خط ذکردې.کوم چه هغوی په پټه دمکې خلقو ته لیږلې وو.

حضرت علی ﷛ فرمائی.چه رسول الله ﷺ زه او ابومرثد او زبیردرې وانړه په یو مهم باندې اولیږلو.(په بعضې روایاتو کښې د حضرت مقداد ﷛ ذکر هم شته.نوبیا به څلور شی) او مونږ ټول په اسونو سوارۀ وو.نبی ﷺ اوفرمائیل.تاسو لاړ شئ.او، ،روضۀ خاخ، ، ته اورسئ. دا مقام د مدینې منورې نه په دولس میله فاصله کښې دی. هلته به یوه ښځه (ساره) تاسوته ملاؤ شی.دهغې تعلق دمشرکانو سره دې.د هغې سره یو خط دې.کوم چه د حاطب بن ابی بلتعه د طرفه دمشرکانو په نوم لیږلې شوې دې.هغه ترې واخلئ. او راوړئ.وائی.چه حضرت حاطب ﷛ دغه ښځې ته مزدوری ورکړې وه.بعضې حضراتو یودینارمزدوری نقل کړې ده.او بعضو دولس دینارونه نقل کړی دی.([1])

حضرت علی ﷛ فرمائی.چه مونږ دغه ښځه په داسې حالت کښې اولیده.چه هغه په اوښ سوره روانه وه.او هم په هغه ځاې کښې مو اولیده.دکوم ځاې په باره کښې چه نبی ﷺ فرمائیلی وو.یعنی ، ،روضۀ خاخ، ، کښې،«فقلنا الکتاب» مونږ هغې ته اووئیل.خط راوباسه. هغې اووئیل.ما سره خط نشته.«فانخنا» مونږ د هغې اوښه کینوله.او د هغې تلاشی مو شروع کړه.خو مونږ ته د هغې سره څه خط ملاؤ نشو.مونږ اووئیل.د رسول الله ﷺ خبره خو غلطه نشی کیدې.ددې وجې مونږ هغې ښځې ته اووئیل.چه خط راکړه.کنې مونږ به تا بربنډه کړو.

قوله: فَلَمَّا رَأَتِ الْجِدَّ أَهْوَتْ إِلَى حُجْزَتِهَا: کله چه هغې زمونږ سخته رویه اوکتله. نو پوهه شوه.که خط نه ورکوم.نو دوی په رښتیا ما بربنډه کوی.نوهغه خپلې حجزه (بډې) طرف ته ښکته شوه.«حجزة» معقد ازار ته وائی.په کوم ځاې چه لنګ تړلو شی.

قوله: وَهِيَ مُحْتَجِزَةٌ بِكِسَاءٍ: اوهغې په بډه باندې څادر تړلې وو.نو دې د هغې ځاې نه خط راوایسته.د بعضې روایاتو نه معلومیږی.چه دې د خپلو ویختو د کمسو نه خط را

---

[1])فتح الباری(۵۲۰/۷)_

اویسته.(١) اودلته دی.چه دې د ((حجزة)) نه خط را اویستۀ.دې تعارض د لرې کولو دپاره مختلف توجیهات شوی دی.

① یوه توجیه دا شوې ده.چه په اول کښې خط په ((وقاص شعر)) د ویختوپه کمسوکښې وو.او روسته ئې د هغې نه معقد ازار ته منتقل کړه.اوکیخوده.

② دویمه توجیه دا ده.چه کیدې شی.هغې سره دوه خطونه وو.یو ئې په وقاص شعر کښې کیخودې وو.اوبل ئې په معقد ازار کښې ،

③ دریمه توجیه دا شوې ده.چه ((حجزة)) معنی دمطلق ماخذ اومعقدده.که هغه د ویختو وی اوکه د ازار وی.

④ یوه توجیه دا هم شوې ده.چه په اصل کښې ددغه ښځې ویخته ډیر اوږده وو.دغه ښځې اول خط په کمسئ کړې ویختوکښې.کیخودې وو.اوپه ویختوکښې چه په کومه حصه کښې دغه خط پروت وو.هغه ئې په معقد ازار کښې پټ کړې وو.نو خط د ویختود کمسونه هم راووتۀ.اود معقدازارنه هم،په یو روایت کښې د ویختود کمسو نه د راوستو ذکردې.اوپه بل کښې د معقد ازارنه د راویستو ذکردې.اوراویستې شوې د دواړو نه وو.نو څه تعارض نشته.(٢)

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی.چه هغه تحریرمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړل.نو حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل.یارسول الله حاطب الله اودهغه رسول سره اومومنانوسره خیانت اوکړو.ته ماته اجازت راکه.چه زه دده څټ قلم کړم.رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت حاطب رضی الله عنه ته متوجه شو.اووې وئیل.ته کوم څیز په دې عمل باندې آماده کړې ئې؟ حاطب رضی الله عنه اووئیل په الله قسم دا خبره بیخی نشته.چه په الله اود هغه په رسول باندې زما ایمان باقی نه دې.زما مقصد صرف دا وو.که په کافرانو زما یو احسان اوشی.اوالله تعالی د هغه اسان په ذریعه زما د اهل اوزما د مال حفاظت اوکړی.او ستاسو په صحابو رضی الله عنهم کښې دهریو کس څه نه څه دخاندان کس په مکه کښې موجود دې.چه د هغه په ذریعه الله تعالی دهغه اودهغه د اهل اومال حفاظت کوی.نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل((صدق)) ده رښتینې اوصحیح خبره اوکړه.او تاسو دده په باره کښې د خیر نه سوا بل څه مه وائې .حضرت عمر رضی الله عنه بیا عرض اوکړو.یارسول الله صلی الله علیه وسلم ((انه قد خان الله ورسوله والمومنین)) نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ولې دې په بدریانو کښې نه دې؟ الله تعالی بدریانو خبر دې.اود بدریانوپه باره کښې د الله تعالی ارشاد دې.((اعملوا ماشئتم فقد وجبت لکم الجنة)) چه څه غواړئ. هغه کوئ.ستاسو دپاره جنت واجب دې. چه دا ئې واوریده.نو

---

(١) فتح الباری(۶/۱۹۱) کتاب الجهاد باب إذا إضطر الرجل إلی النظر فی شعور أهل الذمة)_

(٢) د دې څلورو واړه جوابونو دپاره اوګورئ فتح الباری(۶/۱۹۱) کتاب الجهاد باب إذا إضطر الرجل إلی النظر)_

دحضرت عمر رضي الله عنه : ستر ګونه اوښکې روانې شوې.اووې وئيل «الله ورسوله أعلم» الله اودهغه رسول ښه پوهيږي.

په دې روايت کښې دحضرت حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه د مکې خلقو ته د خط ليږلو واقعه ذکرده دحديبيه په موقع نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مکې د مشرکانو سره د لسو کالودپاره صلح کړې وه.خو اوس ددې صلحې دوه کاله هم نه وو پوره شوې.چه مشرکانو ددې صلحې خلاف ورزی اوکړه.

اهل مکه ؤ د صلحې د تجديد کوشش اوکړو.خو هغوی کامياب نشول.اونبي صلى الله عليه وسلم پټ په پټه په مکه باندې دحملې کولوتياريانې شروع کړې.دتيارۍ داسلسله روانه وه.اودا پته ساتلې شوه. په دې کښې حضرت حاطب بن ابي بلتعه دمشرکانوپه نوم يوخط اوليکل.ددې خط مضمون څه داسې وو.چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم يوزبردست لښکرراولی.چه دهغې د دورو نه به داسې تياره خوره شی.لکه څنګه چه د شپې تياره وی.اورسول الله صلى الله عليه وسلم که يواځې هم په تاسوحمله اوکړی.نوالله تعالى به د هغه مدد اوکړی.اوهغه ته به کاميابی ورکوی. تاسو خپل انتظام اوکړئ.والسلام (١)

چونکه دخط په مضمون کښې داسې څه خبره نه وه.چه په هغې باندې مسلمانانوته د نقصان رسيدو ويره وه.بلکه دخط مضمون دمشرکانود مکې د مرعوبه کولويوه ښه ذريعه وه. خو چونکه بهرحال په هغې کښې د نبي صلى الله عليه وسلم د راز ښکاره کول وو.ددې وجې نبي صلى الله عليه وسلم ته د وحی په ذريعه خبر ورکړې شو.اوهغه خط مکې ته اونه رسيدهٔ،

حضرت حاطب رضي الله عنه د مکې اوسيدونکې نه وو.اودده اهل وعيال هم په مکه کښې وو.هلته دده د خاندان کسان نه وو.چه دده د اهل وعيال حفاظت اوکړی.ددې دپاره دوی خط اوليکل.چه په اهل مکه ؤ باندې دده احسان اوشی.چه دهغې په ذريعه دې دخپل اهل وعيال حفاظت اوکړی.(٢) د خط ليکلو مقصد دمسلمانانو سره دشمنی يادوی راز ښکاره کول نه وو.اونه د نفاق په وجه دوی داسې کړی وو.هم دا وجه وه.چه کله دوی نبي صلى الله عليه وسلم ته خپل اصلی مقصد اوخودل.نو نبي صلى الله عليه وسلم دده تصديق اوکړو.

يواشکال دلته يواشکال کيږی.چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم دحاطب بن ابي بلتعه تصديق اوکړو.او وې فرمائيل «لاتقولوا له إلا خيراً» نوددې باوجود حضرت عمر رضي الله عنه هغه ته ،خائن، ولې اووئيل. اود هغه د څټ قلمولواجازت ئې ولې غوښتلو.په ظاهره حضرت عمر رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم

---

(١) دخط الفاظ داسې نقل دی.أما بعد يامعشرقريش. فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم جاءكم بجيش كالليل يسير كالسيل فوالله لوجاءكم وحده لنصره الله وأنجزله وعده.فانظروا لأنفسكم والسلام ..).

دا الفاظ علامه سهيلي رحمه الله نقل کړی دی.ددې نه مختلف الفاظ هم په بعضې رواياتو کښې منقول دی.اوګورئ (فتح الباری ٧/٥٢١)۔

(٢) په بعضې رواياتوکښې د خط مضمون داسې نقل شوې دې...

إن رسول الله صلى الله عليه وسلم أذن في الناس بالغزو ولا أراه يريدغيركم وقد أحببت أن يكون لي عندكم يد(فتح الباری ٧/٥٢١)۔

مخالفت كولو .ددې اشكال مختلف جوابونه وركړې شوي دي.

مختلف جوابونه: ① دعلامه قسطلانی رحمه الله جواب دا دې.چه حضرت عمر رضي الله عنه د كفر اونفاق په باره كښې سخت وو.اوډيره دتشدد رويه ئې ساتله.د هغوی خيال وو.چه دا كس په ژبه باندې د اسلام اظهاركوی.خو د ده په زړه كښې د كافرانو سره تعلق او محبت موجود دې.نو ځكه ده دا خط ليكلې دې.ددې وجې حضرت عمر رضي الله عنه ده ته خائن او منافق اووئيل.([1])

② شيخ ابوالحسن سندهی رحمه الله په شرح بخاری كښې يو بل جواب وركړې دې.دوی فرمائی.چه په اصل كښې حضرت عمر رضي الله عنه د كفراونفاق په مسئله كښې ډيرسخت وو. نو هغه مغلوب الحال شو.اود رسول الله صلى الله عليه وسلم قول چه «لا تقولوا له إلا خيراً» دده په پوهه كښې رانغلو.نو د غلبه حال د وجې هغوی حضرت حاطب رضي الله عنه ته خائن او منافق اووئيل. ([2])

③ علامه سندهی رحمه الله يو بل جواب دا هم وركړې دې.چه حضرت عمر رضي الله عنه دا محسوس كړه. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عنه تاليف كوی.اوچونكه حضرت عمر رضي الله عنه د كفر او نفاق په باره كښې متشدد وو.ددې وجې د هغوی خپله رائې دا وه.چه دې د تاليف مستحق نه دې.بلكه د تاديب مستحق دې.دخپلې دې رائې په وجه دوی حضرت حاطب رضي الله عنه ته خائن اومنافق اووئيل.([3])

دحضرت ګنګوهی رحمه الله تسلی بخش جواب: خو يوجواب حضرت ګنګوهی رحمه الله وركړې دې.او تاسو په خپله فيصله اوكړئ. چه دحضرت ګنګوهی رحمه الله په جواب كښې كم لطافت او حسن دې.دا جواب د «لامع» او «كوكب» دواړو ملاوولو نه تيارشوې دې.

دوی فرمائی.چه نبی كريم صلى الله عليه وسلم بيشكه د حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عنه نه د كفر او نفاق نفی كړې وه.خوددې كفر او نفاق د نفی دا مطلب نه وو.چه ده نه په هيڅ اندازه كښې هم د خيانت صدور نه دې شوې.فی الجمله خيانت خو په هرحال د هغوی نه شوې وو.چه هغوی د نبی صلى الله عليه وسلم پټ راز كافرانوته د ښكاره كولوكوشش كړې وو.نو حضرت عمر رضي الله عنه د «خان الله ورسوله» نه هم د دې مطلق خيانت ذكركړې وو.دكوم چه نبی صلى الله عليه وسلم نفی نه وه كړې.دغه شان د حضرت عمر رضي الله عنه په قول «إنه منافق» ([4])كښې څه فرمائيلې شوی دی. د دې نه نفاق فی العقيده مراد نه دې .بلكه ددې نه نفاق عملی مراد دې.

خلاصه د كلام دا شوه. چه فی الجمله ارتكاب د خيانت هم شوې وو.نبی صلى الله عليه وسلم ددې نفی نه

---

[1])لامع الدراری (۲۵۹۱۸)_

[2])تعليقات لامع الدراری (۲۵۹۱۸)_

[3])اوګورئ تعليقات لامع الدراری (۲۵۹۱۸)_

[4]) په روايت باب كښې د حضرت عمر رضي الله عنه د طرفه حضرت حاطب ته دنفاق نسبت موجود نه دې.البته وړاندې د((باب غزوة الفتح)) په روايت كښې حضرت عمر رضي الله عنه دوی ته منافق وئيلې دی.(باب غزوة الفتح بخاری رقم ٤۲۷٤)_

وه کړې.دغه شان د نفاق فی العمل ارتکاب هم شوې وو.اونبی ﷺ د نفاق فی العمل نفی هم نه وه کړې.د نفاق فی العقیدې نفی ئې کړې وه.حضرت عمر رضی الله عنه هغوی ته ،،خائن،، او ،،منافق،، ددې فی الجمله خیانت او نفاق فی العمل د وجې کړې وو.نود حضرت عمر رضی الله عنه قول د نبی ﷺ د ارشاد سره متصادم او معارض نه وو.

پاتې شوه دا خبره چه حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت حاطب رضی الله عنه د قتل اجازت غوستې وو.ددې نه خو دا معلومیږی.چه حضرت عمر رضی الله عنه ده لره منافق فی العقیده گڼړلې وو. نو حضرت گنگوهی فرمائی.چه حضرت عمر رضی الله عنه د کفر د وجې یا د نفاق فی العقیده په وجه دا اجازت نه ووغوستې.بلکه د تعزیرپه طور ئې اجازت غوستې وو.اوپه داسې قسم خیانت کښې د تعزیز په طور دامام دپاره د قتل اجازت شته.دا جواب داسې دې.چه په دې سره اشکال بیخی ختمیږی.(١)

قوله: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ: الله تعالی د اهل بدر په باره کښې فرمائیلی دی.تاسوچه څه غواړئ.کوئ ما ستاسو مغفرت کړې دې.

یواشکال اودهغې جوابونه: دلته دا سوال پیدا کیږی.چه آیا الله تعالی اهل بدر د تکالیف شرعیه نه مستثنی کړی وو.ددې روایت د ظاهرنه خو هم دا معلومیږی.چه اهل بدر د تکالیف شرعیه نه مستثنی شوی وو.

① ددې یو جواب حافظ او نورو شارحینو رحمهم الله دا ورکړې دې.چه ((اعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم)) د تیرو شوو گناهونو په باره کښې دې.کوم چه اهل بدرنه په تیره شوې زمانه کښې صادر شوی وو.الله تعالی فرمائی.چه ما دغه گناهونه معاف کړل.خو بیا دا اشکال کیږی.چه ((اعملوا)) دامرصیغه ده.کومه چه د مستقبل دپاره راځی.تاسو دا په ((ذنوب ماضیه)) باندې څنگه محمول کولې شئ.خو دوی وائی.چه د ((فقد غفرت لکم)) الفاظ په دې باندې دلیل دې.څکه چه ((غفرت)) د ماضی صیغه ده.

خودا جواب ضعیف دې.څکه چه د حضرت حاطب رضی الله عنه دا واقعه د بدر نه شپږ کاله پس واقع شوې وه.اوپه دغه موقع نبی ﷺ فرمائی.چه ((لعل الله اطلع علی أهل بدر فقال إعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم)) د دې نه په ظاهره دا ښکاری.چه ددې تعلق د امور مستقبله سره دې.

پاتې شوه دا خبره چه په ((فقد غفرت لکم)) کښې ئې د ماضی صیغه ولې استعمال کړې ده.نوددې په باره کښې ونیلې شوی دی.چه د ماضی صیغه د تحقیق او تیقن دپاره استعمال شوې ده.(٢) چه کومه گناه به په راروانه زمانه کښې کیږی.هغه به یقیناً بخښلې شی.اودا مغفرت به بیخی قطعی اویقینی وی.لکه څنگه چه ماضی قطعی اویقینی ده.

---

(١) د تفصیل دپاره اوگورئ لامع الدراری (٢٥٩/٨و ٢٦٠)_
(٢) فتح الباری(٣٠٥/٧) وتعلیقات لامع الدراری (٢٦٠/٨)_

② دويم جواب دا ورکړې شوې دې.چه دا خطاب د تشريف اوتکريم دپاره دې.دفع د تکليف ترې مراد نه ده.مقصود دا دې.چه الله تعالی د اهل بدرذنوب ماضيه خو معاف کوی.اوپه مستقبل کښې د گناهونود صادريدو په باره کښې به الله تعالی په اهل بدرکښې داسې صلاحيت پيدا کړی.اود دوی ايمان به داسې مضبوط اوقوی کړی.چه په تقاضه د بشريت د دوی نه په راروان ژوند کښې څه گناه اوشی.نوسمدستی به توبه اوباسی.اوالله تعالی طرف ته به رجوع کوی.اوپه استغفارسره به د هغې کمې پوره کوی. نودا خطاب د تشريف اوتکريم دپاره دې.د اهل بدرنه تکاليف شرعيه پورته کول مقصود نه دې.

③ بعضې حضراتو وئيلی دی.چه په دې کښې اهل بدر ته د عدم وقوع فی الذنوب بشارت ورکړې شوې دې.چه د اهل بدر نه به په راروانه زمانه کښې گناه نه صادريږی. خودا خبره صحيح نه ده.څکه چه په بدری صحابوﷺ کښې داسې حضرات هم شته.چه د هغوی نه د بدر نه پس گناه شوې ده.حضرت قدامه بن مظعون بدری صحابیﷺ دې. او دحضرت عمرﷺ په زمانه کښې د هغوی نه د شرب خمرگناه صادره شوې وه.په هغه باندې حد جاری شوې وو.ددې وجې دا خبره محل دنظر ده.[1]

دحضرت شاه ولی الله صاحب رحمه الله رائې: حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی ﷺ ډيره ښکلې خبره کړې ده.هغوی فرمائی.چه«اعملوا ماشئتم فقد غفرت لکم» تعلق د فضائلو او مندوباتو سره دې.د فرائضو او واجباتو سره ددې تعلق نه دې.هغوی فرمائی.چه مسئله بيانولې شی.نود هغې دپاره د عبارت يو خاص اسلوب وی.اوکومه خبره چه د محاورې په طور سره کولې شی. نو د هغې اسلوب جدا وی.په دې حديث کښې مسئله نشی بيانولې. بلکه په دې کښې د اهل بدر قربانی او په جنگ کښې د شرکت عظمت بيانولې شی.نواهل بدرته دا خطاب د محاورې په طور شوې دې.دا مطلب نه دې.چه دوی د فرائضو نه مستثنی گرځولې شوی دی.اودا مطلب هم نه دې.چه په آئنده کښې به اهل بدر د مندوباتو اهتمام نه کوی.بلکه مطلب دا دې.چه اهل بدرته الله تعالی د فضائلو اومندوباتو داهتمام نه بغيرهغه مقام ورکړې دې.کوم چه اهل فضائلو ته نه نشی حاصليدې.[2] والله اعلم

دا خبره دې په ذهن کښې وی،چه داهل بدر دپاره کوم بشارت بيان شوې دې، ددې تعلق د آخرت داحکامو سره دې،ددنياداحکامو سره د دې تعلق نشته.په دنيا کښې که د يو بدری نه څه غلطی اوشی(لکه څنگه چه د قدامه بن مظعون ﷺ نه غلطی شوې وه،چه شراب ئې څکلی وو،نوپه هغه باندې حدجاری شوې وو) نودنيوی احکام به په هغه باندې جاری کيږی.

---

[1])فتح الباری(۳۰۱۷) وتعليقات لامع (۲۶۱۸)_
[2])فيض الباری(۹۱۱٤) په حواله د ..المسوی والمصفی)_ ~

۱۰= بَاب

دا باب د ترجمة الباب نه بغیر دې.او د ((فیما یتعلق ببدر)) په معنی کښې دې.د بدر متعلق په دې کښې روایات ذکر کولی شی.

[۳۷۶۳] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ وَالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ إِذَا أَكْثَبُوكُمْ يَعْنِي كَثَرُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ [ر: ۲۷۴۳]

په اولنی روایت کښې د امام بخاری رحمه الله استاذ عبدالله بن محمد الجعفی دې. دہ ته عبدالله بن محمد مسندی هم وائی،دوی روایت کوی د ابواحمد زبیری نه.اوهغه روایت کوی د عبدالرحمن بن غسیل نه،

عبدالرحمن بن الغسیل: ددوی د پلار نوم غسیل نه دې.بلکه سلیمان دې.سلسله نسب ئې دا ده.((عبدالرحمن بن سلیمان بن عبدالرحمن بن عبدالله بن خنظلة الغسیل)) د غسیل د خنظله صفت دې. چونکه عبدالرحمن ددوی د اولاد په سلسله نسب کښې دې. ددې وجې دوی ته ((ابن الغسیل)) وائی.[1] حضرت خنظله رضی الله عنه په جنګ احد کښې د جنابت په حالت کښې شهید شوې وو.کله چه په مقتولین احد کښې ددوی لاش ملاؤ شو.نودده د سر د ویختو نه اوبه څڅیدې .رسول الله ﷺ اوفرمائیل.فرشتو دہ ته غسل ورکړې دې.ددې وجې دده لقب ((غسیل الملائکة)) شو.[2]

ابوأسید رضی الله عنه: دا صحابی رضی الله عنه دې.ددوی نوم مالك بن ربیعه دې.په انصاروکښې د خزرج قبیلې سره تعلق ساتی.فرمائی.چه رسول الله ﷺ د بدرپه ورځ فرمائیلی وو.((إذا أکثبوا فارموهم)) ددې معنی دہ .((إذا قربوا منکم فأمکنوکم من أنفسهم فارموهم)) [3] یعنی کله چه کافران تاسو ته نزدې راشی.او په خپلو نفسونو تاسو ته قدرت درکړی.نوبیا تاسو په هغوی باندې د غشو ګذارونه اوکړئ.ځکه که دښمن لرې وی.اود غشو ګذارونه کولی شی.نو غشی به

---

[1])عمدة القاری(۱۷\۹۶)_

[2])عمدة القاری(۱۷\۹۶)_

[3])قال الحافظ فی الفتح (۷\۳۰۶) والهمزة فی قوله ..أکثبوکم ..للتعدیة من کثب بفتحتین وهو القرب قال ابن فارس أکثب الصید إذا أمکن من نفسه فالمعنی إذا قربوا منکم فأمکنوکم من أنفسهم فارموهم)_

ضائع كيږي.اود دشمن به څه نقصان نه كيږي.«واستبقونبلكم» اوخپل غشي بچ كړئ.(چه ضائع نشي)

قوله: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بنُ عبدالرحيم قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ: په دي روايت كښې محمدبن عبدالرحيم د امام بخاري رحمه الله استاذ دي.دوی روايت كوی.چه د ابواحمد زبيری نه وړاندې سند دي.«عبدالرحمن بن الغسيل عن حمزة بن أبي أسيد والمنذر بن أبي أسيد عن أبي أسيد»

د اولنی روايت سند وو.«عبدالرحمن بن الغسيل عن حمزة بن أبي أسيد والزبير بن المنذر بن أبي أسيد» په اولنی روايت كښې د عبدالرحمن بن الغسيل دوه استاذان دی.يو حمزه بن ابی اسيد او بل زبيربن المنذر بن ابی اسيد ،اوپه دويم روايت كښې د عبدالرحمن بن الغسيل په دوو استاذانوكښې يو خو هم هغه حمزه بن ابی اسيد دې.خو بل استاذ «زبيربن المنذربن أبي اسيد» نه بلكه «منذربن ابي اسيد» دې.

دلته د حافظ ابن حجر رحمه الله نه تسامح شوې ده.هغوی فرمائيلی دی.چه ددې باب په دويم روايت كښې امام بخاری كوم سند نقل كړې دې.په دې كښې امام بخاری رحمه الله د ،،زبيربن المنذربن ابی اسيد،، په ځاې ،،زبيربن ابی اسيد،،وئيلې دې.حالانكه امام بخاری رحمه الله په دې دويم سند كښې ،،زبيربن ابی اسيد،، نه دې وئيلې.بلكه هم ،،منذربن ابی اسيد،، ئې وئيلې دې.

حضرت ابواسيد رضي الله عنه فرمائی.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د بدر په ورځ فرمائيلی وو«إذا أكثبوكم» يعنی «أكثروكم — فارموهم» حافظ او عينی رحمهما الله «اكثركم» نقل كړی دی.([1]) زمونږ په نسخوكښې «كثروكم» مطلب دا دې.چه كله كافران په زيات تعداد كښې تاسو ته نزدې راشی.نو په دغه وخت كښې په هغوی باندې د غشو ګذارونه كوئ.داودی وئيلی دی.چه د «فارموهم» معنی ده.كله چه هغوی په زيات تعداد كښې تاسوته نزدې راشی.نو په دغه وخت كښې هغوی په كاڼړو باندې اولئ.([2])

[٣٦٧٣] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرُّمَاةِ يَوْمَ أُحُدٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ فَأَصَابُوا مِنَّا سَبْعِينَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ أَصَابُوا مِنَ

---

[1])حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلی دی.قوله: عن حمزة بن ابی اسيد والزبيربن المنذر بن ابی أسيد كذا فی هده الرواية ووقع فی التی بعدها الزبيربن أبی أسيد فقيل هو عمه وقيل هو هولكن نسب إلی جده والأول أصوب .. (فتح الباری (٧\٣٠٦)_~

[2])فتح الباری(٦\٣٠٦) وعمدة القاری(١٧\٩٧)_

الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ بَدْرٍ أَرْبَعِينَ وَمِائَةً سَبْعِينَ أَسِيرًا وَسَبْعِينَ قَتِيلًا قَالَ أَبُو سُفْيَانَ يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَالْحَرْبُ سِجَالٌ [ر: ۲۸۷۴]

دا د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه روايت دې.دوى فرمائى.چه نبى ﷺ په جنګ احد كښې حضرت عبدالله بن جبير رضی الله عنه په غشى ويشتونكو باندې امير مقرر كړې وو.چونكه د دغه دستې نه غلطى اوشوه.اود نبى ﷺ د حكم تعميل ترې اونشو.ددې وجې حضرت عبدالله بن جبير رضی الله عنه او د هغه لس ملګرى شهيدان شول.او ګټلې شوې جنګ په شكست كښې بدل شو.نو حضرت براء رضی الله عنه فرمائى.چه په احد كښې كافرانو زمونږ اويا صحابه رضی الله عنهم شهيدان كړل.حالانكه نبى ﷺ او صحابو رضی الله عنهم د بدر په ورځ باندې يوسل څلويښتوكسانو ته نقصان رسولې وو.چه اويا په كښې قتل شوى وو.او اويا بنديوان شوى وو.په دغه وخت كښې ابوسفيان اووئيل.((يوم بيوم بدر)) يعنې نن د احد ورځ د بدر د ورځې بدله شوه.

قوله: يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَالْحَرْبُ سِجَالٌ: دلته سجال د ،،سجل،، جمع ده.ډول ته وائى.دا محاوره ده.چه په كومه طريقه د كوهى نه د ډول راويستلو په وخت كښې ډول كله په يولاس كښې وى.اوكله په بل كښې،دغه شان په جنګ كښې كاميابى هم كله د يو فريق وى.او كله د بل فريق.

[۳۷۶۵] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى أُرَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَإِذَا الْخَيْرُ مَا جَاءَ اللَّهُ بِهِ مِنَ الْخَيْرِ بَعْدُ وَثَوَابُ الصِّدْقِ الَّذِي آتَانَا بَعْدَ يَوْمِ بَدْرٍ [ر: ۳۴۲۵]

((أراه)) دا ياخو دابوبرده قول دې.دوى فرمائى.چه زما خيال دې.چه ابوموسى رضی الله عنه دا حديث د نبى ﷺ نه مرفوعاً نقل كړې دې.اودا هم احتمال شته.چه دا د ابوبرده قول نه وى.بلكه د ښكته يو راوى قول وى.

قوله: قَالَ وَإِذَا الْخَيْرُ مَا جَاءَ اللَّهُ بِهِ مِنَ الْخَيْرِ بَعْدُ: دا حديث امام بخارى رحمه الله په ((باب علامات النبوة)) كښې په تفصيل سره بيان كړې دې.او وړاندې په غزوه احد كښې به هم راشى.دلته نې ددې حديث يو جزء نقل كړې دې.چه نبى ﷺ خوب اوليدلو.چه نبى ﷺ يوه توره اوخوزوله.اود هغې مخكښې حصه ماته شوه.ددې نه پس نبى ﷺ هغه دوباره اوخوزوله.نودهغې نه په زيات ښه صورت كښې شوه.څنګه چه وړاندې وه.([1]) دلته چه كوم جزء نقل شوې دې.ددې ترجمه او ،،خير،، هغه دې.كوم چه روسته الله تعالى خيرراوستل.

---

[1])پوره حديث دا دې،،
عن أبي موسى عن النبي ﷺ قال رأيت في المنام أني أهاجر من مكة إلى أرض بها نخل فذهب وهلي إلى أنها اليمامة أوالهجر فإذا هي المدينة يثرب و رأيت في رؤياى أني هززت سيفاً فانقطع صدره فإا هو ما أصيب من المؤمنين يوم أحد ثم هززته أخرى فعاد أشد ما كان فإذا هو ما جاء الله به من الفتح واجتماع المؤمنين ورأيت فيها بقراً والله خير فإذا هم المؤمنون يوم أحد .وإذا الخير ما جاء الله به ممن الخير وثواب الصدق الذى أتانا الله بعد يوم بدر (باب علامات النبوة بخارى (۵۱۱۱۱)_

① بعضې حضراتو وئیلی دی.چه ددې خیرنه مراد د احد د شهیدانو شهادت دې.چونکه شهادت د مومن دپاره تحفه ده.[1] د دې وجې ئې شهادت د دوی دپاره خیر اوګرځولو،

② بعضې حضراتووئیلی دی.چه ددې نه مراد د مسلمانانو ثابت قدمی او فتوحات دی.کوم چه الله تعالی د غزوه احد نه پس راوستی وو.[2]

③ بعضې حضراتو وئیلی دی.چه ددې خیرنه په بدرکښې د مسلمانانو کامیابی ده.[3]

قوله: وَثَوَابُ الصِّدْقِ الَّذِي آتَانَا بَعْدَ يَوْمِ بَدْرٍ: اوبهترین او ښه بدله او ثواب هغه دې.کوم چه الله تعالی مونږ ته د بدر نه پس راکړې دې.

قوله: ثَوَابُ الصِّدْقِ: ①بعضې حضراتو ددې ترجمه د صحیح او درست اعمالو په ثواب سره کړې ده.

② اوبعضې حراتو وئیلی دی.چه په دې کښې دموصوف اضافت صفت طرف ته کیږی. د دې معنی ((الثواب الصالح)) ((الثواب المرضی)) ((الثواب الجيد)) ده.[4]

حضرت شاه صاحب ددې دوه معنی بیان کړی دی.

① یوه دا چه ((بعد)) مبنی علی الضم ده.او مبدل منه دې،او ((یوم بدر)) ددې نه بدل دې. دا خو تاسو ته معلومه ده.چه ((بعد)) کله بغیرد اضافت نه وی.نو مبنی علی الضم وی. په دې صورت کښې به مطلب دا وی.چه بهترین ثواب او بدله هغه ده.کومه چه الله تعالی د بدر په ورځ مسلمانانو ته ورکړې وه.دکوم په وجه چه دوی ته مقام تشریف او تکریم حاصل شو.[5]

② اوحضرت شاه صاحب رحمه الله دویمه توجیه دا کړې ده.چه ((بعد)) مضاف او ((یوم بدر)) مضاف الیه ده.او مطلب دا دې.چه بهترینه بدله او ثواب هغه دې.کوم چه الله تعالی مونږ ته دیوم بدرنه پس راکړو.خود ((یوم بدر)) نه پس خو ((غزوه احد)) پیښه شوې وه.اوپه هغې کښې مسلمانانو ته شکست شوې وو.ددې وجې شاه صاحب فرمائی.چه په دې صورت کښې د ((یوم بدر)) نه به بدرصغری،، مراد وی.[6] واقعه د بدر صغری په ۴ھ کښې واقع شوې

---

[1])عمدة القاری(۱۶\۱۵۳)_
[2]) عمدة القاری(۱۶\۱۵۳)_
[3])فیض الباری(٤\۹۱)-
[4])عمدة القاری (٤\۹۱)_
[5])فیض الباری(٤\۹۱)_
[6])غزوه بدر صغری ته ((غزوة السويق)) هم وائی.نبی ﷺ مقام بدر ته تشریف یوړو او اته ورځې هلته ایسار وو.ابوسفیان هم د مکې د قریشو یوه ډله راوسته.او ،،مقام مرالظهران،، یا ،،مقام عسفان ،، ته راغلل.اود هغه ځای نه ئې اراده ملتوی کړه.اوواپس شو.په دې موقعه باندې نبی ﷺ حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه په مدینه کښې خپل قائم مقام جوړ کړې وو.اوګورئ (الكامل لابن الأثیر(۲\۱۲۰)_~

وه.داحد نه چه تلل.نو ابوسفيان وئيلي وو.چه په راروان کال به د بدريه مقام باندې مقابله کيږي.نو په راروان کال نبي ﷺ پنځلس سوه صحابه کرام ﷺ واخستل.او مقام بدر طرف ته ئې تشريف يوړو.خوابوسفيان ته د مقابلې کولوجرات اوهمت اونشو.

بهرحال مطلب دا دې.چه الله تعالى د بدر صغرى نه پس چه مسلمانانوته کوم انعامات او فتوحات ورکړل.نبي ﷺ فرمائي.چه دا د الله تعالى د طرفه غوره او ښه بدله ده.

[۳۷٦٦]حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ إِنِّي لَفِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ الْتَفَتُّ فَإِذَا عَنْ يَمِينِي وَعَنْ يَسَارِي فَتَيَانِ حَدِيثَا السِّنِّ فَكَأَنِّي لَمْ آمَنْ بِمَكَانِهِمَا إِذْ قَالَ لِي أَحَدُهُمَا سِرًّا مِنْ صَاحِبِهِ يَا عَمِّ أَرِنِي أَبَا جَهْلٍ فَقُلْتُ يَا ابْنَ أَخِي وَمَا تَصْنَعُ بِهِ قَالَ عَاهَدْتُ اللَّهَ إِنْ رَأَيْتُهُ أَنْ أَقْتُلَهُ أَوْ أَمُوتَ دُونَهُ فَقَالَ لِي الْآخَرُ سِرًّا مِنْ صَاحِبِهِ مِثْلَهُ قَالَ فَمَا سَرَّنِي أَنِّي بَيْنَ رَجُلَيْنِ مَكَانَهُمَا فَأَشَرْتُ لَهُمَا إِلَيْهِ فَشَدَّا عَلَيْهِ مِثْلَ الصَّقْرَيْنِ حَتَّى ضَرَبَاهُ وَهُمَا ابْنَا عَفْرَاءَ[ر:۲۹٧۲]

دا سند مسلسل بالآباء دې.په دې کښې هر راوی د خپل پلار نه روايت کوی[1] په دې روايت کښې په ابوجهل باندې حمله کونکو هغه دوو انصاری ماشومانو واقعه بيان شوې ده.کوم چه د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ سره ولاړ وو.ددې تفصيل تيرشوې دې.

[۳۷٦٧]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ أَسِيدِ بْنِ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةً عَيْنًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ جَدَّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْهَدَةِ بَيْنَ عَسْفَانَ وَمَكَّةَ ذُكِرُوا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو لِحْيَانَ فَنَفَرُوا لَهُمْ بِقَرِيبٍ مِنْ مِائَةِ رَجُلٍ رَامٍ فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ حَتَّى وَجَدُوا مَأْكَلَهُمْ التَّمْرَ فِي مَنْزِلٍ نَزَلُوهُ فَقَالُوا تَمْرُ يَثْرِبَ فَاتَّبَعُوا آثَارَهُمْ فَلَمَّا حَسَّ بِهِمْ عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَئُوا إِلَى مَوْضِعٍ فَأَحَاطَ بِهِمْ الْقَوْمُ فَقَالُوا لَهُمْ انْزِلُوا فَأَعْطُوا بِأَيْدِيكُمْ وَلَكُمْ الْعَهْدُ وَالْمِيثَاقُ أَنْ لَا نَقْتُلَ مِنْكُمْ أَحَدًا فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ أَيُّهَا الْقَوْمُ أَمَّا أَنَا فَلَا أَنْزِلُ فِي ذِمَّةِ كَافِرٍ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ فَقَتَلُوا عَاصِمًا وَنَزَلَ إِلَيْهِمْ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ عَلَى الْعَهْدِ وَالْمِيثَاقِ مِنْهُمْ خُبَيْبٌ وَزَيْدُ بْنُ الدَّثِنَةِ وَرَجُلٌ آخَرُ فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ أَطْلَقُوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ فَرَبَطُوهُمْ بِهَا قَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ هَذَا أَوَّلُ الْغَدْرِ وَاللَّهِ لَا أَصْحَبُكُمْ إِنَّ لِي بِهَؤُلَاءِ أُسْوَةً يُرِيدُ الْقَتْلَى فَجَرَّرُوهُ وَعَالَجُوهُ فَأَبَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَانْطُلِقَ بِخُبَيْبٍ وَزَيْدِ بْنِ الدَّثِنَةِ حَتَّى بَاعُوهُمَا بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ فَابْتَاعَ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلٍ خُبَيْبًا وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ بْنَ عَامِرٍ يَوْمَ بَدْرٍ فَلَبِثَ خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا حَتَّى أَجْمَعُوا قَتْلَهُ

---

[1])فتح الباری(۳۰۸/۷)_

فَاسْتَعَارَ مِنْ بَعْضِ بَنَاتِ الْحَارِثِ مُوسًى يَسْتَحِدُّ بِهَا فَأَعَارَتْهُ فَدَرَجَ بُنَيٌّ لَهَا وَهِيَ غَافِلَةٌ حَتَّى أَتَاهُ فَوَجَدَتْهُ مُجْلِسَهُ عَلَى فَخِذِهِ وَالْمُوسَى بِيَدِهِ قَالَتْ فَفَزِعْتُ فَزْعَةً عَرَفَهَا خُبَيْبٌ فَقَالَ أَتَخْشَيْنَ أَنْ أَقْتُلَهُ مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ ذَلِكَ قَالَتْ وَاللَّهِ مَا رَأَيْتُ أَسِيرًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ خُبَيْبٍ وَاللَّهِ لَقَدْ وَجَدْتُهُ يَوْمًا يَأْكُلُ قِطْفًا مِنْ عِنَبٍ فِي يَدِهِ وَإِنَّهُ لَمُوثَقٌ بِالْحَدِيدِ وَمَا بِمَكَّةَ مِنْ ثَمَرَةٍ وَكَانَتْ تَقُولُ إِنَّهُ لَرِزْقٌ رَزَقَهُ اللَّهُ خُبَيْبًا فَلَمَّا خَرَجُوا بِهِ مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوهُ فِي الْحِلِّ قَالَ لَهُمْ خُبَيْبٌ دَعُونِي أُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فَتَرَكُوهُ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ وَاللَّهِ لَوْلَا أَنْ تَحْسِبُوا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ لَزِدْتُ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَحْصِهِمْ عَدَدًا وَاقْتُلْهُمْ بَدَدًا وَلَا تُبْقِ مِنْهُمْ أَحَدًا ثُمَّ أَنْشَأَ يَقُولُ

فَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا ... عَلَى أَيِّ جَنْبٍ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ ... يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

ثُمَّ قَامَ إِلَيْهِ أَبُو سِرْوَعَةَ عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَتَلَهُ وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ سَنَّ لِكُلِّ مُسْلِمٍ قُتِلَ صَبْرًا الصَّلَاةَ وَأَخْبَرَ أَصْحَابَهُ يَوْمَ أُصِيبُوا خَبَرَهُمْ وَبَعَثَ نَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِلَى عَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ حِينَ حُدِّثُوا أَنَّهُ قُتِلَ أَنْ يُؤْتَوْا بِشَيْءٍ مِنْهُ يُعْرَفُ وَكَانَ قَتَلَ رَجُلًا عَظِيمًا مِنْ عُظَمَائِهِمْ فَبَعَثَ اللَّهُ لِعَاصِمٍ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ فَحَمَتْهُ مِنْ رُسُلِهِمْ فَلَمْ يَقْدِرُوا أَنْ يَقْطَعُوا مِنْهُ شَيْئًا [ر: ٢٨٨٠]

عمروبن جاريه..ددوى په نوم كښې درې اقوال دى.عمرو،عمر. عمير. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلى دى.چه صحيح هم دا ده.چه دده نوم ..عمرو،، دې.دده د پلار نوم ..اسيد،، دې.د اسيد كنيت ابوسفيان دې.د عمرو د نيكه نوم جاريه دې.كله هغه نيكه طرف ته منسوب كوى.او راوى ،،عمروبن جاريه،، وائى.اوكله ئې دې د پلار نوم يا كنيت طرف ته منسوب كوى.او عمروبن اسيد يا عمروبن ابى سفيان،، هم وائى.ثقفى دې.او د بنو زهره حليف دې.([1])

په مخكښې روايت كښې د اصحاب بيرمعونه قصه بيان شوې ده.كومه چه به انشاء الله په غزوه رجيع كښې په تفصيل سره راشى.چونكه په اصحاب بيرمعونه كښې خبيب بن عدى، حضرت زيدبن دثنه او حضرت عاصم بن ثابت انصارى رضي الله عنهم په بدركښې شريك شوى وو.اوپه دې روايت كښې د دوى په بدر كښې د قتال ذكردې.په دې مناسبت سره امام بخارى رحمه الله دا حديث دلته ذكركړې دې.ددې روايت په آخركښې دى.

[٣٧٦٨] وَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ ذَكَرُوا مَرَارَةَ بْنَ الرَّبِيعِ الْعَمْرِيَّ وَهِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ الْوَاقِفِيَّ رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا [ر: ٣٦٠٦]

دا دهغه اوږد حديث يوه حصه ده.كوم چه به وړاندې په غزوه تبوك كښې په تفصيل سره راځى.دلته امام بخارى د كعب بن مالك رضي الله عنه په حواله سره بيان كوى. چه هغوى په غزوه تبوك كښې د خپل تخلف قصه بيانوى.او د مراره بن ربيع او هلال بن اميه رضي الله عنهما ذكركوى.چه

[1])فتح البارى (٣١٠/٧)_

دا دواړه حضرات نيكان سړي وو.او حضرت كعب ﷺ فرمائى.چه «قد شهدا بدراً» دا دواړه په بدر كښې شريك شوى وو.امام بخارى دا ،،تعليق،، دلته بيان كړو.په اصل كښې امام بخارى ﷫ د كعب بن مالك ﷺ دا قول نقل كوى،اوپه هغه كسانو باندې رد كوى.څوك چه وائى. چه حضرت مراره بن ربيع او حضرت هلال بن اميه ﷺ په جنګ بدر كښې نه وو شريك شوى.ددې قول نسبت امام زهرى ﷫ طرف ته هم شوې دې.علامه دمياطى او حافظ ابن القيم رحمهماالله هم ددې رائې اظهار كړې دې.چه دا دواړه حضرات په بدر كښې نه وو شريك شوى.نو امام بخارى ﷫ ددې رائې رد كوى.دوى د كعب بن مالك ﷺ په حوالې سره نقل كوى.چه دا دواړه حضرات په بدر كښې شريك شوى وو.اوښكاره ده چه د كعب بن مالك ﷺ ددې تصريح نه پس د دغه خلقو د رائې څه اهميت پاتې نشو.كومو سره چه د حضرت مراره بن ربيع او حضرت هلال ﷺ په جنګ بدر كښې د نه شركت څه صريح دليل نشته.(١)

[٣٧٦٩] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ذُكِرَ لَهُ أَنَّ سَعِيدَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ وَكَانَ بَدْرِيًّا مَرِضَ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ فَرَكِبَ إِلَيْهِ بَعْدَ أَنْ تَعَالَى النَّهَارُ وَاقْتَرَبَتِ الْجُمُعَةُ وَتَرَكَ الْجُمُعَةَ

يعنى د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه ذكرشوى دى.چه ذكركونكې څوك دې، حافظ اوونيل «لم أقف» (٢) ماته معلوم نه دى.خود مصنف ابن ابى شيبه په روايت كښې په صراحت سره موجود دى.چه ذكركونكې د سعيدبن زيد خوې وو. (٣) دوى ذكر كړې دې.چه سعيدبن زيد د جمعې په ورځ ناجوړه شو. «فركب إليه بعد أن تعالى النهار» چه د هغه د بيمارئ خبر ئې واوريدو.نو حضرت عبدالله بن عمرد ورځ راختونه پس د دبيمارپرسئ په غرض هغه ته ورغلو.سعيدبن زيد ﷺ بدرى صحابى دې.اوپه عشره مبشره كښې دې،دحضرت عمر ﷺ خور حضرت فاطمه ﷺ د دوى په نكاح كښې وه.نودې د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د ترورخاوند وو.

قوله: وَاقْتَرَبَتِ الْجُمُعَةُ وَتَرَكَ الْجُمُعَةَ:د جمعې د مونځ وخت نزدې شو.خو حضرت عبدالله بن عمر ﷺ جمع پريخوه.اودهغه د بيمارپرسئ دپاره لاړل.

دلته دا نه معلومه نشوه،چه ابن عمر ﷺ د بيمارپرسئ دپاره كوم ځاې ته لاړلو؟ البته د ابن ابى شيبه د روايت نه معلوميږى.چه دحضرت سعيدبن زيد قيام په ،،عقيق،، كښې وو.كوم چه د مدينې منورې نه د درې ميلو په فاصله باندې دې.حضرت ابن عمر ﷺ دهغوى د عيادت دپاره هلته تلې وو.(٤)

---

١)فتح البارى(٣١١\٧)_
٢)فتح البارى(٣١١\٧)_
٣)مصنف ابن ابى شيبة (١٠٥\٢) كتاب الصلاة باب من رخص فى السفر يوم الجمعة)_
٤)مصنف ابن ابى شيبة كتاب الجمعة باب من رخص فى السفريوم الجمعة(١٠٥\٢)_

دجمعې په ورځ د سفر مسئله: دلته يو سوال دا كيدې شى.چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دجمعې مونځ پريخودو.اوعيادت دپاره څنګه لاړلو.دجمعې مونځ پريخودل اود زوال نه وړاندې داسې تلل جائزدى؟

① داكثروحنابلوْ، اومالكيه وْ او قول قديم كښې دامام شافعى رحمه الله په نيز د زوال نه وړاندې دجمعې په ورځ تلل جائز دى.

② دامام مالك رحمه الله نه يو روايت اودامام احمدنه يو روايت او دامام شافعى رحمه الله د قول جديد مطابق داسې د جمعې په ورځ د زوال نه وړاندې دجهاد دپاره تلل جائزنه دى.

③احمد بن حنبل رحمه الله يو روايت دا هم دې.كه سفر د جهاد دپاره وى.نو جائز دې. اوكه نه وى نوناجائز دې.([1])

④دبعضې شوافعو او امام الحرمين رحمهم الله په نيز كه سفر واجب او ضرورى وى. نوتلې شى. ګنى نشى تلې.

⑤ د اكثرو شوافو رحمهم الله راې دا ده.چه كه سفر د طاعت وى.(لكه دعيادت وغيهر نيك كار دپاره سفر وى) نو تلې شى.برابره ده كه سفرواجب وى اوكه نه وى.

دجمعې په ورځ د زوال نه پس جمعه پريخودل اودښارنه تلل: ① د جمهورو رحمهم الله په نيز ناجائز دى.② دامام اوزاعى رحمه الله په نيز جائز دى.([2])

داحنافو رحمهم الله نه په دې مسئله كښې مختلف روايات مروى دى: ① قاضى خان رحمهما الله د احنافو رحمهم الله مذهب دا نقل كړې دې.چه د زوال نه وړاندې هم تلى شى.او د زوال نه پس هم تلې شى.([3])

② فتاوى ظهيريه دا نقل كړى دى.چه د زوال نه پس دجمعې مونځ پريخودل او تلل جائز نه دى.

③ په شرح منيه كښې ئې د احنافو رحمهم الله مذهب دا نقل كړې دې.چه د زوال نه وړاندې جائز دې او د زوال نه پس مكروه دې.او ابن عابدين هم دا فرمائيلى دى.([4])

خوكه يو كس دا خيال كوى.كه ده سفر اونكړو.نود قافلې نه روسته پاتې كيږى.او بيا څانله د ده دپاره سفرْ كول ګران وى.اود مشكلاتوباعث وى.نود داسې كس دپاره دجمعې په ورځ د زوال نه پس هم جمعه مونځ پريخودل او تلل جائز دى.

[1])د ذكرشوو درې واړه رواياتو دپاره اوګورئ المغنى لابن قدامة (۱۰۸۱۲) حكم السفر يوم الجمعة)_

[2])المغنى لابن قدامة)_

[3])إذا ارادالرجل أن يسافر يوم الجمعة لا بأس به إذا خرج من عمران المصر قبل خروج وقت الظهر لأن الجمعة إنما تجب فى آخر الوقت وانظر فتاوى قاضى خان على هامش الهندية (۱۷۶۱۱) باب صلاة الجمعة والبحر الرائق (۱۶٤۱۲)_

[4])الدرالمختارعلى هامش ردالمختار (۱۶۲۱۲) باب الجمعة وغنية المستملى ص،۵۶۵فصل فى صلاة الجمعة)

[٣٧٧٠] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ أَبَاهُ كَتَبَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَرْقَمِ الزُّهْرِيِّ يَأْمُرُهُ أَنْ يَدْخُلَ عَلَى سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ الْأَسْلَمِيَّةِ فَيَسْأَلَهَا عَنْ حَدِيثِهَا وَعَمَّا قَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اسْتَفْتَتْهُ فَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَرْقَمِ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ يُخْبِرُهُ أَنَّ سُبَيْعَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهِيَ حَامِلٌ فَلَمْ تَنْشَبْ أَنْ وَضَعَتْ حَمْلَهَا بَعْدَ وَفَاتِهِ فَلَمَّا تَعَلَّتْ مِنْ نِفَاسِهَا تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا أَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ فَقَالَ لَهَا مَا لِي أَرَاكِ تَجَمَّلْتِ لِلْخُطَّابِ تُرَجِّينَ النِّكَاحَ فَإِنَّكِ وَاللَّهِ مَا أَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتَّى تَمُرَّ عَلَيْكِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ قَالَتْ سُبَيْعَةُ فَلَمَّا قَالَ لِي ذَلِكَ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي حِينَ أَمْسَيْتُ وَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ فَأَفْتَانِي بِأَنِّي قَدْ حَلَلْتُ حِينَ وَضَعْتُ حَمْلِي وَأَمَرَنِي بِالتَّزَوُّجِ إِنْ بَدَا لِي

تَابَعَهُ أَصْبَغُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ مَوْلَى بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ إِيَاسِ بْنِ الْبُكَيْرِ وَكَانَ أَبُوهُ شَهِدَ بَدْرًا أَخْبَرَهُ [ر: ٥٠١٣و٣٦٢٦]

په دې روايت كښې عبيدالله بن عبدالله بن عتبه وائي.چه د دوى پلارحضرت عبدالله بن عتبه عمروبن عبدالله بن ارقم زهرى ته اوليكل.چه هغه دې سبيعه بنت الحارث اسلميه ته ورشي.اود هغې نه دې دهغه واقعه په باره كښې تپوس اوكړى. كومه چه هغې سره پيښه شوې وه.اورسول الله ﷺ هغې ته په دې معامله كښې څه ارشاد فرمائيلي وو.هغه معلوم كړى.نو عمروبن عبدالله بن ارقم حضرت سبيعه رضي الله عنها ته ورغلو.او د هغې نه ئې د تحقيق كولونه پس عبدالله بن عتبه ته په جواب كښې اوليكل.چه حضرت سبيعه رضي الله عنها ده ته دا خبر وركړو.چه دا (سبيعه) د سعد بن خوله په نكاح كښې وه.او حضرت سعد په هغه خلقوكښې وو.كوم چه په بدركښې شريك شوى وو(هم دا جمله د ترجمة الباب سره متعلق ده) دحجة الوداع په موقع باندې د حضرت سعد بن خوله وفات اوشو.او هغه (سبيعه)حامله وه.د خاوند د وفات نه پس څه ورځې تيرې شوې.چه د سبيعه بچې پيدا شو.د بچى د پيدائش نه پس كله چه سبيعه د نفاس نه پاكه شوه.نو پيغام راليږونكو دپاره دې ډول سنګارشروع كړو.بنى عبدالداركښې يوكس ابوالسنابل بن بعكك دې ته راغلو.اودې ته ئې اووئيل.كيدې شى.ته د نكاح پيغام راليږونكوديپاره ډول سنګار كوې.غالباً چه ستاسو دنكاح خيال دې.خوپه الله قسم ته واده نشې كولې.تردې چه په تا څلورمياشتې اولس ورځې تيرې شوې نه وى.د حضرت سبيعه رضي الله عنها بيان دې.چه كله ابوالسنابل ماته دا خبره اوكړه.نوما هم مابنام خپلې جامې او څادر وغيره واچول.اود رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضره شوم.او د نبى ﷺ نه مې د مسئلې تپوس اوكړو.نبى ﷺ ماته فتوى راكړه.چه هركله وضع د حمل شوې ده.نو اوس زه حلاله شوم.اوكه زما خواهش وى.نوزه نكاح كولې شم.

دې حديث سره متعلق فقهي مسائل به انشاء الله په كتاب النكاح كښې راځي. چونكه په دې كښې دحضرت سعدبن خوله په باره كښې دى.چه دې د بدر په شركاء كښې وو.په دې مناسبت سره امام بخارى رحمه الله په دې مقام كښې ددې تخريج اوكړو. والله اعلم.

باب شُهُودِ الْمَلَائِكَةِ بَدْرًا

[۳۷۷۱] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ أَبِيهِ وَكَانَ أَبُوهُ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ قَالَ جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ قَالَ مِنْ أَفْضَلِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا قَالَ وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ

حضرت جبرئيل عليه السلام نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته راغلو! تپوس ئې اوكړو.چه داهل بدرستا په نيزخه مقام دې؟ نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.((من أفضل المسلمين)) په ټولومسلمانانو كښې مونږ بدريان افضل شمارو.يا ددې پشان ئې بله څه كلمه اووئيله.نو جبرئيل عليه السلام اووئيل.هم دا شان د هغه فرښتو هم دي.كوم چه بدرته حاضرې شوې وې.

جنګ بدركښې د فرښتو د نزول فائدې او دې سره متعلقه نور بحثونه وړاندې تيرشوى دى.

[۳۷۷۲] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ وَكَانَ رِفَاعَةُ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ وَكَانَ رَافِعٌ مِنْ أَهْلِ الْعَقَبَةِ فَكَانَ يَقُولُ لِابْنِهِ مَا يَسُرُّنِي أَنِّي شَهِدْتُ بَدْرًا بِالْعَقَبَةِ قَالَ سَأَلَ جِبْرِيلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ أَخْبَرَنَا يَحْيَى سَمِعَ مُعَاذَ بْنَ رِفَاعَةَ أَنَّ مَلَكًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَعَنْ يَحْيَى أَنَّ يَزِيدَ بْنَ الْهَادِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَهُ يَوْمَ حَدَّثَهُ مُعَاذٌ هَذَا الْحَدِيثَ فَقَالَ يَزِيدُ فَقَالَ مُعَاذٌ إِنَّ السَّائِلَ هُوَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام

قوله: مَا يَسُرُّنِي أَنِّي شَهِدْتُ بَدْرًا بِالْعَقَبَةِ: دا د حضرت رافع انصارى رضي الله عنه قول دې.كوم چه دوى خپل خوې ته كوى.د دوى خوې حضرت رفاعه رضي الله عنه دې.حضرت رفاعه رضي الله عنه په جنګ بدركښې شريك شوې وو.خود دوى پلار حضرت رافع په جنګ بدركښې نه وو شريك شوې. البته په بيعت عقبه كښې شريك شوې وو.

① د دوى په دې قول كښې چه كومه ..ما.. ده.په دې كښې يو صروت خو دا دې. چه دا نافيه اومنلې شى.نو مطلب به دا شى.چه زما دپاره دا خبره د خوشحالۍ نه ده.چه زه د عقبه په ځاې په بدر كښې حاضر شوې وم.يعنى كه زه بدركښې نه يم حاضرشوې.نو زما په دې باندې خفګان نشته.ځكه چه زه د بدر په ځاې په عقبه ته حاضرشوې وم.ځكه چه عقبه خو هغه منزل وو.چه د هغې نه پس د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د هجرت اسباب پيدا شول.اوهم د بيعت عقبه په وجه اسلام ته د ترقۍ لارې پيدا شوې.اود اسلام دعوت اوتبليغ او ددې نشر او اشاعت په لويه پيمانه باندې شروع شو.

② دويم صورت دا دې.چه ،،ما،، استفاميه تسليم كړې شي.نو په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه څه خوشحالي به وه ماته،چه د عقبه په ځاې زه بدر ته حاضر شوې وم.په دې صورت كښې دعقبه فضيلت بيانول مقصود نه دى.بلكه په بدر كښې د حاضرئ ارمان مقصود دې.(١)

[٣٧٧٣]حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ [ر:٣٨١٥]

ددې روايت خصوصيت دا دې.چه دا روايت بعينه هم په دې سند سره اوهم په دې الفاظو سره وړاندې په غزه احد كښې راځى.(٢) دا خوزيات كيرى.چه يو روايت تير شى.اوبل روايت هم په دغه سند سره راشى.خوبه متن كښې دالفاظو فرق وى.خودا روايت د سندا او متن په اعتبار سره بعينه مكرر راغلې دې.د بخارى شارحينو رحمهم الله د تحقيق مطابق داسې روايات د شلو نه څه زيات دى.چه په هغې كښې متن او سند بعينه مكرر دى.

خوكه يو كس ته توفيق ملاؤ شو.اوهغه ددې خبرې تحقيق اوكړى.نو هغه ته به د شلو نه زيات داسې روايات ملاؤ شى.چه په هغې كښې سند او متن بعينه مكرر وى.

١٢=باب

دا باب د ((فيمايتعلق ببدر)) په معنى كښې دې.

[٣٧٧٤]حَدَّثَنِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ مَاتَ أَبُو زَيْدٍ وَلَمْ يَتْرُكْ عَقِبًا وَكَانَ بَدْرِيًّا

محمد بن عبدالله انصارى ،دامام بخارى رحمه الله د مشرانو استاذانو نه دې. امام بخارى رحمه الله د دوى نه براه راست هم روايات نقل كوى.دلته روايت د خليفه بن خياط په واسطه سره امام بخارى رحمه الله نقل كوى.

حضرت ابوزيد رضي الله عنه وفات شو.اود دوى نارينه اولاد نه وو.دوى بدرى وو.

---

(١) علامه عينى ليكى.((ما يسرى نى ،، كلمة ما إستفهامية وفيه معنى التمنى لشهود بدر ويحتمل أن تكون نافية والباء فى ،،بالعقبة ،، باء البدل أى بدل العقبة (عمدة القارى (١٧\١٠٤)،،

البته كله چه ،ما،، نافيه اومنلې شى.نوبه دې صورت كښې اشكال كيدې شى.چه حضرت رافع بيعت عقبه ته په بدرباندې ولې ترجيح وركوى.حالانكه نبى صلى الله عليه وسلم تصريح كړې ده.چه اهل بدر په ټولو مسلمانانوباندې افضل دى.نو ددې اشكال جواب حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى.،،

والذى يظهر أن رافع بن مالك لم يسمع من النبى صلى الله عليه وسلم التصريح بتفضيل أهل بدرعلى غيرهم فقال ما قال بإجتهاد منه وشبهته أن العقبة كانت منشأ نصرة الإسلام وسبب الهجرة التى نشأ منها الإستعداد للغزوات كلها لكن الفضل بيدالله يؤتيه من يشاء (فتح البارى (٧\٣١٣)_

(٢) باب غزوة أحد.. رقم الحديث (٤٠٤١)_

حضرت ابوزید رضی الله عنه: حضرت ابوزید انصاری رضی الله عنه صحابی دې.د دوی د نوم په باره کښې مختلف اقوال دی.

① علامه ذهبی رحمه الله په معجم الصحابة رضی الله عنهم کښې د دوی نوم ،،اوس بن السکن،، نقل کړې دې.[1] ② بعضې حضراتو ددوی نوم ،،معاذ،، نقل کړې دې.[2]

③ یحی بن معین او حافظ دمیاطی رحمهما الله ددوی نوم ،،ثابت بن زید،، خودلې دې.[3]

خودوی په خپل کنیت سره مشهر دی.او په هغه صحابو رضی الله عنهم کښې دې.چاچه د نبی صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې ئې قران پاك حفظ کړې وو.په بدر کښې شریك شوې وو.اود بدر نه علاوه په نورو تولو ،،مشاهد،، کښې هم شریك پاتې شوې دې.د حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه په دور خلافت کښې وفات شوی وو.[4]

[۳۷۷۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ خَبَّابٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدِ بْنَ مَالِكٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَقَدَّمَ إِلَيْهِ أَهْلُهُ لَحْمًا مِنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَقَالَ مَا أَنَا بِآكِلِهِ حَتَّى أَسْأَلَ فَانْطَلَقَ إِلَى أَخِيهِ لِأُمِّهِ وَكَانَ بَدْرِيًّا قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنَّهُ حَدَثَ بَعْدَكَ أَمْرٌ نَقْضٌ لِمَا كَانُوا يُنْهَوْنَ عَنْهُ مِنْ أَكْلِ لُحُومِ الْأَضْحَى بَعْدَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ [ر:۵۲۴۸]

د دې روایت په سند کښې مسلسل درې تابعیان راغلی دی.یحی بن سعید ، قاسم بن محمد او ابن خباب رحمهم الله چه نوم ئې عبدالله دې.دا درې واړه تابعیان دی.

په دې روایت کښې دی چه حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه د یو سفر نه واپس شو. دکور خلقو ورته د قربانۍ غوښه وړاندې کړه.حضرت ابوسعید رضی الله عنه اووئیل.زه خو نه خورم. ترڅو چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس اونکړم.(ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم په اول کښې د دریو ورځو نه زیات د قربانۍ د غوښې ساتلونه منع کړې وه.اودلته په دې وخت کښې د درې ورځو نه زیاته موده تیره شوې وه) نو حضرت ابوسعید رضی الله عنه دخپل مور شریك ورور حضرت قتاده بن النعمان رضی الله عنه ته ورغلو.

((وکان بدریاً)) اوقتاده رضی الله عنه بدری وو.(د دې جملې د مناسبت په وجه دا روایت امام بخاری رحمه الله دلته ذکرکړې دې) د هغوی نه حضرت ا بوسعید رضی الله عنه تپوس اوکړو.نو حضرت قتاده بن نعمان رضی الله عنه اووئیل.چه ستا په سفر باندې د تلونه پس هغه اولنې حکم مسوخ شوې دې.په کوم کښې چه به د قربانۍ غوښه د درې ورځو نه زیات استعمالولو نه منع شوې وه.اوس د درې ورځو نه زیات د قربانۍ د غوښې ساتلو اجازت شوې دې.نوتاسو د قربانۍ غوښه خوړلې شئ.

---

[1])عمدة القاری(۱۷\۱۰۶)_
[2])عمدة القاری(۱۷\۱۰۶)_
[3])عمدة القاری(۱۷\۱۰۶)_
[4])فتح الباری(۸\۳۱٤) وعمدة القاری(۱۷\۱۰۶)_

حضرت قتاده بن النعمان رضی الله عنه: حضرت قتاده بن النعمان بدری رضي الله عنه صحابی دي.اوپه انصارو کښې دې.د دوی کنیت ،،ابوعمر،، دې.انصارو دده کنیت ،،ابوعبدالله،، کیخودې وو. بعضو وئیلی دی.چه د دوی کنیت ،،ابوعثمان،، دې.[1] د دوی یوه سترګه په جنګ احد کښې بهرته راوتلې وه.بعضې خلقو وئیلی دی.چه په غزوه بدرکښې دا واقعه پیښه شوې وه.[2] اوبعضو وئیلی دی.چه په غزوه خندق کښې دا واقعه پیښه شوې وه.[3] خو صحیح دا ده.چه دا واقعه په جنګ احد کښې پیښه شوې وه.[4] دوی د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او وې وئیل.یارسول الله زما یوه ښځه ده.زما د هغې سره محبت دې.او هغه زما سره محبت کوی.زما دا سترګه بهرته راوتلې ده.که هغه ما اووینی.نو زما نه به نفرت کوی.تاسو زما دپاره دعا اوکړئ.نو نبی ﷺ د دوی دپاره دعا اوکړه.اوددوی هغه سترګه د وړاندې زیاته ښه شوه.[5]

حضرت قتاده بن النعمان رضي الله عنه په ۲۳ھ کښې د حضرت عمر رضي الله عنه په دور خلافت کښې وفات شوې وو.۶۵ شپته کاله عمر ئې وو.حضرت عمر رضي الله عنه د دوی د جنازې امامت کړې وو. [6]

بهرحال د حضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه د دې دویم روایت اصلی مقام خو «کتاب الأضاحی» دې.خوچونکه په دې روایت کښې دحضرت قتاده بن النعمان رضي الله عنه په بدر کښې د شرکت ذکر وو.ددې وجې امام بخاری رحمه الله دلته په غزوه بدرکښې ددې تخریج اوکړو.

[۳۷۷۶] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ الزُّبَيْرُ لَقِيتُ يَوْمَ بَدْرٍ عُبَيْدَةَ بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ وَهُوَ مُدَجَّجٌ لَا يُرَى مِنْهُ إِلَّا عَيْنَاهُ وَهُوَ يُكْنَى أَبُو ذَاتِ الْكَرِشِ فَقَالَ أَنَا أَبُو ذَاتِ الْكَرِشِ فَحَمَلْتُ عَلَيْهِ بِالْعَنَزَةِ فَطَعَنْتُهُ فِي عَيْنِهِ فَمَاتَ قَالَ هِشَامٌ فَأُخْبِرْتُ أَنَّ الزُّبَيْرَ قَالَ لَقَدْ وَضَعْتُ رِجْلِي عَلَيْهِ ثُمَّ تَمَطَّأْتُ فَكَانَ الْجَهْدَ أَنْ نَزَعْتُهَا وَقَدْ انْثَنَى طَرَفَاهَا قَالَ عُرْوَةُ فَسَأَلَهُ إِيَّاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُ فَلَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا ثُمَّ طَلَبَهَا أَبُو بَكْرٍ فَأَعْطَاهُ فَلَمَّا قُبِضَ أَبُو

---

[1] الإصابة (۲۲۵/۳)_

[2] بیهقی په دلائل النبوة کښې د ابن غسیل نه په دې باره کښې دوه روایتونه نقل کړی دی.اوپه دغه دواړو روایتونوکښې ددې واقعه په جنګ بدرکښې د کیدو تصریح ده.دلائل بیهقی (۲۵۲/۳)

[3] عمدة القاری(۱۰۶/۱۷)_

[4] ابن سعد په طبقات (۴۵۳/۳) کښې ابونعیم په دلائل النبوة (۴۸۳/۲) کښې ابوبکر هیثمی په مجمع الزوائد (۱۱۳/۶) کښې دغه شان په (۲۹۷/۸) کښې اوحافظ ابن حجر رحمه الله په الإصابة (۲۲۵/۳) کښې په غزوه احدکښې ددې واقعه د واقع کیدو روایات نقل کړی دی_

[5] دلائل أبی نعیم (۲۵۳/۲) وطبقات ابن سعد(۴۵۳/۳)_

[6] الإصابة (۲۲۶/۳) وطبقات ابن سعد (۴۵۳/۳)_

بَكْرٍ سَأَلَهَا إِيَّاهُ عُمَرُ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهَا فَلَمَّا قُبِضَ عُمَرُ أَخَذَهَا ثُمَّ طَلَبَهَا عُثْمَانُ مِنْهُ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهَا فَلَمَّا قُتِلَ عُثْمَانُ وَقَعَتْ عِنْدَ آلِ عَلِيٍّ فَطَلَبَهَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ فَكَانَتْ عِنْدَهُ حَتَّى قُتِلَ

په دې روايت كښې د عبيده بن سعيد بن العاص د قتل ذكردې.كوم چه په بدر كښې حضرت زبيربن العوام رضي الله عنه قتل كړې وو.ددې تفصيل تيرشوې دې. (١)

دامام بخارى رحمه الله په دې مقام كښې د دې حديث ذكركولونه مقصود دا خودل دى.چه حضرت زبيربن العوام رضي الله عنه په جنګ بدر كښې شريك شوې وو.

[٣٧٧٧] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ عَائِذُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَايِعُونِي [ر:١٨]

په دې روايت كښې د حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه د بدرى كيدو ذكر دې. (٢) د دې وجې امام بخارى رحمه الله ددې تخريج دلته كړې دې.

[٣٧٧٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَبَا حُذَيْفَةَ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَنَّى سَالِمًا وَأَنْكَحَهُ بِنْتَ أَخِيهِ هِنْدَ بِنْتَ الْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ وَهُوَ مَوْلًى لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ كَمَا تَبَنَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَكَانَ مَنْ تَبَنَّى رَجُلًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ إِلَيْهِ وَوَرِثَ مِنْ مِيرَاثِهِ حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ فَجَاءَتْ سَهْلَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ [ر:٣٨٠٠]

حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه كوم چه د نبى كريم ﷺ سره په جنګ بدركښې شريك شوې وو.هغوى سالم بن معقبل متنبى (په خوى توب سره نيولې شوې)جوړ كړې وو.اود خپلې وريرې سره ئې د سالم واده كړې وو.د دوى د وريرې نوم ،،هند بنت الوليد،، وو.د بخارى ددې روايت نه علاوه د نسائى اوابوداود په رواياتوكښې هم ددوى نوم ،،هند بنت الوليد،، ذكردې.(٣) خود موطا امام مالك رحمه الله په روايت كښې د دې نوم ،،فاطمه،، خودلې شوې دې.اوحافظ ابن عبدالبر رحمه الله په شرح د موطاء كښې دامام مالك اقتداء كړې ده.دسالم د ښځې نوم ئې فاطمه بنت الوليد بيان كړې دې.(٤) ابن عبدلبر رحمه الله په ،،الاستيعاب، كښې په صحابياتو كښې د ،،هندبنت الوليد،، ذكرنه دې كړې.ابن سعدپه طبقات كښې هم ،،هندبنت الليد

---

١) اوګورئ د عبيده بن سعيد قتل (٦٧)_

٢) عبادة بن الصامت.. كان أحد النقباء بالعقبة وآخى رسول الله ﷺ بينه وبين أبى مرثد الغنوى وشهد المشاهد كلها أنه كان طوالاً جميلاً جسيماً ومات بالرملة سنة أربع وثلاثين(وانظر الإصابة (٢٦٩١٢)_

٣) عمدة القارى(١٠٨\١٧)_

٤) عمدة القارى(١٠٨\١٧)_

ذکرېه صحابياتوکښې نه دې کړې.(١) خودبخاری،ابوداود اونسائی په روياتونو کښې ددې نوم هندبنت وليد خودلې شوې دې.(٢)
په دواړه قسم رواياتوکښې تاسو تطبيق داسې کولې شئ چه ممکن ده.چه ددې دوه نومونه وی.اودا هم وئيلې شئ.چه يو نوم وی.اوبل لقب وی.نو چا په نوم سره ذکرکړې ده.او چا په لقب ،نو اوس د بخاری او موطاء په روايتونوکښې تضاد پاتې نشو.

قوله: وَهُوَ مَوْلًى لِامْرَأَةٍ مِنْ الْأَنْصَارِ: او حضرت سالم د يو انصاری ښځې آزاد کړې غلام وو.دا انصاری ميرمن «ثبيتة بنت يعار» وه.دلته اشکال کيږی.چه په کتاب المناقب کښې يو باب دې.«باب مناقب سالم مولى أبي حذيفة» هلته سالم «مولى أبي حذيفة» وئيلی دی.اوپه دې روايت کښې «هو مولى لإمرأة من الأنصار»دی.چه دا د يوې انصاريې آزاد کرده غلام وو.په ظاهره په دواړو کښې تعارض دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې جواب دا ورکړې دې.چه په اصل کښې آزاده کرده غلام هم د «ثبيته انصاريه،،» دې
په کتاب المناقب کښې چه حضرت سالم ته ،،مولی ابی حذيفه،، وئيلی دی.هغه ئې ورته مجازاً وئيلی دی.ځکه چه حضرت سالم به د حضرت ابو حذيفه رضی الله عنه سره اوسيدل.اودهغوی سره ئې خصوصی تعلقات وو.ددې وجې هغوی ته ،،مولی ابی حذيفه،، وئيلی دی.(٣)

قوله: وَكَانَ مَنْ تَبَنَّى رَجُلًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ إِلَيْهِ: اوپه زمانه د جاهليت کښې چه به ئې څوك په خوی توب سره اونيولو.نوخلقو به دهغه نسبت هغه کس ته کولو.چاچه به دې متبنی نيولې وو.
اودا متبنی به دهغه متبنی نيونکی وارث هم وو.تردې چه الله تعالی د سورة احزاب دا آيت نازل کړو.﴿ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ﴾ (٤)

قوله: فَجَاءَتْ سَهْلَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ: وړاندې هم هغه واقعه ده.چه سهله بنت سهيل کومه چه د حضرت ابوحذيفه ښځه وه.هغه نبی صلی الله عليه وسلم ته راغله.اوددوی په خدمت کښې ئې عرض اوکړو.چه د حضرت سالم سره زمونږ محبت او تعلق دومره دې.چه دې مونږ خپل خوې جوړ کړې وو.اوس هرکله چه آيت نازل شو.نو سالم چه زمونږ کورته راځی.ابوحذيفه دا ښه نه ګڼړی.حالانکه سالم سره قطع تعلق کول هم زمونږ

---

١)فتح الباری(٣١٥\٧)_
٢)فتح الباری(٣١٥\٧)_
٣)فتح الباری(٣١٥\٧)_
٤)پوره آيت دا دې﴿ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ سورة الأحزاب:٥)_

دپاره ګران دی.نو نبی ﷺ اوفرمائيل.چه ته هغه ته پئ ورکړه.نوحضرت سهلې هغه ته خپل پئ ورکړل.اودغه شان هغه ددې رضاعی خوې شو.په دې عمرکښې د پيو ورکول او رضاعت معتبر ګڼړل په خصوصيت باندې محمول دی.

ددې واقعه ددې باب سره څه تعلق نشته.په دې حديث کښې چونکه د ا دی.چه حضرت ابوحذيفه رضی الله عنه په بدرکښې شريك شوې وو.ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا حديث دلته ذکرکړلو.

حضرت ابوحذيفه رضى الله عنه: حضرت ابوحذيفه رضی الله عنه بدری صحابی رضی الله عنه دې. ددوی نوم بعضې خلقو ،،مهشم،، ،اوبعضو ،،هشيم،، ،اوبعضو ،،هاشم،، او بعضو ،،قيس،، خودلې دې. دوی په فضلاء صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې وو.او صاحب الهجرتين وو.د شپږ پنځوس کالو په عمرکښې د حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه په دورکښې په جنګ يمامه کښې شهيد شوې وو.(١)

[٣٧٧٩] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا بِشْرُبْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا خَالِدُبْنُ ذَكْوَانَ عَنْ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي وَجُوَيْرِيَاتٌ يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ يَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِهِنَّ يَوْمَ بَدْرٍ حَتَّى قَالَتْ جَارِيَةٌ وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُولِي هَكَذَا وَقُولِي مَا كُنْتِ تَقُولِينَ [٤٨٥٢]

ربيع بنت معوذفرمائی.چه ماته رسول الله ﷺ دهغې شپې په صبا باندې تشريف راوړو.په کومه شپه چه زما رخصتی شوې وه.(دعربودا رواج وو.چه هغوی به د ناوې ترهغه وخته پورې نه رخصت کوله.ترڅوچه به خاوند دهغې دپاره د جدا کور او مکان انتظام نه وو کړئ.ددې وجې لفظ د ،،بنی،، د رخصتئ دپاره استعمالول شروع شو.ځکه چه رخصتی به په بناء (دکور په جوړولو.) موقوف وه. نو د «بنى على» مطلب دا شو.چه په کومه شپه زه رخصت شوې ووم.(دپلاردکورنه د خاوند کورته) او رسول الله ﷺ راغلو.زما په بستره داسې کيناستلو.لکه څنګه اې خالدبن ذکوان! چه ته ناست ئې.

يواشکال اودهغې جوابونه: دلته دا اشکال کيدې شی. چه خلوة بالاجنبيه نبی ﷺ څنګه کړې وو؟

① يوجواب دا ورکړې شوې دې.چه دا واقعه د نزول حجاب نه وړاندې وه.

② دويم جواب دا دې.چه دلته خلوت نه و.دلته خو ماشومانو جينکو سندرې وئيلې.لکه څنګه چه په روايت کښې وړاندې راغې.

③ خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه د قوی دلائلو نه مونږ باندې دا خبره ښکاره شوې ده.چه د نبی ﷺ دپاره خلوت بالاجنبيه جائز وو.ځکه چه خلوت بالاجنبيه په شريعت کښې ددې وجې ناجائز دې، چه په دې کښې د فتنې ويره وی. او نبی ﷺ معصوم وو.دلته د فتنې

(١) الإصابة (٤٢١و ٤٣)_

څه ويره موجود نه وه.([1])

قوله: وَجُوَيْرِيَاتٌ يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ: دف بالضم هم وئيلى شى.او بالفتح هم وئيلى شى.يعنى ماشومانې جينكۍ وې.چه هغوى به طنبل وهل.([2])

قوله: يَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِهِنَّ: ،،ندب،، د مړى محاسنو ذكركولو ته وائى.نودلته ماشومانوچه په بدر كښې كوم حضرات شهيدان شوى ووى.دهغوى په باره ښې چه كومې مرثې وئيلې شوې وې. هغه ئې لوستلې.ددې حديث نه د طنبل وهلو اوددې د آواز اوريدو اجازت معلوميږى.خو ددې نه د نن ورځې د مزاميرو استعمال او د سندرو په جوازباندې استدلال كول صحيح نه دى.ځكه چه نن صبا كوم خلق سندرې وائى.يا ډهول وهى. هغوى ددې فن د زده كولو دپاره ډيرمشقت كوى.د فن استاذان او ماهرين فن چه كوم كار كوى.هغه ددې ماشومانو جينكو په فعل سره نشى جائزثابتولې.د نكاح په موقع د طنبل وهلو صرف دومره اجازت شته.چه په دې سره د نكاح اعلان اوشى.

قوله: حَتَّى قَالَتْ جَارِيَةٌ وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ:يوې ماشومې په كښې اووئيل.په مونږ كښې نبى موجود دې ،هغوى د راتلونكې زمانې خبرې پيژنى.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.((لاتقولى هكذا)) داسې مه وايه.ځكه چه د مستقبل علم خو صرف الله تعالى ته وى. كه الله تعالى چاته د مستقبل د څه واقعې خبر وركړى.نوهغه بله خبره ده.خوبغيرد څه سبب نه اوبغيرد الله تعالى د خودلو نه هيچا ته د مستقبل علم نشى كيدې.

[٣٧٨٠] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ ح حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو طَلْحَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ يُرِيدُ التَّمَاثِيلَ الَّتِي فِيهَا الْأَرْوَاحُ [ر: ٣٠٥٣]

دا دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت دې.دوى فرمائى.چه حضرت ابوطلحه رضی الله عنه په بدركښې شريك شوې وو. حضرت ابوطلحه رضی الله عنه مشهور صحابى دې.اودحضرت ام سليم خاونددې.([3])

---

[1])قال الكرمانى هو محمول على أن ذلك كان من وراء حجاب أوكان قبل نزل آية الحجاب وأجاز النظر للحاجة أو عند الأمن من الفتنة .. والآخر هو المعتمد والذى وضح لنا بالأدلة القوية أن من خصائص النبى ﷺ جواز الخلوة بالأجنبية والنظر إليها (فتح البارى ٢٠٣\٩) كتاب النكاح)_

[2])عمدة القارى(١٠٩\١٧)_

[3])قال الحافظ ابن حجر فى الإصابة (٥٦٥\١١و ٥٦٦) زيدبن سهل بن الأسود بن حرام.. الأنصارى الخزرجى أبوطلحة مشهور بكنية .. كان من فضلاء الصحابة رضی الله عنه وهو زوج أم سليم....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

قوله: لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ: په كوم كوركښې سپې يا تصوير وى.هغې ته فرښتې نه داخليږى.

قوله: يُرِيدُ التَّمَاثِيلَ الَّتِي فِيهَا الْأَرْوَاحُ: يا خوددې نه د ذى روح تصوير مراد دې.يا هغه بتان مراد دى.كوم چه د ذى روح څيزونو وى.(١) بهر حال داسې كورته فرښتې نه داخليږى. په كوم كښې چه سپې يا تصويرونه يا بتان وى.د فرښتونه مراد د رحمت فرښتې دى.بيا دلته سوال پيدا كيږى.چه ،،كلب،، عام دې.يا د ،،كلب،، نه مراد هغه ،،كلب دې.دكوم د ساتلو اجازت چه نه وى.دعلامه نووى او قرطبى رحمهما الله رايې دا ده.چه د دې نه عام كلب مراد دې.البته نور حضرات فرمائى.چه ددې نه هغه ،،كلب،، مراد دې.دكوم د ساتلو اجازت چه نشته.(ددې پوره تفصيل به په كتاب اللباس كښې راشى.انشاء الله)(٢)

[٣٧٨١]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنْ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيًّا قَالَ كَانَتْ لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنْ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ مِنْ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ فَلَمَّا أَرَدْتُ أَنْ أَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتُ رَجُلًا صَوَّاغًا فِي بَنِي قَيْنُقَاعَ أَنْ يَرْتَحِلَ مَعِي فَنَأْتِيَ بِإِذْخِرٍ فَأَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَهُ مِنْ الصَّوَّاغِينَ فَنَسْتَعِينَ بِهِ فِي وَلِيمَةِ عُرْسِي فَبَيْنَا أَنَا أَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مِنْ الْأَقْتَابِ وَالْغَرَائِرِ وَالْحِبَالِ وَشَارِفَايَ مُنَاخَانِ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِنْ الْأَنْصَارِ حَتَّى جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ فَإِذَا أَنَا بِشَارِفَيَّ قَدْ أُجِبَّتْ أَسْنِمَتُهَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَأُخِذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا فَلَمْ أَمْلِكْ عَيْنَيَّ حِينَ رَأَيْتُ الْمَنْظَرَ قُلْتُ مَنْ فَعَلَ هَذَا قَالُوا فَعَلَهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنْ الْأَنْصَارِ عِنْدَهُ قَيْنَةٌ وَأَصْحَابُهُ فَقَالَتْ فِي غِنَائِهَا أَلَا يَا حَمْزُ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ فَوَثَبَ حَمْزَةُ إِلَى السَّيْفِ فَأَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَأَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا قَالَ عَلِيٌّ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ وَعَرَفَ

...د تيرمخ بقيه حاشيه] خطب أبوطلحة أم سليم فقالت ياأباطلحة مامثلك يرد ولكنك إمرؤ كافر وأنا مسلمة لا تحل لى فإن تسلم فذلك مهرى فأسلم فكان ذلك مهرها .. ووعن أنس رضي الله عنه أنه كان يرمى بين يدى النبى صلى الله عليه وسلم يوم أحد فرفع النبى صلى الله عليه وسلم ينظر فرفع أبوطلحة صدره وقال هكذا لا يصيبك بعض القوم سهامهم نحرى دون نحرك.. واختلف فى وفاته فقال الواقدى مات سنة أربع وثلاثين وصلى عليه عثمان وقيل قبلها بسنتين وقال أبوزرعة الدمشقى عاش بعد النبى صلى الله عليه وسلم أربعين سنة .. فعلى هذا يكون موته سنة خمسين أو سنة إحدى وخمسين .. وبه جزم المدائنى)_

١)التماثيل جمع تمثال وهو الصورة (عمدة القارى(١١٠،١٧)_

٢)صحيح مسلم (٢٠٠١٢) كتاب اللباس والزينة باب تحريم تصوير صورة الحيوان)_

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي لَقِيتُ فَقَالَ مَا لَكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ عَدَا حَمْزَةُ عَلَى نَاقَتَيَّ فَأَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَهَا هُوَ ذَا فِي بَيْتٍ مَعَهُ شَرْبٌ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرِدَائِهِ فَارْتَدَى ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي وَاتَّبَعْتُهُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ حَتَّى جَاءَ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ حَمْزَةُ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيْهِ فَأَذِنَ لَهُ فَطَفِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُومُ حَمْزَةَ فِيمَا فَعَلَ فَإِذَا حَمْزَةُ ثَمِلٌ مُحْمَرَّةٌ عَيْنَاهُ فَنَظَرَ حَمْزَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى رُكْبَتِهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى وَجْهِهِ ثُمَّ قَالَ حَمْزَةُ وَهَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبِي فَعَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ثَمِلٌ فَنَكَصَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرَى فَخَرَجَ وَخَرَجْنَا مَعَهُ

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ: دلته د امام بخاری ﷫ شیخ عبدان دې.دا عبدالله بن عثمان بن جبله دې.او د دوی کنیت ابوعبدالرحمن دې.د حافظ ابن حجر﷫ رائې دا ده.چه د دوی نوم عبدالله دې. خلقو په دې کښې ترمیم کړې دې.او عبدان ئې ترې جوړ کړې دې،او حافظ ابن طاهر فرمائی.چه د دوی نوم عبدالله او کنیت ابوعبدالرحمن دې. د دوی د نوم نه ئې ,,عبد، ،اخستې دې.اودغه شان ئې ددوی د کنیت نه هم ،،عبد ،،اخستې دې.اود دواړو تثنیه نه ئې ،،عبدان،، جوړ کړې دې،او هم په دې سره دوی مشهور دی.[1]

قوله: أَنَّ عَلِيًّا قَالَ كَانَتْ لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ:

حضرت علی﷜ فرمائی.چه زما سره یوه اوبښه وه.کومه چه د جنګ بدر د مال غنیمت په حصه کښې زما رسیدلې وه.

«شارف» مسن اوبښې ته وائی[2]

«وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي مِمَّا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مِنَ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ» د «أعطاني» مفعول محذوف دې.یعنی «أعطاني شارفا»

اویوه بله اوبښه نبی ﷺ ماته د هغه خمس نه راکړې وه.کوم چه الله تعالی نبی ﷺ ته د بدر په ورځ ورکړې وو.

یعنی دغنیمت نه خمس وستې شوې وو.اوهغه خمس نبی ﷺ بیا تقسیم کړې وو. نوپه هغې کښې یوه بله اوبښه حضرت علی﷜ ته ملاؤ شوې وه.نودغه شان د حضرت علی﷜ سره دوه اوبښې شوې.

---

[1])عمدة القاری(۱۱/۷٤)۔

[2])فتح الباری(٦/۱۹۹)۔

قوله: فَلَمَّا أَرَدْتُ أَنْ أَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامِ بِنْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كله چه ما د حضرت فاطمه بنت نبی ﷺ د رخصتئ (واده کولو) اراده اوکړه.د ،،بناء،، او ،،ابتناء،، لفظ د رخصتئ په معنی کښې استعمالیږی.

قوله: وَاعَدْتُ رَجُلًا صَوَّاغًا فِي بَنِي قَيْنُقَاعَ أَنْ يَرْتَحِلَ مَعِي فَنَأْتِيَ بِإِذْخِرٍ فَأَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَهُ مِنَ الصَّوَّاغِينَ فَنَسْتَعِينَ بِهِ فِي وَلِيمَةِ عُرْسِي: نوما د بنی قینقاع د یو زرګرسره دا خبره کړې وه.چه هغه به ماسره ځی.او مونږ به د اذخرګیاه راوړو.ما اراده کړې وه.چه زه به دغه ګیاه په زرګرانو باندې خرڅوم.اوپه دې سره به د خپل واده په ولیمه مدد اخلم.

قوله: فَبَيْنَا أَنَا أَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مِنَ الْأَقْتَابِ وَالْغَرَائِرِ وَالْحِبَالِ: ①الاقتاب: د ،،قتب،، جمع ده.کتهې ته وائی.(یعنی هغه پیړه کېړه چه د خریا بل څه څاروی په شا باندې اچولې شی. چه د بوج په وجه دهغه ملا د خوږیدونه بچ وی ازمترجم)

②الغرائر: د ،،غرارة،، جمع ده.بورو ته وائی.(څه اذخرپه کښې جمع کړی از مترجم)

③الحبال: د ،،حبل،، جمع ده.رسئ ته وائی.

ترجمه: نوپه داسې وخت کښې چه ما دخپلو دواړو اوښودپاره کتهې،بورئ او رسئ جمع کولې.

قوله: وَشَارِفَايَ مُنَاخَانِ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: اوزما دواړه اوښې د یو انصاری د حجرې په خواه کښې ناستې وې.

قوله: حَتَّى جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ: تردې چه ما چه څه جمع کول هغه مې جمع کړل.

قوله: فَإِذَا أَنَا بِشَارِفَيَّ قَدْ أُجِبَّتْ أَسْنِمَتُهُمَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَأُخِذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا: ①اسنمة: د ،،سنام،، جمع ده.اوښ قب ته وائی.

② بقرت: «أى شقت وقطعت» څیرلې شوې وې.

③ خواصر: د ،،حاصر،، جمع ده.تشی ته وائی.

④ اکباد: د ،،کبد،، جمع ده.اینې (کلیجی) ته وائی.

نوناګهانه ما اوکتل.چه زما د دواړو اوښو قبونه پرې کړې شوی دی.اودهغې تشی څیرلی شوی دی.او د دواړو اینې راوستې شوی دی.

قوله: فَلَمْ أَمْلِكْ عَيْنَيَّ حِينَ رَأَيْتُ الْمَنْظَرَ قُلْتُ مَنْ فَعَلَ هَذَا قَالُوا فَعَلَهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنَ الْأَنْصَارِ: کله چه ما دا منظراولیدل.نوما په خپلو سترګو قابو اونکړې شو،ما تپوس اوکړو دا چا کړی دی؟ خلقو راته اوویل.چه (ستا تره) حمزه بن عبدالمطلب کړې دی.او دانصارو د شراب څکونکو یوې ډلې سره هغه په دې کورکښې موجود دې.

شرب: دا د ،،شارب،، جمع ده.لکه څنګه چه ،،راجل،، د ،،رجل،، جمع ده.مراد دی. شراب څکونکی خلق.

قوله: عِنْدَهُ قَيْنَةٌ وَأَصْحَابُهُ فَقَالَتْ فِي غِنَائِهَا أَلَا يَا حَمْزُ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ:

① قينة: سندرغاړې.

② شرف: دا د ،،شارف،، جمع ده.د پوخ عمراوښې ته وائی.

③ النواء:د ،،ناوية،، جمع ده.دا د ،،شرف،، صفت دې. په معنی د څربې او پیړې، دوی سره یوه سندرغاړې وه.اوددوی ملګری وو.نو سندرغاړې په خپله سندره کښې وئیلی وو.«أيا يا حمزة للشرف النواء» اې حمزه، دغه پیړو څربو اوښو ته طرف ته ورشه.

قوله: فَوَثَبَ حَمْزَةُ إِلَى السَّيْفِ فَأَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَأَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا: نوحمزه رضی الله عنه راټوب کړې.او توره ئې راواخستله.اود دواړو اوښو قبونه ئې کټ کړل.اودهغې تشې ئې اوڅیرل.اودهغې اینې ئې را اوویستلې.

قَالَ عَلِيٌّ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ وَعَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي لَقِيتُ فَقَالَ مَا لَكَ: حضرت علی رضی الله عنه فرمائی.ماچه دا حالت اولیدل.نود نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم.نبی صلی الله علیه وسلم سره زیدبن حارثه هم و،.نبی صلی الله علیه وسلم زماپه غم اوپریشانئ باندې پوهه شو.نبی صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو.په تا څه شوی دی؟ ما ورته اووئیل.یا رسول الله ما د نن ورځې پشان د غم منظر چرته نه دې لیدلې.نن حضرت حمزه رضی الله عنه زما په دوو اوښو باندې ظلم کړې دې.دهغې قبونه ئې کټ کړی دی.اودهغوی تشی ئې څیرلی دی. اوهغه اودهغه ملګری دلته په یو کور کښې موجود دی.نو نبی صلی الله علیه وسلم خپل څادر راوغوښتل.او ئې واچول، او روان شو.زیدبن حارثه رضی الله عنه هم دوی پسې شاته راروان شو.اوهغه کور ته ورغلل.په کوم کښې چه حضرت حمزه رضی الله عنه وو.نبی صلی الله علیه وسلم د دننه تلواجازت اوغوستلو.نو نبی صلی الله علیه وسلم ته اجازت ملاؤ شو.چه دننه لاړلو.نو نبی صلی الله علیه وسلم حضرت حمزه رضی الله عنه د هغوی په دې فعل باندې ملامته کول شروع کړل.«فإذا حمزة ثمل محمرة عيناه» ،،ثمل،، په نشه کښې د مدهوشه کیدوپه معنی کښې دې.یعنی حضرت حمزه رضی الله عنه د نشې په حالت کښې وو.اودواړه سترګې ئې سرې وې.حضرت حمزه رضی الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته نظر راپورته کړو.(دپښو دطرف نه) اوبیا ئې نظرلږ نور پورته کړو.اود نبی صلی الله علیه وسلم په زنګون نظرواچولو.اوبیا ئې نظر نور اوچت کړلو.او د نبی صلی الله علیه وسلم مخ طرف ته ئې اوکتل.او وې وئیل.

قوله: وَهَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبِي: تاسوخلقو زما د پلار غلامان ئې.نبی صلی الله علیه وسلم پوهه شو.چه دې په نشه کښې بیخوده دې.نو نبی صلی الله علیه وسلم واپس دهغه ځاې نه په پوندو راغلو.اومونږ هم دهغوی سره راووتلو.

حضرت حمزه رضي الله عنه دلته نبي ﷺ او حضرت علي رضي الله عنه ته اووئيل.چه تاسو زما د پلار غلامان ئې.حافظ ابن حجر رحمه الله ددې توجيه دا کړې ده.چه چونکه نبي ﷺ د حضرت عبدالمطلب نمسې وو.او حضرت علي رضي الله عنه هم د هغوی نمسې وو.او حضرت حمزه رضي الله عنه دهغوی نمسې نه وو. بلکه ځوې وو.نو هغوی عبدالمطلب (چه د نبي ﷺ او حضرت علي رضي الله عنه نيکه اود عربو سردار وو) په منزله د سيد او مالك اوګرځول.او نبي ﷺ او حضرت علي رضي الله عنه ته ئې اووئيل.چه «هل أنتم إلا عبيد لأبي» اوپخپله چونکه دهغوی ځوې وو.او د عبدالمطلب سره دهغوی نسبت د نبي ﷺ او دحضرت علي رضي الله عنه په مقابله کښې زيات نزدې وو.نو ددې جملې نه د حضرت حمزه رضي الله عنه مقصود په دې خبره باندې فخر کول وو.چه زه ستاسو په نسبت عبدالمطلب ته زيات نزدې يم.[1]

خو حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي.چه دحضرت حمزه رضي الله عنه په دې کلام کښې د توجيه کولو ضرورت څه دې؟ځکه چه هغوی په حالت د نشه کښې وو.د نشې په حالت کښې انسان نه عقل او هوش تلې وی.حضرت حمزه رضي الله عنه هم په دغه حالت کښې يوه بې معنى او بې مقصده خبرې کړې وه.نوددې د توجيه ضرورت څه دې؟ [2]

بهرحال امام بخاري رحمه الله دا حديث دلته د غزوه بدر په بيان کښې ځکه ذکر کړو.چه په دې حديث کښې دی.چه د جنګ بدر په مال غنيمت کښې حضرت علي رضي الله عنه ته اوښه ملاؤ شوې وه.ددې نه دحضرت علي رضي الله عنه بدري کيدل معلوم شو.او هم دا د امام بخاري رحمه الله مقصد دې.

[۳۷۸۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ قَالَ أَنْفَذَهُ لَنَا ابْنُ الْأَصْبَهَانِيِّ سَمِعَهُ مِنْ ابْنِ مَعْقِلٍ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَبَّرَ عَلَى سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ فَقَالَ إِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا

دمحمدبن عباد کنيت ابوعبدالله دې.دامام بخاري رحمه الله استاذ دې.دووی قيام په بغداد کښې وو.ثقه او معروف او مشهور راوی دې.په ۲۳۴ھ کښې وفاتش وې دې.خصوصي خبره دا ده.چه د وی په بخاري کښې صرف دا يو روايت دې.[3]

قوله: أَنْفَذَهُ لَنَا ابْنُ الْأَصْبَهَانِيِّ: د «ابن الأصفهاني» نوم ،،عبدالرحمن بن عبدالله،، دې. دکوفې اوسيدونکې وو.ددې جملې دوه مطلبه کيدې شي.

① يو مطلب دا دې.چه ابن الاصبهاني دا حديث مونږ ته په پوره سند سره تر آخره پورې بيان کړې دې.

② دويمه معنى دا کيدې شي.چه ابن الاصبهاني دا حديث مونږ ته ليکلې راليږلې دې.مونږ

[1])قال الحافظ أراد أن أباه عبدالمطلب جد للنبي ﷺ ولعلي رضي الله عنه أيضاً والجد يدعى سيداً وحاصله أن حمزة أراد الإفتخار عليهم بأنه أقرب إلى عبدالمطلب منهم (تعليقات اللامع (۲۶۸/۸)_

[2])قال الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي قدس سره في قوله ((وما أنتم إلا عبيد لأبي.. وما أبعد التلطف لتوجيه صحته مع أنه من كلام سكران الذي لم يكن له عقل إذا ذاک (لامع الدراري (۲۶۷/۸)_

[3])عمدة القاري(۱۱۱/۱۷)_

دا حديث د هغه نه اوريدلې نه دې.چه نقل كوو ئې.بلكه بطريق المكاتبة ئې نقل كوو.[1]
په راوران روايت كښې دى.چه حضرت على رضي الله عنه د حضرت سهل بن حنيف په جنازه باندې تكبيرونه اوونيل.او وې فرمائيل.حضرت سهل رضي الله عنه بدرته حاضرشوې وو.دجنازې په مانځه كښې ئې څومره تكبيرونه ونيلى وو.د ابن عبدالبر او امام بغوى رحمهما الله د روايت مطابق ئې شپږ تكبيرونه ونيلى وو.او د حافظ ابوذر د روايت مطابق حضرت على رضي الله عنه پنځه تكبيرونه ونيلى وو.[2]

[۳۷۸۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يُحَدِّثُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حِينَ تَأَيَّمَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عُمَرَ مِنْ خُنَيْسِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا تُوُفِّيَ بِالْمَدِينَةِ قَالَ عُمَرُ فَلَقِيتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَفْصَةَ فَقُلْتُ إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ قَالَ سَأَنْظُرُ فِي أَمْرِي فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ فَقَالَ قَدْ بَدَا لِي أَنْ لَا أَتَزَوَّجَ يَوْمِي هَذَا قَالَ عُمَرُ فَلَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ فَقُلْتُ إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ فَصَمَتَ أَبُو بَكْرٍ فَلَمْ يَرْجِعْ إِلَيَّ شَيْئًا فَكُنْتُ عَلَيْهِ أَوْجَدَ مِنِّي عَلَى عُثْمَانَ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْكَحْتُهَا إِيَّاهُ فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِينَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ أَرْجِعْ إِلَيْكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرْجِعَ إِلَيْكَ فِيمَا عَرَضْتَ إِلَّا أَنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ ذَكَرَهَا فَلَمْ أَكُنْ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ تَرَكَهَا لَقَبِلْتُهَا [۴۸۳۰و۴۸۳۶و۴۸۵۰]

په روايت كښې دى.چه حضرت حفصه بنت عمرد خپل خاوند حضرت خنيس بن حذافه سهمى په وفات سره كونډه شوه.او حضرت خنيس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې وو.اوپه بدركښې شريك شوې وو.دووى وفات په مدينه منوره كښې شوې وو.چونكه حضرت حفصه اوس هم دواده د عمروه.نودهغوى خيال شو.چه واده اوكړى.نوپه دې سلسله كښې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه سره ملاو شو.او وې ونيل. كه تاسو غواړئ.نوستاسو نكاح به د حفصې سره اوكړم.خو حضرت عثمان رضي الله عنه ورته اوونيل.زه به پرې سوچ اوكړم.او د سوچ نه پس ئې اوونې.زما فى الحال د نكاح كولو اراده نشته.حضرت عمر رضي الله عنه ددې نه پس حضرت ابوبكر رضي الله عنه سره ملاو شو.اوهغوى ته ئې د حضرت حفصې د نكاح په باره كښې اوونيل.حضرت ابوبكر چپ پاتې شو.او څه جواب ئې ورته ورنكړو.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى.چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته د حضرت عثمان رضي الله عنه په مقابله

---

[1])قال الحافظ أنفذه لنا إبن الأصبهانى أى بلغ منتهاه من الرواية وتمام السياق فنفذ فيه ،كقولك : إنفذت السهم أى رميت به فاصبت وقيل المراد بقوله أنفذه لنا أى أرسله فكأنه حمله عنه مكاتبة أو إجازة وانظرفتح البارى (۳۱۸\۷)_

[2])فتح البارى(۳۱۸\۷)_

كښې ماته زياته غصه راغله.(يوخودې وجې چه دوى څه جواب رانكړو.او دويم ددې وجې چه د دوى سره تعلقات هم د حضرت عثمان رضي الله عنه په مقابله كښې زيات وو.) بيا څو روځې پس نبى كريم ﷺ پخپله حفصې ته دنكاح پيغام اوليږلو.نودنبى ﷺ سره دحفصې نكاح اوشوه.
حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى.چه روستنه ما سره حضرت ابوبكر رضي الله عنه ملاو شو.او وې ونيل.كيدې شى.چه كله تاسو ته ما د حضرت حفصې دنكاح په باره كښې څه جواب درنكو.نو ته به زما نه خفه شوې وې.ما ورته اوونيل.آو زه خفه شوې ووم.نو حضرت ابوبكر رضي الله عنه اوفرمائيل. ماتاسو ته ددې وجې جواب درنكړو.چه زما په علم كښې دا خبره راغلې وه.چه نبى ﷺ د حضرت حفصې سره نكاح كول غواړى.نوما د رسول الله ﷺ راز ښكاره كول نه غوښتل.كه نبى ﷺ اراده پريخودې وه.نو ما به ضرور قبلوله.
په دې حديث كښې چونكه د حضرت خنيس بن حذافه رضي الله عنه د بدرى كيدو ذكر دې.ددې وجې امام بخارى دلته ذكركړو.والله اعلم.

حضرت خنيس بن حذافه: دوى د فضلاء صحابو رضي الله عنهم نه دې.او صاحب الهجرتين دې.په جنګ بدر كښې شريك وو.او په جنګ احد كښې زخمى شوې وو.اوهم ددغه زخم د وجې په مدينه منوره كښې وفات شو.دا د عبدالله بن حذافه ورور دې.([1])

وړاندې امام بخارى رحمه الله درې روايات نه ذكركړى دى.اوپه دغه درې واړه روايتونوكښې امام بخارى رحمه الله حضرت ابومسعود رضي الله عنه بدرى ثابتوى.

[۳۷۸۳] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيٍّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ سَمِعَ أَبَا مَسْعُودٍ الْبَدْرِيَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ صَدَقَةٌ [ر:۵۵]

[۳۷۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ يُحَدِّثُ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ فِي إِمَارَتِهِ أَخَّرَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ الْعَصْرَ وَهُوَ أَمِيرُ الْكُوفَةِ فَدَخَلَ عَلَيْهِ أَبُو مَسْعُودٍ عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيُّ جَدُّ زَيْدِ بْنِ حَسَنٍ شَهِدَ بَدْرًا فَقَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ نَزَلَ جِبْرِيلُ فَصَلَّى فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا أُمِرْتُ كَذَلِكَ كَانَ بَشِيرُ بْنُ أَبِي مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ [ر:۴۹۹]

[۳۷۸۶] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَهُمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَلَقِيتُ أَبَا مَسْعُودٍ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُهُ فَحَدَّثَنِيهِ [۴۷۲۲و۴۷۵۳و۴۷۶۳]

حضرت ابومسعود رضى الله عنه: د دوى نوم عقبه بن عمرو دې.او دې انصارى دې.دخزرج قبيلې سره ددوى تعلق دې. او په بيعت عقبه كښې شريك شوې وو.د دوى په بدرى كيدو كښې اختلاف دې.د ابن اسحاق او واقدى وغيره رحمهم الله رائې دا ده . چه دې په جنګ بدر

---

[1])الإصابة (۱۱/۴۵۶)_

کښې نه وو شريك شوې.دوى ته بدرى ددې وجې وئيلې شي. چه د بدر په خاې کښې اوسيدلو.خودامام بخارى،امام مسلم ،طبرانى وابوعتبه بن سلام رحمهم الله وغيره راې دا ده.چه دې په بدرکښې شريك شوې وو.اوتاسوته معلومه ده.چه ((المثبت مقدم على المنفى)) چه مثبت ته په منفى باندې ترجيح وى. نو ځکه به دې بدرى شمارلې شى.[1]

امام بخارى رحمه الله دلت د ابومسعود رضى الله عنه د بدرى کيدو د ثبوت دپاره د درې روايتونوتخريج کړې دې.په اولنى روايت کښې ئې د دوى د نوم سره صرف ،،بدرى،،ذکرکړې دې.په دې کښې دا احتمال وو.چه چونکه دوى په بدر کښې اوسيدل. د دې وجې دوى ته بدرى وئيلې شى.نو امام بخارى رحمه الله د دويم روايت تخريج اوکړو.په هغې کښې حضرت عروه د ((شهد بدرا)) تصريح کړې ده.دغه شان په دريم روايت کښې حضرت علقمه رحمه الله دوى ته بدرى وئيلى دى.بهر حال د دې باب په درې واړه رواياتوکښې امام بخارى د ابو مسعود انصارى رضى الله عنه بدرى کيدل ثابت کړى دى.

[٣٧٨٧]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنْ الْأَنْصَارِ أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ هُوَ ابْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ بْنَ مُحَمَّدٍ وَهُوَ أَحَدُ بَنِي سَالِمٍ وَهُوَ مِنْ سَرَاتِهِمْ عَنْ حَدِيثِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ فَصَدَّقَهُ [ر:٤٢٤]

په دې روايت کښې د حضرت عتبان بن مالك رضى الله عنه په باره کښې دى.چه دوى په جنګ بدر کښې شرکت کړې وو.حضرت عتبان بن مالك رضى الله عنه انصارى خزرجى دې.دوى د خپلې قبيلې بنو سالم امام هم وو.د جمهورو په نيز دوى بدر دى.البته ابن اسحاق دوى په بدرينو کښې نه دې شمار کړې.د حضرت امير معاويه رضى الله عنه په دورخلافت کښې دوى وفات شوى وو.او دوى دهغه د جنازې مونځ ورکړې وو.[2]

[٣٧٨٨]حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ وَكَانَ مِنْ أَكْبَرِ بَنِي عَدِيٍّ وَكَانَ أَبُوهُ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عُمَرَ اسْتَعْمَلَ قُدَامَةَ بْنَ مَظْعُونٍ عَلَى الْبَحْرَيْنِ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَهُوَ خَالُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ وَحَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ

دا حديث د عبدالله بن عامر رحمه الله نه مروى دې.د دوى پلار عامربن ربيع رضى الله عنه دې.په جنګ بدر کښې شريك شوې وو.حضرت عامربن ربيعه رضى الله عنه خطيب الاسالم دې.په مکه مکرمه

---

[1])الإصابة ٤٩٠:١٢و ٤٩١)_
[2])الإصابة ٤٥٢:١٢)_

كښې ئې ايمان راوړې وو.او حبشه طرف ته ئې هجرت كړې وو. بيامدينې ته راغلې وو.د بدر نه عالوه د نوروو ټول مشاهدو كښې شريك شوې وو.د دوى خوئ عبدالله بن عامر كوم چه د دې حديث راوى دې.په ۲ هـ كښې پيدا شوې وو.د حضرت عامر رضي الله عنه يو بل خوئ هم وو. د هغه نوم هم عبدالله وو.او هغه په جنګ طائف كښې شريك شوې وو.او هم په هغې كښې شهيد شوې وو.د حضرت عامر بن ربيعه وفات په ۳۲هـ يا ۳۳هـ يا ۳۵هـ كښې شوې وو.([1])

قوله: أَنَّ عُمَرَ اسْتَعْمَلَ قُدَامَةَ بْنَ مَظْعُونٍ عَلَى الْبَحْرَيْنِ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا:
حضرت عمر رضي الله عنه حضرت قدامه بن مظعون رضي الله عنه د بحرين عامل جوړ كړې وو.او حضرت قدامه رضي الله عنه په جنګ بدر كښې شريك شوې وو.

حضرت قدامه بن مظعون رضى الله عنه: حضرت قدامه بن مظعون رضي الله عنه د حضرت عثمان بن مظعون او عبدالله بن مظعون رضي الله عنهما ورور وو.اود حضرت عبدالله بن عمر او حضرت حفصې رضي الله عنهما ما ما وو.د دوى خور حضرت زينب بنت مظعون د حضرت عمر رضي الله عنه بى بى وه.دوى په جنګ بدر كښې شريك شوى وو،حضرت عمر رضي الله عنه دوى د بحرين عامل جوړ كړې وو.حضرت عمر ته شكايت ملاؤ شو.چه قدامه رضي الله عنه مسكر استعمال كړې دې.دوى تحقيق اوكړو.او ددې نه پس ئې حضرت قدامه رضي الله عنه معزول كړلو.اوپه دوى باندې ئې حد جارى كړو.او د دوى په ځاې ئې حضرت عثمان بن ابى العاص رضي الله عنه د بحرين والى مقرر كړو.([2])

[۳۷۸۹]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْمَاءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ أَنَّ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ قَالَ أَخْبَرَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ أَنَّ عَمَّيْهِ وَكَانَا شَهِدَا بَدْرًا أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ قُلْتُ لِسَالِمٍ فَتُكْرِيهَا أَنْتَ قَالَ نَعَمْ إِنَّ رَافِعًا أَكْثَرَ عَلَى نَفْسِهِ[ر:۲۲۰۲]

په دې حديث كښې هم دا خودل مقصود دى.چه د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه دوه ترونه وو.او دواړه جنګ بدر ته حاضر شوى وو.په دوى كښې د يونوم ،،ظهير ،،(په تصغيرسره) اودبل نوم ،،مظهر،، وو.ظهير په عقبه ثانيه كښې شريك شوې وو.مظهر دده دووغلامانوپه خيبر كښې د يهودو په سازش سره قتل كړې وو.دا د حضرت عمر رضي الله عنه زمانه وه.حضرت

[1])عمدة القارى(۱۷\۱۱۳و ۱۱٤)_

[2])وقد اورد الحافظ القصة عن عبدالرزاق فى مصنفه وقال فقدم الجارود العقدى على عمر فقال إن قدامة سكر،فقال من يشهد معک؟ فقال أبوهريرة فشهد أبوهريرة أنه سكران يقى فأرسل إلى قدامة فقال له الجارود أقم عليه الحد فقال له عمر إخصم أنت أم شاهد صلى الله عليه وسلم فصمت ثم عاوده فقال لتمسكن .أ و لأسوانک فقال ليس فى الحق أن يشرب إبن عمک وتسوءنى فأرسل عمر إلى زوجته هند بنت الوليد فشهدت على زوجها فقال عمر لقدامة إنى أريد أن أحدک فقال ليس لک ذلک لقول الله عزوجل ﴿ ليس على الذين آمنوا وعملوا الصالحات جناح فيما طعموا ﴾ فقال أخطأت التاويل فإن بقية الآية ((إذا ما إتقوا)) فإنک إذا إتقيت أجتنبت ما حرم الله عليک ثم أمربه فجلد فغاضبه قدامة ثم حجاً جميعاً فاستيقظ عمر من نومه فزعاً فقال عجلوا بقدامة أتانى آت فقال صالح قدامة فإنه أخوک فاصطلحا (وانظرفتح البارى(۷\۳۲۰)_

عمر رضی اللہ عنہ ددې واقعه په وجه د يهوديانو د خيبر نه د جلا وطنئ حكم اوكړو.اودغه شان يهود د خيبر نه هم اووتل.(١) په حديث كښې وړاندې د. كراء الارض مسئله ده.كومه چه به په كتاب المزارعة كښې راشي. (انشاء الله)

[۳۷۹۰]حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ اللَّيْثِيَّ قَالَ رَأَيْتُ رِفَاعَةَ بْنَ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيَّ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا

په دې روايت كښې د حضرت رفاعه بن رافع په باره كښې دى.چه دوى په جنګ بدر كښې شريك وو.(٢)

[۳۷۹۱]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وَيُونُسُ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَوْفٍ وَهُوَ حَلِيفٌ لِبَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ إِلَى الْبَحْرَيْنِ يَأْتِي بِجِزْيَتِهَا وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ صَالَحَ أَهْلَ الْبَحْرَيْنِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ فَقَدِمَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِمَالٍ مِنْ الْبَحْرَيْنِ فَسَمِعَتْ الْأَنْصَارُ بِقُدُومِ أَبِي عُبَيْدَةَ فَوَافَوْا صَلَاةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَعَرَّضُوا لَهُ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَآهُمْ ثُمَّ قَالَ أَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ قَدِمَ بِشَيْءٍ قَالُوا أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ فَوَاللَّهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنِّي أَخْشَى أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمْ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ[ر:۲۹۸۸]

حضرت مسعودبن مخرمه رضی اللہ عنہ فرمائي.چه عمروبن عوف كوم چه د بنى عامر بنى لوى حليف وو.اوپه جنګ بدر كښې د نبى صلی اللہ علیہ وسلم سره شريك وو.بيان كړى دى.چه نبى صلی اللہ علیہ وسلم ابوعبيده بن الجراح رضی اللہ عنہ بحرين ته اوليږلو.چه دهغه ځاې نه جزيه راوړى.او نبى صلی اللہ علیہ وسلم د اهل بحرين سره صلح كړې وه.او حضرت علاء بن حضرمى رضی اللہ عنہ ئې په هغوى امير مقرر كړې و..دحضرت علاء بن حضرمى رضی اللہ عنہ د پلار نوم عبدالله بن عماد حضرمى دې.علاء بن حضرمى د حضرت ابوبكر رضی اللہ عنہ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه كښې هم د بحرين امير پاتې شوې دې.په ۱۴هـ كښې وفات شوى وو.ددوى نه پس حضرت عمر رضی اللہ عنہ حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ د بحرين امير مقرر كړو.(٣) دحضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ نه پس ئې حضرت قدامه بن مظعون رضی اللہ عنہ او بيا حضرت عثمان بن ابى العاص رضی اللہ عنہ د بحرين امير مقرر كړو.حضرت ابوعبيده بن الجراح د رضی اللہ عنہ د

---

(١)عمدة القارى(١١٤١١٧)_

(٢)حضرت رفاعه بن رافع د انصارو د قبيلې خزرج سره تعلق ساتلو.دوى او ددوى پلار دواړه عقبه او نورو مشاهدو ته حاضرشوى وو.په يوځلويښت يا دوه ځلويښت هجرئ كښې وفات شوى وو. الإصابة (٥١٧١١)_

(٣)عمدة القارى(١١٥١١٧)_

بحرین نه مال راوړول. او راغلل.حضرات انصارو چه د ابوعبیده ﷺ د راتلو خبر واو ریدو.نود نبی ﷺ سره د صبا په مانخه کښې د ملاویدودپاره حاضر شول.نوکله چه نبی ﷺ د مانخه نه فارغ شو.انصار ورته مخامخ راغلل.نبی ﷺ چه دوی اولیدل نو مسکې شو.او بیا دوی ته مخاطب شو.او وې فرمائیل.زما خیال دې چه تاسو خلقو د ابوعبیده ﷺ د راتلو خبراوریدلې دې.چه هغه (دبحرین) نه څه (مال) راوړې دې.حضرات انصاروﷺ جواب ورکړو.آو،یا رسول الله! ونیل چه نبی ﷺ اوفرمائیل.

قوله: قَالَ فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ فَوَاللَّهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنِّي أَخْشَى أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ: ناسوته دې زیرې وی.او کوم څیز چه تاسو خوشحاله کوی.د هغې امید ساتئ.(یعنی مال او دولت) په الله قسم زما په تاسو د فقر او محتاجئ ویره او خوف نشته.بلکه زه ددې خبرې نه ویریږم.چه دنیا به په تاسو داسې فراخه کړې شی.لکه څنګه چه ستاسو نه په وړاندې خلقو فراخه کړې شوې وه.او تاسو به دې طرف ته مائله شئ.لکه څنګه چه مخکښې خلق مائله شوی وو.او دا دنیا به تاسو تباه او برباد کړی.لکه څنګه چه ئې ستاسونه وړاندې خلق تباه کړی وو.

په دې واقعه کښې د حضرت عمروبن عوف ﷺ بدری ذکردې.ددې وجې امام بخاری ﷺ دا دلته ذکر کړه.

[۳۷۹۲]حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقْتُلُ الْحَيَّاتِ كُلَّهَا حَتَّى حَدَّثَهُ أَبُو لُبَابَةَ الْبَدْرِيُّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ قَتْلِ جِنَّانِ الْبُيُوتِ فَأَمْسَكَ عَنْهَا[ر:۳۱۳۰]

په دې روایت کښې دی.چه حضرت ابن عمر ﷺ به هرقسم ماران وژل. تردې چه حضرت ابولبابه بدری ﷺ دوی ته بیان اوکړو.چه «أن النبی ﷺ نهی من قتل جنان البیوت» یعنی رسول اکرم ﷺ د ،،جنان البیوت،، د قتل نه منع کړې ده.

«جنان:بکسرالجیم، وتشدیدالنون» جمع ده.د،،جان،،دسپین رنګ مارته وائی. بعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه نرې غوندې مار دې.هغې ته ،،جان،، وائی.[1]

کله چه حضرت ابولبابه ﷺ دا حدیث حضرت ابن عمر ﷺ ته واورول. نوهغوی بیا د مارانو د قتل کولونه منع شو.[2] بهرحال په دې حدیث کښې چونکه ابولبابه ﷺ ته بدری ونیلې دې،ددې وجې امام بخاری دا دلته بیان کړو.

حضرت انس ﷺ فرمائی.چه د انصارو څو کسانود نبی ﷺ نه اجازت اوغوستلو اووې ونیل.چه تاسو مونږ ته اجازت راکړئ.چه مونږ د خپل خوریی حضرت عباس ﷺ فدیه

[1])عمدة القاری(۱۱۵\۱۷)_
[2])ددې حدیث تشریح په «بدء الخلق» کښې تیره شوې ده)_

پرېږدو.نو نبي ﷺ اوفرمائيل.په الله قسم،يو درهم به هم په دې كښې نه پرېږدئ.(ددې تفصيل تير شوې دې) چونكه په دې كښې د انصارو د هغه كسانو ذكردې،كوم چه بدر ته حاضر شوي وو.ددې وجې امام بخاري رحمه الله دا روايت دلته بيان كړو.

[۳۷۹۳]حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رِجَالًا مِنْ الْأَنْصَارِ اسْتَأْذَنُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا ائْذَنْ لَنَا فَلْنَتْرُكْ لِابْنِ أُخْتِنَا عَبَّاسٍ فِدَاءَهُ قَالَ وَاللَّهِ لَا تَذَرُونَ مِنْهُ دِرْهَمًا [ر:۲۴۰۰]

قوله: وَاللَّهِ لَا تَذَرُونَ مِنْهُ دِرْهَمًا: ((لاتذرن)) هغه فعل دې.چه ماضي ،مصدراو اسم فاعل ئې مستعمل نه دې. كه څنګه چه د ((يدع)، ماضي مستعمل نه دې.([1])

قوله: فَقَالُوا ائْذَنْ لَنَا فَلْنَتْرُكْ لِابْنِ أُخْتِنَا: د ((فلنترك)) په باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلي دی.چه دا د امر صيغه ده.او لام د مبالغې دپاره دې.([2])

علامه عيني رحمه الله فرمائيلي دی.دې ته فعل امر هغه كس وئيلي شی.دچا چه دعلم صرف سره هيڅ واقفيت نه وی.دوی وائی.چه دا فعل مضارع ده.اولام د تاكيد دپاره دې.([3])

قوله: لِابْنِ أُخْتِنَا عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : حضرات انصارو رضي الله عنهم حضرت عباس رضي الله عنه ته خورېي اووئيل.دحضرت عباس رضي الله عنه مور د انصارو خنې نه وه.بلكه د دوی نيا د عبدالمطلب مور سلمى بنت عمرو د انصارو نه وه.حضرت عباس رضي الله عنه ته هغوى خورېي مجازاً وئيلي دی.([4])

[۳۷۹۴]حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيٍّ عَنْ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ ثُمَّ الْجُنْدَعِيُّ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ أَخْبَرَهُ أَنَّ الْمِقْدَادَ بْنَ عَمْرٍو الْكِنْدِيَّ وَكَانَ حَلِيفًا لِبَنِي زُهْرَةَ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنْ الْكُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ فَقَالَ أَسْلَمْتُ لِلَّهِ أَأَقْتُلُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

---

[1])مختار الصحاح (۷۱۵) ماده ((و. ذ. ر))_

[2])فتح الباري(۳۲۲/۷)_

[3])عمدة القاري(۱۱۶/۱۷)_

[4])فتح الباري(۳۲۲/۷) د حضرت عباس رضي الله عنه د مور نوم نثيله وو.د ((تيم الله بن النمر)) په اولاد كښې وه.(عمدة القاري (۱۱۶/۱۷) البته حافظ ابن حجر رحمه الله د دوی نوم ((نتيله)) په ((تا)) سره ليكلې دې.فتح الباري(۳۲۲/۷)_

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَطَعَ إِحْدَى يَدَيَّ ثُمَّ قَالَ ذٰلِكَ بَعْدَ مَا قَطَعَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ [ر:۳۴۳۲]

حضرت مقداد بن عمروکندی کوم چه د بنو زهره حلیف او د شرکاء بدرنه وو. فرمائی. چه دوی نبی ﷺ ته عرض اوکړو.چه په دې باره کښې تاسو د خپلې رايې ارشاد اوفرمائي.که د یو کافر سره زما مقابله شی.او مونږ د یوبل د قتل کولو کوشش کوو.په دې کښې هغه زما یو لاس په توره باندې کټ کړی.او بیا هغه زما نه دبچ کیدو دپاره دیوې ونې پناه واخلی.اود ونې شاته شی.ا واووائی .((أسلمت لله)) زه مسلمان شوم.نو یارسول الله ﷺ دده د دې وینا نه پس زه دې قتلولې شم؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.((لاتقتله)) ته هغه مه قتلوه.حضرت مقداد عرض اوکړو. یارسول الله هغه خو وړاندې زما یو لاس کټ کړې دې. اود هغې نه پس هغه بیا ((أسلمت لله)) اووئیل.د حضرت مقداد ﷺ مطلب دا وو.چه هغه دا اقراردځان بچ کولودپاره کوی.نو دده قتل پکارده چه جائز وی.نو نبی ﷺ اوفرمائیل

قوله: لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ: ته هغه مه قتلوه.که تا هغه قتل کړو،نو هغه به ستا هغه درجې ته اورسی. کومه چه د هغه د قتلولو نه وړاندې ستا وه.اوته به د هغه په هغه درجه کښې شې. کومه چه د کلمې وئیلو (اواسلام اعلان کولو) نه وړاندې دهغه وه.

دلته دوه تشبیهات دی.یوه تشبیه په ،،عصمت دم،، کښې ده.او دویمه تشبیه په ،،اباحت دم،، کښې ده.((فإنه بمنزلتك قبل أن تقتله)) دا تشبیه ده.د عصمت دم،چه دده د قتل کولو نه وړاندې ته معصوم الدم وې.او هغه چه کلمه د اسلام اووئیله.او اوس هغه داسې معصوم الدم شو.لك څنګه چه ته د هغه د قتل نه وړاندې معصوم الدم وې.(څکه چه د اسلام دکلمې وئیلونه پس هغه مسلمان شو، اومسلمان معصوم الدم وی. ((وإنك بمنزلته التی قبل أن یقول کلمته التی قال)) د تشبیه په اباحت دم کښې ده.چه دهغه د قتلولونه پس ته داسې مباح الدم اوګرځیدې شی.لکه څنګه چه د اسلام دکلمې وئیلونه وړاندې هغه مباح الدم وو.(څکه څوك چه کلمه داسلام اووائی.نودهغه قتل موجب د قصاص دې.اوپه قصاص کښې قتل کیدونکې سړې مباح الدم وی.([1])

[۳۷۹۵] حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ حَدَّثَنَا أَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَنْظُرُ مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ

---

[1])قال الخطابی معنی هذا أن الکافر مباح الدم بحکم الدین قبل أن یقول کلمة التوحید فإذا قالها صار محظورالدم کالمسلم فإن قتله المسلم بعد ذلک صار دمه مباحاً بحق القصاص کالکافر بحق الدین)۔

فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ فَقَالَ أَنْتَ أَبَا جَهْلٍ قَالَ ابْنُ عُلَيَّةَ قَالَ سُلَيْمَانُ هٰكَذَا قَالَهَا أَنَسٌ قَالَ أَنْتَ أَبَا جَهْلٍ قَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ قَالَ سُلَيْمَانُ أَوْ قَالَ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ وَقَالَ أَبُو مِجْلَزٍ قَالَ أَبُو جَهْلٍ فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ قَتَلَنِي [ر:٣٧٤٥]

په دې روايت کښې د حضرت معاذ او حضرت معوذ په جنګ بدر کښې د شرکت بيان دې، چه هغوی په ابوجهل باندې حمله کړې وه.(تفصيل ئې تيرشوې دې) ددې روايت په آخر کښې د ابوجهل دا قول ((ابومجلز)) نقل کړې دې.

قوله: قَالَ أَبُو جَهْلٍ فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ (١) قَتَلَنِي: ابوجهل د مرګ په وخت کښې وئيلى وو.ارمان د زميندارو نه علاوه بل چا زه قتل کړې وم.دا ددې وجې ده اووئيل چه حضرت معاذ او حضرت معوذ دواړه د انصارو ځنې وو..او انصاروبه د زراعت او زميندارى كوله.

[٣٧٩٦] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ لِأَبِي بَكْرٍ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى إِخْوَانِنَا مِنَ الْأَنْصَارِ فَلَقِينَا مِنْهُمْ رَجُلَانِ صَالِحَانِ شَهِدَا بَدْرًا فَحَدَّثْتُ بِهِ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ هُمَا عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ وَمَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ [ر:٢٣٣٠]

دا روايت د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه مروى دې.دوى فرمائى.چه كله نبى ﷺ وفات شو.نو ما حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته اووئيل.چه تاسو ماسره زمونږ انصارو ورونړو ته لاړ شه.نو په هغوى كښې دوه داسې نيكان كسان زمونږ سره ملاؤ شو.كوم دواړه چه په جنګ بدر كښې شريك وو.دحديث راوى عبدالله وائى.چه ما دا روايت حضرت عروه رحمه الله ته واورولو.نو هغوى اوفرمائيل.هغه دوه كسان عويم بن ساعده او معن بن عدى رضي الله عنهما وو.(٢)

[٣٧٩٧] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ سَمِعَ مُحَمَّدَ بْنَ فُضَيْلٍ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ كَانَ عَطَاءُ الْبَدْرِيِّينَ خَمْسَةَ آلَافٍ وَقَالَ عُمَرُ لَأُفَضِّلَنَّهُمْ عَلَى مَنْ بَعْدَهُمْ

دا روايت د حضرت قيس رضي الله عنه نه مروى دې.دوى فرمائى چه د بدريانود بيت الله نه سالانه وظيفه پنځه زره روپۍ وه.حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل.چه زه به دې بدريينو ته په هغه كسانو ترجيح وركوم.ځوك چه د دوى نه پس مسلمانان شوى دى.په دې روايت كښې چونكه د بدرى صحابو رضي الله عنهم ذكر دې.ددې وجې امام بخارى رحمه الله دلته بيان كړو.

---

(١) والأكار :بفتح الهمزة ،وتشديد الكاف ،الزراع والفلاح ،وكان الذين قتلوه من الأنصار وهم أهل الزراعة يريد بذلك إستخفافهم (عمدة القارى (١١٨\١٧)_

(٢) عويم بضم العين .. وفتح الواو وسكون الياء .. ابن ساعدة .. شهد العقبتين جميعاً وشهدا بدراً وأحداً والخندق ومات فى خلافة عمر رضي الله عنه بالمدينة وهو ابن خمس أو ست وستين سنة .. ومعن بفتح الميم وسكون العين .. ابن عدى شهد العقبة وبدراً وأحداً والخندق وسائر المشاهد مع النبى ﷺ وقتل يوم اليمامة شهيداً فى خلافة أبى بكرصديق رضي الله عنه (عمدة القارى (١١٨\١٧)_

[٣٧٩٨] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ وَذَلِكَ أَوَّلَ مَا وَقَرَ الْإِيمَانُ فِي قَلْبِي [ر: ٧٣١]

[٣٧٩٩] وَعَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ [ر: ٢٩٧٠]

امام زهری رحمه الله دمحمدبن جبیر نه اوهغه دخپل پلارجبیربن مطعم رضی الله عنه نه نقل کوی.چه حضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه فرمائیلی دی.ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه واوریدل .چه هغوی د ماښام په مانځه کښې دسورة طور تلاوت کولو.اودا اولنۍ موقع وه.چه ایمان زما په زړه کښې ځاې اونیولو.

د روایت دترجمة الباب سره مطابقت: دلته امام بخاری رحمه الله صرف دومره حصه ذکرکړې ده.چه دهغې د جنګ بدرسره په ظاهره څه تعلق نه معلومیږی.خوپه کتاب الجهاد کښې دا دا روایت تیرشوې دې.په هغې کښې دی.چه حضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د بدرد دقیدیانوپه باره کښې راغلې وو.نوپه دې لحاظ سره د بدر سره ددې روایت تعلق ښکاره دې.(١) وړاندې ددې ماقبل سند سره امام بخاری نقل کړی دی.چه حضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه فرمائی.چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جنګ بدرد قیدیانوپه باره کښې فرمائیلی وو.((لوکان المطعم بن عدی حیاًثم کلمنی فی هولاء النتنی(٢)لترکتهم له))

که مطعم بن عدی ژوندې وو.او ددې بدبودارو خلقو (د بدرقیدیانو) په باره کښې ئې ما ته سفارش کړې وو.نو ما به د هغوی په خاطر دا قیدیان بغیرد فدیې نه پریخودی وو.

دمطعم بن عدی په نبی صلی الله علیه وسلم باندې ښو احسانات وو.کله چه نبی صلی الله علیه وسلم د طائف نه واپس راغلو.اواهل طائف نبی صلی الله علیه وسلم ته ډیرتکلیف رسولې وو.نو اهل مکه نبی صلی الله علیه وسلم ته په مکې کښې د اوسیدو اجازت ورکولو ته تیار نه وو.په دې موقع باندې مطعم بن عدی اعلان کړې وو.چه زه محمدپه خپله پناه کښې اخلم.او خپل څلورو واړه ځامن ئې مسلح کړل.اود بیت الله په څلورو واړه ګوټونوکښې د نبی صلی الله علیه وسلم د حفاظت دپاره اودرول.قریشوته چه کله خبر ملاؤ شو.نووې وئیل.((أنت الرجل الذی لاتخفرذمتك)) ته داسې سړې ئې.چه ستاسو عهد او پیمان نشی ماتولې.

دغه شان په شعب ابی طالب کښې بنوهاشم محصور کړې شوی وو.اودمکې قریشود

---

(١) حافظ لیکی.((ووجه إیراده هنا ما تقدم فی الجهاد أنه کان قدم فی أساری بدر أی فی طلب فدائهم .. (فتح الباری(٧\٣٢٤)_

(٢) النتنی:بنونین مفتوحتیین بینهما تاء مثناة من فوق وهو جمع ،،نتن،، بفتح لانون وکسرالتاء کز من یجمع علی زمنی سمی أساری بدرالذین قتلوا وصاروا جیفاً بالنتنی لکفرهم کقوله تعالی ((إنما المشرکون نجس)) عمدة القاری (١١٩\١٧)_

مقاطعۀ معاهده کړې وه.ددې معاهدې په ختمولوکښې مطعم بن عدی لوئې کردار ادا کړې وو. ([1]) ددې وجې نبي اوفرمائيل.که مطعم ژوندې وو.اوسفارش ئې کړې وو.نو ما به دا قيديان بغيرد فديه نه آزاد کړی وو.

[٣٨٠٠]وَقَالَ اللَّيْثُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الْأُولَى يَعْنِي مَقْتَلَ عُثْمَانَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ بَدْرٍ أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ يَعْنِي الْحَرَّةَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ الْحُدَيْبِيَةِ أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَلِلنَّاسِ طَبَاخٌ

دا تعليق دې.د سند ابتدائی حصه ذکر نه ده.يحيى بن سعيد انصاری د حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله نه نقل کوی.چه اولنئ فتنه يعنی د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهيد کولوفتنه واقع شوه. نو هغې په اصحاب بدرکښې څوك پرې نه خودل.

مطلب دا دې.چه دحضرت عثمان رضي الله عنه د شهيدکولوکومه فتنه چه پيښه شوې وه.([2]) ددې نه پس بدری صحابه يوپه بل پسې وفات کيدل شروع شول.دا مطلب نه دې.چه په دې فتنه کښې هغوی قتل شوی وو.ځکه چه ددې واقعه نه پس حضرت علی،حضرت طلحه ،حضرت زبير،او حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنهم وغيره بدری صحابه کرام رضي الله عنهم ژوندی وو.

دويمه فتنه: دويمه فتنه واقعه شوه. يعنی د ،،حره،، واقعه،نودې په اصحاب حديبيه کښې څوك پرې نه خودل.مطلب دادې.چه دواقعه،،حره،،نه پس اصحاب حديبيه پرله پسې وفات شول.

د ،،حره،، دواقعه تفصيل خو به په کتاب الفتن کښې په تفصيل سره راشی. دلته دومره خبره زده کړئ.چه دحضرت معاويه رضي الله عنه د وفات نه پس کله چه يزيد خليفه شو.نواهل مدينې د يزيدپه لاس د بيعت کولونه انکار اوکړو.نو يزيد د مسلم بن عقبه په سرکردګئ کښې د ٢٧ زرد کسانو يو لښکر روان کړلو.په کوم کښې چه دولس زره شهسواران وو.اوپنځلس زره پيدل وو.اوپه مدينه منوره کښې په حره مقام کښې کومه چه کانړيژنه زمکه ده.دغه لښکرقيام اوکړو.(د دې وجې دې فتنې ته فتنه حره وائی) او په مدينه منوره باندې ئې حمله اوکړه.د انصارو او مهاجرينو تقريباً اووه سوه کسان په دې واقعه کښې شيهدان کړې شول.

دا واقعه په ٦٢ ه يا ٦٣ه کښې پيښه شوې وه.([3]) د يحيى بن سعيد انصاری بيان دې. چه د عثمان رضي الله عنه د شهادت د واقعه په وخت کښې په مسجد نبوی کښې اذان اومونځ موقوف شوې وو.اود فتنه حره د واقع کيدو په وخت کښې هم په مسجد نبوی کښې اذان او مونځ موقوف شوې وو.([4])

---

[1])د تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباری (٣٢٤\١٧)_

[2])وکان مقتل عثمان رضي الله عنه يوم الجمعة لثمان ليال خلت من ذی الحجة يوم التروية سنة خمس وثلاثين قاله الواقدی وعنه أيضاً أنه قتل يوم الجمعة ليلتين بقيتا من ذی الحجة وحاصروه تسعة وأربعين يوماً.. عمدة القاری (١١٩\١٧)_

[3])عمدة القاری(١١٩\١٧)_

[4])فتح الباری(٣٢٥\١٧)_

دريمه فتنه:

قوله: ثُمَّ وَقَعَتْ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَلِلنَّاسِ طَبَاخٌ: بيا دريم فتنه واقع شوه.نو هغه ختمه شوې نه وه.په داسې حال كښې چه په خلقوكښې عقل اوخيرباقي وو.

«طباخ» بفتح الطاء، والباء» قوت او شدت ته وائي.خو د عقل او هوښيارتيا او خيردپاره هم استعماليږي.(۱) مطلب دا دې.چه كله دريمه فتنه واقع شوه.نو د خلقو نه عقل او هوښيارتيا او خير تلې وو.

ددې دريمې فتنې نه كومه فتنه مراد ده.دلته په روايت كښې ددې ذكر نشته. د اكثرو حضراتو رائې دا ده.(۲) چه ددې نه د ابوحمزه خارجي واقعه مراد ده.كومه چه په ۱۳۰هـ كښې پيښه شوې وه.واقعه دا ده،چه د،حضر موت،، مقام نه ابو حمزه خارجي د خپل څان سره اووه سوه (۷۰۰) سوارۀ واخستل.اوحجاز طرف ته روان شو.په هغه زمانه كښې مروان بن محمد بن مروان بن الحكم خليفه وو. ابو حمزه خارجي د مكې ،مدينې او طائف حاكم عبدالواحد بن سليمان د څان سره ملګرې كړلو.او د مروان بن محمد خلاف ئې د بغاوت اعلان اوكړو.او لاړل په مكه مكرمه باندې ئې قبضه اوكړه.مروان ته چه كله خبر ملاؤ شو.نوهغه د خپل فوځ نه څلور زره كسان منتخب كړل.اود ابوحمزه د ختمولودپاره ئې روان كړل.عبدالملك بن محمدبن عطيه ئې ددې لښكر جرنيل او اميرمقرر كړو.د دواړو فوځونو په مينځ كښې جنګ اوشو.ابو حمزه خارجي اودهغه اوو سوه كسان قتل كړې شول. اود هغه حمايت كونكو نورو خلقوته هم شكت اوشو.(۳)

امام بخارى رحمه الله د حضرت ليث دا تعليق دلته ددې دپاره ذكر كړو.چه په دې كښې د اصحاب بدر ذكر دې.(يعنى د اولنۍ فتنې په بيان كښې چه په كوم ځاې كښې د «فلم تبق من أصحاب بدر أحدا» ئې وئيلى دى)

[۳۸۰۱] حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ النُّمَيْرِيُّ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ قَالَ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَعَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ وَعُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلٌّ حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِنْ الْحَدِيثِ قَالَتْ فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ فَعَثَرَتْ أُمُّ مِسْطَحٍ فِي مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ بِئْسَ مَا قُلْتِ تَسُبِّينَ رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا فَذَكَرَ حَدِيثَ الْإِفْكِ [ر: ۲۴۵۳]

په دې حديث كښې د قصه افك بيان دې.دا حديث به په تفصيل سره وړاندې راشي.چه په حديث كښې چونكه د حضرت مسطح رضي الله عنه د بدرى كيدو ذكر ددې.ددې وجې امام بخارى دا حديث دلته بيان كړو.

---

(۱) عمدة القارى(۱۲۰/۱۷)_

(۲) د داودى خيال دې.چه ددې نه فتنه ،،ازارقه،، مراد ده (عمدة القارى(۱۲۰/۱۷)_

(۳) فتح البارى(۳۲۵/۷)_

[۳۸۰۲] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ هَذِهِ مَغَازِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُلْقِيهِمْ هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالَ مُوسَى قَالَ نَافِعٌ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُنَادِي نَاسًا أَمْوَاتًا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا قُلْتُ مِنْهُمْ [ر: ۱۳۰٤]

[۳۸۰۳] قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ فَجَمِيعُ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنْ قُرَيْشٍ مِمَّنْ ضُرِبَ لَهُ بِسَهْمِهِ أَحَدٌ وَثَمَانُونَ رَجُلًا وَكَانَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ يَقُولُ قَالَ الزُّبَيْرُ قُسِمَتْ سُهْمَانُهُمْ فَكَانُوا مِائَةً وَاللَّهُ أَعْلَمُ

حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ الزُّبَيْرِ قَالَ ضُرِبَتْ يَوْمَ بَدْرٍ لِلْمُهَاجِرِينَ بِمِائَةِ سَهْمٍ

قوله: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ إلخ: په دې روايت کښې په بدر کښې اهل قليب ته د نبی ﷺ د خطاب ذکر دې.ددې تفصيل بيان شوې دې.ددې روايت په آخر کښې د امام بخاری خپل قول دې. يا د موسی بن عقبه قول دې.چه په بدر کښې د شريك شوو قريشوتعداد ۸۱ سړی وو.چاته چه په مال غنيمت کښې حصه ورکړې شوې وه. او حضرت عروه د حضرت زبير رضی الله عنه په حواله سره وائی.چه دچا حصې تقسيم شوې وې.(په مهاجرينو کښې) نو هغه سل کسان وو.

قوله: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ: ددې باب دا آخری روايت د حضرت زبير رضی الله عنه نه مروی دی.دوی فرمائی.چه د بدر په ورځ د مهاجرينو دپاره سل حصې مقررشوې وې.

د رواياتوتعارض اود هغې توجيهات: دلته پورته د موسیٰ بن عقبه په روايت کښې دی.چه د يو اتيا مهاجرينودپاره په جنګ بدر کښې حصې مقرر شوې وې.اود حضرت زبير رضی الله عنه په روايت کښې دی.چه سل حصې مقرر شوې وې.په ظاهره په دواړو روايتونوکښې تعارض دې.

① په دواړو رواياتوکښې د تطبيق مختلف توجيهات شوی دی.داودی ونيلی دی. چه ممکن ده.حضرت زبير رضی الله عنه ته اشتباه شوی وی.اودهغه اشتباه په وجه هغوی ۱۰۰ ونيلی وی.(۱)

② ممکن ده.چه دحضرت زبير رضی الله عنه نه چه چا روايت کړې وی.هغوی ته اشتباه شوی وی.اوهغوی تعداد غلط خودلی وی.(۲) کنی تحقيقی خبره هم دا ده.چه مهارين سل نه وو.

③ داودی رحمه الله دريمه توجيه دا کړې ده.چه ټول مهاجرين څلور اتيا وو.او دوی سره درې اسونه وو.دوه حصې د هريواس وی.دغه شان شپږ حصې د اسونو شوې. څلور اتيا او شپږ لس کم سل شوې.او لس کسان هغه وو.کوم چه په جنګ کښې شريك شوی نه وو.خونبی ﷺ د هغوی دپاره حصې مقرر کړې وې.په دې حساب سره ټولې حصې سل شوې.نوبعضې

(۱) فتح الباری (۳۲۶/۷)_
(۲) فتح الباری (۳۲۶/۷)_

راویان ټول جمع کوی.او بیان کوی.اوبعضی حضرات صرف په جنګ کښې د شریکو خلقو حصه بیانوی.نودهغوی خودلې شوې تعداد کمیږی.

④ حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب ورکړې دېږچه په مال غنیمت کښې چه کومې حصې مهاجرینوته ملاؤ شوې وې، هغه اتیا وې،او شل حصې روسته په مال خمس کښې دوی ته ملاؤ شوې وې.په دې حساب سره ټولې حصې سل شوې.په بعضې روایاتوکښې د مال غنیمت او مال خمس دواړو تعداد خودلې شوې دې.اوپه بعضوکښې صرف د مال غنیمت د حصو تعداد خودلې شوې دې.نو د دې وجې په دواړه قسمه روایاتوکښې څه تعرض نشته.([1])

۱۳=بَاب تَسْمِيَةُ مَنْ سُمِّيَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ الَّذِي وَضَعَهُ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ عَلَى حُرُوفِ الْمُعْجَمِ

⊙النَّبِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْهَاشِمِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⊙ إِيَاسُ بْنُ الْبُكَيْرِ ⊙ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ الْقُرَشِيِّ ⊙ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِيُّ ⊙ حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ حَلِيفٌ لِقُرَيْشٍ ⊙ حَارِثَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ وَهُوَ حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ كَانَ فِي النَّظَّارَةِ ⊙ خُبَيْبُ بْنُ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ خُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ ⊙ رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ رِفَاعَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ ⊙ أَبُو لُبَابَةَ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ الْقُرَشِيُّ ⊙ زَيْدُ بْنُ سَهْلٍ ⊙ أَبُو طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ أَبُو زَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ الزُّهْرِيُّ ⊙ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ الْقُرَشِيُّ ⊙ سَعِيدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ الْقُرَشِيُّ ⊙ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ وَأَخُوهُ ⊙ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ ⊙ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ الْقُرَشِيُّ ⊙ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْهُذَلِيُّ ⊙ عُتْبَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الْهُذَلِيُّ ⊙ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ الزُّهْرِيُّ ⊙ عُبَيْدَةُ بْنُ الْحَارِثِ الْقُرَشِيُّ ⊙ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الْعَدَوِيُّ ⊙ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقُرَشِيُّ خَلَّفَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَتِهِ وَضَرَبَ لَهُ بِسَهْمِهِ ⊙ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ الْهَاشِمِيُّ ⊙ عَمْرُو بْنُ عَوْفٍ حَلِيفُ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ ⊙ عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيُّ ⊙ عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ الْعَنَزِيُّ ⊙ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ قُدَامَةُ بْنُ مَظْعُونٍ ⊙ قَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ⊙ مُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَاءَ ⊙ وَأَخُوهُ ⊙ مَالِكُ بْنُ رَبِيعَةَ ⊙ أَبُو أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ مَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيُّ ⊙ مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ

---

[1])فتح الباری (۳۲۶/۷)_

بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ ⊙ مِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو الْكِنْدِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ ⊙ هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْأَنْصَارِيُّ رضى الله عنهم

په دې باب کښې امام بخارى رحمه الله په شرکاء بدر کښې د هغه حضراتو نومونه بيان کړى دى.د چا د شرکت تصريح چه په بخارى شريف کښې راغلې ده.د ټولو بدريانود نومونو ذکر مقصود نه دې.دغه شان بعضې داسې حضرات چه د هغوى په بدرى کيدو کښې دچا اختلاف نشته.بلکه پخپله په صحيح بخارى کښې هم د هغوى د بدرى کيدو ذکرموجود دې.خوچونکه په تنصيص او تصريح سره نه دېزددې وجې د هغوى نومونه امام بخارى دلته ذکرنکړل.لکه حضرت عبيده بن الجراح رضى الله عنه شو.ددوى د بدرى کيدو ذکر خود په بخارى کښې موجود دې.خوچونکه په تنصيص او تصريح «أنه شهد بدراً» الفاظو سره موجود نه دې. ددې وجې د نومونو په دې فهرس کښې د هغوى نومونه نشته.(1)

امام بخارى رحمه الله دلته د څلور څلويښتو نومونو ذکر د حروف تهجى په ترتيب سره کړې دې. د بدر د شرکاء تعداد د مشهور روايت مطابق درې سوه او ديارلس دې.ددې ټولو د نومونو ذکر حافظ ضياء الدين مقدسى په ،،کتاب الاحکام،، کښې په استيعاب سره کړې دې.ابن سيدالناس او ابن اسحاق رحمهما الله په تفصيل سره د بدريين صحابو رضى الله عنهم نومونه ذکرکړى دى.. امام بخارى رحمه الله چه دلته کوم نومونه ذکر کړى دى. ددې په باره کښې مشهوره دا ده.چه کله دا نومونه اولوستې شى.نويه هغه وخت کښې دعا قبليږى.

بَاب: حَدِيثِ بَنِي النَّضِيرِ وَمَخْرَجِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فِي دِيَةِ الرَّجُلَيْنِ وَمَا أَرَادُوا مِنْ الْغَدْرِ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ الزُّهْرِيُّ عَنْ عُرْوَةَ كَانَتْ عَلَى رَأْسِ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ وَقْعَةِ بَدْرٍ قَبْلَ أُحُدٍ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَخْرُجُوا﴾ (2) وَجَعَلَهُ ابْنُ إِسْحَاقَ بَعْدَ بِئْرِ مَعُونَةَ وَأُحُدٍ

[۳۸۰۴] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ حَارَبَتْ النَّضِيرُ وَقُرَيْظَةُ فَأَجْلَى بَنِي النَّضِيرِ وَأَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتَّى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَقَسَمَ نِسَاءَهُمْ وَأَوْلَادَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا بَعْضَهُمْ لَحِقُوا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَآمَنَهُمْ وَأَسْلَمُوا وَأَجْلَى يَهُودَ الْمَدِينَةِ كُلَّهُمْ بَنِي قَيْنُقَاعَ وَهُمْ رَهْطُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ وَيَهُودَ بَنِي حَارِثَةَ وَكُلَّ يَهُودِ الْمَدِينَةِ

امام بخارى رحمه الله دلته د بنو نضيرو واقعه نقل کوى.غزوه بنو نضير کله پيښه شوې وه؟ په دې باره کښې امام بخارى رحمه الله يوه رائې د حضرت عروه نه نقل کړې ده.او يوه رائې ئې د

---

(1) فتح البارى(۷/۳۲۹) وعمدة القارى(۱۷/۱۲۱)_

(2) الحشر:۲)_

ابن اسحاق نقل کړې ده.د حضرت عروه رائې دا ده. چه کله د غزوه بدر نه پس شپږ میاشتې تیرې شوې.نو د غزوه بنو نضیرواقعه پیښه شوې وه.او د ابن اسحاق رحمه الله رائې امام بخاری رحمه الله دا نقل کړی ده.چه د بنو نضیر دا واقعه د غزوه بیر معونه او جنګ احد نه پس رواقع شوې ده.

د نبی علیه السلام مدینې منورې ته د راتلو په وخت کښې د کافرانو قسمونه: نبی ﷺ چه کله مدینې منورې ته تشریف راوړې وو.په هغه وخت کښې د کافرانو درې قسمونه وو.

① دکافرانو یو قسم هغه وو.چه چه به ښکاره د دشمنۍ اعلان کولو.-اوجنګ کولوته تیار وو.

② دویم قسم د هغه خلقو وو.کوم چه په دې انتظار کښې وو.چه د مسلمانانو انجام به څه وی.که غالب شو نو مونږ به هم د دوی سره شو.ګنی د خپل پلار نیکه په دین باندې به قائم پاتې یو.بیا په دوی کښې بعضو د زړه نه د مسلمانانو غلبه غوستله.لکه بنو خزاعه،اوځه کسانود زړه نه د مسلمانانو غلبه نه غوښتله.

③ دریم قسم د مدینې د یهود وو.د مدینې په یهودوکښې اصل دوه قبیلې وې.یو بنو قریظه او بله بنو نضیر،د بنو قینقاع او بنو حارثه ذکر هم راځی.خوپه حقیقت کښې هغه د بنو قریظه او بنو نضیر شاخونه وو([1])

د مدینې د یهودی قبیلو د مسلمانانو سره د امن معاهده شوې وه.چه نه به د یو بل سره جنګ کوو.اونه به د یوبل خلاف د بلې قبیلې سره مدد کوو.([2]) خو یهودیانو،ددې معاهدې پابندی او خیال اونه ساتلو.نود ټولو نه وړاندې بنو قینقاع دا معاهده ماته کړه.اوپه یهودو کښې د ټولونه وړاندې بنو قینقاع د مدینې منورې نه جلا وطن کړې شول([3])

د بنو قینقاع د یهودو جلاوطنی: کله چه نبی ﷺ په جنګ بدر کښې د کامیابۍ حاصلولو نه پس مدینې منورې ته تشریف راوړو.نو نبی ﷺ د مدینې یهود راجمع کړل.او هغوی ته ئې د اسلام دعوت ورکړل.او هغوی ته ئې اوفرمائیل.دالله نه اوویریږئ.تاسوته دا خبره ښه معلومه ده.چه زه د الله رسول یم.چه چرته داسې اونشی.(چه زما د مخالفت په وجه) په تاسو هم داسې عذاب نازل شی.لکه څنګه په بدر کښې په قریشو نازل شو.نو اسلام قبول کړئ.([4])

د بنوقینقاع یوهود د نبی ﷺ په دې خبره غصه شول.او وې وئیل.چه تاته د قریشو په مقابله کښې کامیابی حاصله شوه.خودا دې تا په غلطه فهمۍ کښې وانچوی.قریشوچونکه د جنګ تجربه نه لرله.ددې وجې هغوی قتل کړې شول.کله چه زمونږ سره ستا مقابله راشی.نو بیا به معلومه شی.چه څوك به غالب راځی.کله چه بنو قینقاع جنګ ته اماده شول.او وعده ئې

[1])فتح الباری(۳۳۰\۷)-

[2])فتح الباری(۳۳۰\۷)_

[3])کالم ابن اثیر(۹۶\۲)_

[4])ابن کثیر د نبی ﷺ د خطاب الفاظ داسې ذکر کړی دی.یا معشر یهود أحذروا من الله مثل ما نزل بقریش من النقمة وأسلموا فإنکم قد عرفتم أن نبی مرسل تجدون ذلک فی کتابکم وعهدالله إلیکم (البدایة والنهایة (۳\٤)_

ماته کړه.نو نبی ﷺ هغوی طرف ته خرج اوکړو.مسلمانانو ترڅو ورځو پورې د هغوی محاصره کړې وه.آخر دا چه دا خلق مجبوره شول.اود قلعې نه رابهر شول.نبی ﷺدوی قتل کول غوښتل.خود منافقانو سردارعبدالله بن ابی سفارش اوکړو.چه دوی مه قتلوه.نبی ﷺ دوی قتل خونکړل.خودوی ته ئې د مدینې پریخود حکم اوکړو.دا واقعه په پنځلسم شوال ۲ھ پیښه شوې وه.(١)

قوله: **وَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فِي دِيَةِ الرَّجُلَيْنِ وَمَا أَرَادُوا مِنْ الْغَدْرِ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**: د نبی ﷺ د دوو کسانود دیت په باره کښې بنو نضیرطرف ته تلل.اوهغه غداری کومه چه بنو نضیر د نبی ﷺ سره کول غوښتل. دهغې بیان.

غزوه بنو نضیر: په یهودیانوکښې د بنو قینقاع د غدارۍ نه پس اوس بنو نضیرو وعه ماته کړه.ددې تفصیل دا دې.چه عمروبن امیه ضمری دبیرمعونه د واقعه نه اتفاقی طور ژوندې بچ شو.(د بیر معونه تفصیل وړاندې راځی) د هغه ځائې نه مدینې منورې ته په راتلوکښې هغه ته دوه کافران ملاؤ شول.کوم چه، د بنو عامرنه وو.نو عمروبن امیه دا اوګڼړل.چه ددې قبیلې سردار عامربن طفیل اویا مسلمانان (په بیر معونه کښې) شهیدان کړل.دغه دواړه ئې قتل کړل.عمروبن امیه ﷺ ته دا معلومه نه وه.چه د مقتولینو د قبیلې سره نبی ﷺمعاهده کړې ده.کله چه نبی ﷺ ته خبراوشو.نو نبی ﷺاوفرمائیل.هغوی سره خو زمونږ معاهده وه.نو دیت ورکول ضروری دی.(اګرچه عامربن طفیل معاهده ماته کړې وه.او اویا مسلمانان ئې شهیدان کړی وو.خوپه دې عهد شکنۍ کښې ټوله قبیله شریکه نه وه.ددې وجې نبی ﷺ د بنو عامر د دغه دوو مقتولینو دیت ورکول ضروری اوګڼړل)

بنوعامرلکه څنګه چه د مسلمانان حلیف وو.دغه شان د بنو نضیر هم حلیف وو.نود عربو د دستور مطابق په دیت کښې څه حصه د بنو نضیرو په ذمه هم واجب الاداء وه.نو نبی ﷺ ددې دیت په باره کښې حضرت ابوبکر حضرت عمر ا څو نرو صحابه کرام ﷺواخستل.او بنو نضیر ته ئې تشریف یوړلو.هلته چه لاړلو.نونبی ﷺ د یودیوال لاندې کیناستل.

په دغه دوران کښې بنو نضیر په خپل مینځ کښې دا مشوره اوکړه.چه یوکس د کور چت ته اوخیژی.اود پورته نه یوه غټ کانړې په نبی ﷺ باندې راغوزار کړی.چه په دې طریقه نبی ﷺ قتل کړې شی.نبی ﷺ ته د وحی په ذریعه ددې سازش خبر ملاؤ شو.نبی ﷺ دهغه ځاې نه پاسیدل.لکه چه د څه کار دپاره پاسیدلو.او اوس واپس راځی.او مدینې منورې ته ئې تشریف یوړلو.کله چه د نبی ﷺ په واپسۍ کښې روستوالې اوشو.نو یهودیان ډیر ملامته شول.او مایوس شول.او صحابه کرام ﷺ دهغه ځاې نه پاسیدل.د نبی ﷺ په لټون کښې مدینې منورې ته راورسیدل.صحابه کرام ﷺ چه کله نبی ﷺ ته راورسیدل.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.بنو نضیرو معاهده ماته کړې ده.نو د دوی محاصره دې اوکړې شی.

---

١)البداية والنهاية (٣١٤)_

عبدالله بن ام مكتوم رضي الله عنه نبی ﷺ د مدينې منورې عامل مقرر كړلو.(۱) او صحابه ئې واخستل.اود بنو نضيرو محاصره ئې اوكړه.
عبدالله بن ابی بنو نضيروته پيغام اوليږلو.چه مونږ تاسو سره يو.د ويرې ضرورت نشته.خود منافقانو په زړونوكښې الله تعالى رعب واچولو.اوهغوی د مسلمانانو د مقابلې دپاره رانغلل.
پنځلس ورځو د محاصرې كولونه پس بنو نضير مجبوره شول.اونبی ﷺ ته ئې درخواست اوكړو.چه مونږ ته دې امن راكړې شی.نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.د لسو ورځو مهلت دې.په لسو ورځو كښې دننه دننه تاسو د مدينې نه اوځئ.اوڅومره سامان چه تاسو خان سره اوړې شئ.نودهغې اجازت درته شته.خود وسلې د وړلو اجازت نشته.يهوديانود خپلو كورونو دروازې اوچوكاټونه راويستل هم شروع كړل .اوپه لسو ورځوكښې دننه دننه د مدينې نه اووتل.څه شام ته لاړل.اوڅه په خيبر كښې آباد شول.اودغه شان مدينه منوره نه د يهوديانوشرارت ختم شو.يامين بن عمير او ابوسعيدبن وهب دا دواړه كسان په دوی كښې مسلمانان شول.نودوی
جلاوطن نكړې شول.اونه دوی دمال او اسباب نه محروم كړې شول.(۲)
ابن اسحاق چه د غزوه بنو نضيركومه واقعه ليكلې ده.هغه دا وه.(۳) ددې نه به تاسو ته معلومه شوې وی.چه په بيرمعونه كښې د اويا قاريانو د شهادت نه پس عمروبن اميه ضمری چه د بنو عامر دوه كسان قتل كړل.اودهغوی د ديت په باره كښې نبی ﷺبنو نضيرو ته تشريف اوړې وو.نوددې نه ثابته شوه.چه دا واقعه د بيرمعونه نه پس شوې ده.خود حضرت عروه د بيان مطابق دا واقعه د احد او بيرمعونه نه وړاندې ده.دوی فرمائی.چه غزوه بنو نضيرد جنګ بدرنه صرف شپږ ميشاتې پس شوې ده.نو كه د حضرت عروه روايت اومنلې شی.نو بيا به د بنو نضير د غزوه سبب كوم څيز وی.(ښكاره ده چه په دې صورت كښې د عمروبن اميه ضمری د دوو كسانو قتل اود هغوی د ديت په باره كښې د نبی ﷺ يهودو د بنو نضيرته تلل اود يهوديانو غداری سبب نشی جوړيدې.ځكه چه د دوو كسانود قتل دا واقعه د احد نه لاځه چه د غزوه بيرمعونه نه هم روستو خبره ده)
نود دې په باره كښې ونيلې شوی دی.چه ابن مردويه رحمه الله په صحيح سند سره د زهری نه يو روايت نقل كړې دې.دهغه روايت حاصل دا دې.چه كله د جنګ بدر واقعه پيښه شوه.او مسلمانانو ته كاميابی ملاوه شوه.نود مكې مشركانو د مدينې يهودو ته خط اوليكل.چه تاسو سره قلعې او د جنګ سازوسمان شته.تاسو د مسلمانانو خلاف ولې آواز نه اوچتوئ.
نو بنونضيرو ددې خط نه پس د يو سازش فيصله اوكړه.اوهغه دا چه نبی ﷺ ته ئې پيغام اوليږل. چه تاسو خان سره درې كسان راولئ.او زمونږ درې عالمان به تاسو سره مذاكره

---

(۱) البداية والنهاية (۴\۷۵)_
(۲) فتح البارى(۷\۳۳۱)_
(۳) د پوره تفصيل دپاره اوګورئ البداية والنهاية (۴\۷۴و ۷۶)_~

اوكړى.كه په دې مذاكره كښې زمونږ دغه درې كسان مطمئن شول.نو مونږ به اسلام قبول كړو.اوپه خپل مينځ كښې ئې دغه درې عالمانوته اووئيل.چه خپل ځان سره خنجر پټ اوساتئ .اوچه موقع ملاؤ شى.نو دې قتل كړئ.په بنو نضيروكښې يوانصارى ښځه وه.د هغې ورور مسلمان وو.هغې ددې سازش خبر خپل ورور ته وركړو.ورور ئې راغلو. او نبى ﷺ ته ئې دهغې خبر وركړو.نبى ﷺ د مذاكرې فيصله پريخوده.اوپه هغوى باندې ئې د حملې پروګرام جوړ كړو.([1])

كه دحضرت عروه رحمه الله روايت اومنلې شى.نوپه دغه وخت كښې د غزوه بنو نضير سبب به دا واقعه وى.په دې كښې د بيرمعونه ذكرنشته.خواكثراصحاب سيردمحمدبن اسحاق سره موافقت كړې دې.او وئيلې ئې دى.چه غزوه بنونضيرد احد او غزوه بير معونه نه پس شوې وه.اودا د ۴ھ د اولنو ورځو واقعه وه.

امام بخارى رحمه الله د ابن اسحاق او حضرت عروه رحمهماالله دواړو قولونه ذكر كړى دى.اوپه ترجمة الباب كښې ئې آيت ذكركړې دې.

قوله: وَقَوْلِ اللهِ: هُوَ الَّذِىٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ: الله تعالى هغه ذات دې.چه راوې ويستل. اهل كتابوكښې كافران،د هغوى د كورونو نه په اول حشركښې،

د اول حشر نه د بنو نضيرود يهودو جلاوطنى ده.هسې خود بنو قينقاع جلا وطنى ددې نه وړاندې شوې وه.اول خوهغه څه لويه قبيله نه وه.بلكه يوشاخ وو.اودويمه دا چه د بنو نضير د دې جلاوطنئ واقعه دهغې په نسبت ډيره لويه واقعه وه.ددې وجې قرآن پاك دې ته ،،اول حشر،، اووئيل.

قوله: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ حَارَبَتِ النَّضِيرُ وَقُرَيْظَةُ فَأَجْلَى بَنِي النَّضِيرِ وَأَقَرَّ قُرَيْظَةَ: قريظه او نضيرمحاربه اوكړه.ددې محاربې نه مراد دا دې.چه د مكې قريشو دجنګ بدر نه پس بنى قريظه اوبنى نضيروته خط اوليكلو. او د مسلمانانو مخالفت ته ئې هغوى اماده كړل.نو دې دواړو قبيلو دمعاهدې ماتولو منصوبه جوړه كړه.نو مسلمانانوبنو نضير جلاوطن كړل.او د بنو قريظة سره ئې تجديد دمعاهدې اوكړو. هغوى برقرار پريخودل.تردې چه د غزوه خندق په موقع بنو قريظه دوباره عهد شكنى اوكړه.نو بيا دهغوى سړى قتل كړلاوښځې ،بچى او مالونه ئې په مسلمانانو تقسيم كړل. (دغزوه قريظه تفصيل د غزوه خندق نه روستو راځى)

---

[1])فتح البارى(۳۳۱/۷)_

[۳۸۰۵] حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ سُورَةُ الْحَشْرِ قَالَ قُلْ سُورَةُ النَّضِيرِ تَابَعَهُ هُشَيْمٌ عَنْ أَبِي بِشْرٍ [ر: ۳۳۶۸و۳۶۰۰و۳۶۰۱]

حضرت سعيد بن جبير رضي الله عنه فرمائي،چه ما د ابن عباس رضي الله عنهما وراندې د ،،سورة الحشر،، ټکې اووئيل.نو دوی رضي الله عنه اوفرمائيل.((قل : سوری النضير)) دې سورة ته سورة نضير وايه.

مقصدا دې.چه دا سورت د بنو نضير په باره کښې نازل شوې دې،نو دې ته ،،سورة النضير،، هم وئيلې شی،او ،،سورة الحشر،، هم.

[۳۸۰۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ حَتَّى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرَ فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ [ر: ۲۹۶۰]

حضرت انس رضي الله عنه فرمائي.چه انصار صحابو رضي الله عنهم به د نبي ﷺ په خدمت کښې د قجورو وونې پيش کولې،او وئيل به ئې چه تاسو دا په مهاجرينو کښې تقسيم کړئ.او د خپل ځان دپاره هم اوساتئ،کله چه ﷺنبي ﷺ قريظه او بنو نضير فتح کړل،نو بيا نبي ﷺ انصارو ته هغه وونې واپس کړې،ددې تفصيل دا دې،چه کله نبي ﷺ قرظه او نضير فتح کړل.او د هغوی مالونه مسلمانانو ته په لاس راغلل،نو په هغه وخت کښې نبي ﷺ انصارو ته اووئيل.که تاسو خوښوئ،نو زه به دا مالونه په مهاجرينو کښې تقسيم کړم،او ستاسو چه کومې وونې دی،هغه به تاسو ته واپس کړم،د انصارو سردارانو حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه او حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه اووئيل،يارسول الله! زمونږ خو خوښه ده،چه دا مالونه هم تاسو ټول په مهاجرينو کښې تقسيم کړئ،او زمونږ چه کوم مالونه دوی سره دی،هغه هم دوی سره پريږدئ،نبي ﷺ د هغوی د دې پرزونې تعريف اوکړو،خود انصارو کوم مالونه چه د مهاجرينو سره وو،هغه ئې هغوی ته واپس کړل،او د يهوديانو نه چه کوم مالونه ملاؤ شوی وو،هغه ئې په مهاجرينو کښې تقسيم کړل.([1])

خود مهاجريو سره نبي ﷺ په انصارو کښې حضرت ابودجانه انصاري رضي الله عنه او سهل بن حنيف انصاري رضي الله عنه ته هم حصه ورکړه،ځکه چه د دې دواړو حضراتو مالی حالت ډير کمزورې وو.([2])

[۳۸۰۷\۳۸۰۸] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ حَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ فَنَزَلَتْ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ

---

[1]) فتح البارى (۳۳۳\۷)_

[2]) علامه سهيلی د حضرت ابودجانه او حضرت سهل سره د انصارو نه د حضرت حارث بن صمه نوم هم ذکر کړې دې،... اوګورئ البداية والنهاية (۷۶\۴)_

[۳۸۰۸] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا حَبَّانُ أَخْبَرَنَا جُوَيْرِيَةُ بْنُ أَسْمَاءَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ قَالَ وَلَهَا يَقُولُ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ

وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ ... حَرِيقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ

قَالَ فَأَجَابَهُ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ

أَدَامَ اللَّهُ ذَلِكَ مِنْ صَنِيعٍ ... وَحَرَّقَ فِي نَوَاحِيهَا السَّعِيرُ

سَتَعْلَمُ أَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ ... وَتَعْلَمُ أَيَّ أَرْضَيْنَا تَضِيرُ [ر:۲۲۰۱]

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی،چه نبی ﷺ د بن نضیرو د قجورو ونې سوزولې او کټ کړې وې،او هغه باغ کوم خائې کښې چه دا عمل کړې شوې وو، ،بویره،، وو.نو په دې باندې دا آیت نازل شو«ماترکتم من لينة...»

یهودیانو دا اعتراض کړې و،چه دا څنګه پیغمبر دې،چه باغونه او د خلقو په کارلاتلونکې څیزونه کټ کوی او سوزوی،چه ختم شی،نو الله تعالی د پیغمبر د طرف نه جواب ورکړو، چه کومې ونې تاسو کټ کړې دی،اویا مو پریخودې دی،چه تر اوسه پورې هغه په خپلو جرړو ولاړې دی،دا ټول د الله تعالی په حکم سره دی.([1])

یعنی هریو په دواړو کښې د مصلحت نه خالی نه دی،په سوزولو او کټ کولو کښې په کافرانو باندې د رعب او غلبې اظهار دې،او په سالم پریخودو کښې د مسلمانانو دنیوی فائده ده.

البویرة (بضم الباء وفتح الواو....) دا د ،،بورة،، تصغیر دې.،، بورة ،، کندې ته وائی،د مدینې منورې سره نزدې په کوم خائې کښې چه د بنو نضیرو باغ واقع وو.چونکه هغه ښکته خائې وو.ددې وجې دغه باغ ته ،،بویره،، ونیلې شو.([2])

«لينة» يو خاص قسم قجورې ته وائی.([3])

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی،نبی ﷺ چه کله د بنو نضیر ونې اوسوزولې،نو د هغې په باره کښې حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه دا شعر ونیلې وو.

قوله: وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ حَرِيقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ قَالَ فَأَجَابَهُ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ: اوآسان شو د بنو لوی د سردارانو دپاره په مقام بویره کښې داسې اور لګول چه د هغې لمبې خورې وې.

سراة: (بفتح السین) دا د ،،سری،، جمع ده،سردار ته وائی،یعنی د قریشو سردار مراد

---

[1]) اوګورئ تفسیر ابن کثیر (۳۳۳/۴)۔

[2]) فتح الباری (۳۳۳/۷) وعمدة القاری (۱۲۸/۱۷)۔

[3]) عمدة القاری (۱۲۸/۱۷)۔

نبی ﷺ او نور قریشی مهاجرین صحابه ﷺ دی.ډیرو حضراتو ، د ،،سراة بنی لوئی،، نه د قریشو کافر سرداران مراد دی، په دواړو صورتونوکښې مطلب مختلف دې.

د شعرمطلب حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه فرمائی،چه نبی ﷺ او د دوی صحابو رضی الله عنهم بغیر د څه جنګ نه ډیر په آسانئ سره په مقام بویره کښې باغوو ته اور اولګولو،په دې شعر کښې حضرت حسان د مکې قریشو ته پیغور ورکوی،ځکه چه قریشو بنو نضیر په جنګ باندې راپارولی وو.

اوکه د ،،سراة بنی لوی،، نه د قریشو کافر سرداران مراد وی.نو مطلب به دا وی،چه د قریشو سردارانو په مقام بویره کښې د اور لګولو معامله ډیره آسانه او وړه اوګڼله،دا طنز (توقې) دی،چه قریشو بنو نضیر او بنو قریظه ته دا باور ورکړې وو،چه د مسلمانانو سره د جنګ په وخت کښې به دوی (کافران) د هغوی سره مدد کوی،اوس چه هرکله په دوی باندې مصیبت راغلو،او د دوی باغونه اوسوزولی شول،نو په قریشو کښې څوك هم مدد ته رانغلو،لکه چه دا څه لویه واقعه نه ده.

کله چه حضرت حسان رضی الله عنه دا شعر اووئیل.نو د دې په جواب کښې ابو سفیان بن الحارث (چه د نبی ﷺ د تره ځوئې وو،اوتردغه وخته پورې ئې اسلام نه وو راوړې) دا اشعار اووئیل.

قوله: أَدَامَ اللَّهُ ذَلِكَ مِنْ صَنِيعٍ وَحَرَّقَ فِي نَوَاحِيهَا السَّعِيرُسَتَعْلَمُ أَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ وَتَعْلَمُ أَيُّ أَرْضَيْنَا تَضِيرُ: ① الله دې دا اور چه په بویره کښې لګیدلې دې،همیشه دپاره قائم ساتی.اود بویره چارچاپیردې هم دغه شان اوسوزوی.

② تاسو به ډیر زر پوهه شئ،چه څوك د دې بویره (او د دې د اور نه) لرې دې،او تاسوته به دا پته هم اولګی،چه په مونږ کښې د چا زمکې ته دا اور نقصان رسوی.

ابو سفیان په اولنی شعر کښې خیرې کړی دی،چه بویره او ددې نه چارچاپیره یعنی مدینه کښې دې دغه شان اور بلیږی.او په دویم شعر کښې حضرت حسان رضی الله عنه ته وائی، چه په بویره کښې د اور پیغور مونږ ته څه راکوې،د بویره نه ګیرچاپیره خو تاسو اوسیږئ،په دې سره مونږ او زمونږ زمکو ته څه نقصان نه رسی.هم ستاسو د استوګنې زمکه به سوزی.[1]

[۴۸۰۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي مَالِكُ بْنُ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ النَّصْرِيُّ أَنَّ عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دَعَاهُ إِذْ جَاءَهُ حَاجِبُهُ يَرْفَا فَقَالَ هَلْ لَكَ فِي عُثْمَانَ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالزُّبَيْرِ وَسَعْدٍ يَسْتَأْذِنُونَ فَقَالَ نَعَمْ فَأَدْخِلْهُمْ فَلَبِثَ قَلِيلًا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ هَلْ لَكَ فِي عَبَّاسٍ وَعَلِيٍّ يَسْتَأْذِنَانِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا دَخَلَا قَالَ عَبَّاسٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنِي وَبَيْنَ هَذَا وَهُمَا يَخْتَصِمَانِ فِي الَّذِي أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي النَّضِيرِ فَاسْتَبَّ عَلِيٌّ وَعَبَّاسٌ فَقَالَ الرَّهْطُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ

---

[1] بنزه:بضم النون وسكون الزاى ذى ببعدوزناً ومعنى وهو فى الاصل من النزاهى وهى البعد من السوء وجاء فيه فتح النون (عمدى القارى :۱۷\۲۹۱)۔

بَيْنَهُمَا وَأَرِحْ أَحَدَهُمَا مِنَ الآخَرِ فَقَالَ عُمَرُ اتَّئِدُوا أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ يُرِيدُ بِذَلِكَ نَفْسَهُ قَالُوا قَدْ قَالَ ذَلِكَ فَأَقْبَلَ عُمَرُ عَلَى عَبَّاسٍ وَعَلِيٍّ فَقَالَ أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ ذَلِكَ قَالَا نَعَمْ قَالَ فَإِنِّي أُحَدِّثُكُمْ عَنْ هَذَا الأَمْرِ إِنَّ اللَّهَ سُبْحَانَهُ كَانَ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْءِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ فَقَالَ جَلَّ ذِكْرُهُ وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ إِلَى قَوْلِهِ قَدِيرٌ فَكَانَتْ هَذِهِ خَالِصَةً لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ وَاللَّهِ مَا احْتَازَهَا دُونَكُمْ وَلَا اسْتَأْثَرَهَا عَلَيْكُمْ لَقَدْ أَعْطَاكُمُوهَا وَقَسَمَهَا فِيكُمْ حَتَّى بَقِيَ هَذَا الْمَالُ مِنْهَا فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللَّهِ فَعَمِلَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيَاتَهُ ثُمَّ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فَأَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَهُ أَبُو بَكْرٍ فَعَمِلَ فِيهِ بِمَا عَمِلَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْتُمْ حِينَئِذٍ فَأَقْبَلَ عَلَى عَلِيٍّ وَعَبَّاسٍ وَقَالَ تَذْكُرَانِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ فِيهِ كَمَا تَقُولَانِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُ فِيهِ لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ ثُمَّ تَوَفَّى اللَّهُ أَبَا بَكْرٍ فَقُلْتُ أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ فَقَبَضْتُهُ سَنَتَيْنِ مِنْ إِمَارَتِي أَعْمَلُ فِيهِ بِمَا عَمِلَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّي فِيهِ صَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ ثُمَّ جِئْتُمَانِي كِلَاكُمَا وَكَلِمَتُكُمَا وَاحِدَةٌ وَأَمْرُكُمَا جَمِيعٌ فَجِئْتَنِي يَعْنِي عَبَّاسًا فَقُلْتُ لَكُمَا إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ فَلَمَّا بَدَا لِي أَنْ أَدْفَعَهُ إِلَيْكُمَا قُلْتُ إِنْ شِئْتُمَا دَفَعْتُهُ إِلَيْكُمَا عَلَى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللَّهِ وَمِيثَاقَهُ لَتَعْمَلَانِ فِيهِ بِمَا عَمِلَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَمَا عَمِلْتُ فِيهِ مُنْذُ وَلِيتُ وَإِلَّا فَلَا تُكَلِّمَانِي فَقُلْتُمَا ادْفَعْهُ إِلَيْنَا بِذَلِكَ فَدَفَعْتُهُ إِلَيْكُمَا أَفَتَلْتَمِسَانِ مِنِّي قَضَاءً غَيْرَ ذَلِكَ فَوَاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ لَا أَقْضِي فِيهِ بِقَضَاءٍ غَيْرِ ذَلِكَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ فَإِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهُ فَادْفَعَا إِلَيَّ فَأَنَا أَكْفِيكُمَاهُ

قَالَ فَحَدَّثْتُ هَذَا الْحَدِيثَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ صَدَقَ مَالِكُ بْنُ أَوْسٍ أَنَا سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ أَرْسَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُثْمَانَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ يَسْأَلْنَهُ ثُمُنَهُنَّ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ أَنَا أَرُدُّهُنَّ فَقُلْتُ لَهُنَّ أَلَا تَتَّقِينَ اللَّهَ أَلَمْ تَعْلَمْنَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ يُرِيدُ بِذَلِكَ نَفْسَهُ إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْمَالِ فَانْتَهَى أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَا أَخْبَرَتْهُنَّ قَالَ

فَكَانَتْ هَذِهِ الصَّدَقَةُ بِيَدِ عَلِيٍّ مَنَعَهَا عَلِيٌّ عَبَّاسًا فَغَلَبَهُ عَلَيْهَا ثُمَّ كَانَ بِيَدِ حَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ ثُمَّ بِيَدِ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ ثُمَّ بِيَدِ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ وَحَسَنِ بْنِ حَسَنٍ كِلَاهُمَا كَانَا يَتَدَاوَلَانِهَا ثُمَّ بِيَدِ زَيْدِ بْنِ حَسَنٍ وَهِيَ صَدَقَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا [ر:۲۷۴۸]

[۳۸۱۰] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام وَالْعَبَّاسَ أَتَيَا أَبَا بَكْرٍ يَلْتَمِسَانِ مِيرَاثَهُمَا أَرْضَهُ مِنْ فَدَكٍ وَسَهْمَهُ مِنْ خَيْبَرَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ فِي هَذَا الْمَالِ وَاللَّهِ لَقَرَابَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أَصِلَ مِنْ قَرَابَتِي [ر:۲۹۲۶]

مالك بن اوس بن الحدثان بيان كوى.چه حضرت عمر رضي الله عنه زه راوغوستم.ناڅاپه حضرت عمر رضي الله عنه ته د هغه دربان ((يرفاء)) راغلو[1] او ووې وئيل.چه حضرت عثمان ،حضرت عبدالرحن بن عوف او حضرت زبير او حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنهم د دننه راتلو اجازت غواړى.حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل.آو هغوى دننه راوله.اوس لږ غوندې وخت تير شوى وو.چه يرفاء دوباره راغلو.او حضرت عمر رضي الله عنه ته ئې اووئيل.چه حضرت عباس او حضرت على رضي الله عنهما راغلى دى.ار دننه راتلل غواړى.حضرت عمر رضي الله عنه اجازت وركړو.كله چه دواړه حضرات دننه داخل شو.نو حضرت عباس رضي الله عنه اووئيل.اې اميرالمومنين زما او دده (حضرت على رضي الله عنه) په مينځ كښې فيصله اوكړه.

قوله: وَهُمَا يَخْتَصِمَانِ فِي الَّذِي أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي النَّضِيرِ: اودې دواړو جګړه كوله د بنو نضيرو نه چه كوم مال فئ نبى ﷺ ته ملاوه شوې وو.د هغې په باره كښې (دا جمله د ترجمة الباب سره متعلق ده)

د بنو نضيرو نه چه كوم مال فئ نبى كريم ﷺ ته ملاؤ شوې وو.هغه نبى ﷺ په مهاجرينو كښې تقسيم كړې وو.البته د هغې څه حصه نبى ﷺ د خپل ځان سره ايساره كړې وه.كومه چه به ئې د مسلمانانو په حاجتوونو باندې خرچ كوله.او نبى ﷺ به خپلو رشته دارانو ته هم په هغې كښې حصه وركوله.هم ددغه مال په باره كښې د حضرت عباس او حضرت على رضي الله عنهما په مينځ كښې اختلاف راغلې وو.دحضرت عمر رضي الله عنه په مجلس كښې ددې دواړو په مينځ كښې توتو مئ مئ هم اوشو.نو د دوى نه وړاندې چه كم حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم راغلى وو.هغوى اووئيل .اې امير المومنين د دوى په مينځ كښې فيصله اوكړه.او يودبل نه خلاص كړه.نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل. ((اتئدوا)) [2]ايسار شئ.جلتى مكوئ.زه تاسو خلقو ته د هغه ذات قسم دركوم.چه د هغه په حكم آسمان او زمكه ولاړدى.آيا تاسوته

---

[1])يرفاء بفتح الياء وسكون الراء (عمدة القارى(۱۳۰۱۱۷)_

[2])إتئدوا: أى لا تستعجلوا وهى من التؤدة وهى التانى والمهلة عمدة القارى :۱۳۰۱۱۷)_

معلومه ده.چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.((لانورث ما تركنا صدقة..)) زمونږ د پيغمبرانو د مال څوك وارث نه وی.څه چه مونږ پريږدو.نو هغه صدقه وی.
ددې نه نبی ﷺ خپله خپل ځان مراد اخستو.چه د وفات نه پس چه كوم مالونه زه پريږدم.هغه به د صدقې مالونه وی.اوپه هغې كښې به ميراث نه جاری كيږی. هلته چه كوم صحابه كرام رضی الله عنهم موجود وو.هغوی د حضرت عمر رضی الله عنه تصديق اوكړو.او حضرت عمر رضی الله عنه بيا حضرت عباس او حضرت علی رضی الله عنه طرف ته متوجه شو.اوهغوی ته ئې اوونيل.چه زه تاسو ته دالله تعالى قسم دركوم.آيا تاسوته معلومه ده.چه نبی كريم ﷺ دا حديث فرمائيلې دې.هغه دواړو جواب وركړو.چه ،،نعم،، آو جی. او د دغه حديث په باره كښې ئې د حضرت عمر رضی الله عنه تصديق اوكړو.حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل.اوس زه ددې معاملې په باره كښې تاسوته بيان كوم.چه د (بنو نضير) دغه مال فئ الله تعالى دخپل رسول دپاره خاص كړې وو.اوپه هغې كښې بل چاته حق نه دې وركړې.دالله تعالى ارشاد دې.
وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ [1]
نو دا مال صرف دالله اود هغه د رسول دپاره خاص دې.خوپه الله قسم نبی ﷺ دا مال صرف د خپل ځان دپاه نه وو جمع كړې او ساتلې،اونه ئې خپل ذات ته ترجيح وركړې وه.بلكه دا مال ئې په تاسو خلقوكښې تقسيم كړې وو.تردې چه په هغې كښې د مال دا حصه باقی پاتې شوه.رسول الله ﷺ به هم د هغې نه په خپل اهل وعيال باندې خرچ كولو.د ټول كال خرچ به ئې هم د هغې نه وركړه.او نوره به ئې دالله تعالى په لار (جهاد وسله او نورو داسې قسم كارونو كښې) خرچ كوله.نبی ﷺ به په خپل ژوند كښې هم داسې كولو.بيا نبی ﷺ وفات شو.نو حضرت ابوبكر رضی الله عنه اوونيل.بيشك زه د الله تعالى د رسول ولی (او خليفه) يم.نودا مال حضرت ابوبكر رضی الله عنه په خپل لاس كښې واخستلو..اوو د رسول الله ﷺ د عمل مطابق به ئې په دغه مال كښې تصرف كولو.يعنی هم په هغه مصارفوكښې به ئې ددې ګټه خرچ كوله .په كوموكښې چه به نبی ﷺ خرچ كوله.او تاسو ټول خلق په هغه وخت كښې موجود وې.(اوتاسو ته علم دې) بيا حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عباس او حضرت علی رضی الله عنهما طرف ته متوجه شو.او وې ونيل.

قوله: <u>تَذْكُرَانِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ عَمِلَ فِيهِ كَمَا تَقُولَانِ</u> : تاسو دواړه دا ذكر كوئ.او وائې.چه ابوبكر رضی الله عنه ددې مال په تصرف كښې هم هغه شان وو. څنګه چه تاسو وائې.خودل دا دی.چه ستاسو خيال دا وو.چه تصرف كول هم مونږ لره پكار دې.او توليت زمونږ په لاس كښې پكار دې.ابوبكر رضی الله عنه په خپل لاس كښې دا تصرف ساتلې دې او زياتې ئې كړې دې. حالانكه ابوبكر رضی الله عنه په دې تصرف كښې رښتينې او مخلص وو.په سمه لاره او په حق وو. (حضرت عباس اوحضرت علی رضی الله عنهما ته د ابوبكر رضی الله عنه نه ګله په دې خبره وه.چه ددې مال

[1])سورة الحشر(ـ

توليت ئې مونږ ته ولې حوالنه نكړل،ولې ابوبكر رضي الله عنه مونږ عادلان او قابل اعتماد نه ګنړې.د دې دواړو بزرګانو د حضرت ابوبكر رضي الله عنه نه ددې خبرې ګله نه وه.چه دا مال مونږ ته په ميراث كښې ولې ملاؤ نشو.ځكه چه هغوى ته هم دا معلومه وه.چه د نبى ﷺ ميراث نه وى.ګله صرف د توليت اوپه دغه مال كښې د تصرف اختيارنه وركولو وه.دا خو دهغوى نقطه نظر وو.خود ابوبكر رضي الله عنه نقصه نظردا وو.كه په دې وخت كښې په دې مال كښې د تصرف اختيار او ددې توليت دوى ته حواله كړې شى.نو په دې سره به خلقو ته دا شك شى.چه د نبى ﷺ ميراث تقسيم شوې وى.نو ددې شبې د وجې حضرت ابوبكر رضي الله عنه حضرت عباس او حضرت على رضي الله عنهما ته په هغې كښې د تصرف اختيار نه وو وركړې.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى.چه د حضرت ابوبكر رضي الله عنه طرز عمل صحيح وو)

بيا حضرت ابوبكر رضي الله عنه وفات ش.نو زه د نبى ﷺاود حضرت ابوبكر رضي الله عنه په ځاې كيناستم.اوخليفه جوړ شوم.او ما دا مال د خپل امارت په اولنو دوو كالوكښې په خپله قبضه كښې اوساتلو.اوپه دې كښې مې هم هغه عمل كولو.كوم چه نبى كريم ﷺ او حضرت ابوبكر رضي الله عنه كولو.بيا تاسو دواړه ماته راغلئ.اوپه هغه وخت كښې ستاسو د دواړو خبرد يوه وه.او ستاسوخبره اتفاقى وه.نو ما تاسودواړو ته اووئيل. چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.((لا نورث ماتركنا صدقة)) بيا چه كله دوه كاله تير شو.نوزما اطمينان راغلو.كه اوس ددې مال تصرف تاسو دواړو ته حواله كړې شى. نو په دې كښې به څه قباحت نه وى.نو ما تاسو ته ونيلى وو.كه تاسو غواړئ.نو زه به دا جدائداد تاسوته حواله كړم.خو په دې شرط سره چه تاسو به د الله تعالى سره عهد او وعده كوئ.چه تاوسو به په دې جائيداد كښې هم هغه عمل كوئ.كوم چه به نبى كريم ﷺ او حضرت ابوبكر او ما كولو.ګنى تاسو په دې باره كښې زما سره خبرې مكوئ.تاسو دواړو ونيلى وو.چه هم په دې وعدې سره تاسو دا مال زمونږ حواله كړئ.نو ما تاسو دواړو ته حواله كړې وو.او چه اوس تاسو دواړه ماته راغلې ئې.آيا ددې نه علاوه تاسو په ما باندې څه بله فيصله كول غواړئ.

قوله: فَوَاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ لاَ أَقْضِي فِيهِ بِقَضَاءٍ غَيْرِ ذَلِكَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ: په هغه الله قسم،د چا په حكم چه زمكه او آسمان ولاړ دى.ترقيامته پورې به زه په دې كښې ددې نه سوا بله فيصله اونكړم.

كه تاسو دواړ ددې د انتظام نه عاجزه شوې ئې.نوماته ئې واپس كړئ.زه به ددې انتظام پخپله كوم.

قوله: فَحَدَّثْتُ هَذَا الْحَدِيثَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ: دا د زهرى رحمه الله قول دې.دوى فرمائى.چه ما دا حديث حضرت عروه بن الزبير رضي الله عنه ته بيان كړلو.نو عروه اووئيل.چه مالك بن اوس صحيح ونيلى دى.ما هم د حضرت عائشې رضي الله عنها نه اوريدلى وو.چه فرمائيل ئې.د نبى ﷺازواج مطهراتو رضي الله عنهن حضرت عثمان رضي الله عنه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته ليږلې وو.ازواج مطهراتود حضرت ابوبكر رضي الله عنه نه په هغه مال فئ كښې د خپلې اتمې حصې مطالبه كوله.كومه چه الله تعالى خپل نبى كريم ﷺ ته وركړې وه.نو ما هغوى (ازواج مطهرات) منع كړلې:اوما هغوى

ته ونیل.چه تاسو دالله تعالی نه نه ویریږئ. تاسو ته معلومه نه ده.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.((لانورث ماترکنا صدقة)) اوددې نه مراد د نبی ﷺ خپل ذات وو.البته د آل محمد نفقه به د هغه مال نه وی.حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه ما ازواج مطهراتو ته کله دا حدیث واورولو.نو هغوی منع شوې.(او هغوی په میراث کښې دخپلې حصې مطالبه پریخوده)

حضرت عروه رحمه الله فرمائی.چه دا مالونه کوم چه د صدقې وو.د حضرت علی رضی الله عنه سره وو. حضرت علی رضی الله عنه حضرت عباس رضی الله عنه ددې نه جدا کړو.(اوپه انتظامی اوموروکښې داختلاف په وجه نې حضرت عباس رضی الله عنه په دې کښې شریك نکړو) او په هغوی باندې زورآور پاتې شو.بیا دا اموال صدقه د حضرت حسن بن علی رضی الله عنه په قبضه کښې وو.اوبیا هغه د حضرت حسین بن علی رضی الله عنه په لاس کښې راغلل.اوبیا د علی بن حسین او حسن بن حسن په لاس کښې وو.او هغوی دواړو به وار په وار ددې انتظام کولو.او بیا دا د زید بن حسن په قبضه کښې راغلل.

قوله: وهی صدقة رسول الله ﷺ حقاً: اودا یقینی طور د رسول الله ﷺ صدقه وه.(ددې وجې په دې مال کښې نه میراث جاری شو.اونه دغه حضراتو د ذاتی ملکیت په طور دا استعمال کړې دی)

ترجمة الباب سره مطابقت: چونکه په دې روایت کښې چه د حضرت عباس او حضرت علی رضی الله عنهما دکومې مخاصمې ذکردې.هغه دهغه مالونوپه باره کښې وه.کوم چه د بنو نضیرو نه د فئ په طور حاصل شوی وو.ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا حدیث په ((باب حدیث بنی النضیر)) کښې دلته ذکر کړو.(۱)

بَابُ قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ

[۳۸۱۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأْذَنْ لِي أَنْ أَقُولَ شَيْئًا قَالَ قُلْ فَأَتَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا صَدَقَةً وَإِنَّهُ قَدْ عَنَّانَا وَإِنِّي قَدْ أَتَيْتُكَ أَسْتَسْلِفُكَ قَالَ وَأَيْضًا وَاللَّهِ لَتَمَلُّنَّهُ قَالَ إِنَّا قَدْ اتَّبَعْنَاهُ فَلَا نُحِبُّ أَنْ نَدَعَهُ حَتَّى نَنْظُرَ إِلَى أَيِّ شَيْءٍ يَصِيرُ شَأْنُهُ وَقَدْ أَرَدْنَا أَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ وحَدَّثَنَا عَمْرٌو غَيْرَ مَرَّةٍ فَلَمْ يَذْكُرْ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ أَوْ فَقُلْتُ لَهُ فِيهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ فَقَالَ أُرَى فِيهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ فَقَالَ نَعَمِ ارْهَنُونِي قَالُوا أَيَّ شَيْءٍ تُرِيدُ قَالَ ارْهَنُونِي نِسَاءَكُمْ قَالُوا كَيْفَ نَرْهَنُكَ نِسَاءَنَا وَأَنْتَ أَجْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ فَارْهَنُونِي أَبْنَاءَكُمْ قَالُوا كَيْفَ نَرْهَنُكَ أَبْنَاءَنَا فَيُسَبُّ

---

(۱) ددې حدې سره متعلق نور مباحث په ((باب فرض الخمس)) کښې اوګورئ.

أَحَدُهُمْ فَيُقَالُ رُهِنَ بِوَسْقٍ أَوْ وَسْقَيْنِ هَذَا عَارٌ عَلَيْنَا وَلَكِنَّا نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِي السِّلَاحَ فَوَاعَدَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ فَجَاءَهُ لَيْلًا وَمَعَهُ أَبُو نَائِلَةَ وَهُوَ أَخُو كَعْبٍ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْحِصْنِ فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ فَقَالَتْ لَهُ امْرَأَتُهُ أَيْنَ تَخْرُجُ هَذِهِ السَّاعَةَ فَقَالَ إِنَّمَا هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَأَخِي أَبُو نَائِلَةَ وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَتْ أَسْمَعُ صَوْتًا كَأَنَّهُ يَقْطُرُ مِنْهُ الدَّمُ قَالَ إِنَّمَا هُوَ أَخِي مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَرَضِيعِي أَبُو نَائِلَةَ إِنَّ الْكَرِيمَ لَوْ دُعِيَ إِلَى طَعْنَةٍ بِلَيْلٍ لَأَجَابَ قَالَ وَيُدْخِلُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مَعَهُ رَجُلَيْنِ قِيلَ لِسُفْيَانَ سَمَّاهُمْ عَمْرٌو قَالَ سَمَّى بَعْضَهُمْ قَالَ عَمْرٌو جَاءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو أَبُو عَبْسِ بْنُ جَبْرٍ وَالْحَارِثُ بْنُ أَوْسٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ قَالَ عَمْرٌو جَاءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ فَقَالَ إِذَا مَا جَاءَ فَإِنِّي قَائِلٌ بِشَعَرِهِ فَأَشَمُّهُ فَإِذَا رَأَيْتُمُونِي اسْتَمْكَنْتُ مِنْ رَأْسِهِ فَدُونَكُمْ فَاضْرِبُوهُ وَقَالَ مَرَّةً ثُمَّ أُشِمُّكُمْ فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ مُتَوَشِّحًا وَهُوَ يَنْفَحُ مِنْهُ رِيحُ الطِّيبِ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ رِيحًا أَيْ أَطْيَبَ وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَ عِنْدِي أَعْطَرُ نِسَاءِ الْعَرَبِ وَأَكْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ عَمْرٌو فَقَالَ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أَشَمَّ رَأْسَكَ قَالَ نَعَمْ فَشَمَّهُ ثُمَّ أَشَمَّ أَصْحَابَهُ ثُمَّ قَالَ أَتَأْذَنُ لِي قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا اسْتَمْكَنَ مِنْهُ قَالَ دُونَكُمْ فَقَتَلُوهُ ثُمَّ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ [ر:٢٣٧٥]

په جنګ بدر کښې کله چه مسلمانانو ته فتح نصيب شو.نوکعب بن اشرف ډير خفه شو.چه مسلمانانو ته غلبۀ حاصليږي.ږې وئيل.اوس په دنيا کښې د ژوند مزه او خوند باقي پاتې نشو.اوس خو «بطن الأرض خير من ظهرها» کيفيت دې، د مکې د قريشو تعزيت دپاره دې مکې ته اورسيدل.او د قريشو چه کوم خلق قتل شوى وو.ده د هغوى مرثې اوليکلې.اوهغه مرثې به ئې په اجتماعاتوکښې اورولې. په خپله به ئې هم ژړل.او خلق به ئې هم ژړول.د خانه کعبې غلاف ئې اونيولو.او خلقو ته ئې اووئيل.تاسو هم د خانه کعبې غلاف اونيسئ.اوعهد اوکړئ.چه ټول به يوځاې کيږو.اودمسلمانانو خلاف به يو فيصله کن جنګ کوو.(١) چه مدينې ته راغلو.نو ده د مسلمانانو ښځو په باره کښې په ،،تشبيب،، (٢) عشقيه اشعار وئيل شروع کړل.او دوى سره به ئې د خپل عشق او محبت تذکره کول شروع کړل. ښکاره خبره ده.چه ددې ښځودپاره دا خبره ډيره دردناکه اود پريشانئ باعث وه. اود هغوى د

---

١)البداية والنهاية (٤\٦)،.
ددې حرکتونونه علاوه دده د قتل يوبل سبب هم بيان شوې دې.حافظ ليکى.
((ووجدت فى فوائد عبدالله بن اسحاق .. لقتل كعب سببا آخر وهو أنه صنع طعاماً وواطأ جماعة من اليهود أنه يدعوا النبى ﷺ إلى الوليمة فإذا حضر فتكوا به (أى اقتلوه) ثم دعاء فجزم ومعه بعض أصحابه فأعلمه جبريل بما أضمروه بعد أن جالسه فقام فستره جبريل بجناحه فخرج فلما فقدوه تفرقوا فقال حينئذ :من ينتدب لقتل كعب ؟ ويمكن الجمع بتعدد الأسباب .. فتح البارى (٣٣٨\٧)_
٢) تشبيب د قصيدې په شروع کښې د عشق او محبت کوم اشعار وى.هغې ته وائى.)_

سړودپاره هم دا خبره ډیره د تکلیف او افسوس وه.بیا ئې په دې باندې هم بس اونکړو،.د نبی ﷺ په شان کښې ئې د هجو قصیدې لکیل شروع کړې.([1])
کله چه دا حرکتونه ډیر زیات شو.نو نبی ﷺ یوه ورځ اوفرمائیل.«من لکعب بن أشرف؟ فإنه قد آذی الله ورسوله» څوك دې چه دې (دا یهودی) کعب بن اشرف قتل کړی.ده الله اودهغه رسول ته تکلیف اورسولو.حضرت محمدبن مسلمه اودریدل ،اوهغوی اووئیل.تاسودا خوښه وئ.چه زه هغه قتل کړم؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل. ،نعم،،.(آو) نو حضرت محمدبن مسلمه عرض اوکو.«فاذن لی أن أقول شیأ» تاسو ماته اجازت راکړئ.که زه (مجمل او مبهم اندازکښې) څه خبرې اوکړم.(چه په هغې سره هغه خوشحالیږی.او بیا زما دپاره دهغه قابوکول آسان شی) نو نبی ﷺ ورته اجازت اوکړو.
دا خود بخاری روایت دې.د ابن اسحاق په روایت کښې دی.چه محمد بن مسلمه ﷺ ته کله نبی ﷺد کعب بن اشرف د قتل اجازت ورکړونو دې فکر مند شو. اوسوچ ئې کول.چه کومه طریقه اختیارکړې شی.دوه درې ورځې د سوچ کولونه پس د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.او عرض ئې اوکړو،حضرت ددې اجازت شته.چه زه هغه سره ملاؤ شم.اود ملاویدو نه پس د هغه د مطمئن کولودپاره د ابهام او اجمال په صورت کښې هغه سره څو خبرې اوکړم.نو نبی ﷺ ورته اجازت ورکړو.([2])
نومحمدبن مسلمه ﷺ د کعب بن اشرف د قتل په اراده باندې روان شو.د دوی سره ابونائله او د حضرت سعد بن معاذ ﷺ وراره حارث بن اوس هم وو.کعب بن اشرف ته راغلل.اوهغه ته ئې اووئیل.

قوله: إِنَّ هَٰذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا صَدَقَةً وَإِنَّهُ قَدْ عَنَّانَا وَإِنِّي قَدْ أَتَيْتُكَ أَسْتَسْلِفُكَ: دا سړې (مراد نبی کریم ﷺ دې) زمونږ نه د صدقې مطالبه کوی.او مونږ ئې په مشقت کښې اچولی یو.زه تاسو ته د قرض غوستلو دپاره راغلې یم.کعب بن اشرف چه دا واوریدل.نو وې وئیل.«وأیضاً والله لتملنه» په الله قسم تاسو به ددې نه زیات تنګ شئ.یعنی اوس خو لا شروع ده.وړاندې به اوګورئ چه څه صورتال به پیدا کیږی.اوس خو به لا نور تنګیدل وی.
محمد بن مسلمه ورته اووئیل.مونږ د هغه تابعداری کړې ده.نواوس نه غواړو.چه هغه پریږدو.تردې چه مونږ اوګورو چه انجام به څه وی؟ دمحمد بن مسلمه ﷺ مقصد دا دې.چه زمونږ د اسلام د غلبې انتظار دې.اوس خو په امتحان کښې راغلی یو.او ان شاء الله اسلام ته به غلبه حاصلیږی.اود «یدخلون فی دین الله أفواجاً» شان به ښکاره کیږی.خوکعب بن اشرف دخپل ذهنیت په وجه ددې کلام نه دا اوګڼړل.چه مونږ څونکه دده اتباع کړې ده.او مونږ عرب خلق یو.دخپل قول او وعدې نه انحراف خو نشو کولې.ددې وجې اوس مونږ په دې

[1])البدایة والنهایة (۴/۶)..
[2])البدایة والنهایة (۴/۷)_

انتظارکښې یو.چه ددوی خاتمه به کله کیږی.چه خاتمه ئې اوشی.نو زمونږ خان به خلاص شی.کعب بن اشرف دمحمدبن مسلمهﷺ د کلام نه د خپل ذهنیت مطابق دا تاثر واخستلو.

قوله: وَقَدْ أَرَدْنَا أَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ : مونږ غواړو.چه ته مونږ ته قرض راکړې.یو وسق یا (راوی وئیلی دی) دوه وسق،کعب بن اشرف اووئیل.ها ،اوس دده خبث باطن ته اوګورئ.وې وئیل.ما سره څه څیزګانړه کیږدئ.محمد بن مسلمهﷺ اود هغه ملګرو اووئیل.ته څه څیز غواړې .مونږ کوم څیز تاسره ګانړه کیږدو.وې وئیل.خپلې ښځې ماسره ګانړه کړئ.هغوی ورته اووئیل.مونږ خپلې ښځې تا سره څنګه ګانړه کړو.ته خو د عربو ډیرښکلې سړې ئې.(ښځې ډیر په ښائست باندې عاشقې کیږی.که هغوی په تا عاشقانې شوې.نو زمونږ به څه کیږی) نو وې وئیل.ښه بیا خپل خامن زما سره ګانړه کړئ. دوی ورته اووئیل.خپل خامن تا سره څنګه ګانړه کولې شو.روستو به ټول عمر هغوی ته پیغور ورکولې شی.چه دا هغه دی.چه په وسق دوو وسقو کښې ګانړه شوی وو.دا زمونږ دپاره شرم دې.

قوله: وَلَكِنَّا نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ :(١) البته مونږ به تا سره خپلې وسلې ګانړه کیږدو.سفیان وائی. «اللامة» نه مراد وسله اوهتیار دی.

نو محمد بن مسلمه هغه سره د راتلو وعده اوکړه.اودشپې هغه ته راغلو.دوی سره ابونائیله ﷺ هم وو.کوم چه د کعب بن اشرف رضاعی ورور وو.(د ابونائله نوم سلکان بن سلامه دې) کعب دوی قلعې ته راوغوښتل.اوپه خپله دقلعې نه هغه طرف ته راکوز شو.ښځې کعب ته اووئیل.د شپې په دې تیاره کښې چرته ځې.نو کعب ورته اووئیل.صرف محمد بن مسلمه او زما ورور ابونائله دې.

دعمروبن دینار نه علاوه د بل راوی بیان دې.چه د کعب بن اشرف ښځې په دې موقع دا هم وئیلی وو.چه ما خو داسې آواز واوریدل.لکه چه د هغې نه د وینې قطرې څاڅی.نو ته د کور نه مه اوځه.(٢)

کعب اووئیل.خپل ورو محمد بن مسله او پئ شرك ابونائله ته ورځم.هغوی مې غواړی.ځکه چه «إِنَّ الْكَرِيمَ لَوْ دُعِيَ إِلَى طَعْنَةٍ بِلَيْلٍ لَأَجَابَ» شریف سړې که د شپې د نیز بازئ دپاره راوبللې شی. نو هغه ئې قبلوی.

محمد بن مسلمه خپل ځان سره ابوعبس بن جبر،حارث بن اوس او عباد بن بشرﷺ راوستی وو.یعنی عمرو وائی.چه هغه ځان سره دوه کسان راوستې وو.او د عمر نه علاوه بل

---

(١) الأمة بتشديد اللام وس٠-٠كون الهمزة قال سفيان يعنى السلاح وقال غيره من أهل اللغة الدرع (فتح البارى ٧/٣٣٩)_

(٢) وفى البداية والهنهاية (٤١٧) فأخذت إمرأة بناحيتها وقال أنت إمرو محارب وإن أصحاب الحرب لا ينزلون فى هذه الساعة قال إنه أبونائلة لو وجدنى نائماً ما أيظنى فقالت والله إنى لأعرف فى صوته الشر)_

راوي واني.چه هغه دا دري كسان خان سره راوستي وو.[۱]
محمدبن مسلمه خپلو ملگروته وئيلي وو.چه كله كعب راشي.نو زه به د هغه ويخته د بويولوډپاره اونيسم.كله چه تاسو ته يقين اوشي.چه ما د هغه په سر باندې مكمل قابو بيا موندو.نو تاسو به ئې اونسئ.اوقتل به ئې كړئ.

قوله: فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ مُتَوَشِّحًا وَهُوَ يَنْفَحُ مِنْهُ رِيحُ الطِّيبِ: نو كعب څادر اغوستې وو.او د هغوى طرف ته راكوز شو.دهغه د بدن نه خوشبوئي تله.نو محمدبن مسلمه اووئيل.چه د نن پشان خوشبوى چرته نه ده محسوس كړې.كعب اووئيل.ما سره د عربو هغه حسين اوجميل ښخه ده.كومه چه هروخت په عطرواوخوشبوې كښې اوسيږى.په دې باندې محمدبن مسلمه اووئيل. كه تاسو اجازت راكوئ.چه زه ستاسو سر بوې كړم.كعب اووئيل.بوئې كړه.نو محمد بن مسلمه دهغه سره بوې كړه.اوخپلو ملگروته ئې هم د بويولوډپاره اووئيل.محمد بن مسلمه دوباره د بويولواجازت اوغوستل.كعب بن اشرف ورته دوباه اجازت وركړو.كله چه په بويول بويولو كښې محمد بن مسلمه ﷺ دهغه سره قابو كړو.نو خپلو ملگرو ته ئې اووئيل،((دونك)) حمله كوئ.نو هغوى حمله اوكړه. اودې ئې قتل كړو.اورغلل نبى ﷺ ته ئې خبر وركړو.نبى ﷺ چه د دې شاتم رسول او موذى رسول د قتل خبر واوريدو.نو دالله تعالى شكرئې ادا كړو.روسته يهوديان دخپل سردار دقتل تپوس كولودپاره نبى ﷺ ته راغلل.نو نبى ﷺ ورته دهغه د حركتونو تفصيل اوخودل.نوهغوى چپ واپس شول.[۲]

دا واقعه كله پيښه شوې وه: ① بعضې حضراتو په نيز د كعب بن اشرف د قتل واقعه په ۱۴ ربيع الاول ۳هـ كښې پيښه شوې وه.

② دمحمدبن اسحاق رائې دا ده.چه په رمضان ۳هـ كښې دا واقعه پيښه شوې وه.[۳]

محمدبن مسلمه رضى الله عنه: ددوى تعلق د انصارو د اوس قبيلې سره وو.په بدر او نورو ټولو جنگوكښې شريك شوې وو.ددوى وفات په ۴۳هـ يا ۴۷هـ يا ۴۶هـ په مدينه منوره كښې د دوه اويا كالو په عمر كښې شوې دې. مروان بن حكم كوم چه په هغه وخت كښې دمدينې منورې حاكم وو.هغه ددوى د جنازې مونځ كړې وو.[۴]

---

[۱] په بعضې رواياتوكښې د محمد بن مسلمه سره صرف د ابونائيله ذكر دې.په بعضوكښې د دوو سړو ذكر دې.خو په حقيقت كښې دا ټول پنځه ملگرى وو.① محمدبن مسلمه② ابونائله③ ابوعبس بن جبر④ حارث بن اوس ⑤ اوعباد بن بشر(فتح البارى(۹۱۷/۳۳)_
[۲])فتح البارى(۱۷/۳٤۰)_
[۳])عمدة القارى(۱۳۱/۱۷)_
[۴])عمدة القارى(۱۳۲/۱۷)_

باب = قَتْلِ أَبِي رَافِعٍ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الْحُقَيْقِ

وَيُقَالُ سَلَّامُ بْنُ أَبِي الْحُقَيْقِ كَانَ بِخَيْبَرَ وَيُقَالُ فِي حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ وَقَالَ الزُّهْرِيُّ هُوَ بَعْدَ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ

[۳۸۱۲\۳۸۱۳] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا إِلَى أَبِي رَافِعٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهُ

[۳۸۱۳] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي رَافِعٍ الْيَهُودِيِّ رِجَالًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَتِيكٍ وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِينُ عَلَيْهِ وَكَانَ فِي حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ لِأَصْحَابِهِ اجْلِسُوا مَكَانَكُمْ فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ لَعَلِّي أَنْ أَدْخُلَ فَأَقْبَلَ حَتَّى دَنَا مِنَ الْبَابِ ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهِ كَأَنَّهُ يَقْضِي حَاجَةً وَقَدْ دَخَلَ النَّاسُ فَهَتَفَ بِهِ الْبَوَّابُ يَا عَبْدَ اللَّهِ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ أَغْلَقَ الْبَابَ ثُمَّ عَلَّقَ الْأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ قَالَ فَقُمْتُ إِلَى الْأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا فَفَتَحْتُ الْبَابَ وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ وَكَانَ فِي عَلَالِيَّ لَهُ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ أَهْلُ سَمَرِهِ صَعِدْتُ إِلَيْهِ فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا أَغْلَقْتُ عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ قُلْتُ إِنِ الْقَوْمُ نَذِرُوا بِي لَمْ يَخْلُصُوا إِلَيَّ حَتَّى أَقْتُلَهُ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهِ لَا أَدْرِي أَيْنَ هُوَ مِنَ الْبَيْتِ فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ هَذَا فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَأَنَا دَهِشٌ فَمَا أَغْنَيْتُ شَيْئًا وَصَاحَ فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ فَأَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ مَا هَذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ فَقَالَ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ قَالَ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أَثْخَنَتْهُ وَلَمْ أَقْتُلْهُ ثُمَّ وَضَعْتُ ظُبَةَ السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ بَابًا بَابًا حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ لَهُ فَوَضَعْتُ رِجْلِي وَأَنَا أُرَى أَنِّي قَدِ انْتَهَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ فَقُلْتُ لَا أَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَعْلَمَ أَقَتَلْتُهُ فَلَمَّا صَاحَ الدِّيكُ قَامَ النَّاعِي عَلَى السُّورِ فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَقُلْتُ النَّجَاءَ فَقَدْ قَتَلَ اللَّهُ أَبَا رَافِعٍ فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ ابْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ

[٣٨٣] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحٌ هُوَ ابْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي رَافِعٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَتِيكٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُتْبَةَ فِي نَاسٍ مَعَهُمْ فَانْطَلَقُوا حَتَّى دَنَوْا مِنَ الْحِصْنِ فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ امْكُثُوا أَنْتُمْ حَتَّى أَنْطَلِقَ أَنَا فَأَنْظُرَ قَالَ فَتَلَطَّفْتُ أَنْ أَدْخُلَ الْحِصْنَ فَفَقَدُوا حِمَارًا لَهُمْ قَالَ فَخَرَجُوا بِقَبَسٍ يَطْلُبُونَهُ قَالَ فَخَشِيتُ أَنْ أُعْرَفَ قَالَ فَغَطَّيْتُ رَأْسِي وَجَلَسْتُ كَأَنِّي أَقْضِي حَاجَةً ثُمَّ نَادَى صَاحِبُ الْبَابِ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَدْخُلَ فَلْيَدْخُلْ قَبْلَ أَنْ أُغْلِقَهُ فَدَخَلْتُ ثُمَّ اخْتَبَأْتُ فِي مَرْبِطِ حِمَارٍ عِنْدَ بَابِ الْحِصْنِ فَتَعَشَّوْا عِنْدَ أَبِي رَافِعٍ وَتَحَدَّثُوا حَتَّى ذَهَبَتْ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى بُيُوتِهِمْ فَلَمَّا هَدَأَتِ الْأَصْوَاتُ وَلَا أَسْمَعُ حَرَكَةً خَرَجْتُ قَالَ وَرَأَيْتُ صَاحِبَ الْبَابِ حَيْثُ وَضَعَ مِفْتَاحَ الْحِصْنِ فِي كَوَّةٍ فَأَخَذْتُهُ فَفَتَحْتُ بِهِ بَابَ الْحِصْنِ قَالَ قُلْتُ إِنْ نَذِرَ بِي الْقَوْمُ انْطَلَقْتُ عَلَى مَهَلٍ ثُمَّ عَمَدْتُ إِلَى أَبْوَابِ بُيُوتِهِمْ فَغَلَّقْتُهَا عَلَيْهِمْ مِنْ ظَاهِرٍ ثُمَّ صَعِدْتُ إِلَى أَبِي رَافِعٍ فِي سُلَّمٍ فَإِذَا الْبَيْتُ مُظْلِمٌ قَدْ طَفِئَ سِرَاجُهُ فَلَمْ أَدْرِ أَيْنَ الرَّجُلُ فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ فَعَمَدْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ وَصَاحَ فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ جِئْتُ كَأَنِّي أُغِيثُهُ فَقُلْتُ مَا لَكَ يَا أَبَا رَافِعٍ وَغَيَّرْتُ صَوْتِي فَقَالَ أَلَا أُعْجِبُكَ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ فَضَرَبَنِي بِالسَّيْفِ قَالَ فَعَمَدْتُ لَهُ أَيْضًا فَأَضْرِبُهُ أُخْرَى فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا فَصَاحَ وَقَامَ أَهْلُهُ قَالَ ثُمَّ جِئْتُ وَغَيَّرْتُ صَوْتِي كَهَيْئَةِ الْمُغِيثِ فَإِذَا هُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ فَأَضَعُ السَّيْفَ فِي بَطْنِهِ ثُمَّ أَنْكَفِئُ عَلَيْهِ حَتَّى سَمِعْتُ صَوْتَ الْعَظْمِ ثُمَّ خَرَجْتُ دَهِشًا حَتَّى أَتَيْتُ السُّلَّمَ أُرِيدُ أَنْ أَنْزِلَ فَأَسْقُطُ مِنْهُ فَانْخَلَعَتْ رِجْلِي فَعَصَبْتُهَا ثُمَّ أَتَيْتُ أَصْحَابِي أَحْجُلُ فَقُلْتُ انْطَلِقُوا فَبَشِّرُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي لَا أَبْرَحُ حَتَّى أَسْمَعَ النَّاعِيَةَ فَلَمَّا كَانَ فِي وَجْهِ الصُّبْحِ صَعِدَ النَّاعِيَةُ فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ قَالَ فَقُمْتُ أَمْشِي مَا بِي قَلَبَةٌ فَأَدْرَكْتُ أَصْحَابِي قَبْلَ أَنْ يَأْتُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَشَّرْتُهُ [ر: ٢٨٥٩]

په دې باب کښې د ابو رافع عبدالله بن ابى الحقيق د قتل بيان دې.ده ته سلام بن ابى الحقيق هم وائى.دې په خيبر کښې اوسيدل.يو قول دا هم دې.چه د حجاز په زمکه کښې په خپله يوه قلعه کښې اوسيدل.کيدې شى.چه دده قلعه د خيبر اوحجاز په مينځ کښې چه کوم سرحد وو.دهغې په مينځ کښې وه.په دې طريقه به په دواړو قولونو کښې تطبيق راشى.

ابورافع: ابورافع په مالداريهوديانو کښې د کعب بن اشرف په هم خيالوخلقو کښې وو.دغطفان قبيلو ته د مسلمانانو خلاف ده ډير لوې امداد ورکړې وو.په انصاروکښې چه کله د اوس د قبيلې حضراتو د کعب بن اشرف قصه ختمه کړه.نو خزرج قبيلې د ابو رافع د قتل کولو اراه اوکړه.خکه چه د انصارو دې دوو قبيلو په نيکو کښې د يوبل نه د وړاندې والى کوشش کولو.

نو عبدالله بن عتيک رضي الله عنه اووده سره څو خزرجى صحابو رضي الله عنهم د نبى ﷺ نه اجازت اوغوستل.

چه ابو رافع قتل کړی.نبی ﷺ ورته اجازت ورکړو.(١)
ددوی د قتل واقعه کله پیښه شوې وه.په دې کښې مختلف اقوال دی.

① د بعضې حضراتو رائې دا ده.چه په رجب کال ٣هـ کښې دې قتل شوې وو.

② د بعضې حضراتو په نیز په کال ٣هـ کښې دا واقعه پیښه شوې وه.

③ بعضې حضرات وائی.چه په کال ٥هـ ابو رافع قتل شوې وو.

④ د واقدی خیال دې.چه دا واقعه د کال ٦هـ وه.د واقدی خیال ته علامه عینی رحمه الله وهم وئیلې دې.خو حافظ ابن کثیر رحمه الله د غزوه خندق نه پس په ٦هـ کښې د ابو رافع قتل راجح ګرځولې دې،حافظ ابن حجر رحمه الله هم د ابن سعد په حوالې سره«سنة ست» نقل کړې دې.(٢)
امام بخاری رحمه الله د زهری رحمه الله د قول نه صرف دومره اوخودله.چه د کعب بن اشرف د قتل نه پس د ابورافع د قتل واقعه پیښه شوې وه.او د کعب بن اشرف د قتل واقعه په ٣هـ شوې وه.
د ابورافع د قتل تفصیل بیانوی.حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی.(٣) چه نبی ﷺ د ابورافع یهودی د قتل دپاره د انصارو څو کسان اولیږل... کله چه دا کسان د ابو رافع قلعه ته نزدې اورسیدل.

قوله: وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ: په دغه وخت کښې نمر پریوتې وو.او خلقوخپل څاروی خرولی وو.اوواپس شوی وو.
سرح: هغه څاروو ته وائی.چه په هغې کښې اوښ،غوا،چیلۍ او ګډې دی وی.(٤) عبدالله بن عتیك خپلو ملګرو ته وئیلی وو.تاسو هم دلته ایسار شئ.

قوله: فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ: زه لړ څم دربارن سره څه چل ول کوم.کیدې شی.چه دننه د تلو موقع ملاؤ شی.
نو دروازې ته نزدې راغلو.او خپلو جامو کښې ئې ځان داسې پټ کړلو،لکه چه د اودس ماتی دپاره ناست دې.کله چه قعلې ته ټول خلق دننه شول.نو دربان ورته آواز ورکړو.اې د الله بنده که دننه د راتلو اراده دې وی.نو راشی.زه دروازه بندوم.حضرت عبدالله بن عتیك رضی الله عنه فرمائی.چه دا آواز مې واوریدې.نود نورو خلقوسره یوځائې زه دننه داخل شوم.او د قلعې د دروازې دننه د خرو په غوجل کښې زه پټ کیناستم.کله چه ټول خلق دننه داخل شول.نو دربان دروازه بنده کړه.

---

(١)فتح الباری(٣٤٣/٧و ٣٤٢) والبداية والنهاية (١٣٧/٤)_
(٢)عمدة القاری(١٣٤/١٧) وفتح الباری(٣٤٣/٧) والبداية والنهاية (١٣٧/٤)_
(٣)امام بخاری رحمه الله د حضرت براء بن عاز رضی الله عنه دوه روایتونه د اسرائیل او یوسف په طریق سره تفصیلاً ذکر کړی دی.د ابو رافع د قتل واقعه چه دواړه روایاتوته نظراوکړې شی.بیان شوې ده.په دواړو روایاتوکښې په کوم ځائې کښې اختلاف دې.د هغې خودلې هم شوې ده._
(٤)عمدة القاری(١٣٦/١٧)_

قوله: ثُمَّ عَلَّقَ الْأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ: بيا ئې چابياني يوميخ ته زوړندې کړې.

((وتد)) (فتح الواو وتشديد الدال) وقد (ميخ) ته وائى. علامه كرمانى رحمه الله فرمائى. ((وتد)) كښې ،،تاء،، په ،،دال،، بدله شوې ده. اوبه دال كښې مدغمه شوې وه. ود ترې جوړ شوې دې.[1]

قوله: وَضَعَ مِفْتَاحَ الْحِصْنِ فِي كَوَّةٍ: دربان د قلعې چابياني په يو تاخ كښې زوړندې كړې، په تاخ كښې يو ميخ وو. هغې ميخ ته به چابياني زوړندولې شوې.

الاغاليق: دا د ،،غلق،، جمع ده. ددې نه مراد چابياني دى.[2] په اصل كښې ،،غلق،، تالې ته وائى. خو چونكه په چابى باندې تاله كهولاويږى. ددې وجې چابئ ته هم ،،غلق،، وئيلې شى.

الكوة: روشن دا ته وائى. مراد ترې دلته تاخ دې.

قوله: فَقُمْتُ إِلَى الْأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا فَفَتَحْتُ الْبَابَ: عبدالله بن عتيك رضي الله عنه فرمائى. چه زه ورغلم. چابياني مې راواچتې كړې. او دروازه مې پرانسته. يعنى د قلعې دروازه مې پرانسته. لكه څنګه چه په وړاندې روايت كښې راغې.

الاقاليد: دا د ،،اقليد،، جمع ده. چابئ ته وائى.

قوله: وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ وَكَانَ فِي عَلَالِيَّ لَهُ: علالى: دا د ((علية)) (بضم العين وكسرها وكسر اللام وتشديدها وتشديد الياء) جمع ده. بالاخانې ته وائى.

نو كله چه قصه بږ (قصې بيانونكى) خلق د ابورافع نه لاړل. نو زه د كمرې طرف ته ورغلم. كله چه به مې يوه دروازه پرانسته. نو د دننه به مې بندوله. ددې دپاره كه چرته شور جوړ شى. او بته اولګى نو چه څوك دننه نشى راتلې. ترڅوچه ما دې قتل كړې نه وى. نو زه ابو رافع ته اورسيدم. هغه په يوه تياره كمره كښې دخپل اهل وعيال سره يوځاى ملاست وو. خوماته دا معلومه نه وه. چه ابو رافع په كور كښې كوم ځاى دې؟ ددې وجې ما آواز اوكړو ابو رافع. هغه اووئيل؟ څوك ئې؟ د كوم طرف نه چه دا آواز راغلو. هغ طرف ته زه وروړاندې شوم. اوپه توره مې يوګذار اوكړو. خوم زه ويريدم. ددې وجې كامياب نشم. كله چه هغه چغه كړې. نو زه د كمرې نه رابهرشوم. اولږ وخت بهرايسارشوم. بيا كمرې ته ورغلم. او آواز مې بدل كړو. ما اووئيل. ابورافع دا په كمره كښې څه آواز وو. هغه اووئيل. ستا مور دې هلاكه شى. يوكس اوس لږ غوندې وړاندې په توره په ما ګذار اوكړو.[3] كله چه ما بنه تسلى اوړه. چه د كومې ځاې نه خبرې كوى. نو يو مضبوط ګذار مې پرې اوكړو. نو قتل نشو.

---

[1])عمدة القارى (۱۷\۱۳۷)_

[2])غلق.. ما يغلق به الباب والمراد بها المفاتيح كأنه كان يغلق بها وفتح بها (فتح البارى(۷\۳٤۳)_

[3])وزاد فى رواية قال فعمدت له أيضاً فأضربه أخرى فلم تغن شيأ فصاح وقام أهله ثم جئت وغيرت صوتى كهيئة المستغيث فإذا هو مستلق على ظهره وفى رواية ابن اسحاق فصاحت إمرأته فنوهت بنا فجعلنا نرفع السيف عليها ثم نذكر نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن قتل النساء فنكف عنها (فتح البارى(۷\۳٤٤)_

قوله: ثُمَّ وَضَعْتُ ظبة السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ: [1]
بيا ما د تورې تيره طرف دهغه په خيټه باندې كيخودو.تردې چه هغه دهغه د شا پورې اورسيدل.او زما يقين راغلو.چه ما هغه قتل كړو.
ضبيب السيف: د ضبيب معنى د وينې تويول راځى.د علامه خطابى رحمه الله خيال دې، چه دا لفظ دلته صحيح نه دې.صيحح لفظ «ظبة السيف» دې.چه معنى ئې د تورې تيرهٔ طرف راځى. د «ظبة» جمع «ظبات» ده.[2]
اوس زه واپس شوم.اويوه يوه دروازه كومه چه ما د ننه نه بنده كړې وه.هغه به مې كهولاوهله. تردې چه .زه پوړو ته راورسيدم.ما دا اوګنړل اوخپله ښئ پښه مې لاندې كيخوده. چه جوړې زه زمكې ته راورسيدم.حالانكه زمكه لا لرې وه.دغه شان زه د پوړو نه راګذار شوم.دخوارلسمې سپوږمئ شپه وه.د راپريوتو په وجه زما پنډئ ماته شوه.نوما په خپل پټكى باندې هغه اوتړله.
په يو روايت كښې «فانكسرت ساقى» دې.پنډئ مې ماته شوه.او په دويم روايت كښې «فانخلعت رجلى»زما ديښې جوړ بې ځايه شو.په دواړو رواياتونو كښې تعرض دې.ددې جواب دا دې.چه دواړه خبرې به شوې وى.جوړ به ئې هم بې ځايه شوې وى.اوپنډئ به ئې هم مات شوې وى.يا داسې اووايه.چه د جوړ بې ځايه كيدو نه ئې د پنډئ په ماتيدو سره تعبير كړې دې.
فرمائى.چه ما دا فيصله اوكړه.چه ددې ځاې نه به ترهغه وخته پورې نه ځم. ترڅو چه دا معلومه شوې نه وى.چه ابورافع قتل شوې دې.نو زه د قلعې د دروازې سره ناست وم.كله چه چرګه د صبا د وخت آذان اوكړو.نودمرګ خبر وركونكې د قلعې په ديوال باندې اوختل.او وې وئيل.«أنعى أبا رافع تاجرأهل الحجاز» د اهل حجاز دسوداګرابورافع د مرګ اعلان كوم.
دعربو رواج وو.چه كله به څوك لوئ سړې مړ شو،نو په اوچت ځاې به اوختل. اودهغه د مرګ اعلان به ئې كولو.چه فلانى سړې مړ شو.
چه دا خبر مې واوريدو.نو زه خپلوملګروته راورسيدم.هغوى ته ما اووئيل. «النجاء» تادى كوئ. الله ابورافع قتل كړو.
په دويم روايت كښې دى.))أَضَعُ السَّيْفَ فِي بَطْنِهِ ثُمَّ أَتَّكِئُ عَلَيْهِ« يعنى ما دهغه په خيټه باندې توره كيخوده.اوبيا مې هغې ته زور وكړو،.تردې چه هغه هډوكى ته اورسيده،په دغه دويم روايت كښې دا هم دى.چه دابورافع د مرګ د اعلان نه پس چه زه راپسيدم.او راروان شوم.نودډيرې زياتې خوشحالئ دوجې ماته دخپلې پښې د درداحساس نه كيدل.درد خو وو.

---

[1])وفى رواية يوسف: فاضع السيف فى بطنه ثم أتكى عليه حتى سمعت صوت العظم)_
[2])فتح البارى(۷/ ٤ ٣٤)_

خود خوشحالي: د وجې په هغه وخت کښې دهغې درد احساس ختم شوې وو.
دنبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم.اوتفصيل مې ورته واورول.نبي ﷺاوفرمائيل.خپله پښه دې اوغزوه.ما پښه اوغزوله.نبي ﷺپرې لاس راښکل.پښه داسې ټيك شوه.لکه چه ما هډو په دې کښې څه تکليف نه وو محسوس کړې.
ددې مهم دپاره نبي ﷺشپږ صحابه کرام ليږلی وو.① عبدالله بن عتيك② مسعود بن سنان③ عبدالله بن انيس④ ابوقتاده⑤ خزاعی بن اسود⑥ او عبدالله بن عتبه.. نبي ﷺ حضرت عبدالله بن عتيك رضي الله عنه دهغوی امير جوړ کړې وو.اوهم هغه ابو رافع قتل کړو.
حضرت عبدالله بن عتيك رضي الله عنه په جنګ احد کښې شريك وو.اوپه جنګ يمامه کښې دوی شهيد شوی وو.بعضې حضرات وائی.چه عبدالله بن عتيك په جنګ صفين کښې دحضرت علي رضي الله عنه سره ملګرې وو.اود جنګ صفين نه پس وفات شوی دی.[1] والله اعلم.

بَاب غَزْوَةِ أُحُدٍ

امام بخاری رحمه الله غزوه احد په دولس بابونوکښې بيان کړې ده.

① بَاب غَزْوَةِ أُحُدٍ ② بَاب إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا ... ③ بَاب قَوْلِ اللهِ تَعَالَى إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ④ بَاب إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ ⑤ بَاب ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ ... ⑥ بَاب لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ... ⑦ بَاب ذِكْرِ أُمِّ سَلِيطٍ ⑧ بَاب قَتْلِ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ⑨ بَاب مَا أَصَابَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْجِرَاحِ يَوْمَ أُحُدٍ ⑩ بَاب الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ ⑪ بَاب مَنْ قُتِلَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ أُحُدٍ ⑫ بَاب أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ

دغزوه بدرپشان غزوه احد هم حضرت شيخ الحديث مد ظلهم اول په تاريخي تفصيل سره بيان کړې ده.اوددې نه پس ئې ذ ابواب بخاری او په دې کښې د ذکرشوو احاديثو تشريح بيان کړه.البته د تکرار نه د بچ کيدو دپاره کوم واقعات چه د بخاری په احاديث کښې په تفصيل سره راروان دی.هغه ئې په ابتداء کښې نه دی ذکرکړې.لك دحضرت حمزه رضي الله عنه د قتل واقعه ،چونکه دا واقعه پخپله په بخاری کښې د مستقل باب لاندې په تفصيل سره بيان شوې ده.څکه په شروع کښې نه ده ذکرشوې.
دې ځاې نه امام بخاری جنګ احد بيانوی.
احد: احد د يو غر نوم دې.کوم چه د مدينې منورې نه درې ميله فاصله باندې واقع دې.دې غرته احد ددېوجې وائی.چه دا جدا او يودې.[2]
دجنګ احد سبب او د مشرکانو تياری: په جنګ بدرکښې چونکه د قريشو کافرانو ته سخت زخم لګيدلې وو.ددې وجې هغوی سوزيدل.اودمسلمانانو نه د انتقام اخستلوسوچ ئې

---

[1])عمدة القاری(۱۷\۱۳۵)_
[2])البداية والنهاية)_

کول.د ابوسفیان قافله د تجارت دکومې په تعاقب کښې چه مسلمانان د مدینې منورې نه وتلي وو.هغه صحیح سلامت مکې ته رسیدلې وه.په دغه قافله کښې چه کوم سامان وو.هغه ډیر زیات وو.ابوسفیان بن حرب، عکرمه بن ابی جهل، صفوان بن امیه او حارث بن هشام وغیره د قریشو سرداران په ،،دارندوه،، کښې جمع شول، اوهغوی دا فیصله اوکړه.چه په دې قافله کښې چه کوم سامان تجارت وو.د هغې اصلی رقم (یعنی راس المال) خوبه ټولو ته واپس کړې شی.البته کومه ګټه چه شوې ده.هغه به د محمد(ﷺ) خلاف د جنګ په تیاری کښې خرچ کولې شی.دې سره سره هغوی خواه اوشا قبیلو ته هم خبر اوکړو.او ورته ئې اووئیل.چه د مسلمانانود مقابلې دپاره مونږ ډیرپه لویه تیاریٔ سره یو.تاسو خلق هم زمونږ سره شریك شئ.(۱)

دغه شان دوی د درې زره ډیرلوې لښکرجمع کولوکښې کامیاب شول.دا لښکرپه ۵ شوال ۳ھ کښې د مکې نه روان شو.په لښکر کښې اووه سوه په زرغو کښې پټ کسان وو.(۲) درې زره اوښان وو.دوه سو اسونه وو.اوپنځلس ښځې هم په دې ارادې سره ورسره شوې وې.چه دوی به رجزیه اشعار وائی.(۳) اوجنګیدونکی به تیزوی.دغه شان د دوی د عزت او ناموس د وجې به خلق په جوش او جذبې سره جنګیږی.(۴)

مسلمانانوته د حضرت عباس رضی الله عنه د وړاندې نه اطلاع ورکول: حضرت عباس بن عبدالمطلب ﷺ کوم چه په دغه وخت کښې په مکه مکرمه کښې مقیم وو.هغوی سمدستی یو تیز تلونکې قاصد ته خط ورکړو.او مکې ته ئې روان کړو.اوورته ئې اووئیل.چه ته زر ترزره مدینې ته اورسه.او نبی ﷺ ته د قافلې خبر ورکړه.په درې ورځو کښې دننه دننه ستا دپاره رسیدل پکار دی.نو هغه سور نبی ﷺ ته اورسیدل.او د صورتحال نه ئې دخبرولوخط نې دوی ته ورکړو.(۵)

د قریشو د لښکرحال معلومولودپاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم روانیدل: نبی ﷺ دوه انصاری صحابه حضرت انس او حضرت مونس ﷺ مقرر کړ.چه دوی لاړ شی.اود قریشو د لښکر حال معلوم کړی.دا حضرات لاړل.او واپس راغلل.خبر ئې ورکړو.چه لښکرنزدې رارسیدلې دې.حضرت حباب بن منذر ﷺ نبی ﷺ اولیږلو.چه ته لاړه شه.او اوګوره چه د لښکرشمار څومره دې؟ هغوی لاړل اوټیك ټیك اندازه ئې اوکړه.او واپس راغلو.خبر ئې ورکړ، چه درې زرو ته نزدې کسان دی.(۶)

---

۱)الکامل لابن اثیر(۱۰۳\۲) وسیرة ابن هشام (۶۴\۳)
۲)تاریخ الطبری (۱۹۰\۲)_
۳)ابن هاشم په خپل سیرت کښې ددې ښځو نومونه او د قبیلو ذکر کړې دې. سیرة ابن هشام (۶۶\۳)
۴)تاریخ الطبری (۱۹۰\۲)_
۵)طبقات ابن سعد (۳۷\۲) سیرة المصطفی (۱۸۷\۲) السیرة الحلبیة (۲۱۷\۲)_
۶)طبقات ابن سعد(۳۷\۲) السیرة الحلبیة (۲۱۸\۲)_

د نبی ﷺ د صحابو رضی الله عنهم سره مشوره: د شپې حضرت سعد بن معاذ،حضرت سعد بن عباده او حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنهم د نبی ﷺ د کورنه ګیرچاپیره څوکیرداری اوکړه.او څه دستې مقرر کړې شول.چه هغوی مدینې منورې ته چه کومې لارې د داخلیدو دی.په هغې باندې کینی.دې دپاره چه د شپې ناڅاپی حمله دفع کړې شی.[1] راروان صبا د جمعې ورځ وه.نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم جمع کړل.اوهغوی سره ئې مشوره اوکړه.چه څه صورت اختیارول پکار دی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.چه ما خوب لیدلې دې.چه زه په یوه قلعه کښې یم.او یوه غوا ذبح کړې شوه.اوما خپله توره اوخوزوله.نودهغې مخکښې حصه ماته شوه.بیا ما دوباره اوخوزوله.نوهغه د اولنی صورت نه په زیات ښه حالت کښې شوه.صحابو رضی الله عنهم ترې دخوب د تعبیرتپوس اوکړو.نو نبی ﷺ اوفرمائیل. قلعه کومه چه ما په خوب کښې لیدله ده.هغه مدینه منوره ده.که هم دلته پاتې شو.اومقابله اوکړې شی.نو لکه څنګه چه په قلعه کښې په موجودتیا سره حفاظت وی.نودلته چه پاتې شو.هم به حفاظت وی.اود غوا ذبح کیدو تعبیر دا دې.چه زمونږ څه صحابه به شهیدان کیږی.او توره خوزول جنګ دې.اوددې مخکښې حصه ماتیدل په دې کښې چه کوم ناخوښه حالات دی.دهغې راپیښیدل دی.اود تورې دوباره خوزیدو سره د اولنی نه زیاته ښه کیدل ددې جنګ نه پس چه کوم حالات دی.هغه به د اولنی حالاتو په نسبت سره ښه اوموافق وی.[2]

دنبی ﷺ او نورو څو مشرانو صحابو رضی الله عنهم رائې دا وه.چه په مدینه کښې پاتې شو.اومقابله دې اوکړې شی،او د مدینې نه بهرته اونه څو.خود ډیرو صحابو رضی الله عنهم رائې دا وه.چه د مدینې نه بهرته وتل اومقابله پکار ده.خاص کرهغه حضرات کوم چه په جنګ بدر کښې شریك شوی نه وو.هغوی د شهادت ارمان په خپلو زړونوکښې اخستې وو.دهغوی شوق وو.چه بهرته دې اوځو.اومقابله دې اوکړو.نود شهادت دجام څکلو موقع به راته ښه ملاؤ شی.که په مدینه کښې دننه مقابله اوکړې شی.نوکیدې شی.ددې نوبت رانشی.حضرت حمزه رضی الله عنه خو قسم اوخوړلو . ((والله الذی أنزل علیك الکتاب لا أطعم الیوم طعاما حتی أجادلهم بسیفی خارج المدینة)) [3] زما دې په هغه ذات قسم وی.چاچه په تاسو باندې کتاب نازل کړې دې.زه به ترهغه وخته پورې خوراك نه کوم.ترڅو چه مې د مدینې نه بهر د کافرانو سره په خپله توره باندې مقابله نه وی کړې.

حضرت سعد بن عباده او نورو بعضې مشرانوصحابو رضی الله عنهم هم دا رائې پیش کړه.که په مدینه کښې ایسار شو. مونږ دفاع کوو.نو کافران به اوګڼړی.چه مونږ کمزوری او ډارپوك یو.ددې

---

[1])طبقات ابن سعد(۳۷\۲) السیرة الحلبیة (۲۱۸\۲)_

[2])البدایة والنهایة (۱۲\٤)_

[3])په دې موقع باندې د بعضې صحابو رضی الله عنهم د شهادت عجیبه شوق وو.حضرت نعمان بن مالك انصاری رضی الله عنه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او وې فرمائیل.((یارسول الله لاتحرمنی الجنة فوالذی بعثک بالحق لأدخلن الجنة فقال له بم؟قال بأنی أشهد أن لا إله إلا الله وأنک رسو لاله وإنی لا أفرمن الزحف قال صدقت فقتل یومئذ(تاریخ الطبری (۸۹\۲) والبدایة والنهایة (۱۲\٤)_ ~

وجي بهرته وتل مناسب دی.عبدالله بن ابی رئیس المنافقین هم یوتجربه کارسړی وو.هغه خپل خان په مسلمانانوکښې شامل کړې وو.دهغه نه هم نبی ﷺ مشوره اوغوستله.هغه اووئیل.خبره په اصل کښې دا ده.چه په مدینه کښې چه کله هم داسې قسم واقعه پیښه شوې ده.نو که د مدینې خلق په ښارکښې پاتې شوی دی.اومقابله ئې کړې ده.نودوی ته کامیابی ملاؤ شوې ده.او که دوی د مدینې نه بهرته وتلی دی.اومقابله ئې کړې ده.نوناکامه شوی دی.ددې وجې زما رائې دا ده.چه هم دننه پاتې شو.اومقابله اوکړې شی.(۱)

خود څوانانونه سوا بعضې مشران صحابه کرام رضی الله عنهم هم نبی ﷺ په دې خبره باندې کلك اولیدل.چه د مدینې نه بهرته وتل اومقابله کول پکار دی.نو چه د مازیګردمانځه نه فارغ شو.نبی ﷺ کورته تشریف یوړو.په دغه دوران کښې حضرت سعد بن معاذ او حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنهما باقی صحابو رضی الله عنهم ته اووئیل. تاسوخلقو رسول الله ﷺ د ښارنه په بهرته وتلو باندې مجبوره کړو.د نبی ﷺ د رائې خلاف اصرار کول مناسب نه وو.تپولوته د خپلې غلطۍ احساس اوشو.اوکله چه نبی ﷺ مسلح شو.او بهرته ئې تشریف راوړو.نو صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو.زمونږ نه غلطی اوشوه.مونږ ته په خپله رائې باندې کلکیدل نه وو پکار،ستاسو چه څنګه رائې وی.هم د هغې مطابق عمل اوکړئ.نبی ﷺ اوفرمائیل.دهیڅ پیغمبردپاره دا مناسب نه دی.چه هغه یوځل وسله واچوی.اود دشمن سره د مقابلې نه بغیراوباسی.اوس خو بس بهرته وتل دی.(۲)

دمدینې منورې نه روانیدل: نبی ﷺ څان سره د زرکسانو لښکر واخستل.او د جمعې په ورځ په ۱۵شوال ۳هـ د مدینې نه احد طرف ته روان شو.او عبدالله بن ام مکتم ئې په مسجد نبوی کښې په امامت باندې مقرر کړو(۳) دجمعې ورځ وه.احد خو نزدې وو.خو روانیدل چونکه د ماښام نه لږ غوندې وړاندې وو.ددې وجې په لاره کښې په یوځای ،،شیخین،، کښې نبی ﷺ د شپې تیرولو اراده اوکړه.(۴)

دمنافقانو جدا کیدل: په راروانه ورځ دخالې په سحر نبی چه کله احد طرف ته د روانیدو اراده اوکړه.نو عبدالله بن ابی د خپلو درې سوو ملګرو سره دا اووئیل.اوواپس شو.چه مونږ بغیرد څه وجې نه خپل څانونه په هلاکت کښې نشو اچولی.تا زمونږ په مشوره عمل اونکړو.(۵)

(۱)تاریخ طبری (۲\۱۸۹)_
(۲)سیرة ابن هشام (۳\۶۸) والبدایة والنهایة (٤\۱۳)_
(۳)په مدینه منوره کښې نبی ﷺ حضرت عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه خپل قائم مقام جوړ کړې وو(الکامل لابن الأثر(۲\۱۰٤)_
(٤)طبقات ابن سعد (۲\۳۹)_
(۵)په دې موقع د حضرت جابر رضی الله عنه پلار حضرت عبدالله بن حرام رضی الله عنه دغه منافقانو ته لاړلو.اوهغوی ئې ډیر پوهه کړل.چه د الله تعالی پیغمبر داسې پریخودل،په هیڅ طریقه مناسب نه دی.خو خو منافقانو جواب ورکړو((لونعلم أنم تقاتلون ما أسلمناکم)) حضرت عبدالله بن حرام رضی الله عنه اوفرمائیل.اې دالله دشمنانو الله تعالی به خپل پیغمبر ستاسو نه بې پرواه کړی.د سورة آل عمران آیت ﴿ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا قَالُوا... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

د خزرج د قبيلې د يوشاخ بنو سلمه او د اوس د قبيلې د يو شاخ بنوحارثه قدمونه اوخويدل. اوهغوى ته دا خيال شو.چه مونږ به هم واپس لاړ شو.نوالله تعالى دهغوى مدد اوكړو.د قرآن شريف آيت ﴿إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ كښې هم ددې دوو قبيلو ذكردې. چونكه دا دواړه په اسلام كښې مخلصې وې.اود بشرى كمزورئ په وجه دوى ته دا خيال راغلى وو.ددې وجې الله تعالى دهغوى د اخلاص په بركت د هغوى حفاظت اوكړو.[1]

د منافقانو د جدا كيدو په وجه د مسلمانانولښكر كم شو.او اووه سوه شو.په دې اووه سوه كسانوكښې سلو زغرې اچولې وې.يو اس د نبى ﷺ وو.او يو اس د حضرت ابوبرده بن نيار حارثى رضي الله عنه وو.په پوره لښكركښې صرف دا دوه اسونه وو.[2]

داسلامى لښكر ترتيب او صف بندى: په پنځلسم شوال خالى په ورځ د صبا مونځ نبى ﷺ د احد سره نزدې ادا كړل.اوددې نه پس د لښكرترتيب ته متوجه شو.د فوج ترتيب ئې داسې قائم كړو. چه مدينه دوى ته مخامخ وه.اواحد ددو شا ته وو.چونكه داحد د شا طرف نه د كافرانو دحملې كولوخطره وه.ددې وجې نبى ﷺ د پنځوسو بهترينو تيراندازو انتخاب اوكړو.اود احد شا ته ئې هغوى كينول.اودا تاكيد ئې ورته اوكړو.كه مونږ غالب شو. اوكه مغلوب،په هيڅ صورت كښې تاسو خپل ځاې مه پريږدئ.د تيراندازو باندې ئې ددوى د دستې حضرت عبدالله بن جبير رضي الله عنه اميرمقرر كړو،[3]

دابوعامرخروج او داسلامى لښكرجواب: د فريقينوصفنونه يوبل ته مخامخ وو.داسلامى لښكر بيرغ د حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه سره وه.د عربو د جنگى قاعدې مطابق په اول كښې د انفرادى مقابلې دپاره خلق راغلل.خود انفرادى مقابلې شروع كولونه وړاندې ابوعامر كوم چه داسلام نه وړاندې د قبيله اوس سردرا وو.د كافرانود لښكر نه راووتل.ابوعامر د ظهور اسلام نه پس د نبى ﷺ ډير لوې دشمن جوړ شوې وو.اود مدينې نه تلې وو.په مكه كښې مقيم شوې وو.هلته كه ده قريشو ته دجنگ ترغيب وركړې وو.اوورته ئې وئيلى وو.چه په ميدان جنگ كښې ما اووينى.نو د اوس خلق به زما طرف ته راشى.اودغه شان به د مسلمانانو لښكر كم شى.نود كافرانود لښكر نه راووتل.او آواز ئې اوكړو.اې د اوس خلقو زه ابو عامر يم.د اوس خلقو د ابوعامر د توقع نه بيخى خلاف جواب وركړو.«لاأنعم الله بك عيناًيافاسق»[4] اې فاسقه الله تعالى دې ستا سترگې چرته هم يخې نكړى.ابوعامر چه دا

......دتير مخ بقيه حاشيه] لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لَّاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ﴾هم ددې خلقو په باره كښې نازل شوې دې.(البداية والنهاية (۱۴\۴)_

[1])ددې تفصيل وړاندې باب كښې راځى)_

[2])تاريخ الطبرى(۱۹۰\۲)_

[3])الكامل لإبن الأثير(۱۰۵\۲)_

[4])ابو عامر په جاهليت كښې په ،راهب،، مشهور وو.رسول الله ﷺ دده نوم فاسق كيخودې وو.ددې وجې د اوس خلقو ده ته ،،يافاسق،،اووئيل.(سيرة ابن هشام (۷۱\۳)_

جواب واوریدو. نو مایوسه شو.اوقریشو ته واپس شو.او دا ئې اوونیل.چه زما د تلو نه پس زما د قوم حالت بدل شوې دې.

په انفرادی مقابله کښې د کافرانو سخت ماتې: دمشرکانود طرفه د ټولونه وړاندې د مبارزت دپاره طلحه بن ابی طلحه میدان ته راووتل.او مسلمانانوته ئې د مقابلې دعوت ورکړو.د اسلای ملښکرنه حضرت علی ﷺ وراووتل.اوهغه ئې قتل کړو.ددې نه پس دطلحه بن ابی طلحه ورورعثمان بن ابی طلحه دکافرانو د لښکرنه راووتل.حضرت حمزه ﷺ دهغه د مقابلې دپاره وراووتل.اوهغه ئې قتل کړو.بیا ابوسعد بن ابی طلحه دریم ورور دکافرانو د لښکرنه د مقابلې دپاره راووتل.د مسلمانانو دطرفه حضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ راووتل.اوهغه ئې جهنم ته اورسول.ددې نه پس د کافرانو د طرفه مسافع بن طلحه راووتل.حضرت عاصم بن ثابت ﷺ بس په یو ګذار سره هغه ختم کړو.بیا دهغه ورور حارث بن طلحه راغلل. حضرت عاصم بن ثابت ﷺ هغه هم قتل کړو.ددې نه پس دریم ورور جلاس بن طلحه راووتل.اودمبارزت دعوت ئې ورکړو.هغه طلحه بن عبید ﷺ قتل کړو.(۱)

په نفیرعام کښې دمسلمانانوفتح: دغه شان په انفرادی مقابله کښې دکافرانو ډیرتعداد قتل شول.اوښکاره ده چه په دې کښې د مسلمانانو تله درنده شو.ددې نه پس عام جنګ شروع شو.حضرت ابودجانه د ډیرې بهادرۍ مظاهره اوکړه.(۲)حضرت علی اوحضرت حمزه ﷺ هم ډیر په بهادرۍ سره جنګیدل.ددې د وجې د کافراو قدمونه اوخویدل.سرې اوښخې ټول دغرطرف ته په تیښته باندې مجبوره شول.او مسلمانانو مال غنیمت جمع کول شروع کړل.

دکټلی جنګ په شکست کښې بدلیدل: د احد شا ته چه دحضرت عبدالله بن جبیر ﷺ په امیرۍ کښې د تیراندازوکومه د پنځوسو کسانودسته نبی ﷺ مقرر کړې وه.هغوی چه کله دا حالت اولیدل.نو هغوی هم د مال غنیمت راجمع کولو په.غرض خپل ځای پریخودل.حضرت عبدالله

---

(۱)تاریخ الطبری (۱۹٤/۲) البدایة والنهایة (۲۰/٤) الکامل لابن الأثیر (۱۰٦/۲) طبقات ابن سعد (٤۱/۲)_

(۲)نبی ﷺ اعلان اوکړو.چه څوك دی.چه زه ورته خپله توره ورکړم.اوهغه ددې حق ادا کړی.ددې دپاره مختلف لاسونه پورته شول.خو نبی ﷺ توره حضرت ابودجانه ﷺ ته ورکړه.حضرت زبیربن العوام ﷺ هم لاس اوچت کړې وو.خو هغه ته نه وه ملاؤ شوې.حضرت زبیر ﷺ اوونیل.((وجدت فی نفسی حین سألت رسول الله ﷺ السیف فمنعنیه وأعطاه أبودجانة وقلت أنا إبن صفیة عمته ومن قریش وقد قمت إلیه فسألته إیاه قبله فأعطاه إیاه وترکنی والله لأنظر ما یصنع فأتبعته فأخرج عصابة له حمراء فعصب بها رأسه فقالت الأنصار إخرج أبودجانة عصابة الموت وهکذا کانت تقول له إذا تعصب بها فخرج وهو یقول..

أنا الذی عاهدنی خلیلی ونحن بالسفح لدی النخیل
ألا أقوم الدهر فی الکیول أضرب بسیف الله والرسول

فجعل لا یلقی أحد إلا قتله.وکان فی المشرکین رجل لا یدع لنا جریحاً إلا وقف علیه.فجعل کل واحد منهما یدنو من صاحبه .فدعوت الله أن یجمع بینهما .فالتقیا. فاختلفا ضربتین .فضرب المشرک أبادجانة فاتقاه بدرقته.. وضربه أبودجانة فقتله. ثم رأیته .قد حمل السیف علی مفرق رأس هند بنت عتبة ثم عدل السف عنها قال الزبیر فقلت الله ورسوله أعلم (وانظر سیرة ابن هشام (۷۳/۳)_

بن جبیر ﷺ ورته د نبی ﷺ ارشاد وریاد کړو.د نبی ﷺ حکم یادولونه پس هغوی اووئیل.بیشکه نبی ﷺ دا حکم کړې وو.خو د نبی ﷺ مقصد دا وو.چه د جنګ د فیصلې نه وړاندې تاسو دا مورچه مه پرېږدئ.او اوس خو فصله شوې ده.نو اوس دلته د ایساریدو څه ضرورت نشته ﷺنتیجه دا شوه.چه حضرت عبدالله بن جبیر ﷺ سره صرف لس کسان پاتې شول.او نور ټول راغلل.

خالد بن ولید ﷺ کوم چه په دغه وخت کښې دکافرانود لښکر د میمنه امیر وو.هغوی چه د احد دا غاښې خالی اولیدل.نو د هغه طرف نه ئې حمله اوکړه.هلته چه دمسلمانانو دسته کوم چه یوولس کسان وو.هغه ټول ئې شهیدان کړل.اودشا نه ئې په مسلمانانو باندې حمله اوکړه.دا حمله دومره ناڅاپی وه.چه دا د مسلمانانو په خوا خاطرکښې هم نه وه.ددې حملې په وجه صورتحال بیخی بدل شو. او د کافرانوکوم لښکر چه تښتیدلې وو.هغوی هم واپس راغلل.اوس مسلمانان د دواړو طرفونو نه ګیرشول.اود دوست او دوشمن امتیاز پاتې نشو.نتیجه دا شوه. چه بعضې مسلمانان پخپله دخپلو مسلمانانو دلاسه شهیدان شول.[1]

دحضرت حذیفه ﷺ پلار حضرت یمان هم د مسلمانانو د لاسه شهید شو، حضرت حذیفه ﷺ چه کله اوکتل.چه زما په پلار باندې مسلمانان حمله کوی. نو هغه ډیرشورجوړکړو.خود چا خیال اونشو.په جنګ کښې هم داسې حالت پیښیږی.[2]

دنبی ﷺ دشهادت غلط خبر: حضرت مصعب بن عمیر ﷺ دنبی ﷺ سره په شکل کښې مشابه وو.هغه یو کافر شیهد کړلو. اودا ئې مشهوره کړه.چه نبی ﷺ شهید شو.[3] په دې خبر سره د مسلمانان وپه زړونو باندې یوه بې همتی غونده خوره شوه.اودبعضې مسلمانانو دا خیال شو.چه نبی ﷺ خو وفات شو.اوس دجنګ جاری ساتلو څه فائده ده.دحضرت عثمان ﷺ هم دا حال و.[4] دغه شان مسلمانان د غل غوبل په حالت کښې مبتلاء شو.

هغه صحابه کرام ﷺ کوم چه د غل غوبل په وخت کښې د نبی ﷺ سره وو: ددغې غل غوبل په وخت کښې د نبی ﷺ سره چه کوم صحابه کرام ﷺ موجود وو.هغه دا دی.① حضرت ابوبکرصدیق ② حضرت عمرفارق③ حضرت عبدالرحمن بن عوف ④ حضرت ابوعبیده بن الجراح⑤ حضرت سعد بن ابی وقاص⑥ حضرت طلحه بن عبیدالله ⑦ حضرت زبیربن العوام ﷺ دا اووه په مهاجرینوکښې وو.

اواووه انصاری صحابه کرام ﷺ وو.① حضرت سعد بن معاذ② حضرت سهل بن حنیف③ حضرت ابودجانه④ حضرت اسید بن حضیر⑤ حضرت عاصم بن ثابت⑥ حضرت حباب بن المنذر ⑦ اوحضرت حارث بن صمه ﷺ وو.

---

[1] اوګورئ طبقات ابن سعد (۲\۴۲)۔
[2] اوګورئ بخاری کتاب المغازی رقم الحدیث ۴۰۶۵وکامل ابن اثیر (۲\۱۱۳)۔
[3] الکامل لابن الأثیر(۲\۱۰۸)۔
[4] الکامل لابن الأثیر(۲\۱۱۰)۔

په بخاري شريف كښې دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه په روايت كښې د دولسو صحابو رضي الله عنهم ذكردې.اوپه نسائى او دلائل بيهقى كښې د يولسو ذكردې.[۱] او امام مسلم رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې،په هغې كښې د اووه ذكر دې،خودا څه حقيقى تعارض نه دې.په مختلفو وختونوكښې مختلف صحابه كرام رضي الله عنهم د نبى صلى الله عليه وسلم سره موجود وو.ددې وجې په بعضې رواياتوكښې زيات او په بعضو كښې د كم ذكر دې.خوپه هرحال ټول شمار څوارلس وو.[۲]

د اوچتې بهادرئ ثبوت وركونكى صحابه كرام رضى الله عنهم: په دې موقع باندې بعضې صحابه كرامو رضي الله عنهم دډيرې بهادرئ ثبوت وركړو.كله چه كافرانو په نبى صلى الله عليه وسلم د غشو باران شروع كړل. نوحضرت ابودجانه رضي الله عنه دكافرانو طرف ته شا كړه.او اودريدو.اودغه شان چه نبى صلى الله عليه وسلم ته څومره غشى راتلل.هغه به ئې پخپله شا باندې تنبول.د ده په شا باندې اوياو ته نزدې زخمونه راغلى وو.خوالله تعالى هغه ژوندې اوساتل.[۳] دغه شان حضرت طلحه رضي الله عنه هم د ډيرې مرانې اوبهادرئ مظاهره اوكړه.حافظ ابن حجر رحمه الله د ابوداود طيالسى په روايت سره د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه قول نقل كړې دې.چه كله به دوى د غزوه احد ذكركولو.نو فرمائيل به ئې.«كان ذلك اليوم كله لطلحة» [۴] د احد ټوله ورځ د طلحه رضي الله عنه په بهادرئ كښې وه.حضرت طلحه رضي الله عنه د نبى صلى الله عليه وسلم دحفاظت دپاره برابر هلته موجود وو. اوهغوى د غشو نه د نبى صلى الله عليه وسلم حفاظت دپاره خپل لاس ډهال جوړ كړې وو.تردې چه د ده لاس شل شو.حاكم په اكليل كښې نقل كړى دى.چه دحضرت طلحه رضي الله عنه په بدن باندې پنځه ديرش يا يوكم څلويښت زخمونه راغلى وو.[۵] خود طيالسى په روايت كښې دى.چه دده په بدن اويا زخمونه راغلى وو.

دغه شان دحضرت انس رضي الله عنه ميرنې پلارحضرت ابوطلحه انصارى رضي الله عنه بې مثاله كردار ادا كړې وو.چه كوم كس به ورسره هم تيريدل.نو نبى صلى الله عليه وسلم به ورته وئيل.دخپل تركش نه غشې راوباسه.او ابوطلحه ته ئې وركړه.حضرت ابوطلحه رضي الله عنه په دې جنګ كښې څو كمانونه مات كړى وو.[۶]

دغه شان سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه هم په هغه صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې وو.چاچه د بهادرئ

---

[۱]) د ذكرشوو نومونو اونورو صحابه كرامو رضي الله عنهم دتفصيل دپاره اوګورئ (فتح البارى(۱۷ ۰ ۳۶۰) البته په مهاجرينوكښې د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په ځاې دحضرت على رضي الله عنه نوم ئې ذكركړې دې.والله أعلم

[۲]) ابن سعد ليكلى دى.(وثبت منعه عصابة من أصحابه أربعة عشر رجلاً سبعة من المهاجرين .. وسبعة من الأنصار(طبقات ابن سعد(۲\۴۲)_

[۳])سيرة ابن هشام(۲\۸۷)_

[۴])فتح البارى(۷\۳۶۱)_

[۵])فتح البارى(۷\۳۶۱)_

[۶])بخارى كتاب المغازى باب ﴿إذا همت طائفتان منكم أن تفشلا﴾ رقم الحديث (۴۰۵۵)_

مظاهره كړې وه.نبى ﷺ به دخپل تركش نه غشى راويستل.اوده ته به ئې وركول.اوفرمائيل به ئې.«ارم فداك ابي وامي» (۱)

حضرت على رضي الله عنه فرمائى.چه ما د نبى ﷺ نه چرته نه وو اريدلى.چه نبى ﷺ چاته «فداك ابي وامي» وئيلى وى.سوا دحضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه نه.

په نبى ﷺ باندې حملې:دحضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه ورور عتبه بن ابى وقاص موقع اوليده.نو په نبى ﷺ باندې ئې د كاڼرى گذاراو كړل.په كوم سره چه د نبى ﷺ لانديني غاښ مبارك شهيد شو.او شونډې زخمى شوې.عبدالله بن قمبه په نبى ﷺ باندې حمله اوكړه.په كوم سره چه د خود دوه كړئ په مخ مبارك كښې ورخخې شوې.عبدالله بن شهاب زهرى نبى ﷺ په كاڼرى باندې اوويشته.په كوم سره چه د نبى ﷺ تندې مبارك د وينو نه رنگ شو.(۲) حضرت مالك بن سنان رضي الله عنه دغه وينه اوڅكله(يعنى خوله ئې پرې دپاسه كيخوده،او وې څكله)اوصفا كړه.نبى ﷺ په دغه موقع باندې اووئيل.دچا په خېټه كښې چه د نبى وينه وى.دجهنم اور هغه ته نشى رسيدې.(۳) ابوعامرفاسق د مسلمانانو دپاره يوه كنده تياره كړې وه.نبى ﷺ د دغه زخمونونه د متاثر كيدو نه پس په دغه كنده كښې اوغورځيده. حضرت على رضي الله عنه د نبى ﷺ لاس اونيولو.او رابهر ئې كړو.او حضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه د نبى ﷺ شا اونيوله.نوهله نبى ﷺ اودريده، (۴)

د ابى بن خلف قتل: ابى بن خلف يو اس ساتلې وو.د هغه خيال وو.چه په دير اس به سورېږم. او نبى ﷺ به شهيد كوم.كله چه هغه اس ته پونده وركړه.او د نبى ﷺ طرف ته راروان شو.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.دې به زه په خپل لاس باندې قتلوم.بل څوك دې ده ته څه نه وائى.كله چه هغه نزدې راغلو.نو نبى ﷺ د حضرت حارث بن صمه رضي الله عنه نه د هغه نيزه واخستله.او ابى بن خلف ئې په څټ باندې يومعمولى غوندې گذار اوكړو . هغه چغه كړې.اوشور ئې جوړ كړو. واپس شو.او وئيل ئې.په الله قسم محمد (ﷺ) زه قتل كړم.خلقو هغه ته اووئيل.دا خو معمولى غوندې زخم دې.ته دومره چغې ولې وهې.وې وئيل.په الله قسم ددې زخم تكليف كه په ټول اهل حجاز باندې تقيم كړې شى.نو هغوى ټول به د دې د تكليف د وجې هلاك شى.دغه شان هغه چغې وهلې.د مكې معظمې نه نهه لس ميله فاصله باندې په مقام سرف كښې جهنم ته اورسيدل (۵)

د حضرت عمروبن جموح رضى الله عنه شهادت: د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه پلار عبدالله بن عمروبن حرام غزوه احد كښې شيهد شو.د هغه دخور خاوند حضرت عمروبن جموح رضي الله عنه

---

[۱])بخارى كتاب المغازى باب ﴿ إذا همت طائفتان منكم ﴾ رقم الحديث (٤٠٦٤)_

[۲])دتفصيل دپاره اوگورئ سيرة ابن هشام (٣\٨٤و ٨٥)_~

[۳])سيرة ابن هشام (٣\٨٥)_

[۴])الكامل لابن اثير(٢\١١٠)_

[۵])د تفصيل دپاره اوگورئ (البداية والنهاية (٤\٣٢)_

د پښو نه معذوره وو.هغه خپلو خامنوته اووئيل.چه زه هم احد ته د جنګک دپاره ځم.خامنو ورته اووئيل.ته معذور ئې.ددې وجې تاسو هم دلته ايسارشئ.عمروبن جموحؓ د نبیﷺ په خدمت كښې حاضر شو.او وې وئيل.زما د شهادت شوق دې.اوزما خامن ما جنګک ته د تلو نه منع كوى.نبیﷺ اوفرمائيل.ته معذوره ئې.اوستا دپاره رخصت دې.خوبيا هم چه دهغه شوق ا اصرار ئې اوليدلو.نو نبیﷺ ورته اجازت ورکړو.اوهغه په احد كښې شهيد شو.([1])

د حضرت جابررضی الله عنه د پلارحضرت عبدالله بن عمروشهادت: دحضرت جابربن عبداللهؓ دپلار حضرت عبدالله بن حرامؓ په باره كښې امام ترمذى په كتاب التفسير كښې يو روايت نقل كړې دې.چه رسول اللهﷺ حضرت جابرؓ ته اووئيل.تاته معلومه ده.چه ستا پلارسره الله تعالى څه معامله اوكړه؟ هغه عرض اوكړو.تاسو اوفرمائيې.نو نبیﷺ اوفرمائيل.ستا پلارسره الله تعالى براه راست مكالمه اوكړه.او د نورو شهيدانو سره ئې من وراء حجاب خبرې اوكړې.([2])

علامه ابن القيمؒ په زاد المعاد كښې نقل كړى دى.چه حضرت عبدالله بن عمروبن حرامؓ د احد نه وړاندې يو خوب ليدلې وو.په خوب كښې هغه مبشربن عبدالمنذر اوليدل.چه هغه ورته وائى.اې عبدالله ته هم ډيرزر مونږ ته راتلونكې ئې.عبدالله ورته اووئيل.ته كوم ځاې ئې.نو مبشرورته اووئيل.مونږ په جنت كښې يو.او په جنت كښې چه چرته زمونږ زړه غواړې.سيل كوو.عبدالله اووئيل.ته خوپه بدركښې شهيد شوې نه وې؟ نو هغوى اووئيل.شهيد شوې وم. خكه خو جنت ته تلې يم.([3])

دحضرت ربيع شهادت: په شهيد شوو كښې يو صحابى حضرت سعد بن الربيعؓ دې،د جنګک نه پس نبیﷺ اوفرمائيل،لږ اوګورئ چه سعد كوم ځائې كښې دې؟ په لټون لټون په مقتولينو كښې ملاؤ شو،اوس په كښې لا ساه باقى وه،لټونكې صحابىؓ اووئيل ،زه نبیﷺ ستا د لټون دپاره رالیږلې يم،حضرت سعد بن الربيعؓ اووئيل ،چه نبیﷺ ته زما سلام كوه،او زما ذ شهادت خبر وركولو نه پس انصارو ته اووايه،چه ستاسو دپاره څه عذر قابل قبول نه دې،تاسو ته پكار دى،چه په هر حالت كښې د نبیﷺ نصرت اوكړئ،خكه چه هم د نبیﷺ په نصرت كښې انصارو فائده ده.([4])

دحضرت اصيرم رضى الله عنه شهادت: يو بل عجيب اوناشنا صحابى حضرت اصيرم انصارى دې.ده دجنګک احد نه وړاندې اسلام نه وو راوړې،كله چه د احد واقعه پيښه

---

[1])سيرة ابن هشام (۳\۹۶)_

[2])أخرج الترمذى من طريق طلحة بن خراش سمعت جابربن عبدالله يقول لقينى رسول اللهﷺ فقال لى يا جابر مالى اراك منكسراً؟ قلت يا رسول الله استشهد أبى قتل يوم أحد وترک عيلاً ودیناً قال أفلا أبشرک بما لقى الله به أباک ؟ قال قلت بلى يارسول الله قال ما كلم الله أحداً إلا من وراء حجاب وأحيا أباک فكلمه كفاحاً..... وانظر الجامع للإمام الترمذى كتاب التفسير باب من سورة آل عمران رقم ۳۰۱۰)_

[3])سيرة المصطفى (۲\۲۳۱و ۲۳۲) په حواله د زادالمعاد)_

[4])اوګورئ البداية والنهاية (۳\۳۹)_

شوه،نو دې هم په زخميانو كښې بيا موندې شو،او شهادت ته نزدې وو،خلقو چه كله هغه اوليدل،نو تپوس ئې اوكړو،ته دلته څنګه ئې؟ د اسلام د رغبت په وجه جنګيدلې ئې،او كه د قومي او قبائلي حميت په وجه،حضرت اصيرم رضي الله عنه اوونيل،زه د اسلام د دفاع، حفاظت او ترقئ دپاره په جنګ كښې شريك شوې يم،د شهيد كيدو نه پس كله چه نبى ﷺ ته د هغه قصه بيان كړې شوه،نو نبى ﷺ اوفرمائيل،«إنه لمن أهل الجنة» ([1])

حافظ ابن حجر رحمه الله په ،،الاصابه،، كښې نقل كړى دى،چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه به فرمائيل،حضرت اصيرم رضي الله عنه هغه صحابى دې،چه د يو وخت مونځ ئې هم نه وو كړې،او جنت ته داخل شو.

د اوياؤ مسلمانانو شهادت د اسيران بدر د فدې په بدله كښې وو: د بدر د بنديانو په باره كښې مسلمانو ته اختيار وركړې شوې وو،كه دوى غواړى،نو دا ټول قيديان دې ختم كړى او كه غواړى، نو د دوى نه دې فديه واخلى،او آزاد دې كړى،خو د فديه په صورت كښې به په راروان كال اويا كسان د مسلمانانو نه شهيدان كيږى.چونكه مسلمانانو فديه اخستې وه،او دغه بنديان ئې آزاد كړى وو،ددې وجې په غزوه أحد كښې د اويا صحابو رضي الله عنهم د شهادت واقعه پيښه شوه،په هغوى كښې حضرت حمزه، حضرت مصعب بن عمير، حضرت انس بن النضر ،حضرت معاذبن عمروبن جموح،حضرت ربيع بن انس، حضرت اصيرم رضي الله عنهم چه (نوم ئې عمروبن ثابت دې) وغيره اويا ته نزدې صحابه رضي الله عنهم شامل وو،په دوى كښې زيات شمار د انصارو وو.([2])

د نبى عليه السلام د خيريت دپاره د انصارو ليواله كيدل: د حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه په شهادت سره چونكه دا خبر مشهور شوې وو ،چه نبى ﷺ شهيد شوې دې،ددې وجې بعضې صحابو رضي الله عنهم جنګ پريخودې وو ،اومدينې ته واپس تلى وو،او وئيلى ئې وو،چه كله نبى ﷺ شهيد شو،نو په ميدان جنګ كښې د جنګيدو څه فائده ! ددې خبر په وجه په مدينه كښې يو غوغا شوه،او سړى ،ښځې ،ماشومان او بوډاګان ټول د نبى ﷺ د عافيت او سلامتيا دپاره ليواله شول،د يو انصارى ميرمن خاوند ،ورور،او پلار ټول په دې غزا كښې شهيدان شوى وو،كله چه دغه ښځې ته ددوى د شهادت خبر وركړې شو،نو وې وئيل،ماته دا اووايې ،چه نبى ﷺ په عافيت سره دې كه نه؟ خلقو ورته اوونيل،نبى ﷺ په خيريت او عافيت كښې دې،نو وې وئيل،زما تر هغه وخته پورې تسلى نه كيږى،تر څو چه مې په خپلو سترګو د نبى ﷺ زيارت نه وى كړې،چه نبى ﷺ ئې اوليدل،نو مطمئنه شوه،او وې وئيل «كل مصيبة بعدك جلل»([3]) چه تاسو په خير خيريت ئې،نو ددې نه پس ټول مصيبتونه آسان دى،

په دې غزا كښې د مشركانو ټول ۲۲ كسان قتل شوى وو،([4])

---

[1]) د تفصيل دپاره اكورئ (البداية والنهاية (٣٧\٤)_

[2]) فتح البارى (٣٥١\٧و ٣٥٢)_

[3]) الكامل لابن الثير (١١٣\٢)_

[4]) سيرة ابن هشام (١٣٥\٣)_

په غزوه احد کښې د شکست مصلحتونه: په جنګ احد کښې ډیر مسلمانان شهیدان شول.او مسلمانانوشکست بیا موندو،په دې کښې د الله سبحانه وتعالی د طرفه څو مصلحتونه وو.

① په دې جنګ کښې په اولنۍ مرحله کښې میدان د مسلمانانو په لاس کښې وو،او کافرانو ته شکست ملاویدو،تردې چه هغوی د میدان په پریخودواو تختیدو مجبوره شول، خو کله چه د غشو ویشتونکې دستې خپل ځائې پریخودو ، او د نبی ﷺ د حکم نافرمانی ئې اوکړه،نو د جنګ نقشه بدله شوه.ددې نه د رسول الله ﷺ په حکم د عمل اهمیت او د نبی ﷺ د حکم د نافرمانۍ په صورت کښې د سوء عاقبت اندازه او احساس د مسلمانانو په زړونو کښې نور هم مضبوط اوزیات شو

② یو مصلحت په دې کښې دا هم وو،چه د اسلام په باره کښې د مخلصینو او منافینو امتیاز اوشی،الله ته اګرچه د مخلصینو او منافقینو دواړو علم وو.خو په دې سره ئې مسلمانانو ته ښکاره کړه،چه څوک مخلص دې او څوک منافق،

③ دغه شان ډیرو صحابوﷺ ته د شهادت اوچته درجه ملاؤ شوه،او د الله د دین د ترقۍ دپاره هغوی خپل خانونه قربان کړل.

④ د جنګ په شکست کښې چه ثابت قدم پاتی شول،نو مسلمانان د الله تعالی د طرف نه د لوې اجر او ثواب مستحق شول.

دغه شان نور څو مصلحتونه دی.کوم چه حافظ ابن جر رحمه الله په تفصیل سره بیان کړی دی.(۱)

۱ =بَاب غَزْوَةِ أُحُدٍ

قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی ((وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ)) (۲)

اوهغه وخت یاد کړه،کله چه ته د صبا په وخت کښې د خپل کور د خلقو نه راووتلې، تا مسلمانان دجنګ په مورچو باندې کینول،او الله تعالی ښه اوریدونکې اوپیژندونکې دې.

دلته په ((وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ)) او ((تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ)) کښې فصل دې، ځکه چه مسلمانان په مورچو باندې نبی ﷺ د خالی په ورځ دصبا په وخت کښې کینولی وو.اودجنګ احد دپاره د صحابه کرامو ﷺ سره د مشورې کولو دپاره د جمعې په ورځ صبا وتل شوی وو.

اودا هم وئیلی شی،چه چونکه په دې غزوه کښې حضرت عائشه رضی الله عنها ورسره وه،او کومه خیمه چه د نبی ﷺ دپاره هلته لګولې شوې وه،په هغې کښې حضرت عائشه رضی الله عنها موجود وه،نو د دغه خیمې نه د خالی په ورځ د صبا په وخت کښې راووتل،او صفونه ئې برابرول،په دې صورت کښې به فصل نه وی.چه دِ کور دخلقو نه راوتل او د مجاهدینود صفونه برابرول دواړه د خالی په صبا شوی وو.

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۷/۳۴۷)_

(۲) سورة ال عمران:۱۲۱)_

ابن جرير طبري په غريب سند سره يو روايت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړې دې،چه دا آيت د غزوه احد په باره کښې نازل شوې دې.(١) خود جمهور مفسرينو او محدثينو په دې باندې اعتماد نشته،دجمهورو رائې دا ده،چه ذکر شوې آيت د غزوه احد په باره کښې نازل شوې دې.ددې وجې امام بخاري دا آيت په غزوه احد کښې ذکر کړې دې.

قَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ ((وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۞ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ۞ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ ۞ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ۞ وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ۞))

وَقَوْلِهِ ((وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ۞))

قوله: وَقَوْلِهِ ((وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا)): الآيَةَ (٢) اومه کمزوري کيږئ چه همت بيلئ،اومه غمژن کيږئ،که تاسو مومنان يئ،نو غالب به يئ،که (په دې غزا کښې) تاسو ته زخمونه اورسيدل،نو (ددې نه وړاندې په غزوه بدر کښې) هغه قوم (کافر) ته هم دغه شان زخمونه رسيدلي وو،اود خلقو په مينځ کښې مونږ د هغوی ورځې اړوو راړوو، (چه کله يو ډله غالبه شي،اوکله بله ډله،او دا تاسو چه مغلوب شوئ،او ستاسو ملګري شهيدان شول،دا دې دپاره) چه الله تعالى په تاسو کښې څه کسانو ته د شهادت مرتبه ورکړه،او الله تعالى ظالمانو سره محبت نه کوي.او (يو حکمت په دې کښې دا هم دې) چه الله تعالى (د ګناهونو او معاصي) خيرې د ايمان دارونه صفا کړي.او کافران ختم کړي.(چه د غالب راتلو په صورت کښې به د کافرانو جراءت زيات شي.او هغوی به د مقابلې دپاره دوباره راشي.او هلاك به شي،يا دا چه په مسلمانانو به ظلم کوي. د الله تعالى په غضب کښې به اخته شي.او تباه به شي) آيا تاسو دا خيال کوئ،چه تاسو به جنت ته داخل شئ،حال دا چه تر اوسه پورې الله تعالى هغه خلق نه دي ليدلي ،چا چه (ښه) جهاد کړې دې،او نه يې هغوی ليدلي دي،څوك چه (په جنګ کښې) ثابت قدم پاتې کيدونکي دي.او تاسو خو(ددې غزا نه) وړاندې د شهادت ډير ارمان کولو،نو اوس تاسو په خپلو سترګو اوليدلو(٣)

---

(١) فتح الباري (٣٤٧/٧)_

(٢) آل عمران:١٣٩-١٤٣)_

(٣) چونکه مسلمانان په جنګ کښې د شکست په وجه ډير خفه وو،څکه الله تعالى په دې آياتونو کښې تسلي ورکړه،او د جنګ د شکست مصالح او اسباب يې بيان کړل. دامام زهري نه په دې باره کښې دا روايت نقل کړې دې: ((كثر في أصحاب النبي ﷺ القتل والجراح حتى خلص إلى كل امرئ منهم نصيب فاشتد حزنهم فعزاهم الله أحسن تعزية)) ومن طريق قتادة نحوه، قال ((فعزاهم وحثهم على قتال عدوهم ونهاهم عن العجز) فتح الباري (٤٥٧/٧)_

وَقَوْلِهِ ﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗۤ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰۤى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَاۤ اَرٰٮكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝﴾ (١)

وَقَوْلِهِ ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ﴾ الْآيَةَ (٢)

او يقيناً الله تعالى تاسو سره خپله وعده رښتيې کړه،او وې خودله،په کوم وخت کښې چه تاسو دغه کافران د الله په حکم سره قتلول.يعنى قتلول مو اوجرړه مو ورله ختموله،تردې چه هم تاسو کمزورى شوئ.(چه په مورچه مقرر شوې پنځوسو کسانو کښې بعضو په غلط فهمئ سره خپل ځائې پريخودلو) او په خپل مينځ کښې په حکم کښې ئې اختلاف شروع کړو،(چه بعضو وئيل،دلته کيناستل پکار دى،او بعضې پاسيدل ځائې ئې پريخودل) اود رسول الله ﷺ د حکم نافرمانى ئې اوکړه،پس ددې نه چه تاسو څه غوښتل،الله درته هغه اوخودل،په تاسو کښې بعضې هغه وو،چه دنيا ئې غوښتله،او بعضې د آخرت طلبګار وو،نو الله تعالى تاسو په دغه کافرو باندې د غالب راتلو نه واړولئ:چه په تاسو امتحان اوکړى،او الله تعالى تاسو معاف کړى ئې،او الله تعالى په مومنانو ډير فضل کونکې دې.

[۳۸۱۵] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ [ر: ۳۷۷۳]

دا روايت د غزوه بدرپه بيان کښې تيرشوې دې.ددې روايت تعلق د غزوه بدر سره دې.دلته په روايت کښې د غزوه احد لفظ غلط دې.هم دا وجه ده.چه د بخارى په نورو ټولو نسخو کښې دا روايت دلته ذکرنه دې.صرف ابوالوقت او اصيلى دلته د «يوم أحد» قيدلګولو سره دا روايت ذکرکړې دې.(٣)

[۳۸۱۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ عَدِيٍّ أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ حَيْوَةَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِي سِنِينَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ مِنْ مَقَامِي هَذَا وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوهَا قَالَ فَكَانَتْ آخِرَ نَظْرَةٍ نَظَرْتُهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۱۲۷۹]

حضرت عقبه بن عامر ؓ فرمائى.

---

(١) سورة آل عمران:۱۵۲)_

(٢) آل عمران:۱۶۹)_

(٣) فتح البارى(٣٤٩١٧) وعمدة القارى(١٤١١١٧)_

قوله: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِي سِنِينَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ: نبی کریم ﷺ د شهداء احد مونځ اته کاله پس کړې وو. په داسې انداز کښې چه نبی ﷺ رخصت کوی ژوندی هم او مړی هم.( ) د مړو د رخصت کولو دپاره. نبی ﷺ په دوی باندې دجنازې مونځ اوکړو.او د ژوندو د رخصت کولو ،،الوداع ،،ونیلو دپاره نبی ﷺ خطاب اوکړو.

قوله: إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ مِنْ مَقَامِي هَذَا وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوهَا: فرط: هغه کس ته وائی چه هغه د قافلې نه وړاندې لاړ شی. او په راروان منزل کښې د قیام وغیره دپاره انتظام کوی.نبی ﷺ فرمائیلی دی.

،،زه ستاسو د قیام د انتظاردپاره ستاسو نه وړاندې ځم.او زه ستاسو په حق کښې ګواه یم. (چه تاسو ایمان راوړې دې.اودایمان اواسلام دپاره مو خپل ټول هرڅه قربان کړل) او اوس تاسو سره د ملاقات ځاې حوض کوثر دې.اوزه ددې ځاې نه حوض کوثروینم.اوستاپه باره کښې زما د ویره نشته.چه تاسو به په شرک کښې اخته شئ. بلکه ما سره د دې ویره ده.چه تاسوبه دنیا طرف رغبت اوکړئ.

عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی.چه دا د نبی ﷺ آخری دیدار وو.کوم چه ما کړې وو.

یوه لطیفه:په دې حدیث کښې دی.چه رسول الله ﷺ اته کاله پس په شهداء احد باندې د جنازې مونځ اوکړو.مسئله خو د کتاب الجنائز ده.دلته یوه لطیفه اوروم.علامه کرمانی رحمه الله چه کله دا روایت اولیدلو.نو چونکه هغه شافعی وو.او شوافع په شهداو باندې د جنازې د مونځ قائل نه دی.ددې وجې هغوی په دې حدیث کښې تاویل اوکړو .چه دلته د ((صلاة)) نه مراد دعا ده.چه نبی ﷺ د احد د شهیدانو دپاره دعا اوکړه. نو ددې نه په شهید باندې د جنازې د مونځ ثبوت نه کیږی.

علامه عینی رحمه الله فرمائی((حفظ شیأوغابت عنه أشیاء)) عینی فرمائی.چه هم دا روایت په بخاری او مسلم کښې په دې الفاظو سره مروی دې.((أن النبی ﷺ خرج یوما فصلی علی شهداء أحد صلاته علی المیت)) په دې کښې د ((صلاته علی المیت)) الفاظ په دې خبره کښې نص دې.چه نبی ﷺ د جنازې مونځ اوکړو.نوبیا د علامه کرمانی رحمه الله تاویل څنګه صحیح کیدې شی.دغه شان عبدالله بن عباس رضی الله عنهما عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما سعیدبن المسیب،حسن بصری، امام اوزاعی، سفیان ثوری او امام مزنی رحمهم الله د دې ټولو دا مذهب دې.چه په شهید باندې به د جنازې

[1])وتودیع الأحیاء ظاهر لأن سیاقه یشعر بأن ذلک کان فی آخر حیاته ﷺ وأما تودیع الأموات فیحتمل أن یکون الصحابی أراد بذلک إنقطاع زیارته الأموات بجسده .. ویحتمل أن یکون المراد بتودیع الأموات ما أشار إلیه فی حدیث عائشة رضی الله عنها من الإستغفار لأهل البقیع (فتح الباری (۳۴۹/۷)_

مونځ کولې شی.صرف احناف ﷫ د دې قائل نه دی.بلکه ددوی ټولو دا قول دې.(۱)

[۳۸۱۷] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَقِينَا الْمُشْرِكِينَ يَوْمَئِذٍ وَأَجْلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا مِنَ الرُّمَاةِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ وَقَالَ لَا تَبْرَحُوا إِنْ رَأَيْتُمُونَا ظَهَرْنَا عَلَيْهِمْ فَلَا تَبْرَحُوا وَإِنْ رَأَيْتُمُوهُمْ ظَهَرُوا عَلَيْنَا فَلَا تُعِينُونَا فَلَمَّا لَقِينَا هَرَبُوا حَتَّى رَأَيْتُ النِّسَاءَ يَشْتَدِدْنَ فِي الْجَبَلِ رَفَعْنَ عَنْ سُوقِهِنَّ قَدْ بَدَتْ خَلَاخِلُهُنَّ فَأَخَذُوا يَقُولُونَ الْغَنِيمَةَ الْغَنِيمَةَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ عَهِدَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا تَبْرَحُوا فَأَبَوْا فَلَمَّا أَبَوْا صُرِفَ وُجُوهُهُمْ فَأُصِيبَ سَبْعُونَ قَتِيلًا وَأَشْرَفَ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ أَفِي الْقَوْمِ مُحَمَّدٌ فَقَالَ لَا تُجِيبُوهُ فَقَالَ أَفِي الْقَوْمِ ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ قَالَ لَا تُجِيبُوهُ فَقَالَ أَفِي الْقَوْمِ ابْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ قُتِلُوا فَلَوْ كَانُوا أَحْيَاءً لَأَجَابُوا فَلَمْ يَمْلِكْ عُمَرُ نَفْسَهُ فَقَالَ كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللَّهِ أَبْقَى اللَّهُ عَلَيْكَ مَا يُخْزِيكَ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ اعْلُ هُبَلُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجِيبُوهُ قَالُوا مَا نَقُولُ قَالَ قُولُوا اللَّهُ أَعْلَى وَأَجَلُّ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ لَنَا الْعُزَّى وَلَا عُزَّى لَكُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجِيبُوهُ قَالُوا مَا نَقُولُ قَالَ قُولُوا اللَّهُ مَوْلَانَا وَلَا مَوْلَى لَكُمْ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَالْحَرْبُ سِجَالٌ وَتَجِدُونَ مُثْلَةً لَمْ آمُرْ بِهَا وَلَمْ تَسُؤْنِي [ر:۲۸۷۴]

دریم روایت د حضرت براء ﷜ دې.د روایت په اول کښې د تیر انداز د هغه دستې ذکر دې.کومه چه نبی ﷺ د احد د غرپه شا مقرر کړې وه.او تاکید ئې ورته کړې وو.چه دځپل ځاې نه به په هیڅ حالت کښې نه اخوا کیږی.خو چه کله هغه کسان اخوا شو.نو ګټلې شوې جنګ په شکست کښې بدل شو.ددې نه پس ابوسفیان په غر باندې اوختلو.او ووې وئیل.

«أفي القوم محمد؟» آي په قوم کښې محمد (ﷺ) شته؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.تاسو ورته جواب مه ورکوئ.ابوسفیان بیا اووئیل.«أفي القوم ابن أبي قحافة؟» آي په قوم کښې ابن ابی قحافه (حضرت ابوبکر ﷜) شته؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.جواب مه ورکوئ.او سفیان بیا آواز اوکړو.«أفي القوم عمر ابن الخطاب؟» آیا عمر بن الخطاب شته؟ کله چه ورته جواب ملاؤ نشو.نو وې وئیل.دا ټول قتل شوی دی.که دا خلق ژوندی وو.نو خامخا به ئې جواب راکړې وو.په دې باندې حضرت عمرفاروق ﷜ خپل ځان په قابوکښې اونشو ساتلې.او ووې وئیل.«كذبت يا عدوالله أبقى الله عليكم مايخزيك» اې دالله دشمنه ته دروغ واې.الله تعالی ستا د رسوا کولو دپاره دا ټول ژوندی ساتلی دی.ابوسفیان اووئې.«أعل هبل» اې هبل ته دې اوچت اوسه،«هبل» دیویت نوم وو.کوم چه عمروبن لحی قریشتو ته راوړې وو.او په کعبه کښې ئې

---

(۱) د تفصیل دپاره اوګورئ عمدة القاری(۱۴۲/۱۷)_

كيخودې وو.نبي ﷺ ددې جواب صحابه كرامو رضي الله عنهم ته اوخودل.چه تاسو اووايې.«الله أعلی وأجل» الله تعالی د ټولو نه زيات اوچت او لوې دې؛ابوسفيان اووئيل.«لنا العزی ولاعزی لکم» زمونږ دپاره عزی شته اوستا عزی نشته.عزی د بت نوم وو.صحابو رضي الله عنهم د نبي ﷺ په حکم سره داسې جواب ورکړو«الله مولانا ولا مولی لکم» الله تعالی زمونږ مددګار دې. او ستاسو مددګارنشته.

بيا ابوسفيان اووئيل.نن ورځ د بدر د ورځې بدله شوه.اوجنګ د ډول پشان وی.(چه کله ډوی د يو په لاس کښې وی.اوکله د بل په لاس کښې وی.دغه شان کاميابی کله د يوپه لاس کښې وی. اوکله د بل په لاس کښې وی)

چونکه ابوسفيان په جنګ کښې د دمکې د قريشو سردار وو.ددې وجې هغه اووئيل.تاسوبه په خپلو مړو کښې مثله اومومئ.ما ددې حکم نه ووکړې.خوکله چه ماته ددې علم اوشو.نو ماته بده هم ښکاره نشوه.

[٣٨١٨]أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ اصْطَبَحَ الْخَمْرَ يَوْمَ أُحُدٍ نَاسٌ ثُمَّ قُتِلُوا شُهَدَاءَ[ر:٢٦٦٠]

دحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دې.چه د احد په ورځ ډيرو مسلمانانو شراب څکلی وو اوهم په دغه ورځ هغوی شهيدان شول.خودل دا دی.چه تردغه وخته پورې شراب حرام شوی نه وو.

[٣٨١٩]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا فَقَالَ قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي كُفِّنَ فِي بُرْدَةٍ إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَإِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ وَأُرَاهُ قَالَ وَقُتِلَ حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ أَوْ قَالَ أُعْطِينَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِينَا وَقَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِي حَتَّى تَرَكَ الطَّعَامَ[ر:١٢١٥]

دحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوې ابراهيم فرمائی.چه يوه ورځ حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه ته د روژه ماتی په وخت کښې روټئ راوړې شوه.دوی په دغه ورځ روژه وو.نو دوی اوفرمائيل.حضرت معصب بن عمير رضي الله عنه په جنګ احد کښې شهيد شوې وو.اوهغه زما نه غوره او افضل وو.په يو څادر کښې هغه کفن کړې شو.خو هغه څادر دومره ورکوټې وو.که دهغه سر به پټولې شو.نو پښې به ئې ښکاره کيدې.اوکه پښې به ئې پټولې شوې.نوسر به ئې ښکاره کيدو.اوحضرت حمزه په احد کښې قتل شوې وو.هغه هم زما نه غوره او افضل وو.ددې نه پس په مونږ باندې دنيا فراخه شوه.مونږ ته خو ددې خبرې ويره ده.چه هسې نه زمونږ د ټولو نيکو بدله هم په دنيا کښې راکولې شی.دا ئې اووئيل.او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په ژړا شو.تردې چه روټئ ئې هم نشوه خوړې.

چونکه په دې روايت کښې د حضرت مصعب او حضرت حمزه رضي الله عنهما د احد په جنګ کښې د شهادت ذکر دې.ددې وجې امام بخاری دا روايت دلته نقل کړو.

[۳۸۲۰]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ

حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه فرمائی.چه د احد په ورځ یو سړی د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو.که زه جنګ کوم. اوپه دې کښې قتل شم.نو کوم ځاې کښې به یم.؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.په جنت کښې،نودهغه په لاس کښې قجورې وې.هغه نې اوغورځولې.او میدان جنګ ته ورګډ شو.تردې چه شهید شو.

ددې صحابی رضی الله عنه د نوم په باره کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.((لم أقف علی إسمه)) [1] د ابن بشکوال خیال دې.چه دا صحابی عمیربن الحمام دې.[2] دغه شان یوه واقعه په غزوه بدرکښې هم تیره شوې وه.د علامه عینی رحمه الله رائې دا ده.چه دا دواړه د جدا جدا کسانو واقعات دی.[3]

[۳۸۲۱]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِي وَجْهَ اللَّهِ فَوَجَبَ أَجْرُنَا عَلَى اللَّهِ وَمِنَّا مَنْ مَضَى أَوْ ذَهَبَ لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا كَانَ مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ لَمْ يَتْرُكْ إِلَّا نَمِرَةً كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ وَإِذَا غُطِّيَ بِهَا رِجْلَاهُ خَرَجَ رَأْسُهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلِهِ الْإِذْخِرَ أَوْ قَالَ أَلْقُوا عَلَى رِجْلِهِ مِنَ الْإِذْخِرِ وَمِنَّا مَنْ قَدْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا [ر:۱۲۱۷]

دامام بخاری رحمه الله استاذ احمدبن یونس رحمه الله د زهیر رحمه الله نه نقل کوی. دا ,,زهیربن معاویه،، دې.هغه نقل کول.د اعمش نه.دا ,,سلیمان اعمش،، دې. هغه د ,,شقیق بن سلمه،، نه نقل کوی.هغه د حضرت خباب بن الارت رضی الله عنه نه روایت کوی.چه حضرت خباب رضی الله عنه فرمائی.مونږ د نبی کریم ﷺ سره د الله تعالی د رضا او خوشحاله کولو دپاره هجرت کړې وو.د الله د وعدې مطابق الله سره زمونږ اجر یقینی دې.زمونږ بعضې ملګری خو لاړل.او هغوی خپل اجر کښې (ددې دنیا نه) څه اونه خوړل.په هغوی کښې حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه هم وو.((منا من إینعت له ثمرته فهو یهدبها)) ناو په مونږ کښې څه لږ هغه دی.چه د هغوی دپاره د هغوی میوه په دنیا کښې پخه شوه.او هغوی دغه میوې ګوری.((یهدبها أی یجنیها))

[۳۸۲۲]أَخْبَرَنَا حَسَّانُ بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَلْحَةَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ عَمَّهُ غَابَ عَنْ بَدْرٍ فَقَالَ غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَئِنْ

[1])فتح الباری(۷\۳۵٤)_
[2])فتح الباری(۷\۳۵٤)
[3])عمدة القاری(۱۷\۱٤٤)_

أشهدني الله مع النبي صلى الله عليه وسلم ليرين الله ما أجد فلقي يوم أحد فهزم الناس فقال اللهم إني أعتذر إليك مما صنع هؤلاء يعني المسلمين وأبرأ إليك مما جاء به المشركون فتقدم بسيفه فلقي سعد بن معاذ فقال أين يا سعد إني أجد ريح الجنة دون أحد فمضى فقتل فما عرف حتى عرفته أخته بشامة أو ببنانه وبه بضع وثمانون من طعنة وضربة ورمية بسهم [ر: ٢٦٥١]

حضرت انس بن مالك ﷺ فرمائی چه دده تره حضرت انس بن نضر ﷺ په جنګ بدر کښې نه وو شریك شوې.هغوی ته د نبی ﷺ سره اولنی جهاد (بدر) کښې د نه حاضریدو ډیر خفګان وو.فرمائیل به ئې.که الله تعالی ماته آئنده د نبی ﷺ سره په جنګ کښې د حاضرئ توفیق راکړو.نو الله تعالی به په هغې کښې زما کوشش اوګوری.نو په جنګ احد کښې دوی لاړل.کله چه مسلمانانوته شکست اوشو.نو حضرت انس بن نضر ﷺ اوفرمائیل.اې الله زه د مسلمانانو د طرفه (یعنی په جنګ کښې د دوی د تختیدو د غلطئ) تاسوته معذرت وړاندې کوم.او زه ویزاری ښکاره کوم.د مشرکانو د حرکاتونه.بیا ئې په لاس کښې توره واخستله.او وړاندې شو.نو دحضرت سعد بن معاذ ﷺ سره ئې ملاقات اوشو.وې وئیل اې سعد! چرته؟ زه د احد نه د جنت خوشبوئی محسوسوم.([1]) نو وړاندې شو.او شهید شو.

قوله: فما عرف حتى عرفته أخته بشامة أو ببنانه وبه بضع وثمانون من طعنة وضربة ورمية بسهم: بیا د دوی لاش نشو پیژندلې.تردې چه د دوی خور (ربیع بنت نضر) په یو تور داغ (چه پښتو کښې ورته ماما وائی) یا د ګوتو په یو بند باندې ددوی لاش اوپیژندلو.د دوی په بدن کښې د نیزو.تورو او تیرونو د اتیا (۸۰) زخمونونه زیات وو.

شامة: په څرمن باندې چه تور غوندې کوم ټاکې وی.هغې ته ..شامه.. وائی .په پښتو کښې ورته ..ماما.. وائی.

[٣٨٢٣] حدثنا موسى بن إسماعيل حدثنا إبراهيم بن سعد حدثنا ابن شهاب أخبرني خارجة بن زيد بن ثابت أنه سمع زيد بن ثابت رضي الله عنه يقول فقدت آية من الأحزاب حين نسخنا المصحف كنت أسمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرأ بها فالتمسناها فوجدناها مع خزيمة بن ثابت الأنصاري من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر فألحقناها في سورتها في المصحف [ر: ٢٦٥٢]

حضرت زید بن ثابت ﷺ فرمائی.کله چه مونږ مصحف لیکل.نود سورة احزاب یو آیت ماته ملاؤ نشو.ما د رسول الله ﷺ نه هغه آیت اوریدل.نو مونږ د هغه آیت لټون شروع کړو. نود

---

[1])يحتمل أن يكون ذلك على الحقيقة بأن يكون شم رائحة طيبة زائدة عما يعهد فعرف أنها ريح الجنة ويحتمل أن يكون أطلق ذلك بإعتبار ما عنده من اليقين حتى كان الغائب عنه صار محسوساً عنده والمعنى أن الموضع الذى أقاتل فيه يئول بصاحبه إلى الجنة .. (فتح البارى(٣٥٥/٧)_

حضرت خزیمه بن ثابت انصاری رضی الله عنه سره هغه آیت مونړ ته ملاؤ شو.

﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ﴾

په مومنانو کښې څه خلق داسې دی.چه هغوی الله تعالی سره کومه وعده کړې وه.هغه ئې پوره کړه.اوپه هغې کښې ربښتینې ثابت شول.اوبعضې په کښې هغه دی.چا چه خپل حاجت پوره کړې دې.(اوشهیدشوی دی) اوڅه خلق هغه دی.چه اوس(د شهادت) انتظارکونکی دی.

ددې حدیث بحث خو د کتاب فضائل القرآن سره متعلق دې.خو چونکه په دې آیت کښې د ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ﴾ مصداق هغه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم دی.کوم چه په احد کښې شهیدان شوی وو.ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته ذکرکړو.

[۳۸۲۴]حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُحُدٍ رَجَعَ نَاسٌ مِمَّنْ خَرَجَ مَعَهُ وَكَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةٌ تَقُولُ نُقَاتِلُهُمْ وَفِرْقَةٌ تَقُولُ لَا نُقَاتِلُهُمْ فَنَزَلَتْ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا وَقَالَ إِنَّهَا طَيْبَةُ تَنْفِي الذُّنُوبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ

حضرت زید بن ثابت انصاری رضی الله عنه فرمائی.چه کله نبی صلی الله علیه وسلم د جنګ احد دپاره اووتل.نو کوم کسان چه دوی سره وتلی وو.په هغوی کښې څه واپس شو.(مراد ددې نه عبدالله بن ابی او دده درې سوه ملګری وو.کوم چه په لار کښې واپس شوی وو) د نبی صلی الله علیه وسلم صحابه رضی الله عنهم دهغوی په باره کښې په ددو ډلوکښې تقسیم شول.یوې ډلې وئیل.مونږ به دوی سره قتال کوو.څکه چه دوی زمونږ ملګرتیا پریخوده.او دهوکه ئې اوکړه.نو دوی مسلمانان نه دی.دویمې ډلې وئیل.چه په واپس تللو باندې اګرچه دوی ګناه اوکړه.خو د دوی سره قتال کول نه دې پکار.په دې باندې د قرآن پاك آیت نازل شو.﴿فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا﴾ تاسوته د منافقانو په باره کښې څه اوشو.چه په دوو ډلو کښې تقسیم شوئ.حالانکه الله تعالی هغوی د هغوی دعمل د سپیرتوپ په وجه واپس کړی دی.

ددې آیت په شان نزول کښې نور هم ډیر روایتونه دی.یو روایت دا دې.چه د افك د واقعه متعلق کله چه نبی صلی الله علیه وسلم خطبه ورکوله. او وې وئیل.زما د کور والا په باره کښې ماته تکلیف رسولې شوې دې.عبدالله بن ابی په دې کښې لویه برخه اخستې وه.نو په دغه موقع باندې د عبدالله بن ابی په باره کښې د اوس او خزرج سره تعلق ساتونکې صحابو رضی الله عنهم کښې اختلاف پیدا شو.اوذکرشوې آیت د دوی په باره کښې نازل شوې دې.

خوراجح قول هم دا دې.چه دا د غزوه احد په موقع باندې نازل شوې وو.[1]

[1])قال الحافظ هذا هو الصحيح فى نزولها وأخرج ابن أبى حاتم .. عن ابى سعيد بن معاذ قا ل﴿ نزلت هذه الآية فى الأنصار خطب رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال من لى بمن يؤذينى ؟ فذكر منازعة سعد بن معاذ وسعد بن عبادة واسيدبن حضير ومحمد بن مسلمة قال فأنزل الله هذه الآية وفى سبب نزولها قول آخر أخرجه أحمد .. إن قوما أتو المدينة فأسلموا فأصابهم الوباء فرجعوا واستقبلهم ناس من الصحابة فأخبرهم فقال بعضهم نافقوا وقال بعضهم لا فنزلت .. فإن كان محفوظاً أحتمل أن تكون نزلت فى الأمرين جميعاً (وانظرفتح البارى (۳۵۶/۷)

اوهم ددې وجې امام بخاري رحمه الله دا حديث دلته ذكر كړو.د روايت په اخر كښې دى.

قوله : طَيْبَةُ تَنْفِي الذُّنُوبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ: دا مدينه منوره پاك ځاې دې دا ګناهونه داسې ختموى.لكه څكه چه اور د سپينو زرو نه خيرې او زنګ ختموى.

مطلب دا دې.چه كومو كسانو منافقانه حركات كړى وى.الله تعالى به يقيناً هغوى بيل اوجدا كړى.اود هغوى حثيت به مشتبه پاتې نشى.

۲=بَاب ﴿إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾[1]

دا خبره په ماقبل كښې تيره شوې ده.چه بنو سلمه د قبيلې خزرج يو شاخ دې.اوبنو حارثه د قبيلې اوس يو شاخ دې.نوبه كوم وخت كښې چه عبدالله بن ابى درې سود كسان واخستل اود مقام ،،شيخين،، نه واپس شو.نو د بنو سلمه او بنو حارثه په زړه كښې هم د واپسۍ خيال راغلو.خوچونكه دا خلق مخلص وو،څكه الله تعالى د دوى امداد اوكو.اود واپسۍ اراد ئې د زړه نه اوويستله.دقران په دې آيت كښې هم د دې ذكردې.

[۳۸۲۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ ابْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِينَا ﴿إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا﴾ بنى سلمة وبنى حارثة وما أحب أنا لم تنزل والله يقول ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ [ر: ۴۲۸۲]

حضرت جابر رضي الله عنه چونكه هم ددې قبيلو سره تعلق ساتل.ددې وجې دوى فرمائى.چه ﴿إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ﴾ دا آيت د بنو سلمه او بنو حارثه په باره كښې نازل شوې وو.اوزه دا نه غواړم.چه دا آيت نه وى نازل شوې.څك چه په دې كښې الله تعالى ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ فرمائيلى دى.يعنى په دې آيت كښې اګرچه د دې دواړو قبيلو د بزدرلۍ او كمزورۍ ذكر دې.خو په دې كښې ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ زبردست انعام هم شته.ددې وجې د دې آيت په نزول مونږ خوشحاله يو.

[۳۸۲۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَكَحْتَ يَا جَابِرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَاذَا أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا قُلْتُ لَا بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبِي قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ تِسْعَ بَنَاتٍ كُنَّ لِي تِسْعَ أَخَوَاتٍ فَكَرِهْتُ أَنْ أَجْمَعَ إِلَيْهِنَّ جَارِيَةً خَرْقَاءَ مِثْلَهُنَّ وَلَكِنْ امْرَأَةً تَمْشُطُهُنَّ وَتَقُومُ عَلَيْهِنَّ قَالَ أَصَبْتَ [ر: ۴۳۲]

حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى.چه نبى صلى الله عليه وسلم زمانه تپوس اوكړو،جابره! تا نكاح اوكړه.ما ورته عرض اوكړو،آو جى،نو نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.باكرې سره كه ثيبه سره؟ ما اوويل. ثيبه سره، نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.د باكرې سره تا ولې نكاح اونكړه.چه هغې تاسره لوبې كولې اوتا هغې

[1])آعمران:۱۲۲(_

سره،،اويوبل سره مو محبت كولى ما اووئيل.يارسول الله زما پلار په احد كښې شهيد شوې وو.او هغوى نهه لونړه پريخودې وې.نو زما نهه خويندې دى.

قوله: فَكَرِهْتُ أَنْ أَجْمَعَ إِلَيْهِنَّ جَارِيَةً خَرْقَاءَ مِثْلَهُنَّ وَلَكِنْ امْرَأَةً تَمْشُطُهُنَّ وَتَقُومُ عَلَيْهِنَّ: ددې وجې ما دا مناسب اونه ګڼړل.چه زه دوى ته هم د دوى پشان ناتجربه كاره جينۍ راولم.ما اوغوښتل.چه داسې ښځه وى.چه هغه د دوى سرونه ګومنځوى. او تربيت ئې كوى.

خرقاء: داسې جينۍ ته وائى.كومه چه كم عقله وى.اود كور په كارونو كښې ماهره نه وى. نبى ﷺ ورته اوفرمائيل«أصبت» تا ټيك كړى دى.

دلته يوه خبره خو دا معلومه شوه.چه حضرت جابر ﷛ واده اوكړو.او نبى ﷺ ته پته نه وه.نن صبا چه په مونږ كښې ودونه كيږى.نو هنګامې او ډرامې وى.ټولې دنيا ته د خبر وركولو اهتمام كولې شى.د نبى ﷺ نه زيات محبوب د صحابو ﷡ په نظركښې څوك كيدې شو؟ خو ددې باوجود دنبى كريم ﷺ ديوصحابى ﷛ هم په مدينه كښې واده كيږى.خو هغوى ددې خبرې ضرورت محسوس نكړو.چه نبى ﷺ ته خبر وركړى.دنكاح دپاره اعلان كول پكار دى.او هغه د څوكسانو په موجودګۍ كښې كيږى.ددې دپاره د كارډ چهاپ كول او شاميانې لګول او هال بك كول او د جشن منظر جوړول څه ضرورى دى.د صحابه كرامو ﷡ په دور كښې دا تكلفات نه وو.

[٣٨٢٧]حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ فِرَاسٍ عَنْ الشَّعْبِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ أَبَاهُ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ عَلَيْهِ دَيْنًا وَتَرَكَ سِتَّ بَنَاتٍ فَلَمَّا حَضَرَ جِدَاذُ النَّخْلِ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِي قَدْ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ دَيْنًا كَثِيرًا وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ فَقَالَ اذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَةٍ فَفَعَلْتُ ثُمَّ دَعَوْتُهُ فَلَمَّا نَظَرُوا إِلَيْهِ كَأَنَّهُمْ أُغْرُوا بِي تِلْكَ السَّاعَةَ فَلَمَّا رَأَى مَا يَصْنَعُونَ أَطَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي أَصْحَابَكَ فَمَا زَالَ يَكِيلُ لَهُمْ حَتَّى أَدَّى اللَّهُ عَنْ وَالِدِي أَمَانَتَهُ وَأَنَا أَرْضَى أَنْ يُؤَدِّيَ اللَّهُ أَمَانَةَ وَالِدِي وَلَا أَرْجِعَ إِلَى أَخَوَاتِي بِتَمْرَةٍ فَسَلَّمَ اللَّهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا وَحَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ تَمْرَةً وَاحِدَةً[ر:٢٠٢٠]

دا روايت هم د حضرت جابر ﷛ نه دې.دوى فرمائى.چه زما پلار په جنګ احد كښې شهيد شو.اوډيرقرض ئې پريخودو.شپږ لونړه هم هغوى پريخودې وې.

قوله: فَلَمَّا حَضَرَ جِذَاذُ النَّخْلِ: كله چه د قجورو كټ كولووخت راغلو.

جذاذ: دجيم په كسرې او فتحې دواړو سره وئيلى شى.كټ كول اوپريكولو ته وائى.

حضرت جابر ﷛ فرمائى.چه زه په هغه موقع نبى ﷺ ته راغلم.اود نبى ﷺ په خدمت كښې مې عرض اوكړو.چه يا رسول الله تاسو ته معلومه ده.چه زما پلار په جنګ احد كښې شهيد

شوي دي.اودهغه په ذمه ډيرقرض دي.زه دا غواړم.چه قرض غوښتونکي تاسو اووينې. (ممكن ده.چه ستاسو په كتلو هغه څه رعايت او نرمي اوكړي) نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل.
((اذهب فبيدر كل تمر على ناحية)) څه لاړه شه. او هرقسم قجورو نه جدا جدا ډيري جوړ كړه.
نوما د نبي ﷺ د حكم مطابق جدا جدا ډيري جوړ كړو.او بيا مې نبي ﷺ راوبلل كله چه دغه قرض غوښتونكو نبي ﷺ اوليدو.چه راځي.(نوچونكه هغوى يهوديان وو.په دغه موقع د نبي ﷺ راتلل دهغوى ډيرناخوښه وو) نوداسې ښكاريده.لكه چه اوس هغوى په ما باندې حمله كوي.(چه په قرض كښې د نرمئ كولودپاره ما نبي ﷺ ولې راوغوښتل)
كله چه نبي ﷺ دهغوى اندازه واخستله.نونبي ﷺ د ټولونه غټ ډيرې نه ګير چاپيره درې چكرې اولګولې.او بيا شاه كړې كيناستلو.اووې فرمائيل.خپل قرض غوښتونكې راوغواړه.نبي ﷺ شروع شو.مسلسل ئې تلل كول.اودهغوى قرضونه ئې خلاصول.تردې چه الله تعالى زما د پلار په ذمه چه څومره قرضونه وو.هغه ادا كړل.زه په دې خبره هم خوشحاله وم.چه الله تعالى زما دپلار قرضونه خلاص كړي. او زه خپلو خويندو ته يوه قجوره هم يونسم. (خو د نبي ﷺ بركت داسې ښكاره شو. چه) الله تعالى هغه ټول ډيرى محفوظ اوساتل.اوپه كوم ډيرى سره چه نبي ﷺ تشريف فرما وو.په هغې كښې ماته يوه قجوره هم ماته كمه نه ښكاريده.

يوتعارض اودهغې حل: په دې روايت كښې حضرت جابر رضي الله عنه فرمائي.چه زما پلار شپږ لونړه پريخودې وې.اوددې نه وړاندينى روايت كښې دى.چه د دوى پلار نهه لونړه پريخودې وې. حضرات شارحينو رحمهم الله ددې داسې تطبيق كړې دې.چه په اصل كښې نهه لونړه د حضرت جابر رضي الله عنه پلار پريخودې وې.خوپه هغې كښې درې واده شوې وې. د دې وجې په دې روايت كښې د دريو ذكرنه دې شوې.اوپه اولنى روايت كښې دهغوى ذكرهم شته.[1]
په دې دواړو رواياتوكښې چونكه د حضرت جابر رضي الله عنه د پلار په جنګ احد كښې دشهادت ذكر دې.ددې وجې امام بخاري رحمه الله دلته د دې تخريج اوكړو.

[٣٨٢٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ وَمَعَهُ رَجُلَانِ يُقَاتِلَانِ عَنْهُ عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيضٌ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ [ر:٥٤٨٨]

حضرت سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه فرمائي.چه ما د احد په ورځ د نبي كريم ﷺ سره دوه سړى اوليدل.چا چه د دوى د طرفه جنګ كولو.هغه دواړه په سپينو جاموكښې پټ وو.ما هغوى نه ددې نه وړاندې يدلى وو.اونه روستو.دا دواړه فرشتې وې. يو حضرت جبرئيل او بل حضرت ميكائيل عليهما السلام وو.[2] په احد كښې د فرشتو نزول شوې و.خو هغوى په عام جنګ كښې حصه نه وه اخستې.صرف د نبي ﷺ د دفاع دپاره په جنګ كښې شريكې شوې وې.

---
[1])فتح الباري(٣٥٨\٧)۔
[2])فتح الباري(٣٥٩\٧)۔

[۳۸۲۹/۳۸۲۹] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ السَّعْدِيُّ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ نَثَلَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِنَانَتَهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي

[۳۸۳۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا يَقُولُ جَمَعَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ

[۳۸۳۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَحْيَى عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَقَدْ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ أَبَوَيْهِ كِلَيْهِمَا يُرِيدُ حِينَ قَالَ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي وَهُوَ يُقَاتِلُ [ر: ۳۵۱۹]

[۳۸۳۲/۳۸۳۲] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ غَيْرَ سَعْدٍ

[۳۸۳۳] حَدَّثَنَا يَسَرَةُ بْنُ صَفْوَانَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ يَا سَعْدُ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي [ر: ۲۷۴۹]

حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ

حضرت سعدبن ابی وقاص رضی اللہ عنہ فرمائی «نَثَلَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِنَانَتَهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي» چه نبی ﷺ دخپل ترکش تیر راوویسته اوماته ئې راکړو.او وې فرمائیل.زما مور پلار دې په تا قربان شي.غشي اوله.

«نثل»ازباب ضرب ونصر»معنی ده.دترکش نه غشي راوباسه.«کنانة» ترکش ته وائي.

قوله: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ: په دې روایت کښې هم هغه خبره ده.چه نبی ﷺ دحضرت سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ دپاره خپل والدین (په تفدیه) کښې جمع کړل.دا محاوره ده.کله چه چا سره ډېر زیات محبت وی.اودخپلې رضا اظهار مقصود وی.نو«فداك أبي وأمي» وائي.

[۳۸۳۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ مُعْتَمِرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ زَعَمَ أَبُو عُثْمَانَ أَنَّهُ لَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ تِلْكَ الْأَيَّامِ الَّتِي يُقَاتِلُ فِيهِنَّ غَيْرُ طَلْحَةَ وَسَعْدٍ عَنْ حَدِيثِهِمَا [ر: ۳۵۱۷]

[۳۸۳۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ قَالَ سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ قَالَ صَحِبْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ وَطَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَالْمِقْدَادَ وَسَعْدًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا مِنْهُمْ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا أَنِّي سَمِعْتُ طَلْحَةَ يُحَدِّثُ عَنْ يَوْمِ أُحُدٍ [ر: ۲۶۶۹]

[۳۸۳۶] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ وَقَى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ [ر: ۳۵۱۸]

[۳۸۳۷] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْهَزَمَ النَّاسُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو طَلْحَةَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُجَوِّبٌ عَلَيْهِ بِحَجَفَةٍ لَهُ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ رَجُلًا رَامِيًا شَدِيدَ النَّزْعِ كَسَرَ يَوْمَئِذٍ قَوْسَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا وَكَانَ الرَّجُلُ يَمُرُّ مَعَهُ بِجَعْبَةٍ مِنَ النَّبْلِ فَيَقُولُ انْثُرْهَا لِأَبِي طَلْحَةَ قَالَ وَيُشْرِفُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ إِلَى الْقَوْمِ فَيَقُولُ أَبُو طَلْحَةَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي لَا تُشْرِفْ يُصِيبُكَ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ الْقَوْمِ نَحْرِي دُونَ نَحْرِكَ وَلَقَدْ رَأَيْتُ عَائِشَةَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ وَأُمَّ سُلَيْمٍ وَإِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ أَرَى خَدَمَ سُوقِهِمَا تُنْقِزَانِ الْقِرَبَ عَلَى مُتُونِهِمَا تُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ ثُمَّ تَرْجِعَانِ فَتَمْلَآنِهَا ثُمَّ تَجِيئَانِ فَتُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ وَلَقَدْ وَقَعَ السَّيْفُ مِنْ يَدَيْ أَبِي طَلْحَةَ إِمَّا مَرَّتَيْنِ وَإِمَّا ثَلَاثًا [ر: ۲۷۲۴]

قوله: حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی.

قوله: لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْهَزَمَ النَّاسُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو طَلْحَةَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُجَوِّبٌ عَلَيْهِ بِحَجَفَةٍ لَهُ: داحد په ورځ کله چه خلقو شکست اوخوړلو.او د نبی ﷺ نه منتشر شول.نوحضرت ابوطلحه رضی الله عنه د نبی ﷺ مخامخ د خپلې څرمنې ډال اخستې وو.اوپرده شوې وو.

مجوّب: اسم فاعل صيغه ده.

حجفة: (دحاء او جيم په فتحې سره (ډهال ته وائی.حضرت ابوطلحه رضی الله عنه ډیر تیر اندازوو. اوډیره تیزه به غشی راښکل (یعنی لینده به ئې راښکله).دوه درې لیندې په دغه ورځ دوی ماتې کړې وې.

قوله: وَكَانَ الرَّجُلُ يَمُرُّ مَعَهُ بِجَعْبَةٍ مِنَ النَّبْلِ فَيَقُولُ انْثُرْهَا لِأَبِي طَلْحَةَ: کله چه به څوک سړی د مسلمانانو نه دوی سره نزدې تیریدو.اودهغه په لاس کښې به دغشو ترکش وو.نو نبی ﷺ به ورته فرمائیل.غشی ابوطلحه ته راوغورځوه.

جعبة: (دجيم په فتحه اوعين په سکون سره) ترکش ته وائی.کله چه به نبی ﷺ د کافرانو لیدلو دپاره کتل.نوحضرت ابوطلحه رضی الله عنه به ورته ونیل.زما مور پلار دې په تاسو قربان وی.تاسو مه ګورئ.هسې نه چه د کافرانوپه غشی اولګی.زما سينه ستاسو د سینې وړاندې ده.(که غشي راځی.نو زما په سینه کښې به ننوځی)

قوله: وَلَقَدْ رَأَيْتُ عَائِشَةَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ وَأُمَّ سُلَيْمٍ وَإِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ أَرَى خَدَمَ سُوقِهِمَا تُنْقِزَانِ الْقِرَبَ عَلَى مُتُونِهِمَا تُفْرِغَانِهِ فِي أَفْوَاهِ الْقَوْمِ: اوماحضرت عائشه او

حضرت ام سليم رضي الله عنها ليدلې وې.چه هغوى خپلې پينسې اوچتې کړې وې.اوما دهغوى د پنډو پانزيب ليدل.هغوى دواړو به په خپلو شاګانو باندې مشکونه راوړل.اوخلقوته به ئې اوبه ورکولې.

((تنقزان القرب)) ترجمه حضرت شاه ولى الله رحمه الله دا کړې ده.چه مشکونه به ئې برجق (پوره ډك شوې) راوړل.يعنى مشکونه به دومره ډك وو.چه اوبه به ترې بهر وتلې.[1]

په روايت کښې دى.چه دحضرت ابوطلحه رضي الله عنه نه دوه يا درې خله توره اوغورځيده چونکه په دې جنګ کښې الله تعالى په مسلمانانو باندې سکينه نازل کړې وه.د کومې ذکرچه د قرآن پاك په آيت ﴿ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ﴾ کښې دى. د دې پرکالې او سکينې په وجه د حضرت ابوطلحه رضي الله عنه نه دوه درې خله توره وغورځيده.[2]

[٣٨٢٨]حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا كَانَ يَوْمَ أُحُدٍ هُزِمَ الْمُشْرِكُونَ فَصَرَخَ إِبْلِيسُ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ أَيْ عِبَادَ اللَّهِ أُخْرَاكُمْ فَرَجَعَتْ أُولَاهُمْ فَاجْتَلَدَتْ هِيَ وَأُخْرَاهُمْ فَبَصُرَ حُذَيْفَةُ فَإِذَا هُوَ بِأَبِيهِ الْيَمَانِ فَقَالَ أَيْ عِبَادَ اللَّهِ أَبِي أَبِي قَالَ قَالَتْ فَوَاللَّهِ مَا احْتَجَزُوا حَتَّى قَتَلُوهُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ قَالَ عُرْوَةُ فَوَاللَّهِ مَا زَالَتْ فِي حُذَيْفَةَ بَقِيَّةُ خَيْرٍ حَتَّى لَحِقَ بِاللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ بَصُرْتُ عَلِمْتُ مِنْ الْبَصِيرَةِ فِي الْأَمْرِ وَأَبْصَرْتُ مِنْ بَصَرِ الْعَيْنِ وَيُقَالُ بَصُرْتُ وَأَبْصَرْتُ وَاحِدٌ[ر:٣١١٦]

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه کله په جنګ احد کښې مشرکانو ته شکست اوشو.نوابليس آواز اوکړو.يا عبادالله خپل روستو خيال اوکړئ.چه د شانه په تاسوحمله اونکړې شى.نو مخکنئ ډله شاته شوه.اوډ شاتنئ ډلې سره مخامخ شول.اومسلمانانوپه خپل مينځ کښې جنګ شروع کړو.

داواقعه هغه وخت کښې پيښه شوې وه.کله چه تيراندازو خپل ځاى پريخودل او د مال غنيمت جمع کولو دپاره راکوز شول.نو په دغه موقع د حضرت حذيفه رضي الله عنه پلار،حضرت يمان د مسلمانانو د لاسه شهيدشو.حضرت حذيفه رضي الله عنه د مسلمانانو دلاسه خپل پلار په قتليدو باندې ليدلې وو.خوچونکه په غلطئ سره داسې شوى وو.ددې وجې به هغوى د مسلمانانو په حق د مغفرت دعا کوله.حضرت عروه فرمائى.چه په حضرت حذيفه رضي الله عنه کښې د خير دا اثر هميشه دپاره وو.يعنى هغوى به دخپل پلار قاتلانومسلمانانو دپاره هميشه دپاره دمغفرت دعا کوله.ترڅو چه هغه خپل رب سره ملاؤ شو.

....

[1])فيض البارى (٤٣٤/٣) تنقزان ضبط بعضهم هذا اللفظ بضم القاف من نصر وبعضهم بضم أوله من الإنقاذ)
[2])حضرت ابوطلحه انصارى رضي الله عنه حالات وړاندې په حاشيه باندې اوګورئ.)

٣=باب قول الله تعالى: إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿﴾ (١)

هغه خلق چا چه تاسوته شا کړې وه.په هغه ورځ کله چه (د مسلمانانو او کافرانو) دوه ډلې (دجنګ دپاره) يوبل ته مخامخ شوې.سوا ددې نه نۀ چه شيطان دوی په لغزش کښې مبتلا کړې وو.دوی د بعضې اعمالوپه وجه (يعنی د نبی ﷺ د حکم نافرمانئ ئې کوله او د تيراندازو خپل ځاې پرېخودلوپه وجه) اوالله تعالی دوی معاف کړی دی.بيشکه الله تعالی غفور او رحيم دې.

[٣٨٣٩] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبُو حَمْزَةَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ حَجَّ الْبَيْتَ فَرَأَى قَوْمًا جُلُوسًا فَقَالَ مَنْ هَؤُلَاءِ الْقُعُودُ قَالُوا هَؤُلَاءِ قُرَيْشٌ قَالَ مَنِ الشَّيْخُ قَالُوا ابْنُ عُمَرَ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ أَتُحَدِّثُنِي قَالَ أَنْشُدُكَ بِحُرْمَةِ هَذَا الْبَيْتِ أَتَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَتَعْلَمُهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَتَعْلَمُ أَنَّهُ تَخَلَّفَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَكَبَّرَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ تَعَالَ لِأُخْبِرَكَ وَلِأُبَيِّنَ لَكَ عَمَّا سَأَلْتَنِي عَنْهُ أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ فَإِنَّهُ كَانَ تَحْتَهُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ مَرِيضَةً فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ لَبَعَثَهُ مَكَانَهُ فَبَعَثَ عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَمَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ فَقَالَ هَذِهِ لِعُثْمَانَ اذْهَبْ بِهَذَا الْآنَ مَعَكَ [ر:٣٤٩٢]

عثمان بن موهب رحمه الله وائی.چه يوکس د بيت الله د حج دپاره راغلو.غالباً دا خوک مصری وو.ځکه چه هم په مصر کښې د تولونه وړاندې د حضرت عثمان رضي الله عنه خلاف بغاوت پورته شوې وو.دا کس د حضرت عثمان رضي الله عنه په مخالفينوکښې وو.هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کښې درې اعتراضونه اوکړل.اوکله چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د هغه د خيالاتو تائيد اوکړو.او ((نعم)) ئې اووئيل.نو هغه ډير خوشحاله شو.او د الله اکبر نعره ئې اوچته کړه.

هغه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه اولنې سوال دا اوکړو.آيا تا ته معلومه ده.چه حضرت عثمان رضي الله عنه د جنګ احد په ورځ تختيدلې وو؟حضرت ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل ،،نعم،، آو.هغه تپوس اوکړو.آيا تاته معلومه ده.چه حضرت عثمان رضي الله عنه په جنګ بدرکښې شريک شوې نه وو.حضرت ابن عمر رضي الله عنهما اووئيل،،نعم،، آو.هغه تپوس اوکړو..آيا تاته معلومه ده.چه حضرت عثمان رضي الله عنه په بيعت الرضوان کښې روستو پاتې شوې وو.ابن عمر رضي الله عنهما

---

(١) آل عمران:١٥۵_

اوونيل، ،نعم، او په دې باندې دغه سائل ، الله اكبر، ، اوونيل.حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ورته اوفرمائيل.راشه ته چه زه تاته ستا د دې درې سوالونو تفصيل اوښايم. تركومې پورې چه دحضرت عثمان رضي الله عنه د جنګ احد نه د تختيدو تعلق دې.نوزه ددې خبرې ګواهي وركوم،چه الله تعالى دوى معاف كړى دى.(ځكه چه په قرآن پاك كښې الله تعالى د ﴿وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ﴾ اعلان كړې دې) پاتې شوحضرت عثمان رضي الله عنه د جنګ بدرنه غائب كيدل.نو ددې وجه دا وه.چه دحضرت عثمان رضي الله عنه په نكاح كښې د نبى ﷺ لور بى بى وه.هغه ته ئې په مدينه كښې د خپلې بى بى د تيمارداري حكم كړې وو.اودوى ته ئې وئيلى وو.چه تاته به دومره اجراوپه مال غنيمت كښې حصه ملاويږى.څومره چه شريكو كسانوكښې يوته ملاويږى.(نوهغه د رسول الله ﷺ په حكم سره په مدينه كښې پاتې شو.اوحكماً هغه بدرى دې) باقى پاتې شوه ستا دريمه خبره،چه حضرت عثمان رضي الله عنه د بيعت رضوان نه روسته پاتې شوې وو.نوكه په وادى مكه كښې د حضرت عثمان رضي الله عنه نه څوك زيات معزز وو.نو نبى ﷺ به هم هغه ليږلې وو.(خوچونكه په وادى مكه كښې د ټولونه زيات معزز هغه وو.ددې وجې نبى ﷺ د دوى انتخاب اوكړو) كله چه حضرت عثمان رضي الله عنه مكې ته لاړل.نودبيعت رضوان واقعه پيښه شوه.چونكه حضرت عثمان رضي الله عنه په دغه موقع موجود نه وو.ددې وجې نبى ﷺ خپل ښې لاس اوچت كړو.او وې فرمائيل.((هذه يد عثمان))دا دعثمان لاس دې.اوهغه ئې خپل ګس لاس ته راپريخودل.او وې فرمائيل ((هذه لعثمان)) دا دعثمان بيعت دې.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د سائل د درې واړو تپوسونو تفصيلى جواب وركولونه پس اوونيل.((اذهب بهذا الآن معك)) اوس ځان سره دا تفصيل واخله او لاړ شه.

چونكه په دې روايت كښې د حضرت عثمان رضي الله عنه په جنګ احد كښې په شا كيدو ذكردې.هم په دې مناسبت سره دا روايت امام بخارى دلته په غزوه احد كښې ذكركړو.والله اعلم.

۴=بَاب: اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ

وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّاۢ بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ (ال عمران: ۱۵۳) تُصْعِدُوْنَ تَذْهَبُوْنَ أَصْعَدَ وَصَعِدَ فَوْقَ الْبَيْتِ

هغه وخت ياد كړئ.كله چه تاسو ختئ.او تاسو شا ته دچا طرف ته نه راګرځيدئ.،او پيغمبر عليه السلام ستاسو د شا طرفه تاسورابللئ،(خوتاسودهغوى آواز نه اوريدل) نو الله تعالى (ستاسوپيغمبرته) د غم رسولو په وجه تاسوته غم اورسولو. (اود دې دپاره چه په تاسو كښې استقامت پيدا شى.چه د هغې پس) تاسو غمګين نشئ،په هغه څيزكوم چه ستاسو دلاس نه اوځى.او نه په هغه مصيبت كوم چه تاسو ته اورسيږى.اوالله تعالى ښه پوهيږى.په هغه كارونوكوم چه تاسو كوئ.

په دې آيت كريمه كښې هم هغه واقعه بيان شوې ده.كله چه حضرت عبدالله بن جبير رضي الله عنه د خپلو لسو ملګروسره شهيد كړې شو.كوم چه ئې د احد په مورچه باندې مقرر كړى وو. او نورو د اميردحكم مخالفت اوكړو.او مورچه ئې پريخودله.د دوى د شهادت نه پس كافرانود

شا طرف نه ناڅاپي حمله اوكړه.په هغه وخت كښې غل غوبل جوړ شو.نبي ﷺ صحابو ﷺ ته چغې وهلې.خوهغوى په دغه حالت كښې د نبي ﷺ آواز نه اوريدل.

په ﴿فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ﴾ كښې د دوو غمونوذكردې.مفسرينو فرمائيلي دى. چه اولنى غم نه د شكست غم وو.او د دويم غم نه هغه غم مراد دې.كوم چه رسول الله ﷺ ته د هغوى د حكم د نافرمانۍ په وجه رسولې شوې وو.نبي ﷺ حكم وركړې وو.چه مورچه به په هيڅ حالت كښې نه پريږدئ.خوهغوى پريخودله.په دې باندې د الله تعالى پيغمبرته غم اورسيدو.اوددغه غم په وجه مسلمانانوته شكست ملاؤ شو.[1] په روايت باب كښې حضرت براء ﷺ هم دا خبره كړې ده.

[٣٨٣٠] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرَّجَّالَةِ يَوْمَ أُحُدٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ وَأَقْبَلُوا مُنْهَزِمِينَ فَذَاكَ إِذْ يَدْعُوهُمْ الرَّسُولُ فِي أُخْرَاهُمْ [ر: ٢٨٧٤]

٥- بَاب: ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُعَاسًا

يَغْشَى طَائِفَةً مِنْكُمْ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُولُونَ هَلْ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ يُخْفُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ مَا لَا يُبْدُونَ لَكَ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا قُلْ لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَى مَضَاجِعِهِمْ وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾[2]

بيا نازل كړو الله تعالى د اطمينان قلب دپاره په تاسو باندې پركالى چه هغه خوريده. په تاسو كښې يوې ډلې باندې،او يوه ډله (كومه چه دمنافقانووه) هغوى ته هم دخپل ځان فكروو.دغه خلقو الله تعالى سره خلاف حقيقت دجاهليت ګمان كولو.(او) وئيل ئې.چه زمونږ څه اختيارنشته؟ ته ورته اووايه.چه ټوله معامله او اختيارخو دالله تعالى په لاس كښې دې.دغه خلق په خپلو زړونوكښې داسې خبرې پټې ساتى.چه دهغې اظهارتاسوته نه كوى.وائى.كه زمونږ اختيار چليدل.(اوزمونږ خبره منلې شوې وه) نو مونږ به دلت نه وو قتل شوى.ته ورته اووايه.كه تاسو په خپلو كورونوكښې ئې.نوبيا هم چه دكوموكسانودپاره قتل كيدل ليكلى شوى وو.هغو به دخپل قتل ځايونوته وتل.اودا ټول هرڅه ددې وجې راپيښ شول.چه الله تعالى امتحان اوكړى.دهغه ايمان كوم چه ستاسوپه زړونوكښې دې.اوچه الله تعالى پاك كړى.هغه خيرې كوم چه ستاسو د ګناهونو په وجه ستاسوپه زړونوكښې پيدا شوې دي.اوالله تعالى خو د زړونو په خبروښه پوهيږى.

﴿ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُعَاسًا يَغْشَى طَائِفَةً مِنْكُمْ﴾

په ﴿أَمَنَةً نُعَاسًا﴾ كښې دنحوى تركيب په اعتبارسره څو احتمالات دى.

---

[1] تفسير قرطبي (٢٤٠/١٤)_

[2] آل عمران: ١٥٤)_

① یو احتمال دا دې.چه ((اَمَنَةً)) مبدل منه د او ((نُعَاسًا)) بدل دې.اوبدل او مبدل منه چه دواړه ملاؤ شی.نو د ((اَنْزَلَ)) دپاره مفعول به دې.
② دویم احتمال دا دې،چه ((اَمَنَةً)) حال مقدم او ((نُعَاسًا)) ذوالحال موخر دې،لکه((رأیت راکباً رجلاً)) کښې چه ((راکباً)) حال مقدم او ((رجلاً)) ذوالحال موخردې.
③ دریم احتمال دا دې.چه ((اَمَنَةً)) مفعول له دې.د ((اَنْزَلَ)) دپاره،او ((نُعَاسًا)) د ((اَنْزَلَ)) مفعول به دې.او ﴿يَّغْشٰى طَآىِٕفَةً مِّنْكُمْ﴾ صفت دې.د ((نُعَاسًا)) دپاره.[1]

قوله: يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ: په ﴿غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ﴾ کښې ﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ مبدل منه دې.او﴿ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ﴾ بدل دې،یعنی منافقان د الله تعالی سره خلاف حقیقت دجاهلیت ګمان ساتی.دمنافقانو ګمان دا وو.چه الله تعالی به دمسلمانانو مدد نه کوی.[2]

قوله: يُخْفُوْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ: دغه منافقانوپه خپلو زړونوکښې داسې خبرې پټوی.چه تاته ئې نه ښکاره کوی.منافقانوپه خپلو زړونوکښې څه پټ کړی وو؟
① یو احتمال دا خودلې شوې د.چه شرك كفر اوتكذيب ئې پټ کړې وو[3]
② دویم احتمال دا خودلې شوې دې.چه دوی په زړه زړه کښې وئیل.که په مدینه کښې پاتی شوی وو.نو دقتل نه به بچ وو.نبی ﷺ ته خو ئې دخپل خیال اظهارنه کولو.خوپه زړه کښې ئې دا خبره پټه کړې وه.[4]
③ یو احتمال دا بیان شوې دې.چه په جنګ احد کښې په شرکت سره دوی ته پښېمانتیا، افسوس اوپریشانی وه.خوپه ژبه ئې ددې اظهارنه کولو.[5]
④ څلورم احتمال دا بیان شوې دې.چه د دوی په زړونوکښې دا خیال وو.چه دالله تعالی دطرفه به د نبی ﷺ مدد او نصرت اونشی.[6]
خوپه دې اقوالوکښې څه تضاد نشته.ممکن ده.چه د هغوی په زړونوکښې دا ټول خیالات وو.

[۳۸۳] وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنْتُ فِيمَنْ تَغَشَّاهُ النُّعَاسُ يَوْمَ أُحُدٍ حَتَّى سَقَطَ سَيْفِي مِنْ يَدِي مِرَارًا يَسْقُطُ وَآخُذُهُ وَيَسْقُطُ فَآخُذُهُ [ر:۳۲۸۶]

---
[1]) د ذکرشوی ترکیبی احتمالاتو دپاره اوګورئ تفسیر کبیر (۹\۴۴)_
[2])عمدة القاری(۱۷\۱۵۴)_
[3])تفسیر قرطبی (۴\۲۴۲)_
[4])عمدة القاری(۱۷\۱۵۴)_
[5])عمدة القاری(۱۷\۱۵۴)_
[6])عمدة القاری(۱۷\۱۵۴)_

دلته امام بخاری رحمه الله انداز بدل کړو.((حدثنا خليفة)) ئې اونه ونيل.علامه عينی رحمه الله فرمائی.
چه ((قال لی خليفة)) ئې ددې وجې اووئيل.چه د تحديث او اخبارپه طورخليفه.دا خبره امام بخاری رحمه الله ته نه وه بيان کړې.بلکه څه علمی مذاکره وه.په هغې کښې دوی د دې تذکره کړې وه.([1])
په روايت الباب کښې حضرت ابوطلحه انصاری رضی الله عنه فرمائی.چه په جنګ احدکښې په ما باندې پرکالی غالبه شوه.زما دلاس نه به توره پريوتله.اوما به بار بار راوچتوله.

٦=بَاب لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْيَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْيُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ

قَالَ حُمَيْدٌ وَثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ شُجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا نَبِيَّهُمْ فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ([2])

دلته په ((ليس لك)) کښې ،،لام،،د،،الی،، په معنی کښې دې.يعنی ((ليس إليك من الأمرشيئ)) په دې معامله کښې ستا څه اختيار نشته.يعنی تاسو چه د دوی دپاره کومې خيرې کوندئ دې اجازت تاسوته نشته.

((أويتوب عليهم)) کښې ،،او،، د ،،حتی،، په معنی کښې دې.تردې چه الله تعالی دوی ته د توبې توفيق ورکړی.اويا دوی ته عذاب ورکړی.دا د الله تعالی کار دې.اودهغه په اختيار کښې دې.

قوله: قَالَ حُمَيْدٌ وَثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ شُجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا نَبِيَّهُمْ فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ: دا تعليق دې.
سند نه دې بيان کړی.چه د احد په ورځ د نبی صلی الله عليه وسلم سر زخمی شې وو.د ((شج)) اطلاق د سر په زخم باندې کيږی.خو دلته صرف د سر زخم مراد نه دې.ځکه چه د نبی صلی الله عليه وسلم سرمبارک هم زخمی شوې وو.او مخ مبارک هم زخمې شوې وو.نو په دې موقع باندې نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل.
داسې قوم به څنګه کامياب شی.چا چه خپل پيغمبر زخمی کړو.نو دا آيت نازل شو.﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾

[٣٨٤٢]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ السُّلَمِيُّ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِي سَالِمٌ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ مِنَ الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ مِنَ الْفَجْرِ يَقُولُ اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا بَعْدَ مَا يَقُولُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ

---

[1])عمدة القاری (١٧\١٥٥)_
[2])آل عمران:١٢٨)_

الْحَمْدُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ إِلَى قَوْلِهِ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ
وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ سَمِعْتُ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو عَلَى صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ وَسُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو وَالْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ إِلَى قَوْلِهِ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ [ر: ۳۳۸۳و۳۹۱۳]

د ايت اسباب نزول د ذكرشوى اايت په شان نزول كښې اختلاف دې.

① يو قول خو هم دا دې چه كله كافرانو په جنګ احد كښې نبى ﷺ زخمى كړو.نو په دغه وخت كښې دا آيت نازل شو.

② بعضې حضراتو ونيلى دى.چه نبى ﷺ كله حضرت حمزه رضی الله عنه اوليدلو.چه هغه شهيد كړې شوې دې.نوپه هغه وخت كښې هغوى د كافرانوپه حق كښې خيرې اوكړې.نودا آيت نازل شو.[1]

③ د بعضو خيال دې.چه نبى ﷺ دهغه مسلمانانو دپاره د خيرو اراده كړې وه.كوم چه د ګډوډ حالت پيښيدو په وخت كښې د ميدان جنګ نه تلى وو او مدينې ته رغلى وو.نوپه دغه وخت كښې دا آيت نازل شو.[2]

④ د دې باب په روايت كښې دى.چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائيلى دى.چه دوى د نبى ﷺ نه د صبا په مانځه كښې د دويم ركعت د ركوع نه سر پورته كولوپه وخت كښې اوريدلى وو.چه دوى فرمائيل.«اللهم العن فلاناً وفلاناً وفلاناً» دا خيرې به نبى ﷺ د «سمع الله لمن حمده» نه پس كولې.نو په دې باندې د ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ نه تر ﴿فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ﴾ پورې آيت نازل شو.

امام بخارى رحمه الله ددې نه پس هم په دې طريق سره د «حنظله بن ابى سفيان» نه نقل كوى.چه دا خيرې نبى ﷺ د صفوان بن اميه،سهيل بن عمرو اوحارث بن هشام په حق كښې كړې وې. خكه چه دا د قريشو سرداران وو.اوددوى په مشرئ كښې مسلمانانوته نقصان رسيدلې وو.

دا درې واړه حضرات د فتح مكه په موقع باندې مسلمانان شوى وو.چونكه د دوى په قسمت كښې اسلام وو.ددې وجې الله تعالى خپل نبى ﷺ د خيرو كولونه منع كړو.[3]

بهرحال ددې آيت په شان نزول كښې مختلف اقوال دى.خو راجح هم دا دې. چه واقعه داحد ددې آيت د نزول سبب دې.[4] والله اعلم

---

[1])عمدة القاى ر(۱۵۵\۱۷)_
[2])عمدة القارى (۱۵۵\۱۷)_
[3])فتح البارى(۳۶۶\۷)_
[4])ايضاً)_

۷-باب ذكر أم سليط

[۳۸۴۳] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ وَقَالَ ثَعْلَبَةُ بْنُ أَبِي مَالِكٍ إِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَسَمَ مُرُوطًا بَيْنَ نِسَاءٍ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ فَبَقِيَ مِنْهَا مِرْطٌ جَيِّدٌ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ مَنْ عِنْدَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَعْطِ هَذَا بِنْتَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي عِنْدَكَ يُرِيدُونَ أُمَّ كُلْثُومٍ بِنْتَ عَلِيٍّ فَقَالَ عُمَرُ أُمُّ سَلِيطٍ أَحَقُّ بِهِ وَأُمُّ سَلِيطٍ مِنْ نِسَاءِ الْأَنْصَارِ مِمَّنْ بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمَرُ فَإِنَّهَا كَانَتْ تُزْفِرُ لَنَا الْقِرَبَ يَوْمَ أُحُدٍ [ر:۲۷۲۵]

حضرت عمر رضی الله عنه د مدينې منورې په ښځوباندې څادرونه تقسیم کړل.يو ښه څادر باقي پاتې شو.نودحضرت عمر رضی الله عنه سره نزدې يو سړي ناست وو.هغه اووئيل .اميرالمومنين دا څادر بنت رسول صلی الله علیه وسلم ته ورکړئ.کومه چه ستاسوپه نکاح کښې ده.د بنت رسول صلی الله علیه وسلم نه د هغه کس مراد د نبی صلی الله علیه وسلم نمسئ وه.يعنی د حضرت علی رضی الله عنه لور.،ام کلثوم،. کوه چه دحضرت عمر رضی الله عنه په نکاح کښې وه.حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل .ام سليط ددې څادرزياته حقداره ده. مروط: (بضمتين) د ،،مرط،،(بکسرالميم) جمع ده.د سوت يا رينښمو څادرته وائی.

قوله: فَإِنَّهَا كَانَتْ تُزْفِرُ لَنَا الْقِرَبَ يَوْمَ أُحُدٍ: ځکه چه دي به په احد کښې زمونږ دپاره مشکونه راوړل.

د ،،تزفر،،معنی ده.څه څيز په شا باندې اوچتول.بعضې حضراتو وئيلی دی.چه ،،تزفر،، د ،،تخيط،، په معنی کښې دې.يعنی ام سليط رضی الله عنها به داحد په ورځ شليدلی مشکونه ګنډل.(۱)

حضرت ام سليط رضی الله عنها : دا دحضرت ابوسعيد رضی الله عنه مور وه.ددوی اولنې خاوند حضرت ابوسليط وفات شو.دوی بيا دمالك بن سنان رضی الله عنه سره نکاح اوکړه.اود هغوی نه ورله الله تعالی حضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه ورکړو.دوی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دبيعت او په جنګ احد کښې د شرکت شرف حاصل دی.(۲)

د روافضو خبث باطن: هم په دې روايت کښې دی.چه دحضرت علی رضی الله عنه لور د حضرت عمر رضی الله عنه په عقد نکاح کښې وه.دا ددې خبرې ډير لوې دليل دې.چه حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه نه بيخی خفه نه وو.اوددوی په مينځ کښې دومره ښه تعلقات وو.چه حضرت علی رضی الله عنه خپله لور دوی ته په نکاح کړې وه.چه دا ښه تعلق ئې اوليدلو.نو روافض لمبه شول.اوهغوی وئيل شروع،کړو.چه دحضرت علی رضی الله عنه دا لور دحضرت فاطمې رضی الله عنها د خيټې نه نه وه.بيوقوف دا نه ګوری.چه دا دحضرت فاطمې رضی الله عنها د بطن نه نه وه.نوبيا په

---

(۱) عمدة القاری(۱۵۷\۱۷)_

(۲) فتح الباری(۳۶۷\۷)_

روایت کښې دې ته ، ،بنت رسول،، ولې وائی. دوی ته بنت رسول خو هم ددې وجې وائی.چه هغه د حضرت فاطمې رضي الله عنها د بطن نه وه.بعضې روافض دا هم وائی.چه ،،ام کلثوم،، دحضرت علی رضي الله عنه سره پرورش بیاموندې وو.خود دوی لور نه وه.دبنت علی رضي الله عنه ونیلو سره ددې خیال هم تردید اوشو.

کله چه روافضو اوکتل.چه د تیختې څه لارنشته.نووې وئیل.چه حضرت عمر رضي الله عنه په زرو دحضرت علی رضي الله عنه نه دا لور اخستې وه.((أول فرج غصب منا)) الفاظ دې بدبختانو استعمال کړې دی.(۱) هغوی ته څه بل تعبیر هم ملاؤ نشو.اوددې مسئلې دپاره هغوی دا مکروه ترین عنوان اختیار کړو.

سوال دا دې.چه یومعمولی غوندې سړې چه دهغه دیانت او شرافت خاص طورقابل ذکر نه وی.که د داسې کس لور څوك په زور سره واخلی.نوهغه د ژوند پرواه نه کوی.اوشریعت هم هغه ته دخپلې لور د حفاظت دپاره د ځان قربانولو اجازت ورکړې دې.نوحضرت علی رضي الله عنه چه دهغوی دیانت او شرافت ډیر اوچت دې. اودچا طاقت قوت او بهادری چه منلې شوې ده.دهغه لور غصب کولې شی. او د حضرت عمر رضي الله عنه نه دهغې بچې پیدا کیږی.خوحضرت علی رضي الله عنه په دې باندې څه احتجاج نه کوی.که د روافضو دا خبره اومنلې شی.نوپه دې سره دحضرت علی رضي الله عنه معاذالله بزدلی ثابتیږی.چه ئې وئیلې دی.نو په دې ویناً روافض دحضرت علی رضي الله عنه په شان کښې د ډیرې سختې گستاخئ مرتکب شوی دی.اوددې باوجود د ،،مولی علی،، دمحبت دعوې کوی.دا ټول ددوی فریب اودهوکه ده.

۸=بَاب قَتْلِ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

[۳۸۴۳]حَدَّثَنِي أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا حُجَيْنُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ فَلَمَّا قَدِمْنَا حِمْصَ قَالَ لِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَدِيٍّ هَلْ لَكَ فِي وَحْشِيٍّ نَسْأَلُهُ عَنْ قَتْلِ حَمْزَةَ قُلْتُ نَعَمْ وَكَانَ وَحْشِيٌّ يَسْكُنُ حِمْصَ فَسَأَلْنَا عَنْهُ فَقِيلَ لَنَا هُوَ ذَاكَ فِي ظِلِّ قَصْرِهِ كَأَنَّهُ حَمِيتٌ قَالَ فَجِئْنَا حَتَّى وَقَفْنَا عَلَيْهِ بِيَسِيرٍ فَسَلَّمْنَا فَرَدَّ السَّلَامَ قَالَ وَعُبَيْدُ اللَّهِ مُعْتَجِرٌ بِعِمَامَتِهِ مَا يَرَى وَحْشِيٌّ إِلَّا عَيْنَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ يَا وَحْشِيُّ أَتَعْرِفُنِي قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ لَا وَاللَّهِ إِلَّا أَنِّي أَعْلَمُ أَنَّ عَدِيَّ بْنَ الْخِيَارِ تَزَوَّجَ امْرَأَةً يُقَالُ لَهَا أُمُّ قِتَالٍ بِنْتُ أَبِي الْعِيصِ فَوَلَدَتْ لَهُ غُلَامًا بِمَكَّةَ فَكُنْتُ أَسْتَرْضِعُ لَهُ فَحَمَلْتُ ذَلِكَ الْغُلَامَ مَعَ أُمِّهِ فَنَاوَلْتُهَا إِيَّاهُ فَلَكَأَنِّي نَظَرْتُ إِلَى قَدَمَيْكَ قَالَ فَكَشَفَ عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ وَجْهِهِ ثُمَّ قَالَ أَلَا تُخْبِرُنَا بِقَتْلِ حَمْزَةَ قَالَ نَعَمْ إِنَّ حَمْزَةَ قَتَلَ طُعَيْمَةَ بْنَ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ بِبَدْرٍ فَقَالَ لِي مَوْلَايَ جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ إِنْ قَتَلْتَ حَمْزَةَ بِعَمِّي فَأَنْتَ حُرٌّ قَالَ

---

۱)دشیعیت کی اصلی روپ (ص، ۲۷۶) په حواله د ،،فروع کافی،، (۵/۳٤٤) طبع تهران)_~

فَلَمَّا أَنْ خَرَجَ النَّاسُ عَامَ عَيْنَيْنِ وَعَيْنَيْنِ جَبَلٌ بِحِيَالِ أُحُدٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ وَادٍ خَرَجْتُ مَعَ النَّاسِ إِلَى الْقِتَالِ فَلَمَّا أَنْ اصْطَفُّوا لِلْقِتَالِ خَرَجَ سِبَاعٌ فَقَالَ هَلْ مِنْ مُبَارِزٍ قَالَ فَخَرَجَ إِلَيْهِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ يَا سِبَاعُ يَا ابْنَ أُمِّ أَنْمَارٍ مُقَطِّعَةِ الْبُظُورِ أَتُحَادُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثُمَّ شَدَّ عَلَيْهِ فَكَانَ كَأَمْسِ الذَّاهِبِ قَالَ وَكَمَنْتُ لِحَمْزَةَ تَحْتَ صَخْرَةٍ فَلَمَّا دَنَا مِنِّي رَمَيْتُهُ بِحَرْبَتِي فَأَضَعُهَا فِي ثُنَّتِهِ حَتَّى خَرَجَتْ مِنْ بَيْنِ وَرِكَيْهِ قَالَ فَكَانَ ذَاكَ الْعَهْدَ بِهِ فَلَمَّا رَجَعَ النَّاسُ رَجَعْتُ مَعَهُمْ فَأَقَمْتُ بِمَكَّةَ حَتَّى فَشَا فِيهَا الْإِسْلَامُ ثُمَّ خَرَجْتُ إِلَى الطَّائِفِ فَأَرْسَلُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا فَقِيلَ لِي إِنَّهُ لَا يَهِيجُ الرُّسُلَ قَالَ فَخَرَجْتُ مَعَهُمْ حَتَّى قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَآنِي قَالَ آنْتَ وَحْشِيٌّ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَنْتَ قَتَلْتَ حَمْزَةَ قُلْتُ قَدْ كَانَ مِنْ الْأَمْرِ مَا بَلَغَكَ قَالَ فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُغَيِّبَ وَجْهَكَ عَنِّي قَالَ فَخَرَجْتُ فَلَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ قُلْتُ لَأَخْرُجَنَّ إِلَى مُسَيْلِمَةَ لَعَلِّي أَقْتُلُهُ فَأُكَافِئَ بِهِ حَمْزَةَ قَالَ فَخَرَجْتُ مَعَ النَّاسِ فَكَانَ مِنْ أَمْرِهِ مَا كَانَ قَالَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي ثَلْمَةِ جِدَارٍ كَأَنَّهُ جَمَلٌ أَوْرَقُ ثَائِرُ الرَّأْسِ قَالَ فَرَمَيْتُهُ بِحَرْبَتِي فَأَضَعُهَا بَيْنَ ثَدْيَيْهِ حَتَّى خَرَجَتْ مِنْ بَيْنِ كَتِفَيْهِ قَالَ وَوَثَبَ إِلَيْهِ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ فَضَرَبَهُ بِالسَّيْفِ عَلَى هَامَتِهِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْفَضْلِ فَأَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ فَقَالَتْ جَارِيَةٌ عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ وَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَتَلَهُ الْعَبْدُ الْأَسْوَدُ

حضرت جعفربن عمروبن اميه ضمرى فرمائى.چه زه عبيدالله بن عدى بن الخيارسره د سفر دپاره اووتم.کله چه مونږ د شام ښار ،،حمص،، ته اورسيدو.نو عبيدالله بن عدى ماته اووئيل.چه ستا د وحشى سره د ملاقات شوق شته.چه دهغه سره ملاؤ شي.اودحضرت حمزهؓ د قتل متعلق ترې تپوس اوکړې.(چه هغوى د حضرت حمزهؓ غوندې بهادرکس څنګه قتل کړې وو) ما ورته اووئيل.ټيك ده. (هغه ته ورغو) حضرت وحشىؓ په حمص کښې استوګنه کوله.مونږ دهغه په باره کښې تپوس اوکړو.(چه هغه چرته دې) نومونږ ته اوخودلې شو.چه

قوله: هُوَ ذَاكَ فِي ظِلِّ قَصْرِهِ كَأَنَّهُ حَمِيتٌ: هغه هلته دخپل محل په سورى کښې موجود دې.(کله چه مونږ اوکتل. نو داسې معلوميده.) لکه چه هغه ډك شوې مشك وى.(چه په د پاسه ويخته وغيره نه وى. او د تور رنګ وى.حضرت وحشىؓ هم دغه شان غټ اوتور وو)

((حميت)) د رغيف په وز باندې ډك شوى غټ مشك ته وائى.

حضرت جعفر وائى.چه بيا مونږ هغه ته ورغلو.او لږ ساعت هغه سره ولاړ وو. بيا ورته مونږ سلام اوکړو.او هغوى د سلام جواب راکړو.

قوله: قَالَ وَعُبَيْدُ اللهِ مُعْتَجِرٌ بِعِمَامَتِهِ مَا يَرَى وَحْشِيٌّ إِلَّا عَيْنَيْهِ وَرِجْلَيْهِ: حضرت جعفر وائی.چه عبيدالله خپل پټکي داسې تاؤ کړې وو.چه وحشی صرف دهغه سترګک او پښې ليدې شوې.

د «معتجر» معنی ده رانښتلو ده.يعنی عبيدالله په سر او مخ دواړو باندې پټکي راتاؤ کړې وو.صرف د دوی سترګې ښکاريدې.او پښې ئې ښکاريدې.باقی ټول بدن ئې په جامو کښې پټ وو.عبيدالله تپوس اوکړ،. جناب وحشی صاحب آيا تاسو ما پيژنئ؟

حضرت وحشی رضي الله عنه ده طرف ته اوکتل.او وې وئيل.په الله قسم نور خو ستا په باره کښې څه نه پيژنم.البته دومره خبره زما په علم کښې شته.چه عدی بن الخيار د يوې ښځې سره واده کړې وو.چا ته چه «أم القتال بنت أبي العيص» وئيلې شو.د هغه ښځې نه د عدی په مکه کښې يو بچې پيدا شوې وو.ما دهغه ماشوم دپاره د مرضعې لټون کړې و،.هغه ماشوم ما اوچت کړې وو.او دهغه (مرضعه) مور ته مې بوتلې وو.اوس چه زه ستا دا قدمونه وينم.ماته دا محسوسيږی.چه دا دهغه ماشوم قدمونه دی.

ددې نه پس عبيدالله د مخ نه څادر لرې کړو،او هغوی ته ئې اووئيل.تاسو به ماته اوښائې. چه تاسو حضرت حمزه رضي الله عنه څنګه قتل کړې وو؟

وحشی رضي الله عنه اووئيل.آو.ددې قصه دا ده.چه حضرت حمزه طعيمه بن عدی بن الخيارقتل کړې وو،(۱) نو زما مالك مولی جبيربن مطعم ماته اووئيل.که تا زما د تره په بدله کښې حمزه قتل کړو.نوته به آزاد ئې.

قوله: فَلَمَّا أَنْ خَرَجَ النَّاسُ عَامَ عَيْنَيْنِ وَعَيْنَيْنِ جَبَلٌ بِحِيَالِ (۲) أُحُدٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ وَادٍ: وحشی اووئيل.بيا کله چه خلق د عينين په کال د جنګک دپاره اووتل.اوعينين احد ته مخامخ يو غر دې.د دواړو په مينځ کښې يوه وادی حائل ده.

(چونکه مشرکانو په جنګک احد کښې د جبل عينين په لمن کښې ډيره اچولې وه. ددې وجې د مشرکانو په نيزددې نوم جنګک عينين مشهور وو.وحشی رضي الله عنه چونکه په دغه وخت کښې دمشرکانودطرفه په جنګک کښې شريك شوې وو.ددې وجې هغوی د احد کال ته ،،عام عينين،، وئيل.

کله چه خلقو د جنګک دپهر صفونه جوړ کړل.نو دقريشو د طرفه سباع بن عبد العزی راووتل. هغه د «هل من مبارز؟» نعره اولګوله. د هغه په مقابله کښې حضرت حمزه رضي الله عنه

---

(۱)قوله طعيمة بن عدی بن الخيار وهو وهم والصحيح ط عيمة بن عدی بن نوفل وإلا لا يصح قوله بعد ذلك إن قتلت حمزة بعمی، لأن طعيمة إن كان ابن عدی بن الخيار كان ابن أخيه لا عمه فافهم والنظرلامع الدراری (۳۰۵/۸)_

(۲)قوله وعينين جبل بحيال أحد أی من ناحية أحد يقال فلان بحيال كذا (بكسر الحاء المهملة وتخفيف الياء) أی بمقابله وانظر عمدة القاری (۱۵۹/۱۷)_

راووتلو. او وې وئيل.

قوله: يَا سِبَاعُ يَا ابْنَ أُمِّ أَنْمَارٍ مُقَطِّعَةِ الْبُظُورِ (۱) أَتُحَادُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اې سباع! اې د ام انمار بچيه،چه د خلقو ختنه کونکې وه.ته الله اودهغه د رسول سره د جنګ دپاره راغلې ئې.

بيا حضرت حمزه رضي الله عنه په هغه باندې حمله اوکړه.اوهغه د تير شوى صبا پشان نيست او نابود شو. وحشى وائى.چه زه حضرت حمزه رضي الله عنه ته په انتظار کښې د يو غټ ګټ لاندې پټ ووم.کله چه هغه زما خوا ته تيريدو.نو ما هغه په خپله نيزه باندې اووهلو .اوهغه نيزه د هغه د شا نه اووتله.اوهم د هغې نه هغه شهيد شو.

بيا چه کله خلق واپس شو.نو زه هم دخلقو سره واپس شوم.زه هم په مکه کښې مقيم وو.تردې چه هلته اسلام خور شو.نو زه د مکې نه اووتم.او طائف ته لاړم.د طائف خلقو (داسلام قبلولودپاره) نبى صلى الله عليه وسلم ته د وفد ليږلو اراده اوکړه.نوماته چا اووئيل.چه نبى صلى الله عليه وسلم قاصدانوته نه غصه کيږى.(ته هم لاړ شه.اواسلام قبول کړه) نو ددغه وفد سره زه هم لاړم.د نبى صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضرشوم.کله چه نبى صلى الله عليه وسلم زه اوليدم.نو ماته ئې اووئيل.ته وحشى ئې؟ ماورته عرض اوکړو.آو.نبى صلى الله عليه وسلم راته اوفرمائيل.آياتا حمزه رضي الله عنه قتل کړې وو؟ ما ورته اووئيل. آو. څنګه چه تاسو ته خبر دررسيدلې دې.هم دغه شان شوى وو.(۲) (يعنى دحضرت حمزه رضي الله عنه دشهادت په باره کښې چه تاسو ته کوم خبر دررسيدلې دې.چه وحشى هغه قتل کړې دې.نودغه خبر صحيح دې.)

نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.آيا ته داسې کولې شې.چه خپل شکل زما نه پټ ساتې. (اوماته نه مخامخ کيږې)

نبى صلى الله عليه وسلم دحضرت وحشى رضي الله عنه اسلام قبول کړو.او ((الإسلام يهدم ما كان قبله)) يعنى په اسلام سره سابقه ګناهونه معاف کيږى.خوددې باوجود نبى صلى الله عليه وسلم وحشى رضي الله عنه ته اوفرمائيل.که کيدې شى.نوزما مخکښې مه راځه.په دې کښې په يو لحاظ سره د شفقت اړخ وو.که وحشى رضي الله عنه نبى صلى الله عليه وسلم ته مخامخ راتلو.نو نبى صلى الله عليه وسلم ته به د خپل تره د قتل واقعه وريادېده.اوپه دې باندې به د نبى صلى الله عليه وسلم په زړه کښې د بشريت د تقاضا مطابق دوحشى دپاره انقباض پيدا کيدو.اود يوکس دپاره د نبى صلى الله عليه وسلم په زړه کښې انقباض پيدا کيدل دهغه کس دپاره د نقصان سبب جوړيدې شى.ددې وجې نبى صلى الله عليه وسلم هغ ته اووئيل.چه زما مخې ته مه راځه.ځکه چه په دې کښې هم دهغه فائده وه. (۳)

---

[1])البظور: جمع بظر وهى اللحمة التى يقطع من فرج المرأة عند الختان قال ابن اسحاق كانت أمه ختانة بمكة تختن النساء والعرب تطلق هذا اللفظ فى معرض الذم (فتح البارى(۳۶۹/۷)_

[2])دحضرت وحشى بلاغت او ادب ته اوګورئ.دا ئې ورته اونه وئيل.چه آو ما قتل کړې وو.بلکه ذکر شوې تعبيرئې اختيارکړو.دې دپاره چه د نبى صلى الله عليه وسلم زړه نور خفه نشى)_

[3])اوګورئ لامع الدرارى (۲۰/۷۸)

حضرت وحشی رضی الله عنه وائی.چه زه د هغه ځاې نه لاړم.کله چه نبی ﷺ وفات شو.نو مسیلمه کذاب فتنه (د دعوی د نبوت) شروع کړه(هسې خو ده د نبوت دعوه د نبی ﷺ په ژوند کښې کړې وه.خو په هغه وخت کښې د ده څه اثراو رسوخ نه وو.د نبی ﷺ په وفات باندې دهغه په اثر او رسوخوکښې زیادت اوشو.) حضرت وحشی رضی الله عنه فرمائی.ما په خپل زړه کښې اووئیل. چه زه د مسیلمه د مقابلې دپاره خم.کیدې شی.چه زه هغه قتل کړم.او دحضرت حمزه رضی الله عنه د قتل تدارك اوکړم.(حضرت حمزه رضی الله عنه د الله تعالی په مخلصو بندګانوکښې اوچته مرتبه لرله. نو دهغوی دقتل د تدارك دپاره ضروری وه.چه څوك لوې کافرقتل کړې شی.اود مسیلمه کذاب نه لوې کافربل څوك کیدې شو.ددې وجې د هغوی خواهش پیدا شو.چه مسیلمه کذاب قتل کړی.) نو زه دخلقو سره شوم.(اود مسیلمه د مقابلې دپاره اووتم) ناڅاپه ما اوکتل.چه یوسړې د دیوال په چوند کښې ولاړ دې.

قوله: كَأَنَّهُ جَمَلٌ أَوْرَقُ ثَائِرُ الرَّأْسِ: لکه چه د خاکی رنګ اوښ دې.دسر ویخته ئې خواره وو.(دا مسیلمه کذاب وو) حضرت وحشی رضی الله عنه وائی.چه ما دهغه د دواړو سینو د مینځ نښه مې واخستله .اوهغه طرف ته مې خپله نیزه اوویشتله.اوهغه نیز دهغه د دواړو اوږو په مینځ کښې ورخخه شوه.او اووتله.(ښکاره ده.چه ددې په وجه به هغه غوزیدلی وی) په دې کښې یو انصاری هغه طرف ته ورټوپ کړې.اوپه توره باندې ئې دهغه کپرئ اووهله.اوهغه ئې ختم کړو.

(دمسیلمه کذاب واقعه وړاندې د وفودو په بیان کښې راځی) نو یوه جینئ په چت باندې ولاړه وه. هغې اووئیل.امیرالمومنین یو حبشی غلام قتل کړو.

„امیرالمومنین،، مسیلمه کذاب ته وئیلې شو.مسیلمه خپل ځان ته نبی او رسول وئیل. اوامیرالمومنین هم وئیل.

۹=بَابٌ مَا أَصَابَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْجِرَاحِ يَوْمَ أُحُدٍ

په جنګ احد کښې چه نبی ﷺ ته کوم زخمونه رسیدلی وو.د هغې بیان په دې باب کښې کیږی.

[۳۸۴۵] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ فَعَلُوا بِنَبِيِّهِ يُشِيرُ إِلَى رَبَاعِيَتِهِ اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى رَجُلٍ يَقْتُلُهُ رَسُولُ اللَّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

[۳۸۴۶] حَدَّثَنِي مَخْلَدُ بْنُ مَالِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى مَنْ قَتَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ دَمَّوْا وَجْهَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۳۸۴۸]

قوله: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ: ددې باب اولنې روایت دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه مری دې.دوی فرمائی.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.د الله تعالی سخت

غضب دې وي.په هغه قوم باندې چا چه دخپل نبي سره دا كار اوكړو.دوی اشاره كوله خپل رباعي غاښونو طرف ته ،(يعنی كومو كسانو چه غاښونه شهيدان كړل.دالله تعالی سخت غضب دې وي په هغوی باندې) دا ترجمه په هغه صورت كښې ده.كله چه دا جمله خبريه اوګنړلې شي.اوكه دا جمله خبريه شي.نوبيا به ترجمه داسې وي.دالله تعالی غضب سخت وي.په هغه كسانوڅوك چه دخپل پيغمبر سره داسې معامله اوكړي.اوپه هغه كس باندې چا لره چه د الله تعالی نبي ﷺ په جهاد كښې قتل كړي.په ماقبل كښې د ابی بن خلف د قتل ذكر په تفصيل سره تيرشوې دې.

دلته په روايت كښې د«فى سبيل الله» قيد ياد ساتئ:كه دالله تعالی رسول څوك په قصاص يا حد كښې قتل كړي.نو د هغې حكم دا نه دې،دا حكم د هغه كس په باره كښې دې.څوك چه په جهاد كښې دالله تعالی د رسول د مقابلې دپاره مخامخ راشي.يعنی د الله تعالی رسول قتلول غواړي.نو د الله تعالی رسول چه كله هغه قتل كړي.په هغه باندې د الله تعالی غصه زياته وي.

قوله: حَدَّثَنِي مَخْلَدُ بْنُ مَالِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ: يويحيی بن سعيد انصاري رضي الله عنه دې.خو دلته په روايت كښې يحيی بن سعيد انصاري رضي الله عنه مراد نه دې.څكه ئې د ،،اموی،، قيد لګولې دې.د بنو اميه تعلق د مكې سره وو.نو څكه دې انصاری نشی كيدې.دا روايت دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مروی دې.دوی فرمائي.چه دالله تعالی غصه زياته وي.په هغه كس باندې چا لره چه د الله تعالی نبي په جهاد كښې قتل كړي.اودالله تعالی غضب به هغه قوم باندې زيات وي.څوك چه دخپل پيغمبر مخ د وينې نه رنګ كړي.

د دې باب دواړه روايتونه په مراسيل صحابه كښې داخل دی.اولنی روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه دې.او دويم روايت دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه دې. اوښكاره ده.چه دا دواړه حضرات په غزوه احد كښې شريك شوی نه وو.ددې وجې ونيلی شی.چه دوی د نورو صحابو رضي الله عنهم نه دا اوريدلی دی.اګرچه دا احتمال پاتې كيږی.چه په څه موقع باندې نبي ﷺ د دوی مخامخ هم ددې ذكر كړې وی.نوپه دغه صورت كښې به روايت مرسل نه وی.

[۳۸٤۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ وَهُوَ يُسْأَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْرِفُ مَنْ كَانَ يَغْسِلُ جُرْحَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ يَسْكُبُ الْمَاءَ وَبِمَا دُووِيَ قَالَ كَانَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَغْسِلُهُ وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ يَسْكُبُ الْمَاءَ بِالْمِجَنِّ فَلَمَّا رَأَتْ فَاطِمَةُ أَنَّ الْمَاءَ لَا يَزِيدُ الدَّمَ إِلَّا كَثْرَةً أَخَذَتْ قِطْعَةً مِنْ حَصِيرٍ فَأَحْرَقَتْهَا وَأَلْصَقَتْهَا فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَئِذٍ وَجُرِحَ وَجْهُهُ وَكُسِرَتْ الْبَيْضَةُ عَلَى رَأْسِهِ [ر:۲۳۰]

[۳۸٤۸] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى مَنْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ وَاشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى

مَنْ دَمٍ وَجْهِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۳۸۳۶]

دحضرت شیخ الهند رحمه الله استدلال:

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ.....: په دې روايت کښې دی.چه کله په جنګ احد کښې د نبی ﷺ مخ مبارك زخمی شو.نو د نبی ﷺ لور حضرت فاطمې رضي الله عنها ورته مخ وينځل.او حضرت علی رضي الله عنه به د ډول نه اوبه اچولولې.خوچه وينې په خيخ صورت نه بنديده.نو حضرت فاطمې رضي الله عنها د پوزكی ټکړه اوسوزوله.اوكله چه ئې دهغې ايره په زخم باندې اولګولو.نووينه بنده شوه.حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائی.چه ددې روايت نه دا معلوميږی.چه د «مس إمرأة» ناقض د اودس نه دی.څكه چه دا خوظاهره ده.چه دجهاد پښان مقدسه فريضه به نبی ﷺ په اودس كښې كوله.نوكه «مس إمرأة» د اودس ماتونكې وو.نونبی ﷺ به حضرت فاطمې نه د اوبو اچولو كاراخستلو.اود زخمونو وينځول كاربه حضرت علی رضي الله عنه كولو.

پاتې شو دا اشكال چه د نبی ﷺ د مخ نه خو وينه بهيدله.اوخروج د دم ناقض د اودس دې.نو ددې جواب دا دې.چه دكومو حضراتو په نيز «مس إمرأة» د اودس ماتونكې ده.د هغوی په نيز په خروج د دم سره اودس نه ماتيږی.ددې حديث نه صرف په دې باندې دليل قائمول مقصود دی.دخپل مسلك اثبات مقصود نه دې.

۱۰-بَاب ﴿اَلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ [۱]

[۳۸۳۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ قَالَتْ لِعُرْوَةَ يَا ابْنَ أُخْتِي كَانَ أَبَوَاكَ مِنْهُمُ الزُّبَيْرُ وَأَبُو بَكْرٍ لَمَّا أَصَابَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَصَابَ يَوْمَ أُحُدٍ وَانْصَرَفَ عَنْهُ الْمُشْرِكُونَ خَافَ أَنْ يَرْجِعُوا قَالَ مَنْ يَذْهَبُ فِي إِثْرِهِمْ فَانْتَدَبَ مِنْهُمْ سَبْعُونَ رَجُلًا قَالَ كَانَ فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ وَالزُّبَيْرُ

حضرت عروه دحضرت عائشې رضي الله عنها نه نقل كوی.چه هغوی فرمائيلی دی.﴿اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَاۤ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۛؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾ كومو كسانو چه د الله اودهغه درسول په قول باندې لبيك اووئيل ددې نه پس چه هغوی ته زخمونه رسيدلی وو.په دوی كښې چه څوك نيكان اومتقيان دی.د هغوی دپاره لوې اجر دی.حضرت عائشې رضي الله عنها حضرت عروه ته اووئيل.ستا پلا رزبير رضي الله عنه (اوستا نيكه) حضرت ابوبكر د اجرعظيم په دې مستحقينو كښې دی.

كله چه نبی ﷺ داحد په ورځ تكليف برداشت كړل.اومشركان واپس لاړل.نو نبی ﷺ ته ويره شوه.چه مشركان چرته واپس رانشی.او افواه هم خوره شوې وه.چه مشركان واپس راځی.او

---

[۱])آل عمران:۱۷۲(_

دوباره حمله كوى.ددي وجې نبﷺ اعلان اوكړو.((من يذهب فى أثرهم)) څوك به دهغوى په تعاقب كښې لاړ شي؟ په دغه وخت كښې اويا كسانو لبيك اووئيل.په دغه اويا كسانو كښې حضرت ابوبكراو حضرت زبير رضی اللہ عنہما هم وو.(۱)

۱۱=بَاب مَنْ قُتِلَ مِنْ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ أُحُدٍ

مِنْهُمْ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَالْيَمَانُ وَأَنَسُ بْنُ النَّضْرِ وَمُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ

په جنګ احد كښې چه كوم مسلمانان شهيدان شوى وو.دا باب د هغوى په بيان كښې دي.

[۳۸۵۰] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ أَكْثَرَ شَهِيدًا أَعَزَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ الْأَنْصَارِ قَالَ قَتَادَةُ وَحَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّهُ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ أُحُدٍ سَبْعُونَ وَيَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ سَبْعُونَ وَيَوْمَ الْيَمَامَةِ سَبْعُونَ قَالَ وَكَانَ بِئْرُ مَعُونَةَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَوْمُ الْيَمَامَةِ عَلَى عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ يَوْمَ مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ

[۳۸۵۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدٍ قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا [ر:۱۲۷۸]

[۳۸۵۲] وَقَالَ أَبُو الْوَلِيدِ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَمَّا قُتِلَ أَبِي جَعَلْتُ أَبْكِي وَأَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ فَجَعَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

(۱) مورخينو او سيرت نګارو دا يوه مستقله غزوه ،،حمراء الاسد،، په نوم باندې ذكركړې ده.د كافرو لښكركله چه د احد نه روان شو.او مقام روحاء ته اورسيدل.نوابوسفيان وغيره ته خيال راغلو.چه كار پوره اونشو.په مدينه باندې حمله كول پكار دى.چه د مسلمانانو پاتې شوې طاقت هم ختم كړې شي.بل طرف ته رسول اللهﷺ ته د وړاندې نه ويره وه. نو نبیﷺ اعلان اوكړو.چه به كافرانو پسې وتل دى.اوصرف هغه كسان دې لاړ شي.كوم چه پرون په احد كښې شريك وو.نو نبیﷺ د ،،حمراء الاسد،، پورې كومه چه د مدينې منورې نه اووه ميله لرې دې. تشريف يوړو.خزاعه قبيله اګرچه هغوى تر هغه وخته پورې اسلام نه وو راوړې.خو بيا په پټه د مسلمانانوطرفداره وه.دهغوى سردار ،،معبدخزاعى،، چه د شكست خبر واوريدو.نو د نبیﷺ په خدمت كښې حاضر شو.غمراخى نې اوكړه.او ددې ځاې نه لاړو. ابوسفيان سره ملاو شو. ابوسفيان په مسلمانانو باندې د دوباره حملې كولو اراده ښكاره كړه.معبدخزاعى ورته اووئيل.محمدﷺ يو ډيرلوې لښكر راوران كړې دې.زما تا ته دا مشوره ده.چه واپس مكې ته نيغ لاړ شه.نوابوسفيان اراده پريخوده.اوواپس لاړلو.نبیﷺ په حمراء الاسد كښې د ګل،نهې او چارشنبې درې ورځې ايسار وو.اوددې نه پس مدينې منورې ته نې واپس تشريف يوړو.الكامل لابن عدى (۱۱٤۱۲)_~

وَسَلَّمَ يَنْهَوْنِي وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَهُ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْكِيهِ أَوْمَا تَبْكِيهِ مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رُفِعَ [ر: ۱۱۸۷]

[۳۸۵۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أُرَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا فَانْقَطَعَ صَدْرُهُ فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهُ أُخْرَى فَعَادَ أَحْسَنَ مَا كَانَ فَإِذَا هُوَ مَا جَاءَ بِهِ اللَّهُ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ وَرَأَيْتُ فِيهَا بَقَرًا وَاللَّهُ خَيْرٌ فَإِذَا هُمُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ أُحُدٍ [ر: ۳۴۲۵]

[۳۸۵۴] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ خَبَّابٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَبْتَغِي وَجْهَ اللَّهِ فَوَجَبَ أَجْرُنَا عَلَى اللَّهِ فَمِنَّا مَنْ مَضَى أَوْ ذَهَبَ لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا كَانَ مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ يَتْرُكْ إِلَّا نَمِرَةً كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ وَإِذَا غُطِّيَ بِهَا رِجْلَاهُ خَرَجَ رَأْسُهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ الْإِذْخِرَ أَوْ قَالَ أَلْقُوا عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا [ر: ۱۲۱۷]

قوله: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ: حضرت قتاده رحمه الله فرمائي چه مونږ ته علم نشته.چه د عربو په ټولو قبيلوكښې د شهيدانو په اعتبار سره د انصارو د تعداد نه زيات تعداد به دچا وي.اود قيامت په ورځ به د انصارو په مقابله كښې د زيات عزت خاوندان څوك وي.(انصاروچه د شهادت په صورت كښې كومې قربانيانې وركړې دي.بل چا نه دي وركړې.اوانصارچه به ددې شهادت په وجه د قيامت په ورځ څومره عزت حاصل كړي.دومره به بل څوك حاصل نكړې شي)

قتاده وائي.چه حضرت انس رضي الله عنه مونږ ته خودلي وو.چه د انصارونه په جنګ احد كښې ټول اويا كسان شهيدان شوي وو.(١) اوپه مهاجرينو صحابوكرامو كښې ټول څلور يا د بل روايت مطابق شپږ كسان شهيدان شوي وو.او په بئر معونه كښې اويا انصاري شهيدان شوي وو.اوپه جنګ يمامه كښې هم اويا انصاري شهيدان شوي وو.بئر معونه د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې شوې وه،اود يمامه واقعه د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په دور كښې پيښه شوې وه.

---

(١)د احد د شهيدان په تعداد كښې د اصحاب سير مختلف روايات دي.مشهور روايت د (٧٠) دې.په كوم كښې چه د يو روايت مطابق مهاجرين څلور او باقي انصار وو.په مهاجرينوكښې حضرت حمزه رضي الله عنه حضرت مصعب بن عمير،حضرت عبدالله بن جحش، او حضرت شماس بن عثمان رضي الله عنهم وو.البته د حاكم او ابن حبان په روايت كښې د مهاجرينو تعداد شپږ خودلي شوي دې.هغوى د دې څلورو سره حضرت سعد مولى حاطب بن ابى بلتعه او يوسف بن عمرو اسلمى هم زياتوي.داولنى روايت مطابق د انصار شهداو تعداد شپږ شپيته دي.اود دويم روايت په بناء د دوى تعداد څلور شپيته دي)-

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ: حضرت جابر رضي الله عنه فرمائي.چه نبی کریم ﷺ به شهیدانو نه دوه دوه کسان په یوه جامه کښې جمع کول.اودوی به ئې په یو قبر کښې ښخول.او نبی ﷺ به تپوس کولو.په دوی کښې چاته زيات قرآن ياد وو؟ دچا طرف ته به چه اشاره اوشوه.هغه به ئې قبلې طرف ته مقدم كولو.او نبی ﷺ اوفرمائیل.زه گواه یم.ددې خلقو په حق کښې د قیامت په ورځ ،اونبی ﷺ هغوی لره په وينوكښې د ښخولوحکم کړې وو.نه ئې ورته غسل ورکړې وو.اونه ئې پرې دجنازې مونځ کړې وو.

قوله: وَقَالَ أَبُو الْوَلِيدِ عَنْ شُعْبَةَ: دا روایت هم د حضرت جابر رضي الله عنه نه دې.دوی فرمائي.چه کله زما پلار په جنګ احد کښې شهید شو.نو زه به ژړا شو.اودهغه د مخ نه مې څادر لرې کړو.د هغه دیدن مې كولو.نو د نبی ﷺ صحابو رضي الله عنهم زه منع كولم.(چه څادرمه اچتوه.اومه ئې گوره) خو نبی ﷺ زه نه منع كولم.نبی ﷺ اوفرمائیل.

«لاتبكيه» كه دا مضارع وى.نو وئيلې به شي.چه خبر په معنى د انشاء كښې دې.اوكه د نهى صيغه وى.نوبيا په خپل ظاهرباندې ده.خوپه دې صورت كښې به «لاتبكه» وى. ته په ده باندې ژړا كوې.فرشتو برابر په خپلو وزرو په ده باندې سيورې كړې وو.تردې چه جنازه ئې اوچته شوه.

قوله: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ: په دې روايت كښې دجنګ احد نه وړاندې دنبی ﷺ دخوب ذكردې.چه تفصيل ئې تيرشوې دې.البته په دې كښې يوه جمله ده.

قوله: وَرَأَيْتُ فِيهَا بَقَرًا وَاللَّهُ خَيْرٌ: ① يا خو ددې معنى ده.«وثواب الله خير» يعنى الله تعالى چه كوم اجرورکوى.لكه څنګه چه دې شهيدانوته وركړې شو.هغه ډير ښه دې.

② اويا ئې معنى ده.«صنع الله بالشهداء خير» يعنى الله تعالى چه دوى سره كومه معامله اوكړه. هغه ډيره ښه ده.ددوى په دنيا كښې د ژوندى پاتې كيدوپه مقابله هغه معامله ډيره ښه ده.[1]

١٢-بَابٌ أُحُدٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ قَالَهُ عَبَّاسُ بْنُ سَهْلٍ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٣٨٥٥/٣٨٥٦]حَدَّثَنِي نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ قُرَّةَ بْنِ خَالِدٍ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ

[٣٨٥٦]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ فَقَالَ هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ

[1])فتح البارى(٣٧٧\٧) وعمدة القارى (١٦٤\١٧)_

اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي حَرَّمْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا [ر:۲۴۳۲]

[۳۸۵۷] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الْآنَ وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ أَوْ مَفَاتِيحَ الْأَرْضِ وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي وَلَكِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا [ر:۱۲۷۹]

په دې باب کښې بیان شوې دې.چه نبی کریمﷺ فرمائیلی دی.چه احد (یعنی داحد غر) زمونږ سره مبحت کوی.اومونږ ده سره محبت کوو.

① بعضې حضراتو وئیلی دی.چه د احد نه مراد ،،اهل احد،، یعنی د مدینې انصاردی. او مطلب دادې.چه اهل احد یعنی انصار زمونږ سره محبت کوو.او زمونږ ددوی سره محبت دې.(۱)

② خوکه د احد غر طرفته د محبت نسبت اوشی.نو هم په دې کښې څه استبعاد نشته.(۲)

تاسو به د کدو ونه کتلې وی.کله چه هغه په زمکه باندې سر راوباسی.او لویدیل ئې شروع شی.نوکه د پورت نه په لاره کښې څه رکاوټ پیدا شی.نو هغه ددغه رکاوټ نه وراندې تاؤ شی.اوخپله لار بدله کړی.دغه شان یو بوټې دې. ډیر شرمیدونکې اوحیا ناك دې.هغه ته په اردوکښې د ،چهونی موئی،، بوټې وائی. دې بوټې ته که لاس وروړې شی.نوسمدستی مړاوې شی.اود هغې تازګی او شادابی انبساط او خوریدل ټول هرڅه ختم شی.د سړی په مــه کولوسره هغه سمدستی منقبض شی.دا خو دمشاهدې څیزونه دی.و ددې اقرار هغه خلق هم کوی.څوك چه په الله او د هغه په رسول باندې ایمان نه ساتی.خو چه کوم خلق په الله او په رسول باندې ایمان بالغیب راوړی.د هغوی دپاره که مشاهده نه وی.نوهم هغوی د قرآن او حدیث هرې خبرې منلو ته غاړه بسته وی.په قرآن کښې دی.﴿وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ (۳)اوپه یو بل ځاې کښې دی.﴿وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا﴾ (۴) او رسول الله ﷺ ته چه څه وخت نبوت نه وو ملاؤ شوې.اود نبوت بنیاد اچولې شو.نو ونو به نبیﷺ ته سلام کولو.د نبیﷺ ارشاد دې.چه زه هغه ونه پیژنم.کومې سره چه به زه تیریدم.نوماته به ئې سلام اچولو.

داسې قسم واقعات کوم چه شرعی او عرفی لحاظ سره معلومې وی.که وړاندې کیخودې شی.نوکه داحد دطرفه د محبت اسناد حقیقی وی.په دې کښې څه استبعاد نشته.نبیﷺ هم دې احد ته یو ځل تشریف یوړو.اود نبیﷺ سره حضرت صدیق اکبر،حضرت عمرفاروق

(۱)عمدة القاری(۱۷۳\۱٤) کتاب الجهادباب فضل الخدمة فی الغزو)_
(۲)عمدة القاری(۱۷۳\۱٤)_
(۳)سورة بنی اسرائیل (٤٤)_
(۴)سورة النحل:۶۸)_

او حضرت عثمان رضي الله عنه وو.کله چه دا حضرات په دې باندې اوختل.نواوحد رپيدل شروع کړل.نو نبی ﷺ احد په پښه باندې اووهل.او وې فرمائيل.«أثبت أحد فإنما عليك نبی ووصديق و شهيدان» (١) نو احد په قلارشو.اوهغه خوزيدل بند کړو.په دې وجه که دا اسناد حقيقی هم شی. نو څه باك په کښې نشته.
وړاندې دی.چه حضرت ابراهيم عليه السلام مکه حرام ګرځولې وو.اوزه مدينه حرامه ګرځوم.کومه چه د کاڼړی ژنه زمکې په مينځ کښې ده.
داحنافو په نيزدا حرمت اصطلاحی نه دې.بلکه ددې نه د نبی ﷺ مقصد دا وو. چه د مدينې منورې شينکې؛ او باغونه دې شاړ نکړې شی.او ددې رونق او تازګی دې برقراره پاتې کړې شی.دا مسئله د کتاب الحج ده.

بَابُ غَزْوَةِ الرَّجِيعِ وَرِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَبِئْرِ مَعُونَةَ

وَحَدِيثِ عَضَلٍ وَالْقَارَةِ وَعَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ وَخُبَيْبٍ وَأَصْحَابِهِ قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عُمَرَ أَنَّهَا بَعْدَ أُحُدٍ

د دې ځاې نه امام بخاری رحمه الله د دوو غزاګانو بيان کوی.يوه غزوه رجيع او بله غزوه بئر معونه.کومې ته چه «سرية القراء» هم وئيلی شی.
غزوه رجيع او غزوه بئرمعونه په يو باب کښې د ذکر کولو وجه: د غزوه رجيع په باره کښې د ابن اسحاق رائې دا ده.چه دا غزوه په ٣هجرئ کښې شوې ده.(٢) اود واقدی ابن سعد او ابن حبان رحمهم الله رائې دا ده.چه دا د ٤ھ واقعه ده.(٣)
د غزوه بئر معونه په باره کښې د ټولو اهل سير تقريباً اتفاق دې.چه دا د ٤ هجرئ واقعه ده. امام بخاری رحمه الله دواړه غزوات په يو باب کښې جمع کړې.کيدې شی.په دې کښې د واقدی،ابن سعد او ابن حبان رحمهم الله د رائې تائيد مقصود وی.
ابن عبدالبر رحمه الله په ،،الاستيعاب،، کښې کله دا د ٣هجرئ واقعه بنائی. اوکله د ٤ هجرئ روايت نقل کوی.
بهرحال د امام بخاری رحمه الله دا دواړه غزوات په يو باب کښې جمع کول د حکمت نه خالی نه دی.اودغه حکمت په ظاهره هم دا دې.چه دا دواړه غزوات په ٤هجرئ کښې شوی دی.
د امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب د عبارت نه يوه غلط فهمی پيدا کيږی. په باب کښې د غزوه رجيع نه پس دوی د «رعل و ذکوان» ذکر کړې دې.د کوم نه چه په ظاهره دا معلوميږی.

---

١)صحيح بخاری (٥١٩\١) کتاب المناقب باب فضل أبی بکر)_
٢)سيرة ابن هشام (١٧٨\٣)_
٣)البداية والنهاية (٦٢\٤) وطبقات ابن سعد(٥٥\٢) وتاريخ الطبری (٢١٣\٢)_

چه غزوه رجيع د قبيله رعل او ذكوان د خلقو سره پيښه شوې وه.حالانكه داسې نه ده.لكه ځنګه چه به د تفصيل نه معلومه شي.

دغه شان وړاندې د ترجمة الباب كښې عبارت دې.((دبئرمعونة وحديث عضل والقارة)) ددې عبارت نه دا شبه پيدا كيږي.چه د غزوه بئر معونه تعلق د قبيله عضل او قاره سره دې. حالانكه دا غلطه ده.په حقيقت كښې د رعل اوذكوان تعلق د بئر معونه سره دې.او د عضل او قاره تعلق د غزوه رجيع سره دې.

رعل(د راء په كسره او عين په سكون سره) او ذكوان قبيله د بنو سليم شاخونه دى.او عضل او قاره د بنوالهول شاخونه دى.

[۳۸۵۸]حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي سُفْيَانَ الثَّقَفِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً عَيْنًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ وَهُوَ جَدُّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَانْطَلَقُوا حَتَّى إِذَا كَانَ بَيْنَ عُسْفَانَ وَمَكَّةَ ذُكِرُوا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو لَحْيَانَ فَتَبِعُوهُمْ بِقَرِيبٍ مِنْ مِائَةِ رَامٍ فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ حَتَّى أَتَوْا مَنْزِلًا نَزَلُوهُ فَوَجَدُوا فِيهِ نَوَى تَمْرٍ تَزَوَّدُوهُ مِنْ الْمَدِينَةِ فَقَالُوا هَذَا تَمْرُ يَثْرِبَ فَتَبِعُوا آثَارَهُمْ حَتَّى لَحِقُوهُمْ فَلَمَّا انْتَهَى عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَئُوا إِلَى فَدْفَدٍ وَجَاءَ الْقَوْمُ فَأَحَاطُوا بِهِمْ فَقَالُوا لَكُمْ الْعَهْدُ وَالْمِيثَاقُ إِنْ نَزَلْتُمْ إِلَيْنَا أَنْ لَا نَقْتُلَ مِنْكُمْ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ أَمَّا أَنَا فَلَا أَنْزِلُ فِي ذِمَّةِ كَافِرٍ اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ فَقَاتَلُوهُمْ حَتَّى قَتَلُوا عَاصِمًا فِي سَبْعَةِ نَفَرٍ بِالنَّبْلِ وَبَقِيَ خُبَيْبٌ وَزَيْدٌ وَرَجُلٌ آخَرُ فَأَعْطَوْهُمْ الْعَهْدَ وَالْمِيثَاقَ فَلَمَّا أَعْطَوْهُمْ الْعَهْدَ وَالْمِيثَاقَ نَزَلُوا إِلَيْهِمْ فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ حَلُّوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ فَرَبَطُوهُمْ بِهَا فَقَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ الَّذِي مَعَهُمَا هَذَا أَوَّلُ الْغَدْرِ فَأَبَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَجَرَّرُوهُ وَعَالَجُوهُ عَلَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَلَمْ يَفْعَلْ فَقَتَلُوهُ وَانْطَلَقُوا بِخُبَيْبٍ وَزَيْدٍ حَتَّى بَاعُوهُمَا بِمَكَّةَ فَاشْتَرَى خُبَيْبًا بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلٍ وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ يَوْمَ بَدْرٍ فَمَكَثَ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا حَتَّى إِذَا أَجْمَعُوا قَتْلَهُ اسْتَعَارَ مُوسَى مِنْ بَعْضِ بَنَاتِ الْحَارِثِ لِيَسْتَحِدَّ بِهَا فَأَعَارَتْهُ قَالَتْ فَغَفَلْتُ عَنْ صَبِيٍّ لِي فَدَرَجَ إِلَيْهِ حَتَّى أَتَاهُ فَوَضَعَهُ عَلَى فَخِذِهِ فَلَمَّا رَأَيْتُهُ فَزِعْتُ فَزْعَةً عَرَفَ ذَاكَ مِنِّي وَفِي يَدِهِ الْمُوسَى فَقَالَ أَتَخْشَيْنَ أَنْ أَقْتُلَهُ مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ ذَاكِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ وَكَانَتْ تَقُولُ مَا رَأَيْتُ أَسِيرًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ خُبَيْبٍ لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ مِنْ قِطْفِ عِنَبٍ وَمَا بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ ثَمَرَةٌ وَإِنَّهُ لَمُوثَقٌ فِي الْحَدِيدِ وَمَا كَانَ إِلَّا رِزْقٌ رَزَقَهُ اللَّهُ فَخَرَجُوا بِهِ مِنْ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوهُ فَقَالَ دَعُونِي أُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ لَوْلَا أَنْ تَرَوْا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ مِنْ الْمَوْتِ لَزِدْتُ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْقَتْلِ هُوَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَحْصِهِمْ عَدَدًا ثُمَّ قَالَ

مَا أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا : عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ : يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

ثُمَّ قَامَ إِلَيْهِ عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَتَلَهُ وَبَعَثَتْ قُرَيْشٌ إِلَى عَاصِمٍ لِيُؤْتَوْا بِشَيْءٍ مِنْ جَسَدِهِ يَعْرِفُونَهُ وَكَانَ عَاصِمٌ قَتَلَ عَظِيمًا مِنْ عُظَمَائِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ فَبَعَثَ اللَّهُ عَلَيْهِ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ فَحَمَتْهُ مِنْ رُسُلِهِمْ فَلَمْ يَقْدِرُوا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ [ر: ٢٨٨٠]

[٣٨٥٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرًا يَقُولُ الَّذِي قَتَلَ خُبَيْبًا هُوَ أَبُو سِرْوَعَةَ

غزوه رجيع: رجيع د يو خاې نوم دې.كوم چه د بنو هذيل په قبضه كښې وو.([1]) چونكه دا غزوه هم په دې مقام كښې پيښه شوې وه.ددې وجې دې ته ((غزوهٔ رجيع)) وائى. حضرت ابوهريره رضي الله عنه بيان كوى.چه نبى ﷺ په لسو كسانو باندې مشتمله يوه سريه د جاسوسۍ په غرض باندې ليږلې وه.او حضرت عاصم بن ثابت رضي الله عنه ئې په دوى باندې امير مقرر كړې وو. داخود بخارى روايت دې.ابن سعد رحمه الله چه كوم روايت نقل كړې دې.په هغې كښې دى.چه دنبى ﷺ په خدمت كښې د عضل اوقاره خلق راغلل.او هغوى درخواست اوكړو.چه زمونږ قوم ته د قرآن تعليم وركوول دپاره يو څوې صحابه رضي الله عنهم تاسو راوليږئ.([2]) نو نبى ﷺ دوى سره دا لس كسان اوليږل.

خويه دواړوروايا توكښې تطبيق كيدې شى.چه د مشركانو د حالاتو معلومولو په غرض ددې كسانو د وليږلو د وړاندې نه اراده وه.خو كله چه د عضل او قاره درخواست راغلو.نو نبى ﷺ داكار دوى ته اورسپارل.چه هلته لاړ شئ.اود قرآن تعليم ورته هم وركړئ.

ددې جماعت د امير حضرت عاصم بن ثابت انصارى رضي الله عنه نه سوا چه په دې كښې كوم حضرات شامل وى.هغوى حضرت خبيب بن عدى،حضرت عبدالله بن طارق، حضرت زيد بن دثنه،حضرت مرثد بن ابى مرثد غنوى،او حضرت خالد بن ابى البكير رضي الله عنهم شامل ووكله چه دا حضرات د مكې او عسفان په مينځ كښې مقام ، ،هداة، ، ته اورسيدل.نود عضل او قاره خلقو غدارى اودهوكه اوكړه.اود قبيله هزيل يوې قبيلې بنو لحيان ته ئې تذكره اوكړه.چه د محمد (ﷺ) ملګرى راغلى دى. اوددغه قبيلې سلوتيرانداز و ددې صحابو رضي الله عنهم تعاقب اوكړو.اودقدمونوپه نښو باندې روان ووترديې چه داسې خاې ته اورسيدل.كوم خاې كښې چه د صحابو رضي الله عنهم دې ډلې دمه كړې وه.دې خلقو په دې مقام كښې د قجورو هډوكى بياموندل.او وې وئيل. دا خود يثرب قجورې دى.نود قدمونو په نښو باندې ئې لټون شروع كړو.اوبيا روان شو.آخر دا چه د مسلمانانو دغه ډلې ئې بيامونده.

---

[1])وفى معجم البلدان (٢٩\٣) الرجيع ما ء لهذيل قرب الهداة بين مكة وطائف وفى طبقات ابن سعد(٥٥\٢) هو ماء لهذيل بصدور الهدة والهدة على سبعة أميال منها)_

[2])طبقات ابن سعد(٥٥\٢) وسيرة ابن هشام (١٧٨\٣) و كامل لابن اثير(١١٠\٢) البته په سيرة ابن هشام او كامل ابن اثيركښې د لسو په خاې د شپږوكسانو دليږلو ذكردې.خوراجح او قوى د بخارى او ابن سعد رحمهما الله روايت دې)-

قوله: فَلَمَّا انْتَهَى عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَئُوا إِلَى فَدْفَدٍ: كله چه عاصم او هغه ملګرى د تلو نه منع شول.نوهغوى يوې اوچتې ډيرۍ دپاسه پناه واخسته.

«فدفد» (د دواړو فاء فتحې سره) اوچتې اولوړې ډيرۍ ته وائى.

كافران راغلل.اوددې ډيرۍ نه ګيرچاپيره ئې مسلمانان راګيركړل.او ووې وئيل.تاسوسره وعده اومعاهده ده.چه تاسو ركوز شوئ.اومونږ ته مو ځان حواله كړو.نوپه تاسوكښې به څوك نه قتلوو.

په دې باندې د ډلې اميرحضرت عاصم رضي الله عنه اووئيل.زه دكافر په پناه كښې نه كوزيږم.اودا دعا ئې اوكړه.«اللهم أخبرعنا نبيك» اې الله زمونږ دحالت نه خپل پيغبرخبركړې.اوبياكافرانو دوى سره جنګ شروع كړو.او په تيرونو سره ئې حضرت عاصم رضي الله عنه اود هغه شپږ ملګرى شيهدان كړل.([1])

حضرت خبيب،حضرت زيد او يو بل سړى يعنى حضرت عبدالله بن طارق رضي الله عنهم پاتې شول.كافرانو هغوى سره دامان وعده اوكړه.ددوى دامان په وعده باندې درې واړه د ډيرۍ نه راكوز شول.

قوله: فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ حَلُّوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ فَرَبَطُوهُمْ بِهَا: كله چه كافرانو په دوى باندې قابو بيا موندو.نو ددوى د ليندو مزى ئې پرانستل.اوپه هغه مزو باندې ئې دا درې واړه اوتړل.

«أوتار» د وتر جمع ده.د ليندې مزى ته وائى.«قسى» ليندې ته وائى.

په دې باندې عبدالله بن طارق رضي الله عنه اووئيل.دا اولنۍ غدارى ده.اوهغوى سره ئې د تلو نه انكار اوكړو.كافرانو هغه راښكل.اود هغه ئې د خپل ځان سره د بوتلو كوشش اوكړو.خو حضرت عبدالله بن طارق رضي الله عنه هغوى سره تلو ته تيار نه وو. نو كافرانو هغه قتل كړو.اوحضرت خبيب او حضرت زيد رضي الله عنهما ئې بوتلل اوپه مكه كښې ئې خرڅ كړل.حضرت خبيب دحارث بن عامربن نوفل ځامنو واخستل .چونكه حارث لره خبيب رضي الله عنه په جنګ بدر كښې قتل كړې وو.ددې وجې د پلار د قصاص دپاره دحارث ځامنو دې واخستلو.حضرت خبيب رضي الله عنه دوى سره قيدى شو. تردې چه كله هغوى د خبيب رضي الله عنه د قتلولو عزم اوكړو.

قوله: اسْتَعَارَ مُوسَى مِنْ بَعْضِ بَنَاتِ الْحَارِثِ لِيَسْتَحِدَّ بِهَا: نوحضرت خبيب رضي الله عنه د حارث ديوې لور نه پاكى(د نائى جاړه) اوغوښتله.چه د زيرناف صفائى پرې اوكړى.

---

[1])قال ابن هشام (١٧٩١٣) فأما مرثد بن ابى مرثد وخالدبن البكيروعاصم بن ثابت فقالوا والله لا نقبل من مشرك عهداً ولا عقداً أبداً فقال عاصم بن ثابت رضي الله عنه :

ما علتى وأنا جلد نابل والقوس فيها وتد عنابل ... نزل عن صفحتها المعابل الموت حق والحياة باطل

وكل ما حم الإله نازل بالمرء والمرء إليه آئل ... إن لم أقاتلكم فأمى هابل...

النابل صاحب النبل،عنابل: غليظ شديد،المعابل : جمع معبلة وهو نصل عريض، حم الإلة: قدرة آئل: صائر..)

«بعض بنات الحارث» نه مراد «زينب بنت الحارث» ده.په بعضې رواياتوکښې ددې ښځې نوم ماريه راغلې دې.خو په دواړو کښې تطبيق داسې کيدې شي.چه د کومې ښځې په کور کښې چه حضرت خبيب رضي الله عنه بندى وو.هغه ماريه وه.او کومه ښځه چه دحضرت خبيب رضي الله عنه په نګرانئ باندې مقرروه.هغه زينب وه.روسته مسلمانانه شوې وه.([1])
ددې نه يوه خبره دا هم معلومه شوه.کله چه يوسړې قتل کولې شي.نودقتل نه وړاندې هغه ته پکار دى.چه دخپلو نوکونواو زيرناف وختو صفائى اوکړى.
دغه ښځې ورته عارية پاکى(دنائى جاړه) ورکړه.ددغه ښځې بيان دې.چه زه د خپل يو بچى نه غافله شوم.(اوزما خيال نه وو) هغه ماشوم دخبيب طرف ته ورغلو.حضرت خبيب رضي الله عنه ماشوم په خپل پتون باندې کينولې وو.کله چه ما ماشوم د هغه سره اوليدلو.نو زه اوويريدم.حضرت خبيب رضي الله عنه زما په ويره باندې پوهه شو.نو ووې وئيل.آيا ته ددې خبرې نه ويريږې.چه زه به دې قتل کړم.انشاءالله زه داسې نکوم.([2]) هغه ښځه وائى.

«ما رأيت أسيرا قط خيرا من خبيب لقد رأيته يأكل من قطف عنب وما بمكة يومئذ ثمرة وإنه لموثق فى الحديد وماكان إلا رزق، رزقه الله»

ما دخبيب پشان ښه بندى نه دې ليدلې.ما هغه ليدل.چه د انګورد غنچو نه ئې خوراك کولو.حالانکه په دغه وخت کښې په مکه کښې ميوه نه وه موجود ،اوهغه داوسپنې په بيړو کښې تړلې شوې وو.داصرف دالله تعالى دطرفه رزق وو.چه هغه ته الله تعالى ورکولو.
دحضرت خبيب رضي الله عنه شهادت: بيا دې خلقو حضرت خبيب رضي الله عنه د قتل دپاره د حرم نه بهرته بوتلل.حضرت خبيب رضي الله عنه ورته اووئيل.ماته موقعه راکړئ.چه زه دوه رکعته مونځ اوکړم.نو هغوى پريخودو.دوې دوه رکعته مونځ اوکړو.اوددې نه پس هغه خلقو ته متوجه شو.او وې وئيل.کا ما سره د دې خبرې ويره نه وه.چه تاسو به دا اوګنړى،چه ګنى زه د مرګ نه ويريږم.(ددې وجې زه مونځ اوږدوم) نو ما به نور زيات (اوږد مونځ) کړې وو. (خوچونکه ماته ستاسود ګمان ويره وه.څکه ما مختصر مونځ اوکړو) بيا دوى رضي الله عنه خلقوته خيرې اوکړې.
چه«اللهم أحصهم عددا»([3]) اې الله دوى يويوکس په شمارباندې اونيسه.اودوى دا شعر اووئيل.

---

[1])فتح البارى (٣٨٢\٧) وعمدة القارى(١٦٨\١٧)_
[2])ددغه ماشوم نوم ئې ابوحسين بن الحارث بن عدى ليکلې دې.په يو روايت کښې دى.چه حضرت خبيب رضي الله عنه د ماشوم لاس اونيولو.او ښځې ته ئې اووئيل.الله تعالى ماته هم په په تاسو قدرت راکړې دې.ښځې اووئيل.زما ستا نه دا ويره نشته.(چه ته به دا ماشوم قتل کړې) حضرت خبيب رضي الله عنه پاکى ښځې طرف ته اوغورخوله.او ووې وئيل.مادرسره ټوقې کولې. فتح البارى (٣٨٢\٧)
[3])وفى سير ابن هشام (١٨٢\٣) فلما أوثقوه (أى خبيبا) قال اللهم إنا قد بلغنا رسالة رسولك فبلغه الغداة ما يصنع بنا ثم قال اللهم أحصهم عدداً وقتلهم بدداً ولا تغادرمنهم أحداً. فكمان معاوية بن ابى سفيان يقول حضرته يومئذ فيمن حضره مع ابى سفينان فلقد رأيته يلقينى إلى الأرض فرقا من دعوة خبيب وكانوا يقولون إن الرجل إذا دعى عليه فاضطجع لجنبه زالت عنه)_

مَا أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلّٰهِ مَصْرَعِي

وَذٰلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلٰهِ وَإِنْ يَشَأْ يُبَارِكْ عَلَىٰ أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

① هركله چه زه د مسلمانئ په حالت كښې وژلې كيږم.نوزما په دې خبره څه پرواه نشته.چه دالله تعالى دپاره په كوم اړخ باندې زه (په زمكه) راغورځولې شم.

② اودا زما قتليدل د الله تعالى د رضا دپاره دى.كه هغه اوغواړى.نو د ټكړې شوى اندامونو په هرجوړ به بركت نازل كړى.

«أوصال» د وصل جمع ده.جوړ ته وائى.

«شلو» د شين په كسرې سره اندام ته وائى.

«ممزع» ټكړې ټكړې كړې شوى ته وائى.

بيا عقبه بن حارث هغه طرف ته پاځيدو.او هغه ئې قتل كړو.(۱) كافرانو د حضرت خبيب رضي الله عنه لاش په سولئ زوړند پريخودو.طبرى په خپل تاريخ كښې ليلكى دى.چه نبى صلى الله عليه وسلم حضرت زبير او حضرت مقداد رضي الله عنهما دهغوى د لاش راوړلو دپاره اوليږل.دا حضرات هلته اورسيدل.چه وې كتل نو مشركان د لاش نه ګير چاپيره د څوكئ كولو دپاره پراته دى.چه هغوى ئې غافله اوليدو.نو حضرت زبير او حضرت مقداد رضي الله عنهما لاش راوكوز كړل.بيخى تروتازه وو.حالانكه چه دوى شهيدشوى وو.نو څلويښت ورځې شوې وې.لاش ئې په خپل اوبن باندې كيخودو .او راروان شو.كله چه د مشركانو سترګې غړې شوې.چه او ئې كتل نو لاش نشته، په منډو شو.اوحضرت زبيراوحضرت مقداد رضي الله عنهما ئې په لاره كښې اونيول .حضرت زبير رضي الله عنه په دې غرض چه بې حرمتى اونشى.لاش په آرام سره د اوبن نه په زمكه كيخودو.سمدستى زمكه څيرې شوه.اوحضرت خبيب رضي الله عنه لاش په هغې كښې غائب شو.(۲)

هم ددې خائې نه د «بليع الأرض» په لقب سره مشهور شو.(۳)

دحضرت زيدبن دثنه رضى الله عنه شهادت: د بخارى په روايت كښې د حضرت خبيب رضي الله عنه د شهادت واقعه ذكرده.د دويم بندى حضرت زيد بن الدثنه رضي الله عنه قصه ذكر نه ده.

حضرت زيد بن الدثنه، صفوان بن اميه دخپل پلار اميه بن خلف د قتل د بدلې كښې

---

(۱) دا عقبه بن حارث روسته مسلمان شوې دې.ابن اسحاق د عقبه دا قول هم نقل كړې دې.،، ما أنا والله قتلت خبيباً لأنى كنت أصغر من ذلك ولكن أبا ميسرة أخا بنى عبدالدارأخذ الحربة فجعلها فى يدى ثم أخذ بيدى وبالحربة ثم طعنه بها حتى قتله (وانظرسيرة ابن هشام (۱۸۲/۳) والبداية (۶۳/٤)_

(۲) تاريخ الطبرى (۲۱۶/۲)_

(۳) حافظ ابن حجر رحمه الله په ((الإصابة فى تميز الصحابة)) كښې د ذكرشوې واقعه نقل كولونه پس داهم ليكلى دى.چه حضرت خبيب رضي الله عنه كله شهيد كړې شو.نو مشركانو په سولئ باندې ددوى مخ دقبلې نه واړولو.خودهغوى مخ به په خپله قبلې طرف ته كيدو.كافرانو څوځله دهغه دمخ اړولو كوشش اوكړو.هوبه هرځل به هم دغه شان كيدو.آخردا چه عاجزه شول.اولاش ئې هم دغه شان قبلې طرف ته پريخودو. اوګورئ (الإصابة (٤١٩/۲)_

واخستلو. صفوان خپل غلام نسطاس رومی ته زيد رضی الله عنه حواله کړو.چه مقام تنعيم ته ئې بوځه. اوهلته دې قتل کړه.دتماشې کتلو دپاره د قريشو يوه ډله مقام تنعيم کښې جمع شول. کله چه د شهيد کولو دپاره دې مخامخ راوستې شو.نو ابو سفيان ورته اوونيل.اې زيد! آيا ته دا خبره خوښوې.چه ستا ځان بچ کړې شی. اوستا په ځاې محمد (صلی الله علیه وسلم) قتل کړې شی. حضرت زيدبن الدثنه رضی الله عنه په غصه شو. او هغه ئې اورټل.اووې وئيل.په الله قسم زه دا هم نشم برداشت کولې.چه دمحمد صلی الله علیه وسلم په پښه کښې ازغې ننوځی.اوزما ځان دهغې په بدله کښې بچ شی.ابوسفيان چه جواب واوريدو.نو وې وئيل.په الله قسم ما داسې مخلص او عاشق نه دې دليدلې.لکه څنګه چه دمحمد (صلی الله علیه وسلم) ملګری دهغه عاشقان او وفادار دی.[1]

ددې نه پس نسطاس دې شهيد کړو.دانسطاس روسته دفتح مکې په موقع مسلمان شوې وو.[2]

بل خوا چه قريشو ته د حضرت عاصم بن ثابت انصاری رضی الله عنه د قتل اطلاع ملاؤ شوه.نو هغوی څو کسان اوليږل.چه دعاصم د بدن څه حصه راوړی.چه په هغې سره هغه پيژندې شی.ځکه چه حضرت عاصم رضی الله عنه په جنګ بدر کښې د قريشو يو سردار قتل کړې وو.او ابن اسحاق په روايت کښې دی.چه حضرت عاصم رضی الله عنه عقبه بن ابی معيط د نبی صلی الله علیه وسلم په حکم باندې قتل کړې وو.[3]

د بعضې اهل سيرو په رواياتوکښې دا هم دی.چه حضرت عاصم رضی الله عنه د سلافه بنت سعيد دوه خامن قتل کړی وو.ددې وجې سلافه دا نذر منلې وو.چه د عاصم د سرپه کنډول کښې به شراب څکم.اواعلان ئې کړې وو.چه کوم کس دعاصم سر راوړو.نو هغه ته به سل اوښان په انعام کښې ورکولی شی.[4]

بل طرف ته حضرت عاصم رضی الله عنه دا وعده کړې وه.چه زه به دکافر د بدن سره خپل بدن نه لګوم.اودا دعا ئې کړې وه.چه ((اللهم احمی لك اليوم دينك فاحمی لی لحمی)) [5]اې الله نن زه ستا د دين حفاظت کوم.ته زما د بدن حفاظت اوکړه.الله تعالی دهغه دعا قبوله کړې وه.اودلته د بخاری په روايت کښې دی.

قوله: فبعث الله عليه مثل الظلة من الدبر فحمته من رسلهم: الله تعالی دحضرت عاصم دبدن دپاره د څپر (دسيوری ځاې) پشان د ډمبرو يوه ډله راوليږله.هغوی د قريشو ليږلو شوو خلقو نه د دوی حفاظت اوکړل.

((الظلة)) د ظاء په ضمه سره،څپر، (دسيوری ځاې) ته وائی.

((الدبر)) د دال په فتح او باء په سکون سره، د ډنبرواو مچو ډلې ته وائی.

---

[1])سيرة ابن هشام (۱۸۱\۳) وتاريخ الطبری (۲۱۶\۲)

[2]) الإصابة (۵۵۳\۳)

[3])ددې تفصيل په غزوه بدر کښې تيرشوې دې.)

[4])تاريخ الطبری (۲۱۴\۲) والبداية والنهاية (۶۴\۳)_

[5])فتح الباری(۳۸۱\۱۷)_

چه ډنبرې ئې اوليدې.نو هغه خلقو اووئيل.چه دشپې کله مچئ لاړې شى.نو رابه شو.او دده سره به کټ کړو.خوکله چه شپه راغله.نوالله تعالى يو سيلاب راوستل.اوپه هغې کښې لاش غائب شو.اوبعضې حضراتو ونيلى دى.چه زمکه اوچوده.اوپه هغې کښې دحضرت.عاصمﷺ لاش پټ شو.بهرحال کافرانوته دهغه په بدن باندې طاقت حاصل نشو.[1]

غزوه بئر معونه صفر ۵ هجرى د بئر معونه واقعه داسې پېښه شوه.چه د قبيلې بنو عامر سردار عامر بن مالك د نبىﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او خان سره ئې هديه هم راوړه. نبىﷺ هغه ته د اسلام دعوت ورکړو.نو هغه خو نه اسلام قبول کړو.اونه ئې انکار اوکړو. بلکه دا درخواست ئې اوکړو.چه ته خپل سړى زمونږ قبيلې ته د اسلام د دعوت په غرض راوليږه. نبىﷺ ورته اوفرمائيل.ماته د اهل نجد نه ويره ده.چه هغوى به زمونږ ملګرو ته نقصان اورسوى.عامر بن مالك چه کنيت ئې ،،ابوبراء،، وو. اووئيل.زه ستا ملګرو ته پناه ورکوم.[2] نو نبىﷺ د هغه په غوښتنه د اويا قاريانو ليږلو فيصله اوکړه.د بخارى په کتاب الجهاد کښې دا هم دى.چه د رعل او ذکوان د قبيلې خلق د نبىﷺ په خدمت کښې حاضر شول.اوهغوى د اسلام اظهار اوکړو .اونبىﷺ ته ئې درخواست اوکړو.چه زمونږ د دشمنانو په مقابله کښې زمونږ مدد اوکړئ.د هغوى د مدد په غرض سره نبىﷺ هغوى سره د اويا صحابوﷺ يوه ډله اوليږله.[3]

خودواړه خبرې جمع کيدې شى.عامر بن مالك چه کوم درخواست کړې وو،د هغه خواهش هم پوره کول وو.او د رعل او ذکوان امداد کول هم مقصود وو.

نودا حضرات روان شول.د دوى امير نبىﷺ منذر بن عمرو ساعدىﷺ مقرر کړو.او حضرت حرام بن ملحانﷺ ته نبىﷺ خط د بنو عامر د سردارد عامر بن طفيل په نوم باندې اوليکلو.دا عامر بن طفيل د عامربن مالك وراره وو.حضرت حرامﷺ د خپلو ملګرو سره هلته اورسيدل.اوخپل ملګرو ته ئې اووئيل.چه تاسو روستو ايسارشئ.زه عامر بن طفيل ته خط ورکوم.که هغه ماته امن راکړو.نو تاسو هم دلته اوسئ.اوکه هغه زه قتل کړم.نو تاسو د نورو ملګرو ځاى ته ځئ.حضرت حرامﷺ لکه څنګه چه وړاندې په روايات کښې تفصيل راځى.شهيد کړې شو.او بنو عامرئې دنورو ملګرو په قتل باندې راپار کړو. دعامر بن طفيل تره عامربن مالك ورته اووئې.چه ما دې کسانو ته امن ورکړې دې.دوى ته څه نقصان مه رسوه. خوعامربن طفيل د خپل تره خبره اونه منله.خوبنو عامر اووئيل.هرکله چه دوى ته امن ورکړې شوې دې.نو بيا غدارى او وعده ماتول نه دى پکار.[4] کله چه بنو

[1]) حضرت عاصم بن ثابت انصارىﷺ جليل القدرصحابىﷺ وو.اوپه سابقين اولين کښې وو،په غزوه بدرکښې ئې شرکت کړې وو.اوپه ليلة العقبه ورته د بيعت شرف حاصل شوې وو.د حالاتودپاره اوګورئ (الإصابة (۲۴٤١٣)_

[2])طبقات ابن سعد(٥٢١٢) وسيرة ابن هشام (١٩٣١٣، ١٩٤)_

[3])فتح البارى(٣٨٦١٧)_

[4])سيرة ابن هشام (١٩٤١٣)_

عامرد عامربن طفیل خبره اونه منله.نو عامر د رعل او ذکوان نه مدد اوغوستل .رعل او ذکوان سره ددې نه چه د نبی ﷺ نه د صحابو رضی الله عنهم لیرلو درخواست کړې وو.د وعده ماته کړه.اود عامر بن طفیل سره ملاؤ شو.اوصحابه رضی الله عنهم ئې شهیدان کړل.
صرف درې صحابه بچ شول.یو حضرت کعب بن زید انصاری رضی الله عنه وو.دده په باره کښې دا اوګڼړلی شو.چه دا مړې شوې دې.حالانکه هغه ژوندې وو.حضرت کعب بن زید رضی الله عنه روستو د غزوه خندق په موقع باندې شهید شوې وو.نور دوه صحابو کښې یو منذر بن محمد رضی الله عنه وو.او یو عمروبن امیه ضمری رضی الله عنه وو.دا دواړه حضرات د څاروو څرخولوډپاره ځنګل ته تلی وو.ناڅاپه هغوی ته په آسمان کښې مرغۍ الوتونکې په نظرراغلې.چه مرغۍ ئې اولیدې.نودا دواړه اوویریدل.اووې وئیل.چه څه حادثه ضرور پیښه شوې ده.کله چه نزدې ورغلل.چه وې کتل. نو ټول صحابه شهیدان شوی وو.دواړو مشوره اوکړه.چه څه کول پکار دی.عمروبن امیه رضی الله عنه اووئیل.مدینې ته تلل پکار دی.او نبی ﷺ ته خبر ورکول دی.خو منذ ربن محمد رضی الله عنه اووئیل.په کوم ځاې کښې چه منذر بن عمرو(د ډلې امیر) شهید کړې شوې دې، د هغه ځاې نه زه ولې اوتختم. ورورانډې شو.اودکافرانو سره اوجنګیدو.اود شهادت پیالۍ اوڅکله.عمروبن امیه خلقو ژوندې ګرفتار کړو.او عامربن طفیل ته ئې حواله کړو. عامر دهغه د سر ویخته اونیول.او وې وئیل.دې پریږدئ.ځکه چه زما مور د یوغلام آزادولو نذر منلې وو.دا دهغې دطرفه شو.(۱)
کله چه نبی ﷺ ته خبراوشو.نو هغوی د رعل اوذکوان په حق کښې تریوې میاشتې پورې په قنوت نازله کښې خیرې کولې.په دې حادثه باندې نبی ﷺ ته دومره تکلیف ملاؤ شوې وو. چه په ټول عمرکښې ورته دومره تکلیف نه وو ملاؤشوې.اوس لږ د بخاری روایتونه اوګورئ.

[۳۸۶۰\۳۸۶۵] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعِينَ رَجُلًا لِحَاجَةٍ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ فَعَرَضَ لَهُمْ حَيَّانِ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ رِعْلٌ وَذَكْوَانُ عِنْدَ بِئْرٍ يُقَالُ لَهَا بِئْرُ مَعُونَةَ فَقَالَ الْقَوْمُ وَاللَّهِ مَا إِيَّاكُمْ أَرَدْنَا إِنَّمَا نَحْنُ مُجْتَازُونَ فِي حَاجَةٍ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَتَلُوهُمْ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ شَهْرًا فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ وَذَلِكَ بَدْءُ الْقُنُوتِ وَمَا كُنَّا نَقْنُتُ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ وَسَأَلَ رَجُلٌ أَنَسًا عَنِ الْقُنُوتِ أَبَعْدَ الرُّكُوعِ أَوْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِنَ الْقِرَاءَةِ قَالَ لَا بَلْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِنَ الْقِرَاءَةِ

دباب په اولنی روایت کښې د غزوه رجیع بیان شوې دې.او دباب د دویم روایت نه واخله تر آخره پورې ټول روایات د غزوه بئر معونه سره متعلق دی.
دغزوه بئر معونه سره متعلق اولنې روایت د حضرت انس رضی الله عنه دې.دوی فرمائی.
چه رسول الله ﷺ اویا کسان د یو کار دپاره لیږلی وو.چه هغو ته به ((قراء)) وئیلی شو.د بنو سلیم دوه قبیلې رعل او ذکوان دوی ته په لارکښې یوکوهی سره چه ،،بئر معونه ،، ورته

(۱)تاریخ طبری (۲۲۰\۱۲) وسیرة ابن هشام (۱۹۵\۱۳)_

ونيلې شو.مخامخ راغلل.صحابوﷺ ورته اووئيل.تاسو زمونږ لاره نيسئ.په الله قسم مونږ ستاسو په اراده باندې نه يو راغلى.مونږ خو نبىﷺ د يوكاردپاره راليږلى يو.خو هغه خلقو صحابهﷺ قتل كړل.نبىﷺ تر يوې ميشاتې پورې د رعل او ذكوان په حق كښې خيرې كولې.او هم ددې نه د قنوت نازله شروع اوشوه.ددې نه وړاندې به مونږ قنوت نه وئيل.

حضرت عبدالعزيز بن صهيب فرمائى.چه يو سړى حضرت انسؓ نه اووئې. چه قنوت د ركوع نه پس دى او كه د قراءت د فراغت نه پس او د ركوع نه وړاندې؟ حضرت انسؓ ورته اوفرمائيل.د قراءت نه د فارغ كيدو نه پس اود ركوع نه وړاندې،اوظاهره ده.چه د وترو قنوت د ركوع نه وړاندې وى.

[٣٨٦١]حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ الْعَرَبِ

د بئر مونه سره متعلق دويم روايت هم د حضرت انسؓ نه مروى دې.دلته حضرت قتاده، د حضرت انسؓ نه روايت كوى.په دې كښې دى چه د ركوع نه پس نبىﷺ يو مياشت قنوت ونيلې وو.مراد ترې قنوت نازله دې.د عربو د څو قبيلو دپاره نبىﷺ خيرې كولې.

[٣٨٦٢]حَدَّثَنِي عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رِعْلًا وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَبَنِي لَحْيَانَ اسْتَمَدُّوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَدُوٍّ فَأَمَدَّهُمْ بِسَبْعِينَ مِنْ الْأَنْصَارِ كُنَّا نُسَمِّيهِمْ الْقُرَّاءَ فِي زَمَانِهِمْ كَانُوا يَحْتَطِبُونَ بِالنَّهَارِ وَيُصَلُّونَ بِاللَّيْلِ حَتَّى كَانُوا بِبِئْرِ مَعُونَةَ قَتَلُوهُمْ وَغَدَرُوا بِهِمْ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَنَتَ شَهْرًا يَدْعُو فِي الصُّبْحِ عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَبَنِي لَحْيَانَ قَالَ أَنَسٌ فَقَرَأْنَا فِيهِمْ قُرْآنًا ثُمَّ إِنَّ ذَلِكَ رُفِعَ بَلِّغُوا عَنَّا قَوْمَنَا أَنَّا لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَأَرْضَانَا

دغزوه بئر معونه سره متعلق دريم روايت د «سعيد عن قتادة عن أنسؓ» دې.حضرت انسؓ فرمائى.

رعل اوذكوان عصيه اوبنى لحيان د نبىﷺ نه د دشمن خلاف مدد اوغوښتلو .نو نبىﷺ اويا انصار د هغوى دمدد دپاره وركړو.چاته چه مونږ ،،قراء،، وئيل.د هغوى په زمانه كښې (يعنى په هغه زمانه كښې چه نبىﷺ هم لاژوندې وو.اولوې لوې صحابهﷺ هم موجود وو.هغوى ته ،،قراء،،وئيلې شو) دې خلقوبه د ورځې لرګى راجمع كول.(اوهغه به ئې خرڅول.اوخپل ضروريات به ئې پوره كول) اودشپې به ئې مونځونه كول.

دلته په روايت كښې د بنو لحيان ذكر شوې دې.حالانكه د بنو لحيان تعلق د غزوه رجيع سره دې.ددې وجې د بنو لحيان ذكر وهم ګرځولې شوې دې.ځكه چه دا روايت د غزه رجيع سره نه بلكه غزوه بئر معونه سره متعلق دې.[1] حضرت انسؓ فرمائى.چه ددې اويا

[1])فتح البارى(٣٨٧/٧)_

قاريانوپه باره كښې مونږ د قران يوايت لوستل.خوبيا هغه آيت پورته كړې شو.(اودهغې تلاوت منسوخ شو.) هغه آيت دا وو.((بَلِّغُوا عَنَّا قَوْمَنَا أَنَّا لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَأَرْضَانَا))
زمونږ دطرفه زمونږ قوم (مسلمانانو) ته دا خبر وركړئ.چه مونږ د خپل رب سره ملاقات اوكړو. نو هغه زمونږ نه راضي شو.اومونږ دهغه نه راضي يو.په دې آيت كښې د ((قراء سبعين)) قول نقل شوې دې.

[٣٨٦٣]وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدَّثَهُ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَبَنِي لِحْيَانَ زَادَ خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسٌ أَنَّ أُولَئِكَ السَّبْعِينَ مِنَ الْأَنْصَارِ قُتِلُوا بِبِئْرِ مَعُونَةَ قُرْآنًا كِتَابًا نَحْوَهُ

ددې روايت سند دماقبل سره ملاو نه دې.دا خانله تعليق دې.ددې روايات په باره كښې امام بخاري رحمه الله فرمائي.چه زما استاذ خليفه (بن خياط) دا اضافه كړې ده.چه يزيد بن زريع مونږ ته بيان كړې وو.چه ((أن أولئك السبعين من الأنصار قتلوا ببئر معونة)) چه اويا صحابه رضي الله عنهم كوم چه په بئر معونه كښې شهيد كړې شوى وو.هغه د انصارو ځنى وو.

((قرآنا كتاباً نحوه)) په پورتنى روايت كښې د حضرت انس رضي الله عنه قول وو.او ((وقرأنا فيهم قرآنا)) دلته ئې ((قرانا كتاباً)) اووئيل.دا ئې اوخودل.چه دقرآن نه مراد كتاب الله دې.-اومطلب دا دې.چه ددې قاريانو د شهادت نه پس ددوى په باره كښې آيت نازل شو.[1]

په دې ذكرشوو څلورو واړو روايتونو كښې دى.چه نبى صلى الله عليه وسلم قنوت وئيل.د ((عبدالعزيز عن أنس رضي الله عنه)) په روايت كښې ددې تصريح ده.چه دا قنوت قبل الركوع وو.او د ((قتادة عن أنس رضي الله عنه)) په روايت كښې دى.چه دا قنوت بعدالركوع وو.

په دواړو روايتونو كښې تطبيق ښكاره دې.چه په اولنى روايت كښې د كوم قنوت ذكر دې.هغه د وترو قنوت دې ،او په دويم روايت كښې قنوت نازله مراد دې.او قنوت نازله د ركوع نه پس وى.په دريم روايت كښې د ((صلاة الصبح)) تصريح ده.وړاندې هم په دې باب كښې يوبل روايت راځى.هغه د فيصله كن درجه لرى.چه د صبا په مانځه كښې قنوت صرف يومياشت پورې وئيلى شو.اوهغه قنوت نازله وو.اوددې نه علاوه چه نور كوم قنوت دى.هغه د وترو قنوت دى.كوم چه قبل الركوع دى.

[٣٨٦٤]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسٌ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ خَالَهُ أَخٌ لِأُمِّ سُلَيْمٍ فِي سَبْعِينَ

[1])علامه عينى ليكى. ((قرانا كتاباً نحوه غرضه تفسير القرآن بالكتاب كما ذكرناه قوله ..نحوه.. أي نحو رواية عبدالأعلى بن حماد عن يزيد بن زريع إلى آخره وانظر عمدة القاري (١٧٠١١٧)_~

رَاكِبًا وَكَانَ رَئِيسَ الْمُشْرِكِينَ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ خَيَّرَ بَيْنَ ثَلَاثِ خِصَالٍ فَقَالَ يَكُونُ لَكَ أَهْلُ السَّهْلِ وَلِي أَهْلُ الْمَدَرِ أَوْ أَكُونُ خَلِيفَتَكَ أَوْ أَغْزُوكَ بِأَهْلِ غَطَفَانَ بِأَلْفٍ وَأَلْفٍ فَطُعِنَ عَامِرٌ فِي بَيْتِ أُمِّ فُلَانٍ فَقَالَ غُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْبَكْرِ فِي بَيْتِ امْرَأَةٍ مِنْ آلِ فُلَانٍ ائْتُونِي بِفَرَسِي فَمَاتَ عَلَى ظَهْرِ فَرَسِهِ فَانْطَلَقَ حَرَامٌ أَخُو أُمِّ سُلَيْمٍ هُوَ وَرَجُلٌ أَعْرَجُ وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي فُلَانٍ قَالَ كُونَا قَرِيبًا حَتَّى آتِيَهُمْ فَإِنْ آمَنُونِي كُنْتُمْ وَإِنْ قَتَلُونِي أَتَيْتُمْ أَصْحَابَكُمْ فَقَالَ أَتُؤْمِنُونِي أُبَلِّغْ رِسَالَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يُحَدِّثُهُمْ وَأَوْمَئُوا إِلَى رَجُلٍ فَأَتَاهُ مِنْ خَلْفِهِ فَطَعَنَهُ قَالَ هَمَّامٌ أَحْسِبُهُ حَتَّى أَنْفَذَهُ بِالرُّمْحِ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَلُحِقَ الرَّجُلُ فَقُتِلُوا كُلُّهُمْ غَيْرَ الْأَعْرَجِ كَانَ فِي رَأْسِ جَبَلٍ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْنَا ثُمَّ كَانَ مِنَ الْمَنْسُوخِ إِنَّا قَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَأَرْضَانَا فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثِينَ صَبَاحًا عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَبَنِي لَحْيَانَ وَعُصَيَّةَ الَّذِينَ عَصَوُا اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت انس ﷺ فرمائي.چه نبي كريم ﷺ ددوى ماما چه د ام سليم ورور وو.په اويا سورو كښې ليږلې وو.دمشركانو سردار عامربن طفيل وو.دې مدينې منورې ته راغلې وو.اونبى ﷺ ته ئې په دريو خبروكښې د يوې خبرې اختيارورکړې وو.نوهغه اوويل.

قوله: يَكُونُ لَكَ أَهْلُ السَّهْلِ وَلِي أَهْلُ الْمَدَرِ أَوْ أَكُونُ خَلِيفَتَكَ أَوْ أَغْزُوكَ بِأَهْلِ غَطَفَانَ بِأَلْفٍ وَأَلْفٍ: په كلوبه ستا حكومت وى.اوپه ښارونو به زما حكومت وى.يا ستا نه پس به ستا خليفه زه يم.(كه په دې دواړو خبروكښې درته يوهم منظور نه وى نو) بيا به د غطفان په زرګونو كسان راولم.اوتا سره به جنګ كوم.

قوله: بِأَلْفٍ وَأَلْفٍ: ددې يومطلب خو دا دې.چه چه يو زر سواره به وى.او يو زر اسونه به وى.او يو مطلب دا اخستې شى.چه يو زر اسونه به سره وى.او يو زر اسونه به سره او سپين وى. اوښكاره ده چه كله دوه زره اسونه وى.نو دوه زره سوارهٔ به هم وى([1]) مقصد دا چه ډير لوئ فوځ به راولم.اوتاسره به جنګيږم.

قوله: فَطُعِنَ عَامِرٌ فِي بَيْتِ أُمِّ فُلَانٍ فَقَالَ غُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْبَكْرِ: بيا عامر د ام فلان په كور كښې په طاعون كښې اخته شو.لكه څنګه چه د خوان اوښ په بدن كښې غټه دانه راوخيژى.دغه شان دهغه په بدن كښې هم غټه دانه راوخته.

قوله: فِي بَيْتِ امْرَأَةٍ مِنْ آلِ فُلَانٍ: دلته خو وضاحت نشته.خو داهل سير يو روايت نقل كړې دې.چه د آل سلول د يوښځې په كور كښې په ده باندې د طاعون دانه راوخته.([2])

[1])فتح البارى(۷\۳۸۷) وعمدة القارى(۱۷\۱۷۱)
[2])فتح البارى(۳۸۷\۶) وعمدة القارى(۱۷\۷۱)_

هغه مرګ ته نزدې شو.نوهغه اوونيل.زما اس راوله.-(زه به په بستره باندې نه مرم) او سور شو.اود اس په شا باندې مړ شو.دا روايت د غزوه بئر معونه د قصې سره متعلق دې.خو چونکه په بئر معونه کښې د شهيدشوو صحابه كرامو رضي الله عنهم اصلي قاتل عامر بن طفيل وو.نو خکه د جمله معترضه په طور په مينځ کښې دهغه قصه بيان شوه.

قوله: فَانْطَلَقَ حَرَامٌ أَخُو أُمِّ سُلَيْمٍ وَهُوَ رَجُلٌ أَعْرَجُ وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي فُلَانٍ: دلته په عبارت کښې غلطي شوې ده.صحيح عبارت دا دې.((فانطلق حرام هو ورجل أعرج ورجل من بني فلان)) دا ،،واو،، د ،،هو،، نه پس دې.خکه که ((وهو رجل أعرج)) اولوستې شي.نودوه خرابيانې لازميږي.

① يودا چه په دې صورت کښې د حضرت حرام رضي الله عنه اعرج كيدل ثابتيږي.حالانكه حضرت حرام اعرج (يعنى ګډ) نه وو.

② دويمه دا چه په دې صورت کښې به ترجمه داسې وي.چه يوحضرت حرام رضي الله عنه لاړلو.کوم چه اعرج وو.اويوسړې د بنى فلان نه لاړو.حالانكه تلونكى درې كسان وو.يو حضرت حرام بن ملحان رضي الله عنه.دويم اعرج چه نوم ئې كعب بن زيد رضي الله عنه خودلې شوې دې.اودريم منذربن محمد رضي الله عنه وو.

په وړاندينى روايت کښې د حضرت حرام رضي الله عنه قول دې.((كونا قريباً)) تاسو دواړه نزدې اوسئ.ددې خبرې دليل ښکاره دې.چه د دوى رضي الله عنه سره دوه كسان وو. دغه شان په يوبل روايت کښې دى.((فانطلق حرام ورجلان معه ،رجل أعرج ورجل من بني فلان)) ددې وجې پكارده چه ،،واو،، د ،،هو،، نه پس وي.خود غلطۍ نه ،،واو،، مقدم شوې دې.[1]

په وړاندى روايت کښې هم هغه خبره ده.چه عامربن طفيل ته كله حضرت حرام بن ملحان رضي الله عنه د نبى ﷺ خط يوړلو.نوحرت حرام رضي الله عنه هم هلته شهيد كړې شو.او رعل ذكوان او عصيه درې واړو په شريكه نور صحابه كرام رضي الله عنهم ئې شهيدان كړل.

قوله: فَلُحِقَ الرَّجُلُ: ① په دې کښې يوصورت خو دا دې.چه ((لحق)) معروف اوونلى شى.او ((الرجل)) نه مراد هغه كافرواخستې شى.چاچه حضرت حرام رضي الله عنه په نيزه وهلو باندې شهيد كړې وو.او بيا دخپلوكافرانو ملګروسره ملاؤ شوې وو.يعنى ((لحق الرجل بالمشركين بعد قتل حرام بن ملحان رضي الله عنه))

② دويم صورت دا دې،چه ((لحق الرجل)) کښې ((الرجل)) نه مراد دحضرت حرام رضي الله عنه ملګرې شى.چه هغه د حضرت حرام رضي الله عنه د شهادت نه پس د خپلو مسلمانانوملګرو سره ملاؤ شو. يعنى ((لحق الرجل بالمسلمين))

---

[1])فتح البارى(۳۸۷\۷) وعمدة القارى (۱۷\۱۷)_

③ دریم صورت دا دې،چه ((لحق)) مجهول اولوستې شی.او ((الرجل)) نه مراد حضرت حرامؓ و.په دې صورت کښې به مطلب دا شی.چه حضرت حرامؓ په نیزه اووهلې شو.نو هغوی ((الله أکبر فزت ورب الکعبة)) اووئیل.او وفات شو.اودمرګ په غیږه کښې ورغلو.یعنی ((لحق الرجل بالموت))

④ یو صورت دا دې.چه ((الرجل)) (دجیم په سکون سره وی) د((راجل)) جمع شی.

اود((رجل)) نه مراد د مشرکانو ډله واخستې شی.په دې صورت کښې به مطلب دا وی.چه ((لحق الرجل المشرکون بالمسلمین فقتلوهم))یعنی دکافرانوپیدله ډله د مسلمانانو سره ملاؤ شوه.او هغوی ئې شهیدان کړل.(١)

[٣٨٦٥] حَدَّثَنِي حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ قَالَ حَدَّثَنِي ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ لَمَّا طُعِنَ حَرَامُ بْنُ مِلْحَانَ وَكَانَ خَالَهُ يَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ قَالَ بِالدَّمِ هَكَذَا فَنَضَحَهُ عَلَى وَجْهِهِ وَرَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ [ر: ٢٦٤٧]

په دې روایت کښې دی.چه حضرت حرام د بئر معونه په موقع په نیزه وهلې شوې وو.

قوله: قَالَ بِالدَّمِ هَكَذَا یعنی فعل بالدم هکذا: هغه وینه په خپل مخ او سر باندې اومږله.او وې وئیل((فزت ورب الکعبة)) حضرت حرامؓ خپل مظلومیت الله تعالی ته د ښکاره کولو دپاره اوپه وینه ککړ مخ او سر،سره دالله تعالی په دربار کښې د پیش کیدو دپاره دا صورت اختیار کړو.

[٣٨٦٦/٣٨٦٧] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فِي الْخُرُوجِ حِينَ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْأَذَى فَقَالَ لَهُ أَقِمْ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَطْمَعُ أَنْ يُؤْذَنَ لَكَ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنِّي لَأَرْجُو ذَلِكَ قَالَتْ فَانْتَظَرَهُ أَبُو بَكْرٍ فَأَتَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ظُهْرًا فَنَادَاهُ فَقَالَ أَخْرِجْ مَنْ عِنْدَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّمَا هُمَا ابْنَتَايَ فَقَالَ أَشَعَرْتَ أَنَّهُ قَدْ أُذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ الصُّحْبَةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّحْبَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ عِنْدِي نَاقَتَانِ قَدْ كُنْتُ أَعْدَدْتُهُمَا لِلْخُرُوجِ فَأَعْطَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَاهُمَا وَهِيَ الْجَدْعَاءُ فَرَكِبَا فَانْطَلَقَا حَتَّى أَتَيَا الْغَارَ وَهُوَ بِثَوْرٍ فَتَوَارَيَا فِيهِ فَكَانَ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ غُلَامًا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الطُّفَيْلِ بْنِ سَخْبَرَةَ أَخِي عَائِشَةَ لِأُمِّهَا وَكَانَتْ لِأَبِي بَكْرٍ مِنْحَةٌ فَكَانَ يَرُوحُ بِهَا وَيَغْدُو عَلَيْهِمْ وَيُصْبِحُ فَيَدَّلِجُ إِلَيْهِمَا ثُمَّ يَسْرَحُ فَلَا يَفْطُنُ بِهِ أَحَدٌ

(١) فتح الباری(٣٨٨/٧) وعمدة القاری(١٨٢/١٧)_

مِنَ الرِّعَاءِ فَلَمَّا خَرَجَ خَرَجَ مَعَهُمَا يُعْقِبَانِهِ حَتَّى قَدِمَا الْمَدِينَةَ فَقُتِلَ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ يَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ

[٣٨٦٧] وَعَنْ أَبِي أُسَامَةَ قَالَ قَالَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرَنِي أَبِي قَالَ لَمَّا قُتِلَ الَّذِينَ بِبِئْرِ مَعُونَةَ وَأُسِرَ عَمْرُو بْنُ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيُّ قَالَ لَهُ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ مَنْ هَذَا فَأَشَارَ إِلَى قَتِيلٍ فَقَالَ لَهُ عَمْرُو بْنُ أُمَيَّةَ هَذَا عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدَ مَا قُتِلَ رُفِعَ إِلَى السَّمَاءِ حَتَّى إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْأَرْضِ ثُمَّ وُضِعَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرُهُمْ فَنَعَاهُمْ فَقَالَ إِنَّ أَصْحَابَكُمْ قَدْ أُصِيبُوا وَإِنَّهُمْ قَدْ سَأَلُوا رَبَّهُمْ فَقَالُوا رَبَّنَا أَخْبِرْ عَنَّا إِخْوَانَنَا بِمَا رَضِينَا عَنْكَ وَرَضِيتَ عَنَّا فَأَخْبَرَهُمْ عَنْهُمْ وَأُصِيبَ يَوْمَئِذٍ فِيهِمْ عُرْوَةُ بْنُ أَسْمَاءَ بْنِ الصَّلْتِ فَسُمِّيَ عُرْوَةُ بِهِ وَمُنْذِرُ بْنُ عَمْرٍو سُمِّيَ بِهِ مُنْذِرًا [ر: ٣٠٣٤]

قوله: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي.چه كله په حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه باندې په مكه كښې د. كافرانو د طرفه تكليفونه او مصيبتونه سخت شول.نو هغوى دنبى ﷺ نه د مكې نه دوتلو اوهجرت كولواجازت اوغوښتلو. دا واقعه دهغه واقعه نه پس دہ.كله چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه د مكې نه وتلې وو.او ابن الدغنه دوى واپس راوستل.نبى كريم ﷺ حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته اوونيل.ته صبر كوه. اوس مه ځه.حضرت ابوبكر رضي الله عنه عرض اوكړو.يارسول الله آيا تاسو ته ددې خبرې اميد شته. چه د الله تعالى دطرفه به تاسو ته دمكې نه د وتلو حكم اوشي؟ نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل. آو زما اميد شته.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي.چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه به انتظاركولو.يوه ورځ نبى كريم ﷺ د ماسپخين په وخت كښې دحضرت ابوبكر رضي الله عنه كورته راغلو.اووې فرمائيل «أخرج أخرج من عندك» دلته او «اخرج» دې.اوددې نه پس «أخرج من عندك» دې. خو حافظ او عينى چه كوم روايت نقل كړې دې.په هغې كښې صرف «أخرج من عندك»دې.(١) اوهم دا ظاهر دې.

د نبى ﷺ د ارشاد مطلب دا دې چه كوم خلق تاسو سره دى.هغه اوباسه،اوكه د «أخرج» روايت صحيح شي.نوونيلى به شي.چه لږ غوندې بهرته راوځه.اوكوم كسان چه تا سره دى. هغه بيل كړه.مطلب دا وو.چه زمونږ خبره بل څوك واونه رى.حضرت ابوبكر رضي الله عنه اوونيل. حضرت زما سره خو زما دوه لونړه دى.كومې چه زما رازدارې دى.اودهغوى نه د څه خبرې پټولوضرورت نشته.نبى ﷺ اوفرمائيل.تا ته معلومه ده.چه ماته د مكې نه د هجرت كولو حكم اجازت راكړې شوې دې.حضرت ابوبكر رضي الله عنه ورته اوونيل. «الصحبة» يعنى زه د ملګرتيا درخواست كوم.

اول نې هم درخواست كړې وو،اود دې نه وړاندې دا خبره متعينه وه،چه ورسره به ځى،او

---

(١) فتح البارى(حديث نمبر ٤٠٩٣) ٣٨٩١٧) وعمدة القارى(١٧٣١١٧) حديث نمبر ١٢٩)_

رسول اللهﷺ هم ددې خودلو دپاره راغلې وو،چه اوس تلل دی،خود ادب په وجه حضرت ابوبکرؓ دوباره درخواست اوکړو،

قوله: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّحْبَةَ: «الصحبة» خومنصوب دې.يعنى «أختارالصحبة» اويا د مبتدا په وجه مرفوع دی.اوددې خبر محذوف دې.يعنى «لك الصحبة»

حضرت ابوبکرؓ عرض اوکړو.یا رسول الله ما سره دوه اوښانې دی.ما دا دواړه د سفر دپاره تیارې کړی دی.ځکه چه انتظار وو.چه نبیﷺ ته به اجازت ملاویږی.اوبیا به ورسره سفرکوی نویوه اوښه ئې د نبیﷺ دپاره اویوه اوښه ئې د خان دپاره تیاره کړې وه.نو یوه اوښه ئې نبیﷺ ته ورکړه.دې ځاې کښې نشته.په بل ځاې کښې به راشی.چه نبیﷺ ورته اووئیل.ددې قیمت واخله.حضرت ابوبکرؓ د قیمت اخستلو نه معذرت اوکړو.نو نبیﷺ پرې اصرار اوکړو.اووجه دا وه.چه نبیﷺ غوښتل چه د هجرت پشان مقدس عمل په خپله خرچه اومال سره اوکړی. حضرت ابوبکرؓ ته خو چونکه د نبیﷺ خوشحالی مطلوب وه.ددې وجې هغوی قیمت قبول کړو،.

قوله: وهى الجدعاء: د نبیﷺ په اوښوکښې د یوې نوم «قصواء» راځی.د بعضې حضراتو خیال دې ،چه حضرت ابوبکرؓ چه کومه اوښه د دوی په خدمت کښې پیش کړې وه. هغه «ناقه قصواء» وه.(1) خو دلته روایت دې،چه هغه «جدعاء» وه.بعضې خلقو وئیلی دی. چه «جدعاء» ددې وجې وه.چه د هغې غوږونه کټ شوی وو.علامه قسطلانیؒ فرمائی.چه ددې غوږ کټ شوې نه وو.بلکه ددې نوم «جدعاء» وو.نو په خپلو خپلو اوښو باندې دواړه د شپې په تیاره کښې سوارهٔ شول.اوروان شول.دجبل ثور یو غار ته اورسیدل. او دواړه حضرات په هغې کښې پټ شول.

دنبیﷺ دخپل تحفظ په غرض په غار کښې پټیدل په دې خبره دلالت کوی .چه داسبابو اختیارول د توکل خلاف نه دی.ځکه چه نبیﷺ پخپله دخپل ځان دپاره د حفاظت دا طریقه اختیار کړه.نبیﷺ په دې غار کښې درې ورځو پورې پټ وو.(2)

دحضرت قاسم نانوتویؒ د اتباع جذبه: د حضرت مولانا قاسم نانوتویؒ متعلق دهغوی په سوانحوکښې لیکلی شوی دی.چه کله د انګریزانو په مقابله کښې هغوی جهاد اوکړو.اوپه هغې کښې ناکامه شول.نو انګریزانو د ظلم اووینې تویولو بازارګرم کړو.په دې موقع باندې انګریزانو په زرګونو عالمان قتل کړی.په چوکونوکښې به هغوی دپانسۍ په تخته باندې ئې زوړند کړل.اوبعضې د خنزې په څرمن کښې ژوندی اوګنډلو.اودفن ئې کړلو.

حضرت مولانا قاسم نانوتیؒ خو د انګریزانو خلاف برېنډه توره وه. اوهغوی په عملی توګه دهغوی خلاف قتال اوجهاد کړې وو.د دوی د ګرفتارولو دپاره انګریزانو کوشش شروع

---

(1) زاد المعاد (۱۳٤/۱)_

(2) د هجرت سره متعلق تفصیل دپاره اوګورئ ابواب الهجرة بخاری جلد اول (۵۵۱)_~

كړو.خلقو مولانا ته مشوره ورکړه.چه تاسو پټ شئ. نو دوی د خلقوپه ډېر اصرار باندې صرف درې ورځې پټ شو.ځکه چه نبی ﷺ درې ورځې پټ شوې وو.اودرې ورځې پس بيا ښکاره شو.خلقو به ورته ډېر منت کول.چه د پټېدو په جواز کښې څه اشکال هم نشته.خودې باوجود د سنت د تابعدارئ غلبه وه.چه هغوی د درې ورځو نه زيات پټېدل اونه زغمل.

يوځل حکومت ته خبر ملاؤ شو.چه مولانا قاسم په فلانی ځاې کښې دې. د نيولودپاره سرکاری سپايان راغلل.اومولانا صاحب ورته ملاؤ هم شو.خوالله تعالی ورته څومره جراءت ورکړې وو.اوڅومره حوصله اوبهادری په کښې وه.چه دغه کسان کله د گرفتارئ دپاره وراورسيدل.نوچونکه هغوی د مولانا د شکل او صورت نه ناخبر وو.نو هم د مولانا نه ئې تپوس اوکړو.چه مولوی قاسم کوم ځاې دې؟ مولانا صاحب د خپل ځاې نه يو دوه قدمونه وړاندې شو.او وې فرمائيل.اوس خو هم دلته وو.هغوی دا اوگڼړل. چه د بل چا په باره کښې وائی.چه هغه دلته اوس وو.نوهغوی هغه بل کس اونه موندل.دغه شان ناکامه واپس لاړل.اودغه شان مولانا صاحب د نيولونه بچ شو.

يوځل مولانا ديوبند سره نزدې په خپلو پټو کښې په يو کور کښې مقيم وو. خبر ورته ملاؤ شو.چه مولانا په فلانی ځاې کښې موجود دې.گرفتارونکی کسان هلته اورسيدل.مولانا موجود وو.ملاقات ورسره اوشو.هغه خلقو تپوس اوکړو.چه مولوی قاسم کوم ځاې دې؟ نولانا قاسم نانوتوی رحمه الله ورته اوفرمائيل.مولوی قاسم سره ملاؤ شوئ.کينئ چئ اوڅکئ. دڅه خبرې جلتی ده.هغوی ئې کينول.اوښه قدر اوعزت ئې ورله اوکړو.هغه کسانو اوگڼړل. چه دا کس دومره بې ويرې مونږ سره ملاويږی.اوزمونږ قدر اوعزت هم کوی.نويقيناً دا به بل څوك وی.اومولانا به بل څوك وی.دغه شان هغوی پاسيدل. لاړل. اومولانا صاحب د گرفتارئ نه بچ شو.

خبره د مولانا قاسم نانوتی رحمه الله د اتباع سنت کيدله.په حديث کښې راغلی دی.که دچا تبه شوه.نو هغه دې بهر ته لاړشی او سحروختی دې د اوبو د بهيدو طرف ته مخ کړی.اوغسل دې اوکړی.چه څومقرر ورځې داسې اوکړی.نو د تبې نه به ښه شی.مولانا صاحب رحمه الله چه به کله هم تبې اونيولو.نوددې باوجود چه د ديوبند سره نزدې نهرنه وو.خوبيا به هم مولانا صاحب څوميله لرې تلو.اوپه نهر کښې به ئې غسل کولو.اوشفا به ورته ملاويده.ځکه چه په حديث کښې دا علاج خودلې شوې وو.خودا دهرچا کار نه دې.بلکه دا د پوخ يقين خبره ده.هغه يقين کوم چه الله تعالی چاته ورکړی.نودهغې مطابق نتائج اوثمرات ښکاره کيږی.

قوله: فَكَانَ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ غُلَامًا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الطُّفَيْلِ: عامربن فهيره د عبدالله بن طفيل بن سخبره غلام وو.دلته هم دا نقل شوی دی.خو د رجالو په کتابوکښې په عامه توگه دا ليکلې شوې دی.چه دا عبدالله بن طفيل نه وو.بلکه طفيل بن عبدالله وو.دلته قلب شوې دې.(١) دا عبدالله بن سخبره د حضرت عائشې رضي الله عنها د مور ام رومان اولنې خاوند

---

(١) فتح الباری(٧/٣٩٠)_

وو.عبدالله بن سخبره د حضرت ابوبکر رضي الله عنه حليف وو.کله چه هغه وفات شو.نو د ام رومان سره حضرت ابوبکر رضي الله عنه واده اوکړو،د هغې نه حضرت عائشه او حضرت عبدالرحمن بن ابى بکر رضي الله عنهما پيدا شول.طفيل هم د ام رومان د بطن نه پيدا شوې وو.خوهغه د اولنى خاوند عبدالله بن سخبره خوې وو.نوپه دې طريقه طفيل د حضرت عائشې رضي الله عنها مور شريك ورور وو.عامربن فهيره د طفيل بن عبدالله غلام وو.حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه اخستې وو.او بيا ئې آزاد کړې وو.حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره لنګه د پيو اوښه وه. عامربن فهيره به هم دغه اوښه د خرولو دپاره دمابنامې ځنګل طرف ته بوتله.توله شپه به ئې په ځنګل کښې تيروله.اوبيا به سحرمکې ته راتله.دشپې په آخرى حصه کښې به ئې د اوښې نه پئ اولوشل.اونبى کريم ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه ته به ئې اوړل .او هغوى باندې به ئې پئ څکول.کله چه نبى ﷺ د درې ورځو نه پس د غار ثور نه راووتل.او مدينې منورې ته روان شو.نوعامربن فهيره ورسره هم د هجرت په سفر کښې وو.اودوى دواړو حضراتو به وار په وار په خپلو خپلواښوباندې کينول. حضرت ابوبکر رضي الله عنه ښکاره خبره ده.چه په دې راضي وو.چه نبى ﷺ مستقل طورپه اوښه باندې سورکړى.خو د نبى ﷺ خواهش دا وو.چه ماته هم اجرملاويدل پکار دى.تردې چه درې واړه حضرات مدينې ته اورسيدل.

قوله: فَقُتِلَ عَامِرُبْنُ فُهَيْرَةَ يَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ: دامام بخارى رحمه الله اصلى مقصد هم دا جمله ده.چه په غزوه بئر معونه کښې حضرت عامربن فهيره شهيدکړې شوې وو.د هجرت دباقى حصې تعلق د غزوه بئر معونه سره نشته.

قوله: وَعَنْ أَبِي أُسَامَةَ قَالَ قَالَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرَنِي أَبِي قَالَ لَمَّا قُتِلَ الَّذِينَ بِبِئْرِ مَعُونَةَ إلخ: دا دماقبل سند سره دې.خودا ئې جدا خکه ذکرکړ،چه وړاندې کومه واقعه بيانولې شى.په هغې کښې دبير معونه ذکردې.او په ماقبل کښې چه کومه واقعه بيان شوې ده.په هغې کښې صرف د هجرت ذکر دې.حضرت عامر بن فهيره د هجرت په واقعه کښې هم شريك وو.او د بئر معونه په واقعه کښې هم،البته اولنى روايت موصوله وو.او دا روايت مرسله دې. دلته هشام بن عروه د حضرت عروه نه نقل کوى. اوحضرت عروه تابعى دې.د صحابى رضي الله عنه واسطه ئې نه ده ذکرکړې.ددې دواړو دا فرق ښکاره کول هم مقصود وو.ددې وجې ى په «وعن أبي أسامة» سند سره ذکرکړو.حضرت عروه فرمائى.کله چه په بير معونه کښې اويا قاريان شهيدان کړې شول.اوعمروبن اميه ضمرى رضي الله عنه قيد کړې شو،نو عامر بن طفيل يو قتيل طرف ته اشاره اوکړه.او تپوس ئې اوکړو.چه دا څوك دې؟ نو هغوى ورته اووئيل.دا عامر بن فهيره رضي الله عنه دې.عامربن طفيل اووئيل.

قوله: لَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدَ مَا قُتِلَ رُفِعَ إِلَى السَّمَاءِ حَتَّى إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْأَرْضِ ثُمَّ وُضِعَ: مادې کتل کله چه دې قتل کړې شو.نودده لاش آسمان طرف ته پورته کړې شو.تردې چه ما آسمان طرف ته کتل.چه د دې لاش د آسمان او زمکې په مينځ کښې معلق دې.بيا هغه لاش په زمکه باندې کيخودې شو.

دلته د بخاى په روايت كښې دى.چه هغه لاش په زمكه باندې كيخودې شو ﷺخو بعضې اهل سيرو نقل كړى دى.چه هغه لاش بيا زمكې طرف ته رانغلو.(۱)

قوله: أُصِيبَ يَوْمَئِذٍ فِيهِمْ عُرْوَةُ بْنُ أَسْمَاءَ بْنِ الصَّلْتِ فَسُمِّيَ عُرْوَةُ بِهِ وَمُنْذِرُ بْنُ عَمْرٍو سُمِّيَ بِهِ مُنْذِرًا : عروه بن اسماء بن الصلت په دې اويا قاريانوكښې شهيد شوې وو.نود عروه بن زبير ﷺنوم هم ددې عروه بن اسماء په نوم باندې كيخودې شو.(ځكه چه د بزرگانو په نوم باندې د تبرك دپاره دماشومانونوم كيخودې شى.خو يوه نكته بله هم ده.چه هغه عروه بن اسماء بن الصلت وو.اود د عروه د مور نوم هم اسماء بنت ابى بكر وو.د هغوى د پلار نوم اسماء وو.اود دوى د مور نوم اسماء وو) دغه شان په شهيدانوكښې يو منذر بن عمرو هم وو.د حضرت زبير ﷺ يوبل ځوى شوې وو. هغوى دهغه نوم (ددې شهيد په نوم باندې) منذر كيخودو.

[۳۸۶۸\۳۸۷۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَنَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَيَقُولُ عُصَيَّةُ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

[۳۸۶۹] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الَّذِينَ قَتَلُوا يَعْنِي أَصْحَابَهُ بِبِئْرِ مَعُونَةَ ثَلَاثِينَ صَبَاحًا حِينَ يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَلَحْيَانَ وَعُصَيَّةَ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَسٌ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِينَ قُتِلُوا أَصْحَابِ بِئْرِ مَعُونَةَ قُرْآنًا قَرَأْنَاهُ حَتَّى نُسِخَ بَعْدُ بَلِّغُوا قَوْمَنَا فَقَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَرَضِينَا عَنْهُ

[۳۸۷۰] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَهُ قَالَ قَبْلَهُ قُلْتُ فَإِنَّ فُلَانًا أَخْبَرَنِي عَنْكَ أَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَهُ قَالَ كَذَبَ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا أَنَّهُ كَانَ بَعَثَ نَاسًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ وَهُمْ سَبْعُونَ رَجُلًا إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَبَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ قِبَلَهُمْ فَظَهَرَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ فَقَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا يَدْعُو عَلَيْهِمْ [ر: ۹۵۷و ۲۶۴۷]

د قنوت فى الصلاة په باره كښې دا هغه فيصله كن روايت دې.دكوم ذكرچه وړاندې راغلې وو.په دې تصر..ح ده.چه رسول الله ﷺ د ركوع نه پس قنوت صرف يو مياشت وئيلې وو.په كوم كښې چه نبى ﷺ د عربو مشركو قبيلوپه حق كښې خيرې كولې.چا چه په بئر معونه

---

۱)السيرة الحلبية (۱۷۳\۳) سرية القراء إلى بئر معونة)_

كښې اويا صحابه ﷺ شهيدان کړی وو.(دقنوت متعلق فقهي اختلاف دپاره کتاب الصلاة ته مراجعت اوکړئ)

بَابُ غَزْوَةِ الْخَنْدَقِ وَهِيَ الْأَحْزَابُ

قَالَ مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ كَانَتْ فِي شَوَّالٍ سَنَةَ أَرْبَعٍ

[۳۸۷۱] حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْهُ وَعَرَضَهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَهُ [ر:۲۵۲۱]

غزوه خندق: نبی ﷺ چه کله د يهودو قبيله بنو نضير د مدينې منورې نه اوويستل.نود دې قبيلې يوه ډله په خيبر کښې آباده شوه.اودمسلمانانوخلاف په سازشونوکښې لګيا شول.

کله چه مسلمانانوته په جنګ احد کښې شکست ملاؤ شو.نودوی ته ډيره ښه موقع ملاؤ شوه. نو د دوی په سردارانوکښې حيي بن اخطب،سلام بن ابی الحقيق ، کنانه بن الربيع، مکې معظمې ته لاړل.اوقريش ئې د رسول الله اود مسلمانانو خلاف په جنګ کولوباندې اماده کړل.کنانه بن الربيع د بنوغطفان خلقوته ورغلل. اوورته ئې اوونيل.چه د خيبر په قجورو کښې به مونږ تاسوته هرکال نيمې قجورې درکووخوپه دې شرط چه تاسو د مسلمانانو خلاف دجنګ دپاره تيار شئ.په دې لالچ باندې دا خلق هم د جنګ دپاره تيارشو. دغه شان بنواسد د بنوغطفان حليف وو. دوی هغوی ته هم دملګرتيا کولودپاره اوونيل. هغوی هم تيارشول.دغه شان بنو سليم او بنو سعيد هم تيارشول.(۱) نودا لسو زروته نزدې لوئې لښکر تيار شو. او مدينې منورې طرف ته روان شو.په دې کښې د قريشو څلور زره کسان وو.دوی سره درې سوه اسونه اوپنځلس سوه اوښان وو.ابوسفيان د ټول لښکر قيادت کولو. او د احد سره نزدې ډيره شول.(۲)

نبی کريم ﷺ ته چه کله ددې خبر ملاؤ شو.نو دوی د صحابوﷺ سره مشوره اوکړه.حضرت سلمان فارسیﷺ د خندق کنستلومشوره ورکړه.د مدينې منورې نه درې طرفونو ته کورونه او د قجورو باغونه وو.دهغه طرفونو نه حمله کول خود کافرانو دپاره ګرانه وه.صرف د شام طرف ته چه کومه حصه کهولاؤ وه.اود دشمن حمله هم ددغه طرف نه کول وو.نونبیﷺ د حضرت سلمان فارسیﷺ مشوره قبول کړه.اوهم دغه طرف ته ئې دخندق کنستلوحکم ورکړو.نبیﷺ سره درې زره صحابه کرامﷺ د دې خندق په کنستلوکښې شريك وو. نبیﷺ پخپله حدود مقرر کړل. او کربښې ئې واچولې.په لسو لسو کسانوباندې ئې لس لس ګزه زمکه تقسيم کړه. د خندق ژوروالې پنځه ګزوته نزدې مقرر کړې شوې وو.اوددې اوږدوالې تقريباً درې نيم ميله وه.نبیﷺ په خپله د خندق په کنستلوکښې شريك

---

(۱) الكامل لابن اثير (۱۲۲\۲) وطبقات ابن سعد(۶۵\۲) وزادالمعاد (۲۷۰\۳)-

(۲) طبقات ابن سعد(۶۶\۲)_

وو.انصاراومهاجرينو ټول په جمع باندې رجزيه اشعار وئيل.اودخپلې خپلې حصې په کنستلو کښې لګيا وو.بعضې صحابه ﷺ چه کله دخپلې حصې نه اوزګار شول.نوهغوى د نورو په حصه کښې شريك شول.[1] دغه شان د ابن سعدﷺ د روايت مطابق په شپږو ورځو کښې دا خندق تيارشو.[2] په دې کښې نور روايات هم شته.دبعضو په نيز پنځلس ورځې د بعضو په نيز شل ورځې او د بعضو په نيز څلورويش ورځې.اوپه يو روايت کښې يوه مياشت هم خودلې شوې ده.علامه سمهودى فرمائى.چه په اصل کښې د خندق په کنستلو خو شپږ ورځې لګيدلې وې.البته د محاصرې مودهٔ شل ورځې وه.[3]

دا د سختې يخنئ موسم وو.د تيزو او يخو هواګانو طوفانونه چليدل .او د قحط زمانه وه.څوورځې مسلمانان په نهره وو.پخپله دنبیﷺ په خيټه پورې ګټې تړلې شوې وې.خوداسلام دپاره د قربانئ ورکولو يوه جذبه وه.دکوم په وجه چه د دنيا هرتکليف داسلام دپاره برداشت کول هغوى ته آسان وو.

چه مسلمانان د خندق کنستلونه فارغ شو.نود کافرانو لښکرراورسيدل.اود احد سره ئې ډيره واچوله.مسلمانان مقام سلع ته نزدې ورغلل.ښځو او ماشومان ئې محفوظ قلعه ګانوته د ليږلو حکم اوکړو.اوځه صحابه ﷺ ئې دهغوى په حفاظت باندې مقررکړل.[4]

دکافرانولښکرچه کله راغلل.اوخندق ئې اوليدلو.نوددې څيزسره وړاندې دهغوى چرته واسطه نه وه راغلې.ددې وجې هغوى نه پوهيدل،چه څنګه حمله اوکړى.صرف يو صورت وو.چه د غشو په ويشتلوسره حمله اوکړى.نود دواړو طرفونو نه غشى ويشتلى کيدل.په دې تيراندازئ کښې حضرت سعدبن معاذﷺ زخمى شو.دکومې په وجه چه هغوى روسته بيا وفات شو.

دا سلسله شلو ورځو پورې اودبعضې په نيز يوې مياشتې پورې جارى وه. کافرانو څو منصوبې جوړې کړې.خويوه هم فائده منده نشوه.آخرى دا چه يوه ورځ هغوى مشوره اوکړه.چه نن به راجمع شو.اويوه عامه او سخته حمله اوکړې شى. نو کافرانو يوه سخته حمله اوکړه.د غشو او د کاڼړو باران ئې جوړ کړو.اود عربو مشهورپهلوان عمروبن عبدود، او دده سره عکرمه بن ابى جهل،نوفل بن عبدالله. اوضراربن خطاب وغيره د يوځاې نه په

[1])ابن اثيرﷺ ليکلى دى.چه دخندق د تقسيم په وخت کښې د مهاجرينواوانصارو دحضرت سلمان فارسىﷺ په باره کښې اختلاف پيدا شو.هره ډله په دې باندې ټينګه وه.چه دوى خان سره شريك کړى.دمهاجرينودعوه وه.چه دې مهاجردې.نو دې به مونږ سره شريك وى.انصارو ده ته انصارى وئيل.اوخپل خان سره ئې شريکول غوستل.نو نبىﷺ اوفرمائيل. ((سلمان منا أهل البيت)) سلمان زمونږ اهل بيتو نه دې.اوګورئ (الکامل لابن اثير(۱۲۲۱۲)_~

[2])طبقات ابن سعد(۶۷۱۲)_

[3])سيرة مصطفى (۳۱۱۱۲) په حواله د زرقانى (۱۱۰۱۲)_

[4])سيرة ابن هشام (۲۳۱۱۳)_

خندق واوړیدل. او مسلمانانوته ئې د مبارزت دعوت ورکړو.عمروبن عبدود په بدرکښې زخمي شوې وو.اوهغه قسم خوړلې وو.چه ترڅو پورې د مسلمانانو نه بدله وانخلم.په سر کښې به تیل نه لګوم. د عمروبن عبدود د مقابلې دپاره حضرت علی رضی الله عنه وراووتل.([1]) عمرو ورته اووئیل. ته ورکوټې ئې.تراوسه پورې تا د ژوند څه خوند نه دې اخستې،نو ته واپس لاړ شه،څوك غټ سړې زما مقابله کښې راولیږه.زه ستا قتلول نه خوښوم.حضرت علی رضی الله عنه ورته اووئیل.خو زه ستا قتلول خوښوم.ددې په وجه عمرو په غصه کښې راغلو. اود اس نه راکوز شو.په حضرت علی رضی الله عنه باندې ئې ګذار اوکړو.حضرت علی رضی الله عنه د هغه ګذار په ډهال سره منع کړو.خویه تندی باندې زخمي شو.په جواب کښې حضرت علی رضی الله عنه ګذار اوکړو.اوپه اولنی ګذار باندې ئې هغه جهنم ته او رسول. او نعره تکبیر ئې اووئله.اود فتح اعلان ئې اوکړو.([2]) چه دعمرو مرګ ئې اولیدل. نو د هغه سره چه باقي کوم کسان وو.هغوی اوتختیدل.نوفل بن عبدالله په تختیدو ته کښې په خندق کښې وریږیوتل.حضرت علی رضی الله عنه ورکوز شو.هغه ئې هم په خندق کښې ختم کړو.([3]) دا ډیره سخته ورځ وه.ټول ورځ د غشو ګذارونه کیدل.کافرانود غشو او کاڼو باران جوړ کړې وو.په دغه ورځ مسلسل د نبی صلی الله علیه وسلم نه څلور مونځونه قضا شول.

محاصره هم هغه شان جاری وه.یوه ورځ نعیم بن مسعود اشجعی رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو.او عرض ئې اوکړو.یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما ایمان راوړې دې. اوزما قوم ته زما د ایمان راوړو علم نشته.که تاسو اجازت کوئ.نو زه به څه چل اوکړم.نبی صلی الله علیه وسلم ورته اجازت ورکړو.اووې فرمائیل«فإن الحرب خدعة» جنګ خوهم د حیله او تدبیرنوم دې.([4]) نعیم بن مسعود اشجعی د بنو غطفان د قبیلې سردار وو.د قریشو اویهودو دواړو په ده باندې اعتماد وو.هغوی د قریشو او یهودو په مینځ کښې د اختلاف راوستلوعجیبه تدبیر اوکړو. هغه داسې چه اول د بنو قریظۀ یهودو ته راغلل.اوهغوی ته ئې اووئیل.چه تاسوخو په جنګ

---

[1])ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی.چه کله عمروبن عبدود مسلمانانوته د مبارزت دعوت ورکړو.نوحضرت علی رضی الله عنه اودریدل.اود نبی صلی الله علیه وسلم نه ئې د اجازت اوغوستل.چه زه دمقابلې دپاره څم.نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل.دا عمرو دې.مقصد ئې دا وو.چه ته کم عمره ئې.اودې مشهور او تجربه کارپهلوان دې.هغه دوباره مسلمانانوته دعوت ورکړو.حضرت علی رضی الله عنه دوباره اودریدل.نبی صلی الله علیه وسلم ورته دوباره هم هغه خبره اوکړه.په دریم ځل چه کله بیا عمرود مبارزت دعوت ورکړو.نو حضرت علی رضی الله عنه اودریدل.نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل دا عمرو دې.حضرت علی رضی الله عنه عرض اوکړو.که دې عمرو دې.خوبیا هم زه د ده مقابله کول غواړم.نبی صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو.حضرت علی رضی الله عنه لاړل.اوهغه ئې قتل کړو.واپس راغلو.البدایة والنهایة (۱۰۶/۴)_

[2])الکامل لابن اثیر(۱۲۴/۲)_

[3])اوګورئ البدایة والنهایة (۱۰۷/۴) البته ابن سعد په طبقات (۶۸/۲) کښې لیکلی دی.چه حضرت زبیربن العوام رضی الله عنه په نوفل باندې په توره ګذار اوکړو.هغه ئې دوه ټکړې کړو.کیدې شی.چه حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت زبیر رضی الله عنه دواړو قتل کړې وی.)_

[4])سیرة ابن هشام (۲۴۰/۳) وزاد المعاد(۲۷۳/۳)_

کښې شريك شوې ئې. خو تاسودا سوچ کړې دې.که په جنګ کښې شکست اوشو.نو قريش او بنو غطفان خويه خپلو کورونو ته واپس لاړ شي.خوتاسوبه کوم خوا ځئ.تاسوخويه هم دلته په مدينه کښې د مسلمانانو سره اوسيږئ.په دغه وخت کښې به ستاسوڅه حال وي؟ بنو قريظو ورته اوونيل.چه بيا څه کول پکار دی.حضرت نعيم بن مسعود ﷺ ورته اوونيل.اول اطمينان اوکړئ.دقريشو او بنوغطفان څه کسان خان سره ګانړه کړئ. که هغوی خپل کسان تاسو سره ګانړه کوی.نو جنګ اوکړئ.ګنی مه کوئ.بنو قريظو ته دا خبره خوښه شوه. اوتپولواوونيل.د قريشونه د کسانو ګانړه کولومطالبه کول پکار ده.حضرت نعيم بن مسعود ﷺ دهغه ځاې نه قريشوته راغلل.اوورته ئې اوونيل.تاسوته معلومه ده.چه يهود د مسلمانانو سره په جنګ کولوباندې پښيمانه شوی دی.اوهغوی محمد (ﷺ) ته پيغام ليږلې دې.که مونږ دقريشو او بنوغطفان څه کسان ګرفتارکړو.اوتاسو ته ئې حوله کړو.نوآيا ته به راضی شې.اومحمد (ﷺ) ورسره رضا ښکاره کړې ده.نواوس د يهوديانو اراده ده.چه ستاسو نه څه کسان په ګانړه کښې واخلی.اوهغه مسلمانانوته حواله کړی.[1]

قريشو اوبنو غطفان عکرمه بن ابی جهل بنو قريظو ته اوليږل.چه د جنګ محاصره ډيره اوږده شوه.اوس تاسو بهرته راوځی.چه يوځاې شو.اوحمله اوکړو. عکرمه چه هلته ورغلو.نوهغوی ورته اوونيل.چه مونږ به هغه وخت په جنګ کښې شرکت کوو.کله چه تاسو څه کسان مونږ سره ګانړه کړئ.کله چه تاسو مونږ سره څه کسان د ګانړې په توګه کينوئ. نو مونږ ته به اطمينان اوشی.هسې نه چه تاسو مونږ يواځې پريږدئ.په دې جواب سره د نعيم بن مسعود ﷺ د خبرې دصداقت قريشواو بنوغطفان ته يقين اوشو.چه هغه چه څه ونيلی وو. هغه صحيح دی.هغوی ورته اوونيل.چه مونږ د ګانړې په توګه تاسوسره خپل کسان نشی ايسارولې.که جنګ کوئ.خوراشئ.دغه شان د کافرانو په ډلو کښې افتراق راغلو.اوپه خپل منيځ کښې مختلف شو.

دې سره سره الله تعالی يوه تيزه سيلئ راوليږله.هغې د کافرانو د لښکر د خيمو لرګی راويستل.اودهغې طنابونه مات شول.کټوئ او نور سامان ئې ګډ وډ شو.دڅه په وجه چه کافران بدحواسه شول.اواوويريدل.اوآخردا چه ابوسفيان اعلان اوکړو.چه بنوقريظو زمونږ ملګرتيا پريخودو.زمونږ خاروی هلاك شول.زول (تيزې هوا) زمونږ خيمې اودهغې طنابونه راوويستل.د دې وجې سمدستی واپس روان شئ.دا ئې اوونيل.اوابوسفيان په خپل اوښ سور شو.اودغه شان قريش اونور ټول خلق روان شول.[2]

چه صبا شو.نونبی ﷺ هم دا ونيل اومدينې منورې طرف ته روان شو.چه ((لااله إلا الله وحده لا شريك له،له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، آئبون تائبون عابدون ساجدون لربنا حامدون صدق الله وعده ونصر عبده وهزم الأحزاب وحده)) دا د چارشنبې ورځ وه.اود ذوالقعدې ۲۳ تاريخ وو.[3]

---

[1])اوګورئ البداية والنهاية (۱۱۱۱٤و ۱۱۳) وسيرة ابن هشام (۲٤۰۱۳)

[2])طبقات ابن سعد(۶۹۱۲)

[3])طبقات ابن سعد(۷۰۱۲)

په دي غزا کښې شپږ مسلمانان شهيدان شول.① حضرت سعدبن معاذ② حضرت عبدالله بن سهل③ حضرت انس بن اويس④ حضرت طفيل بن نعمان⑤ حضرت کعب بن زيد ⑥ حضرت ثعلبه بن عنمه رضي الله عنه.
دکافرانو درې کسان قتل شوی وو.① عمروبن عبدود② نوفل بن عبدالله ③ عثمان بن منبه ([1])
په غزوه خندق کښې نبی ﷺ حضرت عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه په مدينه منوره کښې خپل نائب پريخودې وو.([2])
په غزوه خندق کښې د مسلمانانوشعار (علامتی ټکې) ﴿حم، لاينصرون﴾ ([3]) وو.
دحضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه په باره کښې راځي.چه دوی په غزوه خندق کښې دهغه قلعې په حفاظت باندې مامور وو.په کومه کښې چه ښځې وې.د نبی ﷺ ترور يو يهودی د قلعې نه ګيرچاپيره چکرلګونکې اوکتل.نودوی حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ته اووئيل.چه دې قتل کړه.چرته داسې اونشي.چه دې زمونږ جاسوسي اوکړي. حضرت حسان دهغه د قتلولونه معذرت اوکړو.حضرت صفيې رضي الله عنها په خپله دقلعې يو لرګې راوچت کړو.اوپه هغه يهودی پسې ورغله.هغه لرګي ئې د هغه سر ته راپريخودو.اوهغه ئې قتل کړو.اوبيا راغله.حضرت حسان رضي الله عنه ته ئې اووئيل.اوس دده وسله خو ترې راپرنيزه.حضرت حسان رضي الله عنه ددې نه هم معذرت اوکړو.اووې وئيل.ماته ددې ضرورت نشته.([4])
خوعلامه سهيلي رحمه الله ليکلی دی.چه دا روايت صحيح نه دې.يوخود دې وجې چه دا منقطع الاسناد دې.دويمه دا چه حضرت حسان رضي الله عنه د قريشو شاعرانو په مذمت کښې اشعار وئيل.اوپه جواب کښې به هغوی هم اشعار وئيل.نوکه حضرت حسان رضي الله عنه دومره بزدل وې.نود هغه مخالف شاعرانوبه دهغوی خلاف په اشعاروکښې دهغه د بزدلئ ضرور ذکرکولو. حالانکه دهغوی خلاف چه کوم اشعار وئيلی شوی دی.په هغې کښې چرته هم دهغوی د بزدلئ ذکرنشته.([5])
دغزوه خندق په تاريخ وقوع کښې اختلاف: دغزوه خندق په باره کښې ابن اسحاق،قتاده،او دعامو اهل سيرو اومغازی دا رائې ده.چه دا په ۵ ھ کال کښې واقع شوې وه.([6]) امام بخاری رحمه الله د موسی بن عقبه قول نقل کړې دې.چه دا په ۴ھ کښې واقع شوې وه.اودمحمدبن حزم

[1])طبقات ابن سعد(۲\۷۰) وکامل ابن اثير(۲\۱۲۴)_
[2])البداية والنهاية (۴\۱۰۳)_
[3])سيرة ابن هشام (۳\۲۳۷) وزادالمعاد (۳\۲۷۳)_
[4])سيرة ابن هشام (۳\۲۳۹)_
[5])الروض الأنف (۲\۱۹۳و ۱۹۴)_
[6])زادالمعاد(۳\۲۶۹) فصل فی غزوة الخندق)_

ظاهری رحمه الله هم دا رائې ده.هم دا قول د امام مالک رحمه الله هم دې.( ) اودامام بخاری رحمه الله میلان هم دې طرف ته معلومیږی.ځکه چه دوی د موسی بن عقبه رحمه الله قول نقل کړې دې.د ابن اسحاق رحمه الله قول ئې نه دې نقل کړې.

وجه تسمیه: غزوه خندق ته ددې وجې غزوه خندق وائی.چه د جبل سلع مخامخ نبی ﷺ خندق کنستلې وو.روسته جبل سلع وو.اومخامخ خندق وو.اودهغې نه اخوا د مشرکانوډلې جمع شوې وې.ددشمن د مخ نیوی دپاره په عربوکښې د خندق کنستلو طریقه نه وه.البته په ایرانیانوکښې دا طریقه وه.اوحضرت سلمان فارسی رضی الله عنه تعلق چونکه د ایران سره وو.هغه ددې نه واقف وو.نوهغوی ددې مشوره ورکړه .او نبی ﷺ هغه منظور کړه.

ددې نه یوه خبره دا هم معلومه شوه.که ددشمن مغلوب کولو دپاره اودخپلې دفاع دپاره که د نورو قومونو ایجاد کړې وسله اوتدبیرونه استعمال کړې شی.نوپه دې کښې څه قباحت نشته.ونیلی شی.چه منو شهربن ابیرج افریدون دحضرت موسی علیه السلام په وخت کښې یوسړې وو.د ټولونه وړاندې هغه د خندق طریقه ایجاد کړې وه.اود هغې نه پس دا بیا په مختلفو قومونو کښې جاری شوه.(٢)

غزوه خندق ته غزوه احزاب هم وائی.احزاب ورته ددې وجې وائی.چه په دې غزوه کښې مشرکانو مختلفې قبیلې د ځان سره کړې وو.اود نبی ﷺ دمقابلې دپاره راغلی وو.چه شمارئې لس زره وو.حالانکه دهغوی په مقابله کښې دمسلمانانوټول تعداد درې زره وو. نوچونکه دکافرانود احزابو راجمع.کیدل په دې غزوه کښې شوی وو.ددې وجې دې غزوې ته غزوه احزاب هم وائی.

قوله: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې.چه دوی په غزوه احد کښې نبی ﷺ ته پیش شوې وو.په دغه وخت کښې دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما عمر څورلس کاله وو.نو نبی ﷺ هغه ته اجازت نه وو ورکړې.بیا دغزوه خندق په موقع دوی نبی ﷺ ته پیش شو.په دغه وخت کښې ددوی عمر پنځلس کاله وو.نو نبی ﷺ اجازت ورکړو.

امام بخاری رحمه الله دا روایت نقل کړې دې.په دې روایت کښې د غزوه احد په موقع ددوی عمر څورلس کاله خودلې شوې دې.اوغزوه احد په اتفاق سره په ۳ھ کښې شوې وه.ددې نه پس په غزوه خندق کښې د دوی عمر پنځلس کاله خودلې شوې دې.نومعلومه شوه.چه غزوه خندق په ۴ھ کښې شوې ده.امام بخاری رحمه الله د «كانت فى شوال سنة أربع» په تائید کښې دا روایت پیش کړې دې.

① خولکه ښکه چه وئیلی شوې دی.چه دعام اهل سیراومغازی په ۵ھ کښې د دې غزوې د

---

[١])زادالمعاد (٢٦٩\٣)_

[٢])علامه سهیلی رحمه الله لیکلی دی.((وحفر الخندق لم يكن من عادة العرب ولكن من مكائدالفرس وحروبها - وأول من خندق الخنادق من ملوک الفرس منوشهربن ابیرج ابن افریدون.. وانظر(الروض الأنف (١٨٧\٢)

واقع كيدو قائل دى.هغوى ددې روايت جواب دا كوى.چه د غزوه احد په موقع د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما عمرد څورلسم كال شروع وه.اوپه غزوه خندق كښې د دوى دعمر دپنځلسم كال آخر وو.نوپه دې طريقه به د دوو كالو فاصله شى.اوپه ۵هجرئ كښې واقع كيدو سره به د روايت باب څه تعارض رانشى.

② بعضې حضراتوددې روايت دا جواب وركړې دې.چه په غزوه خندق كښې دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما عمر دپنځلسوكالونه زيات وو.خوچونكه د جهاد د شركت دپاره پنځلس كاله عمرچونكه شرط دې.په دې وجه په روايت كښې دپنځلسوكالو ذكردې.خوددې نه دا نه لازميږى.چه د دوى عمرد پنځلسوكالونه زيات نه وو.(۱)

③ دريمه خبره بعضې حضراتودا كړې ده.چه هجرت په ربيع الاول كښې شوې وو. اوهم په دغه كال دربيع الاول نه وړاندې چه كوم محرم وو.نودهغې نه د هجرى كال حساب لګولې شوې دې.هم دا دعامو عالمانوقول دې.البته د يعقوب بن سفيان وغيره خيال دې.چه دهجرى كال د شروع كولوحساب د راروان محرم نه شوې دې. يعنى دهجرت نه لس مياشتې پس چه كوم محرم وو.د هغې نه ددې هجرى كال ابتداء شوې ده.په دې لحاظ سره غزوه بدرپه اولنئ هجرى غزوه احد په دويمه هجرى اوغزوه خندق په څلورمه هجرى كښې واقع شوى دى.نوكوم كسان چه د غزوه خندق په ۴ هجرئ كښې د واقع كيدو قائلين دى.نوهغوى د هجرى تاريخ شروع د يعقوب بن سفيان قول اختياركړې دې.اوكوم حضرات چه ددې په ۵ هجرئ كښې د واقع كيدو قائلين دى.نودهجرى كال په ابتداء كښې د جمهورو قول اختياركړې دې.نودا څه حقيقى اختلاف نه دې.د كال دوقوع په تعين كښې خو ټول متفق دى.البته د هجرى كال په ابتداء كښې د اختلاف په وجه د ۴ھ او۵ھ فرق راغلې دې.(۲) خودهجرى كال په ابتداء كښې ديعقوب بن سفيان رائې صحيح نه معلوميږى .ځكه چه ددې په وجه د هجرت نه پس لس مياشتې دهجرى كال په مياشتوكښې نشى شمارلې.اوددې څه معقوله وجه نشته.نوصحيح خبره هم هغه ده.چه د هجرى كال ابتداء دهجرت دمياشتې يعنى ربيع الاول نه وړاندې چه كوم محرم وو.دهغې نه اوكړې شى.(۳)

دامام مالك رحمه الله رائې دا ده.په كارده چه د هجرى كال تاريخ دې هم د ربيع الاول نه اوكړې شى.ځكه چه هم دا مياشت د هجرت ده.(۴) والله اعلم

[۳۸۷۲]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَنْدَقِ وَهُمْ يَحْفِرُونَ وَنَحْنُ نَنْقُلُ

---

(۱) دذكرشووتوجيهاتودپاره اوګورئ (زادالمعاد (۲۷۰/۳) ودلائل بيهقى (۳۹۶/۳و ۳۹۷)_

(۲) دتفصيل دپاره اوګورئ دلائل بيهقى (۳۹۶/۳) باب التاريخ لغزوة الخندق والبداية والنهاية (۹۳/٤و ۹٤)

(۳) البداية والنهاية (۹٤/٤)_

(٤) البداية والنهاية (۹٤/٤)_

التُّرَابَ عَلَى أَكْتَادِنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ [ر: ۳۵۸۶]

حضرت سهل بن سعد ﷺ فرماني.چه په خندق كنبې مونږ د رسول اللهﷺ سره وو.صحابو ﷺ به خندق كنستلو.او مونږ به خاوره په خپلو اوږو باندې ديوځاې نه بل ځاې ته اوړله.نو نبي ﷺ اوفرمائيل.

قوله: اللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ: اې الله اصلي ژوند خود آخرت دې.تاسو مهاجرين اوانصارو اوبخښې.

[۳۸۷۳/۳۸۷۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ سَمِعْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ فَإِذَا الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ فِي غَدَاةٍ بَارِدَةٍ فَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ عَبِيدٌ يَعْمَلُونَ ذٰلِكَ لَهُمْ فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ النَّصَبِ وَالْجُوعِ قَالَ اللّٰهُمَّ إِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ فَقَالُوا مُجِيبِينَ لَهُ نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا

عبدالله بن محمد مسندي ﷺ دامام بخاري ﷺ استاذ دې.«حدثنا ابواسحاق» يعني ابراهيم بن محمد بن حارث فزاري.

نبي ﷺ اوكتل.چه صحابو ﷺ د سختې يخني په موسم كښې خندق كنولو.كله چه نبي ﷺ دهغوى مشقت او ولوږې ته اوكتل.نو وې فرمائيل.

اللّٰهُمَّ إِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الْآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ

صحابو ﷺ به ددې په جواب كښې وئيل.

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا

مونږ يو هغه خلق چا چه بيعت كړې دې د محمد ﷺ سره چه ترڅو پورې مونږ باقي او ژوندي يو.نوهميشه به ددوى په ملګرتيا كښې جهاد كوو.

[۳۸۷۳] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَعَلَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ الْخَنْدَقَ حَوْلَ الْمَدِينَةِ وَيَنْقُلُونَ التُّرَابَ عَلَى مُتُونِهِمْ وَهُمْ يَقُولُونَ نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْإِسْلَامِ مَا بَقِينَا أَبَدَا قَالَ يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُجِيبُهُمْ اللّٰهُمَّ إِنَّهُ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ فَبَارِكْ فِي الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ قَالَ يُؤْتَوْنَ بِمِلْءِ كَفِّي مِنَ الشَّعِيرِ فَيُصْنَعُ لَهُمْ بِإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ تُوضَعُ بَيْنَ يَدَيِ الْقَوْمِ وَالْقَوْمُ جِيَاعٌ وَهِيَ بَشِعَةٌ فِي الْحَلْقِ وَلَهَا رِيحٌ مُنْتِنٌ [ر: ۲۶۷۹]

قوله: قَالَ يُؤْتَوْنَ بِمِلْءِ كَفِّي مِنَ الشَّعِيرِ فَيُصْنَعُ لَهُمْ بِإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ تُوضَعُ بَيْنَ يَدَيِ الْقَوْمِ وَالْقَوْمُ جِيَاعٌ وَهِيَ بَشِعَةٌ فِي الْحَلْقِ وَلَهَا رِيحٌ مُنْتِنٌ: حضرت انس ﷺ فرماني.چه چونګ اوربشې به صحابو ﷺ ته وركولې شو.اوهغه اوربشې به په بدبوداره وازګه

کښې پخولې شو.اومسلمانانوته به مخامخ کیخودې شو.هغه حضرات وږي وو.اوهغه خوراك به ئې په حلق کښې انختل.(خود ولوږې په وجه به ئې مجبوراً خوړل) اوپه هغې کښې به بدبوئی هم وه. «یصنع» یطبخ- اهالة، وازګې ته وائی.«بشعة» بفتح الباء وکسرالشین، د خوراك داسې سخا شوې څیز چه په حلق کښې انخلی.«سنخة» بفتح السین وکسرالنون وفتح الحاء) بدبودارڅیزته وائی.

یوه شبه اودهغې جوابونه: دلته یوه شبه ده.چه په قرآن کریم کښې د نبی ﷺ په صفاتوکښې راځی.چه ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِيْ لَهٗ﴾ اودلته نبی ﷺ اشعار وائی.

① ددې جواب امام بیهقی رحمه الله دا ورکړې دې.چه په اصل کښې دا اشعار نه دی.بلکه رجز دې.اود شعردعالمانو په نیز رجز په اشعاروکښې داخل نه دی. نو څکه دا د آیت خلاف نه دې.(١)

② بعضې حضراتوفرمائیلی دی.چه په آیت کښې چه کومه خبره شوې ده.دهغې مقصدا دې.چه د شعرجوړول د نبی ﷺ د شان مناسب نه دی.اودا دشعرجوړول نه دی.بلکه د شعر ونیل دی.نود قرآن د آیت سره ددې څه تعارض نشته.

[۳۸۷۵/۳۸۷۶] حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ أَيْمَنَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ فَجَاءُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا هَذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ فَقَالَ أَنَا نَازِلٌ ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ فَضَرَبَ فِي الْكُدْيَةِ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ أَوْ أَهْيَمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ائْذَنْ لِي إِلَى الْبَيْتِ فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مَا كَانَ فِي ذَلِكَ صَبْرٌ فَعِنْدَكِ شَيْءٌ قَالَتْ عِنْدِي شَعِيرٌ وَعَنَاقٌ فَذَبَحْتُ الْعَنَاقَ وَطَحَنَتْ الشَّعِيرَ حَتَّى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَجِينُ قَدْ انْكَسَرَ وَالْبُرْمَةُ بَيْنَ الْأَثَافِيِّ قَدْ كَادَتْ أَنْ تَنْضَجَ فَقُلْتُ طُعَيِّمٌ لِي فَقُمْ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَرَجُلٌ أَوْ رَجُلَانِ قَالَ كَمْ هُوَ فَذَكَرْتُ لَهُ قَالَ كَثِيرٌ طَيِّبٌ قَالَ قُلْ لَهَا لَا تَنْزِعْ الْبُرْمَةَ وَلَا الْخُبْزَ مِنْ التَّنُّورِ حَتَّى آتِيَ فَقَالَ قُومُوا فَقَامَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَى امْرَأَتِهِ قَالَ وَيْحَكِ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَمَنْ مَعَهُمْ قَالَتْ هَلْ سَأَلَكَ قُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ ادْخُلُوا وَلَا تَضَاغَطُوا فَجَعَلَ يَكْسِرُ الْخُبْزَ وَيَجْعَلُ عَلَيْهِ اللَّحْمَ وَيُخَمِّرُ الْبُرْمَةَ وَالتَّنُّورَ إِذَا أَخَذَ مِنْهُ وَيُقَرِّبُ إِلَى أَصْحَابِهِ ثُمَّ يَنْزِعُ فَلَمْ يَزَلْ يَكْسِرُ الْخُبْزَ وَيَغْرِفُ حَتَّى شَبِعُوا وَبَقِيَ بَقِيَّةٌ قَالَ كُلِي هَذَا وَأَهْدِي فَإِنَّ النَّاسَ أَصَابَتْهُمْ مَجَاعَةٌ

[۳۸۷۶] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا حُفِرَ الْخَنْدَقُ رَأَيْتُ

---

(١) السیرة النبویة والآثار المحمدیة للسید أحمد زینی دحلان (١٠٥/٢) علی هامش السیرة الحلبیة)_

بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا فَأَخْرَجَتْ إِلَيَّ جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتِ الشَّعِيرَ فَفَرَغَتْ إِلَى فَرَاغِي وَقَطَّعْتُهَا فِي بُرْمَتِهَا ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَا تَفْضَحْنِي بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِمَنْ مَعَهُ فَجِئْتُهُ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنَّا صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ كَانَ عِنْدَنَا فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُورًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ فَجِئْتُ وَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتَّى جِئْتُ امْرَأَتِي فَقَالَتْ بِكَ وَبِكَ فَقُلْتُ قَدْ فَعَلْتُ الَّذِي قُلْتِ فَأَخْرَجَتْ لَهُ عَجِينًا فَبَصَقَ فِيهِ وَبَارَكَ ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ ادْعُ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعِي وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوهَا وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللَّهِ لَقَدْ أَكَلُوا حَتَّى تَرَكُوهُ وَانْحَرَفُوا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَإِنَّ عَجِينَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ [ر:۳۹۰۰]

قوله: حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ أَيْمَنَ عَنْ أَبِيهِ: د «أبيه» نه مراد ايمن حبشى دې.دا د ابن ابى عمرومخزومى آزاد کړې غلام وو.اود بخارى رحمه الله په راويانو کښې دې.دا حديث د «من إفراد البخارى» ځنى دې.په صحيح مسلم کښې نشته.ايمن حبشى وائى.چه زه حضرت جابر رضي الله عنه ته ورغلم.

قوله: فقَالَ إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ: حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى.چه مونږ په غزوه خندق کښې خندق کنستل.چه يو سخت ګټ مخامخ راغلل.صحابو رضي الله عنهم دغه ګټه ماته نکړې شوه.نونبى ﷺ ته راغلل.او عرض ئې اوکړو.چه دلته په خندق کښې يوه ګټه راوتلې ده.(چه ماتيږى نه)نبى ﷺ اوفرمائيل.زه درکوزيږم.نو نبى ﷺ اودريدل.اود نبى ﷺ په خيټه مبارکه پورې ګانړې ترلې شوې وو.د روايت الفاظ دى.«وبطنه معصوب بحجر» ابن حبان رحمه الله دا وهم ګرځولې دې.اوونيلى ئې دى.چه د لفظ «معصوب بحجر» دې.(په زاء سره) اومطلب دا دې.چه نبى ﷺ شا کلکه ترلې وه.[1] د نبى ﷺ په خيټه باندې د ګانړى د ترلو څه حاجت دې. نبى ﷺ خوبه په خپله فرمائيل.«إنى أبيت يطعمنى ربى ويسقينى»

حافظ ضياء الدين مقدسى رحمه الله د ابن حبان رحمه الله ترديد کړې دې .خو د هغوى نه وړاندې علامه کرمانى رحمه الله هم د دوى ترديد کړې دې.البته کرمانى رحمه الله دابن حبان رحمه الله نوم نه دې ذکرکړې.هغوى فرمائيلى دى.چه د ولوږې د سختئ په وخت کښې خيټه د شا سره لګى.

---

[1])عمدة القارى(۱۸۰/۱۷)_

اوشا ښکته کيږي.نوپه داسې حالت کښې په اهل حجاز کښې دا طريقه رائجه وه.چه هغوی به دلاس د ورغوی په اندازه په خيټه پورې ګانړې تړل.د دغه کانړی د يخوالي په وجه به په خيټه کښې د ولوږې حرارت کميدل.اوشا ته به اړانه ملاويده.نوهغه به نيغه وه.(١)

رسول الله ﷺ سره داسې قسم واقعه پيښيدل د قياس نه لرې نه ده.تعجب دې. چه ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح کښې په خپله د حضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه واقعه نقل کړې ده. چه يوځل نبی ﷺ دخپل عادت نه خلاف د ماسپخين په وخت کښې دکور نه رابهرشو. او بهر ئې دحضرت ابوبکراوحضرت عمر رضي الله عنهما سره ملاقات اوشو.هغوی ته ئې اوفرمائيل. تاسو ولې د کور نه راوتلی ئې.هغوی ورته عرض اوکړو.د ولوږې د تکليف د وجې د کورنه رابهر شوی يو.نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.زه هم د ولوږې د تکليف د وجې د کور نه رابهر شوې يم.ددې نه پس د درې واړه حضرات دحضرت ابوايوب انصاری رضي الله عنه کورته لاړل.اوهغه د دوی ملمستيا اوکړه.(٢)

ددې روايت نه معلومه شوه.چه نبی ﷺ ته هم د ولوږې شکايت کيدل.باقي پاتې شود نبی ﷺ ارشاد چه ((إني أبيت يطعمني ربي ويسقيني)) نوهغه د صوم وصال په موقع باندې دی.د عامو حالاتو په باره کښې نه دی.

قوله: وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ فَضَرَبَ فِي الْكُدْيَةِ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ أَوْ أَهْيَمَ: حضرت جابر رضي الله عنه فرمائی.چه مونږ د درې ورځو راسې څه څکلی نه وو.نبی ﷺ په کداله باندې هغه کانړې اووهل.نوهغه د شګو ډيرې شو.

د((اهيل))او((اهيم))دواړه معنی يوه ده.اومطلب دادې.لکه څنګه چه بهيدونکې شګه وی.چه په هغې باندې پښه کيخودې شی.نوهغه لاندې ځی.دغه شان د نبی ﷺ په ګذار سره هغه ګټه بهيدونکې شګه شوه.(٣)

حضرت جابر رضي الله عنه فرمائی.چه ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو ،يارسول الله ماته د کور تلو اجازت راکړئ.نو کور ته راغلم.ما خپلې ښځې ته اووئيل.ما نبی کريم ﷺ په داسې حالت کښې اوليدل.،چه صبر مې اونکړې شو .تاسره د خوراك دپاره څه شته؟ ښځې اووئيل.ما سره څه جوار دی.او د چيلئ يو بچې دې.نو ما د چيلئ هغه بچې ذبح کړو،او بی بی جوار ميچن کړل.ترڈې چه غوښه مونږ (د پخيدو دپاره) په کټوئ کښې کيخوده.

قوله: ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَجِينُ قَدْ انْكَسَرَ: بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم.او اوړه مات شوی وو. يعنی اوړه اخکلې شوې وو.اوښه

---

(١)اوګورئ شرح کرمانی (١٦/٢٠٠)_

(٢)اوګورئ ((الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (٣٢٤٨) باب ذکرالأمر بتحميدالله جل وعلا عند الفراغ من الطعام على ما أسبغ وأفضل وأنعم))_

(٣)فتح الباری(٣٩٧/٧)_

ناوخته شوې وو.په اوړو كښې خمبيره راپورته كيدل شروع شوى وو.كله چه په اوړو كښې خمبيره راپورته شى.نودهغې پاسنې طرف ماتيدل شروع شى.اوپه هغې كښې درازونه جوړ شى.((والعجين قد انكسر)) سره هم ددې بيان كوى.

قوله: وَالْبُرْمَةُ بَيْنَ الْأَثَافِيِّ قَدْ كَادَتْ أَنْ تَنْضَجَ: اوكټوئ په نغرى وه.اوپخيدو ته نزدې وه.

((الأثافى)) هغه درې كاڼړو ته وائى.كومه چه د نغرى جوړولو دپاره كيخودې شى.ددې مفرد ((الأثفية)) دې[۱]

حضرت جابر رضي الله عنه د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو.او عرض ئې اوكړو .لوږه غوندې روټئ ده.تاسو تشريف راوړئ.يو يا دوه كسان ځان سره راولئ.نبى ﷺ تپوس اوكړو. څومره روټئ ده.ما ورته اوخودل.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.((كثير طيب)) اودا ئې هم اوفرمائيل. ترڅو چه زه نه يم راغلې.نو بى بى ته اووايه.چه نه كټوئ د نغرى نه راكوزوى.اونه په تندور كښې روټئ لګوى.بيا نبى ﷺ اعلان اوكړو.جابر دعوت كړې دې.ټول راشئ.بل خوا حضرت جابر رضي الله عنه كورته لاړل.اوبى بى ته ئې اوونيل.((ويحك)) غرقه شي.نبى ﷺ خو مهاجرين او انصار ټول ځان سره راولى.

داخو معلومه ده.چه د حضرت جابر رضي الله عنه ښځه ناتجربه كاره نه وه.هغې د حضرت جابر رضي الله عنه نه تپوس اوكړو.چه نبى ﷺ ستا نه د روټئ په باره كښې تپوس كړې وو.حضرت جابر رضي الله عنه ورته اوونيل. آو.تپوس خو ئې رانه كړې وو.په دې باندې هغه مطمئنه شوه.چه بيا نبى ﷺ په خپل ځان او په الله باندې بهروسه كوى.او راځى به.[۲] نبى ﷺ صحابوﷺ ته اوفرمائيل. ((ادْخُلُوا وَلَا تَضَاغَطُوا)) يعنى دننه راځئ.خو رش مه جوړوئ.نو نبى ﷺ روټئ شوكوله.اوپه هغې باندې ئې د غوښې ټكړې كيخودلې.اود كټوئ نه غوښه او د تنور نه ئې روټئ راخستلې.اوهغه (كټوئ او تنور) به ئې بيا پټول.دغه شان به نبى ﷺ د روټو نه ټكړې جوړولې.اود كټوئ نه به ئې سمسئ راډكوله.تردې چه ټول ماړه شول.اوڅه روټئ پاتې هم شوه.بيا نبى ﷺ دحضرت جابر رضي الله عنه بى بى ته مخاطب شو.او وې فرمائيل.

قوله: كُلِي هَذَا وَأَهْدِي فَإِنَّ النَّاسَ أَصَابَتْهُمْ مَجَاعَةٌ: دا تاسو په خپله هم اوخورئ. اومحلې اوګاونډيانو كره هم هديه اوليږئ.ځكه چه خلقو باندې ولوږه ده.يعنى دقحط زمانه ده.خلق په ولوږه اوتنده كښې اخته دى.

قوله: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ..: په دې حديث كښې هم د حضرت جابر رضي الله عنه د دعوت واقعه بيان شوې ده.

---

[۱])شرح الكرمانى (۳۰/۱۸)_

[۲])فتح البارى(۳۹۸/۷)_

قوله: وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا: داجن هغه چیلۍ ته وائي.كوم چه په كور كښې ساتلى شى.اوهغه چراګاه ته نشى ليږلې.

قوله: إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُورًا: ،،سور،، هغه دعوت ته وئيلى شى.كوم چه د واده په موقع باندې كولې شى.اوپه واده كښې ښكاره ده.چه لوې دعوت وى.ددې وجې دلته وئيلى شوى دى.چه جابر رضي الله عنه د يو ډير لوى دعوت اهتمام كړې دې.هسې خو ،،سور،، د قلعې ديوال ته هم وائي.خودا غيرعربى لفظ دې.[1]

قوله: فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ: ((فحى حلا بكم، أى هلموا مسرعين)) يعنى ټول په جلتۍ سره زر لاړ شئ.[2]

[۳۸۷۷] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا إِذْ جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَإِذْ زَاغَتْ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتْ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ قَالَتْ كَانَ ذَاكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ

[۳۸۷۸] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتَّى أَغْمَرَ بَطْنَهُ أَوْ اغْبَرَّ بَطْنُهُ يَقُولُ وَاللَّهِ لَوْلَا اللَّهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا وَثَبِّتْ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا وَرَفَعَ بِهَا صَوْتَهُ أَبَيْنَا أَبَيْنَا [ر:۲۶۸۱]

[۳۸۷۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْحَكَمُ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ [ر:۹۸۸]

قوله: حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ: عبده: دا د راوى لقب دې.ددوى نوم عبدالرحمن بن سليمان كلابى رحمه الله دې.[3]

حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي.چه ﴿إِذْ جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ﴾ [4] ددې آيت تعلق د غزوه خندق سره دې.

---

[1])أيضاً_

[2])فتح البارى(۷\۳۹۹)_

[3])عمدة القارى(۱۷\۱۸۲)_

[4])دا دسورة احزاب د لسم آيت حصه ده.پوره آيت داسې دې. ((إِذْ جَاؤُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتْ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ..))
(اوياد كړئ هغه وخت)كله چه دغه خلق په تاسوراوختل.د پورته طرف نه هم او د ښكته طرف نه هم،اوكله چه سترګي وازې پاتې شوې.اوزړونه خولې ته راورسيدل.اوتاسوخلقو په الله تعالى باندې قسم قسم ګمانونه كول)_

قوله: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: حضرت براء فرمائي چه غزوه خندق کښې نبی ﷺ خاورې اوړلې.تردې چه هغې د نبی ﷺ خيټه مبارکه پټه کړې وه.د نبی ﷺ خيټه د خاورو شوې وه.د راوی شك دې.چه «أغمر» ئې وئيلی دی.اوکه «أغبر» ئې وئيلی دی.په دې موقع باندې نبی ﷺ د حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ دا اشعار وئيل.

وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا … وَ لَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا … وَ ثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا … إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا

① په الله قسم: که چرته دالله تعالی رحمت نه وو.نو مونږ به نه هدايت بياموندې وو.اونه به مو صدقه ورکوله.اونه به مو مونځونه کول.

② اې الله په مونږ باندې سکينه نازله کړې.اودجنګ په وخت کښې مونږ ثابت قدم کړې.

③دې خلقو په مونږ باندې ظلم کړې دې.کله چه دا خلق مونږ په فتنه کښې د اچولو اراده کوی.نو مونږ به انکار کوو.

دا آخری کلمه «أبينا» به نبی ﷺ په اوچت آواز سره بار بار وئيله.

قوله: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ: ابن عباس ﷺ د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی.چه د باد صبا په ذريعه زما مدد کړې شوې دې.او د دبور په ذريعه قوم عاد تباه شوې دې.صبا د مشرق طرف نه راتلونکی باد ته وائی.اود بور د مغرب طرف نه راتلونکی باد ته وائی.(1)

چونکه په غزوه خندق کښې الله تعالی په مشرقی بادسره دنبی ﷺ او مسلمانانو مدد کړې وو.ددې وجې امام بخاری ﷫ دا روايت په دې باب کښې ذکرکړو.

[٣٨١٠]حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يُحَدِّثُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْأَحْزَابِ وَخَنْدَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُهُ يَنْقُلُ مِنْ تُرَابِ الْخَنْدَقِ حَتَّى وَارَى عَنِّي الْغُبَارُ جِلْدَةَ بَطْنِهِ وَكَانَ كَثِيرَ الشَّعَرِ فَسَمِعْتُهُ يَرْتَجِزُ بِكَلِمَاتِ ابْنِ رَوَاحَةَ وَهُوَ يَنْقُلُ مِنَ التُّرَابِ يَقُولُ

اللَّهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا … وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا … وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا … وَإِنْ أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا

ثُمَّ يَمُدُّ صَوْتَهُ بِآخِرِهَا [ر:٢٦٨١]

---

1)فيض البارى(٤\٩٩) باب غزوة الخندق)_

په دې روايت كښې هم هغه خبره شوې ده.چه نبى ﷺ په غزوه خندق كښې رجزيه اشعار وئيل. البته په دې روايت كښې يوه جمله ده.چه «وكان كثير الشعر» يعنى د نبى ﷺ په سينه مباركه باندې ويخته زيات وو.ددې سره په ظاهره د شمائل ترمذى روايت متعارض معلوميږى.په كوم كښې چه دى.چه نبى ﷺ «طويل المسربة» وو،، مسربه،، د ويختو هغه نرئ كرښې ته وائى.كومه چه د سينې نه تر نامه پورې ځى.نو ددې روايت تقاضا دا ده.چه ويخته كم وى.دهغه روايت تقاضا دا ده.چه ويخته كم وو.او دلته ورته «كثير الشعر» وئيلې شوې دې.

① په دواړو روايتونوكښې يوتطبيق داسې شوې دې.چه هغه كرښه اګرچه وه نرئ لكه څنګه چه د شمائل ترمذى په روايت كښې دى.خو په دغه نرئ كرښه كښې ويخته زيات وو.ددغه ويختو د ګڼروالى نه دلته په كثرت شعر سره تعبير شوې دې.([1])

② دويمه خبره حضرت انورشاه كشميرى رحمه الله كړې ده.چه داسې قسم څيزونه نشى منضبط كولې.يو كس به كتلې وى.هغه به محسوس كړى دى.چه ويخته زيات دى.نو هغه «كثير الشعر» نقل كړى دى.بل كس ليدلى دى.اوهغه كم محسوس كړى دى.نوهغه دخپلې مشاهدې مطابق روايت نقل كړې دې.اوښكاره ده چه د هرسړى مشاهده اود ده تاثرجدا جدا وى.([2])

[٣٨٨٢] حَدَّثَنِي عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَوَّلُ يَوْمٍ شَهِدْتُهُ يَوْمُ الْخَنْدَقِ

[٣٨٨٣] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ طَاوُسٍ عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ وَنَسْوَاتُهَا تَنْطُفُ قُلْتُ قَدْ كَانَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ مَا تَرَيْنَ فَلَمْ يُجْعَلْ لِي مِنْ الْأَمْرِ شَيْءٌ فَقَالَتْ الْحَقْ فَإِنَّهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ وَأَخْشَى أَنْ يَكُونَ فِي احْتِبَاسِكَ عَنْهُمْ فُرْقَةٌ فَلَمْ تَدَعْهُ حَتَّى ذَهَبَ فَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ خَطَبَ مُعَاوِيَةُ قَالَ مَنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَتَكَلَّمَ فِي هَذَا الْأَمْرِ فَلْيُطْلِعْ لَنَا قَرْنَهُ فَلَنَحْنُ أَحَقُّ بِهِ مِنْهُ وَمِنْ أَبِيهِ قَالَ حَبِيبُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَهَلَّا أَجَبْتَهُ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَحَلَلْتُ حُبْوَتِي وَهَمَمْتُ أَنْ أَقُولَ أَحَقُّ بِهَذَا الْأَمْرِ مِنْكَ مَنْ قَاتَلَكَ وَأَبَاكَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَخَشِيتُ أَنْ أَقُولَ كَلِمَةً تُفَرِّقُ بَيْنَ الْجَمْعِ وَتَسْفِكُ الدَّمَ وَيُحْمَلُ عَنِّي غَيْرُ ذَلِكَ فَذَكَرْتُ مَا أَعَدَّ اللَّهُ فِي الْجِنَانِ قَالَ حَبِيبٌ حُفِظْتَ وَعُصِمْتَ قَالَ مَحْمُودٌ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَنَوْسَاتُهَا

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى.

---

[1])فتح البارى(٤٠١/٧)_

[2])فيض البارى(٩٩/٤) باب غزوة الخندق)_

قوله: دَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ وَنَسْوَاتُهَا تَنْطُفُ: زه حضرت حفصې رضي الله عنها ته ورغلم. اودهغوی د ویختونه د اوبو ځاڅکی څڅیدل.((نوساة)) د ((نوسة)) جمع ده.د ((ناس ينوس)) معنی خوزیدل دی.دلته زلفو اوویختو ته ،،نوساة،، وئیلې شوې دي.غالباً چه هغوی سر وینخلې وو.اود اوبو څاڅکی دهغې نه څڅیدل.ددې وجې په هغې باندې د((نوساة)) اطلاق شوی دې.[1]

دلته دوه نسخې دی.زمونږ په نسخه کښې ((نوساتها)) دې.اوپه بعضې نسخو کښې ((نسواتها)) دې.علامه عینی اوعلامه قسطلانی رحمهما الله هم ((نسواتها)) نقل کړې دې. خو کرمانی رحمه الله وئیلی دی.چه ((نسواتها ليس بشيء)).[2]

امام بخاری رحمه الله هم ددې روایت په آخر کښې د عبدالرزاق نه روایت نقل کوی.په هغې کښې دی.((قال محمد عن عبدالرزاق،، نوساتها)) دی.دا تائید امام بخاری ددې دپاره پیش کوی.چه((نسوات)) نقل کونکی هم موجود دی.اودا نقل صحیح نه دې.نود ((نوسات)) نسخې ته به صحیح وئیلې شی.

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حضرت حفصې رضي الله عنها ته اووئیل.دخلقو معامله ته وینې.یعنی د امارت په باره کښې د حضرت علی اوحضرت امیرمعاویه رضي الله عنهما په مینځ کښې د اختلاف تاسوته علم دې.ما سره په دې باره کښې نه څه مشوره شوې ده.اونه څه قسم خبره شوې ده.حضرت حفصې رضي الله عنها ورته اووئیل.ته لاړه شه خلق به ستا انتظار کوی.او زما ویره ده.که ته لاړ نشې.او ایسار شې.نوپه مسلمانانوکښې به تفریق او انتشار پیدا شی.نوحضرت حفصې رضي الله عنها حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په تلو باندې مجبوره کړو.حضرت ابن عمر رضي الله عنهما هلته لاړلو.حض ت امیرمعاویه رضي الله عنه خطبه ورکوله او ووې وئیل.

قوله: مَنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَتَكَلَّمَ فِي هَذَا الْأَمْرِ فَلْيُطْلِعْ لَنَا قَرْنَهُ فَلَنَحْنُ أَحَقُّ بِهِ مِنْهُ وَمِنْ أَبِيهِ: کوم کس چه ددې خلافت په باره کښې خبره کول غواړی.نوهغه دې خپل مخ مونږ ته راښکاره کړی.مونږ دهغه (ابن عمر رضي الله عنهما) اودهغه د پلارنه د خلافت زیات حقدار یو.

په دې جمله کښې حضرت معاویه رضي الله عنه په حضرت عبدالله بن عمراودهغه په پلار رضي الله عنهما باندې تعریض کوی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانی.چه حضرت معاویه رضي الله عنه خود حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه ډیر تعریف کولوبلکه ددوی په تعریف کښې به ئې د مبالغې نه کار اخستل.نودا خبره د هغوی د شان نه ډیره لرې ده.چه هغوی حضرت عمر رضي الله عنه باندې تعریض کړې وی.بلکه په بعضې روایاتوکښې دی.چه دا تعریض په حضرات حسنینو او حضرت علی رضي الله عنه باندې وو.[3]

[1])فتح الباری(۴۰۳/۱۷)_
[2])شرح الکرمانی (۳۳/۱۶)_
[3])فتح الباری(۴۰۴/۱۷)_

خود عبدالرزاق په روايت كښې په حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عمر رضي الله عنهما باندې د تعريض تصريح ده.د روايت الفاظ دا دى.«فقام معاوية عشية فأثنى على الله بما هو أهله ثم قال أما بعد فمن كان متكلماً فى هذا الأمر فليطلع لى قرنه فوالله لا يطلع فيه أحد إلا كنت أحق به منه ومن أبيه قال يعرض بعبدالله بن عمر» (١)

دغه شان وړاندې د حبيب بن مسلمه قول هم په دې روايت كښې راځي.چه هغوى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته اوونيل.تاسو معاويه رضي الله عنه ته جواب ولې ورنكړو.نوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل.ما په هغه وخت كښې خپل څادر د احتباء په طريقه تړلې وو.او دا اراده مې كړې وه.چه هغه ته اووايم .«أحق بهذا الأمر من قاتلك وأباك على الإسلام» چه ددې خلافت زيات حقدار هغه څوك دې.چه تا سره او ستا د پلار سره ئې د اسلام دپاره جنګ كړې وو.خوددې ويرې د وجې چه زما په خبره به په مسلمانانو كښې انتشارپيدا شى.اووينې به توى شى.ما دهغې جواب ورنكړو.ما په دغه موقعه هغه نعمتونه ياد كړل.كوم چه الله تعالى د صبركونكو دپاره تياركړى دى.ددې نه ښكاره ده.چه دحضرت معاويه رضي الله عنه دا تعرض په حضرت عبدالله بن عمر اوحضرت عمرفاروق رضي الله عنهما باندې وو.

دا حضرت معاويه رضي الله عنه لغزش وو.هغه ته د حضرت عمر فاروق په باره كښې د داسې تعريض حق حاصل نه وو.مونږ خودا ګڼړو.چه هغه ته په حضرت على رضي الله عنه باندې هم د داسې تعريض كولو حق حاصل نه وو.ځكه چه حضرت على رضي الله عنه دخپل مقام اومرتبې اود فضائلو په اعتبار سره د حضرت معاويه رضي الله عنه نه ډير اوچت وو. باقي دا خبره چه د حضرت على رضي الله عنه اوحضرت معاويه رضي الله عنه په مينځ كښې د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص په باره كښې كومه جګړا پيدا شوې وه.نوهغه بله خبره ده. خود خلافت بهرصورت حضرت على رضي الله عنه حقدار وو.اګرچه راجحه دا ده.چه د خلافت استحقاق وى.اوكه د قصاص معامله،په هغې كښې حق د حضرت على رضي الله عنه سره وو.اودحضرت معاويه رضي الله عنه دپاره دهغوى په اجتهاد كښې سره د غلطۍ نه اجر دې.

په اصل كښې دحضرت معاويه رضي الله عنه په خيال كښې د خلافت زيات حقدار هغه سړې دې.څوك چه ذى رائې وى.د فضائلو په دې كښې څه اعتبار نه وى.(٢) او حضرت معاويه رضي الله عنه بهرحال د عربو په مشهورو مدبرينو كښې وو.دعربو څلور ،،دهاة،،مشهوردى.

① حضرت امير معاويه② حضرت عمروبن العاص③ حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنهم

④ اوزياد بن ابى سفيان.دا خلق ډير ذهين اوپه سياسى اموروكښې ډيرزيات ماهر وو.

د ترجمة الباب سره د روايت مناسبت: چونكه حضرت ابوسفيان او حضرت معاويه رضي الله عنهما د جنګ خندق په موقع د مسلمانانو خلاف په جنګ كښې دكافرانوپه مرسته كښې په جنګ كښې شريك وو.اوحضرت عبدالله بن عمر،اوحضرت عمراونوروصحابو رضي الله عنهم دهغوى مقابله

---

(١) مصنف عبدالرزاق غزوة ذات السلاسل وخبر على ومعاوية رضى الله عنهما (٤٦٥/٥)_

(٢) فتح البارى (٤٠٤/٧)_

كړې وه.په روايت كښې په«أحق بهذا الأمر منك من قاتلك وأباك على الإسلام» سره غزوه خندق ته اشاره ده.او هم په دې مناسبت سره امام بخارى رحمه الله د دې روايت تخريج كړې دې.[1] والله اعلم.

[٣٨٨٣\٣٨٨٣] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَنَا

[٣٨٨٣] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ سَمِعْتُ أَبَا إِسْحَاقَ يَقُولُ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ صُرَدٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ عَنْهُ الْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَنَا نَحْنُ نَسِيرُ إِلَيْهِمْ

د سليمان بن صرد رضى الله عنه په بخارى كښې صرف دوه روايتونه دى.[2] يو دا روايت دې.اوبل په «باب صفة إبليس» كښې دې.فرمائى.چه رسول الله ﷺ د غزوه خندق په ورځ فرمائيلى وو. «نغزوهم ولايغزوننا» اوس به مونږ هغوى سره جنګيږو. اوهغوى به (اقدام نه كوى.چه) مونږ سره اوجنګيږى. نو هم داسې اوشوه.چه دغزوه خندق نه پس د كافرانو نه بيا اقدام اونشو.بلكه مسلمانانوپه فتح مكه كښې اقدام اوكړو.

[٣٨٨٥] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ مَلَأَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا كَمَا شَغَلُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتْ الشَّمْسُ [ر:٢٧٧٣]

[٣٨٨٦] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جَاءَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ بَعْدَ مَا غَرَبَتْ الشَّمْسُ جَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ وَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا كِدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ حَتَّى كَادَتْ الشَّمْسُ أَنْ تَغْرُبَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللَّهِ مَا صَلَّيْتُهَا فَنَزَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُطْحَانَ فَتَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ وَتَوَضَّأْنَا لَهَا فَصَلَّى الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتْ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ [ر:٥٧١]

قوله: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ: حضرت على رضى الله عنه فرمائى.چه نبى ﷺ په غزوه خندق كښې فرمائيلى وو.الله تعالى دې د دوى كورونه او ددوى قبرونه د اور نه ډك كړى.چه دوى مونږ د صلاة وسطى نه بند كړو.ترديې چه نمر پريوتلو.(اود مازيګر مونځ قضاء شو) دا روايت اوددې نه مخكښې روايت په «مواقيت الصلاة» كښې تيرشوې دې.

[٣٨٨٧] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا ثُمَّ

---

[1])فتح البارى(٤٠٤\١٧)_

[2])عمدة القارى(١٨۶\١٧)_

قَالَ مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا ثُمَّ قَالَ مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا ثُمَّ قَالَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيَّ وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ [ر: ٢٦٩١]

حضرت جابر رضي الله عنه فرمائي چه نبي ﷺ د غزوه احزاب په موقع باندې فرمائيلي وو. مونږ ته به د قوم خبر څوك راوړي. نوحضرت زبير رضي الله عنه اوفرمائيل. زه، نبي ﷺ بيا اوفرمائيل. «من يأتينا بخبر القوم» نو حضرت زبير رضي الله عنه اوفرمائيل. «أنا» نو نبي ﷺ اوفرمائيل. «إن لكل نبي حواريا وإن حواري الزبير» دهر پيغمبر يو حواري (خاص مددګار) وي. اوزما حواري زبير دې.

دصحيح مسلم په روايت كښې دى.[1] چه د قوم د خبر راوړو دپاره حضرت حذيفه رضي الله عنه لاړلو. او دلته د بخارى په روايت كښې دى. چه حضرت زبير رضي الله عنه د تلو دپاره تيار شو.

① په دواړو رواياتونو كښې دتطبيق دپاره دا وئيلى شي. چه ممكن ده. دا واقعه د يو وخت وى. اوهغه واقعه د بل وخت وى.

② خوحقيقت دا دې. چه حضرت زبير رضي الله عنه نبي ﷺ د بنوقريظه د خبر راوړو دپاره ليږلې وو. اوحضرت حذيفه رضي الله عنه ئې د مكې د مشركانو اود بنو غطفان د خبر راوړو دپاره ليږلې وو.[2] دا دواړه بيخى جداجدا واقعات دى. نوځكه د تعارض هډو څه سوال پيدا كيدل نه دى پكار.

[٣٨٨٨] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ أَعَزَّ جُنْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَغَلَبَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ فَلَا شَيْءَ بَعْدَهُ

[٣٨٨٩] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ وَعَبْدَةُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْأَحْزَابِ فَقَالَ اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ [ر: ٢٧٧٥]

[٣٨٩٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ وَنَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنَ الْغَزْوِ أَوِ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ يَبْدَأُ فَيُكَبِّرُ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ [ر: ١٧٠٣]

---

[1])اوګورئ صحيح مسلم باب غزوة الأحزاب كتاب الجهاد والسير رقم الحديث ٤٤٠٤)_

[2])فتح البارى(٤٠٧/٧)_

بَابُ مَرْجِعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَحْزَابِ وَمَخْرَجِهِ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ وَمُحَاصَرَتِهِ إِيَّاهُمْ (غزوة بني قريظة)

ددې ځاې نه امام بخارى رحمه الله د غزوه بنى قريظه بيان کوى.د بنى قريظه د يهودو سره د مسلمانانو معاهده وه.چه د يوبل خلاف به د چا سره په جنګ کښې حصه نه اخلو.په غزوه خندق کښې چه کله قريشو د لس زره کسانو لښکرپه مدينه باندې د حملې کولوپاره راوستل. نوپه هغه وخت کښې يهوديانو خپله معاهده ماته کړه.اود قريشو سره د مسلمانانو خلاف ملګرى شول.[1]

په ۲۳ ذى قعده ۵ هجرئ باندې کله چه احزاب د کفارو واپس لاړل.اونبى صلى الله عليه وسلم مسلمانان واختل مدينې ته واپس راغلل.اوټولو مسلمانانو وسلې پرانستلې.هم په دغه ورځ د ماسپخين په وخت کښې حضرت جبرئيل عليه السلام راغلو.وې وئيل.تاسو وسله پرانستله.نبى صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل آو.حضرت جبرئيل عليه السلام اووئيل.خو فرشتو تر اوسه پورې وسلې نه دى پرانستې.اوواپس شوى نه دى.اوس سمدستى بنىٓ قريظو طرف ته وتل دى.

نو نبى صلى الله عليه وسلم اعلان اوکړو.چه ټول صحابه رضى الله عنهم دې د مازيګر مونځ په بنى قريظه کښې اوکړى.مطلب دا وو.چه ترمازيګره پورې هلته رسيدل دى.اودهغوى محاصره کول دى.درې زره لښکروو.اوپه هغوى کښې شپږ ديرش اسونه وو. د مسلمانانودا لښکرهلته اورسيدل. اوتقريباً پنځه ويشت ورځې ئې دهغوى محاصره جارى اوساتله.[2] د محاصرې په دوران کښې د بنى قريظه سردار کعب بن اسد هغوى راجمع کړل.او وې وئيل.زه تاسو ته درې خبرې پيش کوم.په دې کښې يوه خوښه کړئ.

① اولنئ خبره دا ده.چه تاسوته دا خبره ښيخى ښکاره شوې ده.چه دا کس (نبى صلى الله عليه وسلم) دالله تعالى هم هغه نبى اوپيغمبردې.دچا ذکرچه تاسو په خپل کتاب تورات کښې مومئ.نو ټول ايمان راوړئ.او دده تابع اوفرمانبردار شئ.په دې سره به ستاسو مال جان او بچى ښځې ټول محفوظ او مامون شى.

---

[1] حافظ ابن قيم رحمه الله ددې غزوه د سبب په باره کښې ليکى.،،

وكان سبب غزوهم أن رسول الله لما خرج إلى غزوة الخندق والقوم معه صلح جاء حيي بن اخطب إلى بني قريظة في ديارهم فقال قد جئتكم بعزالدهر.جئتكم بقريش على سادتها.وغطفان على قادتها وأنتم أهل الشوكة والسلاح فهلم حتى نناجز محمداً ونفرغ منه.فقال لهم رئيسهم بل جئتني والله بذل الدهر.جئتني بسحاب قد أراق ماءه.فهو يرعد ويبرق فلم يزل حيي يخادعه ويعده.. حتى أجابة بشرط أن يدخل معه في حصنه .يصيبه ما أصابهم.ففعل.ونقضوا عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وأظهروا سبه فبلغ رسول الله صلى الله عليه وسلم الخبر فأرسل يستعلم الأمر فوجدهم قد نقضوا العهد فكبر وقال أبشروا يا معشرالمسلمين (وانظرزادالمعاد (۱۳۰\۳)_

[2] الكامل لابن اثير(۱۲۷\۲) وفتح البارى(٤١٣\٧ ودلائل بيهقى (١٤\٢٠)_

② دویم صورت دا دی.چه خپل بچی اوښځې تولې په خپله قتل کړئ.اوبې ویرې د مسلمانانو سره ټول دجنګ کولودپاره وړاندې شئ.که په جنګ کښې شکست ملاؤ شی.نود بچو او ښځو به راسره څه فکر نه وی.اوکه فتح ملاؤ شوه.نو د ښځو څه کمې نشته.ښځې به نورې هم ملاؤ شی.اودهغوی نه به بچی هم پیدا شی.

③ دریم صورت دا دې.چه نن د خالی ورځ ده.کیدې شی.چه مسلمانان دا اوګنړی. چه د خالی ورځ د یهودیانو د احترام ورځ ده.په دې کښې به دوی جنګ جګړه نه کوی. زمونړ دحملې نه به مطمئن اوغافله وی.نو ټول ملاؤ شئ.اونن د شپې په مسلمانانو باندې حمله اوکړئ.اوددوی دغفلت نه فائده واخلئ.

خو بنو قریظه د کعب بن اسد درې واړه خبرې اونه منلې.هغوی اووئیل.نه خو مونړ خپل دین پریخودې شو.اونه خپل بچی اوښځې قتلولې شو.اونه د خالی په شپه حمله کولی شو.چه ددې محترمې ورځې بې حرمتی اوشی.ځکه چه هم ددې ورځې د بې حرمتئ په وجه خو زمونړ د مشرانو نه شادوګانو او خنزیران جوړ شوی وو.([1]) چه محاصرې نه تنګ شو.نو هغوی دې خبرې ته غاړه کیخوده.چه نبی ﷺ د دوی په باره کښې کومه فیصله کوی.هغه دوی ته منظور ده.د بنو قریظه سره د انصارو حلیفانه تعلقات وو.د اوس قبیلې کسانو د نبی ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو.یا رسول الله د قبیله خزرج په درخواست سره چه تاسو د بنو نضیرسره څنګه معامله کړې وه.هغه شان زمونړ په درخواست د بنو قریظه سره هم اوکړئ.نبی ﷺ اوفرمائیل. ټیک ده.د اوس قبیلې کسان د فیصلې اختیار خپل سردار حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه ته ورکړو.اودا ئې اووئیل.چه کومه فیصله هغه اوکړی.هغه مونړ ته منظوره ده.

حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه زخمی وو.هغه راوستې شو.هغه فیصله اوکړه.چه د بنوقریظه ټول جنګجوسړی دې قتل کړې شی.اودهغوی ښځې اوبچی دې وینځې وغلامان جوړ کړې شی.اود دوی ټول مال دې په مسلمانانو کښې تقسیم کړې شی. ددې تفصیل وړاندې د بخاری په روایت کښې راځی.

نود بنو قریظه ټول کسان ګرفتار کړې شول.او مدینې منورې ته راوستې شول.اود یوې

---

[1])سیرة ابن هشام (۳\۲۴۶و۲۴۷) والبدایة والنهایة (۱۲۰۱۴) د محاصرې په دوران کښې یهودو نبی ﷺ ته درخواست کړې وو.چه حضرت ابولبابه دوی ته راولیږه.چه هغوی دده سره مشوره اوکړی.ځکه چه د یهودو د ابولبابه سره حلیفانه تعلقات وو.حضرت ابولبابه رضی الله عنه چه دننه ورغلل.نوټول ماشومان اوښځې جمع شول.اوپه ژړا شول.چه دا منظر ئې اولیدل.نود ابولبابه زړه نرم شو.بنوقریظه ابو لبابه رضی الله عنه ته اووئیل. آیا مونړ د رسول الله ﷺ حکم او فیصله اومنو.او ورته ئې اووئیل.آؤ قبلوله کړئ.او ورسره ئې مرئ طرف ته اشاره اوکړه.چه ذبح کولې به شئ.اوس ابولبابه رضی الله عنه دخپل خاې نه لا اخوا شوې هم نه وو.چه دخپلې غلطئ اوخیانت احساس ورته اوشو.نیغ مسجد نبوی ته لاړل.اوخپل ځان ئې په ستنه پورې اوتړل.اوقسم ئې اوخوړل.چه ترڅو پورې الله تعالی زما توبه قبوله کړې نه وی.نو دخپل ځاې نه به نه اخوا کیږم.تردې چه الله تعالی د دوی توبه په نبی ﷺ باندې نازله کړه.(سیرة ابن هشام (۳\۲۴۷و ۲۴۸)_~

انصاري ښځې په کور کښې ټول بند کړې شول.دقتل ګاه په طور د هغوی دپاره خندقونه اوکنستلی شول.دوه دوه او څلور څلور به راوستې شول.اوپه دغه خندقونوکښې به دهغوی څټونه وهلی شول.دغه شان څلور سوه یهودیان قتل کړې شول.(١) حي بن اخطب کوم چه ددې ټولو سازشونواو فتنو جوړونکې وو. مقتل ته راوستې شو.نو هغه نبی ﷺ ته اوکتل.او وې وئیل.((أما والله ما لمت نفسي في عداوتك ولكنه من يخذل الله يخذل)) (٢) په الله قسم زه خپل ځان ستا په دشمنئ باندې نه ملامته کوم.خو خبره دا ده.چه الله تعالی دچا مدد نه کوی.د هغه څوك مددګار نه وی.اوبیا خلقو ته مخاطب شو.او وې وئیل.((أيها الناس أنه لا بأس بأمر الله كتاب وقدر، وملحمة،كتبها الله على بني إسرائيل)) اې خلقو د الله تعالی د حکم په منلوکښې څه باك نشته.دا یوه لیکلې شوې فیصله او سزا وه.کومه چه الله تعالی په بنی اسرائیلو باندې لیکلې وه.ددې نه پس دهغه څټ قلم کړې شو.(٣)

په ښځو کښې یوه هم قتل نکړې شوه.سوا د یوې ښځې نه چه د هغې نوم د سیر په کتابونو

---

(١) په دې موقع د قتل شوو یهودیانو په تعداد کښې اختلاف دې.ابن اسحاق شپږ سوه اوابن اثیرپه خپل تاریخ ،،الکامل،، کښې د اووه سوو تعداد خودلې دې.علامه سهیلی رحمه الله لیکلی دی.چه داکثرو قول دا دی.چه د اته او نهه سوو په مینځ کښې د دوی تعداد وو.اوامام ترمذی،امام نسائی او ابن حبان په خپل صحیح سند سره د حضرت جابر رضی الله عنه نه د څلورو سوو تعداد نقل کړې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله په دې مختلفو روایاتوکښې تطبیق کوی.اوفرمائی.ممکن ده.چه د اصلی یهودیانو تعداد څلور سوه وو.اوباقی دهغوی تابعدار وو.(اوګورئ فتح الباري (٤١٤\٧) وابن اثیر (١٢٧\٢)

(٢) سیرة ابن هشام (٢٥٢\٣)_

(٣) امام مغازی ابن اسحاق د بنو قریظه په دې قیدیانو کښې د یوقیدی ،،زبیر بن باطا،،واقعه لیکلې ده.چه هغه د جاهلیت د زمانې په مشهور جنګ ،،بعاث،، کښې د انصارو په مشهور صحابی حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه باندې څه احسان کړې وو.زبیربن باطا په دغه وخت کښې بوډا شوې او نابینا شوې وو.ثابت بن قیس رضی الله عنه ته راغلو. او وې وئیل.ما پیژنې.هغه ورته اووئیل.ما پشان کس ستا پشان کس چرته هیرولې شی.حضرت ثابت رضی الله عنه ورته اووئیل. زه دا غوارم.چه نن ستا د احسان بدله درکړم.نو وې وئیل. ((إن الكريم يجزي الكريم)) حضرت ثابت رضی الله عنه راغلو.اود نبی ﷺ په دربار کښې ئې د زبیر د آزادئ درخواست اوکړو.نبی ﷺ د هغه په درخواست باندې هغه آزاد کړو.هغه راغلو. اوخبر ئې ورکړو.نو زبیر اووئیل.د داسې بوډا په ژوند کښې به څه مزه ده.چه د هغه اهل وعیال نه وی.حضرت ثابت رضی الله عنه لاړو.اود نبی ﷺ نه ئې دهغه د اهل وعیال د آزادئ اجازت هم واخستلو.واپس راغلو.اوهغه ته ئې اوخودله.نو هغه اووئیل.چه په حجاز کښې ئې اهل وعیال وی.خو مال ورسره نه وی.نو ژوند به څنګه تیروی.حضرت ثابت رضی الله عنه لاړو.او مال ئې هم واپس کړو.اوس روند یهودی د حضرت ثابت رضی الله عنه نه تپوس اوکړو.دکعب بن اسد څه اوشو.وې وئیل. قتل شو.بیا ئې تپوس اوکړو.حیی بن اخطب اوعزال بن شموال څه شو؟ وې فرمائیل. قتل شوی دی.بیا ئې تپوس اوکړو.د باقی کسانو څه حشراوشو.حضرت ثابت ورته اووئیل.ټول قتل کړې شول.نوبوډا یهودی اووئیل. زما د احسان بدله دا ده.چه ته ما هم د خپل قوم سره ملګرې کړه.ددې نه پس په ژوند کښې څه خیر دې.حضرت ثابت رضی الله عنه هغه وراندې کړو.اود هغه څټ هم قلم کړې شو.(سیرة ابن هشام (٢٥٣\٣و ٢٥٤)_

كښې ، ، بنانه ، ، خودلې شوې دې. ځکه چه هغې د چت نه د جرندې پل راګزار کړې وو. او حضرت خلادبن سويد رضي الله عنه ئې شهيد کړې وو. نوځکه هغه په قصاص کښې قتل کړې شوه.[1]

[۳۸۹۱] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَوَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللَّهِ مَا وَضَعْنَاهُ فَاخْرُجْ إِلَيْهِمْ قَالَ فَإِلَى أَيْنَ قَالَ هَا هُنَا وَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ [ر: ۲۶۵۸]

اولنې روايت دحضرت عائشې رضي الله عنها دې. په دې کښې هم هغه واقعه بيان شوې ده. چه نبى صلى الله عليه وسلم کله دخندق نه راواپس شو. نو نبى صلى الله عليه وسلم وسله کوزه کړه. نو حضرت جبرئيل عليه السلام راغلو. او وې وئيل په الله قسم مونږ لا تراوسه پورې وسله نه ده کوزه کړې. ته بنو قريظه طرف ته لاړ شه. نو نبى صلى الله عليه وسلم بنى قريظه طرف ته روان شو.

[۳۸۹۲] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْغُبَارِ سَاطِعًا فِي زُقَاقِ بَنِي غَنْمٍ مَوْكِبَ جِبْرِيلَ حِينَ سَارَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ [ر: ۳۰۴۲]

حضرت انس رضي الله عنه فرمائى. چه دحضرت جبرئيل عليه السلام دشاهانه سورلۍ په وجه د بنو غنم دکوڅو دوړې لکه اوس هم زه وينم. کله چه نبى صلى الله عليه وسلم بنى قريظه طرف ته روان شول.

موکب جبريل عليه السلام: ① «موکب» د «هو» محذوف خبر دې. ددې په وجه مرفوع دې.

② يا دا د «الغبار» نه بدل اوګرځولې شو. اومجرور وئيلې شي. ③ دا هم ممکن ده. چه دا د «أرى» وغيره فعل محذوف مفعول تسليم کړې شي. نوپه دې صورت کښې به منصوب وى.

حضرت شاه صاحب رحمه الله د «موکب» ترجمه کړې ده. شاهانه سورلى.[2] يعنى د شاهانه سورلۍ په رفتار سره حضرت جبرئيل عليه السلام د بنو غنم د کوڅو نه تيريدل. اودهغې نه دوړه الوته. اوما ورته کتل.

په دې کښې اختلاف دې. چه حضرت جبرئيل عليه السلام د پيغمبر عليه السلام نه سوا بل څوک کتلې شى

---

[1])دغه ښځې ته معلومه شوې وه. چه د مقتولينو په فهرس کښې ددې نوم شامل دې. خوددې باوجود د قتل نه لږ وخت مخکې ئې د حضرت عائشې سره خبرې کولې. اوپه خبره خبره به ئې خندل. په دې کښې دهغې نوم واخستې شو. پاسيده اود قتل ګاه طرف ته روانه شوه. حضرت عائشې رضى الله عنها ترې تپوس اوکړو. چرته ځې. نوهغې ورته اووئيل. قتل ګاه ته ورځم. ما يو جرم کړې وو. د هغې سزا خورم. نودهغې ښې هم قلم کړې شو. حضرت عائشه رضى الله عنها فرمائى. چه د قتل نه څو لمحې وړاندې دهغه ښځې د خندا په خبرو اوس هم ماته تعجب راځى. (اوګورئ البداية والنهاية(۱٤٩\٤)_

[2])فيض البارى(۱۰۰\٤) باب مرجع النبى صلى الله عليه وسلم من الأحزاب)_

که نه؟ بعضې حضرات د قول اول قائل دی.اوبعضې د قول ثانی.دلته د حدیث د ظاهرنه دا معلومیږی.چه کله هغوی پورته کیدونکې دوړه اولیده.نودا ګمان ئې اوکړو.چه دا حضرت جبرئیل علیه السلام دې.د نه لیدلو وجه دا وه.اوددې وجه چه جبرئیل علیه السلام ئې نه وو لیدلې.ځکه چه حضرت جبرئیل علیه السلام په خپل اصلی شکل کښې وو.ځکه چه کله حضرت جبرئیل د چا سړی په شکل کښې متشکل شوې دې.هلته نورو هغه لیدلې دې.لکه په کتاب الایمان کښې چه تیرشوی دی.((هذا جبرئیل جاء کم یعلمکم دینکم)) [1]

[۳۸۹۳]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْمَاءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ بْنُ أَسْمَاءَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلَّا فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَأَدْرَكَ بَعْضَهُمْ الْعَصْرُ فِي الطَّرِيقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا نُصَلِّي حَتَّى نَأْتِيَهَا وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّي لَمْ يُرِدْ مِنَّا ذَلِكَ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِنْهُمْ[ر:۹۰۴]

دا روایت هم په دې سند او متن سره په ((أبواب الخوف)) کښې په ((باب صلاة الطالب والمطلوب)) کښې تیرشوې دې.په دې روایت کښې دی.چه نبی ﷺ اوفرمائیل. د ماازیګرمونځ هم په بنې قریظه کښې اوکړئ.اودمسلم په روایت کښې د ماازیګر په ځاې د ماسپخین ذکردې.[2] دعاموکتب حدیث نه د ماسپخین د روایت تائید معلومیږی.اواهل سیراو مغازی د ماازیګرذکرکوی.

په دواړو کښې تطبیق داسې کیدې شی.ممکن ده.چه لښکربه دوو حصو کښې تقسیم شوې وی. یوه حصه به د ماسپخین نه وړاندې روانه کړې شوې وی. اوهغه ته ئې وئیلی وی.چه دماسپخین مونځ به په بنو قریظه کښې کوئ.او بله حصه ئې د ماسپخین نه پس روانه کړې وی.اوهغوی ته ئې وئیلی وی.چه دماازیګر مونځ به په بنو قریظه کښې کوئ.یا داسې وئیلی شی.چه په لښکرکښې داسې کسان هم وو.چاچه د ماسپخین مونځ نه وو کړې.هغوی ته ئې وئیلی وی.چه د ماسپخین مونځ هلته اوکړئ.او نور کسان چاچه دماسپخین مونځ کړې وو.هغوی ته ئې وئیلی وی.چه تاسو هلته د ماازیګر مونځ اوکړئ.

قوله: فَأَدْرَكَ بَعْضَهُمْ الْعَصْرُ فِي الطَّرِيقِ: بعضې صحابو رضی الله عنهم په لار کښې ماازیګر رالاندې کړو.یعنی د ماازیګروخت پرې په لار کښې راغلو. نو بعضو اووئیل.چه مونږ خو به بنو قریظه ته ځو.اوهلته به مونځ کوو.ځکه چه نبی ﷺ دا فرمائیلی وو.چه په بنو قریظه

---

[1])حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.((واختلفوا فی رؤیة جبرئیل علیه السلام هل تجوز لغیرالنبی ﷺ أو لا؟ فمنهم من جوزها ومنهم من أنکرها.والظاهر من هذا اللفظ أنه لما رأی الغبار ساطعاً ولم یر راکباً ظن أنه جبریل علیه السلام وذلک إذا کان فی صورته أما إذا تمثل فی صورة رجل فقد راه أخرون أیضاً کما مر فی الإیمان ..هذا جبرئیل جاء کم یعلمکم دینکم)) (فیض الباری(١٤/١٠٠)_

[2])صحیح مسلم کتاب الجهاد باب المبادرة بالغزو رقم الحدیث (٤٣٦٥)_

کښې به مونځ کوئ. او بعضو اووئیل. چه مونږ مونځ کوو.ځکه چه د نبی ﷺ د وینا مقصد دا نه وو.که لاره کښې درباندې د مازیګر مونځ راشی.نو هم مونځ مه کوئ.بلکه د نبی ﷺ مقصد تعجیل وو.چه زرترزره بنو قریظه ته اورسئ.بیا روسته د نبی ﷺ په وړاندې ددې ذکر اوشو.نو نبی ﷺ په چا باندې هم د خفګان اظهار اونکړو.

سوال دا دې.چه دلته دچا عمل غوره دې.په لار کښې د مونځ کونکو.او که د هغه حضراتو څوك چه بنو قریظه ته لاړل.او مونځ ئې اوکړو.ابومحمد بن حزم ظاهری رحمه الله فرمائی.که مونږ په دغه ځاې کښې وو.نو که د بنو قریظه رسیدو کښې څو کاله لګیدل.هم به مونږ د مازیګر مونځ د بنوقریظه نه وړاندې نه کولو. خوحافظ ابن قیم رحمه الله په زادالمعاد کښې د هغه کسانو فعل ته ترجیح ورکړې ده.چا چه په لار کښې مونځ اوکړو.اود مازیګر مونځ ئې په خپل وخت کښې اوکړو.ځکه چه دغه کسانو دوه فضیلتونه حاصل کړل.یو فضیلت د مونځ په خپل وخت کښې د ادا کولو.او دویم فضیلت په جهاد کښې د حصې اخستلو.اوزر ترزره بنو قریظه ته د رسیدو فکر خو هغوی سره هم وو.نو هغوی په لاره کښې مونځ اوکړو.اوچه څنګه اورسیدل.نو مورچې جوړول ئې شروع کړې.ددې وجې د دوی فعل ته ترجیح ورکړې شوه.([1])

[۳۸۹۳]حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ وحَدَّثَنِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ حَتَّى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرَ وَإِنَّ أَهْلِي أَمَرُونِي أَنْ آتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ الَّذِي كَانُوا أَعْطَوْهُ أَوْ بَعْضَهُ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَعْطَاهُ أُمَّ أَيْمَنَ فَجَاءَتْ أُمُّ أَيْمَنَ فَجَعَلَتْ الثَّوْبَ فِي عُنُقِي تَقُولُ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَا يُعْطِيكَهُمْ وَقَدْ أَعْطَانِيهَا أَوْ كَمَا قَالَتْ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَكِ كَذَا وَتَقُولُ كَلَّا وَاللَّهِ حَتَّى أَعْطَاهَا حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ عَشَرَةَ أَمْثَالِهِ أَوْ كَمَا قَالَ [ر:۲۹۶۰]

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی.چه دانصارو کسانو به د نبی ﷺ دپاره د قجورو ونې متعین کولې.(اونبی ﷺ به هغه قجورې مهاجرینوته ورکولې) تردې چه د بنو قریظه او بنو نضیرقبائل فتح شول.(نو نبی ﷺ هغه قجورې دمهاجرینو نه واخستې. او انصارو ته ئې واپس کړې.اود قریظه او نضیر مالونه ئې په مهاجرینوکښې تقسیم کړل) په دغه وخت کښې زما کوروالا زه د نبی ﷺ په خدمت کښې اولیږم.چه دهغه ونو په باره کښې کومې چه د کور خلقو هغوی ته ورکړې دی.تپوس ترې اوکړئ. (چه هغه ونې به مونږ ته واپس کولې شی که نه ؟) نبی ﷺ هغه ونې حضرت ام ایمن رضی الله عنها ته ورکړې وې.په دې کښې حضرت ام ایمن رضی الله عنها راغله.اوزما په څټ کښې ئې څادر واچولو.او وې وئیل.هیڅ کله نه، قسم دی وی په

[1])حافظ ابن قیم رحمه الله لیکی.((بل الذین صلوها فی الطریق فی وقتها حازوا قصب السبق،وکانوا أسعد بالفضیلتین فإنهم بادروا إلی إمتثال أمره فی الخروج وبادروا إلی مرضاته فی الصلاة فی وقتها ثم بادروا إلی اللحاق بالقوم فحازوا فضیلة الجهاد وفضیلة الصلاة فی وقتها وفهموا ما یراد منهم وکانوا أفقه من الآخرین (وانظرزاد المعاد (۱۳۱|۳)_

هغه ذات چه دهغه نه سوا بل څوك معبود نشته.نبی ﷺ به دا ووني تاته درنكړی.دا خو هغوی ماته راكړی دی.او نبی ﷺ ام ايمن ته اووئيل. مونږ به تا ته ددې په بدله كښې نورې دركړو.او هغې به وئيل.په الله قسم زه خو ئې نه واپس كوم.تردې چه نبی ﷺ حضرت ام ايمن ﷺ ته دهغه وونو په لس چنده نورې وركړې.نوهله هغه د حضرت انس ﷺ د وونو په واپس كولو باندې راضی شوه.

حضرت ام ايمن ﷺ د نبی ﷺ رضاعيه (پئ وركونكې) وه.هغې په وركوتوالی كښې نبی ﷺ ته په خپله جولئ كښې خوراك وركړې وو.او نبی ﷺ به هغې ته مور وئيل.نودهغې قدر به ئې كولو.دې د حبشه سره تعلق ساتل.او عربی ژبه ئې سمه نشوه وئيلې.يوځل د جنګ په موقع هغې مسلمانانوته د دعا په طور اووئيل.«سبت الله أقدامكم» د ،،ثاء، په ځاې ئې ،،س،، اووئيل.ددې جملې معنی ده.الله تعالی دې ستاسو پښې كټ كړی.حالانكه هغې د غوښتل.چه الله تعالی دې ستاسو قدمونه مضبوط كړی.نبی ﷺ چه كله دا واوريدل.نو وې وئيل.«أسكتي يا ام أيمن إنك عفراء اللسان» (١) اې ام ايمن ته چپ شه.ستا ژبه ډيره سخته ده.يعنی غوارې يو څه واې بل څه.

د روايت مذكوره نه د حضرت كنګوهی ﷫ استدلال: حضرت كنګوهی ﷫ فرمائی.چه انصارو دا وونې د هبې په طور وركړې وې.اونبی ﷺ وراندې حضرت ام ايمن ﷺ ته هم هبه كړې وې.اوس دهغې واپسی كيږی.معلومه شوه.چه رجوع فی الهبه جائز ده.كوم چه د احنافو ﷭ مسلك دې.حافظ ابن حجر ﷫ چونكه شافعی المذهب دې.ددې وجې رجوع فی الهبه ته جائز نه وائی.ددې وجې هغوی وائی.چه دا عاريت وو.(٢)

حضرت كنګوهی ﷫ فرمائی.كه دا عاريت وو.نو عاريت وراندې هبه كول څنګه صحيح كيدې شی.حالانكه نبی ﷺ وراندې دا ام ايمن ﷺ ته هبه كړې وې.اوكه ته دا اووائې.چه

---

(١) دحضرت ام ايمن نوم بركته وو.ايمن ددې خوې وو.كوم چه ددې د اولنی خاوند عبيدبن زيد نه پيدا شوې وو.ايمن ته د نبی ﷺ د صحبت اوپه جنګ خيبر كښې د شهادت سعادت حاصل شوې وو.د عبيدبن زيد نه پس حضرت ام ايمن رضی الله عنها د نبی ﷺ متبنی او مشهور صحابی حضرت زيد بن حارثه ﷺ سره نكاح اوكړه.اود هغې نه حضرت اسامه پيدا شو.حضرت ام ايمن رضی الله عنها چونكه د نبی ﷺ تربيت كړې وو.ددې وجې به نبی ﷺ وخت په وخت حضرت ام ايمن رضی الله عنها كره تشريف اوړل.كله چه نبی كريم ﷺ وفات شو..نوحضرت صديق اكبر ﷺ عمر فاروق ﷺ ته اووئيل.چه رسول الله ﷺ به ام ايمن رضی الله عنها كره تشريف اوړل.راځه چه نن مونږ هم هغې كره لاړ شو.كله چه دا دواړه حضرات د هغې كور ته ورداخل شول.نو ام ايمن رضی الله عنها په ژړا شوه.هغوی ورته اووئيل. ته ولې ژاړې.د الله تعالی سره چه د نبی ﷺ دپاره څه دی.هغه د دنيا نه غوره دی.نو دوی اووئيل. زه ددې وجې نه ژاړم.چه نبی ﷺ وفات شو.بلكه ددې وجې ژاړم.چه د آسمانی وحی سلسله بنده شوه.چه دا ئې واوريدل.نو حضرت ابوبكرصديق اوحضرت عمررضی الله عنهما هم په ژړا شول.دحضرت ام ايمن رضی الله عنها وفات د حضرت عثمان ﷺ په دور خلافت كښې شوې وو.(دتفصيل دپاره اوګورئ) الإصابة (٤٣٢/٤)_

(٢) فتح الباری(٤١١/٧)_

حضرت ام ایمن رضی الله عنها ته په عاریت ورکړې شوې وې.نودا خبره په پوهه کښې نه راځي.که هغې ته د عاریت په طور ورکړې شوې وې.نو بیا هغې د واپس کولونه ولې انکار کولو.د هغې انکار کول دلالت کوی.چه دا هبه وه.او هبه واپس اخستل دلیل دې.ددې خبرې چه رجوع فی الهبه جائز ده.(۱) والله اعلم

[۳۸۹۵] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ نَزَلَ أَهْلُ قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى سَعْدٍ فَأَتَى عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ لِلْأَنْصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ أَوْ خَيْرِكُمْ فَقَالَ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ فَقَالَ تَقْتُلُ مُقَاتِلَتَهُمْ وَتَسْبِي ذَرَارِيَّهُمْ قَالَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللَّهِ وَرُبَّمَا قَالَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ [ر:۲۸۷۸]

دا روایت د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه دې.دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نوم سعد بن مالك رضی الله عنه دې.فرمائی.چه «نزل أهل قريظة على حكم سعد بن معاذ رضی الله عنه» بنو قریظه د سعدبن معاذ رضی الله عنه په حکم او فیصله باندې راکوزیدل منظور کړل.

په حقیقت کښې بنو قریظه د قلعونه راکوزیدو ته بیخی تیار نه وو.خو چه کله هغوی ته معلومه شوه.چه سعدبن معاذ رضی الله عنه زمونږ فیصله کوی.نو راکوزیدو ته تیار شول.ځکه چه حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه د اوس قبیلې سردار وو.اود اوس او بنو قریظه په مینځ کښې حلیفانه تعلقات وو.بنوقریظه خیال اوکړو.چه اوس زمونږ فیصله د سعد بن معاذ رضی الله عنه په لاس کښې دد.اوهغه به خامخا زمونږ په حق کښې د آسانو نه آسانه فیصله کوی.هغه خلق راکوز شو.نبی صلی الله علیه وسلم د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه د راغوستلو دپاره سړې اولیږل.حضرت سعد رضی الله عنه نزدې جمات سره یوې خیمه کښې مقیم وو.(۲) نوهغه په خر باندې سور راغلو.

قوله: فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ: کله چه هغه جمات ته نزدې شو.بعضې خلق وائی.چه دلته د جمات نه مراد مسجد نبوی دې.خودا غلطه ده.بلکه دلته د جمات نه هغه عارضی ځاې مراد دې.کوم چه د محاصرې په دوران کښې نبی صلی الله علیه وسلم د بنو سلمه په کوروکښې عارضی

---

(۱) حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی...

قوله فأسالة الذي كاوا أعطوه فيه دلالة على على جواز الرجوع فى الهبة .وأن الموهوب له إذا وهبه الآخر لم يملك الواهب الأول ردها من الموهوب له الأول ولذلك أمر النبى صلی الله علیه وسلم أم أيمن أن تردها إليهم ولو ملك ردها بنفسه النفسية لما إفتقر إلى ذلك .. وجواز الرجوع فى الهبة ظاهر برجوع الأنصار فيما كانوا أعطوه ولايمكن حمله على أنه كان عارية لا هبة لأنه لوكان العارية لما أعطى النبى صلی الله علیه وسلم عطية أم أنس لأم أيمن إذ لا يجوز هبة العارية .. وانظرلامع الدرارى (۸/۳۳۲)_

(۲) دا خیمه نبی صلی الله علیه وسلم جمات سره نزدې د هغه دپاره لګولې وه.دې دپاره چه هغه تپوس په آسانتیا سره کوی.اوګورئ دلائل بیهقی (۳/۲۶)_

طور جوړ کړې وو.(۱) دا ځاې بنو قريظه ته نزدې وو.بنو قريظه د مدينې منورې نه د شپږ ميله په فاصله باندې وو.(۲)

قوله: قَالَ لِلْأَنْصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ أَوْ خَيْرِكُمْ: نبی ﷺ انصارو ته اوفرمائيل. دخپل سردار د تعظيم دپاره اودريږئ.يا تاسو کښې د غوره د تعظيم دپاره اودريږئ.

د قيام تعظيم مسئله: دچا د تعظيم دپاره ا ودريدل جائز دی که ناجائز. په دې کښې د عالمانو ﷺ مختلف اقوال دی.امام نووی د تعظيم قيام د ثبوت دپاره يوه مستقله رساله ليکلې ده.ابن الحاج د هغوی ترديد کړې دې.اوهغوی دموقف د غلط ثابتولو کوشش ئې کړې دې.دغه شان د فريقينو د طرفه په مسئله کښې ليکلی شی.

خو قول فيصل دا دې.چه د اهل کرم او اهل فضل په تعظيم کښې اودريدل نه صرف دا چه جائز دی بلکه بهتر او غوره دی.خودا اجازت په دوو شرطونو پورې مشروط دې.

① يو دا چه د چا دپاره اودريږی.دهغه په زړه کښې دا طلب نه وی.چه خلق دې زما دپاره اودريږی.که د هغه په زړه کښې دا خواهش وی.نو بيا اودريدل جائز نه دی.

② دويم شرط دا دې.چه د اودريدونکی په زړه کښې د اودريدو داعيه وی.که په زړه کښې ئې هغه ته د اودريدو داعيه نه وی.صرف د خودلې اوتملق په وجه اودريدلی وی.نو بيا اودريدل جائز نه دی.(۳)

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۷/۴۱۲)_

(۲) البدری الساری حاشية فيض الباری (۴/۱۰۱)_

(۳) دچا دپاره د اودريدو مختلف صورتونه کيدی شی.په هغې کښې صرف يو صورت د (قيام تعظيمی) په حکم کښې اختلاف دې.دباقی صورتونو حکم ښکاره او متفق عليه دې.،،

① اولنې صورت دا دې.چه سردار ناست وی.اوحاضرين دهغه په تعظيم اوتکريم کښې مسلسل ولاړ وی.دا صورت بالاتفاق ناجائز دی.

② دويم صورت دا دې.چه د راتلونکی په زړه کښې تکبر وی.دهغې په وجه هغه غواړی.چه خلق زما دپاره اودريږی.دا صورت هم په اتفاق سره ناجائز دې.

③ دريم صورت دا دې.چه د راتلونکی په زړه کښې لوې والې اوتکبر نه وی.خو دا ويره وی.چه د خلقو په اودريدو سره به دده په زړه کښې لوې پيدا شی.نو د داسې کس دپاره اودريدل مکروه دی.

④ څلورم صورت دا دې.چه د چا په راتلو د خوشحالئ د وجې انسان د هغه د استقبال دپاره اودريږی.نو دا صورت نه يواځې دا چه جائز دې.بلکه مستحب او مندوب هم دې.

⑤ پنځم صورت دا دې.چه يوکس ته د الله تعالی دطرفه څه نعمت ملاؤ شوې وی.هغه کس ته د مبارکئ دپاره څوك اودريږی.نودا صورت هم مستحب اومندوب دې.

⑥ شپږم صورت دا دې.چه په چا باندې څه مصيبت راغلې وی.دهغه د تسلئ دپاره څوك هغه ته اودريږی.نودا هم مستحب اومندوب دې.

⑦ اووم صورت دا دې.چه د راتلونکی د تعظيم دپاره څوك اودريږی.خو د راتلونکی په زړه کښې د خپل ځان دپاره د دې تعظيمی اودريدو خواهش اوتمنا نه وی.،، ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

حضرت سعد بن معاذ ﷛ چه کله راغلو.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل. دا خلق ستا په فیصله باندې راضی شوی دی.حضرت معاذ ﷛ په دغه موقع باندې د نبی ﷺ نه دا تپوس هم اوکړو.چه زما فیصله به په چا باندې نافذ کیږی.نبی ﷺ اوفرمائیل.په ټولو به نافذ کیږی.عرض ئې اوکړو.په تاسو به هم نافذ کیږی.نبی ﷺ اوفرمائیل. آو په ما به هم نافذ کیږی.(۱) په دغه وخت کښې حضرت سعد ﷛ فیصله اوکړه.چه د دوی جنګجو سړی دې قتل کړې شی.اوددوی ښځې اوماشومان دې قید کړې شی.نبی ﷺ حضرت سعد ﷛ ته اوفرمائیل. تا د الله تعالی د حکم مطابق فیصله اوکړه.

مولانا شبلی ﷫ فرمائیلی دی.چه په تورات کتاب تثنیه ،اصبحاح نمبر شل آیت نمبر لسم کښې دی.که یو قوم په محاصره کښې بندیوان کړې شی.نوپه هغوی کښې چه څومره سړی وی.هغه دې قتل کړې شی.اوکوم ځیزونه چه په هغوی کښې وی.هغه ټول دې مال غنیمت شمار کړې شی.(۲) چونکه حضرت سعد ﷛ د تورات دحکم مطابق فیصله اوکړه.ددې وجې نبی ﷺ هغه ته اوفرمائیل.((قضیت بحکم الله))

خوظاهره دا ده.چه په دغه وخت کښې په نبی ﷺ باندې وحی راغلې وه.اود هغې په ذریعه نبی ﷺ ته د الله تعالی فیصله خودلې شوې وه.حضرت سعد ﷛ چه کله ټیک هم هغه شان فیصله اوکړه.دکومې خبر چه نبی ﷺ ته د وحی په ذریعه شوې وه.نو نبی ﷺ اوفرمائیل. ((قضیت بحکم الله)) والله اعلم.

[۳۸۹۶] حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ أُصِيبَ سَعْدٌ يَوْمَ الْخَنْدَقِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُقَالُ لَهُ حِبَّانُ بْنُ الْعَرِقَةِ رَمَاهُ فِي الْأَكْحَلِ فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْمَةً فِي الْمَسْجِدِ لِيَعُودَهُ مِنْ قَرِيبٍ فَلَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْخَنْدَقِ وَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنْ الْغُبَارِ فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللَّهِ مَا وَضَعْتُهُ اخْرُجْ إِلَيْهِمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ فَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ فَأَتَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

..دتیرمخ بقیه] نورااووم صورت مختلف فیه دې.د طرفینو دلائل وړاندې په ((کتاب الاستیذان باب قول النبی ﷺ قوموا إلی سیدکم)) لاندې حافظ ابن حجر ﷫ بیان کړی دی.انشاء الله پوره تفصیل به هلته کښې راشي.(د ذکرشوو اووه صورتونو دپاره اوګورئ تکملة فتح الملهم (۱۳۶۱۳و ۱۲۷)

د حضرت شیخ الحدیث مد ظلهم په تقریر کښې د مذکوره قیام تعظیمی نه هم دا اووم صورت مراد دې،کوم ته چه د دوو شرطونو سره افضل او غوره وئیلې شوې دې.او هم دې ته مولانا ظفر احمد عثمانی ﷫ په ..اعلاء السنن،، کښې ..احق بالعمل،، وئیلې دې.. اوګورئ اعلاء السنن (۳۹۱۱۷) والله اعلم.

(۱) السیرة الحلبیة (۳۳۹۱۲)_

(۲) اوګورئ سیرة النبی ﷺ از شبلی نعمانی ﷫ (۲۵۳۱۱)_

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلُوا عَلَى حُكْمِهِ فَرَدَّ الْحُكْمَ إِلَى سَعْدٍ قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ فِيهِمْ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَأَنْ تُسْبَى النِّسَاءُ وَالذُّرِّيَّةُ وَأَنْ تُقْسَمَ أَمْوَالُهُمْ

قوله: رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُقَالُ لَهُ حِبَّانُ بْنُ الْعَرِقَةِ، رَمَاهُ فِي الْأَكْحَلِ: حضرت عائشه ﷺ فرمائي.چه د قريشو يو سړى چه هغه ته ئې حبان بن عرقه ونيل.حضرت سعد بن معاذ ﷺ په تير باندې ويشتلې وو.او تير باندې ئې دهغه د مټ رګ ويشتلې وو. مارګولوس يو عيسائى پادرى دې.هغه وائى.چه حضرت سعد ﷺ يو قرظى په تير باندې ويشتې وو.ددې وجه هغه سخته فيصله د انتقام په وجه اوکړه.خودا دروغ دى.دلته د بخارى ﷺ په روايت كښې تصريح ده.چه حضرت سعد بن معاذ ﷺ يو قريشى په تير باندې ويشتې وو.

قوله: فَأَتَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلُوا عَلَى حُكْمِهِ: نبى ﷺ بنو قريظه ته راغلو.(يعنى نبى ﷺ دهغوى محاصره كړې وه) نوبنو قريظه د نبى ﷺ په فيصله باندې راكوز شول.چه كومه فيصله تاسو كوئ.مونږ ته منظور ده.دا هم په رواياتوكښې راغلى دى.چه يهود اول د حضرت سعد ﷺ په فيصله باندې راضى شوى وو.([1]) او دلته د بخارى په روايت كښې دى.چه د نبى ﷺ په فيصله باندې راضى شوى وو.په دواړه قسمه روايتونو كښې تطبيق ممكن دې.كيدې شى چه هغوى ته علم شوې وو.چه نبى ﷺ فيصله په خپله نه كوى.بلكه حضرت سعد ﷺ ته به ئې حواله كوى.ددې وجې دوى د نبى ﷺ په فيصله باندې راضى شوى وو.

قَالَ هِشَامٌ فَأَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ سَعْدًا قَالَ اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أُجَاهِدَهُمْ فِيكَ مِنْ قَوْمٍ كَذَّبُوا رَسُولَكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخْرَجُوهُ اللَّهُمَّ فَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّكَ قَدْ وَضَعْتَ الْحَرْبَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ فَإِنْ كَانَ بَقِيَ مِنْ حَرْبِ قُرَيْشٍ شَيْءٌ فَأَبْقِنِي لَهُ حَتَّى أُجَاهِدَهُمْ فِيكَ وَإِنْ كُنْتَ وَضَعْتَ الْحَرْبَ فَافْجُرْهَا وَاجْعَلْ مَوْتَتِي فِيهَا فَانْفَجَرَتْ مِنْ لَبَّتِهِ فَلَمْ يَرُعْهُمْ وَفِي الْمَسْجِدِ خَيْمَةٌ مِنْ بَنِي غِفَارٍ إِلَّا الدَّمُ يَسِيلُ إِلَيْهِمْ فَقَالُوا يَا أَهْلَ الْخَيْمَةِ مَا هَذَا الَّذِي يَأْتِينَا مِنْ قِبَلِكُمْ فَإِذَا سَعْدٌ يَغْذُو جُرْحُهُ دَمًا فَمَاتَ مِنْهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [ر:۴۵۱]

داتعليق نه دې.بلكه د ماقبل سند سره دې.حضرت عائشه ﷺ فرمائى. چه حضرت سعد ﷺ دا دعا كړې وه.اې الله تاته ښه پته ده.چه ددې خبرې نه زياته خوښه ماته بل څه نشته.چه زه ستا په لار كښې دهغه قوم سره جهاد كوم.چا چه ستا د رسول تكذيب كړې دې.اوهغه ئې د خپل وطن نه راويستې دې.اې الله اوس زما ګمان دې.چه د هغوې او زمونږ په مينځ كښې تاسو جنګ ختم كړې دې.خو كه د قريشو سره څه جنګ باقى وى.نو ما دهغې دپاره ژوندې اوساته.تردې پورې چه زه ستا په لاره كښې دهغوى سره جهاد اوكړم.اوكه تاسو دهغوى سره

[1])ددې روايتونو د تفصيل دپاره اوګورئ دلائل بيهقى (۱۸/٤ تا ۲۵) باب نزول بنى قريظة على حكم سعد بن معاذ ﷺ)_

زمونږ جنګ ختم کړې وی.نوزما ددې زخم (دا وینه) اوبیوه.اوپه دې کښې زما مرګ واقع کړه.

قوله: فَانْفَجَرَتْ مِنْ لَبَّتِهِ فَلَمْ يَرُعْهُمْ وَفِي الْمَسْجِدِ خَيْمَةٌ مِنْ بَنِي غِفَارٍ إِلَّا الدَّمُ يَسِيلُ إِلَيْهِمْ: دسینې نه دهغه د زخم وینه روانه شوه.په جمات کښې د بنی غفاریوه خیمه وه.کله چه وینه دهغوی طرف ته اوبیدله.نوهغوی اوویریدل.

خلقو چه کله وینه اولیده.نو وې وئیل. دا وینه د کوم ځاې نه راغله.چه وې کتل نو دحضرت سعد رضی الله عنه د زخم نه هغه روانه وه.هم دهغې د وجې هغوی وفات شو

دلته چا ته دا ګمان کیدې شی.چه حضرت سعد رضی الله عنه چه کومه دعا کړې وه.هغه قبوله نشوه.ځکه چه هغوی دعا کړې وه.که د قریشو سره دجنګ څه سلسله باقی وی.نو ما ژوندې اوساته.نو د فتح مکه په ورځ د قریشو سره جنګ اوشو. خو حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه د هغه زخم د وجې وفات شوې وو.

① دلته ددې یو جواب دا ورکړې شوې دې.چه د هرې دعا په دنیا کښې قبلیدل څه ضروری نه وی.بعضې دعاګانې په دنیا کښې نه قبلیږی.خو الله تعالی په آخرت کښې هغه د ترقئ ذریعه جوړه کړی.دحضرت سعد رضی الله عنه دا دعا هم الله تعالی د آخرت د ترقئ ذریعه جوړه کړه.

② خوغوره جواب دا دې.چه دحضرت سعد رضی الله عنه مقصد دا وو.که داسې جنګ وی.چه په هغې کښې قریش اقدام اوکړی.نو دهغه جنګ دپاره ما ژوندې اوساته.اودفتح مکې په موقع باندې قریشو اقدام نه وو کړې.بلکه مسلمانان په مکه باندې د قبضې کولو دپاره تلی وو.اوپه هغې کښې هم د قریشو سره د څه د سخت جنګ نوبت نه وو راغلې.بلکه خالد بن ولید رضی الله عنه سره د مسلمانانو یوه وړه غوندې ډله وه.هغوی ته د کافرانو د معمولی مقابلې نوبت راغلې وو.نوالله تعالی په دنیا کښې هم د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه دعا قبوله کړې وه.اوهغه ئې خپل طرف ته اوبلل.

حافظ ابن حجر رحمه الله د مستدرك حاکم روایت نقل کړې دې.چه کله حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شو.نو دهغه دپاره د آسمان ټولې دروازې پرانستې شوې. اودهغوی د روح په تلو باندې فرشتې خوشحاله شوې.[1]

اوحافظ ابن کثیر رحمه الله په «البداية والنهاية» کښې نقل کړی دی.چه کله حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شو.نودهغوی په جنازه کښې د شرکت دپاره اویا زره فرشتې راغلې وې. کومې چه ددې نه وړاندې چرته د آسمان نه نه وې راکوزې شوې.[2] دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې.چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.چه دحضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په مرګ سره عرش خوزیدلې وو.[3]

---

[1])فتح الباری (۱۲٤\۷) باب مناقب سعد بن معاذ رضی الله عنه_

[2])اوګورئ البداية والنهاية (۱۲۸\٤)_

[3])اوګورئ ((الإصابة ۳۷\۲) حافظ ابن کثیر په ((البداية والنهاية)) کښې داسې قسم ډیر روایات جمع کړی دی.اوګورئ (البداية والنهاية باب وفاة سعد بن معاذ رضی الله عنه (۱۲۶\٤و ۱۳۰)_

[۳۸۹۷] حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيٌّ أَنَّهُ سَمِعَ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَسَّانَ اهْجُهُمْ أَوْ هَاجِهِمْ وَجِبْرِيلُ مَعَكَ وَزَادَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ اهْجُ الْمُشْرِكِينَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ مَعَكَ [ر: ۳۰۴۱]

بَاب = غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ

وَهِيَ غَزْوَةُ مُحَارِبِ خَصَفَةَ مِنْ بَنِي ثَعْلَبَةَ مِنْ غَطَفَانَ فَنَزَلَ نَخْلًا وَهِيَ بَعْدَ خَيْبَرَ لِأَنَّ أَبَا مُوسَى جَاءَ بَعْدَ خَيْبَرَ

رقاع د رقعه جمع ده.پتیٔ او چیرړې ته وائی.ددې غزوې په وجه تسمیه کښې مختلف اقوال دی.① یوه خبره په دې باره کښې دا شوې ده.چه چونکه په دې غزوه کښې د زیات مزل د وجې د صحابه کرامو رضی الله عنهم په پښو کښې پولئ راختلې وې.ددې وجې هغوی د خپلو جامو پتیٔ اوچیرړې په خپلو پښوباندې اوتړلې.د دې وجې دې ته ،،غزوه ذات الرقاع،، وائی.هم په دې باب کښې وړاندې د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه روایت راخی.په هغې کښې دی.((فسمیت غزوة ذات الرقاع لما کنا نعصب من الخرق علی أرجلنا))

② بعضې حضراتو وئیلی دی.چه دې غزوۀ ته ،،غزوه ذات الرقاع،، د دې وجې وائی.چه ((انهم رقعوا رایاتهم)) یعنی په دې غزوه کښې صحابو رضی الله عنهم رنګ په رنګ بیرغونه جوړ کړی وو.[1]

③ واقدی اوابن سعد رحمهما الله وئیلی دی.چه ،،ذات الرقاع،، د یوغر نوم دی.په کوم کښې چه دمختلفو رنګونو نښې وې.چونکه ددې غزوې په موقع نبی صلی الله علیه وسلم هلته قیام کړې وو.ددې وجې ددې غزوې نوم ،،ذات الرقاع،، کیخودې شو[2]

④ ابن حبان رحمه الله فرمائیلی دی.چه ددې غزوې نوم ذات الرقاع ددې وجې کیخودې شوې دې.چه ددوی لښونه د مختلفو رنګونو وو.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دابن حبان رحمه الله دا قول په تصحیف باندې مبنی ده.هغه ((جهل)) لره ((خیل)) وئیلی دی.[3]

⑤ بعضې مالکیانوعالمانو رحمهم الله د غزوه ذات ا لرقاع دنوم یوه عجیبه وجه بیان کړې ده.هغوی فرمائیلی دی.چه دې غزوې ته ،،غزوه ذات الرقاع،، د دوې وجې وائی.چه

---

[1])البدایة والنهایة (۸۳\٤)_
[2])طبقات ابن سعد(٦١\٢) والبدایة والنهایة (۸۳\٤)_
[3])فتح الباری(٤١٩\٧)_

صحابوﷺ په دې کښې صلاة الخوف ادا کړې وو.اوپه مانځه کښې پیوند لګولې شوې وو.چه یوې ډلې یو رکعت کړې وو.اوتلې وه.اوبیا بله ډله راغلې وه. اویو رکعت ئې کړې وو.او بیا واپس تلې وه.اوبیا اولنئ ډله راغلې وه.اوهغې مونځ پوره کړې وو.اوددې نه پس بیا دویمه ډله راغلې وه.اوهغې مونځ پوره کړې وو .نو چونکه صحابوﷺ مونځ ټکړې ټکړې او حصې حصې کړې وو.ددې وجې دې غزوې ته غزوه ذات الرقاع وائی.([1])

علامه نووی رحمه الله فرمائیلی دی.چه په دې ټولو توجیهاتوکښې څه تعارض نشته.چه ددې ټولو اسبابو او وجوهو په بناء باندې ددې غزوې نوم دا کیخودې شوې وی.([2])

دغزوه ذات الرقاع سبب: ددې غزوې سبب دا وو.چه نبیﷺ ته خبر ملاؤ شو.چه د بنو غطفان دوه قبیلې بنو محارب اوبنو ثعلبه لښکرجمع کوی.اودغه خلق د مسلمانانو خلاف منظم کیږی.نو نبیﷺ ددې نه وړاندې چه هغه خلق حمله اوکړی.څلور سوه صحابه ﷺ ځان سره واخستل.اوپیش قدمی ئې اوکړه.([3])

دغزوه ذات الرقاع د تاریخ په واقع کیدو کښې اختلاف: ددې غزوې د واقع کیدو په تاریخ کښې د اهل سیر اختلاف دې.

① د یوې ډلې راې دا ده.چه دا غزوه په ۴ھ کښې واقع شوې وه.

② دبعضې حضراتو خیال دې.چه دا په ۵ھ کښې واقع شوې وو.([4])

③ دامام بخاری رحمه الله دا رائې ده.چه دا غزوه په ۷ھ کښې د غزوه خیبر نه پس واقع شوې وه.او امام بخاری رحمه الله په دلائلو سره دا ثابته کړې ده.نوامام بخاری رحمه الله فرمائی.((وهی بعد خیبرلأن أباموسی جاء بعد خیبر))

① دامام بخاری رحمه الله اولنې دلیل دا دې.چه په دې غزوه کښې حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه شرکت کړې دې.لکه څنګه چه ددوی روایت هم په دې باب کښې راځی. بل طرف ته دا خبره متفق علیه ده.چه حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د خیبر د فتحې نه پس مدینې ته تشریف راوړې وو.نو په غزوه ذات الرقاع کښې د دوی شرکت ددې خبرې واضح دلیل دې.چه دا غزوه د فتح خیبر نه پس واقع شوې ده.

ابن سید الناس رحمه الله د امام بخاری رحمه الله دا استدلال رد کوی. اوفرمائی. چه دحضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه په دې روایت باندې چه غزوه ذات الرقاع د غزوه خیبر نه پس واقع شوې ده.څه دلالت نه کوی.حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن سید الناس رحمه الله په دې قول باندې د تعجب اظهار کړې دې.او فرمائیلی ئې دی.چه د ابن سید الناس د امام بخاری رحمه الله دا استدلال رد

---

[1])وفی فتح الباری (۴۱۹\۷) وأغرب الداودی فقال سمیت ذات الرقاع لوقوع صلاة الخوف فیها فسمیت بذلک لترقیع الصلاة فیها)_

[2])فتح الباری(۴۱۹\۷)_

[3])طبقات ابن سعد(۶۱\۲)_

[4])البدایة والنهایة (۸۳\۴)_

كول تيك نه دی.د دې روايت نه د امام بخاری رحمه الله په خپله مدعا باندې استدلال ښخی ښكاره دې.(١)

② دامام بخاری رحمه الله دويم استدلال د حضرت ابوهريره رضی الله عنه په روايت باندې دې. كوم چه وړاندې امام بخاری رحمه الله تعليقاً ذكركړې دې.خوپه ابوداود ،نسائي، طحاوی،مسند احمد او صحيح ابن حبان كښې دا روايت موصولاً منقول دې.په كومو كښې چه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه په غزوه ذات الرقاع كښې د شركت دې. او حضرت ابوهريره رضی الله عنه په اتفاق سره په غزوه خيبر كښې راغلې وو.نو په غزوه ذات الرقاع كښې د دوی شركت ددې خبرې ښكاره دليل دې.چه غزوه ذات الرقاع د خيبر نه پس شوې وه.حافظ ابن قيم او تقی الدين سبكی رحمهماالله هم د امام بخاری رحمه الله تائيد كوی.

③ هغوی دا دليل وركړې دې.چه په ابوداود كښې په يو روايت كښې ددې خبرې تصريح ده.چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د ټولو نه وړاندې صلاة الخوف په عسفان كښې ادا كړې وو.او غزوه عسفان د غزوه حديبيه نه پس واقع شوې ده.اودلته د بخاری په روايت كښې هم د صلاة الخوف ادا كول مصرح دی.ظاهره ده چه دا صلاة الخوف په غزوه عسفان كښې د صلاة الخوف نه پس شوې دې.اوكله چه غزوه عسفان د حديبيه نه پس شوې ده.نو يقيناً اوس به درې احتمالات وی.

يو خو دا چه غزوه ذات الرقاع د شپږمې هجرئ ښخی په آخره كښې اومنلې شی.چه په ٦ هجرئ كښې غزوه عسفان او حديبيه واقع شوې وې.اوپه دې كښې آخری دا غزوه تسليم كړې شی.

دويم احتمال به دا وی.چه دا غزوه د ٧هجرئ ښخی په اوائيلو كښې په محرم كښې اومنلې شی.په دې دواړو احتمالاتوكښې به د غزوه ذات الرقاع وقوع د غزوه خيبر نه وړاندې وی.

دريم احتمال دا دې.چه دا غزوه د خيبر نه پس اومنلې شی.نودا حضرات فرمائی. چه دلته دا درې واړه احتمالات شته.خوپه دې كښې اولنی دوه احتمالات داسې دی.چه د هغې تائيد په هيڅ قسم روايت سره نشی كيدې.حالانكه د دريم روايت تائيد د حضرت ابو موسی اشعری اوحضرت ابوهريره رضی الله عنهما په رواياتو سره كيږی.نو هم دا روايت به قابل قبول وی.او ونيلې به شی.چه غزوه ذات الرقاع د خيبر نه پس واقع شوې وه.(٢)

بعضې حضرات وائی.چه په حقيقت كښې غزوه ذات الرقاع دوه دی.يوه هغه د كومې ذكر چه اهل سير او اصحاب مغازی كوی.او دويمه هغه په كومه كښې چه حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه شريك وو.نود كومې ذات الرقاع ذكرچه اصحاب سير كوی.هغه د خيبر نه وړاندې واقع شوې وه.اوپه كوم كښې چه د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه شركت شوې دې. هغه د غزوه خيبر نه پس شوې ده.

---

(١) فتح الباری(٤١٨/٧)_

(٢) زادالمعاد (٢٥١/٣و ٢٥٢) وفتح الباری(٤١٨/٧)_

د غزوه ذات الرقاع په تعدد باندې دوی دا دليل پيش كوی.چه حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه چه په كوم روايت كښې په غزوه ذات الرقاع كښې دخپل شركت ذكر كوی.په هغې كښې هغوی ونيلى دى.چه مونږ شپږ كسان وو.اوپه يو اوښ به وار په وار سوريدو.اود كومې ذات الرقاع ذكرچه اصحاب مغازى كوی.په هغې كښې د نبى ﷺ سره دځلورو سوه صحابو رضي الله عنهم ډله وه.ددې نه معلوميږی.چه دا دواړه جدا جدا غزاګانې وې.په يوه كښې شپږ اوپه بله كښې څلور سوه كسان وو.(۱)

خو د غزوه ذات الرقاع په تعدد باندې دا استدلال ډير ضعيف دې.ځكه چه د حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه دا ونيل چه مونږ به شپږ كسان وار په وار په يو اوښ باندې سوريدو.دا نه لازميږی.چه د دوی سره په لښكر كښې بل څوك نه وو. ځكه چه كله لوې لښكر وی.نو خلق چه خې په مختلفو ټولګو كښې تقسيميږی. او بيا هغوی جدا جدا په خپلو خپلو ټولګو كښې ځی.ددې وجې حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه چه دا كوم ونيلى دى.چه مونږ شپږ كسان وو.د دې دا مطلب نه دې.چه ټول شپږ وو.بلكه مطلب دا دې.چه زمونږ ټولګې د شپږو كسانو وو.(۲)

امام بخارى رحمه الله غزوه ذات الرقاع د غزوه خيبر نه وړاندې ولې ذكر كړه؟ خو دا اشكال كيږی. چه هركله امام بخارى رحمه الله غزوه ذات الرقاع د غزوه خيبر نه پس تسليموی.نو پكار ده چه دا ئې د غزوه خيبر نه پس ذكر كړې وه.د غزوه خيبر نه ئې وړاندې ولې ذكر كوی.

① ددې يو جواب خو دا وركړې شوې دې.چه امام بخارى رحمه الله غزوه ذات الرقاع د غزوه خيبر نه وړاندې ځكه ذكر كړه.چه په تاريخ وقوع كښې د عامو اهل سير خبرې تسليمولو ته ئې اشاره كړې ده.

② دويمه وجه دا ده.چه امام بخارى رحمه الله نه بلكه د دوی نه د بخارى روايت كونكو روستنو راويانو دا د غزوه خيبر نه وړاندې ذكر كړې ده.(۳)

③ او دا هم ممكن دی.چه اختلاف طرف ته د اشارې كولو دپاره امام بخارى رحمه الله داسې كړې وی.والله اعلم.

قوله: وَهِيَ غَزْوَةُ مُحَارِبِ خَصَفَةَ مِنْ بَنِي ثَعْلَبَةَ مِنْ غَطَفَانَ :امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې دوه دعوې كړې دی.يوه دا چه غزوه ذات الرقاع د غزوه خيبر نه پس واقع شوې ده.اودويمه دعوه دا ده.چه غزوه ذات الرقاع او غزوه محارب خصفه دواړه يوه غزا ده. او د دې باب د آخره پورې امام بخارى رحمه الله دا دواړه دعوې په دلائلو سره ثابتې كړې دی.

په ،محارب خصفه، كښې د محارب اضافت ،،خصفه،، ته ددې وجې شوې دې.چه په عربو كښې دمحارب په نوم نورې قبيلې هم وې.محارب عبدالقيس .محارب فهر،د هغوی نه د

---

۱)فتح البارى(۴۱۸/۷) والبداية والنهاية (۸۳/۴)_

۲)فتح البارى(۴۱۹/۷)_

۳)اوګورئ د دې دواړو توجيهاتو دپاره فتح البارى (۴۱۷/۷)_

فرق دپاره ئې ،،محارب خصفه،، اووئيل.(١)

قوله: مِنْ بَنِي ثَعْلَبَةَ مِنْ غَطَفَانَ: دا عبارت د امام بخارى رحمه الله د اوهامو څخه دي.څکه چه ددې مطلب دا راوځي.چه محارب بن خصفه د ثعلبه په اولاد کښې دي.او د ثعلبه د محارب جد امجد دې.حالانکه حقيقت ددې نه خلاف دې.ثعلبه د محارب جد نه دې.بلکه پخپله ثعلبه د غطفان په اولاد کښې داخل دې.اوغطفان اوثعلبه دواړه د تره خامن وو.څکه چه غطفان د سعد بن قيس ورور وو.اومحارب دخصفه بن قيس خوئ وو. دغه شان خصفه او غطفان د سعد بن قيس خامن وو.اومحارب د خصفه بن قيس په خپله مينځ کښې د تره خامن وو.نو څکه عبارت د «من بنى ثعلبة» په ځاې په واو عاطفه «وبنى ثعلبة» سره کيدل پکار دى.هم دا وجه ده.چه حافظ ابن حجراوعلامه عينى رحمهما الله صحيح عبارت هم داسې نقل کړې دې.«مِنْ بَنِي ثَعْلَبَةَ مِنْ غَطَفَانَ» (٢)

قوله: فنزل نخلاً وهي غزوة محارب خصفة وبني ثعلبة من غطفان: کله چه نبى صلى الله عليه وسلم د غزوه ذات الرقاع دپاره تشريف يوړلو.نومقام نخل ته کښې دوى نزول اوکړو.دې ځاې ته بطن نخل هم وائى.اونخل هم.دا ځاې په بلاد غطفان کښې واقع دې.او د مدينې منورې نه د دوو ورځو په فاصله باندې دې.(٣) غالباً په دې ځاې کښې د قجورو ونې زياتې وې.څکه دې ځاې ته ،،بطن نخلة،، وئيلې شو.

[۴۱۲۸] قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ أَخْبَرَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِأَصْحَابِهِ فِي الْخَوْفِ فِي غَزْوَةِ السَّابِعَةِ غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ

قوله: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ: عبدالله بن رجاء دوه دى.يوعبدالله بن رجاء مکى دې.اوبل عبدالله بن رجاء بصرى دې.دعبدالله بن رجاء بصرى نه دامام بخارى رحمه الله سماع شته.اود عبدالله بن رجاء مکى نه د امام بخارى رحمه الله سماع نشته.اودلته عبدالله بن رجاء بصرى مراد دې.ددوى نه دامام بخارى رحمه الله سماع شته.خود ،،قال،، صيغه امام بخارى رحمه الله د تعليق دپاره استعمالوى.ددې وجې په ظاهره دا تعليق دې.دا تعليق ابوالعباس السراج په خپل مسند کښې موصولاً نقل کړې دې.البته د بخارى ابوذرپه نسخه کښې د «وقال عبدالله بن رجاء» په ځائې «وقال لى عبدالله بن رجاء» دى.په دې صورت کښې به دا تعليق نه وى.(٤)

---

(١) فتح البارى (٤١٨\١٧) وعمدة القارى (١٩٣\١٧)_
(٢) فتح البارى (٤١٨\٧) وعمدة القارى (١٩٤\١٧)_
(٣) فتح البارى (٤١٨\٧) وعمدة القارى (١٩٤\١٧)_
(٤) عمدة القارى (١٩٤\١٧)_

قوله: أَخْبَرَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ : دا عمران بن داود القطان رحمه الله دی.امام بخاری رحمه الله ددوی روایات صرف په استشهاد کښې ذکرکوی.دوی د قوت اوضبط په اعتبارسره د دومره اوچتې مرتبې نه دی.چه امام بخاری رحمه الله د دوی د روایت نه استدلال اوکړی.([1])

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِأَصْحَابِهِ فِي الْخَوْفِ فِي غَزْوَةِ السَّابِعَةِ غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ: حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوومه غزوه ، غزوه ذات الرقاع کښې صحابو رضی الله عنهم ته صلاة الخوف کړې وو.

((فی غزوة السابعة))کښې دموصوف اضافت صفت طرف ته کیږی.په اصل کښې دی.((فی الغزوة السابعة)) په دې روایت سره دامام بخاری رحمه الله په خپله دعوه چه ((غزوه ذات الرقاع))دخیبرنه پس واقع شوې ده.استشهاد مقصود دې.ځکه چه د دې نه وړاندې شپږ لوئې غزاګانې شوې وې.① غزوه بدر② غزوه احد③ غزوه خندق④غزوه بنو قریظه ⑤ غزوه مریسیع ⑥او غزوه خیبر.. اوددې نه پس اوومه غزوه ،،ذات الرقاع،، ده.

بعضې خلقو د ((غزوة السابعة)) اضافت ته کتلی دی.دا ئې ګڼړلی دی.چه د دې نه مراد د ۷هجرئ غزوة ذات الرقاع ده،اوهغوی وئیلی دی،چه اصلی عبارت ((غزوة السنة السابعة)) دې،

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.که د ((غزوه السابعة)) نه ((غزوه السنة السابعة)) مراد واخستې شی.نویه دې صورت کښې به دا روایت په مراد باندې نص شی. (یعنی دا روایت به په دې خبره باندې ښکاره دلالت کونکې شی.چه غزوة ذات الرقاع د غزوه خیبرنه پس واقع شوې وه.ځکه چه غزوه خیبر د اوومې هجرئ په اولنئ میاشت محرم کښې پیښه شوې وه.نود غزوة الرقاع په اووم کال کښې د واقع کیدو ښکاره مطلب به دا وی.چه دا د خیبر نه پس ده) اوبیا امام بخاری رحمه الله ته د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه وغیره په روایاتو باندې د استدلال تکلف کولوته څه ضرورت نه وو.خوامام بخاری رحمه الله د داسې قسم روایاتو نه وړاندې استدلال کوی.چه دهغې نه معلومیږی.چه ددې روایت نص بالمراد معنی ((غزوة السنة السابعة)) مراد نه دی.بلکه ((الغزوة السابعة)) مراد ده.کومه چه دامام بخاری رحمه الله په دعوی باندې نص نه دې.البته د امام بخاری رحمه الله د دعوې تائید په دې سره ضرور کیږی.ځکه چه امام بخاری رحمه الله وړاندې نور دلائل پیش کوی. ([2]) والله اعلم.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَوْفَ بِذِي قَرَدٍ: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی.چه نبی صلی الله علیه وسلم په ،،ذی قرد،، کښې صلاة الخوف کړې وو.

---

[1])فتح الباری(۷\۴۱۹)_

[2])اوګورئ فتح الباری(۷\۴۱۹)_~

دا تعليق دې.امام نسائی او طبرانی رحمهماالله دا موصولاً نقل کړې دې.(۱) امام بخاری رحمه الله یوه دعوه په ترجمة الباب سره دا کړې ده.چه غزوه ذات الرقاع او غزوه محارب خصفه دواړه یو دی.په ذکرشوی تعليق سره امام بخاری رحمه الله خپله دا دعوه ثابتوی.په دې طريقه چه په ،،ذی قرد،، کښې نبی ﷺ صلاة الخوف ادا کړې وو.،،ذی قرد،، د مدینې منورې نه د یوې ورځې په مزل باندې لرې د بلاد غطفان سره پیوست د یو ځاې نوم دې.او ذات رقاع هم د ذی قرد سره متصل په بلاد غطفان کښې د یو غر نوم دې.په ذی قرد کښې غزوه محارب خصفه شوې وو. او په ذات الرقاع کښې غزوه ذات الرقاع شوې وو.اودا دواړه ځایونه یوبل ته نزدې نزدې دی.ددې نه معلومیږی.چه دا دواړه غزوات څه جدا جدا نه دی.بلکه دواړه یو دی.یو خو ددې وجې چه ذی قرد او ذات رقاع دواړه د یو بل سره نزدې دی.او دویمه ددې وجې چه په دواړو کښې د صلاة الخوف ادا کول په روایاتو کښې ذکر دی.دا دواړه څیزونو ددې خبرې دلالت دې.چه غزوه محارب خصفه او غزوه ذات رقاع دواړه یو دی.

خوداامام بخاری رحمه الله دا استدلال کمزورې دې.یو خو ددې وجې چه صلاة الخوف څو څو ځله شوې دې.د دواړو غزواتو په اتحاد باندې د صلاة الخوف په ادا کولو سره به استدلال په هغه وخت کښې صحیح وو.چه دا یوځل ادا شوې وی. دویمه ددې وجې که ذی قرد او ذات رقاع دواړه د متصل ځایونو نومونه وی.نو د دې نه دا نه لازمیږی.چه غزوه محارب او غزوه ذات رقاع دواړه یو دی.عین ممکن ده.چه ذی قرد مستقله غزوه وی.اوذات رقاع ځانله غزوه وی.ددې وجې داامام بخاری رحمه الله دا دلیل څه قوی او مضبوط دلیل نه دې.والله اعلم.

قوله: وَقَالَ بَكْرُ بْنُ سَوَادَةَ حَدَّثَنِي زِيَادُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ جَابِرًا حَدَّثَهُمْ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ يَوْمَ مُحَارِبٍ وَثَعْلَبَةَ: «وَقَالَ بَكْرُ بْنُ سَوَادَةَ»بکربن سوادد بصری دې.اود مصر په فقهاؤ کښې د دوی شمار کیږی.حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله دوی لرد افریقې طرف ته د فقه دتعلیم په غرض باندې لیږلې وو. دوی په ۱۲۸ھ کښې وفات شو.ابن معین او نسائی رحمهماالله د دوی توثیق کړې دې.د دوی کنیت ،،ابوثمامه،، دې.(۲)

قوله: حَدَّثَنِي زِيَادُ بْنُ نَافِعٍ: دوی مصری دی.او په صغارو تابعینو کښې.ددوی شمار کیږی.ددې مقام نه علاوه د بخاری په بل ځاې کښې د دوی نه روایت ذکر نه دې.(۳)

«عن أبي موسى» دا ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه دې.بلکه د دوې نوم علی بن رباح خودلې شوې دې.ددوی صرف دا یو حدیث په بخاری کښې راغلې دې.(۴)

---

۱)فتح الباری(۴۲۰\۷) وعمدة القاری (۱۹۴\۱۷)_
۲)عمدة القاری (۱۹۴\۱۷، ۱۹۵)_
۳)فتح الباری (۴۲۰\۷) وعمدة القاری (۱۹۵\۱۷)_
۴)فتح الباری(۴۲۰\۷) وعمدة القاری (۱۹۵\۱۷)-

قوله: صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ يَوْمَ مُحَارِبٍ وَثَعْلَبَةَ: ددې عبارت نه د امام بخارى رحمه الله هم هغه مقصود دې.چه نبى ﷺ په غزوه محارب او ثعلبه کښې مونځ ورکړې وو.او په ذات الرقاع کښې ئې هم د صلاة خوف ذکر دې... نو معلومه شوه.چه دا دواړه غزاګانې يو دى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ سَمِعْتُ وَهْبَ بْنَ كَيْسَانَ سَمِعْتُ جَابِرًا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ذَاتِ الرِّقَاعِ مِنْ نَخْلٍ فَلَقِيَ جَمْعًا مِنْ غَطَفَانَ فَلَمْ يَكُنْ قِتَالٌ وَأَخَافَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا فَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيِ الْخَوْفِ: ددې روايت په ذکر کولو کښې دامام بخارى رحمه الله مقصود دا دې.چه د حضرت جابر رضي الله عنه ټول روايات په دې خبره متفق دى.چه نبى ﷺ په غزوه ذات الرقاع کښې صلاة الخوف ادا کړې وو.نو په کومو رواياتو کښې چه په غزوه نخل کښې د صلاة الخوف د ادا کولو ذکر راغلې دې.نو هلته به د غزوه نخل نه غزوه ذات الرقاع مراد وى.ځکه چه غزوه ذات الرقاع د غطفان دخلقو سره شوې وه.او غطفان په بطن نخل کښې اوسيدل.البته امام بخارى رحمه الله د ابن اسحاق په حوالې سره دا روايت دلته ذکر کړې دې.خو د ابن اسحاق په سيرت کښې په دې سند سره دا رايت هډو موجود نه دې.

ځنو حضراتو دا وئيلى دى.چه د امام بخارى رحمه الله نه تسامح شوې دې.ځکه چه په سيرت ابن اسحاق کښې په دې سند سره د حضرت جابر رضي الله عنه نه يو بله واقعه هم ددې غزوې موجود ده.امام بخارى رحمه الله په غلطئ سره د صلاة خوف د ادا کولو قصه ذکرکړې ده.

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه چا دامام بخارى رحمه الله تسامح ثابت کړې دې .نو آيا دهغه حافظه د امام بخارى رحمه الله د حافظې نه زياته ده.که په سيرت ابن اسحاق کښې په دې سند سره دا واقعه ذکر شوې نه وى.نو ددې نه دا چرته لازميږى .چه په بل ځاى کښې به هم نه وى.عين ممکن ده.چه امام بخارى رحمه الله د ابن اسحاق په دې سند سره دا واقعه چرته په بل ځاى کښې ليدلې وى.[1]

قوله: وَقَالَ يَزِيدُ عَنْ سَلَمَةَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْقَرَدِ [ر:۳۹۰۱ وانظر:۲۷۵۳]

دايزيدبن ابى عبيده دې.دې د سلمه بن الاکوع رضي الله عنه آزاد کړې غلام دې.[2] دوى د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه نه روايت کوى.چه هغوى فرمائيلى دى.ما د رسول الله ﷺ سره په غزوه ذى قرد کښې شرکت کړې وو.

دحضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه ددې تعليق نه د امام بخارى رحمه الله مقصد د غزوه محارب خصفه او ذات الرقاع يو ثابتول دى.په دې طريقه چه په ذى قرد کښې غزوه محارب شوې

[1])عمدة القارى (۱۷\۱۹۵)_

[2])عمدة القارى (۱۷\۱۹۵)_

وه.اوذي قرد او ذات الرقاع دواړه د متصل ځايونو نومونه دي.نو په دې سره ددې دواړو غزاګانو يو والې ثابت شو.خو لکه څنګه چه اوخودلې شو.چه دامام بخاري رحمه الله دا استدلال کمزورې دې.ځکه چه د دوو ځايونو د اتصال نه د غزواتو اتصال او اتحاد نه لازميږي.

دحافظ ابن حجر رحمه الله خيال: حافظ ابن حجر رحمه الله ددې روايت نه اوددې نه وړاندې چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما کوم روايت وو.په کوم کښې چه په غزوه ذى قرد کښې د صلاة الخوف د ادا کولو ذکر دې.د امام بخاري رحمه الله دا منشاء ګنړلې ده.چه امام بخاري غزوه ذات الرقاع او غزوه ذى قرد يوه ثابتوى.(١)

خولکه څنګه چه اوخودلې شو.چه دامام بخاري رحمه الله مقصد د غزوه محارب خصفه او غزوه ذات الرقاع يوثابتول مقصود دى.د غزوه ذى قرد او غزوه ذات الرقاع يو ثابتول دوى منشاء او مقصود نه دى.لکه څنګه چه حافظ رحمه الله ګنړلې دى.ځکه چه وړاندې امام بخاري رحمه الله غزوه ذى قرد مستقل بيانوى.او هلته امام بخاري رحمه الله دا تصريح کړې ده.چه ((وهى قبل خيبر بثلاث)) يعنې غزوه ذى قرد د غزوه خيبر نه درې ورځې وړاندې شوې وه.ددې وجې د حافظ رحمه الله دا وئيل چه دامام بخاري رحمه الله مقصود د غزوه ذى قرد او غزوه ذات الرقاع يو خودل دى.صحيح نه دى. والله اعلم.

[٣٨٩٩] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ وَنَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيرٌ نَعْتَقِبُهُ فَنَقِبَتْ أَقْدَامُنَا وَنَقِبَتْ قَدَمَايَ وَسَقَطَتْ أَظْفَارِي وَكُنَّا نَلُفُّ عَلَى أَرْجُلِنَا الْخِرَقَ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نَعْصِبُ مِنَ الْخِرَقِ عَلَى أَرْجُلِنَا وَحَدَّثَ أَبُو مُوسَى بِهَذَا ثُمَّ كَرِهَ ذَاكَ قَالَ مَا كُنْتُ أَصْنَعُ بِأَنْ أَذْكُرَهُ كَأَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يَكُونَ شَيْءٌ مِنْ عَمَلِهِ أَفْشَاهُ

دا د ابوموسى اشعرى رضي الله عنه هم هغه روايت دې.په کوم چه امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې استدلال کړې دې.حضرت ابوموسى رضي الله عنه فرمائى.چه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يوه غزوه کښې اووتلو.مونږ شپږ کسان وو.او وار په وار به په اوښ باندې سوريدو.زما د ملګرو پښې چودې وې.د کومې د وجې چه مونږ په پښو باندې د چړرو پټئ تړلې وې.حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه په دې غزوه کښې خپل شرکت خو بيان کړو.خوبيا دوى دا خوښه نکړه.چه د دوى څه نيک عمل ښکاره شى.او په هغې کښې خامخا د ريا شبه پيدا شى.

حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه د حبشې نه مدينې منورې ته د فتح خيبر نه پس راغلې وو. نوپه غزوه ذات الرقاع کښې د دوى شرکت ددې خبرې دليل دې.چه دا غزوه د فتح خيبر نه پس شوې وه.او هم دا د امام بخاري رحمه الله مقصود دې.

١) فتح البارى (٤٢١/٧)۔

[٣٩٠٠] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ شَهِدَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَّى صَلَاةَ الْخَوْفِ أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ انْصَرَفُوا فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَجَاءَتْ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَصَلَّى بِهِمْ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ قَالَ مَالِكٌ وَذَلِكَ أَحْسَنُ مَا سَمِعْتُ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ [ر: ٣٩٠٢]

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ....: يزيد بن رومان د حضرت زبیربن العوام رضی الله عنه ازاد کړې غلام دې.(١)

قوله: عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ شَهِدَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د صالح بن خوات هم دا يو روايت په بخارى كښې راغلې دې.(٢) د. ((عمن شهد بدراً)) د مصداق په باره كښې ختى حضراتو وئيلى دى.چه حضرت سهل بن ابى حثمه مراد دې.(٣) خو امام غزالى اوامام نووى رحمهماالله خوات بن جبير ددې مصداق ګرځولى دې.كوم چه د صالح بن خوات پلار دې.حافظ ابن حجر رحمه الله هم دې ته ترجيح وركړې ده. او فرمائى.دابن منده او بيهقى په رواياتو كښې د ((صالح بن خوات عن أبيه)) تصريح ده.ددې نه دا خبره متعين كيږى.د ((عمن شهد بدراً)) مصداق دصالح بن خوات پلار حضرت خوات بن جبير دې.(٤)

په دې روايت كښې په غزوه ذات الرقاع كښې د صلاة الخوف د ادا كولو كيفيت بيان شوې دې.چه اول يوې ډلې د نبى ﷺ سره صف جوړ كړو.او بله ډله د دشمن د مقابلې دپاره ولاړه وه.كومه ډله چه د دوى سره ولاړه وه.هغوى ته ئې يو ركعت اوكړو.او نبى ﷺ په خپل ځاې ولاړ وو.اوهغه ډلې خپل مونځ پوره كړو.چه دمانځه نه فارغ شو.نودا خلق راغلل د دشمن په مقابله كښې ئې صفونه جوړ كړل.او دويمه ډله راغله.نبى ﷺ دخپل مونځ باقى يو ركعت دوى ته اوكړو.او بيا نبى ﷺ په خپله قاعده كښې ناست وو.او دويمې ډلې خپل مونځ پوره كړل.اوپه التحيات كښې كيناستل.د تشهد وغيره نه چه فارغ شو.نو بيا نبى ﷺ دوى سره سلام اوګرځولو.

قوله: قَالَ مَالِكٌ وَذَلِكَ أَحْسَنُ مَا سَمِعْتُ فِي صَلَاةِ الْخَوْفِ: په ذكرشوى روايت كښې چه د صلاة الخوف د ادا كولو كوم كيفيت بيان شو.امام مالك رحمه الله فرمائى.چه د صلاة الخوف په باره كښې چه څومره صورتونه ما اوريدلى دى.په هغو ټولو كښې دا صورت ښه

---

(١) عمدة القارى (١٧\١٩٦)_

(٢) قال الحافظ وصالح تابعى ثقة ليس له فى البخارى إلا هذا الحديث الواحد .فتح البارى (٧\٤٢٢)_

(٣) فتح البارى (٧\٤٢٢) وعمدة القارى (١٧\١٩٧)_

(٤) فتح البارى (٧\٤٢٢)_

دي.په دې کښې چه نبي ﷺ دويم رکعت پوره کړو.نو د دويمې ډلې د فارغ کيدو انتظار نې کولو.اوکله چه دويمې ډلې خپل مونځ پوره کړو.نو نبي ﷺ هغوی سره سلام اوګرځولو.
خوپه دارقطني کښې دابن وهب نه دا نقل دی.چه امام مالك رحمه الله اول دا صورت خوښولو.خو روسته د قاسم بن محمد په وجه د دوی فیصله دا وه.چه دامام دپاره د دويمې ډلې د مونځ پوره کولو انتظار نه دی کول پکار.بلکه امام دې سلام اوګرځوی.او خپل مونځ دې پوره کړی.([1])

[۳۹۰۱]وَقَالَ مُعَاذٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَخْلٍ فَذَكَرَ صَلَاةَ الْخَوْفِ تَابَعَهُ اللَّيْثُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَدَّثَهُ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَنِي أَنْمَارٍ [ر:۳۸۹۸]

د دې نه وړاندې د معاذ روایت تیرشوې وو.امام بخاري رحمه الله فرمائي.چه د معاذ متابعت لیث کړې دې.دلته دې دا خبره یاده وی.چه د متابعت نه متابعت اصطلاحی مراد دې.بلکه ددې متابعت نه «موافقة في صفة الصلاة» مراد دې.یعنی څنګه چه د معاذ په روایت کښې د صلاة الخوف د ادا کولو کیفیت او صورت بیان شوې دې.تیك هم هغه شان دصلاة الخوف د ادا کولو کیفیت او طریقه لیث هم په خپل روایت کښې بیان کړې ده.اصطلاحی متابعت څکه مراد نه دې.چه د معاذ روایت د حضرت جابر رضي الله عنه نه موصولاً منقول دې.او د لیث روایت مرسلاً منقول دې.اود متابعت اصطلاحی مطلب دا وی.چه د یو صحابی یو روایت دهغه نه په یو سند سره منقول وی.هم هغه روایت د دوی نه په بل سند سره منقول شی.او دلته داسې نه ده.([2])

ددې متابعت د پیش کولو نه د امام بخاري رحمه الله مدعا دا ده.چه غزوه بنی انمار او غزوه ذات الرقاع دواړه یو دی.څکه چه غزوه بنی انمار په بلاد غطفان کښې شوې وه.او بله ددې وجې د غزوه بنی انمار او غزوه ذات الرقاع کښې په روایاتو کښې د صلاة الخوف د ادا کولو ذکر راغلې دې.([3]) خوتاسو ته خودلې شوی دی.چه دامام صاحب رحمه الله دا استدلال ضعیف دې.

[۳۹۰۲]حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ يَقُومُ الْإِمَامُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَطَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ مِنْ قِبَلِ الْعَدُوِّ وُجُوهُهُمْ إِلَى الْعَدُوِّ فَيُصَلِّي بِالَّذِينَ

---

[1])سنن دارقطني (۲/۶۱) باب صفة صلاة الخوف وأقسامها)_
[2])د متابعت دتعریف او د دې د قسمونو د تفصیل دپاره اوګورئ (مقدمة ابن الصلاح (۳۸و۳۹) النوع الخامس عشر،معرفة الإعتبار والمتابعات والشواهد دغه شان اوګورئ (نزهة النظرفی توضیح نخبة الفکر(ص،۵۲و ۵۳)_~
[3])اوګورئ فتح الباري (۷/۴۲٤و۴۲۵)_~

مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ يَقُومُونَ فَيَرْكَعُونَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً وَيَسْجُدُونَ سَجْدَتَيْنِ فِي مَكَانِهِمْ ثُمَّ يَذْهَبُ هَؤُلَاءِ إِلَى مَقَامِ أُولَئِكَ فَيَجِيءُ أُولَئِكَ فَيَرْكَعُ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَهُ ثِنْتَانِ ثُمَّ يَرْكَعُونَ وَيَسْجُدُونَ سَجْدَتَيْنِ

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ يَحْيَى سَمِعَ الْقَاسِمَ أَخْبَرَنِي صَالِحُ بْنُ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلٍ حَدَّثَهُ قَوْلَهُ [ر: ٣٩٠٠]

[٣٩٠٣/٣٩٠٣] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ

[٣٩٠٤] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ وَالطَّائِفَةُ الْأُخْرَى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ ثُمَّ انْصَرَفُوا فَقَامُوا فِي مَقَامِ أَصْحَابِهِمْ أُولَئِكَ فَجَاءَ أُولَئِكَ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ قَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ وَقَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ [ر: ٩٠٠]

[٣٩٠٦/٣٩٠٥] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سِنَانٌ وَأَبُو سَلَمَةَ أَنَّ جَابِرًا أَخْبَرَ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سِنَانِ بْنِ أَبِي سِنَانٍ الدُّؤَلِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهُ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الْعِضَاهِ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ وَنَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ قَالَ جَابِرٌ فَنِمْنَا نَوْمَةً ثُمَّ إِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُونَا فَجِئْنَاهُ فَإِذَا عِنْدَهُ أَعْرَابِيٌّ جَالِسٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هَذَا اخْتَرَطَ سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلْتًا فَقَالَ لِي مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قُلْتُ اللَّهُ فَهَا هُوَ ذَا جَالِسٌ ثُمَّ لَمْ يُعَاقِبْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قوله: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ .... عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: حضرت جابر ﷛ فرمائی.چه دوی د رسول الله ﷺ سره د نجد طرف ته د غزا دپاره تلې وو.کله چه ددغه غزا نه واپسی اوشوه.

قوله فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ: نو د قيلولې وخت دوى په داسې خوړ کښې بيا اوموندلو. چه په هغې کښې غټې غټې ازغى دارې ونې وې. د كيكر ونې مراد دى.

«العضاة» داسې غټې ونې ته وائى. چه په هغې کښې زيات ازغى وى.

نبى ﷺ په دغه ځاې کښې نزول اوکړو. اوخلق د لويو لويو ازغى دارو ونو لاندې د سيورى حاصلولو دپاره خوارهٔ شول. نبى ﷺ د يوې لوې ونې د لاندې آرام کولو. اوتوره ئې په هغه ونه پورې زوړنده کړه. حضرت جابر رضی الله عنه فرمائى. چه مونږ څه لږ وخت اودهٔ شول. چه نبى ﷺ مونږ راوغوښتلو. چه مونږ راغلو. نو د نبى ﷺ سره يو بانډيچى ناست وو. نبى ﷺ اوفرمائيل. چه دې کس زما توره نيولې وه. يعنى اول ئې توره د ونې نه راکوزه کړې وه. اود تيکى نه راويستې وه. اواودريدل. زه اودهٔ ووم. کله چه زما سترګې کهولاؤ شوې. نو تيارهٔ توره دده په لاس کښې وه. وې ونيل. زه تا ته وايم. چه تا به زما نه څوک بچ کړى. نو ما ورته اوونيل. الله. اوس اوګورئ دې ناست دې. نبى ﷺ هغه معاف کړو. او هغه ته ئې سزا ورنکړه.

[٤١٣٦-] وَقَالَ أَبَانُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَاتِ الرِّقَاعِ فَإِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِالشَّجَرَةِ فَاخْتَرَطَهُ فَقَالَ تَخَافُنِي قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ اللَّهُ فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ

وَقَالَ مُسَدَّدٌ عَنْ أَبِي عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ اسْمُ الرَّجُلِ غَوْرَثُ بْنُ الْحَارِثِ وَقَاتَلَ فِيهَا مُحَارِبَ خَصَفَةَ

ددې نه وړاندې د حضرت جابر رضی الله عنه په روايت کښې وو. چه مونږ نجد طرف ته د غزا دپاره تلى وو او د غزوه نجد نه مراد غزوه محارب خصفه ده. اوس حضرت جابر رضی الله عنه د ذات الرقاع لفظ استعمال کړو. ددې نه د امام بخارى رحمه الله ددې دعوى تائيد کيږى. چه غزوه محارب خصفه او غزوه ذات الرقاع يوه غزوه ده. او د حضرت جابر رضی الله عنه د دې دواړو روايتونو پيش کولو نه د امام بخارى رحمه الله هم دا مقصود دې.

امام بخارى رحمه الله د ابان دا روايت دلته تعليقاً ذکر کړې دې. امام مسلم دا روايت موصولاً نقل کړې دې.[1]

قوله فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د نبى ﷺ صحابو رضی الله عنهم دغه اعرابى اوړټلو. وړاندې تيرشوى دى. چه نبى ﷺ هغه معاف کړې وو. ظاهره ده. چه کله صحابو رضی الله عنهم هغه رټل نو نبى ﷺ به منع کړى وى. واقدى نقل کړى دى. چه دغه اعرابى په

---

[1])فتح البارى(٧\٤٤٨)_

دغه موقع باندې مسلمان شو.اوخپلې قبيلې ته لاړلو.هغوى ته ئې د اسلام دعوت ورکړو.په دې سره ډير خلق په اسلام کښې داخل شول.(١)

قوله: فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ: دا روايت د ټولو دپاره د اشکال باعث جوړيږى.ځکه چه په دې خبره باندې تقريبا د ټولو امامانو اتفاق دې.چه که امام او قوم دواړه مسافر وى.نوقوم سره به امام يو يو رکعت کوى.دغه شان به د امام هم دوه رکعته شى.اوقوم به هم باقى يو يو رکعت دامام نه جدا ځانله اوکړى.او دوه رکعته به کوى.اوکه امام او قوم دواړه مقيم وى.نوبيا دې صورت کښې به امام هرې يوې ډلې ته دوه دوه رکعته کوى.دغه شان به دامام څلور رکعته شى.اود قوم به دامام سره دوه رکعته شى.او باقى دوه رکعته به هغوى د امام نه ځانله پوره کوى.

خو د بخارى په دې روايت کښې چه کوم صورت حال بيان شوې دې.په دې کښې نبى ﷺ هم مسافر وو.او قوم هم مسافر،ددې تقاضا خو دا وه.چه نبى ﷺ هرې يوې ډلې ته يو يو رکعت کړې وو.خو نبى ﷺ د يو رکعته په ځاې هرې يوې ډلې ته دوه دوه رکعته اوکړو.ددې اشکال مختلف جوابونه ورکړې شوى دى.

① چونکه دامام شافعى رحمه الله په نيز اوپه يو روايت کښې د امام احمد په نيز او په يو قول کښې دامام مالك رحمه الله په نيز اقتداء د مفترض په متنفل پسې جائز ده. ددې وجې دا حضرات فرمائى.چه اولنۍ ډلې ته چه نبى ﷺ کوم دوه رکعته کړى وو .په هغې کښې نبى ﷺ مفترض وو.او اولنۍ ډله هم مفترضه وه.او دويمې ډلې ته چه نبى ﷺ کوم دوه رکعته کړى وو.په هغې کښې هغه دويمه ډله مفترضه وه.او نبى ﷺ متنفل وو.(٢)

خو په دې باندې دا اعتراض کيږى.که نبى ﷺ اولنۍ ډلې ته دمفترض په حيثيت باندې مونځ کړې وى.اودويمې ډلې ته ئې د متنفل په حيثيت مونځ کړې وى.نو پکار ده.چه د دواړو په مينځ کښې ئې سلام ګرځولې وى.دلته په روايت کښې ددې ذکر نشته.ددې په جواب کښې دا حضرات دا وائى.چه داسې روايات موجود دى.په کومو کښې چه د دوو رکعتو نه پس د نبى ﷺ د سلام ذکر شته.اګرچه په دغه کښې څنې منقطع او څنې ضعيف دى.خو چونکه د هغې طرق متعدد دى. د دې وجې په هغې سره استدلال کيدې شى. (٣)

② داحنافو رحمهم الله په نيز چونکه اقتداء د مفترض خلف المتنفل جائز نه ده.ددې وجې داجواب دهغوى په نيز نه صحيح کيږى.هغوى ددې روايت په بل انداز کښې جوابونه ورکړى دى.

---

(١) اوګورئ سيرت مصطفى (٢\٢٧٥)_

(٢) شرح مسلم للنووى (١\٢٧٨) باب صلاة الخوف)_

(٣) د دارقطنى او ابوداود په رواياتو کښې : نبى ﷺ د دوو رکعتو نه پس د سلام ګرځولو ذکر راغلې دې.(سنن دارقطنى (٢\٦٠) سنن أبى داود (٢\١٧) کتاب الصلاة باب من قال يصلى بکل طائفة رکعتين)

امام طحاوي رحمه الله فرمائي.چه دا دهغه وخت خبره وه.کله چه يو فرض دوه خله کول جائز وو.اودا د اسلام په شروع کښې وو.روسته منسوخ شو.([1])

③ بعضې حضرات فرمائي.چه دا د نبي ﷺ خصوصيت وو.چه هغوی به مفترضينو ته هم د نفلو په نيت مونځ کولو شو.([2]) خودا جواب تسلی بخش نه دې.ځکه چه د نبي ﷺ د خصوصيت د ثبوت دپاره د صريحي نص او دليل ضرورت وی.اوداسې څه صريحي دليل موجود نشته.چه دهغې نه د نبي ﷺ خصوصيت معلوميږی.

قوله: وَقَالَ مُسَدَّدٌ عَنْ أَبِي عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ اسْمُ الرَّجُلِ غَوْرَثُ بْنُ الْحَارِثِ:([3]) يعنی ددغه اعرابی نوم ،،غورث بن الحارث،، وو.چا چه توره راويستې وه.

---

[1])امام طحاوي رحمه الله ليکی.((والفريضة تصلی حينئذ مرتين فيكون كل واحدة منها فريضة وقد كان ذلك يفعل فى أول الإسلام ثم نسخ (وانظر شرح معانی الآثار للطحاوی (۱۱\۲۱۸)_

[2])بذل المجهود (۶\۳۶۴و۳۶۷)_

[3])دا کس مسلمان شوې وو.که نه، د واقدی په حواله سره تير شوی وو.چه دغه اعرابی په دغه موقع اسلام قبول کړې وو.او خپلې قبيلې ته لاړلو.د اسلام دعوت ئې شروع کړې وو.د کومې په وجه چه ځو کسان په اسلام کښې داخل شول.مولانا ادريس کاندهلوی رحمه الله په ،،سيرة المصطفى،، کښې هم دا ليکلی دی.خو د واقدی د روايت نه سوا بل څه قطعی روايت داسې نه دې ملاؤ شوې.چه په هغې سره ددې اعرابی د مسلمان کيدو متعلق څه يقينی خبره اوکړې شی.بلکه حافظ بيهقی په ،،دلائل النبوة ،، کښې په خپل سند سره په دې باره کښې د يو روايت تخريج کړې دې.په هغې کښې ددغه کس په دغه موقع د اسلام نه قبولولو تصريح ده.د روايت الفاظ دا دی.،

فجاء رجل منهم يقال له غورث بن الحارث حتى قام على رأس رسول الله ﷺ بالسيف فقال من يمنعك منی؟ قال: الله . قال فسقط السيف من يده قال فأخذ رسول الله ﷺ السيف فقال من يمنعك منی؟ قال كن خير آخذ قال تشهد أن لا إله إلا الله وأنی رسول الله؟ قال لا،ولكن أعاهدك على أن لا أقاتلك ولا أكون مع قوم يقاتلونك فخلى سبيله .. إلخ (دلائل النبوة للبيهقی (۳\۳۷۶)،،

په دې روايت سره دا خبره بيخې بې غباره شوه.چه په دغه موقع بندې دا اعرابی نه وو مسلمان شوې.بيا دويمه خبره دا ده.د واقدی د کوم کس د مسلمانيدو ذکر کړې دې.د هغه نوم واقدی ،،دعثور بن الحارث،، خودلې دې.(فتح الباری (۷\۴۲۸) عين ممکن ده.چه هغه بل کس وی.او د غزوه ذات الرقاع د ذکر شوې واقعه سره دهغې څه تعلق نه وی.خود علامه ذهبی رحمه الله ميلان دې طرف ته دې.چه واقدی چه کومه واقعه بيان کړې ده.اود ،،دعثوربن الحارث،، د اسلام قبلولو کوم ذکر چه ئې کړې دې.هغه هم د ذات الرقاع واقعه ده.اود ،،دعثور،، نه هم دا ،،غورث بن الحارث،، مراد دې.البته دا ده.چه حافظ ابن حجر رحمه الله د امام ذهبی رحمه الله په رائې باندې تبصره کوی.اوپه ،،الاصابة،، کښې ليکی،،

وكان الذهبی لما رأى ما فی ترجمة دعثوربن الحرث أن الواقدی ذكر له شبهاً بهذه القصة وأنه ذكر أنه أسلم فجمع بين الروايتين فأثبت إسلام غورث .فإن كان كذلك ففيما صنعه نظر من حيث أنه عزاه للبخاری وليس فيه أنه أسلم ومن حيث أنه يلزم منه الجزم بكون القصتين واحدة مع إحتمال كونهما واقعتين .إن كان الواقدی أتقن ما نقل وفی الجملة على الإحتمال (الإصابة (۳\۱۸۹)،،،، [بقيه حاشيه په راروانه صفحه.....

وَقَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَخْلٍ فَصَلَّى الْخَوْفَ
وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ نَجْدٍ صَلَاةَ الْخَوْفِ وَإِنَّمَا جَاءَ أَبُو هُرَيْرَةَ
إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَّامَ خَيْبَرَ [ر: ۲۷۵۳]

دغزوه نجد نه مراد غزوه ذات الرقاع ده.حضرت ابو هریره رضی الله عنه په دې کښې شرکت کړې وو.اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه د فتح خیبر نه پس مدینې منورې ته راغلې وو.نو معلومه شوه.چه غزوه ذات الرقاع د فتح خیبرنه پس شوې ده.

د صلاة الخوف سره متعلقه نور مباحث د بخاری جلد اول «أبواب صلاة الخوف» سره متعلق دی.هلته په دې باندې تفصیلی بیان هم شته.

بَابُ غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ مِنْ خُزَاعَةَ وَهِيَ غَزْوَةُ الْمُرَيْسِيعِ

بنو المصطلق د بنو خزاعه شاخ دې.،مصطلق،، د جذیمه بن سعدلقب دې. ،مصطلق، د ،صلق،، نه مشتق دې.چه معنی ئې،رفع الصوت،راځی.د جذیمه بن سعدآواز چونکه ډیر ښه او اوچت وو.ددې وجې د ده لقب ،مصطلق،،کیخودې شو (۱)

امام بخاری رحمه الله د غزوه بنی المصطلق نوم غزوه مریسیع هم نقل کړې دې. مریسیع د چینې نوم دې.(۲) کوم ځاې کښې چه دا غزوه شوې وه.د هغه ځاې په مناسبت سره دې ته غزوه مریسیع هم وئیلی شی.او بنو المصطلق د قوم نوم دې.

کوم سره چه دا غزوه شوې وه.ددې وجې دې ته غزوه بنی المصطلق هم وائی.

غزوه بنی المصطلق او غزوه مریسیع یو دی اوکه دوه؟ امام بخاری رحمه الله خو اووئیل.چه دا یو ده.خو ابو حاتم ابن حبان بستی رحمه الله او د دوی په اتباع کښې علامه محمد طاهر پټنی ،،صاحب د مجمع البحار، وئیلی دی.چه دا دوه جدا جدا غزاګانې دی.غزوه مریسیع په۳ شعبان ۵ھ کښې شوې وه.اوپه غزوه بنی المصطلق په ۶ھ کښې.(۳)

خودددوی دا رائې صحیح نه ده.صحیح خبره هم هغه ده.کومه چه امام بخاری رحمه الله کوی.چه

،.دتیرمخ بقیه حاشیه] بعضې حضراتو د ،،غورث بن الحارث،، داسلام قبلولو په باره کښې د دلائل بیهقی په هغه روایت باندې هم استدلال کړې دې.په کوم کښې چه د هغوی په باره کښې دا الفاظ راغلی دی.((فجاء إلى قومه فقال جئتكم من عند خير الناس)) دلائل بیهقی (۳۷۶/۳)،،

خوحقیقت دا دې.چه د نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښې د ((خيرالناس)) لفظ د یو غیرمسلم د خولې نه هم وتلی شی.او وتلی دی.دا الفاظ د غورث په اسلام قبلولو کښې صریح نه دی.البته په دې سره د هغه د اسلام قبلولو تائید ضرور کیږی.((والله اعلم بحقيقة الحال)) ـ

(۱) فتح الباری (۴۳۰/۷) وفی العمدة (۲۰۱/۱۷) وأصله مصتلق فأبدلت الطاء من التاء لأجل الصاد)-

(۲) وفی الفتح (۴۳۰/۷) وأما المريسيع فبضم الميم وفتح الراء وسكون التحتانيتين بينهما مهملة مكسورة وآخره عين مهملة هو ماء لبنی خزاعة)ـ

(۳) اوګورئ مجمع البحار الأنوار (ن۲۶۳/۱-۲۵۶)ـ

دا دواړه د یوې غزا دوه نومونه دی.اوهم په دې باندې د ټولو اهل سیرو او مغازی اتفاق دې.
عجیبه خبره دا ده.چه ابن حبان بستی رحمه الله او محمد طاهرپټنی رحمه الله یو طرف ته خودا وائی.
چه غزوه بنی المصطلق اوغزوه مریسیع دواړه جداجدا غزاګانې دی.اوبل طرف د حضرت جویریه بنت الحارث رضی الله عنها په باره کښې وائی.چه هغه نبی ﷺ ته په غزوه بنی المصطلق کښې حاصل شوې وه.او بیا دواړه دا هم وائی.چه هغه نبی ﷺ ته په غزوه مریسیع کښې حاصل شوې وه.ظاهره ده.چه دا قول په هغه وخت کښې صحیح کیدې شی.چه غزوه بنی المصطلق او غزوه مریسیع دواړه یو اومنلې شی.(۱)

قوله: قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ وَذَلِكَ سَنَةَ سِتٍّ :دامام مغازی محمد بن اسحاق.ابن جریرطبری، خلیفه بن خیاط اوابو محمد بن حزم ظاهری رحمهم الله رائې دا ده.چه دا غزوه د ۶ھ ده.(۲) د ابن سعد، بیهقی، حاکم قتاده او عروه رحمهم الله رائې دا ده.چه دا غزوه د ۵ھ ده.(۳)

قوله: وَقَالَ مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ سَنَةَ أَرْبَعٍ: دا سبقت د قلم دې.ځکه چه حاکم، ابوسعید او نورو اصحاب دمغازی د موسی بن عقبه رحمه الله قول «سنة خمس» نقل کړې دې.(۴) اوټول په دې خبره متفق دی.چه د موسی بن عقبه په نیزدا غزوه په ۵ ھ کښې واقع شوې ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله په ۵ ھ کښې ددې غزوې وقوع راجح ګرځولې ده.وجه ئې ددې دا خودلې ده.چه د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په دې غزوه کښې شرکت په بخاری کښې ذکر دې.بل طرف ته د احادیثو صحیحو نه دا ثابته ده.چه په غزوه بنوقریظه په زمانه کښې حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شوې وو.دکومې تفصیل چه تیر شوې دې.او غزوه بنو قریظه په ۵ ھ کښې واقع شوې وه.اوس که غزوه مریسیع په ۶ ھ کښې د غزوه بنی قریظه نه یوکال روسته تسلیم کړې شی.نو په دې کښې د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه شرکت څنګه صحیح کیدې شی.(۵)

---

(۱) صاحب د مجمع بحار الانوار په پنځمه هجرئ کښې د غزوه مریسیع په باره کښې لیکی.((وفیها غزوه المریسیع فی ثانی شعبان فاقتتلوا وقتل العشرة وأسرالباقون وكانت فيهم جويرية بنت الحارث فأعتقها وتزوجها)) ددې نه پس په شپږمه هجری کښې د غزوه بنی المصطلق په باره کښې لیکی.((ثم غزافی شعبان بنی المصطلق فهزموا فاغتنم أبناء هم ونساءهم وأموالهم وأصاب جويرية بنت الحارث فتزوجها رسول الله ﷺ) مجمع بحار الأنوار (۵/۲۶۳و ۲۶۵)_~

(۲) فتح الباری (۷/۴۳۰)_

(۳) اوګورئ عمدة القاری (۱۷/۲۰۱) ودلائل بیهقی (۴/۴۴) وطبقات ابن سعد(۲/۶۳)~

(۴) اوګورئ عمدة القاری (۱۷/۲۰۱)_~

(۵) فتح الباری (۷/۴۳۰)_

قوله: وَقَالَ النُّعْمَانُ بْنُ رَاشِدٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ كَانَ حَدِيثُ الْإِفْكِ فِي غَزْوَةِ الْمُرَيْسِيعِ: دا تعلیق دې.امام بیهقی په دلائل النبوة کښې دا موصولاً ذکر کړې دې.(۱) دا ئې خودلې دی.چه په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې د تهمت لګولو واقعه د غزوه مریسیع نه د واپسئ په وخت کښې پیښه شوې وه.

غزوه مریسیع: ددې د وقوع سبب دا بیان شوې دې.چه نبی ﷺ ته خبر ملاؤ شو.چه د بنو مصطلق سردار حارث بن ابی ضرار دمسلمانانو د مقابلې دپاره لښکر جمع کوی. نبی ﷺ حضرت بریده بن حصیب اسلمی رضی الله عنه د صورتحال معلومولو دپاره اولیږل. هغوی واپس راغلو. او خبر ئې ورکړو.چه خبره صحیح ده.اوهغه خلق د جنګ دپاره جمع کیږی.نبی ﷺ سمدستی د صحابو رضی الله عنهم یوه لویه ډله واخستله.او دهغوی طرف ته روان شو.د ابن سعد بیان دې چه دا د دویم شعبان ګل د ورځې پنځمې هجرئ واقعه ده.(۲) کله چه دوی اورسیدل.نو هغه خلقو خپلو خاروو ته وبه ورکولې.او بیخی غافله وو.د نبی ﷺ د ناڅاپی حملې هغوی قدرت اونه لرلو.او شکست ئې اوخوړلو.د دوو سوو کورونو خلق قید شول.او دوه زره اسونه په مال غنیمت کښې راغلل.پنځه زره چیلئ په قبضه کښې راغلې.او تقریباً د هغوی لس کسان قتل شول.(۳)

حضرت جویریه بنت حارث رضی الله عنهما: په مال غنیمت کښې حضرت جویریه بنت الحارث رضی الله عنها هم وه.هغه د حضرت شماس بن قیس رضی الله عنه په حصه کښې راغلې وه.خو صحابو رضی الله عنهم نبی ﷺ ته مشوره ورکړه.چه حضرت جویریه رضی الله عنها د بنو مصطلق د سردار لور ده.هغه هم ستاسو دپاره مناسب ده.بل کس سره نه ده پکار.او په څنې روایاتو کښې راغلی دی.چه چونکه حضرت جویریه رضی الله عنها حضرت شماس بن قیس رضی الله عنه مکاتبه جوړه کړې وه.ددې وجې هغه په خپله د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.او عرض ئې اوکړو.چه زه د سردار لور یم.په بدل کتابت کښې دې زما مدد اوکړې شی.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.زه تا ته یوه غوره خبره کوم.چه ستا بدل کتابت زه ادا کړم.اوددې نه پس زه تا په خپل زوجیت کښې واخلم.حضرت جویریه رضی الله عنها چه دا واوریدل. نوډیره خوشحاله شوه.اود نبی ﷺ په رائې باندې ئې دخپلې خوشحالئ اظهار اوکړو . نو نبی ﷺ د هغې بدل کتابت ادا کړو.او دا ئې آزاده کړه.اوددې نه پس ئې په خپل عقد نکاح کښې واچوله.(۴)

دحضرت جویریه رضی الله عنها پلار حارث بن ابی ضرار ډیر اوښان راوستل. او د خپلې لور د آزادئ دپاره مدینې منورې ته راغلو.په هغه اوښانو کښې دوه اوښان ډیرښه وو.اول خو په دې خیال

---

(۱) عمدة القاری (۲۰۱\۱۷)_

(۲) اوګورئ طبقات ابن سعد (۶۳\۲) واقدی لیکلی دی.چه نبی ﷺ سره اووه سوه کسان وو.دلائل بیهقی (۴۶\۴)_

(۳) اوګورئ طبقات ابن سعد (۵۴\۲)_

(۴) البدایة والنهایة (۱۵۹\۴)_

باندې راغلې وو.چه تول به پيش كړم.اوددې په عوض به خپله لور ازاده كړم.خوپه لار كښې ني نيت خراب شو.او هغه دوه اوښان هغه په يوه كنده كښې پټ كړل.باقى اوښان ئې راوستل.او حاضر شو.او نبى ﷺ ته ئې خپله مدعا پيش كړه.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.هغه دوه اوښان كوم ځاې دى.كوم چه تا په فلانئ كنده كښې پټ كړى دى.اوراغلې ئې.نو هغه اووئيل. «اشهد أنك رسول الله» يقيناً ته دالله تعالى رسول ئې.دهغه دوو اوښانو چاته علم نه وو.يقينى ده چه الله تعالى به تاسو ته د وحى په ذريعه خودلى وى.اودغه شان هغوى اسلام قبول كړو.ددې نه پس نبى ﷺ هغه ته اووئيل.ته د خپلې لور نه معلومه كړه.كه هغه تاسره په تلو باندې راضى وى.نو تيك ده.

حارث رضي الله عنه د جويريه رضي الله عنها نه معلومه كړه.نو هغوى ورته اووئيل.چه زه الله اودهغه رسول اختياروم.اوبيا د اسلام راوړو نه د حضرت حارث رضي الله عنه هم هغه خواهش پاتې نشو.ځكه چه د هغوى دپاره ددې نه غوره خبره بله څه كيدې شوه.چه نبى ﷺ د هغه خوم شى.([1])

دحضرت عائشې رضي الله عنها بيان دې.چه ما د حضرت جويريه رضي الله عنها نه د خپل قوم په حق كښې زياته بابركته څوك نه ده ليدلې.ځكه چه كله نبى ﷺ هغه په خپله عقد نكاح كښې واخستله.نو تولو صحابو رضي الله عنهم په بنى مصطلق كښې هغه دوه سوه كورونه چه هغوى په قيد كښې راوستى وو.دا اووئيل. اوآزاد كړل.چه «انهم أصهار رسول الله ﷺ» دا خلق د رسول الله سخركنئ ده.([2])

په دې غزوه كښې نبى ﷺ حضرت زيدبن حارثه رضي الله عنه په مدينه منوره كښې خپل قائم مقام كرځولې وو.په ازواج مطهراتو كښې حضرت عائشه او حضرت حفصه رضي الله عنهما د دوى سره وې.([3])

[۳۹۰۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ أَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَرَأَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْعَزْلِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا نَعْزِلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ مَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ [ر: ۲۱۱۶]

حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى.چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په غزوه بنى المصطلق كښې تلى وو.مونږ ته دعربو په قيديانو كښې څه قيديان ملاؤ شول. (چه په هغوى كښې ښځې هم وې)دبيبيانو نه دلرى والى په وجه زمونږ ښځوته رغبت پيداشو.اومجرد پاتې

---

[1])اوګورئ (الإصابة فى تميز الصحابة (۲۸۱/۱) ترجمة الحارث بن ابى ضرار)_

[2])دلائل بيهقى (۵۰/۱۴)_

[3])طبقات ابن سعد(۶۳/۲و ۶۴)_

کیدل زمونږ دپاره ډیرګران شومونږعزل کول اوغوښتل (مطلب چه وینځې خو زمونږ سره وې.دوی سره به وطی کوو.اوعزل به کوو.ځکه چه د عزل نه کولو په صورت کښې دحاملې جوړیدو احتمال وو.او د ام ولده کیدو په وجه د وینځې خرڅول جائز نه دی.ددې وجې مونږ اوغوښتل.چه عزل اوکړو) نو مونږ درسول الله ﷺ نه د عزل په باره کښې تپوس اوکړو.نبی ﷺ اوفرمائیل.

قوله: مَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ:

څه حرج نشته په دې کښې که تاسو عزل نه کوئ.ځکه چه ترقیامته پورې چه کوم روح پیدا کیږی.هغه خو به خامخا پیدا کیږی.

مقصدا دا دې چه اصل مدارخو دالله تعالی د طرفه لیکلی شوی تقدیرباندې دې.که الله تعالی تاسو ته د اولاد درکولو اراده کړې وی.هغه اولاد به خامخا پیدا کیږی.تاسو برابره ده که کمزوری ئې اوکه طاقتور،برابره ته که تاسو عزل کوئ اوکه نه کوئ.ددې وجې نبی ﷺ ((ماعلیکم أن تفعلوا)) اونه فرمائیل.بلکه دا ئې اوفرمائیل.((ماعلیکم أن لا تفعلوا)) مطلب هم دا دې.چه کوم بچې پیدا کیږی.هغه به خامخا پیدا کیږی.ستاسو عزل کول بې فائدې دی.معلومه شوه.چه نبی ﷺ عزل نه دې خوښ کړې.

خاندانی منصوبه بندی او ددې حکم: دا نن صبا چه د خاندانی منصوبه بندئ سلسله روانه ده.ددې شا ته په حقیقت کښې د انسان دا غلط فکرعامل دې.چه انسان خپل ځان د رزق ذمه وار ګڼړی.درزق ذمه واری چه الله تعالی اخستې ده.او دکوم تصریح چه په قرآن پاك کښې شوې ده.چه ﴿وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾ (١) دایوحقیقت دې. خوجاهل انسان دا حقیقت هیر کړې دې.اودغه.شان د خاندانی منصوبه بندئ په عنوان سره د انسانی پیدائش شرح کمولو دپاره یو عوامی مهم سرکاری سرپرستئ کښې چلولې شی.دا شرعاً حرام او ناجائز دې.په انفرادی مخصوص صورتونوکښې او په شخصی واقعاتو کښې شریعت د عزل اجازت هم ورکړې دې.مثلاً ښځه ناجوړه وی.اود هغې صحت د بچی راوړو صلاحیت نه لری.په داسې صورت کښې که مانع حمل تدابیر اختیار کړې شی.نو جائز دی.
زمونږ اعتراض د منصوبه بندئ په دې نظام باندې دې .دکوم د خورولو دپاره چه په ټول ملك کښې په لکهونو کروړونو روپئ خرچ کولې شی.او دا وئیلې شی.چه زمونږ وسائل، د رزق او معاش دپاره ناکافی دی.که ژوند غواړئ.نو په خاندانی منصوبه بندئ باندې عمل اوکړئ .دا ټیك نه دی.

خاندانی منصوبه بندی څو خرابیانې پیدا کوی.ددې په وجه په معاشره کښې زناعام کیږی. بې حیائی خوریږی.تردې چه دانسان په عقیده کښې هم فساد راځی .پخپله هغه غیرمسلم قومونه چا چه په دې باندې عمل کړې دې.هغوی ددې د غلطو نتائجو ښکلو نه پس په خپله غلطئ ښکاره اعتراف اواقرار کوی.بلکه په څو ملکونو کښې د شرح پیدائش زیاتولو دپاره

(١) سورة هود (۶)-

انعامات مقرر كولى شى.دمعيشت صحيح منصوبه بندى خو مونږ كوو نه..د قدرتى وسائل معاش دپاره صحيح منصوبه بندى خو مونږ كوو نه،او ټول زور په خاندانى منصوبه بندئ باندې وركولې شى.

په روايت باب باندې يو اشكال اودهغې نه جواب.د روايت باب متعلق چاته دا اشكال كيدې شى. چه دبنو مصطلق كومې ښځې چه وينځې شوې.اود مسلمانانو په قبضه كښې راغلې. هغه مشركانې وې.اود جمهورو عالمانو په نيز د مشركانو ښځو سره وطى كول جائز نه دى. په ملك يمين سره وطى كول صرف هغې وينځې سره جائز ده.كومه چه مسلمانه يا كتابيه وى. بيا دلته مسلمانانو د بنو مصطلق د مشركانو وينځو سره وطى ولې اوكړه.ددې اعتراض مختلف جوابونه وركړې شوى دى.

① قاضى ابوالوليد باجى رحمه الله فرمائيلى دى.چه دا مشركانې نه وې.بلكه كتابيات وې.خودا جواب صحيح نه دې.هغه هم مشركانې وې.كتابيات نه وې.(¹)

② ابن عبدالبرمالكى رحمه الله فرمائى.چه دا د هغه وخت واقعه ده.په كوم وخت كښې چه د مشركانو سره د وطى كولو حرمت نه وو نازل شوې.دا دنزول حرمت نه وړاندې واقعه ده.(²)

③ امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.((ويحتمل أنهن كن أسلمن)) يعنى ممكن دد.د مسلمانانو په قبضه كښې دراتلو نه پس هغوى مسلمانانې شوې وې.هغوى اوكتل .چه اوس د عزت ژوند تيرولو دپاره هم دا صورت دې.چه اسلام قبول كړې شى.اود مسلمانيدو نه پس خو هغوى سره وطى كولو كښې څه شبه نشته.دا جواب دټولو نه راجح معلوميږى.(³)

[۳۹۰۸]حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ نَجْدٍ فَلَمَّا أَدْرَكَتْهُ الْقَائِلَةُ وَهُوَ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ تَحْتَ شَجَرَةٍ وَاسْتَظَلَّ بِهَا وَعَلَّقَ سَيْفَهُ فَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الشَّجَرِ يَسْتَظِلُّونَ وَبَيْنَا نَحْنُ كَذَلِكَ إِذْ دَعَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْنَا فَإِذَا أَعْرَابِيٌّ قَاعِدٌ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ إِنَّ هَذَا أَتَانِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاخْتَرَطَ سَيْفِي فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِي مُخْتَرِطٌ صَلْتًا قَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قُلْتُ اللَّهُ فَشَامَهُ ثُمَّ قَعَدَ فَهُوَ هَذَا قَالَ وَلَمْ يُعَاقِبْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ر:۲۷۵۳]

په دې روايت كښې چه د اعرابى كومه واقعه بيان شوې ده.هغه په تفصيل سره په ((غزوة ذات الرقاع)) كښې تيره شوې ده.دعلامه عينى رحمه الله رائې دا ده. چه دلته د كاتب د غلطئ د وجې دا ذكر شوې ده.(⁴) وړاندې امام بخارى رحمه الله دا واقعه په بل سند سره بيان كړې وه.اودلته

---

¹)أوجزالمسلک (۱۰\۲٦٤) ما جاء فى العزل)_
²)اوګورئ التمهيد لابن عبدالبر (۱۳\۱۳٥)_~
³)فتح البارى(۱۹\۳۱۰) باب العزل)_
⁴)عمدة القارى (۱۷\۲۰۲)_

ني په بل سند سره بيان كړي ده. او يو حديث په مختلفو اسنادو سره بيانول دامام بخارى رحمه الله عادت او اسلوب دي. البته ددې محل غزوه ذات الرقاع وو.

باب غزوة أنمار

[۳۹۰۹] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُرَاقَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ أَنْمَارٍ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ مُتَوَجِّهًا قِبَلَ الْمَشْرِقِ مُتَطَوِّعًا [ر: ۳۹۱]

ددې غزوې په باره كښې د بعضې حضراتو رائې دا ده.چه دا غزوه امر ده.او د واقدى وغيره په نيز په ربيع الاول ۳ھ كښې پيښه شوې وه.دابن اسحاق رائې دا ده.چه دا په صفر ۳ھ كښې واقع شوې وه.خو داكثر اصحاب سيرپه نيز غزوه انمار او غزوه ذات الرقاع هم يوه غزوه ده.او دلته د دې ذكر بې موقعې دې.ځكه چه په غزوه مريسيع كښې د افك واقعه پيښه شوې وه.او دهغې نه پس «حديث الإفك» راځي.په مينځ كښې د غزوه انمار ذكر د ترتيب نه خلاف دې.حافظ رحمه الله ليكلى دى.«والذى يظهر أن التقديم والتاخير فى ذلك من النساخ» [1]

باب حديث الإفك

وَالْأَفْكُ بِمَنْزِلَةِ النِّجْسِ وَالنَّجَسِ يُقَالُ إِفْكُهُمْ /الصفات:۱۵۱) والأحقاف:۲۸) وَأَفْكُهُمْ فَمَنْ قَالَ أَفَكَهُمْ يَقُولُ صَرَفَهُمْ عَنِ الْإِيمَانِ وَكَذَّبَهُمْ كَمَا قَالَ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ /الذاريات:۹) يُصْرَفُ عَنْهُ مَنْ صُرِفَ

امام بخارى رحمه الله حديث افك درې ځايه په تفصيل سره ذكر كړې دې.يو ځاې په كتاب الشهادات كښې.بل ځاې دلته په مغازى كښې.او دريم په كتاب التفسير كښې د سورة نور په تفسير كښې ضمنا ،حافظ ابن حجر رحمه الله په كتاب التفسير كښې په حديث افك باندې تفصيلى بيان كړې دې.ددې درې تفصيلى مقاماتو نه علاوه داحديث مختصراً په ډير مقاماتو كښې ذكر كړې دې.اوچه په كوم ځاې كښې ئې ذكر كوى.هلته مختلف مسائل د دوى د نظر وړاندې وى.دغه مسائل د حديث د اجزاؤ نه ثابتول ئې مقصود وى.[2]

---

[1])فتح البارى (۷/۲۹/٤)_

[2])امام بخارى دا حديث په ذكرشوو درې مقاماتو كښې په تفصيل سره ذكر كړې دې.ددې درې مقاماتو نه علاوه ئې مختصراً په پنځلس مقاماتو كښې ذكر كړې دې.دغه شان ټول په اتلس مقاماتوكښې ئې دا بيان كړې دې.ددې مقاماتو تفصيل لاندې دې...

(۱)كتاب الهبة باب الهبة المراة لغيرزوجها رقم ۲۵۹۳(۲) كتاب الشهادات باب إذا عدل رجل رجلاًرقم الحديث۲۶۳۷(۳)كتاب الشهادات باب تعديل النساء بعضهن بعضاً رقم الحديث ۲۶۶۱(٤)كتاب الشهادات باب القرعة فى المشكلات رقم الحديث ۲۶۸۸ (۵) كتاب الجهاد باب حمل الرجل إمرأته فى الغزو رقم الحديث ۲۸۷۹(۶) كتاب المغازى باب غزوة بدر رقم الحديث ٤۰۲۵ ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.....

قوله: وَالْأُفَكِ بِمَنْزِلَةِ النِّجْسِ وَالنَّجَسِ: یعنی دا لفظ «إفك» دهمزه په کسره او فاء په سکون سره،هم دې.او «أفك» دهمزه او فاء په فتحې سره هم دې.لکه څنګه چه «نجس» او «نَجس» دې.

قوله: يُقَالُ إِفْكُهُمْ وَأَفْكُهُمْ وَأَفَكَهُمْ: په دې سره امام بخاری ﷫ مشهور لغت طرف ته اشاره اوکړه.چه په قرآن مجید کښې آیت ﴿بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾ کښې مشهور قراءت بکسر الهمزة وسکون الفاء دې.البته په دې کښې «أفكهم» مجرد نه د ماضی صیغه،او «أفّكهم» د باب تفعیل نه هم د ماضی صیغه مستعمل ده. خودا دواړه قراءتونه شاذ دی.(۱)

[۳۹۱۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَعَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَالَ لَهَا أَهْلُ الْإِفْكِ مَا قَالُوا وَكُلُّهُمْ حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِنْ حَدِيثِهَا وَبَعْضُهُمْ كَانَ أَوْعَى لِحَدِيثِهَا مِنْ بَعْضٍ وَأَثْبَتَ لَهُ اقْتِصَاصًا وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْ كُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمُ الْحَدِيثَ الَّذِي حَدَّثَنِي عَنْ عَائِشَةَ وَبَعْضُ حَدِيثِهِمْ يُصَدِّقُ بَعْضًا وَإِنْ كَانَ بَعْضُهُمْ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضٍ قَالُوا قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ أَزْوَاجِهِ فَأَيُّهُنَّ خَرَجَ

.....دتیرمخ بقیه] ⑦ کتاب المغازی باب حدیث الإفک ⑧ کتاب التفسیر باب بل سولت لکم أنفسکم أمراً فصبر جمیل رقم الحدیث ٤٦٩٠ ⑨ کتاب التفسیر باب ﴿ إن الذین جآوا بالإفک عصبة منکم﴾ رقم الحدیث ٤٧٤٩ ⑩ کتاب التفسیر باب ﴿لولا إذ سمعتموه قلتم ما یکون لنا.. ﴾ رقم الحدیث ٤٧٥٠ ⑪ کتاب التفسیر باب ﴿ إن الذین یحبون أن تشیع الفاحشة .. ﴾ رقم الحدیث ٤٧٥٧ ⑫ کتاب النکاح باب المرأة تهب یومها من زوجها لضرتها.. رقم الحدیث ٥٢١٣ ⑬ کتاب الأیمان والنذور باب قول الرجل لعمرالله .. رقم الحدیث ٦٦٦٢ ⑭ کتاب الأیمان والندور باب الیمین فیما لا یملک رقم الحدیث (٦٦٧٩ ⑮ کتاب الإعتصام بالکتاب والسنة باب قول الله تعالی ﴿ وأمرهم شوری بینهم ﴾ رقم الحدیث ٧٥٠٠ ⑯ کتاب ا لتوحید باب قول الله تعالی﴿ یریدون أن یبدلوا کلام الله ﴾ رقم الحدیث ٧٥٠٠ ⑱ کتاب التوحیدباب قول النبی ﷺ الماهر بالقرآن مع سفرة الکرام البررة وزینو القرآن بأصواتکم رقم الحدیث (٧٥٤٥)..

په ذکرشوو مقاماتو کښې ⑨، ⑦ او ⑩ نمبر باندې امام بخاری ﷫ حدیث افک په تفصیل سره ذکر کړې دې.حافظ ابن حجر﷫ په دې حدیث باندې په کتاب التفسیر کښې د سورة نور په ضمن کښې تقریباً په اوویشتو صفحاتو باندې مشتمل تفصیلی کلام کړې دې.اوګورئ فتح الباری (۸\٤٥٥و ٤٨١)_~

(۱) عمدة القاری (۱۷\۲۰۳)_

سهمها خرج بها رسول الله صلى الله عليه وسلم معه قالت عائشة فأقرع بيننا في غزوة غزاها
فخرج فيها سهمي فخرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بعد ما أنزل الحجاب فكنت
أحمل في هودجي وأنزل فيه فسرنا حتى إذا فرغ رسول الله صلى الله عليه وسلم من غزوته
تلك وقفل دنونا من المدينة قافلين آذن ليلة بالرحيل فقمت حين آذنوا بالرحيل فمشيت
حتى جاوزت الجيش فلما قضيت شأني أقبلت إلى رحلي فلمست صدري فإذا عقد لي من
جزع ظفار قد انقطع فرجعت فالتمست عقدي فحبسني ابتغاؤه قالت وأقبل الرهط الذين
كانوا يرحلوني فاحتملوا هودجي فرحلوه على بعيري الذي كنت أركب عليه وهم يحسبون
أني فيه وكان النساء إذ ذاك خفافا لم يهبلن ولم يغشهن اللحم إنما يأكلن العلقة من
الطعام فلم يستنكر القوم خفة الهودج حين رفعوه وحملوه وكنت جارية حديثة السن فبعثوا
الجمل فساروا ووجدت عقدي بعد ما استمر الجيش فجئت منازلهم وليس بها منهم داع ولا مجيب
فتيممت منزلي الذي كنت فيه وظننت أنهم سيفقدوني فيرجعون إلي فبينا أنا جالسة في
منزلي غلبتني عيني فنمت وكان صفوان بن المعطل السلمي ثم الذكواني من وراء
الجيش فأصبح عند منزلي فرأى سواد إنسان نائم فعرفني حين رآني وكان رآني قبل
الحجاب فاستيقظت باسترجاعه حين عرفني فخمرت وجهي بجلبابي و والله ما تكلمنا
بكلمة ولا سمعت منه كلمة غير استرجاعه وهوى حتى أناخ راحلته فوطئ على يدها فقمت إليها
فركبتها فانطلق يقود بي الراحلة حتى أتينا الجيش موغرين في نحر الظهيرة وهم نزول
قالت فهلك فيمن هلك وكان الذي تولى كبر الإفك عبد الله بن أبي ابن سلول قال
عروة أخبرت أنه كان يشاع ويتحدث به عنده فيقره ويستمعه ويستوشيه وقال عروة أيضا لم
يسم من أهل الإفك أيضا إلا حسان بن ثابت ومسطح بن أثاثة وحمنة بنت جحش في ناس
آخرين لا علم لي بهم غير أنهم عصبة كما قال الله تعالى وإن كبر ذلك يقال له عبد
الله بن أبي ابن سلول قال عروة كانت عائشة تكره أن يسب عندها حسان وتقول
إنه الذي قال فإن أبي ووالده وعرضي لعرض محمد منكم وقاء قالت عائشة فقدمنا
المدينة فاشتكيت حين قدمت شهرا والناس يفيضون في قول أصحاب الإفك لا أشعر
بشيء من ذلك وهو يريبني في وجعي أني لا أعرف من رسول الله صلى الله عليه وسلم
اللطف الذي كنت أرى منه حين أشتكي إنما يدخل علي رسول الله صلى الله عليه
وسلم فيسلم ثم يقول كيف تيكم ثم ينصرف فذلك يريبني ولا أشعر بالشر حتى خرجت حين
نقهت فخرجت مع أم مسطح قبل المناصع وكان متبرزنا وكنا لا نخرج إلا ليلا إلى ليل وذلك
قبل أن نتخذ الكنف قريبا من بيوتنا قالت وأمرنا أمر العرب الأول في البرية قبل الغائط
وكنا نتأذى بالكنف أن نتخذها عند بيوتنا قالت فانطلقت أنا وأم مسطح وهي ابنة أبي

رُهْمِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ وَأُمُّهَا بِنْتُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ خَالَةُ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ وَابْنُهَا مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ بَيْتِي حِينَ فَرَغْنَا مِنْ شَأْنِنَا فَعَثَرَتْ أُمُّ مِسْطَحٍ فِي مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ أَتَسُبِّينَ رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا فَقَالَتْ أَيْ هَنْتَاهُ وَلَمْ تَسْمَعِي مَا قَالَ قَالَتْ وَقُلْتُ وَمَا قَالَ فَأَخْبَرَتْنِي بِقَوْلِ أَهْلِ الْإِفْكِ قَالَتْ فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلَى مَرَضِي فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ كَيْفَ تِيكُمْ فَقُلْتُ لَهُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ آتِيَ أَبَوَيَّ قَالَتْ وَأُرِيدُ أَنْ أَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا قَالَتْ فَأَذِنَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لِأُمِّي يَا أُمَّتَاهُ مَاذَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِي عَلَيْكِ فَوَاللَّهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةً عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا لَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا كَثَّرْنَ عَلَيْهَا قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ اللَّهِ أَوَلَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهَذَا قَالَتْ فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَصْبَحْتُ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ ثُمَّ أَصْبَحْتُ أَبْكِي قَالَتْ وَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ يَسْأَلُهُمَا وَيَسْتَشِيرُهُمَا فِي فِرَاقِ أَهْلِهِ قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ فَأَشَارَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِي يَعْلَمُ مِنْ بَرَاءَةِ أَهْلِهِ وَبِالَّذِي يَعْلَمُ لَهُمْ فِي نَفْسِهِ فَقَالَ أُسَامَةُ أَهْلَكَ وَلَا نَعْلَمُ إِلَّا خَيْرًا وَأَمَّا عَلِيٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ يُضَيِّقِ اللَّهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ وَسَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ قَالَتْ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيرَةَ فَقَالَ أَيْ بَرِيرَةُ هَلْ رَأَيْتِ مِنْ شَيْءٍ يَرِيبُكِ قَالَتْ لَهُ بَرِيرَةُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا قَطُّ أَغْمِصُهُ أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ قَالَتْ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَوْمِهِ فَاسْتَعْذَرَ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ مَنْ يَعْذِرُنِي مِنْ رَجُلٍ قَدْ بَلَغَنِي عَنْهُ أَذَاهُ فِي أَهْلِي وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا وَمَا يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا مَعِي قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ أَخُو بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْذِرُكَ فَإِنْ كَانَ مِنَ الْأَوْسِ ضَرَبْتُ عُنُقَهُ وَإِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ أَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ قَالَتْ فَقَامَ رَجُلٌ[1] مِنَ الْخَزْرَجِ وَكَانَتْ أُمُّ حَسَّانَ بِنْتَ عَمِّهِ مِنْ فَخِذِهِ وَهُوَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ قَالَتْ وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ رَجُلًا صَالِحًا وَلَكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ لَا تَقْتُلُهُ وَلَا تَقْدِرُ عَلَى قَتْلِهِ وَلَوْ كَانَ مِنْ رَهْطِكَ مَا أَحْبَبْتَ أَنْ يُقْتَلَ فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدٍ فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ لَنَقْتُلَنَّهُ فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ قَالَتْ فَثَارَ الْحَيَّانِ الْأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَتْ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا وَسَكَتَ قَالَتْ فَبَكَيْتُ يَوْمِي ذَلِكَ كُلَّهُ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا

أكتحل بنوم قالت وأصبح أبواى عندى وقد بكيت ليلتين ويوما لا يرقألى دمع ولا أكتحل بنوم حتى إنى لأظن أن البكاء فالق كبدى فبينا أبواى جالسان عندى وأنا أبكى فاستأذنت على امرأة من الأنصار فأذنت لها فجلست تبكى معى قالت فبينا نحن على ذلك دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم علينا فسلم ثم جلس قالت ولم يجلس عندى منذ قيل ما قيل قبلها وقد لبث شهرا لا يوحى إليه فى شأنى بشىء قالت فتشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين جلس ثم قال أما بعد يا عائشة إنه بلغنى عنك كذا وكذا فإن كنت بريئة فسيبرئك الله وإن كنت ألممت بذنب فاستغفرى الله وتوبى إليه فإن العبد إذا اعترف ثم تاب تاب الله عليه قالت فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم مقالته قلص دمعى حتى ما أحس منه قطرة فقلت لأبى أجب رسول الله صلى الله عليه وسلم عنى فيما قال فقال أبى والله ما أدرى ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت لأمى أجيبى رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما قال قالت أمى والله ما أدرى ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت وأنا جارية حديثة السن لا أقرأ من القرآن كثيرا إنى والله لقد علمت لقد سمعتم هذا الحديث حتى استقر فى أنفسكم وصدقتم به فلئن قلت لكم إنى بريئة لا تصدقونى ولئن اعترفت لكم بأمر والله يعلم أنى منه بريئة لتصدقنى فوالله لا أجد لى ولكم مثلا إلا أبا يوسف حين قال فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون ثم تحولت واضطجعت على فراشى والله يعلم أنى حينئذ بريئة وأن الله مبرئى ببراءتى ولكن والله ما كنت أظن أن الله منزل فى شأنى وحيا يتلى لشأنى فى نفسى كان أحقر من أن يتكلم الله فى بأمر ولكن كنت أرجو أن يرى رسول الله صلى الله عليه وسلم فى النوم رؤيا يبرئنى الله بها فوالله ما رام رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلسه ولا خرج أحد من أهل البيت حتى أنزل عليه فأخذه ما كان يأخذه من البرحاء حتى إنه ليتحدر منه من العرق مثل الجمان وهو فى يوم شات من ثقل القول الذى أنزل عليه قالت فسرى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يضحك فكانت أول كلمة تكلم بها أن قال يا عائشة أما الله فقد برأك قالت فقالت لى أمى قومى إليه فقلت والله لا أقوم إليه فإنى لا أحمد إلا الله عز وجل قالت وأنزل الله تعالى إن الذين جاءوا بالإفك عصبة منكم العشر الآيات ثم أنزل الله هذا فى براءتى قال أبو بكر الصديق وكان ينفق على مسطح بن أثاثة لقرابته منه وفقره والله لا أنفق على مسطح شيئا أبدا بعد الذى قال لعائشة ما قال فأنزل الله ولا يأتل أولو الفضل منكم إلى قوله غفور رحيم قال أبو بكر الصديق بلى والله إنى لأحب أن يغفر الله لى فرجع إلى مسطح النفقة التى كان ينفق عليه وقال والله لا أنزعها منه أبدا قالت عائشة وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم سأل زينب بنت جحش عن

أَمْرِي فَقَالَ لِزَيْنَبَ مَاذَا عَلِمْتِ أَوْرَأَيْتِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحْمِي سَمْعِي وَبَصَرِي وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ إِلَّا خَيْرًا قَالَتْ عَائِشَةُ وَهِيَ الَّتِي كَانَتْ تُسَامِينِي مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَهَا اللَّهُ بِالْوَرَعِ قَالَتْ وَطَفِقَتْ أُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَهَذَا الَّذِي بَلَغَنِي مِنْ حَدِيثِ هَؤُلَاءِ الرَّهْطِ ثُمَّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَاللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ الَّذِي قِيلَ لَهُ مَا قِيلَ لَيَقُولُ سُبْحَانَ اللَّهِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا كَشَفْتُ مِنْ كَنَفِ أُنْثَى قَطُّ قَالَتْ ثُمَّ قُتِلَ بَعْدَ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

دلته په سند كښې د ابن شهاب زهرى رحمه الله څلور استاذان دى.① حضرت عروه بن زبير② حضرت سعيدبن المسيب ③ حضرت علقمة بن وقاص④ او حضرت عبدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود،دا څلور واړو جليل القدر تابعين دى.اوددوى شهرت ،امامت، عظمت او جلالت منلې شوې دې.ددې څلورو واړه حضراتو نه امام زهرى رحمه الله حديث افك روايت كړې دې.او دا ټول د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت كوى.امام زهرى رحمه الله فرمائى.چه دې څلورو واړه حضراتو د حديث عائشې رضي الله عنها نه ددې حديث يوه يوه حصه بيان كړې ده. مطلب دا دې.چه چا يوه حصه بيان كړې ده.اوچا بله حصه،پوره حديث راته يو كس نه دې بيان كړې.او په دې څلور واړه حضراتوكښې څه حضرات دحضرت عائشې رضي الله عنها ددې حديث دپاره زيات محفوظ ساتونكى وو.يعنى دوى سره ددې حديث زياته حصه وه.اوهغوى ډير په پوخوالى او يقين سره دا حديث بيانولو .يو خو ددې حضراتو عظمت او جلالت شان او بيا د حضرت امام زهرى رحمه الله د دوى په باره كښې دا اعتراف اواقرار چه دا حديث هغوى ته ښه ياد وو.او «وقدوعيت...» او بيشكه ما دا حديث ددې حضراتو نه ښه محفوظ كړې دې.كوم چه هغوى د حضرت عائشې رضي الله عنها نه ماته بيان كړې دې.اګرچه دغه حديث بعضې حضراتو ته د بعضو په مقابله كښې زيات ښه ياد وو.(خودا مه ګنړئ. چه د يو بيان كړې حديث د بل د حديث سره متعارض وو.بلكه) په دوى كښې د يوحديث د بل دحديث تصديق اوتائيد كوى. خلاصه دا چه امام بخارى رحمه الله حديث افك د امام زهرى رحمه الله په سند سره پيش كړې دې.اوامام زهرى رحمه الله چه دكومو څلورو استاذانو نه دا حديث بيانوى .دهغوى په باره كښې دوى دا تصريح كړې ده.چه هغوى پوره حديث نه بيانولو .يوه يوه حصه به ئې بيانوله.څه حصه يو استاذ بيان كړې ده.اوڅه حصه بل استاذ بيان كړې ده.دغه شان پوره حديث ددې حضراتو د بيان نه مرتب دې.

دحديث افک ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه رسول الله ﷺ به كله د سفر اراده كوله. نو په ازواج مطهراتو كښې به ئې خسنړې اچولو..دچا نوم چه به په خسنړې كښې راووتلو. نبى ﷺ به هغه د ځان سره بوتله.نو په دې غزوه كښې نبى ﷺ زمونږ په مينځ كښې خسنړې واچولو.په هغې كښې زما نوم راووتلو.نو زه د رسول الله ﷺ سره راووتم.دا د نزول حجاب نه پس واقعه ده.زه به هم په كجاوه كښې ووم.چه كوزولې به شوم.اوهم په هغې كښې به ووم چه خيژولې به شوم.مونږ روان شو.تردې چه رسول الله ﷺ ددې غزوې نه فارغ شو.او واپس شو.په واپسئ كښې مونږ خلق مدينې سره نزدې وو.(چه قافله په يوځاې كښې ډيره شوه)

دشپې په اخرى حصه کښې رسول الله ﷺ د روانيدو اعلان اوکړو.(د نبى ﷺ مطلب دا وو. چه خلق دخپلو خپلو ضرورتونو نه فارغ شى.اوتيارشى.ځکه چه قافله تلونکې وه.چه اعلان مې واوريدل.نو زه پاسيدم.او(دقضاء حاجت دپاره) لاړم.ترديې چه زه د لښکرنه تيره شوم.او ډيره لرې لاړم.نوکله چه زه د خپل ضرورت نه فارغه شوم.اوخپلې سورلۍ ته راغلم.نوماچه په خپله سينه باندې لاس اووهلو.نو زما هغه هارغورځيدلې وو. کوم چه د ،،ظفار،، دښارد مرجان (غمو) نه جوړ شوې وو.زه دخپل هار په لټون کښې واپس شوم.دهغې لټون زه ايساره کړې ووم.(او په ما باندې ناوخته شو) بل طرف ته هغه خلق چا چه به زه سورولم.هغوى زما كيجاوه پورته کړه.او زما د سورلۍ په اوښ باندې ئې کيخوده.هغوى دا ګڼړل.چه زه په كجاوه کښې يم.ځکه چه ښځې به په هغه زمانه کښې نرۍ وې.غټې او درنې به نه وې.اونه به په هغوى باندې زياته غوښه وه.ځکه چه هغوى به ډير معمولى خوراك كولو.ددې وجې خلقو چه هغه اوچتوله.نودهغې د سپکوالى په وجه په څه فرق باندې پوهه نشو.بله دا چه په هغه وخت کښې زه کم عمره هم وو.نو هغوى اوښ اوشړل.او روان شو.ما خپل هارد لښكردروانيدو نه پس بيا موندو.دَ ايساريدو ځاې ته چه کله زه راغلم .نو هلته نه څوك داعى وو.اونه څوك مجيب،(بلکه ټول تلې وو) ما په دې خيال هم په خپل زوړ ځاې کښې د ايساريدو اراده اوكړه.چه دغه خلق کله ما اونه موموى.نو په لټون کښې به هم دې ځاې ته راځى.زه هم په خپل ځاې باندې ناسته ووم.چه په ما باندې خوب غالب شو.او زه اوده شوم. صفوان بن معطل سلمى ﷺ به د لښكر نه روسته وو.(که د لښكر نه څه څيز پاتې شوې وى. چه هغه راوچتوى) هغه د صبا په وخت کښې زما ځاې ته راورسيدل.هغه د يو اوده انسان جوثه اوليده .کله چه هغه ماته نزدې راغلو.نو زه ئې اوپيژندم.ځکه چه د پردې حکم نازليدو نه وړاندې هغه زه ليدلې ووم.زه دهغه په استرجاع «انا لله وانا اليه راجعون» باندې رابيداره شوم.ما خپل ځان په خپل څادر کښې پټ کړلو.په الله قسم مونږ بله يوه خبره هم نه ده کړې.اونه دهغه د استرجاع د کلمې نه ما دهغه نه بل څه اوريدلى دى.هغه دسورلۍ نه راكوز شو.اوخپله سورلۍ ئې کينوله.اودهغې مخکنۍ پښې ئې چو کړې.(چه ماته په سوريدو کښې آسانتيا وى) زه پاسيدم.او سوره شوم. نو هغه به سورلۍ د وړاندې نه راښکله.تردې چه مونږ په تکنره غرمه کښې لښكر ته راورسيدو.اولښكر ډيره شوې وو.بس زما په باره کښې چه د چا هلاکيدل وو. هغوى هلاك شو.اوكوم كس چه په تهمت کښې لويه حصه اخستې وه.هغه عبدالله بن ابى بن سلول وو... حضرت عروه فرمائى.ماته خودلى شوى دى.چه عبدالله بن ابى به د تهمت خورول كولو.دهغه سره به دتهمت په باره کښې خبرې كيدلې.هغه به دهغې تصديق كولو.اوهغه به ئې اوريدلې.اومبالغه به ئې په کښې کوله.دغه شان د تهمت لګونکو نورو خلقو کښې صرف حسان بن ثابت،مسطح بن اثاثه، حمنه بنت جحش نومونه اخستې شوى دى.دباقى حضراتو ماته علم نشته.(چه نور كوم كسان په دې كښې شامل وو) البته دومره خبره ضرور ده.چه دا يو پوره ډله وه. لکه څنګه چه الله تعالى فرمائيلى دى.﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ﴾ بيشكه هغه كسان چه تهمت ئې لګولې دې.په تاسو کښې يوه ډله ده.حضرت عروه رحمه الله فرمائى.چه حضرت عائشې رضي الله عنها ته دا خبره

خوښه نه وه.چه دهغې په مخامخ حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ته بد رد اوونيلى شى.فرمائيل ئې چه حسان خو دا شعر هم وئيلې دې.

فإن أبي ووالده وعرضى لعرض محمد منكم وقاء

زما پلاراوزما دپلار،بلار،اوزما عزت دې دمحمد صلى الله عليه وسلم د عزت دپاره تاسو ته مخامخ ډهال وى.
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه بيا مونږ مدينې ته راغلومدينې ته د رارسيدونه پس زه يو مياشت بيماره ووم.البته دبيمارئ په موده كښې به دې خبره زه په شك كښې اوچولم.چه ما د بيمارئ په دوران كښې هغه مينه او محبت د نبى صلى الله عليه وسلم نه نهٔ موندلو.كوم چه به وړاندې د بيمارئ په موده كښې وو.صرف دومره وه.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به ماته تشريف راوړلو.سلام به ئې واچولو.اوتپوس به ئې اوكړو .څنګه حال دې؟ او بيا به ئې واپس تشريف اوړلو.نود رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې طرز عمل د وجې به زما شك پيدا كيدو.خود شر ماته څه علم نه وو.كله چه زه لږه جوړه شوم.دحضرت مسطح مورسره ،،مناصع،، طرف ته اووتلم.هغه زما د قضاء حاجت ځاى وو.اومونږ به د قضاء حاجت دپاره صرف د شپې وتلو.دا دهغه وخت خبره ده.په كوم وخت كښې چه د كورونو سره نزدې د بيت ا لخلاء رواج نه وو.زمونږ د اولنو عربو پشان رواج وو.هغوى به د قضاء حاجت دپاره د كورونو نه لرې صحراء ته تلو.كورونوسره د بيت الخلاء په جوړلو به مونږ ته تكليف وو.نو زه او ام مسطح اووتلو.،،ام مسطح،، د ابورهم بن المطلب بن عبد مناف لورده.اودهغې مور صخربن عامر لور وه.اودحضرت ابوبكر رضي الله عنه ترور وه.او مسطح بن اثاثه بن عباد بن المطلب د ام مسطح خوې دې.
نو مونږ دواړه د قضاء حاجت نه فارغ شو.او كور طرف ته راتلو.چه ام مسطح په خپل لوې څادر كښې اونخته او راپريوته.نو وې وئيل «تعس مسطح» مسطح دې هلاك شى.ما ام مسطح ته اووئيل.تا ډيره غلطه جمله استعمال كړه.ته داسې كس ته بد رد واى.چه هغه په جنګ بدر كښې شريك شوې دې.په دې باندې ام مسطح اووئيل.الله دې په نيكه كړه.تا نه دى اوريدلى.چه مسطح څه وائى.او ګرځى.نوبياهغې ماته د تهمت لګونكو خبرې بيان كړې.دهغې په وجه زما بيمارى نوره هم زياته شوه.كله چه زه كور ته واپس راغلم.نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته راغلل.او د سلام كولو نه پس ئې راته اووئيل. ستا طبيعت څنګه دې.ما هغوى ته عرض اوكړو .آيا تاسو ماته اجازت كوئ.چه زه خپل مور پلار كره لاړه شم.زما مطلب دا وو.چه دهغوى نه ددې خبرې تحقيق اوكړم.رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته اجازت راكړو.نو ما د خپلې مور نه تپوس اوكړو.مورې دا خلق څه وائى؟ هغې راته اووئيل لورې خفه كيږه مه، ډير كم داسې شوى دى.چه يو ښائسته ښځه د داسې كس سره وى.چه هغه ورسره محبت كوى.او دهغې بنې (د خاوند نورې ښځې) هم وى.اوبيا دې هم په هغې باندې تهمت نه لګى.ما اووئيل «سبحان الله» آيا واقعى خلق داسې خبرې كوى. نو ما په دغه شپه تر صبا پورې ژړل. ټوله شپه نه خو زما د سترګو اوښكې اودريدې .اونه ماته خوب راغلو.
بل طرف ته رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت على بن ابى طالب او حضرت زيد بن اسامه رضي الله عنهما راوغوښتل. تردغه وخته پورې وحى بنده وه.(چونكه دا دواړه د كور كسان وو) نبى صلى الله عليه وسلم د دوى دواړو نه تپوس اوكړو.اودخپلې بى بى نه د جدا كيدو (طلاق) متعلق ئې ورسره مشوره

اوکړه.اسامه بن زید ﷛ رسول الله ﷺ ته دهغوی د بی بی د پاکدامنئ په باره کښې دخپل علم مطابق او د اهل بیت په باره کښې چه څه ورته علم وو.دهغې مشوره ورکړه.هغوی اوفرمائیل.ستاسوبی بی ده.د دې متعلق مونږ صرف خیر پیژنو.

البته حضرت علی ﷛ نبی ﷺ ته مشوره ورکوله.او ورته ئې اوونیل.الله تعالی په تاسو باندې څه تنګی نه ده راوستې.(که د افواهګانوپه وجه مو د عائشې ﷞ نه په طبعیت کښې خروالې پیدا شوې وی نو)ښځې نورې ډیرې دې. (او ستاسودا تکدر داسې هم لرې کیدې شې.چه د وینځې (حضرت بریریره ﷞ چه د حضرت عائشې ﷞ وینځه پاتې شوې وه.اودهغې حالات پیژنی) نه تپوس اوکړئ.هغه به تاسو ته صحیح صحیح خبره اوکړی.نو رسول الله ﷺ حضرت بریره ﷞ راوغوستله.او تپوس ئې ترې اوکړو.بریرې! د عائشې ﷞ نه تا داسې څه خبره لیدلې ده.چه هغې ته په شك کښې اچولې ئې؟ حضرت بریرې ﷞ جواب ورکړو.قسم دې وی په هغه ذات چه تاسو ئې په حقه پیغمبر رالیږلې ئې.ما چرته هم داسې څه خبره نه ده لیدلې.چه هغه معیوبه وی.صرف دومره خبره مې لیدلې ده.چه هغه د کم عمر جینئ ده.دخپل کور اوړه ښکاره پریږدی.او اوده شی.او چیلئ راشی.اوړه اوخوری.(هغه خو دومره ساده باده ده.دهغې په پاکدامنئ اوعفت کښې څه شك کیدې شی)

نونبی ﷺ په دغه ورځ د عبدالله بن ابی خلاف د منبر دپاسه مدد طلب کړو.او وې فرمائیل.یا معشرالمسلمین څوك دی ، چه دهغه کس په مقابله کښې زما مدد اوکړی.چا چه ماته زما د کور والا په باره کښې تکلیف رارسولې دې.په الله قسم زه د خپلې بی بی په حق کښې صرف خیر پیژنم. او دوی د یو داسې کس ذکر کړې دې.د کوم په باره کښې چه هم ما ته صرف د نیکئ اوخیر علم دې.اوهغه زما کور ته داخل شوې هم نه دې.مګر زما سره.

چه د نبی ﷺ دا خطاب ئې واوریدل.نوسعدبن معاذ ﷛ اودریدل.او عرض ئې اوکړو.یا رسول الله زه به ستاسو مدد اوکړم.که ددغه کس تعلق د بنو اوس سره وی.زه به دهغه څټ قلم کړم.اوکه هغه زمونږ د خزرجی ورونړو سره تعلق ساتی.نو چه تاسو څه حکم کوئ.مونږ به هغه منو.په دې باندې د خزرج قبیلې سردار حضرت سعد بن عباده اودریدلو.دحضرت حسان ﷛ مور دهغه د ترۀ لور وه. (او چونکه حضرت حسان ﷛ په دې تهمت کښې شریك وو.ددې وجې حضرت سعد بن عباده ﷛ دا اوګنړل.چه حضرت سعد بن معاذ ﷛ په مونږ باندې تعرض اوکړو) هغوی ددې نه وړاندې نیك سړې وو.خوپه دغه وخت کښې خاندانی حمیت په هغه باندې غالب شو.هغه حضرت سعد بن معاذ ﷛ ته اوونیل.تا غلطه اوونیله.په الله قسم نه خو ته هغه قتلولې شې.اوکه هغه (تهمت لګونکې) ستاسو د قبیلې سره تعلق ساتلو.نو تا به دهغه قتل هرګز نه غوستل.(خوچونکه دهغه تعلق زمونږ د قبیلې سره دې.ددې وجې ته د قتل خبره کوې) په دې کښې د حضرت سعد بن معاذ ﷛ د ترۀ ځوې حضرت اسید بن حضیر ﷛ اودریدل.او حضرت سعد بن عباده ﷛ ته ئې اوونیل.غلطه خبره خو تا اوکړه.په الله قسم مونږ به هغه خامخا قتلوو.ته منافق ئې.ځکه خو ته د منافقانو د طرفه جګړه کوې.ددې تو تو مئ مئ د وجې د اوس او خزرج دواړو قبیلو خلق ژاپورته شول.تردې چه دوی په خپل مینځ کښې د جنګ اراده اوکړه.رسول الله ﷺ د منبر نه هغوی چپ کولو.تردې چه ټول چپ شول.او نبی ﷺ هم چپ شو.

حضرت عائشه ﷺ فرمائی.چه په دغه ورځ هم ما تر ولہ ورځ مسلسل اوژړل.په دغه مودہ کښې نه زما د سترګو اوښکې اوچې شوې.اونه ماته خوب راغلو.د صبا په وخت کښې زما مور پلار ما سره کیناستل.او ما ژړل.په دې کښې یوې انصاری ښځې ماته د راتلو اجازت اوغوستلو.ما هغې ته د راتلو اجازت ورکړو.هغه هم راغله.او ما سره په ژړا شوه.مونږ هم په دې حالت کښې وو.چه رسول اللهﷺ مونږ ته راغلو.سلام ئې اوکړو.او وې فرمائیل.چه دکوم وخت نه په ما باندې تهمت لګولې شوې وو.دهغه وخت نه رسول اللهﷺ ما سره نه وو ناست.تریوې میاشتې پورې په نبیﷺ زما په باره کښې څه وحی نه وه نازله شوې... نبیﷺ د تشریف راوړلو نه پس کلمه شهادت اووئیل.اوبیائې اوفرمائیل.

اما بعد! عائشې ﷺ ستا په باره کښې ماته دا خبره رارسیدلې ده.که ته بې ګناه ئې.نو الله تعالی به خامخا تا بې ګناه ثابته کړي.اوکه ستا نه څه غلطی شوې وی.نو الله تعالی ته توبه اوباسه.اواستغفار وایه.ځکه چه بنده کله د خپلو ګناهونو اقرار اوکړي.اوتوبه اوباسی.نو الله تعالی دهغه توبه قبلوی.

کله چه نبیﷺ خپله خبره پوره کړه.نو زما اوښکې داسې اوچې شوې.چه یوه قطره مې هم محسوس نکړه.نو ما خپل پلار ته اووئیل.چه تاسو د رسول اللهﷺ د سوال جواب ورکړئ. هغه اووئیل په الله قسم زه نه پوهیږم.چه رسول اللهﷺ ته څه اووایم.بیا ما خپلې مور ته اووئیل.چه ته جواب ورکړه.هغې هم معذرت اختیار کړو.چه زه نه پوهیږم.چه رسول اللهﷺ ته څه جواب ورکړم.اوس مجبوراً ما ته پخپله خبره کول شروع کول شو.په هغه وخت کښې زه د کم عمر جینئ وو.او قرآن شریف هم ما څه زیات نه وو ویلې.ما اووئیل.

په الله قسم ماته معلومه شوې ده.چه تاسو خلقو دا خبره اوریدلې ده.تردې چه ستاسو په زړونو کښې کیناستلې ده.او تاسو ددې تصدیق هم (ترڅه حد پورې) کړې دې.اوس که زه تاسو ته اووایم.چه زه رښتینې یم.نو تاسو خلق به زما تصدیق اونکړئ.اوکه زه دهغه تهمت اقرار اوکړم.د کوم نه چه زه پاکه یم.الله تعالی ته ښه معلومه ده.نو تاسو خلق به اووائې.چه دې رښتیا وینا اوکړه.په الله قسم اوس زه د خپلې اوستاسو د معاملې مثال ددې نه بغیر بل څه نه وینم.کومه چه د حضرت یوسف ﷺ پلار (حضرت یعقوب ﷺ) چه (دخپلو ځامنو غلطه خبرد ئې واوریده.) فرمائیلې وه.﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾ اوس به زه صبرجمیل اختیارکړم.اوڅه چه تاسو وائې.دالله تعالی نه زه د هغې په باره کښې مدد غواړم.

چه دا مې اووئیل. نو زه لاړم.اوپه خپله بستره باندې سملاستم.او زما یقین وو.چه الله تعالی ته زما دبراءت علم دې.اوهغه به زما براءت بیانوی.خو په الله قسم چه دا خبره خو زما په وهم او ګمان کښې هم نه وه.چه الله تعالی به زما په باره کښې پخپله خبره کوی.البته زما دا امید ضرور وو.چه رسول اللهﷺ به څه خوب اووینی.چه دهغې په ذریعه به ورته الله تعالی زما براءت بیان کړي.په الله قسم چه نبیﷺ اوس لا دخپل دغه مجلس نه پاسیدلې هم نه وو.اونه د کور په خلقو کښې څوك پاسیدلی وو.چه په نبیﷺ باندې وحی نازلیدل شروع شو.نو په نبیﷺ باندې هغه سختی شروع شوه.(کومه چه به د نزول وحی په وخت) په نبیﷺ باندې شروع کیده.تردې چه د نبیﷺ (د مخ مبارك) نه د ملغلرو پشان د خولې

ڤطرې بهيدلې .حالانكه ورځ د يخنئ وه.دا دهغه كلام الهى د ثقل د وجې وو.كوم چه به په نبى ﷺ باندې نازليدل.صديقه رضي الله عنها فرمائى.چه دنبى ﷺ نه كله دا كيفيت ختم شو.نو نبى ﷺ مسكې شو.نو د ټولو نه اولنئ كلمه كومه چه د نبى ﷺ د خولې مباركې نه وتلې وه. هغه دا وه.اې عائشې الله تعالى ستا براءت نازل كړو.نو زما مور ماته اووئيل.رسول الله ﷺ ته اودريږه.(دتعظيم دپاره) ما اووئيل. په الله قسم زه نه اودريږم.زه به صرف دالله تعالى حمد او شكر اوباسم.(چه هغه زما د براءت اعلان اوكړو)الله تعالى د ﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ﴾ لس آياتونو پورې آياتونه (زما په براءت كښې) نازل كړو.

كله چه الله تعالى زما د براءت اعلان په دې آياتونو كښې اوكړو.نو حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه اووئيل.اوهغوى به په حضرت مسطح بن اثاثه باندې د قرابت او دهغوى د غريبئ په وجه خرچ كولو.چه په الله قسم زه به په آئنده كښې په مسطح بن اثاثه باندې هيڅ خرچ نه كوم.ځكه چه هغه هم په عائشه رضي الله عنها باندې تهمت لګولې وو.په دې باندې د قرآن مجيد دا آيت﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ پورې نازل شو.ددې آيت د نزول نه پس حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه اوفرمائيل.ولې نه زما خو هم دا خواهش دې چه الله تعالى زما مغفرت اوكړى.نودوى دحضرت مسطح خرچه دوباره وركول شروع كړه. او وې وئيل په الله قسم چه دده دا نفقه به زه هيڅ كله بندَه نكړم.

حضرت صديقه رضي الله عنها فرمائى.چه رسول الله ﷺ د حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها نه هم زما په باره كښې تپوس كړې وو.چه د عائشې متعلق ته څه پيژنې.نوحضرت ام المومنين زينب رضي الله عنها ورته اووئيل.((أحمى سمعى وبصرى والله ما علمت إلا خيرا)) يعنى زه خپل غوږونه د داسې فضولو خبرو نه او خپلې سترګې د داسې ناخوښه مناظرو كتلو نه محفوظ ساتم.په الله قسم ماته د حضرت عائشې رضي الله عنها په باره كښې د خيراونيكئ نه سوا بله څه خبره نه ده معلومه ...حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه په ازواج مطهراتو كښې صرف زينب داسې وه.چه هغې زما مقابله (په حسن او جمال عقل اوذكاوت وغيره كښې) كوله.خو الله تعالى د ورع او تقوى په وجه دهغې حفاظت اوكړو.اودهغې خور حمنه بنت جحش د هغې د طرف نه جګړه كوله.(چه زما مرتبه د نبى ﷺ په نيز كمه شى.او دهغې خور زينب بنت جحش اوچته شى) نو په هلاكيدونكو كښې هغه هم هلاكه شوه.

حديث افك كښې د بعضو جملوتشريح:

قوله: <u>قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ أَزْوَاجِهِ</u>: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه نبى ﷺ به كله د سفر اراده كوله.نو په خپلو بيبيانوكښې به ئې خسنړې اچولو.

په ازواج مطهراتوكښې خسنړې (قرعه) اچول اوددې حكم: په دې مسئله كښې د حضرات احنافو رحمهم الله موقف دا دې.چه چه خسنړې په نبى ﷺ باندې واجب نه وو.نبى ﷺ به د ازواج

مطهراتو رضی الله عنهن د تطییب قلوب دپاره خسنړې اچولو.ځکه که نبی ﷺ به په خپله خوښه باندې څوک متعین کوله.نونورې بیبیانې به پرې خفه کیدې.چه مونږ ولې پریږدی. د شوافعو رحمهم الله نه امام غزالی رحمه الله په ،،خلاصه،، کښې هم دا اختیارکړی دی.اوعلامه زرقانی رحمه الله په ،،شرح مواهب،، کښې د اکثرو مالکیانو رحمهم الله مختارهم دا خودلې دې.

داکثروحنابلوٌ اواکثروشوافعو رحمهم الله رائې دا ده.چه ((قسم بین الأزواج)) په نبی ﷺ باندې واجب وو.اودا خسنړې به نبی ﷺ هم د واجب په حیثیت باندې اچولو.([1])

قوله: فَأَقْرَعَ بَيْنَنَا فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا فَخَرَجَ فِيهَا سَهْمِي: د ابن اسحاق او طبرانی رحمه الله په روایت کښې دا تصریح راغلې ده.چه دا غزوه دکومې چه حضرت عائشه رضی الله عنها دلته ذکر کوی. دا غزوه مریسیع وه.([2]) کومې ته چه غزوه بنی مصطلق هم وائی.په قرعه کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها نوم راووتلو.

قوله: فَخَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا أُنْزِلَ الْحِجَابُ: زه د رسول الله ﷺ سره اووتلم.دا دنزول حجاب نه پس واقعه ده.

د نزول حجاب حکم کله راغلې وو؟ په دې باره کښې مختلف اقوال دی.

① د واقدی.قتاده،ابن جریر او حافظ ابن کثیر رائې دا ده.چه دا د ۵ھ واقعه ده.

② د حافظ شرف الدین دمیاطی خیال دې.چه دا د ۳ھ واقعه ده.د حافظ ابن حجر او علامه ابن قیم رحمهما الله میلان هم دې طرف ته دې.

③ دابوعبیده رحمه الله وغیره رائې دا ده،چه دا د ٤ھ واقعه ده.([3])

قوله: فَكُنْتُ أُحْمَلُ فِي هَوْدَجِي وَأُنْزَلُ فِيهِ: زه به د کجاوې سره اوچتولې شوم.اوهم په کجاوې کښې به وو.او راکوزولې به شوم.

،،هودج،،یوخاص قسم پرده وی.کُمه چه په سورلۍ دپاره اچولې شی.چه ښځه په کښې په پرده کښې ناسته وی.([4]) هغه محل ته ،،هودج،، وائی.په کوم باندې چه پرده تړلې شی.

قوله: فَإِذَا عِقْدٌ لِي مِنْ جَزْعِ ظَفَارٍ قَدِ انْقَطَعَ: ناڅاپه چه ما اوکتل.نو زما هار کوم چه د ظفارد غمو وو.هغه شلیدلې وو.

((جزع)) مرجان (یوقسم غمی دی) ته وائی.

---

[1]) ددې مسئلې دتفصیل دپاره اوګورئ فتح القدیرمع الکفایة (۲۹۹۱۳) ۳۰۳) باب القسم والمغنی لابن قدامة (۲۳۸۱۷)_

[2])فتح الباری(٤٥٨١٨)_

[3])ددې درې واړه اقوالو دپاره اوګورئ (فتح الباری(٤٣٠١٧) وفتح الباری (٤٦٢١٨)_~

[4])فتح الباری(٤٥٨١٨)-

((ظفار)) د يمن په علاقه کښې ديوښارنوم دې.چونکه دغه مرجان ددغه ځاې نه راغلي وو.ددې وجې د ((جزع)) اضافت هغې طرف ته اوشو.ابن التين د هغې قيمت دولس درهم نقل کړې دې.په بعضې نسخو کښې(من جزأظفار)راغلي دى. ((أظفار))د((ظفر)) جمع ده.او((ظفر)) يوخاص قسم خوشبوى ده.د ((جزع أظفار)) مطلب دا دې.چه د دغه خوشبو نه د غمو په شکل کښې مرجان جوړولى شو.اوبيا به د هغې نه هارجوړولې شو. ([1])

قوله: وَكَانَ النِّسَاءُ إِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يُهْبَلْنَ وَلَمْ يَغْشَهُنَّ اللَّحْمُ: ښځې به په هغه زمانه کښې نرئ وې.غټې به نه وې.اونه به په هغوى باندې زياته غوښه وه.بلکه هغوى به سپکې وې.

((لم يهبلن)) په باء باندې درې واړه اعراب وئيلى شوى دى.دغه شان د باب افعال او تفعيل نه هم راځي.اومعنى دلته د ټولودا ده.چه دوى درنې نه وې.([2])

قوله: حَتَّى أَتَيْنَا الْجَيْشَ مُوغِرِينَ فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ وَهُمْ نُزُولٌ: تردې چه مونږ په ټکنړه غرمه کښې لښکرته راورسيدو.او لښکر پړاؤ اچولې وو.

((موغرين))دباب افعال اوباب تفعيل په دواړوکښې مستعمل وو.په دواړو صورتونو کښې د((موغرين)) معنى ((داخلين فى الظهيرة)) ده.او ((وغرة)) د ماسپخين وخت وائى.([3])

قوله: وَيَسْتَمِعُهُ وَيَسْتَوْشِيهِ: عبدالله بن ابى به دا الزام اوريدل.اودا به ئې خوروِل.

د استثناء معنى ده.د څه مسئلې په باره کښې استفسار کول دې دپاره چه د خلقو موضوع اوګرځى.([4])

قوله: فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيرَةَ فَقَالَ أَيْ بَرِيرَةُ هَلْ رَأَيْتِ مِنْ شَيْءٍ يَرِيبُكِ: دلته دا اشکال کيدې شى.چه حضرت بريره رضي الله عنها تر دغه وخته پورې وينځه وه.دهغې مولى هغه مکاتبه جوړه کړې وه.اوحضرت عائشې رضي الله عنها د هغې بدل کتابت ادا کړې وو.ددې نه پس به د حضرت عائشې رضي الله عنها سره اوسيدله.خو د دوى د آزادئ دا واقعه د فتح مکې نه پس راغلې وه.خو واقعه د افک په ٥ھ کښې پيښه شوې وه.د افک د واقعه په وخت کښې حضرت بريره رضي الله عنها د حضرت عائشې رضي الله عنها سره نه وه.نودهغې نه تحقيق حال ولې کولې شو؟

---

[1])فتح البارى(٤٥٩\١٨)_

[2])فتح البارى(٤٦٠\١٨)_

[3])عمدة القارى(٣٠٧\١٧)_

[4])وفى شرح الكرمانى (٣٥\١٦) يستوشيه أن يستخرجه بالبحث عنه ثم يفشيه ولايدعه يخمد)_

باقی پاتې شوددې خبرې دلیل چه دحضرت بریره رضی الله عنها ازادی د فتحې مکې نه پس شوې وه.نوهغه دا ده.چه حضرت بریره رضی الله عنها کله د خیار عتق په بنیاد دخپل خاوند مغیث نه جدائی اختیارکړه.نو حضرت مغیث رضی الله عنه به د مدینې په کوڅوکښې په حضرت بریره رضی الله عنها پسې ژړل.اوګرځیدل.او وئیل به ئې.چه ته زما نه جدا والې مه اختیاروه،خو حضرت بریره رضی الله عنها د هغه سره په اوسیدو باندې نه تیاریده.په دغه وخت کښې نبی صلی الله علیه وسلم خپل ترهٔ حضرت عباس رضی الله عنه ته اوفرمائیل .ګوره د مغیث د بریره سره څومره محبت دې.اودبریرې د مغیث سره څومره بغض دې.([1]) اوحضرت عباس رضی الله عنه د مکې د فتحې نه پس راغلې وو.معلومه شوه.چه د حضرت بریره رضی الله عنها آزادی د فتح مکې نه پس ده.نو په ۵ھ کښې په واقعه د افك کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها په باره کښې د دې نه تحقیق حال کولوخه مطلب دې؟

حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی.چه په روایت کښې د بریره نوم وهم دې.([2]) او علامه زرکشی هم د حافظ ابن قیم تائید کړې دې.([3])

خو صحیح خبره دا ده.چه دې ته د وهم وئیلو ضرورت نشته.حضرت بریره رضی الله عنها اګرچه د واقعه افك په وخت کښې آزاده نه وه.او هم د خپل مولی سره د وینځې په حیثیت اوسیده.خو چونکه مسلمانه وه.او حضرت عائشې رضی الله عنها ته دکشروالی دوجې د تجربه کارۍ ښځې ضرورت وو.نو عین ممکن ده.چه هغه د خپلې مولی سره اوسیده.اوپه هغې سره سره د حضرت عائشې رضی الله عنها دمدد دپاره به دلته ورتله.ددې وجې نبی صلی الله علیه وسلم د حضرت عائشې رضی الله عنها په باره کښې دهغې نه تپوس اوکړو.([4])

قوله: غَيْرَ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ: بس دومره خبره ده.چه هغه د کم عمرجینۍ ده.د خپل کور اوړه پرانستې پریږدی.او اودهٔ شی تربې.نو چیلۍ راشی هغه اوخوری.

په دې جملې سره حضرت بریره رضی الله عنها د حضرت عائشې رضی الله عنها د عفت مزید تاکید اوکړو.چه هغه څو دومره ساده باده ده.چه هغې ته د خپل کور د اوړو په باره کښې څو څوځله خیال نه پاتې کیږی.په داسې معصومه باندې دا الزام ([5])

قوله: فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْذِرُكَ: نو حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه اودریدو.او وې وئیل.یارسول الله زه ستاسو مدد کوم.دلته اشکال کیږی.چه

---

[1])ولفظه یا عباس ألا تعجب من حب مغیث بریرة ومن بغض بریرة مغیثاً الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الطلاق باب شفاعة النبی صلی الله علیه وسلم فی زوج بریرة رقم الحدیث ۵۲۸۳)_

[2])زاد المعاد (۲۶۷\۳) فصل (ما وقع فی حدیث الإفک من الوهم)_

[3])فتح الباری(۴۶۹\۸)_

[4])فتح الباری(۴۶۹\۸)_

[5])فتح الباری(۴۷۰\۸)_

حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه خو په غزوه بنی قریظه کښې وفات شوې وو.او غزوه بنی قریظه په کال ۴ھ یا ۵ھ کښې شوې وه.حالانکه د افک د واقعې تعلق د غزوه مریسیع او بنو المصطلق سره دې.کومه چه په ۶ھ کښې شوې وه.نوپه روایت کښې دحضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه نوم څنګه راغلې دې.ددې اشکال مختلف جوابونه شوی دی.

① ابن عبدالبر مالکی او قاضی ابوبکر بن العربی رحمهما الله وئیلی دی.چه دلته د حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه نوم غلط دې.اودا د راوی وهم دې.او د عادت مطابق قاضی ابو بکر بن العربی رحمه الله دا هم وئیلی دی.چه د سعد بن معاذ رضی الله عنه د نوم په غلطئ باندې اتفاق دې.[1]

② قاضی اسماعیل مالکی وغیره رحمهم الله فرمائیلی دی.چه غزوه مریسیع د غزوه خندق نه وړاندې پیښه شوې ده.[2] او کله چه دا تسلیم کړې شی.چه غزوه مریسیع د غزوه خندق نه وړاندې شوې ده.نو په واقعه د افک کښې د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په موجودګئ باندې هډو څه اشکال نه پاتې کیږی.

البته چه غزوه مریسیع دغزوه خندق نه وړاندې اومنلې شی.نوپه دې کښې یوبل اشکال پیدا کیږی.هغه دا چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته چه نبی صلی الله علیه وسلم د ټولونه اول په کومه غزا کښې د شرکت اجازت ورکړې وو.هغه غزوه خندق وو.بل طرف ته دا ثابته ده.چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په غزوه مریسیع کښې شرکت کړې وو.که غزوه مریسیع دغزوه خندق نه وړاندې اومنلې شی.نو په غزوه مریسیع کښې به د ټولونه اوله غزا وه.چه شرکت په کښې شوې وو.[3]

بعضې عالمانو رحمهم الله ددې اشکال جواب ورکړې دې.اوفرمائیلی ئې دی.چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به په غزوه مریسیع کښې دخپل پلارسره تبعاً تلې وی.مستقلاً په کومه غزا کښې چه دوی شرکت کړې وو.اوپه کوم کښې چه هغوی ته اجازت شوې وو.هغه غزوه خندق وه.[4]

③ امام بیهقی رحمه الله یوبل جواب ورکړې دې.چه دا غزوه مریسیع د غزوه خندق نه پس اودحضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه د وفات نه وړاندې شوې ده.حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه لا زخمی وو.چه په دې کښې غزوه مریسیع او واقعه دافک پیښه شوه.اودافک د واقعه نه پس دوی وفات شوی دی.[5] نوپه حدیث افک کښې د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په نوم راتلو باندې څه اعتراض پاتې نشو.

قوله: فَقَالَ أَبِي وَاللَّهِ مَا أَدْرِي مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په رګونوکښې صدق داسې اخکلې شوې وو.چه د حضرت عائشې رضی الله عنها غوندې پاکدامنې لورد دفاع اودهغوی د براءت ښکاره کولوباندې اماده نه وو.ځکه چه

[1])فتح الباری(۸\۴۷۲)_
[2])فتح االباری(۸\۴۷۲)_
[3])فتح الباری(۸\۴۷۲)_
[4])فتح الباری (۸\۴۷۲)_
[5])دلائل النبوة بیهقی (۴\۸۸) باب حدیث الإفک)_

هغوی ته دحقیقت حال معلومات نه وو.روسته چه کله الله تعالی د حضرت عائشي صديقي رضي الله عنها دبراءت اعلان په قرآن کښې اوکړو.نوحضرت عائشي رضي الله عنها خپل پلار ته اوونیل.تاسو ولې زما دطرفه عذر پیش نکړو.نو حضرت صديق اكبر رضي الله عنه ورته جواب ورکړو.«أي سماء تظلني وأي أرض تقلني إذا قلت مالم أعلم» کوم آسمان به په ما باندې سیورې کوی.اوکومه زمکه به ماته په خپل خان باندې ځاې راکوی.چه زه هغه څه اووايم.دکوم چه ماته علم نه وی.([1])

قوله: فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنْ الْبُرَحَاءِ حَتَّى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِنْ الْعَرَقِ مِثْلُ الْجُمَانِ وَهُوَ فِي يَوْمٍ شَاتٍ مِنْ ثِقَلِ الْقَوْلِ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَيْهِ: نوراغله په نبی ﷺ باندې هغه سختـه کومه چه د نزول وحی په وخت به په دوی باندې راتله.تردې چه د نبی ﷺ دمخ مبارك نه د غمو پشان د خولو څاڅكي څڅيدل .حالانكه د سختې يخنۍ ورځ وه.دا دهغه کلام د بوج د وجې وو.کوم چه په هغوی باندې نازلولې شو.

«البرحاء»برح دګرمۍ سختۍ ته وائی.کومه چه د تبې دوجې يا دسختې ګرمۍ د وجې د خولې وتلو سبب اوګرځی.«برحاء» (دباء په ضمه او راء په فتحه) هم دې ته وائی.([2])

«الجمان» بضم الجيم وتخفيف الميم، ملغلرو ته وائی.([3])

قوله: فَقُلْتُ وَاللَّهِ لَا أَقُومُ إِلَيْهِ فَإِنِّي لَا أَحْمَدُ إِلَّا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ: حضرت عائشي رضي الله عنها قسم اوخوړلو.او وې وئيل.چه زه دهغه د شکریه ادا کولودپاره نه اودریږم.زه صرف دالله تعالی شکراداکوم.په حضرت عائشه رضي الله عنها باندې دبیخودې حالت شروع شوې وو.چه دالله تعالی نه سوا هرڅه ئې د نظرنه اخوا شوی وو.اوصرف په يوالله ئې نظرپاتې شوی وو.په هغې خوقیامت تیر شوې وو.اوالله تعالی د وحی په ذریعه دهغې دبراءت اعلان اوکړو.په داسې حالت کښې په يوالله باندې نظرپاتې کیدل اود غیرالله نه نظراوړیدل څه بعیده خبره نه ده.

دویمه دا چه حضرت عائشي رضي الله عنها دا په ناز کښې وئیلی وو.اوپه ناز کښې خو وی داسې،چه په زړه کښې کوم کیفیت راسخ او مضبوط شوې وی.په ظاهردهغې نه د خلاف اظهار کیږی.د حضرت عائشي رضي الله عنها په زړه کښې هم د نبی ﷺ بې انتهاء عظمت اومحبت موجود وو. خوپه هغوی باندې په دغه وخت کښې دناز کیفیت طاری شوې وو.اوهغوی دهغې خلاف اظهار اوکړو. په ظاهره نیاز وو،او په زړه کښې په زرچنده نیاز موجود وو([4]) ګنی په دې کښې څه شك دې.اوپخپله حضرت عائشي رضي الله عنها هم دا خبره ښه پیژندله.چه دا هرڅه د محمد ﷺ په وجه دوی ته نصیب شو.

---

[1])فتح الباری(۸\۴۷۷)_

[2])عمدة القاری(۱۷\۲۰۹)_

[3])عمدة القاری(۱۷\۲۰۹)_

[4]) قال ابن الجوزی:إنما قالت ذلک إدلالاً کا یدل الحبیب علی حبیبه= فتح الباری (۸\۴۷۷)_

قوله: قَالَتْ عَائِشَةُ وَاللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ الَّذِي قِيلَ لَهُ مَا قِيلَ لَيَقُولُ سُبْحَانَ اللَّهِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا كَشَفْتُ مِنْ كَنَفِ أُنْثَى قَطُّ: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي.چه په کوم کس دا الزام لګولې شوې وو. هغه چه دا الزام واوريدل.نو وئيل به ئې.په هغه ذات مې دې قسم وی.دچا په لاس کښې چه زما روح دې.ما چرته هم دچا ښځې پرده نه ده اخستې.دهغوی نوم صفوان بن معطل رضي الله عنه وو.

دلته يواشکال دا کيږی.چه د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه په روايت کښې ابوداود ،طحاوی، حاکم، احمد او ابن حبان نقل کړې دې.په هغې کښې دی.چه دحضرت صفوان بن معطل رضي الله عنه بی بی د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. او شکايت ئې اوکړو.چه زه مونځ کوم.نو دې ما وهي.اوچه روزه نيسم.نودې مې رتې. او پخپله د صبا مونځ د نمر راختونه پس کوی.
نبی کريم ﷺ د حضرت صفوان بن معطل رضي الله عنه نه تپوس اوکړو.نوحضرت صفوان رضي الله عنه ورته تفصيلی صورتحال اوخودل.اوخپله صفائی ورته پيش کړه.ددې روايت نه معلوميږی.چه دده ښځه وه.نوبيا ددوی د وينا چه «ما کشفت من کنف أنثى قط» څنګه صحيح کيږی.ددې اشکال مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

① ابوبکربزار رحمه الله فرمائی.چه دحضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه دا روايت منکر دې. ځکه چه دا روايت اعمش د ابوصالح نه د«عن»په صيغه سره نقل کړې دې.اود اعمش عنعنه مقبول نه ده.ځکه چه هغوی به تدليس کولو.خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی دی.چه د ابن سعد رحمه الله په روايت کښې«عن أبي صالح» په ځاې«سمعت أبا صالح» دی.دا د سماع تصريح ده.اواعمش داسې مدلس دې.چه کله دوی د سماع تصريح اوکړی.نومحدثين رحمهم الله ددوی روايت ته اعتبار ورکوی.نود ابوبکر بزاردا وينا چه دا روايت منکر دې.اوپه دې کښې تدليس شوې دې. صحيح نه ده.(۱)

عِلامه قرطبی رحمه الله دا جواب ورکړې دې.چه دحضرت صفوان رضي الله عنه مراد دا وو.چه«ما کشفت من کنف أنثى قط على وجه الحرام» چه ما په حرامه طريقه دچا ښځې پرده نه ده پرانستې.خو دعلامه قرطبی رحمه الله په دې جواب باندې اعتراض دې.چه دابوعوانه رحمه الله په روايت کښې داسې الفاظ راغلی دی.«ما کشفت من کنف أنثى قط على وجه الحلال وعلى وجه الحرام» (۲)

② امام بيهقی رحمه الله فرمائی.چه کومه واقعه ئې په بخاری کښې بيان کړې ده. نو دا د واده نه وړاندې وه.تردغه وخته پورې واده لا نه وو شوې.اود ابوداود واقعه روستنۍ دهغه وخت ده.چه واده شوې وو.نو څه تعارض نشته(۳)

[1])فتح البارى(۸\۴۶۲)_
[2])فتح البارى(۸\۴۶۲)_
[3])فتح البارى(۸\۴۶۲)_

حضرت صفوان بن معطل رضى الله عنه: دوى دمديني منورې اوسيدونكې وو.خندق يا مريسيع ددوى اولنئ غزوه وه. په كوم كښې چه دوى شركت كړې وو.رسول الله ﷺ د دوى په باره كښې فرمائيلى وو.«ما علمت عليه إلا خيرا» ددوى د وفات په باره كښې مختلف اقوال دى. بعضو وئيلى دى.چه ددوى وفات د حضرت عمر رضی الله عنه په دورخلافت كښې شوې وو.ابن اسحاق ليكلى دى.چه دې په ۱۹ هجرئ كښې د آرمنيا په جهاد كښې شهيد شوې وو. بعضې حضراتو د وفات كال ۵۸ھ اوبعضو ۶۰ھ هم خودلې دې.[۱] والله اعلم.

[۳۹۱۲] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ أَمْلَى عَلَيَّ هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ مِنْ حِفْظِهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ قَالَ لِي الْوَلِيدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ أَبَلَغَكَ أَنَّ عَلِيًّا كَانَ فِيمَنْ قَذَفَ عَائِشَةَ قُلْتُ لَا وَلَكِنْ قَدْ أَخْبَرَنِي رَجُلَانِ مِنْ قَوْمِكَ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَأَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَهُمَا كَانَ عَلِيٌّ مُسَلِّمًا فِي شَأْنِهَا فَرَاجَعُوهُ فَلَمْ يَرْجِعْ وَقَالَ مُسَلِّمًا بِلَا شَكٍّ فِيهِ وَعَلَيْهِ كَانَ فِي أَصْلِ الْعَتِيقِ كَذَلِكَ

قوله: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ: دا عبدالله بن محمد مسندى دې.اوددوى كنيت ابوجعفردې.[۲]

په بنوامية كښې روستو داسې خلق راغلل.چه هغوى د حضرت علي رضی الله عنه په شان كښې ادب اواحترام نه كولو.نودا وليدبن عبدالملك بن مروان د امام زهري رحمه الله نه تپوس كوى.چه په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې تهمت لګونكوكښې حضرت علي رضی الله عنه هم شامل وو؟[۳] دامام زهري رحمه الله جواب اوكوړئ.وې وئيل ماته داسې قسم څه خبر نه دې رارسيدلې.بلكه هم ستا د قوم دوو كسانو ابوسلمه بن عبدالرحمن او ابوبكربن عبدالرحمن ماته خودلى دى چه حضرت عائشې رضی الله عنها دې دواړو ته وئيلي وو.

قوله: كَانَ عَلِيٌّ مُسَلِّمًا فِي شَأْنِهَا: دا «مسلما» اسم فاعل او اسم مفعول په دواړو طريقو سره لوستلې شوې دې. د اسم فاعل په باره كښې به ترجمه دا وى.چه حضرت علي رضی الله عنه دحضرت عائشې رضی الله عنها په باره كښې چپوالې اختياركړې وو.په دې صورت كښې به ،،تسليم،، د سكوت په معنى كښې وى.[۴] اومطلب به دا وى.چه حضرت علي رضی الله عنه د

---

[۱])الإصابة (۲\۹۱)_
[۲])عمدة القارى(۱۷\۲۰۹)_
[۳])وفى ترجمة الزهرى عن حلية الأولياء من طريق ابن عيينه عن الزهرى كنت عند الوليدبن عبدالملك فتلا هذه الآية ﴿ والذى تولى كبره منهم له عذاب عظيم﴾ فقال نزلت فى على بن ابى طالب قال الزهرى أصلح الله الأمير ليس الأمركذلک ..أخبرنى عروة عن عائشة أنها نزلت فى عبدالله بن أبى بن سلول (فتح البارى(۷\۴۳۷)_
[۴])عمدة القارى(۱۷\۴۳۷)_

حضرت عائشې ﷺ دبراءت ذكركولو.دتهمت نه بلكه چپ به وو.اود اسم مفعول په صورت كښې به معنى دا شى.چه ((كان على ﷺ سالماً من الخوض فى شأنها)) يعنى د حضرت عائشې ﷺ په باره كښې هغوى غورفكراوخوض نه كولو.دهغوى په نيزدا معامله داسې نه وه.چه په دې باندې سوچ اوكړې شى.اوپه دې كښې غور او فكر اوكړې شى.ځكه چه دحضرت عائشې ﷺ براءت دغوراوفكرمحتاج نه وو.([1]) يا ((مسلماً)) صيغه داسم مفعول د ((محفوظاً)) په معنى كښې ده.يعنى هغوى د تهمت لګولونه محفوظ وو.

عبدالرزاق د معمربن راشد نه د ((مسلماً)) په ځاې د ((مسيئا)) لفظ نقل كړې دې.([2])په دې صورت كښې به معنى دا وى.چه حضرت على ﷺ دحضرت عائشې ﷺ په باره كښې د ګناه ارتكاب كونكې وو.ددې نه دا مطلب راوځى.چه حضرت على ﷺ والعياذبالله په تهمت لګولوكښې دلچسپى اخستله.اودا ((بداهةً)) غلطه ده.ددې وجې امام بخارى د عبدالرزاق د روايت په ځاې د هشام بن يوسف روايت نقل كوى.اودعبدالرزاق د روايت ترديد كوى.

په حقيقت كښې بعضې ناصبيو بنو اميه ته د نزديكت په غرض دحضرت على ﷺ دشان كمولو دپاره په دې روايت كښې تحريف كړې دې.او ((كان على مسلماً فى شأنها)) نه ئې ((كان على مسيئا فى شأنها)) جوړ كړې دې.([3]) خوامام زهرى ﷺ غوندې جليل القدر محدث ددې تصحيف ترديد كوى.او وائى.چه دا لفظ هم ((مسلمٌ)) دې.د وړاندې روايت الفاظ دى.

قوله: فَرَاجَعُوهُ فَلَمْ يَرْجِعْ وَقَالَ مُسَلِّمًا بِلَا شَكٍّ فِيهِ: يعنى خلقو امام زهرى ته مراجعت اوكړو.چه دا لفظ ((مسلماً)) دې اوكه ((مسيئ)) دې.نوامام زهرى ﷺ ددې نه سوا بل څه اونه وئيل.(يعنى دمسيأ تائيد ئې اونكړو)اودوى اوفرمائيل.دا لفظ هم ((مسلماً)) دې.دكرمانى اوعينى ﷺ مطابق دا مراجعت امام زهرى ته شوې وو. او د حافظ صاحب ﷺ خيال دې.چه دهشام بن يوسف ﷺ شاګردانودا مراجعت دهشام نه د تحقيق په غرض باندې كړې وو.

دغه شان د بادشاد وخت د رائې خلاف امام زهرى ﷺ حق خبره بيان كړه. اوپه روايت كښې دتصحيف كونكو كسانو تصحيف ئې په نښه كړو.((فجزاه الله عنا وعن سائر المسلمين خير الجزاء))([4])

---

[1])عمدة القارى(۱۷\۲۰۹) وشرح الكرمانى(۱۶\۱۱۶)_

[2])فتح البارى(۷\۴۳۷)_

[3])عمدة القارى(۱۷\۲۱۰)_

[4]) د وليد بن عبدالملك پشان د هشام بن عبدالملك رائې هم دا وه.چه په حضرت عائشه رضى الله عنها باندې الزام لګونكوكښې د ټولو نه لوې كرداروالعياذبالله دحضرت على ﷺ وو.هشام ته بوخل مشهور محدث سليمان بن يسار ﷺ راغلو.هشام دهغوى نه تپوس اوكړو.سليمانه! لږ خودا وښايه. چه د ((والذى تولى كبره)) مصداق څوك دې.؟سليمان اووئيل.عبدالله بن ابى هشام بغيرڅه سوچ نه اووئيل.دروغ، ددې مصداق على (ﷺ) دې.سليمان اووئيل..... [بقيه حاشيه په راروان مخ..

[٣٩١٣] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ قَالَ حَدَّثَتْنِي أُمُّ رُومَانَ وَهِيَ أُمُّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَتْ بَيْنَا أَنَا قَاعِدَةٌ أَنَا وَعَائِشَةُ إِذْ وَلَجَتْ امْرَأَةٌ مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَتْ فَعَلَ اللَّهُ بِفُلَانٍ وَفَعَلَ فَقَالَتْ أُمُّ رُومَانَ وَمَا ذَاكَ قَالَتْ ابْنِي فِيمَنْ حَدَّثَ الْحَدِيثَ قَالَتْ وَمَا ذَاكَ قَالَتْ كَذَا وَكَذَا قَالَتْ عَائِشَةُ سَمِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ نَعَمْ قَالَتْ وَأَبُو بَكْرٍ قَالَتْ نَعَمْ فَخَرَّتْ مَغْشِيًّا عَلَيْهَا فَمَا أَفَاقَتْ إِلَّا وَعَلَيْهَا حُمَّى بِنَافِضٍ فَطَرَحْتُ عَلَيْهَا ثِيَابَهَا فَغَطَّيْتُهَا فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا شَأْنُ هَذِهِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذَتْهَا الْحُمَّى بِنَافِضٍ قَالَ فَلَعَلَّ فِي حَدِيثٍ تُحُدِّثَ بِهِ قَالَتْ نَعَمْ فَقَعَدَتْ عَائِشَةُ فَقَالَتْ وَاللَّهِ لَئِنْ حَلَفْتُ لَا تُصَدِّقُونِي وَلَئِنْ قُلْتُ لَا تَعْذِرُونِي مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَيَعْقُوبَ وَبَنِيهِ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ قَالَتْ وَانْصَرَفَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا فَأَنْزَلَ اللَّهُ عُذْرَهَا قَالَتْ بِحَمْدِ اللَّهِ لَا بِحَمْدِ أَحَدٍ وَلَا بِحَمْدِكَ [ر: ٢٤٥٣]

قوله: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ: دابوعوانه نوم وضاح بن عبدالله يشكرى دې.(١)

قوله: اذْ وَلَجَتْ امْرَأَةٌ مِنْ الْأَنْصَارِ..قَالَت ابْنِي فِيمَنْ حَدَّثَ الْحَدِيثَ: دلته اشكال كيږى.چه دافك خبروكونكوكښې يوپه انصاروكښې حسان بن ثابت رضی الله عنه وو.اوبل عبدالله بن ابى منافق وو.اوپه دوى كښې ديوكس هم په دغه وخت كښې مور موجود نه وه.نوبيا دغه انصارى ښځې دا څنګه اووئيل.چه زما څوى هم د افك خبرې كړى دى.ددې جواب دا وركړې شوې دې.چه ممكن ده د رضاعت د تعلق په وجه انصارى ښځې ورته خپل څوې ونيلې وى.

په دې رضاعت باندې يوبل اشكال كيږى.چه دا روايت مسروق بن الاجدع د حضرت ام رومان رضی الله عنها نه نقل كوى.اومسروق بن اجدع تابعى دې.حالانكه د ام رومان وفات د نبى صلی الله علیه وسلم په ژوند كښې شوې وو.نوبيا دمسروق اجدع ملاقات دې سره څنګه شوې وو.نوخطيب بغدادى اونورو څو حضراتو رحمهم الله دا روايت منقطع ګرځولې دې.

......بقيه حاشيه] ((أمير المؤمنين أعلم بما يقول)) په دې كښې امام زهرى رحمه الله راغلو.هشام دهغه نه هم دا تپوس اوكړو.((يا ابن شهاب من الذى تولى كبره ؟)) زهرى رحمه الله اوفرمائيل.عبدالله بن ابى هشام اووئيل ((كذبت)) ددې مصداق على (رضی الله عنه) دې.امام زهرى رحمه الله ورته څه ښه جواب وركړو.وې فرمائيل.((أنا أكذب لاأبا لک والله لونادى مناد من السماء إن الله أحل الكذب ما كذبت)) تباه نشې.زه دروغ وايم.په الله قسم كه څوك دآسمان نه دا آواز اوكړى.چه الله تعالى دروغ وئيل حلال كړل.نو بيا به هم زه دروغ اونه وايم.(فتح البارى(٢٣٧/١٧)

(١) عمدة القارى(١١٧/٢١٠)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه خصیب بغدادي او نورو حضراتو چه په دې روایت باندې د انقطاع کوم حکم لګولې دې دا په حقیقت کښې د واقدي په کلام باندې مبنی دې چه هغوی وئیلي دي د ام رومان وفات د نبی ﷺ په ژوند کښې شوې وو. اوواقدي ددې درجې سړې نه دې چه دهغه په وجه صحیح روایات معلول اوګرځولی شي.نو په روایت باندې د انقطاع حکم قابل قبول نه دې.ددې وجه دا ده.چه امام بخاري رحمه الله په تاریخ کبیر اوتاریخ اوسط کښې نقل کړی دی.چه دام رومان وفات په ۱۵ه کښې شوې وو.نو که مسروق تابعي دې.هم دده ملاقات د ام رومان سره کیدې شي.(۱)

[٣٣٣]حَدَّثَنِي يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ نَافِعِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كَانَتْ تَقْرَأُ إِذْ تَلِقُونَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُ الْوَلْقُ الْكَذِبُ قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ وَكَانَتْ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهَا بِذَلِكَ لِأَنَّهُ نَزَلَ فِيهَا [ر:٣٣٢٥]

قوله: يَحْيَى ...:دا یحی بن جعفر بن اعین دې.ابوزکریا ئې کنیت دې.اود بخارا بیکند اوسیدونکې وو.(۲)

قوله: عَنْ نَافِعِ بْنِ عُمَرَ:دا نافع دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما خوې نه دې.بلکه دوی د عمربن عبدالله حجمي قریشي خوې دې.(۳)

د قرآن شریف آیت ﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ﴾ کښې مشهور قراءت ((تَلَقَّوْنَهُ)) د قاف په تشدید سره دې.خوحضرت عائشې رضی الله عنها به دا ﴿تَلِقُوْنَهُ﴾ په تخفیف وئیل.اوفرمائیل به ئې چه د ..ولق.. معنی دروغ ده.دآیت معنی به شي. کله چه تاسو خپلو ژبو باندې دا دروغ خبره کوله.ابن ابی ملیکه به فرمائیل. چونکه دا آیت د حضرت عائشې رضی الله عنها په حق کښې نازل شوې دې.ددې وجې هغوی ته ددې په باره کښې زیات علم وو.نوکه هغوی دا ﴿تَلِقُوْنَهُ﴾ وئیلي وی.نوهم تیك او صحیح ده.(۴)

---

(۱) اوګورئ فتح الباری(۳۸۱۷) علامه ابن القیم رحمه الله هم په زاد المعاد کښې دا خبره راجحه کړې ده.چه دام رومان وفات د نبی دوفات نه پس شوې دې.(زادالمعاد(۲۶۶/۳و ۲۶۸)_

(۲) عمدة القاری(۲۱۱/۱۷)_

(۳) عمدة القاری(۲۱۱/۱۷)_

(۴) دحضرت عائشې رضی الله عنها قراءت تیك اوصحیح خومخامخا دې.خوراجح مشهور قراءت دې.باقي د ابن ابی ملیکه رحمه الله دا قول چه دا آیت د حضرت عائشې رضی الله عنها په باره کښې نازل شوې دې.نوددې د قراءت په باره کښې به هغې ته زیات علم وی.دا څه قوی خبره نه ده.ځکه چه د حضرت عائشې رضی الله عنها په باره کښې ددې آیت نزول دې خبرې لره مستلزم نه دې.چه دهغوی علم به هم د دې آیت په باره کښې زیات وی.مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله فرمائي((قوله لأنه نزل فيها)) وأنت تعلم أن نزولها فيها لايستلزم مزية في علمها بها) اوګورئ لامع الدراری (۳۳۷/۸)_

[٣٩١٣] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذَهَبْتُ أَسُبُّ حَسَّانَ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ لَا تَسُبَّهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هِجَاءِ الْمُشْرِكِينَ قَالَ كَيْفَ بِنَسَبِي قَالَ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعَرَةُ مِنَ الْعَجِينِ وقال مُحَمَّدُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ فَرْقَدٍ سَمِعْتُ هِشَامًا عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَبَبْتُ حَسَّانَ وَكَانَ مِمَّنْ كَثَّرَ عَلَيْهَا [ر:٣٣٣٨]

حضرت هشام دخپل پلارحضرت عروه رحمه الله نه نقل کوی.چه هغوی اوفرمائیل .ما د حضرت عائشې رضی الله عنها سره د حسان بن ثابت رضی الله عنه په باره کښې غلطې خبرې شروع کړې.نوحضرت عائشې رضی الله عنها اوفرمائیل.ته د هغه په باره کښې بد رد مه وایه.ځکه چه هغوی به دنبی صلی الله علیه وسلم د طرفه دفاع کوله.یوځل هغوی د نبی صلی الله علیه وسلم نه د مشرکانو دهجوې بیانولواجازت اوغوستلو. نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل.زما د نسب سره به څه کوې؟ ځکه چه د قریشو د ټولو بطونو او شاخونو سره زما رشته داریانې دی. په دې باندې حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه اووئیل.

قوله: قَالَ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعَرَةُ مِنَ الْعَجِينِ: زه به تاسو د هغوی نه داسې اوباسم.لکه څنګه چه د اوړو نه ویخته ویستلې شی.

یعنی څنګه چه د اوړو نه ویخته اوباسی.اوپه ویخته باندې د اوړو څه اثرنه وی.دغه شان به زه تاسوددغه هجویه اشعارونه پاك اوباسم.چه په تاسوبه ددغه هجوې اومذمت څه اثرنه وی.

حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه: حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه یوجلیل القدرصحابی رضی الله عنه دې.د دوی تعلق د انصارو د خزرج قبیلې سره وو.حافظ ابن حجر رحمه الله په ((الإصابة)) کښې د ابو عبیده رحمه الله قول نقل کړې دې.چه هغوی فرمائیل.((فضل حسان بن ثابت رضی الله عنه على الشعراء بثلاث كان شاعر الأنصار فى الجاهلية وشاعر النبى صلى الله عليه وسلم فى أيام النبوة وشاعر اليمن كلها فى الإسلام)) ([1])

د نبی صلی الله علیه وسلم دوفات نه پس یوځل دوی په مسجد نبوی کښې ناست وو. او اشعار ئې وئیل. حضرت عمر رضی الله عنه راغلو.هغوی ده ته په غصه کښې اوکتل.او وې وئیل. ((أوفى مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم تنشد الشعر)) ته په مسجد نبوی کښې اشعار وایې. حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه ورته جواب ورکړو.((قد كنت أنشد وفيه من هو خير منك)) یعنی ما به په مسجد نبوی کښې اشعار وئیل.اوپه دې کښې ستانه غوره انسان (نبی صلی الله علیه وسلم) تشریف فرما وو.نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دوی دپاره په مسجدنبوی کښې یومنبر جوړ کړې وو.دوی به په هغې باندې کیناستل.اودمکې دمشرکانو د قصیدو جواب به ئې ورکولو.اونبی صلی الله علیه وسلم به ددوی دپاره دعا کوله.((اللهم أيده بروح القدس)) ([2])

---

[1])الإصابة فى تميز الصحابة (٣٦٢/١١)_
[2])الإصابة فى تميز الصحابة (٢٢٦/١١)_

حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه د مکې دمشرکانوښه مذمت کړې دې.اوهغوی په خپلو اشعارو کښې ددوی په ډیربلیغ انداز سره د هغوی هجو بیان کړې ده.اوکمال دا وو.چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندې ددغه هجو اومذمت سیورې هم نه وې لګیدلې.د دوی د تره خوې ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب وو.دهغه د نبی صلی الله علیه وسلم سره په ورکوټوالی اوځوانۍ کښې ښه دوستانه وه.خو کله چه نبی صلی الله علیه وسلم د نبوت اعلان اوکړو.نوهغه د نبی صلی الله علیه وسلم په آزارولوپسې شو.اوچونکه شاعروو. ځکه به ئې دنبی صلی الله علیه وسلم په شان کښې د مذمت او هجو اشعار وئیل.هغه د ډیر تکلیف رسولو نه روسته د مکې د فتحې په موقع باندې مسلمان شو.اوبیا هغه د خپلو ټولو کوتاهیانو او غلطیانو تلافی اوکړه.(۱)

حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه یوځل دهغه هجو اوکړه.د هغه په هجو کښې ګرانه دا وه.چه هغه د نبی صلی الله علیه وسلم د ترۀ خوې وو.دشاعرکار دا وی.چه کله هغه دچا هجو او مذمت کوی.نوبیا پلار نیکه ټول راګیروی.کله چه حسان بن ثابت رضی الله عنه د ابوسفیان د هجویه قصائدو جواب ورکولو. نو ددې خبرې ضرورت وو.چه دهغه هجو هم اوشی.اوپه نبی صلی الله علیه وسلم باندې هم څه اثر پرېونځی.دا ډیرګران کار وو.خوحضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه هم دغه شان اوکړو.او وې خودل.

وإن سنام المجد من آل هاشم ... بنو بنت مخزوم ووالدك العبد

ومن ولدت أبناء زهرة منكم ... كرام ولم يقرب عجائزك المجد

① بیشکه ډیرعزت او شرافت په بنوهاشم کښې بنو بنت مخزوم ته حاصل دې. او اې ابوسفیان ستا پلار غلام دې.

② اودزهره اولاد ته نه ئې زیږولې.ځکه چه هغه خو شریفان خلق وو.خوستاسو بوډیګانو (امهات) دغه بزرګی مسه کړې هم نه ده.

د بنومخزوم نه د نبی صلی الله علیه وسلم نیا فاطمه بنت عمروبن عائذبن عمران بن مخزوم مراد دې.کومه چه د نبی صلی الله علیه وسلم د پلارحضرت عبدالله اوابوطالب مور وه.حضرت حسان فرمائی.چه په شرافت اوبزرګی په بنومخزوم یعنی فاطمې په اولاد کښې ده.اوابوسفیان بن حارث ته ئې اووئیل.((ووالدك العبد)) په حقیقت کښې دابوسفیان پلارحارث دهغه د مور نوم ،سمیه،، وو. هغه د ،،موهب،، لور وه.موهب د بنوعبدمناف غلام وو.نودغه شان د ابوسفیان د پلار په نسب کښې غلامی موجود ده.په ((ووالدك العبد)) سره حضرت حسان رضی الله عنه دغه طرف ته اشاره کوی.پخپله د ابوسفیان د مور هم دا حال وو.چه دهغې پلار (دابوسفیان دمور دطرفه نیکۀ) غلام وو.دغه شان د ابوسفیان په ماماګانواوترونو دواړو کښې د غلامۍ ذکر دې.

حضرت حسان رضی الله عنه په خپل قول ((ولم يقرب عجائزك المجد)) کښې هم دا مراد ده.چه ستا ماماګانو اوترونوته نزدې هم بزرګی اوشرافت نه دې تیرشوې.اود نبی صلی الله علیه وسلم د ماماګانوتعلق د ،،بنوزهره،، سره دې.اوبنو زهره ټول احراراو آزاد وو.ددې وجې د هغوی ټول اولاد کرام دی.

(۱) وړاندې د فتحې مکې په موقع به ددوی تذکره راشی.)

اود بزرګئ په صفاتوباندې متصف دی.( )
ليکلی شوی دی.چه کله ابوسفيان بن حارث په خپله هجوه کښې دا قصيده واوريده.نو وې وئيل.((هذا شعرلم يغب عنه ابن ابى قحافة)) ([2])يعنی دا قصيده هم د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په موجودګئ کښې ونيلې شوې ده.ځکه چه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د قريشود نسبونو لوئ عالم وو.اوحضرت حسان رضي الله عنه ته نبی ﷺ فرمانيلی وو.دمکې د قريشوپه باره کښې چه شعر وائې.نود حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه د انسابو تحقيق کوه.
دحضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه د وفات په کال کښې روايات مختلف دی.په بعضې رواياتو کښې ددوی دوفات کال ۴۰ه خودلې شوې دې.اوپه بعضوکښې ۵۰ه اوپه بعضو کښې ۵۴ ه خودلې شوې دې.([3]) حافظ ابن حجر رحمه الله په ((الإصابة)) کښې ليکلی دی.چه د دوی يوسل اوشل کاله عمروو.([4])

[۳۹۱۵]حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَعِنْدَهَا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يُنْشِدُهَا شِعْرًا يُشَبِّبُ بِأَبْيَاتٍ لَهُ وَقَالَ

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ

فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ لَكِنَّكَ لَسْتَ كَذَلِكَ قَالَ مَسْرُوقٌ فَقُلْتُ لَهَا لِمَ تَأْذَنِينَ لَهُ أَنْ يَدْخُلَ عَلَيْكِ وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ فَقَالَتْ وَأَيُّ عَذَابٍ أَشَدُّ مِنْ الْعَمَى قَالَتْ لَهُ إِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ أَوْ يُهَاجِي عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ر:۳۳۷۷و۳۸۸۱]

حضرت مسروق فرمانی.چه حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورغلم.هلته حضرت حسان رضي الله عنه موجود وو.اوحضرت ام المومنين رضي الله عنها ته ئې اشعاروئيل.هغه د تشبيب اشعاروئيل.دتشبيب اشعار هغه وی.کوم چه دقصيدې په اول کښې شاعر وائی.په هغې کښې دمحبوب دحسن اوجمال اودخوانئ دمحبت قصې وی. نوحضرت حسان رضي الله عنه دتشبيب اشعار ونيل.دا شعر ئې اووئيل.

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ

د((حصان)) معنی عفيف اوپاکدامن ده.

((رزان)) باوقارته وائی.((إمرأة رزان)) باوقاره ښځه.

---

[1])دذکرشوی تفصيل دپاره اوګورئ شرح نووی علی صحيح مسلم (۳۰۰) باب فضائل حسان بن ثابت رضي الله عنه)۔

[2])شرح ديوان حسان بن ثابت الانصاری رضي الله عنه لعبدالرحمن البرقوقی (ص۲۱۷)_

[3])الإصابة فی تميزالصحابة(۱۱/۳۲۶)_

[4])الإصابة فی تميزالصحابة (۱۱/۳۲۶)_

د ((غرثي)) معنى ((جائعة)) ده.
دشعرمعنى ده.زما محبوبه پاكدامن او ډيره باوقارده.په هغې باندې څه شك اوشبهې تهمت نشي لګولې.اوهغه صبا كوى په داسې حال كښې چه هغه وږې وى. د بې خبره ښځو د غوښې نه،يعني كومې ښځې چه د زنا اود اسبابود زنانه بې خبره وى.هغه د دغه ښځوغيبت نه كوى.
حضرت صديقه رضي الله عنها چه دا شعرواوريدو.نوحضرت حسان رضي الله عنه ته ئې اووئيل.ته خوداسې نه ئې. (ځكه چه حضرت حسان رضي الله عنه په حضرت عائشه رضي الله عنها باندې تهمت لګونكو كښې شامل شوې وو)
حضرت مسروق وائى.ما حضرت عائشې رضي الله عنها ته عرض اوكړو.((لم تأذن له أن يدخل عليك)) ته ده خپل ځاې ته د راتلو اجازت ولې وركوې؟ حالانكه الله تعالى فرمائيلى دى.﴿وَالَّذِىْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾ په دې باندې حضرت عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل.((وأى عذاب أشد من العمى)) د نابينا كيدونه بل عذاب سخت شته.حضرت حسان رضي الله عنه په آخرى عمركښې نابينا شوې وو.
دحضرت عائشې رضي الله عنها دا جواب على سبيل التنزل دې.ځكه چه د﴿وَالَّذِىْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾ مصداق عبدالله بن ابى دې.حضرت حسان رضي الله عنه نه دې.حضرت عائشې رضي الله عنها مسروق ته على سبيل التنزل جواب وركړو.بالفرض كه ستا خبره اومنلې شى.چه حضرت حسان رضي الله عنه د ﴿وَالَّذِىْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾ مصداق دې.نود ړوندوالى نه بل سخت بل كوم يوعذاب كيدې شى.([1])

بَاب=غَزْوَةِ الْحُدَيْبِيَةِ

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾([2])

حافظ ابن حجر رحمه الله د كتاب الشروط په پنځم جلد كښې د غزوه حديبيه باندې ډيره تفصيل سره بحث كړې دې.ددې وجې دا ده.چه امام بخارى رحمه الله د غزوه حديبيه واقعه په كتاب الشروط كښې ډيره تفصيل سره بيان كړې ده.([3]) دې ته غزوه حديبيه اوعمرة الحديبيه وائى.دسفر ابداء د عمرې دپاره وه.ددې وجې ورته ((عمرة الحديبية)) وائى.اووړاندې دبيعة الرضوان واقعه راغله.اودجنګ نقشه جوړه شوه.ددې وجې دې ته ((غزوة الحديبية)) هم وائى.
د غزوه حديبيه تفصيل دا دې.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم خوب اوليدو.چه زه اوزما د صحابو رضي الله عنهم يوه ډله په امن سره مكې مكرمې ته داخل شو.اوعمره مو اوكړه.نبى صلى الله عليه وسلم چه كله دا خوب

---

[1])لامع الدرارى (۸\٤۳۸)_
[2])الفتح:۱۸)_
[3])حافظ ابن حجر رحمه الله تقريباً شل صفحو باندې مشتمله په حديث حديبيه باندې تفصيلى كلام كړې دې.اوګورئ لامع الدرارى (۵\۳۵۲) باب الشروط فى الجهادوالمصالحة مع أهل الحرب وكتابة الشروط)_

صحابو ﷺ ته بيان كړو.نوصحابه كرام ﷺ چه د وړاندې نه مكې مكرمې اود بيت الله په محبت كښې ددې خبرې خواهشمند وو.چه هلته لاړ شى.اوطواف اوعمره اوكړى.هلته تلوته لېواله شول.نو نبى ﷺ په يكم ذى قعده د ګل په ورځ ۶ھ صحابه كرام ﷺ خان سره واخستل. اودعمرې په قصد باندې دمكې مكرمې طرف ته روان شول.(١) هشام بن عروه د شوال په مياشت كښې ددوى روانيدل ذكركړى دى.(٢) خودا صحيح نه ده.صحيح قول اولنې دې.

دنبى ﷺ سره څومره صحابه كرام ﷺ وو.په دې باره كښې روايات مختلف دى. د ديارلس سوو نه واخله تراتلس سوو پورې تعدادمنقول دى.په خپله په بخارى كښې دحضرت جابربن عبدالله ﷺ په روايت كښې څوارلس سوه اود حضرت عبدالله بن ابى اوفى ﷺ په روايت كښې دديارلس سوو عدد منقول دې.البته مشهور قول د څورلسو سوو دې.

چه ذوالحليفه ته اورسيدل.نواحرام ئې اوتړل.اوبسربن سفيان ﷺ دوى جاسوس جوړ كړو.او وړاندې ئې اوليږل.چه هغه د قريشو دحالاتو خبر واخلى. او مونږ ته اوښائى.چه په هغوى باندې زمونږ ددې سفر ردعمل څه دې؟ كله چه دى «غديراشطاط» ته اورسيدل.نو بسربن سفيان ﷺ راغلو.نو نبى ﷺ ته ئې د قريشو دلښكرجمع كولوخبر وركړو.چه هغوى دا فيصله كړې ده.چه تاسودمكې مكرمې داخليدو ته نه پرېږدى.(٣) قريشو دمقدمة الجيش په توګه خالدبن وليد ته د دوو سوو كسانو دسته وركړه.اومسلمانانوطرف ته ئې راوليږل. خالدبن وليد چه كله مقام غميم ته راورسيدو.نو نبى ﷺ ته دهغه د راتلوعلم اوشو.نو نبى ﷺ هغه لاره پرېخوده.اوپه بله لار باندې ئې سفر شروع كړو.

مكې مكرمې ته نزدې چه يوځاى ته نبى ﷺ اورسيدل.نوهلته د نبى ﷺ اوښه ،،قصوا،، كيناستله.دهغې دپاسولوډير كوشش اوكړې شو.خو هغه دخپل ځاې نه نه پاسيده. صحابو ﷺ اوونيل.«خلأت القصواء،خلأت القصواء»يعنى قصواء لټه شوه .نبى ﷺ اوفرمائيل.«ماخلأت القصواء وماذاك لها بخلق ولكن حبسها حابس الفيل» (٤) د دې نه پس نبى ﷺ اوفرمائيل.په الله قسم زه به د قريشو هره هغه خبره منم.په كومه كښې چه د حرم تعظيم وى.ددې نه پس ئې قصواء پاسوله.نوهغه پاسيده.اوروانه شوه.اوپه حديبيه كښې نبى ﷺ قيام اوكړو.(٥)

په حديبيه كښې يوكوهې وو.په هغې كښې لږې غوندې اوبه وې.هغه د مسلمانانوپه اولنى استعمال سره ختمې شوې وې.اوبه كمې شوې.اودسختې ګرمئ زمانه وه.صحابو ﷺ نبى ﷺ ته د اوبود كم والى شكايت اوكړو.نبى ﷺ دخپل تركش نه يوغشې رااويستۀ،

---

(١) البداية والنهاية (١٦٤١٤) ، سيرة الحلبية(٩١٣)_

(٢) البداية والنهاية (١٦٤١٤) وسيرة الحلبية(٩١٣)_

(٣) عدة القارى(٢٢٥١١٧)_

(٤) زادالمعاد(٢٨٩١٤) ودلائل النبوة بيهقى (١٠١١٤)_

(٥) صحيح بخارى كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد رقم الحديث (٢٢٣١)_

اووې فرمائيل.دا په دې کوهی کښې بنخ کړئ. صحابوﷺ د حکم تعميل اوکړو.دهغې په وجه په دغه کوهی کښې دومره اوبه راغلې.چه ټول خلق هډوب شول.(۱)

دحديبيه نه حضرت خراش بن اميه خزاعیؓ نبیﷺ دمکې خلقوته اوليږل.چه لاړ شه.هغوی ته اووايه.مونږ صرف دعمرې دپاره راغلی يو.جنګ کول زمونږ مقصود نه دې.دنبیﷺ مطلب دا وو.چه په بيت الله باندې خو د چا اجاره داری نه ده.آخرټول عرب راځي.حج اوعمره کوی.نوکه مونږ هم دعمرې دپاره راغلو.نود منع کولوڅه وجه ده؟ خراش بن اميهؓ چه مکې ته لاړل.نو قريشو دهغه اوښ ذبح کړو.اودهغه قتلول ئې اوغوښتل.خويه مينځ کښې څه کسانو بچ بچاؤ اوکړو. اوهغه ئې خلاص کړو.هغه په څه طريقه باندې اووتل.اونبیﷺ ته اورسيدل.ټوله واقعه ئې ورته بيان کړه.(۲)

ددې نه پس نبیﷺ حضرت عمرؓ مکې مکرې ته ليږل اوغوښتل.خوحضرت عمرؓ معذرت پيش کړو.اووې فرمائيل.يارسول الله د مکې دخلقو چه زما سره کوم بغض او دشمنی ده.هغه تاسوته معلومه ده.اوپه مکه کښې زما داسې څوك رشته دار نشته.چه هغه سره زه پناه واخلم.که حضرت عثمانؓ تاسو اوليږئ.نو زياته غوره به وی.څکه چه په مکه کښې دهغوی ډيرخپلوان دی.نبیﷺ حضرت عثمانؓ ته پيغام ورکړو.او وې ليږلو.(۳)

حضرت عثمانؓ تشريف يوړو.اوپه مکه کښې د ابان بن سعيد سره ډيره شو.دقريشوسره ئې خبره اوکړه.خوقريش د نبیﷺ مکې معظمې ته په داخليدو باندې راضی نشو.البته هغوی حضرت عثمانؓ ته اووئيل.که ته غواړې.نو طواف کولې شې.خوحضرت عثمانؓ ورته اووئيل .زه دنبیﷺ نه بغيرطواف نه کوم. قريشو حضرت عثمانؓ په مکه کښې ايسارکړو.اوعام طوردا خبرمشهور شو.چه هغه شهيد کړې شو.(۴)

بيعت رضوان: نبیﷺ ته چه کله دا خبر اورسيدو.نونبیﷺ ډير خفه شو.اووې فرمائيل. د حضرت عثمانؓ د وينې قصاص اخستل ضروری دی.دا ئې اووئيل.اوهلته د کيکرديوې وونې لاندې کيناستو.اونبیﷺ دصحابوﷺ نه دځان قربانولوبيعت واخستلو. ټولو صحابوﷺ ډير په جوش او جذبې د نبیﷺ سره بيعت اوکړو.اودا عهد ئې اوکړو.چه ترڅو پورې په بدن کښې ساه وی.مونږ به د کافرانو سره جهاد اوقتال جاری ساتو.دا داسلامی

---

(۱) دلائل النبوة للبيهقی (۱۱۲\۴) باب ما ظهر فی البئر التیٔ دعا فيها رسول اللهﷺ وهی الحديبة ممن دلالات النبوة)_

(۲) طبقات ابن سعد(۹۶\۲)_

(۳) سيرة ابن هشام (۳۲۹\۳)_

(۴) سيرة ابن هشام (۳۲۹\۳) بعضې صحابوﷺ په حديبيه کښې رسول اللهﷺ ته اووئيل.چه حضرت عثمانؓ چه مکې ته لاړو.نوهغه به طواف کړې وی.نبیﷺ اوفرمائيل.نه عثمان به زمونږ نه بغيرطواف اونکړی.کله چه حضرت عثمانؓ د مکې نه حديبيه ته راغلو.نو صحابوﷺ ترې پوښتنه اوکړه.چه ته طواف اوکړو.دوی ورته اوفرمائيل.که زه تريوکاله پورې په احرام کښې باقی پاتې وم.هم به ما د رسول اللهﷺ نه بغير طواف نه ووکړې.(السيرة الحلبية (۱۶\۳)_

تاريخ يوه لويه واقعه ده.دټولونه وړاندي ابوسنان اسدی رضی الله عنه بيعت اوكړو.([1]) كله چه ټول صحابه رضی الله عنهم دبيعت نه فارغ شول.نو نبی ﷺ خپل ښي لاس په ګس لاس باندي كيخودو. اووې فرمائيل.دا بيعت عثمان د طرفه دی.([2])

دحضرت عثمان رضی الله عنه په مكه كښي د ايسارولووجه دا وه.چه قريشوخپل پنځوس كسان په دي سازش باندي لګيا كړی وو.چه هغوی نبی ﷺ ته نزدي ورشي. اوچه موقع ورته ملاؤ شي.نو(معاذالله) نبی ﷺ قتل كړي.دا كسان په دې انتظار كښي ناست وو.چه دنبی ﷺ محافظ حضرت محمدبن مسلمه رضی الله عنه هغه ټول ګرفتار كړل.اود نبی ﷺ په خدمت كښي ئې پيش كړل.هلته چه قريشو ته دخپلو پنځوسو كسانود ګرفتارئ خبرملاؤ شو.نوهغوی حضرت عثمان رضی الله عنه ايسار كړو.

درسول الله ﷺ دصحابو رضی الله عنهم نه د بيعت اخستلو خبر چه كله قريشوته اوشو. نو هغوی ډيرمرعوبه شول.اومصالحت اومفاهمت طرف ته مائيله شول.([3]) د خزاعه قبيلې سردار دخپلې قبيلې څوكسان ځان سره واخستل.اود نبی ﷺ په خدمت كښي حاضر شول. بنوخزاعه قبيله اګرچه تراوسه پورې اسلام نه وو قبول كړې.خود اسلام اومسلمانانو خيرخواه وه.دمكې مشركانوچه به د مسلمانانوخلاف كومې منصوبې اوسازشونه جوړول.ددې قبيلې كسانوبه نبی ﷺته دهغې خبروركولو.بديل بن ورقاء نبی ﷺ ته عرض اوكړو.چه دمكې قريش پوره طاقت سره دمقابلې دپاره راوتلی دی .اوهغوی اخوا ديخوا چه د اوبوڅومره چينې دی.په هغې باندي قبضه كړې ده.هغه خلق به هرګز تاسو د مكې معظمې داخليدو ته پرې نږدی.نبی ﷺ ورته اوفرمائيل .چه مونږ چا سره دجنګ په اراده نه يو راغلی.مونږ صرف دعمرې په نيت راغلی يو.څوجنګونو قريش كمزوری كړی دی.كه دوی غواړی.نودځه

---

[1])دلته دا اشكال كيږی.چه دا بيعت د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت خبر وركولوباندي شروع شوې وو.چه د قريشوكافرانونه به د هغوی قصاص اخستې شی.نوبيا دحضرت عثمان رضی الله عنه دطرفه نبی ﷺ څنګه بيعت اوكړو.څكه چه بيعت خود ژوندی دطرفه كيږی.دمړی د طرفه خوممكن نه وی،،
ددې جواب علامه حلبی رحمه الله دا وركړې دې.چه دحضرت عثمان رضی الله عنه دطرفه نبی ﷺ په هغه وخت كښي بيعت اخستې وو.كله چه نبی ﷺ ته دا معلومه شوه.چه د حضرت عثمان رضی الله عنه دشهادت خبر صحيح نه وو.اوهغه ژوندې دې،،
خوبيا اشكال وارديږی.چه ددې بيعت سبب د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت خبر ملاويدو نه پس دهغه قصاص اخستل وو.نوهركله چه دا تصديق اوشو.چه هغه ژوندې دې.نوبيا دحضرت عثمان رضی الله عنه دطرفه په كوم څيزباندې بيعت اخستې شو،،
علامه حلبی رحمه الله فرمائی.چه ددې بيعت سبب صرف دحضرت عثمان قصاص اخستل نه وو.بلكه دحضرت عثمان رضی الله عنه سره لس صحابه رضی الله عنهم هم مكې ته تلی وو.اودهغوی په باره كښي هم دا خبر ملاؤ شوې وو.چه هغوی هم شهيدان كړې شوی دی.دهغوی قصاص اخستل هم په دې بيعت كښي شامل وو.كله چه نبی ﷺ ته دا خبر ملاؤ شو.چه حضرت عثمان رضی الله عنه ژوندې دې.نودحضرت عثمان رضی الله عنه د طرفه نې دهغه دملګرو قصاص دپاره بيعت واخستلو.والله اعلم (السيرة الحلبية (۱۷/۳)_

[2])السيرة الحلبية (۱۹/۳)_

[3])السيرة الحلبية(۱۹/۳)_

مودې پورې به دوی سره صلح اوکړو.اومونږ او نور عرب دې پریږدی.که نور عرب په مونږ باندې غالب راشي.نو دوی به په خپل کورناست وی.اومراد به ئې پوره شي.اوکه مونږ ته غلبه حاصله شوه.نو دوی ته به اختیاروی.که اسلام قبلوی.اوکه مونږ سره جنګ کوی. اوپه دغه مودهٔ کښې به دوی خپل قوت جمع او مرتب کړی.خوکه قریش دا خبره نه مني.نوپه هغه ذات مې دې قسم وی.چه د هغه په قدرت کښې زما روح دې.چه زه به دوی سره ترهغه وخته پورې جهاد اوقتال کوم.ترڅو چه زما د تن نه سرقلم شوې نه وی.([1])

بدیل د نبی ﷺ دخدمت نه پاسیدل.اوقریشو ته ورغلل.اود نبی ﷺ خبرد رسول ئې غوستل. د قریشوجذباتي ځوانانو خو اول دده دخه خبرې اوریدو نه انکار اوکړو.خوسنجیده او باوقاره کسانو اووئیل.چه خبره اوریدل خو پکار دی.نو بدیل د نبی ﷺ د راتلو مقصد هغوی ته اوخودل. اودنبی ﷺ هغه خبره ئې ورته هم اوکړه. کومه چه قریشو سره دصلحې په باره کښې نبی ﷺ کړې وه.قریشو اووئیل.بیشکه هغه دجنګ په نیت باندې نه دې راغلې.خو مونږ هغه دمکې داخلیدو ته نه پریږدو.([2])

دثقیف قبیلې سردارعروه بن مسعود اووئیل.محمد (ﷺ) چه کومه خبره کړې ده.هغه ستاسود بهترئ اوخیګړې ده.دا قبوله کړئ.اوماته اجازت راکړئ.چه زه په دې باره کښې هغه سره خبره اوکړم.هغه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. او د هغوی پیغام ئې ورته اورسول.او ورته ئې اووئیل.بالفرض که ته د قریشو خاتمه هم اوکړې.نودا کومه ښه خبره ده.تا چرته اوریدلې دی.چه یوکس خپل قوم هلاك کړې دې.ددې په خلاف که د جنګ رخ بدل شو.اوقریشو ته غلبه اوشوه.نود ګیرچاپیره خوشې تشې چه ستا نه راجمع شوی دی.زیات وخت به لانه وی تیر چه دوی به تا پریږدی.حضرت ابوبکر ﷺ ته د عروه په دې بدګمانئ باندې ډیره سخته غصه ورغله.اوعروه ته ئې کنځل اوکړل.«أمصص بظر اللات نفرعنه وندعه» ته لاړ شه دخپل لات شرمګاه اوځټه.مونږ به محمد ﷺ پریږدو.او تختو به ترې او لات د ثقیف قبیلې د لوې بت نوم وو.د عربو په نیزد ډیره سخته کنځل وه.عروه د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو.چه دا څوك دې؟نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.دا ابوبکر ﷺ دې.عروه اووئیل .دده د دې سختې خبرې جواب به مې ضرور ورکړې وو.خو دده یواحسان په ما باندې دې.دکومې بدله چه تراوسه پورې ماورنکړې شوه.([3])

عروه به د خبروپه دوران کښې د نبی ﷺ ډیرې ته لاس وراوړل.دا په بې تکلفانه خبرو کښې د عربو طریقه وه.دعروه وراره حضرت مغیره بن شعبه ﷺ ته د خپل تره دا جراءت ښه ښکاره نشو.چه دا پلیت لاس دې پاکې ږیرې ته اورسی.مغیره بن شعبه ﷺ به د تورې

---

[1])سیرة ابن هشام (۲۳۵\۳)_
[2])البدایة والنهایة (۱۶۶\۴)_
[3])هغه احسان دا وو.چه حضرت ابوبکر ﷺ یوخل ددیت په سلسله کښې لس اوښان ورکړی وو. اود عروه مدد ئې کړې وو(فتح الباري(۳۴۰\۵)--

لاسکې د عروه لاس ته وراوړل.چه دهغه لاس د نبي ﷺ ږیرې ته اونه رسي.حضرت مغیره چونکه په خود اوزغره کښې پټ وو.ددې وجې عروه هغه نه پیژندل.عروه تپوس اوکړو.دا څوك دې؟ اوخودلې شو ورته چه دا ستا وراره مغیره دې.عروه چه کله اوپیژندل.نو وې وئیل.اې غداره! تاته پته نشته.چه ما ستا دغدارۍ تلافي کړې ده.

ددې واقعه داسې وه.چه دمقوقس بادشاه دربار ته حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه او څه نور کسان یوځاې لاړل.شاه مقوقس څه تحفې ورکړې.بادشاه دمغیره په نسبت دهغه ملګرو ته څه تحفې زیاتې ورکړې.حضرت مغیره رضی الله عنه په دې باندې ډیر په غصه شو.په واپسۍ کښې ټول په یوځاې کښې ایسارشول.خوراك څکاك ئې اوکړو.اوشراب ئې ښه اوڅکل.حضرت مغیره رضی الله عنه په دغه موقع باندې ټول قتل کړل. اودهغوی مال ئې واخستل.مدینې کښې د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.نبي ﷺ ددوی اسلام خو قبول کړو.او مال ئې ورته واپس کړو. اووې وئیل.چه دا د غدر اودهوکې مال دې.ددغه مقتولینو فدیه عروه دخپل طرف نه ورکړه.عروه خپله جمله اووئیله. او غدار ئې ورته اووئیل.دغه طرف ته ئې اشاره اوکړه.

عروه بن مسعود دخپلو خبرو په دوران کښې په نبي ﷺ باندې د ملګرود ځان قربانولومشاهده کوله.تردې که نبي ﷺ به لاړې توکلې.نوهغه به هم صحابو رضی الله عنهم په خپلو لاسونو باندې اخستلې.اوپه مخونو به ئې راښکلې.کله چه به نبي ﷺ اودس کولو.نوصحابه کرامو رضی الله عنهم به ورمنډه کړه.اوهغه اوبه به ئې واخستلې.اوپه خپلو مخونو به ئې مګلې.کله چه نبي ﷺ خبره شروع کوله.نو صحابه کرام رضی الله عنهم به خاموش شول.اوپه پوره توجه سره به نبي ﷺ ته متوجه شول.عروه چه کله په دربار رسالت نبوت کښې د آدابو اوقربانۍ د آثار اوکتل.نوډیر متاثره شو.او چه واپس لاړلو.نو قریشو ته ئې اووئیل.

«یامعشر قریش إني قد جئت کسری في ملکه وقیصر في ملکه والنجاشي في ملکه وإني والله ما رأیت ملکاً في قومه قط مثل محمد في أصحابه ولقد رأیت قوماً لا یسلمونه لشيء أبداً فروا رأیکم»[1]

اې قریشوزده د کسری اوقیصراونجاشي دربارونوته تلې یم.خوپه الله قسم چه ما هیڅ یو بادشاه په خپل قوم کښې داسې معزز نه دې موندې.څنګه چه محمد (ﷺ) په خپلو ملګرو کښې معزز دې.ماهغه سره داسې قوم اولیدو.چه هغوی به هغه په هیڅ حالت کښې یواځې پرېنږدی.نوتاسو سوچ اوکړئ.اوفیصله اوکړئ.

ددې نه پس د قریشو حلیف یوحبشي سردار حلیس بن علقمه هم اوغوښتل .چه د نبي ﷺ سره ملاقات اوکړی.او اوګورئ چه دهغوی څه اراده ده.دې خلقو به د قربانۍ دڅاروو ډیر تعظیم کولو.اونبي ﷺ ته معلومه وه.کله چه نبي ﷺ اوکتل.چه حلیس راځي.نو صحابو رضی الله عنهم ته ئې اوفرمائیل.چه دقربانۍ څاروی کوم چه تاسو د مدینې منورې نه راوستي دي.ټول په قطار کښې اودروئ.حلیس چه کله د قربانۍ څاروی په قطارکښې اولیدل.نود نبي ﷺ سره دملاویدو نه بغیر د لارې نه واپس شو.اوقریشو ته ئې اووئیل.په الله قسم هغه خلق خو

---

[1] البدایة والنهایة (۱۶۸\۴)_

دعمرې ادا کولو په نیت باندې راغلی دی.دهغوی سره د قربانۍ ځاروی موجود دی.دوی مکې ته د داخلیدو نه هرګز منع کول نه دی پکار.بعضې کسانوهغه ته اوونیل.چه ته حبشی اوخنګلی سړې ئې.په خبره نه پوهیږې.هغه غریب چونکه حبشی وو.څکه د قریشو مغرورہ خلقودهغه بې عزتی اوکړه.حلیس هغوی ته اوونیل.چه مونږ تاسو سره معاهده او حلف ددې دپاره نه وو کړې.چه تاسوبه خلق د بیت الله د طواف نه منع کوئ.که تاسو محمد(ﷺ) د عمرې کولونه منع کړل.نو زه به خپل ټول کسان څان سره ددې ځاې نه بوځم.اوزمونږ او ستاسویه مینځ کښې به څه معاهده نه وی.دده دا خفګان چه ئې اوکتل.نود قریشو بعضې سنجیده خلقو هغه ته اوونیل.ته کینه خفه کیږه مه.سوچ اوفکرکولې شی.نوهغه کیناستل.(۱)

آخردا چه قریشو دصلحې دپاره د نبی ﷺ په خدمت کښې سهیل بن عمرو راولیږل.اوهغه ته ئې اوونیل.چه صرف په دې شرط باندې کیدې شی.چه محمد (ﷺ) په دې کال واپس لاړ شی.دې دپاره چه د عربو په قبیلوکښې دا خبره مشهوره نشی.چه مسلمانان په زوره مکې ته داخل شو.کله چه نبی ﷺ سهیل په راتلو باندې اولیدل.نوصحابو ﷺ ته ئې اوونیل.

«قدسهل الله لکم من أمرکم» اوس الله تعالی ستاسو معامله څه آسانه کړه.نبی ﷺ د دی دنوم نه ښه فال اوویستل.(۲)

صلحه حدیبیه اوددې شرطونه: سهیل بن عمرو دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.اوپه ادب سره کیناستل.د دواړو طرفو نه خبرې اترې شروع شوې.سهیل د قریشو پیغام نبی ﷺ ته واورول. چه قریشو د صلحې دپاره د ټولو نه اولنې شرط دا کیښودې دې.چه مسلمانانوته په دې کال کښې د عمرې کولواجازت نشته.زیات صحابه کرام ﷺ په دې باندې راضی نه وو.چه د عمرې کولونه بغیراحرام پرانیزی.اومدینې ته واپس لاړ شی. صحابو ﷺ د سهیل سره سختې خبرې اوکړې.په مینځ کښې آوازونه د طرفینو ښکته پورته شول.(۳) عباد بن بشر ﷺ سهیل اورټل.چه د نبی ﷺ مخامخ آواز مه اوچتوه.د اوږدو خبرو نه پس د صلحې شرطونه مقرر شول.نبی ﷺ حضرت علی ﷺ راغوښتل.چه هغه صلحنامه اولیکی.نبی ﷺ حضرت علی ﷺ ته اوفرمائیل.اولیکه «بسم الله الرحمن الرحیم» سهیل اوونیل.زمونږ په نیز «الرحمن» او«الرحیم» نه دې مستعمل.زمونږ د زړې طریقې مطابق به «باسمك» لیکې. نبی ﷺ حضرت علی ﷺ ته اوفرمائیل.هم داسې اولیکه.اووړاندې فقره پرې نبی ﷺ دا اولیکله.چه «هذا ما قاضی علیه محمد رسول الله» یعنی دا هغه معاهده ده.چه په کومه باندې چه محمد دالله تعالی رسول صلح کوی.سهیل په دې جمله باندې هم اعتراض اوکړو.چه صرف «محمد بن عبدالله» اولیکه.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.«أنا محمد رسول الله وأنا محمدبن عبدالله

---

(۱) سیرة ابن هشام (۳۲۶/۳) ودلائل النبوة (۱۰۴/٤)_
(۲) سیرة ابن هشام (۳۳۱/۳)_
(۳) سیرة ابن هشام (۳۳۱/۳)_

اكتب محمد بن عبدالله» يعنى صرف زما نوم اوليكه.اود «رسول الله» لفظ وروان كړه.خو حضرت على رضي الله عنه ورته عرض اوكړو.زه ستاسو نوم هزګزنشم وراتولي[1]
حضرت على رضي الله عنه په ظاهره د نبى ﷺ دحكم نافرمانى اوكړه.خودا مخالفت چه په كومه پاكه جذبه اودكو عظيم عقيدت او محبت په بنياد سره كولې شو.دهغې محبت قدراوقيمت پيژندونكى پيژنى.چه دا بې ادبى نه وه.په دې كښې اختلاف دې.چه «الأمرفوق الأدب» صحيح دې.او«الأدب فوق الأمر» صحيح دې.بعضې حضرات«الأمرفوق الأدب» ته غوره وائى.او بعضې د «الأدب فوق الأمر» د اولويت قائل دى.خوپه دې كښې دا ضرورى ده.چه د ادب خيال ساتلوكښې د آمر د خفګان ويره نه وى.حضرت ابوبكر رضي الله عنه هم (چه كله مونځ وركولو.او نبى ﷺ دامامتئ په دوران كښې تشريف راوړو.نو نبى ﷺ هغوى ته د مونځ جارى ساتلو اشاره كړې وه) په «الأدب فوق الأمر» باندې عمل كړې وو.دواړو طرفونو ته دلائل دى.دلته حضرت على رضي الله عنه د «الأمرفوق الأدب» په ځاې په «الأدب فوق الأمر» باندې عمل اوكړو.دحضرت على رضي الله عنه په انكارباندې نبى ﷺ خفه نشو.البته هغه ته ئې اوونيل.ښه ماته اوښايه.چه زما نوم كوم ځاې دې؟ حضرت على رضي الله عنه په هغه ځاې باندې ګوته كيخوده.نو نبى ﷺ په خپل لاس سره د «رسول الله» ټكې وران كړو.[2] ددې نه پس په رواياتوكښې اختلاف دې.چه «محمد بن عبدالله» نبى ﷺ په خپله اوليكه.اوكه حضرت على رضي الله عنه اوليكل.دقاضى عياض رحمه الله رائې ده.چه نبى ﷺ د معجزې په طور پخپله باندې اوليكل.اوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه حضرت على رضي الله عنه اوليكل.اوپه«فكتب رسول الله ﷺ »كښې نبى ﷺ ته مجازاً نسبت شوې دې.لكه څنګه چه په«كتب إلى قيصر وكسرى»كښې مجازى نسبت شوې دې.په كومو شرطونو چه صلح شوې وه.هغه دا دى.

① مسلمانان به دې كال واپس ځى.دعمرې دپاره به په راروان كال باندې راځى. او صرف درې ورځې به قيام كوى.واپس به ځى.جنګى وسله به نه راوړى.دعاموعربو مسافرپشان به په تيكى كښې بندو تورو سره راځى.

② په قريشوكښې كه څوك د خپل ولى يا آقا د اجازت نه بغيرمدينې ته لاړشى. نو هغه به واپس كولې شى.برابره ده كه هغه مسلمان وى اوكه كافر وى.خوكه په مسلمانانوكښې څوك د مدينې نه مكې ته لاړ شى نو هغه به واپس كولې نشى.

③ نورو قبيلوته به اختيار وى چه هغوى په فريقينوكښې دچا سره په معاهده كښې شريكيږى. شريك دې شى.دا صلح به د لسو كالودپاره وى.[3]

---

[1] سيرة حلبية (٢٠١٣) وصحيح مسلم كتاب الجهاد باب صلح الحديبة رقم الحديث (٤٣٩٥)_
[2] سيرة حلبية (٢٠١٣)_
[3] د ذكرشوو شرطونو دپاره اوګورئ (البداية والنهاية (١٦٨١٤و ١٦٩)_

نوبنوخزاعه د نبى ﷺ په عهد كښې اوبنوبكرد قريشو په عهد كښې شريك شول.دغه شان بنوخزاعه د نبى ﷺ حليف شول.اوبنوبكرد قريشو حليف شول.
چونكه دا شرطونه په ظاهره د مسلمانانو خلاف وو.ددې وجې مسلمانان سخت پريشانه وو.
اوس لا معاهده ليكلې شوه.چه دسهيل بن عمروخوې ابوجندل [1] دې مسلمان شوې وو.او په مكه كښې قيد وو.دوى ته قسم قسم سخت تكليفونه وركولى شو.په څه طريقه باندې اوتختيدو.په پښوكښې ئې بيړۍ وې. او نبى ﷺ ته مخامخ راغلو.راوغوزيدو.اود نبى ﷺ ته نه ئې پناه اوغوښتله.څه مسلمانان رامخكې شو.اودې ئې په خپله پناه كښې واخستلو.
سهيل اووئيل (محمد! ﷺ) د معاهدې مطابق دې راوپس كړه.نبى ﷺ ورته اووئيل. تراوسه پورې خو معاهده پوره ليكلې شوې نه ده.مطلب دا وو.چه صلحنامه پوره اوليكلې شى. اود فريقينو دسخطونه پرې اوشى.نوبيا په دې باندې عمل كول پكار دى.خوسهيل اووئيل،كه ابوجندل نه واپس كوئ.نودا صلح نامنظوره ده.نبى ﷺ ابوجندل رضي الله عنه د خپل خان سره ايسارولو دپاره ډيراصرار اوكړو.خوهغه نه منل.چه ډيره مجبوره شو.نونبى ﷺ ابوجندل رضي الله عنه كافرانوته حواله كړو.په ابوجندل رضي الله عنه باندې چه كافرانوكوم ظلم اوزياتى كړې وو.دهغې څه نښې اوس هم د ابوجندل رضي الله عنه په بدن موجود وې. هغوى مسلمانانوته خپل زخمونه اوخودل.
اود سلګونه په ډك آواز كښې ئې مسلمانانوته چغه كړه.((يامعشرالمسلمين إرد إلى المشركين يفتنوني في ديني)) [2] دا ډير دلسوزمنظروو.يوطرف ته دصلحې په شرطونو دمسلمانانو جذبات ډير مجروح شوى وو.بل طرف ته د عمرې نه بغيرواپس تلل وو.بل طرف ته دابوجندل رضي الله عنه داسې واپسى.په هغه باندې كولى شوى ظلمونه،اوبيا چه هغه مسلمانانوته چغه كړې. نو د هغه په دردناك آواز سره به د صحابو رضي الله عنهم دجذباتوڅه حالت وو.ددې اندازه لګول څه ګران كارنه دې.ټول مسلمانانو په دغه وخت كښې (دډيرغم اوغصې نه) پړقونه وهل. (تاويدل) [3]
دا موقعه دمسلمانانودپاره ډيره سخته وه.يوطرف ته مسلمانان د صلحې په شرطونو خفه وو.بل طرف ته د ابوجندل په بيړو راتلل وو.دهغه دمظلوميت داستان ،اود مسلمانانونه پناه

---

[1])دابوجندل نوم ،،عاص،، وو.حافظ ابن حجر رحمه الله ددوى نوم ،عبدالله،، ليكلې دې.دوى په سابقين اولينوكښې وو.اوپه هغه صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې وو.چاته چه داسلام قبلولوپه وجه سخت تكليفونه رسولى شو.دوى د صلح حديبيه په وخت كښې مكې ته واپس كړې شو.خوڅه وخت پس دوى د مكې نه اووتلو.اوابوبصير رضي الله عنه سره ملګرې شو.اود سمندرغاړې سره ډيره شو.دوى به د قريشوپه تجارتى قافلوباندې ډاكه اچوله.ددې نه تنګ شو.اوپخپله دمكې خلقواووئيل.چه دا خلق دې دمدينې منورې مسلمانو سره اوسيرى.حضرت ابوجندل رضي الله عنه د اته څلويښت كالوپه عمركښې په جنګ يمامه كښې شهيد شو.(الإصابة(٣٤\٤) وسيرة حلبية (٢٣\٣)_

[2])البداية والنهاية (١٦٩\٤)_

[3])ونيلى شى.چه ابوجندل رضي الله عنه كله واپس كړې شو.نو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه هغه سره سره نزدې روان شو.اوخپله توره ئې هغه ته نزدې كړه.اووې ونيل.((إن دم الكافرعندالله كدم الكلب)) حضرت عمر رضي الله عنه غوښتل.چه ابوجندل رضي الله عنه توره واخلى.اوسهيل قتل كړى.خوابوجندل رضي الله عنه دخپل پلارسهيل دقتلولو وس نه لرلو.(البداية والنهاية (١٦٩\٤) وتاريخ الخميس(٢٢\٢)_~

غوستل.اودهغه چغې مسلمانان ډير زيات خفه کړل.خونبی کريم ﷺ په خپله معاهده باندې برقرار پاتې شو.اوابوجندل ؓ ته ئې اوفرمائيل.

«ياأبا جندل إصبر: واحتسب،فإن الله جاعل لك ولمن معك من المستضعفين فرجاً ومخرجاً إنا عقدنا بيننا وبين قومنا صلحاً وإنا لانغدر بهم»

ابوجندل اصبرکوه.اودالله تعالى نه د ثواب اميد ساته.الله تعالى به ستا دپاره او ستا د نورو مظلومو ملګرو دپاره څه لار راوباسي.چونکه زمونږ او ددوی په مينځ کښې صلح شوې ده.ددې وجې اوس مونږ وعده خلافي نشو کولې.

دصلح کولونه پس نبی ﷺ صحابه کرامو ؓ ته د قربانئ کولواوسرونو خرنيولو حکم اوکړو.خوصحابه کرام ؓ دومره د زړه نه خفه وو.چه نبی ﷺ درې ځله حکم اوکړو.خوځوك هم پانه سيدل.د دې په وجه نبی ﷺ خفه شو.

په دې سفرکښې په ازواج مطهراتوکښې حضرت ام سلمه ؓ د نبی ﷺ سره وه.دوی هغې ته تشريف يوړو.اودخپل خفګان اظهار ئې ورته اوکړو.حضرت ام سلمې ؓ ډيره مفيده اوښه مشوره ورکړه.عرض ئې اوکړو.يارسول الله دا صلح مسلمانانوته ډيره سخته ده.ددې په وجه دوی خفه او زړه ماتی دی.ددې وجې تاسو دوی ته څه مه وائې.بهرته لاړ شئ.اوخپل خلق اوکړئ.احرام پرانيزئ .نو صحابه ؓ به په خپله ستاسواتباع اوکړی.نو نبی ﷺ دهغې په مشوره باندې عمل اوکړو.اول ئې خپل سره اوخرنيل.اوقربانی ئې ذبح کړه.صحابه کرامو ؓ چه کله اوکتل.نو ټول پاسيدل.اوحلق اوقربانی ئې اوکړه.نبی ﷺ د ټولودپاره دعا اوکړه.([1])

نبی کريم ﷺ په مقام حديبيه کښې تقريباً شل ورځې قيام کړې وو.([2]) اوددې نه پس نبی ﷺ دمدينې منورې رخ اوکړو.په لاره کښې کله چه واپسی کيده. نو حضرت عمر ؓ نبی ﷺ ته ورغلو.او ورته ئې عرض اوکړو.يارسول الله آيا تاسو دالله تعالى په حقه پيغمبرنه ئې؟ نبی ﷺ اوفرمائيل.ولې نه يم.حضرت عمر ؓ اووئيل.آيا مونږ په حق اوهغه خلق په باطل نه دی.نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.ولې نه.حضرت عمر ؓ بيا عرض اوکړو.آيا زمونږ مقتولين به په جنت کښې اودهغوی مقتولين به په جهنم کښې نه وی.نبی ﷺ اوفرمائيل. ولې نه.په دې باندې حضرت عمر ؓ اووئيل. بيا په دين کښې ولې مونږ ذلت برداشت کوو.

نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.«وأنا عبدالله ورسوله لن أخالف أمره ولن يضيعني» زه دالله تعالى بنده اودهغه رسول يم.اودالله تعالى دحکم نافرمانی نشم کولې.الله تعالى به هرګز ما رسوا نکړی. حضرت عمر ؓ اووئيل.يارسول الله ولې تاسو مونږ ته نه وو وئيلی.چه مونږ به بيت الله ته ځو.اود بيت الله طواف به کوو.نبی ﷺ اوفرمائيل.بيشکه دا مې فرمائيلی وو.خودا مې نه وو وئيلی.چه هم په دې کال کښې به دا کارونه کوو.حضرت عمر ؓ ابوبکر ؓ ته ورغلو.اوهغوی ته ئې هم هغه شان خبرې اوکړې.حضرت ابوبکر ؓ ورته اوفرمائيل.اې دالله

---

[1])صحيح بخاری کتاب الشروط فی الجهاد رقم الحديث (٢٧٣٢)_

[2])طبقات ابن سعد(٩٨\٢)_

بنده محمد ﷺ دالله تعالی رسول دي.هغه چه څه فیصلې کوی.دالله تعالی دحکم مطابق ئې کوی.ددې وجې هم دهغه رکاب اونیسه.(۱)

حضرت عمرؓ فرمائی.چه روستو ماته په خپلودې گستاخانه خبرو باندې ډیرافسوس کیږی.اومسلسل توبه اواستغفار وایم.مونځونه کوم.اود تلافئ دپاره صدقات ورکوم.(۲) هم ددې واپسئ په سفرکښې سورة فتح نازل شو.﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ حضرت عمربن الخطاب ؓ عرض اوکړو.یارسول الله ولې دا فتح ده؟ نبی ﷺ اوفرمائیل.قسم دې وی په هغه ذات چه زما روح دهغه په قدرت کښې دې.دا فتح مبین ده.(۳) دا خود دغزوه حدیبیه تاریخی تفصیل وو.

د صلح حدیبیهٔ په نتائجو یوه نظر: دصلح حدیبیه واقعه دنبی ﷺ د فراست یوه روښانه واقعه ده. په دغه وخت کښې کله چه نبی ﷺ مکې ته نزدې اورسیدل.نوددوی اوښه ،،قصواء،، کیناسته.په هغه وخت کښې نبی ﷺ ډیر په اعتماد سره دا وئیلی وو.که قریشو داسې څه تجویز پیش کړو.چه په هغې کښې دالله تعالی د حدودو اوحرماتوتعظیم وی.اوهغه د شعائرالله د ادب سره منافی نه وی.زه به ضرور هغه قبلوم.بس دا وئیل.چه اوښه پاسیده. او نبی ﷺ دمکې په خاې حدیبیه طرف ته روان شو.اوبیا صلح اوشوه.کومه چه په ظاهره په کمزورئ خودلو سره اوشوه.صحابه کرامؓ ډیردلگیر وو.اوحضرت عمرؓ درسول الله سره د محبت جوش داسلام دعظمت په وجه په قابوکښې پاتې نشو.هغوی خو نبیﷺ ته وئیل.چه تاسو خو وئیل.چه مونږ په حق یو.نوبیا ولې دخپل دین دپاره ددې صلحې په وجه مونږ ذلت برداشت کوو.چونکه د صلحې په شرطونو کښې دا هم وو.چه مسلمانان به بغیرعمرې واپس ځی.او راروان کال ته به د عمرې دپاره راځی.بل طرف ته ابوجندلؓ واپس کول وو.دا هم نبی ﷺ اومنل.که یومسلمان دمکې نه مدینې ته لاړ شی.هغه به بیرته کافرانوته واپس کولې شی.اوکه د مدینې نه څوك مرتد شی.اومکې ته لاړشی.هغه به نشی واپس کولې.

کله چه نبی ﷺ صلح اوکړه.نودا اگرچه په ظاهره باندې په کمزورئ سره شوې وه.خوددې شانداراوحیرانکونکی نتائج ښکاره شول.

اول خو سیاسی طور قریش چه دمسلمانانو ئې څه قانونی حیثیت نه منل.د هغوی خیال وو.چه دا څوسروهلی بروهلی خوانان دی.دوی انتشاراوافراتفری جوړه کړې ده.پلاردخوې سره اوښځه دخاوند سره اوورورددورورسره جنگوی.دوی دهشت گردی شروع کړه.په څوورځو کښې به خپل انجام ته اورسی.اوختم به شی.اوس د صلحې په ذریعه دقریشوکافرانو مسلمانان خپل مد مقابل یوه ډله تسلیم کړه. او باقاعده ئې صلح اوکړه.

دویمه ددې صلحې په ذریعه دمسلمانانو په شمارکښې ډیره زیاته اضافه اوشوه.دعمرې

---

(۱) بخاری کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد رقم الحدیث (۲۷۳۲)_

(۲) زادالمعاد(۲۹۵\٤)_

(۳) دلائل النبوة للبیهقی (۳۳۹\٤) باب غزوة خیبر)_

دپاره دوی سره څوارلس یا پنځلس سوه صحابه رضی الله عنهم وو.دومره یا د دې نه کم اوزیات نور مسلمانان وو.کوم چه په دې سفر کښې ورسره ملګری نه وو.خوصرف د دوو کالونو نه په کمه موده کښې د نبی ﷺ سره کله چه هغوی د فتح مکې دپاره د سفرکولو.نولس زره لښکرد دوی سره وو.بیا د تبوك په موقع په ۹ھ کښې دنبی ﷺ سره دیرش زره یا ددې نه هم زیات مجاهدین وو.اوددې نه یوکال پس په ۱۰ھ کښې په حجه الوداع کښې یولاکهه پنځه ویشت زره کسان شریك وو.دصلح حدیبیه واقعه د ۶ھ ده.دیارلس کاله د مکې شپږ کاله د مدینې په دې کښې د مسلمانانوتعداد درې یا څلور زرو ته رسیدل.خود صلح حدیبیه نه پس صرف په څلورو کالوکښې د مسلمانانوتعداد لکهونوته اورسیدل.وجه دا وه.چه دصلحې نه وړاندې د جنګ حالت وو.په خپل مینځ کښې د بدئ اونفرت په وجه ددوی په مینځ کښې د ګډون نوبت نه راتلو.اوکه کله به داسې موقع راغله هم.نودنفرتونو په وجه په صحیح طریقه باندې به سوچ اوفکرنشوکولې.یوخواول په صلحې سره په خپل مینځ کښې نفرتونو کم شول.اود ګډون مواقع پیښې شوې.مسلمانان مکې ته تلل.اوکافران مدینې ته راتلل شروع شو.کله چه داسې اوشو.نو کافرانو اوکتل.اوباربار ئې اوکتل.چه دا زمونږ وروڼه د اسلام په دائره کښې د داخلیدو نه پس بیخی بدل شوی دی.په دوی کښې خو عجیبه انقلاب پیدا شوې دې.دوی خود صدق اووفا مجسمې جوړې شوی دی.امانت اودیانت خو د دوی په رګ رګ کښې داخل شوې دې.شرافت اوعظمت خوددوی نښه اوپیژندګلو ګرځیدلې ده.دوی د ضعیفانواوکمزور مددګاران جوړ شوی دی.اود ظالمانواو سرکشو دختمولودپاره طاقتوراو مضبوط دی.نوددې مشاهدې نه پس هغوی اسلام طرف ته مائل شول.اوډیر په اسلام کښې داخل شول.

دریم د صلح حدیبیه دواقعه نه وړاندې صورتحال دا وو.چه دمدینې منورې په جنوب کښې مکه وه.اوهلته قریش داسلام دشمنان اوسیدل.چاسره چه څو جنګونه هم شوی وو.اوشمال ته خیبر وو.کوم ځای کښې چه یهود آباد وو.داهل کتاب کیدو په وجه هغوی هم خپلې لوې په ګمان کښې پراته وو.اودخپل خان نه سوا د بل چا دپاره د سیادت اوقیادت منلوته تیار نه وو. بل طرف د مدینې منورې نه د بنو نضیرود ویستلوواقعه پیښه شوه.اودا خلق د مدینې نه اووتل.اوپه خیبر کښې آباد شول.د بنوقریظو د غدر په وجه په مدینه منوره کښې دهغوی د قتل عام واقعه پیښه شوې وه.نویوطرف ته دمکې قریش دمسلمانانو دسردشمنان وو.چاسره چه د بدر،احد اوخندق غوندې جنګونه شوی وو.اوهغوی دبدراوخندق د شکست غم نه وو هیرکړې.بل طرف ته د خیبریهود وو.دوی د بنونضیروجلاوطنئ اود بنو قریظو دقتل عام غم خوړل.اوداسلام ترقی هغوی په هیڅ صورت کښې نشوه برداشت کولې.بیا په قریشواویهودیانوکښې مسلمانانوخلاف اتحاد هم کیدو لکه څنګه چه د بدرنه پس یهودو قریش د جنګ دپاره آماده کړی وو.اود احد واقعه راغله.بیا دخندق په موقع باندې هم د خیبر یهودیانواوبنوقریظه د مسلمانانو خلاف سازش کړې وو.په دغه حالاتوکښې نبی ﷺ سوچ اوکړو.چه مدینه مینځ کښې ده.اودواړو طرفونو شمال اوجنوب ته دشمنان موجود دی.دا هم ویره وه.چه دا دواړه ملګری شی.اوپه یوځل په مدینه حمله اوکړی.اوپه دې صورت

كښې دا هم ممكن نه وه.چه نبی ﷺ په مكه باندې حمله اوكړى.اودقريشو څه بندوبست اوكړى .څكه چه په دغه صورت كښې دخيبرد يهودو دحملې ويره وه.چه هغوى مدينه خالى اوګورى.اوپه مدينه حمله اوكړى.اوكه نبی ﷺ د يهودو د شر دفع كولودپاره په خيبر باندې حمله كوله.نوويره وه.چه قريش مدينه خالى اوګورى.اوپه مدينه حمله اوكړى.عجيبه دپريشانۍ حالت وو.ددې وجې نبی ﷺ فيصله اوكړه.چه په دواړوكښې ديوفريق سره صلح اوكړى.برابره ده چه هغه په هرصورت كښې وى. او دهرڅومره مودې دپاره وى.دوى د صلحې دپاره قريشوته ترجيح وركړه.اول خو د دې وجې چه هغوى سره خپلولۍ وې.هغوى د يو وطن هم وو.دهغوى خبث باطن هم كيدې شى د يهودو نه څه كم وو.د يهودو نه وړاندې غدر هم ثابت شوې وو. او خيال ئې دا وو.چه ددې صلحې نه سمدستى روسته خوپه دې شرط چه دحرمات الله په تعظيم كښې څه فرق نه راځى.په يهودو باندې حمله اوكړى.اودهغوى د شرنه دحفاظت انتظام اوكړې شى.اوبيا قريش پاتې شى.نوچه تر څوپورې هغوى د صلحې پابندى كوى.صحيح ده.صلح به وى.اوكه هغوى د صلحې خلاف ورزى اوكړى.نوبيا دهغوى انتظام كول به هم څه ګران نه وى.نوددې مصلحتونو په رڼا كښې نبی ﷺ د كمزورئ اظهاراوكړو.اوصلح اوكړه.او اوس ددې صلحنامې سياهى هم لا وچه شوې نه وه.چه نبی ﷺ دمكې نه واپس راغلو.نوپه محرم كښې په صلح حديبيه كښې چه كوم صحابه كرام شريك وو.هغوى ځان سره واخستل.اوپه خيبر ئې حمله اوكړه.اويهود ئې داسې برابر كړو.چه هغوى بيا سرنشو پورته كولې.د ذوالقعده په آخركښې صلح حديبيه شوې ود.اويوه مياشت په مينځ كښې هم نه وه تيره شوې.چه په محرم كښې ئې په يهوديانو باندې فتح حاصله كړه.اوس قريش پاتى شول.څه وخته پورې هغوى د صلحې پابندى كوله.دود كاله هم نه وو تير شوى .چه هغوى د صلحې خلاف ورزى اوكړه.اونبی ﷺ په رمضان ۸ه كښې په مكه باندې حمله اوكړه.اومكه ئې داسې فتح كړه.لكه چه دا هډو څه ګران كار نه وو. او دغه شان ئې ټول عرب سره د يمن نه دارالاسلام جوړ كړو.ددې وجې دفتح مبين مصداق د فتح مكې په ځاې صلح حديبيه اوګرځولې شو.چونكه هم دا صلح په حقيقت كښې دفتح مكې يو تمهيد وو.اوپه نورومصالحوباندې هم دا مشتمله وه.

[۳۹۱۶] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ قَالَ حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَصَابَنَا مَطَرٌ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَصَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَتَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَقَالَ قَالَ اللَّهُ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِي فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِرَحْمَةِ اللَّهِ وَبِرِزْقِ اللَّهِ وَبِفَضْلِ اللَّهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَجْمِ كَذَا وَكَذَا فَهُوَ مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ كَافِرٌ بِي [ر:۸۱۰]

دا خالد بن مخلد بجلى رحمه الله دي.د كوفې اوسيدونكې وو.اود امام مسلم استاذ هم وو.دا روايت په كتاب الصلاة كښې تيرشوې دې.([1])

[۳۹۱۷] حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَخْبَرَهُ قَالَ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلَّهُنَّ فِي ذِي الْقَعْدَةِ إِلَّا الَّتِي كَانَتْ مَعَ حَجَّتِهِ عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْجِعْرَانَةِ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ [ر:۱۶۸۷]

دا روايت په كتاب الحج كښې دحسان بن ثابت رضي الله عنه په طريق سره تيرشوې دې.([2])

[۳۹۱۸] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ قَالَ انْطَلَقْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَحْرَمَ أَصْحَابُهُ وَلَمْ أُحْرِمْ [ر:۱۷۲۵]

دا سعيد بن الربيع عامرى دې.ذعلى بن مبارك بصرى رحمه الله نه روايت كوى.اودوى د يحى بن ابى كثيريمامى طائي نه نقل كوى.

قوله: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ...: حضرت ابوقتاده رضي الله عنه صحابى دې.دانصارو بنو خزرج قبيلې سره تعلق ساتى. د دوى د نوم په باره كښې اختلاف دې.امام واقدى اوكلبى رحمهما الله ددوى نوم نعمان خودلې دې.بعضې حضراتو ،،عمرو،، وئيلې دې.خوزيات مشهور قول دا دې.چه دده نوم ،حارث،، دې.دده د پلارنوم ربعى وو.دوى ته ،،فارس رسول الله،، ونيلى شى.ونيلى شى.چه اوياكالوته نزدې عمرئې وو.په كوفه يا مدينه كښې دحضرت على رضي الله عنه يا حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه په زمانه كښې وفات شوې وو.([3]) دا حديث په «أبواب العمرة» كښې په تفصيل سره تيرشوې دې.

[۳۹۱۹، ۳۹۲۰] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ تَعُدُّونَ أَنْتُمُ الْفَتْحَ فَتْحَ مَكَّةَ وَقَدْ كَانَ فَتْحُ مَكَّةَ فَتْحًا وَنَحْنُ نَعُدُّ الْفَتْحَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً وَالْحُدَيْبِيَةُ بِئْرٌ فَنَزَحْنَاهَا فَلَمْ نَتْرُكْ فِيهَا قَطْرَةً فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهَا فَجَلَسَ عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ مَضْمَضَ وَدَعَا ثُمَّ صَبَّهُ فِيهَا فَتَرَكْنَاهَا غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ إِنَّهَا أَصْدَرَتْنَا مَا شِئْنَا نَحْنُ وَرِكَابَنَا

قوله: تَعُدُّونَ أَنْتُمُ الْفَتْحَ فَتْحَ مَكَّةَ وَنَحْنُ نَعُدُّ الْفَتْحَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ: حضرت براء بن

---

[1])بخارى كتاب الصلاة باب قول الله عزوجل ﴿ وتجعلون رزقكم إنكم تكذبون﴾ (١٤١١١)_

[2]) بخارى كتاب الحج أبواب العمرة باب كم إعتمر النبى ﷺ (٢٣٩١١)_

[3])الإصابة فى تميزالصحابة (١٥٨١٤) بخارى أبواب العمرة باب جزاء الصيد (٢٤٥١١)_

عازب رضی الله عنه اوفرمائيل.تاسوخلق فتح مكې ته فتح وائې.او مونږ بيعة الرضوان فتح شمارو.په حقيقت كښې هم صلح حديبيه د اسلام د لوې اشاعت اوتبلغ دپاره مقدمه شوه.ددې نه وړاندې ټول عمرعرب داسلام د اوچتو اقدارونه بيخي خبر نه وو.هره ورځ دمسلمانانواواهل مكې په مينځ كښې دجنګونې مقابلوپه وجه دعربو عامو قبيلو ته مسلمانانوته د نزديكيدو او د مسلمانانو د اخلاقو مواقع كمې ملاويدې.كله چه صلح حديبيه اوشوه.اولارې په امن شوې.نود عربوقبيلوته براه راست د مسلمانانومعاشرت،د دوى اخلاق، اوژوندتيرولوطور طريقود ليدو موقع ملاؤ شوه.اوهغوى د اسلام اومسلمانانونه متاثره شول.اوډلې ډلې په اسلام كښې داخليدل.هم دا وجه ده.چه دغزوه حديبيه په موقع دنبى ﷺ سره صرف څورلس سوه صحابه كرام رضی الله عنهم وو.خودوه كاله پس كله چه دمكې دفتحې په اراده باندې نبى ﷺ تلل. نود دوى سره د عربو د قبيلوپه لس زره كسانوباندې مشتمل لښكروو.كله چه د فتح مكې په موقع د بيت الله شريف چابيانې د نبى ﷺ لاس ته ورغلې.نو نبى ﷺ ټولوصحابو رضی الله عنهم ته اوبيا خاص كرحضرت عمر رضی الله عنه ته خطاب اوكړو.اووې فرمائيل.دا هغه فتح ده.كومه چه ما تاسوته وئيل.حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوكړو.بيشكه دصلح حديبيه نه بله لويه فتح نه وه.

قوله: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه «ألفا وأربع مائة» نه دى وئيلى.بلكه «أربع عشرة مائة» ئې وئيلى دى.كوم چه دعام اسلوب نه خلاف دې.عالمانو رحمهم الله ليكلى دى. چه په اصل كښې صحابه كرام رضی الله عنهم په ،،مئات،، كښې تقسيم وو.دسلو يوه ډله وه. اودسلو بله ډله وه.نود ،،مئات،، دې تقسيم طرف ته داشاره كولو دپاره دا تعبير اختياركړې شوې دې.كه «ألفاً وأربع مائة» ئې فرمائيلى وو.نود ،،مئات،، دې تقسيم طرف ته به اشاره نه وه.(۱)

مخكښې فرمائى.چه حديبيه يو كوهى وو.مونږ دهغې نه اوبه راوويستلې. (چونكه څوارلس سوه كسان وو.اوپه هغې كښې اوبه كمې وې) يوه قطره هم مونږ په هغې كښې پرې نخودې.نبى ﷺ ته ددې خبر ملاؤ شو.نبى ﷺ كوهى ته راغلو. او د كوهى په غاړه باندې كيناستل.بيا نبى ﷺ د اوبويو لوښې راوغوښتل.اوبيا ئې اودس اوكړو.اوبه خوله كښې ئې اوبه واچولې.اودعا ئې اوكړله.او هغه د اودس اوخولې اوبه به ئې په كوهى كښې ورواچولې.

قوله: فَتَرَكْنَاهَا غَيْرَ بَعِيدٍ: نومونږ لږ وخت دپاره هغه كوهې پريخودل.يعنى سمدستى موترې اوبه راويستل شروع نكړل.په يو روايت كښې دى.چه نبى ﷺ صحابو رضی الله عنهم ته اوفرمائيل.«دعوها ساعة» دلږ ساعت دپاره دا پريږدئ.(۲)

قوله: ثُمَّ إِنَّهَا أَصْدَرَتْنَا مَا شِئْنَا نَحْنُ وَرِكَابُنَا: بيادغه كوهى مونږ ته دومره اوبه

---

(۱) عمدة القارى(۱۷\۲۱٤) وشرح كرمانى(۱۶\۶۶)_

(۲) فتح البارى(۷\٤٤۲)_

راكړلې. اوواپس شو.چه څومره مونږ غوستلې.اوزمونږ سورلو غوستلې.د «أصدرتنا» معنی «أرجعتنا» ده.ونیلی شی. «أصدرته أی أرجعته فرجع» (۱)«صادرالماء» هغه کس ته وائی.چه څوك چه د ګودرنه واپس راځی.ددې جملې مقصد دا دې.چه د نبی ﷺ دخولې اوبو غورځولو نه پس په هغې کښې دومره اوبه راغلې.کومې چه زمونږ د ضرورت دپاره بس وې. او زمونږ د سورلو ضرورت هم په هغې پوره شو.دا دنبی ﷺ معجزه وه.

[۳۹۲۰]حَدَّثَنِي فَضْلُ بْنُ يَعْقُوبَ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَعْيَنَ أَبُو عَلِيٍّ الحَرَّانِيُّ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ أَنْبَأَنَا البَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةٍ أَوْ أَكْثَرَ فَنَزَلُوا عَلَى بِئْرٍ فَنَزَحُوهَا فَأَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى البِئْرَ وَقَعَدَ عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ قَالَ ائْتُونِي بِدَلْوٍ مِنْ مَائِهَا فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ فَدَعَا ثُمَّ قَالَ دَعُوهَا سَاعَةً فَأَرْوَوْا أَنْفُسَهُمْ وَرِكَابَهُمْ حَتَّى ارْتَحَلُوا [ر: ۳۳۸۳]

دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه اولنې روایت امام بخاری رحمه الله د عبدالله بن موسی په طریق سره نقل کړی وو.اودلته ئې د فضیل بن یعقوب په طریق سره نقل کوی.

[۳۹۲۱\۳۹۲۲]حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الحُدَيْبِيَةِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا نَشْرَبُ إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ قَالَ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ فَجَعَلَ المَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ العُيُونِ قَالَ فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا فَقُلْتُ لِجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً

[۳۹۲۲]حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ قُلْتُ لِسَعِيدِ بْنِ المُسَيَّبِ بَلَغَنِي أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ كَانَ يَقُولُ كَانُوا أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً فَقَالَ لِي سَعِيدٌ حَدَّثَنِي جَابِرٌ كَانُوا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً الَّذِينَ بَايَعُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الحُدَيْبِيَةِ قَالَ أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا قُرَّةُ عَنْ قَتَادَةَ تابعه محمد بن بشار حدثنا أبوداود وحدثنا شعبة

[۳۹۲۳]حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الحُدَيْبِيَةِ أَنْتُمْ خَيْرُ أَهْلِ الأَرْضِ وَكُنَّا أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةٍ وَلَوْ كُنْتُ أُبْصِرُ اليَوْمَ لَأَرَيْتُكُمْ مَكَانَ الشَّجَرَةِ تَابَعَهُ الأَعْمَشُ سَمِعَ سَالِمًا سَمِعَ

---

(۱) عمدة القاری (۱۷\۲۱٤)_

جَابِرًا أَلْفًا وَأَرْبَعَ مِائَةٍ [ر: ۳۳۸۳]

[۳۹۲۳] وَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَ أَصْحَابُ الشَّجَرَةِ أَلْفًا وَثَلَاثَ مِائَةٍ وَكَانَتْ أَسْلَمُ ثُمُنَ الْمُهَاجِرِينَ تَابَعَهُ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ

قوله: حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى: دا یوسف بن عیسی مروزی رحمه الله دې.ددوی لقب ابویعقوب دې.اودا دامام مسلم رحمه الله استاذ هم دې.[1]

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی.چه د غزوه حدیبیه په موقع خلق تګی شول.اود نبی ﷺ مخامخ یود ،،رکوه،، یعنی د څرمنې یو لوښې موجود وو.په کوم کښې چه څه اوبه وې.نبی ﷺ دهغې نه اودس اوکړو.بیا نبی ﷺ طرف ته (داوبودپاره) متوجه شول. نبی ﷺ خلقوته اوکتل.او وې فرمائیل ((مالکم؟)) په تاسو څه اوشو؟هغوی اووئیل. مونږ سره اوبه نشته.چه مونږ پرې اودسونه اوکړو.اووې څکو.سوا دهغه اوبو نه.کومې چه ستاسو په ،،رکوه،، (دڅرمنې په لوښی کښې) دی.نبی ﷺ خپل لاس په هغه لوښی کښې کیخودو.نو د نبی ﷺ د ګوتود مینځ نه داسې اوبه راوتې.لکه څنګه چه دچینې نه راوځی.نومونږ اوبه اوڅکلې. او اودسونه مو اوکړل.ما (سالم) د حضرت جابر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو.په دغه وخت کښې تاسو څومرد وئ.نوهغوی راته اوفرمائیل.که مونږ لاکھ هم وو.نوبیا به هم هغه زمونږ دپاره کافی وې.هسې خو مونږ پنځلس سوه وو.

یوسوال اودهغې جواب: دلته یوسوال کیږی.چه دحضرت جابر رضی الله عنه حدیث د ماقبل حضرت براء بن عازب رضی الله عنه د حدیث سره په ظاهرمتعارض دې.ځکه چه په هغې کښې دی.چه نبی ﷺ په کوهی کښې دخولې اوبه ورواچولې.دهغې نه پس په هغې کښې اوبه راغلې.اود حضرت جابر رضی الله عنه په دې روایت کښې د نبی ﷺ د ګوتود مینځ نه د اوبو راوتو ذکردې.

① ددې جواب ورکړې شوې دې.چه دحضرت جابر رضی الله عنه دا روایت په کتاب الاشربه کښې مفصل دې.ددې نه دا معلومیږی.چه دحضرت جابر رضی الله عنه د روایت واقعه د ماز یګروخت ده. اود حضرت براء بن عازب رضی الله عنه د روایت د مانځه په وخت کښې نه وه.دا دوه جدا جدا واقعات دی.نو څه تعارض په کښې نشته.[2]

② اودویم جواب دا هم هم ورکولې شی.چه نبی ﷺ کله خپل لاس په لوښی کښې کیخودو. اود نبی ﷺ د ګوتونه اوبه روانې شوې.نوصحابو رضی الله عنهم ددغه اوبو نه خپل ضرورت پوره کړو.ددې نه پس نبی ﷺ حکم اوکړو.چه کومې اوبه بچ شوی وی.هغه په دې کوهی کښې ورواچوئ.نوکله چه هغه په کوهی کښې ورواچولولې شوې.نوهغه وچ کوهې د اوبو نه ډک شو.نودا واقعه هم د یو وخت ده.البته د معجزې ښکاره کیدل دوه ځله شوی دی.دحضرت

[1])عمدة القاری(۱۷\۲۱٤)_

[2])فتح الباری (۷\٤٤۲)_

جابر رضی الله عنه په روایت کښې د اولنۍ معجزې ذکردې.اودحضرت براء بن عازب رضی الله عنه په روایت کښې د دویمې معجزې ذکردې.ددې وجې په دواړو روایاتوکښې څه تعارض پاتې نشو.(١)

داصحاب حدیبیه په تعداد کښې اختلاف د روایاتواوددې حل: دحضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې په صلح حدیبیه کښې د صحابو رضی الله عنهم شمار پنځلس سوه خودلې شوې دې.اوددې روایت سره متصل په وړاندینی روایت کښې هم د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې د څوارلس سوه عدد منقول دې.دحضرت براء بن عازب رضی الله عنه په روایت کښې هم د څورلس سوو ذکروو.او وړاندې دحضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه روایت راځی.په هغې کښې د دیارلس سوو عدد منقول دې.

امام نووی رحمه الله تطبیق کوی.اوفرمائی.چه اصلی تعداد د څورلس سوو نه زیات وو.لکه څنګه چه د حضرت براء رضی الله عنه په روایت کښې د«الفا واربعمائة» نه پس «أوأكثر» لفظ راغلې دې.نوچا چه کسر پوره کړې دې.هغه پنځلس سوه ذکرکړې دی.اوچا چه د کسراعتبارنه دې کړې.هغه څورلس سوه وئیلی دی.دا خود جمع بین الروایتین صورت وو.کوم چه امام نووی رحمه الله اختیارکړې دې.(٢) امام بیهقی رحمه الله د ترجیح طریقه اختیارکړې ده.او فرمائیلی ئې دی.چه د څورلس سوه روایت راجح دې.(٣)

ترځویورې چه د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه د روایت تعلق دې.په کوم کښې چه دیارلس سوه دی.نودهغې مطابق دا وئیلی شی.چه هغوی دخپل علم مطابق دا وئیلی وی.اوچه چا ته د دیارلس سوو نه د زیات علم وو.هغه د خپل علم مطابق روایت کړې دې.یا دا سې وئیلی شی.چه د مدینې منورې نه د وتلو په وخت کښې شماردیارلس سوه وو.خو روستو بیا تعداد زیات شو.نوعبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه د مدینې منورې نه د وتلوپه وخت کښې تعداد خودلې دې.اودا هم وئیلی شی. چه په اصل کښې دمجاهدینوتعداد خو دیارلس سوه وو.اوچه په کومو روایاتو کښې د ددې نه د زیات ذکردې.نو په هغې کښې دخادمانو ښځو اوماشومانو اعتبارهم شوې دې.(٤)

قوله: حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ: دحضرت جابر رضی الله عنه روایت د دې نه وړاندې دحضرت یوسف بن عیسی په طریق سره راغلې وو.او اوس امام بخاری رحمه الله دحضرت جابر رضی الله عنه روایت د ..الصلت بن محمد،، په طریق سره بیانوی.دا صلت بن محمدبصری دې.په دې روایت کښې دپنځلس سوو ذکردې.

قوله: تَابَعَهُ أَبُودَاوُدَ: یعنی ابوداود طیالسی رحمه الله دصلت بن محمد متابعت کړې دې.دا

---

١)فتح الباری(٧\٤٤٢)_

٢)شرح الکرمانی(١٦\٦٧)_

٣)دلائل بیهقی(٤\٩٨)_

٤)فتح الباری(٧\٤٤٠)_

متابعت اسماعيلي موصولا ذكركړې دې.(١)

قوله: تَابَعَهُ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: حافظ ابن حجر رحمه الله دا متابعت دلته نقل كړې دې.خو په دې خاې كښې ئې په دې باندې څه كلام نه دې كړې.علامه عينى رحمه الله دلته دا هډو نقل كړې دې. خوزمونږ په نسخوكښې دا موجود دې.مطلب دا دې.چه د ابوداود طيالسى رحمه الله پشان محمدبن بشار رحمه الله هم ددې متابعت كړې دې.

قوله: حَدَّثَنَا علي حدثنا سُفْيَانُ: دحضرت جابر رضي الله عنه روايت امام بخارى رحمه الله په يوبل طريق سره بيانوى.په دې روايت كښې تعداد څورلس سوه خودلې شوې دې.

قوله: تَابَعَهُ الْأَعْمَشُ سَمِعَ سَالِمًا سَمِعَ جَابِرًا: د «تابعه» ضمير «سفيان» طرف ته راجع كيږى.يعنى اعمش رحمه الله د سفيان بن عيينه رحمه الله متابعت كړې دې.سفيان روايت كوى«عمرو بن دينار عن جابر رضي الله عنه» او اعمش رحمه الله نقل كوى.«سالم عن جابر رضي الله عنه» نه.

قوله: وَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ: دا تعليق دې.دا تعليق ابونعيم په ،،مستخرج على مسلم،، كښې موصولا نقل كړې دې.(٢)

قوله: وَكَانَتْ أَسْلَمُ ثُمُنَ الْمُهَاجِرِينَ: حضرت عبدالله بن ابى اوفى رضي الله عنه فرمائى.چه په صلح حديبيه كښې د اسلم قبيلې خلق د مهاجرينو په اتمه حصه وو.اوس چه د مهاجرينو رضي الله عنهم تعداد معلوم وى.نوهله د بنواسلم دتعداد چه اتمه حصه ده.دهغې پته لګيدې شى.البته واقدى نقل كړى دى.چه د بنو اسلم تعداد يوسل وو.په دې لحاظ سره د مهاجرينوتعداد به اته سوه وى.(٣)

[٣٩٢٥] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عِيسَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ أَنَّهُ سَمِعَ مِرْدَاسًا الْأَسْلَمِيَّ يَقُولُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ يُقْبَضُ الصَّالِحُونَ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ وَتَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ التَّمْرِ وَالشَّعِيرِ لَا يَعْبَأُ اللَّهُ بِهِمْ شَيْئًا [ر:٦٠٧٠]

قيس بن حازم رحمه الله د مرداس رضي الله عنه نه روايت كوى.امام بخارى،امام ابوحاتم رازى، اوامام مسلم رحمه الله دا روايت په ،،وحدان،، كښې شمارلې دې.مطلب دا دې.چه دحضرت مرداس اسلمى رضي الله عنه نه دا روايت د قيس بن حازم رحمه الله نه سوا بل نقل كونكې نشته.خوحافظ جمال الدين مزى او حافظ شمس الدين ذهبى رحمهما الله فرمائى.چه دا روايت دمرداس اسلمى نه روايت كونكې،،زيادبن علاقه،، هم دې. نوددې روايت شميرپه ،،وحدان،، كښې نه كيږى. خوحافظ ابن حجر رحمه الله د حافظ مزى اوحافظ ذهبى رحمهما الله د قول ترديد كوى.

---

(١) عمدة القارى(١٧\٢١٤)۔
(٢) فتح البارى(٧\٤٤٤)_
(٣) عمدة القارى(١٧\٢١٦)_

اوفرمائى.(١) چه مرداس دوه دى.يومرداس اسلمى دې.چه دلته ئې ذكردې.اوبل مرداس بن عروه دې.زيادبن علاقه د ،،مرداس ابن عروه نه روايت كوى.د مرداس اسلمى نه روايت نه كوى.نود مرداس اسلمى نه روايت كونكې صرف قيس بن حازم دې.اودا روايت په ،،وحدان ،، كښې دې.لكه څنګه چه حافظ ابن منده.ابن ابى حاتم.اوامام بخارى رحمه الله فرمائيلى دى. باقى پاتې شوه دا خبره چه مرداس اسلمى اومرداس بن عروه دواړه جدا جدا كسان دى.اوكه دا يودى.حافظ ابن حجر رحمه الله په «الإصابة في تميز الصحابة» كښې تحقيق كړې دې.خو خودلى ئې دى.چه دا دوه دى يو نه دې.(٢) حضرت مرداس اسلمى رضي الله عنه داصحاب حديبيه څنى دې.هم په دې مناسبت سره ئې دا روايت دلته نقل كړې دې.دوى فرمائى.چه كوم كسان نيكان دى.هغوى د «الأول فالأول» قاعدې مطابق د دنيا نه رخصتيږى.اولكه څنګه چه د قجورو اود اوربشو ردى اوبې كاره بهوس روستو پاتې شى.دغه شان به سړى هم په آخركښې ردى اوبيكاره پاتې شى.الله تعالى د داسې كسانو څه پرواه نه كوى.

[۳۹۲۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ فَلَمَّا كَانَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَ وَأَحْرَمَ مِنْهَا لَا أُحْصِي كَمْ سَمِعْتُهُ مِنْ سُفْيَانَ حَتَّى سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا أَحْفَظُ مِنَ الزُّهْرِيِّ الْإِشْعَارَ وَالتَّقْلِيدَ فَلَا أَدْرِي يَعْنِي مَوْضِعَ الْإِشْعَارِ وَالتَّقْلِيدِ أَوِ الْحَدِيثَ كُلَّهُ [ر:۱۶۰۸]

داعلى بن عبدالله مدينى رحمه الله دې.دامام بخارى اوامام مسلم رحمهما الله شيخ دې.په روايت كښې دى.كله چه نبى صلى الله عليه وسلم مقام ذوالحليفه ته اورسيدل.نوهدى ته ئې غاړكۍ واچوله. اواشعار ئې اوكړو.اود هغه ځاې نه نبى صلى الله عليه وسلم احرام اوتړل.

قوله: لَا أُحْصِي كَمْ سَمِعْتُهُ مِنْ سُفْيَانَ : دا دعلى بن مدينى رحمه الله قول دې.دوى فرمائى.چه زه نشم شمارلې چه ما دا حديث د سفيان نه څوځله اوريدلې دې.ددې جملې دوه مطلبونه بيان شوى دى.

① يومطلب دا دې.چه على بن مدينى رحمه الله فرمائى.ما دا حديث د سفيان رحمه الله نه دومره په كثرت سره اوريدلې دې.چه ماته صحيح تعداد ياد نه دې.مقصود دا دې.چه ډيرزيات مې اوريدلې دې.

② دويم مطلب علامه كرمانى رحمه الله بيان كړې دې.چه حضرت مدينى رحمه الله دا وئيل غواړى.چه سفيان رحمه الله د اصحاب حديبيه څومره تعداد بيان كړې دې. ماته ياد نه دې.خودا مطلب صحيح نه دې.ځكه چه دابن شهاب زهرى رحمه الله نه دا روايت په متعددو طرقو سره

---

(١) حافظ ابن حجر رحمه الله دا ترديد دابن سكن په حواله سره كړې دې.اوګورئ فتح البارى(۷/٤٤٥)_

(٢) اوګورئ (الإصابة فى تميز الصحابة (٣/٤٠١)_

مروى دي.اوپه ټولو طرقو كښې «بضع عشرة مائة» لفظ منقول دې.بيا داوئيل چه ماته ياد نه دى.چه زما استاذ څومره تعداد بيان كړې دې.نشى صحيح كيدې.(١)

قوله: حَتّٰى سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا أَحْفَظُ مِنَ الزُّهْرِيِّ الْإِشْعَارَ وَالتَّقْلِيدَ: على بن مدينى رحمه الله فرمائى.چه ما دسفيان رحمه الله نه دا اوريدلې دى.چه وئيل ئې.چه ماته د زهرى نه اشعاراوتقليد ياد نه دې.يعنى په دې حديث كښې چه د «قلد الهدى وأشعر» كوم الفاظ راغلى دى.دا ماته دزهرى نه ياد نه دى.

قوله: فَلَا أَدْرِي يَعْنِي مَوْضِعَ الْإِشْعَارِ وَالتَّقْلِيدِ أَوِ الْحَدِيثَ كُلَّهُ: على بن مدينى رحمه الله فرمائى.چه زه نه پوهيږم.چه ددې نه د حضرت سفيان رحمه الله په دې حديث كښې صرف اشعار اوتقليد مراد دې.اوكه پوره حديث، يعنى سفيان چه څه وئيلى دى.چه ماته د زهرى رحمه الله نه اشعار او تقليد ياد نه دې.نوعلى بن مدينى رحمه الله فرمائى.چه ماته دا معلومه نه ده.چه په دې سره سفيان رحمه الله د ټول حديث دعدم حفظ تصريح كوى.يا صرف د اشعار اوتقليد په باره كښې ښائى.چه دا ورته ياد نه دى.باقى حديث ورته ياد دې.على بن مدينى رحمه الله خودلته دا فرمائيلى دى.خو وړاندې هم دا روايت د عبيدالله بن محمد جعفى رحمه الله په طريق سره راغلې دې.په هغې كښې سفيان رحمه الله فرمائى. چه «حفظت بعضه وثبتنى معمر» يعنى ددې حديث بعضې حصه خو ماته ياده ده.اوبعضې حصه راته معمر رحمه الله رايادہ كړه.پهدې سره دا خبره بې غباره كيږى. چه سفيان رحمه الله د پوره حديث په باره كښې نه بلكه دبعضې حصې په باره كښې فرمائى.د عبيدالله بن محمدجعفي رحمه الله په روايت سره د على بن مدينى رحمه الله په روايت كښې چه كوم تردد دې.هغه لرې كيږى.(٢)

[۳۹۲۷] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ خَلَفٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ وَرْقَاءَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآهُ وَقَمْلُهُ يَسْقُطُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ قَالَ نَعَمْ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحْلِقَ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ لَمْ يَتَبَيَّنْ لَهُمْ أَنَّهُمْ يَحِلُّونَ بِهَا وَهُمْ عَلَى طَمَعٍ أَنْ يَدْخُلُوا مَكَّةَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ الْفِدْيَةَ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُطْعِمَ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ أَوْ يُهْدِيَ شَاةً أَوْ يَصُومَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ [ر: ۱۷۱۹]

حسن بن خلف واسطى رحمه الله دامام بخارى رحمه الله په صغارو شيوخو كښې دې.امام بخارى رحمه الله چه د كومو استاذانو نه استفاده كړې ده.په هغوى كښې دې د ټولونه كم عمر اوكشروو.اوپه

---

(١) وأغرب الكرمانى فحمل قول على بن المدينى ..لاأحصىٰ كم سمعته من سفيان.. على أنه شك فى العدد الذى سمع منه .. ويكفى فى التعقب عليه أن حديث سفيان هذا ليس فيه تعريض للتردد فى عددهم بل الطرق كلها جازمة بأن الزهرى قال فى روايته ..كانوا بضع عشرة مائة.. وانظرفتح البارى(٤٤٥/٧)_

(٢) فتح البارى(٤٤٥/٧)_

بخارى كښې ددوى نه صرف دا روايت دې.(١) دا روايت په كتاب الحج كښې د ((باب النسك شاة)) لاندې تيرشوې دې.(٢)

[٣٩٢٨] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى السُّوقِ فَلَحِقَتْ عُمَرَ امْرَأَةٌ شَابَّةٌ فَقَالَتْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ هَلَكَ زَوْجِي وَتَرَكَ صِبْيَةً صِغَارًا وَاللَّهِ مَا يُنْضِجُونَ كُرَاعًا وَلَا لَهُمْ زَرْعٌ وَلَا ضَرْعٌ وَخَشِيتُ أَنْ تَأْكُلَهُمُ الضَّبُعُ وَأَنَا بِنْتُ خُفَافِ بْنِ إِيمَاءَ الْغِفَارِيِّ وَقَدْ شَهِدَ أَبِي الْحُدَيْبِيَةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَفَ مَعَهَا عُمَرُ وَلَمْ يَمْضِ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِنَسَبٍ قَرِيبٍ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى بَعِيرٍ ظَهِيرٍ كَانَ مَرْبُوطًا فِي الدَّارِ فَحَمَلَ عَلَيْهِ غِرَارَتَيْنِ مَلَأَهُمَا طَعَامًا وَحَمَلَ بَيْنَهُمَا نَفَقَةً وَثِيَابًا ثُمَّ نَاوَلَهَا بِخِطَامِهِ ثُمَّ قَالَ اقْتَادِيهِ فَلَنْ يَفْنَى حَتَّى يَأْتِيَكُمُ اللَّهُ بِخَيْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَكْثَرْتَ لَهَا قَالَ عُمَرُ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَى أَبَا هَذِهِ وَأَخَاهَا قَدْ حَاصَرَا حِصْنًا زَمَانًا فَافْتَتَحَاهُ ثُمَّ أَصْبَحْنَا نَسْتَفِيءُ سُهْمَانَهُمَا فِيهِ

زيد بن اسلم د خپل پلاراسلم نه روايت كوى.اسلم د حضرت عمر رضي الله عنه آزاد كړې غلام وو. دوى د يمن په قيديانوكښې راغلې وو.حضرت عمر رضي الله عنه دوى په مكه كښې واخستل.اوبيا ئې آزاد كړو.(٣)

په دې روايت كښې چه كومه واقعه بيان شوې ده.هغه دا ده.چه حضرت اسلم رحمه الله فرمائى. زه دحضرت عمر رضي الله عنه سره بازار طرف ته لاړم.هلته يوه ځوانه ښځه حضرت عمر رضي الله عنه سره ملاؤ شوه.او وې وئيل.زما خاوند مړشوې دې.اوهغه واړه واړه ماشومان پريخودى دى.زه په دغه ماشومانو د فقراوفاقې نه ويريږم.زه د ((خفاف بن ايماء غفارى)) لور يم.او زما پلار په صلح حديبيه كښې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره شريك وو.حضرت عمر رضي الله عنه چه كله دا واوريدۀ.نودهغه ښځې سره اودريدل.اومخكښې لانړلو.بيا دوى خپل اوښ طرف ته وړاندې شو.اودوه بورئ ئې په هغې باندې بار كړې.په كوموكښې چه د خوراك،خرچ كولوسامان،او جامې وغيره وې.اود اوښ مهارئې ښځې ته په لاس كښې وركړو.او ورته ئې اووئيل.ته دا يوسه.دا به لا ختم نه وى .چه الله تعالى به تاته نور مال دراورسوى.مطلب دا وو.چه ددې مال ختميدو پورې به مونږ نور مال تاته دراوليږو.يوسړى حضرت عمر رضي الله عنه ته اووئيل امير لمومنين تا دې ښځې ته ډير څه وركړو.اميرالمومنين اوفرمائيل.((ثكلتك أمك)) ستا مور دې تا ورك كړى.په الله قسم زه ګورم.(يعنى نن هم هغه منظر زما د ستركوړاندې دې) چه ددې ښځې پلار او

---
(١) عمدة القارى (٢١٧\١٧)_
(٢) كتاب الحج بخارى (٢٤٤\١١)_
(٣) عمدة القارى(٢١٨\١٧)_

وور د یوې قلعې محاصره کړې وه. د یوې زمانې پورې.اوهغوی دغه قلعه فتح کړه.([1]) اوبیا مونږ په داسې حال کښې صبا کړو.چه مونږ په هغه قلعه کښې خپلې حصې حاصلولې.مطلب دا دې.چه هغوی کومه قلعه فتح کړې وه.هغه د مال غنیمت په طور سره تقسیم شوه.اومونږ تراوسه پورې دهغه قلعې نه فائده اخلو.نوکه دې ښځې ته مونږ څه زیات ورکړو نو دا خبره مونږ ته بده نه دی معلومیدل پکار،

دترجمة الباب سره ددې حدیث مناسبت دا دې میرمن دا قول دې.چه ((وقد شهد الحدیبیة مع النبی ﷺ)) یعنی زما پلار په غزوه حدیبیه کښې شریك شوې وو.د روایت لاندینو جملو باندې هم لږ څان پوهه کړئ.

قوله: وَاللّٰهِ مَا يُنْضِجُونَ كُرَاعًا وَلَا لَهُمْ زَرْعٌ وَلَا ضَرْعٌ: په الله قسم هغه ماشومان کراع (د چیلئ پښې) نشی پخولې.اونه دهغوی پټی شته.اونه پئ.

ددې جملې دوه مطلبه کیدې شی.یومطلب دا دې.چه هغه ماشومان دومره فقیران او غریبانان دی.چه د چیلئ د سوی په پخولو هم قادر نه دی.نوددې نه دهغوی دغریبئ اندازه لګولې شی.اوددې جملې دویم مطلب دا هم کیدې شی.چه هغه ماشومان دومره دکم عمر دی.چه هغوی ته د پخلی طریقه هم دخپلې کم عمرئ په وجه نه ورځی.حالانکه پانچو(پښو) په پخلوکښې دځه کاریګرئ ضرورت هم نه وی.داولنئ معنی په اعتبارسره د ماشومانو غربت مقصوددې.اود دویمې معنی په لحاظ سره د بچو کم عمری خودل مقصود دی.([2])

قوله: وَخَشِيتُ أَنْ تَأْكُلَهُمُ الضَّبُعُ: ((الضبع)) د ضاد به فتحې او باء په ضمې سره،کوګ، (یوځناور دې.چه ځپ ئې کوګ وی.او انسان ماتوی) په اصل کښې ((ضبع)) قحط سالئ ته وائی.په قحط سالئ کښې خلق ډیرمری.د کثرت موتی په وچه د دې نوبت نه راځی.چه د تولو دپاره دکفن دفن انتظام اوشی.لاشونه بهرپراته وی.نودا کوګ راشی.اوددې لاشونو غوښې خوری.ددې په مناسبت سره ده ته هم ((ضبع)) وئیلی شی.([3])

قوله: مَرْحَبًا بِنَسَبٍ قَرِيبٍ: دا جمله حضرت عمر ﷺ فرمائیلې ده.په دې سره دې خبرې ته اشاره ده.چه تاسو د بنو غفارسره تعلق ساتئ.اومونږد قریشو سره تعلق ساتو.اود قریشو اوبنوغفارنسب وراندې په ،،کنانه،، باندې یوبل سره ملاویږی.([4])

قوله: بَعِيرٍ ظَهِيرٍ: دا هغه اوښ ته وائی.چه د مضبوطې شا والا او طاقتور وی.

---

[1])حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی.چه دا معلومه نشوه.چه دا دکومې غزا واقعه ده.ممکن ده.چه د غزوه خیبر واقعه وی.ځکه چه د قلعو محاصره هم په خیبر کښې شوې وه.(فتح الباری(۷/٤٤٦)_~

[2])عمدة القاری(۱۷/۲۱۸)_

[3])عمدة القاری(۱۷/۲۱۸)_

[4])فتح الباری(۷/٤٤٦)_

[۳۹۲۹\۳۹۲۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ أَبُو عَمْرٍو الْفَزَارِيُّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ الشَّجَرَةَ ثُمَّ أَتَيْتُهَا بَعْدُ فَلَمْ أَعْرِفْهَا قَالَ ابوعبدالله قال محمود ثم أنسيتها بعد

سعيد بن مسيب رحمه الله دخپل پلار مسيب نه روايت كوى.چه هغوى فرمائيلى دى.چه ما هغه وونه ليدلې وه (د كومې لاندې چه د صلح حديبيه په موقع نبى ﷺ بيعت اخستې وو) روسته زه هغه وونې ته راغلم.نوهغه مې اونه پيژندله.چه هغه د كيكر وونه كومه ده.د كومې لاندې چه نبى ﷺ بيعت اخستې وو.

قوله: قال محمود ثم أنستها بعد: دا محمود بن غيلان رحمه الله دامام بخارى رحمه الله شيخ دې.په دې كنبې د«لقد رأيت الشجرة ثم أتيتها بعد فلم أعرفها» په خاې «لقد رأيت الشجرة ثم أنسيتها بعد» دى.

[۳۹۳۰] حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ طَارِقِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ انْطَلَقْتُ حَاجًّا فَمَرَرْتُ بِقَوْمٍ يُصَلُّونَ قُلْتُ مَا هَذَا الْمَسْجِدُ قَالُوا هَذِهِ الشَّجَرَةُ حَيْثُ بَايَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ فَأَتَيْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ سَعِيدٌ حَدَّثَنِي أَبِي أَنَّهُ كَانَ فِيمَنْ بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَلَمَّا خَرَجْنَا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ أُنْسِينَاهَا فَلَمْ نَقْدِرْ عَلَيْهَا فَقَالَ سَعِيدٌ إِنَّ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَعْلَمُوهَا وَعَلِمْتُمُوهَا أَنْتُمْ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ

[۳۹۳۱] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا طَارِقٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَانَ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَرَجَعْنَا إِلَيْهَا الْعَامَ الْمُقْبِلَ فَعَمِيَتْ عَلَيْنَا

[۳۹۳۲] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ طَارِقٍ قَالَ ذُكِرَتْ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ الشَّجَرَةُ فَضَحِكَ فَقَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي وَكَانَ شَهِدَهَا

قوله: حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ....: طارق بن عبدالرحمن بجلى رحمه الله فرمائى.چه زه د حج دپاره تلې ووم.نود يو قوم په خوا كنبې تيرشوم.چه هغوى مونځ كولو.ما تپوس اوكړو.چه دا كوم جمات دې؟ خلقو راته اووئيل.دا هغه وونه ده.د كومې لاندې چه نبى ﷺ د صحابو رضي الله عنهم نه بيعت رضوان اخستې وو(يعنى چونكه دا مقدم مقام دې.ددې وجې د تبرك په وجه خلق دلته مونځ كوى) بيا زه سعيدبن مسيب رحمه الله ته راغلم. ما هغوى ته دا واقعه بيان كړه.نوسعيد ماته اووئيل. زما پلار ماته وئيلى وو.چه زه په هغه كسانو كنبې شامل وم.چا چه ددې لاندې د رسول الله ﷺ سره بيعت كړې وو.زما پلار اوفرمائيل.چه كله مونږ په راروان كال (دوباره دغه خاې) لاړو.نو زمونږ نه هغه وونه هيره شوه.اود لتهون اوتلاش باوجود مونږ ته دهغې وونې پته اونه لګيده.بيا سعيد بن مسيب رحمه الله اوفرمائيل.چه دمحمد ﷺ صحابو رضي الله عنهم خو هغه وونه پيژندله نه.اوتاسوئې پيژنئ.(چه هلته مو جمات جوړ كړې دې.اومونځونه كوئ)

ددې مطلب خو دا شو.چه تاسو دنبی ﷺ د صحابو رضی الله عنهم نه ښه پیژنئ.
دا وونه الله تعالی د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هیره کړه.اوهغوی د ښه لټون باوجود هغه بیا نه مونده.په دې کښې دا حکمت خودلې شوې دې.که دا وونه متعین او موجود وه.نو دا ویره وه.هسې نه خلق ددې سجده شروع کړی.اود شریعت د حدودو نه تجاوز اوکړی.ځکه چه په عربو کښې دا رواج هم وو.چه هغوی به بعضې وونې متبرك ګڼړلې.اوبیا به د هغې په سجده کښې لګیا کیدل.ددې وجې الله تعالی د هغه وونې پیژندګلو د زړونو نه اوویستله.

خو هم په دې باب کښې د حضرت جابر رضی الله عنه روایت تیرشوې دې.«ولوکنت أبصر اليوم لرأيتكم الشجرة» ددې نه معلومیږی.چه حضرت جابر رضی الله عنه د ډیرې زمانې تیریدو باوجود د هغه وونې ځاې پیژندل.اوبیا روسته خو هلته جمات هم جوړ کړې شو.لکه څنګه چه په دې روایت کښې د جمات ذکردې.ددې وجې د سعید بن مسیب رحمه الله دا انکار محل دنظر دې.
ابن سعد رحمه الله په صحیح سند سره دحضرت عمر رضی الله عنه نه نقل کړی دی.چه حضرت عمر رضی الله عنه ته ددې خبرې اطلاع ملاؤ شوه.چه څه خلق دغه وونې ته ورځی. اوهلته مونځ کوی.حضرت عمر رضی الله عنه هغه خلق اورټل.اودهغه وونې د کټ کولو حکم ئې اوکړو.نوهغه پرې کړې شوه.[1]
فاروق اعظم رضی الله عنه د کټ کولو دا حکم هم ددې ویرې د وجې ورکړې وو.چه هسې نه خلق د وونې عبادت شروع کړی.والله اعلم.

[۳۹۲۳]حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَةٍ قَالَ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِمْ فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى [ر:۱۴۲۶]

قوله: وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ..: ددې روایت هم دا جزء د ترجمة الباب سره متعلق دې.اودا روایت په کتاب الزکاة کښې تیر شوې دې.[2]

[۳۹۲۴]حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ أَخِيهِ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْحَرَّةِ وَالنَّاسُ يُبَايِعُونَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْظَلَةَ فَقَالَ ابْنُ زَيْدٍ عَلَى مَا يُبَايِعُ ابْنُ حَنْظَلَةَ النَّاسَ قِيلَ لَهُ عَلَى الْمَوْتِ قَالَ لَا أُبَايِعُ عَلَى ذَلِكَ أَحَدًا بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ شَهِدَ مَعَهُ الْحُدَيْبِيَةَ [ر:۲۷۹۹]

قوله: وَكَانَ شَهِدَ مَعَهُ الْحُدَيْبِيَةَ: یعنی عبدالله بن زید رضی الله عنه د رسول الله ﷺ سره په حدیبیه کښې موجود وو.

---

[1])طبقات ابن سعد (۱۰۰/۲)_
[2])بخاری کتاب الزکاة باب صلاة الإمام دعائه لصاحب الصدقة (۲۰۳/۱)_

ددې اخرى جملې په وجه ئې داروايت دلته ذكركړو.دا روايت په كتاب الجهاد كښې تيرشوې دې.(۱) په دې روايت كښې ددې روايت د سند خصوصيت دا دې.چه ددې ټول راويان مدنى دى.(۲) دلته ددې بيان دې.چه خلقو د ،،حره،، دواقعې څه ذكردې.دكومې تفصيل چه تيرشوې دې. عبدالله بن حنظله په لاس باندې بيعت كولو.نو عبدالله بن زيد تپوس اوكړو.دا حنظله په څه خبره باندې بيعت كوى.هغه ته اوخودلى شو.چه په مرګ باندې بيعت كوى.نوحضرت عبدالله بن زيد بن عاصم رضی الله عنه اوفرمائيل.چه زه د رسول الله ﷺ نه پس د بل چا په لاس باندې د مرګ دپاره بيعت كولوته تيار نه يم.دوى په حديبيه كښې د نبى ﷺ سره شريك وو.

[۳۹۳۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَعْلَى الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا إِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَنْصَرِفُ وَلَيْسَ لِلْحِيطَانِ ظِلٌّ نَسْتَظِلُّ فِيهِ

دايحيى بن يعلى كوفي دې.دامام بخارى په پخوانو شيوخو رحمهم الله كښې داخل دې.په ۲۱۶ھ كښې وفات شوې وو.(۳)

دا روايت د حضرت سلمه بن اكوع رضی الله عنه نه دې.دوى فرمائى. چه مونږ د نبى ﷺ سره د جمعې مونځ كولو.اوبيا به واپس راتلو.نو د ديوالونو به دومره سيورې نه وو.چه په هغې كښې به كيناستو.او دمه به مو كړې وه.چونكه حجازد خط استواء سره نزدې دې.ددې وجې هلته د زوال په وخت كښې سايه أصلى ډيره كمه وى.په كوم كښې چه په كيناستو سره دمه نشوه كولې.

امام احمدبن حنبل رحمه الله ددې روايت نه استدلال كوى.چه دجمعې مونځ د زوال نه وړاندې كولې شى.خوجمهور امامان رحمهم الله دهغوى استدلال نه قبلوى. هغوى وائى.چه ددې روايت مقصود صرف دومره دې.چه مونږ به د جمعې په مانځه باندې تعجيل كولو.دا مطلب نه دې.چه دا به مو د زوال نه وړاندې كولو(۴)

[۳۹۳۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ قُلْتُ لِسَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ بَايَعْتُمْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ عَلَى الْمَوْتِ [ر:۲۸۰۰]

دحضرت سلمه بن اكوع رضی الله عنه نه تپوس اوشو.چه تاسو خلقو په حديبيه كښې د نبى ﷺ سره په كومه خبره بيعت كړې وو.نو هغوى اوفرمائيل.((على الموت)) چه مونږ په مرګ باندې بيعت

---

(۱) صحيح بخارى كتاب الجهاد باب البيعة فى الحرب (۴۱۵\۱)_
(۲) عمدة القارى (۲۲۰\۱۷)_
(۳) عمدة القارى(۲۲۱\۱۷)_
(۴) فتح البارى(۴۵۰\۷)_

کړې وو.په بعضې رواياتوکښې راځی.چه مونږ بيعت کړې وو.«على أن لا نفر» چه مونږ به نه تختو.په دواړو رواياتوکښې څه تعرض نشته.د نه تختيدو مطلب هم دا دې.چه مړه به شو. خو ستا ملګرتيا به پرې نږدو.([1])

[۳۹۳۷]حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ إِشْكَابٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَقِيتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَقُلْتُ طُوبَى لَكَ صَحِبْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَايَعْتَهُ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثْنَا بَعْدَهُ

حضرت مسيب رحمه الله فرمائی.چه زه حضرت براء بن عازب رضی الله عنه سره ملاو شوم .اوهغوی ته مې اووئيل.«طوبى لك صحبت النبی صلی الله علیه وسلم وبايعته تحت الشجرة» مبارك شې: تاسو درسول الله صلی الله علیه وسلم سره صحبت کړې دې.او د وونې د لاندې درته د بيعت کولو شرف حاصل شوې دې.نوحضرت براء رضی الله عنه اوفرمائيل «إنك لا تدری ما أحدثنا بعده» يعنی تا ته معلومه نه ده.چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس کوم نوی نوی څيزونه راوويستل.

دا دحضرت براء رضی الله عنه تواضع اوعاجزی وه.چه هغوی اووئيل.مونږ روسته کوتاهيانې کړی دی.مونږ روستو تقصيرات کړی دی.معلومه نه ده.چه د صحبت او بيعت کوم فضائل چه مونږ ته حاصل وو.هغه به باقی پاتې هم شی او که نه.او دا په اصل کښې هغه واقعاتو ته اشاره ده.کوم چه د حضرت عائشې اوحضرت علی رضی الله عنهما په مينځ کښې اودحضرت معاويه او حضرت علی رضی الله عنهما په مينځ کښې واقع شوی وو.اګرچه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې دهريو نيت حمايت حق اوحفاظت دين وو.خودا ده چه مقابله هم شوې ده.اوتصادم هم.اوپه هغې کښې کسان هم مړه شوی دی.ددې وجې حضرت براء رضی الله عنه به فرمائيل.«إنك لا تدری ما أحدثنا بعده»

[۳۹۳۸]حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ هُوَ ابْنُ سَلَّامٍ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي قِلَابَةَ أَنَّ ثَابِتَ بْنَ الضَّحَّاكِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ [ر:۳۵۶۲]

[۳۹۳۹]حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا قَالَ الْحُدَيْبِيَةُ قَالَ أَصْحَابُهُ هَنِيئًا مَرِيئًا فَمَا لَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ قَالَ شُعْبَةُ فَقَدِمْتُ الْكُوفَةَ فَحَدَّثْتُ بِهَذَا كُلِّهِ عَنْ قَتَادَةَ ثُمَّ رَجَعْتُ فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ أَمَّا إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَعَنْ أَنَسٍ وَأَمَّا هَنِيئًا مَرِيئًا فَعَنْ عِكْرِمَةَ [۳۵۵۴]

قتاده بن دعامه دحضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت کوی.چه هغوی فرمائيلی دی.﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ نه مراد ،،حديبيه،، ده.چونکه په دې آيت کښې خطاب نبی علیه السلام ته دې.د دې

[1])فتح الباری (۷/ ۵۰۱)_

وجې صحابه کرامو رضی الله عنهم نبی ته اووئیل.«هنیئا مرئیاً فمالنا» یعنی تاسوته دې مبارك شی.بنه دې وی.خکه چه الله تعالی د سورة فتح د اولنی آیت نه پس نبی صلی الله علیه وسلم ته زیری ورکړې دې.
﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ نوصحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو.«فمالنا» یعنی زمونږ دپاره څه دی.زمونږ په حق کښې خو څه زیرې رانغلو.نوپه دې باندې الله تعالی دا آیت نازل کړو.
﴿لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ﴾ (١) نود مومنانو دپاره هم زیرې راغلو.
د قتاده رحمه الله شاګرد شعبه رحمه الله فرمائی.چه دا حدیث چه مې د قتاده رحمه الله نه واوریدل.نو زه کوفې ته لاړم.اوپوره حدیث مې دهغې سنده یعنی «قتادة عن أنس رضی الله عنه» سره بیان کړو.بیا چه کله زه قتاده رحمه الله ته راغلم.اودا حدیث مې هغوی ته ذکرکړو.نوپه هغه وخت کښې قتاده رحمه الله اووئیل.چه د ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ تفسیرما براه راست د حضرت انس رضی الله عنه نه بلاواسطه اوریدلې دې.او«هنیئا مرئیاً فمالنا» زه د عکرمه رحمه الله په واسطه سره روایت کوم.
په اصل کښې قتاده رحمه الله اول تدلیس کړې وو.ددې حدیث دوه حصې دی. په اولنۍ حصه کښې د ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ تفسیر بیان شوې دې.چه د دې نه مراد صلح حدیبیه ده.اوپه دویم جزء کښې د﴿لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ سبب نزول بیان شوې دې.چه صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو.چه زمونږ دپاره خو څه زیرې نه دې نازل شوې.نوالله تعالی دا آیت نازل کړو.دحدیث اولنۍ حصه قتاده رحمه الله براه راست دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت کوله.اودویمه حصه ئې براه راست د حضرت انس رضی الله عنه نه نه روایت کوله.بلکه په مینځ کښې دعکرمه رحمه الله واسطه وه. قتاده چه په اول ځل دا حدیث شعبه ته بیان کړې وو.نود عکرمه رحمه الله واسطه ئې په کښې نه وه ذکرکړې.بیا چه کله هغه دوباره قتاده رحمه الله ته ورغلو.نوهغوی اووئیل.چه دحدیث دا دویمه حصه زه د عکرمه رحمه الله نه روایت کوم.
قتاده رحمه الله په مدلسینوکښې مشهور دې.خوامام بخاری اوامام مسلم رحمهما الله ددې مدلسینو هغه روایت نقل کوی.په کوم کښې چه د سماع تصریح وی.

[٣٩٣٠] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ مَجْزَأَةَ بْنِ زَاهِرٍ الْأَسْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ الشَّجَرَةَ قَالَ إِنِّي لَأُوقِدُ تَحْتَ الْقِدْرِ بِلُحُومِ الْحُمُرِ إِذْ نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ وَعَنْ مَجْزَأَةَ عَنْ رَجُلٍ مِنْهُمْ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ اسْمُهُ أُهْبَانُ بْنُ أَوْسٍ وَكَانَ اشْتَكَى رُكْبَتَهُ فَكَانَ إِذَا سَجَدَ جَعَلَ تَحْتَ رُكْبَتِهِ وِسَادَةً

دمجزاه بن زاهر اسلمی رحمه الله په بخاری کښې صرف دوه روایتونه دی.یودا او یو دې سره

---

(١) سورة الفتح (٥)۔

متصل مخكښې روايت دې.(١) دوى دخپل پلار زاهر اسلمى ﷺ نه روايت كوى.((وكان ممن شهد الشجرة)) اوهغوى دصلح حديبيه په شريكانو كښې وو.هم ددې جملې په مناسبت سره امام بخارى ﷺ دلته دا ذكركوى.په روايت كښې د'لحوم حمر(دخرو د غوښې) حرمت بيان شوې دې.ددې تفصيل به وړاندې د غزوه خيبر په بيان كښې راشى.ځكه چه نبى ﷺ دلحوم حمر د حرمت اعلان په غزوه خيبر كښې كړې وو.

قوله: وَعَنْ مَجْزَأَةَ عَنْ رَجُلٍ مِنْهُمْ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ اسْمُهُ أُهْبَانُ بْنُ أَوْسٍ: دا دماقبل سند سره متصل دې.مجزاه ديوبل سړى نه روايت كوى.كوم چه د اصحاب الشجره نه وو.دهغه نوم ،،اهبان بن اوس،، دې.(٢) ددوى په زنګون كښې تكليف وو.نودسجدې په وخت كښې به ئې دزنګون لاندې بالخ كيخودو .اوښكاره ده چه دعذر په وجه په داسې كولو كښې څه حرج نشته.

[۳۹۳] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ النُّعْمَانِ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ أُتُوا بِسَوِيقٍ فَلَاكُوهُ تَابَعَهُ مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ [ر:۲۰۶]

حضرت سويدبن نعمان ﷺ چه د ((اصحاب الشجرة)) څنى وو.فرمائى.چه نبى ﷺ ته ستوان راغلل.نو نبى ﷺ هغه په اوبو كښې ګډ كړل.اووې څكل.

قوله: تَابَعَهُ مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ: يعنى معاذ د شعبه نه روايت كړې دې.اود ابن ابى عدى متابعت كوى.دا متابعت اسماعيلى موصولاً نقل كړې دې.(٣)

[۳۹۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ حَدَّثَنَا شَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ هَلْ يُنْقَضُ الْوِتْرُ قَالَ إِذَا أَوْتَرْتَ مِنْ أَوَّلِهِ فَلَا تُوتِرْ مِنْ آخِرِهِ

د،،شاذان، معنى ،،فرحان،، راځى.دا لقب دې. ددوى نوم ،،اسود بن عامر ،، دې.(٤) دوى دشعبه نه نقل كوى.چه شعبه د ،،ابوجمره،، نه روايت كوى.د ،،ابوجمره،، نوم نصربن عمران،، دې.دوى د عائذبن عمرو نه تپوس اوكړو.او دوى د اصحاب الشجره څنى دې.چه آيا نقض وتر كولې شى؟ نو هغوى جواب وركړو.كله چه د شپې په اوله حصه كښې تا وتر كړې وى.نو په آخرى حصه كښې وتر مكوه.

---

(١) عمدة القارى(۱۷\۲۲۳)_

(٢) اهبان (بضم الهمزة وسكون الهاء) بن أوس الأسلمى وكان ابتنى داراً فى الكوفة ومات بها فى صدر أيام معاوية ﷺ .. يقال أنه هوالذى كلمه الذئب (وانظرعمدة القارى(۱۷\۲۲۳)_

(٣) فتح البارى(۷\٤٥۲)_

(٤) عمدة القارى (۱۷\۲۲٤)_

مسئله د نقض وتر اسحاق بن راهويه رحمه الله دنقض وتر قائل دې.اود بعضې صحابو رضي الله عنهم نه هم نقض وتر منقول دى.خواحناف رحمهم الله فرمائى.چه نقض وتر څه څيز نه دې.اود امام مالك اوامام شافعى رحمهما الله په نيز هم نقض وتر څه څيز نه دې.امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.چه اصل هم دا دې.چه نقض وتر به نشى كولې.خوكه څوك ئې اوكړى.نو زما خيال دې.چه دده دپاره به په جواز كښې ګنجائش راوځى.ځكه چه دبعضې صحابو رضي الله عنهم نه نقض وتر منقول دى.(١)

د نقض وتر مطلب دا دې.چه د شپې اول كښې يوكس وتر اوكړى.اوبيا د شپې په آخر كښې دهغه سترګې اوغړيدې.اوهغه تهجد كول غواړى.نو څونكه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى.«اجعلوا آخرصلاتكم بالليل الوتر» (٢)(په شپه كښې وتر آخرې مونځ اوګرځوئ) ددې وجې چه د شپې په اول كښې ئې كوم وتر كړى وى.هغه دې مات كړې شى.اودا نقض وتر به داسې وى.چه د تهجدوكولونه وړاندې دې يو ركعت د ماخوستن نه پس چه ئې كوم درې ركعته وتر كړى وى.هغې سره د ملاوهلو په نيت سره اوكړى.نودا څلور ركعتونه به نفل شى.اود شپې په اول كښې چه ئې كوم وتر كړى وى.هغه به مات شى.

په روايت باب كښې د نقض وترنفى منقول ده.باقى د«اجعلوا آخر صلاتكم بالليل وترا» مطلب دا دې.كه دچا يقين وى.چه دې به دتهجدو په وخت كښې پاسى.نوهغه دې وتر دهغه وخت دپاره پريږدى.اود تهجدو نه پس دې هغه اوكړى. خوكه يوكس د شپې په اول كښې وتر كړې وى.نودتهجدو په وخت كښې دې دوباره نه كوى.ځكه چه دطلق بن على رضي الله عنه روايت په ابوداود كښې موجود دې.اوهغه نسائى اوترمذى رحمهما الله هم نقل كړې دې.امام ترمذى رحمه الله هغې ته حسن وئيلې دې.اوابن حبان او ابن خزيمه رحمهما الله هغه صحيح ګرځولې دې.چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى.«لا وتران فى ليلة» (٣)يعنى په يوه شپه كښې دوه وتره نشته.

[٤٠٤٣] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيرُ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسِيرُ مَعَهُ لَيْلًا فَسَأَلَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَنْ شَيْءٍ فَلَمْ يُجِبْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا عُمَرُ نَزَرْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ

---

(١) په مسند احمد كښې د حضرت ابن عمررضى الله عنهما نه نقض وتر منقول دى.اوګورئ مجمع الزوائد (٢/٢٤٦)_

(٢) صحيح بخارى باب ليجعل آخر صلاته وتراً كتاب الصلاة (١/١٣٦) وصحيح مسلم باب صلاة الليل وعدد ركعات النبى صلى الله عليه وسلم (١/٢٥٧)_

(٣) رواه أبوداودرقم ١٤٣٩ فى الصلاة باب فى نقض الوتر رقم ٤٥٠. والترمذى فى الصلاة باب ماجاء لا وتران فى ليلة والنسائى (٢٢٩و ٢٣٠) فى قيام الليل باب نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن الوتر فى ليلة وانظر تفصيل المسئلى فى الفتح (٢/٤٨١) كتاب الوتر)_

مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يُجِيبُكَ قَالَ عُمَرُ فَحَرَّكْتُ بَعِيرِي ثُمَّ تَقَدَّمْتُ أَمَامَ الْمُسْلِمِينَ وَخَشِيتُ أَنْ يَنْزِلَ فِيَّ قُرْآنٌ فَمَا نَشِبْتُ أَنْ سَمِعْتُ صَارِخًا يَصْرُخُ بِي قَالَ فَقُلْتُ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ نَزَلَ فِيَّ قُرْآنٌ وَجِئْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا [ر: ۴۵۵۳و۴۷۲۵]

حضرت اسلم رضي الله عنه فرمائي.چه رسول الله ﷺ په يوسفرباندې تشريف اوړلو.دلته د سفر تعين نشته.دطبراني رحمه الله په روايت کښې تصريح ده.چه دا د حديبيه سفر وو.([1]) نبي ﷺ د حديبيه نه واپس راتلو.حضرت عمر رضي الله عنه ورسره زوان وو.د شپې وخت وو.حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د نبي ﷺ نه د څه خبرې تپوس اوکړو.نبي ﷺ ورته جواب ورنکړو.جواب ددې وجې نبي ﷺ ورنکړو.چه په ذکرقلبي کښې مشغول وو. اوالتفات ئې اونشو اودا هم ممکن ده.چه په دغه وخت کښې په نبي ﷺ باندې وحي نازليده.څکه ئې جواب ورنکړو.حضرت عمر رضي الله عنه دا اوکنړل.چه نبي ﷺ تپوس نه دې اوريدلې.نودوباره ئې تپوس اوکړو.خو نبي ﷺ جواب ورنکړو.په دريم ځل تپوس کولوباندې هم نبي ﷺ جواب ورنکړو.کله چه ئې درې ځله تپوس اوکړو.او دنبي ﷺ نه جواب ملاؤ نشو.نوحضرت عمر رضي الله عنه اوونيل.

قوله: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا عُمَرُ نَزَرْتَ ([2]) رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يُجِيبُكَ: عمره! ستا مور دې تا ورك كړي.تا د رسول الله ﷺ نه درې ځله (دسوال د جواب دپاره) اصرار اوکړو.خو رسول الله په يوځل هم تا ته جواب درنکړو.حضرت عمر رضي الله عنه ته تشويش اوپريشاني شوه.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي.چه ما خپل اوښ ته پونده ورکړه(يعني تيز مې كړو) او د مسلمانانو ته وړاندې لاړم.حضرت عمر رضي الله عنه ددې نه وړاندې چونکه څه جذباتي خبرې د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره کړې وې.ددې وجې اوويريدل.او دا ويره شوه ورسره.چه زما په باره کښې به د قرآن پاك څه آيت نازل شي. حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي.چه اوس لږ غوندې وخت تيرشوې وو.چه ما د يوآواز کونکي آواز واوريدو.هغه ماته آواز کولو.وائي.چه ما سره ويره شوه.چه زما په باره کښې به قرآن پاك نازل شوې وی.(اوپه هغې کښې به په ما باندې عتاب راغلي وی)نوزه نبي ﷺ ته راغلم.او سلام مې واچولو.نبي ﷺ اوفرمائيل .په نن شپه کښې ما باندې داسې سورت نازل شوې دې.چه هغه ماته دهرهغه څيزنه زيات محبوب دې.په کوم باندې چه نمر راختلی وی.مطلب دا دې.چه هغه څيزماته د دنيا دهريوڅيز نه زيات خوښ اومحبوب دې.ددې نه پس نبي ﷺ د سورة فتح تلاوت اوکړو.

[۴۴۳۲]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ حِينَ حَدَّثَ هَذَا الْحَدِيثَ حَفِظْتُ بَعْضَهُ وَثَبَّتَنِي مَعْمَرٌ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ يَزِيدُ

---

[1])فتح الباري(۵۸۳\۸)_

[2])نزرت (بفتح النون وتشديد الزاء) أي الححت وضيقت عليه حتى احرجته (عمدة القاري (۲۲۵\۱۷)_

أَحَدُهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ فَلَمَّا أَتَى ذَا الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَهُ وَأَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ وَبَعَثَ عَيْنًا لَهُ مِنْ خُزَاعَةَ وَسَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بِغَدِيرِ الْأَشْطَاطِ أَتَاهُ عَيْنُهُ قَالَ إِنَّ قُرَيْشًا جَمَعُوا لَكَ جُمُوعًا وَقَدْ جَمَعُوا لَكَ الْأَحَابِيشَ وَهُمْ مُقَاتِلُوكَ وَصَادُّوكَ عَنِ الْبَيْتِ وَمَانِعُوكَ فَقَالَ أَشِيرُوا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيَّ أَتَرَوْنَ أَنْ أَمِيلَ إِلَى عِيَالِهِمْ وَذَرَارِيِّ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَصُدُّونَا عَنِ الْبَيْتِ فَإِنْ يَأْتُونَا كَانَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ قَطَعَ عَيْنًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَإِلَّا تَرَكْنَاهُمْ مَحْرُوبِينَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ خَرَجْتَ عَامِدًا لِهَذَا الْبَيْتِ لَا تُرِيدُ قَتْلَ أَحَدٍ وَلَا حَرْبَ أَحَدٍ فَتَوَجَّهْ لَهُ فَمَنْ صَدَّنَا عَنْهُ قَاتَلْنَاهُ قَالَ امْضُوا عَلَى اسْمِ اللَّهِ [ر:١٦٠٨]

قوله: حَفِظْتُ بَعْضَهُ وَثَبَّتَنِي مَعْمَرٌ: ددې جملې متعلق په تفصيل سره كلام تيرشوې دې.

قوله: وَبَعَثَ عَيْنًا لَهُ مِنْ خُزَاعَةَ: دهغه خزاعى جاسوس نوم ما، بسربن سفيان، خودلې وو.([1]) بعضې حضراتو بشربن سفيان دهغه نوم نقل كړې دې.([2])

قوله: حتى كان بغدير الأشطاط أتاه عينه....: دابن اسحاق بيان دې چه په مقام عسفان كښې جاسوس راغلې وو.([3]) اود بخارى ددې روايت نه معلوميږى چه په غديرا شطاط كښې جاسوس راغلې وو.خو په دې كښې څه تعارض نشته.امام احمدبن حنبل چه كوم روايت نقل كړې دې.د هغې نه وضاحت كيږى.«أتاه عينه بغدير الأشطاط وهو قريب من عسفان» چونكه غديراشطاط او عسفان دواړه نزدې نزدې وو.ددې وجې ئې په يو روايت كښې د يو نوم او په بل كښې د بل مقام نوم ذكر كړې دې.([4])

يواشكال اود هغې جواب: دلته دا اشكال كيږى چه د بخارى د كتاب الشروط د روايت نه خو دا پته لګى چه نبى ﷺ په مقام غميم كښې د خالد بن وليد د راتلو خبر صحابوؓ ته وركړې وو.([5]) حضرت شيخ الحديث په «جزء الحج والعمرة» كښې هم دا نقل كړى دى.چه نبى ﷺ ته اطلاع على الغيب په طور الله تعالى دا خبره اوخودله.اوتركومې پورې چه د جاسوس خبره ده.نوهغه صرف د قريشو د جمع كيدو نبى ﷺ ته خبر وركړو.دخالدبن وليد د

---

[1] عمدة القارى (١٧\٢٢٥و ٢٢٦)_

[2] فتح البارى (٧\٤٥٤)_

[3] سيرة ابن هشام (٣\٣٢٢)_

[4] فتح البارى (٥\٣٣٤)_

[5] د بخارى دكتاب الشروط د په روايت كښې دى.((حتى إذا كانوا ببعض الطريق قال النبى ﷺ إن خالد بن وليد بالغميم فى خيل لقريش طليعة فخذوا ذات اليمين ...)) صحيح البخارى كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد رقم ٢٧٣١)_

راتلو خبر هغه نه وو ورکړې.خود ابن اسحاق په روايت کښې دا صراحت موجود دې.چه جاسوس د خالد بن وليد د راتلو خبر هم ورکړو.او د قريشو دجمع کيدو اطلاع هم ورکړه.(۱) په دې رواياتو کښې د تطبيق صورت هم دا کيدې شی.چه په اصل کښې هغه جاسوس نبیﷺ ته د دواړو خبرو خبر ورکړې وو.او هغه د خبر ورکولونه پس نبیﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته هغه خبره بيان کړه.نو په کومو رواياتو کښې چه دی.چه نبیﷺ دخالد بن وليد د راتلو خبر صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ورکړو.نود هغې مطلب دا دې.چه د جاسوس د خبر ورکولو نه پس نبیﷺ صحابو رضي الله عنهم ته وئيلی وی.والله اعلم.

قوله: وَقَدْ جَمَعُوا لَكَ الْأَحَابِيشَ :((احابيش))د((احبوش)) جمع ده.(۲) بعضې حضرات فرمائي. چه په اصل کښې احبوش ډلې ته وائی.نود((أحابيش))معنی شوه ،،ډلې،، اوابن دريد رحمه الله فرمائي. چه ،،حبشی،، ذ يو غر نوم دې.دهغې لاندې جمع شوی وو.مختلفو قبيلو دا معاهده کړې وه.چه د مسلمانانو خلاف به په شريکه جنګ کوو.ددې ،،حبشی،، غر په مناسبت سره دې خلقو ته ،،احابيش،، وئيلی شی.(۳)

((الأشطاط))دا لفظ دبخاری په اکثرونسخو کښې نشته.اوپه ظاهره معلوميږی . چه دا د راوی وهم دې.که دا صحيح اومنلې شی.نو بيا به دې وئيلو ته ضرورت پيښيږی.چه دا د ((شطط)) جمع ده.او ددې معنی تجاوز راځی.(۴)

د((الأحابيش الأشطاط)) معنی به وی.دا ډلې چه هغوی د تعداد او شمار نه تير شوی دی.اودا به کنايه وی.د هغوی د کثرت نه،نو معنی به شی.((جمعوالك الجماعات الكثيرة))

قوله: فَقَالَ أَشِيرُوا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيَّ أَتَرَوْنَ أَنْ أَمِيلَ إِلَى عِيَالِهِمْ وَذَرَارِيِّ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَصُدُّونَا عَنْ الْبَيْتِ: نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل.خلقو ماته مشوره راکړئ.ستاسو څه خيال دې.دا کوم خلق چه مونږ د بيت الله نه منع کول غواړی.آيا ددوی د بچو او عيال طرف ته لاړ شم.

قوله: فَإِنْ يَأْتُونَا كَانَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ قَطَعَ عَيْنًا مِنْ الْمُشْرِكِينَ: نوکه دا خلق مونږ ته (د خپلو بچو د حفاظت په غرض) راشی.نو الله تعالی به د مشرکانو نه يو ډله جدا کړی.اوکه دغه خلق مونږ ته رانغلل.نومونږ به دوی ته شکست ورکړو.

---

۱ ،اوګورئ (سيرة ابن هشام (۳/۳۲۲)_
۲ ،تعليقات لامع الدراری للشيخ زکريا رحمه الله (۸/۲۴۷)_
۳ ،اوګورئ النهاية لابن الأثير(۱/۳۳۰)_
۴ ، وفی مختار الصحاح (۳۳۷و ۳۳۸) الشطط بفتحتين مجاوزة القدر فی کل شئ وفی الحديث ((لها مهرمثلها لا وکس ولا شطط)) أی لانقصان ولا زيادة)_

((عين)) معنى جاسوس راځي.دغه شان ددې معنى ډله هم راځي.دلته دواړه معانى مراد كيدې شي.دلته د جملې مختلف مطلبونه بيان شوى دى.

① يو مطلب ددې دا دې.چه قريشو سره ډيرې قبيلې جمع شوى دى.او روسته دهغوى اهل وعيال غير محفوظ دى.نومونږ به ددې قبيلو په كورونو باندې حمله اوكړو.چه د حملې خبر دې قبيلو ته اورسى.نو دوى خو به يا دخپلو بچو د حفاظت دپاره مونږ سره دجنګ دپاره راځي..نوقريش به كمزورى شى.ځكه چه دهغوى جمع شوې لښكربه منتشر شى.او هم دا مطلب دې د ((كان الله عزوجل قد انقطع عيناً من المشركين)) يعنى ((كان الله عزوجل قطع من المشركين جماعة)) يعنى الله تعالى د مشركانو نه يو جماعت او ډله قطع او جدا كړه.اوكه دغه خلق دخپل اهل وعيال د حفاظت دپاره رانشى.نو مونږ به هغوى شكست خوړلې پريږدو.ځكه چه دهغوى په بچو، ښځو او كورونو به مو قبضه كړې وى.

په دې صورت كښې د ((عين)) معنى ډله اخستې شوې ده.دا مطلب په زاد المعاد كښې حافظ ابن قيم د امام احمد بن حنبل رحمه الله په حوالې سره متعين كړې دې.هلته د روايت الفاظ دا دى.((وان يجيئوا تكن عنقا قطعها الله))[1] ((عنق)) ډلې ته وائى.اوچونكه د ((عين)) معنى د ډلې هم راځي.[2] ځكه ددې روايت په بناء باندې به دلته هم د ((عين)) نه ډله مراد وى.اوهم دا مطلب مولانا رشيد احمد ګنګوهى رحمه الله په ((لامع الدرارى)) كښې بيان كړې دې.هغوى فرمائى ((ومعنى قوله قطع عيناً من المشركين أى جماعة من المشركين فإن الكفار لما رجعوا إلى أهليهم لم يبق مع أهل مكة منهم أحد فتقل جماعتهم...)) [3]

② خوكه په ((قطع عيناً من المشركين)) كښې د ((عين)) نه مراد جاسوس واخستې شى.نو په دغه وخت كښې به مطلب دا وى.چه كله مونږ ددې كافرانو په كورونو باندې حمله اوكړواوهغوى دخپل اهل وعيال دحفاظت دپاره مونږ ته راشى.نوبيا به مونږ ته اهل مكه طرف ته د جاسوس ليږلو ضرورت نه وى.ځكه چه جاسوس د دشمن د تعداد وغيره معلوملو دپاره ليږلې شى.اوهركله چه مونږ ته معلومه شى. چه هلته صرف قريش دى.باقى قبيلې تلى دى. نود جاسوس ضرورت به باقى پاتې نشى.د((قطع عيناً من المشركين)) مطلب به وى.الله تعالى مشركانو طرف ته د جاسوس ليږلو ضرورت زمونږ نه ختم او قطع كړو.

③ اوصاحب د لامع الدرارى رحمه الله فرمائى.((ويمكن أن يكون المعنى أنهم إذا رجعوا إليهم لم تحتج إلى بعث جاسوس ،إلى مكة ليعلم لنا علم من اجتمع فيها من الكفار ،إذ لا يبقى هناك غير قريش ،فلا يحتاج إلى بعث

---

[1] زاد المعاد (۲۸۹\۳)_

[2] تعليقات لامع الدرارى (۳٤٥\۸)_

[3] لامع الدرارى (۳٤٦\۸و ۳٤۷)_

جاسوس، لحصول العلم بأنه ليس فيها أحد ممن سواهم))[1] په ((قطع عينا من المشركين)) كښې ,,عيناً،، د جاسوس په معنى كښې اخلى. د دې جملې معنى علامه عينى. قسطلانى او محشى هم بيان كړې ده. اوهغه دا كه دا مشركانو د جنګ كولو دپاره مونږ ته راشى. نو په دغه صورت كښې كه مونږ هغوى ته جاسوس اوليږو. ددې به څه فائده نه وى. دجاسوس د خبر راوړو نه پس هم كه د مشركانو سره د جنګ نوبت راشى. نوددې مطلب به دا وى. چه مونږ هډو جاسوس ليږلې نه وو. الله تعالى زمونږ جاسوس كوم چه مونږ د مشركانو خبر راوړو دپاره ليږلې وو. قطع كړو. يعنى بې فائدې او بې اثره كړو.[2]

خو ددې جملې دا مطلب صحيح نه دې. ځكه چه ددې مطلب بنياد په دې مفروضه باندې دې چه د جاسوس فائده د جنګ نه بچ كيدل دى. نوكه جنګ اوشو. نو د جاسوس څه فائده اونشوه. خودا مفروضه صحيح نه ده. ځكه چه ډيركرته د جاسوس ليږلو باوجود جنګ اوشى. خود جاسوس په خبرونو سره په نورو احتياطى تدبيرونو كښې مدد ملاويږى. او دجاسوس فائده وى.

[٣٩٣٥] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ حَدَّثَنِي ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ يُخْبِرَانِ خَبَرًا مِنْ خَبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُمْرَةِ الْحُدَيْبِيَةِ فَكَانَ فِيمَا أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْهُمَا أَنَّهُ لَمَّا كَاتَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُهَيْلَ بْنَ عَمْرٍو يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى قَضِيَّةِ الْمُدَّةِ وَكَانَ فِيمَا اشْتَرَطَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو أَنَّهُ قَالَ لَا يَأْتِيكَ مِنَّا أَحَدٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ إِلَيْنَا وَخَلَّيْتَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ وَأَبَى سُهَيْلٌ أَنْ يُقَاضِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا عَلَى ذَلِكَ فَكَرِهَ الْمُؤْمِنُونَ ذَلِكَ وَامَّعَضُوا فَتَكَلَّمُوا فِيهِ فَلَمَّا أَبَى سُهَيْلٌ أَنْ يُقَاضِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا عَلَى ذَلِكَ كَاتَبَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا جَنْدَلِ بْنَ سُهَيْلٍ يَوْمَئِذٍ إِلَى أَبِيهِ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو وَلَمْ يَأْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدٌ مِنَ الرِّجَالِ إِلَّا رَدَّهُ فِي تِلْكَ الْمُدَّةِ وَإِنْ كَانَ مُسْلِمًا وَجَاءَتِ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَكَانَتْ أُمُّ كُلْثُومٍ بِنْتُ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ مِمَّنْ خَرَجَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ عَاتِقٌ فَجَاءَ أَهْلُهَا يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْجِعَهَا إِلَيْهِمْ حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِي الْمُؤْمِنَاتِ مَا أَنْزَلَ

[٣٩٣٦] قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُ مَنْ هَاجَرَ

---

[1] لامع الدرارى (٨\٢٤٦و ٢٤٧)_
[2] عمدة القارى (١٧\٢٢٦)_

مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ بِهَذِهِ الْآيَةِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ وَعَنْ عَمِّهِ قَالَ بَلَغَنَا حِينَ أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرُدَّ إِلَى الْمُشْرِكِينَ مَا أَنْفَقُوا عَلَى مَنْ هَاجَرَ مِنْ أَزْوَاجِهِمْ وَبَلَغَنَا أَنَّ أَبَا بَصِيرٍ فَذَكَرَهُ بِطُولِهِ

قوله: حدثني اسحاق .. حدثني ابن أخي بن شهاب: دابن شهاب د وراره، نوم ،،محمد بن عبدالله،، دې.

قوله: فَكَرِهَ الْمُؤْمِنُونَ ذَلِكَ وَامَّعَضُوا فَتَكَلَّمُوا فِيهِ: ((امعضوا))اصل كښې((امعضوا))وو.دنون په ميم كښې ادغام اوشو، ((امعضوا))ترې جوړ شو.ددې معنى ده.بې مزې.ناخوښول.مطلب دا دې چه اهل ايمان په دې صلح بې خونده شول.او هم په زړه كښې دننه دننه ئې خفگان كولو.

قوله: وَجَاءَتِ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ ....: مسلمانانې ښځې د صلح حديبيه نه پس نبى ﷺ ته راغلې.مشركانو د دوى د واپسئ مطالبه اوكړه.خو نبى ﷺ د دوى د واپس كولو نه انكار اوكړو.يو خو ددې وجې چه په صلح كښې د ((رجل)) لفظ وو.نو ښځه د صلحې د شرائطو په پابندئ كښې داخله نه وه.او دويم د دې وجې چه قرآن كريم حكم وركړې وو.چه ﴿فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ﴾ (١)

دلته دا سوال كيږى.چه د ﴿فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ﴾ حكم د صلح په عام حكم كښې تخصيص وو.اوكه د.صلحې دحكم نسخ وه.په دې باره كښې د ابن عربى او د نورو حضراتو رائې دا ده.چه دقرآنى حكم په وجه د صلح په عام حكم كښې تخصيص اوشو.البته د بعضې نورو حضراتو رائې ده.چه حكم قرآنى ددې حكم ناسخ دې.

په دې صورت كښې دا مسئله پيدا كيږى.چه آيا قرآن د سنت دپاره ناسخ كيدې شى؟دامام شافعى ﷺ مشهور قول دا دې.چه قرآن د سنت دپاره ناسخ نشى كيدې.خو نور حضرات فرمائى، چه لكه څنگه د قرآن يو آيت د بل آيت دپاره ناسخ جوړيدې شى.دغه شان قرآن د حديث دپاره هم ناسخ كيدې شى.(٢)

[٣٩٤٧/٣٩٣٩] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا خَرَجَ مُعْتَمِرًا فِي الْفِتْنَةِ فَقَالَ إِنْ صُدِدْتُ عَنِ الْبَيْتِ صَنَعْنَا كَمَا صَنَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهَلَّ بِعُمْرَةٍ مِنْ أَجْلِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ

[٣٩٤٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَهَلَّ وَقَالَ إِنْ حِيلَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ لَفَعَلْتُ كَمَا فَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَالَتْ كُفَّارُ قُرَيْشٍ

---

(١) سورة الممتحنة:١٠)_

(٢) اوگورئ كشف الأسرار على أصول فخر الإسلام (١٧٥\٣و١٧٦) باب تقسيم الناسخ)_

بَيْنَهُ وَتَلَا لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

[۳۹۳۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْمَاءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ وَسَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَاهُ أَنَّهُمَا كَلَّمَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ بَعْضَ بَنِي عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَهُ لَوْ أَقَمْتَ الْعَامَ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا تَصِلَ إِلَى الْبَيْتِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُونَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَايَاهُ وَحَلَقَ وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ وَقَالَ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي أَوْجَبْتُ عُمْرَةً فَإِنْ خُلِّيَ بَيْنِي وَبَيْنَ الْبَيْتِ طُفْتُ وَإِنْ حِيلَ بَيْنِي وَبَيْنَ الْبَيْتِ صَنَعْتُ كَمَا صَنَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ مَا أُرَى شَأْنَهُمَا إِلَّا وَاحِدًا أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ حَجَّةً مَعَ عُمْرَتِي فَطَافَ طَوَافًا وَاحِدًا وَسَعْيًا وَاحِدًا حَتَّى حَلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا [ر: ۱۵۵۸]

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ: حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د فتني په زمانه کښې د عمرې په اراده روان شو.(د فتني نه د حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنهما او حجاج بن يوسف قضيه مراد ده) وې فرمائيل.که مونږ د بيت الله د تګ نه منع کړې شو.نو بيا به هم هغه طريقه اختيارووکومه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اختيار کړې وه.نو دوی د عمرې احرام اوتړلو.ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم هم د حديبيه په کال د عمرې احرام تړلې وو.

قوله: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ: په دې روايت کښې هم د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د عمرې واقعه ذکر ده.

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ: دا په دريم سند سره امام بخاری رحمه الله د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما واقعه ذکر کوی.اودا تفيصلی دې.

[۳۹۵۰/۳۹۵۱] حَدَّثَنِي شُجَاعُ بْنُ الْوَلِيدِ سَمِعَ النَّضْرَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا صَخْرٌ عَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ النَّاسَ يَتَحَدَّثُونَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَسْلَمَ قَبْلَ عُمَرَ وَلَيْسَ كَذَلِكَ وَلَكِنْ عُمَرُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَرْسَلَ عَبْدَ اللَّهِ إِلَى فَرَسٍ لَهُ عِنْدَ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ يَأْتِي بِهِ لِيُقَاتِلَ عَلَيْهِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَايِعُ عِنْدَ الشَّجَرَةِ وَعُمَرُ لَا يَدْرِي بِذَلِكَ فَبَايَعَهُ عَبْدُ اللَّهِ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَى الْفَرَسِ فَجَاءَ بِهِ إِلَى عُمَرَ وَعُمَرُ يَسْتَلْئِمُ لِلْقِتَالِ فَأَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَايِعُ تَحْتَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَانْطَلَقَ فَذَهَبَ مَعَهُ حَتَّى بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهِيَ الَّتِي يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَسْلَمَ قَبْلَ عُمَرَ

شجاع بن الوليد دامام بخاری رحمه الله د زمانې وو.اودهغوی په بخاری کښې صرف دا يو روايت دې.[1] دوی د نضربن محمد نه روايت کوی.د نضربن محمد هم په بخاری کښې صرف دا يو روايت دې.[2]

[1] عمدة القاری(۱۷\۲۲۸)_
[2] عمدة القاری(۱۷\۲۲۸)_

نافع وائي.چه خلق دا وائي،چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حضرت عمر رضي الله عنه نه وړاندې مسلمان شوې دې.حال دا چه دا خبره صحيح نه ده،بلکه داسې شوې وه.چه حضرت عمر رضي الله عنه د صلح حديبيه په موقع باندې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما يو انصاري د خپل اس راوستو دپاره اوليږلو.په دغه دوران کښې نبي صلى الله عليه وسلم د ونې لاندې بيعت اخستل شروع کړو.حضرت عمر رضي الله عنه ته لا معلومه نه وه.چه د بيعت سلسله شروع شوې ده.حضرت عبدالله اول بيعت اوکړو.او بيا د اس راوستو دپاره لاړلو .کله چه دوی حضرت عمر رضي الله عنه ته اس راوستلو.نو دوی د جنګ دپاره زغره اغوستله.حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ورته اووئيل.چه نبي صلى الله عليه وسلم بيعت اخلي.نو حضرت عمر رضي الله عنه لاړلو.نو د نبي صلى الله عليه وسلم سره ئې بيعت اوکړو.بس دومره خبره وه،اوخلقو مشهوره کړه.چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حضرت عمر رضي الله عنه نه وړاندې مسلمان شوې دې.

[۳۹۵۱]وَقَالَ هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعُمَرِيُّ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّاسَ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ تَفَرَّقُوا فِي ظِلَالِ الشَّجَرِ فَإِذَا النَّاسُ مُحْدِقُونَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللَّهِ انْظُرْ مَا شَأْنُ النَّاسِ قَدْ أَحْدَقُوا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَهُمْ يُبَايِعُونَ فَبَايَعَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عُمَرَ فَخَرَجَ فَبَايَعَ

دا تعليق دې.اسماعيلي دا موصولاً نقل کړې دې.[1]

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي.چه د نبي صلى الله عليه وسلم سره په حديبيه کښې کوم کسان وو.هغوی هلته د ونو په سيوری کښې خوارۀ وارۀ شول.ناڅاپه ما اوکتل.چه خلق دنبي صلى الله عليه وسلم نه ګيرچاپيره راتاؤ شوی دی.نوحضرت عمر رضي الله عنه اووئيل.عبدالله لږ اوګوره ،چه دا څه قصه ده؟ ابن عمر رضي الله عنه چه کله لاړلو.او وې کتل.چه خلق بيعت کوی. نو هغوی پخپله بيعت اوکړو.او بيا راغلو.حضرت عمر رضي الله عنه ته ئې خبر ورکړو.نو هغوی هم لاړلو.او بيعت ئې اوکړو.

ددې نه په وړاندينی روايت کښې وو.چه حضرت عمر رضي الله عنه عبدالله رضي الله عنه ته اووئيل.چه انصاري سره زما اس دې.هغه راوله.او په دې روايت کښې دی.چه حضرت عمر رضي الله عنه اووئيل.لږ اوګوره. چه دا خلق د نبي صلى الله عليه وسلم نه ګيرچاپيره ولې راجمع کيږی؟

خوپه دې دواړو خبرو کښې څه تعارض نشته.کيدې شی،حضرت عمر رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنهما ته دواړه خبرې کړې وی.چه اس راوله.او اوګوره چه دا خلق ولې راجمع کيږی.يو راوی دا خبره بيان کړې ده.اوبل راوی دويمه خبره ذکر کړې ده.[2]

[۳۹۵۲]حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْلَى حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اعْتَمَرَ فَطَافَ فَطُفْنَا مَعَهُ وَصَلَّى وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَكُنَّا نَسْتُرُهُ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ لَا يُصِيبُهُ أَحَدٌ بِشَيْءٍ

---

[1] عمدة القاري (۱۷/۲۲۹)_

[2] فتح الباري (۷/٤٥٦)_

دامحمدبن عبدالله بن نمیردې.فرمائی.چه حضرت عبدالله بن ابی اوفی فرمائی.چه مونږ د رسول اللهﷺ سره د عمرة القضاء ادا کولو دپاره تلی وو.نبیﷺ طواف اوکړو.مونږ هم د دوی سره طواف اوکړو.نبیﷺ مونځ اوکړو. مونږ هم دوی سره مونځ اوکړو.بیا نبیﷺ د صفا مروه په مینځ کښې سعی اوکړه.مونږ نبیﷺ د اهل مکه د شراو دهغوی د ضرر رسولو د ویرې د وجې پټ کړې وو.یعنی نبیﷺ مونږ په خپله ګیره کښې اخستې وو.او روان وو.چه نبیﷺ ته څوك تکلیف اونه رسوی.

په دې روایت کښې د عمرة القضاء واقعه ده.ددې تعلق په ظاهره د صلح حدیبیه سره نشته.خوهرکله چه د عمرة القضاء فیصله د صلح حدیبیه په موقع شوې وه.ددې مناسبت په وجه امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته ذکر کړو.

[۳۹۵۳]حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا حَصِينٍ قَالَ قَالَ أَبُووَائِلٍ لَمَّا قَدِمَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ مِنْ صِفِّينَ أَتَيْنَاهُ نَسْتَخْبِرُهُ فَقَالَ اتَّهِمُوا الرَّأْيَ فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَهُ لَرَدَدْتُ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ وَمَا وَضَعْنَا أَسْيَافَنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا لِأَمْرٍ يُفْظِعُنَا إِلَّا أَسْهَلْنَ بِنَا إِلَى أَمْرٍ نَعْرِفُهُ قَبْلَ هَذَا الْأَمْرِ مَا نَسُدُّ مِنْهَا خُصْمًا إِلَّا انْفَجَرَ عَلَيْنَا خُصْمٌ مَا نَدْرِي كَيْفَ نَأْتِي لَهُ[ر:۱۵۲۳]

دحسن بن اسحاق په بخاری کښې صرف دا یو روایت راغلې دې.([1])

قوله: قَالَ قَالَ أَبُو وَائِلٍ لَمَّا قَدِمَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ مِنْ صِفِّينَ أَتَيْنَاهُ نَسْتَخْبِرُهُ: د ابو وائل نوم شقیق بن سلمه دې.فرمائی،کله چه سهل بن حنیف د صفین نه راغلو.نو مونږ هغه ته ورغلو.چه دحالاتو تپوس ترې اوکړو.

یواشکال او دهغې جواب دلته یو اشکال کیږی.چه ددې روایت نه په ظاهره دا معلومیږی.چه ابووائل په جنګ صفین کښې شریك نه وو.حضرت سهل بن حنیف په جنګ کښې شریك وو.کله چه هغه د جنګ صفین نه واپس شو.نودهغه نه د حالاتو معلومولو دپاره ابو وائل هغه ته ورغلو.حال دا چه امام بخاری رحمه الله دا روایت په کتاب الجهاد کښې نقل کړې دې.په هغې کښې ذا تصریح ده.چه ابووائل په جنګ صفین کښې په خپله شریك وو.([2]) او په بعضې روایاتوکښې دا هم راغلی دی.چه د سهل بن حنیف نه ابو وائیل تپوس هم په جنګ صفین کښې کړې وو.

---

[1] ،وکان حسن بن اسحاق من أصحاب ابن المبارک ومات سنة أحدی وأربعین ومائتین وماله فی البخاری سوی هذا الحدیث وانظرفتح الباری (۴۵۸\۷)_

[2] ،د روایت الفاظ دا دی.((الأعمش قال :سألت أبا وائل، شهدت صفین ؟ قال:نعم... کتاب الجهاد باب إثم من عاهد ثم غدر رقم الحدیث:۳۱۸۱)_

ددې اشکال جواب دا دې.چه په جنګ صفین کښې ابووائل شریك وو.په دې کښې څه شك نشته.دغه شان په کومو روایاتوکښې چه راغلی دی.چه د سهل بن حنیف نه ابووائل هم په جنګ صفین کښې تپوس کړې وو.هغه هم صحیح دی.البته دلته په روایت باب کښې د حضرت ابو وائل دا وینا چه کله سهل بن حنیف د جنګ صفین نه راواپس شو.نو مونږ دهغه نه تپوس اوکړو.ددې په باره کښې تاسو دا ونیلې شئ:چه د جنګ د واپسئ نه پس د ابو وائل دهغه نه تپوس کول د نورو خلقو اورولو دپاره وو.په خپله خو هغوی د دوی نه هم په جنګ صفین کښې سوال کړې وو.خو اوس سوال ددې وجې کوی.چه نور خلق هم سوال او جواب واوری.

په اصل کښې په حضرت سهل بن حنیف باندې د حضرت علی رضی الله عنه د ملګرو دا اعتراض وو.چه ته په قتال کښې د اهل شام په مقابله کښې د زیاتې دلچسپئ مظاهره نه کوې.[1] دا تپوس چه کله د حضرت سهل بن حنیف نه اوشو.نو هغه اوونیل.

قوله: اتَّهِمُوا الرَّأْيَ فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي يَوْمَ أَبِي جَنْدَلٍ وَلَوْ أَسْتَطِيعُ أَنْ أَرُدَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَهُ لَرَدَدْتُ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ: تاسو خپله رائې متهمه اوګنړئ.ما په یوم ابی جندل (صلح حدیبیه) کښې خپل ځان لیدلې دې.که په دغه ورځ زما دپاره د نبی صلی الله علیه وسلم فیصله رد.کول ممکن وو.نو ما به خامخا رد کړې وه.خوالله اودهغه رسول ښه پوهیږی.(چه فائده په کوم څیز کښې ده)

دحضرت سهل بن حنیف رضی الله عنه ددې جواب مطلب او پس منظر دا دې.چه ملګرو ته د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه په مینځ کښې جنګ شروع شو.نو په جنګ کښې حضرت علی رضی الله عنه ته غلبه حاصله شوه.دحضرت امیرمعاویه رضی الله عنه ملګری زیات قتلیدل.او نزدې وه چه هغوی پوره ماتې خوړلې وو.په دغه دوران کښې حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه حضرت امیر معاویه رضی الله عنه ته مشوره ورکړه.چه یو صورت داسې دې.که مونږ هغه اختیار کړو.نودا د وینې تویدل به اودریږی.اود هغوی غلبه به موقوف شی.هغه دا چه حضرت علی رضی الله عنه ته قرآن اولیږه.او ورته اووایه.چه دا به زمونږ او ستاسو په مینځ کښې فیصله کوی. زما امید دې.چه حضرت علی رضی الله عنه به دا پیشکش قبول کړی.اودغه شان به جنګ موقوف شی.

نوحضرت معاویه رضی الله عنه دحضرت عمروبن العاص رضی الله عنه په مشوره باندې عمل اوکړو.اوحضرت علی رضی الله عنه ته ئې اوونیل.چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښې به فیصله قرآن کوی.حضرت علی رضی الله عنه اوونیل.ددې نه غوره بله کومه فیصله کیدې شی.په دې موقع باندې د حضرت علی رضی الله عنه بعضې ملګرو دهغوی سره اختلاف اوکړو.او وې ونیل.چه ته په دې وخت کښې قرآن حکم مه منه.په دې وخت کښې جنګ جاری ساتل پکار دی.ځکه چه زمونږ تله درنه ده.او مونږ پوره غلبه حاصلولې شو.په دې باندې حضرت سهل بن حنیف رضی الله عنه خلقو ته خطاب اوکړو.او وې ونیل.((أیها الناس إتهموا أنفسکم....)) یعنی تاسو خپل ځان (او خپله رائې) هم

---

[1] عمدة القاری (۱۷\۲۳۰)۔

متهمه اوګڼئ.دا مه ګڼئ.چه صرف ستاسو رائې صحیح ده.کیدې شی.چه د فریق مخالف رائې صحیح وی.ځکه چه په صلح حدیبیه کښې زه موجود ووم.اوپه هغه وخت کښې زما هم دا رائې وه.چه جنګ کیدل پکار دی.صلح نه ده پکار،خوپه هغه وخت کښې مونږ خپله رائې پریخوده.او د نبی ﷺ په رائې مو عمل اوکړو .دهغې نتیجه ښه او انجام د خیر شو.حال دا چه هلته معامله د کفر او داسلام وه. اودلته خود مسلمانانو په خپل مینځ کښې مسئله ده.نو په دې کښې هم خپله رائې صحیح ګڼړل اود مسلمانانو قتل بې دریغه جاری ساتلو باندې اصرار کول نه دی پکار.

ددې روایت دا تفصیل امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کښې بیان کړې دې.دلته د بخاری روایت مختصر دې.(۱)

قوله: وَمَا وَضَعْنَا أَسْيَافَنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا لِأَمْرٍ يُفْظِعُنَا (۲) إِلَّا أَسْهَلْنَ بِنَا إِلَى أَمْرٍ نَعْرِفُهُ قَبْلَ هَذَا الْأَمْرِ مَا نَسُدُّ مِنْهَا (۳) خُصْمًا إِلَّا انْفَجَرَ عَلَيْنَا خُصْمٌ مَا نَدْرِي كَيْفَ نَأْتِي لَهُ: اومونږ خپلې اوږې د یو داسې کار دپاره کوم چه مونږ په ویرې کښې واچوی. تورې نه دی اوچتې کړې.خو ددې دپاره چه دا تورې هغه معامله زمونږ دپاره آسانه کړی.خود جنګ صفین دا معامله دومره ګرانه او مشکله جوړه شوې وه.چه اوس مونږ ددې یو طرف لا بند (اوصحیح) کړې نه وی،چه بل طرف ئې شلیږی.په پوهه کښې نه راځی.چه څنګه به دا معامله حل کړو.

د حضرت سهل بن حنیف د دې جملې مقصد دا دې.چه دحضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت نه پس چه په مسلمانانو کښې د فتنې کومه دروازه پرانستې شوې ده.په پوهه کښې نه راځی.چه دا دروازه به څنګه بنده کړې شی.ددې نه وړاندې چه به کله مونږ د جهاد دپاره توره اوچتوله.او د کومې فتنې د ختمولو دپاره به تلو. نو هغه فتنه به ختمه شوه.خود موجوده فتنې نوعیت دهغې نه بیخی مختلف دې.

چونکه په دې روایت کښې حضرت سهل بن حنیف رضی الله عنه په صلح حدیبیه کښې د خپلې موجودګئ ذکر کړې دې.هم ددې مناسبت په وجه امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته تخریج کړې دې.والله اعلم.

[۴۱۵۳/۴۱۵۵] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱) اوګورئ تعلیقات لامع الدراری (۸/۳۵۰)_

(۲) الأمر الفظیع: الشنیع الشدید، وقوله: یفظعنا أی: یوقعنا فی أمر فطیع شدید علینا. خصماً: الخصم: الطرف، وخصم کل شئ طرفه- والظر جامع الأصول (۸/۳۳۱)_

(۳) دمنها ضمیر،،الامر،،طرف ته راجع دې.دقواعده په لحاظ سره په ظاهره ،،منه،، پکاروو.هم دا وجه ده.چه په یو روایت کښې ،،منه،، دې.عمدة القاری (۱۷/۲۲۰)_~

زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ وَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً قَالَ أَيُّوبُ لَا أَدْرِي بِأَيِّ هَذَا بَدَأَ

[٣٩٥٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ هِشَامٍ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ وَقَدْ حَصَرَنَا الْمُشْرِكُونَ قَالَ وَكَانَتْ لِي وَفْرَةٌ فَجَعَلَتِ الْهَوَامُّ تَسَاقَطُ عَلَى وَجْهِي فَمَرَّ بِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَأُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ [ر: ١٧١٩]

بَاب = قِصَّةِ عُكْلٍ وَعُرَيْنَةَ

[٣٩٥٦/٣٩٥٧] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حَدَّثَهُمْ أَنَّ نَاسًا مِنْ عُكْلٍ وَعُرَيْنَةَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَكَلَّمُوا بِالْإِسْلَامِ فَقَالُوا يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا أَهْلَ ضَرْعٍ وَلَمْ نَكُنْ أَهْلَ رِيفٍ وَاسْتَوْخَمُوا الْمَدِينَةَ فَأَمَرَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَوْدٍ وَرَاعٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَخْرُجُوا فِيهِ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا فَانْطَلَقُوا حَتَّى إِذَا كَانُوا نَاحِيَةَ الْحَرَّةِ كَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَقَتَلُوا رَاعِيَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ الطَّلَبَ فِي آثَارِهِمْ فَأَمَرَ بِهِمْ فَسَمَرُوا أَعْيُنَهُمْ وَقَطَعُوا أَيْدِيَهُمْ وَتُرِكُوا فِي نَاحِيَةِ الْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا عَلَى حَالِهِمْ قَالَ قَتَادَةُ بَلَغَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ كَانَ يَحُثُّ عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَى عَنِ الْمُثْلَةِ وَقَالَ شُعْبَةُ وَأَبَانُ وَحَمَّادٌ عَنْ قَتَادَةَ مِنْ عُرَيْنَةَ وَقَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ وَأَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَدِمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ

٦هـ کښې د عکل او عرينه واقعه پيښه شوه.د اتو کسانو ډله د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.په هغې کښې د څلورو تعلق د قبيله عرينه سره وو.او د دريو تعلق د عکل سره وو.او يو کس د بلې يوې قبيلې وو.(١) هغوی راغلل.او په مدينه منوره کښې ئې اسلام قبول کړو.اوهلته ئې استوګنه شروع کړه.خو د مدينې منورې اوبه پرې موافق رانغلې.اودا خلق ناجوړه شول.نبی ﷺ ته ئې شکايت اوکړو. نبی ﷺ ورته د مدينې نه بهر خپل اوښانو ته د تګ وينا اوکړه.او ورته ئې اوفرمائيل د اوښانو پيؤ او متيازې څکئ.نوصحيح به شئ:دا کسان لاړل.اود پيو او متيازو په څکلو سره بيخی صحتمند شول.

کله چه هغوی صحتمند شول.نو د اوښانو محافظ اود رسول الله ﷺ راعی حضرت

(١) فتح البارى (١/٣٣٧) باب أبوال الإبل)_

یسار ﷜ هغوی قتل کړلو.او اوښان ئې اوتختول.نبی ﷺ ته چه کله ددې واقعې خبر اوشو. نو نبی ﷺ شل کسان د حضرت کرزبن جابرفهری ﷜ په قیات کښې دهغوی په تعاقب کښې روان کړل.حضرت کرزبن جابر فهری ﷜ هغوی ټول بندیوان کړل.رسول الله ﷺ دهغوی د قتلولو حکم اوکړلو.نودهغوی په سترګو کښې ګرم سیخونه راښکلې شول. او دهغوی لاسونه او پښې کټ کړې شول.اوپه حره(یو کاڼړې ژنه زمکه) په یو طرف کښې هغوی واچولې شول.او دغه شان ټول هلته مړه شول.(۱)

قوله: وَاسْتَوْخَمُوا الْمَدِينَةَ: یعنی مدینه هغوی دځپل ځان دپاره د آب هوا په اعتبار سره موافق بیا نه مونده .((أرض وخيمة)) هغه زمکې ته وائی،چه د هغې آب هوا موافق نه وی.

قوله: إِنَّا كُنَّا أَهْلَ ضَرْعٍ وَلَمْ نَكُنْ أَهْلَ رِيفٍ : مونږاهل ضرع وو.اهل ریف نه وو. ،،ضرع،، غولاونځې ته وائی.او ،،ریف،، شین پټی ته وائی.

مطلب دا دې.چه مونږ د ځنګل او دباندو اوسیدونکی یو.هلته څاروی څروو اودهغې په پیۍ ګذاره کوو.ښاریان نه یو.چه پټی او کاشتکاری کوو.(دمدینې منورې خلقو به زمینداری کوله)

قوله: فَسَمَرُوا أَعْيُنَهُمْ وَقَطَعُوا أَيْدِيَهُمْ: دلته اشکال کیږی.چه په اسلام کښې،مثله،، جائز نه ده.نبی ﷺ د ،،مثله،، نه منع کړې ده.نوبیا ددې کسانو،،مثله،، ولې اوکړې شوه؟ ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

① ابن شاهین ددې سوال په جواب کښې فرمائی.چه دا واقعه د مثله د حرمت نه وړاندې وه.تراوسه پورې د مثله د حرمت اعلان نه وو شوې.روسته مثله حرامه اوګرځولې شوه.(۲)

② علامه ابن الجوزی ﷫ فرمائی.چه تر دغه وخته پورې عامه مثله خو منسوخه شوې وه.خو تر اوسه پورې دمثله په بدله کښې د مثله جواز برقرار وو. اوچونکه دې کسانو د رسول الله ﷺ راعی قتل کړې وو.او دهغه مثله ئې کړې وه. ددې وجې قصاصاً دهغوی مثله هم اوکړې شوه.روسته قصاصاً مثله هم حرامه کړې شوه.او اوس مثله په هیڅ صورت کښې هم جائز نه ده.(۳)

قوله: قَالَ ابو عبدالله وَقَالَ شُعْبَةُ وَأَبَانُ وَحَمَّادٌ عَنْ قَتَادَةَ مِنْ عُرَيْنَةَ: امام بخاری ﷫ فرمائی.چه شعبه،ابان او حماد ﷮ د قتاده نه صرف ((من عرينة)) نقل کړی دی.د عکل قبیلې نوم دې حضراتو نه دې اخستې.د شعبه تعلیق امام بخاری په کتاب الزکاة

---

(۱) د تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری (۱۱/۳۳۷) د واقدی په نیز دا دشوال ۶ھ اود ابن اسحاق په نیز د جمادی الثانیه ۶ھ واقعه ده.)_

(۲) فتح الباری (۱۱/۳٤۱)_

(۳) فتح الباری (۱۱/۳٤۰و۳٤۱)_

كښې موصولاً ذكر كړې دې.د ابان بن زيد تعليق ابن ابى شيبه موصولاً نقل كړې دې.او دحماد تعليق امام ابوداود موصولاً نقل كړې دې.(۱)

قوله: وَقَالَ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ وَأَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَدِمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ: يحيى او ايوب چه د حضرت انس رضی الله عنه نه د ابوقلابه په واسطه باندې كوم روايت نقل كړې دې.په هغې كښې صرف د عكل قبيلې ذكر دې.د عرينه نوم نشته.د يحيى بن كثير دا تعليق امام بخارى په كتاب المحاربين كښې موصولاً نقل كړې دې.(۲) او د ايوب روايت امام بخارى په كتاب الطهارة كښې موصولاً نقل كړې دې.(۳)

[۳۹۱۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ أَبُو عُمَرَ الْحَوْضِيُّ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ وَالْحَجَّاجُ الصَّوَّافُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو رَجَاءٍ مَوْلَى أَبِي قِلَابَةَ وَكَانَ مَعَهُ بِالشَّامِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ اسْتَشَارَ النَّاسَ يَوْمًا قَالَ مَا تَقُولُونَ فِي هَذِهِ الْقَسَامَةِ فَقَالُوا حَقٌّ قَضَى بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَضَتْ بِهَا الْخُلَفَاءُ قَبْلَكَ قَالَ وَأَبُو قِلَابَةَ خَلْفَ سَرِيرِهِ فَقَالَ عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيدٍ فَأَيْنَ حَدِيثُ أَنَسٍ فِي الْعُرَنِيِّينَ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ إِيَّايَ حَدَّثَهُ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ

قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ مِنْ عُرَيْنَةَ وَقَالَ أَبُو قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ مِنْ عُكْلٍ ذَكَرَ الْقِصَّةَ [ر:۲۳۱]

قوله: حَدَّثَنِي أَبُو رَجَاءٍ مَوْلَى أَبِي قِلَابَةَ: په دې سند باندې اشكال كيږى.چه د حماد بن زيد دوه استاذان دى.ايوب او حجاج صواف.نود «حدثنى» په ځائې «حدثانى» د تثنيه صيغه پكار وه.علامه عينى ددې اشكال جواب وركوى اوفرمائى،چه د ايوب په باره كښې اختلاف دې. چه آيا هغوى دا روايت د ابو قلابه نه بلا واسطه نقل كوى.اوكه د ابو رجاء په واسطه ئې نقل كوى.اودحجاج صواف په باره كښې دا خبره متعينه ده.چه هغوى د ابو رجاء په واسطه سره نقل كوى.د دې وجې ئې د مفرد صيغه استعمال كړه.چه ضمير حجاج طرف ته راجع دې.ايوب په دې كښې شامل نه دې.والله اعلم

قوله: وَكَانَ مَعَهُ بِالشَّامِ: يعنى ابو رجاء د ابو قلابه سره په شام كښې وو.دا روايت دلته ډير په اختصار سره نقل شوې دې.وړاندې په كتاب الديات كښې به مفصل راشى.ان شاء الله هلته به په دې باندې تفصيلى خبره كيږى.

---

۱) عمدة القارى (۱۷/۲۳۲)_

۲) صحيح بخارى كتاب الردة والمحاربين باب لم يحسم النبى صلى الله عليه وسلم المحاربين من أهل الردة حتى هلكوا رقم الحديث ۶۸۰۳)_

۳) صحيح بخارى كتاب الطهارة باب أبوال الإبل رقم ۲۳۳)_

بَاب=غَزْوَةِ ذِی قَرَدَ
وَهِيَ الْغَزْوَةُ الَّتِي أَغَارُوا عَلَى لِقَاحِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ خَيْبَرَ بِثَلَاثٍ

((ذی قرد)) یا ((ذات قرد)) د یوې چینې نوم دې.کومه چه د مدینې منورې نه د یوې ورځې په فاصله باندې په بلاد غطفان کښې واقع ده.
دا غزوه کله پیښه شوې وه؟ د اهل سیر او مغازی په دې باندې اتفاق دې.چه غزوه ذی قرد په ۶ھ کښې د حدیبیه نه وړاندې پیښه شوې وه.ابن سعد په طبقات کښې په ربیع الاول کښې[1]بعضې حضراتو په جمادی الاولی۶ھ کښې او محمدبن اسحاق په شعبان ۶ھ کښې ددې وقوع بیان کړې ده[2] دا ټول اقوال په دې باندې دلالت کوی.دا ټول اقوال په دې باندې دلالت کوی.چه غزوه ذی قرد د حدیبیه نه وړاندې ده.ځکه چه حدیبیه په ذی قعده ۶ھ کښې واقع شوې وه.اوکله چه غزوه ذی قرد وقوع د حدیبیه نه وړاندې ده.نو ظاهره ده.چه د خیبر نه به هم وړاندې وی.ځکه چه غزوه خیبرد حدیبیه نه پس په ۷ھ کښې پیښه شوې وه.
خو امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه دا غزوه د غزوه خیبر نه صرف درې ورځې وړاندې واقع شوې ده.ددې ښکاره مطلب دا دې.چه امام بخاری دا د حدیبیه نه پس منی.حافظ ابن قیم او علامه بیهقی رحمه الله هم د امام بخاری رحمه الله مطابقت کړې دې.هغوی هم دا د حدیبیه نه پس اود د خیبر نه وړاندې ګڼړی.[3] امام مسلم دحضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه یو مفصل روایت ذکرکړې دې.د هغې نه هم ددې خبرې تائید کیږی.چه دا دخیبر نه درې ورځې وړاندې ده.[4]
① ابوالعباس قرطبی رحمه الله تطبیق کړې دې اوفرمائی.چه دحضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه په تفصیلی روایت کښې چه د کوم خیبر ذکر دې.ممکن ده.چه هغه مشهوره غزوه خیبر نه وی.ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر طرف ته څو ځله لښکر روان کړې وو. خو دهغوی خبره ددې وجې وزنی نه ده.چه په دغه روایت کښې دا هم ذکر دی.چه حضرت علی رضی الله عنه مرحب یهودی سره مقابله اوکړه.اودا مشهوره مقابله هم په غزوه خیبر کښې شوې وه.نودا بغیر دځه دلیل

---

[1] طبقات ابن سعد (۸۰\۱۱ و ۸۱) غزوة رسول الله صلی الله علیه وسلم الغابة)_

[2] فتح الباری (۴۶۰\۷)_

[3] قال ابن القیم هذه الغزوة کانت بعد الحدیبیة وقد وهم فیها جماعة من أهل المغازی والسیر فذکرو أنها کانت قبل الحدیبیة)) وانظر زاد المعاد(۲۷۹\۳) امام بیهقی رحمه الله هم دا د حدیبیه نه روسته ذکر کړې ده.اوګورئ دلائل بیهقی (۱۷۸\۴)_

[4] ځکه چه د دغه روایت په آخر کښې دی.((فرجعنا .. أی من غزوة ذات قرد .. إلى المدینة ،فوالله ما لبثنا بالمدینة إلا ثلاث لیال حتی خرجنا إلى خیبر صحیح مسلم کتاب الجهاد والسیر باب غزوة ذی قرد وغیرها)

نه په بله غزوه باندې محمول کول صحیح نه دي.(١)

② حافظ ابن حجر په دواړه قسم روایاتوکښې دتطبیق دپاره په ځائې د دې چه غزوه خیبرمتعدد اوګڼړي.غزوه ذی قردمتعدد ګڼړلې ده.هغوی فرمائی.چه عبد الرحمن بن حفص فزاری په مقام ذی قرد کښې د نبیﷺ په اوښانو باندې څو ځله د شپې حمله کړې وه.نو کومه ذی قرد چه عام اهل سیر ذکر کوی.هغه دحدیبیه نه وړاندې پیښه شوې وه.او امام بخاری رحمه الله چه کومه غزوه ذی قرد د خیبر نه درې ورځې وړاندې بیان کړې ده.هغه بله واقعه ده.اودا دحدیبیه نه پس واقع شوې وه.نو اوس په دواړه قسم اقوالوکښې څه تعارض نه پاتې کیږی.(٢)

د غزوه ذی قرد تفصیل په وړاندینی روایت کښې راځی.

[۳۹۵۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ يَقُولُ خَرَجْتُ قَبْلَ أَنْ يُؤَذَّنَ بِالْأُولَى وَكَانَتْ لِقَاحُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْعَى بِذِي قَرَدَ قَالَ فَلَقِيَنِي غُلَامٌ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فَقَالَ أُخِذَتْ لِقَاحُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ مَنْ أَخَذَهَا قَالَ غَطَفَانُ قَالَ فَصَرَخْتُ ثَلَاثَ صَرَخَاتٍ يَا صَبَاحَاهْ قَالَ فَأَسْمَعْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْ الْمَدِينَةِ ثُمَّ انْدَفَعْتُ عَلَى وَجْهِي حَتَّى أَدْرَكْتُهُمْ وَقَدْ أَخَذُوا يَسْتَقُونَ مِنْ الْمَاءِ فَجَعَلْتُ أَرْمِيهِمْ بِنَبْلِي وَكُنْتُ رَامِيًا وَأَقُولُ: أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعْ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعْ

وَأَرْتَجِزُ حَتَّى اسْتَنْقَذْتُ اللِّقَاحَ مِنْهُمْ وَاسْتَلَبْتُ مِنْهُمْ ثَلَاثِينَ بُرْدَةً قَالَ وَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ قَدْ حَمَيْتُ الْقَوْمَ الْمَاءَ وَهُمْ عِطَاشٌ فَابْعَثْ إِلَيْهِمْ السَّاعَةَ فَقَالَ يَا ابْنَ الْأَكْوَعِ مَلَكْتَ فَأَسْجِحْ قَالَ ثُمَّ رَجَعْنَا وَيُرْدِفُنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَاقَتِهِ حَتَّى دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ [ر:۲۸۷٦]

حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه په دې روایت کښې د غزوه ذی قرد واقعه بیانوی .چه زه دصبا د اذان نه وړاندې د مدینې منورې نه بهر غابه (صحرا) طرف ته اووتم .اود رسول اللهﷺ اوښې په ذی قرد کښې څریدلې.نو دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه غلام ماته ملاؤ شو.دلته ئې دغلام نوم نه دې بیان کړی.د مسلم په روایت کښې دغلام نوم ..رباح.، راغلې دې.خود مسلم په روایت کښې ئې هغه ته د رسول اللهﷺ غلام وئیلې دې.خوپه دې کښې څه تعارض نشته.ځکه چه ممکن ده.غلام د عبدالرحمن بن عوف وو.خود رسول اللهﷺ دخدمت دپاره هم حاضریدل.ددې وجې هغه ته د رسول اللهﷺ غلام هم وئیلې شوې دې.(٣)

رباح اووئیل، چه د رسول اللهﷺ اوښې اونیولې شوې.ما اووئیل.چا؟ هغه اووئیل عطفان،

---

١ فتح الباری(۱۷/۴۶۰و ۴۶۱)_

٢ ،فتح الباری(۱۷/۴۶۱)_

٣ ،فتح الباری(۱۷/۴۶۰)_

نو ما درې خله په اوچت آواز سره «یاصباحاه» اووئیل.اود مدینې د شګلوړې زمکې تولې آبادۍ ته ما خپل آواز اورسولو.(کیدې شي.چه د دوی آواز ډیراوچت وو.یا کیدې شي.چه دا ددوی کرامت وو)او بیا زه مخکښې طرف ته روان شوم.تردې چه ما هغه د شپې حمله ګربیا رالاندې کړل.هغوی اوبه څکلې. نو ما په هغوی باندې د غشی ورول شروع کړل.زه ډیرښه غشی ویشتونکې ووم.اودا رجز مې هم وئیل.

قوله: أَنَا ابْنُ الأَكْوَعْ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعْ :زه د اکوع څوې یم.نن د سپکو خلقو د بربادۍ ورځ ده.

«رضع»دا د«راضع» جمع ده.راضع پۍ څکونکی ته وائی.خود کمینه او ذلیل په معنی کښې هم استعمالیږی.په دې معنی کښې د استعمال پس منظر دا دې.چه یو بخیل کس به خپله خوله د اوښانو په تیوباندې لګولې وه.او پۍ به ئې څکل. هغه سره دا ویره وه.که پۍ په لوښې کښې لوشلی شي.نو هسې نه چه ګاونډیان د پیو لوشلو آواز واوری.او پۍ اوغواړی.نودغه شان پۍ څکل یو ذلیله حرکت وو. د دې وجې ،،راضع،، دکمینه په معنی کښې هم استعمال شو.([1])

حضرت سلمه رضي الله عنه وائی.ما دا رجز وئیل.او د هغوی نه مې تولې اوښې خلاصې کړې.او دیرش څادرې هم ما د هغوی نه واخستې.(د بدحواسۍ په حالت کښې څادرې هم هغوی ته بوج ښکاریدې.ددې وجې ئې څادرونه پریخودل.او اوتختېدل) په دې کښې نبی کریم ﷺ او صحابه راغلل.ما اووئیل.اې دالله رسوله ما هغه کسان اوبوڅکلو ته پرې نخودل.اوهغوی تږی دی.تاسو هغوی طرف ته اوس لښکر اولیږۍ.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.«یا ابن الاکوع ملکت فاسجح»اې ابن ا لاکوع هرکله چه تا غلبه حاصله کړه.نو.اوس د نرمۍ نه کار واخله.فرمائی. بیا مونږ راواپس شو. رسول الله ﷺ د شفقت په وجه زه خپل ردیف جوړ کړم(خپل څان پسې ئې په سورلۍ سور کړم) تردې چه مونږ مدینې ته داخل شو.

بَاب=غَزْوَةِ خَيْبَرَ

د غزوه خیبر په باره کښې دعام اهل سیر او مغازی رائې دا ده.چه دا په ۷ھ کښې واقع شوې ده.نبی کریم ﷺ چه کله د حدیبیه نه واپس شو.نو د ذی الحجه او محرم په اوائلو کښې نبي ﷺ په مدینه کښې پاتې شو.او د محرم په آخر کښې دوی د خیبر طرف ته خروج اوکړو. ([2]) خیبر د مدینې نه اته منزل (یعنی تقریباً دوه سوه میله) په فاصله باندې شام طرف ته واقع د یو څائې نوم دې.([3])

---

[1] ،فتح الباری(۷\۴۶۲)_

[2] ،البدایة والنهایة (۴\۱۸۱)_

[3] ،طبقات ابن سعد (۲\۱۰۶) وسیرت النبی (۱\۲۷۵) بعضې حضراتو ۹۶میله او بعضو ۱۸۴ کلومیټره یعنی تقریباً پنځویش دپاسه سل میله فاصله لیکلې ده)_

دغزوه خيبر سبب: يهود چه كله نبى ﷺ د مدينې منورې نه جلا وطن كړل.نودا خلق خيبر كښې آباد شو.اود مسلمانانو خلاف په سازشونو كښې مشغول شول.يوطرف ته خو دوى د مكې مشركان د مسلمانانو خلاف جنګ كولو ته د اماده كولو كوشش كولو ،او بل طرف ته ئې په مدينه كښې منافقانو ته د مسلمانانو خلاف ډاډ وركولو.د دې وجې اوس ضرورت وو.چه په هغوى باندې حمله اوكړى.اودهغوى طاقت ختم كړې شى.اود دعوت اسلام په باب كښې د هغوى د ركاوټونوسدباب اوكړې شى.كله چه نبى ﷺ د حديبيه نه واپس تشريف راوړلو.نو په لاره كښې سورة فتح نازل شو . ﴿وَعَدَكُمُ اللهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ﴾ د«هٰذه»اشاره غزوه خيبر طرف ته وه.([1])

د نبى ﷺ روانيدل: چونكه نبى ﷺ څان سره شپاړس سوه صحابه اخستى وو.په هغوى كښې دود سوه سوارۀ وو.او څوارلس سوه پيدل وو.([2]) دې غزوې ته د روانيدو نه وړاندې الله تعالى د وحى په ذريعه نبى ﷺ ته حكم كړې وو.چه منافقانوته په دې سفر كښې د تلو اجازت مه وركوه.څكه چه په صلح حديبيه كښې داكسان تاسوسره نه وو تلى.بعضو معذرت كړې وو. او بعضو ښكاره انكار كړې وو.ددې وجې په دې غزوه كښې منافقان شامل نكړې شو.([3]) په ازواج مطهراتوكښې نبى ﷺ څان سره ام سلمه ﷞ بوتلې وه.([4]) او په مدينه منوره كښې دصحيح روايت مطابق حضرت سباع بن عرفطه ئې خپل قائم مقام مقرر كړو.([5])

نبى ﷺ لاړلو او په «رجيع» كښې ئې ډيره واچوله.دا مقام د خيبر او عطفان ترمينځ واقع دې.دلته د قيام وجه دا وه.چه عطفانى د اهل خيبر حليف وو.او هغوى د خيبر د يهودو د مدد دپاره لښكر هم جمع كړې وو.كه مسلمانان نيغ تلى وو.او په خيبر باندې ئې حمله كړې وه.نو دا كسان به د مسلمانانو خلاف د يهودو مدد ته رارسيدلى وو.د هغوى د مرغوب كولو دپاره رسول الله ﷺ په رجيع كښې قيام اوكړو.اوهغه خلقو سره دا ويره شوه.كه مونږ د يهودو د مدد پاره خيبر ته لاړ شو.نو مسلمانان به د شانه زمونږ په كورونو باندې حمله اوكړى.نودې خلقو خپله ويره محسوس كړه.او واپس شو.اود خيبر د يهودو د مدد اراده ئې پريخوده.([6])

كله چه نبى ﷺ خيبرته نزدې اورسيدلو.نو د داخليدونه وړاندې ئې صحابو ﷡ ته اوفرمائيل. اودريږئ.اودا دعا ئې اوكړه.«اللهم رب السماوات وما أظللن،ورب الأرضين وما أقللن،ورب الشياطين وما أضللن ورب الرياح وما أذرين ، نسألك خير هذه القرية وخير أهلها وخير ما فيها

---

[1] دلائل النبوة بيهقى (١٩٧\٤)_

[2] سيرت النبى ﷺ (٤١٥\٣) په حواله د زرقانى (٢١٧\٢)_

[3] اوګورئ الدرالمنثور فى التفسير المائور (٧٣\٦)_

[4] طبقات ابن سعد (١٠٦\٢)_

[5] طبقات ابن سعد (١٠٦\٢)_

[6] الكامل لابن اثير (١٤٧\٢)_

ونعوذبك من شرها وشر أهلها وشر ما فيها، أقدموا بسم الله» په رواياتو كښې ددې الفاظو نه مختصر الفاظ هم راغلى دى. خوابن اثير مذكوره الفاظ نقل كړى دى.(۱)

په خيبر باندې حمله او محاصره خيبر ته نبى ﷺ د شپې په وخت كښې اورسيدلو. اوچونكه د نبى ﷺ د شپې د حملې كولو عادت نه وو. بلكه نبى ﷺ به د صبا انتظار كولو. كه نبى ﷺ ته به د صبا د اذان آواز ترغوږ و شو. نو حمله به نې نه كوله. اوكه د اذان آواز به نې واونريدلو. نو حمله به نې كوله. ددې وجې نبى ﷺ د صبا انتظار اوكړو. چه د اذان آواز نې واونريدل. نو نبى ﷺ د حملې اراده اوكړه. يهوديان صبا دخپلو باغونو اوپټو ته دكاردپاره اووتل. كله چه نې نبى ﷺ اوليدل. نوچغې نې كړې. «محمد والخميس» او لاړل په قلعو كښې محصور شول. نبى ﷺ په دې موقع باندې اوفرمائيل. «الله أكبر خربت خيبر، إنا إذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين»(۲)

په خيبر كښې څو قلعه ګانې وې. نبى ﷺ هغه قلعو طرف ته روان شو. اوهغه نې پرله پسې فتح كولې. دغه قلعو دتعداد اودهغې د فتح كولو په ترتيب كښې روايات مختلف دى. خواكثر اهل مغازى د شپږوقلعو تعداد ذكر كړې دې.

① د ټولونه اولنئ قلعه ,,ناعم،، فتح شوه. ددې قلعې په فتح كښې يو صحابى محمود بن سلمه ﷺ شهيد شو. حضرت محمود بن سلمه ﷺ ډيرپه مړانه او دلاورئ سره حمله اوكړه. او ډير وخته پورې جنګيدلو. چه ستړې شو. نو د څه وخته پورې د آرام كولو دپاره د ديوال په سيورى كښې كيناستلو. كنانه به ربيع د قلعې د فصيل نه د جرندې پل په هغه باندې راګوزار كړلو. اوهغه شهيد شو. خودا قلعه ډيره زر فتح شوه.(۳)

② د ,,ناعم قلعه،، نه پس مسلمانان ,,قموص،، قلعې طرف ته وروړاندې شو. دا قلعه په ټولو قلعو كښې دټولو نه زياته مضبوطه او مستحكمه وه. د يهودو مشهور پهلوان ,,مرحب،، هم په دې قلعه كښې وو. كوم چه د زرو سورو برابر ګڼړلې شو. د دې قلعې محاصره تقريباً شلو ورځو پورې جارى وه. نبى ﷺ د درد شقيقه (دنيم سر درد) د وجې پخپله ميدان ته نشو راتلې. نبى ﷺ حضرت ابوبكر ﷺ ته بيرغ وركړو. او وې ليږلو. خوپه دغه ورځ قلعه فتح نشوه. بيا نبى ﷺ په بله ورځ حضرت فاروق أعظم ﷺ ته بيرغ وركړو، او روان نې كړو. خوپه دغه ورځ هم د سخت جنګ باوجوذ قلعه فتح نشوه. يوه ورځ د مابنامې نبى ﷺ اوفرمائيل. «أما والله لأعطيها غداً رجلاً يحب الله ورسوله ويحبه الله ورسوله يأخذها عنوة» په الله قسم صبا به زه داسې كس ته بيرغ وركوم. چه هغه به دالله اودهغه د رسول سره محبت كوى. اوالله اودهغه رسول به هغه سره هم محبت كوى. هغه به دا قلعه په زور سره فتح كوى. په دغه

---
(۱) الكامل لابن الأثير (۱۴۷/۲)_
(۲) البداية والنهاية (۱۸۳/۴)_
(۳) الكامل لابن أثير (۱۴۸/۲)_

شپه هرصحابی ته انتظار وو.چه نبی ﷺ به چا ته بیرغ ورکوی.اود هریوکس خواهش وو. چه بیرغ ده ته ملاؤ شی.په راروان ورځ نبی ﷺ حضرت علی رضی الله عنه راوغوستل .حضرت علی رضی الله عنه دسترګو د بیمارئ دوجې هلته موجود نه وو.نبی ﷺهغوی راوغوښتل .او د هغوی په سترګو ئې د خولې لیاړې اومګلې.دهغې په وجه الله تعالی دهغه سترګو ته شفا ورکړه.بیا نبی ﷺ هغه ته بیرغ ورکړو.د یهودو مشهور پهلوان د رجز وئیل. اومیدان ته راکوز شو.

قد علمت خیبر أنی مرحب شاکی السلاح بطل مجرب

خیبر ته معلومه ده.چه زه مرحب یم،سلاح پوش او تجربه کاریم.

دحضرت سلمه بن الاکوع رضی الله عنه ورور حضرت عامربن الاکوع دهغه په مقابله کښې دا رجز وئیل او راووتل.

قد علمت خیبر أنی عامر شاکی السلاح بطل مغامر

مرحب په هغه باندې ګزار ا وکړو.حضرت عامر په خپل ډهال سره منع کړو.بیا عامر رضی الله عنه په هغه باندې ګذاراوکړو.توره راتاؤ شوه.اوخپله دده په پنډئ کښې ورننوته.دهغې نه هغوی شهید شو.

ددې نه پس حضرت علی رضی الله عنه دا رجز وئیل اودمرحب د مقابلې دپاره پخپله راوتلو.

أنا الذی سمتنی أمی حیدره کلیث غابات کریه المنظره

زه هغه یم.چه زما مور زما نوم حیدر(زمری) کیخودې دې.دځنګل د زمری پشان ډیر مهیب یم. مرحب ډیر په زور سره راغلو.خو حضرت علی رضی الله عنه دومره په زور سره د تورې ګذار اوکړوچه دهغه سرئې دوه ټکړې کړو.بیادمرحب ورور،،یاسر،،راغلو .د مسلمانانو دپاره حضرت زبیر رضی الله عنه هغه قتل کړو.دغه شان آخر الله تعالی د حضرت علی رضی الله عنه په لاس باندې د قموص دا مضبوطه قلعه فتح کړه.[1]

ددې قلعې نه مسلمانانو ته ډیر قیدیان په لاس راغلل.هم په دې قیدیانو کښې د بنونضیر د سردار حیی بن اخطب لور حضرت صفیه رضی الله عنها وه.کومه چه روسته د نبی ﷺ په عقد نکاح کښې راغله.[2]

③ د ،،قموص،،قلعې فتح کولو نه پس مسلمانان ،،قلعه صعب بن معاذ،، طرف ته ور. وراندې شو.دا قلعه د خوراك څښاك د څیزونو په اعتبار سره د ټولو قلعه ګانو نه لویه وه. دلته یهودو دخوراك ډیره لویه ذخیره جمع کړې وه.مسلمانانو په آسانئ سره هغه هم فتح کړه.اوپه دې سره په اسلامی لښکر کښې دخوراك څښاك دڅیزونو دکمی شکایت لرې شو[3]

---

[1] ،اوګورئ البدایه والنهایه (۱۸٤\٤ او ۱۹۰) البدایه والنهایه کښې داذکر نشته.چه کومه قلعه حضرت علی رضی الله عنه فتح کړې وه.هغه قموص وه.بلکه ابن اثیر لیکلی دی.چه دا قلعه ،،وطیح وسلالم،، وه. البته حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه حضرت علی رضی الله عنه کومه قلعه فتح کړې وه.هغه قموص وه.هغوی لیکی.((وکان إسم الحصن الذی فتحه علی رضی الله عنه ،،القموص،،وهو من أعظم حصونهم (فتح الباری(٤٧٨\٧)_

[2] ،فتح الباری(٤٧٨\٧)_

[3] ،سیره ابن هشام (۳٤٦\۳)_

④ ددې نه پس مسلمانان د ،،قله،، نومې قلعې طرف ته وړاندې شو.دا د غر په سوکه باندې واقع وه.ددې وجې ورته ،،حصن قله،،وئیله.دا قلعه هم ډیره مضبوطه وه.درې ورځو پورې د دې محاصره جاری وه.په دې دوران کښې یو یهودی نبی ﷺ ته راغلو. او عرض ئې اوکړو.که ته یوه میاشت هم ددوی محاصره اوکړې.بیا هم دا قلعه نشی فتح کیدی.ځکه چه دخوراك ذخیره دوی سره په کافی مقدار کښې موجود ده.او اوبهٔ دا خلق د شپې راکوزیږی. اود غریه لمن کښې د واقع چینې نه اوبه ډکوی.او اوړی.نو که ته قلعه فتح کول غواړې.نو د دوی د اوبو لاره بنده کړه. نو نبی ﷺ دهغوی اوبه بندې کړی.د هغې په وجه هغوی مجبوره شو.او جنګ دپاره رابهرشو.جنګ اوشو.تقریباً لس یهودیان مړهٔ شول.اوبعضې مسلمانان هم شهیدان شول.او په قلعه باندې آخر دا چه مسلمانانو قبضه اوکړه.(۱)

⑤ ددې نه پس مسلمانانو نورې وړې قلعې هم فتح کړې.او د ټولو نه په آخر کښې ،،قلعه وطیح،، او ،،قلعه سلالم،، طرف ته متوجه شو.یهودیان د نورو قلعو نه راوتلی وو.اوپه دې دوو قلعو کښې جمع شوی وو.مسلمانانو تقریباً څوارلس ورځې ددې دواړو قلعو محاصره جاری اوساتله.آخردا چه یهودیان مجبوره شو.او سلام بن ابی الحقیق ئې د صلح دپاره د نبی ﷺ په خدمت کښې راولیږلو.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.صلح کیدې شی.خو په دې شرط چه خیبر به خالی کول وی.دویم شرط دا دې.چه ددې خائې نه به نه سرهٔ زر او نه سپین زر خان سره اوړئ.دریم شرط دا دې.چه څه وسله او د جنګ سامان به خان سره د اوړلو اجازت نه وی.اونه به د څه څیز پټولو اجازت وی.(۲)

د نبی ﷺ دا ټولې خبرې یهودیانو قبولې کړې.خوپه مینځ کښې یهودیانو وعده خلافی اوکړه.اود کالو یوه تیلئ ئې چرته پټه کړې وه.نبی ﷺ کنانه بن الربیع راغوښتلو.او دهغه تیلئ په باره کښې ئې ترې تپوس اوکړو.هغه اووئیل.هغه خو په جنګ کښې خرچ شوه.نبی ﷺ ورته اووئیل.په هغې کښې مال زیات وو.اود جنګ موده دومره اوږده نه ده.دغه شان نبی ﷺ د نورو دوو یهودیانو نه تپوس اوکړو.خو چا هم حقیقت ښکاره نکړو.نو نبی ﷺ یو انصاری صحابی ته حکم اوکړو.چه لاړ شه په فلانی خائې دیوې ونې جرړه اوکنه.تیلئ هلته ده.هغه لاړلو.اوزمکه ئې اوکنسته .نود لس زرو دینارو قیمت باندې مشتمله د کالو تیله دهغه خائې نه رابهر شوه. چونکه دغه خلقو مال پټ کړې وو.اود صلح د شرطونو نه ئې مخالفت اوکړو. ددې وجې هغوی قتل کړې شو.کنانه بن ربیع خو ددې وجې هم د قتل مستحق وو.چه هغه د قلعه ناعم د فتحې په موقع محمود بن سلمه ﷺ شهید کړې وو.(۳)

اهل فدك ته چه کله خبر اوشو.چه نبی ﷺ خیبر فتح کړو.نوهغوی د محیصه بن مسعود په ذریعه نبی ﷺ ته پیغام راولیږلو.په هغې کښې هغوی په ذکر شوو شرطونو باندې دصلحې

(۱) دلائل النبوة للبیهقی (۴\۲۲۴)_
(۲) دلائل النبوة للبیهقی (۴\۲۲۶)_
(۳) سیرت حلبیة (۳\۴۲)_

دپاره امادګی ښکاره کړه.نبی ﷺ اهل فدك سره په نصف اموال باندې صلح اوکړه.او وې فرمائيل.چه کله هم مونږ اوغواړو.تاسو به اوباسو .اودغه شان فدك هم فتح شو.(۱)

په غزوه خيبرکښې تقريباً څوارلس پنځلس صحابه شهيدان شو.او۳۹ يهوديان قتل شو.(۲)

[۳۹۵۹]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ سُوَيْدَ بْنَ النُّعْمَانِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ وَهِيَ مِنْ أَدْنَى خَيْبَرَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِيقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ [ر:۲۰۶]

په كتاب الوضوءکښې داروايت تيرشوې دې.

[۳۹۶۰]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَيْبَرَ فَسِرْنَا لَيْلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لِعَامِرٍ يَا عَامِرُ أَلَا تُسْمِعُنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ وَكَانَ عَامِرٌ رَجُلًا شَاعِرًا فَنَزَلَ يَحْدُو بِالْقَوْمِ يَقُولُ

اللَّهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا
فَاغْفِرْ فِدَاءً لَكَ مَا أَبْقَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا
وَأَلْقِيَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا إِنَّا إِذَا صِيحَ بِنَا أَبَيْنَا
وَبِالصِّيَاحِ عَوَّلُوا عَلَيْنَا

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هَذَا السَّائِقُ قَالُوا عَامِرُ بْنُ الْأَكْوَعِ قَالَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ لَوْلَا أَمْتَعْتَنَا بِهِ فَأَتَيْنَا خَيْبَرَ فَحَاصَرْنَاهُمْ حَتَّى أَصَابَتْنَا مَخْمَصَةٌ شَدِيدَةٌ ثُمَّ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى فَتَحَهَا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا أَمْسَى النَّاسُ مَسَاءَ الْيَوْمِ الَّذِي فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ أَوْقَدُوا نِيرَانًا كَثِيرَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هَذِهِ النِّيرَانُ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تُوقِدُونَ قَالُوا عَلَى لَحْمٍ قَالَ عَلَى أَيِّ لَحْمٍ قَالُوا لَحْمِ حُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْرِيقُوهَا وَاكْسِرُوهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوْ نُهَرِيقُهَا وَنَغْسِلُهَا قَالَ أَوْ ذَاكَ فَلَمَّا تَصَافَّ الْقَوْمُ كَانَ سَيْفُ عَامِرٍ قَصِيرًا فَتَنَاوَلَ بِهِ سَاقَ يَهُودِيٍّ لِيَضْرِبَهُ وَيَرْجِعُ ذُبَابُ سَيْفِهِ فَأَصَابَ عَيْنَ رُكْبَةِ عَامِرٍ فَمَاتَ مِنْهُ قَالَ فَلَمَّا قَفَلُوا قَالَ سَلَمَةُ رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِي قَالَ مَا لَكَ قُلْتُ لَهُ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي زَعَمُوا أَنَّ عَامِرًا حَبِطَ عَمَلُهُ

---

(۱) دلائل النبوة للبيهقى (۲۲۶/٤) فدك د حجاز په شمال کښې دمدينې منورې نه د دوو دريو ورځو په فاصله باندې خيبر ته نزدې د يهوديانو يو کلې وو.اوګورئ معجم البلدان (۲۳۸/٤)_

(۲) سيرة مصطفى (۲/٤۲٤)_

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبَ مَنْ قَالَهُ إِنَّ لَهُ لَأَجْرَيْنِ وَجَمَعَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ إِنَّهُ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ قَلَّ عَرَبِيٌّ مَشَى بِهَا مِثْلَهُ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ قَالَ نَشَأَ بِهَا [ر:۲۳۲۵]

دا روایت دحضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه دې.وړاندې په روایت کښې دحضرت عامر بن اکوع رضی الله عنه دشهادت واقعه بیانولې شی.حضرت عامربن الاکوع د حضرت سلمه بن اکوع ورور نه وو.بلکه د هغه تره وو.دحضرت سلمه د پلار نوم ،،عمرو،، وو.عمروبن الاکوع د حضرت عامر بن الاکوع ورور وو.خوعام طور د حضرت سلمه نسبت دهغه نیکه.،اکوع،،ته کولې شي.اوسلمه بن الاکوع به نې وئیل. ،،الاکوع ،،لقب دې.اود ده نوم ،،سنان،، وو.(۱)

قوله: أَلَا تُسْمِعُنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ: هنیهات،دهنیهة،،جمع ده.او هنیهة د ،،هنة،، تصغیر دې. لکه څنګه چه ،،سنیهة ،د ،،سنة،، تصغیر دې.دا لفظ د کنایه په طور استعمالیږی. لکه څنګه چه ،،فلان بن فلان،، کنایه ده.دغه شان ،،هن بن هن،، او ،،هنته بن هنته،، هم اهل عرب استعمالوی.دلته د ،،هنیهات،، نه مراد رجزیه اشعار دی.(۲)

حضرت عامربن الاکوع ته یو کس اووئیل.ته مونږ ته رجزیه اشعار نه وائې.نو حضرت عامرد سورلئ نه راکوز شو.اود قوم مخامخ ئې خدی خوانی شروع کړه.

اللّٰهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا ... وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

فَاغْفِرْ فِدَاءً لَكَ مَا أَبْقَيْنَا ... وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

وَأَلْقِيَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا ... إِنَّا إِذَا صِيحَ بِنَا أَبَيْنَا

وَبِالصِّيَاحِ عَوَّلُوا عَلَيْنَا

اې الله که ستا توفیق نه وې.نومونږ به په هدایت نه وو.اونه به مونږ صدقه ورکوله. ونه به مو مونځ کولو.

اومونږ چه کوم ګناهونه خپل شا ته پریخودی دی.هغه معاف کړه.او دجنګ په وخت کښې زمونږ قدمونه مضبوط کړه.زمونږ ځانونه ستا د رضا دپاره قربان دی.

دمسلم شریف په روایت «ما ابقینا» په ځائې «ما اقتفینا» دی.(۳)اوهم دا په دې رجز کښې اشهرالروایات ګرځولې شوې دې.د«اقتفاء»معنی اتباع ده.د «اقتفینا» معنی به وی «ماتبعنا من الخطایا وما ارتکبنا من الذنوب»

یعنی د کومو ګناهونو شاته چه مونږ تلی یو.اود کومو معاصیو چه مونږ ارتکاب کړې دې.اې الله ته هغه معاف کړه.(۴)

---

۱) عمدة القاری (۱۷\۲۳۵وفتح الباری(۷\۴۶۵)_

۲) عمدة القاری(۱۷\۲۳۵)_

۳) صحیح مسلم باب غزوة خیبر رقم الحدیث (۴۴۳۲)_

۴) فتح الباری(۷\۴۶۵و ۴۶۶)_

او په مونږ باندې سكينه نازل كړه.كه څوك دخپل مدد دپاره چيغې وهي.اومونږ راوغواړي.
نو مونږ به سمدستي د مدد دپاره ورځو.په بعضې رواياتوكښې د «أتينا» په ځائې «أبينا» دى.په دې صورت كښې به معنى وى.كه دا كافرشور پكړ جوړكړي.اوكفر طرف ته واپس كيدو باندې مونږ مجبوره كړي.نو مونږ به انكار كوو.([1])اومونږ د مدد دپاره دراغوښتونكو په خپل آواز باندې اعتماد دې.يعنى كوم كسان چه مونږ د مدد دپاره رابلي. دهغوى دا اعتماد او بهروسه وى.چه مونږ به د هغوى د مدد دپاره حاضريږو.په دې صورت كښې .عولو..د تعويل نه ماخوذ دې.د تعويل معنى اعتماد او بهروسه ده.علامه خطابى «وبالصياح عولو علينا» معنى په «أجلبوا علينا بصوت» بيان كړې دې.يعنى دغه كافران په زور او شورسره زمونږ خلاف جنګ دپاره نن راځى.په دې صورت كښې به دا قول د «عويل» نه ماخوذ وى.اود ،،غويل،، معنى شور او رفع الصوت ده.خو ابن التين په دې باندې اعتراض كړې دې.اوفرمائيلى ئې دى.كه دا د«عويل»نه ماخوذ وى.نو بيا ..اعولو ..كيدل پكار وو. حال دا چه په روايت كښې «عولوا» دې.([2]) يوه ترجمه د دې دا كيدې شى.چه دغكافرانو شور جوړ كړو.او زمونږ خلاف ئې مدد اوغوښتلو.د ..عول.. په صله كښې چه كله ..حرف باء،، راشي.نو ددې معنى مدد طلب كول دى.نو«بالصياح عولوا علينا» مطلب به وي.«استغاثوبالصياح من أعدائنا علينا»والله اعلم.

يواشكال اودهغې جوابونه:دلته ئې په دويم شعر كښې «فداء لك» وئيلى دى.په دې باندې اشكال كيږي.چه تفديه هلته وى.كوم ځائې كښې چه فناء او مرګ متصور وى.كله چه وئيلى شى. (زه په تا قربان يم.) نو مطلب دا دې.چه په تا باندې د مرګ راتلو په ځائې دې په ما باندې مرګ راشي.او زما ژوند دې تاسو ته ملاؤ شى.اودا خبره مسلمه ده.چه د الله تعالى دپاره نه مرګ تصور شته او نه د فناء.نو بيا «فداء لك» وئيل څنګه صحيح دى؟ ددې اشكال مختلف جوابونه وركړې شوى دى.

① يو جواب دا وركړې شوې دې.چه د «فداءلك» ظاهرى معنى دلته مراد نه ده. بلكه دلته د الله تعالى سره دخپل محبت اظهار اود الله جل شانه تعظيم بيانول مقصود دى.([3])

② دويم جواب علامه مازرى وركړې دې.چه «فداءلك» كښې مضاف محذوف دې. «أى ، فداءلرضاك» ستا درضا دپاره دې زمونږ ځانونه قربان وى.اود الله تعالى رضا فوت كيدې شي څومره كافران دى.چه دالله تعالى رضا ورته حاصله نه ده. دهغوى په حق كښې د الله تعالى

---

[1] فتح البارى(٤۶۶\٧)_
[2] فتح البارى(٤۶۶\٧)_
[3] فتح البارى(٤۶٥\٧) وعمدة القارى(٢٣٥\١٧)_

رضا فوت شوې ده.(۱)

④ دریمه خبره په دې باره کښې دا وئیلې شوې ده.چه په «فداءلك» کښې خطاب الله تعالی ته نه دې.بلکه سامع ته دا خطاب د جمله معترضه په طور وئیلې شوې دی.د سامع توجه خپل طرف ته راړولو دپاره شاعران داسې کوی.(۲) والله اعلم

په کوم وخت کښې چه حضرت عامر رضی الله عنه دا رجزیه اشعار وئیل.په هغه وخت کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل.«من هذا السائق» دا داوښانو راښکونکې څوك دې. خلقو اووئیل.عامر دې.نبی ﷺ اوفرمائیل.«یرحمه الله» الله تعالی دې په ده باندې رحم اوکړی.اود ایاس بن سلمه په روایت کښې الفاظ دی.«غفرلك ربك»

قوله: قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَانَبِيَّ اللَّهِ لَوْلَا أَمْتَعْتَنَا بِهِ: په قوم کښې یو کس اووئیل.دا حضرت عمر رضی الله عنه وو.لکه څنګه چه د حضرت ایاس په روایت کښې تصریح ده.(۳) اې دالله نبی! جنت دده دپاره واجب شو.تاسو دده د بهادرئ نه د نورې فائدې اخستلو موقع مونږ ته ولې رانکړه.د جهاد وغیره په موقع چه به کله نبی ﷺ د چا په باره کښې داسې الفاظ اووئیل.نو ددې مطلب به دا وو.چه دې به شهید کیږی.نو حضرت عمر رضی الله عنه ته دا خبره معلومه وه.ددې وجې هغوی نبی ﷺ ته دا جمله اووئیله.نوهرکله چه قوم صفونه جوړ کړل.نو عامر یو یهودی په پنډئ باندې وهلو دپاره خپله توره اوچته کړه.توره وړه وه.کله چه ئې هغه اوچته کړه.نو دهغې نوکه واپس د حضرت عامر رضی الله عنه په پنډئ کښې په اړخ کښې ورننوته. دهغې په وجه د هغوی انتقال اوشو.

حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی.کله چه صحابه رضی الله عنهم د خیبر نه واپس راغلل. نو رسول الله ﷺ زه (غمګین)بیا موندم.زما لاس ئې اونیولو،او وې فرمائیل څه خبره ده؟ ما عرض اوکړو. زما مور پلار دې په تاسو قربان وی.خلق وائی.چه د عامر رضی الله عنه عمل حبط (ضائع) شو.(څکه چه هغه خودکشئ اوکړه) نبی ﷺ اوفرمائیل. چا چه دا وئیلی دی.هغه غلط وئیلی دی.عامر ته خو به دوه ثوابونه ملاویږی.دواړه ګوتې نبی ﷺ جمع کړې او اشاره ئې اوکړه. چه هغه ته به دوه اجرونه ملاویږی.هغه خو د کافرانو په مقابله کښې مشقت اوچتونکې او یو مجاهد سړې وو.

---

(۱) فتح الباری(۴۶۵\۷) وعمدة القاری (۲۳۵\۱۷)_

(۲) فتح الباری (۴۶۵\۷) وعمدة القاری (۲۳۵\۱۷) دلته چاته دا اشکال کیدې شی.چه په کتاب الجهاد کښې تیر شوی دی.چه دا اشعار د عبدالله بن رواحه دی.او د روایت باب نه معلومیږی.چه دا اشعار د عامر رضی الله عنه دی.ددې جواب دا دې.چه ممکن ده.دواړو ته توارد شوې وی.او داسې کیږی.چه بعضې وخت کښې یو شاعر داسې اشعار نظم کوی.کوم چه بل د وړاندې نه نظم کړی وی.او دویم جواب حافظ ابن حجر رحمه الله دا ورکړې دې.چه ممکن ده.حضرت عامر په خپلو دې اشعارو کښې د حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه اشعار هم شامل کړی وی.یعنې په دې کښې څه اشعار خو د حضرت عامر رضی الله عنه دی.او باقی د حضرت ابن رواحه دی.(فتح الباری (۴۶۵\۷)_

(۳) فتح الباری(۴۶۶\۷)_

قوله قَلَّ عَرَبِيٌّ مَشَى بِهَا مِثْلَهُ: داسې عربي چه په زمکه باندې گرځي د عامر په شان ډير کم دی. او په بعضې نسخو کښې دی «مشابها مثله» يعنی بل عربی د عامر سره مشابه او مماثل نشته. هغه خو به مثاله سړی وو. په دې سره د هغه فضيلت او فوقيت بيانول مقصود وو.[1]

[۳۹۶۱-۳۹۶۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى خَيْبَرَ لَيْلًا وَكَانَ إِذَا أَتَى قَوْمًا بِلَيْلٍ لَمْ يُغِرْ بِهِمْ حَتَّى يُصْبِحَ فَلَمَّا أَصْبَحَ خَرَجَتْ الْيَهُودُ بِمَسَاحِيهِمْ وَمَكَاتِلِهِمْ فَلَمَّا رَأَوْهُ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ

«المساحي» د «مسحاة» جمع دی. کدال ته وائی.

«المکاتل» د «مکتل» جمع دی. ټوکرۍ ته وائی.

«قالوا: محمد والله محمد والخميس»

يعنی محمد ﷺ د خپل لښکر سره راغلې دې. لښکر ته ..خميس.. وائی. ځکه چه لښکر په پنځو حصو باندې تقسيم وی. ① ميمنه ② ميسره ③ قلب ④ مقدمه ⑤ اوساقه[2]

[۳۹۶۳] أَخْبَرَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَبَّحْنَا خَيْبَرَ بُكْرَةً فَخَرَجَ أَهْلُهَا بِالْمَسَاحِي فَلَمَّا بَصُرُوا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ فَأَصَبْنَا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَنَادَى مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَإِنَّهَا رِجْسٌ [ر: ۳۶۰]

د ..حمر.. دوه قسمونه دی. يو اهليه اوانسيه. او بل وحشيه. د حمر وحشيه غوښه په اتفاق سره جائز ده. د حمر اهليه غوښه د جمهورو صحابو ﷺ او ائمه په نيز حرامه ده. البته د حضرت ابن عباس ﷺ او امام مالک ﷺ نه په يو روايت کښې ددې حلت منقول دې. د طرفينو رحمهما الله دلائل به وړاندې په ..کتاب الصيد والذبائح.. کښې د ..باب لحوم الحمر الاهلية.. لاندې راشي.

په حمر اهليه کښې . د حرمت لحم صحابو ﷺ مختلف علتونه بيان کړی دی. چا ددې علت دا بيان کړې دې چه دا د بوج اوړلو ځناور دې. که ددې غوښه حلاله کړې شی نو د سورلۍ او بوج اوړو په کار کښې به مشکل پيښ شی. چا وئيلی دی. چه دې گندگی

---

[1] عمدة القاری (۱۷/۲۳۷)_
[2] عمدة القاری (۱۷/۲۳۷)_

خوری.ددې وجې حرام ګرځولې شوې دی.خو اصل علت هم هغه دې.کوم چه په حدیث کښې ذکر شوې دې.((فإنها رجس)) چه دا پلیت دې.ددې وجې حرام دې.(١)

[٣٩٦٣]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُكِلَتْ الْحُمُرُ فَسَكَتَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ أُكِلَتْ الْحُمُرُ فَسَكَتَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ أُفْنِيَتْ الْحُمُرُ فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى فِي النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ فَأُكْفِئَتْ الْقُدُورُ وَإِنَّهَا لَتَفُورُ بِاللَّحْمِ[ر:٥٢٠٨،وانظر:٣٦٣]

په دې روایت کښې دی.چه رسول الله ﷺ ته یو سړې راغلو.او دوه خله ئې د دوی نه د خرو د غوښې خوړلو تپوس اوکړو.خو نبی ﷺ چپ پاتې شو.په دریم خل چه کله راغلو.نو نبی ﷺ ددې د حرمت اعلان اوکړو.

په اول ځل او دویم ځل د چپ پاتې کیدو وجه دا کیدې شی.چه په دغه وخت کښې نبی ﷺ په څه کار کښې مشغول وو.دهغه تپوس طرف ته التفات اونشو.او دا هم کیدې شی.چه تر دغه وخته پورې وحی نه وه نازل شوې.ددې وجې نبی ﷺ چپ پاتې شو.روسته د وحی په ذریعه ددې حرمت راغلو.نو نبی ﷺ اعلان اوکړو.

[٣٩٦٤/٣٩٦٥]حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ قَرِيبًا مِنْ خَيْبَرَ بِغَلَسٍ ثُمَّ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ فَخَرَجُوا يَسْعَوْنَ فِي السِّكَكِ فَقَتَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ وَكَانَ فِي السَّبْيِ صَفِيَّةُ فَصَارَتْ إِلَى دَحْيَةَ الْكَلْبِيِّ ثُمَّ صَارَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا فَقَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ لِثَابِتٍ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ آنْتَ قُلْتَ لِأَنَسٍ مَا أَصْدَقَهَا فَحَرَّكَ ثَابِتٌ رَأْسَهُ تَصْدِيقًا لَهُ

[٣٩٦٥]حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ سَبَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةَ فَأَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَقَالَ ثَابِتٌ لِأَنَسٍ مَا أَصْدَقَهَا قَالَ أَصْدَقَهَا نَفْسَهَا فَأَعْتَقَهَا[ر:٣٦٣]

قوله: حدثنا سلیمان بن حرب.. فجعل عتقها صداقها: نبی ﷺ دحضرت صفیه ﷺ عتق،لره مهر مقرر کړو.د احنافو ﷺ د مذهب په لحاظ سره ددې تاویل دا کیدې شی.چه اول ئې هغه مکاتبه ګرځولې وی.او بیا ئې بدل کتابت ددې مهر ګرځولې وی.او دا د رسول الله ﷺ په خصوصیت باندې محمول کولې شی.دا بحث به په کتاب النکاح کښې راشی.

---

١) زاد المعاد (٣\٣٤٢و٣٤٣)_

[۳۹۶۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْتَقَى هُوَ وَالْمُشْرِكُونَ فَاقْتَتَلُوا فَلَمَّا مَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَسْكَرِهِ وَمَالَ الْآخَرُونَ إِلَى عَسْكَرِهِمْ وَفِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ لَا يَدَعُ لَهُمْ شَاذَّةً وَلَا فَاذَّةً إِلَّا اتَّبَعَهَا يَضْرِبُهَا بِسَيْفِهِ فَقِيلَ مَا أَجْزَأَ مِنَّا الْيَوْمَ أَحَدٌ كَمَا أَجْزَأَ فُلَانٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَنَا صَاحِبُهُ قَالَ فَخَرَجَ مَعَهُ كُلَّمَا وَقَفَ وَقَفَ مَعَهُ وَإِذَا أَسْرَعَ أَسْرَعَ مَعَهُ قَالَ فَجُرِحَ الرَّجُلُ جُرْحًا شَدِيدًا فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ سَيْفَهُ بِالْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَى سَيْفِهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَخَرَجَ الرَّجُلُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ الرَّجُلُ الَّذِي ذَكَرْتَ آنِفًا أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَأَعْظَمَ النَّاسُ ذَلِكَ فَقُلْتُ أَنَا لَكُمْ بِهِ فَخَرَجْتُ فِي طَلَبِهِ ثُمَّ جُرِحَ جُرْحًا شَدِيدًا فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نَصْلَ سَيْفِهِ فِي الْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَيْهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ [ر: ۲۷۴۲]

[۳۹۶۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ شَهِدْنَا خَيْبَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ مَعَهُ يَدَّعِي الْإِسْلَامَ هَذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ أَشَدَّ الْقِتَالِ حَتَّى كَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحَةُ فَكَادَ بَعْضُ النَّاسِ يَرْتَابُ فَوَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحَةِ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهَا أَسْهُمًا فَنَحَرَ بِهَا نَفْسَهُ فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ صَدَّقَ اللَّهُ حَدِيثَكَ انْتَحَرَ فُلَانٌ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ قُمْ يَا فُلَانُ فَأَذِّنْ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ تَابَعَهُ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ شَبِيبٌ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي ابْنُ الْمُسَيَّبِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَابَعَهُ صَالِحٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ الزُّبَيْدِيُّ أَخْبَرَنِي الزُّهْرِيُّ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ كَعْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْ شَهِدَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَسَعِيدٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا .... سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: په دې روایت کښې حضرت سهل بن سعد ساعدی رضی الله عنه د یو کس د خودکشۍ واقعه نقل کوی.او

ددې روایت سره متصل وړاندې روایت کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه هم د یو کس د خودکشۍ واقعه نقل کوی.چه دواړه روایتونه مخې ته کیخودې شی.نو ښکاره معلومیږی.چه د حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه په روایت کښې د ،خیبر،ذکر نشته.اود حضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې د ((شهدنا خیبر)) تصریح موجوده ده.

د حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه د روایت په باره کښې د ابن التین رائې دا ده.چه دا واقعه د غزوه خیبرسره تعلق نه ده.دا د بلې غزوې واقعه ده.علامه ابن الجوزی رحمه الله په مشکل الصحیحین کښې ددې تصریح کړې ده.چه د حضرت سهل د روایت دا واقعه د جنګ احد سره متعلق ده.خود حافظ ابن حجر رحمه الله د رائې نه معلومیږی.چه د حضرت سهل د روایت واقعه هم د غزوه خیبر سره متعلق ده. هغوی فرمائی.دحضرت ابوهریره رضی الله عنه او حضرت سهل په روایتونوکښې په حقیقت کښې هم یوه واقعه بیان شوې ده.کومه چه خیبر سره متعلق ده.البته په دواړو روایاتو کښې معمولی غوندې فرق دا دې.چه د حضرت سهل په روایت کښې دی. چه دغه کس په توره باندې خودکشی اوکړه.اودحضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دی.چه هغه په غشی سره خپل ځان ختم کړو.خو حافظ فرمائی.چه کیدې شی.اول هغه په غشی باندې دخودکشۍ کوشش کړې وی.کله چه په هغې کښې ورته کامیابی اونشوه.نو بیا ئې په توره خپل ځان ختم کړو.په یو حدیث کښې د یو څیز ذکراوشو.او په بل کښې د بل څیز.([1])

امام بخاری رحمه الله دحضرت سهل رضی الله عنه روایت په غزوه خیبر کښې بیان کړې دې. ددې نه معلومیږی.چه د دوی رجحان هم دې طرف دې.چه دا واقعه د خیبر ده.والله اعلم.

قوله: فَقِيلَ مَا أَجْزَأَ مِنَّا الْيَوْمَ أَحَدٌ كَمَا أَجْزَأَ فُلَانٌ:

دحضرت شیخ الهند رحمه الله استدلال: حضرت شیخ الهند رحمه الله چه به کله دې مقام ته راورسیدل. نو تبسم به ئې کولو،اوددې نه پس به وړاندې تلو.یوځل ئې د دې تبسم وجه بیان کړه، چه په حدیث کښې راځی.((لاتجزئ صلاة إلا بفاتحة الکتاب))شوافع حضرات رحمهم الله دا حدیث نص فی ایجاب الفاتحه ګرځوی.او وائی.چه دنبی صلی الله علیه وسلم ددې ارشاد مقصد دا دې.چه مونځ د فاتحې نه بغیر نه کیږی.احناف حضرات رحمهم الله فرمائی.چه په ((لاتجزئ صلاة))کښې د اجزاء نه ،اجزاء کامل مراد ده.او مطلب دا دې.چه مونځ بغیرد فاتحې نه کامل نه دې.داحنافو دا توجیه په حدیث الباب کښې دټولو په نیز متفق علیه ده.دلته ټول دا وائی.چه په ((ما أجزأ منا)) کښې چه د کوم اجزاء ذکر دې. د هغې نه اجزاء کامل مراد دې.ځکه چه ګنی قتال خو نورو کسانو هم کړې وو. یهودیان نورو کسانو هم قتل کړی دی.خو دلته مطلب دا دې.چه څنګه په پوره بهادرۍ سره دې کس قتال کړې وو.په مونږ کښې بل چا داسې نه وو کړې.([2])

[1] فتح الباری(٤٧٣/٧)_
[2] فیض الباری(١٣٣/٤)_

کوم کس چه خودکشی کړې وه.د هغه نوم ،،قزمان ظفری،، وو.اودهغه کنیت ،،ابوالغیداق،، وو.(١) دکتاب المغازی په شروع کښې د جهاد په اغراضو او مقاصدو کښې ما دا قصه تاسو ته بیان کړې وه.

قوله: فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَنَا صَاحِبُهُ: ددې کس نوم حافظ ابن حجر رحمه الله «اکثم بن ابی الجون خزاعی» بیان کړې دې.(٢) هغه اووئیل.زه به ددې سرې سره یم.

قوله: حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ..... إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ: که دفاجر نه مراد فاسق وی.نو خبره آسانه ده.یوګناهګار سړې فاسق وی.خو الله تعالی د خپل دین خدمت دهغه نه اخلی.ددې نه دا هم معلومه شوه.که یو کس د دین په خدمت کښې لګیا وی.نو ضروری نه ده.چه هغه به د الله تعالی په نیز مقبول وی. اوکه د فاجر نه مراد کافر وی.نو بیا خبره ډیره سخته ده.یعنی هغه کس چه کله به هم جنت ته نه ځی.الله تعالی د هغه نه هم دخپل دین کار اخلی.ددې وجې ډیر ویریدل پکار دی.چه د دین که څه خدمت زمونږ او ستاسو نه اخستې شی.نودا ضروری نه ده.چه دا د الله تعالی په نیز د مقبولیت دلیل دې.هغه خو دخپل دین تائید په کافرانو او فاسقانو سره هم کولې شی.

قوله: تَابَعَهُ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ: د دې نه وړاندې روایت شعیب د زهری نه نقل کړې وو.امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه شعیب د معمر متابعت کړې دې.معمر هم دا روایت د زهری نه نقل کړې دې.دا متابعت امام بخاری په ابواب القدر کښې موصولاً نقل کړې دې.په کتاب الجهاد کښې هم دا متابعت امام بخاری رحمه الله موصولاً ذکر کړې دې.البته هلته د زهری نه معمر خانله روایت نه کوی.بلکه معمراو شعیب دواړه د زهری نه روایت کوی.(٣)

قوله: وَقَالَ شَبِيبٌ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ.... أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا: په دې تعلیق سره امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی.چه د ابن الشهاب زهری نه یونس بن یزید هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه ذکر شوې روایت نقل کړې دې. خودیونس روایت د شعیب عن الزهری او معمر عن الزهری دواړو د روایاتو نه خلاف دې.ځکه چه شعیب او معمر دواړو په خپلو روایتونو کښې د ،،خیبر،، تصریح کړې ده.اود یونس په دې روایت کښې د ،،خیبر،، په ځائې د ،،حنین،، تصریح ده.

قوله: وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ددې نه وړاندې تعلیق د «شبیب عن یونس» وو.اودا تعلیق د «ابن

---

١) فتح الباری(٤٧٢\٧)_

٢) فتح الباری(٤٧٣\٧)_

٣) عمدة القاری (١١٧\٢٤٠)_

المبارك عن يونس» دي.البته هغه موصولاً وو.اودامرسلاً دي.ځکه چه د سعيد نه پس د صحابى ﷺ ذکر نشته.

دامام بخارى ﷫ مقصد دا دي.چه لکه څنګه د شبيب عن يونس په روايت کښې د ,,حنين،، ذکردي.دغه شان د ابن المبارک عن يونس په روايت کښې هم د,,حنين،، ذکر دي.

قوله: تَابَعَهُ صَالِحٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ: يعنى د ابن المبارک متابعت صالح بن کيسان کړې دي.مطلب دا دي.چه د ابن المبارک عن يونس عن الزهرى روايت مرسلا منقول دي.نو.دغه شان د زهرى نه صالح هم دا روايت مرسلاً ذکر کوى.دا متابعت امام بخارى په خپل تاريخ کښې موصولاً نقل کړې دي.[1]

قوله: وَقَالَ الزُّبَيْدِيُّ أَخْبَرَنِي الزُّهْرِيُّ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ كَعْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْ شَهِدَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ:

ددې نه وړاندې يو تعليق «قال شبيب» تيرشوې وو.امام بخارى ﷫ په «قال الزبيدى» سره ددواړو په مينځ کښې فرق بيانول غواړى.په اولنى روايت کښې عبدالرحمن بن عبدالله بن کعب دي.اود زبيدى په دې تعليق کښې عبدالرحمن بن کعب دي.عبدالله کوم چه د عبدالرحمن والد دي.دهغه نوم ئې د اختصار د وجې حذف کړې دي.حال دا چه عبدالرحمن بن عبدالله بن کعب وئيل پکار وو.دغه شان په هغه تعليق کښې عبدالرحمن براه راست د حضرت ابوهريره ﷺ نه نقل کوى. او دلته دعبيدالله بن کعب نه نقل کوى.دغه شان هلته د ابوهريره د نوم تصريح ده.او دلته د يو صحابى د نوم تصريح نشته.بلکه «من شهد مع النبى ﷺ خيبر» ئې وئيلى دى.البته هلته د حنين تصريح ده.او دلته د خيبر تصريح ده.

قوله: قَالَ الزُّهْرِيُّ وَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَسَعِيدٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بعضو د عبيدالله بن عبدالله په ځائې عبدالله بن عبدالله نقل کړى دى.دا دواړه د حضرت عمر ﷺ د خوى ځامن (نمسى) وو. دا روايت هم مرسل دي.

په دې تعليقاتو سره امام بخارى ﷫ د دې روايت طرق مختلفه ته اشاره کوى. د معمر او شعيب روايت ته ترجيح ورکول غواړى.دمعمر او شعيب په روايت کښې د خيبر تصريح راغلې ده.د «يونس عن الزهرى» په روايت کښې د ،،حنين،، ذکر دي.د يونس دغه روايت د عبدالرحمن په واسطه سره دحضرت ابوهريره ﷺ نه موصولاً منقول دي.امام بخارى ددې نه پس د زبيدى تعليق ذکر کړې دي.په کوم کښې چه عبدالرحمن د خيبر تصريح کړې ده.نوپه کومو رواياتوکښې چه د حنين ذکر راغلې دي.هغه موصولاً هم منقول دى.او مرسلاً هم.بيا په دې کښې په بعضې طرقو کښې د حنين په ځائې د ،،خيبر،، ذکر راغلې دي.نوځکه د

[1] فتح البارى(٢٧٣/٧)_ګ

معمر او شعیب روایت هم صحیح او راجح دي.علامه ذهلی هم د معمر او شعیب روایت راجح گرځولې دې.(١) اوامام نووی د مسلم شریف په شرح کښې د قاضی عیاض رحمه الله قول نقل کړې دې.چه دحنین په ځائې هم خیبر صحیح دې.(٢) امام بخاری د حنین روایات تعلیقاً ذکر کړل.اود حنین په غلطۍ باندې ئې تنبیه ورکړه.

[۳۹۶۸] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا غَزَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ أَوْ قَالَ لَمَّا تَوَجَّهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَفَ النَّاسُ عَلَى وَادٍ فَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالتَّكْبِيرِ اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا قَرِيبًا وَهُوَ مَعَكُمْ وَأَنَا خَلْفَ دَابَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَنِي وَأَنَا أَقُولُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ فَقَالَ لِي يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ [ر: ۲۸۳۰]

حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.چه کله نبی صلی الله علیه وسلم د خیبر نه مدینې منورې ته واپس راتلو.نو په لاره کښې صحابو رضی الله عنهم په یو وادۍ کښې په اوچت آواز سره تکبیر وئیل شروع کړل.نو نبی صلی الله علیه وسلم هغوی ته اوفرمائیل.«اربعوا(٣) أنفسكم إنكم لا تدعون أصم ولا غائباً إنكم تدعون سميعاً قريباً وهو معكم» یعنی خپلو نفسونو سره نرمی اوکړئ.(په زیات زور سره نعره مه وهئ) ځکه چه تاسو کونړ یا غائب نه رابلئ.کوم ذات چه تاسو رابلئ هغه سمیع او نزدې دې.او هغه تاسو سره دې.

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورلۍ نه روسته ووم. رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله زما نه «لاحول ولا قوة إلا بالله» واوریدل.نو وې فرمائیل. عبدالله بن قیس! زه تاته داسې کلمه اونه ښائم.کومه چه دجنت د خزانو نه یوه خزانه ده.ما عرض اوکړو. ولې نه یا رسول الله! نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.«لاحول ولا قوة إلا بالله» په یو بل روایت کښې راځی چه د .«لاحول ولا قوة إلا بالله» وظیفه د یو کم سل بیمارو علاج دې.اوپه هغې کښې معمولی او د ټولو نه وړه بیماری ،،هم،، دې.(٤) په کومه کښې چه سړې پریشانه وی.اود سړی د زړه سکون ختمیږی.د ،،هم،، په وجه نورې هم ډیرې بیمارۍ پیدا کیږی.نبی صلی الله علیه وسلم دې ته دجنت

١) فتح البارى(٤٧٤/٧)_

٢) شرح مسلم للنووى (٧٣/١١)_

٣. اربعوا: معناه ارفقوا.. يقال: ربع عليه يربع ربعاً إذا كف عنه. واربع على نفسه كف عنها وارفق بها (عمدة القارى(٢١/١٧)_

٤) اوګورئ مستدرک حاکم (٥٤٢/١١) دغه شان اتحاف السادة المتقين (٤٦٦/٩)_

خزانه ونیلي ده.دا ډیر لوئ خیز دئ.

په دې روایت کښې د «لما توجه رسول الله ﷺ» نه خیبر طرف ته متوجه کیدل مراد نه دی.بلکه د خیبر فتح کولو نه مدینې منورې طرف ته متوجه کیدل مراد دی.ځکه چه حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.زه د رسول الله ﷺ د سورلئ د شاته ووم.او په دې باندې د ټولو اتفاق دې.چه حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه د خیبر نه پس د حبشې نه راغلې وو.لکه څنګه چه وړاندې روایت راځی.ددې وجې په روایت کښې «توجه إلى خيبر» مراد اخستل صحیح نه دی. (١)

[۳۹۶۹] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ فَقُلْتُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ مَا هَذِهِ الضَّرْبَةُ فَقَالَ هَذِهِ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ

حضرت یزید بن ابی عبید وائی.چه ما د حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه په پنډئ کښې د تورې د ګزار نښه اولیدله.نو دهغه نه ما تپوس اوکړو.چه دا د کوم خیز نښه ده.؟ وې فرمائیل.په جنګ خیبر کښې د تورې دا ګزار راته لګیدلې وو.په هغه وخت کښې خلقو اووئیل. سلمه زخمی شو.(یعنی اوس بچ کیدل ګران دی.د دې زخم نه به پاتې نشی) زه د نبی ﷺ خدمت ته حاضر شوم.نبی ﷺ درې ځله په هغې باندې دم واچولو.نو زما تکلیف داسې ختم شو.چه ترنن ورځې پورې ما بیا چرته تکلیف نه دې محسوس کړې.

[۳۹۷۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ الْتَقَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُشْرِكُونَ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ فَاقْتَتَلُوا فَمَالَ كُلُّ قَوْمٍ إِلَى عَسْكَرِهِمْ وَفِي الْمُسْلِمِينَ رَجُلٌ لَا يَدَعُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ شَاذَّةً وَلَا فَاذَّةً إِلَّا اتَّبَعَهَا فَضَرَبَهَا بِسَيْفِهِ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَجْزَأَ أَحَدٌ مَا أَجْزَأَ فُلَانٌ فَقَالَ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَقَالُوا أَيُّنَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِنْ كَانَ هَذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لَأَتَّبِعَنَّهُ فَإِذَا أَسْرَعَ وَأَبْطَأَ كُنْتُ مَعَهُ حَتَّى جُرِحَ فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نِصَابَ سَيْفِهِ بِالْأَرْضِ وَذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَيْهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَجَاءَ الرَّجُلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَإِنَّهُ لَمِنْ أَهْلِ النَّارِ وَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فِيمَا يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ [ر: ۲۷۴۲]

[۳۹۷۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيدٍ الْخُزَاعِيُّ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ عَنْ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ نَظَرَ أَنَسٌ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَرَأَى طَيَالِسَةً فَقَالَ كَأَنَّهُمُ السَّاعَةَ يَهُودُ خَيْبَرَ

---

(١) عمدة القاری (۱۷/۲۴۱)_

د محمد بن سعید خزاعی په بخاری کښې صرف دوه روایتونه دی.یو دا او بل په کتاب الجهاد کښې تیرشوې دې.(١) او دزیاد بن ربیع صرف دا یو روایت په بخاری کښې دې.

قوله: نَظَرَ أَنَسٌ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَرَأَى طَيَالِسَةً فَقَالَ كَأَنَّهُمُ السَّاعَةَ يَهُودُ خَيْبَرَ: حضرت انس رضی الله عنه د جمعې په ورځ خلقو ته اوکتل.چه ټولو څادرې راخستې دی.وې فرمائیل. دا خلق په دې وخت کښې د خیبر د یهودو پشان ښکاری.

،طیالسة،،د،،طیلسان،جمع ده.څادر ته وائی.چونکه یو خاص قسم تور څادر وو.کوم چه یهودو اچول.ددې وجې حضرت انس رضی الله عنه ته دا خبره ښه ښکاره نشوه.چه دهغوی سره مسلمانان مشابهت اختیار کړی.ترکومې پورې چه د مطلق څادر د استعمال تعلق دې.نو په هغې کښې څه حرج او کراهت نشته.

[٣٩٧٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَخَلَّفَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَيْبَرَ وَكَانَ رَمِدًا فَقَالَ أَنَا أَتَخَلَّفُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَحِقَ بِهِ فَلَمَّا بِتْنَا اللَّيْلَةَ الَّتِي فُتِحَتْ قَالَ لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا أَوْ لَيَأْخُذَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلٌ يُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ يُفْتَحُ عَلَيْهِ فَنَحْنُ نَرْجُوهَا فَقِيلَ هَذَا عَلِيٌّ فَأَعْطَاهُ فَفُتِحَ عَلَيْهِ [ر: ٢٨١٢]

په دې روایت کښې ئې حضرت علی رضی الله عنه ته د جنډې ورکولو واقعه نقل کړې ده.ددې تفصیل د قلعه قموص په فتح کښې تیر شوې دې.

[٣٩٧٣] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ قَالَ فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوكُونَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقِيلَ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ قَالَ فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا فَقَالَ انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللَّهِ فِيهِ فَوَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ [ر: ٢٧٨٣]

---

(١) فتح الباری (٤٧٥|٧)_

«أنفذ على رسلك» هم دغه شان په خپل حال باندې څه. «ثم أدعهم إلى الإسلام» بيا دوی ته د اسلام دعوت ورکړه.

دجهاد نه وړاندې د اسلام دعوت: په دې مسئله کښې د امامانو اختلاف دې. چه کافرانو سره د اسلام د دعوت ورکولو نه وړاندې جهاد کول جائز دې که نه، عام طور په دې مسئله کښې درې مذاهب بيانولی شی.

① دعوت الى الاسلام مطلقاً واجب دې. ترهغه وخته پورې کافرانو سره قتال کول جائز نه دې. ترڅوچه هغوی ته د اسلام دعوت نه وی ورکړې شوې. برابره ده چه هغه ته ددې نه وړاندې داسلام دعوت رسيدلې وی اوکه نه، حافظ ابن حجر رحمه الله او د امام مالك رحمه الله مذهب دې.

② دعوت الى الاسلام مطلقاً واجب نه دې. يعنی برابره ده که د اسلام دعوت کافرانو ته رسيدلی وی اوکه نه وی. خو دوی سره د قتال کولو نه وړاندې د اسلام دعوت ورکول ضروری نه دی. دا مذهب د امام شافعی رحمه الله نه په يو روايت کښې منقول دې.

③ دريم مذهب د جمهورو امامانو دې. اوهغه دا که يو قوم ته د قتال نه وړاندې داسلام دعوت نه وی رسيدلې، په داسې صورت کښې دعوت الى الاسلام واجب دې. او د دعوت نه بغير قتال جائز نه دې. اوکه دغه قوم ته ئې د اسلام دعوت د قتال نه وړاندې ورکړې وو. نو دقتال نه وړاندې هغه ته د اسلام دعوت ورکول مستحب دی. هم دا صحيح روايت دې. اود جمهور مذهب دې.

تنبيه: حافظ ابن حجر د احنافو حضراتو دا مذهب نقل کړې دې. چه د هغوی په نيز دعوت الى الاسلام مستحب دې.(١) خوحافظ صاحب د احنافو مذهب صحيح نه دې نقل کړې، د احنافو مذهب هم هغه دې، کوم چه د جمهورو دې، صاحب د هدايه تصريح کړې ده، «لا يجوز أن يقاتل من لم تبلغه الدعوة إلى الإسلام إلا أن يدعوه .. ويستحب أن يدعو من بلغته الدعوة»(٢) والله اعلم.

[٣٩٧٣/٣٩٧٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْغَفَّارِ بْنُ دَاوُدَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ح وحَدَّثَنِي أَحْمَدُ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الزُّهْرِيُّ عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَدِمْنَا خَيْبَرَ فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْحِصْنَ ذُكِرَ لَهُ جَمَالُ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ وَقَدْ قُتِلَ زَوْجُهَا وَكَانَتْ عَرُوسًا فَاصْطَفَاهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فَخَرَجَ بِهَا حَتَّى بَلَغْنَا سَدَّ الصَّهْبَاءِ حَلَّتْ فَبَنَى بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ صَغِيرٍ ثُمَّ قَالَ لِي آذِنْ مَنْ حَوْلَكَ فَكَانَتْ تِلْكَ وَلِيمَتَهُ عَلَى صَفِيَّةَ ثُمَّ

---

(١) حافظ ليکی. ((لا يجوز من لم تبلغه الدعوة إلى الإسلام إلا أن يدعوه .. ويستحب أن يدعو من بلغته الدعوة)) (هدايه كتاب السير بشرح فتح القدير(١٩٧/٥)_

(٢) هدايه كتاب السير بشرح فتح القدير (١٩٧/٥)_

خَرَجْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَوِّي لَهَا وَرَاءَهُ بِعَبَاءَةٍ ثُمَّ يَجْلِسُ عِنْدَ بَعِيرِهِ فَيَضَعُ رُكْبَتَهُ وَتَضَعُ صَفِيَّةُ رِجْلَهَا عَلَى رُكْبَتِهِ حَتَّى تَرْكَبَ

[٣٩٧٥] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ يَحْيَى عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامَ عَلَى صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ بِطَرِيقِ خَيْبَرَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ حَتَّى أَعْرَسَ بِهَا وَكَانَتْ فِيمَنْ ضُرِبَ عَلَيْهَا الْحِجَابُ

[٣٩٧٦] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدٌ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِهِ وَمَا كَانَ فِيهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ وَمَا كَانَ فِيهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِلَالًا بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأَلْقَى عَلَيْهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُهُ قَالُوا إِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ وَإِنْ لَمْ يَحْجُبْهَا فَهِيَ مِمَّا مَلَكَتْ يَمِينُهُ فَلَمَّا ارْتَحَلَ وَطَّأَ لَهَا خَلْفَهُ وَمَدَّ الْحِجَابَ

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْغَفَّارِ...: دا روايت او دې سره وړاندې دوه روايتونه دحضرت انس رضي الله عنه نه مروي دی.په دې درې واړه رواياتو کښې حضرت انس رضي الله عنه د حضرت صفيه رضي الله عنها د نبی صلی الله علیه وسلم سره د نکاح واقعه بيان کړې ده.

حضرت صفيه رضى الله عنها: دا د بنو نضيرو د سردار حيى بن اخطب لور وه.اول ددې نکاح د سلام بن مشکم نومې يهودی سره شوې وه.د هغه د انتقال نه پس د کنانته بن ابی الحقيق په نکاح کښې راغلې وه.کله چه قلعه قموص فتح شوه.نو حضرت صفيه رضي الله عنها هم د نورو قيديانو سره قيد کښې راغله.کنانه ورستو دخپل عهد خلافئ په وجه قتل کړې شوې وو. (تفصيل ئې وړاندې تير شوې دې) حضرت دحيه کلبی د نبی صلی الله علیه وسلم نه يوه وينځه اوغوښتله.نو نبی صلی الله علیه وسلم حضرت صفيه رضي الله عنها هغه ته حواله کړه.خو صحابو رضي الله عنهم نبی صلی الله علیه وسلم ته اووئيل.چه حضرت صفيه رضي الله عنها د سردار لور ده.اود حسن او جمال په اعتبار سره هم ممتاز ده.نودا تاسو خان سره اوساتئ.نو نبی صلی الله علیه وسلم حضرت دحيه کلبی رضي الله عنه ته بله وينځه ورکړه.او د حضرت صفيه رضي الله عنها سره نبی پخپله نکاح اوکړه.[1]

په واپسئ کښې چه مقام صهباء ته نبی صلی الله علیه وسلم راورسيدل.نو حضرت صفيه دماهوارئ نه پاکه شوه.په دې مقام باندې نبی صلی الله علیه وسلم هغې سره د واده شپه تيره کړه.او درې ورځې ئې هلته قيام اوکړو.ساده وليمه اوکړې شوه.دسترخوان خور کړې شو.اودقجورو،پنيراو غوړو نه جوړشوې ،،حيس،، صحابو رضي الله عنهم اوخوړلو.

حضرت صفيه ډيره عاقله،حليمه او فاضله ميرمن وه.حافظ ابن حجر په ،،الاصابة،، کښې ليکلی دی.چه نبی صلی الله علیه وسلم د مقام صهباء نه وړاندې حضرت صفيه ته تشريف يوړو.دحضرت

---

[1] السيرة الحلبية (۴۳\۳)_

صفیه رضی الله عنها خواهش وو.چه په دې وخت کښې نبی ﷺ دې ته تشریف راوړی.نو نبی ﷺ واپس شو.روسته چه کله د دې نه ددې تپوس اوشو.نو وې وئیل.چونکه دغه مقام : خیبر د یهودیانو سره نزدې وو.چه نبی ﷺ ئې زما سره نزدې لیدلې وو.نو یهودیانو د دوی خلاف سازش کولې شو.ددې خطرې په وجه ما اوغوښتل.چه نبی ﷺ ما سره په دغه ځائې کښې نزدې نه اوسیږی.(۱)

امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کښې روایت نقل کړې دې.چه نبی ﷺ حضرت صفیه رضی الله عنها ته اختیار ورکړې وو.که هغه غواړی.نو آزاده به شی.او خپل کور ته به واپس شی.او که غواړی.نود نبی ﷺ په نکاح کښې راتلل دې قبول کړی.حضرت صفیه رضی الله عنها دویم صورت غوره کړو.اود نبی ﷺ په نکاح کښې راتلل ئې خوښ کړو.(۲)

ابن اسحاق نقل کړی دی.چه حضرت صفیه د غزوه خیبر نه وړاندې خوب لیدلې وو.چه سپوږمۍ زما په غیږ کښې راپریوته.چه دا خوب ئې خپل خاوند کنانه ته واورولو.نوهغه په پړق باندې اووهله.او وې وئیل.ته د د مدینې د بادشاه (محمد ﷺ) خواهش کوې.ددې پړق نښه دحضرت صفیه په مخ باندې وو.رسول الله ﷺ ددغه نښې په باره کښې تپوس اوکړو.نوهغې ورته دا واقعه واوروله.(۳)

کله چه نبی ﷺ په مرض الوفات کښې وو.نو ټولې ازواج مطهرات د نبی ﷺ نه ګیرچاپیره جمع شوې.حضرت صفیه رضی الله عنها چه د نبی ﷺ تکلیف اولیدلو. نو وې وئیل.«والله یا نبی الله لوددت أن الذی بك بی» اې دالله نبی په الله زه غواړم.چه تاسوباندې کوم تکلیف وی.دا په ما شی.په دې جمله وئیلو باندې نورو بیبیانو دې ته په بد نظر سره اوکتل.نبی ﷺ د نورو بیبیانو دا په بد نظر سره کتل خوښ نکړل.او وې فرمائیل.«والله إنها لصادقة» د نبی ﷺ مطلب دا وو.چه دا جمله دې څه د تصنع دپاره نه ده وئیلې.بلکه رښتیا ئې وئیلی دی.او د زړه نه ئې وئیلې دی.(۴)

دحضرت صفیه رضی الله عنها وفات په ۵۰ھ یا ۵۲ ھ کښې د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په دور خلافت کښې شوې وو.(۵)اوس لږ دروایاتو ګرانو الفاظو ته اوګورئ.

قوله: فَاصْطَفَاهَا النَّبِیُّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ: د دې جملې یو مطلب دا دې.چه رسول الله ﷺ حضرت صفیه په مال غنیمت کښې د خپل ځان دپاره منتخب کړه. عامو مسلمانانوته چه په مال غنیمت کښې څومره حصه ملاویدله.نو رسول الله ﷺ ته هم د

---

(۱) الإصابة فی تمییز الصحابة (۳۴۷\۴)_
(۲) مسند احمد بن حنبل (۱۳۸\۳)_
(۳) سیرة ابن هشام (۳۵۰\۳و ۳۵۱)_
(۴) الإصابة فی تمییز الصحابة (۳۴۷\۴و ۳۴۸)_
(۵) الإصابة فی تمیز الصحابة (۳۴۷\۴، ۳۴۸)_

خمس نه سوا هغه هومره حصه ملاويده.نو كومه حصه چه د خيبر په عام مال غنيمت كښې نبى ﷺ ته ملاويده.هم په هغې كښې نبى ﷺ د حضرت صفيه انتخاب اوكړو.او دويم مطلب دا هم كيدې شى.نو نبى ﷺ د ،،صفى،، په طور دا دخپل ځان دپاره متعينه كړه. رسول الله ﷺ د تقسيم غنيمت نه وړاندې دا اختيار وو.چه كوم څيز د هغوى خوښ وو.هغه نبى ﷺ واخلى.كوم ته چه په اصطلاح كښې ،صفى،، وائى.حافظ رحمه الله په فتح البارى كښې ليكلى دى.چه دحضرت صفيه رضي الله عنها نوم زينب وو.كله چه رسول الله ﷺ د ،،صفى،، په طور ددې انتخاب د خپل ځان دپاره اوكړو.نو د هغه وخت نه ددې نوم ،،صفيه رضي الله عنها،، شو.[1]

قوله: ثُمَّ صَنَعَ حَيْسًا فِي نِطَعٍ صَغِيرٍ: ،حيس،،د قجورو، پينر اوغوړو نه تيار شوې مخصوص خوراك ته وائى. كوم چه عربيان زيات خوښولو.«نطع» د څرمن دسترخوان ته وائى.ددې جمع «أنطاع»راځى.

قوله: فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَوِّي لَهَا وَرَاءَهُ بِعَبَاءَةٍ: يعنى ما اوكتل.چه نبى ﷺ د حضرت صفيه رضي الله عنها دپاره خپلې شا ته د څادر په ذريعه ځائې جوړوى.مطلب دا چه نبى ﷺ خپل ځان پسې روستو كينولو دپاره په څادر باندې ځائې برابرولو.دې دپاره چه هغه په دې باندې كينى.د «يحوى لها» معنى ده «يجعل لها حوية» ،،حويه،، هغه څادر ته وائى.كوم چه په اوښ وغيره باندې سور سړې خپل كيرچاپيره خوروى.[2] د «عباءة»نه مراد هم څادر دې.

[٢٩٧٧]حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح وحَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مُحَاصِرِي خَيْبَرَ فَرَمَى إِنْسَانٌ بِجِرَابٍ فِيهِ شَحْمٌ فَنَزَوْتُ لِآخُذَهُ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَحْيَيْتُ[ر:٢٩٨٣]

حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه فرمائى.چه چه مونږ د خيبر محاصره كړې وه.يو كس تيلئ اوغورځوله. په هغې كښې وازګه وه.دهغې د راخستلو دپاره ما ورټوپ كړې.چه مې اومتل. نو نبى ﷺ نزدې تشريف فرما وو.نو زه اوشرميدم.چونكه د لوږې شكايت عام وو.ددې وجې حضرت عبدالله د وازګې دغه تيلئ ته ورټوپ كړې.ددې روايت نه دا معلومه شوه.كه د خوراك څښاك د څيزونو چا ته ضرورت وى.نو د مال غنيمت د تقسيم نه وړاندې د ضرورت مطابق اخستل جائز دى.دغه شان وسله وغيره كه جهاد كښې د استعمال دپاره د مال غنيمت د تقسيم نه وړاندې واخستې شى.نو څه حرج نشته.خو روسته به هغه واپس كول وى.

---

[1] فتح البارى (٧/٤٨٠)_

[2] فتح البارى(٧/٤٨٠)_

[٣٩٧٨] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ وَسَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ أَكْلِ الثُّومِ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ نَهَى عَنْ أَكْلِ الثُّومِ هُوَ عَنْ نَافِعٍ وَحْدَهُ وَلُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ عَنْ سَالِمٍ [ر: ٨١٥، ٣٩٨١، ٣٩٨٢ و ٥٢٠٢، ٥٢٠٣ وانظر: ٥٥٣١]

دا روایت عبیدالله د نافع او سالم نه نقل کوی.وړاندې چه خې نو دوی بیانوی .چه د اکل ثوم مسئله ما د نافع نه روایت کړې ده.اود لحوم الحمر الاهلیه مسئله مې د سالم نه روایت کړې ده. دواړه ئې چونکه وړاندې جمع کړی وو.نو چا ته شك كيدې شو.چه د دواړو نه دواړه مسئلې منقول دی.نوځکه ئې وړاندې وضاحت اوکړو.

دجمهورو په نیز باندې اوګه خوړل جائز دی.البته ددې خبرې احتیاط کول پکار دې.چه پخه کړې شی.نو ددې استعمال پکار دې.دې دپاره چه بدبوئی ئې د اذیت سبب نشی.

[٣٩٧٩] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَالْحَسَنِ ابْنَيْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَبِيهِمَا عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

دا روایت دحضرات اهل بیت نه منقول دې.دحضرت ابن شهاب نه پس ټول راویان د اهل بیت سره تعلق ساتی.

نکته ددې روایت یو راوی حضرت محمد بن علی ،، دې.د هغه د مور نوم ،،حنفیه،، وو. اودا د حضرت علی رضي الله عنه خوئې دې.عام طور مور طرف ته منسوب کولې شی.او ده ته محمد بن حنفیه وائی.حنفیه د حضرت علی رضي الله عنه وینځه وه.

رافضی دوی ته ((اله اصغر)) وائی.عجیبه خبره ده.چه محمد بن حنفیه د کومې وینځې نه پیدا شوې وو.هغه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کښې په جهاد کښې په مال غنیمت کښې راغلې وه.اوحضرت علی رضي الله عنه ته ملاؤ شوې وه.بیا دهغې نه د حضرت علی رضي الله عنه خوئې محمد بن حنفیه پیدا شو.نو العیاذبالله ثم العیاذ بالله حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه که په حق نه وې.او معاذ الله هغه د ایمان نه خارج وو.او هغه ظالم او غاصب وو.نو بیا به دهغه جهاد ته هم اسلامی جهاد نشی وئیلې.اوپه دغه جهاد کښې چه کوم مال غنیمت راشی هغې ته هم اسلامی غنیمت نشی وئیلې.نوپه دې غنیمت کښې وینځه ملاویږی. په هغې باندې هم ملك یمین صحیح نه ثابتیږی.نودغه شان کمه د اله اصغر نسب مشکوك شی.ددې وجې روافضو ته پکار دی.چه د حضرت ابوبکر په شان کښې د بدو ردو وئیلو نه مآل او انجام به څه راوځی.د دوی د اله اصغر په نسب کښې په دې سره د طعن موقع پیدا کیږی.

حرمت متعه: په دې روایت کښې د متعه حرمت بیان شوې دې.دا خبره خو به بیا روسته راشی.چه متعه په خیبر کښې حرامه ګرځولې شوې وه.که په فتح مکه کښې که په غزوه اوطاس کښې که په حجة الوداع کښې،اوکه په تبوك کښې،البته د متعه حرمت کوم چه په اجماع دامت یوه متفق علیه مسئله ده.په دې باره کښې څو خبرې پیش کول دی.

د روافضو په نيز متعه او ددې مرتبه: د اهل تشيع او روافضو په نيز متعه نه يواځې دا چه حلاله ده بلکه عظيم الشان عبادت دې.ددوى دا نظريه ده.که يو سړې يو ځل متعه اوکړى. نودهغه درجه د حضرت حسين رضي الله عنه برابريږى.اوکه دا سعادت هغه ته دوباره حاصل شى.نو هغه د حضرت حسن رضي الله عنه د مرتبې برابريږى.اوچه څوك درې ځله متعه اوکړى.نودهغه درجه دحضرت على رضي الله عنه د مرتبې سره برابريږى.اوڅوك چه څلور ځله متعه اوکړى،نودهغه درجه نعوذ بالله د نبى صلى الله عليه وسلم د درجې سره برابريږى. وائى.چه متعه کونکې کله د متعې نه پس غسل کوى.نو دغسل په دوران کښې چه کوم څاڅکى غورځيږى.د هريو څاڅکى نه يوه فرښته پيدا کيږى.اوهغه د دغه متعه کونکې دپاره د مغفرت او رفع درجات دعا کوى.د متعه دا فضيلت دهغوى په خپلو کتابونو کښې موجود دې.(١)

د روافضو متعه خالصه زنا ده: د روافضو په نيز چه کومه متعه رائج ده.دا خالصه زنا ده.د دوى په متعه کښې ګواهان نه وى.ولى نه وى.نفقه نه وى واجب،سکنى،عدت،ميراث او نسب نومې هيڅ څه څيز ثابت نه وى.بس يو سړې د يوې ښځې نه د تمتع حاصلولو دپاره د اجرت په بدله کښې معاهده کوى.(٢) اوښکاره ده چه هم دې خپل مينځ کښې رضا مندئ سره زنا هم کيږى.دا بيله خبره ده. چه په زنا کښې د اجرت مقرر کول څه ضرورى نه وى.زنا بغير اجرته هم کيږى.او اجرت سره هم کيږى.اوپه متعه کښې اجرت وى.په هيڅ يو آسمانى دين کښې کله هم زنا نه ده حلاله شوې.نودغه شان د روافضو مذکوره متعه هم حلاله نه ده.

د حلت متعه دپاره په ايت قرانى باندې د روافضو غلط استدلال: متعه په حلت باندې روافض د قرآن مجيد په دې آيت باندې استدلال کوى.

﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ (٣)

روافض وائى.چه په دې آيت کښې د متعه ذکر هم شته.او د اجرت هم،دغه شان دحضرت ابى بن کعب اوحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه په قراءت کښې د «الى أجل مسمى»اضافه هم شته.

---

١ ،د شيعه ګانو مشهور کتاب ،،تفسير منهاج الصادقين،، چه شيعه ګان ورته تفسير کبير وائى.او د دې مفسر فتح الله کاشانى شيعه مجتهد دې.په دې کښې د متعه فضائل بيانوى.او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته منسوب دا روايت نقل کوى.چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى.((من تمتع مرة کان درجته کدرجة الحسن، ومن تمتع مرتين فدرجته کدرجة الحسن،ومن تمتع ثلاث مرات کان درجته کدرجة على بن ابى طالب ومن تمتع أربع مرات فدرجته کدرجتى –(منهاج الصادقين:٤٩٣)،
دغه شان شيعه مجتهد سيد ابوالقاسم په خپل کتاب ،،برهان المتعه،، کښې دامام جعفر صادق نه دا روايت نقل کوى.
((قال ابوعبدالله :ما من رجل تمتع ثم اغتسل إلا خلق الله من کل قطرة تقطر منه سبعين ملکاً يستغفرون له إلى يوم القيامة) شيعيت کا اصلى رو پ صفحه ٣٠ په حواله د برهان المتعه:٥٠)_

٢ ،اوګورئ شيعيت کا اصلى رو پ(٢٩٨) په حواله د تهذيب الاحکام (٤٥١\٥و ٤٥٥و ٤٥٦) طبع تهران)

٣ ،سورة النساء (٢٤)_

د دوی قراءت دې.((فما استمتعتم به منهن إلى أجل مسمى ..)) [1] کښې د اجل، متعه او اجرت درې واړوخیزونو ذکر دې.او ددې نوم متعه ده.نو دمتعه ثبوت په قرآن کښې موجود دې.

د ایت صحیح مفهوم: خوداتلبیس دې.که د قرآن کریم د آیت په سیاق او سباق کښې غور اوکړې شی.نو خبره بې غباره کیږی.چه د آیت کریمه صحیح مفهوم ښکاره کیږی.ددې آیت نه وړاندې آیت کښې الله تعالی د محرماتو تفصیل بیان کړې دې.﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ﴾ الخ) ددې نه پس متصل په دویم آیت کښې د هغه ښځو خودنه شوی ده.چا سره چه نکاح حلاله او جائز ده.نوفرمانی.﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ﴾ یعنی د ذکر شوو محرماتو نه علاوه باقی ښځو سره نکاح جائز ده.بیا په ((وَأُحِلَّ لَكُمْ)) باندې تفریع کوی.او فرمائی.﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ﴾ الخ. یعنی کله چه په تاسو په دې حلالو ښځوکښې د چا سره نکاح اوکړه.اودهغې نه مو استمتاع هم اوکړه.نو دهغې پوره مهر هغې ته ورکړئ.ددې سیاق او سباق کتلو نه دا خبره ښه ښکاره معلومیږی.چه په .﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ﴾ سره د څه مستقل څیز نشی ورکولې.بلکه دا په ماقبل کلام باندې تفریع او د هغې تتمه ده.

پاتې شوه دا خبره چه په دې کښې د((أُجُوْرَهُنَّ)) لفظ راغلې دې.نو اطلاعاً عرض دې.چه دلته ((أجورهن)) په اتفاق سره د ((مهورهن)) په معنی کښې دې.د مهر دپاره قرآن په نورو آیاتونو کښې هم د ، ،اجر، ، لفظ استعمال کړې دې.لکه ﴿فَانْكِحُوْهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ أُجُوْرَهُنَّ﴾[2] او ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ إِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ أُجُوْرَهُنَّ﴾ [3] په دې آیاتونو کښې((أُجُوْرَهُنَّ)) په اتفاق سره د ((مهورهن)) په معنی کښې دې.

د مهر دپاره داجرت د لفظ د استعمال وجه دا ده.چه مهرد ښځې دمنافعو عوض وی.د هغې د ذات عوض نه وی.اوکوم څیز چه د منافعو عوض وی.هغې ته اجرت وائی.

ترکومې پورې چه د حضرت عبدالله بن عباس او ابی بن کعب رضی الله عنهم د قراءت تعلق دې.نو د دوی دا قراءت شاذه دې.چه استدلال ترې نشی کیدې.[4]

((فما استمتعتم به..))نه که د رافضیانو متعه مراد واخستې شی.نو په دې سره یو بله خرابی دا لازمیږی.چه دآیت په اولنۍ او آخرنۍ حصه کښې به تعارض پیدا شی.څکه چه د آیت په اولنۍ حصه کښې ونیلې شوی دی.چه دمحرماتو نه سوا چه د کومو ښځو سره تاسو نکاح کوی.چه په دغه نکاح سره د عفت او پاکدامنۍ طلبګار شئ.د نکاح نه د شهوت پوره کول

---

[1])اوګورئ الجامع لأحکام القرآن للقرطبی (۱۳۰/۵) ومعالم السنن للخطابی (۱۹/۳)_~
[2])سورة النساء ۲۵_
[3])سورة الممتحنة ۱۰_
[4])د تفصیلی بحث دپاره اوګورئ تفسیر قرطبی (۱۲۹/۵و ۱۳۴)_~

مقصد جوړول نه دی پکار.نو فرمائیلی شوی دی.((محصنين غير مسافحين..)) اوس که ((فما استمتعتم به..)) نه د روافضو متعه مراد شی.نوهغه خو ده د شهوت پوره کولو دپاره،او ددې نه وړاندې ممانعت شوې دې.نودغه شان به د کلام په اول او آخر کښې تعارض پیدا شی.

په حرمت متعه باندې قرانی ایاتونه د حدیث نه علاوه د قران کریم هم ګڼړ آیاتونه د متعه په حرمت باندې دلالت کوی.په سورة معارج کښې فرمائیلی شوی دی.

﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ۝ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ۝﴾[1]

په دې آیاتونوکښې دوه قسمه ښځو سره دهمبسترئ اجازت ورکړې شوې دې .یوازواج یعنی هغه ښځې دکومو نه چه دعقد نکاح په ذریعه انسان تمتع حاصلولې شی.اودویم چه دملك یمین په ذریعه دانسان په ملکیت کښې راتلونکې وینځې،ددې دوو نه سوا د بل چا نه خپل شهوت پوره کونکو باره کښې وئیلې شوی دی.چه داسې خلق سرکش او باغیان دی.اوښکاره ده چه د کومې ښځې سره متعه کولې شی.هغه د دې دوو قسمونو نه په یو کښې هم نه ده داخله،هغې ته ته ښځه نشې وئیلې.ځکه چه زوجې دپاره میراث، سکنی، عدت، او ددې نه د پیدا شوی بچی نسب ثابتیږی.حال دا چه په متعه کښې د ښځې دپاره په ذکر شوو څیزونو کښې روافض د هیڅ څیز ثبوت نه منی.دغه شان په دې باندې د وینځې اطلاق هم نشی کیدې.ځکه چه وینځه خرڅولې شی.خوچه کومې ښځې سره متعه کولې شی.هغه نشی خرڅولې.ددې وجې متعه کونکی خلق په﴿ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ۝﴾ کښې داخل دی.او ددې آیت نه د متعه حرمت بیخی ښکاره ثابتیږی.

دغه شان د سورة نساء د دې آیت نه هم حرمت متعه ثابتیږی﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ﴾[2]

دلته هم یا دنکاح اجازت دې اویا د ملك یمین،اومتعه نه نکاح ده اونه په دې کښې د ملك یمین صورت موندلې شی.دغه شان دلته دا قید دې چه نکاح په یو وخت کښې صرف د څلورو ښځو سره کیږی.عدد مقرر دې.اومتعه په یو وخت کښې د روافض په نیز د لسو ښځو سره هم کولې شی.بلکه زرو ښځو سره هم کولې شی.[3]

دغه شان د قرآن پاك ددې آیت نه هم حرمت متعه ثابتیږی.﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ﴾ [4] اوځوك چه د نکاح قدرت نه لری.هغوی دې خپل ځان په قابو

---

[1] ،سورة المعارج (٢٩و ٣٠ز ٣١)_

[2] ،سوة النساء (٣)_

[3] ، د شیعه ګانو په کتاب ،،تهذیب الاحکام،، کښې دی((تزوج منهن ألفاً فإنهن مستاجرات)) ص.٤٥٢)_

[4] ،سورة النور:٣٣)_

کښې ساتي.تردې چه الله تعالی په خپل فضل سره غنیان کړي.(نو بیا دې نکاح کوي)
دا آیت ښکاره ښائی.که د یو کس مالي طاقت دومره نه وي.چه هغه د نکاح اونفقې وغیره اخراجات برداشت کړي.نودهغه دپاره دا حکم دې.چه هغه دې د پاکدامنه اوسیدو کوشش کوي.او خپل نفس دې په ضبط او قابو کښې ساتي.کله چه الله تعالی دده مالي حالت مستحکم کړي.نو بیا دې نکاح کوي.که دمتعه د جواز څه صورت په اسلام کښې جائز وو. نو په آیت کښې د دې اسلوب اختیارولو څه ضرورت وو.د غناء نه وړاندې به ده ته د عفیف اوپه قابو کښې د اوسیدو په ځائې د متعه حکم ورکړې شوې وو.(۱)
دغه شان د قرآن پاك د سورة فرقان آیت .﴿وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا﴾(۲) کښې نسب او مصاهرت د الله تعالی د نعمتونو په سلسله کښې شمارلی شوی دی.اوښکاره ده چه د نسب او مصاهرت ترتب په نکاح باندې کیږي.په متعه باندې نه کیږي.بیا که چرته متعه د روافضو د قول مطابق لوئې عبادت وي.نو لکه څنګه چه په نکاح کښې اظهار او اعلان کیږي.تهنیئت او مبارکی پیش کولې شي.نودا خلق په متعه کښې داسې ولې نه کوي.تر نن ورځې پورې د هیڅ یو رافضی نه چا په فخر سره دا نه دی اوریدلی.چه هغه د خپلې مور یا خور د متعو ذکر کړی وي.او د دې عظیم عبادت په اظهار باندې ئې د خوشحالئ اظهار کړې وي.
حقیقت دا دې.چه د دوی زړه په خپله دننه په دې باندې مطمئن نه دې.نو د شهوت پوره کولو اود دین اسلام نه د ډډې او انحراف په وجه دوی خالص زنا ته د متعه نوم ورکړې دې.او ددې د جواز ډنډورا وهل ئې شروع کړی دی.الله تعالی دې مونږ ته د دین اسلام د صحیح پوهې توفیق راکړي.اود شیطان د چالونو نه دې مونږ بچ کړي.(آمین)
په ابتداء اسلام کښې چه کومه متعه حلاله وه.هغه په حقیقت کښې نکاح موقت وه. دلته چه په روایت کښې د کومې متعه حرمت ذکر دې.چه رسول الله ﷺ د متعه نه ممانعت اوکړو.ددې نه د رافضیانو متعه مراد نه ده.لکه څنګه چه بیان شو.چه د رافضیانو متعه زنا ده.اود زنا اجازت په اسلام کښې هیڅ کله هم نه دې ورکړې شوې.په ابتداء اسلام کښې چه د کومې متعه اجازت وو.هغه په حقیقت کښې نکاح موقت وه.نکاح موقت د زنا اود صحیح نکاح په مینځ کښې یو څیز دې.په نکاح موقت باندې نه د صحیح نکاح اطلاق صحیح دې.اونه دې ته زنا وئیلی شي.نکاح صحیح ورته ځکه نشي وئیلې.چه په نکاح صحیح کښې

---

(۱) خود قرآن ددې حکم بیخی په عکس باندې دې د ایران د صدر دا حکم اوکتې شی.د ایران صدر مسترعلي اکبر هاشمي رفسنجاني په ایران کښې ټولو کونډو او پیغلو جینکو ته دا مشوره ورکړې ده.چه دوی د جنسي خواهش پوره کولو دپاره د عارضی مودې دپاره غیررسمي ودونه اوکړي.ده دا خبره د تهران په یونیورسټي کښې د جمعې په خطبه کښې کړې وه.هغه دا هم وئیلی دی.چه دا ودونه دې صرف هغه کسان کوي.چه هغوی غیرشادی شده وي.(شیعیت کا اصلی روپ په حواله د روزنامه خادم وطن سندهی مورخه دسمبر ۱۹۹۰ ء اردو ترجمه)۔

(۲) سورة الفرقان: ۵۴۔

ميراث.اود فرقت نه پس عدت وی.او نکاح موقت کښې دا څيزونه نه وی.خو دې ته زنا هم نشی وئيلې.ځکه چه دا عقد د ګواهانو په موجودګئ کښې کيږی.اوپه دې کښې استبراء هم وی.دغه شان د ولی اجازت په کښې هم وی.ددې وجې دې ته زنا نشی وئيلې.

په نکاح موقت اود روافضو په متعه کښې فرق دا خبره خو ستاسو په علم کښې راغله، چه په ابتداء داسلام کښې د کومې متعه جواز وو هغه نکاح موقت وه.خوکومه متعه چه په روافضو کښې رائج ده.دا نکاح موقت نه ده.زنا ده.په نکاح موقت او متعه روافض کښې فرق دا دې. چه په نکاح موقت کښې ګواهان وی.د ولی اجازت وی.استبراء (بحيضة واحدة) وی.اوپه روافضوکښې چه کومه متعه ده.په دې کښې نه ګواهان وی.اونه د ولی اجازت اونه استبراء.

د متعه يا نکاح موقت جواز په ابتداء د اسلام کښې بيخی هم داسې وو.لکه څنګه چه د سود او شرابو جواز په ابتداء د اسلام کښې وو.نولکه څنګه چه د سود اوشرابو د حرمت نه پس ددې د جواز څه صورت پاتې نشو. دغه شان د نکاح موقت او متعه د جواز هم ددې د حرمت د اعلان نه پس څه صورت پاتې نشو.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما طرف ته د جواز متعه نسبت حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته په بعضې رواياتوکښې دا خبره منسوب ده.

چه هغوی دمتعه د جواز قائل وو.خو هغوی ته ددې نسبت دهغوی د اقوال شاذه په بنياد باندې دې.نو ددې اعتبار به نشی کولې.دغه شان دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه رجوع هم ثابته ده.[1]

حضرت سعيد بن جبير رحمه الله يو ځل حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته اووئيل .چه تا څه فتوی ورکړې ده.((سارت بها الركبان وقالت فيها الشعراء)) يعنی ستا دې فتوې ته خلق شهرت ورکوی.شاعرانو هم ددې فتوې په بارد کښې شاعری کړې ده.حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اووئيل.شاعرانو څه ووئيلی دی.نو سعيد بن جبير رحمه الله د يو شاعر دا اشعار واورول.

وقد قلت للشيخ لما طال محبسه	يا صاح هل لك فی فتيا ابن عباس
هل لك فی رخصة الأطراف آنسة	تكون مثواك حتى مصدر الناس

ترجمه: ما شيخ ته اووئل.کله چه د هغه استوګنه ډيره اوږده شوه.چه صاحبه! تا ته د (دجواز متعه په باره کښې) د ابن عباس په فتوی کښې څه دلچسپی شته.او آيا نرم او نازکو اندامو پيغله کښې ستا څه رغبت شته.چه هغه دخلقو د تلو نه پس ستا ټکانه شی.(اوته هغې سره متعه اوکړې)

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما چه کله دا اشعار واوريدل.نو د استغفار وئيلو نه پس ئې اوفرمائيل. ((وما هی إلا كالميتة والدم والخنزير))[2]

---

[1] امام ترمذی فرمائی.((وإنما روی عن ابن عباس رضی الله عنهما شئ من الرخصة فی المتعة ثم رجع عن قوله حيث أخبر عن النبی صلی الله عليه وسلم)) الجامع الصحيح للترمذی (۲۱۳/۱۱) باب ما جاء فی نكاح المتعة)_

[2] اوګورئ التعليق الصبيح على مشكاة المصابيح (۲۶/۴و۲۷) ومعالم التنزيل للخطابی (۱۹/۳)_

پاتې شوه دا چه د متعه د جواز هغه په ابتداء کښې ولې قائل وو.نو ددې وجه دا وه.چه نبی ﷺ کله د متعه د حرمت اعلان کړې وو.په هغه وخت کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د کم عمر وو.ددې وجې هغه ته ددې خبر اونشو.دې سره سره دا خبره دې یاده وی.چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د کومې متعه د جواز قائل وو.هغه نکاح موقت وه.د رافضیانو متعه نه وه.

قوله: نهى رسول الله ﷺ عن متعة النساء يوم خيبر: دحضرت علی رضی الله عنه په دې روایت کښې د غزوه خیبر په موقع باندې د متعه حرمت بیان شوې دې.د نسخ په روایاتو خو اتفاق دې.چه متعه منسوخ شوې ده.البته په دې کښې روایات مختلف دی.چه کله او په کومه موقع دا منسوخ شوې ده.د بعضې روایاتونه په غزوه خیبر کښې ([1]) اود بعضې نه په فتح مکه کښې ([2]) د بعضې نه په غزوه أوطاس کښې ([3]) دبعضې نه په تبوك کښې ([4])اودځه روایاتو نه په حجة الوداع کښې ([5]) ددې د حرمت اعلان معلومیږی.

خود تبوك روایات د ضعف د وجې قابل اعتبار نه دی.([6]) په کومو روایاتو کښې چه دحجة الوداع په موقع باندې د متعه د حرمت د اعلان ذکر دې.هغه روایات صحیح دی.خوچونکه د حجة الوداع په موقع باندې د مسلمانانو ډیره لویه جمع وه.ددې وجې خلقو ته د خبر ورکولوډپاره نبی ﷺ ددې د حرمت دوباره اعلان اوکړو.دحرمت اعلان خو نبی ﷺ وړاندې کړې وو.په دې موقع ئې د تحریم سابق نه خبرلو دپاره دوباره اعلان اوکړو.([7])

ترکومې پورې چه دهغه روایاتو تعلق دې.د کومو نه چه معلومیږی.چه په غزوه اوطاس کښې د متعه د حرمت اعلان شوې وو.نو په دغه روایاتو کښې د غلط فهمۍ دخل دې.چونکه غزوه اوطاس د فتح مکې نه پس متصل واقع شوې وه.ځکه بعضې راویانو د فتح مکې په ځائې د غزوه اوطاس ذکر کړې دې.([8])

اوس دوه قسمه روایات باقی پاتې کیږی.په هغې کښې د بعضو نه په غزوه خیبر کښې ددې د حرمت اعلان معلومیږی.او په بعضوکښې د فتح مکه په موقع د متعه د حرمت د

---

[1] ،لکه څنګه چه په حدیث کښې باب کښې دی_

[2] ،په کنزالعمال کښې روایت دې.((عن سبرة أن رسول الله ﷺ نهى عن متعة النساء فى حجة الوداع)) كنز العمال ١٦\٥٢٥) رقم ٤٥٧٣٧)_

[3] ،حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی.((رخص النبى ﷺ عام أوطاس فى المتعة ثلاثا ثم نهى عنها(صحيح مسلم (١١\٤٥١) باب ما جاء فى متعة النكاح)_

[4] ، وفى رواية إسحاق بن راشد عن الزهرى .. أن النبى ﷺ نهى فى غزوة تبوك عن نكاح المتعة (فتح البارى (١٦٨\٩)_

[5]) عن محمد بن حنفية قال تكلم على وابن عباس فى متعة النساء قال له على إنك إمرأ تأته إن رسول الله نهى عن متعة النساء فى حجة الوداع) كنز العمال (٦٢٨\١٦)_

[6] ،اوګورئ فتح البارى(١٧٠\٩)_

[7] ،فتح البارى (١٧٠\٩)_

[8] ،فتح البارى (١٧٠\٩)_

اعلان ذکر دې.
دامام شافعی رحمه الله او بعضې نور ملګرو رائې دا ده.چه د متعه حرمت اول په غزوه خیبر کښې شوې وو.د دې نه پس د فتح مکه په موقع د درې ورځو دپاره دا مباح ګرځولې شوې وه.او د درې ورځو نه پس همیشه دپاره دا حرام کړې شوه .دغه شان ددې حرمت او اباحت دواړه مکرر دی.او د قبلې پشان په دې کښې هم دوه ځله نسخ شوې ده.(١)
امام نووی رحمه الله دا راجح او مختار ګرځولې ده.(٢) والله اعلم

[٣٩٨٠/٣٩٨١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

[٣٩٨١] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ وَسَالِمٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ [ر:٣٩٧٨]

[٣٩٨٢] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَرَخَّصَ فِي الْخَيْلِ [ر:٥٢٠١و٥٢٠٤]

[٣٩٨٣/٣٩٨٦] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا عَبَّادٌ عَنْ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ يَوْمَ خَيْبَرَ فَإِنَّ الْقُدُورَ لَتَغْلِي قَالَ وَبَعْضُهَا نَضِجَتْ فَجَاءَ مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَأْكُلُوا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ شَيْئًا وَأَهْرِقُوهَا قَالَ ابْنُ أَبِي أَوْفَى فَتَحَدَّثْنَا أَنَّهُ إِنَّمَا نَهَى عَنْهَا لِأَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ نَهَى عَنْهَا الْبَتَّةَ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَأْكُلُ الْعَذِرَةَ

[٣٩٨٤] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ عَنْ الْبَرَاءِ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَصَابُوا حُمُرًا فَطَبَخُوهَا فَنَادَى مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْفِئُوا الْقُدُورَ

[٣٩٨٥] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ وَابْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ يُحَدِّثَانِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ وَقَدْ نَصَبُوا الْقُدُورَ أَكْفِئُوا الْقُدُورَ

حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ الْبَرَاءِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ

---

١) زاد المعاد (٣/٣٤٤)_
٢) اوګورئ شرح مسلم للنووی (١١/٤٥٠)_

[٣٩٨٦] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنْ عَامِرٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ أَنْ نُلْقِيَ الْحُمُرَ الْأَهْلِيَّةَ نِيئَةً وَنَضِيجَةً ثُمَّ لَمْ يَأْمُرْنَا بِأَكْلِهِ بَعْدُ

[٣٩٨٧] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي الْحُسَيْنِ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ عَاصِمٍ عَنْ عَامِرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَا أَدْرِي أَنَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ كَانَ حَمُولَةَ النَّاسِ فَكَرِهَ أَنْ تَذْهَبَ حَمُولَتُهُمْ أَوْ حَرَّمَهُ فِي يَوْمِ خَيْبَرَ لَحْمَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ

قوله: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ .....وَرَخَّصَ فِي الْخَيْلِ: د اس د غوښې په باره کښې د امامانو اختلاف دې.

① دامام شافعی امام ابویوسف امام محمد او اکثرو عالمانو رحمهم الله په نیز دده غوښه جائز او مباح ده.[1]

② دامام ابوحنیفه او امام مالك رحمهما الله په نیز مکروه ده.[2] بعضې مالکیانو دې ته مکروه تحریمی وئیلی ده.او بعضو مکروه تنزیهی.[3] په احنافو کښې صاحب د هدایه د لحم خیل مکروه تحریمی کیدو طرف ته مائل دې.او دامام ابوبکر جصاص میلان کراهت تنزیهی طرف ته دې.[4]

دجمهورو استدلال په حدیث باب باندې دې.اود امام اعظم او امام مالك رحمهما الله استدلال دحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه په روایت باندې دې.کوم چه امام ابوداود ،امام نسائی،او ابن ماجه رحمهم الله روایت کړې دې.((نهی رسول الله ﷺ عن أکل لحوم الخیل والبغال والحمر...))[5]

دامام ابوحنیفه رحمه الله نه د صاحبینو رحمهما الله قول طرف ته رجوع هم منقول ده.[6]

[٣٩٨٨] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمًا قَالَ فَسَّرَهُ نَافِعٌ فَقَالَ إِذَا كَانَ مَعَ الرَّجُلِ فَرَسٌ فَلَهُ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَسٌ فَلَهُ سَهْمٌ [ر:٢٧٠٨]

---

[1] اوګورئ شرح مهذب (٤١٩)_
[2] شرح المهذب (٤١٩)_
[3] اوګورئ اوجز المسالک (١٨٠١٩)_
[4] اوجز المسالک (١٨١١٩)_
[5] إعلاء السنن (١٤٤١١٧)_
[6] اوجز المسالک (١٨٠١٩)_

قوله: قَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمًا: دا مشهوره اختلافي مسئله ده.

① دجمهورو اوصاحبينو ﷺ په نيز د فارس دپاره درې حصې دي.دوه حصې د اس او يوه حصه د فارس خپله،اود راجل دپاره يوه حصه ده.

② دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د فارس دپاره دوه او د راجل دپاره يوه حصه ده.(¹)

دخيبر دغنيمتونو تقسيم. دخيبر د غنيمت نه اول شپږ ديرش حصې جوړې کړې شوې.په کومو کښې چه اتلس حصې د مسلمانانود عامو ضرورياتو دپاره مختص کړې شوې.او باقى اتلس حصې په مجاهدينو باندې تقسيم کړې شوې.(²)

په مجاهدينو کښې دا اتلس حصې څنګه تقسيم کړې شوې.په دې کښې روايات مختلف دي.مشهوره دا ده.چه ټول څوارلس سوه صحابه وو.په دې کښې دوه سوه فارسان وو.د څوارلس سوه صحابو ﷺ څوارلس حصې شوې.په يو حصه کښې سل کسان شريك شو.او باقى څلور حصې د اسونو شوې.ځکه چه دهر يو اس دوه حصې وې.نود دوو سوو اسونو څلور سوه حصې شوې.دغه شان دا اتلس حصې تقسيم شوې.(³)

دا تقسم د جمهورو او صاحبينو ﷺ د مذهب مطابق دې.چه فارس ته درې او راجل ته يوه حصه ملاؤ شوه.خوامام ابوداود په خپل سنن کښې د مجمع بن جاريه ﷺ نه روايت نقل کړې دې.چه په خيبر کښې د مجاهدينو تعداد پنځلس سوه وو.په هغوى کښې درې سوه سوارهٔ وو.نبى ﷺ هريو سور ته دوه دوه حصې ورکړې.او هرپيدل ته يوه يوه حصه ورکړه.نو په اتلس حصو کښې شپږ حصې درې سوه فارسانو ته ملاؤ شوې.او باقى دولس حصې دولس سوه راجلينو ته ملاؤ شوې.(⁴)

ددې روايت مطابق د خيبر د غنيمت تقسيم د امام اعظم رحمه الله د مذهب مطابق شوې دې.ددې مسئلې مکمل تحقيق او د طرفينو دلائل په کتاب الجهاد باب سهام الفرس کښې تير شوى دى.

[۳۹۸۹] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ جُبَيْرَ بْنَ مُطْعِمٍ أَخْبَرَهُ قَالَ مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ وَتَرَكْتَنَا وَنَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْكَ

---

[1] بذل المجهود فى حل أبى داود (۳۳٤\۱۲) دغه شان فتح البارى (۶۸\۶) كتاب الجهاد باب سهام الفرس)

[2] وفى زاد المعاد (۳۲۸\۳) وقسم رسول الله ﷺ خيبر على ستة وثلاثين سهماً جمع كل سهم مائة سهم فكانت ثلاثة آلاف وستمأة سهم فكان لرسول الله ﷺ وللمسلمين النصف من ذلک وهو ألف وثمان مائة سهم وعزل النصف الآخر وهو ألف وثمان مائة سهم لنوائبه وما ينزل به من أمور المسلمين)_

[3] زاد المعاد (۳۳۰\۳)_

[4] سنن ابى داود كتاب الجهاد باب فى من أسهم له سهم رقم ۲۷۳۶)_

فَقَالَ إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ قَالَ جُبَيْرٌ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَبَنِي نَوْفَلٍ شَيْئًا [ر:۲۹۷۱]

حضرت جبیربن مطعم رضی اللہ عنہ فرمائي، چه زه اوحضرت عثمان دواړه د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، اوهغوی ته مو ګیله اوکړه. چه تاسو د خیبر په مال خمس کښې بنوالمطلب ته حصه ورکړه. او مونږ مو پریخودو. حال دا چه مونږ او هغوی تاسو سره په قرابت کښې برابر یو.

په اصل کښې د عبد مناف څلور خامن وو. ① هاشم ② مطلب ③ عبدشمس ④ نوفل، نبي ﷺ د هاشم په اولاد کښې وو. حضرت جبیر رضی اللہ عنہ د نوفل په اولاد کښې وو. او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د عبدشمس په اولاد کښې وو. نود رشته دارئ او قرابت په لحاظ سره بنو هاشم ته بنو المطلب، بنو عبدالشمس اوبنو نوفل یوشان وو. ددې وجې جبیر او عثمان رضی اللہ عنہما راغلل. او ګیله ئې اوکړه. چه هرکله په قرابت کښې مونږ ټول برابر یو. نو بیا مونږ ته هم په مال خمس کښې حصه ملاویدل پکاروو. خو رسول الله ﷺ اوفرمائیل.

قوله: إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ: دابوداود وغیره په روایت کښې ددې نه پس دا زیادت هم شته. «أنا وبنوالمطلب لم نفترق فی جاهلية ولا فی إسلام» دا دې طرف ته اشاره وه. چه کله قریشو د بنو هاشم سره مقاطعه اوکړه. نوپه دغه وخت کښې بنو المطلب د بنو هاشم سره ملګرتیا کړې وه. او بنو نوفل او بنو عبد شمس ملګرتیا نه وه کړې. نو چونکه بنو هاشم او بنو المطلب د قرابت سره سره په نصرت او مدد کښې هم په خپلو کښې شریك وو. ددې وجې نبي ﷺ دوی «شيء واحد» اوویئیل.[1]

[۳۹۹۰/۳۹۹۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَلَغَنَا مَخْرَجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِالْيَمَنِ فَخَرَجْنَا مُهَاجِرِينَ إِلَيْهِ أَنَا وَأَخَوَانِ لِي أَنَا أَصْغَرُهُمْ أَحَدُهُمَا أَبُو بُرْدَةَ وَالْآخَرُ أَبُو رُهْمٍ إِمَّا قَالَ بِضْعٌ وَإِمَّا قَالَ فِي ثَلَاثَةٍ وَخَمْسِينَ أَوِ اثْنَيْنِ وَخَمْسِينَ رَجُلًا مِنْ قَوْمِي فَرَكِبْنَا سَفِينَةً فَأَلْقَتْنَا سَفِينَتُنَا إِلَى النَّجَاشِيِّ بِالْحَبَشَةِ فَوَافَقْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَأَقَمْنَا مَعَهُ حَتَّى قَدِمْنَا جَمِيعًا فَوَافَقْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ وَكَانَ أُنَاسٌ مِنَ النَّاسِ يَقُولُونَ لَنَا يَعْنِي لِأَهْلِ السَّفِينَةِ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ وَدَخَلَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ وَهِيَ مِمَّنْ قَدِمَ مَعَنَا عَلَى حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَةً وَقَدْ كَانَتْ هَاجَرَتْ إِلَى النَّجَاشِيِّ فِيمَنْ هَاجَرَ فَدَخَلَ عُمَرُ عَلَى حَفْصَةَ وَأَسْمَاءُ عِنْدَهَا فَقَالَ عُمَرُ حِينَ رَأَى أَسْمَاءَ مَنْ هَذِهِ قَالَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ قَالَ عُمَرُ الْحَبَشِيَّةُ هَذِهِ الْبَحْرِيَّةُ هَذِهِ قَالَتْ أَسْمَاءُ نَعَمْ قَالَ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ فَنَحْنُ أَحَقُّ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكُمْ فَغَضِبَتْ وَقَالَتْ كَلَّا وَاللَّهِ كُنْتُمْ مَعَ

---

[1] فتح البارى (٦/٢٤٥)۔

رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطْعِمُ جَائِعَكُمْ وَيَعِظُ جَاهِلَكُمْ وَكُنَّا فِي دَارٍ أَوْ فِي أَرْضِ الْبُعَدَاءِ الْبُغَضَاءِ بِالْحَبَشَةِ وَذَلِكَ فِي اللَّهِ وَفِي رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَايْمُ اللَّهِ لَا أَطْعَمُ طَعَامًا وَلَا أَشْرَبُ شَرَابًا حَتَّى أَذْكُرَ مَا قُلْتَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ كُنَّا نُؤْذَى وَنُخَافُ وَسَأَذْكُرُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَسْأَلُهُ وَاللَّهِ لَا أَكْذِبُ وَلَا أَزِيغُ وَلَا أَزِيدُ عَلَيْهِ فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّ عُمَرَ قَالَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَمَا قُلْتِ لَهُ قَالَتْ قُلْتُ لَهُ كَذَا وَكَذَا قَالَ لَيْسَ بِأَحَقَّ بِي مِنْكُمْ وَلَهُ وَلِأَصْحَابِهِ هِجْرَةٌ وَاحِدَةٌ وَلَكُمْ أَنْتُمْ أَهْلَ السَّفِينَةِ هِجْرَتَانِ قَالَتْ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَبَا مُوسَى وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ يَأْتُونِي أَرْسَالًا يَسْأَلُونِي عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ مَا مِنَ الدُّنْيَا شَيْءٌ هُمْ بِهِ أَفْرَحُ وَلَا أَعْظَمُ فِي أَنْفُسِهِمْ مِمَّا قَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو بُرْدَةَ قَالَتْ أَسْمَاءُ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَبَا مُوسَى وَإِنَّهُ لَيَسْتَعِيدُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنِّي

[٣٩٩١] قَالَ أَبُو بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ أَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْأَشْعَرِيِّينَ بِالْقُرْآنِ حِينَ يَدْخُلُونَ بِاللَّيْلِ وَأَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ أَصْوَاتِهِمْ بِالْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ وَإِنْ كُنْتُ لَمْ أَرَ مَنَازِلَهُمْ حِينَ نَزَلُوا بِالنَّهَارِ وَمِنْهُمْ حَكِيمٌ إِذَا لَقِيَ الْخَيْلَ أَوْ قَالَ الْعَدُوَّ قَالَ لَهُمْ إِنَّ أَصْحَابِي يَأْمُرُونَكُمْ أَنْ تَنْظُرُوهُمْ

قوله: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ...: په دې روايت کښې حضرت ابو موسى اشعرى رضی الله عنه دخپل هجرت واقعه بيان کړې ده.چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت خبرمو واوريدل.نو زه او زما سره دوه ورونړه مدينې ته د هجرت په اراده باندې راووتل.خو په درياب کښې سفر کولو کښې درياب مونږ حبشه طرف ته بوتلو.هلته مو دحضرت جعفرطيار رضی الله عنه سره ملاقات اوشو.اوبيا مونږ ټول مدينې ته راغلو.اود فتح خيبرنه پس مو د نبى صلی الله علیه وسلم سره ملاقات اوشو.
په دې سفر کښې د حضرت جعفرطيار رضی الله عنه بى بى حضرت اسماء بنت عميس رضی الله عنها هم وه.هغه د هجرت نه پس دحضرت حفصې رضی الله عنها سره د ملاقات په غرض لاړه.په دې کښې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت حفصې رضی الله عنها ته راغلو .چه حضرت اسماء ئې اوليدله. نو تپوس ئې اوکړو.
((من هذه)) دا څوك ده؟ حضرت حفصې رضی الله عنها ورته اووئيل.اسماء بنت عميس رضی الله عنها حضرت عمر رضی الله عنه اووئيل .((الحبشية هذه؟ البحرية؟)) يعنى دا هغه ده.چه دحبشه نه ئې بحرى سفر کړې دې. حضرت اسماء رضی الله عنها ورته اووئيل.اوجى،حضرت عمر رضی الله عنه ورته اووئيل. ((سبقناكم بالهجرة فنحن أحق برسول الله منكم)) دحضرت عمر رضی الله عنه په دې جمله باندې حضرت اسماء ډيره غصه شوه.او وې وئيل،هرګز داسې نه ده.تاسو خلق خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وئې.په تاسو کښې په اوږى باندې به هغه روټۍ خوړله.او ناواقفه ته به ئې وعظ نصيحت کولو.((وكنا في دار البعداء البغضاء بالحبشة)) حال دا چه مونږ په حبشه کښې د دښمن په لرې زمکه کښې وو.اودا ټول

تکلیفونه مونږ د الله او د هغه د رسول ﷺ دپاره برداشت کړی دی.

ددې نه پس حضرت اسماء رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته د حضرت عمر رضي الله عنه د دې قول ذکر اوکړو.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.تاسوخلقو دوه هجرتونه کړي دی.ستاسوحق په دې اعتبار سره زیات جوړیږی.

قوله: وَمِنْهُمْ حَكِيمٌ إِذَا لَقِيَ الْخَيْلَ أَوْ قَالَ الْعَدُوَّ قَالَ لَهُمْ إِنَّ أَصْحَابِي يَأْمُرُونَكُمْ أَنْ تَنْظُرُوهُمْ: اوپه دې اشعريينو كښې يو صاحب حكيم دې.(حكيم يا خو دده نوم دې يا صفت دې)كله چه هغه د سوررو سره ملاويږی.نوهغوی ته وائی.زما ملګرې تاسو ته حکم کوی.چه تاسو دهغوی انتظار کوئ.

که د((خیل))نه مراد د دشمنانو لښکر وی.لکه څنګه چه په بعضې روایاتو کښې د((اذا لقی الخیل))په ځائې ((اذا لقی العدو))لفظ راغلې دې.نو په دې صورت کښې ددې جملې دوه مطلبه کیدې شی.

① يو دا چه كله هغه حكيم د دشمنانو سره ملاويږی.نو هغوی ته غیرت ورکوی. چه زما ملګری وائی.چه اودریږئ.چرته تختئ.یعنی هغه حکیم دومره مړنې دې.چه جنګ باندې آماده کولو دپاره دشمنانو ته غیرت ورکوی.(١)

② اودويم دا چه د دشمنانو د مرعوب کولو دپاره هغه هغوی ته خطاب کوی،او وائی.چه زما د ملګرو حکم دې.چه مه تختئ.ایسار شئ.مونږ هم راځو.په دې جملې سره هغه دشمنانو ته دا تاثر ورکول غواړی.چه زه یواځې نه یم.زما ملګری هم راروان دی.

او که د ،،خیل،، نه مراد د دشمنانو لښکر نه وی،بلکه ((خیل المسلمین)) مراد وی.نو په دې صورت کښې به مطلب دا وی،چه اې مسلمانانو اس سورو زما پیدل ملګری تاسو ته دا درخواست کوی.چه تاسو دهغوی انتظار اوکړئ.هغوی ځان سره بوځئ.په سورلو باندې یواځې وړاندې منډې مه وهئ.(٢) والله اعلم.

[٣٩٩٣]حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ سَمِعَ حَفْصَ بْنَ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ أَنْ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَقَسَمَ لَنَا وَلَمْ يَقْسِمْ لِأَحَدٍ لَمْ يَشْهَدْ الْفَتْحَ غَيْرَنَا [ر:٢٩٦٧]

حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه فرمائی.چه مونږ د فتح خیبر نه پس رسول الله ﷺ ته راغلو. نبی ﷺ مونږ ته حصه راکړه.او زمونږ نه سوا بل داسې هیڅ یو کس ته ئې حصه ورنکړه.کوم چه په فتح خیبر کښې شریك نه وو.

د جهاد نه پس د راتلونکی کس په غنیمت کښې حصه : که یوکس په جهاد کښې شریك وی. نوهغه خو په غنیمت کښې حصه اخلی . دغه شان د جهاد ختمیدو نه وړاندې که یوکس

---

(١)فتح البارى (٤٨٧\٧)_

(٢)فتح البارى (٤٨٧\٧) وعمدة القارى (٢٥٣\١٧) وتعليقات لامع الدرارى (٣٥٦\٨٧)_

غانمينو سره راشي ملاؤ شي.نو په اتفاق سره دهغه هم په مال غنيمت كښې حصه كيږى.
خوكه يو كس دجهاد ختميدونه پس اومال غنيمت تقسيميدو نه وړاندې راشي.نو هغه ته به هم په مال غنيمت كښې حصه وركولې شى كه نه ؟ په دې كښې اختلاف دې.د امام شافعى او امام احمد بن حنبل رحمهما الله دوه قولونه دى.يو قول دا دې.چه دې كس ته به حصه نشى وركولې.ځكه چه ده په جهاد كښې شركت نه دې كړې.دويم قول دا دې.چه ده ته به حصه ملاويږى.ځكه چه دې د مال غنيمت نه وړاندې رارسيدلې دې.([1]) خو دشوافعو رحمهم الله مشهور قول اولنې دې.

د احنافو حضراتو مسلك دا دې.چه ترڅو پورې مال غنيمت د دارالاسلام سرحدونو ته داخل شوې نه وى.د دې نه وړاندې وړاندې كه څوك راشي.غانمينو سره ملاؤ شي.نوهغه ته به حصه وركولې شى ګنى نه.([2])

داحنافو رحمهم الله په مسلك باندې د حديث باب د وجې اشكال كيږى.چه په دې كښې وئيلى شوى دى.«ولم يقسم لأحد لم يشهد الفتح غيرنا» ددې نه معلوميږى .چه كوم كسان د جهاد د ختميدو نه پس اود مال غنيمت د تقسيم نه وړاندې خيبر ته راغلى وو.نبى ﷺ هغوى ته حصه نه وه وركړې.

داحنافو رحمهم الله د طرفه دا جواب وركړې شوې دې،چه ممكن ده، د كومو خلقويه باره كښې چه حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمائى،چه هغوى ته حصه ورنكړې شوه،چه هغوى د دارالاسلام حدودو ته د رارسيدو نه پس راغلى وى.او دا هم ممكن ده.چه نبى ﷺ هغوى ته حصه وركړې وى، خوابو موسى اشعرى رضي الله عنه ته علم نه وى شوې.ددې وجې هغوى «ولم يقسم لأحد» وئيلى دى.([3]) والله اعلم

---

[1] ، فتح البارى (٦\٤٤٢) كتاب فرض الخمس وبذل المجهود باب من جاء بعد الغنيمة .كتاب الجهاد (١٢\٣١٦)وعمدة القارى (١٧\٢٥٣)_

[2] ،عمدة القارى (١٧\٣٥٣) وبذل المجهود (١٢\٣٢٠)_

[3] ، حضرت سهارنپورى رحمه الله فرمائى.چه كومو حضراتو ته په مال غنيمت كښې څه نه وو وركړې شوې.په حقيقت كښې دا حضرات د فتح خيبر نه پس راغلى وو.او خيبر د فتح نه پس دارالاسلام اوګرځيدو.او په دارالاسلام كښې غنيمت صرف غانمينو ته ملاويږى.كوم كسان چه په جهاد كښې شريك شوى نه وى.هغوى ته نه ملاويږى.
په دې باندې اشكال كيږى.چه حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه هم د فتح خيبر نه پس راغلې وو.كه خيبر دارالاسلام ګرځيدلې وو.نو بيا هغه ته حصه څنګه ملاؤ شوه.
ددې جواب حضرت سهارنپورى رحمه الله دا وركړې دى.چه رسول الله ﷺ هغوى ته په خمس كښې وركړې وه.په مال غنيمت كښې نه وه وركړې.اودا هم كيدې شى.چه د غانمينو په رضا سره نې ورته د عام مال غنيمت نه وركړې وى.اوكله چه غانمين راضى.نوداسې كس ته په غنيمت كښې حصه وركول جائزدى.چه په جهاد كښې شريك شوې نه وى.(بذل المجهود (١٢\٣٢٠) باب من جاء بعد الغنيمة)

[۳۹۹۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ قَالَ حَدَّثَنِي ثَوْرٌ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ مَوْلَى ابْنِ مُطِيعٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ افْتَتَحْنَا خَيْبَرَ وَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا فِضَّةً إِنَّمَا غَنِمْنَا الْبَقَرَ وَالْإِبِلَ وَالْمَتَاعَ وَالْحَوَائِطَ ثُمَّ انْصَرَفْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى وَادِي الْقُرَى وَمَعَهُ عَبْدٌ لَهُ يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ أَهْدَاهُ لَهُ أَحَدُ بَنِي الضِّبَابِ فَبَيْنَمَا هُوَ يَحُطُّ رَحْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ سَهْمٌ عَائِرٌ حَتَّى أَصَابَ ذَلِكَ الْعَبْدَ فَقَالَ النَّاسُ هَنِيئًا لَهُ الشَّهَادَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَصَابَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا فَجَاءَ رَجُلٌ حِينَ سَمِعَ ذَلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِرَاكٍ أَوْ بِشِرَاكَيْنِ فَقَالَ هَذَا شَيْءٌ كُنْتُ أَصَبْتُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِرَاكٌ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ...: دا روایت دحضرت ابوهریره ﷺ دې.دوی فرمائی، چه مونږ خیبر فتح کړو،په مال غنیمت کښې هلته مونږ ته سره او سپین زر نه وو ملاؤ شوې.بلکه غواګانې ،اوښان،د کور سامان او باغونه وغیره ملاؤ شوی وو.بیا مونږ د نبی ﷺ سره وادی قری طرف ته واپس شو.د رسول الله ﷺ یو غلام وو.چه ،،مدعم،، ورته وئیلی شو هغه د بنو ضباب یوکس نبی ﷺ ته هدیه ورکړې وو.(د دغه کس نوم رفاعه بن زید بن وهب خزاعی نقل شوې دې[1])هغه غلام د رسول الله ﷺ کجاوه راکوزوله.چا ناڅاپه یو سهم غائر راغلو.اوهغه پرې اولګیدلو.(سهم غائر هغه غشی ته وائی.چه دهغې ویشتونکې معلوم نه وی) د هغې په وجه هغه وفات شو.خلقو اووئیل.((هنئیاله الشهادة)) نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل.((کلا والذی نفسی بیده أن الشملة التی أصابها یوم خیبر من المغانم لم تصبها المقاسم لتشتعل علیه نارا))

یعنی هرګز نه دې،په هغه ذات مې قسم دې، دچا په قبضه کښې چه زما ساه ده، هغه څادر کوم چه ده په خیبر کښې د مال غنیمت د تقسیم نه وړاندې اخستې وو ،هغه دده دپاسه اورجوړ شوې دې.اوبلیږی.

دلته زمونږ په نسخو کښې د ((کلا)) په ځائې ((بل)) دې.د حموی او سرخسی په روایت کښې ((بل)) دې.حافظ ابن حجر او قسطلانی رحمهما الله ((بل))صحیح ګرځولې دې.د موطا امام مالك په روایت کښې ((کلا)) دې.([2])

[1] ،فتح الباری (۷\۴۸۹) وعمدة القاری (۱۷\۲۵۴و ۲۵۵)_
[2] ،فتح الباری (۷\۴۸۹) وعمدة القاری (۱۷\۲۵۵)_

د «كلا» او «بلى» د واړو صورتونو كښې مفهوم او معنى صحيح كيږى. خود «بلى» په صورت كښې معنى نه صحيح كيږى. ځكه چه رسول الله ﷺ د خلقو هغه ته د شهادت مباركئ وركولو ترديد كول غوښتل. اوښكاره ده، چه دغه ترديد د «كلا» او «بلى» په صورت كښې كيدې شى. د لفظ د «بلى» كه چرته وى. نو دا ترديد نه دې بلكه تائيد دې. اودا د نبى ﷺ د مدعا او مقصدنه خلاف دې. ددې وجې په كومونسخو كښې چه «بلى» دې. هغه وهم ګرځولې شوې دې.

د. مدعم.، په باره كښې نبى ﷺ چه كله دا جمله اوونيله، نو يو صحابى د پنړې يوه يا دوه تسمې راوړې، او د نبى ﷺ په خدمت كښې ئې پيش كړې. او وې وئيل. چه ما دمال غنيمت د تقسيم نه وړاندې دا اخستې وې. نبى ﷺ اوفرمائيل. دا يوه يا دوه تسمې هم اور دې. مطلب دا كه تا دا نه وې وركړې. نو ددې نه به هم اور جوړ شوې وو، اوته به ئې سوزولې وې.

يواشكال اودهغې جواب: دلته په روايت باب كښې حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى. چه «افتتحنا خيبر» دا د جمعې متكلم صيغه ده. حال دا چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه د فتحې خيبر نه پس راغلې وو. په فتح خيبر كښې شريك شوې نه وو. ځكه امام دارقطنى د موسى بن هارون نه نقل كړى دى. چه «افتتحنا خيبر» الفاظ وهم دې. (١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى، چه دا د «افتتح المسلمون الخيبر» په معنى كښې دې. (٢) لكه څنګه چه د ذواليدين په قصه كښې حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائيلى دى. «صلينا خلف رسول الله ﷺ» حال دا چه دغه قصه د بدر نه وړاندې وه. او حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دغه وخت كښې شريك صلاة نه وو. هلته هم د «صلينا» معنى ده «صلى المسلمون» د مسلمانانو د فعل نه كله حضرت ابوهريره رضي الله عنه د جمع متكلم په صيغې سره تعبير كوى.

[٣٩٩٤] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زَيْدٌ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلَا أَنْ أَتْرُكَ آخِرَ النَّاسِ بَبَّانًا لَيْسَ لَهُمْ شَيْءٌ مَا فُتِحَتْ عَلَيَّ قَرْيَةٌ إِلَّا قَسَمْتُهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ وَلَكِنِّي أَتْرُكُهَا خِزَانَةً لَهُمْ يَقْتَسِمُونَهَا

[٣٩٩٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَوْلَا آخِرُ الْمُسْلِمِينَ مَا فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ قَرْيَةٌ إِلَّا قَسَمْتُهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ [ر: ٢٢٠٩]

حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه چه كله د كافرانو ښارونه فتح كول. نو هغوى به زمكې په

---

(١) فتح البارى (٤٨٨/٧)_
(٢) فتح البارى (٤٨٨/٧)_

غانمينو كښې نه تقسيمولې.دهغوی خیال وو.که زه زمکې په غانمینو باندې تقسیموم نو.
چه کوم کلې یا کومه زمکه د چا په حصې کښې راشي.نوهم هغه به د هغې مالك
شي.اودهغه نه پس به بیا هغه دهغه وارثانو ته ملاویږی.اود نورو خلقو به په هغې کښې څه
حق نه وی.ددې وجې هغوی هغه دهمیشه دپاره وقف کولې،چه ترقیامته پورې ددې د آمدن
نه ټول مسلمانانو ته فائده رسی.(١)

د ټولو نه وړمبې د شام په فتح کښې دا واقعه پیښه شوه.د شام د زمکو په باره کښې د
حضرت عمر رضي الله عنه رائې دا وه.چه دا تقسیم نکړې شی.دحضرت بلال رضي الله عنه اصرار وو.چه تاسو
تقسیم اوکړئ.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائیل.بې شکه لکه څنګه چه نبی ﷺ د خیبر زمکې په
غانمینو کښې تقسیم کړې وې.ما به هم هغه شان ټولې زمکې په غانمینو کښې تقسیم کړې
وې.خو ماته د راتلونکو مسلمانانو خیال دې. نن که په غانمینو کښې دا زمکې تقسیم
شوې.نو دوی به ئې مالکان شي.او روسته چه کوم مسلمانان راځی.هغوی به ددې زمکو نه
فائده نشی اخستې.

د حضرت بلال رضي الله عنه اصرار وو.چه فتح خو مونږ کړې ده.او ته دا زمکې وقف کوې.او
غانمینوته حصه نه ورکوې.حضرت عمر رضي الله عنه تنګ شو.او دعا ئې اوکړله .«اللهم اكفني بلالاً
وأصحابه» اې الله ته د بلال او دهغه د ملګرو د طرفه زما دپاره کافی شې.د راوی بیان دې.
چه «ما حال حول ومنهم عين تطرف» چه اوس لا یو کال هم نه وو شوې.چه حضرت بلال رضي الله عنه
اودهغه په ملګرو کښې د یو کس سترګه هم د خوزیدو دپاره باقی نه وه.ټول الله تعالی ته
خوښ شو.(٢)

دحضرت عمر رضي الله عنه دعا قبوله شوه.حضرت بلال رضي الله عنه هم په حق باندې وو.او حضرت عمر رضي الله عنه
هم په حق باندې وو.دحضرت بلال رضي الله عنه په نظر کښې د غانمیو فائده وه.اود حضرت عمر رضي الله عنه
په نظر کښې د ټول امت فائده وه.او دالله تعالی په نیز هغه کس زیات محبوب وی،څوك چه
د ټول انسانیت او د ټول امت فائده غواړی.دهغه کس په مقابله کښې چه د یو فرد یا یوې
ډلې فائده غواړی.د حضرت عمر رضي الله عنه په زړه کښې د ټول امت غم او فکر وو.

فائده:«ببان» په اوله باء باندې فتحه ده.او په دویمه باء باندې تشدید دې.ددې معنی برابر
یا یوشان یا محتاج یا نادار ده.علامه خطابی رحمه الله فرمائی.دا لفظ د عربۍ ژبې نه دې.
بعضې خلقو دې ته د یمنی ژبې لفظ وئیلې دې.

---

(١) د روایت الفاظ دا دی.((لولا أن أترک آخرالناس ببانا ليس لهم شئ ..قا ل العينى قوله ببانًا معناه شيأ
واحداً وقال الخطابى ولا أحسب هذه اللفظة عربية .. قال الأزهرى بل هى لغة صحيحة لكنها غير فأشية وقال
صاحب العين :يقال هم على ببان واحد أى على طريقة واحدة قال الطبرى :لولا أن أتركهم فقراء معدومين لا
شئ لهم أى متساويين فى الفقر (وانظر التفصيل فى عمدة القارى (٢٥٥/١٧)_

(٢) السنن الكبرى للبيهقى (١٣٨/٩) كتاب السير باب من راى قسمة الأراضى المغنومة ومن لم يرها)_

[٣٩٩٦/٣٩٦٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ وَسَأَلَهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ قَالَ أَخْبَرَنِي عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيدٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ قَالَ لَهُ بَعْضُ بَنِي سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ لَا تُعْطِهِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ هَذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ فَقَالَ وَاعَجَبَاهُ لِوَبْرٍ تَدَلَّى مِنْ قَدُومِ الضَّأْنِ
وَيُذْكَرُ عَنِ الزُّبَيْدِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يُخْبِرُ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَانَ عَلَى سَرِيَّةٍ مِنَ الْمَدِينَةِ قِبَلَ نَجْدٍ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقَدِمَ أَبَانُ وَأَصْحَابُهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ مَا افْتَتَحَهَا وَإِنَّ حُزُمَ خَيْلِهِمْ لَلِيفٌ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَقْسِمْ لَهُمْ قَالَ أَبَانُ وَأَنْتَ بِهَذَا يَا وَبْرُ تَحَدَّرَ مِنْ رَأْسِ ضَأْنٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَانُ اجْلِسْ فَلَمْ يَقْسِمْ لَهُمْ
[٣٩٩٧] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي جَدِّي أَنَّ أَبَانَ بْنَ سَعِيدٍ أَقْبَلَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ وَقَالَ أَبَانُ لِأَبِي هُرَيْرَةَ وَاعَجَبًا لَكَ وَبْرٌ تَدَأْدَأَ مِنْ قَدُومِ ضَأْنٍ يَنْعَى عَلَيَّ امْرَأً أَكْرَمَهُ اللَّهُ بِيَدِي وَمَنَعَهُ أَنْ يُهِينَنِي بِيَدِهِ [ر٢٦٧٣]

قوله: حدثنا علي بن عبدالله ...:حضرت ابوهريره ﷺ د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.اود خيبر په غنيمتونو کښې ئې د خپل ځان دپاره د حصې مطالبه اوکړه.نود سعيد بن العاص ﷺ يو ځوئې(ابان) نبي کريم ﷺ ته اووئيل. ((لاتعطه)) ده ته مه ورکوه.نو حضرت ابوهريره ﷺ اووئيل.دا د نعمان بن قوقل قاتل دې.دده خبره مه منئ ،نو ابان اووئيل.

قوله: وا عجباً لوبر تدلى من قدم الضان:حيرانتيا ده بلونګړی لره،چه د غر د سوکې راغلې دې.
وبر(بفتح الواو وسكون الراء) دپيشوپشان يوځناوردې.چه په پښتوکښې ورته بلونګړې وائي.
((تدلى)) په دې روايت کښې د ((تدلى من قدوم)) نه دې.د دې نه په وړاندينې تعليق کښې ((تحدر من قدوم الضان)) دې.اود موسى بن اسماعيل په روايت کښې ((تدأد من قدوم الضان)) دې.معنى تقريباً د ټولو د غورزيدو ،راکوزيدواو زوړنديدو ده.
((قدوم)) سوکه ،طرف. ((الضان))دا د دوس قبيلې په علاقه کښې د يو غر نوم دې.(1)
حضرت ابوهريره ﷺ چه کله د ابان بن سعيد په باره کښې اووئيل.چه دا د نعمان بن قوقل قاتل دې،ځکه چه ابان بن سعيد په جنګ احد کښې حضرت نعمان بن قوقل انصارى بدرى ﷺ شهيد کړې وو.په هغه وخت کښې ابان اسلام نه وو راوړې.نود ابوهريره ﷺ په دې جمله

---
1) فتح البارى (٤٩٢\٧) وعمدة القارى (٢٥٦\١٧)_

باندې ابان ته غصه ورغله.او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه تحقير ئې اوکړو.او وې وئيل.«واعجباً لوبر، تدلى من قدوم الضان»اود موسى بن اسماعيل په روايت کښې دا زيادت هم شته.«ينعى على امرأ أكرمه الله بيدى، ومنعه أن يهينني بيده» يعنې دې په ما باندې د يو داسې کس په باره کښې عيب لګوی.چه هغه ته الله تعالى زما په لاس باندې عزت (شهادت) ورکړو.اوهغه ئې منع کړو.چه ما په خپل لاس باندې ذليل کړی.

دحضرت ابان بن سعيد رضي الله عنه مطلب دا وو.که ما په خپله زمانه کفر کښې نعمان بن قوقل رضي الله عنه شهيد کړې دې.نو هغه ته د هغې په وجه د شهادت مرتبه ملاؤ شوه.او ورسره ورسره د الله تعالى دا فضل او احسان اوشو.چه زه ئې دهغه نه بچ کړم.که هغه په هغه وخت کښې زه قتل کړې ووم.نو په آخرت کښې زه به ذليل ووم.خو الله تعالى زه د دغه ذلت نه بچ کړم.نو په دې کښې د پيغور ورکولو څه خبره ده.

دا حضرت ابان بن سعيد رضي الله عنه هم هغه کس دې.چه د صلح حديبيه په موقع ئې حضرت عثمان رضي الله عنه ته په مکه مکرمه کښې پناه ورکړې وه.او هغه ئې خپل خان سره ميلمه ساتلې وو.دوی د صلح حديبيه نه پس په اسلام کښې داخل شوی وو.(١)

قوله: ويذكر عن الزبيدى....:دا تعليق دې.امام ابوداود دا په خپل سنن کښې موصولاً نقل کړې دې.(٢) په هغې کښې دی.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ابان بن سعيد رضي الله عنه د مدينې منورې نه نجد طرف ته د څه خاص مهم دپاره ليږلې وو.ابوهريره رضي الله عنه فرمائی.

قوله: فَقَدِمَ أَبَانُ وَأَصْحَابُهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ مَا افْتَتَحَهَا وَإِنَّ حُزُمَ خَيْلِهِمْ لَلِيفٌ: يعنې ابان او دهغه ملګری د فتح خيبر نه پس د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې ددغه مهم نه واپس حاضر شو.په داسې حال کښې چه د هغوی د اسونو رسئ د قجورو د پوستکی نه جوړې شوې وې.

,,حزم،، (بضم الحاء وسكون الزاء) د ،،حزام،، جمع ده.حزام هغه رسئ ته وائی کومه چه دشا سره تړلې شي.او ,,ليف،، د قجورو شاخ او پوستکی ته وائی مطلب دا دې.چه د اس د خيټې نه چه کومه رسئ شا طرف ته تړلې شي.هغه د قجورو د پوستکو نه جوړه شوې وه.او بيخی په بې سروسامان او خراب حالت کښې دا کسان د نبی صلى الله عليه وسلم خدمت ته راغلل.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائی.چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اووئيل.يا رسول الله! ده ته په غنيمت کښې څه حصه مه ورکوه.نوپه دې باندې ابان حضرت ابوهريره رضي الله عنه ته اووئيل... «وأنت بهذا يا وبر تحدر من رأس الضان» رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.ابان! کينه،اوهغه ته ئې په غنيمت کښې حصه ورنکړه.

---

(١) عمدة القارى (١٧\٢٥٦)_

(٢) سنن أبى داود كتاب الجهاد باب من جاء بعد الغنيمة لا سهم له رقم ٢٧٢٣)_

دلته اشکال کیږی.چه د زبیدی ددې تعلیق نه خو معلومیږی.چه ابان حصه غوستې وه.او حضرت ابوهریره رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته د حصې نه ورکولو وئیلی وو.او ددې نه وړاندې د علی بن عبدالله د روایت نه معلومیږی.چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه حصه غوستې وه.او ابان نبی ﷺ ته وئیلی وو.چه مه ورکوه.په ظاهره په دواړو روایتونو کښې تعارض دې.

د محمد بن یحیی ذهلی رحمه الله رائې دا ده.چه د زبیدی روایت راجح دې.په کوم کښې چه د ابوهریره رضي الله عنه منع کول مذکور ده.([1])اوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی .ممکن ده.چه دواړو دپاره منع کړې وی.د ابان دپاره حضرت ابوهریره رضي الله عنه دا دلیل ورکړې وو.چه دې د ابن قوقل قاتل دې.او د ابوهریره رضي الله عنه دپاره ابان رضي الله عنه دا دلیل پیش کړې وو.چه دې د جنګ او جهاد لائق نه دې.ده ته دې حصه نشی ورکولې.([2]) نو په دواړو روایاتو کښې څه تعارض نشته.

تنبیه:امام ابوداود دا روایت نقل کړې دې.او په هغې کښې دابان په ځائې ،سعید بن العاص، نوم دې.د سعید بن ا لعاص رضي الله عنه حضرت ابوهریره رضي الله عنه ته د حصې ورکولو نه منع کړې وو.([3])خود سعید نوم صحیح نه دې.دا مغالطه یا د امام ابوداود نه شوې ده.اویا د هغه د استاذ نه،صحیح روایت د بخاری دې.په کوم کښې چه د ابان ذکر دې.

دویمه خبره دا زده کړئ.چه د بخاری په دې روایاتو کښې د «من قدوم الضان» الفاظ راغلی دی.او ابوعبید بکری رحمه الله په خپل معجم کښې د همدانی د روایت په حوالې سره د «ضان» په ځائې د «ضال» لفظ نقل کړې دې.اوهم دا ئې صحیح ګرځولې دې.([4]) «ضال» ځنګلی بنړ ته وائی.په کوم کښې چه غټه مږه اوسیږی.

خود محققینو رائې دا ده.چه هم «ضان» صحیح دې.اودا د دوس قبیلې په علاقه کښې د یو غر نوم دې.دکوم ځائې نه چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه راغلې وو.والله اعلم.

[۳۹۹۸]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام بِنْتَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكٍ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْمَالِ وَإِنِّي وَاللَّهِ لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْ صَدَقَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَالِهَا الَّتِي كَانَ عَلَيْهَا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَأَعْمَلَنَّ فِيهَا بِمَا عَمِلَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ

---

[1] فتح الباری (۷\۴۹۲)_

[2] فتح الباری (۷\۴۹۲و ۴۹۳) دغه شان بذل المجهود (۱۲\۳۲۰)_

[3] سنن أبی داود کتاب الجهاد باب من جاء بعد الغنیمة لا سهم له رقم ۲۷۲۴)_

[4] عمدة القاری (۱۴\۱۲۵) کتاب الجهاد باب الکافر یقتل المسلم)_

أَنْ يَدْفَعَ إِلَى فَاطِمَةَ مِنْهَا شَيْئًا فَوَجَدَتْ فَاطِمَةُ عَلَى أَبِي بَكْرٍ فِي ذَلِكَ فَهَجَرَتْهُ فَلَمْ تُكَلِّمْهُ حَتَّى تُوُفِّيَتْ وَعَاشَتْ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ دَفَنَهَا زَوْجُهَا عَلِيٌّ لَيْلًا وَلَمْ يُؤْذِنْ بِهَا أَبَا بَكْرٍ وَصَلَّى عَلَيْهَا وَكَانَ لِعَلِيٍّ مِنَ النَّاسِ وَجْهٌ حَيَاةَ فَاطِمَةَ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ اسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوهَ النَّاسِ فَالْتَمَسَ مُصَالَحَةَ أَبِي بَكْرٍ وَمُبَايَعَتَهُ وَلَمْ يَكُنْ يُبَايِعُ تِلْكَ الْأَشْهُرَ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ أَنِ ائْتِنَا وَلَا يَأْتِنَا أَحَدٌ مَعَكَ كَرَاهِيَةً لِمَحْضَرِ عُمَرَ فَقَالَ عُمَرُ لَا وَاللَّهِ لَا تَدْخُلُ عَلَيْهِمْ وَحْدَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَمَا عَسَيْتَهُمْ أَنْ يَفْعَلُوا بِي وَاللَّهِ لَآتِيَنَّهُمْ فَدَخَلَ عَلَيْهِمْ أَبُو بَكْرٍ فَتَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَقَالَ إِنَّا قَدْ عَرَفْنَا فَضْلَكَ وَمَا أَعْطَاكَ اللَّهُ وَلَمْ نَنْفَسْ عَلَيْكَ خَيْرًا سَاقَهُ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَكِنَّكَ اسْتَبْدَدْتَ عَلَيْنَا بِالْأَمْرِ وَكُنَّا نَرَى لِقَرَابَتِنَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصِيبًا حَتَّى فَاضَتْ عَيْنَا أَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَرَابَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أَصِلَ مِنْ قَرَابَتِي وَأَمَّا الَّذِي شَجَرَ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ مِنْ هَذِهِ الْأَمْوَالِ فَلَمْ آلُ فِيهَا عَنِ الْخَيْرِ وَلَمْ أَتْرُكْ أَمْرًا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُهُ فِيهَا إِلَّا صَنَعْتُهُ فَقَالَ عَلِيٌّ لِأَبِي بَكْرٍ مَوْعِدُكَ الْعَشِيَّةَ لِلْبَيْعَةِ فَلَمَّا صَلَّى أَبُو بَكْرٍ الظُّهْرَ رَقِيَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَتَشَهَّدَ وَذَكَرَ شَأْنَ عَلِيٍّ وَتَخَلُّفَهُ عَنِ الْبَيْعَةِ وَعُذْرَهُ بِالَّذِي اعْتَذَرَ إِلَيْهِ ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَتَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَعَظَّمَ حَقَّ أَبِي بَكْرٍ وَحَدَّثَ أَنَّهُ لَمْ يَحْمِلْهُ عَلَى الَّذِي صَنَعَ نَفَاسَةً عَلَى أَبِي بَكْرٍ وَلَا إِنْكَارًا لِلَّذِي فَضَّلَهُ اللَّهُ بِهِ وَلَكِنَّا نَرَى لَنَا فِي هَذَا الْأَمْرِ نَصِيبًا فَاسْتَبَدَّ عَلَيْنَا فَوَجَدْنَا فِي أَنْفُسِنَا فَسُرَّ بِذَلِكَ الْمُسْلِمُونَ وَقَالُوا أَصَبْتَ وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ إِلَى عَلِيٍّ قَرِيبًا حِينَ رَاجَعَ الْأَمْرَ الْمَعْرُوفَ [ر: ٢٩٢٦]

دا روایت متفق علیه دې.امام مسلم هم په کتاب الجهاد کښې د محمد بن رافع نه ددې روایت کړې دې.([1]) محمد بن رافع د حجین نه روایت کوی.او حجین د لیث نه روایت کوی. په لیث بن سعدباندې دبخاری اومسلم د دواړو سندونه ملاویږی.حضرت عائشه ﷞ فرمائی.

قوله: أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنْتَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكٍ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ:د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس د نبی ﷺ لور بی بی حضرت فاطمې ﷝ حضرت ابوبکر ﷛ ته اووئیل چه رسول الله ﷺ ته کوم غنیمت په مدینه او فدك کښې ملاؤ شوی وو.او د خیبر په خمس کښې څه پاتې شوی دی.په هغې کښې ددې حصه میراث راکړه.

دحضرت فاطمې ﷝ د میراث غوښتلو سبب د مال محبت نه وو.بلکه د تبرکات نبوی

[1] صحیح مسلم کتاب الجهاد باب قول النبی ﷺ لا نورث ما ترکنا فهو صدقة رقم ۴۳۴۳)۔

حاصلول مقصود وو.څکه چه ددغه مالونو نسبت رسول اللهﷺ ته وو.اودا متروکات په حقیقت کښې تبرکات نبوی وو.ددې وجې د حضرت فاطمې رضی الله عنها خواهش پیدا شو.چه دا تبرکات د دې په حصه کښې راشي.نوځکه هغوی د میراث مطالبه اوکړه.

د نبی ﷺ په تصرف کښې درې قسمه مالونه وو.یو په مدینه کښې اموال بنی نضیرکوم چه الله تعالي دوی ته د فئ په طور ورکړی وو.او په دویم نمبر د فدك زمکې،د اهل فدك سره رسول اللهﷺ په نصف زمکه باندې صلح کړې وه.نصف زمکې اهل فدك سره پاتې شوې وې.او نصف رسول الله ﷺ ته ملاؤ شوې وې. او چونکه دا مال فئ وو.ددې وجې د فدك نصف زمکې د نبی ﷺ په تصرف کښې وې. په دریم نمبر دخیبر هغه زمکې او باغونه کوم چه په خمس کښې پاتی شوی وو.او پخپله د نبی ﷺ حصه کومه چه دعامو مسلمانانو پشان هغوی ته ملاؤ شوې وه.[1]

دخیبراو فدك د زمکو چه به کوم آمدن وو.هغه به رسول الله ﷺ د عامو مسلمانانو په ضرورتونو او مصلحتونو کښې خرچ کول،او په مدینه منوره کښې اموال بنو نضیر کوم چه نبی ﷺ ته د فئ په طور ملاؤ شوی وو.په هغې باندې به ئې عام طور د ازواج مطهراتو نفقه وغیره انتظام کولو.

کله چه نبی ﷺ وفات شو.نو حضرت فاطمې رضی الله عنها د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه دمیراث مطالبه اوکړه.حضرت ابوبکر رضی الله عنه اووئیل. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.«لا نورث ما ترکنا صدقة» زمونږ څوك وارث نه جوړیږی.څه چه پریږدو.هغه صدقه وی.البته آل محمد به دهغې نه خپل ضروریات پوره کوی.اوپه الله قسم زه د رسول اللهﷺ صدقه کړې مال کښې د خپل طرف نه تصرف نشم کولې.اولکه څنګه چه د نبی ﷺ په ژوند کښې وو.هم هغه شان به ئې ساتم.او هم هغه به کوم څه چه رسول اللهﷺ کړی وو.نو حضرت فاطمې رضی الله عنها ته د میراث ورکولو نه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه انکار اوکړو.

قوله: فَوَجَدَتْ فَاطِمَةُ عَلَى أَبِي بَكْرٍ فِي ذَلِكَ فَهَجَرَتْهُ فَلَمْ تُكَلِّمْهُ حَتَّى تُوُفِّيَتْ:

نوحضرت فاطمه رضی الله عنها دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه خفه شوه.اودهغه سره ئې ترك تعلق اوکړو.نوتر وفاته پورې ئې هغه سره خبرې اونکړې.

یو اشکال اودهغې جوابونه: دلته دا اشکال کیږی.چه حضرت فاطمې رضی الله عنها د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه د میراث مطالبه اوکړه.حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د رسول اللهﷺ د ارشاد مبارك په وجه هغې ته د میراث ورکولو نه انکار اوکړو.چه د نبیانو په مال کښې میراث نه جاری کیږی.او وې فرمائیل.چه زه به په دې مالونوکښې هم هغه شان تصرف کوم،څنګه چه رسول ا للهﷺ کړې وو.او زه به هم هغه شان عمل کوم.څنګه چه د رسول اللهﷺ په خپل ژوند کښې معمول وو.نود حضرت ابوبکر رضی الله عنه خبره صحیح وه.اود رسول اللهﷺ د ارشاد مبارك د وجې ئې د میراث ورکولو نه انکار اوکړو.په دې کښې د هغه څه

[1] عمدة القاری (۲۵۸\۱۷)_

ذاتي فائده نه وه.نوپه دې باندې حضرت فاطمه رضي الله عنها ولې خفه شوه.اوبيا خاص كركله چه هغوى ورته د نبى ﷺ صريح ارشاد مبارك «لانورث ماتركنا صدقة» هم بيان كړو.ددې نه پس د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه نه د خفګان څه جواز شته.چه هغه سره ئې تعلق پريخودو.اوتر وفاته پورې ئې ورسره خبرې اونكړې؟ ددې اشكال مختلف جوابونه وركړې شوى دى.

① د «وجدت فاطمة على أبي بكر» معنى بعضې حضراتو «حزنت فاطمة» بيان كړې ده.لكه څنګه چه د «وجدت» معنى غصه كيدل او خفه كيدل راځى.دغه شان غمګين كيدل هم راځى.هغوى فرمائى.چه حضرت فاطمې رضي الله عنها كله د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه نه ميراث طلب كړو.او په جواب كښې حضرت صديق رضي الله عنه د نبى ﷺ ارشاد نقل كړو.نود نبى ﷺ د دې ارشاد نه د ناواقفيت په وجه حضرت فاطمه رضي الله عنها غمژنه شوه.اوهغې ته دكه اودرد ملاؤ شو.چه د نبى ﷺ د ارشاد نه د لاعلمۍ په وجه ولې ما د ميراث مطالبه اوكړه.(¹)

خو په دې باندې اشكال كيږى.چه وړاندې جملې «فهجرته فلم تكلمه حتى توفيت» نه ددې معنى تائيد نه كيږى.نو ددې متعلق حضرت شاه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى.چه د «هجرته» ضمير د مطالبه ميراث طرف ته راجع دې.اومطلب دا دې.چه فاطمې رضي الله عنها د ميراث مطالبه د نبى ﷺ د ارشاد مبارك اوريدو په وجه پريخوده.او تروفاته پورې ئې د ميراث په باره كښې بيا څه خبره نه ده كړې.(²)

البته د بخارى په يو روايت كښې د «وجدت فاطمة» په ځائې «غضبت فاطمة» راغلى دى.ددې نه معلوميږى.چه دلته «وجدت» په معنى د «غضبت» دې.

مولانا رشيد احمد ګنګوهى په لامع الدرارى كښې فرمائيلى دى.چه په حقيقت كښې راوى د خپلې پوهې مطابق روايت بالمعنى كړې دې.او «غضبت فاطمة» ئې وئيلى دى.(³)

ددې توجيه تائيد د هغه روايت نه هم كيږى،كوم چه عمربن شبه په تاريخ مدينه كښې نقل كړې دې.دهغې الفاظ دادى.«فلم تكلمه في ذلك المال حتى ماتت» (⁴) ددې نه ښكاره معلوميږى.چه حضرت فاطمې رضي الله عنها تروفاته پورې د دغه مال او ميراث په باره كښې مطالبه اونكړه.دا مطلب نه دې.چه حضرت فاطمې رضي الله عنها دحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه سره مطلقاً قطع كلامى اوكړه.

② دبعضې عالمانو خيال دې، چه «وجدت فاطمة على أبي بكر...الخ» د اصل روايت حصه نه ده.بلكه دا دامام زهرى رحمه الله د طرف نه مدرج دې.او امام زهرى رحمه الله په ادراج كښې مشهور دې.هغوى حديث بيانوى او په مينځ كښې په كښې خپله رائې داخلوى.او ددې وضاحت

---

¹ خود «وجدت» په صله كښې د «على» موجودګى ددې معنى تائيد نه كوى.ـ
² فيض البارى (۱۴/۱۴)ـ
³ لامع الدرارى (۲۹۰/۷) باب ما يكره من ذبح الإبل)ـ
⁴ تاريخ المدينة لابن شبه (۱۹۷/۱)ـ

بعضي وخت كښې هغه نه كوى.د هغې د وجې د هغه ادراج هم د اصل روايت حصه ګڼړلې شى.دامام مالك شيخ ربيعه الرائى به د زهرى رحمه الله نه تپوس اوكړو.((يا أبا بكر إذا حدثت الناس برأيك فاخبرهم أنه رأيك، وإذا حدثت الناس بشيء من السنة فاخبرهم أنه سنة فلا يظنون أنه رأيك))(١) حافظ هم په ((النكت على ابن الصلاح)) كښې ليكلى دى.((وكذا كان الزهرى يفسر الأحاديث كثيراً وربما أسقط أداة التفسير))(٢)

ددې ا لفاظو د ادراج دليل دا دې.چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته د حضرت فاطمې رضي الله عنها دميراث په باره كښې مراجعت تقريباً په شپږ ديرش طرقو سره مروى دې.په دې شپږ ديرش طرقو كښې د پنځويشتو مدار په امام زهرى رحمه الله دې.او يوولس طرق دامام زهرى رحمه الله نه علاوه د نورو راويانو نه مروى دى.د امام زهرى رحمه الله نه علاوه چه نورڅومره طرق دى.په هغې كښې په يو كښې هم د حضرت فاطمې د خفګان اوحضرت ابوبكر رضي الله عنه سره د قطع كلامئ ذكر نشته.دامام زهرى نه هم په نهو طرقو كښې هم د حضرت فاطمې رضي الله عنها د خفګان ذكر نشته. البته د زهرى په باقى شپاړس طرقو كښې د حضرت فاطمې د خفګان ذكر شته. نودغه شان په شلو طرقو كښې د خفګان ذكر نشته.او چه په كوموكښې دى.هغه صرف د امام زهرى مرويات دى.ددې وجې ظاهره هم دا ده.چه دا د امام زهرى ادراج دې. ګنى ددې نه علاوه چه په كومو يوولسو طرقوكښې داقصه منقول ده.په هغې كښې په يوه كښې هم ددې ذكر نشته.(٣)
اوس كه دا ادراج امام زهرى رحمه الله د خپل طرف نه كړى وى.نوبيا خو ددې څه اعتبار نشته.او كه هغوى د چا نه اوريدلى وى.نو په دې صورت كښې به دا ارسال وى.او مراسيل زهرى د محدثينو په نيز څه زيات قوى او معتبر نه دى.بيا خاص كر چه د هغې خلاف روايات موجود وى.(٤)
ابن سعد په،طبقات،كښې اومحب طبرى په ،،الرياض النضرة،، كښې روايت نقل كړې دې. په هغې كښې تصريح ده،چه ((أن فاطمة لم تمت إلا راضية عن أبي بكر)) دغه شان بيهقى په خپل ،،سنن،، كښې هم ددې مفهوم روايت د ،،شعبى،، نه نقل كړې دې.(٥) نوچه دا روايات موجود وى.د زهرى د ادراج څه اعتبار نه پاتې كيږى.

---

(١) الفقيه والمتفقه للخطيب البغدادى (١٤٨/٢)_
(٢) النكت على ابن الصلاح (٨٢٩/١)_
(٣) مولانا محمد نافع صاحب زيدمجدهم كتاب ،،رحماء بينهم،، (١٢۶/١و١٢٧)_
(٤) تهذيب التهذيب (٤٥١/٩)_
(٥) اوګورئ طبقات ابن سعد (٢٧/٨) والرياض النضرة (١٥٤/١) او د بيهقى د روايت الفاظ دا دى.((لما مرضت فاطمة أتاه أبوبكر الصديق فاستأذن عليها، فقال علي يا فاطمة هذا أبوبكر يستأذن عليك. فقالت أتحب أن آذن له ؟ قال نعم، فأذنت له. فدخل عليها يترضاها وقال والله ما تركت الدار والمال والأهل والعشيرة إلا إبتغاء مرضاة الله ومرضاة رسوله ومرضاتكم أهل البيت ثم ترضاها حتى رضيت)) سنن بيهقى (٣٠١/۶) كتاب قسم الفئ والغنيمة)_

④ د((وجدت فاطمة على أبي بكر)) یوه توجیه دا هم شوې ده،چه د حضرت فاطمې ﷵ خیال وو. چه د انبیاؤ په مال کښې د وراثت نه جاری کیدو مطلب په مال منقول (درهم ،دینار وغیره) کښې نه جاری کیدل دی.په یو روایت کښې دا الفاظ راغلی دی.((لایقتسم ورثتی دیناراً ولا درهماً)) [1] خو دلته خبره د مال غیر منقول (زمکې) وه.ددې وجې کیدې شی.چه د حضرت فاطمې ﷵ دا خیال وو.چه په دې کښې میراث جاري کیدې شي.او حضرت ابوبکر ﷺ دا عام حکم ګڼړلو.ددې وجې هغوی ددې تقسیم صحیح نه ګڼړلو. [2]

④ خوچه ټول روایات وړاندې کړې شی.او کومه خبره زړه راښکونکې او فیصله کن معلومیږی. هغه دا ده.چه حضرت فاطمې ﷵ اول د میراث مطالبه ا وکړه.اوچه کله حضرت ابوبکر ﷺ هغې ته د نبی ﷺ ارشاد واورولو.نو هغې د میراث د مطالبې نه لاس واخستلو.خوهغوی د مالونو د تولیت مطالبه کوله.چه د بنو نضیروغیره مالونو نه به رسول الله ﷺ سالانه داهل بیتو دپاره کوم نفقات خرچ کول .اود اهل بیتود ضروریاتو چه څنګه اهل بیتو ته علم کیدو شو.نورو ته هغومره نشو کیدې.ددې وجې روسته د حضرت فاطمې ﷵ د ابوبکر ﷺ نه مطالبه د دې وه.چه تاسو ددې مالونو تولیت، ددې انتظام او خسمانه حضرت علی او عباس ﷵ ته حواله کړئ [3] خو حضرت ابوبکرصدیق ﷺ هغوی ته د تولیت حواله کولو نه انکار اوکړو.چه د رسول الله ﷺ د وفات حادثه اوس تازه وه.دهغوی خیال وو.که اهل بیت ددې مالونو منتظمین جوړ شی.نو د لرې خائې خلق به په دې غلط فهمئ کښې مبتلا شی.چه د نبی ﷺ میراث تقسیم شو.خلق ددې مغالطې نه لرې بچ کولو دپاره هغوی اهل بیتو ته د تولیت سپارلو نه انکار اوکړو.او دا ئې اوفرمائیل،چه لکه څنګه به رسول الله ﷺ د اهل بیتو ضروریات ددې نه پوره کول. زه به هم په هغه نهج او طریقې مطابق د اهل بیتو اخراجات پوره کوم.

دتولیت سپارلو نه د انکار په وجه حضرت فاطمه ﷵ د حضرت ابوبکر ﷺ نه خفه شوه.د حضرت فاطمې ﷵ دا خیال وو.چه دخلیفه رسول ﷺ دپاره ددې خبرې ګنجائش اوجواز شته.چه هغه زمونږ جائز خواهش پوره کړی.خو حضرت ابوبکر ﷺ دا دذکرشوی مصلحت نه خلاف ګڼړلو.دواړه په خپلو رائې کښې مجتهد وو.اود دواړو دپاره خپل خپل عذر وو.او دواړه په حق وو.

خود حضرت فاطمې ﷵ خفګان داسې نه وو،لکه څنګه چه دلته د امام زهری ﷫ په ادارج کښې دې.چه تروفاته پورې ئې خبرې اونکړې.بلکه کله چه په څه مسئله کښې د اجتهادی رائې د اختلاف په وجه بعضې وخت د انسان په زړه کښې لږ شان خفګان پیدا کیږی.بس ددې خفګان حیثیت هم د دې نه زیات نه وو.

---

[1] اوګورئ التمهید لابن عبدالبر (۸/۱۸۳)_

[2] المرتضى للشيخ أبي الحسن على الندوى (ص،۱۳۷)_

[3] البداية والنهاية (۵/۲۸۹)_

خود دوارو جهانونو د خورې لور دې معمولي غوندې خفګان هم حضرت ابوبکر رضی الله عنه بې قراره کړې وو.اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه چه ترڅو پورې هغه راضی کړې نه وه.ترهغه وخته پورې په اطمينان سره نه وو ناست.د ابن شاهين په روايت کښې حافظ ابن کثير په،البداية والنهاية کښې او شاه ولی الله رحمه الله په ،،ازالة الخفاء کښې نقل کړی دی.چه «إن أبا بكر قال لفاطمة يا بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم ما خير عيش حياء أعيشها وأنت علي ساخطة ،فإن كان عندك في ذلك عهد من رسول الله صلى الله عليه وسلم فأنت الصادقة المصدقة المامونة على ما قلت، قال فما قام أبوبكر حتى رضيت ورضى»[1]

دغه شان بيهقی په خپل ،،سنن،، کښې ابن سعد په طبقات کښې او محب طبری په ،،الرياض النضرة،، کښې هغه روايات نقل کړی دی.په کومو کښې چه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه حضرت فاطمې رضی الله عنها لره د راضی کولو تصريح شوې ده.[2] اوهم دا خبره د حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه د لوړ مقام،اوخاندان نبوت سره د هغوی غيرمعمولی محبت او وفادارئ سره موافق او لائق دې.اود کوم اعلان چه هغوی د حضرت علی رضی الله عنه په وړاندې کړې وو.او فرمائيلې ئې وو.«والذى نفسى بيده لقرابة رسول الله صلى الله عليه وسلم أحب إلى أن أصل من قرابتى،وأما الذى شجر بينى وبينكم من هذه الأموال فإنى لم آل فيها عن الخير،ولم أترك أمراً رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يصنعه فيها إلا صنعته»[3]

بيا د حضرت فاطمې رضی الله عنها د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه د راضی کيدو ذکر صرف دا نه چه د اهل سنت په کتابونو کښې دې.بخپله د رافضيانو او شيعه ګانو د معتبرو عالمانو په کتابونوکښې داسې روايات نقل دی.په کوموکښې چه دحضرت فاطمې رضی الله عنها د راضی کيدو تصريح ده.ابن ابی الحديد او ابن ميثم بحرانی دواړه شيعه عالمانو د نهج البلاغة په شرح کښې ددې رواياتو تخريج کړې دې.[4] بلکه ابن ابی الحديد د نهج البلاغة په شرح کښې د شيعه ګانو د مشهور امام زيد بن علی دا قول هم نقل کړې دې.چه «لو رجع الأمر إلى لقضيت فيها بقضاء أبى بكر»[5]

دلته دې دا خبره هم ياده وی.چه حضرت علی رضی الله عنه هم په خپل دور خلافت کښې دا اراضی په اهل بيتو باندې نه ووتقسيم کړی.ددې نه ښکاره معلوميږی.چه حضرت علی رضی الله عنه هم د حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه پشان «لا نورث ما تركنا صدقة» عام ګڼړل. او هغوی د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په بيان کړی حديث باندې اعتماد کولو.

---

[1] البداية والنهاية (٢٨٩\٥)_

[2] سنن بيهقی (٣٠١\٦) وطبقات ابن سعد (٢٧\٨) والرياض النضرة (١٥٦\١)_

[3] لکه ښنګه چه د روايت باب په آخر کښې دا الفاظ راځی)_

[4] شرح نهج البلاغة لإبن ابی الحديد (٧٩\٤) وشرح نهج البلاغة لإبن ميثم البحرانی (١٠٧\٥)_

[5] شرح نهج البلاغة لإبن أبی الحديد (٨٢\٤)_

رافضي وائي.چه حضرت علي رضي الله عنه په خپل دور خلافت کښې دغه مالونه ځکه تقسيم نکړل.چه دغه مالونه حضرت ابوبکرصديق او حضرت عمر رضي الله عنهما په خپل دور خلافت کښې غصب کړي وو.اوکوم څيز چه به غصب شو.نوامام معصوم به هغه واپس نه اخستو.

سوال دا دې.چه بيا امام معصوم لره پکار وو.چه د هغې توليت ئې هم نه وو قبول کړې.ځکه چه لکه څنګه دمالك جوړيدو نه پس انسان تصرف کوی.دغه شان د متولي جوړيدو نه پس هم کوی.حال دا چه حضرت علي رضي الله عنه د دغه مالونو توليت قبول کړې وو.دغه شان بيا پکاردا ده، چه حضرت علي رضي الله عنه خلافت هم نه وو قبول کړې.ځکه چه د روافضو په نيز حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما خلافت غصب کړې وو.نو د روافضو د قول مطابق که امام معصوم غصب شوې څيز واپس نه اخلي.نو خلافت بيا هغه ولې قبول کړو؟

خرد کا نام جنوں رکھدیا جنوں کا نام خرد جو چاہے آپ کا حسن کرشمہ ساز کرے

قوله: فلما توفيت ،دفنها زوجها علي رضي الله عنه ليلاً: حضرت فاطمې رضي الله عنها وصيت کړې وو.چه ما د شپې په وخت کښې دفن کړئ.ځکه چه د ورځې په نسبت په شپه کښې تستر (پرده) زيات وی.او د شپې په وخت کښې په دفن کولو کښې د حضرت فاطمې رضي الله عنها هم دا مقصد وو.لکه څنګه چه حافظ په فتح الباری کښې تصريح کړې ده.بلکه په بعضې رواياتو کښې دی.چه هغوی ددې وصيت هم کړې وو.چه زما د جنازې دپاره دې جنازه پټونکې څيز(زمونږ په علاقوکښې ورته ډولۍ وائی) اوبيا دې دهغې دپاره څادر واچولې شی.دې دپاره چه څوك زما د قدوقامت او بدن اندازه اونکړې شی.[1] ددې نه د حضرت فاطمې رضي الله عنها د حيا د اوچت مقام اندازه کولې شی.

قوله: ولم يؤذن بها أبا بكر: حضرت علي رضي الله عنه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته د حضرت فاطمې رضي الله عنها د وفات خبر ورنکړو.ددې وجې نه،چه حضرت علي رضي الله عنه خفه وو.بلکه ددې وجې د حضرت علي رضي الله عنه يقين وو.چه د وفات د حادثې خبر به هغوی ته شوې وی.او ددې دليل دا دې.چه د حضرت فاطمې د بيمارۍ نه واخله تر وفاته پورې چه لکه څنګه حضرت علي رضي الله عنه ددې تيمارداری کوله.دغه شان د حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه بی بی اسماء بنت عميس رضي الله عنها هم برابر دهغې تيمارداری او خدمت کولو.تردې چه د وفات نه پس د حضرت فاطمې رضي الله عنها د وصيت مطابق دهغې نعش ته حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها غسل ورکړو.حاکم په مستدرك کښې ([2])ابن سعد په طبقات کښې ([3]) عبدالرزاق په مصنف کښې ([4]) او بيهقي په خپل سنن کښې ([5]) هغه روايات نقل کړی دی.په کومو کښې چه د حضرت

[1] فتح الباری (۷\۴۹۴)_
[2] مستدرک حاکم (۳\۱۶۲)_
[3] طبقات ابن سعد (۸\۲۸)_
[4] مصنف عبدالرزاق (۳\۴۱۰)_
[5] سنن بيهقي (۳\۳۹۶)_

اسماء بنت عميس د حضرت فاطمې تيمارداری اودهغې د وفات نه پس هغې ته دغسل ورکولو ذکر دې.بلکه پخپله شيعه عالم ابوجعفر طوسی په ،،امالی،، کښې ليکی .((وکان علی رضی الله عنه يمرضها بنفسه وتعينه على ذلك أسماء بنت عميس على إستمرار بذلك))[1] باقر مجلسی هم په ،،جلاء العيون،، کښې ددې تصريح کړې ده.[2]

اوس ښکاره ده، چه د حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه بی بی د تيمارداریٔ نه واخله تر وفاته پورې په ټولو مراحلو کښې شريکه وه.نو حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه ته د وفات خبر کيدل يو بديهی او يقينی خبره وه.ددې وجې حضرت علی رضی الله عنه په دې خيال چه هغوی ته به خبر شوی وی.د خپل طرف زياتی مستقله اطلاع اونکړه.

دغه شان په رواياتو کښې دا هم دی.چه حضرت علی رضی الله عنه به د حضرت فاطمې رضی الله عنها د بيماریٔ په دوران کښې پنځه وخته مونځونو دپاره جمات ته راتلو.او حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنهما به مسلسل دهغه نه دفاطمې رضی الله عنها دبيمارپرسیٔ اودهغې دحالت تپوس کولو.[3]

قوله: وصلى عليها على رضى الله عنه: دحضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها جنازه چا کړې وه.په دې کښې روايات مختلف دی.دلته خو دی.چه حضرت علی رضی الله عنه ددې جنازه کړې وه.اوپه بعضې رواياتو کښې دی.چه حضرت عباس رضی الله عنه د دې جنازه کړې وه.[4] او په ډيرو رواياتو کښې دی،چه خليفه رسول صلی الله عليه وسلم حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د دې جنازه کړې وه.

ابن سعد په طبقات کښې روايت نقل کړې دې.چه دحضرت فاطمې رضی الله عنها وفات د مابنام او ماخسوتن ترمينځه اوشو.چه د وفات خبرئې واوريدو،نو حضرت ابوبکر،حضرت عمر حضرت زبير،حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم تشريف راوړل.کله چه نعش د جنازې دپاره راوړې شو.نو حضرت علی رضی الله عنه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته اووئيل.چه جنازه ئې اوکړیٔ.هغوی ورته اووئيل.ستاسو په موجودګیٔ کښې؟ حضرت علی رضی الله عنه جواب ورکړو.آو ورانديې شیٔ.په الله قسم ستاسو نه سوا بل څوك به مونځ نه ورکوی.نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه مونځ اوکړو.او هم په شپه کښې تدفين اوشو.[5]

د طبقات نه علاوه امام بيهقی په ،،جنائز،، کښې د خطيب بغدادی په حواله سره،علی متقی په.کنزالعمال،،کښې اومحب طبری په ،،الرياض النضرة،، کښې داسې روايات نقل کړی دی.په کوموکښې چه د حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه په باره کښې دی.چه دحضرت فاطمې رضی الله عنها د جنازې مونځ هغوی ورکړې وو.[6]

---

[1] الامالی (١٠٧\١)_

[2] جلاء العيون :١٧٢)_

[3] تكملة فتح الملهم (١٠٢\٣) په حواله د كتاب سليم بن قيس العامری (٢٢٤و٢٢٥)_

[4] د طبقات ابن سعد روايت دې.((صلى العباس بن عبدالمطلب على فاطمة بنت رسول الله صلی الله عليه وسلم (طبقات ابن سعد (٢٨\١)_

[5] طبقات ابن سعد (٢٩\٨)_

[6] سنن بيهقی (٢٩\٤) و كنز العمال (٣١٨\٦)رقم ٥٢٩٩ والرياض النضرة(١٥٦\١)_

ابونعيم په حلية الاولياء کښې د ميمون بن مهران په تذکره کښې روايت نقل کړې دې.په هغې کښې دحضرت صديق اکبر رضي الله عنه په باره کښې دی.((وکبر ابوبکر على فاطمة أربعاً))[1]
اود قياس تقاضا هم دا ده.چه دجنازې مونځ حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه ورکړې وی.ځکه چه بنو هاشمو به ددې خبرې اهتمام کولو.چه دهغوی د مړوجنازې خليفه او د ښار والي اوکړی. د ابوسفيان بن الحارث رضي الله عنه جنازه حضرت عمر رضي الله عنه کړې وه.([2])حضرت عباس رضي الله عنه جنازه حضرت عثمان رضي الله عنه کړې وه.([3]) دحضرت حسن جنازه حضرت سعيدبن العاص رضي الله عنه کړې وه([4]) دې په هغه وخت کښې د مدينې امير وو.اودمحمد بن حنفيه جنازه د مدينې امير ابان بن عثمان کړې وه([5]) ددې وجې په دې پس منظر کښې هغه روايات زيات راجح معلوميږی. په کومو کښې چه د حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه د جنازې مونځ ورکولو ذکر دې. والله اعلم.

قوله: ولم يكن يبايع تلك الأشهر: حضرت فاطمه رضي الله عنها د نبى کريم ﷺ د وفات نه پس شپږ مياشتې ژوندئ وه.راوی وائی.چه په دغه شپږو مياشتو کښې حضرت على رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره بيعت نه وو کړې.
امام بيهقى په خپل کتاب ،،الاعتقاد على مذهب السلف،، کښې تصريح کړې ده.چه دا جمله د زهرى ده.د اصل روايت سره د دې څه تعلق نشته.روستو راويانو دا جمله د اصل روايت سره درج کړې ده.([6])
ددې وجه دا ده.چه ابوداود طيالسی، ابن سعد ،ابن جرير،ابن ابى شيبه، بيهقى اوابن حبان رحمهم الله روايات نقل کړی دی.په هغې کښې تصريح ده.چه د سقيفه بن ساعده د بيعت په بله ورځ په مسجد نبوی کښې عام بيعت اوشو.په هغه وخت کښې حضرت على رضي الله عنه بيعت کړې وو.حافظ ابن کثير په ،،البداية والنهاية،، اوشاه ولى الله په،ازالة الخفاء،، کښې هم دا واقعه ذکر کړې ده.چه کله عام بيعت کيدلو.نو حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه اوکتل.چه حضرت على او حضرت زبير رضي الله عنهما دواړه حضرات موجود نه وو.دوی دا دواړه راطلب کړل.دې دواړو حضراتو تشريف راوړلو.هغوی اوئيل.چه ددې نه سوا زمونږ بله څه ګيله نشته.چه پرون په سقيفه بنى ساعده کښې خبره اوشوه.او نن په مسجد نبوی کښې بيعت کيږی.خو په دې باره کښې مونږ سره څه مشوره نه ده شوې.او مونږ پوهيږو.چه د خلافت د ټولو نه زيات حق د

---

[1] حلية الأولياء (٤\٩٦)_
[2] اسدالغابة (٥\٢١٤و ٢١٥)_
[3] الإستيعاب (٣\١٠٠و١٠١)_
[4] الإستيعاب (١\٣٧٣)_
[5] طبقات ابن سعد (٥\٩١)_
[6] والذى روى أن علياً لم يبايع أبا بكر ستة أشهر ليس من قول عائشة رضى الله عنها إنما هو من قول الزهرى فأدرجه بعض الرواة فى الحديث عن عائشة رضى الله عنها فى قصة (وانظر الإعتقاد على مذهب السلف للبيهقى (١٨٠)_

حضرت ابوبکر رضي الله عنه دي.دحضرت علي رضي الله عنه يو قول ملا علي قاري رحمه الله په شرح شمائل کښې هم نقل کړې دي.((أن رسول الله ﷺ رضي أبا بكر لديننا أفلا نرضاه لدنيانا)) دغه شان ابن حبان د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت نقل کړې دې.((أن علياً بايع أبا بكر في أول الأمر))
داټول روايات او اقوال په دې باندې صراحت سره دلالت کوي.چه حضرت علي رضي الله عنه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره په بيعت کولو کښې تاخير نه دې کړې.بلکه په بله ورځ د عامو خلقو سره دوی بيعت کړې وو.

پاتې شوه دا خبره چه کله ئې يو ځل بيعت اوکړو.نو بيا د حضرت فاطمې رضي الله عنها د وفات نه پس د دوباره بيعت کولو څه مقصد وو؟نو ددې وجه دا وه.چه دحضرت علي رضي الله عنه د بيمارئ په دوران کښې حضرت علي رضي الله عنه د هغې په تيمارداري کښې مشغول وو.او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره ئې په ربط او ملاقات کښې کمې راغلې وو.ددې وجې د اولني بيعت د توثيق او تجديد دپاره دوی دوباره بيعت اوکړو.د اکثرو اهل علمو رجحان دې طرف ته دې.اوهم دا حافظ ابن کثير په ،،البداية والنهاية،، کښې حق او حقيقت ګرځولې دې.(١)

البته دومره خبره باقي پاتې کيږي.چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه سره د بيعت په سلسله کښې مشوره ولې اونکړه.نو ددې وجې دا ده،چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس صورتحال ډير سخت اومشکل وو.حضرات انصار په سقيفه بني ساعده کښې د وړاندې نه جمع شوی وو.او نزدې وه چه په اوس او خزرج کښې د يوې قبيلې د سردار په لاس باندې بيعت شوې وو.اودغه شان د مسلمانانو اتفاق او اتحاد ختم شوې وو.ځکه چه په اوس او خزرج کښې چه د کومې په لاس کښې هم که واړې راغلې وې.نو بله به په هغې باندې راضي نه وه.
حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خدادا صلاحيت ،بصيرت،بالغ نظرئ او ژور نظر سره ددې نازک صورتحال اندازه واخستله.اوپه دې باندې پوهه شو.چه مسلمانان په کوم نازک صورتحال کښې مبتلا دی.په دې کښې د يوې ورځې د تاخير ګنجائش هم نشته.حضرت عمر رضي الله عنه دا هم پيژندله.چه د جزيره عرب خلق به صرف قريش خپل سرداران منی.ځکه چه د قريشو د سردارئ صلاحيتونه منلی شوی وو.ددې وجې هغوی په ډيره بيړه کښې د خپل خدادا صلاحيت نه کار واخستلو.او په ثقيفه بني ساعده کښې ئې انصار د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په بيعت باندې راجمع کړل.او په بله ورځ په مسجدنبوی کښې عام بيعت اوشو.چونکه صورتحال ډير نازک او پيچيده شکل اختيار کړې وو.ددې وجې د حضرت علي رضي الله عنه او نورو څو صحابو رضي الله عنهم سره دمشورې ګولو موقع ملاؤ نشوه.والله اعلم ،وړاندې په روايت کښې د حضرت علي رضي الله عنه د دوباره بيعت کولو ذکر دې.

فائده:دنبي ﷺ ارشاد چه ((لا نورث ما تركنا صدقة)) کښې څه حکمت دې؟ ددې يوه وجه خو ښکاره ده.چه انبياء عليهم السلام به په ټول ژوند کښې دا اعلان کولو.((لا أسئلكم عليه أجراً)) مونږ چه ستاسو کوم خدمت کوو.تاسو صراط مستقيم طرف ته رابلو.اودې ته د راوستلو

---

(١) البداية والنهاية (٢٤٩/٥) دغه شان (٣٠٢/٦)_

دپاره كوم كوشش او سعي كوو.دا د څه عوض او دنيوي منفعت دپاره نه ده.د حضرات انبياء دا طريقه پاتې شوې ده.او هم دهغې مطابق نبي ﷺ د خپل وفات نه پس د ميراث تقسيمولونه منع كړې ده.اووې فرمائيل.چه د انبياء عليهم السلام ميراث نه جاري كيږي.(١)

او ورسره ورسره دا خبره هم ده.چه په كوم منصب باندې هغه فائز كيږي.هغه د خلقو د محبت مركز وي.ددې وجې خلق تحفې،عطيات او هديې دهغوي په خدمت كښې زياتې پيش كوي.كه دغه هدايا او تحفې هغه جمع كوي.اودهغوي د انتقال نه پس هغه د هغوي په وارثانو كښې تقسيمولې شي.نودشمنانو ددې وينا موقع په لاس ورتلې شوه.چه د نبوت كاروبار ددې دپاره جاري وو.چه د نبوت په زمانه كښې د راجمع شوي مالونو نه روستني نسلونه اسوده مالداران شي.اود هغوي د پرورش يو معقول بندوبست او انتظام اوشي.(٢) نو ځكه چه به د نبي ﷺ په ژوند كښې څه راغلل.هغه به ني تقسيم كړل.دغه شان كوم مالونه چه الله تعالى دوي ته وركړي وو.د هغې په باره كښې نبي ﷺ وصيت كړې وو.چه هغه دې زما د وفات نه دمسلمانانوپه مصالحوكښې خرچ كړې شي.اود ميراث په طور دې هغه نه تقسيميږي.

دويمه خبره دا ده.چه د انبياء عليهم السلام حيثيت د ټولو امت دپاره د ابوت درجه لري.نو كه ميراث تقسيميږي.پكار ده چه په ټول امت باندې وي.اوښكاره ده.چه دا ممكن نه ده.نو ددې وجې هغه مالونه دعامو مسلمانانو د ضرورياتو دپاره وقف پاتې كيږي.(٣)

دريمه خبره دا ده.چه د انبياء عليهم السلام شان د الله تعالى سره د تعلق په اعتبار سره داسې وي.چه هغه په څه څيز باندې خپل ملكيت نه تصور كوي.ځكه چه په هريو څيز باندې حقيقي ملكيت الله تعالى ته حاصل وي.زمونږ نه دالله تعالى د ملكيت هغه تصور ډير كرته پاتې كيږي.خو د انبياء عليهم السلام د نظر نه هغه تصور هيڅ كله نه لرې كيږي.«الأنبياء لا يشهدون لأنفسهم ملكاً مع الله» نو چه دكومو څيزونو هغوي مالكان جوړ كړې شي.نو هغوي دا ګڼري.چه زمونږ قبضه په دې باندې د متولي په حيثيت باندې ده.د مالك په حيثيت نه ده.د دې وجې هغوي منع كړې ده.چه زمونږ د وفات نه پس دې زمونږ هيڅ مال په ميراث كښې نشي تقسيمولې.

په قرآن شريف كښې«وورث سليمان داود»او «رب هب لي من لدنك وليا يرثني» راغلي دي.په دې سره د انبياء عليهم السلام دميراث ثبوت كيږي.خود اكثرو عالمانو خيال دې.چه په دې آياتونو كښې د وراثت نه وراثت د علم او حكمت مراد دې.د مال وراثت مراد نه دې.(٤)

[٣٩٩٩]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا حَرَمِيٌّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عُمَارَةُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ قُلْنَا الْآنَ نَشْبَعُ مِنَ التَّمْرِ

---

(١) فتح الباري (٨\١٢)_
(٢) فتح الباري (٨\١٢)_
(٣) فتح الباري (٩\١٢)_
(٤) التمهيد لابن عبدالبر (٨\١٧٤و ١٧٥) وفتح الباري (٨\١٢)_

[٤٠٠٠] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ حَبِيبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ مَا شَبِعْنَا حَتَّى فَتَحْنَا خَيْبَرَ

بَاب=اسْتِعْمَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ خَيْبَرَ

[٤٠٠١] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ بْنِ سُهَيْلٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلَى خَيْبَرَ فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هَكَذَا فَقَالَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثَةِ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا

رسول اللهﷺ په خیبر باندې یو کس عامل جوړ کړو.دا د قبیله بنی عدی حضرت سواد بن غزیه وو.(١) دوی د نبیﷺ په خدمت کښې یو خاص قسم قجورې چه،جنیب،، ورته وائی. او ډیرې ښې وی.هغه راوړلې.نبیﷺ اوفرمائیل. آیا دخیبر ټولې قجورې هم داسې دی؟ هغوی عرض اوکړو.نه مونږ د داسې قسم ښو قجورو یو صاع د نورو قجورو په دوو صاعو په بدله کښې اخلو.اودوه صاع د درې صاعو په بدله کښې اخلو.مطلب دا چه دا قجورې چونکه ښې دی.ددې وجې ددې یو صاع د نورو معمولی قجورود دوو صاعو سره برابر وی. دغه شان کله چه مونږ دوه صاع اخلو.نونورې قجورې درې صاع ورکول وی. نبیﷺ اوفرمائیل.داسې مکوئ. (ځکه چه دا خو سود دې.په متحد الجنس کښې تفاضل جائز نه دې) بلکه ناقصې قجورې اول د دوو درهمو په عوض خرڅې کړئ.او بیا په هغې دراهم باندې عمده قجورې واخلئ.

قوله: وَقَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ عَنْ سَعِيدٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ وَأَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَخَا بَنِي عَدِيٍّ مِنْ الْأَنْصَارِ إِلَى خَيْبَرَ فَأَمَّرَهُ عَلَيْهَا: دا تعلیق ابوعوانه او دارقطنی موصولاً نقل کړې دې.

قوله: وَعَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ مِثْلَهُ: دا هم د عبدالعزیز د سند سره دې.هلته د عبدالمجید سعید بن المسیب نه نقل کوی.اودلته د ابوصالح سمان نه نقل کوی.

---

(١) فتح الباری (٣٩٦/٧) وعمدة القاری (٢٦٠/١١٧)_

بَاب=مُعَامَلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ خَيْبَرَ

[۴۰۰۲]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَعْطَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ الْيَهُودَ أَنْ يَعْمَلُوهَا وَيَزْرَعُوهَا وَلَهُمْ شَطْرُ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا[ر:۲۲۸۵]

نبی کریم ﷺ د فتح خیبر په موقع دا فیصله کړې وه.چه یهود به خیبر خالی کوی.کله چه خیبر فتح شو.او نبی ﷺ یهودو ته د خیبر نه د وتلو دپاره اووئیل.نو هغوی درخواست اوکړو،چه ته مونږ ته د خیبر په زمکو او باغونو کښې د کار کولواجازت راکړه.او چه کوم پیداوار کیږی. هغه به مونږ او تاسو تقسیموو.دې معاملې ته ،مخابره،وائی.ځکه چه د خیبر نه د دې ابتداء شوې وه.د کټ کولو په وخت کښې به نبی ﷺ حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ لیږلو.هغه به پیداوار په ۲ وو حصوکښې تقسیمولو.او یهودو ته به ئې اختیار ورکولو،چه کومه حصه هغوی خوښوی.هغه دې اخلی.یهودو چه به دا انصاف اوکتل.نو وئیل به ئې.زمکه او آسمان هم ددې عدل په وجه قائم دی.([1])

بَاب=الشَّاةِ الَّتِي سُمَّتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ رَوَاهُ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۰۰۳]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ فِيهَا سُمٌّ[ر:۲۹۹۸]

د خیبر د فتحې نه پس رسول الله ﷺ څو ورځې هم په خیبر کښې قیام اوکړو،په دې دوران کښې د سلام بن مشکم ښځې زینب بنت حارث یو ورته شوې چیلۍ نبی ﷺ ته د هدیه په طور راولیږله.اوپه هغې کښې ئې زهر ملاؤ کړې وو.نبی ﷺ چه کله اوخکله.نو وې فرمائیل. اودریږئ.په دې کښې زهراچولې شوی دی. البته بشربن براء څه خوړلې وه.زینب ئې راغوښتله.او ددې سازش تپوس ئې ترې اوکړو.نو هغې اقرار اوکړو.او وې وئیل.چه دا زهر مې ددې وجې ګډ کړی وو.چه زما خیال وو،که ته په حق پیغمبر ئې.نو الله تعالی به تا خبر کړی.اوکه ته په حق پیغمبر نه ئې.نو خلقو ته به ستا نه نجات ملاؤ شی.

نبی ﷺ د خپل ذات دپاره د چا نه هم انتقام نه اخستلو.ددې وجې نبی ﷺ زینب ته څه اونه وئیل.خو روسته چه کله د هغې د زهرو د اثر نه حضرت بشربن براء ﷺ وفات شو.نو زینب د بشر بن براء وارثانو ته حواله کړې شوه.او هغوی دا په قصاص کښې قتل کړه.([2])

په حدیث باب کښې حضرت ابوهریره ﷺ هم دا واقعه بیان کړې ده.دا روایت په تفصیل سره هم په دې سند په کتاب الجزیه کښې تیر شوې دې.([3])

---

[1] ،سنن ابی داود (۲۶۳\۳) رقم الحدیث ۳۴۲۰ باب فی المساقات کتاب البیوع)_

[2] ،فتح الباری (۴۹۷\۷) وزاد المعاد (۳۳۵\۳و ۳۳۶)_

[3] ،کتاب الجزیة والموادعة باب إذا غدر المشرکون بالمسلمین هل یعفی عنهم رقم ۳۱۶۹)_

باب=غزوة زيد بن حارثة

[۴۰۰۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَمَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ عَلَى قَوْمٍ فَطَعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَالَ إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ طَعَنْتُمْ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلِهِ وَايْمُ اللَّهِ لَقَدْ كَانَ خَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ [ر:۳۵۲۳]

حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه نبي ﷺ په څو مواقعو کښې امير مقرر کړې وو.[1] د دې وجې دا تعيين ګران دې. چه دلته امام بخاري رحمه الله د کومې غزا ذکر کوی. دا په کوم کال کښې واقع شوې وه.اودا کومه غزا ده؟ په ظاهره دا معلوميږی.چه دا د رمضان ۶ھ کښې پېښه شوې واقعه ده.په کومه کښې چه د بنو فزاره سره مقابله شوې وه.په دې غزا کښې ،،ام قرفه،، قتل کړې شوې وه.،،ام قرفه،، د فزاره قبيلې سرداره وه.حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه د تجارت په غرض شام ته تلې وو.د صحابو رضي الله عنهم مال هم ورسره وو.په واپسئ کښې بنی فزاره حمله اوکړه.ټول مال ئې ترې واخستل.اودې ئې زخمی کړو.حضرت زيد رضي الله عنه مدينې ته راغلو.نو رسول الله ﷺ دهغه په امارت کښې يو لښکر روان کړو.هغې په بنو فزاره باندې حمله اوکړه.څه کسان ئې قتل کړل.په هغې کښې د هغوی سرداره ،،ام قرفه،، هم وه.[2] د ،،ام قرفه،، د قتل ذکرڅوځايونو کښې راغلې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله په ،،التلخيص الحبير، کښې نقل کړې دی.چه رسول الله ﷺ ،،ام قرفه،، قتل کړه.اوپه بعضې رواياتو کښې راځی. چه حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په ،،يوم الردة،، کښې ،،ام قرفه،، د قتل حکم ورکړې وو. او په ذکرشوې غزوه بنی فزاره کښې هم د ،،ام قرفه،، دقتل ذکر دې.کيدې شی چه د ،،ام قرفه، نومې څو ښځې وی.کومې چه په مختلفو وختونو کښې مسلمانانو قتل کړې وی.

---

[1] ،وقد تتبعت ما ذكره أهل المغازى من سرايا زيد بن حارثة فبلغت سبعا كما قاله سلمة , وإن كان بعضهم ذكر ما لم بذكره بعض , فأولها : فى جمادى الأخيرة سنة خمس قبل نجد فى مائة راكب , والثانية فى ربيع الآخر سنة ست إلى بنى سليم , والثالثة : فى جمادى الأولى منها فى مائة وسبعين فتلقى عيرا لقريش وأسروا أبا العاص بن الربيع , والرابعة : فى جمادى الآخرة منها إلى بنى ثعلبة , والخامسة : إلى حشمى بضم المهملة وسكون المهملة مقصور فى خمسمائة إلى أناس من بنى جذام بطريق الشام كانوا قطعوا الطريق على دحية وهو راجع من عند هرقل , والسادسة : إلى وادى القرى , والسابعة : إلى ناس من بنى فزارة , وكان خرج قبلها فى تجارة فخرج عليه ناس من بنى فزارة فأخذوا ما معه وضربوه فجهزه النبى صلى الله عليه وسلم إليهم فأوقع بهم وقتل أم قرفة بكسر القاف وسكون الراء بعدها فاء وهى فاطمة بنت ربيعة بن بدر زوج مالك بن حذيفة بن بدر عم عيينة بن حصن بن حذيفة وكانت معظمة فيهم , فيقال ربطها فى ذنب فرسين وأجراهما فتقطعت , وأسر بنتها وكانت جميلة , ولعل هذه الأخيرة مراد المصنف والنظر فتح البارى (۴۹۸\۷و ۴۹۹)

[2] ،فتح البارى (۴۹۸\۷) وعمدة القارى (۲۶۱\۱۷)_

امام بخاری رحمه الله چه په دې باب کښې کوم روايت ذکر کړې دې.په دې کښې د ،جيش اسامه،، ذکر دې.چه رسول الله ﷺ د خپل وفات نه يو څو ورځې وړاندې حضرت اسامه بن زيد د يو لښکر امير جوړ کړواو وې ليږلو.په دې باندې بعضې کسانو اعتراض اوکړو.چه دا کم عمر هلك دې.(د حضرت اسامه عمر رضی الله عنه په دغه وخت کښې يوويشت کاله وو) اودې په لويو صحابو باندې امير جوړ کړې شو.دا خبره نبی ﷺ ته راورسيده.نو نبی ﷺ خفه شو.او خطبه ئې اوونيله.او ارشاد ئې اوفرمائيلو.«إن تطعنوا في أمارته فقد طعنتم في أمارة أبيه من قبله» نن تاسو داسامه په امارت باندې اعتراض کوئ.ددې نه وړاندې تاسو د ده د پلار (حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه) په امارت باندې هم اعتراض کولو.حالانکه هغه ماته په خلقو کښې زيات خوښ وو.اودهغه نه پس دې زمازيات خوښ او محبوب دې.

چونکه په دې روايت کښې د حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه د امارت ذکر هم ضمناً راغلې دې.په دې مناسبت سره امام بخاری دا روايت په دې باب کښې ذکر کړو. والله اعلم.

بَاب=عُمْرَةِ الْقَضَاءِ ذَكَرَهُ أَنَسٌ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۰۰۵] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتَّى قَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ قَالُوا لَا نُقِرُّ لَكَ بِهَذَا لَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ شَيْئًا وَلَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ أَنَا رَسُولُ اللَّهِ وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ امْحُ رَسُولَ اللَّهِ قَالَ عَلِيٌّ لَا وَاللَّهِ لَا أَمْحُوكَ أَبَدًا فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ لَا يُدْخِلُ مَكَّةَ السِّلَاحَ إِلَّا السَّيْفَ فِي الْقِرَابِ وَأَنْ لَا يَخْرُجَ مِنْ أَهْلِهَا بِأَحَدٍ إِنْ أَرَادَ أَنْ يَتْبَعَهُ وَأَنْ لَا يَمْنَعَ مِنْ أَصْحَابِهِ أَحَدًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ بِهَا فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ أَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوا قُلْ لِصَاحِبِكَ اخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَى الْأَجَلُ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِي يَا عَمِّ يَا عَمِّ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ فَأَخَذَ بِيَدِهَا وَقَالَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام دُونَكِ ابْنَةَ عَمِّكِ حَمَلَتْهَا فَاخْتَصَمَ فِيهَا عَلِيٌّ وَزَيْدٌ وَجَعْفَرٌ قَالَ عَلِيٌّ أَنَا أَخَذْتُهَا وَهِيَ بِنْتُ عَمِّي وَقَالَ جَعْفَرٌ ابْنَةُ عَمِّي وَخَالَتُهَا تَحْتِي وَقَالَ زَيْدٌ ابْنَةُ أَخِي فَقَضَى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا وَقَالَ الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ وَقَالَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ وَقَالَ لِجَعْفَرٍ أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي وَقَالَ لِزَيْدٍ أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا وَقَالَ عَلِيٌّ أَلَا تَتَزَوَّجُ بِنْتَ حَمْزَةَ قَالَ إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنْ الرَّضَاعَةِ [ر:۱۶۸۹]

امام بخاری رحمه الله د عمرة القضاء باب دلته په كتاب المغازی کښې ذکر کړو،حال دا چه دا د کتاب الحج سره متعلق دې.هلته ددې ذکرکول پکار وو.

ددې وجې دا بیان شوې دہ.چه چونکه د غزوه حدیبیه په نتیجه کښې د عمرة القضاء نوبت راغلې وو.غزوه حدیبیه هم ددې عمرې سبب جوړ شوې وو.ددې وجې امام بخاری په کتاب المغازی کښې ددې ذکر کړې دې.[1]

خودویم سوال دا پیدا کیږی،چه په داسې صورت کښې خودابیادغزوه حدیبیه سره یوځائې ذکرکول پکاروو.نو ددې جواب دا دې.چه چونکه دا په ۷ﻫ کښې واقع شوې وه.او غزوه حدیبیه په ۶ﻫ کښې،ددې وجې ئې د حدیبیه سره دا ذکر نکړه.د ۷ﻫ په واقعاتو کښې ئې دا ذکر کړه.دا عمره په څلورو نومونو باندې مشهوره ده.

① ددې یو نوم ،،عمرة القضاء،، دې.چونکه نبی ﷺ د حدیبیه په کال باندې عمره ادا نکړې شوه.دا عمره د هغې د قضاء په طور باندې نبی ﷺ ادا کړې وه.ددې وجې دې ته ،،عمرة القضاء،، وائی.بعضې حضرات ددې وجه دا بیانوی،چه دلته قضاء د اداء په مقابله کښې نه ده.بلکه د قضاء معنی فیصله ده.اومطلب دا دې.چه ددې عمرې فیصله د حدیبیه په موقع باندې شوې وه.چه په راروان کال به نبی ﷺ د عمرې دپاره تشریف راوړی.ددې وجې دې ته عمرة القضاء وائی.[2]

② ددې دویم نوم،عمرة القصاص،، دې.د قصاص معنی بدل ده.اودا عمره چونکه دعمرة الحدیبیه په بدل کښې وه.ددې وجې دې ته ،،عمرة القصاص،، هم وائی [3]

③ دریم نوم ،عمرة الصلح،، دې.ځکه چه په صلح حدیبیه کښې ددې عمرې فیصله شوې وه.[4] ④ ددې څلورم نوم ،، عمرة القضیه،، دې.د قضیه معنی هم فیصله ده.او دا عمره د فیصلې مطابق شوې وه.[5]

په صلح حدیبیه کښې د مکې د کافرانو سره معاهده شوې وه.چه راروان کال ته به رسول الله ﷺ مکې ته راځی.او عمره به کوی.اودرې ورځې قیام به کوی.او واپس به ځی.بله دا چه مسلمانان به خان سره وسله نه راوړی.نبی کریم ﷺ چه د ذی قعدې میاشت ښکه اولیده.نو د عمرې ادا کولو اعلان ئې اوکړو،اودا ئې هم اووئیل.چه کوم کسان په حدیبیه کښې شریك وو.په هغوی کښې دې څوك هم نه پاتې کیږی.[6] نبی ﷺ د احتیاط دپاره خان سره وسله هم یوړه.که چرته د مشرکانو دطرفه د جنګ نوبت راشی.نو مسلمانان به خالی لاس نه وی.د مکې مکرمې نه د اته میله په فاصله باندې ،،بطن یاجج،، کښې دجنګ هغه

[1] فتح الباری (۵۰۰\۷)_
[2] فتح الباری (۵۰۰\۷) والروض الأنف (۲۵۴\۳)_
[3] علامه سهیلی رحمه الله دا راجح نوم ګرځولې دې.هغوی فرمائی.((یقال لها عمرة القصاص،وهذا الإسم أولی بها لقوله تعالی :الشهر الحرام بالشهر الحرام والحرمات قصاص)) وهذه الآیة فیها نزلت فهذا الإسم أولی بها)
[4] عمدة القاری (۲۶۲\۱۷)_
[5] عمدة القاری (۲۶۲\۱۷)_
[6] عمدة القاری (۲۶۲\۱۷)_

وسله نبى ﷺ پريخوده .او دهغې د حفاظت دپاره ئې د دوو سوو كسانو ډله مقرر كړه.([1])
نبى ﷺ لبيك وئيل .چه په حرم مكه باندې ورداخل شو.مشهور انصارى صحابى رضي الله عنه
حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په اوچت آواز سره دا شعر وئيل.

خلوا بنى الكفار عن سبيله　　اليوم نضربكم على تنزيله

ضربا يزيل الهام عن مقيله　　ويذهل الخليل عن خليله

حضرت عمر رضي الله عنه چه دهغه نه دا اشعار واوريدل.نو وې وئيل.د الله اودهغه د رسول ﷺ
وړاندې اوپه حرم كښې ته شاعرى كوې.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.پرېږ ئې ده. دا اشعارددې
كافرانو دپاره د غشو نه هم زيات تكليف ناك دى.([2])
دقريشو سردارانو د بغض او دشمنئ په وجه دمكې په حرم كښې د مسلمانانو د راتلو دا
منظر نشو ليدې.ددې وجې اكثرو خلقو مكه پريخوده.او غرونو ته لاړل .اوددرې ورځو نه
پس قريشو د نبى ﷺ په خدمت كښې څوكسان دې پيغام سره راوليږل.چه محمد (ﷺ) ته
اووايه. د معاهدې مودهٔ پوره شوه.ته اوځه.نو نبى ﷺ د معاهدې مطابق په هغه وخت كښې
روان شو.([3]) په دې عمره كښې تقريباً دوه زره صحابه رضي الله عنهم د نبى ﷺ سره دعمرې ادا كولو
سعادت حاصل كړې وو.([4])

قوله: فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ:

ايا رسول الله ﷺ په ليكلو لوستلو پوهيدلو؟: دجمهورو عالمانو دا رائې ده.چه رسول الله ﷺ
چونكه امى وو.ليكل لوستل ئې نه پيژندل.ددې وجې د ليكلو نسبت چه دلته كوم شوې
دې.دا اسناد مجازى دې. نبى ﷺ په خپله كتابت نه وو كړې.خوچونكه دوى د ليكلو حكم
وركړې وو.ددې وجې نسبت دوى ته اوشو.دغه شان په نورو څو رواياتوكښې راځى.چه
((كتب النبى ﷺ إلى قيصر وكسرى...)) په دې ټولو كښې نبى ﷺ ته نسبت مجازى دې.([5])
البته ابوالوليد باجى رحمه الله د روايت د ظاهر نه استدلال كوى.او وائى،چه نبى ﷺ بيشكه
امى وو.خود معجزې په طور نبى ﷺ كاتب هم وو.او قارى هم وو.([6])
دابوالوليدباجى سره نزدې اوسيدونكو عالمانو ددې رائې سره سخت اختلاف كړې وو.
ابوبكر بن الصائغ،عبدالله بن سهل، ابومحمد بن مسعود وغيره عالمانو په ده باندې تنقيد

---

[1] السيرة الحلبية (٣\٦٢) عمرة القضاء ودلائل النبوة للبيهقى (٣\٣٢١)_
[2] شمائل ترمذى باب ما جاء فى صفة كلام رسول الله ﷺ فى الشعر ١٦ _
[3] السيرة الحلبية (٣\٦٤)_
[4] السيرة الحلبية (٣\٦٢) وفتح البارى (٧\٥٠٠)_
[5] فتح البارى (٧\٥٠٤)_
[6] فتح البارى (٧\٥٠٣)_

کړې دي.تردې چه بعضې عالمانو په ده باندې د زنديق فتوی هم لګولې وه.او وئيلی وو،چه دا د قرآن د آيت ﴿وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ﴾ ([1]) نه صريح مخالفت دې.بعضو دده خلاف دا شعر هم وئيلی وو.

برئت ممن شرى دنيا بآخرة وقال أن رسول الله قد كتبا

وئيلی شی.چه دهغه وخت امير ابوالوليد باجی او دده مخالفين راجمع کړل. مناظره اوشوه. اوباجی دخپلو دلائلو په وجه غالب پاتې شو.باجی اووئيل. زما رائې د قرآن نه مخالف نه ده.د قرآن د آيت نه د نبی ﷺ اميت ثابت دې.خود اميت باوجود او د څه تعليم حاصلولو نه بغير په ليکلو او لوستلو د نبی ﷺ قدرت د نبوت يوه بله معجزه ده.ابوذرهروی، ابوالفتح نيسابوری او بعضې نورو عالمانو د دوی تائيد هم اوکړلو.دا حضرات د عون بن عبدالله په هغه روايت سره هم استدلال کوی.کوم چه ابن ابی شيبه نقل کړې دې.((ما مات رسول الله ﷺ حتى كتب وقرأ))([2])

خو امام بيهقی رحمه الله په دې روايت باندې دوه اعتراضه کړی دی.يو دا چه د دې په سند کښې مجاهيل او ضعفاء دی.اودويم دا چه په دې کښې انقطاع ده. طبرانی دې روايت ته منکر وئيلی دی.څکه دا قابل استدلال نه دې.([3])

بعضې حضراتو وئيلی دی.چه ذکرشوې روايت کښې د((حتى كتب وقرأ)) ضمير رسول الله ﷺ ته نه دې راجع.بلکه دا د ،،عون،، والد ،،عبدالله بن عتبه،، ته راجع دې.او مطلب دا دې.چه عبدالله بن عتبه د رسول الله ﷺ د وفات نه وړاندې هوښيار او پوهيدونکې شوې وو.او ليکل لوستل ئې زده کړی وو.

د امام تقی الدين بن دقيق العيد وړاندې چه کله د ابوالوليد باجی نقطه نظر پيش کړې شو.نو هغوی دې طرف ته څه خاص التفات اونکړو.او وې وئيل.چه د باجی سره په خپله دې نظريه باندې څه مضبوط دليل نشته.څکه دا قابل قبول نه دې.

حافظ شمس الدين ذهبی رحمه الله په ،،ميزان الاعتدال،، کښې نقل کړی دی ،چه رسول الله ﷺ امی وو.خوچونکه نبی ﷺ ته به ډير خطونه او تحريرونه راتلل.ددې وجې نبی ﷺ خپل نوم ليکل زده کړی وو.ډير اميان خلق خپل دستخط زده کولې شی.نو د صلح حديبيه په موقع د نبی ﷺ په خپله خپل نوم ليکلو له دا نه لازميږی .چه نبی ﷺ امی نه وو.اونه دا په معجزه باندې محمول کولې شی.([4])

نبی ﷺ امی وو.اوهم امی پاتې شوې وو.دا خو هم هغه خبره وه.چه ددې په وجه دمخالفينو

---

[1] سورة العنکبوت :٤٨)_
[2] فتح الباری (٥٠٣/٧و ٥٠٤)_
[3] سنن کبری للبيهقی (٥٠٣/٧و ٥٠٤)_
[4] د ميزان الاعتدال په ټولو ممکن ځايونو کښې لټون باوجود احقر ته د علامه ذهبی دا قول ملاؤ نشو.والله اعلم.

ملاګانې ماتې شوې وې.چه يو داسې کس چه ليکل لوستل نه پيژنې.خلوېښت کاله ئې هم په داسې حال کښې تير کړی دی.او ناڅاپه اوس هغه د علومو سمندر بيوی. حقائق بيانوی،د حکم ،معارفو،او رموز تلقين کوی.هغه نه څه کتاب لوستې دې.اونه هغوی په مطالعه باندې پوهيدل.خودهغوی هره خبره دعلم او معرفت چينه وه.

نگار من بمکتب نرفت وخط نه نوشت بغمزه مسئله آموز صد مدرس شد

زما محبوب (محمد ﷺ) چه نه چرته مکتب ته تلې دې.اونه ئې چرته ليکل کړی دی.خو په يوه اشاره کښې به هغوی په سوونو مدرسين په مسائلو پوهول.

قوله: فتبعته إبنة حمزة تنادي يا عم يا عم: نبی ﷺ چه کله د مکې مکرمې نه روان شو. نو د حضرت حمزه رضي الله عنه وړه لور نبی ﷺ پسې شا شا ته راروانه شوه.او وئيل ئې.«ياعم ياعم» دا په رشته کښې د نبی ﷺ د تره لور وه.ددې باوجود ورته «ياعم» ونيل د عربو د محاورې مطابق وو. کشر مشرته ,,عم،، وائی.(1) اود ,,عم،، ونيلو يوه وجه دا هم کيدې شی. چه حضرت حمزه رضي الله عنه نسبی اعتبار سره اګرچه د نبی ﷺ تره وو.خود رضاعت په تعلق سره هغه د نبی ﷺ ورور وو.ددې وجې د هغوی لور نبی ﷺ ته ,,ياعم،، سره آواز اوکړو.(2)

قوله: فاختصم فيها علي وزيد وجعفر: حضرت علی رضي الله عنه اووئيل.دا زما د تره لور ده. زه ددې زيات حقدار يم.حضرت جعفر رضي الله عنه اووئيل.دا زما د تره لورده.او ددې ترور (دمور خور) زما بی بی ده. نو دا به زه اخلم.حضرت زيد رضي الله عنه اووئيل. حمزه رضي الله عنه زما دينی ورور وو. په دې رشتې سره دا زما وريره ده.دا زما حق جوړيږی.نبی ﷺ د حضرت جعفر رضي الله عنه د بی بی حضرت اسماء بنت عميس په حق کښې فيصله واوروله.او وې وئيل. ترور د مور سره برابر وی.

د ټولو امامانو په دې خبره باندې اتفاق دې،چه په باب د حضانت (پالنې) کښې د ,,عمه،، (دپلار خور) په مقابله کښې ،، خاله،، (دمور خور) ته ترجيح ده.

د حضرت حمزه رضي الله عنه ددې لور نوم په باره کښې مختلف اقوال دی.① عماره② فاطمه ③ امامه ④ امة الله ⑤ سلمی،دا پنځه نومونه ذکر شوی دی.خو مشهور اولنې قول دې.(3)

قوله: وقال لجعفر: أشبهت خلقي وخلقي: حضرت جعفر رضي الله عنه ته نبی ﷺ اوفرمائيل. ته د اخلاقو په اعتبار سره هم زما پشان ئې.اوما سره تاته بدنی مشابهت هم حاصل دې.او دا ډير لوې فضيلت او منقبت دې.

وائی چه.په عربو کښې د نبی ﷺ په شکل او صورت کښې مشابهت لرونکی ديارلس صحابه رضي الله عنهم وو.په هغوی کښې د نبی ﷺ د وفات نه پس څلور پاتی شوی وو .اوباقی د الله تعالی خوښ شوی وو.(يعنی وفات شوی وو) (4)

---

1) فتح الباری (٥٠٥\٧) وعمدة القاری (٣٦٤\١٧)_
2) فتح الباری (٥٠٥\٧) وعمدة القاری (٣٦٤\١٧)_
3) فتح الباری (٥٠٥\٧)_
4) فتح الباری (٥٠٥\٧)_

[٤٠٠٦] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا سُرَيْجٌ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ هَدْيَهُ وَحَلَقَ رَأْسَهُ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَقَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يَعْتَمِرَ الْعَامَ الْمُقْبِلَ وَلَا يَحْمِلَ سِلَاحًا عَلَيْهِمْ إِلَّا سُيُوفًا وَلَا يُقِيمَ بِهَا إِلَّا مَا أَحَبُّوا فَاعْتَمَرَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فَدَخَلَهَا كَمَا كَانَ صَالَحَهُمْ فَلَمَّا أَنْ أَقَامَ بِهَا ثَلَاثًا أَمَرُوهُ أَنْ يَخْرُجَ فَخَرَجَ [ر: ٢٥٥٣]

[٤٠٠٧] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَعُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ الْمَسْجِدَ فَإِذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا جَالِسٌ إِلَى حُجْرَةِ عَائِشَةَ ثُمَّ قَالَ كَمُ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعًا ثُمَّ سَمِعْنَا اسْتِنَانَ عَائِشَةَ قَالَ عُرْوَةُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَلَا تَسْمَعِينَ مَا يَقُولُ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ فَقَالَتْ مَا اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَةً إِلَّا وَهُوَ شَاهِدُهُ وَمَا اعْتَمَرَ فِي رَجَبٍ قَطُّ [ر: ١٦٨٥]

دا روايت په ابواب العمرة او غزوة الحديبية کښې تيرشوې دې. زمونږ په نسخو کښې دى. «كم إعتمر النبي ﷺ؟ قال أربعاً» په مصرى نسخو کښې د «أربعاً» نه پس د «إحداهن فى رجب» زيادت دې. که دا اضافه نه وى. نو وړاندې چه حضرت عائشې رضي الله عنها دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په بيان باندې کوم انکار کړې دې. هغه به صحيح نه وى. زمونږ په هندوستانى نسخو کښې دا سقم (غلطى) ده. او مصرى نسخې صحيح دى. ځکه چه حضرت عائشې رضي الله عنها د حضرت عبدالله رضي الله عنه په روايت کښې د «إحداهن فى رجب» د الفاظو ترديد کړې دې. حال دا چه زمونږ په نسخو کښې د حضرت عبدالله رضي الله عنه نه دا الفاظ هډو منقول نه دى.[1]

[٤٠٠٨] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ سَمِعَ ابْنَ أَبِي أَوْفَى يَقُولُ لَمَّا اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَرْنَاهُ مِنْ غِلْمَانِ الْمُشْرِكِينَ وَمِنْهُمْ أَنْ يُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ١٥٢٣]

[٤٠٠٩] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ إِنَّهُ يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ وَفْدٌ وَهَنَهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ وَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ الثَّلَاثَةَ وَأَنْ يَمْشُوا مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ وَلَمْ يَمْنَعْهُ أَنْ يَأْمُرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِبْقَاءُ عَلَيْهِمْ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَزَادَ ابْنُ سَلَمَةَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ

---

[1] زمونږ چه کومه نسخه د ډاکټر مصطفى ديب البغا اختيار کړې ده. په دې تحقيقى نسخه کښې هم د ((إحداهن فى رجب)) الفاظ نشته. البته د حافظ او عينى په نسخو کښې شته.

ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَامِهِ الَّذِي اسْتَأْمَنَ قَالَ ارْمُلُوا لِيَرَى الْمُشْرِكُونَ قُوَّتَهُمْ وَالْمُشْرِكُونَ مِنْ قِبَلِ قُعَيْقِعَانَ [ر١٥٢٥]

دا روايت په كتاب الحج كښې تيرشوې دې. ([1])

[٤٠١٠] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ إِنَّمَا سَعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِيُرِيَ الْمُشْرِكِينَ قُوَّتَهُ [ر:١٥٦٦]

[٤٠١١] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَبَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ وَمَاتَتْ بِسَرِفَ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَزَادَ ابْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ وَأَبَانُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ عَطَاءٍ وَمُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُونَةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ [ر:١٧٤٠]

په دې روايت كښې دمحرم دنكاح مسئله راغلې ده.اوپه كتاب الحج كښې تيره شوې ده.([2])

بَاب=غَزْوَةِ مُؤْتَةَ مِنْ أَرْضِ الشَّامِ

:موته،،د شام په ملك كښې بلقاء نومې ځائې كښې د يو مقام نوم دې.([3]) كوم ځائې كښې چه دا غزا پيښه شوې وه.

نبي ﷺ چه كله د مختلفو اميرانو او بادشاهانو په نوم باندې ددعوت اسلام خطونه اوليږل،نويوخط ئې حضرت حارث بن عمير رضي الله عنه ته وركړو،اوقيصر روم طرف ته ئې اوليږلو. دعربو او شام په سرحدى علاقو كښې چه كوم سرداران حكمرانان وو.په هغوى كښې يو شرحبيل بن عمرو هم وو.دې د بلقاء د علاقې سردار وو.اود قيصر ماتحت وو.شرحبيل د رسول الله ﷺ سفير حضرت حارث رضي الله عنه شهيد كړو.([4])

رسول الله ﷺ ته چه كله ددې خبر اوشو.نودهغه د قصاص دپاره ئې د درې زره كسانو لښكر اوليږل.او حضرت زيد بن حارثه ئې په هغوى باندې امير مقرر كړو. او وې فرمائيل. كه زيد قتل شي نو جعفربن ابى طالب به امير وى.او كه جعفر رضي الله عنه هم قتل شى.نو عبدالله بن رواحه به امير وى.او كه هغه هم قتل شى.نو بيا به مسلمانانو ته اختيار وى.چه څوك غواړى.خپل امير دې جوړ كړى.([5])

---

[1] صحيح بخارى كتاب الحج باب كيف كان بدء الرمل (٤١٨\١)_

[2] صحيح بخارى كتاب الحج باب تزويج المحرم (٤٤٨\١)_

[3] فتح البارى (٥١١\٧) نن صبا دا علاقه د اردن په مملكت كښې شامل ده_

[4] فتح البارى (٥١١\٧) والسيرة الحلبية (٦۶\٣)_

[5] طبقات ابن سعد (٦۶\٢)_

حضرت زيدبن حارثه ﷺ ته رسول الله ﷺ يوه سپينه جنډا ورکړه.او تر ..ثنية الوداع..
پورې دده سره پخپله لاړلو،اوهغه ته ئې وعظ نصيحت اوکړو.اوددې نه پس ئې رخصت کړو.([1])
بل طرف ته شرحبيل ته چه کله د مسلمانانو د لښکر علم اوشو.نو هغه تقريباً يو لاکه فوځ
دمسلمانانو دمقابلې دپاره جمع کړل.اوهرقل نوريولاکه فوځ راواخستل .په خپله د شرحبيل
د مدد دپاره راورسيدلو.مقام معان ته چه کله اورسيدو.نو مسلمانانو ته خبر اوشو چه دوه
لاکه فوځ د مسلمانانو د مقابلې دپاره راغلې دی. نو مسلمانان متردد شو.چه د درې زره لږ
غوندې لښکر دپاره هغوی سره مقابلې دپاره تلل پکار دی که نه؟ اسلامي لښکر تر دوو
ورځو پورې په معان کښې ايسار شو.او مشوره ئې کوله.د اکثرو صحابوﷺ رائې دا وه.چه
رسول الله ﷺ د صورتحال نه خبرول پکاردی.اود هغوی د حکم انتظار پکار دې.خو حضرت
عبدالله بن رواحه ﷺ صحابه په جنګ باندې د اماده کولو دپاره يو جوشى تقرير اوکړو.په
هغې کښې دوی اووئيل. زمونږ د جنګ دارومدار په قوت او تعداد باندې نه دې.بلکه د
هغه دين په بنياد باندې دې.په کوم باندې چه الله تعالى مونږ کامياب کړې يو.او عزت ئې
راکړې دې.بس روانيږئ.په دوو نيکو کښې خو به يوه ضرور حاصله شی.يا به په کافرانو
باندې غلبه حاصله شی.او يا به د شهادت کاميابی حاصله شی.ابن اثير د تقرير الفاظ
داسې نقل کړی دی.

((يا قوم، والله إن التى تكرهون للتى خرجتم أياها تطلبون الشهادة، وما نقاتل الناس بعدد ولا قوة ولا كثرة، ما نقاتلهم إلا بهذا الدين الذى أكرمنا الله به فانطلقوا فما هى إلا إحدى الحسنيين، إما ظهور وإما شهادة))([2])

خلقوچه د دوی تقرير واوريدل.نو وې وئيل ((صدق والله)) او په درې زره کسانو باندې
مشتمل لښکر د دوه لاکه ملخانو طرف ته روان شو.([3])

---

[1] ، اصحاب سير ليکلی دی.چه کله رسول الله ﷺ حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ رخصتولو.نو هغه
په ژړا شو.خلقو تپوس اوکړو.نو وې وئيل.زه د دنيا سره د محبت يا عشق د وجې نه ژاړم.بلکه ددې
وجې ژاړم.چه ما د رسول الله ﷺ نه د دې آيت تلاوت واوريدلو،((وإن منكم إلا واردها كان على ربك
حتماً مقضياً)) يعنى په تاسو کښې داسې څوك نشته.چه هغه به په جهنم نه تيريږی.دا د الله تعالى
يقينى او اټله فيصله ده.معلومه نه ده.چه په هغې باندې تيريدل دی. نو زما به څه کيږی؟
مسلمانانو ورته تسلی ورکړه.اووې وئيل.الله تعالى دې تا مونږ ته صحيح سالم راواپس کړی.په دې
باندې حضرت عبدالله دا اشعار اووئيل.په کومو کښې چه هغوی د خپل ځان دپاره د شهادت دعا
کړې ده.

لكننى أسأل الرحمن مغفرة	وضربة ذات فزع تقذف الزبدا
أو طعنة بيدى حران مجهزة	بحربة تنفذ الأحشاء والكبدا
حتى يقولوا : إذا مروا على جدثى	أرشدک الله من غاز وقد رشداً

اوګورئ الكامل لابن اثير (١٥٤\٢) وتاريخ طبرى (٣١٩\٢)_

[2] ، الكامل لابن اثير(١٥٩\٢)_

[3] ، الكامل لابن الاثير (١٥٩\٢)_

د موته په میدان کښې د جنګ شروع اوشوه.د اسلام جنډا د حضرت زید رضی الله عنه په لاس کښې وه.هغه وړاندې شو.او په جنګیدو جنګیدو شهید شو.د هغوی نه پس حضرت جعفر رضی الله عنه جنډا اوچته کړه.کله چه دشمن د څلورو واړه طرفونو نه حمله اوکړه.نو هغه د اس نه راکوز شو.او ډیر په مړانه باندې جنګیدل په غشو او .تورو او نیزو باندې سیورې سیورې شو.او راپریوتلو.هم په دې باب کښې د بخارې روایت دې، چه دهغه بدن کښې د لس کم سلو نه زیات زخمونه وو.او ټول د مخې طرف نه وو.د شا طرف نه یو زخم هم نه وو.دحضرت جعفر رضی الله عنه نه پس حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه جنډا اوچته کړه.او وړاندې شو.د څو ګهړو دپاره متردد شو. خو ددې نه پس ئې توره راواخستله.په کافرانو کښې ورننوتل.اود بهادرئ ثبوت ئې ورکړو،او شهید شو.دهغوی د شهادت نه پس حضرت ثابت بن ارقم انصاری رضی الله عنه جنډا په لاس کښې واخستله.اومسلمانانو ته ئې اووئیل.«یا معشر المسلمین إصطلحوا علی رجل منکم» اې مسلمانانوپه خپلو کښې په یو کس باندې اتفاق اوکړئ.خلقو اووئیل.هم په تا باندې مونږ راضي یو.هغه اووئیل.زه دا کار نشم کولې. مسلمانانو حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه امیر مقرر کړو.هغوی اسلامی جنډا واخستله وړاندې شو. او ډیر په بهادرئ باندې جنګیدلو.(۱) هم په دې باب کښې د دوی نه روایت دې. چه په ،،موته،، کښې په جنګیدو جنګیدو زما په لاس کښې نهه تورې ماتې شوې وې.

حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د. میدان جنګ په پوهیدو او لښکرته ترتیب ورکولو کښې ډیر لوې مهارت او صلاحیت لرلو.د جنګ په دویمه ورځ هغه د لښکر په حصو کښې مختلفې تبدیلئ اوکړې.او یوه ډله ئې د میدان جنګ نه بهر اوساتله .چه دا به د جنګ په دوران کښې داسې میدان کښې راګډه شي.چه دشمن ته دا خیال اوشي.چه نوې امداد او مدد راورسیدل.نو هم دغه شان اوشو.چه په لښکر کښې ئې تبدیلی اولیدله.اوچه کومه ډله ئې مقرر کړې وه.د هغې په لیدو سره دشمن اوګنړل.چه کیدې شي دوی ته نوې مدد راورسیدل. ددې وجې مرعوب شو. اومیدان ئې پریخودل.حضرت خالد رضی الله عنه په هغوی پسې تلل مناسب اونه ګنړل.اود مسلمانانو ډله ئې واخسته. واپس مدینې ته راغلو.دغه شان خالد بن ولید رضی الله عنه د مسلمانانو په بچ کولوکښې کامیاب شو.او هم دا خبره د ټولو نه لویه فتح وه.(۲) په روایت کښې دی.چه د غزوه موته نه کله خلق واپس شو.نو د مدینې منورې حضرات دهغوی استقبال دپاره بهرته راوتلی وو.اوهغوی ته ئې اووئیل.«أنتم الفرارون» تاسو د شکست خوړلو نه پس راوتختیدئ.نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.«بل أنتم العکارون»(۳) نه تاسو راتختیدلی نه ئې.بلکه تاسو د دوباره حملې کولو دپاره ځان تیارولو دپاره راغلی ئې.
داروایت چه مولانا شبلی نعمانی مرحوم اوکتل.نو فیصله ئې اوکړه.چه په غزوه موته کښې

---

۱ ،الکامل لابن الأثیر (۱۶۰\۲)، وتاریخ طبری (۳۲۱\۲و ۳۲۲)_
۲ ،فتح الباری (۵۱۳\۷)_
۳ ،البدایة والنهایة (۲٤۸\٤)_

مسلمانانو ته شكست شوې وو.( )
خوحقيقت دادې.چه داخبره صحيح نه ده.په اصل كښې يوې دستې ته شكست شوې وو.او هغه تختيدلې وه.دويمه دسته د مسلمانانو هغه هم وه.چه هغې د غنيمت مال حاصل كړې وو. او هغې د كافرانو يوې ډلې ته شكست وركړې وو. مطلقاً دا وئيل چه په غزوه موته كښې مسلمانانو ته شكست شوى وو.صحيح نه ده.( )
غزوه موته په جمادى الاولى ٨ھ كښې پيښه شوې وه.د ابن اسحاق او موسى بن عقبه رائې دا ده.چه د خليفه بن خياط خيال دې.چه دا په ٧ ھ كښې واقع شوې وه.خو راجح هم اول قول دې.([3]) په دې غزا كښې تقريباً دولس مسلمانان شهيدان شوى وو.([4])

[٣٠١٢/٣٠١٣] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ أَبِي هِلَالٍ قَالَ وَأَخْبَرَنِي نَافِعٌ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَقَفَ عَلَى جَعْفَرٍ يَوْمَئِذٍ وَهُوَ قَتِيلٌ فَعَدَدْتُ بِهِ خَمْسِينَ بَيْنَ طَعْنَةٍ وَضَرْبَةٍ لَيْسَ مِنْهَا شَيْءٌ فِي دُبُرِهِ يَعْنِي فِي ظَهْرِهِ

د حضرت جعفر رضي الله عنه دشهادت نه پس حضرت ابن عمر رضي الله عنهما لاړلو،هغوى سره اودريدل.ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى،چه ما دهغوى په بدن كښې د غشو او نيزو پنځوس زخمونه شمار كړل.او يو هم د شا طرفه نه وو.

[٣٠١٣] أَخْبَرَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَمَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ مُؤْتَةَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ قُتِلَ زَيْدٌ فَجَعْفَرٌ وَإِنْ قُتِلَ جَعْفَرٌ فَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ كُنْتُ فِيهِمْ فِي تِلْكَ الْغَزْوَةِ فَالْتَمَسْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَوَجَدْنَاهُ فِي الْقَتْلَى وَوَجَدْنَا مَا فِي جَسَدِهِ بِضْعًا وَتِسْعِينَ مِنْ طَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ

ددې نه په وړاندينى روايت كښې «خمسين بين طعنة وضربة» وو.په دواړو كښې په ظاهره تعارض دې.① ددې يو جواب دا دې.چه عدد اقل د عدد اكثر نفى نه كوى.
② دويم جواب دا دې.چه كيدې شى.پنځوس نښې خو بيخى مخامخ وې.اوباقى بنى او كس طرف ته وې.په اولنى روايت كښې صرف مخامخ نښې شمارلې شوى دى.اوپه دويم روايت كښې د بدن ټول زخمونه بيان شوى دى.([5])
③ دريم جواب دا دې.چه په اولنى روايت كښې د «طعنة» او «ضربة» ذكر وو.اوپه دې روايت

---

[1] اوګورئ سيرت النبى ﷺ (شبلى نعمانى مرحوم، (٢٩٢/١)_
[2] د تفصيل دپاره اوګورئ البدايه والنهايه (٢٤٨/٤)_
[3] فتح البارى (٥١١/٧) وعمدة القارى (٢٦٨/١٧)_
[4] سيرت مصطفى (٤٦١/٢)_
[5] فتح البارى (٥١٢/٧)_

کنبې د«طعنة»سره د «رمية» ذکردې.ددې مطلب دا دې.چه په اولنی روایت کنبې صرف د نیزو او تورو سره لګیدلې زخمونوبیان شوې دې.او په دې روایت کنبې د نیزو.او تورو سره سره د غشو سره راغلې زخمونه ئې هم ذکر شامل کړې دې.ددې وجې عدد «بضعا ستين» شو. (١) والله اعلم.

[٤٠١٣]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ وَاقِدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ[ر:١١٨٩]

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ د حضرت زید ،حضرت جعفراو حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنهم د شهادت خبر صحابو رضی الله عنهم ته ورکولو اووې فرمائیل.زید بیرغ واخستلو، او شهیدشو.اوبیا جعفربیرغ واخستو،او شهیدشو.بیا ابن رواحه بیرغ واخستو،اوشهید شو. تردې چه د الله تعالی په تورو کښې یوې تورې بیرغ واخستو،او الله تعالی هغه ته فتح ورکړه.ددې نه مراد حضرت خالدبن ولد رضی الله عنه دې.هم ددې خائې نه د هغوی لقب «سیف الله» اوګرځیدو.

فائده: کشف نبوت او کشف ولایت کښې فرق: په دې روایت کښې د کشف نبوت ذکر دې.یو کشف ولایت وی.او بل کشف نبوت وی.دحضرت محمد قاسم نانوتوی رحمه الله نه د هغوی خادم ،،الله داد،، تپوس اوکړو.حضرت په دې خبره نه پوهیږم.چه کشف انبیاء علیهم السلام ته هم کیږی.اواولیاء کرام ته هم،خو د انبیاء علیهم السلام کشف بیخی صحیح وی.په هغې کښې څه تبدیلي او تغیر نه کیږی.اود اولیاء الله په کشف کښې خبره وړاندې روسته کیږی. نوکه د اولیاء الله کشف صحیح نه وی.نودا بیا ولې بیانوی.او که صحیح وی.نو بیا په دې کښې غلطی ولې کیږی.؟

حضرت نانوتوی رحمه الله ته الله تعالی ډیر ذکاوت ورکړې وو.کله چه دغه کس دحضرت نه دا تپوس اوکړو.په دغه وخت کښې هغوی دخپل یو دوست ملاویدو دپاره تلو.کوم چه دجیل خانې منتظم وو.اوجیل خانه څه فاصله باندې مخامخ وه. حضرت اوفرمائیل.الله داد! چرته ځې.هغه عرض اوکړو.حضرت تاسو سره جیل خانې طرف ته ځم.وې فرمائیل.جیل خانه کوم خائې ده؟ وې وئیل هغه مخامخ ده. وې فرمائیل څومره فاصله ورته ده.عرض ئې اوکړو.دوه سوه قدمه فاصله به وی. دې فرمائیل دوه سوه قدمونه یقینی دی.که کم او بیش په کښې هم ممکن دی.وې وئیل کمې بیشې به یقینی وی.ددې نه پس وړاندې لاړل.کله چه جیلخانه صرف د څلورو قدمونو فاصله پاتې شوه.وې فرمائیل اوس جیلخانه څومره لرې ده؟ عرض ئې اوکړو.صرف د څلور قدمه.وې فرمائیل کمې بیشې کیدې شی.عرض ئې اوکړو.نه. فاصله هم څلور قدمه ده.وې فرمائیل.بس هم دا فرق دې په کشف نبوت اوکشف ولایت

(١) فتح الباری (٥١٢/٧)_

كنبي،نبي د ډير نزدې نه كتل كوي.ددې وجې بيخي صحيح او ټيك وائي.او ولي څه فاصلې نه كتل كوي.او د لرې نه كتل كوي.نو په اندازه لګولو كنبې كله غلطي كيږي.ددې وجې هم د اولياؤ په كشف كنبې غلطي كيږي. اودغه شان ئې په يو حسي مثال سره يوه باريكه مسئله هغه ته اوخودله.

مولانا قاسم نانوتوى رحمه الله به په حسى مثالونو سره ډير دقيق مسائل خودل .يوځل ئې دمظفر نګر په استيشن باندې دګاړې انتظار كولو،په رياضئ (د حساب مضمون) كنبې د مولانا ډير لوې شهرت وو.او حقيقت هم دا وو،چه مولانا په رياضئ كنبې غيرمعمولي مهارت لرلو.هلته يو هندو ته كوم چه د خپلې علاقې د رياضئ ډير ماهر وو.معلومه شوه.چه مولانا محمد قاسم نانوتوى رحمه الله دلته په استيشن كنبې موجود دې.نوخيال ئې اوكړو.چه مولانا سره ملاويدل پكار دى.چه څه استفاده ترې اوكړم.نوهغه راغلو.او مولانا سره ئې ملاقات اوكړو.او وې وئيل. كه اجازت وى چه يو تپوس اوكړم؟ حضرت ورته اوفرمائيل.آو تپوس اوكړه .هغه تپوس اوكړو.تاسو مسلمانان وائې.چه الله تعالى يو لوح محفوظ پيدا كړې دې.او په هغې كنبې د ټول «ماكان ومايكون» ټول اعمال درج دى.دا په پوهه كنبې نه راځى.چه الله تعالى دومره لويه تختئ په كوم ځائې كنبې كيخودې ده.مثلاً زه يو سړې يم.زما عمر پنځوس كاله دې.ماته د ماشوموالى نه تر ننه پورې خپل ټول واقعات ياد دى.كه زما د ژوند دغه ټول واقعات په كاغذ باندې اوليكلى شى.نو ترميلونو پورې به هغه كاغذ خور شى.او زه خو يو سړې يم.اوتاسو وائې.چه په لوح محفوظ كنبې د ټولو انسانانو ټول واقعات ليكلى شوى دى.كه دا واقعات اوليكلى شى.نو ددې دپاره به الله خبر چه دڅومره لوې ځائې ضرورت وى.نودغه تختئ او لوح محفوظ آخر په كوم ځائې كنبې راغلې ده.مولانا صاحب ورته اووئيل.ته به دخپل ژوند دا واقعات د كوم ځائې نه منتقل كوې.هغه اووئيل. زما په دماغو كنبې محفوظ دى.وې فرمائيل.بس هم دا ستا د سوال جواب دې.ستا وركوټې غوندې سر دې.په دې سر كنبې دماغ كوم چه ستا لوح محفوظ دې.هغه به نور هم وركوټې وى.اوپه دې كنبې ستا د ژوند واقعات كوم چه كه چرته په كاغذ باندې اوليكلى شى.نو تر ميلونو پورې به خور شى.په دې وركوټې شان ډبى كنبې بند دى.نو كه د الله تعالى په لوح محفوظ كنبې ټول واقعات موجود وى.او ا لله تعالى هغه په آسمانونو كنبې كيخودې وى.نوپه دې كنبې څه استبعاد او اشكال دې؟چه دا ئې واوريدو.نو هغه هندو اووئيل.خبره باندې بيخى پوهه شوم.

[٤٠١٥]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَتْنِي عَمْرَةُ قَالَتْ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا تَقُولُ لَمَّا جَاءَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَأَنَا أَطَّلِعُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تَعْنِي مِنْ شَقِّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَيْ رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ قَالَتْ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ قَالَ فَذَهَبَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَى فَقَالَ قَدْ نَهَيْتُهُنَّ وَذَكَرَ أَنَّهُ لَمْ يُطِعْنَهُ قَالَ فَأَمَرَ أَيْضًا فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَى فَقَالَ وَاللَّهِ لَقَدْ غَلَبْنَنَا

فَزَعَمَتْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ مِنَ التُّرَابِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ أَرْغَمَ اللَّهُ أَنْفَكَ فَوَاللَّهِ مَا أَنْتَ تَفْعَلُ وَمَا تَرَكْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَنَاءِ[ر:۱۲۳۷]

حضرت عائشه ﷞ فرمائى.كله چه د حضرت زيد بن حارثه،جعفربن ابى طالب او عبدالله بن رواحه﷡ د شهادت خبر راغلو، نونبى ﷺ په جمات كښې ناست وو،اوپه مخ باندې ئې د غم او حزن آثار معلوميدل.حضرت صديقه ﷞ فرمائى.ماد دروازې د سورى نه كتل.چه يو سړې نبى ﷺ ته راغلو.او وې وئيل (ددغه سړى نوم معلوم نشو.چه څوك وو؟[1]) يارسول الله ﷺ د جعفر د كور زنانه ژاړى.نبى ﷺ هغه ته حكم اوكړو.چه لاړ شه.هغوى منع كړه.هغه لاړلو.او بيا راغلو .وې وئيل ما هغوى منع كړې.خو هغه ښځو خبره اونه منله.نبى ﷺ بيا حكم وركړو .چه لاړ شه هغوى منع كړه.هغه لاړلو.او واپس راغلو، وې وئيل، په الله قسم هغه ښځې خو په مونږ باندې غالبې راغى.او خبره نه منى.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.لاړه شه دهغوى په خولو كښې ته خاورې واچوه.حضرت عائشې ﷞ فرمائى.ما په زړه كښې دهغه كس دپاره اووئيل.

قوله: أرغم الله أنفك ما أنت تفعل وما تركت رسول الله ﷺ من العناء:الله دې ستا پوزه په خاورو ككړه كړى.نه خو ته د رسول الله ﷺ په حكم باندې عمل كوې.اونه رسول الله ﷺ د مشقت نه بچ كوې.يعنى هركله چه ته د رسول الله ﷺ د حكم په تعميل باندې قادر نه ئې.نو ولې نه راځى.چه ښكاره ورته اووائې.چه زه دا كار نشم كولې.تاسو بل څوك اوليږئ.چه نبى ﷺ د بار بار حكم كولو د مشقت نه محفوظ شى.علامه نووى ﷫ ددې جملې هم دا مقصود بيان كړې دى.([2])

يوه شبه او دهغې جوابونه: دلته چاته دا شبه كيدې شى.چه د نبى ﷺ حكم ئې واوريدو.نو د حضرت جعفرد كور ښځو د نبى ﷺ دحكم تعميل ولې اونكړو.

① د نه منلو يوه وجه دا هم كيدې شى.چه هغه كس نبى ﷺ ته د ممانعت نسبت نه وو ذكر كړې.ددې وجې هغوى تعميل اونكړو.([3])

② يووجه دا هم بيان شوې ده.چه دغه ښځودا نهى او ممانعت په تنزيه باندې محمول كړې وو.ددې وجې ئې ژړا بنده نكړه.([4])

③ يوه توجيه دا هم شوې ده.چه د شدت غم د وجې هغوى د ژړا په بندولو قادرې نه وې.څكه ئې ژړا موقوف نكړه.دا ژړا د هغوى په اختيار كښې نه وه.اود قرآن كريم آيت دې

---

[1]) حافظ ليكى.((ألم أقف على إسمه)) فتح البارى (۵۱۴/۷)_~

[2]) قال النووى معنى كلام عائشة رضى الله عنها إنک قاصر عن القيام بما أمرت به من الإنكار ،فينبغى أن تخبر النبى ﷺ بقصورک عن ذكل ليرسل غيرک وتستريح أنت من العناء (فتح البارى (۵۱۵/۷)_

[3]) اوگورئ فتح البارى (۵۱۴/۷)_

[4]) فتح البارى ۵۱۴/۹)_

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا﴾ (١)

④ اوځلورمه وجه دا بيان شوې ده.چه كيدې شى.هغوى دجاهليت د وير طريقه خو پريخودې وه.خونفس بكاء باقى وه.اودې كس غوښتل.چه دوى بيخى ژړا بنده كړى.او راغلو.نبى ﷺ ته ئې وئيل.چه هغوى نه منى.حال دا چه هغوى د نبى ﷺ د حكم تعميل كړې وو.اود وير مروجه طريقه ئې پريخودې وه.او مطلقاً ژړا په اسلام كښې ممنوع نه ده. ددې وجې هغه ښځو دنبى ﷺ د حكم مخالفت نه وو كړې.(٢) والله اعلم.

[٤٠١١] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ عَامِرٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا حَيَّا ابْنَ جَعْفَرٍ قَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ [ر:٣٥٠٦]

دا روايت په ابواب المناقب كښې تيرشوې دې.(٣) په دې كښې دى.چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما چه به د حضرت جعفرځوى ته سلام كولو، نو وئيل به ئې.«السلام عليك يا ابن ذى الجناحين» اودا به ئې ددې وجې وئيل.چه د ترمذى په روايت كښې دى.چه دحضرت جعفر دواړه لاسونه په جنګ موته كښې كټ شوى وو.نو الله تعالى دهغه د دواړو لاسونو په بدله كښې ورته دوه وزرې وركړې.په هغې سره هغه دجنت په باغونوكښې چرته چه غواړى الوزى. ددې وجې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به دحضرت جعفر رضي الله عنه ځوئې ته «ابن ذى الجناحين» وئيل.

علامه سهيلى رحمه الله فرمائى.چه حضرت جعفر رضي الله عنه ته د جناحينو وركولو مطلب دا دې.چه الله تعالى هغه ته صفت ملكيت وركړو.چه هغه كله غواړى.خپلو لاسونو ته حركت وركوى.او الوتل شروع كوى.په حقيقت كښې د لاسونو په ځائې جناح وركول مراد نه دى.ددې وجې دا ده.چه الله تعالى ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْۤ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾ فرمائيلى دى.نوځنګه شكل او صورت چه الله تعالى انسان ته وركړې دې.داسې ښه او بهترين شكل ئې بل نشى كيدې.نوداسې به وئيلى شى. چه د هغه كوم لاسونو په دنيا كښې كټ شوى وو.هغه ورته په جنت كښې ملاؤ شو.اوپه دغه لاسونو كښې الله تعالى دا قدرت پيدا كړو.چه هغه د وزرو پشان هغه په هوا كښې اوچتوى.(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دا په حقيقت باندې محمولو كولو كښې څه اشكال نشته.كه دحضرت جعفر رضي الله عنه شكل په خپل صورت باقى وى.اود لاسونو په ځائې ورته وزرې وركړې شوې وى.نوپه دې كښې څه استحاله او اشكال دې.؟(٥)

خوحافظ د علامه سهيلى په خبره نه دې پوهه شوې.اشكال خو په دې وجه دې.چه د لاسونو

---

(١) فتح البارى(٧\٥١٤)_
(٢) فتح البارى(٧\٥١٤)_
(٣) صحيح بخارى كتاب فضائل الصحابة باب مناقب جعفربن ابى طالب رقم الحديث ٣٧٠٩)_
(٤) الروض الأنف للسهيلى(١٢\٢٥٩)_
(٥) فتح البارى(٧\٥١۶)_

پشان جناح داسې ښکلې نه معلومیږی.لکه څنګه چه لاسونو معلومیږی.د پښو په ځائې که لږګی اولګولې شی.نوهغه به دپښو پشانْ ښکلې نه وی.اګرچه هغه دهغې رنګ روغن ځومره ښکلې وی.دعلامه سهیلی رحمه الله مقصد دا دی.چه الله تعالی په انسانی بدن کښې کوم اندامونه پیدا کړی دی.هغه په خل ځائې دومره ښکلې او ښانسته دی.که په هغې کښې د کوم یو اندام په ځائې بل څیز اولګولې شی.نو ښائست ختمیږی.ددې وجې هغوی فرمائیلی دی.چه حضرت جعفر رضی الله عنه ته د جناحین ورکولو نه مراد هغوی ته د صفت ملکیت ورکول دی.چه هغه یدین ته حرکت ورکوی.اودی جناحین پشان الوزی.او چکر لګوی.والله اعلم.

تنبیه:دا روایت حاکم په مستدرك کښې د عمربن علی په طریق سره نقل کړې دې.او عمر دا د اسماعیل بن ابی خالد نه نقل کړې دې.دلته بخاری کښې امام بخاری دا د عمربن علی نه او عمرین علی د اسماعیل بن ابی خالد نه نقل کوی.حاکم ددې روایت نقل کولو نه پس فرمائی:((صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاه)) اوحافظ شمس الدین ذهبی رحمه الله هم د دوی تائیدکړې دې.(١) خو ددې دواړو حضراتو نه تسامح شوې دې.دلته په بخاری کښې دا روایت موجود دی.

[٤٠١٧/٤٠١٨] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ يَقُولُ لَقَدْ انْقَطَعَتْ فِي يَدِي يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ فَمَا بَقِيَ فِي يَدِي إِلَّا صَفِيحَةٌ يَمَانِيَةٌ

[٤٠١٨] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسٌ قَالَ سَمِعْتُ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ يَقُولُ لَقَدْ دُقَّ فِي يَدِي يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ أَسْيَافٍ وَصَبَرَتْ فِي يَدِي صَفِيحَةٌ لِي يَمَانِيَةٌ

خالدبن ولید رضی الله عنه فرمائی.چه په جنګ موته کښې زما په لاس کښې نهه تورې ماتې شوې وې.صرف،صفیحه یمانیه،زما په لاس کښې پاتې شوې وه. ،،صفیحه ، پلنې تورې ته وائی. ددې روایت نه معلومیږی.چه په جنګ موته کښې مسلمانانو په زیات تعداد کښې کافران قتل کړی وو.حال دا چه په مسلمانانو کښې صرف دولس صحابه کرامو شهادت موندې وو.

[٤٠١٩/٤٠٢٠] حَدَّثَنِي عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَامِرٍ عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ فَجَعَلَتْ أُخْتُهُ عَمْرَةُ تَبْكِي وَاجَبَلَاهْ وَاكَذَا وَاكَذَا تُعَدِّدُ عَلَيْهِ فَقَالَ حِينَ أَفَاقَ مَا قُلْتِ شَيْئًا إِلَّا قِيلَ لِي آنْتَ كَذَلِكَ

حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمائی.چه حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه بیهوشه شو.نو دهغه خور عمروبنت رواحه په ژړا شروع کړه.او په ((واجبلاه واکذا)) وغیره الفاظو سره ئې دهغه صفتونه بیانول.عبدالله بن رواحه چه کله په هوش کښې راغلو.نو خور ته ئې اوونیل.چه تا به

(١) مستدرک حاکم (٤١١٣) کتاب المغازی،ذکر فضیلة جعفر رضی الله عنه)ـ

څه ونيل.ما نه به تپوس كولې شو.چه واقعى ته داسې ني.ايا ته واقعى غر ني.سمندر ني.اوبنكاره ده چه زه نه غر ووم.اونه سمندر،ددې وجې زه شرمنده او حجالت شوم.د ابونعيم په روايت كښې دا زيادت دې.((فنهاها عن البكاء عليه))(١)

په ظاهره ددې روايت د ترجمة الباب سره څه جوړ اومناسبت نه معلوميږى. ځكه چه باب د غزوه موته متعلق دې.اود روايت تعلق د غزوه موته سره نه دد.خوپه اصل كښې امام بخارى دا روايت د وړاندې روايت دپاره د تمهيد په طور ذكر كوى.او د وړاندې راتلونكى روايت تعلق د غزوه موته سره دې.

[٤٢٦٠] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْثَرٌ عَنْ حُصَيْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ بِهَذَا فَلَمَّا مَاتَ لَمْ تَبْكِ عَلَيْهِ

په دې روايت كښې دعبدالله به رواحه رضي الله عنه د بيهوشئ واقعه ذكرده.البته په دې كښې دا زيادت دې.چه ((فلما مات لم تبك عليه)) يعنى دحضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په جنګ موته كښې انتقال اوشو.نو دهغه خور پرې اونه ژړيدله.ځكه چه هغوى منع كړې ود.

په دې روايت كښې چونكه د حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د وفات ذكر دې.اودهغوى وفات په غزود موته كښې شوې وو.په دې مناسبت سره امام بخارى دا روايت دلته ذكر كړو.والله اعلم.

تنبيه:دا روايت هم امام حاكم په مستدرك كښې نقل كړې دې.او ونيلې ني دى. ((صحيح على شرط الصحيحن ولم يخرجاه)) اوحافظ شمس الدين ذهبى رحمه الله هم د دوى تائيد اوتقليد كړې دې.حال دا چه دا روايت په بخارى كښې موجود دې. (٢)

بَابُ بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ إِلَى الْحُرُقَاتِ مِنْ جُهَيْنَةَ

حرقات د، ،حرقه، ، طرف ته منسوب دې.حرقه د يو كس لقب ګرځيدلې وو. چه نوم ني جهيش بن عامربن ثعلبه بن مودعه بن جهينه وو.هغه په يو جنګ كښې بعضې كسان سوزولى وو.ددې وجې دهغه لقب حرقه كيخودې شو.بيا وړاندې دهغه اولادته ، ،حرقات، ، ونيل شروع شو.(٣)

هغوى طرف ته رسول الله صلى الله عليه وسلم اسامه بن زيد رضي الله عنه د لښكر امير جوړكړو او اوليږلو .دامام بخارى د اسلوب او عادت نه معلوميږى.چه حضرت اسامه هم ددې لښكر امير وو.خوداهل سير او مغازى په نيز ددې لښكر امير ،غالب بن عبدالله ليثى رضي الله عنه وو.اوهغوى دا د، ،سرية

---

١) فتح البارى(٥١٧\٧)_

٢) المستدرک للحاكم التلخيص للذهبى (٤٢\٣) كتاب المغازى ذكر فضيلة جعفر رضي الله عنه)_

٣) فتح البارى (٥١٧\٧)_

غالب بن عبدالله ليثي،، په نوم سره ليکي.اوس سوال دا پيدا کيږي.چه دا سريه غالب بن عبدالله ليثي اوګرځولې شي.او که سريه اسامه بن زيد،دسريه غالب بن عبدالله په باره کښې د اهل سير رائې دا ده.چه دا د رمضان ٧ﻫ واقعه ده. (١)

امام بخاري رحمه الله دا د غزوه موته نه پس ذکر کوي.او غزوه موته په ٨ﻫ کښې شوې وه.نودا واقعه د امام بخاري رحمه الله په نيز د ٧ﻫ نه ده.بلکه د ٨ﻫ ده.حضرت اسامه به زيد نبي ﷺ د دهغه د پلار زيد بن حارثه په حيات کښې چرته هم د يو لښکر امير نه وو جوړ کړې.کله چه زيد بن حارثه رضي الله عنه په جمادى الاولى ٨ﻫ کښې شهيد شو.نو د دې نه پس نبي ﷺ حضرت اسامه د مختلفو سرايو امير جوړ کړې وو.او ليږلې وو.دعام اهل سره په خلاف دامام بخاري رحمه الله رائې دا ده.چه د دې لښکر امير حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه وو.اودا د ٨ﻫ واقعه ده.(٢)
اوښکاره ده چه امام بخاري په دې باب کښې د چا مقلد نه دې.

[٤٠٢١] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ أَخْبَرَنَا أَبُو ظَبْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْحُرَقَةِ فَصَبَّحْنَا الْقَوْمَ فَهَزَمْنَاهُمْ وَلَحِقْتُ أَنَا وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ رَجُلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا غَشِينَاهُ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَكَفَّ الْأَنْصَارِيُّ عنه فَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِي حَتَّى قَتَلْتُهُ فَلَمَّا قَدِمْنَا بَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أُسَامَةُ أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ قُلْتُ كَانَ مُتَعَوِّذًا فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَسْلَمْتُ قَبْلَ ذَلِكَ الْيَوْمِ [ر:٦٤٧٨]

حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه فرمائي.چه رسول الله ﷺ مونږ د قبيله حرقه طرف ته اوليږلو.مونږ د صبا په وخت کښې په هغوي حمله اوکړه.اوهغوي ته موشکست ورکړو.په دې دوران کښې زه او يو انصاري صحابي دهغې قبيلې يو کس سره ملاؤ شو.کله چه مونږ هغه د قتل کولو او وژلو دپاره راګير کړو.نو هغه اووئيل .«لاإله إلا الله» انصاري چه واوريدل.نو اودريدو.خوما هغه په نيزه باندې اووهل.او قتل مې کړو.ددې نه پس کله چه مونږ مديني ته راغلو.او رسول الله ﷺ ته ددې خبر اوشو.نو نبي ﷺ اوفرمائيل.«يا أسامة أقتلته بعد ما قال لا إله إلا الله» اې اسامه د لااله الا الله وئيلو باوجود تا هغه قتل کړو.ما اووئيل.هغه خود ځان بچ کولو دپاره کلمه وئيله.خو نبي ﷺ مسلسل دا وئيل.«أقتلته بعد ما قال لا إله إلا الله»

قوله: حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَسْلَمْتُ قَبْلَ ذَلِكَ الْيَوْمِ: تردې چه ما دا تمنا اوکړه.چه د نن نه وړاندې ما اسلام راوړې نه وې.

ددې جملې مطلب دا دې.چه د نبي ﷺ د بار بار وئيلو نه حضرت اسامه ته دخپلې غلطئ د سختوالي احساس اوشو.او هغه تمنا اوکړه.چه کاش زه اوس مسلمان شوې ووم.چه د

---

١) فتح الباري(٥١٧/٧)_
٢) فتح الباري(٥١٧/٧)_

«الإسلام يهدم ما كان قبله» مطابق زما ددې غلطۍ كفاره او تدارك شوې وې.دا مطلب نه دې.چه حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه العياذبالله د كفر تمنا كړې وه.چه زه اول كافر وې.او اوس مې روسته اسلام راوړې وې.په دې تمنا سره ئې دخپلې لوئې غلطۍ تدارك مقصود وو.داسې نه چه د كفر،دواړه خبرې جدا جدا دی.(١)

[٤٠٢٢/٤٠٢٢] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ يَقُولُ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَخَرَجْتُ فِيمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبُعُوثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ مَرَّةً عَلَيْنَا أَبُو بَكْرٍ وَمَرَّةً عَلَيْنَا أُسَامَةُ وَقَالَ عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ يَقُولُ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَخَرَجْتُ فِيمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبَعْثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ عَلَيْنَا مَرَّةً أَبُو بَكْرٍ وَمَرَّةً أُسَامَةُ

قوله: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ...: حضرت سلمة بن اكوع رضي الله عنه فرمائى.«غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَخَرَجْتُ فِيمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبَعْثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ» ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په اووه غزواتو كښې شركت كړې دې.او نهه داسې غزواتو كښې مې شركت كړې دې.په كومو كښې چه نبى صلى الله عليه وسلم لښكر ليږلې دې.اونبى صلى الله عليه وسلم په خپله په هغې كښې نه وو تلې.

حضرت سلمه رضي الله عنه چه په كومو اووه غزاگانو كښې د نبى صلى الله عليه وسلم سره شركت كړې وو.په هغې كښې اوله غزوه خيبر ،دويمه حديبيه،دريمه حنين، څلورمه ذى قرد پنځه فتح مكه شپږمه طائف او اوومه غزوه تبوك وه.(٢) اوپه نهه سريو كښې دوى شركت كړې وو.سريه هغه لښكرته وائى.په كوم كښې چه نبى صلى الله عليه وسلم په خپله شريك شې نه وى.خودا د متاخرينو اصطلاح ده.د متقدمينو په اصطلاح كښې كه نبى صلى الله عليه وسلم تشريف اوړې وى اوكه نه،په دواړو باندې غزوې اطلاق كيږى.ددې وجې دلته «تسع غزوات» د«تسع سريات» په معنى كښې دى.وړاندې حضرت سلمه رضي الله عنه فرمائى .چه په دې نهو غزواتوكښې كله نبى صلى الله عليه وسلم په مونږ باندې حضرت ابوبكر رضي الله عنه (غوندې جليل القدر او معمرصحابى) امير جوړ كړې وو.اوكله اسامه بن زيد (غوندې كم عمر او نوې زلمې) امير مقرر كړې وو.

قوله: وَقَالَ عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ...: داولنى روايت د تائيد دپاره امام بخارى دا روايت نقل كړې دې.

[٤٠٢٣] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَغَزَوْتُ مَعَ ابْنِ حَارِثَةَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَيْنَا

د ابن حارثه نه مراد حضرت اسامه بن زيدبن حارثه دې.

---

١) لامع الدرارى (٣٦٠/٨)_

٢) فتح البارى(٥١٨/٧)_

[۴۰۲۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ فَذَكَرَ خَيْبَرَ وَالْحُدَيْبِيَةَ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ وَيَوْمَ الْقَرَدِ قَالَ يَزِيدُ وَنَسِيتُ بَقِيَّتَهُمْ وَنَسِيتُ بَقِيَّتَهُمْ اى بقية غزواتهم

او اوس وړاندې په ماقبل کښې هغه باقی غزوات بیان کړې شوې.

بَاب غَزْوَةِ الْفَتْحِ

وَمَا بَعَثَ بِهِ حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِغَزْوِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

امام بخاری رحمه الله دوه ترجمې قائمې کړې دی.یوه ((باب غزوة الفتح)) او بله ددې نه پس ((باب غزوة الفتح فی رمضان)) په اولنی باب کښې خو امام بخاری نفس غزوه بیانول غواړی.اوددې ابتدائی امورو طرف ته اشاره کول مقصود دی.او په دویم باب کښې ددې تاریخ طرف ته اشاره کول مقصود دی.اول تاسو ددې غزوې تاریخی تفصیل واورئ.ددې نه پس به ان شاء الله په روایات بخاری باندې بحث کیږی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابراهیم ګده نشین او د هغوی د کار د تېولو نه لوئې داعی وو حضرت ابراهیم علیه السلام د توحید په بنیاد باندې په مکه مکرمه کښې د خانه کعبې بنیاد کیخودې وو.خوهغه خانه کعبه چه د توحید په بنیادونو باندې قائمه شوې وه.د ۳۶۰ بتانو نه ډکه وه.نبی صلی الله علیه وسلم چه کله الله تعالی د نبوت په دولت باندې کامیاب کړو.نونبی صلی الله علیه وسلم د توحید اعلان شروع کړو.اودوی غوښتل، چه دټولې دنیا نه دکفر او شرك د بنیادونو خاتمه اوکړی.خو چه په مکه کښې د استوګنې په دوران کښې نبی صلی الله علیه وسلم ته د قریشو د مخالفت اوعربو د دشمنو په وجه دومره موقع ملاؤ نشوه،چه خانه کعبه د بتانو د ګندګئ نه پاکه کړی.تردې چه الله تعالی دوی ته د هجرت اجازت ورکړو.او هجرت ئې اوکړو مدینې منورې ته ئې تشریف یوړو .نو تریو زمانې پورې د قریشو په پرله پسې حملو کولو په مدافعت کښې مشغول وو.او نبی صلی الله علیه وسلم د کعبې طرف ته توجه نشوه کولې.په ۶ھ نبی د عمرې په نیت باندې کعبې طرف ته لاړو.نو قریش رکاوټ شو.او آخردا چه صلح حدیبیه واقع شوه.لکه څنګه چه وړاندې په تفصیل سره خبره تیره شوې ده.چه په دې صلح کښې د عربو عامو قبیلو ته اختیار ورکړې شوې وو.چه کومه قبیله دچا سره ملاویدل غواړی .هغوی سره دې ملګری شی.نو څه قبیلې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شوې اوڅه د مکې قریشو سره ملګرې شوې.په دې قبیلو کښې بنو خزاعه قبیله د مسلمانانو سره شوه.او د دوی حلیف شوه.اوقبیله بنو بکر د قریشو حلیف جوه شوه.خودا صلح قریشو سره زیاتې مودې پورې پاتې نشوه.د صلح حدیبیه نه وړاندې قریش څه چه ټول عرب نبی صلی الله علیه وسلم طرف ته متوجه وو.او د نبی صلی الله علیه وسلم خلاف په قسم قسم سازشونو کښې مشغول وو.خوچه کله صلح اوشوه.نود ساه اخستو موقع ملاؤ شوه.بل طرف ته مسلمانانوته د دعوت اسلام او تبیلیغ یوه ډیره ښه موقع په لاس ورغله.اوبل طرف ته د عربو قبیلو ته خپلې خانه جنګئ وربه یادې شوې.

بنو خزاعه او بنوبکرکښې د پخوا زمانې راسې دشمنئ راروانې وې.خود ظهور اسلام نه پس د دې دواړو توجه اسلام او مسلمانانو ته ګرځیدلې وه.ددې په وجه ددوی په خپله مینځ کښې جنګ سوړ شوې وو.د صلح حدیبیه نه پس د جنګ شغلې دوباره تازه شوې.او بنو بکر په بنو خزاعه باندې حمله اوکړه.د قریشو ډیرو کسانو په دې حمله کښې بنو بکر سره امداد اوکړو.عکرمه بن ابی جهل، صفوان بن امیه و سهیل بن عمرو وغیره پخپله په دې حمله کښې شریك شو.خزاعه په حرم کښې پناه واخستله.خوهلته هم هغوی ته پناه ملاؤ نشوه.اوهغوی قتل کړې شو.او لوټ کړې شو.([1])

قریشو دا د صلح حدیبیه ښکاره خلاف ورزی اوکړه.ځکه چه د صلح حدیبیه په شرطونو کښې دا خبره شامله وه،چه نه به مسلمانان د قریشو حلیفو قبیلو سره جنګ کوی.او نه به قریش د مسلمانانو حلیف قبیلو خلاف د جنګ کاروائی کښې برخه اخلی.دلته قریشو ددې شرط خلاف ورزی اوکړه.اود مسلمانانو حلیف بنو خزاعه خلاف ئې باقاعده په جنګ کښې حصه واخسته.اودغه شان د لسو کالو دپاره چه کومه معاهده شوې وه.هغه ئې ماته کړه.

عمروبن سالم د څلویښتو کسانو یو وفد واخستل.اود قریشو د معاهده صلح د خلاف ورزئ ګیلې اود نبی ﷺ نه د مدد طلب کولو په غرض مدینه منورې ته حاضر شو.او ډیر دردناك اشعار ئې اووئیل.او د نبی ﷺ نه ئې مدد اوغوښتل.([2])

نبی ﷺ قریشوته پیغام اولیږلو،چه په درې خبرو کښې یوه خوښه کړئ.① د بنو خزاعه د مقتولینو دیت ادا کړئ.② یا د بنو بکر د معاهدې نه جدا شئ.③ یاد صلحې دمعاهدې د منسوخ کیدو اعلان اوکړئ.

قرطه بن عمرو د قریشو دطرفه جواب ورکړو،او وې وئیل.چه مونږ دریمه خبره اختیاروو.نو قاصد دهغه جواب راوړو ،او مدینې منورې ته واپس شو.د قاصدد روانیدو نه سمدستی روسته قریشو په خپل بیوقوفتوب باندې پښیمانتیا او ندامت ورغلو.([3])

---

[1]) اوګورئ سیرت ابن هشام مع الروض الانف (٢\٢٦٤) زاد المعاد (٣٩٤\٤ و ٣٩٥)_

[2]) په سیرت ابن هشام کښې هغه اشعار داسې منقول دی.

یار ب إنی ناشد محمدا	حلف أبینا وأبیه ألا تلدا
قد کنتم ولدا وکنا والدا	ثمت أسلمنا فلم ننزع یدا
فانصر هداک الله نصراً اعتدا	وادع عبادالله یاتوا مددا
فیهم رسول الله قد تجردا	إن سیم خسفا وجهه تربدا
فی فیلق کالبحر مزبدا	إن قریشاً أخلفوک الموعدا
ونقضوا میثاقک المؤکدا	وجعلوا إلی فی کداء رصدا
وزعموا أن لست أدعو أحدا	وهم أذل وأقل عددا
هم بیتونا بالوتیر هجدا	وقتلوا رکعاً وسجداً

سیره ابن هشام مع الروض الأنف (٢\٢٦٥)_

[3]) زرقانی (٢\٢٣٦)_

د قريشو د طرفه د تجديد معاهدې كوشش: قريشو ابو سفيان د معاهدې د تجديد دپاره مديني منورې ته د نبی ﷺ په خدمت كښې راوليږلو. ابو سفيان راغلو. اود نبی ﷺ په خدمت كښې حاضر شو. خو اول خپلې لور ام المومنين حضرت ام حبيبه رضي الله عنها كره ورغلو. په كور كښې د نبی ﷺ بستره خوره شوې وه. ام المومنين هغه بستره راغونډه كړه. ابو سفيان ډير په حيرانتيا سره تپوس اوكړو. بچې تا دا بستره راغونډه كړه. دا بستره دې زما قابله اونه ګڼړله. اوكه زه دې د دې بسترې قابل اونه ګڼړلم. ام المومنين اووئيل. ته مې ددې بسترې قابل اونه ګڼړلې. دا د رسول الله ﷺ بستره ده. په دې باندې يو مشرك څنګه كيناستې شی؟ ابو سفيان چه دا غير متوقع جواب واوريدو. نو وې وئيل. په الله قسم لورې ته زمانه پس په شر كښې اخته شوې ئې. ام المومنين اوفرمائيل. په شر كښې نه. بلكه د كفر دتيرې نه رابهر شوې يم. اوپه اسلام كښې داخل شوې يم. [1] بيا ابو سفيان مسجد نبوی ته داخل شو. او نبی ﷺ ته ئې د تجديد معاهدې خبره اوكړه. نبی ﷺ خاموش شو. كله چه د دربار رسالت نه څه جواب ملاؤ نشو. نو دې حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته ورغلو. حضرت ابوبكر رضي الله عنه اووئيل. زه څه نشم كولې. حضرت فاروق رضي الله عنه ته ورغلو. اود تجديد معاهدې سفارش ئې اوكړو. هغه اووئيل.

قوله: أنا أشفع لكم إلى رسول الله ﷺ؟ والله لو لم أجد الا الذر لجاهدتكم به: زه رسول الله ﷺ ته ستا سفارش اوكړم؟ كه زما سره تاسو سره د جنګ دپاره هيڅ هم نه وی. نو هم به تاسو سره جهاد كوم.

چه ددې خائې نه مايوسه شو. نو بيا حضرت علی رضي الله عنه ته ورغلو. حضرت علی رضي الله عنه ورته اووئيل. چه رسول الله ﷺ كوم قصد او اراده كړې ده. اوس په چا كښې دا جرات نشته. چه هغه نبی ﷺ سره په هغه باره كښې خبره اوكړی. ابوسفيان حضرت علی رضي الله عنه ته منت اوكړو. چه ماته خو څه طريقه اوښايه. چه زه اوس څه اوكړم. حضرت علی رضي الله عنه ورته اووئيل. زما په ذهن كښې خو صرف دومره خبره راځی. كه ته مناسب ګڼړې. نو داسې اوكړه. چه جمات ته لاړ شه. او اعلان اوكړه. چه زه د صلح د تجديد دپاره راغلې يم. [2] نو ابو سفيان راغلو. او اعلان ئې اوكړو. او واپس مكې مكرمې ته راړلو. دمكې خلقو ته چه كله صورتحال معلوم شو. نو هغوی اووئيل. نه خودا صلح ده. چه مونږ غلی كينو. او نه دا د جنګ خبر دې. چه مونږ دې دپاره تيارې اوكړو.

دمكې د فتحې تيارې: رسول الله ﷺ د ابوسفيان د واپسئ نه پس د فتح مكه تيارې شروع كړه. او صحابو رضي الله عنهم ته ئې اووئيل. چه دا پټه ساتئ. ددې ښكاره كول نه دی پكار. په دغه دوران كښې حضرت حاطب بن ابی بلتعه د اهل مكه په نوم يو خط اوليكل. په هغې كښې د رسول الله ﷺ د مكې د فتحې د تيارئ اطلاع وركړې شوې وه. دا خط د يوې ښځې په لاس مكې

[1]) السيرة الحلبية (٣\٧٢) والكامل لابن الأثير (٢\١٦٣)_

[2]) سيرة ابن هشام مع الروض الأنف (٢\٢٦٥) والكامل لابن الأثير (٢\١٦٣) وزاد المعاد (٣\٣٩٧و ٣٩٨) والسيرة الحلبيى (٣\٧٣)_

ته روان کړې شوې وو.خو الله تعالی دوحی په ذریعه نبی ﷺ ته خبرورکړو.اوهغه خط اونیوې شو. د دې تفصیل وړاندې تیر شوې دې.

د اسلامی لښکر روانیدل: رسول الله ﷺ د لس زره لښکر سره مکې مکرمې ته روان شو.دا د رمضان لسم تاریخ۸هـ د جنوری ۶۳۰ ء واقعه ده.(۱) په ازواجو کښې حضرت ام سلمه او حضرت میمونه رضی الله عنهما د نبی ﷺ سره وې.په مقام ذوی الحلیفه یا مقام جحفه کښې حضرت عباس د خپل اهل وعیال سره مدینې منورې ته هجرت کونکی ملاؤ شو.حضرت عباس وړاندې ایمان راوړې وو.خو د رسول الله په حکم سره په مکه کښې اوسیدو.حضرت عباس رضی الله عنه سامان مدینې منورې ته اولیږل.اوپه خپله داسلامی لښکر سره شو.اود قریشو خبرونه به ئې نبی ﷺ ته رارسول.(۲) په مقام ابواء کښې د نبی ﷺ د تره خوئې حضرت ابوسفیان بن حارث او د ترور (دپلار خور) خوئې حضرت عبدالله بن ابی امیه د مکې نه مدینې منورې ته هجرت کولو چه نبی ﷺ سره ملاؤ شو.او د نبی ﷺ په لاس باندې مشرف په اسلام شو.(۳) د مدینې منورې نه د روانیدو په وخت کښې ټولو صحابه روژه دار وو.چه مقام کدید ته اورسیدل.نو نبی ﷺ د صحابو رضی الله عنهم د مشقت د وجې روژه ماته کړه.او صحابو رضی الله عنهم هم د نبی ﷺ په اتباع کښې روژه ماته کړه.(۴) د مقام کدید نه لاړل او د ماختسون اسلامی لښکر مرالظهران ته اورسیدل.هلته ډیره شو.نبی ﷺ حکم ورکړو.چه ټولې قبیلې دې خپلې خپل اورونه جدا جدا اولګوی.دغه شان ټوله صحراء د رنړاګانو یوه نظاره شوه.(۵)

قریشو سره د خپلې وعده خلافئ په وجه دا فکر شوې وو.چه په هر وخت کښې مسلمانان په مکه باندې حمله کولې شي.ددې وجې د شپې د تحقیق حال دپاره ابوسفیان ، بدیل بن ورقاء ،او حکیم بن حزام د مکې نه راووتل.چه مقام مر الظهران ته اورسیدل.او اورونه ئې اولیدل.ابوسفیان اووئیل.دا اور دلته څنګه دې؟ بدیل اووئیل. د بنو خزاعه دې.ابوسفیان اووئیل.د خزاعه دومره لښکر دکوم ځائې نه راغلو.اوس لا دې کسانو داور په باره کښې تخمینې لګولې.چه د رسول الله ﷺ په حفاظت باندې مقرر څو صحابو رضی الله عنهم دوی اولیدل. اواونیول.حضرت عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خچر باندې سور ګیرچاپیره ګرځیدلو.چه ابوسفیان طرف ته راغلو.هغه ئې خپل ځان پسې روسته کینولو.او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر کړو.او دنبی ﷺ نه ئې د هغه دپاره پناه ا وغوښتله.حضرت عمرچه ابو سفیان اولیدل.نو توره ئې راواخستله.او په هغه پسې شو.اود رسول الله ﷺ نه ئې د هغه د ختې وهلو اجازت اوغوښتلو.حضرت عباس اووئیل.یارسول الله ده ته ما پناه ورکړې ده.حضرت

---

۱) البدایة والنهایة (۳۷۸\۴)_ وسیرة النبی ﷺ (۲۹۴\۱)و طبقات ا بن سعد (۱۳۵\۲)_
۲) سیرة مصطفی (۱۳\۳) والکامل لابن الأثیر (۱۶۴\۲)_
۳) البدایة والنهایة (۲۸۷\۴)_
۴) البدایة والنهایة (۲۸۶\۴)_
۵) طبقات ابن سعد (۱۳۵\۲)_

عمر ﷺ چه کله د ابوسفيان په قتل باندې اصرار اوکړو.نو عباس ﷺ اووئيل. عمرا که دې د بنو عدی ځنی وو.نوتا به دده په مرګ باندې هيڅ کله دومره اصرار نه وو کړې.خوچونکه دې د بنو عبد مناف سره تعلق ساتی.ځکه ته دده په قتل باندې دومره اصرار کوې.حضرت عمر ﷺ اووئيل.

قوله: مهلا يا عباس،فوالله لإسلامك يوم أسلمت كان أحب إلى من إسلام الخطاب لوأسلم،ومابي إلا أني قد عرفت أن إسلامك كان أحب إلى رسول الله من إسلام الخطاب: (١) اودريږه عباسه ستا اسلام په الله قسم دې چه ماته (دخپل پلار) خطاب د اسلام راوړو نه زياته خوښ وو.ځکه چه ماته معلومه وه.چه رسول الله ﷺ ته ستا اسلام راوړل د خطاب داسلام راوړو نه زيات خوښ وو.

رسول الله ﷺ عباس ته اووئيل. ننه شپه ابوسفيان خپلې خيمې ته بوځه، او صبا د صحر نې ماته راوله.ابوسفيان دحضرت عباس ﷺ سره خيمې ته لاړل.او حکيم بن حزام او بديل بن ورقاء دواړه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.اوپه اسلام مشرف شو.

په راروان صبا ابوسفيان د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او اسلام ئې راوړو.په شروع شروع کښې ابوسفيان ته د اسلام په باره کښې تذبذب وو،خوبيا هغه تذبذب ختم شو،او د اسلام دپاره دوی لوئې قربانيانې ورکړې.(٢)

حضرت عباس ﷺ رسول الله ﷺ ته اووئيل. يارسول الله ابوسفيان د مکې سردار دې. ته ده ته څه امتياز ورکړه.رسول الله ﷺ اوفرمائيل.اعلان اوکړئ.کوم کس چه د ابوسفيان کور ته داخل شو.هغه به په امن وی.ابوسفيان اووئيل. يارسول الله زما په کور کښې تول کسان چرته راتلې شی.نبی ﷺ اوفرمائيل.کوم کس چه مسجد حرام ته داخل شو.هغه دپاره هم امن دې.ابوسفيان اووئيل.په جمات کښې هم دومره ګنجائش نشته.نو نبی ﷺ اوفرمائيل.بنه ده چه کوم کس د خپل کور دروازه بنده کړی.او په کو رکښې کينی.دهغه دپاره هم امن دې.(٣)

بيا رسول الله ﷺ حضرت عباس ته اوفرمائيل.ابوسفيان دې دغر سر ته بوځی. اواودرولې شی.په کومه چه اسلامی لښکرې تيريږی.دې دپاره چه دې ښه ددې مشاهده اوکړی.

په بله ورځ د مکې طرف ته د روانيدو اعلان اوشو.د لسو زره قدسيانو پاکبازو جمعيت مکې طرف ته روان شو.ابوسفيان به تپوس کولو،.دا څوك دی؟ حضرت عباس ﷺ به ورته بيانول چه دا قبيله غفار ده.دا سعدبن هذيم ده.دا سليم ده.بيا يو لوئې لښکر راغلو.چه د وادئ (خوړ) نه تيريدل.ابوسفيان چه هغه اوليدل.نو حيران شو اوتپوس ئې اوکړو.دا څوك دی؟ حضرت عباس ﷺ اووئيل. دا انصار دی.دانصارو بيرغ د حضرت سعد بن عباده ﷺ سره وه.چه ابوسفيان ئې اوليدل.نو د حضرت سعد حميت په جوش کښې راغلو.اودهغه د

---

(١) د تفصيل دپاره اوګورئ البداية والنهاية (٢٨٩\٤و ٢٩٠) وزد المعاد (٣٠٢\٣)_

(٢) الكامل لابن الأثير (١٦٥\٢) والبداية والنهاية (٢٨٩\٤)_

(٣) دلائل النبوة للبيهقى (٣٢\٥) باب نزول رسول الله ﷺ بمر الظهران)_

ژبې نه دا جمله اووتله.((اليوم يوم الملحمة اليوم تستحل الكعبة)) نن د جنګ ورځ ده.نن به كعبه د قتل وقتال دپاره حلاله كړې شي.چه دا جمله ئې واوريده.نود ابوسفيان زړه اووېريدل .هغه حضرت عباس رضي الله عنه ته اوونيل. ابوالفضل تا واوريده.چه سعد بن عباده اوس څه اووئيل.په دې كښې د رسول الله ﷺ ډله د ابوسفيان په خواه كښې تيريده .ابوسفيان اووئيل.يارسول الله تاسو واوريدل.چه سعد څه اوونيل.نبى ﷺ اوفرمائيل .څه ئې اوونيل.ابوسفيان ورته خبره دوباره اوكړه.نوددواړو جهانو سردار اوفرمائيل .((كذب سعد ولكن هذا اليوم يعظم الله فيه الكعبة ويوم تكسى فيه الكعبة)) سعد صحيح نه دى وئيلى.په نن ورځ خو به الله تعالى د كعبې د تعظيم انتظام اوكړى.او كعبې ته به غلاف واچولې شى.

ددې نه پس نبى ﷺ حكم وركړو.چه د سعد بن عباده رضي الله عنه نه دې بيرغ واخستې شى.اوده‌غه خوئې قيس بن سعد رضي الله عنه ته دې وركړې شى.(١) دا حكم نبى ﷺ ددې دپاره وركړو.چه حضرت سعد ته تنبيه اوشى.خودا حكم د حضرت سعد رضي الله عنه د خفګان سبب نه وو.ځكه چه بيرغ هم په خپل كور كښې پاتې شوه.دخپل لاس په ځائې د خوئې په لاس كښې شوه.

ابوسفيان چونكه د مكې سردار وو.ددې وجې هغه سره د اهل مكې فكر وو. په تلوارد اسلامى لښكر نه وړاندې اووتل.او مكې ته داخل شو.او اعلان ئې اوكړو .چه اسلامى لښكر راروان دې.اسلام راوړئ.نو محفوظ به شئ.يا زما كور ته داخل شئ.يا دخپلو كورونو دروازې بندې كړئ.اويا مسجد حرام ته لاړ شئ.نو په امن به شئ.چه د ابوسفيان دا اعلان ئې واوريده.نودهغه ښځه هنده راغله.او ابوسفيان ئې د ګيرې نه اونيولو او وې وئيل.((يا آل غالب : اقتلوا هذا الشيخ الأحمق)) ابوسفيان ښځې ته اوونيل.((ارسلى لحيتى واقسم لئن لم تسلمى أنت لتضربن عنقك أدخلى بيتك)) (٢) زما ږيره پريږده.زه قسم خوروم.او وايم.كه تا اسلام قبول نكړو. نو ستا څټ به قلم كولې شى.كور ته ننوځه.

مكې مكرمې ته داخليدل: دمكې مكرمې پورتنى طرف ته ,,كداء ((بضم الكاف والمد)) وئيلى شى.او ښكتنى طرفته ,,كدى,, (بضم الكاف والقصر) وئيلې شى.(٣) نبى كريم ﷺ د ,,كداء ,, طرف نه مكې ته داخل شو.او حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه ته ئې د انصارو يوه ډله وركړه.د ,,كدى,, طرف نه ئې ورته د داخليدو حكم اوكړو.(٤) اوهغه ته نبى ﷺ فرمائيلى وو.چه چاته به تعرض نشى كولې.خوكه څوك مقابلې ته راشى.نو ((فاحصد وهم حصداً حتى توافوانى على الصفاء))(٥)

---

(١) اوګورئ دلائل النبوة للبيهقى (٣٨\٥) والبداية والنهاية (٢٩٠\١٤) وصحيح بخارى كتاب المغازى باب أين ركز النبى ﷺ الراية يوم الفتح رقم الحديث ٤٢٨٠)_

(٢) الكامل لابن الأثير (١٦٦\٢)_

(٣) الروض الأنف (٢٧٠\٢)_

(٤) البداية والنهاية (٢٩٢\٤) وعمدة القارى (٢٨٠\١٧)_

(٥) زاد المعاد (٤٠٤\٣)_

حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه چه د كوم طرف نه داخليدو.هلته د قريشو څو (اوباش) خوشاباري (لوفران) جمع شوي وو.او مقابله كول ئې شروع كړو.حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه كوشش اوكړو. چه دجنګ نوبت رانشي.خوهغه خلق نه منع كيدل .اوور كوتې غوندې جنګ اوشو.په هغې كښې دوه مسلمانان او د يو روايت مطابق درې مسلمانان شهيدان شو.په هغې كښې حضرت كرزبن جابر فهري،حضرت حبيش بن اشعر او حضرت مسلمه بن الميلاء شامل وو.اود كافرانو دولس (١)اود يو روايت مطابق څلوريشت كسان قتل شول.(٢) كله چه نبي ﷺ تورې پرقيدونكي اوليدې.اوصورتحال ئې معلوم كړو.نو حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه پوره خبره بيان كړه.نبي ﷺ اوفرمائيل.څه چه په تقدير كښې وو.په هغې كښې خير دې.(٣)

دنبي ﷺ دپاره نن ورځ د خوشحالئ او مسرت ورځ وه.دكوم زمكې نه چه په دوى باندې د غرونو پشان ظلمونه شوي وو.او دوى ويستلي شوي وو.چرته چه د دوى مظلومان ملګري په سوزونكي شګه باندې سملولي شول.اوچرته چه د توحيد آواز اوچتول خپل مرګ ته دعوت وركول وو.نن الله تعالى د اورد او د صبر د مراحلو طې كولو نه پس دوى ته په دغه زمكې كښې فاتحانه شان باندې د داخليدو موقع وركړه.اوهغه وخت راغلو.چه نبي ﷺ حرم مكه د كفراو شرك د ګندګو نه پاك كړي.او د الله تعالى په دې كور كښې بيا د توحيد آوازونه اوچت شي.دكوم ځائې مقدس فضاګانې چه د صدو پورې د توحيد د آوازونو نه معمور وې.اواوس هغه د (٣٦٠) بتانو ميله جوړه شوې وه.خو د دواړو جهانو سردار حضرت محمد ﷺ دخوشحالئ او مسرت په دې موقع د فخراوغرور طريقه اختيار نكړه.بلكه د انكسارئ او عاجزئ ئې دا حالت وو.چه په اوښه باندې سور وو.زړه ئې د شكر د جذباتو نه ډك وو.او په ژبه ئې د سورة فتح تلاوت جاري وو.او سر مبارك ئې د عاجزئ د وجې ټيټ د پردې لرګي سره لګيدل.(يعني هغه لرګي چه په هغې كښې ئې پرده اويزانده كړې وه) (٤)

چه مكې مكرې ته داخل شو.نو د ټولو نه وړاندې ئې د حضرت ابوطالب لور حضرت ام هانى كور ته تشريف يوړو.غسل ئې اوكړو.او اته ركعته مونځ ئې اوكړو .د اهل علم په اصطلاح كښې دې مونځ ته ، ،صلاة الفتح، ، وائى.(٥)

د نبي ﷺ دقيام دپاره په هغه شعب ابى طالب كښې خيمه اولګولې شوه.چرته چه په ابتداء د اسلام كښې قريشو او بنو كنانه په شريكه بنو هاشم او بنو المطلب محصور كړي وو.

مسجد حرام ته داخليدل: ددې نه پس نبي ﷺ مسجد حرام ته راغلو.اود خانه كعبې طواف ئې اوكړو.او د خانه كعبې نه ګيرچاپيره چه د درې سوه او شپيته بتانو كوم انبار لګيدلې

---

(١) زاد المعاد (٣\٤٠٥) وسيرت ابن هشام مع الروض الأنف (٢\٢٧٢) دسيرت ابن هشام په روايت كښې د ديارلسو كسانو ذكر هم شته۔

(٢) سيرت حلبية (٣\٨٣)_

(٣) فتح الباري(٨\١١)_

(٤) السيرة الحلبية (٣\٨٤)_

(٥) زاد المعاد (٣\٤١٠)_

وو. نبى ﷺ به يو يو بت ته د خپل شل (وركوټي لرګي) په سوكه باندې اشاره كوله. او د قرآن كريم دا ايت به ئې لوستل. ﴿وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾ [1]
دطواف د فراغت نه پس ئې عثمان بن طلحه راغوښتل.او د خانه كعبې كنجيانې ئې ترې واخستې.بيت الله ئې كهولاؤ كړو.اوپه دې كښې دننه جوړ شوى څو تصويرونه وو.دټولو د ورانولو حكم ئې اوكړو.حضرت عمر رضي الله عنه دننه لاړل.اوچه څومره تصويرونه وو.هغه ټول ئې وران كړل.بيا نبى ﷺ حضرت بلال او حضرت اسامه خان سره واخستل.او دننه ورننوتل.اود تكبير مقدسو آوازونو باندې ئې د هغې فضاګانې منورې كړې. [2]
چه بهرته راووتل.نو مسجد حرام ټول ډك وو.اود پښې كيخودو ځائې نه وو.د خلقو انتظار وو.چه نن به نبى ﷺ د خپلو هغه مخالفينو په باره كښې څه حكم كوى.چا چه دخپل ژوند ټول قوتونه دوى په تكليف وركولو اود دين اسلام د تبليغ په لار كښې ئې د ركاوټ جوړلو دپارد وقف كړى وو.نبى ﷺ هغه خطبه اونيله. كومه چه د جاهليت د رسمونو د باطلوالى اوحتمولو او دانسانى مساوات په درس باندې مشتمله وه.د خطبې نه پس نبى ﷺ د مكې قريشو طرف ته اوكتل.او وې وئيل.«يامعشر قريش ما ترون أنى فاعل بكم» ستاسو څه خيال دې چه زه به تاسو سره څه كوم.؟ قريشو اووئيل. «خيرا أخ كريم وابن أخ كريم» دنيكئ ته شريف ورور ئې اود شريف ورور خوئې ئې.نبى ﷺ اوفرمائيل.«لا تثريب عليكم اليوم اذهبوا فأنتم الطلقاء» په تاسو نن څه ملامتيا نشته.ځئ تاسو ټول آزاد ئې.
د كعبې په چهت باندې اذان: دچه ماسپخين د مانځه وخت شو.نو نبى كريم ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته حكم اوكړو،چه د كعبې د چهت ته اوخيژه او اذان اوكړه،د څو لمحو تيريدو نه پس د حضرت بلال رضي الله عنه داذان آوازونه د مسجد حرام په پاكو فضاګانو كښې غريدل .عتاب بن اسيد او خالد بن اسيد د كعبې په صحن كښې ناست وو،چه اذان ئې واوريدل.نو وې وئيل. الله تعالى زمونږ د پلار عزت كړې دې.چه ددې آواز د اوريدو نه وړاندې ئې هغه د دنيا نه رخصت كړې دې.رسول الله ﷺ چه كله دهغوى طرف ته تيرشو،نوورته ئې اووئيل.څه چه تاسو اووئيل.الله تعالى ماته د هغې خبر راكړو،اوهغوى چه څه وئيلى وو.هغه ئې ورته بيان كړو. عتاب بن اسيد چه كله خپله خبره درسول الله ﷺ د ژبې نه واوريده.نو په اسلام مشرف شو. [3]

---

[1]) الأسراء :٨١) اوګورئ زاد المعاد (٤٠٦\٣) وصحيح مسلم كتاب الجهاد رقم الحديث ٤٣٨٩)_
[2]) فتح البارى (١٧\٨) و زاد المعاد (٤٠٦\٣و ٤٠٧)_
[3]) زاد المعاد (٤١٠\٣) وسيرت ابن هشام (٤١٣\٢)..
د سيرت په كتابونوكښې خطبه داسې منقول ده،
لاإله إلا الله وحده لا شريك له،صدق وعده ، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده. ألا كل مائرة أو مال أو دم ،فهو تحت قدمى هذا إلا سدانة البيت وسقاية الحجاج. ألا وقتل الخطا شبه العمد السوط والعصا، ففيه الدية مغلظة مائة من الإبل أربعون منها فى بطونها أولادها .يا معشر قريش إن الله قد ذهب عنكم نخوة الجاهلية وتعظمها بالأباء .الناس من آدم وآدم من تراب. ثم تلا هذه الآية.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

رسول الله ﷺ هغه د مکې والي جوړ کړو.او ترمرګه پورې هم د مکې والي وو.د دوی وفات هم په هغه ورځ شوې وو،په کومه ورځ چه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه وفات شوې وو.(١)
د غزوه حنین نه په واپس راتلو کښې د حضرت ابومحذوره د مسلمانیدو مشهوره واقعه پیښه شوه.چه دحضرت بلال رضی الله عنه د اذان آواز ئې واوریدو،نوهغه د ټوقو په طرز د اذان نقل کولو.رسول الله ﷺ دهغه د حاضرولو حکم اوکړو.چه هغه راغلو،نو نبی ﷺ په هغه باندې اذان اوکړو،اوهغه په اسلام مشرف شو.نبی ﷺ دې د مسجد حرام موذن مقرر کړو.(٢)
عام بیعت: بیا رسول الله ﷺ د سړواو ښځو نه بیعت اخستل شروع کړو.د سړو نه به ئې په اسلام اوجهاد باندې بیعت اخستل،اود ښځو نه به ئې د هغه کارونو بیعت اخستل.دکومو ذکر چه په سورة ممتحنه کښې د بیعت النساء په آیت کښې مذکور دې﴿يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى أَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا﴾(الخ) (٣)
د هنده سره بیعت: په دغه ښځو کښې د بیعت دپاره د رئیس العرب عتبه لور اود حضرت امیر معاویه مور حضرت هنده رضی الله عنها هم راغلې وه.دا هم هغه هنده ده.چا چه د حضرت حمزه د قتل حکم ورکړې وو.اود هغه سینه ئې شلولې وه،او اینه (کلیجی) ئې چیچلې وه.خو الله تعالی دهغې په زړه کښې داسلام ابدی سعادت لیکلې وو.د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.رسول الله ﷺ ورته د بیعت په وخت کښې اوفرمائیل.
دالله سره څوك مه شریکوه.
هنده: دا اقرار تاسو د سړو نه خو نه دې اخستې.خوبیا هم ماته منظور دې.
رسول الله ﷺ : غلا مه کوه.
هنده: زه دخپل خاوند ابوسفیان د مال نه څه غلا کوم.معلومه نه ده چه دا هم په غلا کښې راځی که نه؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل.دخپلوبچو دپاره په اندازه د ضرورت اخستې شې.
رسول الله ﷺ: زنا مکوه.
هنده: آیا یوه شریفه ښځه زنا کولې شی.
رسول الله ﷺ : اولاد مه قتلوه.
هنده: «ربيناهم صغاراً ،وقتلتهم يوم بدر كباراً،فأنت وهم أعلم» یعنی موږ دخپل اولاد په ماشوموالی کښې تربیت کړې وو.اوپه جنګ بدر کښې تا هغوی قتل کړل. اوس ته اوهغوی

.....دتیرمخ بقیه] ((يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعباً وقبائل لتعارفوا.إن كرمكم عندالله أتقاكم. إن الله عليم خبير)) الحجرات:١٣) ثم قال يا معشر قريش ما ترون أني فاعل بكم؟ قالوا: خيراً أخ كريم وابن أخ كريم قال فإني أقول لكم كما قال يوسف لأخوته ، ((لا تثريب عليكم اليوم ،إذهبوا فأنتم الطلقاء)) وانظر زاد المعاد (٤٠٧\٣ و ٤٠٨) وابن هشام (٤١٢\٢)_

١) الاصابه في تميز الصحابه (٤٥١\٢) د دوی د وفات په باره کښې ابن حجردویم قول دا نقل کړې دې.چه د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په آخری ورځو کښې د دوی وفات شوې دې.والله اعلم.)_
٢) د تفصیل دپاره اوګورئ سیرت مصطفی (٣٢\٣)_
٣) سورة الممتحنة :١٢) الكامل لابن الأثير(١٧١\٢)_

په خپلو کښې سره پيش شي،چه حضرت عمر ﷺ دا واوريدل.نوپه خندا شو.
رسول الله ﷺ : د نيکئ په کار کښې نافرمانى اودحکم مخالفت مکوه.
هنده: مونږ چه دې مجلس ته راغلى يو.نو ستا د نافرمانئ خيال قدرې مو نه دې راوړې.
د بيعت نه پس رسول الله ﷺ د دې دپاره دمغفرت دعا اوکړه.هندة اووئيل. يا رسول الله ﷺ د اسلام نه وړاندې ستاسو د مخ نه زياته مبغوض ماته بل مخ نه وو.او اوس ستاسو دمخ نه زيات بل مخ ماته محبوب نشته.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.اوس به په محبت کښې نور هم زيادت کيږى.(١)
مباح الدم ګرځولى شوى مجرمان: دفتحې په وخت کښې څه حضرات داسې وو.چه نبى ﷺ هغوى لره مباح الدم ګرځولى وو.دهغوى په تعداد کښې د ارباب سير روايات مختلف دى.
عام اهل سير لس،ابن اسحاق اته،د ابوداود او دارقطنى په روايت کښې د شپږو کسانو ذکر دې.(٢) اوحافظ مغلطائى پنځلس نومونه په مختلفو حوالو سره ذکر کړى دى.په دغه پنځلسو کښې خو اته دنبى ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.توبه ئې اوويستله.او اسلام ئې قبول کړو.پنځه قتل کړې شول.يو نجران ته اوتختيدل .اوهلته په حالت د کفر کښې مردار شو.اود يو په اسلام راوړلواوقتل کولوکښې اختلاف دې.په دې ترتيب سره دا ټول پنځلس کسان شو.
کوم اته کسان چه د نبى ﷺ په خدمت کښې حاضر شواو اسلام ئې قبول کړلو.د هغوى نومونه دا دى.
① **حضرت عکرمه بن ابى جهل رضى الله عنه:** دې داسلام په سختو دشمنانوکښې وو.او دخپل پلار ابوجهل پشان به د اسلام خلاف سازش کښې دهرچا نه وړاندې وو.رسول الله ﷺ دې مباح الدم ګرځولى وو. د مکې دفتحې نه پس دې يمن ته تختيدلې وو.دده ښځې ام حکيم بنت حارث اسلام قبول کړو.اودربارنبوى کښې حاضره شوه. د نبى ﷺ نه ئې د خپل خاوند دپاره امان طلب کړو.بل طرف ته حضرت عکرمه ته د حسن اتفاق سره دا واقعه پيښه شوه.چه کله هغه د ساحل نه په کشتئ باندې سور شو.نو طوفان کشتئ راګيره کړه.عکرمه دخپل مدد دپاره لات او عزى راوبلل.په کشتئ کښې چه کوم موجود خلق وو ،هغوى اووئيل..دلته د لات او عزى څه فائده نه ورکوى.دا خبره د حضرت عکرمه زړه ته پريوته،

---

(١) الكامل لابن الأثير (١٧١\٢و ١٧٢) وسيرت مصطفى (٣٥\٣و ٣٦)_
(٢) ابن سعد په طبقات کښې ليکى.((وامر بقتل ستة نفر وأربع نسوة...)) اوګورئ طبقات ابن سعد (١٣٦\٢) ابن اسحاق اته نومونه شمارلى دى.اوګورئ سيرت ابن هشام (٧٣\٢و ٧٣) امام ابوداود په کتاب الجهاد کښې باب قتل الاسير کښې د شپږو کسانو ذکر کړې دې.چه په هغوى کښې څلور سړى اودوه ښځې شامل دى.(اوګورئ سنن ابو داود (٥٩\٣) کتاب الجهاد باب قتل الاسير رقم ٢٦٨٣) علامه ابن اثير دولس کسان ذکر کړى دى.په هغوى کښې اته سړى او څلور ښځې شامل دى.(اوګورئ الكامل لابن الأثير ١٦٨\٢و ١٧٠) دارقطنى شپږ کسان ذکر کړى دى.(اوګورئ الاصابة فى تميز الصحابة (٤٩٧\٢) ترجمه عکرمة أبى جهل)_

دوی اوونیل.، که په دریاب کښې دوی څه فائده نشی ورکولې.نو په اوچه بهم هم فائده نشی ورکولې.اوهم په هغه وخت کښې دوی دا عزم اوکړو.که د طوفان نه ورته الله تعالی نجات ورکړو.نو د رسول الله ﷺ په خدمت کښې به حاضریږم.او اسلام به قبلوم.
دعکرمه ښځه ام حکیم د خپل خاوند په لټون کښې یمن طرف ته اووتله.اوپه ساحل باندې هغه سره ملاؤ شوه.عکرمه ته ئې اووئې.،ستا دپاره ما د رسول الله ﷺ نه امان حاصل کړې دې.،حضرت عکرمه د هغې سره د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او په اسلام مشرف شو[۱] اوبیا د اسلام دپاره دوی ډیرې نه هیرونکې قربانیانې ورکړې.ټول عمر ئې د اسلام د ترقۍ دپاره جهاد اوکړو.د اسلامی تاریخ په مشهور جنګ یرموک کښې دوی.اعلان اوکړو، څوک ماسره بیعت علی الموت کوی؟ څلور سوو کسانو ورسره بیعت علی الموت اوکړو، اود مجاهدینو دغه څلورو سوو کسانو په دشمن باندې زبردسته حمله اوکړه.تردې چه ټول شهیدان شو.کله چه اوکتلې شو، نو حضرت عکرمه رضی الله عنه په بدن باندې د غشو او تورو د اویا نه زیاتې نښې وې.[۲] رضی الله عنه ورضی عنه.

② **حضرت عبدالله بن سعد بن ابی سرح:** دې اول مسلمان شوې وو.او د رسول الله ﷺ کاتب وحی وو.خوبیا مرتد شوې وو او مکې ته راغلې وو.دې دحضرت عثمان رضی الله عنه رضاعی ورور وو.دمکې دفتحې نه پس حضرت عثمان رضی الله عنه دې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر کړو.او دوباره په اسلام مشرف شو.[۳] دوی هم روسته داسلام دپاره ډیرې قربانیانې ورکړې دی. د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې د افریقې په جهاد کښې دوی زبردست مجاهدانه کردار ادا کړې وو.دحضرت معاویه رضی الله عنه په زمانه کښې دوی وفات شوی وو.[۴]

③ **کعب بن زهیر:** دې دعربو مشهور شاعر وو.د اسلام نه وړاندې به ئې د رسول الله ﷺ په دجو کښې اشعار وئیل.دې د مکې نه تخیدلې وو.روسته مدینې منورې ته راغلو.او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو،په اسلام مشرف شو.اود نبی ﷺ په مدح کښې ئې هغه مشهوره قصیده اوونیله.دکومې نه چه نن هم د عربی ادب صحراء ګونجیږی.اوکومه چه د ،،قصیده بانت سعاد،، په نوم باندې مشهوره ده.[۵] دهغې مطلع دا ده.

بانت سعاد، فقلبی الیوم متبول — متیم إثرها، لم یفد مکبول

④ **بهاء بن الاسود:** ده حضرت زینب بنت رسول الله ﷺ د هجرت په وخت کښې په نیزه باندې وهلې وه.دهغه په وجه هغه په کاڼړی باندې راپریوتله،اوحمل ئې ضائع شو.او هم په دغه بیمارۍ کښې روسته هغه وفات شوه.دې هم مباح الدم ګرځولې شوې وو.خو روسته د

[۱]) اوګورئ السیة الحلبیة (۳\۹۲و ۹۳) دغه شان البدایة والنهایة (۴\۲۹۸) وسیرة مصطفی (۳\۴۳و ۴۵)_
[۲]) الإصابة فی تمیز الصحابة (۲\۴۹۶و ۴۹۷)_
[۳]) البدایة والنهایة (۴\۲۹۸) دغه شان مستدرک حاکم (۳\۴۵و ۴۶) کتاب المغازی)_
[۴]) د تفصیل دپاره اوګورئ الإصابة فی تمیز الصحابة (۲\۳۱۷)_
[۵]) الإصابة فی تمییز الصحابة (۳\۲۹۵) ترجمة کعب بن زهیر)_

نبى ﷺ په خدمت كښې حاضرشو، او اسلام ئې راوړو. اوتوبه ئې اوويستله.[1]

⑤ **حضرت وحشى بن حرب**: دوى حضرت حمزه رضی اللہ عنہ شهيد كړې وو. ده هم د فتح مكې په موقع اسلام راوړې وو. ددې تفصيل په غزوه احد كښې تيرشوې دې.

⑥ **عبدالله بن زبعرى**: دې دعربو مشهور شاعر وو. د نبى ﷺ په مذمت كښې به ئې اشعار وئيل. توبه ئې اوويسته، اود نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، اسلام ئې قبول كړو.[2]

⑦ **هنده بنت عتبه**: دا هم مباح الدم گرځولې شوې وه. خوبيا د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه. او اسلام ئې قبول كړو. تفصيل ئې اوس تيرشوې دې.

⑧ **فرتنى**: دا د عبدالله بن خطل وينځه وه. د رسول الله ﷺ خلاف به ئې اشعار وئيل. مباح الدم گرځولې شوې وه. د فتح مكې په وخت كښې تخيدلې وه. ورسته د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه. او اسلام ئې راوړو. د حضر عمر رضی اللہ عنہ يا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په دوره خلافت كښې وفات شوې وه.[3]

قتل كړې شوې مجرمان: كوم كسان چه مباح الدم گرځولى شوى وو، په هغوى كښې چه كوم پنځه قتل كړې شوى دى. د هغوى تفصيل دا دې.

① **عبدالله بن خطل**: دې اول مسلمان شوې وو. رسول الله ﷺ عامل جوړ كړو، اود صدقو اخستلو دپاره ئې ليږلې وو. ده سره يو غلام هم وو. په لار كښې ئې په يو ځائې كښې غلام ته د روټئ تيارولو دپاره اووئيل. غلام په څه وجه اوده شو. اوروټئ ئې تياره نكړه. ابن خطل په غصه كښې راغلو، غلام ئې قتل كړو. اود صدقو اوښان ئې واخستل مرتد شو، اومكې ته راغلو. چه دلته راغلو د نبى ﷺ په هجو كښې به ئې اشعار وئيل. دده دوه وينځې وې. د سندرو مجلسونه به ئې منعقد كول، اوپه هغوى باندې به ئې د نبى ﷺ په هجو كښې اشعار وئيل. يوخودې د ناحق وينې قاتل مجرم وو. او دويم جرم ئې دارتداد وو. او دريم جرم ئې د نبى ﷺ خلاف اشعار وئيل وو. په دې درې واړو كښې د هر جرم سزا قتل دې.

دفتحې په ورځ دې د كعبې په غلاف پورې انختې وو. نبى ﷺ ته خبر اوكړې شو، چه ابن خطل د كعبې په غلاف پورې انختې دې. نبى ﷺ اوفرمائيل دې هم دغلته قتل كړئ. نو حضرت ابوبرزه اسلمى رضی اللہ عنہ او حضرت سعدبن حريث رضی اللہ عنہ لاړل. او دې ئې قتل كړو.[4] دده د قتل دا واقعه روسته د بخارى په روايت كښې راځى.

② **مقيس بن صبابه**: دې اول مسلمان شوې وو. بيا مرتد شوې وو او مكې ته راغلې وو. نميله بن عبدالله ليثى رضی اللہ عنہ ده لره قتل كړو[5]

---

[1]) الإصابة فى تميز الصحابة (٥٩٧\٣، و ٥٩٨)_

[2]) اوگورئ سيرت مصطفى (٤٧\٣)_

[3]) الكامل لابن الأثير (١٧٠\٢)_

[4]) السيرة الحلبية (٩١\٣)_

[5]) الكامل لابن الأثير (١٦٩\٢)_

③ **حویرث بن نقید:** ده به د رسول الله ﷺ په شان کښې ګستاخانه اشعار ونیل.ددې وجې مباح الدم ګرځولې شوې وو.حضرت علی رضی الله عنه ده لره ختم کړو.(١)

④ **حارث بن طلاطل:** ده به هم د نبی ﷺ په هجو کښې اشعار ونیل.د دې وجې دده وینه هدر شوه.او حضرت علی رضی الله عنه ده لره قتل کړو.(٢)

⑤ **قریبه:** دا د ابن خطل وینځه وه.د رسول الله ﷺ خلاف به ئې اشعار ونیل.د غزوه فتح په موقع قتل کړې شوه.(٣)

په مباح الدم ګرځولې شوو ینځلسوکسانوکښې ،،هبیره بن وهب،، هم وو. دې د فتح مکې په وخت کښې نجران طرف ته تختیدلې وو.اوهلته د کفر په حالت کښې مړ شو.(٤)

په دې ینځلسو کښې ،ساره،، نومې یوه ښځه هم وه.دهغې متعلق بعضې وائی.چه قتل کړې شوې وه. (٥)اوبعضې وائی.چه اسلام ئې راوړې وو.او دحضرت عمر رضی الله عنه د زمانې پورې ژوندۍ وه.دا هم هغه ښځه وه.چه د حضرت حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه خط ئې اوړې وو.او مکې ته تله،(٦)

دغه شان د ټول ینځلس کسان شو.چه اته په کښې مسلمانان شوی وو.ینځه قتل کړې شوی وو.یو د کفر په حالت کښې مړ شوې وو.او د یو په اسلام راوړلواو قتل کښې روایات مختلف دی.

خودا ټول تفصیل د حافظ مغلطائی د تحقیق مطابق دې.د بعضې مؤرخینو خیال دې.چه صرف دوه کسان قتل کړې شوی دی.یو ابن خطل او بل مقیس بن صبابه ،اودا دواړه په قصاص کښې قتل کړې شوی وو.د دوی نه سوا به څوك نه دی قتل شوې.په کومو روایاتو کښې چه ددې دوو نه سوا د نورو کسانو د قتل ذکر دې.هغه روایات د سند په اعتبار سره یا ضعیف دی یا منقطع،نودهغې څه اعتبار نشته.(٧) والله اعلم

[۴۰۲۵]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ أَخْبَرَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي رَافِعٍ يَقُولُ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوا مِنْهَا قَالَ فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَإِذَا نَحْنُ

---

١) الکامل لابن الأثیر (١٦٩\٢)_
٢) سیرت مصطفی (٤٧\٣)_
٣) الکامل لابن الأثیر (١٧٠\٢)_
٤) الکامل لابن الأثیر (١٦٩\٢)_
٥) الکامل لابن الأثیر (١٧٠\٢)_
٦) فتح الباری (١١\٨)_
٧) شبلی نعمانی مرحوم او مولانا سید سلیمان ندوی په دلائلو سره ددې روایاتو ضعف ثابت کړې دې.اوګورئ سیرة النبی ﷺ (٣٠١\١ و ٣٠٣)_

بِالظَّعِينَةِ قُلْنَا لَهَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ قَالَتْ مَا مَعِي كِتَابٌ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ قَالَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ بِمَكَّةَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا هَذَا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ يَقُولُ كُنْتُ حَلِيفًا وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ مَنْ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ عِنْدَهُمْ يَدًا يَحْمُونَ قَرَابَتِي وَلَمْ أَفْعَلْهُ ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى مَنْ شَهِدَ بَدْرًا فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ السُّورَةَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ إِلَى قَوْلِهِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ [ر: ۲۸۴۵]

بَاب = غَزْوَةِ الْفَتْحِ فِي رَمَضَانَ

[۴۰۲۶/۴۰۲۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا غَزْوَةَ الْفَتْحِ فِي رَمَضَانَ

قَالَ وَسَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ مِثْلَ ذَلِكَ

وَعَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ صَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا بَلَغَ الْكَدِيدَ الْمَاءَ الَّذِي بَيْنَ قُدَيْدٍ وَعُسْفَانَ أَفْطَرَ فَلَمْ يَزَلْ مُفْطِرًا حَتَّى انْسَلَخَ الشَّهْرُ

ددې ترجمة الباب نه د امام بخارى رحمه الله مقصدا دا دې چه د فتحې مکې واقعه په رمضان کښې راغلې وه. په دې باره کښې تاريخى روايات مختلف دى. چه رسول الله ﷺ د فتحې مکې دپاره د مدينې منورې نه په کوم تاريخ روان شوې وو. واقدى وغيره ليکلى دى، چه د رمضان په لسم تاريخ باندې نبى ﷺ روان شوې وو. د مسلم شريف په روايات کښې د ۱۳ او ۱۶ او ۱۸ تاريخ ذکر دې. اوپه يو روايت کښې په تردد سره د ۱۷ او ۱۹ ذکر هم شته.(۱)
حقيقت دا دې چه په دې رواياتو کښې تطبيق ډير ګران دې. البته د واقدى روايت مشهور

۱) فتح البارى (۴/۸) دغه شان صحيح مسلم كتاب الصوم باب جواز الصوم والفطر فى شهر رمضان للمسافر (۱/۳۵۶)_

دي.اوهم په دې باندې مونږ اعتماد کړې دې په اول کښې مو وئیلي وو.چه نبﷺ په ۱۰ رمضان باندې روان شوې وو.امام نووی هم په شرح د مسلم کښې لیکلی دی.چه رسول الله ﷺ په ۱۰ رمضان د مدینې منورې نه روان شوې وو.او په ۹ ارمضان مکې ته داخل شوې وو.(۱)

[۴۰۲۷]حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ قَالَ أَخْبَرَنِي الزُّهْرِيُّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِي رَمَضَانَ مِنْ الْمَدِينَةِ وَمَعَهُ عَشَرَةُ آلَافٍ وَذَلِكَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِ سِنِينَ وَنِصْفٍ مِنْ مَقْدَمِهِ الْمَدِينَةَ فَسَارَ هُوَ وَمَنْ مَعَهُ مِنْ الْمُسْلِمِينَ إِلَى مَكَّةَ يَصُومُ وَيَصُومُونَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ وَهُوَ مَاءٌ بَيْنَ عُسْفَانَ وَقُدَيْدٍ أَفْطَرَ وَأَفْطَرُوا

قوله: ومعه عشرة آلاف..: د بخاری په دې روایت کښې د نبیﷺ سره د فتحې مکې د روانیدو په وخت کښې لس زره تعداد بیان کړې شوې دې.دابن اسحاق او ابن عائذ وغیره په روایاتو کښې راغلی دی.چه نبیﷺ سره ۱۲ زره کسان وو.حاکم په ..الاکلیل.. کښې اوابوسعد په ..شرف المصطفی.. کښې هم دا لیکلی دی.(۲) خودا تعارض په دې طریقه لرې کیدې شي.چه د مدینې منورې نه د روانیدو په وخت کښې د نبیﷺ سره دکسانو تعداد لس زره وو.اوباقی نور خلق په لاره کښې دمختلفو قبائلو نه ورسره شامل شو.نو دا تعداد روسته زیات شواو دولس زره شو.(۳)

قوله: وَذَلِكَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِ سِنِينَ وَنِصْفٍ مِنْ مَقْدَمِهِ الْمَدِينَةَ: دمعمرپه روایت کښې هم داسې واقع دی.خودا وهم دې.ځکه چه رسول اللهﷺ د هجرت کولونه پس اونیم کاله پس روان شوې وو.ځکه چه هجرت په ربیع الاول کښې شوې وو.اوهم ددغه کال د محرم نه هجری کال شمارلې شي.نوپه دې اعتبارسره د هجرت نه پس د فتحې مکې پورې دا مودۀ اووه نیم کاله جوړیږی. اته نیم کاله نه جوړیږی.په روایت کښې اته نیم کاله بیانولې شي.دا وهم دې.(۴) حافظ ابن حجرؒ څه توجیهات کړی دی.(۵) خو حقیقت دا دې.چه په داسې قسم روایاتو کښې داسې مختصر قسم وهمونه واقع کیدل څه لرې خبره نه ده.

---

۱) شرح مسلم للنوی (۱۱\۳۵۶) کتاب الصوم .امام نووی په دې روایاتو کښې تطبیق کول غوښتلو.خو هغوی هم تطبیق اونکړې شو.هم دا وجه ده چه د ((ووجه الجمع بین هذه الرویات ...)) لیکلو نه پس بیاض دې.)_

۲) فتح الباری (۸\٤)_

۳) عمدة القاری (۱۷\۲۷۶) وفتح الباری (۸\٤)_

٤) عمدة القاری (۱۷\۲۷۶) وفتح الباری (۸\۵)_

۵) اوګورئ فتح الباری (۸\٤)_

قوله: قَالَ الزُّهْرِيُّ وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ مِنْ أَمْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآخِرُ فَالْآخِرُ: دا د زهری قول دې.لکه څنګه چه امام بخاری ددې تصریح کړې ده.هم دا روایت په کتاب الجهاد صفحه (۳۱۵) باندې تیرشوې دې.(۱) مطلب دا دې.چه د سفر په اول کښې د نبی ﷺ روژه وه.روسته نبی ﷺ افطار اوکړو.نو آخری عمل د نبی ﷺ افطار فی السفر وو.نو هم دا به اختیارولې شی.د بعضې حضراتو دا وئیل که سفردرمضان په ابتداء کښې شوی وی.نو بیا هم په دغه رمضان کښې د سفر شروع کولو نه پس افطار جائز نه دې.غلطه ده.دا حدیث د هغوی خلاف حجت دې.

[۴۰۲۸] حَدَّثَنِي عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ إِلَى حُنَيْنٍ وَالنَّاسُ مُخْتَلِفُونَ فَصَائِمٌ وَمُفْطِرٌ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى رَاحِلَتِهِ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ أَوْ مَاءٍ فَوَضَعَهُ عَلَى رَاحَتِهِ أَوْ عَلَى رَاحِلَتِهِ ثُمَّ نَظَرَ إِلَى النَّاسِ فَقَالَ الْمُفْطِرُونَ لِلصُّوَّامِ أَفْطِرُوا

وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ

وَقَالَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۰۲۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَافَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ فَشَرِبَ نَهَارًا لِيُرِيَهُ النَّاسَ فَأَفْطَرَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ

قَالَ وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ صَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ وَأَفْطَرَ فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ [ر:۱۸۴۲]

قوله: حَدَّثَنِي عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ..... خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ إِلَى حُنَيْنٍ: دا وهم دې،څکه چه رسول الله ﷺ دحنین دپاره په رمضان کښې نه وو تلې. بلکه په شوال کښې تلې وو.بعضې خلقو تاویل کړې دې او وئیلی ئې دی چه «الی حنین» تصحیف دې.په اصل کښې «الی خیبر» وو.خودا تاویل صحیح نه دې.څکه چه د غزوه خیبر دپاره هم نبی ﷺ په رمضان کښې نه وو تلې.په محرم کښې تلې وو.(۲) ددې وجې صحیح دا ده،چه دلته د ،،حنین،، په ځائې د ،،مکې،، لفظ پکار دې.اودا تاویل هم کیدې شی،چه

(۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب الخروج فی رمضان (۱۱\۴۱۵)_
(۲) فتح الباری (۸\۵) وعمدة القاری (۱۷\۲۷۷)_

چونکه خروج الى مكه د حنين پيش خيمه وه.او مكې ته خروج په رمضان كښې وو.نو لكه چه حنين طرف ته خروج هم مجازاً په رمضان كښې شوې وو.([1])

بَاب=أَيْنَ رَكَزَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّايَةَ يَوْمَ الْفَتْحِ

يعنى رسول اللهﷺ د فتحې مكه په ورځ خپله جنډا په كوم ځائې كښې اودرولې وه.دوه لفظونه استعماليږى.،،رايه،،او،،لواء،،رايه غټې جنډې ته وائى .او،،لواء،،ورې جنډې ته وائى.بعضو ددې په عكس وئيلى دى.اوبعضې حضراتو دې ته مترادف ګرځولى دى.والله اعلم ([2])

[٤٠٣٠]حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا سَارَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَبَلَغَ ذَلِكَ قُرَيْشًا خَرَجَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ وَحَكِيمُ بْنُ حِزَامٍ وَبُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ يَلْتَمِسُونَ الْخَبَرَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلُوا يَسِيرُونَ حَتَّى أَتَوْا مَرَّ الظَّهْرَانِ فَإِذَا هُمْ بِنِيرَانٍ كَأَنَّهَا نِيرَانُ عَرَفَةَ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ مَا هَذِهِ لَكَأَنَّهَا نِيرَانُ عَرَفَةَ فَقَالَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ نِيرَانُ بَنِي عَمْرٍو فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ عَمْرٌو أَقَلُّ مِنْ ذَلِكَ فَرَآهُمْ نَاسٌ مِنْ حَرَسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَدْرَكُوهُمْ فَأَخَذُوهُمْ فَأَتَوْا بِهِمْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ أَبُو سُفْيَانَ فَلَمَّا سَارَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ احْبِسْ أَبَا سُفْيَانَ عِنْدَ حَطْمِ الْخَيْلِ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى الْمُسْلِمِينَ فَحَبَسَهُ الْعَبَّاسُ فَجَعَلَتِ الْقَبَائِلُ تَمُرُّ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمُرُّ كَتِيبَةً كَتِيبَةً عَلَى أَبِي سُفْيَانَ فَمَرَّتْ كَتِيبَةٌ قَالَ يَا عَبَّاسُ مَنْ هَذِهِ قَالَ هَذِهِ غِفَارُ قَالَ مَا لِي وَلِغِفَارَ ثُمَّ مَرَّتْ جُهَيْنَةُ قَالَ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ مَرَّتْ سَعْدُ بْنُ هُذَيْمٍ فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ وَمَرَّتْ سُلَيْمُ فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى أَقْبَلَتْ كَتِيبَةٌ لَمْ يَرَ مِثْلَهَا قَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَ هَؤُلَاءِ الْأَنْصَارُ عَلَيْهِمْ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ مَعَهُ الرَّايَةُ فَقَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ يَا أَبَا سُفْيَانَ الْيَوْمَ يَوْمُ الْمَلْحَمَةِ الْيَوْمَ تُسْتَحَلُّ الْكَعْبَةُ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ يَا عَبَّاسُ حَبَّذَا يَوْمُ الذِّمَارِ ثُمَّ جَاءَتْ كَتِيبَةٌ وَهِيَ أَقَلُّ الْكَتَائِبِ فِيهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ وَرَايَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ فَلَمَّا مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِي سُفْيَانَ قَالَ أَلَمْ تَعْلَمْ مَا قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ قَالَ مَا قَالَ قَالَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ كَذَبَ سَعْدٌ وَلَكِنْ هَذَا يَوْمٌ يُعَظِّمُ اللَّهُ فِيهِ الْكَعْبَةَ وَيَوْمٌ تُكْسَى فِيهِ الْكَعْبَةُ قَالَ وَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُرْكَزَ رَايَتُهُ بِالْحَجُونِ قَالَ عُرْوَةُ

---

[1]) وأجاب المحب الطبرى .. بأى يكون المراد من قوله: ،،خرج النبىﷺ فى رمضان إلى حنين،، أنه قصد الخروج إليها وهو فى رمضان فذكر الخروج وأراد القصد بالخروج ومثل هذا ذائع فى الكلام (عمدة القارى (٢٧٧\١٧)_

[2]) مجمع بحار الانوار (٥١٦\٤)_ و(٤١٢\٢)_

وَأَخْبَرَنِي نَافِعُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ يَقُولُ لِلزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ يَا أَبَا عَبْدِ اللَّهِ هَا هُنَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَرْكُزَ الرَّايَةَ قَالَ وَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَنْ يَدْخُلَ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ وَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كُدًا فَقُتِلَ مِنْ خَيْلِ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ رَجُلَانِ حُبَيْشُ بْنُ الْأَشْعَرِ وَكُرْزُ بْنُ جَابِرٍ الْفِهْرِيُّ [ر: ٢٨١٣]

قوله: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ ...فأسلم أبو سفيان ...: په اول كښې ابوسفيان ظاهرى طور مسلمان شوې وو.خو روسته د اسلام په حقانيت باندې دهغوى شرح صدر اوشو.اوپه خپل اسلام كښې مخلص شو. د ابوسفيان نوم صخربن حرب بن اميه دې.د ٨٨ كالو په عمر كښې په مدينه منوره كښې په ٣١ھ كښې وفات شوې وو.اوحكيم بن حزام د حضرت خديجې ورارهٔ وو. په ٥٤ھ كښې دوى هم په مدينه منوره كښې وفات شوى وو.

قوله: عند حطم الجبل....: يعنى په كوم ځائې كښې چه د اسونو رش وى.مراد ددې نه تنګ ځائې دې.د حاشيه نسخه ده.((عند خطم الجبل)) يعنى د غر د سوكې سره.په اولنى صورت كښې به مطلب دا وى.چه چرته د اسونو رش وى.هلته ابوسفيان اودروئ.اود اسونو رش په تنګ ځائې كښې زيات وى.لكه څنګه چه غابنې وى.يعنى دغابنې سره نزدې دې اودروئ.اود اسلامى لښكر خودنه ورته اوكړئ.اوپه دويم صورت كښې به مطلب دا وى.چه دغر په سوكه باندې دې ايسار كړئ. د اسلامى لښكر مشاهده ورته اوكړئ.

قوله: فقال سعد بن عبادة ﷜ يا أبا سفيان اليوم يوم الملحمة :اليوم تستحل الكعبة: سعدبن عباده ﷜ اووئيل.اې ابوسفيان نن د جنګ ورځ ده.نن به په كعبه كښې قتل او قتال حلال وى.

قوله: فقال أبوسفيان ياعباس حبذا يوم الذمار:په دې باندې ابوسفيان اووئيل.د قريشو د بربادئ او تباهئ ښه ورځ راغله.

قوله: وأمر رسول الله يومئذ خالد بن وليد أن يدخل من أعلى مكة من كداء:رسول الله ﷺ خالدبن وليد ﷜ ته دمكې د پورته طرف يعنى كداء نه د داخليدو حكم كړې وو.خوم دا وهم دې.څكه چه نور ټول روايات په دې باندې متفق دى.چه رسول الله ﷺ پخپله د پورتنى طرف د مكې نه داخل شوې وو.او خالد ته ئې د ښكته طرف نه د داخليدو حكم كړې وو.[1]

---

[1] فتح البارى (١٠/٨) وعمدة القارى (٢٨٠/١٧)_

قوله: فقتل من خيل خالد يومئذ رجلان: دا دوه کسان حضرت حبيش بن اشعر او حضرت کرزبن جابر ﷺ وو.د بخاری په روايت کښې خو د دوو کسانو ذکر دې.خو په نورو رواياتو کښې د درې کسانو ذکر دې.دريم کس مسلمه بن الميلاء دې.دا درې صحابه ﷺ په دغه ورځ شهيدان شوی وو.(۱) اودابن سعد د بيان مطابق د مشرکانو څلورويشت کسان قتل شوی وو.(۲)

[۴۰۳۱] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُغَفَّلٍ يَقُولُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ عَلَى نَاقَتِهِ وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفَتْحِ يُرَجِّعُ وَقَالَ لَوْلَا أَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ حَوْلِي لَرَجَّعْتُ كَمَا رَجَّعَ [ر: ۴۵۵۵، ۴۷۴۷، ۴۷۶۰، ۷۱۰۲]

قوله: وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفَتْحِ يُرَجِّعُ...: يعنی دفتح مکې په ورځ رسول الله ﷺ سورة فتح لوستلو.او ترجيع ئې کولو.يو ترجيع فی الاذان وی.چه شهادتين دوه ځله په مزه او دوه ځله په اوچت آواز سره لوستل وی.او يو ترجيع فی القرآن وی.د ترجيع فی القرآن معنی دا ده.چه د قرآن تلاوت کولې شی او په آواز کښې امتداد او پورته والې ښکته والې موجود شی.ددې کيفيت د بخاری شريف کتاب التوحيد په روايت کښې د معاويه بن قره نه داسې منقول دې...ءآ.ءآ.ءآ. (دهمزه مفتوحه نه پس الف اوږدول) (۳)

چونکه نبی په اوښ باندې سور وو.د دې د وجې د نبی ﷺ په آواز کښې ښکته والې پورته والې راتلو.(۴) بعضې حضرات فرمائی.چه په روايت کښې «يرجع» نه امتداد پيدا کول مراد نه دی.بلکه ددې معنی دا ده.چه نبی ﷺ به يو يو آيت بار بار وئيلو.ځکه چه د ترجيع معنی په لغت کښې د واپس کولو هم راځی.(۵) او بعضو وئيلی دی.چه د «يرجع» معنی په خوش آوازئ سره نبی ﷺ تلاوت کولو (۶)

دا خبره خو د ټولوعالمانو په نيز متفق عليه ده.چه په ښکلی آواز سره د قرآن تلاوت کول مستحب دی.خودا په دغه وخت کښې چه کله په خوش آوازئ سره د قرآن په حروفو کښې کمې زياتې نه راځی.اوپه مخارجو باندې اثر نه غورځيږی. خوکه د سندرو د راګونو پشان آواز اوچت کړی اوپه آواز کښې خوش آوازی پيدا کوی.نو دا جائزنه ده.

---

(۱) فتح الباری (۸\۱۰)_
(۲) طبقات ابن سعد (۲\۱۳۶)_
(۳) اوګورئ کتاب التوحيد باب ذکر النبی ﷺ و رواية عن ربه (۲\۱۱۲۵)_
(۴) فتح الباری (۱۳\۵۱۵)(کتاب التوحيد)_
(۵) معجم الوسيط (۱۱\۳۳۱)_
(۶) فتح الباری (۹\۹۲) کتاب فضائل القرآن باب الترجيع)_

[۴۰۳۲] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ حَدَّثَنَا سَعْدَانُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَفْصَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ قَالَ زَمَنَ الْفَتْحِ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مِنْ مَنْزِلٍ ثُمَّ
قَالَ لَا يَرِثُ الْمُؤْمِنُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُؤْمِنَ
قِيلَ لِلزُّهْرِيِّ وَمَنْ وَرِثَ أَبَا طَالِبٍ قَالَ وَرِثَهُ عَقِيلٌ وَطَالِبٌ

حضرت اسامه بن زيد د فتحې مكې په موقع د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو ،چه صبا ته به تاسو په كوم ځائې كښې قيام كوئ؟ نبى ﷺ اوفرمائيل، عقيل زمونږ دپاره څه كور هم پريخودې نه دې.

د رسول الله ﷺ د نيكه عبدالمطلب د وفات نه پس دهغه د جائيداد مالك او وارث دهغه ځامن او د نبى ﷺ تره ابوطالب وو.د ابوطالب څلور ځامن وو. طالب، حضرت عقيل، حضرت جعفر،حضرت على ﷺ ،اولنى دوه حضرات خو په سابقين اولين كښې وو.عقيل د فتحې مكې نه پس اسلام قبول كړې وو.اوطالب په بدر كښې د كفر په حالت كښې قتل شوې وو.

چونكه د كافر وارث مسلمان نه وى.او حضرت جعفر اوحضرت على ﷺ دواړه د ابو طالب د وفات په وخت كښې مسلمانان شوى وو.ددې وجې دوى د ابوطالب وارثان جوړ نشو.طالب او عقيل د هغه د ميراث وارثان جوړ شوى وو.روسته عقيل هغه ټول كورنه په ابوسفيان باندې خرڅ كړل.د «وهل ترك لنا عقيل من منزل؟» نه د رسول الله ﷺ دې طرف ته اشاره وه.[1]

قوله: قَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا فِي حَجَّتِهِ وَلَمْ يَقُلْ يُونُسُ حَجَّتِهِ وَلَا زَمَنَ الْفَتْحِ: داروايت د زهرى نه درې راويانو نقل كړې دې.

① محمدبن ابى حفصه ② معمر ③ او يونس،دمحمد بن ابى حفصه په روايت كښې خو دا تصريح دد.چه حضرت اسامه بن زيد ﷺ دا سوال د رسول الله ﷺ نه چه «أين تنزل غدا؟» د فتحې مكې په موقع كړې وو.او دمعمر په روايت كښې دى.چه هغوى دا سوال د حجة الوداع په موقع باندې كړې وو.او د يونس په روايت كښې د فتح مكې او حجة الوداع دواړو ذكر نشته.

نواصلى تعارض دمعمر او محمد بن ابى حفصه په روايتونو كښې دې.كه موازنه اوكړې شى، نود معمر روايت ارجح دې.ځكه چه معمر د ابن ابى حفصه په مقابله كښې اوثق او اتقن دې.نودا روايت په دې ځائې كښې د ذكر كولوپه ځائې په كتاب الحج كښې ذكر كول

---

[1]) د تفصيل دپاره اوګورئ فتح البارى (۴۵۳/۳) كتاب الحج باب توريث دور مكة وبيعها وشرائها.

پکار وو.اوامام بخاری رحمه الله دا روایت په کتاب الحج کښې هم ذکر کړې دې.[1] خوچونکه د محمد بن ابی حفصه په روایت کښې د «(من الفتح)» تصریح موجود ده. امام بخاری ددې احتمال د وجې دا دلته هم ذکر کړو.چه ممکن ده د حجة الوداع پشان د فتح مکې په موقع باندې هم دا سوال شوې وی.والله اعلم

[۴۲۸۳/۴۲۸۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلُنَا إِنْ شَاءَ اللَّهُ إِذَا فَتَحَ اللَّهُ الْخَيْفُ حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ

والخیف (بفتح الخاء وسكون الياء) دغر لاندینۍ حصه کومه چه په نالۍ باندې بنده وی.په منی کښې جمات د غر په لاندینۍ حصه کښې وو.ددې وجې دې ته مسجد خیف وائی. ،،الخیف،، د ،،منزلنا،، خبر دې.

[۴۲۸۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَرَادَ حُنَيْنًا مَنْزِلُنَا غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ [ر:۱۵۱۲]

[۴۲۸۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلْهُ قَالَ مَالِكٌ وَلَمْ يَكُنْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا نُرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا [ر:۱۷۴۹]

قوله: وعلى رأسه المغفر...: د رسول الله ﷺ په سر مبارک باندې ،،مغفر،، (خود) وو.چاته دا شبه کیدې شی.چه الله تعالی خو دا فرمائیلی دی.﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾[2] نو بیا د مغفر د استعمالولو څه ضرورت وو؟ نو ددې جواب دا دې.اګرچه رسول الله ﷺ ته د الله تعالی په دغه وعده باندې پوره اعتماد او پوخ یقین وو.خوچونکه دا دنیا دارالاسباب دې.د دې وجې نبی ﷺ دلته اسباب استعمالول.اود جنګ په وخت کښې د خود استعمال د حفاظت یو سبب دې.دغه شان په دې کښې امت ته دا تعلیم ورکول مقصود دی.چه سړی ته پکار دی.چه څومره هم محفوظ وی.بیا هم د خپل تحفظ اسباب اختیارول پکار دی.[3]

قوله: قَالَ مَالِكٌ وَلَمْ يَكُنْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا نُرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا: امام مالک رحمه الله فرمائی،چه زمونږ په خیال کښې نبی ﷺ په دغه ورځ احرام نه وو تړلې.

---

[1]) اوګورئ صحیح بخاری کتاب الحج باب توريث دور مكة وبيعها وشرائها رقم الحديث ۱۵۸۸ هلته دا روایت د یونس په طریق سره منقول دې.

[2]) سورة المائدة :۶۷

[3]) زادالمعاد (۳۸۰/۳)

مکي مکرمې ته د داخليدو درې صورتونه دی.
① يودا چه سړې د مناسك د ادا كولو دپاره داخليږى.په دې صورت كښې خو په اتفاق سره بغير د احرام نه داخليدل جائز نه دی.
②دويم صورت دا دې.چه سړې د حرب او قتال دپاره داخليږى.په دې صورت كښې امام طحاوى د احنافو عالمانو نه نقل كړى دى.چه بغير د احرام نه داخليدل جائز نه دی.([1]) علامه ابن قيم جواز نقل كړې دې.([2]) دامام مالك دا قول د ابن قيم په تائيد كښې دې.
③دريم صورت دا دې.چه دحاجت متكرره د وجې داخليږى.لكه څنګه چه د تيكسى اود بس ډرائيوران شو.چه د بهر نه سورلئ راوړى او بار بار حرم ته داخليږى.د احنافو فقهاء په نيز په دې صورت كښې هم بغير د احرام نه داخليدل جائز نه دى.باقى امامان په دې صورت كښې د احرام نه بغير د داخليدو اجازت وركوى.([3])
خوچونكه د ډرائيور وغيره حضراتو دپاره د احرام پابندى ګرانه ده.ددې وجې اوس احناف عالمانو هم د نورو فقهاؤ د مسلك مطابق د جواز فتوى وركوى.والله اعلم .

[٤٠٣٦]حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَحَوْلَ الْبَيْتِ سِتُّونَ وَثَلَاثُ مِائَةِ نُصُبٍ فَجَعَلَ يَطْعُنُهَا بِعُودٍ فِي يَدِهِ وَيَقُولُ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ [ر:٢٣٤٦]

[٤٠٣٧]حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الْآلِهَةُ فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ فَأُخْرِجَ صُورَةُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا مِنَ الْأَزْلَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ لَقَدْ عَلِمُوا مَا اسْتَقْسَمَا بِهَا قَطُّ ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِي الْبَيْتِ وَخَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ تَابَعَهُ مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوبَ وَقَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:١٥٢٤]

قوله حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ .....فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِي الْبَيْتِ وَخَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ:په دې روايت كښې دى چه رسول الله ﷺ مونځ په بيت الله كښې دننه نه دې كړې
.خو وړاندې د حضرت بلال رضي الله عنه روايت راخى.په هغې كښې د مونځ كولو ذكر دې.اوهم هغه راجح دې.ځكه چه كله د نافى او مثبت تعارض راشى.نو ترجيح به مثبت ته وى.([4])

[1]) شرح معانى الآثار للطحاوى (١١\٥٠٦) كتاب مناسک الحج باب دخول الحرم هل يصلح بغير إحرام)_
[2]) زادالمعاد (٣\٤٢٨)_
[3]) المغنى لابن قدامة (٣\١١٦و ١١٧) حكم من جاوز الميقات غير محرم)_
[4]) د تفصيل دپاره اوګورئ فتح البارى (٣\٤٦٨) باب من كبر فى نواحى البيت .كتاب الحج)_

باب=دُخُولِ النَّبِیّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَعْلَی مَكَّةَ

وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ يَوْمَ الْفَتْحِ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ عَلَى رَاحِلَتِهِ مُرْدِفًا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَمَعَهُ بِلَالٌ وَمَعَهُ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ مِنَ الْحَجَبَةِ حَتَّى أَنَاخَ فِي الْمَسْجِدِ فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْتِيَ بِمِفْتَاحِ الْبَيْتِ فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ فَمَكَثَ فِيهِ نَهَارًا طَوِيلًا ثُمَّ خَرَجَ فَاسْتَبَقَ النَّاسُ فَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَوَّلَ مَنْ دَخَلَ فَوَجَدَ بِلَالًا وَرَاءَ الْبَابِ قَائِمًا فَسَأَلَهُ أَيْنَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشَارَ لَهُ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى مِنْ سَجْدَةٍ [ر:۳۸۸]

[۴۰۳۹/۴۰۴۰] حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَارِجَةَ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ مَيْسَرَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ كَدَاءٍ الَّتِي بِأَعْلَى مَكَّةَ تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ وَوُهَيْبٌ فِي كَدَاءٍ

[۴۰۴۰] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ [ر:۱۵۰۲]

قوله: وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ.....: د دې روايت په آخر کښې دی.((قال عبدالله فنسيت أن أسأله کم صلی سجدة))

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی،چه ما د حضرت بلال رضی الله عنه نه ددې تپوس کول هیر کړل.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څو رکعته اوکړل.خوپه دې باندې اشکال کیږی.چه په بعضې روایاتو کښې دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه د ((صلی رکعتین)) تصریح راغلې ده.(۱) په ظاهره په دواړو روایاتو کښې تعارض معلومیږی.

بعضې حضراتو دا تعارض لرې کړې دې. اوفرمانیلی ئې دی.چه د ((صلی رکعتین)) روایت د راوی وهم دې.خو دا خبره ددې وجې صحیح نه معلومیږی.چه د ((صلی رکعتین)) د روایت، راوی حضرت یحیی بن سعید القطان دې.د دوی پشان حافظ حدیث.او اتقن راوی ته د وهم نسبت کول اول خو دا لرې معلومیږی.بیا بله خبره دا ده.چه ددې روایت په نقل کولوکښې

---

(۱) لکه څنګه چه د بخاری په کتاب الصلاة کښې د ابن عمررضی الله عنهما دا روایت د حضرت یحیی بن سعید القطان په طریق سره نقل دې.دهغې په آخر کښې دی ((ثم خرج فصلی فی وجه الکعبة رکعتین)) اوګورئ (صحیح بخاری کتاب الصلاة باب قول الله تعالی ((واتخذوا من مقام ابراهیم مصلی)) حدیث نمبر (۳۹۷)_

دوى منفرد هم نه دى.([1])

بعضو دا جواب ورکړی دی.چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ صراحةً د حضرت بلال نه تپوس کول هیر کړی وو.خو حضرت بلال ﷺ ورته په خپله په اشارې سره بیان کړل.چه نبی ﷺ دوه رکعته کړی دی.نورپه کوم روایت کښې چه دی چه زما نه تپوس کول هیر شو.دهغې نه صراحةً تپوس کول مراد دی.او په کومو روایاتو کښې چه «صلی رکعتین» وارد شوې دی.په دې سره دحضرت بلال ﷺ په اشارې سره خودل مراد دی.([2])

اوبعضو دا جواب ورکړی دی.چه حضرت ابن عمر ﷺ یقیناً د رکعتونو په باره کښې تپوس کول هیر کړی وو.په کومو روایاتوکښې چه د دوی نه د «صلی رکعتین» الفاظ منقول دی.چونکه مونځ کم او کم دوه رکعته وی.ددې نه کم نه وی.نوځکه اقل متقین باندې ئې حمل کړی دی.او هغوی د خپل طرف نه داسې وئیلی دی.([3])

بَاب=مَنْزِلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ

[۴۰۳۱] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى مَا أَخْبَرَنَا أَحَدٌ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى غَيْرُ أُمِّ هَانِئٍ فَإِنَّهَا ذَكَرَتْ أَنَّهُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ اغْتَسَلَ فِي بَيْتِهَا ثُمَّ صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ قَالَتْ لَمْ أَرَهُ صَلَّى صَلَاةً أَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ أَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ[ر:۱۰۵۲]

ددې روایت نه معلومیږی،چه د رسول اکرم ﷺ قیام د حضرت ام هانی ﷺ په کور کښې وو.خو د وړاندینی روایت نه معلومیږی،چه د رسول الله ﷺ قیام په خیف بنو کنانه کښې وو.ددې تعارض جواب دا دې.چه په اصل کښې د نبی کریم ﷺ خیمه په خیف بنو کنانه کښې لګولې شوې وه.خو نبی ﷺ به د ام هانی ﷺ کورته هم تشریف راوړې وو.او څه وخت دپاره به هلته کښې هم قیام کړې وو.ددې وجې دهغې نه هم په منزل النبی ﷺ سره تعبیر کړې شوې دې.([4])

باب

دا باب بغیرترجمې د متعلقاتو فتح مکې ځنی دې.حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی.غالباً چه امام بخاری ﷫ به بیاض پریخودې وی.خو د څه مناسب ترجمې منعقد کولو موقع ورته ملاؤ شوې نه ده.([5])

---

[1]) اوګورئ فتح البارى (۱۱\۵۰۰) كتاب الصلاة)_

[2]) فتح البارى (۱۱\۵۰۰)_

[3]) فتح البارى (۱۱\۵۰۰)_

[4]) عمدة القارى (۱۷\۲۸۵)_

[5]) فتح البارى (۸\۳۰)_

[۴۰۴۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي [ر:۷۶۱]

[۴۰۴۳] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِي مَعَ أَشْيَاخِ بَدْرٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِمَ تُدْخِلُ هَذَا الْفَتَى مَعَنَا وَلَنَا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ فَقَالَ إِنَّهُ مِمَّنْ قَدْ عَلِمْتُمْ قَالَ فَدَعَاهُمْ ذَاتَ يَوْمٍ وَدَعَانِي مَعَهُمْ قَالَ وَمَا رُئِيتُهُ دَعَانِي يَوْمَئِذٍ إِلَّا لِيُرِيَهُمْ مِنِّي فَقَالَ مَا تَقُولُونَ فِي إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ أُمِرْنَا أَنْ نَحْمَدَ اللَّهَ وَنَسْتَغْفِرَهُ إِذَا نُصِرْنَا وَفُتِحَ عَلَيْنَا وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا نَدْرِي أَوْ لَمْ يَقُلْ بَعْضُهُمْ شَيْئًا فَقَالَ لِي يَا ابْنَ عَبَّاسٍ أَكَذَاكَ تَقُولُ قُلْتُ لَا قَالَ فَمَا تَقُولُ قُلْتُ هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمَهُ اللَّهُ لَهُ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ فَتْحُ مَكَّةَ فَذَاكَ عَلَامَةُ أَجَلِكَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا قَالَ عُمَرُ مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَعْلَمُ [ر:۳۴۲۸]

[۴۰۴۴] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ شُرَحْبِيلَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ يَوْمَ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ إِنَّهُ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللَّهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا دَمًا وَلَا يَعْضِدَ بِهَا شَجَرًا فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ لِقِتَالِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا فَقُولُوا لَهُ إِنَّ اللَّهَ أَذِنَ لِرَسُولِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَقِيلَ لِأَبِي شُرَيْحٍ مَا ذَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بِذَلِكَ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ إِنَّ الْحَرَمَ لَا يُعِيذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْخَرْبَةُ الْبَلِيَّةُ [ر:۱۰۴]

[۴۰۴۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ [ر:۲۱۲۱]

قوله: حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ....: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی، ((كان عمر رضي الله عنه يدخلني مع أشياخ بدر)) حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه به په ګرانو مسائلو کښې د اشياخ بدر نه مشوره غوستله. اوپه هغوی کښې به ئې ابن عباس رضي الله عنهما هم داخلولو، دې بيخی هلك وو، په دې باندې حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه ته اووئيل. ته ابن عباس رضي الله عنه په ارباب مشوره کښې کينوې. حال دا چه د ده هومره خو زمونږ ځامن دی. يعنی دعمر په لحاظ

سره دده برابر دی.نو ته ده ته د دې کم عمرئ باوجود دومره اهميت ولې ورکوئ.حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه اوفرمائيل،الله تعالى چه ده ته څومره علم او څومره فراست ورکړې دې. تاسو ته معلوم دې.هم ددې وجې زه دې په مشوره کښې شريکوم.ددې نه پس حضرت عمر رضی الله عنه دا ټول حضرات جمع کړل.حضرت ابن عباس رضی الله عنهما پوهه شو.چه دوی غواړی چه نن ورځ په دوی باندې زما علم او فضل ښکاره کړی.حضرت عمر رضی الله عنه د دې ټولو حضراتو نه تپوس اوکړو.چه د ﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝﴾ په تفسير کښې ستاسو څه رائې ده؟ اوددې سورة مقصد څه دې؟په دوی کښې درې ډلې شوې.يو فريق اووئيل په دې کښې دا حکم ورکړې شوې دې،کله چه الله تعالى تاته فتح او نصرت درکړی،نو ته حمد او استغفار وايه،دويم فريق خپله لاعلمی ښکاره کړه،او((لا ندری)) ئې اووئيل.او دريم فريق چپ شو.حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه تپوس اوکړو.چه ستا څه رائې ده؟ نو ابن عباس رضی الله عنهما اووئيل په دې سورة کښې د نبی ﷺ د وفات خبر ورکړې شوې دې.او په ﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝﴾ کښې دفتح نه مراد فتح مکه ده.چه کله مکه فتح شی.نوداستا د وفات رانزدې کيدو نښه ده.نوته دخپل رب حمداو تسبيح بيانوی .او استغفار وايه،الله تعالى توبه قبلونکې دې.

عالمانو فرمائيلی دی.چه په اصل کښې د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو.د کارونو په ختميدو به نبی ﷺ توبه او استغفار وئيل.چه د بيت الخلاء نه به راوتل،((غفرانك)) به ئې وئيل. لکه څنګه چه په ترمذی کښې دحضرت عائشې رضی الله عنها نه منقول دی. ([1])دغه شان نبی کريم ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته دعا خودلې وه.چه د مونځ په ختميدو باندې دا وايه! ((اللهم إنی ظلمت نفسی ظلماً كثيراً ولا يغفر الذنوب إلا أنت ،فاغفرلی مغفرة من عندك وارحمنی ،إنك أنت الغفور الرحيم)) .([2]) دغه شان داودس په اختتام باندې به((اللهم اجعلنی من التوابين واجعلنی من المتطهرين)) وئيل.([3]) دحج نه په فراغت باندې الله تعالى فرمائيلی دی.﴿ ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝﴾ ([4]) نوچونکه دهرکار په اختتام توبه او استغفار د نبی ﷺ معمول وو.او قرآن هم دې طرف ته توجه ورکړې ده.ددې نه ابن عباس رضی الله عنهما دا خبره معلومه کړې وه.چه په سورة نصر کښې نبی ﷺ ته د استغفار او توبې حکم شوې دې.په دې

---

[1]) سنن ترمذی أبواب الطهارة باب ما يوقل إذا خرج من الصلاة رقم الحديث ٧)_

[2]) اوګورئ سنن کبری للبيهقی (١٥٤/١٢) کتاب الصلاة باب ما يستحب له أن لا يقصر عنه من الدعاء)_

[3]) الحديث أخرجه الترمذی فی أبواب الطهارة باب فيما يقال بعد الوضوء ولفظه من توضأ فأحسنَ الوضوء ثم قال أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.اللهم اجعلنی من التوابين واجعلنی من المتطهرين فتحت له ثمانية أبواب الجنة .يدخل من أها شاء رقم الحديث .٥٥)_

[4]) سورة البقرة :١٩٩)_

كښې د نبی ﷺ د ژوند اختتام او وفات ته اشاره ده.([1])

دویمه خبره عالمانودا فرمائیلې ده.چه په قرآن کریم کښې ځائې په ځائې الله تعالی نبی ﷺ ته مختلف احکامات ورکړی دی.کله ئې فرمائیلی دی.(فاصدع بما تؤمر) ([2])چرته حکم دی. ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾ ([3]) چرته ارشاد دې ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾ ([4]) غرض دا چه ځائې په ځائې ورته حکم کولې شی چه ته دا کوه اودا وایه.او فتح کومه چه لوې فتح وه.اوکومه چه په حقیقت کښې د ټولو عربو فتح وه.په دې باندې الله تعالی څه اهم پیغام او دعامو خلقو متعلق څه حکم نبی ﷺ ته ورنکړلو.بلکه د توبې او استغفار حکم ئې ورکړو.ددې نه معلومیږی.چه دکوم کار دپاره د دوی بعثت شوې وو.هغه کار پوره شوې دې.اوس ستانه زیاتی څه کار اخستل نشته.بلکه اوس حکم دا دې چه ته دالله تعالی ذات اودهغه صفات جمالیه او جلالیه ته نظر کوه.او د سبحان الله وظیفه کوه.اود بشریت د تقاضا مطابق که ستا نه څه سوه اوشی.اوڅه ستا څه داسې کار اوشی.چه ستا د شان سره نه ښائی. نو دهغې دپاره د استغفار اهتمام کوه.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته چونکه الله تعالی د تفسیر قرآن ډیر لوې مقام او فهم ورکړې وو. ددې وجې هغه په دې نکته باندې پوهه شو.چه په دې سورة کښې د رسول الله ﷺ د وفات اطلاع ورکړې شوې ده.والله اعلم.

قوله: حدثنا قتيبة ،حدثنا الليث...: دا روایت په پوره تفصیل سره په کتاب البیوع کښې په صفحه ۲۹۸ کښې تیرشوې دې.

بَاب=مَقَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ زَمَنَ الْفَتْحِ

[۴۰۳۶]حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ ح حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرًا نَقْصُرُ الصَّلَاةَ [ر:۱۰۳۱]

[۴۰۳۷/۴۰۳۸]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ

[۴۰۳۸]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ تِسْعَ عَشْرَةَ نَقْصُرُ الصَّلَاةَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَنَحْنُ نَقْصُرُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ فَإِذَا زِدْنَا أَتْمَمْنَا [ر:۱۰۳۰]

---

[1]) فتح البارى (۸\۷۳٤) كتاب التفسير سورة إذا جاء نصر الله)_

[2]) سورة الحجر: ۹٤)_

[3]) سورة المائدة:۶۷)_

[4]) سورة الأحزاب:۵۹)_

امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې د ټولو نه وړاندې د حضرت انس رضي الله عنه روايت نقل کړې دې.په دې کښې دی.چه نبي ﷺ لس ورځې قيام کړې وو.او په مونځ کښې به ئې قصر کولو.
د دې باب دويم روايت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې.په هغې کښې دی.چه نبي ﷺ نولس ورځې قيام کړې وو.او قصر به ئې کولو.
خوپه دې باندې اشکال دا دې.چه دحضرت انس رضي الله عنه د روايت تعلق د حجة الوداع سره دې.(۱) او دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما د روايت تعلق د فتحي مکې سره دې.(۲) دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت په دې باب کښې ذکر کول خو په خپل محل دی.خودحضرت انس رضي الله عنه روايت په کوم مناسبت سره امام بخاري دلته ذکر کړې دې؟
حافظ ابن حجراودهغوی په اتباع کښې علامه قسطلاني ،علامه ابو يوسف يعقوب رحمهما الله دا جواب ورکړې دې،چه دحضرت انس رضي الله عنه په روايت ذکرکولو کښې امام بخاري په وخت کښې دواړه روايات وړاندې راوړل غواړي.اودې طرف ته اشاره کوی چه په دواړو رواياتو کښې څه تعارض نشته.ځکه چه دواړه واقعات بيخي جدا جدا دی.د يو روايت تعلق د فتحې مکې سره دې او دبل تعلق د حجة الوداع سره دې.(۳)
خوحقيقت دا دې.چه په دې توجيه باندې زړه نه مطمئن کيږي.په ابواب التقصير کښې هم امام بخاري رحمه الله دواړه روايات ذکر کړی دی.(۴)
حضرت مولانا محمد يونس رحمه الله فرمائيلی دی،زما رائې دا ده،چه په حقيقت کښې امام بخاري دواړه روايات هم د يوې واقعه سره متعلق ګڼړي.اوپه دې ګڼړلو کښې د دوی نه وهم واقع شوې دې.(۵) ((والوهم لايخلوعنه أحد))

---

(۱) اګرچه دلته په روايت کښې د حجة الوداع تصريح نشته.دلته خو صرف ((أقمنا مع النبي ﷺ عشراً قصراً نقصر الصلاة)) الفاظ دی.البته امام مسلم هم دا روايت د يحيى بن اسحاق په طريق سره نقل کړې دې.په هغې کښې دی((خرجنا من المدينة إلى الحج)) هلته د حج تصريح شته.اوګورئ (صحيح مسلم کتاب صلاة السافرين وقصرها رقم الحديث ۶۹۳و) (۴۸۱\۱)_
(۲) دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښې هم دلته تصريح نشته.چه د دوی د روايت واقعه د فتح مکې سره متعلق ده.البته د ابن عباس رضي الله عنهما دا روايت امام بخاري په کتاب الصلاة کښې نقل کړې دې.هلته حافظ ابن حجر تشريح کړې ده.او په دلائلو سره ئې دا ثابته کړې ده.چه د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت تعلق د فتح مکې سره دې.اوګورئ فتح الباري (۶۱\۲و ۵۶۲)
(۳) فتح الباري (۲۱\۸)_
(۴) صحيح بخاري کتاب تقصير الصلاة باب ما جاء في تقصير الصلاة وکم يقيم حتى يقصر حديث نمبر ۱۰۸۰و ۱۰۸۱)-
(۵) ددې خبرې تائيد د دې نه هم کيږي.چه امام بخاري په کتاب تقصير الصلاة کښې يو مستقل باب قائم کړې دې.((باب کم أقام النبي ﷺ في حجه؟)) اود دغه لاندې ئې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ذکرشوې روايت نقل کړې دی.د دې نه ښکاره معلوميږي،چه امام بخاري د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت هم د حجة الوداع سره متعلق ګڼړي... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

قوله: حدثنا أحمد بن یونس...وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَنَحْنُ نَقْصُرُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ فَإِذَا زِدْنَا أَتْمَمْنَا: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی،چه نولس ورځو پورې به مونږ قصر کوو.خوکه د نولس ورځو نه موده زیاته شوه.نو بیا به مونږ اتمام کوو.
په څلورو واړه امامانو کښې دا دچا مسلك هم نه دی.البته دامام شافعی رحمه الله نه منقول دی،چه اتلس ورځې به مونږ قصرکوو.که زیاتې شوې نو اتمام به کوو (۱)
د قصرالصلاة سره متعلق تفصیلی بحث په ابواب قصرالصلاة کښې تیرشوې دی.
دفتح مکې په موقع د نبی علیه السلام دقیام په موده کښې اختلاف او ددې حل: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم قیام د فتحې مکې په دوران کښې په مکه مکرمه کښې څومره پاتې شوې وو.په دې باره کښې روایات مختلف دی.امام ابوداؤد دا مختلف روایات نقل کړی دی.دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په مذکوره روایت کښې د نولس ورځو ذکر دې.دعمران بن حصین رضی الله عنه په روایت کښې د اتلس ورځو.(۲) په بعضې روایاتو کښې اوولس ورځې (۳)او دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په یو بل روایت کښې د پنځلس ورځو ذکر دې.(۴)
امام بیهقی دا څلور قسمه روایات داسې جمع کړی دی،چه کوم حضراتو نولس ورځې ذکر کړی دی.هغه حضراتو یوم الدخول او یوم الخروج شمار کړی دی. اوپه کومو روایاتو کښې چه یوم الدخول او یوم الخروج دواړه حذف شوی دی.په هغې کښې اوولس ورځې ذکر

...دتیرمخ بقیه] دغه شان د حضرت انس رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دواړو روایات د امام په نیز د حجة الوداع سره متعلق دی.(اوګورئ صحیح بخاری کتاب تقصیرالصلاة باب کم أقام النبی صلی الله علیه وسلم فی حجته رقم الحدیث ۱۰۸۵)_

(۱) فتح الباری (۵۲۶\۲) کتاب تقصیر الصلاة)) امام شافعی مذهب په دې صورت کښې دا دې.چه کله مسافر د معلومې مودې د قیام اراده نه وی کړې.بلکه د څه ضرورت او حاجت د جې هغه ډیره وی.نواو اراده نې دا وی،چه کله هم حاجت پوره شی نو خم به،په داسې صورت کښې د امام شافعی رحمه الله مذهب حافظ ابن حجر رحمه الله دا لیکلی دې،چه اتلس ورځو پورې هغه قصر کولې شی،خو که د قیام موده ددې نه زیاته شوه.نوبیا به اتمام کوی.
البته امام نووی رحمه الله په ((المجموع شرح المهذب)) کښې داتلس ورځو په ځائې اوولس ورځو موده لیکلې ده.په دې باره کښې نې دامام شافعی رحمه الله نور اقوال هم نقل کړی دی.اوګورئ ((المجموع شرح المهذب باب صلاة المسافر (۳۵۹\۴و ۳۶۰)_

(۲) الحدیث أخرجه دبوداود عن عمران بن حصین ،قال غزوت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم وشهدت معه الفتح فقام بمکة ثمانی عشرة لیلة لا یصلی إلا رکعتین ویقولو،یاأهل البلد ،صلوا أربعاً فإنا قوم سفر ،سنن أبی داود کتاب الصلاة باب متی یتم المسافر ،رقم الحدیث (۱۲۲۹)_

(۳) الحدیث أخرجه أبوداود عن ابن عباسرضی الله عنهما أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أقام سبع عشرة بمکة یقصر الصلاة (سنن أبی داود کتاب لاصلاة باب متی یتم المسافر؟ رقم الحدیث ۱۲۳۰)_

(۴) الحدیث أیضاً أخرجه أبوداود عن ابن عباسرضی الله عنهما أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أقام بمکة عام الفتح خمس عشرة یقصر الصلاة (سنن أبی داود کتاب الصلاة باب متی یتم المسافر؟ رقم ۱۲۳۱)_

دي.اوكومو كسانو چه په دې دواړو كښې صرف يو حذف كړې ده.هغوى د اتلس ورځو مودهٔ بيان كړې ده.باقي پاتې شو د پنځلسو ورځو روايت نو امام نووى دا ضعيف گرځولې دې.(١) خو دامام نووى رحمه الله دا تضعيف صحيح نه دې.ځكه چه ددې روايت ټول راويان ثقه دى.(٢) بلكه د حضرت انورشاه رحمه الله په نيز د پنځلسو ورځو روايت راجح دې.(٣) البته په دې كښې څه شك نشته.چه اكثر روايات د نولسو ورځو په قيام باندې دلالت كوى.دامام بخارى ميلان هم دې طرف ته دې.اود اسحاق بن راهويه رحمه الله هم دا رائې ده.(٤)

پاتې شوه دا خبره چه د نولسو په قيام كښې نبى ﷺ قصر كړې دې.حال دا چه داحنافو په نيز مودهٔ د قصر پنځلس ورځې دى.نو ددې جواب دا دې.كه د يو مسافرد پنځلسوورځو نه دزيات قيام اراده نه وى.اوددې باوجود ده قيام د پنځلسو ورځو نه زيات شى.نو بيا هم هغه قصر كولې شى.دلته رسول الله ﷺ هم د پنځلسو ورځو د قيام اراده نه وه كړې.خود نبى ﷺ قيام زيات شو.اونبى ﷺ به په دې كښې قصر كولو.والله اعلم.

بَاب

[٤٠٤٩] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ ثَعْلَبَةَ بْنِ صُعَيْرٍ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَسَحَ وَجْهَهُ عَامَ الْفَتْحِ

[٤٠٥٠] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سُنَيْنٍ أَبِي جَمِيلَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا وَنَحْنُ مَعَ ابْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ وَزَعَمَ أَبُو جَمِيلَةَ أَنَّهُ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَرَجَ مَعَهُ عَامَ الْفَتْحِ

حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى.لكه څنگه چه فقهاء د يو كتاب په آخر كښې څه فصل يا باب د مسائل شتى بيانولو دپاره قائموى.دغه شان امام بخارى رحمه الله دغزوه فتح مكې په آخر كښې د فتح مكې سره متعلق د مختلفو امورو بيانولو دپاره قائم كړې دې.(٥)

ددې نه پس امام بخارى د حضرت ليث تعليق ذكر كړې دې.دا تعليق امام بخارى په خپل تاريخ كښې موصولاً ذكر كړې دې.(٦) او د دې د ذكر كولو مقصد صرف دومره دې.چه عبدالله بن ثعلبه بن صعير صحابى رضى الله عنه دې.اود فتح مكې په موقع ورته د رسول الله ﷺ زيارت نصيب شوې وو.او نبى ﷺ د فتح مكې په موقع دهغه په مخ باندې لاس مبارك رابنكلې وو.

---

١) اوگورئ فتح البارى (٥٦٢\٢) كتاب تقصير الصلاة)_
٢) فتح البارى (٥٢٦\٢) كتاب تقصير الصلاة)_
٣) فيض البارى (١١٢\٤) كتاب المغازى)_
٤) فتح البارى (٥٦٢\٢) كتاب تقصير الصلاة)_
٥) الأبواب والتراجم (٨\٢)_
٦) عمدة القارى (٤٨٨\١٧)_

[٤٠٥١] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلِمَةَ قَالَ قَالَ لِي أَبُو قِلَابَةَ أَلَا تَلْقَاهُ فَتَسْأَلَهُ قَالَ فَلَقِيتُهُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرَّ النَّاسِ وَكَانَ يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ فَنَسْأَلُهُمْ مَا لِلنَّاسِ مَا لِلنَّاسِ مَا هَذَا الرَّجُلُ فَيَقُولُونَ يَزْعُمُ أَنَّ اللَّهَ أَرْسَلَهُ أَوْحَى إِلَيْهِ أَوْ أَوْحَى اللَّهُ بِكَذَا فَكُنْتُ أَحْفَظُ ذَلِكَ الْكَلَامَ وَكَأَنَّمَا يُقَرُّ فِي صَدْرِي وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ فَيَقُولُونَ اتْرُكُوهُ وَقَوْمَهُ فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ أَهْلِ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ وَبَدَرَ أَبِي قَوْمِي بِإِسْلَامِهِمْ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ جِئْتُكُمْ وَاللَّهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا فَقَالَ صَلُّوا صَلَاةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا وَصَلُّوا صَلَاةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا فَنَظَرُوا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّي لِمَا كُنْتُ أَتَلَقَّى مِنَ الرُّكْبَانِ فَقَدَّمُونِي بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَأَنَا ابْنُ سِتٍّ أَوْ سَبْعِ سِنِينَ وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّي فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ أَلَا تُغَطُّوا عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ فَاشْتَرَوْا فَقَطَعُوا لِي قَمِيصًا فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِي بِذَلِكَ الْقَمِيصِ

حضرت اویب سختیانی رحمه الله فرمائی.چه ابوقلابه ماته اوونیل،چه ته د عمروبن سلمه رضی الله عنه سره نه ملاویږې.چه دهغه نه دهغه د مسلمانیدو واقعه واوري .ایوب وائی. زه د عمروبن سلمه رضی الله عنه سره ملاؤ شوم.اودهغه نه مې د هغه د اسلام راوړو واقعې تپوس اوکړو.،حضرت عمروبن سلمه دخپل اوخپلې قبیلې داسلام راوړو واقعه بیانوله نو وئې فرمائیل.چه مونږ یوې داسې چینې سره اوسیدو ،کومه دتلونکو او راتلونکو قافلو لار وه.مختلفې قبیلې به په مونږ باندې تیریدې ،(رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت اعلان کړې وو.ځکه) مونږ به دخلقو نه تپوسونه کول.چه دا سړې څنګه دې؟ اودخلقو څه میلان دې.؟نو د قافلې خلقو به وئیل،دا سړې دخپل ځان په باره کښې د رسول دعوی کوی.او وائی،چه الله تعالی زما طرف ته وحی رالیږلې ده.(او دقافلې خلقو به هغه وحی اوروله) حضرت عمروبن سلمه فرمائی.

قوله: فكنت أحفظ ذاك الكلام ،فكأنما يقر في صدري: ما به دغه کلام الهی یادولو.داسې به معلومیدله لکه چه دغه کلام زما په زړه پورې انخلی.

په ((يقرأ)) کښې څلور روایتونه دی.

① يو ،،يقر،،د قرار نه دې.پورته ترجمه هم ددې مطابق شوې ده.

② دویم روایت ((يقرأ))دقراءت نه دې.یعنی لکه چه دغه کلام زما په زړه کښې وئیلو شو او زما د زړه آواز دې.

③ دريم((يقرى))دې.دا د ،،تقريه، نه ماخوذ دې.معنی ئې جمع کول راځی. ((قريت الماء إذا جمعته،يقرى فى صدرى أى يجمع فى صدرى))څلورم روایت ((يغرى)) د ،،تغریه،، نه ماخوذدې.ددې معنی انخول دی.((غراء)) ګوند ته وائی.د ((يغرى فى صدرى)) مطلب به وی چه هغه کلام زما په

زړه پورې انخلولې شو.او په زړه باندې مې چاپ کیدو.دا اخری روایت قاضی عیاض راجح ګرځولې دې.(۱)

قوله: وکانت العرب تلوّم بإسلامهم الفتح:اوعربو به د خپل راوړو دپاره د فتحې مکې انتظار کولو.«تلوّم:تنتظر»

نوکله چه مکه فتح شوه،هرې قبیلې اسلام طرف ته رامنډې کړې.زما قوم هم دخپل قوم په اسلام راوړو کښې تندی اوکړه.(اود خپل قوم دطرف نه یوقاصد جوړ او د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو) کله چه دهغه خائې نه واپس راغلو.نو وې وئیل په الله قسم زه تاسو ته د یوحق نبی د طرفه راغلې یم.هغوی راته په تعلیم راکولوکښې اووئیل،چه په فلانی وخت کښې فلانې مونځ او په فلانی وخت کښې فلانې مونځ کوئ.کله چه د مانځه وخت راشی.نو یوکس دې اذان کوی.اوچه چاته د ټولو نه زیات قران ورځی،هغه دې امامتی ورکوی.حضرت عمروبن سلمه رضی الله عنه فرمائی.کله چه خلقو غور اوکړو،نو زما نه زیات چاته قرآن یاد نه وو.ځکه چه ما به د راتلونکو قافلو نه قرآن زده کولو.نو هغوی زه امام جوړ کړم.په دغه وخت کښې زما عمر شپږ یا اووه کاله وو.د بخاری په دې روایت کښې «أنا ابن ست أو سبع سنین»د ابوداود په روایت کښې دی «أنا ابن سبع سنین»(۲)د نسائی په روایت کښې «أنا ابن ثمان» بغیرتردد نه راغلې دې.(۳) اود ابن جارود په روایت کښې «أنا ابن ست» بغیرتردد نه راغلې دې.(۴) بهرحال د دوی عمر په دغه وخت کښې د شپږو او اتهٔ کالوپه مینځ کښې وو.

فرمائی ما سره یو څادر وو،کله چه به زه سجدې ته تلم،نو پورته کیدو،او (د شاته نه به مې ستربنکاریدو) د قبیلې یوې ښځې اووئیل.«ألا تغطون عنا است قارئکم» تاسو دخپل قاری صاحب کوناتې زمونږ نه ولې نه پټوئ.بیا خلقو کپړه واخستله،اوزما دپاره ئې یوقمیص واخستلو.په دغه قمیص باندې چه ماته څومره خوشحالی ملاؤ شوه،دومره په بل څیز نه وه ملاؤ شوې.

د ماشوم د امامت مسئله:د ماشوم د امامت مسئله په کتاب الصلاة کښې تیره شوې ده.امام شافعی رحمه الله مطلقاً ددې د جواز قائل دی.امام ثوری اوامام مالك مطلقاً د کراهت قائل دی. دامام ابوحنیفه او امام احمد مشهور قول دا دې.چه صبی په نوافلو کښې امامت کولې شی په فرائضو کښې نشی کولې.(۵)

---

۱) عمدة القاری (۲۹۰\۱۷) وفتح الباری (۲۳\۸۷)_
۲) سنن أبی داود کتا پالصلاة باب م أحق بالإمامة رقم الحدیث ۵۸۵)_
۳) سنن نسائی کتاب الإمامة باب إماة الغلام قبل أن یحتلم (۱۲۷\۱)_
۴) المنتقی لابن الجارود کتاب الصلاة باب الجماعة والإمامة (۱۱۴)_
۵) المجموع شرح المهذب (۲۴۹\۴و ۲۵۰)_

روایت باب د امام شافعی رحمه الله مستدل دې.احناف او حنابله وغیره ددې داسې جواب کوی.
چه دا عمل دهغه خلقو دخپل طرف نه کړې وو.د رسول الله ﷺ تقریر دې عمل ته حاصل
شوې نه وو.نو قابل استدلال نه دې.(١) خو نور حضرات فرمائی،چه دا د نزول وحی زمانه
وه.که دا عمل ناجائز وو،نو د وحی په ذریعه به تنبیه راغلې وه.لکه څنګه چه حضرت
جابر رضی الله عنه او حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه د عزل په جواز باندې دا دلیل پیش کړې وو.«كنا
نعزل والقرآن ینزل ورسول الله ﷺ بين أظهرنا» که عزل ناجائز وو.نو قرآن به ددې د حرمت تصریح
کړې وه.حال دا چه قرآن تصریح نه ده کړې،ددې نه معلومیږی،چه په دې کښې حرمت
نشته،دغه شان دلته هم د نابالغه د امامت علم که جائز نه وو،و پکار ده چه ددې تصریح
راغلې وه.(٢)
خواحناف فرمائی.چه دا روایت دصبی دامامت د جوازدپاره دلیل جوړول وی .نو په دې
کښې دا هم راغلی دی.چه د سجدې په حالت کښې به دده کشف عورت کیدو،حال دا چه
په کشف عورت سره په اتفاق مونځ ماتیږی.نو بیا به ددې تاسو څه جواب ورکوئ؟ (٣)
حقیقت دا دې،چه په دې روایت سره استدلال صحیح نه دې.په اصل کښې دا خلق اوس
نوې نوې مسلمانان شوی وو.د صلاة د احکامو نه لا پوره خبر نه وو.د ټولونه زیات قرآن
چونکه عمروبن سلمه رضی الله عنه ته یاد وو.ددې وجې ئې دې خپل امام جوړ کړې وو.روسته چه کله
دوی ته د صلاة داحکامو تفصیلات معلوم شو .نو هغوی به امام بدل کړی وی. والله اعلم.
علامه خطابی فرمائی،چه حسن بصری دا روایت ضعیف ګرځولې دې.«وقال مرة دعه ليس
بشيء بين» دا پریږده.دا څه واضح څیز نه دې.(۴)

[۴۰۵۲] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ
عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ
كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدٍ أَنْ يَقْبِضَ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ وَقَالَ عُتْبَةُ
إِنَّهُ ابْنِي فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ فِي الْفَتْحِ أَخَذَ سَعْدُ بْنُ أَبِي
وَقَّاصٍ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ فَأَقْبَلَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَقْبَلَ مَعَهُ عَبْدُ بْنُ
زَمْعَةَ فَقَالَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ هَذَا ابْنُ أَخِي عَهِدَ إِلَيَّ أَنَّهُ ابْنُهُ قَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ يَا
رَسُولَ اللَّهِ هَذَا أَخِي هَذَا ابْنُ زَمْعَةَ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى

---

١) اوګورئ بذل المجهود (١٩٧\٤)_
٢) فتح الباری (٢٣\٨)_
٣) بذل المجهود (١٩٨\٤)_
۴) عین الهدایة (۴۵۳\١)_

ابْنِ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ فَإِذَا أَشْبَهُ النَّاسِ بِعُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ لَكَ هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجِبِي مِنْهُ يَا سَوْدَةُ لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِ عُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَقَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَصِيحُ بِذَلِكَ [ر:١٩٤٨]

امام بخاری رحمه الله دا حديث په دوو سندونو سره نقل کړی دی.د اولنی سند متن ئې دلته نه دې ذکر کړې.دلته صرف د سند ذکر دې،ددې متن امام بخاری په کتاب الوصايا کښې ذکر کړې دې.(١)

دويم سند د ،ليث، ،دې،کوم چه امام بخاری دلته تعليقاً ذکرکړې دې. وړاندې متن د ليث د سند سره متعلق دې.دا تعليق محمدبن يحيى هلى په ،،الزهريات ،، کښې موصولاً نقل کړې دې. (٢)

قوله: كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدٍ أَنْ يَقْبِضَ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ: په زمانه د جاهليت کښې به بعضې خلقو ځان سره وينځې ساتلې،اوبه هغوی باندې به ئې زنا کوله او ګټه به ئې کوله.دې سره سره به ئې هغوی سره په خپله هم وطى کوله،کله چه به ددغه وينځې نه بچې پيدا شو.نو بعضې وخت کښې به مولی ددغه بچی په باره کښې دعوی اوکړه،چه دا زما دې،اوکله به زانی دعوی اوکړه ،چه دا زما دې،چه چا به دعوی اوکړه.بچې به هم د هغه ګڼړلې شو.د ام المومنين سوده رضي الله عنها دپلار زمعه بن قيس هم دغه شان يوه وينځه وه.د حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه ورور عتبه بن ابی وقاص به دې ته راتلو.چه کله حمل ښکاره شو،نود مرګ نه وړاندې هغه خپل ورور حضرت سعد رضي الله عنه ته اووئيل.چه د زمعه د وينځې نه کوم بچې پيدا شی.په هغې باندې به قبضه کوې.ځکه چه هغه زما ځوئې دې.(٣)

حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه چه کله د فتح مکې په موقع مکې ته راغلو ،او په هغه بچی ئې نظر پريوتل.نوهغه ئې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر کړو .او وې وئيل دا زما د ورور ځوئې دې.خوعبد بن زمعه اووئيل يارسول الله دا خو زما ورور دې.او زما د پلار په فراش باندې پيدا شوې دې.(يعنی زما د پلار د وينځې نه پيدا شوې دې)

رسول الله صلى الله عليه وسلم چه کله هغه هلك طرف ته اوکتل،نوهغه د عبه به ابی وقاص سره زيات مشابه وو.نبی صلى الله عليه وسلم فيصله د عبدبن زمعه په حق کښې اوکړه،او وې فرمائيل. ((هولك ،هو أخوك، ياعبدبن زمعه)) ښکاره ده چه کله نبی صلى الله عليه وسلم هغه د عبدبن زمعه ورور اوګرځولو،نود ام

---

(١) اوګورئ صحيح بخاری کتاب الوصايا باب قول الموصى لوصيه تعاهدو ولدی (٣٨٣/١)_
(٢) فتح البارى (٢٤/٨)_
(٣) فتح البارى (٣٣٠/١٢ كتاب الفرائض باب الولد للفراش حرة كانت أو أمة)_

المومنين سوده بنت زمعه هم ورور شو.خو نبی ﷺ د احتياط دپاره حضرت سودې ﷞ ته اوونيل.«احتجبي منه يا سودة» سوده! دده نه پرده كوه.دا حكم نبی ﷺ ددې وجې وركړو.چه دغه هلك د عتبه سره مشابه وو.

د حديث باب نه په ثبوت نسب باندې د درې امامانو استدلال: دا حديث په يوه اختلافي مسئله كښې د ائمه ثلاثه دليل دې.مسئله دا ده،كه يو مولی دخپلې وينځې سره د وطی كولو اقرار اوكړی،اوبيا د دغه وينځې بچې پيدا شی.نو هغه به د مولی ګنړلی شی اوكه نه،ائمه ثلاثه فرمائی.هغه بچې به د مولی ګنړلې شی.احناف وائی.چه صرف د وطی اقرار كول كافی نه دی.بلكه دې سره سره دا هم ضروری دی.چه مولی دا دعوی اوكړی.چه دا بچې زما دې.(۱)

حديث باب د ائمه ثلاثه دليل دې،ځكه چه په دې كښې رسول الله ﷺ د څه دعوی نه بغيرد دغه هلك نسب د زمعه ثابت كړو.اود زمعه خوئې ته ئې اووئيل،چه دا ستا خوئې دې.ددې نه معلوميږی.چه د بچی د نسب د ثبوت دپاره د مولی دعوی كول څه ضروری نه ده.

حضرت احناف ﷭ فرمائی،چه دلته رسول الله ﷺ د دغه هلك نسب د زمعه نه ثابت كړې نه دې.بلكه «هولك يا عبد زمعه» ئې وئيلی دی.د عبد بن زمعه دپاره ئې د دغه هلك ملكيت ثابت كړې دې.ځكه چه اصول دا دی.كله چه د پلار د وينځې نه بچې د بل چا د نطفې نه پيدا شی.نو د پلار نه پس د دغه وينځې پشان د هغې د بچی هم (دمولی) خوئې مالك دې.هم ددې اصولو په رنړا كښې نبی ﷺ دهغه بچی ملكيت د عبدبن زمعه نه ثابت كړو.د ثبوت نسب دلته څه ذكر نشته.

د دې خبرې تائيد د عبدالله بن زبير ﷠ د هغه روايت نه هم كيږی.كوم چه نسائی په سنن كښې (۲)عبدالرزاق په مصنف كښې (۳)اوامام احمدبن حنبل ﷬ په مسند كښې تخريج كړې دې.(۴) ددې په آخر كښې دی.«واحتجبي منه ياسودة فليس لك بأخ» د احنافو دطرفه ددې جواب حاصل دا دې.چه «هولك يا عبدبن زمعة» نه مراد ثبوت نسب نه دې.بلكه ددې جملې نه مقصد د عبدبن زمعه دپاره د هلك ملكيت ثابتول دی.خودا جواب په هغه وخت كښې صحيح كيدې شی.كله چه دغه هلك غلام اومنلې شی.حال داچه د بعضې رواياتو نه د هغه حريت ثابتيږی

ددې وجواب اكثر احناف ددې روايت جواب دا وركوی.چه «هولك يا عبدبن زمعه» نه د رسول الله ﷺ مقصود هغه د عبدبن زمعه سره په ميراث كښې شريكول وو.ځكه چه دا اصول دی، چه كه يووارث د يو كس په باره كښې دا اقرار اوكړی ،چه دا زما ورور دې.نو د وارث په

---

(۱) مغنی ابن قدامة (۹\۵۳۰) كتاب عتق أمهات الأولاد وإعلاء السنن (۱۱\۲۲۷)_

(۲) سنن نسائی (۱۲\۱۱۰) كتاب الطلاق باب الحاق الولد بالفراش إذا لم ينفه صاحب الفراش)_

(۳) مصنف عبدالرزاق (۷\٤٤۳) رقم ۱۳۸۲۰)_

(٤) مسند احمد (٤\۵)_

ذمه لازم دى، چه هغه خپل نصف حصه ميراث دغه مقرله كس ته وركړى.خو د مړى نه ددغه كس نسب نه ثابتيږى.((لأن المرأ يؤخذ بإقراره فيما يتعلقه به وحده)) دلته هم بعينه هم دا صورت دې.چه عبدبن زمعه راغلو،د دغه كس په باره كښې ئې اووئيل،چه دا زما وررور دې.نو نبى ﷺ د دغه قاعدې په رڼا كښې فيصله اوكړه.او وې وئيل چه ((و لك يا عبدبن زمعه)) يعنى ((إنه يشاركك فى الميراث)) ددې خبرې تائيد د مصنف عبدالرزاق دهغه روايت نه هم كيږى.دكوم الفاظ چه دا دى.((فقال النبى ﷺ لسودة أم الميراث فله وأما أنت فاحتجبى منه ياسودة، فإنه ليس لك بأخ)) (١)دغه شان د مسند احمد په روايت كښې دى.((أما أنت فاحتجبى منه، فليس بأخيك وله الميراث)) (٢)دا روايات په دې خبره باندې په صراحت سره دلالت كوى.چه رسول الله ﷺ د زمعه نه دهغه نسب نه ثابتوى.بلكه صرف د ميراث په حق كښې دعبدبن زمعه سره هغه شريكوى.هم ددې وجې رسول الله ﷺ حضرت سودة ﵂ ته اوفرمائيل.چه ((فإنه ليس لك بأخ))كه د نسب ثابتول د نبى ﷺ مقصود وو.نو بيا به ئې د حضرت سودة نه د هغه د اخوت نفى هرګز نه كوله.

امام نووى ﷫ فرمائى.((فإنه ليس لك بأخ)) دا زيادت سنداً ثابت نه دې.(٣) امام ابوعبدالله المازرى شارح دمسلم هم په ((المعلم شرح صحيح مسلم)) كښې دا ليكلى دى.چه دا زيادت بعضې احنافو دخپل طرف نه كړې دې. (٤)علامه سيوطى ﷫ هم د نسائى شريف په شرح ،.زهرالربى ،، كښې د مازرى دا قول نقل كړې دې.(٥)

خودا اعتراض صحيح نه دې.دا حديث د امام احمداوامام نسائى نه علاوه امام طحاوى هم تخريج كړې دې.(٦) حافظ شمس الدين ذهبى ﷫ په ميزان الاعتدال كښې ليكى.((هذا حديث صحيح الإسناد)) (٧)

حافظ ابن حجر په فتح البخارى كښې د اوږد كلام نه پس هم دې ته ترجيح وركړې ده.چه دا حديث حسن دې.هغوى فرمائى.((أسناد النسائى حسن، ورجاله رجال الصحيح..)) (٨)او داحكامو په باب كښې چه لكه څنګه احاديث صحيح معتبر وى.دغه شان حسن هم قابل اعتماد وى.

---

١) مصنف عبدالرزاق (٧\٤٤٣) رقم ١٣٨٢٠)_

٢) مسند احمد٦\٤٢٩)_

٣) شرح صيحح مسلم للنووى (٤٧١/١ كتاب الرضاعة باب الولد للفراش وتوقى الشبهات)_

٤) شرح صيحح مسلم للنووى (٤٧١/١ كتاب الرضاعة باب الولد للفراش وتوقى الشبهات)_

٥) زهرى الربى (١١٠\١٢و١١١) كتاب الطلاق باب الحاق الولد بالفراش إا لم ينفه صاحب الفراش)_

٦) شرح معانى الآثار للطحاوى (٧٥\٢) كتاب العتاق باب الأمة يطأها مولها ثم يموت .. إلخ)_

٧) ميزان الإعتدال (٤\٤٦٥) رقم الترجمة (٩٨٦٧)_

٨) فتح البارى (١٢\٣٧) كتاب الفرائض باب الولد للفراش حرة كانت أم أمة)

اوس دلته دوه خبرې جمع شوي،د بخاری په ذکرشوی تعلیق کښې خو دی، «هوأخوك»اود بخاری ددې تعلیق نه علاوه د نسائی وغیره په روایت کښې دی. «احتجبي منه یاسودة فإنه لیس لك بأخ» په دواړه قسم روایاتو کښې تعارض دې.اوس که د تعارض لرې کولو دپاره د ترجیح طریقه اختیار کړې شی.نو د بخاری لفظ ته ترجیح پکار ده.خود لیث د ذکرشوي طریق نه علاوه په بل هیڅ طریق کښې د«هوأخوك» الفاظ نه دی راغلی.ابن شهاب زهری دامام مالك نه دا روایت نقل کوی.په هغې کښې دا زیادت نشته.ددې وجې په ظاهره دا معلومیږی .چه د «هوأخوك» زیادت راوی د خپل طرف نه د تفسیر په طور سره کړې دې. څکه که دا د اصل روایت حصه اومنلې شی.نو بیا د «احتجبي منه یا سودة» سره د دې څه جوړخت نه راځی.اودغه شان د «لیس لك بأخ» روایت سره ئې تعارض لازمیږی.
بیا دویمه خبره دا ده،چه دا روایت د شوافعو مستدل هم نشی کیدې.څکه چه د شوافعو رحمهم الله په نیز د مولی د ثبوت نسب دپاره ، ،تحصین جاریه، ، شرط دې. د تحصین جاریه مطلب دا دې،چه مولی جاریه د بهر مشکوکو ګرځیدو نه منع کړی.اوهم په خپل کور کښې هغه ساتی.حال دا چه د زمعه ددې وینځې په باره کښې ابن جریر طبری تصریح کړې ده، چه دا وینځه د مکې د زنا کارو ښځو څنی وه.نو بیا د ، ،تحصین جاریه، ، شرط چرته موجود شو،چه ثبوت نسب ثابت کړې شی.([1])

[۴۰۵۳]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ امْرَأَةً سَرَقَتْ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ الْفَتْحِ فَفَزِعَ قَوْمُهَا إِلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ يَسْتَشْفِعُونَهُ قَالَ عُرْوَةُ فَلَمَّا كَلَّمَهُ أُسَامَةُ فِيهَا تَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتُكَلِّمُنِي فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ قَالَ أُسَامَةُ اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمَّا كَانَ الْعَشِيُّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ خَطِيبًا فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ النَّاسَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتِلْكَ الْمَرْأَةِ فَقُطِعَتْ يَدُهَا فَحَسُنَتْ تَوْبَتُهَا بَعْدَ ذَلِكَ وَتَزَوَّجَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ تَأْتِي بَعْدَ ذَلِكَ فَأَرْفَعُ حَاجَتَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ر:۲۵۰۵]

[۴۰۵۴/۴۰۵۵]حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي مُجَاشِعٌ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَخِي بَعْدَ الْفَتْحِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُكَ بِأَخِي

---

[1]) قال الشيخ الأنور رحمه الله في فيض الباري (۱۸۸\۳و ۱۳۹....) وتتبعت له تفسير ابن جرير ،فوجدت فيه إن تكل الوليدة كانت من بغايا مكة فأين الشافعية وأين ثبوت النسب ،فإنه يبنى عندهم على التحصين وإذا انعدم التحصين ،إنعدم ما يبنى عليه)_

لِتُبَايِعَهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ ذَهَبَ أَهْلُ الْهِجْرَةِ بِمَا فِيهَا فَقُلْتُ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تُبَايِعُهُ قَالَ أُبَايِعُهُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَالْإِيمَانِ وَالْجِهَادِ فَلَقِيتُ مَعْبَدًا بَعْدُ وَكَانَ أَكْبَرَهُمَا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ

[٣٠٥٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ مُجَاشِعِ بْنِ مَسْعُودٍ انْطَلَقْتُ بِأَبِي مَعْبَدٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُبَايِعَهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ مَضَتِ الْهِجْرَةُ لِأَهْلِهَا أُبَايِعُهُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَالْجِهَادِ فَلَقِيتُ أَبَا مَعْبَدٍ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ وَقَالَ خَالِدٌ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ مُجَاشِعٍ أَنَّهُ جَاءَ بِأَخِيهِ مُجَالِدٍ [ر: ٢٨٠٢]

[٣٠٥٦/٣٠٥٧] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُهَاجِرَ إِلَى الشَّامِ قَالَ لَا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ فَانْطَلِقْ فَاعْرِضْ نَفْسَكَ فَإِنْ وَجَدْتَ شَيْئًا وَإِلَّا رَجَعْتَ وَقَالَ النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ فَقَالَ لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ أَوْ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

[٣٠٥٧] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عَمْرٍو الْأَوْزَاعِيُّ عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ عَنْ مُجَاهِدِ بْنِ جَبْرٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُولُ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ [ر: ٣٦٨٦]

[٣٠٥٨] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْأَوْزَاعِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ زُرْتُ عَائِشَةَ مَعَ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ فَسَأَلَهَا عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَتْ لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ كَانَ الْمُؤْمِنُ يَفِرُّ أَحَدُهُمْ بِدِينِهِ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخَافَةَ أَنْ يُفْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَقَدْ أَظْهَرَ اللَّهُ الْإِسْلَامَ فَالْمُؤْمِنُ يَعْبُدُ رَبَّهُ حَيْثُ شَاءَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ [ر: ٢٩١٣]

[٣٠٥٩] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي حَسَنُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ مُجَاهِدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ فَهِيَ حَرَامٌ بِحَرَامِ اللَّهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَا تَحِلُّ لِأَحَدٍ بَعْدِي وَلَمْ تَحْلِلْ لِي قَطُّ إِلَّا سَاعَةً مِنَ الدَّهْرِ لَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا وَلَا يُعْضَدُ شَوْكُهَا وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهَا وَلَا تَحِلُّ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ فَقَالَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ إِلَّا الْإِذْخِرَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَإِنَّهُ لَا بُدَّ مِنْهُ لِلْقَيْنِ وَالْبُيُوتِ فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَإِنَّهُ حَلَالٌ

وَعَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْكَرِيمِ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ بِمِثْلِ هَذَا أَوْ نَحْوِ هَذَا رَوَاهُ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ١٢٨٤]

قوله: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ... ذَهَبَ أَهْلُ الْهِجْرَةِ بِمَا فِيهَا: مطلب دا دې چه مدينې منورې ته چه دهجرت څومره فضائل وو، هغه ټول فضائل چه کومو خلقو وړاندې هجرت کړې دې يوړل. او د فتحې مکې نه پس په هجرت کولو هغه فضائل نه حاصليږي.

قوله: فلقيت أبا معبد: په بعضې نسخو کښې «أبا معبد» دې. او په بعضو کښې «معبد» دې.

خو صحيح نسخه د كشميني رحمه الله ده.په هغې كښې «أبا معبد» دې.ابومعبد د حضرت مجاشع رضي الله عنه د مشر ورور حضرت مجاهد رحمه الله كنيت دې.(١)

قوله: وَقَالَ النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ.....: دا تعليق دې.او اسماعيلى دا موصولاً نقل كړې دې.(٢) هلته دې سره متعلقه مباحث تيرشوى دى.

قوله: حدثنا إسحاق ،حدثنا أبوعاصم عن ابن جريج .. عن مجاهد..: دمجاهد دا روايت مرسل دې.امام بخارى په كتاب الحج او كتاب الجهاد كښې دا موصولاً ذكر كړې دې.(٣)

بَاب=قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ

وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ ثُمَّ أَنْزَلَ اللهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ (إِلَى قَوْلِهِ) وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ

„حنين،، د مكې او طائف په مينځ كښې د يو خوړ نوم دې.(٤) دلته دعربو دوه مشهورې قبيلې آبادې وې.هوازن او ثقيف،هوازن د غشو په ويشتو كښې مشهوره وه.او ثقيف په خپل شرافت كښې مشهوره وه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم چه كله مكه فتح كړه.نو دې دواړو قبيلو په خپل مينځ كښې مشوره اوكړه. چه د مكې د فتحې نه پس اوس د دوى نمبر دې.ددې نه وړاندې چه مسلمانان په مونږ باندې حمله اوكړى.مونږ لره وړاندې والې پكار دې،چه په هغوى حمله اوكړو.(٥) نو د دواړو قبيلو په شلو زرو كسانو باندې مشتمله يو لوى لښكر په مسلمانانو باندې د حملې كولو دپاره د عوف بن مالك په نګرانۍ كښې روان شو.ښځې اوماشومان ئې هم په دې غرض باندې ځان سره راروان كړل.چه دوى پرينږدى.اواونه تختى.اود هغوى دحفاظت دپاره خپل ځانونه وركړى.(٦)

د لښكرقيادت اګرچه دقبيله هوازن سردارمالك بن عوف كولو،خو د بن جشم د قبيلې سردار ..دريد بن صمه،، ئې هم د مشورې په حيثيت لښكر ته راغوښتې وو.چه په جنګى امورو كښې د هغه د مهارت نه فائده واخستې شى..وريدبن صمه،، مشهور شاعر او په ميدان جنګ باندې پوهيدو كښې د غيرمعمولى صلاحيت مالك وو.په دغه وخت كښې دهغه عمر د سلو نه زيات وو.خلقو هغه راوچت كړل.اوميدان جنګ ته ئې راورسولو.وريد

---

١) فتح البارى (٨\٢٦)_
٢) فتح البارى (٨\٣٦) وعمدة القارى (١٧\٢٩٢)_
٣) عمدة القاى (١٧\٢٩٣)_
٤) حنين دمكې مكرمې نه د درې ورځو په فاصله باندې دې.طبقات ابن سعد (٢\١٤٩)_
٥) الكامل لابن اثير (٢\١٧٧)_
٦) سيرت مصطفى (٣\٥٥و٥٦)_

تپوس اوکړو،چه دا کوم ځائې دې؟ خلقو اووئیل، ،اوطاس، ، ورید اووئیل.دا ځائې د جنګ دپاره مناسب دې. ځکه چه ددې ځائې زمکه نه زیاته سخته ده.اونه دومره نرمه ده.چه قدم په کښې خښیږی .بیا هغه تپوس اوکړو.چه د ماشومانو د ژړا دا آواز څنګه راځی؟ خلقو ورته اووئیل.چه ماشومان او ښځې مو ځان سره راوستی دی،چه هرسړې په بهادرئ سره جنګیږی.اوتختی نه.په دې باندې ورید اووئیل.په جنګ کښې صرف نیزه او توره کار کوی.که په جنګ کښې فتح اوشوه.نود اهل وعیال راوستو څه فائده نشته.او که شکست اوشو.نو د ښځو او بچو په وجه به نوره هم رسوائی وی. ددې وجې زما دا مشوره ده.چه اهل وعیـال د لښکر نه روسته اوساتې.خو مالك بن عوف د ځوانئ د جوش په وجه د ،،ورید،، رائې بیخی خوښه نکړه.او وې وئیل.د بوډاتوپ په وجه دده عقل بیخی بیکاره شوې دې. (۱)

بل طرف ته چه رسول اللهﷺ ته ددې خبر اوشو.نو هغوی د تحقیق حال دپاره عبدالله بن ابی حدرد اولیږلو.هغه لاړل.او دوه ورځې د هوازن په لښکر کښې پاتې شو.او واپس راغلو، نبیﷺ ته ئې تفصیل بیان کړو.(۲)

رسول اللهﷺ هم د مقابلې دپاره تیاریانې شروع کړې.صفوان بن امیه چه لا تراوسه پورې مسلمان شوې نه وو.سل زغرې دسازوسامان سره په مستعار واخستې.(۳)

د خیالی په ورځ په ۶شوال ۸ھ نبیﷺ د دولس زره کسانو لښکر واخستل، د مکې نه حنین طرف ته روان شو.(۴) دا داسلامی غزواتو اولنې لښکر وو.چه دومره په زیات تعداد کښې د شان او شوکت سره حنین طرف ته روان شو.د بعضې صحابوؓ د ژبې نه دا اووتل.

((لن تغلب الیوم من قلة)) نن به مونږ د قلت په وجه نه مغلوبه کیږو.په دې جمله کښې یو قسم د فخر او اعجاب بوئی وو.ځکه د الله تعالی په دربار کښې دا خبره خوښه نشوه.هم دې طرف ته ئې اشاره کړې ده په قرآن پاك کښې فرمائی.﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا﴾

اسلامی لښکرد نبې (منګل) په ورځ وادی حنین ته اورسیدل.مالك بن عوف خپل فوځ د حنین دواړو طرفونو ته په مورچو کښې کېنولې وو.اوهغوی ته ئې وئیلی وو.چه دخپلو تورو تیکی اوشولئ.او وې غورځوئ.کله چه اسلامی لښکر د دې ځائې نه تیریږی.نو ټول پرې په شریکه حمله اوکړئ.(۵)

اوس لا د صبا رڼا هم سمه نه وه لګیدلې.چه اسلامی لښکر وادی حنین نه تریدل.د هوازن او ثقیف دیرش زره ځوانانو په توور او غشو باندې په اسلامی لښکر باندې حمله اوکړه.په

---

۱) زاد المعاد (۳\۴۶۶، ۴۶۷) والکامل لابن الأثیر (۲\۱۷۷) والبدایة والنهایة (۴\۳۲۲)_

۲) زاد المعاد (۳\۴۶۸) وتاریخ الطبری (۲\۳۴۶)_

۳) تاریخ الطبری (۲\۳۴۶)_

۴) طبقات ابن سعد (۲\۱۵۰).ابن اسحاق د روانیدو تاریخ پنځم شوال لیکلې دې.(البدایة والنهایة)_

۵) زاد المعاد (۳\۴۶۷)_

دې ناڅاپي حمله باندې اسلامي لښکر منتشر او تتر بتر (اخواه ديخواه) شو.صرف څو صحابه ﷺ د نبي ﷺ سره پاتې شو.په هغې کښې حضرت ابوبکر، حضرت عمرو حضرت علي ،حضرت عباس، حضرت فضل بن عباس، حضرت اسامه بن زيد ، حضرت سفيان بن حارث وغيره ﷺ شامل دی. حضرت عباس ﷺ د نبي ﷺ د قچرې واګې او ابوسفيان بن حارث ﷺ رکاب نيولې وو.په سخت جنګ کښې نبي ﷺ د سورلۍ نه راکوز شو.او د جلال نبوت په لهجه کښې ئې اووئيل.«أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب» حضرت عباس ﷺ اوچتوازه وو.نبي ﷺ هغه ته حکم اوکړو.چه انصارو او مهاجرينو ته آواز اوکړه.هغوی په اوچت آوازسره دا نعره اووهله.«يا معشر الأنصار،يا أصحاب السمرة»[1]اې د انصارو ډلې.اې د کيکر د ونې خاوندانو! کله چه دا جمله صحابوﷺ واوريده.نو لکه د ليونو غوندې راواپس شول.او د رسول الله ﷺ نه ګيرچاپيره جمع شول.نبي ﷺ د حملې حکم ورکړو.او ميدان جنګ ګرم شو.نبي ﷺ په لاس کښې خاورې راواخستې .اوکافرانو طرف ته ئې اوويشتې.او وې فرمائيل «شاهت الوجوه» خراب دې شي دا مخونه.يا خراب شو دا مخونه.خيرې ئې اوکړې.يا ئې خبر ورکړو.په کافرانو کښې داسې يو کس هم پاتې نشو.چه دهغه سترګو ته د دغه يو موټې خاورې نه اونه رسيده.[2]

ددشمن قدمونه اوخويدل.او اويا کسانودهغوی قتل شو.[3] ډير قيديان شول .اوځه اوتختيدل.په اوطاس او طائف کښې ئې پناه واخستله.طائف ته چه کوم کسان تختيدلي وو.په هغوی کښې مالك بن عوف هم وو.وريد بن صمه اوطاس طرف ته تلونکو کښې وو.[4]

دغه شان الله تعالى آخر په دې جنګ کښې مسلمانانو ته فتح ورکړه.دې غزوې سره متعلق نورې خبرې وړاندې د بخاری په رواياتو کښې راځی.

په جنګ حنين کښې چه په اول کښې مسلمانانو ته کوم شکست شوې وو.د دې سبب دا وو.چه د يو صحابی ﷺ د خولې نه داسې جمله وتلې وه.چه په هغې کښې د اعجاب بوئې وو.چه ..نن به مونږ د کموالی د وجې شکست نه موو،، [5] الله تعالى اوفرمائيل.﴿وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ۞ ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ [6]الله تعالى بيا خپل احسان اوکړو. او مسلمانانو ته ئې غلبه ورکړه.ددې وجې ورونړو د لوئې خبرې نه ډير ويريدل پکار دی.

---

[1]) سمره د کيکر ونې ته وائي.د اصحاب سمره نه په بيعت رضوان کښې شرکت کونکی صحابه ﷺ مراد دی.ځکه چه دا بيعت د کيکر د ونې لاندې اخستې شوې وو.)۔

[2]) د تفصيل دپاره اوګورئ الكامل لابن الأثير (١٧٩\٢) وتاريخ الطبری(٣٤٨\٢) وزاد المعاد(٤٧١\٣و ٤٧٢)

[3]) الكامل لابن الأثير (١٧٩\٣) _

[4]) البداية والنهاية (٣٣٧\٤)

[5]) زاد المعاد (٤٧٧\٣)_

[6]) سورة التوبة :٢٥و ٢٦)_

[۴۰۶۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ رَأَيْتُ بِيَدِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى ضَرْبَةً قَالَ ضُرِبْتُهَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ قُلْتُ شَهِدْتَ حُنَيْنًا قَالَ قَبْلَ ذَلِكَ

[۴۰۶۱/۴۰۶۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا عُمَارَةَ أَتَوَلَّيْتَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَمَّا أَنَا فَأَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ لَمْ يُوَلِّ وَلَكِنْ عَجِلَ سَرَعَانُ الْقَوْمِ فَرَشَقَتْهُمْ هَوَازِنُ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذٌ بِرَأْسِ بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ

[۴۰۶۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قِيلَ لِلْبَرَاءِ وَأَنَا أَسْمَعُ أَوَلَّيْتُمْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَمَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا كَانُوا رُمَاةً فَقَالَ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ

[۴۰۶۳] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ مِنْ قَيْسٍ أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ لَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَفِرَّ كَانَتْ هَوَازِنُ رُمَاةً وَإِنَّا لَمَّا حَمَلْنَا عَلَيْهِمْ انْكَشَفُوا فَأَكْبَبْنَا عَلَى الْغَنَائِمِ فَاسْتُقْبِلْنَا بِالسِّهَامِ وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَإِنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ الْحَارِثِ آخِذٌ بِزِمَامِهَا وَهُوَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ قَالَ إِسْرَائِيلُ وَزُهَيْرٌ نَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَغْلَتِهِ [ر: ۲۷۰۹]

قوله: حدثني محمد بن كثير...: يوكس راغلود حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نه ئې تپوس اوكړو.«أتوليت يوم حنين؟»آيا ته د حنين په ورځ تختيدلې وې؟نو هغوى په جواب كښې اووئيل، آو. «أما أنا فأشهد على النبى ﷺ أنه لم يول ولكن عجل سرعان القوم» يعنى زه ګواهي وركوم.چه رسول الله ﷺ شا كړې نه وه چه تختيدلې وو،بلكه دقوم بعضې تلواركرو د عجلت نه كار واخستلو.

حضرت براء رضي الله عنه په جواب كښې دا اونه وئيل.چه مونږ نه وو تختيدلى.بلكه وې فرمائيل رسول الله ﷺ نه وه شا كړې.ددې وجه دا ده.كه على العموم ئې دا وئيلى وو.چه آو مونږ تختيدلى وو.نوپه دې كښې د بې ادبئ يو قسم بونې وو.چه رسول الله ﷺ هم شا كړې وه.(١)

ددې نه په وړاندينى روايت كښې هم دا سوال د جمعې په صيغې سره دې.«أوليتم مع النبى ﷺ يوم حنين؟»

هم د حضرت براء رضي الله عنه په دريم روايت «أفررتم» هم د جمعې صيغې سره دې.د دې درې واړه

---

١) فتح البارى (٢٨/٨)_

روايتونو نه دا شبه كيږى.چه تپوس كونكى رسول اللهﷺ هم په شا ته تلونكو كسانو كښې ګڼړل.ددې وجې حضرت براءؓ بيان اوكړو.چه خلق منتشر شوى خو وو.خو رسول اللهﷺ په هغوى كښې شامل نه وو.دا ممكن ده چه د قرآن آيت ﴿ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ﴾ ئې عام ګڼړلې وى.او سائل دا سوال كړې وى.

اشكال كيږى.چه تولى يوم الزحف په سبع موبقات كښې داخل ده.او ګناه كبيره ده.بيا صحابوؓ نه دا فعل څنګه سرګند شو؟ ددې جواب دا دې.چه ناڅاپه د غشو باران شو.نو مؤلفة القلوب كوم چه په مكه كښې مسلمانان شوى وو. او د هغوى تعداد دوو زروته نزدې وو.هغوى ددې طاقت اونه لرلو.او ورستو اوتختيدل .دهغې اثر په صحابوؓ باندې اوشو.او هغوى منتشر شو.صحابه تختيدلى نه وو.بلكه د افراتفرئ كيفيت وو.بلكه ګډ وډ شوى وو.لكه څنګه چه په راروان روايت كښې دى.«كانت للمسلمين جولة» نوحضرت عباسؓ آواز اوكړو.اوچغه ئې اووهله.نو هغوى سمدستى واپس راغلل.دويمه خبره دا كولې شى.چه تولى او فرار هله وى.چه جرنيل تيخته اختيار كړى.اودلته نبىﷺ تيخته نه ده اختيار كړې.

قوله: حدثنا أبوالوليد .. أنا النبي لاكذب أنا ابن عبدالمطلب: رسول اللهﷺ عبدالمطلب ته خپل نسبت كړې دې. ددې وجه دا ده.چه دحضرت عبدالمطلب شهامت، شجاعت، اودهغوى بزرګى او عظمت په ټولو عربو كښې منلې شوې وو.اود دوى والد په ځوانئ كښې وفات شوې وو.ددې وجې نبىﷺ نيكۀ طرف ته نسبت اوكړو.(١)

دا هم وئيلې شوى دى.چه دعبدالمطلب په اولاد كښې به آخرى نبى آخرالزمان ظاهريږى. اودمخلوق د هدايت بندوبست به كوى.ددې وجې نبىﷺ عبدالمطلب طرف ته نسبت اوكړو..او «أنا النبي» نه پس ئې د «لاكذب» وئيلو كښې اشاره اوكړه،چه نبوت او كذب نشى جمع كيدې.نوځكه نبى يم.دروغژن كيدې نشم.چه اوتختم.زما د الله تعالى په مدد باندې پورد يقين دې.

[۴۰۶۳]حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ ح و حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ شِهَابٍ وَزَعَمَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعِي مَنْ تَرَوْنَ وَأَحَبُّ الْحَدِيثِ إِلَيَّ أَصْدَقُهُ فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ وَقَدْ كُنْتُ اسْتَأْنَيْتُ بِكُمْ وَكَانَ أَنْظَرَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضْعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً حِينَ قَفَلَ مِنْ الطَّائِفِ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّ رَسُولَ

---

(١) عمدة القارى (١٧\٢٩۶)_

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ رَادٍّ إِلَيْهِمْ إِلَّا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ قَالُوا فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُسْلِمِينَ فَأَثْنَى عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُونَا تَائِبِينَ وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ ذٰلِكَ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللّٰهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ فَقَالَ النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ فِي ذٰلِكَ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا هٰذَا الَّذِي بَلَغَنِي عَنْ سَبْيِ هَوَازِنَ [ر: ۲۱۸۴]

چه رسول الله ﷺ د حنین او هوازن د جنګ مهم نه اوزګار شو.نو جعرانه ته راغلو.د طائف دمحاصرې تلونه وړاندې نبی ﷺ حکم اوکړو،چه دحنین د اموال غنیمت او قیدیان په ،،جعرانه،، کښې دې جمع کړې شی.دقیدیانو تعداد شپږ زره وو.او څلورویشت زره اوښان وو.څلویښت زره چیلۍ چیلئ وې.او څلور زره اوقیه سپین زر وو.دا ټول د نبی ﷺ دحکم مطابق په ،،جعرانه،، کښې جمع کړې شو.(۱) د طائف محاصره ئې ختمه کړه.نبی ﷺ پنځمې ذی قعدې ته ،،جعرانه، ته اورسیدل .دلته نبی ﷺ د هوازن د لسو ورځو نه زیات انتظار اوکړو،چه کیدې شی دا کسان د خپلو خپلوانو.بچو او ښځو د خلاصولو دپاره راشی.خوهرکله چه د دومره ورځو د انتظار نه پس هم څوك رانغلل.نو نبی ﷺ په مجاهدینو کښې مال غنیمت تقسیم کړل.

دغنیمتو د تقسیم نه پس د قبیله هوازن وفد توبه ویستونکی د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او د نبی ﷺ په لاس ئې بیعت اوکړو.مسلمانان شول.او دخپلو مالونو او اهل وعیال د واپسۍ درخواست ئې اوکړو.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل .ما ستاسو ډیر انتظار اوکړو.او اوس غنیمتونه تقسیم شوی دی.نوپه دوو څیزونو کښې یو څیز اختیار کړئ.یا خپل قیدیان واخلئ.یا مال.کله چه هغوی ته یقین اوشو.چه نبی ﷺ صرف یوڅیز واپس کوی.نو هغوی اوونیل.زمونږ قیدیان دې واپس کړې شی.نبی ﷺ ارشاد اوفرمائیل.ما او زما د خاندان بنوهاشم په حصه کښې چه څه راغلی دی.هغه ټول واپس کوم.بیا نبی ﷺ د ماسپخین دمانځه نه پس اودریدلو.اول ئې د الله تعالی حمد اوثنا بیان کړه.اوبیا ئې اوفرمائیل. ،،دا ستاسو ورونړه مسلمانان شول او راغلل.زه دا ګنړم.چه د دوی قیدیان دوی ته واپس کړو.په تاسوکښې چه کوم کس د زړه په خوشئ سره داسې کوی.نو ډیره ښه ده.اوچه څوك غواړی.چه دهغه حصه هم دهغه سره پاتې شی.نو الله تعالی چه ددې نه پس مونږ ته کوم غنیمت راکړی.زه به د ټولونه وړاندې هغه ته د هغې معاوضه ورکړم.،،

صحابو ﷺ اوونیل.((قد طیبنا ذلك)) مونږ د زړه نه په دې باندې راضی یو.نبی ﷺ اوفرمائیل.

---

۱) طبقات ابن سعد(۱۵۲\۲)_

دا خبره په ګنړه او شور کښې ده.معلومه نه ده چه چا په رضا او رغبت سره ونیلی دی. اوچا نه دی ونیلې.نوتاسو خلق لاړ شئ.مشوره اوکړئ.اوبیا دې د قبیلې مشران راشی ستاسو په باره کښې دې ما ته بیان اوکړی.چه ټول راضی ئې که نه ؟ ددې نه پس د ټولو قبیلو لوئې لوئې مشران راغلل.اودخپلې رضا او رغبت اظهار ئې اوکړو.

ددې وجې دا وه،چه د تقسیم غنیمت نه پس مجاهدین ددې مالکان شوی وو.اواوس چه دهغوی د ملك نه څیز اخستل.نو دهغې دپاره ضروری وه.چه دهغوی رضا او رغبت معلوم وی.ددې وجې نبی ﷺ اوفرمائیل.چه د ټولو نه معلومه کړه.چه راضی دی که نه،نود رضا معلومیدو نه پس نبی ﷺ شپږ زره قیدیان په یو وخت آزاد کړل.

قوله: هذا الذي بلغني عن سبي هوازن: دا د ابن شهاب زهری رحمه الله قول دې.(١)

[٤٠٦٥]حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عُمَرَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا قَفَلْنَا مِنْ حُنَيْنٍ سَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَذْرٍ كَانَ نَذَرَهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اعْتِكَافٍ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَفَائِهِ

ددې روایت د سند نه معلومیږی.چه په دې کښې انقطاع ده.څکه چه نافع د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کوی.د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت نه کوی.خو صحیح خبره دا ده.چه دا روایت متصل دې.څکه چه وړاندې د تحویل نه پس په سند کښې «عن نافع عن ابن عمر» دی.د تحویل نه په ماقبل روایت کښې اختصار دې.او په ابواب الخمس کښې مصنف رحمه الله اولنې سند متصلاً نقل کړې دې. (٢)

قوله: سَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَذْرٍ كَانَ نَذَرَهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اعْتِكَافٍ: حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه جاهلیت کښې په مسجد حرام کښې د یوې ورځې او شپې د اعتکاف کولو نذر منلې وو.د رسول الله ﷺ چه کله په جعرانه کښې قیام وو.نو حضرت عمر رضی الله عنه د خپل دغه نذر په باره کښې تپوس اوکړو.چه هغه زه پوره کړم که نه؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.پوره ئې کړه.

که یوکس د په زمانه د کفر کښې نذر اومنی.اود اسلام راوړلو نه پس د هغې پوره کول د جمهورو عالمانو رحمهم الله په نیز واجب نه دې.بلکه مندوب دې.البته د داؤد ظاهری،مغیره بن عبدالرحمن مخزومی، او امام احمد نه په یو روایت کښې د وجوب قول منقول دی.امام بطال رحمه الله دا قول امام شافعی رحمه الله ته منسوب کړې دې.خو د امام شافعی نه نقل کونکی، دهغه د ټولو ملګرو مذهب د جمهورو موافق دې.(٣)

---

١) فتح الباری (٣٤/٨)_
٢) کتاب الجهاد أبواب الخمس باب ما کان النبی ﷺ یعطی المؤلفة قلوبهم وغیرهم من الخمس..(٤٤٥/١)
٣) د تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری کتاب الأیمان والنذور باب إذا نذر أو حلف أن لا یکلم إنساناً فی الجاهلیة ثم أسلم (٥٨٢/١١)_

قوله وَقَالَ بَعْضُهُمْ حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ: د «بعضهم» مصداق احمد بن عبده الضبی دې.او د حماد نه حماد بن زید مراد دې.دا تعلیق دې.امام بخاری دا حدیث د ابوالنعمان او محمد بن مقاتل په طریق سره د دې تخریج کړې دې.لکه څنګه چه وړاندې اوس دا خبره تیره شوه.چه د ا بوالنعمان په طریق کښې د نافع نه پس د ابن عمر رضی الله عنهما ذکر نشته.دکوم نه چه انقطاع معلومیږی.د امام مقصد ددې تعلیق نه دا دې.چه د احمدبن عبده په طریق کښې د..نافع.نه پس د.ابن عمر..ذکرشته.دا تعلیق اسماعیلی موصولاً نقل کړې دې.(۱)

قوله وَرَوَاهُ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ر:۱۹۲۷] یعنی د ایوب نه جریربن حازم.او حمادبن سلمه هم روایت نقل کړې دې.د کلام خلاصه دا شوه.چه د ایوب څلورشاګردان دی.
① معمر② جریر③ حمادبن سلمه ④ اوحماد بن زید.په دې کښې اولنی درې حضرات خو دا روایت موصولاً نقل کوی.اوڅلورم شاګرد حمادبن زید د احمدبن عبده الضبی نه خو موصولاً نقل کوی.خو ابوالنعمان بن د..ابن عمر..واسطه نه ذکرکوی.امام ټول طرق دلته جمع کړی دی.

[۴۰۶۶/۴۰۶۴]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ كَثِيرِ بْنِ أَفْلَحَ عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ وَأَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ مَا بَالُ النَّاسِ قَالَ أَمْرُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ رَجَعُوا وَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ قَالَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ قَالَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقَالَ مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَجُلٌ صَدَقَ وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنِّي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لَاهَا اللَّهِ إِذًا لَا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللَّهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَأَعْطِهِ فَأَعْطَانِيهِ فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ

حضرت قتاده رضی الله عنه فرمائی.چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حنین طرف ته اووتلو.کله چه زمونږ مقابله اوشوه.نو مسلمانانوته په اول کښې شکست اوشو.ما اوکتل چه کافر په مسلمان

---
(۱) عمدة القاری (۲۹۸\۱۷)_

ښکته شانته راغلو نو ما د شا نه د هغه د څټ رګ په توره باندې اووهلو. او دهغه زغره مې ماته کړه. وس هغه زما طرف ته رامخ کړو. او ماته ئې دومره زور راکړو چه ماته د مرګ بوئې محسوس شو بيا هغه مړ شو. او زه ئې پريخودم. ددې نه پس زه د حضرت عمر ﷺ سره ملاؤ شوم. او ما هغه نه ما تپوس اوکړو چه دا په خلقو باندې څه اوشو؟ يعنې دا شکست څنګه وشو؟ هغه اوونيل به دا د الله تعالی فيصله وه. ددې نه پس مسلمانان دوباره راغلل.

وفتح ئې حاصله کړه. د فتحې نه پس ، رسول الله ﷺ دا اعلان اوکړو. ((من قتل قتيلاً فله سلبه)) يعنې چې چه يو مشرك قتل کړې وی. او دهغه سره ګواه وی. نو دهغه سلب (وسله او د بدن جامې وغيره) به هغه ته ملاويږی. رسول الله ﷺ څو ځله دا اعلان اوکړو. حضرت قتاده ﷺ په دې اعلان باندې دوه درې ځله اودريدل. او وې ونيل. څوك به زما دپاره ګواهي ورکړی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل. ابوقتاده! څه خبره ده؟ حضرت ابوقتاده ﷺ ورته خبره وکړه. په دې کښې يو سړې پاسيدل. او رسول الله ﷺ ته ئې اوونيل. ابوقتاده ﷺ ربنتيا وائي. وددهٔ د مقتول سلب ما سره دې. ته دې زما په حق کښې راضی کړه. (چه دا زما نه پس نه اخلي) په دې باندې حضرت ابوبکرصديق ﷺ اوونيل. ((لاها الله، إذا لايعمد إلى أسد من أسد الله، يقاتل عن الله ورسوله ﷺ فيعطيك سلبه)) په الله قسم د الله په زمرو کښې يو زمرې چه د الله او دهغه د رسول ﷺ د طرفه جنګيږی.... رسول الله ﷺ به دا اراده اونکړی. چه دهغه سلب تاته درکړی.

نو رسول الله ﷺ د ابوبکر ﷺ تصديق اوکړو. او سلب ئې حضرت ابوقتاده ﷺ ته ورکړو. ابوقتاده ﷺ فرمائی. چه ما په هغه سلب باندې په بنو سلمه قبيله کښې يو باغ واخستلو. د اسلام نه پس دا د ټولو نه اولنې مال وو. چه ما ذخيره کړو.

((لاها الله إذن)) کښې ، ،ها، ، کوم چه د تنبيه دپاره راځی. د حرف قسم ، ،واو، ، په معنی کښې دې. ((لاها الله)) په معنی د ((لا والله)) کښې دې. ((إذا)) په اکثرو رواياتو کښې هم داسې واقع شوې دې. خو خطابی وغيره فرمائيلی دی. چه دا صحيح نه دې. ځکه چه اهل عرب ((لاها الله ذا)) استعمالوی ، ،ذا، ، اسم اشاره ده. او په معنی ئې ده ((لا والله لايكون ذا)) په الله قسم داسې به هرګز اونشی.

خو چونکه په اکثرو رواياتو کښې ((إذا)) دې. ددې وجې حافظ ابن حجر ﷫ په خطابی رد کړې دې. او وئيلې ئې دی. چه ((إذن)) هم صحيح دې. او دحضرت صديق ﷺ د کلام مقصد دا دې. که واقعه ابوقتاده ﷺ دغه کس قتل کړی دی. نو بيا خو رسول الله ﷺ د مقتول د سلب تاته د درکولو اراده اونکړی. (١)

---

١) حافظ ابن حجر په ((ها الله إذا)) باندې ډير تفصيلی کلام کړې دې. اوګورئ فتح الباري (٨/٣٦و ٤٠) دغه شان عمدة القاري (١٧/٣٠٠)_

بعضې حضراتو ونيلي دی.چه دا «إذا» زياتی دې.او«إذا»بعضې وخت په كلام كښې زياتی راځی.لكه څنګه چه د ،حماسه،، دشاعر په دې شعر كښې دې.

لوكنت من مازن لم تستبح ابلى — بنو اللقيطة من ذهل بن شيبانا
إذا لام بنصر معشر خشن — عند الحفيظة أن ذولوثة لانا

دلته په دويم شعر كښې «إذا» زياتی دې.(١)

«مخرف»خرف يخرف د نصر نه راځي.د ميوې راټولو په معنی ،مخرف اسم ظرف دې.د ميوې راټولو ځائې،يعنی باغ.خراف هم د مخرف په معنی كښې راځی

[٤٠٦٧]وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ كَثِيرِ بْنِ أَفْلَحَ عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمَ حُنَيْنٍ نَظَرْتُ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يُقَاتِلُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَآخَرُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يَخْتِلُهُ مِنْ وَرَائِهِ لِيَقْتُلَهُ فَأَسْرَعْتُ إِلَى الَّذِي يَخْتِلُهُ فَرَفَعَ يَدَهُ لِيَضْرِبَنِي وَأَضْرِبُ يَدَهُ فَقَطَعْتُهَا ثُمَّ أَخَذَنِي فَضَمَّنِي ضَمًّا شَدِيدًا حَتَّى تَخَوَّفْتُ ثُمَّ تَرَكَ فَتَحَلَّلَ وَدَفَعْتُهُ ثُمَّ قَتَلْتُهُ وَانْهَزَمَ الْمُسْلِمُونَ وَانْهَزَمْتُ مَعَهُمْ فَإِذَا بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فِي النَّاسِ فَقُلْتُ لَهُ مَا شَأْنُ النَّاسِ قَالَ أَمْرُ اللَّهِ ثُمَّ تَرَاجَعَ النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَقَامَ بَيِّنَةً عَلَى قَتِيلٍ قَتَلَهُ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُمْتُ لِأَلْتَمِسَ بَيِّنَةً عَلَى قَتِيلِي فَلَمْ أَرَ أَحَدًا يَشْهَدُ لِي فَجَلَسْتُ ثُمَّ بَدَا لِي فَذَكَرْتُ أَمْرَهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ سِلَاحُ هَذَا الْقَتِيلِ الَّذِي يَذْكُرُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنْهُ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ كَلَّا لَا يُعْطِهِ أُصَيْبِغَ مِنْ قُرَيْشٍ وَيَدَعَ أَسَدًا مِنْ أُسْدِ اللَّهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَدَّاهُ إِلَيَّ فَاشْتَرَيْتُ مِنْهُ خِرَافًا فَكَانَ أَوَّلَ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ

دا تعليق دې.امام بخاری په ابواب الاحكام كښې دا په اختصار سره موصولاً نقل كړې دې. اسماعيلی په تفصيل سره دا موصولاً تخريج كړې دې.(٢) په دې كښې هم د ابوقتادة رضي الله عنه ذكر شوې واقعه بيان شوې ده.

قوله: لايعطه أصيبغ من قريش ....: د «اصيبغ» ترجمه شيخ الحديث صاحب په رنګيلا سره كړې ده.(٣) د ،،لا پرواه،، لفظ د تحقيردپاره استعمالیږی.د داسې كس دپاره چه په

---

١) كه زه د مازن قبيلې څنی ووم.نو د نيچ ښځې اولاد يعنی ذهل بن شيبان به زما اوښان مباح نه ګڼل.په دغه وخت كښې به زما د مدد دپاره يو داسې قوم راپورته شوې وو.كوم چه د حميت په وخت كښې سختی دی.كه د نرم زړه خاوند به نرمی كوله(نو هم به ئې نرمی نشوه كولې بلكه په سختئ سره به پيش كيدو)

٢) فتح البارى (٤١/٨)_

٣) تعليقات لامع الدرارى (٣٦٧/٨)_

مهماتو کښې حصه نه اخلي.اود خلقو په نظر کښې حقير وي.د جملې مطلب دا دې. چه دا د رنګين مزاج سړې چرته داسې دې.چه د مقتول سلب دې ده ته ورکړې شي.

بعضې حضراتو ونيلي دی.چه «اصيبغ» د مرغو د يو خاص نوع نوم دې. چونکه د دغه نوع مرغئ کمزورې او حقيرې وی.ددې وجې حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه د دغه کس ضعف طرف ته اشاره اوکړه.اودا لفظ ئې اووئيل.(١)

ابن مالك ونيلي دی.چه دا «أضيبع» په ضاد سره د «اضبع» تصغير دې. اصبع هغه کس ته وائی.چه لاسونه ئې واړه وی.اضبع د کمزروی اوضعيف دپاره دکنايه په طور استعماليږی.(٢)

بَاب=غَزْوَةِ أَوْطَاسٍ

لکه څنګه چه وړاندې تير شو.چه د حنين نه د کافرو څه کسان اوتختيدل.او اوطاس ته لاړل. وريدبن صمه هم په دغه کسان کښې شامل وو.رسول الله ﷺ د حضرت ابوعامر اشعری رضی الله عنه په امارت کښې يوه ډله دهغوی د ختمولو دپاره اوليږله. اسلام بيرغ د حضرت ابوعامر رضی الله عنه په لاس کښې وه.د وريد بن صمه خوئې يو غشې راويشتل.هغه د ابوعامر رضی الله عنه په کونډئ کښې ښخ شو.اوابوعامر شهيد شو.حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه بيرغ په خپل لاس کښې واخستلو.او حمله ئې اوکړه سلمه بن وريد ئې ختم کړو.حضرت ربيعه بن رفيع رضی الله عنه په وريدبن الصمه باندې حمله اوکړه، هغه ئې قتل کړو.او مسلمانانو هلته فتح حاصله کړه.

[٤٠٦٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَيْنٍ بَعَثَ أَبَا عَامِرٍ عَلَى جَيْشٍ إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقِيَ دُرَيْدَ بْنَ الصِّمَّةِ فَقُتِلَ دُرَيْدٌ وَهَزَمَ اللَّهُ أَصْحَابَهُ قَالَ أَبُو مُوسَى وَبَعَثَنِي مَعَ أَبِي عَامِرٍ فَرُمِيَ أَبُو عَامِرٍ فِي رُكْبَتِهِ رَمَاهُ جُشَمِيٌّ بِسَهْمٍ فَأَثْبَتَهُ فِي رُكْبَتِهِ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا عَمِّ مَنْ رَمَاكَ فَأَشَارَ إِلَى أَبِي مُوسَى فَقَالَ ذَاكَ قَاتِلِي الَّذِي رَمَانِي فَقَصَدْتُ لَهُ فَلَحِقْتُهُ فَلَمَّا رَآنِي وَلَّى فَاتَّبَعْتُهُ وَجَعَلْتُ أَقُولُ لَهُ أَلَا تَسْتَحْيِي أَلَا تَثْبُتُ فَكَفَّ فَاخْتَلَفْنَا ضَرْبَتَيْنِ بِالسَّيْفِ فَقَتَلْتُهُ ثُمَّ قُلْتُ لِأَبِي عَامِرٍ قَتَلَ اللَّهُ صَاحِبَكَ قَالَ فَانْزِعْ هَذَا السَّهْمَ فَنَزَعْتُهُ فَنَزَا مِنْهُ الْمَاءُ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي أَقْرِئِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامَ وَقُلْ لَهُ اسْتَغْفِرْ لِي وَاسْتَخْلَفَنِي أَبُو عَامِرٍ عَلَى النَّاسِ فَمَكُثَ يَسِيرًا ثُمَّ مَاتَ فَرَجَعْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهِ عَلَى سَرِيرٍ مُرْمَلٍ وَعَلَيْهِ فِرَاشٌ قَدْ أَثَّرَ رِمَالُ السَّرِيرِ بِظَهْرِهِ وَجَنْبَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ بِخَبَرِنَا وَخَبَرِ أَبِي عَامِرٍ وَقَالَ قُلْ لَهُ اسْتَغْفِرْ لِي فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ

---

(١) فتح البارى (٤١/٨٧) وعمدة القارى (٣٠١/١٧)_

(٢) فتح البارى (٤١/٧) وعمدة القارى (٣٠١/١٧)_

فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ أَبِي عَامِرٍ وَرَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ فَقُلْتُ وَلِي فَاسْتَغْفِرْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهُ وَأَدْخِلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلًا كَرِيمًا قَالَ أَبُو بُرْدَةَ إِحْدَاهُمَا لِأَبِي عَامِرٍ وَالْأُخْرَى لِأَبِي مُوسَى [ر:۲۷۲۸]

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.کله چه رسول الله ﷺ د حنین نه فارغ شو. نو نبی ابوعامر رضی الله عنه د یو لښکر سره اوطاس خوړ طرف ته روان کړو.د وریدبن صمه سره جنګ اوشو.اوهغه قتل کړې شو.اوالله تعالی دهغه ملګرو ته شکست ورکړو .د ابوعامر په کونډئ کښې یو جشمی په غشی باندې اویشتلو،حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.زه ورغلم.او ما هغه ته اووئیل.((یاعم من رماك؟)) تره تا چا اوویشتې؟ هغوی په اشاره سره اووئیل.چه هغه دې زما قاتل،نو ما دهغه قصد اوکړو.او هغه مې رالاندې کړو.کله چه هغه زه اولیدم.نو هغه په تختیدلو شو.زه په هغه پسې شوم. او ورته مې اووئیل.تاته په تیښته باندې شرم نه درځی.ته اودریږې نه،نو هغه اودریدو.په یوبل باندې مونږ په توره ګذار اوکړو.او ما هغه قتل کړو.بیا زه ابوعامرته راغلم.اوهغه ته مې اووئیل.الله تعالی ستا قاتل قتل کړو.ابوعامر اووئیل.دا غشي زما د کونډئ نه راوباسه،ما غشې راوویسته.بیا هغه اووئیل. وراره نبی کریم ﷺ ته زما سلام کوه.اوزما دپاره ترې د مغفرت د دعا درخواست اوکړه.بیا ابوعامر رضی الله عنه زه خپل نائب جوړ کړم.او ترڅه وخته پورې د ژوندی پاتې کیدو نه پس هغوی شهادت بیا موندو.

واپس چه راغلو.نوزه درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم. نبی په ،،سریرمرمل،، باندې تشریف فرما وو.(سریرمرمل هغه کټ ته وائی.کوم چه د قجورو د رسو نه جوړ شوې وی) په دغه کټ باندې څه بستره نه وه.(دلته په روایت کښې،علیه فراش،، دی.خو په نورو ټولو روایاتو کښې،،ما علیه فراش،، دی.نو دلته د راوی نه ،،ما نافیه،، په سهو سره پاتې شوې ده.) ([1])د کټ پړو د نبی ﷺ په شاوپه دواړو اړخونو باندې چهاپونه جوړ کړی وو.ما خپل او د ابوعامر رضی الله عنه واقعات نبی ﷺ ته بیان کړل.اود هغوی دپاره د مغفرت د دعا درخواست مې نبی ﷺ ته راورسولو.نو رسول الله ﷺ اوبه راوغوښتې.او د اودس کولونه پس ئې د دعا دپاره لاس پورته کړو.او وې فرمائیل.((اللهم اغفر لعبید ابی عامر... اللهم اجعله یوم القیامة فوق کثیر من خلقك ومن الناس))ما عرض اوکړو. زما دپاره هم د مغفرت دپاره اوکړئ. نبی ﷺ اوفرمائیل.((اللهم اغفر لعبد الله بن قیس ذنبه وأدخله یوم القیامة مدخلاً کریماً)) عبدالله بن قیس د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نوم دې.

---

[1]) عمدة القاری (۳۰۲\۱۷)_

باب=غزوة الطائف في شوال سنة ثمان قاله موسى بن عقبة

په حنين كښې چه ئې شكست اوخوړلو.نو د هوازن او ثقيف ډير كسان د مالك بن عوف په قيادت كښې طائف ته تلى وو.طائف ډير محفوظ مقام وو.(۱) د اوطاس شكست خوړلې فوځ هم دلته راغلې وو.هغوى د ښاردخلقو سره ملاؤ شوى وو.او د يو كال دخوراك سامان او د جنګ ضرورى وسله ئې جمع كړې وه.او قلعه كښې ئې بنده كړې وه.او د قلعې په څلورو واړو طرفونو ئې غشى ويشتونكى مقرر كړى وو.(۲) نبى كريم ﷺ دحنين مال غنيمت او قيديان په مقام جعرانه كښې د جمع كولو حكم كړې وو.او لښكر ئې واخستلو،په خپله د طائف د محاصرې دپاره لاړلو.اودهغوى محاصره ئې اوكړه.د قلعې په فصيل باندې چه كوم تير ويشتونكى ناست وو.هغوى په اسلامى لښكر باندې د غشو سخت ويشتل اوكړل .ډير مسلمانان زخمى او شهيدان شول.(۳) حضرت خالدبن وليد رضی اللہ عنہ هغوى لاس په لاس جنګ كولو دپاره راوبلل.هغوى جواب وركړو.چه مونږ ته د قلعې نه د راكوزيدو څه ضرورت نشته. مونږ سره د ټول كال غله موجود ده.كله چه دا ختمه شى.نو بيا په تورې راخلو.او راكوزيږو به،(۴) اسلامى لښكر قلعه ماتونكى آلات دبابات (دهغه وخت توپه) اومنجنيق استعمال كړل.خو هغوى د اوسپنې غټ سيخونه په اور كښې سرۀ كړى وو.د پورته نه ئې هغه راؤ ورول.د هغې د وجې مسلمانان وړاندې نشو تلې.(۵) رسول الله ﷺ دهغوى د باغونو كټ كولو حكم اوكړو.كله چه صحابو رضی اللہ عنہم د هغوى باغونه كټ كول شروع كړل.نوهغه خلقو د الله اود خپلولئ واسطه وركړه.او نبى ﷺ ته ئې درخواست اوكړو.چه باغونه مه كټ كوئ.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.زه د الله اود خپلولئ د وجې دا پرېږدم.(۶)

دمحاصرې په دوران كښې يوه ورځ رسول الله ﷺ حضرت ابوبكر رضی اللہ عنہ ته اووئيل .ما يو خوب ليدلې دې.چه د پيؤ نه يوه ډكه پيالئ ماته راكړې شوه.خو يو چرګ راغلو.او په هغې كښې ئې مخوكه اووهله.په هغې سره هغه پئ توئې شو.حضرت ابوبكر رضی اللہ عنہ ورته اووئيل.دا قلعه اوس نه فتح كيږى.بيا نبى ﷺ د نوفل بن معاويه ديلى سره په دې باره كښې مشوره

---

(۱) وفى عمدة القارى (۳۰۲\۱۷) الطائف وهو بلد كبير مشهور كثير الأعناب والنخيل عل ثلاث مراحل أو اثنتين من مكة من جهة المشرق وفى الروض الأنف (۳۰۱\۲) أن الدمون بن الصدف .. من حضرت موت أصاب دما من قومه فلحق بثقيف فأقام فيهم وقال لهم :ألا أبنى لكم حائطاً ببلدكم فبناه فسمى به الطائف)_

(۲) طبقات ابن سعد (۱۵۸\۲) والكامل لابن الأثير(۱۸\۲)_

(۳) طبقات ابن سعد (۱۵۸\۲) وسيرت ابن هشام مع الروض الأنف (۳۰۳\۲)_

(۴) سيرت مصطفى (۶۳\۳)_

(۵) سيرة ابن هشام مع الروض الأنف (۳۰۳\۲)_

(۶) سيرة ابن هشام (۳۰۳\۲)_

اوكړه.چه ستا څه رائې ده.؟ نوفل اووئيل. «يارسول الله ثعلب فى جحر،إن أقمت عليه أخذته وإن تركته لم يضرك» يعنى لومړه په سوړه كښې ننوتې ده.كه ته ورته ايسار شوې اوبه ئې نيسې.اوكه پريږدې ئې دې.نو ستا څه نقصان نشته.(١)

د دې نه پس نبى ﷺ د محاصرې ختمولو د اعلان حكم اوكړو.نو صحابوﷺ اووئيل. دفتحې نه بغير به واپس خو؟ رسول الله ﷺ اووئيل ښه ده صبا ته هم اوجنګيږئ.په دويمه ورځ مسلمانان ډير په جذبې سره اوجنګيدل.او ډيرنقصان ورته ملاؤ شو.رسول الله ﷺ اوفرمائيل. اوس به انشاء الله صبا ته واپسى وى.نن چه ئې د رسول الله ﷺ نه د واپسئ اعلان واوريدل.نو صحابه كرامﷺ خوشحاله شول. او چا دا اونه وئيل.چه دفتحې نه بغير به خو؟ چه د صحابوﷺ په عزم كښې ئې تغير اوليدل.نو نبى ﷺ مسكې شو.او محاصره ئې ختمه كړه.(٢) بعضې صحابوﷺ نبى ﷺ ته اووئيل.تاسو دوى ته خيرې اوكړئ.نبى ﷺ د خيرو په ځائې اووئيل.«اللهم اهد ثقيفاً وأئت بهم» اې الله ثقيف ته هدايت ا وكړې.اودوى ماته راولې.(٣)

په طائف كښې دولس صحابو ﷺ شهادت بيا موندې وو.(٤) روستو الله تعالى هغوى ته هدايت نصيب كړو.اوهغه خلق مسلمانان شو.مقام جعرانه كښې د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو.د هغوى امير مالك بن عوفﷺ هم مسلمان شو.او په مقام جعرانه كښې د هغوى په درخواست باندې بيا رسول الله ﷺ شپږ زره قيديان آزاد كړل.دكوم تفصيل چه تيرشوې دې.

د طائف محاصره څو ورځې جارى وه؟په دې كښې دپنځلس،اوولس، اتلس او شلو ورځو مختلف روايات دى.(٥)

[٤٠٦٩] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ سَمِعَ سُفْيَانَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّهَا أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي مُخَنَّثٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ يَا عَبْدَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الطَّائِفَ غَدًا فَعَلَيْكَ بِابْنَةِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلَنَّ هَؤُلَاءِ عَلَيْكُنَّ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ الْمُخَنَّثُ هِيتٌ حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا وَزَادَ وَهُوَ مُحَاصِرُ الطَّائِفِ يَوْمَئِذٍ [ر: ٤٩٣٤و٥٥٤٨]

قوله: وعندي مخنث: مخنث د نون په كسره سره افصح دې.او فتحه سره اشهر دې.مخنث هغه كس ته وائى.چه دهغه په اندامونو كښې د ښځو پشان نرموالې اولچك وى.دهغه په تګ

---

١) البداية والنهاية (١٤\٣٥٠)_
٢) لكه څنګه چه وړاندې د بخارى په روايت كښې راغى.)_
٣) البداية والنهاية (١٤\٣٥٠) والكامل لابن الأثير (٢\١٨١)_
٤) طبقات ابن سعد (٢\١٥٨) والبداية والنهاية (١٤\٣٥١)_
٥) عمدة القارى (١٧\٣٠٥)_

رانګ.او خبرو کښې د ښځو سره مشابهت وی.کله دا کیفیت فطری او غیر اختیاری وی.دا مذموم نه دې.اوکله دا د ناز او ادا په وجه په تکلف اوتصنع سره اختیارولې شی.دا مذموم او قابل نفرت دې.

قوله: فسمعته يقول لعبدالله بن ابى امية:دا عبدالله د حضرت ام سلمه رضي الله عنها ورور وو.

قوله: فإنها تقبل بأربع وتدبر بثمان:په عربو کښې غټه ښځه خوښولې شوه.دې مخنث عبدالله بن اميه ته اووئيل.که صبا ته طائف فتح شی.نو ته دغيلان لور واخله.ځکه چه دهغې په خيټه کښې د څربوالی د وجې څلور موړې دی.کله چه راځی.نوڅلور موړې په نظر راځی. اوهغه څلور موړې دواړو اړخونو ته هم رسيدلی دی.نوکله چه ځی.نو د شا نه اته موړې ښکاری.څلور يو طرف ته او څلور بل طرف ته،هم دا مطلب دې د «تقبل بأربع وتدبر بثمان» رسول الله ﷺ اوفرمائيل.آئنده دپاره دې دا مخنث تاسو ته بيخی راتلل نه کوی.ده ته په اول کښې ښځو ته د ورتلو اجازت ددې وجې ورکړې شوې وو.چه کيدې شی دا خلق جنسی معاملاتو باندې بيخی نه پوهيږی.خوکله چه دې مخنث دا جمله اووئيله.او ددې نه معلومه شوه.چه دوی په دې خبرو پوهيږی.نو نبی ﷺ ښځو ته د هغوی په ورتګ پابندی اولګوله. نودغه مخنث د مدينې منورې نه اوويستې شو.اودمدينې نه بهرپه ،،حمی،، نوم ځائې کښې به اوسيدل.دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې دې بوډا شوې وو. هغوی بيا ده ته د مدينې د راتلو اجازت ورکړو.چه صرف د جمعې په ورځ راځه.([1])

ابن عيينه او ابن جريج ددې مخنث نوم ،،هيت،، بيان کړې دې.او بعضې خلقو وئيلی دی.چه دده نوم ،،ماتع،، وو.او ،،هيت،، د ده لقب وو.([2])

[۴۰۷۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ الشَّاعِرِ الْأَعْمَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا حَاصَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّائِفَ فَلَمْ يَنَلْ مِنْهُمْ شَيْئًا قَالَ إِنَّا قَافِلُونَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَثَقُلَ عَلَيْهِمْ وَقَالُوا نَذْهَبُ وَلَا نَفْتَحُهُ وَقَالَ مَرَّةً نَقْفُلُ فَقَالَ اغْدُوا عَلَى الْقِتَالِ فَغَدَوْا فَأَصَابَهُمْ جِرَاحٌ فَقَالَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَأَعْجَبَهُمْ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً فَتَبَسَّمَ قَالَ قَالَ الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الْخَبَرَ كُلَّهُ [ر:۵۷۳۶،۴۰۳۳]

[۴۰۷۱/۴۰۷۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَاصِمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَبَا بَكْرَةَ وَكَانَ تَسَوَّرَ حِصْنَ الطَّائِفِ فِي أُنَاسٍ فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَا سَمِعْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ

---

[1]) عمدة القارى (۳۰۳\۱۷و ۳۰۴)_

[2]) فتح البارى (۳۳۴\۹) كتاب النكاح باب ما ينهى من دخول المتشبهين بالنساء على المرأة)_

[٤٠٧٣] وَقَالَ هِشَامٌ وَأَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ أَوْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا وَأَبَا بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَاصِمٌ قُلْتُ لَقَدْ شَهِدَ عِنْدَكَ رَجُلَانِ حَسْبُكَ بِهِمَا قَالَ أَجَلْ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَأَوَّلُ مَنْ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَنَزَلَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَالِثَ ثَلَاثَةٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الطَّائِفِ [ر: ٦٣٨٥]

قوله: وكان تسور حصن الطائف في أناس: رسول الله ﷺ چه كله د طائف محاصره كړې وه.نو په هغه وخت كښې ئې اعلان كړې وو.چه د طائف د قلعې نه كوم غلامان بهر مونږ ته راشي.هغوى به آزاد وى.چه دا اعلان ئې واوريدل.نو ډيرغلام د قلعې په ديوال باندې راواوريدل. مسلمانانو سره ملاؤ شو.په هغوى كښې يو ابوبكره رضي الله عنه وو.هغه ټول نبى ﷺ آزاد كړل

دقلعې نه چه كوم غلامان راغلى وو.د هغوى په تعداد كښې روايات مختلف دى.اكثر اهل سيرو د دولسو يا ديارلسو كسان ذكر كړې دې.([1]) په مغازى د موسى بن عقبه كښې صرف د حضرت ابوبكره رضي الله عنه ذكر دې.([2]) اود بخارى ددې روايت په آخر كښې صرف د ديرشتو كسانو ذكر دې.((فنزل إلى النبى ﷺ ثالث ثلاثة وعشرين من الطائف)) يعنى حضرت ابوبكره رضي الله عنه ديرويشتم كس وو.چه نبى ﷺ ته د طائف نه راغلې وو.

حضرت ابوبكره رضي الله عنه په فضلاء صحابو رضي الله عنهم كښې وو.د دوى نوم ،،نفيع بن الحارث،، وو.([3])اود دوى د مور نوم ،،سميه،، وو.زيادبن ابى سفيان هم ددې ،،سميه،، خوئې وو. بكره پوړئ ته وائى.حضرت ابوبكره رضي الله عنه د طائف د قلعې نه د پوړئ په ذريعه د ديوال نه راكوز شوې وو.ددې وجې د دوى كنيت ابوبكره كيخودې شو.([4]) د دوى وفات په بصره كښې په كال ٥١هـ كښې شوې دې.([5])

كه د كافرانو د لښكر نه غلامان اووتختى.اود مسلمانانو په لښكركښې شامل شى.او اسلام قبول كړى.نو د احنافو د مسلك مطابق به هغوى آزاد وى.([6]) د رسول الله ﷺ په خدمت كښې چه څومره غلامان راغلى وو.نبى ﷺ هغوى آزاد كړى وو. روسته چه كله په مقام جعرانه كښې دهغوى مالكانو اسلام قبول كړلو.او د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو.نو هغوى اوونيل.زمونږ دا غلام دې مونږ ته واپس كړې شى.نبى ﷺ اوفرمائيل. دوى آزاد دى.دوى نشو واپس كولې.هغوى اوونيل. يارسول الله دوى ستاسو طرف ته ددې وجې نه وو

---

[1]) سيرة مصطفى (٦٣\٣)_
[2]) عمدة القارى (٣٠٦\١٧)_
[3]) فتح البارى (٤٥\٨) علامه سهيلى ددوى د والدنوم ،،مسروح،، ليكلې دې.(الروض الأنف :٣٠٤\١٢)
[4]) الروض الأنف (١٠٥\١٢)_
[5]) عمدة القارى (٣٠٥\١٧)_
[6]) فيض البارى (١١٥\٤)_

راغلی.چه گنی د دوی په اسلام کښې رغبت وو.دوی خو د غلامئ او رقیت نه د تیختې په وجه راغلی وو.خو رسول الله ﷺ د هغوی دا خبره اونه منله.اوهغه غلامان ئې مسلمانان او احرار اوګرخول.(١)

[٤٠٧٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَلَا تُنْجِزُ لِي مَا وَعَدْتَنِي فَقَالَ لَهُ أَبْشِرْ فَقَالَ قَدْ أَكْثَرْتَ عَلَيَّ مِنْ أَبْشِرْ فَأَقْبَلَ عَلَى أَبِي مُوسَى وَبِلَالٍ كَهَيْئَةِ الْغَضْبَانِ فَقَالَ رَدَّ الْبُشْرَى فَاقْبَلَا أَنْتُمَا قَالَا قَبِلْنَا ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ وَمَجَّ فِيهِ ثُمَّ قَالَ اشْرَبَا مِنْهُ وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا وَأَبْشِرَا فَأَخَذَا الْقَدَحَ فَفَعَلَا فَنَادَتْ أُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَرَاءِ السِّتْرِ أَنْ أَفْضِلَا لِأُمِّكُمَا فَأَفْضَلَا لَهَا مِنْهُ طَائِفَةً [ر: ١٩٣]

قوله: كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ: «جعرانة» بكسر الجيم والعين المهملة وتشديد الراء وقد تسكن العين» د طائف او مکې په مینځ کښې دیوځائې نوم دې.باجی وئیلی دی.چه جعرانه دمکې نه د اتلس میلو په فاصله واقع دې.دلته په روایت کښې دی «بین مكة والمدينة» داودی ددې انکار کړې دې.او وئیلی ئې دی، چه «جعرنة بين مكة والمدينة» نه ده.بلکه «بين مكة والطائف» ده.امام نووی رحمه الله هم په دې باندې جزم کړې دې.(٢)

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ ته په مقام جعرانه کښې یواعرابی راغلو.او وې وئیل.ته خپله وعده نه پوره کوې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل «أبشر» زیرې قبول کړه.مطلب دا وو.چه ته تسلی ساته، زه به ضرور خپله وعده پوره کوم.اعرابی اووئیل. ډیرکرته تا «أبشر أبشر» وئیلی دی.(یعنی مال دکوم چه وعده ده.هغه ورکوې نه.او زیرې ورکوې) نبی کریم ﷺ حضرت ابوموسی او حضرت بلال رضی الله عنهما طرف ته متوجه شو.لکه چه نبی ﷺ خفه شو.او وې وئیل.چه دې اعرابی «بشرى» رد کړه.تاسو دواړه دا قبول کړئ.هغه دواړو اووئیل. زمونږ قبول ده.بیا نبی ﷺ د اوبو یوه پیالئ راوغوښتله.خپل لاس او مخ مبارك ئې په هغې کښې اووینځل.اوپه هغې کښې ئې د خولې اوبه ورتوئې کړې.اوبس ئې اووئیل،دا اوبه اوڅکئ.اوپه خپلو مخونو او سینو باندې هم ددې نه واچوئ.او زیرې قبول کړئ.دې دواړو حضراتو هغه پیالئ واخستله.اود نبی ﷺ دحکم مطابق ئې عمل اوکړو.د پردې نه اخوا طرف ته حضرت ام سلمې رضی الله عنها آواز ورکړو.دخپلې مور دپاره په کښې هم څه

---

(١) البداية والنهاية (٤\٣٤٨) وفيض البارى (٤\١١٦)_

(٢) فتح البارى (٨\٤۶)_

پریږدئ.نو هغوی د ام سلمې ﷺ دپاره هم څه حصه پریخوده.
ددغه اعرابی د نوم په باره کښې حافظ لیکلی دی.چه «لم أقف علی إسمه»(۱) هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو.«ألا تنجزلی ما وعدتنی» ته ما سره خپله وعده نه پوره کوې.کیدې شی.چه رسول الله ﷺ خپله دا وعده په مخصوص اندازه کښې دغه اعرابی سره کړې وه.اودا هم ممکن ده.چه ددې نه عام وعده مراد وی. رسول الله ﷺ په جعرانه کښې د حنین د غنیمتونو جمع کولو حکم کړې وو.او فرمائیلی ئې وو.چه د طائف نه د فراغت نه پس به ددې تقسیم کیږی.(۲) چه کوم صورت هم وو.اعرابی په غوښتلو کښې د عجلت نه کار واخستلو.اود رسول الله ﷺ زیرئې ئې رد کړلو.نبی ﷺ هغه بشارت حضرت ابوموسی اشعری او حضرت بلال ته ورکړو.اوهغوی قبول کړو.
دلته دا سوال کیږی.چه بشارت خو ذ اجسامو او جواهرو څنی نه دې.چه یو بل ته ورکولې شی.انتقال من صاحب الی صاحب یا انتقال من مکان الی مکان دا د جواهرو او اجسامو خصوصیت دې.
خوحضرت انورشاه کشمیری رحمه الله جواب کړې دې.چه دا د فلاسفو نظریه ده.چه انتقال من مکان الی مکان صرف د جواهرو اواجسامو خاصیت دې.اود فلسفیانو دا نظریه غلطه ده.دا انتقال لکه څنګه چه په جواهرو او اجسامو کښې کیږی.دغه شان په اعراضو کښې هم کیږی.(۳) والله اعلم.

[۴۰۷۳]حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ يَعْلَى كَانَ يَقُولُ لَيْتَنِي أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ قَالَ فَبَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ قَدْ أُظِلَّ بِهِ مَعَهُ فِيهِ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ إِذْ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ فِي جُبَّةٍ بَعْدَمَا تَضَمَّخَ بِالطِّيبِ فَأَشَارَ عُمَرُ إِلَى يَعْلَى بِيَدِهِ أَنْ تَعَالَ فَجَاءَ يَعْلَى فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْمَرُّ الْوَجْهِ يَغِطُّ كَذَلِكَ سَاعَةً ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ أَيْنَ الَّذِي يَسْأَلُنِي عَنْ الْعُمْرَةِ آنِفًا فَالْتُمِسَ الرَّجُلُ فَأُتِيَ بِهِ فَقَالَ أَمَّا الطِّيبُ الَّذِي بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَأَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجِّكَ[ر:۱۴۶۳]

دحضرت یعلی بن امیه رضی الله عنه دا خواهش وو.چه رسول الله ﷺ په هغه وخت کښې اووینی.کله چه په دوی باندې وحی نازلیږی.دوی فرمائی چه رسول الله ﷺ په جعرانه کښې تشریف

---

۱) فتح الباری.(۸/۴۶)_
۲) فتح الباری (۸/۴۶)_
۳) فیض الباری (۴/۱۱۶)_

فرما وو.((وعليه ثوب قد أظل به ،معه فيه ناس من أصحابه)) يعنى په نبى ﷺ باندې په يوه كپړه سيورې كړې شوې وو.اوځه صحابه ﷺ هم د نبى ﷺ سره وو.په ،،فيه،، كښې ضمير ،،ثوب،، طرف ته راجع كيدې شى.يعنى يعنى د كپړې په دغه سيورى كښې څه صحابه ﷺ هم د نبى ﷺ سره وو.اودا ضمير محل طرف ته هم راجع كيدې شى.يعنى په دغه محل كښې نبى ﷺ سره څه صحابه وو.په دې كښې يو اعرابى (1)د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو.((وعليه جبة متضمخ بطيب)) په هغه باندې يوه جبه وه.چه په خوشبوئې كښې ليت پيت وه.هغه د نبى ﷺ نه تپوس اوكړو.يارسول الله د داسې كس په باره كښې ستاسو څه رائې ده.چه هغه خپله چغه په خوشبوى كښې ليت پيت كړې وى.او بيا ئې د عمرې دپاره احرام اوتړى ؟ د تپوس مطلب دا وو،چه په داسې چغه كښې احرام تړل صحيح دى كه نه؟ په رسول الله ﷺ باندې د دې تپوس په جواب كښې د وحى د نازليدو سلسله شروع شوه.اوچونكه دحضرت يعلى ﷺ دا خواهش وو.چه د نزول وحى په وخت كښې نبى ﷺ اووينى.نوځكه حضرت عمر ﷺ حضرت يعلى ﷺ دلاس په اشاره باندې راوغوښتلو .حضرت يعلى ﷺ راغلو.اوخپل سر ئې د نبى ﷺ د ليدو دپاره په دغه سپركښې وردننه كړو.څه ګورى چه د رسول الله ﷺ مخ مبارك سور كيږى.او په زوره زوره ئې د ساه آواز راځى.څه وخت چه كله دا كيفيت ختم شو.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.هغه كس كوم ځائې دې.چا چه زما نه دعمرې په باره كښې اوس زما نه تپوس كولو.لټون ئې اوكړې شو،اوهغه راوستې شو.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.كومه خوشبوئى چه تا لګولې ده.هغه درې ځله اووينځه،اودا چغه اوباسه.اوبيا په خپله عمره كښې هم هغه اعمال كوه.كوم چه په حج كښې كوې.

په روايت باب باندې يو اشكال اودهغې نه جوابونه: خوپه دې رواياتو باندې اشكال كيږى.چه د حضرت عائشې صديقې ﷺ په روايت كښې دى،چه په حجة الوداع كښې د احرام نه وړاندې دې نبى ﷺ ته خوشبوئې لګولې وه.اوپه روايت باب كښې دى.چه ته خوشبوې اووينځه.

① ددې اشكال يو جواب حافظ ابن حجر رحمه الله دا وركړې دې.چه دحضرت عائشې روايت د ١٠ھ دې.اودا واقعه د٨ھ دهغې نه وړاندې ده.ددې وجې دحضرت عائشې روايت ددې روايت باب دپاره ناسخ دې.اودا منسوخ دې.(2)

② اوبعضو دا جواب وركړې دې.چه هغه خوشبوچه د كومې عين او جوثه د احرام نه پس باقى پاتې كيږى.لكه زعفران.د هغې خو ممانعت دې.اوپه روايت باب كښې كوم ممانعت دې.دا هم د دغه شان خوشبو په باره كښې دې.خوكه د يوې خوشبوعين او جوثه باقى نه پاتې كيږى.صرف دهغې اثر پاتې كيږى.نو د احرام نه وړاندې د داسې خوشبو استعمال جائز

---

(1) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.ددې اعرابى نوم ماته معلوم نشو،بيا ئې فرمائيلى دى،چه ابن فتحون د ،،تفسير طرطوشى،، لاندې دده نوم عطاء بن منبه ليكلې دې.والله اعلم (فتح البارى (٣٩٤\٣) كتاب الحج باب غسل الخلوق ثلاث مرات)_

(2) فتح البارى (٣٩٥\٣) كتاب الحج باب غسل الخلوق ثلاث مرات)_

دي.اود احرام نه پس ددې وینځل ضروری نه دی.دحضرت عائشې رضي الله عنها په روایت کښې چه د نبی ﷺ د کومې خوشبو د احرام نه وړاندې د لګولو ذکر دې.نودهغې نه دا قسم خوشبو مراد ده.نوځکه په دواړو روایاتو کښې څه تعارض نشته.ځکه چه د دواړو محمل جداجدا دې.(١)

[٤٠٧٥] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ لَمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَسَمَ فِي النَّاسِ فِي الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَلَمْ يُعْطِ الْأَنْصَارَ شَيْئًا فَكَأَنَّهُمْ وَجَدُوا إِذْ لَمْ يُصِبْهُمْ مَا أَصَابَ النَّاسَ فَخَطَبَهُمْ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَلَمْ أَجِدْكُمْ ضُلَّالًا فَهَدَاكُمُ اللَّهُ بِي وَكُنْتُمْ مُتَفَرِّقِينَ فَأَلَّفَكُمُ اللَّهُ بِي وَعَالَةً فَأَغْنَاكُمُ اللَّهُ بِي كُلَّمَا قَالَ شَيْئًا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ قَالَ مَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تُجِيبُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلَّمَا قَالَ شَيْئًا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ قَالَ لَوْ شِئْتُمْ قُلْتُمْ جِئْتَنَا كَذَا وَكَذَا أَتَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاةِ وَالْبَعِيرِ وَتَذْهَبُونَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رِحَالِكُمْ لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَشِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ وَشِعْبَهَا الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي أُثْرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ [ر:٢٨١٨]

[٤٠٧٦/٤٠٧٩] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ نَاسٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حِينَ أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَفَاءَ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ فَطَفِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي رِجَالًا الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَتْرُكُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ قَالَ أَنَسٌ فَحُدِّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَقَالَتِهِمْ فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ وَلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ غَيْرَهُمْ فَلَمَّا اجْتَمَعُوا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ فَقَالَ فُقَهَاءُ الْأَنْصَارِ أَمَّا رُؤَسَاؤُنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا وَأَمَّا نَاسٌ مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَتْرُكُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثِي عَهْدٍ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَذْهَبُونَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رِحَالِكُمْ فَوَاللَّهِ لَمَا تَنْقَلِبُونَ بِهِ خَيْرٌ مِمَّا يَنْقَلِبُونَ بِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ رَضِينَا فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَجِدُونَ أُثْرَةً شَدِيدَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوُا اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي عَلَى الْحَوْضِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمْ يَصْبِرُوا

---

١) فتح الباری (٣\٣٩٥) کتاب الحج باب غسل الخلوق ثلاث مرات)_

[٤٠٧٧] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ فَغَضِبَتِ الْأَنْصَارُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا بَلَى قَالَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ أَوْ شِعْبَهُمْ

[٤٠٧٨] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ أَنْبَأَنَا هِشَامُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ الْتَقَى هَوَازِنُ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةُ آلَافٍ وَالطُّلَقَاءُ فَأَدْبَرُوا قَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ لَبَّيْكَ نَحْنُ بَيْنَ يَدَيْكَ فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَنَا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ فَانْهَزَمَ الْمُشْرِكُونَ فَأَعْطَى الطُّلَقَاءَ وَالْمُهَاجِرِينَ وَلَمْ يُعْطِ الْأَنْصَارَ شَيْئًا فَقَالُوا فَدَعَاهُمْ فَأَدْخَلَهُمْ فِي قُبَّةٍ فَقَالَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاةِ وَالْبَعِيرِ وَتَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ شِعْبًا لَاخْتَرْتُ شِعْبَ الْأَنْصَارِ

[٤٠٧٩] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ إِنَّ قُرَيْشًا حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَمُصِيبَةٍ وَإِنِّي أَرَدْتُ أَنْ أَجْبُرَهُمْ وَأَتَأَلَّفَهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَرْجِعَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَرْجِعُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بُيُوتِكُمْ قَالُوا بَلَى قَالَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ أَوْ شِعْبَ الْأَنْصَارِ

قوله: حدثنا موسى بن اسماعيل...... لما افاء الله على رسوله ﷺ يوم حنين قسم في الناس في المؤلفة قلوبهم ولم يعط الانصار شيئاً: رسول الله ﷺ چه كله د طائف نه راواپس شو.نو جعرانه ته ئې تشريف راوړه.حافظ رحمه الله ليكلى دى.چه دا د پنځم ذى قعدې تاريخ وو.(١) نبى عليه السلام دلته راغې.د حنين غنيمتو نه ئې تقسيم كړل.نبى ﷺ دا مالونه په مؤلفة القلوب كښې تقسيم كړل.او انصارو ته ئې هيڅ ورنكړل.ددې نه پس د حضرت انس رضى الله عنه روايت دې.په هغې كښې دى.چه نبى عليه السلام يويو سړى ته سل سل اوښان وركړل.

قوله: مؤلفة القلوب: دمؤلفة القلوب نه دلته هغه معزز قريش او د قبائلو سرداران مراد دى.چه هغوى اسلام خو راوړلې وو.خو اوس هم كمزورى ايمان والاوو.نبى عليه السلام هغوى ته لوئې لوئې حصې وركړې.چه اسلام سره دهغوى په محبت كښې اضافه اوشى.او ايمان دهغوى په زړونو كښې مضبوط شى.دغه شان په مؤلفة القلوب كښې بعضې هغه خلق هم

١) فتح البارى:٨/٤٨)_

داخل وو.چه هغوی تر اوسه پورې اسلام نه وو راوړلې.خو دهغوی په باره کښې ذا امید وو.چه که هغوی ته مال ورکړې شي.نواسلام به راوړي.(١) لکه چه صفوان بن امیه وو.هغه تردغه وخته پورې اسلام نه وو قبول کړې.هغه پخپله ډیر فیاض او سخی وو.رسول الله ﷺ چه کله هغه ته د مال غنیمت نه ډیره حصه ورکړله.نوهغه اووئیل.چه داسې سخاوت او فیاضی صرف نبی کولې شي.نوهغه ددې سخاوت نه متاثره شو.او اسلام ئې راوړه. (٢)
ابوالفضل بن طاهر په ،،المبهمات،،کښې (٣)ابن اسحاق پخپلن ،،سیرت،،کښې (٤)اوحافظ په،،فتح الباری،،کښې (٥) دهغه مؤلفة القلوب نومونه لیکلی دی.چه په هغوی کښې ابوسُفیان بن حرب، سهیل بن عمرو، حویطب بن عبدالعزی، حکیم بن حزام، ابوالسنابل بن بعکك، صفوان بن امیه، عیینه بن حصین، اقرع بن حابس او مالك بن عوف وغیره حضرات شامل وو.دهغوی ټول شمیر د څلویښتو نه زیات وو. (٦)
مؤلفة القلوب ته چه نبی علیه السلام کوم مال ورکړو.آیا دغه مال ئې دټول مال غنیمت نه ورکړې وو.اوکه د خمس نه ئې ورکړې وو.په دې کښې د عالمانو مختلفې رائې دی.علامه قرطبی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د شریعت د اصولو تقاضه داده.چه دغه مال نبی علیه السلام د خمس نه ورکړې وو.(٧) امام شافعی او امام مالك رحمهما الله فرمائی.چه د خمس الخمس نه نبی علیه السلام دغه مال ورکړې وو.(٨) او د حافظ ابن القیم رائې دا ده.چه نبی کریم ﷺ د پوره غنیمت نه دغه حصه ورکړې وه. (٩)او نبی کریم ﷺ ته د غنیمت په مالونوکښې دداسې قسمه تصرفاتو اختیار وو.په قرآن شریف کښې دی. ﴿قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ (١٠) انصارو ته نبی ﷺ هیڅ ورنکړل.چه ددې په وجه بعضو انصارو خفګان ښکاره کړو.لکه چه په روستو روایت کښې دی.

قوله: فكأنهم وجدوا اذا لم يصبهم ما اصاب الناس اوكأنهم وجدوا اذا لم يصبهم ما اصاب الناس: د بخاری په اکثرونسخو کښې دا جمله مکررنه ده.البته د ابوذر په نسخه کښې دا جمله ،،او،، حرف شك سره مکرر واقع شوې ده.(١١) ددې تکرار څه فائده ده؟

---

١) فتح الباری:٤٨/٨)_
٢) اوګورئ: الاصابة فی تمییزالصحابة:١٨٧/٢) رقم(٤٠٧٣)_
٣) فتح الباری(٤٨/٨)_
٤) سیرت ابن هشام(٣٠٤/٢)_
٥) فتح الباری(٤٨/٨)_
٦) فتح الباری(٤٨/٨)_
٧) فتح الباری(٤٨/٨)_
٨) زاد المعاد(٤٨٤/٣)_
٩) زادالمعاد(٤٨٤/٣)_
١٠) سورة الانفال١/)_
١١) فتح الباری(٤٩/٨)_

نو په دې سلسله کښې حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائیلی دی چه رومبۍ جمله ،،فکأنهم،، فا سره او دویمه جمله ،،کأنهم،، بغیر د فا نه ده.راوی ته په دې کښې شك دې چه ،،فا،، شته اوکه نه.په دې وجه هغه دا جمله مکرر اوونیله.او دغه فرق طرف ته ئې اشاره اوکړله.او بعضې راویان د داسې قسمه معمولی او باریك رعایتونو لحاظ هم ساتی.(۱)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه رومبۍ جمله کښې ،،وجدوا،، د ،،غضبوا،، په معنی کښې دې.او په دویمه جمله کښې ،،وجدوا،، د ،،حزنوا،، په معنی کښې دې.(۲) د وجد مصدر چه کله ،،مَوجِدَةً،، راشی.نو ددې معنی غضب راځی.اوکله ئې چه مصدر ،،وَجداً،،راشی.نو ددې معنی،حزن،، راځی.مطلب دادې.چه په دې تقسیم سره انصارو ته غصه راغلله.اوهغوی خفه شو.

د بعضې انصارو صحابو رضی الله عنهم د ژبې نه دا کلمات هم اووتل.لکه چه په راروان باب کښې دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې راغلی دی.«فقالوا: یغفرالله لرسوله یعطی قریشاً، ویترکنا، وسیوفنا تقطر من دمائهم» او د حضرت انس رضی الله عنه په دویم روایت کښې دی. «اذا کانت شدیدة، فنحن ندعی ویعطی الغنیمة غیرنا»

قوله: فخطبهم: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د انصارو د خفگان اطلاع چا اورسوله.او دهغوی د طرفه وئیلې شوې مذکوره جملې هم نبی علیه السلام ته اورسیدلې.نو نبی علیه السلام ټول انصار په یوه قبه کښې راجمع کړل.او دهغوی نه ئې تپوس اوکړو.چه «ماحدیث بلغنی عنکم؟»ستاسو د طرفه چه ماته کومه خبره رارسیدلې ده.دهغه څه حقیقت دې؟ نو فقهاء انصارو اووئیل.چه زمونږ مشرانو هیڅ نه دی وئیلی.البته کوم زلمی خوانان چه دی.هغوی دا جمله وئیلې ده.بیا نبی علیه السلام خطبه اووئیله.«یا معشرالانصار! الم اجدکم ضلالاً فهداکم الله بی، وکنتم متفرقین فالفکم الله بی، وعالة فاغناکم الله بی» رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کومه جمله هم فرمائیله.انصارو به وئیل.«الله ورسوله امن» د الله او دهغه د رسول احسان د ټولو نه زیات دې.بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل.«لو شئتم قلتم : جئتنا کذا وکذا»،،که تاسو غواړئ نو وئیلې شئ.چه نبی علیه السلام مونږ ته راغلې وو.په داسې داسې حالت کښې..په دې روایت کښې تصریح نشته.د ابوسعید په روایت کښې دی.«لوشئتم لقلتم اتیتنا مکذباً، فصدقناك و مخذولاً فنصرناك، وطریداً فآویناك، وعائلاً فواسیناك»(۳) یعنی که ته غواړې.نو دا وئیلې شې.چه (اې محمد صلی الله علیه وسلم) ته مونږ ته راغلې وې په داسې حالت کښې، چه

---

۱) اوګورئ: لامع الدراری(۸/۳۶۹- ۳۷۰)_
۲) شرح الکرمانی(۱۶/۱۵۹)_
۳) فتح الباری (۸/۵۱)_

ستا تكذيب شوې وو.مونږ ستا تصديق اوكړو.تاسو بې يار اومددگار وئ.مونږ ستاسو مدد اوكړو.تاسو پريخودلى شوى وئى.مونږتاسو ته پناه دركړله.تاسو فقيرراغلى وئى.مونږ تاسو سره همدردى اوكړله .په دې ونيلو سره نبى عليه السلام اوفرمائيل.چه ،،تاسو دا جواب راكوئ.او زه به وائم.چه تاسو رښتيا وايئ.خو اې انصارو! آيا ستاسو دا خوښه نه ده.چه خلق اوښان او چيلئ يوسى.او لاړشى.او تاسو محمد (صلى الله عليه وسلم) خان سره بوځئ.او خپل كور ته لاړشئ.

قوله: لولا الهجرة لكنت امرأ من الانصار: (١) كه هجرت شرعى مقدر نه وې.نو ما به انصارى كيدل خوښ كړې وې.ياكه د هجرت هغه فضيلت كوم چه اسلام بيان كړې دې.نه وې.نو ما به انصارى كيدو ته ترجيح وركړې وه.

قوله: لوسلك الناس وادياً وشعباً لسلكت وادي الانصار وشعبها: ،،كه خلق په يو كنډو او وادئ كښې روان شى.نو زه به د انصارو په وادئ او كنډو كښې ځم،،
په دې سره اشاره دې خبرې طرف ته ده.چه د انصارو مسلك د تفويض او سليم كيدې داطاعت او فرمانبردارئ دې.او زه هم دخپل ځان دپاره اطاعت او تفويض او تسليم غوره او خوښ گنړم.

قوله: الانصار شعار،والناس دثار: شعار هغه لباس ته وائى.كوم چه بدن سره يوځائې وى.لكه بنين وغيره،او ،،دثار،، هغه كپړې ته وائى.كوم چه پورته وى.لكه قميص او څادر وغيره.(٢)
رسول الله صلى الله عليه وسلم انصارو ته شعار اوونيل.ددې نه دا ښائى.چه د انصارو تعلق اسلام سره ډير زيات مضبوط دې.او د نبى عليه السلام سره دهغوى پيوست كيدل ډير مضبوط دى.
دابوسعيد رضى الله عنه په روايت كښې دى.چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم دا اوفرمائيل.نو انصارو په چغو اوژړل.او په ژړا ژړا ئې گيرې لمدې شوې وې.او ټولو اوونيل. «رضينا برسول الله قسماً وحظا» يعنى مونږ په دې تقسيم راضى يو.(٣)

قوله: انكم ستلقون بعدي أثرة فاصبروا حتى تلقوني على الحوض :زما نه پس به

---

(١) اى لولا ان النسبة الهجرية لايسعنى تركها لانتسبت الى داركم. وقال ابن الجوزى : لم يرد النبى صلى الله عليه وسلم تغير نسبه ولا محو هجرته و انما اراد انه لولا ماسبق من كونه هاجر لانتسب الى المدينة والى نصرة الدين. فالتقدير لولا ان النسبة الى الهجرة نسبة دينية لا يسع تركها لانتسب الى داركم. وقال القرطبى معناه لتسميتُ باسمكم وانتسبت اليكم كما كانوا ينتسبون بالحلف. لكن خصوصية الهجرة وترتيبها سبقت. فمنعت من ذالک. وهى أعلى واشرف فلا تتبدل بغيرها. وقيل معناه: لكنت من الانصار فى الاحكام والعداد. وقيل: التقدير: لولا ان ثواب الهجرة اعظم لاخترت ان يكون ثوابى . ثواب الانصار.... وقيل: لولا التزامى بشروط الهجرة ومنها ترک الاقامة بمكة فوق ثلاث. لاخترت ان اكون من الانصار فيباح لى ذالک.(وانظر فتح البارى (۵۲/۸)_
(٢) فتح البارى(۵۲/۸) وشرح الكرمانى(۱۶۰/۱۱۶)_
(٣) فتح البارى(۵۲/۸)_

تاسو ترجيح بيامومي.نو تاسو د صبر نه كار واخلئ.تردې چه تاسو زما سره په حوض كوثر باندې ملاؤ شئ.

مطلب دادې.چه زه به د خپلو رشته دارانو او دخپل خاندان او قبيلې خلقو ته ترجيح نه وركوم.چه ستاسو حق تلفى به اوكړم.خو زما نه پس به ځينې خلق د اسې وى.چه هغوى به ستاسو حلق تلفى كوى.او په تاسو به نورو خلقو ته ترجيح وركوى .خو تاسو هغه وخت د صبر نه كار واخلئ.تردې چه ستاسو ملاقات زما سره په حوض كوثر باندې اوشى.هلته به زه په تاسو باندې د ظلم كونكو نه ستاسو دپاره انصاف حاصلوم.

[٣٠٨٠] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَمَّا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِسْمَةَ حُنَيْنٍ قَالَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ مَا أَرَادَ بِهَا وَجْهَ اللَّهِ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى مُوسَى لَقَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ

[٣٠٨١] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ آثَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا أَعْطَى الْأَقْرَعَ مِائَةً مِنْ الْإِبِلِ وَأَعْطَى عُيَيْنَةَ مِثْلَ ذَلِكَ وَأَعْطَى نَاسًا فَقَالَ رَجُلٌ مَا أُرِيدَ بِهَذِهِ الْقِسْمَةِ وَجْهُ اللَّهِ فَقُلْتُ لَأُخْبِرَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللَّهُ مُوسَى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ [ر: ٢٩٨١]

قوله: قال رجل من الانصار: ما اراد بها وجه الله....: ددغه سړى نوم ..معتب بن قشير.. ليكلې شوې دې.(١) هغه اووئيل.رسول الله ﷺ په دې تقسيم سره د الله د رضامندئ اراده اونكړله.دغه سړې منافق وو.(٢) او د منافقينو په باره كښې چونكه اصول دادې.چه هغه نشى قتلولې.په دې وجه ددې كفر كلمې وئيلو باوجود هغه قتل نكړې شو. والله اعلم.

[٣٠٨٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمَ حُنَيْنٍ أَقْبَلَتْ هَوَازِنُ وَغَطَفَانُ وَغَيْرُهُمْ بِنَعَمِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةُ آلَافٍ وَمِنْ الطُّلَقَاءِ فَأَدْبَرُوا عَنْهُ حَتَّى بَقِيَ وَحْدَهُ فَنَادَى يَوْمَئِذٍ نِدَاءَيْنِ لَمْ يَخْلِطْ بَيْنَهُمَا الْتَفَتَ عَنْ يَمِينِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ ثُمَّ الْتَفَتَ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَةٍ بَيْضَاءَ فَنَزَلَ فَقَالَ أَنَا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ فَانْهَزَمَ الْمُشْرِكُونَ فَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ غَنَائِمَ كَثِيرَةً فَقَسَمَ فِي الْمُهَاجِرِينَ

---

١) عمدة القارى(٣١١\١٧) وفتح البارى (٥٦١٨)_

٢) عمدة القارى(٣١١\١٧) وفتح البارى(٥٦١٨)_

وَالطُّلَقَاءِ وَلَمْ يُعْطِ الْأَنْصَارَ شَيْئًا فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ إِذَا كَانَتْ شَدِيدَةٌ فَنَحْنُ نُدْعَى وَيُعْطَى الْغَنِيمَةَ غَيْرُنَا فَبَلَغَهُ ذَلِكَ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ فَسَكَتُوا فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَلَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ تَحُوزُونَهُ إِلَى بُيُوتِكُمْ قَالُوا بَلَى فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ شِعْبًا لَأَخَذْتُ شِعْبَ الْأَنْصَارِ وَقَالَ هِشَامٌ قُلْتُ يَا أَبَا حَمْزَةَ وَأَنْتَ شَاهِدٌ ذَاكَ قَالَ وَأَيْنَ أَغِيبُ عَنْهُ [ر: ۲۹۷۷]

قوله: ومع النبی ﷺ عشرة آلاف من الطلقاء: ددې نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ سره لس زره ،،طلقاء،، وو.طلقاء د طليق جمع ده.دلته ددې نه مراد هغه خلق دی.کوم چه رسول الله ﷺ د فتح مکې په موقع د احسان په طور پریخودي وو.نه ئې هغوی قتل کړی وو. او نه ئې غلام جوړ کړل.(۱) لکه صفوان بن امیه، حکیم بن حزام وغیره، په جنګ حنین کښې د داسې خلقو تعداد لس زره نه وو.دوه زره وو.لس زره نبی علیه السلام سره صحابه رضی الله عنهم وو.او دوه زره طلقاء وو. په دې وجه روایت کښې د،،عشرة آلاف من الطلقاء،، تعبیر صحیح نه دې. دکشمینی په روایت کښې ،،واو،،دې. ،،عشرة آلاف و من الطلقاء،، یعنی لس زره صحابه وو.او څه تعداد د طلقاؤ وو.او هم دا روایت صحیح دې.(۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی.چه دکومو حضراتو په نیز حرف عطف مقدر منل صحیح دی.دهغوی د قول مطابق که واو حرف عطف محذوف اومنلې شی.نوهیڅ باك نشته.(۳)
علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه د کشمینی روایت راجح دې.چه په هغې کښې واو حرف عطف دې.(۴)
حضرت ګنګوهی رحمه الله عجیبه توجیه بیان کړې ده.فرمائی.چه ،،مع النبی ﷺ عشرة آلاف،، دامستقل جدا جُملہ ده.وریسې چه کله راوی ،،من الطلقاء،، وئیلی وو. نو دوؤ ګوتو سره ئې اشاره کړې وه.او د طلقاء تعداد ئې بیان کړې وو.چه دهغوی تعداد دوه زره وو.راوی اشاره غائبه کړله.او د،،ومن الطلقاء،، الفاظ ئې نقل کړل. په دې وجه اختلاط او خبط (ګډ وډی) واقع شوه.(۵)
تنبیه:لکه څنګه چه اووئیلی شو.چه د شریعت په اصطلاح کښې طلقاء هغه خلقو ته وائی.په کومو چه رسول الله ﷺ احسان اوفرمائیلو.او د فدیې وغیره اخستلو نه بغیر ئې هغوی

---

۱) عمدة القاری (۱۷/۳۱۰)_
۲) عمدة القاری (۱۷/۳۱۰)_
۳) فتح الباری(۸/۵۵)_
۴) عمدة القاری (۱۷/۳۱۰)_
۵) اوګورئ: لامع الدراری(۸/۲۷۲)_

پريخودل. نه ئې قيد كړل.نه ئې قتل كړل.په دې مقام باندې د منجد مصنف لويس معلوف يسوعی د ډيرو زياتو دروغو او كذب ونيلو ثبوت وركړې دې.لكه چه هغوی د طلقاء په تشريح كولوكښې ليكلی دی.«الطلقاء الذين ادخلوا فی الاسلام كرهاً»(١) يعنی طلقاء هغه خلق دی.كوم چه په اسلام كښې زبردستئ سره داخل كړې شو.په منجد كښې داسې قسمه تحريفات يو يا دوه نه دی.د پنځوسو نه زيات ځايونه دی.عالمانو د منجد په غلطيانو باندې مستقل رسالې ليكلی دی.په دې وجه دا كتاب قابل د اعتماد نه دې.

بَابُ السَّرِيَّةِ الَّتِي قِبَلَ نَجْدٍ

[۴۰۸۳] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً قِبَلَ نَجْدٍ فَكُنْتُ فِيهَا فَبَلَغَتْ سِهَامُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا وَنُفِّلْنَا بَعِيرًا بَعِيرًا فَرَجَعْنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ بَعِيرًا [ر: ۲۹۶۵]

نبی كريم ﷺ نجد طرف ته د حضرت ابوقتاده په مشرئ كښې يوه سريه روانه كړې وه.د اهل مغازی رائې داده.چه د فتح مكې دپاره د تشريف اوړلو نه وړاندې دا سريه روانه كړې شوې وه.ابن سعد په طبقات كښې ليكلی دی.چه دا د شعبان ۸هـ واقعه ده.(٢) خو امام بخاری رحمه الله دا د فتح مكې نه پس ذكركړې ده.نو دا به ونيلې شی.چه امام بخاری رحمه الله په غزواتو كښې بعضې ځايونوكښې تقديم تاخير كړې دې.او يا به دا ونيلې شی.چه دامام (بخاری رحمه الله) خپل تحقيق به دا وی.چه دا واقعه د فتح مكې او طائف نه پس ده.په دې وجه هغوی دا دلته ذكركړله.

دا واقعه د نجد په علاقه ،،ارض محارب،،كښې پيښه شوې وه.په دې كښې ټول پنځلس سړی شريك وو.په مال غنيمت كښې دوه سوه اوښان حاصل شو.دوه زره چيلئ ملاؤ شوې.او ډير قيديان په لاس راغلل.او صرف پنځلسو ورځو كښې دننه دا حضرات ددې سريهٔ نه فارغ شو.او واپس راغلل.(٣)

د علامه ابن التين رحمه الله رائې داده.چه په دې سريه كښې ټول لس سړی تلی وو.اويونيم سل اوښان مال غنيمت كښې ملاوشوی وو.په هغې كښې ديرش اوښان رسول الله ﷺ اخستې وو.او باقی ئې په غنيمت والو (د سريهٔ په مجاهدينو) كښې تقسيم كړی وو.(٤)

---

١) اوګورئ منجد (١١٠٧٤)_

٢) طبقات ابن سعد(١٣٢\٢)_

٣) طبقات ابن سعد(١٣٢\٢- ١٣٣)_

٤) عمدة القاری (٣١٢\١٧) د ابن اثير د روايت مطابق دا سريه په دريو كسانو يا شپاړسو كسانو باندې مشتمله وه.اوګورئ الكامل لابن اثير(١٥٧\٢)_

بَاب بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ

[۴۰۸۳] حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وحَدَّثَنِي نُعَيْمٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا أَسْلَمْنَا فَجَعَلُوا يَقُولُونَ صَبَأْنَا صَبَأْنَا فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ مِنْهُمْ وَيَأْسِرُ وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ خَالِدٌ أَنْ يَقْتُلَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَقْتُلُ أَسِيرِي وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي أَسِيرَهُ حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ [۶۷۶۶]

نبی کریم ﷺ د غزوه حنین نه وړاندې په درې نیم سوو صحابو رضي الله عنهم باندې مشتمله یوه سریه د حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه په مشرئ کښې د دین اسلام د تبلیغ دپاره بنوجذیمه طرف ته روانه کړله.بنوجذیمه د مکې په نشیبي علاقه کښې مشرق طرف ته آباد وو.د علامه کرمانی رحمه الله رائې داده.چه بنوجذیمه د بنوعبدالقیس قبیلې یوشاخ دې.(۱) خو علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه دا صحیح نه ده.بلکه بنوجذیمه د عامر بن عبد مناة بن کنانه د اولاد څینې دی.(۲)

حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه بنوجذیمه ته د اسلام دعوت ورکړو.نو هغوی د اسلام اقرارپه صحیح طریقه اونکړو.او د،، أسلمنا،، (مونږ اسلام قبول کړو) په ځائې یې ،،صبأنا صبأنا،، (مونږ خپل دین پریخودو) اووئیلې.د قریشو کافرانو به د اسلام قبلونکی دپاره د ،،اسلم فلانن،، په ځائې ،،صبأ فلان،، استعمالولو.په دې وجه بنو حذیمه د اسلام اقرار په ،،صبأنا صبأنا،،وئیلو سره اوکړو.د،،صبأنا،، معنی د یو دین نه بل دین طرف ته وتل دی.په دې لفظ کښې چونکه د اسلام د اقرار مفهوم واضح نه دی.په دې وجه حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه په هغوی کښې بعضې قتل کړل.کله چه نبی کریم ﷺ ته ددې اطلاع ملاوشوه.نو نبی علیه السلام ډیر خفه شو.اووې فرمائیل.«اللهم انی ابرأ الیك مما صنع خالد» بیا نبی ﷺ حضرت علی رضي الله عنه ته مال ورکړو.او بنوجذیمه ته ئې وراولیګه.او دهغه ټولو مقتولینو دیت د مسلمانانو د طرفه اداکړې شو.(۳).

---

۱) شرح الکرمانی(۱۶۶\۱۶)_
۲) عمدة القاری (۳۱۳\۱۷) و فتح الباری (۵۷\۸)_
۳) تفصیل دپاره اوګورئ : فتح الباری (۸\۵۷- ۵۸)_

بَاب سَرِيَّةُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَعَلْقَمَةَ بْنِ مُجَزِّزٍ الْمُدْلِجِيِّ وَيُقَالُ إِنَّهَا سَرِيَّةُ الْأَنْصَارِيِّ

[۴۰۸۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَاسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ فَغَضِبَ فَقَالَ أَلَيْسَ أَمَرَكُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُطِيعُونِي قَالُوا بَلَى قَالَ فَاجْمَعُوا لِي حَطَبًا فَجَمَعُوا فَقَالَ أَوْقِدُوا نَارًا فَأَوْقَدُوهَا فَقَالَ ادْخُلُوهَا فَهَمُّوا وَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يُمْسِكُ بَعْضًا وَيَقُولُونَ فَرَرْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّارِ فَمَا زَالُوا حَتَّى خَمَدَتِ النَّارُ فَسَكَنَ غَضَبُهُ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ دَخَلُوهَا مَا خَرَجُوا مِنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ [۶۸۳۰،۶۷۲۶]

عبدالله بن حذافه سهمی قریشی دې.داقدیم الاسلام صحابی دې.او په مهاجرین اولین کښې داخل دې.صاحب الهجرتین دې.نبی کریم ﷺ دوی ته خط مبارك ورکړې وو.اوکسری طرف ته ئې لیګلې وو.(۱) د ابن لهیعه د قول مطابق دده وفات په مصرکښې اوشو.او هم هلته مدفون دې.(۲)

دویم صحابی علقمه بن مجزر (بضم المیم وفتح الجیم وبکسر الزاء المشددة) مدلجی دې.دا مجزر هغه سړې دې.دکوم چه د حضرت اسامه رضی الله عنه او حضر عائشې رضی الله عنها په قصه کښې ذکر راځی.

---

۱) عمدة القاری (۱۷\۳۱۴)_

۲) عمدة القاری (۱۷\۳۱۴) حافظ ابن حجر رحمه الله په ،،الاصابه،،کښې دحضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه په فضائلو کښې لیکلی دی.چه یوځل د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په دورخلافت کښې رومیانو سره دجنګ په وخت هغه د یوڅو مسلمانانو سره ګرفتار شو.د روم بادشاه هغه ته اوونیل.چه ته نصرانی جوړشه.نو زه به تا پخپل حکومت کښې شریك کړم.خو حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د نصرانیت قبلولو نه انکار اوکړو.چه ددې په وجه د روم بادشاه هغه لره د پهانسئ په تخته باندې اوتړه.اوحکم ئې ورکړو.چه په دده باندې غشی ورولی شی.خوکله ئې چه اوکتل.چه دده په مخ باندې هیڅ قسمه د ویرې آثار نشته.نو دهغه خانې نه ئې راکوز کړو.او حکم ئې اوکړو.چه په دیګ کښې اوبه ګرمې کړئ.او په ویشیدلو اوبوکښې ئې واچوئ.په اوبو کښې غورځولو دپاره چه کله هغه لره دیګ ته نزدې ور وستلې شو.نو په ژړا شو.د روم بادشاه تپوس اوکړو.چه ولې ژاړې؟ نووې فرمائیل.چه زه خکه ژاړم.چه زما آرزو ده.چه زما دپاره سل بدنونه وې.او د هر بدن دغه شان د قربانئ نذرانه مې پیش کړې وې.او خپل رب ته حاضر شوې ووم.د روم بادشاه ډیر حیران شو.وې وئیل.ته زما سر ښکل کړه.نو زه به تا پریږدم.وې فرمائیل.صرف ما نه زما ملګری به هم پریږدې.د روم بادشاه اوونیل.صحیح ده.نو حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه دهغه سر ښکل کړو.او د روم بادشاه د وعدې مطابق ټول مسلمانان قیدیان آزاد کړل.حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته چه کله ددې واقعې اطلاع ملاو شوه.نو راغې.او د حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه سر ئې ښکل کړو.(اوګورئ: الاصابة فی تمییز الصحابة(۲\۲۹۶-۲۹۷) رقم الترجمة (۴۶۲۲)_

چه نبی علیه السلام حضرت عائشې رضی الله عنها ته فرمائیلی وو.چه نن یو قائف (قیافه شناس) د زید بن حارثه او اسامه دواړو خپې اولیدلې.نووې وئیل چه ان بعض هذه الاقدام لمن بعض(۱)

① ددې سریه تفصیل دلته په بخاری کښې د حضرت علی رضی الله عنه نه داسې منقول دې.چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د انصارو یو سړی لره د سریه امیر جوړکړو.اووې لیګه.اوهغوی ته ئې حکم ورکړو. چه د امیراطاعت کوئ.امیرد سفر په دوران کښې څه خبره باندې خفه شو.نو هغه خپلو ملګرو ته اووئیل.چه آیا تاسو ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم زما د اطاعت حکم نه دې درکړې؟ ټولو اووئیل.ولې نه،امیر اووئیل.بیا تاسو لرګی راجمع کړئ. د حکم په تعمیل کښې ټولو لرګی راجمع کړل.امیر هغوی ټولو ته د اور بلولو حکم ورکړو.هغوی اور بل کړو.اوس امیرصاحب حکم ورکړو.چه تاسو ټول په دې اور کښې داخل شئ.بعضې خلقو په دې اور کښې د داخلیدو اراده اوکړه.خو بیا ئې یو بل منع کړل.اووې وئیل.چه مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته ددې دپاره راغلی یو.چه د اور نه بچ شو.په دې کښې حیران وو.چه اور یخ شو.او د امیر غصه هم یخه شوه. کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ددې خبرې اطلاع اوشوه.نو نبی علیه السلام اوفرمائیل. چه که دغه خلق دامیردحکم په تعمیل کښې اورته داخل شوې وې.نوترقیامته به نه وو راوتلی.ځکه چه د امیراطاعت صرف په نیکئ کښې کول پکاردی.«لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق»

② دابن سعد روایت لږ زیات تفصیلی دې.په هغې کښې دی.چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دا اطلاع ملاؤ شوه.چه ځینې حبشی خلق جدې ته نزدې یوه جزیره کښې لیدلی شوی دی.او خطره ده.چه چرته هغوی په اهل اسلام باندې حمله اونکړی.ددې اطلاع په وجه نبی علیه السلام د علقمه بن مجزز په مشرئ کښې د دریو سوو صحابو رضی الله عنهم یو جماعت روان کړو.کله چه دغه حضرات هغه جزیرې ته اورسیدل.نوحبشیان اوتختیدل.په واپسئ باندې ځینې خلقو په جلتئ سره کور ته تلل غوښتل.نو حضرت علقمه بن مجزز په هغوی باندې حضرت عبدالله بن حذافه سهمی امیر جوړ کړو.او دوی دهغوی نه جدا شو.او زر واپس راغلل.د ابن سعد د بیان مطابق دا د ربیع الآخر ۹ھ واقعه ده.(۲)

③ ابن ماجه رحمه الله په کتاب الجهاد کښې د حضرت ابوسعید رضی الله عنه روایت صحیح سند سره نقل کړې دې.چه دهغې نه ددې واقعې یو څو نوې خبرې مخې ته راځی. اود بخاری د روایت نه دهغې بیان ډیر مختلف دې.حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم علقمه بن مجزز د یوې سریه امیر جوړکړو.اووې لیګه.د سریه کاروائی مکمل کیدو نه پس بعضې خلقو د سریه د امیر حضرت علقمه رضی الله عنه نه په جلتئ سره کور ته د تلواجازت اوغوښته.هغوی اجازت ورکړو.اوحضرت عبدالله بن حذافه سهمی رضی الله عنه ئې دهغوی امیر مقرر کړو.حضرت ابوسعید رضی الله عنه فرمائی.چه زه هم عبدالله بن حذافه رضی الله عنه سره په واپس راتلونکو کښې شامل ووم. په لاره کښې یوځائې کښې ملګرو د ځان ګرمولو او خوراك وغیره پخولو دپاره اور بل

(۱) فتح الباری(۵۹/۸)_

(۲) طبقات ابن سعد (۱۶۳/۲) سریة علقمة بن مجزز المدلجی الی الحبشة)_

کړو.د سریه امیر حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه ډیر خوش طبیعته وو، هغوی په دغه موقعه اوونیل «الیس علیکم السمع والطاعة؟» د امیر خبره اوریدل او اطاعت کول په تاسو لازم نه دی؟ ټولو اوونیل ولې نه دی.نو هغه اوفرمائیل.زه چه دکوم کارهم تاسو ته حکم درکړم.نو تاسو به ئې اوکړئ؟ ټولو اوونیل.آو.وې فرمائیل.زه تاسو ته په دې اورکښې د داخلیدو حکم درکوم.ټول خلق چه کله دهغه دحکم په تعمیل کښې اور ته دداخلیدوډپاره اودریدل. اوعبدالله بن حذافه رضی الله عنه ته یقین اوشو.چه دا خلق داخلیږی.نووې فرمائیل.«امسکوا علی انفسکم، فانما کنت امزح معکم» صبر اوکړئ .ما ټوقې کولې.

حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی.چه کله مونږ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو. او ددې واقعې ذکر اوکړې شو.نو نبی علیه السلام اوفرمائیل.«من امرکم منهم بمعصیة الله، فلاتطیعوه» که د الله ﷻ د نافرمانۍ تاسو ته څوك درکړی.نو دهغه اطاعت مه کوئ.(۱)

د ابن ماجه دا روایت د بخاری د روایت نه مختلف دې.د بخاری د روایت نه معلومیږی.چه امیر اور ته د داخلیدو حکم دغصې په وجه ورکړې وو.او د ابن ماجه په روایت کښې دی.چه امیر دا حکم د خوش طبیعتۍ او ظرافت په طور ورکړې وو.د بخاری په روایت کښې دی.چه خلقو یو بل اورکښې د داخلیدو نه منع کړل.او د ابن ماجه په روایت کښې دی.چه امیر پخپله منع کړل.

که دا دواړه جدا جدا واقعات دی.نو بیا خو هیڅ اشکال نشته.د علامه ابن قیم میلان هم دې طرف ته دې.چه دا دوه جدا جدا واقعات دی.(۲) او هم دا صحیح معلومیږی.دلته په بخاری کښې چه د کومې سریه ذکردې.دهغې امیر علقمه بن مجزز وو.عبدالله بن حذافه رضی الله عنه نه وو. هغه د ملګرو نه خفه شوې وو.او په اور کښې د داخلیدو حکم ئې ورکړې وو.او ترکومې پورې چه د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د واقعې تعلق دې.کوم چه د ابن ماجه په روایت کښې دې.نو هغه جدا واقعه ده.او هغوی په اور کښې د داخلیدو حکم دټوقو په طور ورکړې وو.

امام بخاری رحمه الله باب ترلې دې.«باب سریة عبدالله بن حذافة السهمی وعلقمة بن مجزز المدلجی» او دهغې نه پس ئې فرمانیلی دی.«ویقال انها سریة الانصاری» د ،،ویقال،، نه غالباً امام (بخاری) د واقعې جداوالی طرف ته اشاره کړې ده.دحافظ میلان هم دې طرف ته دې.(۳)

زمونږ په نسخوکښې «ویقال: انها سریة الانصار» دې.خو د حافظ اوعینی په نسخوکښې «سریة الانصاری» دې.(۱) حالانکه عبدالله بن حذافه او علقمه بن مجزز دواړه انصاری نه دی.

---

۱) اوګورئ: سنن ابن ماجه کتاب الجهاد رقم(۲۸۶۳)_
۲) فتح الباری (۵۹۱۸) زاد المعاد (۵۱۶۱۳) فصل ذکر سریة علقمة بن مجزز.... الی الحبشة)_
۳) فتح الباری (۵۹۱۸)
۴) فتح الباری(۵۸۱۸) وعمدة القاری(۳۱٤۱۱۷)_

علامه ابن الجوزى رحمه الله فرمائيلى دى چه دا وهم دې.[1] اوبعضې حضراتو فرمائيلى دى چه انصارى په عامه معنى كښې استعمال شوې دې يعنى د رسول الله ﷺ مدد كونكې،او په دې لحاظ سره عبدالله بن حذافه او علقمه بن مجزز دواړو ته انصارى وئيلې شى.[2] والله اعلم.

قوله: لو دخلوها ما خرجوا منها الى يوم القيامة: كه د ،،دخلوها،، او ،،منها،، دواړو ضمير ،،نار،، طرف ته راجع وى.نو مطلب به دا وى.چه دا خلق كه په اوركښې داخل شوى وې.نودهغې نه به ترقيامته پورې نه وې راوتلې.بلكه په دې كښې به سوزيدلې وې.اومړه شوى به وې.[3] اوكه د ،،دخلوها،، ضمير ددغه خلقو بل كړې شوى اور طرف ته راجع شى.او د ،،دخلوها،، ضمير ،،نارجهنم،، طرف ته د صنعت استخدام په طور راجع شى.نو په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه كه دې خلقو د امير د حكم د تعميل په وجه اوركښې داخليدل حلال ګنړلې وې.اوپه هغې كښې داخل شوې وې.نو ترقيامته پورې به د جهنم په اوركښې اوسيدل.يعنى هغوى ته به په دوزخ كښې عذاب وركړې كيده. ځكه چه اور ته داخليدل ګناه ده.او ګناهګار دپاره عذاب برزخ دې.[4]

خو د حفص په روايت كښې دى.((ما خرجوا منها ابدا))[5] ددې نه معلوميږى. چه ددې نه د برزخ عذاب مراد نه دې.البته په دې صورت كښې هم څه اشكال نشته.ځكه چه د خودكشۍ حلال ګنړونكى دپاره هم دا حكم دې.ځكه چه حرام حلال ګنړل كفردې.اوكافر دپاره دجهنم اوردې.چه په هغې كښې به هميشه اوسيږى

خو واقعه داده.چه په دې كښې ړومبې صورت راجح دې.يعنى د ،،دخلوها،، او ،،منها،، دواړو ضميرونه دهغوى بل كړې شوى اور طرف ته راجع دى.او مطلب دادې.چه كه دغه خلق پخپل دغه بل كړې شوى اوركښې داخل شوې وې.نو ټول به هغې كښې مړه شوې وې.او څوك به هم دهغې نه راوتلې نه وې.[6]

---

[1]) فتح البارى(۵۹\۸)_

[2]) عمدة القارى(۷۹\۱۸)_

[3]) فتح البارى(۶۰\۸)_

[4]) فتح البارى(۶۰\۸) وعمدة القارى(۲۱۵\۱۷)_

[5]) فتح البارى(۶۰\۸)_

[6]) واستنبط منه الشيخ ابومحمد بن ابى جمرة ان الجمع منهذه الامة لايجتمعون على خطاء لانقسام السرية قسمين، منهم من هان عليه دخول النار فظنه طاعة، ومنهم من فهم حقيقة الامر، وانه مقصور على ماليس بمعصية. فكان اختلافهم سبباً لرحمة الجميع قال: وفيه ان من كان صادق النية لايقع الا فى خير، ولو قصد الشر، فان الله يصرفه عنه ولهذا قال بعض اهل المعرفة من صدق مع الله، وقاه الله ومن توكل على الله كفاه الله (و انظر فتح البارى (۶۰\۸)_

بَاب بَعْثُ أَبِي مُوسَى وَمُعَاذٍ إِلَى الْيَمَنِ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

رسول الله ﷺ د حجة الوداع نه وړاندې په ربيع الاول ۹هجرى حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن طرف ته د دين اسلام د تبليغ دپاره اوليګل.حضرت ابوموسى رضي الله عنه ته ئې د يمن مشرقى طرفونو او غاړوكښې او حضرت معاذ رضي الله عنه ته ئې مغربى طرفونو او غاړو كښې د تعليم وركولو حكم وركړو.(۱)

[۳۰۸۸/۳۰۸۶] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا مُوسَى وَمُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ وَبَعَثَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى مِخْلَافٍ قَالَ وَالْيَمَنُ مِخْلَافَانِ ثُمَّ قَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا فَانْطَلَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلَى عَمَلِهِ وَكَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِذَا سَارَ فِي أَرْضِهِ كَانَ قَرِيبًا مِنْ صَاحِبِهِ أَحْدَثَ بِهِ عَهْدًا فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَسَارَ مُعَاذٌ فِي أَرْضِهِ قَرِيبًا مِنْ صَاحِبِهِ أَبِي مُوسَى فَجَاءَ يَسِيرُ عَلَى بَغْلَتِهِ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِ وَإِذَا هُوَ جَالِسٌ وَقَدْ اجْتَمَعَ إِلَيْهِ النَّاسُ وَإِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ قَدْ جُمِعَتْ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ فَقَالَ لَهُ مُعَاذٌ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ أَيُّمَ هَذَا قَالَ هَذَا رَجُلٌ كَفَرَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ قَالَ لَا أَنْزِلُ حَتَّى يُقْتَلَ قَالَ إِنَّمَا جِيءَ بِهِ لِذَلِكَ فَانْزِلْ قَالَ مَا أَنْزِلُ حَتَّى يُقْتَلَ فَأَمَرَ بِهِ فَقُتِلَ ثُمَّ نَزَلَ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللَّهِ كَيْفَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَالَ أَتَفَوَّقُهُ تَفَوُّقًا قَالَ فَكَيْفَ تَقْرَأُ أَنْتَ يَا مُعَاذُ قَالَ أَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ فَأَقُومُ وَقَدْ قَضَيْتُ جُزْئِي مِنْ النَّوْمِ فَأَقْرَأُ مَا كَتَبَ اللَّهُ لِي فَأَحْتَسِبُ نَوْمَتِي كَمَا أَحْتَسِبُ قَوْمَتِي [ر: ۲۸۴۲]

قوله: **وبعث كل واحد منهما على مخلاف**: ((مخلاف)): علاقې او ضلعې ته وائى.يعنى دوى دواړه ئې جدا جدا علاقو ته اوليګل.په دواړوحضراتو كښې چه به هريو كله د خپلې علاقې دوره كوله.د خپل دويم ملګرى علاقې ته چه به ورنزدې شو.نو هلته به ئې يوبل سره ملاقات كولو.يو خلې حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه پخپله علاقه كښې خپل ملګرى ابوموسى رضي الله عنه ته نزدې اورسيدۀ.هلته ئې اوكتل.چه حضرت ابوموسى رضي الله عنه ناست دې.او څه خلق هغه سره راجمع دى.او د يو سړى لاسونه سټ سره تړلى شوى دى.حضرت معاذ رضي الله عنه تپوس اوكړو.دا څه قصه ده؟ حضرت ابوموسى رضي الله عنه اوفرمائيل.دا سړې مرتد شوې دې .حضرت معاذ رضي الله عنه اوفرمائيل.تركومې پورې چه دې قتل نكړې.زه به د خپلې سورلي نه كوز نه شم.نوهغه قتل كړې شو.

ددې نه پس حضرت معاذ رضي الله عنه د خپلې سورلۍ نه كوزشو.او د حضرت ابو موسى رضي الله عنه نه ئې پوښتنه اوكړه.چه ته قرآن څنګه لولې؟ حضرت ابوموسى رضي الله عنه جواب وركړو.،،**اتفوقه تفوقاً**،، دا د ،،**فواق ناقه**،، نه ماخوذ دې.د اوښې نه چه يوځل پئ اولوشلې شى.او دا محسوسه شى.

---

(۱) سيرت مصطفى(۳/۱۴۲)_

چه په تهيونو كښې اوس پۍ ختم شو.نو د لږ ساعت دپاره پريخودې شى.اود پيو انتظار كولې شى.بيا دوباره لوشل شروع كړې شى.د مينځ دغه وقفې ته ،،فواق ناقه،، وائى.د حضرت ابوموسي رضي الله عنه مطلب دادې.چه زه د شپې لږه شيبه د قرآن مجيد تلاوت كوم.دهغې نه پس لږ شان آرام كوم.بيا اودريږم.تلاوت شروع كوم.يعنى د شپې په وقفې وقفې سره تلاوت كوم.(١) بيا حضرت ابوموسى رضي الله عنه د حضرت معاذ رضي الله عنه نه تپوس اوكړو.چه تاسو څنګه تلاوت كوئ؟ هغه اووئيل.چه زه د شپې په شروع كښې آرام كوم.كله چه د خوب يوه حصه پوره كړم.نو پاسيږم.او د توفيق موافق تلاوت كوم.«فاحتسب نومتى كما احتسب قومتى» او زه د خپل خوب متعلق هم د الله تعالى نه دغه شان اميد لرم.لكه څنګه چه دخپلو د تهجدو د مونځ اميد لرم.مطلب دادې.چه زه چونكه آرام په دې نيت سره كوم.چه تازه او دمه شم.نو عبادت به اوكړم.په دې وجه زما اميد دې.چه الله ﷻ به په دې آرام او خوب هم ماته ثواب راكړى.

[٤٠٨٧] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ فَسَأَلَهُ عَنْ أَشْرِبَةٍ تُصْنَعُ بِهَا فَقَالَ وَمَا هِيَ قَالَ الْبِتْعُ وَالْمِزْرُ فَقُلْتُ لِأَبِي بُرْدَةَ مَا الْبِتْعُ قَالَ نَبِيذُ الْعَسَلِ وَالْمِزْرُ نَبِيذُ الشَّعِيرِ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ

رَوَاهُ جَرِيرٌ وَعَبْدُ الْوَاحِدِ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ

[٤٠٨٨] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَدَّهُ أَبَا مُوسَى وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا فَقَالَ أَبُو مُوسَى يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّ أَرْضَنَا بِهَا شَرَابٌ مِنَ الشَّعِيرِ الْمِزْرُ وَشَرَابٌ مِنَ الْعَسَلِ الْبِتْعُ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ فَانْطَلَقَا فَقَالَ مُعَاذٌ لِأَبِي مُوسَى كَيْفَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَالَ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَعَلَى رَاحِلَتِي وَأَتَفَوَّقُهُ تَفَوُّقًا قَالَ أَمَّا أَنَا فَأَنَامُ وَأَقُومُ فَأَحْتَسِبُ نَوْمَتِي كَمَا أَحْتَسِبُ قَوْمَتِي وَضَرَبَ فُسْطَاطًا فَجَعَلَا يَتَزَاوَرَانِ فَزَارَ مُعَاذٌ أَبَا مُوسَى فَإِذَا رَجُلٌ مُوثَقٌ فَقَالَ مَا هَذَا فَقَالَ أَبُو مُوسَى يَهُودِيٌّ أَسْلَمَ ثُمَّ ارْتَدَّ فَقَالَ مُعَاذٌ لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَهُ

تَابَعَهُ الْعَقَدِيُّ وَوَهْبٌ عَنْ شُعْبَةَ وَقَالَ وَكِيعٌ وَالنَّضْرُ وَأَبُو دَاوُدَ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَوَاهُ جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ [ر: ٢٨٧٣]

---

١) قال ابن الاثير فى النهاية(٤٨٠/٣) وحديث ابوموسى و معاذ(هما) ،،اما انا فاتفوقه تفوقاً،، يعنى قرأة القرآن: اى لا اقرأ وردى منه دفعة واحدة ولكن اقرأه شيئاً بعد شئ فى ليلى ونهارى ماخوذ من فواق الناقة، لانها تحلب ثم تراح حتى تدرثم تحلب)۔

[۴۰۸۹] حَدَّثَنِي عَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ هُوَ النَّرْسِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ أَيُّوبَ بْنِ عَائِذٍ حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ سَمِعْتُ طَارِقَ بْنَ شِهَابٍ يَقُولُ حَدَّثَنِي أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَرْضِ قَوْمِي فَجِئْتُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنِيخٌ بِالْأَبْطَحِ فَقَالَ أَحَجَجْتَ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ إِهْلَالًا كَإِهْلَالِكَ قَالَ فَهَلْ سُقْتَ مَعَكَ هَدْيًا قُلْتُ لَمْ أَسُقْ قَالَ فَطُفْ بِالْبَيْتِ وَاسْعَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حِلَّ فَفَعَلْتُ حَتَّى مَشَطَتْ لِي امْرَأَةٌ مِنْ نِسَاءِ بَنِي قَيْسٍ وَمَكُثْنَا بِذَلِكَ حَتَّى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ [ر: ۱۴۸۴]

[۴۰۹۰] حَدَّثَنِي حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ زَكَرِيَّاءَ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ طَوَّعَتْ طَاعَتْ وَأَطَاعَتْ لُغَةٌ طِعْتُ وَطُعْتُ وَأَطَعْتُ [ر: ۱۳۳۱]

قوله: حدثني حبان: رسول الله ﷺ د حضرت معاذ ؓ يمن ته د ليګلو په وخت يو څو نصيحتونه اوفرمائيل .هغه ته نبي ﷺ اوفرمائيل.چه اهل يمن ته اول د کلمهٔ توحيد دعوت ورکړه.که هغوی ئې قبوله کړي.نو بيا د مونځ دعوت ورکړه.که دا هم اومني.نو بيا د زکاة حکم ورکړه.خو ددې دا مطلب نه دې.چه د کلمې وئيلو نه پس به مونځ فرض کيږی.او د مونځ نه پس به بيا زکواة فرض کيږی.د کلمې وئيلو نه پس به د اسلام احکام ټول په ټوله لازميږی.دلته چه د کوم ترتيب ذکردې.ددې نه مقصد .د دعوت يوه طريقه خودل دی.چه ټول احکام په يو وخت او په ړومبی خل مه بيانوه.چه په دې سره هغه خلقو کښې ويره او نفرت پيدا نشي.بلکه په مزه مزه هغوی د اسلامی تعليماتو نه خبر کړه.

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ طَوَّعَتْ طَاعَتْ وَأَطَاعَتْ لُغَةٌ طِعْتُ وَطُعْتُ وَأَطَعْتُ: په پورته روايت کښې ، ،فإن اطاعوا لك، ، لفظ راغلې دې.ددې نه د امام بخاری رحمه الله ذهن د قرآن شريف د سورة مائده آيت ﴿ فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ ﴾ طرف ته لاړه.ددې په تشريح کولوکښې ئې اوفرمائيل.چه طوعت د ، ،طاعت، ، په معنی کښې دې.دغه شان د باب سمع، باب نصر، او د باب افعل ټولو نه ددې يوه معنی ده.

[٤٠٩١] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ أَنَّ مُعَاذًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَمَّا قَدِمَ الْيَمَنَ صَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَقَرَأَ وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لَقَدْ قَرَّتْ عَيْنُ أُمِّ إِبْرَاهِيمَ
زَادَ مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَرَأَ مُعَاذٌ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ سُورَةَ النِّسَاءِ فَلَمَّا قَالَ وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا قَالَ رَجُلٌ خَلْفَهُ قَرَّتْ عَيْنُ أُمِّ إِبْرَاهِيمَ

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه یمن ته راغې.نوهغوی د سحر مونځ ورکړو.په مالونو وصولولو باندې هم هغه مقرروو.د اسلام د احکامو تعلیم او د مونځ امامت هم هغه ورکولو.هغوی یوه ورځ د سحر په مانځه کښې دا آیت اولوسته. ﴿وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِیْمَ خَلِیْلًا﴾ (١) نوپه قوم کښې یوسړی اووئیل.«لقد قرت عین ام ابراهیم» یعنی ابراهیم علیه السلام لره الله تعالی خلیل جوړکړو.نو د ابراهیم علیه السلام دمور سترګې به یخې شوې وی.یعنی هغه به ډیره خوشحاله شوې وی.

په روایت باب باندې یو اشکال او دهغې جوابات: دلته اشکال کیږی.چه په مانځه کښې خو خبرو کولو سره مونځ فاسدیږی.کوم سړی چه دا خبرې اوکړلې.دهغه مونځ خو فاسد شو.حضرت معاذ رضی الله عنه هغه ته د مونځ دوباره راګرځولو حکم ولې ورنکړو؟

① ددې یو جواب علامه عینی رحمه الله ورکړې دې.چه ممکن ده.حضرت معاذ رضی الله عنه ته هم معلومه نه وه.چه په داسې صورت کښې دمونځ اعاده کولې شی.په دې وجه هغه حکم ورنکړو.(٢) خو دا جواب ضعیف دې.

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې.چه ممکن ده.دغه سړې اوس لا په مانځه کښې شامل شوې نه وو.بلکه د مانځه نه بهرهغه دا کلام کړې وی.(٣)

③ دریم جواب دا ورکړې شوې دې.چه ممکن ده.حضرت معاذ رضی الله عنه هغه ته د مونځ دوباره راګرځولو حکم ورکړې وی.خو دلته ئې په روایت کښې ذکر نه وی راغلې .او عدم ذکر، عدم د وجود ته مستلزم نه دې.(٤)

فائده:«قرت عین فلان» دفلانی سترګې یخې شوې.ددې نه مراد دادې.چه هغه خوشحاله شو.مشهوره ده.چه په خوشحالئ کښې کومې اوښکې اوځی.هغه یخې وی.او دغم اوښکې

١) سورة النساء\١٢٥)_
٢) عمدة القارى (١٨\٥)_
٣) فتح البارى (٨\٦٥)_
٤) فتح البارى (٨\٦٥) وعمدة القارى (١٨\٥)_

كرمې وي.په دې وجه دا تعبير دچا د خوشحالۍ خودلو دپاره اختيارولې شي.چه د خوشحالۍ په يخو اوښكو سره دهغه سترگې يخې شوې.(١)

=بَاب بَعْثُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ عَلَيْهِ السَّلَام وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى الْيَمَنِ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

رسول الله ﷺ د فتح مكې نه پس صحابه كرام ﷺ د تبليغ او جهاد دپاره د عربو مختلفو اطرافو ته ليگلی وو.نبی ﷺ حضرت خالد بن وليد ﷺ د يوې سريه اميرجوړ كړې وو.او يمن طرف ته ئې ليگلې وو.څه موده پس نبی ﷺ حضرت علی ﷺ يمن طرف ته اوليگه.او د حضرت خالد ﷺ په ځائې ئې هغه امير مقرركړو.ددې واقعې په باره كښې امام وړېسې روايات نقل كوي.

[٤٠٩٢] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ ثُمَّ بَعَثَ عَلِيًّا بَعْدَ ذَلِكَ مَكَانَهُ فَقَالَ مُرْ أَصْحَابَ خَالِدٍ مَنْ شَاءَ مِنْهُمْ أَنْ يُعَقِّبَ مَعَكَ فَلْيُعَقِّبْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُقْبِلْ فَكُنْتُ فِيمَنْ عَقَّبَ مَعَهُ قَالَ فَغَنِمْتُ أَوَاقٍ ذَوَاتِ عَدَدٍ

حضرت براء ﷺ فرمائی.چه رسول الله ﷺ مونږه خالد بن وليد ﷺ سره يمن طرف ته اوليگلو.بيانبی ﷺ دهغه په ځائې حضرت علی ﷺ اوليگه.اوهغه ته ئې اوفرمائيل .چه د حضرت خالد بن وليد ﷺ ملگرو ته اووايه.چه څوك تاسو سره يمن ته واپس تلل غواړی.هغه دې يمن ته لاړشی.او څوك چه غواړی.چه مدينې ته راشی .نو مدينې ته دې راشی.حضرت براء ﷺ فرمائی.زه حضرت علی ﷺ سره واپس يمن ته تلونكو خلقو كښې ووم.

قوله: فَغَنِمْتُ أَوَاقٍ ذَوَاتِ عَدَدٍ: اواق د .اوقية، ،جمع ده.يعنی د مال غنيمت نه ماته د سپينو زرو ډيرې اوقيې ملاو شوې.((ذوات عدد)) نه ډيروالی طرف ته اشاره ده.او دا هم ممكن ده.چه كموالی طرف ته اشاره وی.

[٤٠٩٣] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سُوَيْدِ بْنِ مَنْجُوفٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا إِلَى خَالِدٍ لِيَقْبِضَ الْخُمُسَ وَكُنْتُ أُبْغِضُ عَلِيًّا وَقَدْ اغْتَسَلَ فَقُلْتُ لِخَالِدٍ أَلَا تَرَى إِلَى هَذَا فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ يَا بُرَيْدَةُ أَتُبْغِضُ عَلِيًّا فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَا تُبْغِضْهُ فَإِنَّ لَهُ فِي الْخُمُسِ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ

حضرت بريده بن حصيب ﷺ فرمائی.چه رسول الله ﷺ حضرت علی ﷺ يمن طرف ته

---

١) اوگورئ: مجمع بحارالانوار: (٢٤٦/٤) وعمدة القاری(١١٨/٥)_

حضرت خالد رضی الله عنه ته لیګلي وو.چه هغه خمس پخپله قبضه کښې واخلی .بریده وائی.چه زما علی رضی الله عنه سره بُغض وو.دلته وړیسې روایت مختصر دې .اسماعیلی دا روایت تفصیل سره نقل کړې دې.(۱)چه دخمس د مال نه یوه بنائسته وینځه حضرت علی رضی الله عنه دخپل ځان دپاره منتخب کړله.او د شپې ئې هغې سره د وطی کولو نه پس چه کله د سحر غُسل اوکړو.نو حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه بریده ته اووئیل.چه«الاترى ماصنع هذا؟»اودلته د بخاری رحمه الله په روایت کښې بریده رضی الله عنه فرمائی .چه ما خالد ته اووئیل.«الا ترى الى هذا؟»(دې کس ته نه ګوری.چه د غنیمت د مال وینځه ئې استعمال کړله) فرمائی.چه کله مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو.نو ما نبی علیه السلام ته ددې واقعې ذکراوکړو.نبی علیه السلام اوفرمائیل.«یا بُریدة اتُبغض علیاً؟» (اې بریده! ته علی سره بغض ساتې؟) ما اووئیل.آو، نو نبی علیه السلام اوفرمائیل.«لاتبغضه، فان له فی الخمس اکثر من ذالك» (هغه سره بغض مه ساته.ځکه چه په خمس کښې هغه ته ددې (وینځې) نه د زیات اخستلو حق وو) د عبدالجلیل په روایت کښې دی.چه حضرت بریده رضی الله عنه اووئیل.«فما کان احد من النّاس احبّ الیّ من علی»(۲) ، ،ددې نه پس دحضرت علی رضی الله عنه نه ماته هیڅ څوك زیات محبوب نه وو، ،

په روایت د باب باندې اشکال او دهغې جوابونه: په دې روایت باندې یو اشکال دا کیږی.چه حضرت علی رضی الله عنه بغیر د استبراء نه دې وینځې سره وطی ولې اوکړله؟ حالانکه استبراء ضروری ده.

① ددې یو جواب دا ورکړې شوې دې.چه دغه وینځه باکره وه.واده شوې یا د بل چا وطی کړې شوې نه وه.په دې وجه د استبراء ضرورت نه وو.(۳)

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې.چه ممکن ده.حضرت علی رضی الله عنه د استبراء نه پس وطی کړې وی.په روایت کښې هیڅ یوه خبره داسې نشته.چه دهغې نه معلومه شی. چه حضرت علی رضی الله عنه بغیر د استبراء نه هغې سره وطی کړې وی.(٤)

باقی پاتې شوه دا خبره چه حضرت علی رضی الله عنه دخان دپاره دا وینځه ولې منتخب کړله؟ ددې جواب دادې.چه په خمس کښې امام یا نائب امام ته حق وی.او دلته حضرت علی رضی الله عنه د نبی علیه السلام نائب جوړشوې وو.او خمس اخستلو پاره تلې وو.په دې وجه هغه ته داحق حاصل وو.ځکه خو نبی علیه السلام اوفرمائیل.«فان له فی الخمس اکثر من ذالك».

---

(۱) فتح الباری (۸/۶۶)_

(۲) فتح الباری (۸/۶۷)_

(۳) فتح الباری (۸/۶۷)_

(٤) فتح الباری(۸/۶۷)_

[٤٠٩٤] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ شُبْرُمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي نُعْمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ بَعَثَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْيَمَنِ بِذُهَيْبَةٍ فِي أَدِيمٍ مَقْرُوظٍ لَمْ تُحَصَّلْ مِنْ تُرَابِهَا قَالَ فَقَسَمَهَا بَيْنَ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ بَيْنَ عُيَيْنَةَ بْنِ بَدْرٍ وَأَقْرَعَ بْنِ حَابِسٍ وَزَيْدِ الْخَيْلِ وَالرَّابِعُ إِمَّا عَلْقَمَةُ وَإِمَّا عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ كُنَّا نَحْنُ أَحَقَّ بِهَذَا مِنْ هَؤُلَاءِ قَالَ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا تَأْمَنُونِي وَأَنَا أَمِينُ مَنْ فِي السَّمَاءِ يَأْتِينِي خَبَرُ السَّمَاءِ صَبَاحًا وَمَسَاءً قَالَ فَقَامَ رَجُلٌ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ نَاشِزُ الْجَبْهَةِ كَثُّ اللِّحْيَةِ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ مُشَمَّرُ الْإِزَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اتَّقِ اللَّهَ قَالَ وَيْلَكَ أَوَلَسْتُ أَحَقَّ أَهْلِ الْأَرْضِ أَنْ يَتَّقِيَ اللَّهَ قَالَ ثُمَّ وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا أَضْرِبُ عُنُقَهُ قَالَ لَا لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ يُصَلِّي فَقَالَ خَالِدٌ وَكَمْ مِنْ مُصَلٍّ يَقُولُ بِلِسَانِهِ مَا لَيْسَ فِي قَلْبِهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أُومَرْ أَنْ أَنْقُبَ عَنْ قُلُوبِ النَّاسِ وَلَا أَشُقَّ بُطُونَهُمْ قَالَ ثُمَّ نَظَرَ إِلَيْهِ وَهُوَ مُقَفٍّ فَقَالَ إِنَّهُ يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمٌ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ رَطْبًا لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ وَأَظُنُّهُ قَالَ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ ثَمُودَ [٤٣٩٠، ٦٩٩٥، ٧١٢٣، وانظر: ٣١٦٦]

حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی «بعث علی بن ابی طالب الی رسول الله ﷺ بذهیبة فی ادیم مقروظ لم تحصل من ترابها»([1]) یعنی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حضرت علی رضی الله عنه لږ سره زر اولیګل.په داسې څرمنه کښې چه هغې ته رنګ ورکړې شوې وو. او دغه سره زر دهغې د خاورو نه نۀ وه جدا کړې شوې.مطلب دادې.چه دکان نه د راوتنکلو نه پس دغه سره زر د خاورو نه نۀ وه صفا کړې شوې.

نبی کریم ﷺ دغه سره زر په څلورو سړو کښې تقسیم کړله.عیینه بن بدر، اقرع بن حابس، زیدالخیل([2])او علقمه یا عامر بن الطفیل، په علقمه او عامرکښې د راوی شك دې.خو علقمه صحیح دې.ځکه چه د عامر بن الطفیل وفات دهغه نه وړاندې شوې وو.چه ددې تفصیل وړاندې تیرشوې دې.([3])

د نبی کریم ﷺ په صحابو رضی الله عنهم کښې یو سړی اوویل.چه ددې خلقو په مقابله کښې مونږ

---

[1]) ذهیبة: تصغیر ذهبة..... مقروظ: ای مدبوغ بالقرظ، والقرظ شجر یدبغ بورقه ولونه الی الصفرة (عمدة القاری(۸/۱۱۸)_

[2]) وقیل له زید الخیل لکرائم الخیل التی کانت له، وسماه النبی ﷺ زید الخیر بالراء بدل اللام واثنی علیه فاسلم، فحسن اسلامه ومات فی حیاة النبی ﷺ (فتح الباری(۸/۶۸)_

[3]) اوګورئ: غزوهٔ بیر معینه(ص۲۶۶-۲۶۷)_

زيات حقدار يو.رسول الله ﷺ ته چه كله دا خبر ملاوشو.نووې فرمائيل.چه تاسو په ما باندې اعتماد نه كوئ.((وانا امين من فى السماء)) حالانكه زه دهغه ذات امين يم.چه دهغه وحى سحراو مانبام ماته راځي.نو يو سړې اودريده.چه دهغه سترګې دننه طرف ته ورننوتې وې.اننګى ئې بهر ته راوتلى وو.تندې ئې مخې ته راوتلې وو.ګيره ئې ګنړه وه.سر ئې خرئيلې وو.لنګ ئې (پنډو) طرف ته اوچت كړې وو.اورسول الله ﷺ ته ئې اووئيل.((يارسول الله اتق الله))رسول الله ﷺ اوفرمائيل. ،،ويلك!،، ستا دپاره دې هلاكت وى.آيا د زمكې په اوسيدونكوكښې دټولو نه زيات زه د الله نه يريدونكې نه يم؟ بيا هغه سړې لاړه.حضرت خالد بن وليد ﷛ د رسول الله ﷺ نه دهغه د سټ كټ كولو اجازت اوغوښته.نبى ﷺ اوفرمائيل.نه كيدې شى.چه هغه مونځ كوى.حضرت خالد ﷛ اوفرمائيل.((وكم من مصل يقول بلسانه ماليس فى قلبه)) ،،ځومره مونځ كونكى داسې دى.چه هغوى په ژبه هغه څه وائى.كوم څه چه دهغوى په زړه كښې نه وى،، يعنى ډيرخلق په ظاهركښې مونځ كوى.خو دننه هغوى مسلمانان نه وى.په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل.((انى لم اومران انقب قلوب الناس ولا اشق بطونهم)) يعنى ،،ماته ددې حكم نه دې.چه زه دخلقو په زړونوكښې سورى اوكړم،او معلومات اوكړم.اودهغې تحقيق اوكړم.اونه ددې حكم دې.چه زه دهغوى خيټې اوسيرم.،(چه معلومه كړم.چه په رښتيا هغوى دننه نه مسلمانان دى اوكه نه) راوى وائى.چه بيا رسول الله ﷺ هغه سړى طرف ته اوكتل.چه هغه شاكړې وه.او روان وو.نبى ﷺ اوفرمائيل.

قوله: إِنَّهُ يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمٌ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ رَطْبًا لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ: ،،ددې سړى د نسل نه به يو قوم اوځى.چه هغوى به د قرآن تلاوت ډير تازګئ سره كوى.خو دا قرآن به دهغوى د ججورې (د مرئ هډوكى) نه وړاندې نه ځى.دغه خلق به د دين نه داسې وځى.لكه څنګه چه غشې د ښكار نه اوځى.،

ضئضئ : نسل ،حناجر: د حَنجَرة جمع ده.هغه هډوكې كوم چه د سينې نه پورته او د حلق نه لاندې وى.يمرقون : يخرجون، الرمية : ښكار.

مطلب دادې.چه دغه خلق به د قرآن تلاوت ډير په خوش آوازئ سره كوى.خو قرآن به دهغوى د حلق نه لاندې نه كوزيږى.يعنى د قرآن اثر به دهغوى په زړه باندې نه كيږى. د دين نه به هغوى دهغه غشى په شان اوځى.كوم چه د ښكار نه اوځى.خو په هغې به د وينې هيڅ داغ او نخښه نه وى.دغه شان به دهغوى په زړونو باندې د دين هيڅ اثر نه وى.

قوله: وَأَظُنُّهُ قَالَ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ ثَمُودَ: راوى وائى.چه زما خيال دې.نبى ﷺ دا هم اوفرمائيل.چه كه زه هغوى بيا موسم.نو زه به هغوى د قوم ثمود پشان قتلوم.دا خوارجو طرف ته اشاره وه.دهغه سړى نوم څه وو؟ په دې باره كښې بعضې حضراتو

بې علمي ښکاره کړې ده.بعضو وئیلی دی.چه دهغه نوم ،،ذوالخويصرة تميمي،،(۱) وو.علامه سهيلي رحمه الله فرمائیلی دی. چه دهغه نوم ،،نافع،، وو.(۲) د ابوداؤد په روایت کښې هم دهغه نوم ،،نافع،، راغلې دې.(۳) او بعضو وئیلی دی.چه دهغه نوم ،،حرقوص بن زهیر،، دې.(۴)
دغه سړې په حقیقت کښې د قتلولو مستحق وو.خو رسول الله ﷺ د مصلحت په طور هغه ته هیڅ اُونه وئیل.مصلحت دا وو.چه که قتل کړې ئې وو.نو په دې سره عامو خلقو کښې د اسلام باره کښې د بدګمانۍ پیدا کیدلو امکان وو.د اسلام مخالفینو به دا خبره خوره کړې وه.چه محمد ﷺ خپل اصحاب قتلوی.او په دې طریقه به د اسلام په لاره کښې رکاوټ پیدا شوې وې.(۵)

دلته دا اشکال کیږی.چه رسول الله ﷺ فرمائی.((لئن ادرکتهم لاقتلنهم قتل ثمود)) دلته دغه سړې چه اصل بنیاد دې.د نبی علیه السلام په وړاندې موجود دې.چه هم دهغه د نسل نه به روستو داسې قسمه خلق پیدا کیږی.نو هم دا اصل (بنیاد) نبی علیه السلام ولې قتل نکړو؟
① حافظ ابن حجر رحمه الله ددې اشکال جواب ورکولو کښې فرمائیلی دی.چه دا جمله نبی علیه السلام دهغه وخت او دهغه زمانې متعلق ارشاد فرمائیلې ده.کله چه ددوی د طرفه خروج او بغاوت ښکاره شی.اوکله چه به هغوی د مسلمان وینې تویوی .حالانکه اوس ددغه سړی نه داسې هیڅ خبره نه ده ښکاره شوې.نه هغه د بغاوت اعلان کړې دې.اونه د یو مسلمان وینې تویولو ته وړاندې شوې دې.په دې وجه نبی کریم ﷺ دهغه د قتلولو اجازت ورنکړو.(۶)
② حضرت کشمیری رحمه الله اوفرمائیل.چه نبی کریم ﷺ په حقیقت کښې تشریع او تکوین دواړه جمع کړل.(۷)تشریع خو دادې.چه نبی علیه السلام دهغه په قول باندې نکیر اوفرمائیلو .او چونکه تکوینی طور باندې دهغه قتل دحضرت علی رضی الله عنه په حصه کښې وو.په دې وجه ئې د تکوین په رعایت سره دغه وخت هغه قتل نکړو.روستو چه کله د حضرت علی رضی الله عنه په دورکښې د خوارجو فتنه راوچته شوه.او حضرت علی رضی الله عنه هغوی قتل کړل.نو دهغه سړی لټون اوکړې شو.نو په لاشونو کښې دهغه لاش ملاؤ شو.(۸)

[۴۰۵۰] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا أَنْ يُقِيمَ عَلَى إِحْرَامِهِ زَادَ مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ عَطَاءٌ

---

۱) فتح الباري (۶۹\۸) وعمدة القاري (۱۱۸\۸)_
۲) فتح الباري ۶۹\۸) وعمدة القاري(۱۱۸\۸)_
۳) سنن ابی داؤد(۲۴۵\۱۴) کتاب السنة باب فی قتال الخوارج رقم الحدیث (۴۷۷۰)_
۴) فتح الباري (۶۹\۸) وعمدة القاري (۱۱۸\۸)_
۵) لامع الدراري (۳۷۷\۸)_
۶) فتح الباري (۶۹\۸)_
۷) فیض الباري (۱۱۹\۱۴)_
۸) اوګورئ:صحیح بخاری کتاب المناقب باب علامات النبوة رقم الحدیث (۳۶۱۰) فتح الباري (۶۱۸\۶)_

قَالَ جَابِرٌ قَدِمَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِسِعَايَتِهِ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ أَهْلَلْتَ يَا عَلِيُّ قَالَ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا كَمَا أَنْتَ قَالَ وَأَهْدَى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا [ر: ١٤٨٢]

[٤٠٩٦] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ حَدَّثَنَا بَكْرٌ أَنَّهُ ذَكَرَ لِابْنِ عُمَرَ أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ فَقَالَ أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ وَأَهْلَلْنَا بِهِ مَعَهُ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَ مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً وَكَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدْيٌ فَقَدِمَ عَلَيْنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ مِنَ الْيَمَنِ حَاجًّا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ أَهْلَلْتَ فَإِنَّ مَعَنَا أَهْلَكَ قَالَ أَهْلَلْتُ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَمْسِكْ فَإِنَّ مَعَنَا هَدْيًا [ر: ١٤٨٣]

بَاب غَزْوَةِ ذِي الْخَلَصَةِ

[٤٠٩٧\٤٠٩٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا بَيَانٌ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ كَانَ بَيْتٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يُقَالُ لَهُ ذُو الْخَلَصَةِ وَالْكَعْبَةُ الْيَمَانِيَةُ وَالْكَعْبَةُ الشَّأْمِيَّةُ فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَنَفَرْتُ فِي مِائَةٍ وَخَمْسِينَ رَاكِبًا فَكَسَرْنَاهُ وَقَتَلْنَا مَنْ وَجَدْنَا عِنْدَهُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَدَعَا لَنَا وَلِأَحْمَسَ

[٤٠٩٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا قَيْسٌ قَالَ قَالَ لِي جَرِيرٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ وَكَانَ بَيْتًا فِي خَثْعَمَ يُسَمَّى الْكَعْبَةَ الْيَمَانِيَةَ فَانْطَلَقْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةِ فَارِسٍ مِنْ أَحْمَسَ وَكَانُوا أَصْحَابَ خَيْلٍ وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَضَرَبَ فِي صَدْرِي حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ أَصَابِعِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا فَانْطَلَقَ إِلَيْهَا فَكَسَرَهَا وَحَرَّقَهَا ثُمَّ بَعَثَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ جَرِيرٍ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا جِئْتُكَ حَتَّى تَرَكْتُهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ قَالَ فَبَارَكَ فِي خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ

[٤٠٩٩] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَقُلْتُ بَلَى فَانْطَلَقْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةِ فَارِسٍ مِنْ أَحْمَسَ وَكَانُوا أَصْحَابَ خَيْلٍ وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلَى صَدْرِي حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ يَدِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا قَالَ فَمَا وَقَعْتُ عَنْ فَرَسٍ بَعْدُ قَالَ وَكَانَ ذُو الْخَلَصَةِ بَيْتًا بِالْيَمَنِ لِخَثْعَمَ وَبَجِيلَةَ فِيهِ نُصُبٌ تُعْبَدُ يُقَالُ لَهُ الْكَعْبَةُ قَالَ فَأَتَاهَا فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ وَكَسَرَهَا

قَالَ وَلَمَّا قَدِمَ جَرِيرٌ الْيَمَنَ كَانَ بِهَا رَجُلٌ يَسْتَقْسِمُ بِالْأَزْلَامِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَا هُنَا فَإِنْ قَدَرَ عَلَيْكَ ضَرَبَ عُنُقَكَ قَالَ فَبَيْنَمَا هُوَ يَضْرِبُ بِهَا إِذْ وَقَفَ عَلَيْهِ جَرِيرٌ فَقَالَ لَتَكْسِرَنَّهَا وَلَتَشْهَدَنَّ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ أَوْ لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَكَ قَالَ فَكَسَرَهَا وَشَهِدَ ثُمَّ بَعَثَ جَرِيرٌ رَجُلًا مِنْ أَحْمَسَ يُكْنَى أَبَا أَرْطَاةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَشِّرُهُ بِذَلِكَ فَلَمَّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا جِئْتُ حَتَّى تَرَكْتُهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ قَالَ فَبَرَّكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ [ر:٢٨٥٧]

ذوالخلصه دهغه كوراوكوټي نوم ووچه په هغې كښې دننه بوت ايخودې شوې وو.بعضې خلقو وئيلى دى.چه ذوالخلصه د بت نوم وو.او خلصه دهغه كور نوم وو.په كوم كښې چه ذوالخلصه نومې بت ايخودې شوې وو.([1])

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې درې روايات ذكركړى دى.رومبې روايت مختصر دې.دويم روايت دهغې نه لږ تفصيلى دې.او دريم دټولو نه زيات تفصيلى دې.

د يمن په علاقه كښې كوم ځائې چه خثعم قبيله آباده وه.يو بُت په ذوالخلصه نومې كوركښې ايخودې شوې وو.خلق به راتلل.دهغې عبادت به ئې كولو.په هغې به ئې ګلونه اچول.او دهغې د تقرب دپاره به ئې هلته ځاروى ذبح كول.رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت جرير بن عبدالله بجلى رضى الله عنه ته اوفرمائيل.چه تاسو به د ذوالخلصه نه ماته راحت اونه رسوئ؟ (چه هغه ورانه كړئ.او ما دهغې د تكليف نه محفوظ كړې) حضرت جرير رضى الله عنه چونكه دهغه علاقې د اشرافو (اوچتو) خلقو ځينې وو.په دې وجه نبى عليه السلام هغه ته دا حكم وركړو.نو هغه د ځان سره د احمس قبيلې يونيم سل شهسواران واخستل.او ددغه بت ځائې ورانولو دپاره روان شو.حضرت جرير بن عبدالله رضى الله عنه پخپله اس باندې په ښه شان نه شو سوريدلې.نو نبى عليه السلام ته ئې ددې شكايت اوكړو.نبى عليه السلام خپل لاس دهغه په سينه باندې اووهلو.او ورسره ئې دا دعا هم اوكړه.«اللّهمّ ثبته واجعله هادياً مهدياً» اې الله! دې ثابت قدم اوساتې.او نورو خلقو لره هدايت وركونكې او پخپله هدايت باندې اوسيدونكې ئې جوړكړې،، دحضرت جرير رضى الله عنه بيان دې.چه ددې نه پس زه كله هم د اس نه نۀ يم غورزيدلې.

حضرت جرير بن عبدالله رضى الله عنه سره د خپلو ملګرو د يمن دغه بت ځائې ته ورغې.او هغې ته ئې اور اولګولو.او د بيخه ئې ختم كړو. حضرت جرير رضى الله عنه د احمس قبيلې يو صحابى حضرت ابوارطاة رضى الله عنه لره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې اطلاع وركولو دپاره اوليګه.چه هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا زيرې وركړى.كله چه هغه د نبى عليه السلام په درباركښې حاضر شو.نو عرض ئې اوكړه.«يارسول الله صلى الله عليه وسلم والذى بعثك بالحق ما جئت حتى تركتها كانها جمل اجرب» يعنى اې د الله رسوله! په هغه ذات مې دې قسم وى.چاچه ته حق سره راليګلې يې.زه ستا په خدمت

---

[1]) فتح البارى (٧١٨) وعمدة القارى (١٠١٨)_

کښې راتلو دپاره ترهغه وخته پورې راروان نه شوم.ترڅو چه مې هغه بت خانه د خاربنتی اوښ پشان توره پرینځوه..په عربو کښې دا رواج وو.چه په خاربنتی اوښ به ئې تارکول مږل.مطلب دا دې.چه د تارکولو لګولی شوی خاربنتی اوښ په شان ذوالخلصه اوسوزولې شو.او تور کړې شو.رسول الله ﷺ په دې خبر سره ډیر خوشحاله سو.او نبی علیه السلام پنځه خله د احمس قبیلې شهسوارانو او پیادهٔ دپاره د برکت دعا اوفرمائیله.

قوله: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ.....يُقَالُ لَهُ ذُو الْخَلَصَةِ وَالْكَعْبَةُ الْيَمَانِيَةُ وَالْكَعْبَةُ الشَّامِيَّةُ:

① بعضې خلقو وئیلی دی.«والکعبة الشامیة» غلط دې.ځکه چه کعبه شامیه په مکه مکرمه کښې واقع بیت الله شریف ته وائی.ځکه چه بیت الله د یمن نه شام طرف ته واقع دې.په دې وجه هغې ته شامیه وائی.یمن کښې واقع ذوالخلصه ته کعبه شامیه وئیل غلط دی.([1])

② بعضې حضراتو وئیلی دی.چه په روایت کښې «والکعبة الشامیة» صحیح دی.خو ددې نه ذوالخلصه مراد نه ده.بلکه بیت الله مراد دې.او تقدیری عبارت داسې دې.«والکعبة الشامیة هی التی بمکة» یعنی «الکعبة الشامیة» مبتدا ده.او ددې خبر محذوف دې.او دا خودل دی.چه کعبه شامیه هغه ده.کومه چه مکه کښې واقع ده.([2])

③ بعضې عالمانو وئیلی دی.چه ،،الکعبة،، مبتدا ده.او،،الشامیة،، ددې خبردې.اودا د ماقبل نه حال دې.او مطلب دادې.چه ذوالخلصه ته کعبه وئیلې شی. حالانکه کعبه خو صرف شامیه ده.(کومه چه مکه کښې واقع ده)([3])

④ خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی.چه په یمن کښې واقع ذوالخلصه نومې بت خانې ته کعبه یمانیه او کعبه شامیه وئیلې شی.یمانیه ورته په دې وجه وئیلې شی.چه هغه په یمن کښې واقع وه.او شامیه ورته ځکه وائی.چه دهغې یوه دروازه شام طرف ته وه.نو په روایت کښې «یقال... الکعبة الشامیة» ته غلط وئیل، یا د باریکو تاویلاتو کولو ضرورت نشته.([4]) والله اعلم.

بَابُ غَزْوَةِ ذَاتِ السُّلَاسِلِ

علامه کرمانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ،،السلاسل،، د ړومبی سین فتحې سره او د دویم سین کسرې سره دې.بعضو د ړومبی سین ضمه وئیلې ده.([5])

---

[1]) عمدة القاری(۱۸\۱۰)_

[2]) فتح الباری(۸\۷۲)_

[3]) قال الکرمانی ویحتمل ان تکون الکعبة مبتدا والشامیة خبره والجملة حال، ومعناها ان الکعبة هی الشامیة لاغیر (وانظر شرح الکرمانی (۱۶\۱۷۸)_

[4]) اوګورئ: فتح الباری (۸\۷۱)_

[5]) شرح الکرمانی (۱۶\۱۸۰)_

وجه تسمیه: ① علامه عینی وغیره فرمائیلی دی.چه ،،ذات السلاسل،، یوه چینه وه.چه دهغې اوبه سلسال یعنی خوشگوار وې.په دې وجه هغه چینې ته ذات السلاسل وائی. دا غزوه په هغه مقام باندې پیښه شوه.نو هغې طرف ته نسبت کولو سره دې غزوې ته ذات السلاسل وائی.(۱)

② بعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه سلاسل د سلسلة جمع ده.سلسله زنځیر او بیړئ ته وائی.په دې غزوه کښې مشرکینو په مضبوطئ سره د جنګ کولو په غرض سره خپلو خپو کښې بیړئ اچولې وې.په دې وجه هغې ته غزوهٔ ذات السلاسل وائی.(۲)

③ قاضی عیاض رحمه الله فرمائیلی دی.چه سلاسل په حقیقت کښې هغه شګې ته وائی. چه هغه لاندې باندې کلکه شوې وی.په کوم ځائې چه دا غزوه پیښه شوه.هلته لاندې باندې شګه کلکه شوې وه.په دې وجه هغې ته ذات السلاسل وئیلې شي.(۳) والله اعلم

قوله: وَهِيَ غَزْوَةُ لَخْمٍ وَجُذَامَ قَالَهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ: د اسماعیل بن ابی خالد په قول دا غزوه قبیله لخم او جذام سره پیښه شوه. لخم د مالك بن عدی بن حارث لقب وو.هغې طرف ته دا قبیله منسوب ده.جذام د لخم رور وو.چه دهغه نوم عمرو بن عدی وو.دهغه اولاد ته ،،بنوجذام،، وائی.(٤)

قوله: وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ عَنْ يَزِيدَ عَنْ عُرْوَةَ هِيَ بِلَادُ بَلِيٍّ وَعُذْرَةَ وَبَنِي الْقَيْنِ: بَلی، عُذره او بنوالقَین درې واړه د قضاعه څانګې دی.(۵) ابن اسحاق د یزید په واسطه د عروه نه نقل کړی دی.چه دا غزوه د قبیلهٔ بلی، عذره او بنی القین په ښارونو کښې پیښه شوه.

[۴۱۰۰] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ قُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ قَالَ أَبُوهَا قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ عُمَرُ فَعَدَّ رِجَالًا فَسَكَتُّ مَخَافَةَ أَنْ يَجْعَلَنِي فِي آخِرِهِمْ [ر: ۳۴۶۲]

د غزوه ذات السلاسل تاریخ وقوع: ددې غزوې تفصیل دادې.چه رسول الله ﷺ ته داخبر ملاؤ شو. چه د بنی قضاعه قبیلې یو جماعت په مدینه منوره باندې د حملې اراده لری.په دې

---

۱) عمدة القاری (۱۲\۱۱۸)_

۲) فتح الباری (۷\۷۲) معجم البلدان (۳\۲۳۳)_

۳) اوګورئ:فتح الباری (۷\۲٦) کتاب المناقب ابواب فضائل ابی بکر والسیرة الحلبیة (۳\۱۹۰) خویه دې دواړو کتابونوکښې قاضی عیاض طرف ته دا قول نه دې منسوب کړې شوې.بلکه،،قیل،، سره نقل کړې شوې دې.دهغوی نه علاوه احقر په ډیرو کتابونوکښې تلاش اوکړو.خو ملاؤ نه شو.والله اعلم.

٤) عمدة القاری (۱۲\۱۱۸)_

۵) عمدة القاری (۱۲\۱۱۸)_

خبر اوريدو سره نبي عليه السلام د حضرت عمرو بن العاص په مشرئ کښې د دريو سوو سړو يوجماعت ذات السلاسل مقام طرف ته اوليګه.(۱) کله چه د صحابوﷺ دا جماعت د دشمن علاقې ته نزدې اورسيده.نو معلومه شوه.چه د دشمنانو تعداد زيات دې.په دې وجه صحابوﷺ رافع بن مکيث ﷺ د رسول اللهﷺ په خدمت کښې اوليګه.چه د مدد دپاره نور سړی راوليګی.(۲) رسول اللهﷺ حضرت ابوعبيده بن الجراح ﷺ اميرجوړ کړو.اودوه سوه سړی ئې د مدد دپاره اوليګل.چه په هغوی کښې حضرت ابوبکر او حضرت فاروق اعظم ﷺ هم وو.او دا نصيحت ئې ورته اوفرمائيلو.چه عمرو بن العاص سره ملاؤ شئ.او خپل منځ کښې متفق اوسيږئ.دهر قسمه اختلاف نه ځان ساتئ.(۳) حضرت ابوعبيده ﷺ چه کله هلته اورسيده.او دمونځ وخت راغې.نو هغوی امامت کول اوغوښتل. حضرت عمرو ﷺ اووئيل.چه امير د لښکر خو زه يم.ته خو زما د مدد دپاره راغلې يې.مونځ به زه ورکوم. ابوعبيده ﷺ اووئيل.چه ته د خپل جماعت امير يې.او زه د خپل جماعت امير يم.خو بيا د رسول اللهﷺ د حکم مطابق د اختلاف نه بچ کيدو دپاره حضرت ابوعبيده ﷺ د حضرت عمرو بن العاص ﷺ اطاعت اوکړو.اووې فرمائيل.چه زه به ستا اطاعت کوم.اګرچه ته زما مخالفت کوې.(۴) بيا صحابوﷺ په يوځائې حمله اوکړه.او بنو قضاعه اوېريدل.او اوتختيدل .صحابوﷺ په دشمن پسې کيدل اوغوښتل.خو حضرت عمرو ﷺ منع کړل.(۵) په دې غزوه کښې حضرت عمرو ﷺ صحابه د اور بلولو نه هم منع کړی وو.د يخنئ زمانه وه. حضرت صديق ﷺ او حضرت فاروق ﷺ په دې سلسله کښې هغوی سره خبره اوکړله.خو هغوی اووئيل.که چا اور بل کړو.نوزه به هغه هم په هغه اورکښې غورځوم.دغه شان يوه ورځ حضرت عمروبن العاص ﷺ ته احتلام اوشو.نودسحرهغوی تيمم اوکړو.اومونځ ئې ورکړو.(۶)

صحابه چه کله مدينې منورې ته واپس راغلل.نو د حضرت عمرو بن العاص ﷺ دا درې واړه خبرې ئې رسول اللهﷺ ته بيان کړلې.نبي عليه السلام دهغه نه تپوس اوکړو.نوهغه اووئيل.چه اې د الله رسوله! دشمن پسې کيدلو نه ما په دې وجه منع کړی وو.چه ماته ويره وه.چه چرته داسې اونشی.چه مونږ هغوی پسې شو.او وړاندې دهغوی د مدد دپاره نور خلق موجود وی.نو هسې بيسه به مونږ ته نقصان راپيښ شي.او د اور بلولو نه ما ځکه منع کړی وو.چه هسې نه دشمنان اور بل اووينی.او ددې په ذريعه هغوی ته زمونږ د کموالی اندازه اونشي.(۷) او د احتلام نه پس ما تيمم کولو سره مونځ ځکه ورکړو.چه سخته يخنی وه.او په

۱) طبقات ابن سعد(۱۳۱\۲)_
۲) طبقات ابن سعد (۱۳۱\۲) والسيرة النبوية والآثار المحمدية(۲۳۳\۲)_
۳) سيرة ابن هشام مع الروض الانف (۳۵۹\۲)_
۴) الکامل لابن اثير(۱۵۶\۲)_
۵) فتح الباری(۷۵\۸)_
۶) فتح الباری(۷۵\۸) والسيرة النبوية والآثار المحدية(۲۳۲\۲)_
۷) السيرة النبوية والآثار المحمدية(۲۳۲\۲)_

غسل کولو سره ماته د خپل ژوند خطره محسوسیده.او د الله ﷻ ارشاد دې. ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ۝﴾(۱) نبی کریم ﷺ چه دا واوریدل.نو تبسم ئې اوکړو.اوهغه ته ئې هیڅ اونه فرمائیل.(۲)

چونکه په دې سریه کښې لوئې لوئې صحابه هم دحضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه د مشرئ لاندې وو.په دې وجه هغه ته دا خیال اوشو.چه هغه رسول الله ﷺ ته په صحابو رضی الله عنهم کښې د ټولو نه زیات محبوب دې.نوهغه د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړو.«ایّ الناس احب الیك؟» په خلقو کښې تاسو ته دټولو نه زیات څوك محبوب دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل.،،عائشة،، هغه عرض اوکړو.،،من الرجال؟،، په سړو کښې څوك دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل.،،ابوها،، یعنی صدیق اکبر رضی الله عنه، هغه عرض اوکړو.،،ثم من؟،، نبی علیه السلام اوفرمائیل.،،عمر،، دغه شان هغه ډیر نومونه اوشمیرل.بیا په دې ویره خاموش شو.چه چرته دهغه نوم دټولو په آخر کښې رانه شی.

فائده: عامو اهل سیرغزوة ذات السلاسل په میاشت د جمادی الثانی ۸ھ کښې ګرخولې ده.بعضو وئیلی دی.چه دا غزوه په سن۷ھ کښې واقع شوې ده.(۳) امام بخاری رحمه الله دا د ۱۰ھ په واقعاتوکښې ذکرکړې ده.خو لکه څنګه چه ما عرض اوکړو.چه امام بخاری رحمه الله د غزواتو او سیر د تاریخی ترتیب څه خاص اهتمام نه دې کړې.او ډیر وخته په تاریخ د وقوع کښې دهغه رائې هم د عامو اهل سیر نه مختلف وی.

بَابُ ذَهَابُ جَرِيرٍ إِلَى الْيَمَنِ

[۴۱۰۱] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْعَبْسِيُّ حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ كُنْتُ بِالْيَمَنِ فَلَقِيتُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ ذَا كَلَاعٍ وَذَا عَمْرٍو فَجَعَلْتُ أُحَدِّثُهُمْ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ ذُو عَمْرٍو لَئِنْ كَانَ الَّذِي تَذْكُرُ مِنْ أَمْرِ صَاحِبِكَ لَقَدْ مَرَّ عَلَى أَجَلِهِ مُنْذُ ثَلَاثٍ وَأَقْبَلَا مَعِي حَتَّى إِذَا كُنَّا فِي بَعْضِ الطَّرِيقِ رُفِعَ لَنَا رَكْبٌ مِنْ قِبَلِ الْمَدِينَةِ فَسَأَلْنَاهُمْ فَقَالُوا قُبِضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ وَالنَّاسُ صَالِحُونَ فَقَالَا أَخْبِرْ صَاحِبَكَ أَنَّا قَدْ جِئْنَا وَلَعَلَّنَا سَنَعُودُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ وَرَجَعَا إِلَى الْيَمَنِ فَأَخْبَرْتُ أَبَا بَكْرٍ بِحَدِيثِهِمْ قَالَ أَفَلَا جِئْتَ بِهِمْ فَلَمَّا كَانَ بَعْدُ قَالَ لِي ذُو عَمْرٍو يَا جَرِيرُ إِنَّ بِكَ عَلَيَّ كَرَامَةً وَإِنِّي مُخْبِرُكَ خَبَرًا إِنَّكُمْ مَعْشَرَ الْعَرَبِ لَنْ تَزَالُوا

---

(۱) سورة النساء:۲۹_

(۲) سنن ابی داؤد کتاب الطهارة باب اذا خاف الجنب البردا یتیمم(۹۲۱۱) رقم الحدیث (۳۳۴)_

(۳) عمدة القاری(۱۲۱۱۸)_

بِخَيْرٍ مَا كُنْتُمْ إِذَا هَلَكَ أَمِيرٌ تَأَمَّرْتُمْ فِي آخَرَ فَإِذَا كَانَتْ بِالسَّيْفِ كَانُوا مُلُوكًا يَغْضَبُونَ غَضَبَ الْمُلُوكِ وَيَرْضَوْنَ رِضَا الْمُلُوكِ

رسول الله ﷺ يو خل حضرت جرير بن عبدالله رضی الله عنه يمن طرف ته د ذوالخلصه ورانولو دپاره ليګلي وو.چه دهغې واقعه تيره شوه.دا په دويم خل نبی علیه السلام هغه د دين د تبليغ دپاره ليګلې وو.دا د حجة الوداع نه د روستو واقعه ده.

د طبرانی په روايت کښې دی.چه حضرت جرير رضی الله عنه اوفرمائيل.نبی کريم ﷺ زه د يمن خلقو طرف ته اوليګلم.چه زه هغوی ته د دين اسلام دعوت ورکړم.اوکه هغوی د دعوت نه انکار اوکړی.نوهغوی سره جهاد اوکړم.(۱)

د ابن عساکر په روايت کښې دی.چه حضرت جرير رضی الله عنه لره رسول الله ﷺ دوه با اثره سړو ته د اسلام دعوت ورکولو دپاره ليګلي وو.چه په هغوی کښې د يوسړی نوم،،ذوکلاع،،او د دويم نوم ،،ذوعمرو،، وو.(۲) ممکن ده.چه نبی علیه السلام خصوصيت سره هغوی دواړو ته د اسلام دعوت ورکولو دپاره حضرت جرير رضی الله عنه ته وئيلی وی.او ورسره ئې د يمن عامو خلقو ته د اسلام د دعوت کار دپاره هم وئيلی وی.

حضرت جرير رضی الله عنه هغوی دواړو ته د اسلام دعوت ورکړو.او دواړو اسلام قبول کړو.او دواړه حضرت جرير رضی الله عنه سره مدينې منورې ته د رسول الله ﷺ د زيارت دپاره روان شو.هغه هغوی دواړو ته د رسول الله ﷺ خبرې بيان کړې.نوپه دې باندې حضرت جرير رضی الله عنه ته ،،ذوعمرو،، اووئيل.«لئن کان الذی تذکر من امرصاحبك لقد مرّعلی اجله منذ ثلاث» هغه خبرې کومې چه ته د خپل صاحب په باره کښې بيانوې .که هغه صحيح او ټيك وی.نو دهغه د مرګ بيا درې ورځې تيرې شوی دی.

دلته داسوال پيداکيږی.چه ذوعمرو دا خبره څنګه اوکړه؟ بعضې حضرات وائی.چه دا خبره هغه د يهودو د مخکنو کتابونو په حوالې سره بيان کړله.هغه د يهودو د کتابونو نه خبر وو.(۳) خو د حضرت انورشاه کشميری رحمه الله رائې داده.چه دغه سړې کاهن وو.او دخپل کهانت په ذريعه هغه معلومه کړه.چه د رسول الله ﷺ وفات شوې دې.حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.چه ددې نه دا خبره هم معلومه شوه.چه د کاهن پخپله خپله خبره باندې يقين نه وی.ځکه چه ذوعمرو دا هم وائی.چه د رسول الله ﷺ وفات شوې دې.او ددې باوجود جرير رضی الله عنه سره سفرهم کوی.چه ممکن ده. لاقات اوشی.او وفات شوې نه وی.(۴)

---

۱) عمدة القاری(۱۸\۱۳)_

۲) فتح الباری(۸\۷۶)_

۳) فتح الباری(۸\۷۶)_

۴) فيض الباری (۴\۱۲۱) خو ابن عبدالبر په الاستيعاب کښې ليکلی دی.چه ذوعمرو خوب اوليده.چه په دې سره هغه ته معلومه شوه.چه د رسول الله ﷺ وفات شوې دې.اوګورئ: الاستيعاب لابن عبدالبر(۱\۴۹۰) علی هامش الاصابة)_

حضرت جرير رضي الله عنه فرمائي.چه اوس لا مونږ په لاره كښې وو.چه د مدينې منورې نه يو څو حضرات راتلونكي په نظر راغلل.دهغوی نه مونږ تپوس اوكړو.نو هغوی اووئيل.چه نبی عليه السلام وفات شوې دې.او ابوبكر رضي الله عنه خليفه جوړكړې شوې دې.او هيڅ ګړبړ نشته.خلق ټيك دی. هيڅ انتشار نشته.په دې خبر اوريدو سره ذوكلاع او ذوعمر دواړو حضرت جرير رضي الله عنه ته اووئيل.چه خپل صاحب يعنی حضرت صديق رضي الله عنه ته اووايه.چه مونږ(د رسول الله ﷺ ملاقات دپاره) راغلی وو.او چونكه دهغه وفات شوې دې.په دې وجه مونږه اوس واپس څو.بيا به انشاءالله راشو.نو دواړه يمن ته واپس لاړل.حضرت صديق رضي الله عنه ته حضرت جرير رضي الله عنه دا واقعه واوروله.نوهغوی اووئيل چه تا هغوی د ځان سره يوځائې ولې رانۀ وستل.بيا څه موده پس د حضرت جرير رضي الله عنه ذوعمرو سره ملاقات اوشو.غالباً دا د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت زمانه وه.(۱) نو ذوعمرو حضرت جرير رضي الله عنه ته اووئيل.اې جريره! ستا په ما باندې احسان دې.(چه ستا په وجه ماته الله تعالی د اسلام دولت رانصيب كړو) په دې وجه زه تاته يوه خبره ښايم.

قوله: انكم معشر العرب، لن تزالوا بخير ما كنتم اذا هلك امير، تأمرتم في آخر، فاذا كانت بالسيف، كانوا ملوكاً يغضبون غضب الملوك، ويرضون رضا الملوك: تاسو عرب خلق به مسلسل خير سره اوسيږئ.تركومې پورې چه تاسو د يو امير نه پس د بل امير انتخاب خپل منځ كښې مشورې سره كوئ.خوكله چه اقتدار باندې قبضه د تورې په ذريعه سره اوشی.نو بيا به په تاسو كښې بادشاهت راشی.د بادشاهانو پشان به غصه كيږئ.او د بادشاهانو پشان به راضی كيږئ،،

يعنی لكه څنګه چه بادشاهان په نه څه خبره باندې خفه كيږی.او په معمولی شان خبره باندې خوشحاليږی.نه دهغوی د خفګان څه اعتماد وی.او نه د هغوی د خوشحالئ څه اعتبار وی.دا حالت به په تاسوكښې هم راشی.او هم دغه شان اوشوه.

فائده: ذوكلاع او ذوعمرو: واقدی په ډيرو اسانيدو سره دا خبره نقل كړې ده.چه رسول الله ﷺ حضرت جرير رضي الله عنه لره ذوكلاع او ذوعمرو خواته يمن ته ليګلې وو.دا دهغه ځائې لوئې با اثره او رعب والا خلق وو.حضرت جرير رضي الله عنه هغوی ته د اسلام دعوت وركړو.اوهغوی مسلمانان شو.(۲) د بخاری د روايت نه دا هم معلومه شوه.چه هغوی ته (نبی ﷺ سره) د صحبت شرف حاصل نه شو.ذوكلاع د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه كښې مدينې منورې ته راغلې وو.(۳) ابن عبدالبر ليكلی دی.چه د حضرت عمر رضي الله عنه نه هغه د حديثو روايت هم كوی.په جنګ صفين كښې دحضرت معاويه رضي الله عنه دطرفه قتال كښې شريك شو.اوهلته شهيد شو.(۴)

---

۱) فتح الباری(۷۷/۸)_

۲) اوګورئ: الاصابة فی تمييز الصحابة(۴۹۲/۱)_

۳) عمدة القاری (۱۴/۱۸)_

۴) تفصيل دپاره اوګورئ! الاستيعاب لابن عبدالبر(۴۸۵/۱-۴۸۷) علی هامش الاصابة)_

بَاب غَزْوَةُ سِيفِ الْبَحْرِ
وَهُمْ يَتَلَقَّوْنَ عِيرًا لِقُرَيْشٍ وَأَمِيرُهُمْ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

سيف ربه كسري د سين سره) غاړې (طرف) ته وائی.د قریشو په قافلې باندې د حملې کولو په غرض سره دا جماعت د سمندر د غاړې په طرف تلې وو.په دې وجه دې ته ،،غزوة سیف البحر،، وائی.(١)

رسول الله ﷺ درې سوه صحابه ﷺ دحضرت ابوعبیده بن الجراح ﷺ په مشرئ کښې دې مقصد دپاره لیکلی وو.د ابن سیدالناس (٢)ابن سعد (٣)او د مغازی د اکثرو اصحابو رائې داده.چه غزوة سیف البحر په رجب ٨ھ کښې پیښه شوې ده. و په دې باندې اشکال دادې.چه د رجب ٨ھ زمانه د فتح مکې نه وړاندې د صلح حدیبیه زمانه ده.او د صلح په زمانه کښې د مسلمانانو د قریشوپه قافله باندې داسې قسمه لښکرو سره حمله کول،د صلح د معاهدې خلاف ورزی ده.چه د رسول الله ﷺ د اصحابو نه داسې کار کول دعقل نه لرې خبره ده.په دې وجه د حافظ ابن قیم(٤)او د حافظ ابن کثیر(٥)رائې داده.چه غزوة سیف البحر د صلح حدیبیه نه مخکښې پیښه شوې ده.

حافظ ولی الدین عراقی ﷫ په شرح تقریب کښې د ابن سیدالناس او ابن سعد رحمهما الله روایت راجح ګرخولې دې.چه دا د رجب ٨ھ واقعه ده.او د صلح دمعاهدې خلاف ورزئ په حوالې سره د وارد شوی اعتراض هغه دا جواب ورکړې دې.چه د رجب٨ھ پورې د صلح حدیبیة د معاهدې خلاف ورزی پخپله قریشو کړې وه.بنوبکر د بنوخزاعه خلاف اقدام کړې وو.او قریشو د صلح د معاهدې خلاف ورزی کړې وه.او د بنوبکر مدد کولوسره ئې صلح ماته کړې وه.په دې وجه د رجب ٨ھ دا زمانه، د صلح زمانه نه وه.چه د صلح د شرائطو پابندی ضروری ګرخولو سره اشکال اوکړې شی.

حافظ ابن حجر ﷫ یوه بله خبره لیکلې ده.چه نبی کریم ﷺ د دریو سوو سړو دا جماعت د قریشو په قافلې باندې د حملې کولو دپاره نه وو لیکلې.بلکه دهغوی د حفاظت دپاره ئې لیګلې وو.د قریشو تجارتی قافله راروانه وه.او هغه به د جهینه قبیلې په علاقې باندې تیریدله.د جهینه خلق د لوټ مار عادتی وو.خطره وه.چه هغوی چرته د قریشو قافله لوټ نکړی.په دې وجه رسول الله ﷺ د حضرت ابوعُبیده بن الجراح ﷺ په مشرئ کښې درې

---

١) عمدة القاری(١٥\١٨)_
٢) زاد المعاد(٣٨٩\٣)_
٣) طبقات ابن سعد(١٣٢\٢) او ابن اثیرهم د٨ھ په واقعاتو کښې دا ذکرکړې ده.(اوګورئ: الکامل لابن اثیر(١٥٧\٢)_
٤) زاد المعاد(٣٩٠\٣) فصل فی سریة الخبط)_
٥) البدایة والنهایة(٢٧٧\٤)_

سوه صحابه رضی الله عنهم دهغې دحفاظت دپاره اولیګل.([1])
مولانا شبلی نعمانی مرحوم دحافظ په دې بیان باندې اعتماد کړې دې.([2]) خو علامه قسطلانی، زرقانی، واقدی، ابن سعد او شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمهم الله ټول حضرات فرمانی.چه دا سریه نبی علیه السلام د قریشو لوټ کولو دپاره لیګلې وه.([3]) والله اعلم.
امام بخاری رحمه الله درې حدیثونه په دې باب کښې نقل کړی دی.چه په هغې کښې ددې غزوې په باره کښې تفصیلات دی.

[۴۳۶۰،۴۳۶۱،۴۳۶۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ لما بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا قِبَلَ السَّاحِلِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ وَهُمْ ثَلَاثُ مِائَةٍ فَخَرَجْنَا وَكُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ فَنِيَ الزَّادُ فَأَمَرَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِأَزْوَادِ الْجَيْشِ فَجُمِعَ فَكَانَ مِزْوَدَيْ تَمْرٍ فَكَانَ يَقُوتُنَا كُلَّ يَوْمٍ قَلِيلًا قَلِيلًا حَتَّى فَنِيَ فَلَمْ يَكُنْ يُصِيبُنَا إِلَّا تَمْرَةٌ تَمْرَةٌ فَقُلْتُ مَا تُغْنِي عَنْكُمْ تَمْرَةٌ فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْنَا فَقْدَهَا حِينَ فَنِيَتْ ثُمَّ انْتَهَيْنَا إِلَى الْبَحْرِ فَإِذَا حُوتٌ مِثْلُ الظَّرِبِ فَأَكَلَ مِنْهَا الْقَوْمُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً ثُمَّ أَمَرَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِضِلَعَيْنِ مِنْ أَضْلَاعِهِ فَنُصِبَا ثُمَّ أَمَرَ بِرَاحِلَةٍ فَرُحِلَتْ ثُمَّ مَرَّتْ تَحْتَهُمَا فَلَمْ تُصِبْهُمَا

دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روایت دی.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د سمندر غاړې طرف ته یو لښکر اولیګه.حضرت ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه نې د لښکر امیر جوړ کړو .اوس مونږ په لاره کښې وو.چه توښه ختمه شوه.حضرت ابوعبیده رضی الله عنه لښکر ته اوونیل.چه دچا سره کوم څه دی. هغه دې راوړی.ټول راجمع کړې شو.«فکان مزودی تمر»([4]) نو دوه تهیلئ د کجورو راجمع شوې.اوس به هغه مونږ ته روزانه لږې لږې کجورې راکولې.تردې چه هغه هم ختمیدو ته نزدې شوې.نو یوه یوه کجوره به ملاویده.«فقلت: ما تغنی عنکم تمرة؟» وهب بن کیسان حضرت جابر رضی الله عنه ته اوونیل.په یوې کجورې به تاسوته څه فائده کیدله؟ حضرت جابر رضی الله عنه اوفرمائیل. «لقد وجدنا فقدها حین فنیت» دا یوه کجوره نه ملاویدل مونږ هغه وخت محسوس کړل.کله چه دهغې ملاویدل هم بند شو.بیا کله چه مونږ دسمندر غاړې ته اورسیدو.«فإذا حوت مثل الظرب»([5]) هلته د وړوکی غر (غونډئ) پشان یو کب ملاوشو.خلقو اتلسو ورځو پورې دهغې غوښه اوخوړه.ظرب وړوکی غر ته وائی.

---

[1] فتح الباری(۷۸\۸)_
[2] سیرت النبی صلی الله علیه وسلم (۴۳۱\۱)_
[3] دحافظ ابن حجر رحمه الله نه علاوه په اهل مغازی کښې چاهم نه دی لیکلی.چه دا قافله د قریشو د حفاظت دپاره نبی علیه السلام لیګلې وه_
[4] المزود(بکسر المیم وسکون الزای) ما یجعل فیه الزاد (فتح الباری(۷۹\۸)_
[5] الظرب (بفتح الظاء وکسر الراء) الجبل الصغیر(وانظر: العمدة (۱۵\۱۸)_

بيا دحضرت ابوعبيده رضي الله عنه په حكم سرد دهغې د پوښتو دوه هډوكى اودرولې شو.او د لښكر دټولو نه اوږد قد والا سړې په اوښه باندې كيناسته.او دهغې لاندې تيرشو.خو دهغه سر هغه پوښتو پورې اونه رسيده.(په ړومبى روايت كښې صرف د اوښ تيريدو ذكردې.په دويم روايت كښې په اوښ باندې د ناست اوږد قد والا سړى د تيريدو ذكر دې).

او امام مسلم رحمه الله په دې قصه كښې روايت نقل كړې دې.په هغې كښې دى.چه ددې كب په يو ستركه كښې حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه ديارلسو سړو ته دكيناستلو حكم وركړو.نو هغه ديارلس سړي دهغې په ستركه كښې راځائې شو.(١)

[٤١٠٣] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الَّذِي حَفِظْنَاهُ مِنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِائَةِ رَاكِبٍ أَمِيرُنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نَرْصُدُ عِيرَ قُرَيْشٍ فَأَقَمْنَا بِالسَّاحِلِ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ فَسُمِّيَ ذَلِكَ الْجَيْشُ جَيْشَ الْخَبَطِ فَأَلْقَى لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهِ حَتَّى ثَابَتْ إِلَيْنَا أَجْسَامُنَا فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَنَصَبَهُ فَعَمَدَ إِلَى أَطْوَلِ رَجُلٍ مَعَهُ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَنَصَبَهُ وَأَخَذَ رَجُلًا وَبَعِيرًا فَمَرَّ تَحْتَهُ قَالَ جَابِرٌ وَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ إِنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ نَهَاهُ وَكَانَ عَمْرٌو يَقُولُ أَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ أَنَّ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ قَالَ لِأَبِيهِ كُنْتُ فِي الْجَيْشِ فَجَاعُوا قَالَ انْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ قَالَ ثُمَّ جَاعُوا قَالَ انْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ قَالَ ثُمَّ جَاعُوا قَالَ انْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ ثُمَّ جَاعُوا قَالَ انْحَرْ قَالَ نُهِيتُ

قوله: فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ فَسُمِّيَ ذَلِكَ الْجَيْشُ جَيْشَ الْخَبَطِ:

د.خبط.. نه د وونو پاڼې مراد دى.يعنى د سختې ولږې په وجه مونږ د وونو پاڼې اوخوړې.چه دهغې په وجه ددې لښكر نوم ،،جيش الخبط،، مشهورشو.

قوله: فَأَلْقَى لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ: زهرى رحمه الله نقل كړى دى.چه عنبر په لويو سمندرونوكښې يوكب وى.چه دهغې اوږدوالې پنځوس لاسه برابر وى.(٢) عنبر خوشبو ته هم وائى.ددې متعلق وئيلى شوى دى.چه دا ددغه كب فضله (گندگى) وى.(٣) ابن سينا وئيلى دى. چه عنبر خوشبو په سمندركښې پيداكيږى.د سمندر يو خاص قسم ځناور دغه خوشبو خورى.خو ځنگه چه هغه دا (خوشبو) اوخرى.نو مړكيږى.او بيا سمندر دغه ځناور بهر ته راغورځوى.دهغې د خيټې نه بيا دغه خوشبو راوځى.(٤)

---

(١) صحيح مسلم كتاب الصيد والذبائح باب اباحة ميتات البحر)_

(٢) فتح البارى(٨٠/٨)_

(٣) فتح البارى(٨١/٨)_

(٤) فتح البارى(٨١/٨)_

قوله: وَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ: په قوم کښې يو سړې وو.چه هغه درې اوښان ذبح کړل.دا قيس بن سعد بن عباده رضی الله عنه وو.بيا په دويمه او دريمه ورځ هم هغه درې درې اوښان ذبح کړل.بيا د نورو اوښانو ذبح کولو نه حضرت ابوعبيده رضی الله عنه هغه منع کړو.
په سيرت حلبيه کښې روايت نقل کړې دې.چه کله حضرت قيس بن سعد رضی الله عنه اوکتل.چه خلق د الله په لاره کښې جهاد دپاره راغلی دی.او د ولږې د سختۍ دا حال دې.چه خلق پاڼړې خوری.او ګزاره کوی.نو په هغه دا حالت ليدل ګران شو. او هغه د سمندر د غاړې دخلقو نه په قرض باندې اوښان اخستل او ذبح کول ئې شروع کړل.حضرت ابوعبيده رضی الله عنه هغه ته اووئيل.چه رقم خو ستا سره نشته.په قرض باندې ته اوښان اخلې.او ذبح کوې.دا قرض به د کوم خائې نه ورکوې.حضرت قيس بن سعد رضی الله عنه اووئيل.چه زمونږ په کورکښې مال شته.دهغې نه به قرض اداکړم.حضرت ابوعبيده رضی الله عنه اوفرمائيل.چه هغه خو ستا د پلار دې.نو قيس اووئيل .چه زما پلار د پردو حاجتمندو او غريبانانو امداد کوی.نوکه زه قرضدار شم.نو آيا زما امداد به نه کوی؟ حضرت ابوعبيده رضی الله عنه دهغه په خبرو متاثره شو.او لږه نرمی ئې اختيار کړله.خو حضرت عمر رضی الله عنه اووئيل.چه بالکل نه، دې به بالکل منع کولې شی.نو حضرت ابوعبيده رضی الله عنه هغه منع کړو.مدينې منورې ته د واپس راتلو نه پس حضرت قيس بن سعد رضی الله عنه خپل پلار ته دا واقعه واوروله.نو حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه اوفرمائيل.چه د فلانی خائې څلور باغونه زه ستا په نوم کوم.چه که بيا دپاره داسې صورت دريپښ شی.چه ته دا ونيلې شې.چه ما سره څلور باغونه دی.او په داسې قسمه دخير په کارونو کښې ستانه روستووالې اونه شی.کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ددې واقعې خبر اوشو.نو نبی عليه السلام اوفرمائيل.دا کورنۍ د سخاوت او جود کورنۍ ده.هم دا خبره ددوی د شان سره لائق وه.(۱)

[۴۳۰۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ غَزَوْنَا جَيْشَ الْخَبَطِ وَأُمِّرَ أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا فَأَلْقَى الْبَحْرُ لَنَا حُوتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ فَأَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يَقُولُ قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ كُلُوا فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ ذَكَرْنَا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوا رِزْقًا أَخْرَجَهُ اللَّهُ أَطْعِمُونَا إِنْ كَانَ مَعَكُمْ فَأَتَاهُ بَعْضُهُمْ فَأَكَلَهُ [ر: ۲۳۵۱]

قوله: فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ: په رومبی روايت کښې اتلس ورځې راغلې وې.او په دې روايت کښې د پنځلسو ورځو ذکر دې.په دې روايت کښې کسر حذف کړې شو.

....

---

(۱) فتح البارى(۸۰/۸)۔

باب حج أبى بكر بالناس فى سنة تسع

[۴۲۰۵] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ أَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ [ر: ۳۶۲]

دا حج په کوم سن کښې شوې وو؟ : نبی کریم ﷺ په ۹ھ کښې حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د حج امیرمقرر کړو.او مکې مکرمې ته ئې اولیګه.په دې کښې خو هیڅ اختلاف نشته.چه دا لیګل په ۹ھ کښې اوشو. البته په دې کښې روایات مختلف دی.چه دا حج په ذی قعده کښې اوشو.اوکه د ذی الحجة په میاشت کښې.د ابن سعد(۱)ازرقی او ابن اسحاق وغیره رائې داده.چه دا د ذی الحجې په میاشت کښې شوې دې.په مفسرینو کښې د ثعلبی او رمانی رائې هم داده.(۲) ازرقی په اخبار د مکې کښې صراحت سره دا لیکلی دی.چه دا حج په ذی الحجه کښې شوې دې.(۳) ابن اسحاق صراحت سره نه دی لیکلی.خو دهغوی دکلام نه هم دا ښکاره کیږی.چه دهغوی په رائې کښې هم دا حج په ذی الحجه کښې شوې دې. ځکه چه هغوی دا لیکلی دی.چه د غزوهٔ تبوک نه نبی کریم ﷺ واپس راغې.نو په شوال او ذی قعده میاشتو کښې د قیام کولو نه پس ئې حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه حج دپاره مکې ته اولیګه.چه ددې صفا مطلب دادې.چه په ذی الحجه کښې نبی علیه السلام هغه لیګلې وو.(۴)
مجاهد او دهغه بعضې متبعین وائی.چه دا حج په ذی قعده کښې شوې دې. (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې لیکلی دی.«والمعتمد ما قاله مجاهد» خو دلته د حافظ ابن حجر رحمه الله نه سهوه شوې ده.صحیح عبارت« والمعتمد خلاف ماقاله مجاهد» کیدل پکاردې.دلیل ددې دادې.چه پخپله حافظ ددې سره روستو دا لیکلی دی.«وبه جزم الازرقی»(۶) حالانکه ازرقی د مجاهد په قول باندې جزم نه دې کړې.بلکه د هغه د قول خلاف ئې جزم (اعتماد) کړې دې.ځکه چه مجاهد په ذی قعده کښې ددې حج د واقع کیدو قائل دې.او ازرقی په ذی الحجه کښې ددې واقع کیدل منی.

---

(۱) طبقات ابن سعد(۱۶۸\۲)_
(۲) فتح الباری(۸۲\۸)_
(۳) اخبارمکة (۱۸۶\۱)_
(۴) سیرت ابن هشام (۳۲۷\۲)_
(۵) فتح الباری(۸۲\۸)_
(۶) فتح الباری(۸۲\۸)_

دغه شان حافظ ليکلي دي.((فذکر ابن سعد... ان حجة ابي بکر وقعت في ذي القعدة))[1] دا هم د قلم غلطي ده.ځکه چه ابن سعد په طبقات کښې ((في ذي الحجة)) ليکلي دي.[2]
په دې حج کښې د مدينې منورې نه حضرت صديق ﷺ سره درې سوه صحابه ﷺ تلي وو.رسول الله ﷺ شل اوښان قرباني کولو دپاره ليکلي وو.[3] قرآن دې حج ته حج اکبر وئيلي دي.ځکه چه دا ړومبئ موقع وه.چه حج په اصل ابراهيمي سنت مطابق ادا شو.
د سورة براءت ړومبي آيتونه په مشرکانو کښې د عهد (لوظ نامې) ماتونکو په باره کښې نازل شوي وو.نبي عليه السلام حضرت صديق اکبر ﷺ ته دحج په موقعه باندې ددې آياتونو د اعلان دپاره هم فرمائيلي وو.خو د حضرت صديق اکبر ﷺ د روانيدو نه پس نبي عليه السلام ته دا خيال راغې.چه د عهد او عهد ماتولو په باره کښې دا اعلان حضرت علي ﷺ اوکړي.نو زيات مناسب به وي.ځکه چه د عربو د دستور مطابق به په داسې امورو کښې اعلان په خاندان او رشته دارانو کښې يوکس کولو.نو نبي عليه السلام حضرت علي ﷺ راوغوښته.او پخپله اوښه ،،عضباء،، باندې ئې سورکړو.اوهغه ئې صديق اکبر ﷺ پسې روستو اوليګه.حضرت صديق اکبر ﷺ چه حضرت علي ﷺ راتلونکې اوليده.نو تپوس ئې ترې اوکړو چه ،امير اومامور،، حضرت علي ﷺ اوفرمائيل .مامور يم.او تفصيل ئې ورته بيان کړو.حضرت صديق اکبر ﷺ په خلقو باندې حج اوکړو.په لسم تاريخ ئې خطبه ورکړله.ددې نه پس حضرت علي ﷺ اودريده.د سورة براءت آيتونه ئې تلاوت کړل. او اعلان ئې اوکړو.چه د نن نه پس به هيڅ مشرك کعبې ته نه داخليږي.او نه به څوك په بربنډ حج او طواف کوي.دچا چه رسول الله ﷺ سره د يو خاص مودې پورې عهد دې.هغه عهد به دهغې مودې پورې پوره کولې شي.او دچا سره چه څه عهدنشته.يا عهدشته.خوڅه موده مقرر نشته.هغه ته څلورو مياشتو پورې امن دې.که په دې موده کښې هغه مسلمان شو.نو ډيره ښه ده.ګينې هغه به قتل کولې شي.[4]

فائده: په دې حج د صديق اکبر ﷺ دحج فريضه ساقط شوې وه اوکه نه؟ په دې حج سره د حضرت صديق ﷺ دحج فريضه ساقط شوې وه اوکه نه؟ د حافظ ابن قيم رحمه الله رجحان دې طرف ته دې.چه په دې سره دهغه د حج فريضه نه وه ساقط شوې. بلکه دا فريضه رسول الله ﷺ

---

[1] ايضاً۔
[2] طبقات ابن سعد(۱۶۸\۲) خو ممکن ده.چه ابن سعد د طبقات نه علاوه بل ځائې کښې ليکلي وي.چه په ذي قعده کښې دا حج واقع شوې دې.ځکه چه حافظ ليکلي دي.چه ابن سعد د مجاهد نه نقل کړي دي.او په طبقات کښې ابن سعد د مجاهد نه نه دي نقل کړي.په دې وجه ډيره ممکن ده. چه په بل مقام کښې ابن سعد د مجاهد نه په ذي قعده کښې ددې واقع کيدل نقل کړي وي.والله اعلم)
[3] زاد المعاد(۵۹۳\۳)۔
[4] تفصيل دپاره اوګورئ! زادالمعاد(۵۹۳\۳-۵۹۵) و طبقات ابن سعد(۱۶۸\۲-۱۶۹) وسيرت ابن هشام مع الروض الانف(۳۲۷\۲-۳۲۸)۔

سره د حجة الوداع په ادا كولو سره پوره شوې وه.([1])

[۴۰۰۶] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ آخِرُ سُورَةٍ نَزَلَتْ كَامِلَةً بَرَاءَةٌ وَآخِرُ سُورَةٍ نَزَلَتْ خَاتِمَةُ سُورَةِ النِّسَاءِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ [۴۳۲۹، ۴۶۵۴، ۴۶۰۵، ۶۷۴۴]

په دې به بحث انشاء الله په ،، كتاب التفسير ،، كښې كيږي.

بَاب = وَفْدُ بَنِي تَمِيمٍ

[۴۰۰۷] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي صَخْرَةَ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ الْمَازِنِيِّ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَتَى نَفَرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَرُئِيَ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ فَجَاءَ نَفَرٌ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ قَالُوا قَدْ قَبِلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ

امام بخارى رحمه الله ددې باب نه ،، سلسلة الوفود ،، شروع كوى. رسول الله ﷺ چه كله مكه فتح كړله نو د عربو دا شك او شبه ختمه شوه. چه نبى عليه السلام په حقه نبى دې اوكه نه؟ ځكه چه د عربو قبائل په دې انتظار كښې وو. چه كه دا رسول په قريشو باندې غالب راشى. او مكه مكرمه فتح كړى. نو دا په حقه رسول دې. نو د فتح مكې نه پس د عربو قبائل ډلې ډلې په اسلام كښې داخليدل شروع شو. او د مختلفو قبيلو وفدونه نبى ﷺ ته راتلل شروع شو. د وفدونو دا سلسله په ۹ هجرى كښې شروع شوه. په دې وجه دې كال ته ،، سنة الوفود ،، وائى.([2]) حافظ مغلطائى. حافظ عراقى، ابن سعد او دمياطى ددې وفودو تعداد د شپيتو نه زيات خودلې دې. علامه قسطلانى رحمه الله ددې تعداد پنځه ديرش ليكلې دې. ([3]) دبنو تميم دا وفد په ۹ هجرى كښې د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شوې وو.([4])

---

[1]) قال العلامه ابن القيم: واختلف فى حجة الصديق هذه، هل هى التى اسقطت الفرض، او المسقطة هى حجة الوداع مع النبى ﷺ؟ على قولين اصحهما الثانى، والقولان مبنيان على اصلين، احدهما هل كان الحج فرض قبل حجة الوداع اولا؟ والثانى هل كانت حجة الصديق فى ذى الحجة، ام وقعت فى ذى القعدة من اجل النسئ الذى كان الجاهلية، يؤخرون له الاشهر ويقدمونها؟ على قولين والثانى قول مجاهد وغيره، وعلى هذا فلم يؤخر النبى ﷺ الحج بعد فرضه عاماً واحداً، بل بادر الى الامتثال فى العام الذى فرض فيه، وهذا هو اللائق بهديه وحاله ﷺ وليس بيد من ادعى تقدم فرض الحج سنة ست او سبع او ثمان او تسع دليل واحد، وغاية ما احتج به من قال فرض سنة ست، قوله تعالى ﴿ و اتموا الحج والعمرة لله ﴾ (البقرة:۱۹۶) وهى قد نزلت بالحديبية سنة ست، وهذا ليس فيه ابتداء فرض الحج و انما فيه الامر باتمامه اذا شرع فيه، فاين هذا من وجوب إبتدائه و آية فرض الحج وهى قوله تعالى ﴿ ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلاً ﴾ (آل عمران:۹۷) نزلت عام الوفود او آخر سنة تسع. (وانظر زاد المعاد:۳\۵۹۵)_

[2]) فيض البارى(۴\۱۲۱)_

[3]) تاريخ الخميس (۲\۱۹۲)_

[4]) طبقات ابن سعد۲\۱۶۰-۱۶۱)_

بَاب

قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ غَزْوَةُ عُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنِ بْنِ حُذَيْفَةَ بْنِ بَدْرٍ بَنِي الْعَنْبَرِ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَأَغَارَ وَأَصَابَ ((مِنْهُمْ نَاسًا وَسَبَى مِنْهُمْ نِسَاءً)) [ر: ٣٠١٨]

نبی کریم ﷺ د بنوتمیمو د یوې څانګې د ،،بنوعنبر،،مقابلې دپاره حضرت عیینه بن حصن رضی الله عنه ته د پنځوسو سرو جماعت ورکړو.او وې لیګه.بنوعنبر په بنو خزاعه باندې د شپې حمله کړې وه.په دې وجه دهغوی د ختمولو دپاره دا خلق لاړل.په هغوی ئې حمله اوکړه.یوولس سړی، ،وولس ښځې او دیرش ماشومان ئې قید کړل.او نور مال غنیمت هم په قبضه کښې راغې.(١) د خپلو دغه سړو، ښځو او ماشومانو آزادولو دپاره د بنو تمیم سرداران د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو. ابن سعد په ،،طبقات،،کښې لیکلی دی.چه دا د محرم ۹ ھ واقعه ده.(٢)

[٤١٠٨] حَدَّثَنِي زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَا أَزَالُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ بَعْدَ ثَلَاثٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا فِيهِمْ هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِي عَلَى الدَّجَّالِ وَكَانَتْ فِيهِمْ سَبِيَّةٌ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ أَعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ هَذِهِ صَدَقَاتُ قَوْمٍ أَوْ قَوْمِي [ر: ٢٤٠٥]

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی.چه ماته د بنوتمیم سره د دریو خبرو معلومیدو نه پس محبت پیدا شو.یوه داچه ما د رسول الله ﷺ نه دهغوی په باره کښې دا خبره واوریده چه ((هم اشد امتي علی الدجال)) یعنی د دجال په مقابله کښې به زما په امت کښې د ټولو نه زیات سخت او مضبوط د بنوتمیم خلق وی.دویمه داچه دهغوی یوه ښځه حضرت عائشې رضی الله عنها سره قید وه.نو نبی علیه السلام اوفرمائیل.چه دا آزاده کړه.ځکه چه دا د حضرت اسمعیل علیه السلام د اولاد نه ده.او دریمه خبره دا ده. چه کله نبی کریم ﷺ ته د بنوتمیم صدقات راغلل.نو نبی علیه السلام اوفرمائیل.دا زما دقوم صدقات دی.ځکه چه په ،،الیاس بن مضر،، باندې پورته د رسول الله ﷺ او د بنو تمیم نسب ملاویږی.په دې وجه نبی علیه السلام اوفرمائیل. ،،دا زما د قوم صدقات دی،،

[٤١٠٩] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُمْ أَنَّهُ قَدِمَ رَكْبٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمِّرْ الْقَعْقَاعَ بْنَ مَعْبَدِ بْنِ زُرَارَةَ قَالَ عُمَرُ بَلْ أَمِّرْ الْأَقْرَعَ بْنَ

---

١) طبقات ابن سعد(٢-١٦٠-١٦١)_

٢) طبقات ابن سعد(٢-١٦٠)_

حَابِسٍ قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا أَرَدْتَ إِلَّا خِلَافِي قَالَ عُمَرُ مَا أَرَدْتُ خِلَافَكَ فَتَمَارَيَا حَتَّى ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فَنَزَلَ فِي ذَلِكَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا حَتَّى انْقَضَتْ [٦٨٤٢، ٤٥٦٦، ٣٥٦٣]

ددې حديث پوره تفصيل به انشاء الله روستو دسورة الحجرات په تفسير كښې راځي.

بَاب وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ

[٤١١١/٤١١٠] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ حَدَّثَنَا قُرَّةُ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا إِنَّ لِي جَرَّةً يُنْتَبَذُ لِي نَبِيذٌ فِيهَا فَأَشْرَبُهُ حُلْوًا فِي جَرٍّ إِنْ أَكْثَرْتُ مِنْهُ فَجَالَسْتُ الْقَوْمَ فَأَطَلْتُ الْجُلُوسَ خَشِيتُ أَنْ أَفْتَضِحَ فَقَالَ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا النَّدَامَى فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ مُضَرَ وَإِنَّا لَا نَصِلُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي أَشْهُرِ الْحُرُمِ حَدِّثْنَا بِجُمَلٍ مِنْ الْأَمْرِ إِنْ عَمِلْنَا بِهِ دَخَلْنَا الْجَنَّةَ وَنَدْعُو بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا قَالَ آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ الْإِيمَانِ بِاللَّهِ هَلْ تَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللَّهِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصَوْمُ رَمَضَانَ وَأَنْ تُعْطُوا مِنْ الْمَغَانِمِ الْخُمُسَ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ مَا انْتُبِذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ

[٤١١١] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا هَذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيعَةَ وَقَدْ حَالَتْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ فَلَسْنَا نَخْلُصُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي شَهْرٍ حَرَامٍ فَمُرْنَا بِأَشْيَاءَ نَأْخُذُ بِهَا وَنَدْعُو إِلَيْهَا مَنْ وَرَاءَنَا قَالَ آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ الْإِيمَانِ بِاللَّهِ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَعَقَدَ وَاحِدَةً وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَأَنْ تُؤَدُّوا لِلَّهِ خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ [ر: ٥٣]

[٤١١٢] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو وَقَالَ بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ بُكَيْرٍ أَنَّ كُرَيْبًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَزْهَرَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَرْسَلُوا إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَقَالُوا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيعًا وَسَلْهَا عَنْ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ فَإِنَّا أُخْبِرْنَا أَنَّكِ تُصَلِّيهَا وَقَدْ بَلَغَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكُنْتُ أَضْرِبُ مَعَ عُمَرَ النَّاسَ عَنْهُمَا قَالَ كُرَيْبٌ فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا وَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ فَأَخْبَرْتُهُمْ فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِمِثْلِ مَا أَرْسَلُونِي إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُمَا وَإِنَّهُ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَخَلَ عَلَيَّ وَعِنْدِي نِسْوَةٌ مِنْ بَنِي حَرَامٍ مِنْ الْأَنْصَارِ فَصَلَّاهُمَا فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْخَادِمَ فَقُلْتُ قُومِي إِلَى جَنْبِهِ فَقُولِي تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَمْ أَسْمَعْكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ فَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا فَإِنْ أَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخِرِي فَفَعَلَتْ الْجَارِيَةُ فَأَشَارَ

بِيَدِهٖ فَاسْتَأْخَرَتْ عَنْهُ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِنَّهُ أَتَانِي أُنَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ بِالْإِسْلَامِ مِنْ قَوْمِهِمْ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ [ر:۱۱۷۶]

[۴۱۱۳] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ هُوَ ابْنُ طَهْمَانَ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ أَوَّلُ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَى يَعْنِي قَرْيَةً مِنَ الْبَحْرَيْنِ [ر:۸۵۲]

وفد عبدالقيس په کوم سن کښې راغې؟: عبدالقيس ډيره لويه قبيله وه.د بحرين اوسيدونکی وو.[1] ددوی وفد د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضرشو.دا په کوم سن کښې حاضرشو. په دې باره کښې اختلاف دی.

① د واقدی، قاضی عياض، او د حافظ ابن تيميهؒ رائې داده.چه دا وفد د نبیﷺ په خدمت کښې ۸ھ کښې راغلی دی.[1]

② د اکثرو اهل مغازی په نزد دا وفد د نبیﷺ په خدمت کښې ۹ھ کښې حاضر شوی وو.د ابن اسحاق، ابن هشام، او خليفه بن خياط هم دا رائې ده.[2]

③ ابوحاتم او د تاريخ خميس مصنف ددې وفد راتګ په ۱۰ھ کښې ګرځولی دی.[3]

دا ټول حضرات په دې خبره تقريباً متفق دی.چه دا وفد د نبیﷺ په خدمت کښې يوځل راغلی دی.خو حافظ ابن حجرؒ فرمائيلی دی.چه دا وفد د نبیﷺ په خدمت کښې دوه ځله راغلی دی.يوځل د فتح مکې نه وړاندې په ۵ھ کښې، يا ددې نه هم وړاندې راغلی دی. او په دويم ځل ددې حاضری د فتح مکې نه پس ۹ھ کښې شوې دې.په ړومبی ځل وفد کښې ديارلس يا څوارلس سړی وو.او په دويم ځل دا وفد په څلوېښتو سړو باندې مشتمل وو.[4]

دوه ځل ددې وفد د راتلو دليل دمسند احمد او مصنف ابن ابی شيبه هغه روايت دی.چه په هغې کښې دی.چه کله دا وفد د رسول اللهﷺ په خدمت کښې ۹ھ کښې حاضر شو. نو نبیﷺ اوفرمائيل.«مالی اراکم قد تغيرت الوانکم»دا څه خبره ده.چه زه ګورم.چه ستاسو رنګونه بدل شوی دی.ددې نه معلوميږی.چه رسول اللهﷺ هغوی مخکښې ليدلی وو.

په فيض الباری کښې علامه انورشاه کشميریؒ طرف ته منسوب کړې شوی ليکلی شوی دی. چه دا وفد په ړومبی ځل ۶ھ کښې او [illegible] دويم ځل ۸ھ کښې راغلی دی.د ۸ھ خبره خو صحيح ده.چه بعضې اهل سير دا اختيارکړې دی.خو په ۶ھ کښې ددې وفد د راتګ ذکر چاهم نه دی کړې.داخو يا دحضرت شاه صاحبؒ نه تسامح (چشم پوشی) شوې ده.او يا د

---

[1]) فتح الباری (۸۵/۸) وعمدة القاری (۲۰/۱۱۸)۔

مرتب نه سهوه شوې ده.چه هغه ،،السنة الخامسة،، لره ،،السنة السادسة،، اوګڼړو.اووې ليکلو.(۴)

داوفدچه کله درسول الله ﷺ په خدمت کښې په ړومبی ځل حاضرشو.نونبی ﷺ اوفرمائيل.

((مرحباً بالقوم غير خزايا ولا ندامى)) مرحبا دې وی هغه قوم ته چه هغه نه رسوا شو.او نه پښيمانه او شرمنده شو.يعنی هغه پخپله راغلل.او پخپل شوق او د زړه په خوشحالئ ئې اسلام قبول کړو.په جنګ او جهاد سره مسلمانان نه شو.چه هغوی ذليله او پښيمانه شوې وې.نبی کريم ﷺ ته د وفد شريکانو عرض اوکړو.چه زمونږ او ستاسو په منځ کښې قبيله مضر اباده ده.هغوی سره زمونږ دشمنی ده.مونږ صرف د حرمت په مياشتو کښې ستاسو خدمت کښې حاضريدې شو.چه په دغه مياشتو کښې هغه خلق د لوټ مار او قتل وقتال نه د عربو د عام دستور مطابق بنديږی.په دې وجه تاسو مونږ ته يو داسې جامع عمل اوښايئ.چه په هغې باندې عمل کولو سره مونږ جنت ته داخل شو.او د ښار اوسيدونکو ته هم دهغې دعوت ورکړو.رسول الله ﷺ اوفرمائيل.زه تاسو ته د څلورو څيزونو حکم درکوم.او د څلورو څيزونو نه مو منع کوم.چه دهغې تفصيل په وړېسې روايت کښې راروان دې.

د وفد عبدالقيس د راتلو سبب: د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ددې وفد د حاضريدو په باره کښې اصحابو د سيردا واقعه ليکلې ده.چه د قبيله عبدالقيس سردار منذر بن عائذ خپله لور منقذ بن حيان ته ورکړې وه.منقذ بن حيان د تجارت په غرض سره مدينې منورې ته راغې.دا دهجرت نه روستو زمانه وه.منقذ يو ځائې کښې ناست وو.اتفاقاً نبی ﷺ هغه طرف ته تيريدو.منقذ چه نبی ﷺ اوليده.نو اودريده.رسول الله ﷺ تپوس اوکړو .څوك يې؟ عرض ئې اوکړو.منقذ بن حيان يم.رسول الله ﷺ دهغه نه دخيرت پوښتنه اوکړله.او دهغه د قبيلې په شريفانوکښې ئې د هريو نوم واخستۀ.او د حالاتو تپوس ئې ترې اوکړو.ددې په وجه منقذ بن حيان دومره متاثره شو.چه مسلمان شو.د قرآن شريف څه حصه سورة فاتحه او سورة علق وغيره ئې زده کړل.کله چه خپل وطن ته تلو.نو نبی ﷺ د قبيلې د سردرانو په نوم دهغه په لاس خطونه اوليګل

قبيلې ته چه اورسيده.نو منقذ بن حيان خپل اسلام ښکاره نه کړو.البته مونځ به ئې کوو.او

.....دتيرمخ حاشيه] (۱) شرح مسلم للنووی(۳۴/۱۱) كتاب الايمان، باب الامربالايمان بالله....)_

(۲) سيرة ابن هشام مع الروض الانف (۳۴۰/۱۲) وطبقات ابن سعد(۳۱۴/۱۱) والبداية والنهاية(۴۶/۵)_

(۳) د ابوحاتم ابن حبان قول مې د يو درجن نه زيات ممکنو مراجعو کښې تلاش کړو.خو ملاؤ نه شو.البته حافظ ابن حجر په الاصابه کښې د واقدی په حوالې سره ۱۰ھ کښې د وفد عبدالقيس راتګ ذکرکړې دې.اوګورئ! لامع الدراری(۲۲۴/۳) كتاب الجمعة او مصنف د تاريخ خميس هم په ۱۰ھ کښې ددې وفد راتګ بيان کړې دې.اوګورئ! تاريخ الخميس (۱۹۴/۱۲)_

(۴) فتح البارى (۸۵/۸)_

(۵) فيض البارى(۱۵۵/۱۱) كتاب الايمان ، باب اداء الخمس من الايمان)_

قران به ئې لوستلو.دهغه ښځې خپل پلار منذر ته ددې ذکر اوکړو. چه زما دخاوند منقذ خو دې ځل څه عجيبه حالت جوړشوې دې.په خاصو وختونو کښې هغه مخ لاسونه وينځي.او بيا مخ په قبله اودريږي.ټيټيږي.او سجده کوي. منذر خپل زوم سره ملاو شو.په دې باره کښې خبره اوشوه.منقذ هغه ته پوره قصه واوروله.په تفصيل اوريدو سره منذر بن عائذ هم مسلمان شو.دهغه د اسلام راوړلو نه پس منقذ بن حيان د رسول الله ﷺ خط هغه ته ورکړو. منذرقبيلې خلقوته هغه خط واورولو.چه په هغې کښې هغوى ته داسلام دعوت ورکړې شوې وو.نو پوره قبيله مسلمانه شوه.او د نبى عليه السلام په خدمت کښې ئې دحاضريدو اراده اوکړله.(١)

کله چه دغه خلق مدينې منورې ته نزدې شو.نو رسول الله ﷺ صحابو ته اوفرمائيل.چه تاسو ته وفد عبدالقيس راروان دې.چه دا د اهل مشرق غوره خلق دى.(٢) او په هغوى کښې منذر بن عائذ اشج عصرى هم دې.کله چه وفد په مدينه منوره کښې مسجد نبوى ته راورسيدو.نو د وفد نور شريکان نبى عليه السلام سره د ملاقات په شوق کښې د سورلو نه په جلتئ سره راکوزشو.اوپه خدمت کښې حاضرشو.خو د وفد امير منذر بن عائذ اشج په آرام راکوز شو.مخکښې ئې خپله سورلي اوتړله.بيا ئې د ټولو ملګرو سامان يوځائې کښې جمع کړو.او بيا صفا کپړې راواخستلې.او وائې غوستلې.ددې نه پس د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل.په تاکښې دوه خويونه داسې دى.چه هغه الله او دهغه رسول ﷺ خوښوى.عقل او وقار،عرض ئې اوکړو.دا دواړه خويونه په ماکښې فطرى دى اوکه مصنوعى دى.نبى عليه السلام اوفرمائيل.بلکه ته الله تعالى هم په دې خويونو باندې پيدا کړې يې.نواشج اووئيل.((الحمدلله الذى جبلنى على خلقتين يحبهما الله و رسوله))(٣)

قوله: حدثنى اسحاق....: حضرت ابوجمره رحمه الله فرمائى.چه ما حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ته اووئيل.چه ما سره يوه چاټئ ده.چه په هغې کښې زما دپاره نبيذ جوړولې شى.هغه نبيذ د خوږيدو په حالت کښې زه څکم.په هم هغه چاټئ کښې هغه پراته وى.که زه دهغې نه زيات اوڅکم.او بيا په ډله کښې کينم.او زيات وخته پورې کينم.نو ماته د رسوا کيدو ويره وى. يعنى کله چه زيات اوڅکم.او بيا ډير وخته پورې مجلس کښې ناست يم.نو ماته دا خطره وى.چه چرته نشه راباندې اونه خيژى.او غلطو خبرو کولو سره زه په خلقو کښې رسوا نه شم. حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ابوجمزه رحمه الله ته د وفد عبدالقيس حديث واورولو.مسئله ئې هم ورته اوخودله.او دليل ئې هم ورته اوخوده.مسئله ئې ورته دا اوخودله.چه داسې چاټئ چه دهغې نرى سورى بند وى.په هغې کښې نبيذ تيارول صحيح نه دى.او دليل ئې دا بيان کړو.چه رسول الله ﷺ وفد عبدالقيس په دبا، حنتم، مزفت او نقير کښې د نبيذ د استعمال نه منع کړې وو. چه په دې کښې د سکر (نشې) پيدا کيدو احتمال وى. نو تاله هم داسې چاټئ

---

١) فتح الملهم (١١/٥٢٤) دلائل النبوة للبيهقى (٥/٣٢٣)_

٢) فتح البارى(٨/٨٥)_

٣) دلائل النبوة للبيهقى(٥/٣٢٧-٣٢٨) باب وفد عبدالقيس)_

استعمالول پکار نه دی.
دې حدیث سره متعلق نور تفصیلات په کتاب الایمان کښې تیرشوی دی.
تنبیه په حاشیه کښې د قسطلانی په حوالې سره لیکلی دی.چه دا د دویم ځل حاضریدو واقعه ده.(۱) خو دا صحیح نه ده.ځکه چه روایت کښې د وفد دا قول منقول دې.چه زمونږ او ستاسو په منځ کښې مضر قبیله آباده ده.مونږ صرف د حرم په میاشتو کښې راتلې شو.د حرم د میاشتو نه علاوه په لاره کښې دهغوی د طرفه د حملې خطره وی.چه ددې نه صفا معلومیږی.چه دا د ړومبی ځل حاضریدو واقعه ده.ځکه چه کله وفد عبدالقیس په دویم ځل حاضرشو وو.هغه وخت قبیله مضر مسلمانان شوی وو.اوهغوی د عبدالقیس او مسلمانانو په منځ کښې حائل نه وو.

بَاب وَفْدِ بَنِي حَنِيفَةَ وَحَدِيثِ ثُمَامَةَ بْنِ أُثَالٍ

بنو حنیفه په عربوکښې د یمامه مشهوره قبیله ده.د فتح مکې نه پس ددې قبیلې وفد د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضرشوې وو.په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله اول د حضرت ثمامه بن اثال رضی الله عنه هغه حدیث نقل کړې دې.په کوم کښې چه دهغه د اسلام راوړلو واقعه بیان کړې شوې ده.ددې نه پس ئې بیا د بنی حنیفه وفد سره متعلق حدیث بیان کړې دې.دحضرت ثمامه رضی الله عنه د اسلام راوړلو واقعه د فتح مکې نه وړاندې ده.خو چونکه هغه د بنی حنیفه قبیلې د سردارانو ځینې وو.په دې وجه امام دا واقعه هم دلته ذکرکړې ده.(۲)

[۴۱۱۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي خَيْرٌ يَا مُحَمَّدُ إِنْ تَقْتُلْنِي تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتُرِكَ حَتَّى كَانَ الْغَدُ ثُمَّ قَالَ لَهُ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ قَالَ مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ فَتَرَكَهُ حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ فَقَالَ أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ فَانْطَلَقَ إِلَى نَجْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ يَا مُحَمَّدُ وَاللَّهِ مَا كَانَ عَلَى الْأَرْضِ وَجْهٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ أَصْبَحَ وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوهِ إِلَيَّ وَاللَّهِ مَا كَانَ مِنْ دِينٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِينِكَ فَأَصْبَحَ دِينُكَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيَّ وَاللَّهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَأَصْبَحَ بَلَدُكَ

---

۱) حاشیه صحیح بخاری (۶۲۷/۲) حاشیه نمبر ۲)_
۲) فتح الباری(۸۷/۸)_

أَحَبَّ الْبِلَادِ إِلَيَّ وَإِنَّ خَيْلَكَ أَخَذَتْنِي وَأَنَا أُرِيدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرَى فَبَشَّرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَنْ يَعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهُ قَائِلٌ صَبَوْتَ قَالَ لَا وَلَكِنْ أَسْلَمْتُ مَعَ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا وَاللَّهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ٤٥٠]

حضرت ابوهريره ﷺ فرمائي.چه رسول الله ﷺ نجد طرف ته سواره روان كړل. هغوى لاړل.او د بنى حنيفه قبيلې يو سړې ثُمامه بن اُثال ئې گرفتار كړو.هغه ئې راوسته.او د مسجد نبوى يوې ستنې سره ئې اوتړلو.رسول الله ﷺ هغه ته تشريف راوړو.او ورته ئې اوفرمائيل.«ما عندك ياثمامة؟» ستا څه اراده ده اې ثُمامه!، ثمامه اووئيل.زما اراده د خير ده.كه تاسو ما قتل كړئ.نو تاسو به يو داسې سړې قتل كړئ.چه هغه د قتل مستحق دې.اوكه ما پريږدئ. نو دا به په يو شكر كونكى سړى باندې ستاسو انعام او احسان وى.اوكه مال غواړئ. نو اوفرمايئ.نبى كريم ﷺ دهغه خبرې واوريدې.او خاموش لاړو.په دويمه او دريمه ورځ هم دغه سوال او جواب اوشو.په دې دوران كښې حضرت ثمامه د مسلمانانو د مانځه او دهغوى د عملونو او ژوند مشاهده كوله.ددې نه پس نبى كريم ﷺ راغې.او وې فرمائيل. ثمامه! ما ته معاف كړې.اوهغه ئې پرانيسته.او آزاد ئې كړو.

ثمامه چه آزاد شو.نو يو نزدې باغ ته لاړه.غسل ئې اوكړو.او د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضرشو.كلمهٔ شهادت ئې اووئيله.او مسلمان شو.اووې وئيل.اې محمد (ﷺ)! په خدائې قسم! په مځ د زمكې ستاسو د مخ نه ماته هيڅ يو مخ زيات ناخوښه نه وو.خو نن ستاسو د مخ نه زيات ماته هيڅ مخ محبوب نه دې.په الله قسم! هيڅ يو دين ماته ستاسو د دين نه زيات ناخوښه نه وو.خو نن ستاسو دين ماته د ټولو نه زيات محبوب دې.ستاسو ښار ماته د ټولو نه زيات ناخوښه وو.خو نن ستاسو ښار ماته د ټولو نه زيات خوښ دې.ما عمره كول غوښتل.چه ستاسو سورو زه اونيولم.اوس ستاسو څه حكم دې؟ (عمره اوكړم اوكه نه؟) رسول الله ﷺ هغه ته زيرې وركړو.او د عمرې اداكولو حكم ئې وركړو.

ددې نه پس حضرت ثمامه مكې ته لاړه.قريشو اووئيل.دا صابى (بې دينه) شوې دې.هغه اووئيل.صابى شوې نه يم.بلكه زه مسلمان شوې يم.او په خدائې قسم! اوس به تاسو ته د يمامه نه د غنمو يوه دانه هم نه راځى.ترڅو چه رسول الله ﷺ اجازت رانكړى.هغه چه يمامه ته لاړه.نو د قريشو غله ئې بنده كړله.چه په دې سره د مكې خلق سخت پريشانه شو.او رسول الله ﷺ ته ئې د رشتې دارئ واسطه وركړله.او درخواست ئې اوكړو.نبى ﷺ ثمامه ته سفارشي خط اوليكه.چه ددوى غله مه بندوه.نو بيا هغوى غله جارى كړله.[1] حضرت ثمامه ﷺ د حضرت صديق اكبر ﷺ په دورخلافت كښې په فتنهٔ ارتداد كښې د مرتدو د لاسه شهيد شو.[2]

---

[1] فتح البارى (٨٨/٨)_

[2] الاصابة فى تمييز الصحابة (٢٠٣/١)_

[٤١١٥] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَقُولُ إِنْ جَعَلَ لِي مُحَمَّدٌ الْأَمْرَ مِنْ بَعْدِهِ تَبِعْتُهُ وَقَدِمَهَا فِي بَشَرٍ كَثِيرٍ مِنْ قَوْمِهِ فَأَقْبَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَفِي يَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِطْعَةُ جَرِيدٍ حَتَّى وَقَفَ عَلَى مُسَيْلِمَةَ فِي أَصْحَابِهِ فَقَالَ لَوْ سَأَلْتَنِي هَذِهِ الْقِطْعَةَ مَا أَعْطَيْتُكَهَا وَلَنْ تَعْدُوَ أَمْرَ اللَّهِ فِيكَ وَلَئِنْ أَدْبَرْتَ لَيَعْقِرَنَّكَ اللَّهُ وَإِنِّي لَأَرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا رَأَيْتُ وَهَذَا ثَابِتٌ يُجِيبُكَ عَنِّي ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُ عَنْ قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ أَرَى الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا أَرَيْتُ فَأَخْبَرَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ فِي يَدَيَّ سِوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَأَهَمَّنِي شَأْنُهُمَا فَأُوحِيَ إِلَيَّ فِي الْمَنَامِ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ بَعْدِي أَحَدُهُمَا الْعَنْسِيُّ وَالْآخَرُ مُسَيْلِمَةُ [ر: ٣٤٢٤]

[٤١١٦] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِخَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَ فِي كَفِّي سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَيَّ فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ [٦٦٣٠، وانظر: ٣٤٢٤]

قوله: مسيلمه كذاب: مسيلمه د بنى حنيفه قبيلې يو سړی وو.دهغه پوره نوم مسيلمة بن ثمامة بن كبير ابن حبيب بن الحارث وو.(١) ابن اسحاق ليكلى دى.چه هغه په ١٠ھ كښې د نبوت دعوه كړې وه.(٢) د قاضى عياض رحمه الله خيال دې.چه اول هغه اسلام قبول كړې وو.ددې نه پس بيا مرتد شو.اودنبوت دعوه ئې اوكړله.(٣) هغه راغې.اووې وئيل. چه كه محمد (ﷺ) دخان نه روستو ما خپل جانشين (خليفه) جوړه وى.نو زه دهغه اتباع كوم.

قوله: وَقَدِمَهَا فِي بَشَرٍ كَثِيرٍ مِنْ قَوْمِهِ: ددې الفاظو نه ښكاره دا معلوميږى.چه هغه سره ډير لوئې جماعت راغلې وو.حالانكه د واقدى په روايت كښې دى.چه هغه سره اوولس سړى وو.په اصل كښې دهغه راتګ دوه ځله شوې دې.يوځل هغه سره اوولس سړى وو.او په دويم ځل زيات وو.(٤)

(١) فتح البارى(٨٩\٨)_
(٢) عمدة القارى(٢٣\١٨)_
(٣) شرح النووى لصحيح مسلم كتاب الرؤيا(٢٤٤\١٢)_
(٤) فتح البارى(٩٠\٨)_

قوله: فَأَقْبَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ: رسول اللهﷺ هغه طرف ته لاړو.او نبیﷺ سره حضرت ثابت بن قیسؓ وو. حضرت ثابت بن قیس بن شماس په خطیب الانصار سره مشهور وو.د شکل او صورت نه ئې رعب داب نه وو.خو په فصاحت او بلاغت او په جزالت کلام کښې ورته الله تعالی ډیر لوئې خصوصیت ورکړې وو.د رسول اللهﷺ په لاس کښې د کجورې د ښاخ یوه حصه وه.نبیﷺ لاړه.او مسیلمه کذاب ته ئې اوفرمائیل.،،ته که زمانه دا څانګه اوغواړې.نو هم به ئې درنکړم،،(خلافت خو ډیر لوئې څیزدې).

قوله: وَلَنْ تَعْدُوَ أَمْرَ اللَّهِ فِيكَ وَلَئِنْ أَدْبَرْتَ لَيَعْقِرَنَّكَ اللَّهُ: او ستا په باره کښې چه د الله تعالی کومه فیصله ده.ته به هغې نه هیڅ کله هم تیر نه شې.(او د الله تعالی فیصله دهغه په باره کښې دا وه.چه هغه جهنمی نامراده او تاوانی دې) اوکه تا زما د اطاعت نه مخ واړولو.نو الله تعالی به ستا خپې ماتې کړی.یعنی هلاك او برباد به دې کړی.نوهم دغه شان اوشوه.چه الله تعالی هغه لره هلاك او برباد کړو.

قوله: وَإِنِّي لَأَرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا رَأَيْتُ وَهَذَا ثَابِتٌ يُجِيبُكَ عَنِّي ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ: او ستا په باره کښې زما خیال دې.چه ته هم هغه ئې.دچا متعلق چه ماته خوب لیدلې شوې دې.او دا ثابت بن قیسؓ به زما د طرفه تاته جواب درکوی.د رسول اللهﷺ خواهش وو.چه هغه سره خبره لږه تفصیل سره اوکړې شی.نو نبیﷺ دا فریضه ثابت بن قیس بن شماسؓ ته اوسپارله.اووې فرمائیل.چه دې به تفصیل سره تاته جواب درکوی. ددې نه دا ثابته شوه.چه د اهل علمو او فاضلانو د خپلو ملګرونه په داسې قسمه معاملاتو کښې مدد حاصلول د رسول اللهﷺ سنت ثابت شوې دې.(۱)
حضرت ابن عباسؓ فرمائی.چه ما د رسول اللهﷺ ددې قول په باره کښې پوښتنه اوکړله. «انی لاراك الذی اریت فیه ما رأیت» چه ددې څه مطلب دې.نوماته حضرت ابوهریرهؓ اوفرمائیل.چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی.چه زه اوده ووم.نو ما اولیدل.چه زما په دواړو لاسونوکښې د سرو زرو دوه کړې (بنګړی) دی.دې حالت زه ډیر غمژن او فکرمند کړم.نو هم په خوب کښې ماته وحی اوکړې شوه.چه تاسو په دې کړو باندې پوك وکړئ.کله چه ما پوك اووهلو.نو هغه دواړه والوتل.نو ما دهغې دا تعبیر اوښکلو.چه دوه دروغژن نبیان به زما نه پس راوځی.په هغوی کښې یو اسود عنسی دې.او دویم مسیلمه دې.
عالمانو دلته دا سوال پورته کړې دې.چه په خوب کښې خپل لاس کښې د دوه کړو لیدلو سره نبیﷺ ته فکر ولې پیداشو؟ بعضې حضراتو وئیلی دی.چه د سرو زرو کړې دنیا ده.او

۱) زادالمعاد(۶۱۳/۳)۔

دنیا سره د نبی ﷺ څه واسطه؟ نبی ﷺ فرمائیلی دی «مالي وللدنیا؟»[1] په دې وجه خپل لاس کښې کړو لیدلو سره نبی ﷺ ته فکر اوشو.اوبعضې حضراتوونیلی دی.چه چونکه دا د ښځو زیور (ښائست) دې.د سرو د استعمال څيز نه دې.په دې وجه نبی ﷺ ته فکر شو.[2] والله اعلم.

کله چه نبی ﷺ په هغې پوکې اووهلو.اوهغه دواړه کړې والوتلې.په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره وه.چه لکه څنګه بې وزنه او بې حقیقته څيز په معمولی پوکی او توجه سره ختمیږی.او زائل کیږی.په دې وجه به نبی ﷺ هغه دواړو دروغژنو نبیانو ختمولو طرف ته معمولی شان توجه اوفرمائی.نو هغوی دواړه به ختم شی.[3]

یو اشکال: په دې روایت باندې اشکال کیږی.چه په دې کښې دی.«**فأولتهما كذابين، يخرجان بعدي**» رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه ما دهغه دواړو کړو نه دا تعبیر واخستلو.چه زما نه پس به دوه دروغژن نبیان ښکاره کیږی.یو اسود عنسی او دویم مسیلمه کذاب، حالانکه دا دواړه د نبی ﷺ نه پس نه، بلکه د نبی ﷺ په ژوند کښې ښکاره شوی وو؟

ددې اشکال جواب ورکولوکښې بعضې حضراتو وئیلی دی.چه د ،،بعدی،، نه مراد ،،بعد موتی،، نه دې.بلکه ددې نه مراد ،،بعد نبوتی،، دې.[4]

بعضې حضراتو یو بل جواب ورکړې دې.چه د نبی ﷺ ددې جملې مطلب دادې.چه زما دوفات نه پس به دهغوی د نبوت د دعوې شهرت اوشی.اګرچه ظهور دهغوی د نبی ﷺ په ژوند کښې اوشی.خو دهغې مشهورتیا به روستو کیږی.[5] خو دا جواب څکه ضعیف دې.چه اسود عنسی خو د نبی ﷺ په ژوند کښې قتل کړې شوې وو.دهغه د نبوت مشهورتیا د نبی ﷺ د وفات نه پس اونشوه.په دې وجه ړومبۍ توجیه راجح ده.

فائده: مسیلمه کذاب د رسول الله ﷺ زیارت کړې دې.اوکه نه؟ مسیلمه کذاب د رسول الله ﷺ زیارت کړې دې.اوکه نه؟ د بخاری د مذکوره روایت نه معلومیږی.چه هغه د نبی ﷺ زیارت کړې دې.او نبی ﷺ دهغه سره خبرې هم کړې دی.

محمد بن اسحاق روایت نقل کړې دې.په هغې کښې دی.چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې کله د بنی حنیفه وفد راغې.په هغې کښې مسیلمه کذاب هم وو.خو هغه دتکبر په وجه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضرنه شو.بلکه د وفد باقی شریکانو د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضری ورکړله.او دې دهغوی د سامان وغیره د حفاظت دپاره روستو پاتې شوې

---

[1] الحديث اخرجه الترمذی فی كتاب الزهد (٥٨٨\٤) عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه. قال نام رسول الله ﷺ على حصير فقام وقد اثر فی جنبه، فقلنا يا رسول الله! لو اتخذنا لک وطاء، فقال مالی وللدنيا ما انا فی الدنيا الا كراكب، استظل تحت شجرة ثم راح وتركها)_

[2] فتح الباری(٤٢٤\١٢) كتاب التعبير، باب النفخ فی المنام)_

[3] فتح الباری(٤٢٤\١٢) كتاب التعبير)_

[4] فتح الباری(٤٢٤\١٢) كتاب التعبير، باب النفخ فی المنام)_

[5] شرح صحيح مسلم للنووی(٢٤\١٢) كتاب التعبير، باب رؤيا النبی ﷺ)_

وو.(۱) حافظ ابن حجر رحمہ اللہ اگرچه ددې روایت تضعیف کړې دې.(۲) خو دواړه روایتونه په دې طریقه جمع کیدې هم شی.چه د بخاری په روایت کښې په دویم ځل د مسیلمه کذاب د راتلو ذکردې.او د محمد بن اسحاق په روایت کښې په ړومبی ځل دهغه د راتلو واقعه بیان کړې شوې ده.او دا خبره مخکښې بیان کړې شوې ده.چه دا سړې دوه ځله وفد سره راغلې دې.
علامه انورشاه کشمیری رحمہ اللہ د محمد بن اسحاق روایت ته ترجیح ورکړې ده.اووئیلی ئې دی.چه دې لعین ته د نبی علیہ السلام زیارت نه دې نصیب شوې.(۳)
خوښکاره داده.چه د بخاری د روایت په مقابله کښې د محمد بن اسحاق روایت ته ترجیح نشی ورکړې کیدې.او حافظ د محمد بن اسحاق د روایت تضعیف هم کړې دې.په دې وجه مولانا بدرعالم میرتهی رحمہ اللہ فرمائیلی دی.چه په اصل کښې مولانا انورشاه کشمیری رحمہ اللہ د رسول الله ﷺ سره د انتهائی درجې محبت او د عظمت د جذبې نه مغلوبه شوې دې.او د ابن اسحاق روایت ته ئې ترجیح ورکړې ده.یعنی هغه دا خبره نه خوښوی.چه داسې بد بخته سړې د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشی.(۴)

[۴۱۱۷] حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ مَهْدِيَّ بْنَ مَيْمُونٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيَّ يَقُولُ كُنَّا نَعْبُدُ الْحَجَرَ فَإِذَا وَجَدْنَا حَجَرًا هُوَ أَخْيَرُ مِنْهُ أَلْقَيْنَاهُ وَأَخَذْنَا الْآخَرَ فَإِذَا لَمْ نَجِدْ حَجَرًا جَمَعْنَا جُثْوَةً مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ جِئْنَا بِالشَّاةِ فَحَلَبْنَاهُ عَلَيْهِ ثُمَّ طُفْنَا بِهِ فَإِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَجَبٍ قُلْنَا مُنَصِّلُ الْأَسِنَّةِ فَلَا نَدَعُ رُمْحًا فِيهِ حَدِيدَةٌ وَلَا سَهْمًا فِيهِ حَدِيدَةٌ إِلَّا نَزَعْنَاهُ وَأَلْقَيْنَاهُ شَهْرَ رَجَبٍ وَسَمِعْتُ أَبَا رَجَاءٍ يَقُولُ كُنْتُ يَوْمَ بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا أَرْعَى الْإِبِلَ عَلَى أَهْلِي فَلَمَّا سَمِعْنَا بِخُرُوجِهِ فَرَرْنَا إِلَى النَّارِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ

ابو رجاء د بنو عطارد قبیلې سره تعلق لری. دده نوم عمران بن ملحان دې.د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې ئې اسلام راوړلې وو.خو د نبی علیہ السلام په خدمت کښې ورته د حاضریدو سعادت حاصل نه شو.(۵) روستو بیا دې سره د خپلې پوره قبیلې د مسیلمه کذاب په مددګارو کښې شامل شوې وو.خو الله تعالی هغه ته دوباره د
اسلام همیشه سعادت ورنصیب کړو.او مسلمان شو.(۶)
دې فرمائی.چه مونږ به دکاڼو عبادت کولو.کله چه به مونږ ته یوکاڼې د مخکنی کاڼې نه ښه ملاو شو.نوهغه ته به مو ترجیح ورکوله.یعنی دهغې عبادت به مو شروع کولو.او

---

۱) سیرة ابن هشام (۲۲۳\۴) قدوم وفد بنی حنیفة ومعهم مسیلمة الکذاب)_
۲) فتح الباری(۸۹\۸)_
۳) فیض الباری(۱۲۲\۴)_
۴) البدرالساری حاشیه فیض الباری(۱۲۲\۴)_
۵) عمدة القاری(۲۵\۱۸)_
۶) ابورجاء عطاردی یوسل اوسل کالو نه زیات عمرئې بیا موندو.او د هشام بن عبدالملک په دورخلافت کښې وفات شو.حالاتو دپاره اوګوری! الاستیعاب لابن عبدالبر(۲۳\۲-۲۶)_

مخکښي به مو پريخودلو.اوکه په داسې ... ئي کښې به وو.چه هلته به کاڼړی نه وو.نو مونږ به دخاورو يو ډيرې جوړ کړو.او چيلۍ به مو راوستله.د خاورو په دغه ډيرى به مو اولوشله.او بيا به مو د دغه ډيری طواف کولو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلي دی.چه په خاوره به ئې پئ ښکه لوشل.چه دا کلکه شی.(1) خو علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه په حقيقت کښې به دغه خلقو د خاورو دغه ډيری سره نزدې د چيلۍ پئ لوشل.او بيا به ئې دهغې صدقه کوله.په حقيقت کښې د چيلۍ پئ لوشل او په خاوره باندې اچول مراد نه دی.(2)

قوله: فَإِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَجَبٍ قُلْنَا مُنَصِّلُ الْأَسِنَّةِ فَلَا نَدَعُ رُمْحًا فِيهِ حَدِيدَةٌ وَلَا سَهْمًا فِيهِ حَدِيدَةٌ إِلَّا نَزَعْنَاهُ وَأَلْقَيْنَاهُ شَهْرَ رَجَبٍ: کله چه به د رجب مياشت داخله شوه.نومونږ به وئيل.چه دا مياشت د نيزو جدا کونکې مياشت ده.نوکومه نيزه او غشې چه به داسې وو.چه په هغې کښې به د اوسپنې پلکې لګيدلې وو.مونږ به هغه اوښکلو.او د پوره رجب دپاره به مو غورځولو.

قوله: فلما سمعنا بخروجه فررنا الى مسيلمة الكذاب: بيا چه کله مونږ د رسول الله ﷺ د ښکاره کيدو خبره واوريده.نو مونږ اور طرف ته يعنی دمسيلمه کذاب طرف ته اوتختيدو. (او دهغه اطاعت مو قبول کړو) دخروج نه د فتح مکې په وخت قريشو باندې غلبه مراد ده.(3)

ددې آخری جملې په مناسبت سره امام بخاری رحمه الله دا حديث په دې باب کښې ذکرکړې دې.

بَابُ قِصَّةِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ

د نبی کريم ﷺ د طرفه په صنعاء يمن باندې يو عامل حضرت باذان رضي الله عنه مقرر وو. اسود عنسی هم په دغه علاقه کښې اوسيده.هغه سره دوه شيطانان اوسيدل.د يو نوم ،،سحيق،، وو. او د دويم نوم ،،شقيق،، وو.دغه دواړو شيطانانو به اسود ته خبرونه خودل.دغه خبرونه به هغه د خلقو په وړاندې بيانول.په دې طريقه يو ډير لوئې جال خور کړې وو.او يو لوئې جماعت هغه طرف ته مائل شوې وو.او هغه سره ملګرې شوې وو.(4)

کله چه دحضرت باذان رضي الله عنه وفات اوشو.نو اسود عنسی په صنعاء يمن باندې قبضه اوکړله. او د حضرت باذان رضي الله عنه ښځې ،،مرزبانه،، سره هغه نکاح هم اوکړله.چونکه هغه ته خطره وه.

---

1) فتح البارى(٨\٩١)_

2) شرح الكرمانى (١٦\١٩٤)_

3) قال الحافظ ومراده بخروجه اى ظهوره على قومه من قريش بفتح مكة وليس المراد مبدأ ظهوره بالنبوة، ولا خروجه من مكة الى المدينة لطول المدة بين ذالک وبين خروج مسيلمة (و انظر فتح البارى(٨\٩١)_

4) عمدة القارى(١٨\٢٦) وفتح البارى(٨\٩٣)_

په دې وجه به هر وخت زرو سپاهيانو دهغه په كور باندې پهره وركوله.
د اسود عنسى كار ختمولو دپاره حضرت فيروز ديلمى رضي الله عنه راغې.هغه د تولو نه مخكښې ,,مرزبانه.. سره رابطه قائمه كړله.هغه مدد دپاره تياره شوه.نو منصوبه جوړه كړې شوه. مرزبانه يوه ورځ اسود عنسى باندې ډير شراب اوڅكول .هغه په نشه كښې بې هوشه شو. حضرت فيروز ديلمى رضي الله عنه او دهغه ملګرو د منصوبې مطابق د شا د طرفه په ديوال كښې غار اوكړو.او وردننه شو.هغه ئې اووژلو.دهغه د قتلولو نه پس دهغه ملګرى هم اوتختيدل. او الله ﷻ دوباره په صنعاء باندې مسلمانانو ته غلبه وركړله.
حضرت فيروز ديلمى رضي الله عنه د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې اطلاع اوليګله.خوكله چه اطلاع اورسيده.نو نبى عليه السلام وفات شوې وو.(۱)
مسيلمه او اسود دواړو د نبى عليه السلام په ژوند كښې د نبوت دعوه كړې وه.خو نبى عليه السلام دهغوى د قتل هيڅ اقدام اونكړو.حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائيلى دى.ددې وجه دا وه.چه چرته دا خبره مشهوره نه شى.چه نبى عليه السلام دخپل اقتدار په خاطرد نورو د شركت نه بغير د نبوت په منصب باندې قبضه كيدل غواړى.ددوى نه علاوه كه بل څوك د نبوت دعوه اوكړى.نو دې دهغه د قتل فيصله كوى.د دروغژن نبى د قتل فيصله شرعى لحاظ سره اګرچه بالكل صحيح او تيك ده.خوبه دې عنوان سره خلق ډير بدګمانه كيدې شى.رسول الله ﷺ ددې مصلحت لحاظ اوساته.او پخپله ئې هيڅ اقدام اونه كړو.دا مرتبه الله تعالى د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه دپاره مقرركړې وه.چه هغوى په خپل دوركښې داسې ډير دروغژن نبيان جهنم ته اورسول.(۲)

[۴۳۸۱] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجَرْمِيُّ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنْ ابْنِ عُبَيْدَةَ بْنِ نَشِيطٍ وَكَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ فِي دَارِ بِنْتِ الْحَارِثِ وَكَانَ تَحْتَهُ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ كُرَيْزٍ وَهِيَ أُمُّ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرٍ فَأَتَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَهُوَ الَّذِي يُقَالُ لَهُ خَطِيبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي يَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضِيبٌ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَكَلَّمَهُ فَقَالَ لَهُ مُسَيْلِمَةُ إِنْ شِئْتَ خَلَّيْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْأَمْرِ ثُمَّ جَعَلْتَهُ لَنَا بَعْدَكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَأَلْتَنِي هَذَا الْقَضِيبَ مَا أَعْطَيْتُكَهُ وَإِنِّي لَأَرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا أُرِيتُ وَهَذَا ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ وَسَيُجِيبُكَ عَنِّي فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ

۱) عمدة القارى(۱۸\۲۶) دحضرت عروه رضي الله عنه يو روايت كښې دى.چه اسود عنسى د رسول الله ﷺ د وفات نه يوه ورځ او يوه شپه مخكښې قتل كړې شو.او د وحى په ذريعه نبى عليه السلام ته دهغه د قتل اطلاع وركړې شوه.نبى عليه السلام صحابو رضي الله عنهم ته اطلاع وركړله.(فتح البارى(۹۳\۸)_
۲) فيض البارى(۱۲۳\۴)_

عَبَّاسٍ عَنْ رُؤْيَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي ذَكَرَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ذُكِرَ لِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُرِيتُ أَنَّهُ وُضِعَ فِي يَدَيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَقُطِعْتُهُمَا وَكَرِهْتُهُمَا فَأُذِنَ لِي فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ أَحَدُهُمَا الْعَنْسِيُّ الَّذِي قَتَلَهُ فَيْرُوزُ بِالْيَمَنِ وَالْآخَرُ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ [ر:٣٤٢٤]

قوله: عَنْ ابْنِ عُبَيْدَةَ بْنِ نَشِيطٍ وَكَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ: دامام بخارى رحمه الله مقصد دادي.چه دلته په سند كښې د ،،ابن عبيده،، نوم مذكور نه دې.خو بل ځائې كښې دهغه نوم ،،عبدالله،، بيان كړې شوې دې.امام بخارى رحمه الله دا وضاحت ځكه اوفرمائيلو.چه د ،،عبيده بن نشيط،،يو ځوئې بل هم دې.دهغه نوم ،،موسى،، دې.اوهغه ضعيف دې.(١) په دې وجه امام بخارى رحمه الله تصريح كړې ده.چه دلته مراد ،،عبدالله،، دې. ،،موسى،،مراد نه دې.

بَابُ قِصَّةِ أَهْلِ نَجْرَانَ

[٤١١٩/٤١٢٠] حَدَّثَنِي عَبَّاسُ بْنُ الْحُسَيْنِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ الْعَاقِبُ وَالسَّيِّدُ صَاحِبَا نَجْرَانَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدَانِ أَنْ يُلَاعِنَاهُ قَالَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ لَا تَفْعَلْ فَوَاللَّهِ لَئِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَاعَنَّا لَا نُفْلِحُ نَحْنُ وَلَا عَقِبُنَا مِنْ بَعْدِنَا قَالَا إِنَّا نُعْطِيكَ مَا سَأَلْتَنَا وَابْعَثْ مَعَنَا رَجُلًا أَمِينًا وَلَا تَبْعَثْ مَعَنَا إِلَّا أَمِينًا فَقَالَ لَأَبْعَثَنَّ مَعَكُمْ رَجُلًا أَمِينًا حَقَّ أَمِينٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قُمْ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ فَلَمَّا قَامَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ

[٤١٢٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا إِسْحَاقَ عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا ابْعَثْ لَنَا رَجُلًا أَمِينًا فَقَالَ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكُمْ رَجُلًا أَمِينًا حَقَّ أَمِينٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهُ النَّاسُ فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ [ر:٣٥٣٥]

[٤١٢١] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ [ر:٣٥٣٤]

نجران د مكې مكرمې نه يمن طرف ته اووه منزله فاصله باندې د يو لوئې ښار نوم دې.د نجران وفد د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې دوه ځله حاضر شوې دې.يو ځلې دا وفد مكې مكرمې ته حاضرشوې دې.هغه وخت دا په شلو سړو

---

١) په اردو كښې هم حاشيه نشته.

باندې مشتمل وو.(۱) او په دويم ځل ددوی وفد ۹ھ کښې راغلې دې.

دلته په روايت کښې چه دکومې واقعې بيان دې.هغه د ۹ھ ده.هغه وخت دا وفد د ابن سعد د بيان مطابق په څوارلسو او د ابن اسحاق د روايت مطابق ۲۴ سړو باندې مشتمل وو.(۲) په دوی کښې درې لوئې سرداران وو.دلته د بخاری په روايت کښې د دوؤ ذکر دې.يو،،سيد،، سره مشهور وو.دهغه نوم ،،ايهم،،يا ،،شرحبيل،، وو.د جماعت ترتيب او د سورلو وغيره انتظام دده په ذمه وو.دويم ،،عاقب،، وو.دهغه نوم ،،عبدالمسيح،، وو.دا د قافلې امير وو.دريم سردار چه دهغه ذکر د بخاری په روايت کښې نشته.،ابوحارثه بن علقمه،، وو.دا دهغوی امام او مذهبی مقتدا وو.(۳)

رسول الله ﷺ هغوی ته د اسلام دعوت ورکړو.او د قرآن تلاوت ئې اوکړو.خو هغوی د اسلام قبلولو نه انکار اوکړو.نبی علیه السلام اوفرمائيل.که تاسو زما د خبرې نه انکار کوئ. نو راشئ زه تاسو سره مباهله کوم.د سورة آل عمران په آيت ﴿تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ....﴾ کښې هم دې مباهلې طرف ته اشاره ده.(۴)دغه خلق د مباهلې دپاره تيارشو.خو سيد ايهم يا عاقب اووئيل.چه که مونږه مباهله اوکړله.او دا واقعی د الله نبی وی.نو مونږ به ټول هلاک او برباد شو.نو دغه خلقو د مباهلې اراده پرېخودله.او راغلل.نبی علیه السلام ته ئې عرض اوکړو.چه تاسو کوم څه جزيه وغيره په مونږ باندې لازموئ.مونږ به ئې درکوو.رسول الله ﷺ په دوه زره حلو (جوړو) باندې هغوی سره صلح اوکړله.زر جوړې په رجب کښې او زر د صفر په مياشت کښې دهغوی په ذمه لازمې کړې شوې.(۵) ابن سعد ليکلی دی.چه سيد ايهم او عاقب دواړه روستو مسلمانان شو.(۶)

فائده : د مباهلې معنی: د مباهلې معنی ملاعنه ده.يعنی د يوبل دپاره د لعنت بددُعا کول. علامه دوانی شافعی رحمه الله يوه مستقل رساله د مباهلې په شرائطو باندې ليکلې ده.په هغې کښې هغوی تفصيل سره د مباهلې شرطونه بيان کړی دی.(۷)

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما، امام اوزاعی رحمه الله او امام شعبی رحمه الله وغيره حضراتو نه نقل د ی.چه هغوی د مباهلې دعوت ورکړو.څوك باطل پرست د حجت تماميدو باوجود که د باطل نه د رجوع کولو دپاره نه تيارېږی.نو د مباهلې دعوت

---

۱) فتح الباری(۹۴/۸)_

۲) فتح الباری(۹۴/۸)_

۳) فتح الباری(۹۴/۸) په دلائل د بيهقی کښې دهغه نوم ابوحارثه راغلې دې.(اوګورئ! دلائل النبوة للبيهقی(۳۸۳/۵)_

۴) دلائل النبوة للبيهقی (۵۸۷/۵)_

۵) فتح الباری(۹۵/۸) وعمدة القاری (۴۷/۱۸)_

۶) فتح الباری(۹۵/۸) وطبقات ابن سعد(۳۸۵/۱)_

۷) فيض الباری(۱۲۴/۴)_

ورکولې شی.حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی.چه تجربه داده.چه د مباهلې کولو نه پس باطل پرست یوکال نه زیاته پورې ژوندې نه پاتې کیږی.هغوی دخپل ځان په باره کښې لیکلی دی.چه یو ملحد سره زما مباهله اوشوه.چه په هغه دوه میاشتې هم نه وې تیرې شوې.چه هغه مړشو.(۱)

بَاب قِصَّةُ عُمَانَ وَالْبَحْرَيْنِ

[۴۳۳] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ سَمِعَ ابْنُ الْمُنْكَدِرِ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ لَقَدْ أَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا ثَلَاثًا فَلَمْ يَقْدَمْ مَالُ الْبَحْرَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَدِمَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ أَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى مَنْ كَانَ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ أَوْ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنِي قَالَ جَابِرٌ فَجِئْتُ أَبَا بَكْرٍ فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ أَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا ثَلَاثًا قَالَ فَأَعْطَانِي قَالَ جَابِرٌ فَلَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ بَعْدَ ذَلِكَ فَسَأَلْتُهُ فَلَمْ يُعْطِنِي ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَلَمْ يُعْطِنِي ثُمَّ أَتَيْتُهُ الثَّالِثَةَ فَلَمْ يُعْطِنِي فَقُلْتُ لَهُ قَدْ أَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي ثُمَّ أَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي ثُمَّ أَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِي فَإِمَّا أَنْ تُعْطِيَنِي وَإِمَّا أَنْ تَبْخَلَ عَنِّي فَقَالَ أَقُلْتَ تَبْخَلُ عَنِّي وَأَيُّ دَاءٍ أَدْوَأُ مِنَ الْبُخْلِ قَالَهَا ثَلَاثًا مَا مَنَعْتُكَ مِنْ مَرَّةٍ إِلَّا وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُعْطِيَكَ وَعَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ جِئْتُهُ فَقَالَ لِي أَبُو بَكْرٍ عُدَّهَا فَعَدَدْتُهَا فَوَجَدْتُهَا خَمْسَ مِائَةٍ فَقَالَ خُذْ مِثْلَهَا مَرَّتَيْنِ [ر: ۲۱۷۴]

بحرین د قبیلهٔ عبدالقیس ښار وو.عمان هغې ته نزدې د یوښار نوم دی.رسول الله ﷺ د اسلام د دعوت دپاره حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه هغه طرف ته اولیګه.د عمان د بادشاه جلندی دوه ځامن وو.د یو نوم ،،جیفر،،وو.او د دویم نوم ،،عیاذ ،،وو.هغوی ته د اسلام د دعوت ورکولو هغه ته نبی علیه السلام خصوصی تاکید اوکړو. حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه لاړلو.او هغوی ته ئې د اسلام دعوت ورکړو.اوهغوی اسلام قبول کړو.(۲) دا د ذیقعده ۸ھ واقعه ده.ددې نه پس دغه خلق د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشو.

دلته په روایت کښې صرف د بحرین ذکردې.د عمان ذکر نشته.امام بخاری رحمه الله ته د عمان په باره کښې هیڅ یو روایت دخپل شرط مطابق ملاؤ نشو.په دې وجه ئې د بحرین روایت ذکر کړو.عمان بحرین ته نزدې واقع دې.

تنبیه:دلته چه دکوم عمان ذکردې.دا بحرین ته نزدې یو ښاردې.ددې ذکر په مختلفو روایاتو کښې ملاویږی.امام احمد بن حنبل رحمه الله یو روایت نقل کړې دې.چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.

((انی لاعلم ارضاًیقال لها ،،عمان،، ینضح بناحیتها البحر، لواتاهم رسولی ما رموه بسهم ولاحجر))(۳)

---

(۱) فتح الباری(۹۵/۸)_
(۲) عمدة القاری(۲۹/۱۸)_
(۳) فتح الباری(۹۶/۸)_

یعنی ماته یوه داسې علاقه معلومه ده.چه هغې ته،،عمان،، وائی.دهغې غاړې سره درياب لګېدلې دې.(يعنې درياب سره پيوست دی) که زما قاصد د عمان اوسيدونکو ته ورشی.
نوهغه خلق به په هغه نه غشی اولی.او نه کاڼړی،،
يوبل ښار، عمان (په فتحې د عين او په تشديد دميم سره) دې.کوم چه نن صباد اردن حکومت دارالسلطنت دی.متقدمين ليکی.چه دا د شام علاقې يو ښار دې.ځکه چه مخکښې دا حصه هم شام کښې شامل وه.دلته هغه مراد نه ده.(۱)

=بَاب قُدُومِ الْأَشْعَرِيّينَ وَأَهْلِ الْيَمَنِ

د اشعريينو وفد د نبی کريمﷺ په خدمت کښې د خيبر فتح کيدو نه پس ۷ھ کښې راغلې دې.او د اهل يمن وفدپه سنة الوفود کښې يعنی ۹ھ کښې راغلې دی.(۲) خو چونکه د اشعريينو تعلق هم يمن سره دی.په دې وجه امام بخاری رحمه الله دواړه يوځائې جمع کړل.امام بخاری رحمه الله په واقعاتو بيانولو کښې لکه څنګه چه د تاريخی ترتيب لحاظ ساتی.هغه شان په بعضو واقعاتوکښې هغوی د تاريخی ترتيب رعايت هم پريخودې دې.د بل څه مناسبت په وجه ئې واقعات يو بل سره يوځائې کړی دی.

قوله: وَقَالَ أَبُو مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ:

[ر:۲۳۵۴] نبیﷺ اوفرمائيل.دا خلق زما ځينی دی.او زه دهغوی نه يم.قاعده داده.چه کله دچا سره څه خاص ربط او تعلق پيدا شی.نوهغه خپل شمارلې کيږی.ددې ارشاد هم دغه معنی ده.

[۴۱۲۳] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ وَإِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَا حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَمَكُثْنَا حِينًا مَا نُرَى ابْنَ مَسْعُودٍ وَأُمَّهُ إِلَّا مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ مِنْ كَثْرَةِ دُخُولِهِمْ وَلُزُومِهِمْ لَهُ [ر:۳۵۵۲]

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمانی.چه کله مونږ د يمن نه راغلو.نو څه مودې پورې مونږ ابن مسعود رضی الله عنه او دهغه مور د اهل بيتو نه ګڼړل.ځکه چه دهغوی نبیﷺ سره تعلق او دهغه سره حاضری داسې وه.لکه چه دخپل خاندان د خلقو او نزدې رشته دارانو وی.

[۴۱۲۴] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ زَهْدَمٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ أَبُو مُوسَى أَكْرَمَ هَذَا الْحَيَّ مِنْ جَرْمٍ وَإِنَّا لَجُلُوسٌ عِنْدَهُ وَهُوَ يَتَغَدَّى دَجَاجًا وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ جَالِسٌ فَدَعَاهُ إِلَى الْغَدَاءِ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ فَقَالَ هَلُمَّ فَإِنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُهُ فَقَالَ إِنِّي حَلَفْتُ لَا آكُلُهُ فَقَالَ هَلُمَّ أُخْبِرْكَ عَنْ يَمِينِكَ

---

۱) فتح الباری(۹۶/۸)_
۲) فتح الباری(۹۷/۸)_

إِنَّا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ الْأَشْعَرِيِّينَ فَاسْتَحْمَلْنَاهُ فَأَبَى أَنْ يَحْمِلَنَا فَاسْتَحْمَلْنَاهُ فَحَلَفَ أَنْ لَا يَحْمِلَنَا ثُمَّ لَمْ يَلْبَثْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُتِيَ بِنَهْبِ إِبِلٍ فَأَمَرَ لَنَا بِخَمْسِ ذَوْدٍ فَلَمَّا قَبَضْنَاهَا قُلْنَا تَغَفَّلْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينَهُ لَا نُفْلِحُ بَعْدَهَا أَبَدًا فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ حَلَفْتَ أَنْ لَا تَحْمِلَنَا وَقَدْ حَمَلْتَنَا قَالَ أَجَلْ وَلَكِنْ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ مِنْهَا وتحللتها [ر: ٢٩٦٤]

دا د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت د زماني واقعه ده. چه حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه د کوفې گورنر جوړشو. او راغې.(١) نود جرم قبیلې هغوی ډیر اکرام اوکړو. هغه داسې چه هغوی سره ئې قیام اوکړو. د هغوی عزت ئې اوساته.

قوله: فأمرلنا بخمس ذود: په دې روایت کښې دی. چه نبی علیه السلام د پنځو اوښانو حکم اوفرمائیلو. په یو بل روایت کښې د «ثلاث ابعرة» دریو اوښانو ذکردې. او بل یو روایت راروان دې. په هغې کښې د شپږو اوښانو ذکردې. ممکن ده. چه جدا جدا واقعات وی. او دا هم کیدې شی. چه پنځه اوښان ئې یوخاص وخت کښې ورکړې وی. او یو اوښ ئې اخستې وی. اوبه هغې کښې شامل کړې وی. او یوه توجیه خو هرځائې کښې چلیدې شی. چه اقل عدد د زیاتو نفی نه کوی.

[٤٣٨٥ ح] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَبُو صَخْرَةَ جَامِعُ بْنُ شَدَّادٍ حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ مُحْرِزٍ الْمَازِنِيُّ حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ قَالَ جَاءَتْ بَنُو تَمِيمٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبْشِرُوا يَا بَنِي تَمِيمٍ قَالُوا أَمَّا إِذْ بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ قَالُوا قَدْ قَبِلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ [ر: ٣٠١٨]

[٤١٢٦] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ هَا هُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الْيَمَنِ وَالْجَفَاءُ وَغِلَظُ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ عِنْدَ أُصُولِ أَذْنَابِ الْإِبِلِ مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا الشَّيْطَانِ رَبِيعَةَ وَمُضَرَ [ر: ٣١٢٦]

[٤١٢٧/٤١٢٩] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ ذَكْوَانَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَصْحَابِ الْإِبِلِ وَالسَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ وَقَالَ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ

---

(١) فتح الباری (٩٨/٨)۔

ذَكْوَانَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۳۱۲۸] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْفِتْنَةُ هَا هُنَا هَا هُنَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ

[۳۱۲۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ أَضْعَفُ قُلُوبًا وَأَرَقُّ أَفْئِدَةً الْفِقْهُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ [ر: ۳۱۲۵]

قوله: الایمان هاهنا: واشار بیده الی الیمن: نبی کریم ﷺ یمن طرف ته اشاره اوکړله.اووې فرمائیل.ایمان دلته دي.او په دویم روایت کښې دی.،الایمان یمان،، ایمان خو یمنی دې.د ایمان نسبت یمن طرف ته دکولو دا وجه وه.چه د یمن خلق پخپله اسلام طرف ته رامخکښې شوی وو.او په ایمانی صفاتو سره ډیر اوچت وو.اوکله چه یو سړې یا یوجماعت په څه خاص صفت سره په امتیازی شان سره موصوف شي.نوهغه وصف هغه سره مخصوص طور باندې ذکرکولې شی.خو ددې مقصد دا هیڅ کله نه وی.چه هغه وصف په نوروکښې نشته.

قوله: والجفاء وغلظ القلوب فی الفدادین: جفاء او د زړونو سختی په فدادینو کښې ده.
د فدادین معنی:د جفاء نه مراد د زړه سختی او د ،،غلظ القلوب،، نه مراد د زړونو غلط فهمی اوکوږوالې دې.او کیدې شی.چه د ،،غلظ القلوب،، عطف په ،،الجفاء،، باندې عطف تفسیری وی.او د دواړو نه مراد د زړه سختی وی.والله اعلم.د ،،فدادین،، په باره کښې دوه خبرې نقل کړې شوی دی:
① فدادین د ،،فداد،، جمع ده.او فداد د ،،فدید،، نه ماخوذ دې.فدید هغه آواز ته وائی. کوم چه د څناورو والا د خپلو څناورو پاسولو، چلولو او تیز تللو دپاره کوی.([1])مطلب دادې. چه کوم خلق اوښان او څاروی ساتی.اوداوښانولکو سره شور کوی.اوچغې وهی.په هغوی کښې د زړونو سختی، کوږوالې اوکم عقل توب وی.
② دویم صورت دادې.چه فدادین د دال تخفیف سره د ،،فدان،،جمع ده.د فدان معنی ده. ،،آلة الحرث،،([2]) په دې صورت کښې به مضاف محذوف منلې شی. یعنی «الجفاء وغلظ القلوب فی اصحاب الفدادین عند اصول اذناب الابل»

قوله: من حیث یطلع قرنا الشیطان ربیعة ومضر: مشرق طرف ته اشاره ده.دا اشاره

---

[1] عمدة القاری(۳۱۱۱۸)_
[2] عمدة القاری(۳۱۱۱۸)_

مشرق ته ددې دپاره شوې ده.چه کوم وخت نمر راخیژی.شیطان دهغې په برابر اودریږی.او کوم خلق چه نمر ته سجدې کوی.دې دخپل ځان دهغوی د معبود په حیثیت سره د ښکاره کولو کوشش کوی.(۱)

دلته ،،قرنا الشیطان،، مبدل منه دې.او ،،ربیعة ومضر،، دهغې نه بدل دې.ربیعه او مضر دواړه ئې د شیطان ښکرې اوګرځولې.چونکه دغه وخته پورې هغې خلقو اسلام نه وو راوړلې.او په شیطانی صفاتو او حرکتونو کښې به وراندې وو.په دې وجه نبی علیه السلام هغوی ته ،،قرنا الشیطان،، اوفرمائیل.

قوله: حدثنا محمد بن بشار..... هم ارق افئدة والین قلوباً:داخلق په زړه نری او نرم زړه والا دی.بعضې عالمانو په ،،فؤاد،، او ،،قلب،، کښې فرق بیان کړې دې.چه ،،فؤاد،، غشاء القلب یعنی د زړه پردې ته وائی.که دغه پرده نرئ وی.نو وعظ او نصیحت په زړه باندې زر اثر کوی.اوکه هغه سخته وی.نو د نصیحت اثر زر نه کیږی.مطلب دادې.چه د یمن دخلقو زړه هم نرم دې.او د هغوی په زړه باندې پرده هم نرئ ده.(۲)

قوله: والحکمة یمانیة:

د حکمت معنی: دحکمت په باره کښې مختلف اقوال علماؤ بیان کړی دی.بعضو وئیلی دی.

«الحکمة الفهم عند الله وقیل التفقه فی الدین، وقیل الاصابة فی القول والعمل»(۱) وقیل غیر ذالك»

قوله: والفخر والخیلاء فی اصحاب الابل،والسکینة والوقار فی اهل الغنم:فخر او تکبر په اوښانو والا کښې دې.او عاجزی او وقار په ګډبه کښې دې.په حقیقت کښې چه صحبت دکوم څیزهم وی.په انسان باندې دهغې اثر ضرور کیږی .په اوښانو کښې د لوئې والی او تکبر صفت موجود وی.نو دهغې د صحبت په اثر سره دا صفت د اوښانو والا طرف ته هم منتقل کیږی.او چیلئ یو مسکین (عاجزه) ځناور دې.نو کوم خلق چه ګډو سره هر وخت اوسیږی.په هغوی کښې عاجزی او وقار راځی.

[۴۱۳۰] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ ابْنِ مَسْعُودٍ فَجَاءَ خَبَّابٌ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَيَسْتَطِيعُ هَؤُلَاءِ الشَّبَابُ أَنْ يَقْرَءُوا كَمَا تَقْرَأُ قَالَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ شِئْتَ أَمَرْتُ بَعْضَهُمْ يَقْرَأُ عَلَيْكَ قَالَ أَجَلْ قَالَ اقْرَأْ يَا عَلْقَمَةُ فَقَالَ زَيْدُ بْنُ حُدَيْرٍ أَخُو زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ أَتَأْمُرُ عَلْقَمَةَ أَنْ يَقْرَأَ وَلَيْسَ بِأَقْرَئِنَا قَالَ أَمَا إِنَّكَ إِنْ شِئْتَ أَخْبَرْتُكَ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْمِكَ وَقَوْمِهِ فَقَرَأْتُ خَمْسِينَ آيَةً مِنْ سُورَةِ مَرْيَمَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ كَيْفَ تَرَى قَالَ قَدْ أَحْسَنَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ مَا أَقْرَأُ شَيْئًا إِلَّا وَهُوَ يَقْرَؤُهُ ثُمَّ

---

۱) عمدة القاری(۱۸\۳۱)_

۲) عمدة القاری(۱۸\۳۳) وفتح الباری(۸\۱۰۰)_

الْتَفَتَ إِلَى خَبَّابٍ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ أَلَمْ يَأْنِ لِهَذَا الْخَاتَمِ أَنْ يُلْقَى قَالَ أَمَا إِنَّكَ لَنْ تَرَاهُ عَلَيَّ بَعْدَ الْيَوْمِ فَأَلْقَاهُ رَوَاهُ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ

حضرت علقمه رحمه الله فرمائی.چه مونږ دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره ناست وو.چه په دې کښې حضرت خباب بن ارت رضي الله عنه تشریف راوړه.او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته ئې اووئیل.تاسو سره ناست دا ځوانان ستاسو په شان قرآن لوستلې شي؟ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل.که تاسو غواړئ.نو زه به یوکس ته د تلاوت دپاره اووایم.وې وئیل.ضرور اووایه.حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل.اې علقمه! ته اولوله.په دې باندې د مشهور تابعي زیاد بن حدیر ورور زید بن حدیر حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته اووئیل..،تاسو علقمه ته د تلاوت کولو دپاره فرمایئ.حالانکه هغه زمونږ ټولو نه ښه قاری نه دې،، نو حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه زید بن حدیر ته اوفرمائیل.

قوله: أَمَا إِنَّكَ إِنْ شِئْتَ أَخْبَرْتُكَ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْمِكَ وَقَوْمِهِ: ،،یعنی که ته غواړې.نو زه به تاته هغه حدیث واوروم.کوم چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ستاد قوم او د علقمه د قوم په باره کښې فرمائیلې دې،،

دلته په بخاری کښې ددې حدیث ذکرنشته.په حقیقت کښې د علقمه تعلق نخع قبیلې سره وو.چه دا د یمن مشهوره قبیله ده.ا د زید بن حدیر تعلق بنو اسد سره وو.رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې دواړو قبیلو (د نخع او بنواسد) باره کښې چه کوم حدیث بیان کړې دې.هغه امام احمد رحمه الله پخپل ..مسند،،کښې دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل کړې دې.چه هغوی اوفرمائیل.

قوله: شهدت رسول الله صلى الله عليه وسلم يدعو لهذا الحي من النخع و يثني عليهم حتى تمنيت انى رجل منهم: (۲)،،حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی.چه زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر ووم. نبی عليه السلام د نخع قبیلې دپاره دعا اوفرمائیله.اودهغوی تعریف ئې اوکړو. تردې چه زما خواهش پیدا شو.چه زه هم ددغه قبیلې یوکس وې،،

اودبنواسد باره کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل((ان جهينة وغيرها خير من بني اسد))(۳) د بنواسد په مقابله کښې نبی عليه السلام جهینه او نورو قبیلو ته ترجیح ورکړله.نو حضرت عبدالله بن

دتیرمخ حاشیه] ۱) روح المعانی (۴۱۱۳)علامه آلوسی لیکلی دی.چه د حکمت په تفسیر کښې د عالمانو یوکم څلویښت اقوال دی.علامه نووی رحمه الله دحکمت جامع تعریف کولوکښې لیکلی دی.((والذى صفا لنا منها، ان الحكمة عبارة عن العلم المتصف بالاحكام المشتمل على معرفة الله تعالى المصحوب بنفاذ البصيرة، وتهذيب النفس، وتحقيق الحق، والعمل به، والصد عن اتباع الهوى والباطل)) (شرح مسلم للنووى: ۵۳۱۱)_

۲) فتح البارى(۱۰۰۱۸)_

۳) فتح البارى(۱۰۰۱۸)_

مسعود رضی الله عنه زید بن حدیر ته مخاطب شو.اووې وئیل.

قوله: أَمَا إِنَّكَ إِنْ شِئْتَ أَخْبَرْتُكَ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْمِكَ وَقَوْمِهِ: په دې جملې سره هغوی د حضرت علقمه دترجیح وجه اوخودله.چه دده د قوم تعریف نبی علیه السلام فرمائیلې دې.اوستا قوم ئې خو د جهینه په مقابله کښې هم مرجوح ګرخولې دې.

حضرت علقمه فرمائی.چه بیا ما د سورة مریم د پنځوسو آیاتونو تلاوت اوکړو.حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دحضرت خباب رضی الله عنه نه تپوس اوکړو.چه تلاوت ئې څنګه اوکړو؟ هغه اووئیل.

،،قد احسن،، ډیرښه تلاوت ئې اوکړو.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوکتل.چه دحضرت خباب رضی الله عنه په لاس کښې د سرو زرو ګُتمه ده.نوهغه ته ئې اوفرمائیل.لا تراوسه پورې تا دا ګُتمه نه ده غورځولې.حضرت خباب رضی الله عنه اووئیل.چه ډنن نه پس به تاسو زما په لاس کښې دا ګُتمه کله هم نه وینئ.نو هغه ګُتمه هغوی اوښکله.

په دې روایت کښې دحضرت علقمه د قبیلې نخع ذکر ضمنی طور باندې په دې طریقه راغلې دې.چه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل. «إِنْ شِئْتَ أَخْبَرْتُكَ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْمِكَ وَقَوْمِهِ» او نخع د یمن قبیله ده.په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا روایت په دې باب کښې ذکرکړو.

فائده: حضرت خباب بن ارت رضی الله عنه د سرو زرو دګُتمې استعمال غالباً هغه دحرمت حدیث په نهی تنزیهی باندې محمول کولو.اودا هم کیدې شی.چه د نهی حدیث هغه ته نه وی رسیدلې.کله چه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د سرو دپاره ددې د استعمال حرمت اوخودلو.نو هغه ددې استعمال پریخوده.([1])

حضرت علقمه رحمه الله: حضرت علقمه رحمه الله دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوچتو شاګردانو څینې وو.علامه ذهبی رحمه الله د رباح قول نقل کړې دې.چه «اذا رأیت علقمة فلا یضرك ان لا تری عبدالله»([2]) یعنی که تا علقمه اولیده.نو دا خبره ستا دپاره هیڅ نقصان نه درکوی .چه تا حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اونه لیده.او دا ځکه چه علقمه د خپل استاذ د علومو محافظ او دهغه د سیرت او کردار نمونه وه.

دحضرت علقمه وفات د یزید په دورخلافت کښې ۶۲ھ کښې اوشو.لس کم سل کاله عمر ئې وو.([3])

---

[1]) فتح الباری(۸\۱۰۱)_
[2]) سیراعلام النبلاء (٤\۵۵)_
[3]) سیراعلام النبلاء (٤\۶۱)_

بَاب قِصَّةُ دَوْسٍ وَالطُّفَيْلِ بْنِ عَمْرٍو الدَّوْسِيِّ

[۴۱۳۱] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ ابْنِ ذَكْوَانَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ دَوْسًا قَدْ هَلَكَتْ عَصَتْ وَأَبَتْ فَادْعُ اللَّهَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ [ر: ۲۷۷۹]

يمن اودهغې په خواوشا علاقوکښې دوس قبيله آباده وه.ددې قبيلې دټولو نه ړومبې سړې چه هغه اسلام قبول کړو.هغه طفيل بن عمرو وو.دا د دوس قبيلې سرداروو.قريشوسره دهغوى حليفانه(د ملګرتيا) تعلقات وو.د هجرت نه مخکښې دې مکې مکرمې ته راغې.نو د قريشو بعضې خلقو هغه ته اوونيل.چه نن صبا په مونږ کښې يو سړې پيدا شوې دې.چه هغه ټول خلق په فتنه کښې اچولى دى.دهغه کلام ډير ساحرانه دې.په پلار اوخوى او ښځه خاوند کښې هم جدائى راولى.په دې وجه تاسو کوشش اوکړئ.چه دهغه هيڅ خبره ستاسو غوږونو ته راونه رسى. حضرت طفيل بن عمرو لره قريشو دومره اويرولو.چه هغه په خپلو غوږونوکښې مالوچ کيخودل.چه د نبى عليه السلام څه خبره په غوږ کښې رانه شى.

يوه ورځ سحر وختى حضرت طفيل رضي الله عنه خانه کعبې ته تلې وو.هلته رسول الله صلى الله عليه وسلم د سحر مونځ کولو،او د قرآن شريف تلاوت ئې لوستلو.هغه سوچ اوکړو.چه آخر زه عقل او پوهه لرم. په ښه او بده خبره کښې فرق کولې شم.د نبى صلى الله عليه وسلم کلام ماله اوريدل پکاردى.که ښه وى. نو قبول به ئې کړم.اوکه بد وى.نو پرې به ئې ګدم. حضرت طفيل بن عمرو رضي الله عنه قرآن واوريده.او دومره متاثره شو.چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم فارغ شو.او کورته ئې تشريف راوړه.نو حضرت طفيل هم د نبى صلى الله عليه وسلم کورته راغې. اودټولې واقعې اورولو نه پس ئې عرض اوکړو.چه تاسو راته خپل دين پيش کړئ. نبى کريم صلى الله عليه وسلم د اسلام تعارف اوکړو.او هغه اسلام قبول کړو.(١)

نبى کريم صلى الله عليه وسلم هغه لره دوس قبيلې طرف ته د اسلام دعوت ورکولو دپاره اوليګه. هغوى اوونيل.«اجعل لى آية»اې دالله رسوله!ماته څه نخښه راکړئ.نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. «اللهم نور له» اې الله! دده ته نور ورکړې.نو دهغه د سترګو په منځ کښې الله تعالى يو نور پيدا کړو.خوبيا ئې دعا اوکړه.«يا رب! اخاف يقولوا انه مثله» اې زما ربه! ماته يره ده.چه خلق په دې نور کتلو سره دا اونه وائى.(چه د پلار نيکونو دين پريخودو په وجه) دا مثله شو.الله جل جلاله هغه نور دهغه کوړې طرف ته منتقل کړو.دهغه کوړه به په توره تياره شپه کښې د ډيوې پشان رڼا کوله.(٢)

هغه چه لاړو.نو پخپله قبيله کښې ئې د اسلام تبليغ شروع کړو.چه په دې سره دهغه پلار مسلمان شو.خو دهغه مور اسلام قبول نکړو.حضرت ابوهريره رضي الله عنه هم دهغه په دعوت سره اسلام قبول کړو.(٣) باقى خلقو د اسلام قبلولو نه انکار اوکړو.دې نا اميده شو.او د نبى صلى الله عليه وسلم

---

١) دمذكوره واقعې دپاره اوګورئ: دلائل د بيهقى(۵/۳۶۰-۳۶۱) باب قصة دوس)_

٢) فتح البارى(۱۰۲/۸)_

٣) فتح البارى(۱۰۲/۸)_

په خدمت کښې حاضرشو.او عرض ئې اوکړو.لکه څنګه چه دلته د باب په ړومبی روایت کښې راغی.«ان دوساً قد هلکت وابت فادع الله علیهم» یعنی دوس قبیله هلاکه شوه.نافرمانی ئې اوکړله.داسلام قبلولونه ئې انکار اوکړو.نو تاسو هغوی دپاره بددعا اوکړئ.رسول اللهﷺ د بددُعا په ځائې دعا اوفرمائیله.«اللّهمّ اهد دوساً وائت بهم» اې الله! دوس قبیلې ته هدایت ورکړې.اوهغوی زما خواته راولې،، ددې نه روستو الله تعالی دغه قبیلې ته هدایت ورکړو. او ۷۰ یا ۸۰ سرې د نبیﷺ په خدمت کښې حاضرشو.اسلام ئې راوړه.د دوس دا وفد په سن۷ھ کښې راغلې دې.(۱) والله اعلم.

[۴۱۳۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ قَيْسٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ فِي الطَّرِيقِ
يَا لَيْلَةً مِنْ طُولِهَا وَعَنَائِهَا ::: عَلَى أَنَّهَا مِنْ دَارَةِ الْكُفْرِ نَجَّتِ وَأَبَقَ غُلَامٌ لِي فِي الطَّرِيقِ فَلَمَّا قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَبَيْنَا أَنَا عِنْدَهُ إِذْ طَلَعَ الْغُلَامُ فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ هَذَا غُلَامُكَ فَقُلْتُ هُوَ لِوَجْهِ اللَّهِ فَأَعْتَقْتُهُ [ر: ۲۳۹۳]

حضرت ابوهریره رضی الله عنه: حضرت ابوهریرهؓ فرمائی.چه کله زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضریدو دپاره روان شوم.نو په لاره کښې ما دا شعر اووئیلې.

یالیلة من طولها وعنائها . علی انها من دارة الکفر نجت

,,هائې شپې! ته څومره اوږده یې.او ستا تکلیف څومره د برداشت نه بهردې.خو ستا دا فضیلت هم شته.چه تا ماته د دارالکفر نه نجات راکړو،،

زما غلام په لاره کښې زما نه تختیدلې وو.کله زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضرشوم.هغه سره مې بیعت اوکړو.اوس لا زه د نبیﷺ سره ناستووم.چه هغه غلام رابنکاره شو.رسول اللهﷺ اوفرمائیل.ابوهریره! دا ستا غلام دې؟ ما اووئیل.هغه د الله د رضا دپاره آزاد دې.

حضرت ابوهریرهؓ په سن۷ھ کښې مسلمان شوې دې.چونکه دهغه تعلق هم دوس قبیلې سره دې.(۲) په دې وجه امام بخاریؒ دا روایت په دې باب کښې بیان کړو.

تنبیه: زمونږ په نسخو کښې«هولوجه الله فاعتقته» دې.د حاشیې په نسخو کښې «هوحرّ لوجه الله» دې.خو هغه صحیح نه دې.څکه چه دا دمحمد بن العلاء روایت دې. اوددې روایت په باره

---

(۱) دلائل بیهقی(۳۶۲/۵)_

(۲) دحضرت ابوهریرهؓ نوم اوریدو سره د حدیثو شوق لرونکو په زړونو کښې د محبت چینې راخوټکیږی.ددوی نه پنځه زره درې سوه او پنځه اویا احادیث منقول دی.ددوی دنوم باره کښې مختلف اقوال دی.زیات مشهور ،،عبدالرحمن بن صخر،، دې.په مدینه منوره کښې ۵۷ھ یا ۵۸ھ کښې وفات شو.(اوګورئ! عمدة القاری (۱۸/۳٤-۳۵)_

كنبې امام بخاری رحمه الله په كتاب العتق صفحه ۳۴۴ كنبې تصريح كړې ده.چه په دې كنبې ،،هوحرٍ،، نه دي واقع شوي.(۱)

بَاب قِصَّةِ وَفْدِ طَيِّئٍ وَحَدِيثُ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ

[۴۳۳] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ أَتَيْنَا عُمَرَ فِي وَفْدٍ فَجَعَلَ يَدْعُو رَجُلًا رَجُلًا وَيُسَمِّيهِمْ فَقُلْتُ أَمَا تَعْرِفُنِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ بَلَى أَسْلَمْتَ إِذْ كَفَرُوا وَأَقْبَلْتَ إِذْ أَدْبَرُوا وَوَفَيْتَ إِذْ غَدَرُوا وَعَرَفْتَ إِذْ أَنْكَرُوا فَقَالَ عَدِيٌّ فَلَا أُبَالِي إِذًا

د قبيلهٔ طی وفد كوم چه د رسول الله ﷺ په خدمت كنبې راغلي دې.خليفه بن خياط پخپل تاريخ كنبې ددې خبرې تصريح كړې ده.چه دا وفد مخكښې راغلي دې.او دحضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه حاضری د نبی عليه السلام په خدمت كنبې ددې نه پس شوې ده. عدی بن حاتم رضي الله عنه په ۹ه يا ۱۰ه كنبې اسلام قبول كړو.(۱) دا د مشهور جواد او سخی حاتم طائی خوئې دې.

حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه فرمائی.چه مونږ د حضرت عمر رضي الله عنه په دورخلافت كنبې هغه ته راغلو.حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه د وفد په كسانو كنبې يويو كس ته د هغه نوم اخستلو سره رابلل شروع كړل.خوعدی بن حاتم رضي الله عنه ئې راؤنه غوښتلو.عدی بن حاتم رضي الله عنه چونكه د يو ډير لوئې سردار خوئې دې.په جود او سخا كنبې ډير مشهور وو.په دې وجه دهغه خيال دا وو.چه ما لره نظر انداز كول پكار نه دی.نو هغه حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ته اووئيل.«اما تعرفنی يا اميرالمؤمنين؟» اې امير المؤمنين! آيا ما نه پيژنې؟ اميرالمؤمنين جواب وركړو.ولې نه، «اسلمت اذ كفروا ،واقبلت اذ ادبروا،ووفيت اذغدروا،وعرفت اذ انكروا»ته هغه وخت مسلمان شوې.كوم وخت چه دا خلق كافر وو.اوته هغه وخت حاضر شوې.كوم وخت چه دوی شا اوګرځوله.اوتا هغه وخت وفا اوكړله.كوم وخت چه دې خلقو دهوكه او بې وفائی اوكړله.او تا هغه وخت (اسلام) اوپيژندو.كوم وخت چه دوی د اجنبی كيدو اظهار اوكړو.

د نبی كريم ﷺ د وفات نه پس د طی قبيلې بعضې خلق مرتد شوی وو.او د زكواة وركولو نه ئې انكاركړې وو.دغه شان ددې قبيلې خينې خلقو په مسيلمه كذاب باندې ايمان راوړلې وو.خو حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه د اسلام رسۍ مضبوطه نيولې وه.او كوم خلق چه دده ماتحت وو.هغوی ئې د مرتد كيدو نه او په مسيلمه باندې د ايمان راوړلو نه منع كړل.

«واقبلت اذادبروا، ووفيت اذغدروا، وعرفت اذانكروا» نه حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه هم دې طرف ته اشاره كړې ده.(۲) كله چه حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه دا جمله اووئيله.نو حضرت عدی رضي الله عنه

---

۱) صحيح بخاری، كتاب العتق، باب اذا قال لعبده هولله ونوی العتق (۲۵۴۱)۔

اوونیل.«فلا أبالی اذاً» بیا خو زما هیڅ پرواه نشته.یعنی هرکله چه تاسو ما داسې پیژنئ.نوکه زه دې راونه غوښتم.نو هیڅ پرواه نشته.

حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه د اسلام راوړلو نه وړاندې نصرانی وو.په ۹هـ یا ۱۰هـ کښې ئې اسلام راوړه.د عراق په فتح کښې شریك شو.په جنګ صفین کښې دحضرت علی رضی الله عنه د طرفه جنګ کولوکښې شهید شو.یوسل اوشل کاله. یا شل کم دوه سوه کاله عمر ئې وو.(۳)

بَاب حَجَّةِ الْوَدَاعِ

امام بخاری رحمه الله ترتیب سره د سیرت واقعات ذکرکوی.د سن ۱ هجری نه واخله د سن ۱۰هجری پورې د غزواتو، سرایا او وفودو ذکرکولو نه پس اوس په سن۱۰هری کښې واقع شوې د رسول الله ﷺ دهغه آخری حج ذکرکوی.کوم چه په تاریخ اسلام کښې د حجة الوداع په نوم سره مشهور دې.

د حجة الوداع څلور نومونه:ددې حج څلور نومونه دی:

① حجة الوداع ② حجة الاسلام ③ حجة التمام ④ حجة البلاغ (۴)

دې ته حجة الوداع ځکه وائی.چه په دې کښې رسول الله ﷺ خلقو ته الوداع وئیلې وه.او فرمائیلی ئې وو.«لعلی لاالقاکم بعدعامی هذا» شاید ددې نه پس زما تاسو سره ملاقات اونه شی.

حجة الاسلام ورته ځکه وائی.چه دا د رسول الله ﷺ دحج فریضه وه.د حج د فرضیت نازلیدو نه د اسلامی رکن کیدو په حیثیت سره نبی علیه السلام هم دا حج ادا کړو.

حجة التمام ورته ځکه وائی.چه ددې حج په موقعه باندې د قرآن شریف آیت ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾ نازل شو.

اودې ته حجة البلاغ ځکه وائی.چه نبی کریم ﷺ په دې حج کښې مختلفې خطبې ارشاد اوفرمائیلې.اودخطبو نه پس نبی علیه السلام اوفرمائیل.«الاهل بلغت، الاهل بلغت» یعنی آیا ما د الله پیغام تاسو ته اورسولو.(۵)

ددې حج دپاره دمخکښې نه اعلان شوې وو.چه دې کال به رسول الله ﷺ حج کولودپاره ځی.امام مسلم، امام ابوداوٗد او ابن ماجه دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې.چه ددې اعلان نه پس د خلقو لوئې تعداد مدینې منورې ته راغې. ټولو د رسول الله ﷺ سره حج کول غوښتل.(۱)

د تیر مخ حاشیه] (۱) عمدة القاری(۳۵\۱۸)_

(۲) فتح الباری(۱۰۳\۸)_

(۳) الاصابة فی تمییز الصحابة(۴۶۸\۲)_

(۴) تاریخ الخمیس فی احوال انفس نفیس (۱۴۸\۲)_

(۵) عمدة القاری(۳۶\۱۸)_

حج دپاره روانګی د ذی قعده میاشت شروع کیدو سره نبی کریم ﷺ د حج تیاری شروع کړله. او صحابو ته ئې حکم اوکړو.چه هغوی هم دحج تیاری اوکړی.په ۲۵ ذیقعده ۱۰ھ د هفتې په ورځ رسول الله ﷺ د زرګاؤ صحابو رضی الله عنهم یو عظیم الشان او مبارک جماعت دخان سره کړو.او حج دپاره مکې مکرمې طرف ته روان شو.ابن حزم وغیره د زیارت ورځ د نبی علیه السلام د وتلو خودلې ده.خو حافظ ابن کثیر دټولو روایاتو دتحقیق کولو نه پس لیکلی دی.چه د هفتې په ورځ نبی علیه السلام د مدینې منورې نه روان شوې دې.(۱) دهفتې د ماسپخین مونځ په مدینه منوره کښې کولو نه پس نبی علیه السلام روان شو.ټول ازواج مطهرات (۲)او حضرت فاطمه رضی الله عنها (۱) په دې سفرکښې ورسره وو.

د صحابو رضی الله عنهم تعداد په دې موقعه د صحابو رضی الله عنهم خومره تعداد د نبی علیه السلام سره وو.په دې باره کښې څه حتمی خبره نشی کیدې.امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی.چه څلوېښت زره ته نزدې خلق دغه وخت نبی علیه السلام سره وو.حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائیلی دی.«ووافاه فی الطریق خلائق لایحصون»(۵) دهغوی د شمیر حقیقی تعداد نشی معلومیدې.مولانا یونس صاحب دامت برکاتهم فرمائیلی دی.چه امام نووی رحمه الله په ،،شرح مهذب،، کښې لیکلی دی. چه په حجة الوداع کښې د شرکت کونکو تعداد یولاکهـ څلیریشت زره وو.(۶) خو په حقیقت کښې د امام نووی رحمه الله نه په نقل کښې غلطی واقع شوې ده.اګرچه په دې نقل باندې اعتماد کولو سره د مشکواة شارحینو هم د یولاکهـ څلیریشتو زرو قول نقل کړې دې.(۷)

واقعه داده.چه امام نووی رحمه الله دا قول د ابوزرعه رازی رحمه الله نه نقل کړې دې.او امام ابوزرعه رازی یو لاکهـ څلیرشت زره تعداد نه دې خودلې.بلکه څلوېښت زره تعداد ئې خودلې دې.لکه چه ابن الصلاح په ،،مقدمة علوم الحدیث،، کښې د ابوزرعه رازی پوره کلام نقل کړې دې.په هغې کښې دی.«شهد مع النبی ﷺ حجة الوداع اربعون الفاً، وشهد معه تبوك سبعون الفاً...قبض رسول الله ﷺ عن مائة الف و اربعة عشر الفاً من الصحابة ممن روی عنه وسمع منه»(۸) په دې

د تیرمخ حاشیه] (۱) صحیح مسلم، کتاب الحج، باب حجة النبی ﷺ (۳۹٤\۱) وسنن ابی داؤد، کتاب المناسک، باب صفة حجة النبی ﷺ (۱۸۲\۲) رقم الحدیث (۱۹۰۵) وسنن ابن ماجه، کتاب المناسک، باب حجة رسول الله ﷺ (۱۰۲۲\۲) رقم الحدیث (۳۰۷٤)_

(۱) البدایة والنهایة(۱۱۲\۵) زادالمعاد (۱۰۲\۲-۱۰۶)_

(۲) زاد المعاد(۱۰۶\۲)_

(۱) دلائل النبوة للبیهقی(٤۳۵\۵)_

(۵) زاد المعاد(۱۰۲\۲)_

(۶) د امام نووی رحمه الله دا قول په شرح مهذب کښې احقر ته ملاو نه شو.والله اعلم_

(۷) التعلیق الصبیح (۱۹۲\۳)_

(۸) مقدمة ابن الصلاح(۱۲۷-۱۲۸)_

كښې تصريح ده.چه دحجة الوداع په موقعه باندې رسول الله ﷺ سره څلويښت زره، غزوهٔ تبوك كښې اويا زره، او د نبى عليه السلام د وفات په وخت يو لاكهـ څوارلس زره صحابه رضي الله عنهم وو.چه هغوى د نبى عليه السلام نه روايت كړې دې.او د نبى عليه السلام نه ئې اوريدلى دى.

دمدينې اومكې دا سفر نهه ورځې جارى وو.او په ۴ ذى الحجه د اتوار په ورځ نبى عليه السلام مكې مكرمې ته داخل شو.د ذى قعده ۲۵ تاريخ د هفتې په ورځ د نبى عليه السلام روانګى شوې وه.خو په دې كال د ذى قعده مياشت د يوكم ديرشو وه.پنځه ورځې د ذى قعده (يعنى ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، او۲۹)او څلور ورځې د ذى الحجې په سفركښې تيرې شوې.(۱)

د حج ادائيګى او واپسى: په دې كال نهم ذى الحجه باندې د جمعې ورځ وه.رسول الله ﷺ په دغه ورځ د حج لوئې ركن (وقوف عرفه) اداكړو.او په ميدان عرفات كښې نبى عليه السلام يوه بليغ خطبه وركړله.چه هغه د خطبه حجة الوداع په نوم سره مشهوره ده.چه دهغې تفصيل روستو په روايت كښې راروان دې.په لسم ذى الحجه نبى عليه السلام منى ته لاړو .او هلته نبى عليه السلام درى شپيته اوښان قربانى كړل.۳۷ اوښان حضرت على رضي الله عنه د نبى عليه السلام د طرفه ذبح كړل.دغه شان تول سل اوښان د نبى عليه السلام د طرفه قربانى كړې شو.(۲) ددې نه پس بيا نبى عليه السلام حلق اوكړو.(سر ئې اوخرئيلو) او د ذى الحجه په څوارلسم تاريخ د صحابو رضي الله عنهم سره د مكې مكرمې نه روان شو.(۳)

[۴۱۳۴] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَأَهْلَلْنَا بِعُمْرَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لَا يَحِلَّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا فَقَدِمْتُ مَعَهُ مَكَّةَ وَأَنَا حَائِضٌ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَشَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ وَدَعِي الْعُمْرَةَ فَفَعَلْتُ فَلَمَّا قَضَيْنَا الْحَجَّ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ إِلَى التَّنْعِيمِ فَاعْتَمَرْتُ فَقَالَ هَذِهِ مَكَانَ عُمْرَتِكِ قَالَتْ فَطَافَ الَّذِينَ أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوا ثُمَّ طَافُوا طَوَافًا آخَرَ بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى وَأَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا [ر: ۲۹۰]

[۴۱۳۵] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ فَقَدْ حَلَّ فَقُلْتُ مِنْ أَيْنَ قَالَ هَذَا ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ

---

۱) زاد المعاد (۱۰۶/۲) والبداية والنهاية (۱۱۲/۵)_
۲) فتح البارى(۵۵۵/۳) باب لايعطى الجزار من الهدى شيئاً)_
۳) جوامع السيرة لابن حزم(۲۸۷)_

مِنْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ وَمِنْ أَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَحِلُّوا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ قُلْتُ إِنَّمَا كَانَ ذَٰلِكَ بَعْدَ الْمُعَرَّفِ قَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَرَاهُ قَبْلُ وَبَعْدُ

قوله: حدثني عمروبن علي .... عن ابن عباس اذا طاف بالبيت فقد حل:
عطاء بن رباح د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا ارشاد نقل کړو.چه کله سړې د بیت الله طواف کوی.نو هغه حلالیږی.نو دهغه شاګرد جریج دهغه نه سوال اوکړو.«من این قال هذا ابن عباس؟» یعنی ابن عباس رضي الله عنهما دا خبره دکوم ځائې نه (او دکوم دلیل په بنیاد باندې) کړې ده.نو عطاء اوونیل.د قرآن مجید ددې آیت نه ئې کړې ده. ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ (١)، بیا ددې هدی رسیدو ځائې بیت العتیق یعنی بیت الله دی،،او د رسول الله ﷺ ددې حکم په بنیاد ئې کړې ده.چه نبی علیه السلام صحابو رضي الله عنهم ته د حجة الوداع په موقع باندې د طواف کولو نه پس د حلالیدو دپاره وئیلی وو.په دې باندې جریج اووئیل.«انما کان ذالك بعد المعرف» یعنی د قرآن شریف آیت ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ کښې دهدی ذبح کولو باره کښې چه دا وئیلی شی. چه هغه به حرم کښې ذبح کیږی.دا عمل د وقوف عرفات نه روستو دې.نو عطاء اووئیل. چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما به دا د وقوف عرفات نه مخکښې او روستو دواړو صورتونو کښې صحیح ګڼړل.

د طواف قدوم نه پس د حلالیدو بحث: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما مذهب دا وو.چه د بیت الله شریف د طواف کولو نه پس سړې حلالیږی.بعضې عالمانو وئیلی دی.چه ددوی دا مذهب صرف د عمرې کونکی په باره کښې وو.چه کوم کس عمرې دپاره بیت الله ته لاړو.اوهغه طواف اوکړو.نوهغه حلالیږی.یعنی دسعی وغیره نه وړاندې هغه حلالیږی.اوبعضې عالمانو لیکلی دی.چه ددوی دا مذهب صرف دحج کونکی په باره کښې دې.چه د حج کولودپاره کله حاجی بیت الله ته اورسی.اوهغه طواف قدوم اوکړی.نوهغه حلالیږی.بهرحال که دهغه دا فتوی دعمره کونکی په باره کښې وی.اوکه دحاجی متعلق وی.خو دجمهورو خلاف دې.(٢)
حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ددې فتوې داسې توجیهات ممکن دی.چه دهغې په رو سره به دهغه مذهب د جمهورو خلاف نه وی.بیا هغوی درې داسې توجیهات پیش کړی دی:
① یوه توجیه هغوی دا بیان کړې ده.چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په فتوی ((من طاف بالبیت فقد حلّ)) کښې د طواف نه مراد طواف زیارت دې.او مطلب دادې.چه حاجی کله طواف زیارت اوکړی.نوهغه حلالیږی.او ښکاره ده.چه دجمهورو هم دا مذهب دې.

---

(١) سورة الحج ٣٣_
(٢) فتح الباری(٤٧٨\١٣) کتاب الحج، باب من طاف بالبیت اذا قدم مکة)_

② دويمه توجيه هغوى دا كړې ده.چه دهغوى دا فتوى د عمره كونكى متعلق ده. اومطلب دادې. چه عمره كونكې د طواف نه پس حلاليږى.سعى وغيره چونكه د طواف د توابعو خينې د ې.په دې وجه ئې دهغې مستقل ذكر اونكړو.او مراد هم دا دې.چه طواف او توابع د طواف پوره كولو نه پس حلاليږى.

③ دريمه توجيه حضرت گنگوهى رحمه الله دا بيان كړې ده.چه دهغوى دا فتوى د حج افراد كونكى سره متعلق ده.چه دحج افراد احرام تړونكى باندې فسخ الحج الى العمرة لازم ده. داسې سړې مخكښې د عمرې طواف كولو سره حلاليږى.ددې نه پس به بيا د حج احرام تړى.لكه چه نبى كريم ﷺ په حجة الوداع كښې هغه ټولو حضراتو ته كومو چه د حج احرام تړلې وو.حكم وركړو.چه عمره اوكړئ.او حلال شئ.دا اگرچه د جمهورو مذهب نه دې.البته ددې اصل د حديث نه ثابت دې.او امام احمد او بعضې اهل ظاهر ددې قائل دى.چه په مفرد بالحج باندې فسخ الحج الى العمرة لازم ده.(١)

خو حقيقت دادې.چه دا ټول توجيهات.هسې توجيهات دى.او د تكلف نه خالى نه دى.وجه داده.چه ټول عالمان هم دا نقل كونكى راروان دى.چه په دې مسئله كښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مسلك د جمهورو خلاف دې.(٢) تاويلات كول او دهغوى مذهب د جمهورو موافق جوړول د «توجيه القول بما لا يرضى به القائل» د قبيل خينې دې.هم داوجه ده.چه حضرت گنگوهى په آخر كښې پخپله فرمائيلى دى.«وبالجملة فلا يخلو هذا المقام من الشبهة والاوهام»(٣)

[۴۱۳۶] حَدَّثَنِي بَيَانٌ حَدَّثَنَا النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ طَارِقًا عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَطْحَاءِ فَقَالَ أَحَجَجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَيْفَ أَهْلَلْتَ قُلْتُ لَبَّيْكَ بِإِهْلَالٍ كَإِهْلَالِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حِلَّ فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَأَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَيْسٍ فَفَلَتْ رَأْسِي [ر:۱۴۸۴]

[۴۱۳۷] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ أَخْبَرَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَخْبَرَهُ أَنَّ حَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَزْوَاجَهُ أَنْ يَحْلِلْنَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَالَتْ حَفْصَةُ فَمَا يَمْنَعُكَ فَقَالَ لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَسْتُ أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ هَدْيِي [ر:۱۴۹۱]

[۴۱۳۸] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ حَدَّثَنِي شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ

(١) ددې دريو واړو توجيهاتو دپاره اوگورئ! لامع الدرارى (۸/۳۸۸-۳۸۹)_
(٢) تعليقات لامع الدرارى(۸/۳۸۷)_
(٣) لامع الدرارى(۸/۳۹۱)_

عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ اسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَالْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ فَهَلْ يَقْضِي أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ [ر:۱۴۴۲]

امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته دوؤسندونو سره ذکرکړې دې.د ړومبی سند الفاظ په ابواب الاستیذان کښې راروان دی.(۱) دلته چه کوم متن دې.هغه د دویم سند دې.دا روایت په کتاب الحج کښې هم تیرشوې دې.(۲)

[۴۱۳۹] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ مُرْدِفٌ أُسَامَةَ عَلَى الْقَصْوَاءِ وَمَعَهُ بِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ حَتَّى أَنَاخَ عِنْدَ الْبَيْتِ ثُمَّ قَالَ لِعُثْمَانَ ائْتِنَا بِالْمِفْتَاحِ فَجَاءَهُ بِالْمِفْتَاحِ فَفَتَحَ لَهُ الْبَابَ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُسَامَةُ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ ثُمَّ أَغْلَقُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَمَكَثَ نَهَارًا طَوِيلًا ثُمَّ خَرَجَ وَابْتَدَرَ النَّاسُ الدُّخُولَ فَسَبَقْتُهُمْ فَوَجَدْتُ بِلَالًا قَائِمًا مِنْ وَرَاءِ الْبَابِ فَقُلْتُ لَهُ أَيْنَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَلَّى بَيْنَ ذَيْنِكَ الْعَمُودَيْنِ الْمُقَدَّمَيْنِ وَكَانَ الْبَيْتُ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ سَطْرَيْنِ صَلَّى بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ مِنَ السَّطْرِ الْمُقَدَّمِ وَجَعَلَ بَابَ الْبَيْتِ خَلْفَ ظَهْرِهِ وَاسْتَقْبَلَ بِوَجْهِهِ الَّذِي يَسْتَقْبِلُكَ حِينَ تَلِجُ الْبَيْتَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِدَارِ قَالَ وَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى وَعِنْدَ الْمَكَانِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ مَرْمَرَةٌ حَمْرَاءُ [ر:۳۸۸]

[۴۱۴۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُمَا أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاضَتْ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَابِسَتُنَا هِيَ فَقُلْتُ إِنَّهَا قَدْ أَفَاضَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَطَافَتْ بِالْبَيْتِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَنْفِرْ [ر:۳۲۲]

اشکال کیږی.چه دا روایت په غزوهٔ فتح مکه کښې تیرشو.(۳) او دا واقعه هم فتح مکې سره متعلق ده.نو امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته په حجة الوداع کښې ولې ذکرکړو؟

دحجت الوداع په موقع نبیﷺ بیت الله کښې داخل شوې وو. حضرت ګنګوهی رحمه الله په ،،لامع الدراری،،کښې فرمائیلی دی.چه په دې باره کښې اختلاف دې.چه نبی کریمﷺ د حجة الوداع په موقعه باندې بیت الله شریف ته داخل شوې وو اوکه نه؟ بعضې عالمان د داخلیدو او بعضې د نه داخلیدو قائل دی.امام بخاری رحمه الله د فتح مکې حدیث دلته ذکرکړو.اوپه دې

---

۱) صحیح بخاری کتاب الاستیذان (۱۲-۹۲۰)_
۲) صحیح بخاری کتاب الحج باب اذا حاضت المرأة بعد ما افاضت رقم(۱۷۵۷)_
۳) باب دخول النبیﷺ من اعلی مکة رقم الحدیث (۴۲۸۹) و فتح الباری (۱۸۱۸)_

خبره ئې تنبيه اوکړله .چه د فتح مکې سفر د بيت الله شريف د زيارت قصد او ارادې سره نه وو شوې .بلکه دا سفر نبی علیه السلام د جهاد ارادې سره کړې وو.خو ددې باوجود نبی علیه السلام په دغه موقعه باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو.نو د حجة الوداع سفر خو خاص د بيت الله شريف دپاره شوې وو.په دې وجه يقيناً نبی علیه السلام به د حج په موقعه باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وى.(۱) د حجة الوداع په موقعه باندې د رسول الله ﷺ بيت الله شريف ته د داخليدو متعلق هيڅ يو روايت امام بخارى رحمه الله ته دخپل شرط مطابق ملاو نشو.په دې وجه امام (بخارى رحمه الله) د فتح مکې روايت ذکر کولو سره استدلال اوکړو.

امام ابوداؤد، امام ترمذى، او ابن ماجه رحمهم الله دحضرت عائشې رضی الله عنها روايت نقل کړې دې.په دغې کښې دى.((ان النبى ﷺ خرج من عندها وهو مسرور، ثم رجع الى وهو كئيب فقال: انى دخلت البيت ولو استقبلت من امرى ما استدبرت ما دخلتها،انى اخاف ان اكون قد شققت على امتى))(۲) حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائى.چه رسول الله ﷺ دهغې د خوانه په خوشحالۍ خوشحالۍ تشريف يوړه. خو کله چه واپس راغې. نو نبی علیه السلام غمژن وو.وې فرمائيل.که ماته ددې خبرې دمخکښې نه اندازه وې.د کومې اندازه چه ماته روستو اوشوه.نو زه به بيت الله شريف ته نه ووم داخل شوې. ماته ويره ددې خبرې ده.چه ما د خپل امت دپاره د مشقت سامان جوړ کړو.مطلب دادې. چه روستو به خلق وائى.چه د الله نبى ﷺ بيت الله ته دننه داخل شوې وو.نو مونږ به هم داخليږو.دغه شان به هرحاجى د حج په موقعه بيت الله ته د داخليدو کوشش کوى.چه دهغې نه به ډير مشکلات پيدا کيږى.

ددې روايت نه معلومه شوه.چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقعه باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو.اګرچه په دې کښې تصريح نشته.چه دا واقعه د حجة الوداع ده.خو چونکه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائى.چه نبی علیه السلام زما د خوانه تشريف اوړلې وو.او حضرت عائشه رضی الله عنها نبی علیه السلام سره د فتح مکې په موقعه باندې نه وه.دحجة الوداع په موقعه باندې وه.په دې وجه دا روايت حجة الوداع سره متعلق دې.والله اعلم.

[۴۱۴۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ بِحَجَّةِ الْوَدَاعِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا وَلَا نَدْرِي مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ فَأَطْنَبَ فِي ذِكْرِهِ وَقَالَ مَا بَعَثَ اللَّهُ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ أَنْذَرَهُ نُوحٌ وَالنَّبِيُّونَ مِنْ بَعْدِهِ وَإِنَّهُ يَخْرُجُ فِيكُمْ فَمَا خَفِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ شَأْنِهِ فَلَيْسَ يَخْفَى عَلَيْكُمْ أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ عَلَى مَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ ثَلَاثًا إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّهُ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ أَلَا إِنَّ

---

(۱) لامع الدرارى (۳۹۱/۸-۳۹۲)_

(۲) الحديث اخرجه الترمذى، رقم(۸۷۳) فى الحج، باب ماجاء فى دخول الكعبة، وابوداؤد، رقم(۲۰۲۹) فى المناسک، باب دخول الكعبة، واخرجه ابن ماجه، رقم (۳۰۶۳) فى المناسک، باب دخول الكعبة)_

اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ اللَّهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثًا وَيْلَكُمْ أَوْ وَيْحَكُمْ انْظُرُوا لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ [ر: ١٦٥٥]

قوله: كُنَّا نَتَحَدَّثُ بِحَجَّةِ الْوَدَاعِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا وَلَا نَدْرِي مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ: يعنى دې حج ته به مونږ حجة الوداع وئيلې.خو د حجة الوداع مطلب زمونږ په پوهه كښې نه راتلو.علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم د نبى كريم ﷺ نه ددې حج، حجة الوداع كيدل اوريدلى وو.چه ددې په وجه به هغوى دې ته حجة الوداع وئيلې.خو هغوى په دې نه وو پوهه شوى.چه په دې كښې د نبى كريم ﷺ وفات طرف ته اشاره ده.كله چه رسول الله ﷺ څه موده پس وفات شو.نوهغه وخت معلومه شوه.چه حجة الوداع هغې ته په دې وجه وئيلى شوى وو.چه په دې كښې نبى عليه السلام خلقو ته الوداع وئيلې ده.

په وريسې روايت كښې د خطبه حجة الوداع ذكردې.دلته د بخارى په روايت كښې د خطبة حجة الوداع څه حصه ده.ابن هشام او ابن اسحاق د خطبة حجة الوداع اكثره حصه نقل كړې ده.

خطبه حجة الوداع: ايها الناس اسمعوا قولى فانى لا ادرى لعلى لا القاكم بعد عامى هذا بهذا الموقف ابداً، ايها الناس، ان دماء كم و اموالكم عليكم حرام الى ان تلقوا ربكم، كحرمة يومكم هذا وكحرمة شهركم هذا، وانكم ستلقون ربكم فيسألكم عن اعمالكم، وقد بلغت فمن كانت عنده امانة فليؤدها الى من ائتمنه عليها، وان كل ربا موضوع ولكن لكم رؤوس اموالكم لا تظلمون ولا تُظلمون قضى الله ان لا ربا، وان ربا عباس بن عبدالمطلب موضوع كله، وان كل دم كان فى الجاهلية موضوع وان اول دمائكم اضع دم ابن ربيعة بن الحارث بن عبدالمطلب...

امابعد، ايها الناس فان الشيطان قد يئس من ان يعبد بأرضكم هذا ابداً، ولكنه ان يطع فيما سوى ذالك، فقد رضى به مما تحقرون من اعمالكم فاحذروه على دينكم.

ايها الناس! ان النسئ زيادة فى الكفر يضل به الذين كفروا يحلونه عاماً و يحرمونه عاماً، ليواطئوا عدة ما حرم الله، فيحلوا ما حرم الله و حرموا ما احل الله، وان الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السموات والارض و ان عدة الشهور عند الله اثنا عشر شهراً، منها اربعة حرم، ثلاثة متوالية و رجب مضر الذين بين جمادى و شعبان، امابعد، ايها الناس! فان لكم على نسائكم حقاً ولهن عليكم حقاً، لكم عليهن ان لا يوطئن فرشكم احداً تكرهونه وعليهن ان لا يأتين بفاحشة مبينة، فان فعلن فان الله قد اذن لكم ان تهجروهن فى المضاجع وتضربوهن ضرباً غير مبرح فان انتهين فلهن رزقهن و كسوتهن بالمعروف، واستوصوا بالنساء خيراً فانهن عندكم عوان لايملكن لانفسهن شيئاً، وانكم انما اخذتموهن بأمانة الله، واستحللتم فروجهن بكلمات الله، فاعقلوا ايها الناس قولى، فانى قد بلغت، وقد تركت فيكم ما ان اعتصمتم به فلن تضلوا ابداً، امراً بيناً، كتاب الله وسنة نبيه،

ايها الناس! اسمعوا قولى، واعقلوه، تعلمن ان كل مسلم اخ للمسلم، وان المسلمين اخوة، فلا يحل لامرئ من

اخيه الا ما اعطاه من طيب نفس منه، فلا تظلمن انفسكم، اللهم هل بلغت؟[1]

د حمد او ثنا نه پس نبي ﷺ اوفرمائيل:
خلقو! زما خبره واورئ! ماته معلومه نه ده.شايد چه دې کال نه پس په دې مقام باندې زه تاسو سره کله هم ملاو نه شم.اې خلقو! ستاسو وينه، او ستاسو مالونه، په يو بل باندې داسې حرام دي.لکه څنګه چه دنن ورځې او ددې مياشتې حرمت دې.تردې چه تاسو خپل رب سره ملاوشئ.اوتاسو به ډير زر خپل رب سره ملاوشئ .نو هغه به ستاسو نه د ستاسو د عملونو په باره کښې تپوس کوی.ما (تاسو ته) دا خبره دراورسوله.نو دچا سره چه دچا امانت وی.هغه امانت دې دهغې مالك ته اورسوی.د جاهليت ټول سودونه باطل کړې شو.اصل راس المال اخستلې شئ.چه نه تاسو په چا باندې ظلم اوکړئ.او نه په تاسو ظلم اوشی.د الله تعالی فيصله ده.چه سود باطل دې.د عباس بن عبدالمطلب سود هم باطل دې.[2] د جاهليت زمانې ټولې وينې باطل اوګرځولې شوې.او دټولو نه مخکښې زه (د خپل خاندان د يوکس) د ربيعه بن الحارث بن عبدالمطلب د ځوی وينه معاف کوم.
اې خلقو! شيطان ددې خبرې نه اوس مايوسه شوې دې.چه ستاسو په دې زمکه دهغه عبادت اوکړې شی.خو د عبادت نه علاوه په نورو وړو عملونو کښې که دهغه تابعداری اوکړې شوه.نوهغه به په هغې هم راضی کيږی.نودخپل دين په باره کښې دهغه نه ځان ساتئ.
اې خلقو! نسئ (په مياشتو کښې مخکښې کول روستوکول) کفرکښې د زياتوالی سبب دې.ددې په ذريعه کافر ګمراه کيږی.هغوی به يوکال حرام مياشتې حلالولې.او دويم کال به ئې هم دغه مياشتې حرام ګرځولې.چه په دې طريقه هغوی د حرمت د مياشتو شمير پوره کړی.نو هغوی به هغه مياشتې حلالولې.کومې چه الله حرام کړی دی.او کومې مياشتې چه الله حلال کړی دی.هغه به ئې حرام ګرځولې....خو اوس زمانه پخپل ابتدائی حالت باندې واپس راغلې ده.په کومه چه دا په هغه ورځ وه.په کومه ورځ چه الله تعالی زمکه او آسمان پيدا کړی وو.د الله په نزد دکال دولس مياشتې دی.په دې کښې څلور د حرمت والا دی.درې مسلسل دی.(يعنی ذی قعده، ذی الحجه، محرم) او يوه مياشت د رجب ده.چه ددې مضر قبيله خاص احترام کوی.کومه چه دجمادی الثانيه او شعبان په منځ کښې واقع ده.
اې خلقو! ستاسو په ښځو باندې ستاسو څه حقونه دی.او دغه شان په تاسو باندې دهغوی هم څه حقوق دی.ستاسو په هغوی باندې دا حق دې.چه هغوی يو داسې کس ستاسو په بستره باندې کيناستلو ته پرې نږدی.کوم چه تاسو نه خوښوئ.اوداچه هغوی ښکاره د بې حيايئ کار اونکړی.خو که هغوی ئې اوکړی.نو الله تعالی تاسو ته ددې خبرې اجازت درکړې دې.چه تاسو ددوی د اوده کيدو ځايونه دځان نه جدا کړئ.(که هغوی بيا هم منع نه شی نو) بيا تاسو ته اجازت دې.چه هغوی داسې په مزه مزه اووهئ.چه په هغې سره بدن پريشانه نه

---

[1]) اوګورئ: سيرت ابن هشام (٤/٢٥١-٢٥٢)_
[2]) حضرت عباس رضي الله عنه به د اسلام نه مخکښې د سود کاروبار کولو.د ډيرو خلقو په ذمه دهغه سود باقی وو.نبی ﷺ د خپل تره ټول سود باطل اوګرځولو_

شي.كه هغوى منع شي.نو د دستور مطابق دهغوى خوراك اوكپړې ستاسو په ذمه دي.ښځو سره دښه سلوك كولو هميشه پابندي كوئ.ځكه چه هغوى تاسو سره قيد دي.او خپل معاملات پخپله نه شي چلولې.تاسو هغوى د الله د امانت په طور حاصل كړي دي.او د الله د كلماتو په ذريعه مو هغوى دځان دپاره جائز اوحلال كړي دي.

اې خلقو! زما په خبره پوهه شئ.زه په تاسو كښې داسې څيز پريږدم.او خم.چه كه تاسو هغه مضبوط اونيولو.نو تاسو به گمراه نه شئ.هغه څيز كتاب الله او زما سنت دې.

اې خلقو! زما خبره واورئ! او پوهه شئ! هرمسلمان د بل مسلمان رور دې.او ټول مسلمانان خپل منځ كښې د يوبل رونړه دي.نو د هيڅ يو سړي دپاره دخپل رور مال حلال نه دې.البته كه هغه ئې دخپل زړه په خوشحالئ سره دركړي.نو تاسو پخپلو ځانونو باندې ظلم مه كوئ.

[۴۱۴۲] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً وَأَنَّهُ حَجَّ بَعْدَ مَا هَاجَرَ حَجَّةً وَاحِدَةً لَمْ يَحُجَّ بَعْدَهَا حَجَّةَ الْوَدَاعِ قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ وَبِمَكَّةَ أُخْرَى [ر: ۳۷۳۳]

په دې كښې هيڅ اختلاف نشته.چه د هجرت نه پس رسول الله ﷺ صرف حجة الوداع اداكړې دې.(۱) ددې نه علاوه ئې بل حج نه دې كړې.ابو اسحاق چه ددې روايت راوى دې.فرمائي.چه په مكه كښې نبى عليه السلام يوحج بل هم كړې دې.

نبي كريم ﷺ څومره حجونه كړي دي؟ دهجرت نه مخكښې نبى عليه السلام څومره حجونه كړي دي.په دې باره كښې مختلف اقوال دي.ابواسحاق وائي.چه يوحج ئې كړې دې.امام ترمذى او ابن ماجه د حضرت جابر رضي الله عنه روايت نقل كړې دې.((ان رسول الله ﷺ حج ثلاث حجج، حجتين قبل ان يهاجر وحجة بعد ما هاجر))(۲) يعنى دهجرت نه وړاندې نبى عليه السلام دوه حجونه كړي دي. غالباً حضرت جابر رضي الله عنه چه د هجرت نه مخكښې دكومو دوؤ حجونو ذكر كړې دې.هغه د ۱۲ او ۱۳ نبوى حجونه دي.په ۱۲نبوى كښې بيعت عقبۀ اولى شوې وو.او په ۱۳ نبوى كښې بيعت عقبۀ ثانيه شوې وو.(۳) په بيعت عقبه ثانيه كښې دحضرت جابر رضي الله عنه پلار هم شريك وو.(۴) په دې وجه حضرت جابر رضي الله عنه ته ددې دوؤ حجونو علم اوشو.او د باقى اونه شو.

سفيان ثورى رحمه الله فرمائي.چه رسول الله ﷺ دهجرت نه وړاندې ډيرحجونه كړي دي. (۵)

---

۱) لكه څنگه چه ابوداؤد كښې دحضرت جابر رضي الله عنه په روايت كښې دي.(سنن ابى داؤد (۸۳۱۲) باب صفة حجة النبى ﷺ رقم (۱۹۰۵)_

۲) الحديث اخرجه الترمذى فى ابواب الحج، باب ماجاء كم حج النبى ﷺ؟ (۱۷۹۱۳) رقم (۸۱۵) و ابن ماجه فى كتاب المناسک، باب حجة رسول الله ﷺ رقم(۳۰۷۶)_

۳) تفصيل دپاره اوگورئ! سيرت ابن هشام(۱۱ ۴۳-۴۳۸)_

۴) سيرت ابن هشام(۱۱ ۴۶۳)_

۵) فتح البارى (۸۱ ۱۰۴)_

ابن جوزى رحمه الله فرمائى.«حج حجا لا يعرف عددها»(١) دومره حجونه ئې اوكړل .شمير ئې معلوم نه دې.د ابن الاثير رائې داده.چه نبى عليه السلام به هركال حج كولو.(٢)
ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه په دې خبره كښې هيڅ شك نشته.چه نبى كريم ﷺ به دهجرت نه وړاندې هركال حج كولو.وجه ددې داده.چه قريشو به د حج ډير اهتمام كولو.كه ډيره مجبورى به وه.نو حج به ئې پريخوده.ګنى نه به ئې پريخوده.حج د ابراهيم عليه السلام د ملت باقى پاتې اعمالو څخه وو.او رسول الله ﷺ په ملت ابراهيمى عمل كونكې هم وو.په دې وجه قياس دادې.چه نبى عليه السلام د هجرت نه وړاندې ډير حجونه كړې وى.چه دهغې تعداد معلوم نه دې.

[٤٣٣] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ عَنْ جَرِيرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ لِجَرِيرٍ اسْتَنْصِتْ النَّاسَ فَقَالَ لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ [ر:١٢١]

[٤٣٤] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزَّمَانُ قَدْ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثَةٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ أَيُّ شَهْرٍ هَذَا قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ ذُو الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَأَيُّ بَلَدٍ هَذَا قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هَذَا قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ قَالَ مُحَمَّدٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَسَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ أَلَا فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ أَلَا لِيُبَلِّغْ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يُبَلَّغُهُ أَنْ يَكُونَ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ فَكَانَ مُحَمَّدٌ إِذَا ذَكَرَهُ يَقُولُ صَدَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ مَرَّتَيْنِ [ر:٦٧]

[٤٣٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ أَنَّ أُنَاسًا مِنْ الْيَهُودِ قَالُوا لَوْ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِينَا لَاتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا فَقَالَ عُمَرُ أَيَّةُ آيَةٍ فَقَالُوا الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمْ الْإِسْلَامَ دِينًا فَقَالَ عُمَرُ إِنِّي لَأَعْلَمُ أَيَّ مَكَانٍ أُنْزِلَتْ أُنْزِلَتْ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ [ر:٤٥]

---

١) فتح البارى(١٠٤/٨)_
٢) فتح البارى(١٠٤/٨)_

[۴۱۴۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوا حَتَّى يَوْمِ النَّحْرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ وَقَالَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا مَالِكٌ مِثْلَهُ [ر: ۲۹۰]

[۴۱۴۷] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ هُوَ ابْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ أَشْفَيْتُ مِنْهُ عَلَى الْمَوْتِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بَلَغَ بِي مِنَ الْوَجَعِ مَا تَرَى وَأَنَا ذُو مَالٍ وَلَا يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَةٌ لِي وَاحِدَةٌ أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي قَالَ لَا قُلْتُ أَفَأَتَصَدَّقُ بِشَطْرِهِ قَالَ لَا قُلْتُ فَالثُّلُثِ قَالَ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ وَلَسْتَ تُنْفِقُ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ بِهَا حَتَّى اللُّقْمَةَ تَجْعَلُهَا فِي فِي امْرَأَتِكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَأُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي قَالَ إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا تَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً وَلَعَلَّكَ تُخَلَّفُ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ رَثَى لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُوُفِّيَ بِمَكَّةَ [ر: ۵۶]

[۴۱۴۸/۴۱۴۹] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَبُو ضَمْرَةَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ رَأْسَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

[۴۱۴۹] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ أَخْبَرَهُ ابْنُ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَأُنَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ [ر: ۱۶۳۹]

[۴۱۵۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّهُ أَقْبَلَ يَسِيرُ عَلَى حِمَارٍ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ بِمِنًى فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَسَارَ الْحِمَارُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ ثُمَّ نَزَلَ عَنْهُ فَصَفَّ مَعَ النَّاسِ [ر: ۷۶]

[۴۱۵۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ سُئِلَ أُسَامَةُ وَأَنَا شَاهِدٌ عَنْ سَيْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ فَقَالَ الْعَنَقَ فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ [ر: ۱۵۸۳]

[۴۱۵۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ

عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ أَنَّ أَبَا أَيُّوبَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا [ر: ۱۵۹۰]

بَابُ غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهِيَ غَزْوَةُ الْعُسْرَةِ

غزوه تبوک لره دحجة الوداع نه د روستو ذکرکولو توجيهات غزوهٔ تبوک د رسول الله ﷺ آخرى غزوه ده.امام بخارى رحمه الله غزوهٔ تبوک روستو او حجة الوداع مخکښې ذکرکړو.حالانکه د تاريخى ترتيب په لحاظ سره غزوهٔ تبوک دحجة الوداع نه مخکښې ده.ددې مختلف توجيهات شوى دى

① حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره فرمائى.چه دا د کتابونو جوړونکو او کاتبانو تصرف دې.چه هغوى حجة الوداع د غزوهٔ تبوک نه مخکښې اوليکه.(۱)

② بعضې حضراتو وئيلى دى،چه امام بخارى رحمه الله چونکه ،،کتاب المغازى،، بيانوى. په دې وجه هغوى سوچ اوکړو.چه د کتاب المغازى اختتام هم په غزوې باندې کول پکاردى.که حجة الوداع ئې روستو راوړلې وو.نو اختتام به په غزوې باندې نه کيدو.په دې وجه هغوى غزوهٔ تبوک دحجة الوداع نه روستو ذکرکړو.(۲)

③ دحضرت شيخ الحديث رحمه الله رائې داده.چه حجة الوداع ئې د غزوهٔ تبوک نه مخکښې ذکر کولو سره امام بخارى رحمه الله د سلسلة الوفود انتهاء طرف ته اشاره کول غواړى.د سلسلة الوفود ابتداء د فتح مکې نه روستو شوې دې.لکه چه امام بخارى رحمه الله د فتح مکې بيانولو نه پس د سلسلة الوفود ذکرشروع کړو.او ددې انتهاء په حجة الوداع باندې شوې ده.امام بخارى رحمه الله د «باب قصة وفد طى» ذکرکولو نه پس دحجة الوداع باب قائم کړو.او مقصد دادې.چه د وفود دا سلسله په حجة الوداع باندې ختميږى.که د «باب قصة وفد طى» نه پس ئې حجة الوداع نه وې ذکر کړې. غزوهٔ تبوک ئې ذکرکړې وې.نو تاريخى اعتبار سره به خو ترتيب قائم پاتې شوې وې.خو د سلسة الوفود انتهاء به نه معلوميده.امام بخارى رحمه الله د تاريخى ترتيب رعايت پريخودو.د سلسلة الوفود انتهاء طرف ته ئې اشاره کولو دپاره حجة الوداع مخکښې ذکرکړو.څکه چه دا خو ټولو ته معلومه ده.چه حجة الوداع د تبوک نه روستو دې.خو د وفودو سلسله کله ختمه شوه.دا ټولو ته معلومه نه ده.ددې فائدې په لحاظ سره امام بخارى رحمه الله داسې اوکړل.(۳) دحضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې کافى وزنداره ده.والله اعلم.

د غزوهٔ تبوک سبب: روميانو سره د اسلامى لښکر روميې جنګ موته کښې اوشو.ددې جنګ نه پس رومى سلطنت په دې کوشش کښې وو.چه په څه طريقه مسلمانانو باندې حمله

---

۱) فتح البارى(۱۱۱۸)_

۲) لامع الدرارى(۳۹۹۸)_

۳) الابواب والتراجم لصحيح البخارى(۱۱۱۲) باب حجة الوداع)_

اوکړې شی.د رومیانو ددې ارادو اطلاع رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته شوې وه. مدینې منورې ته به د شام سوداګر نبطی خلق د زیتون تیل خرڅولو دپاره راتلل .دغه خلقو مسلمانانو ته دا خبر ورکړو.چه د روم بادشاه هرقل خپل فوجونه په تبوک مقام کښې د شام په سرحد باندې جمع کړی دی.او فوجیانو ته ئې د یوکال تنخواه پیشګی ورکړې ده.او خوشحاله او مطمئن کړې ئې دی.(۱)

کله چه رسول الله ﷺ ته دا اطلاع ملاوشوه.نو نبی علیه السلام دا اراده اوفرمائیله.چه دهغوی دحملې نه وړاندې پیش قدمی کول او مقابله کول پکار دی.نبی کریم ﷺ به عام طور باندې په جنګونو کښې صحیح مقام نه خودلو.خو دا جنګ چونکه د مخکنو ټولو جنګونو نه جدا وو.یو خو په دې وجه چه په دې کښې د دشمنانو تعداد ډیر زیات وو.دویم په دې وجه چه په دې کښې د روم بادشاه د هرقل تربیت شوی فوج سره مقابله وه.په دې وجه نبی کریم ﷺ د عربو د ټولو قبائلو نه فوجی او مالی مدد اوغوښتلو.او دمدینې منورې ټولو مسلمانانو ته ئې په دې جهاد کښې د وتلو حکم ورکړو.(۲)

اتفاق سره دا زمانه د سختې ګرمئ وه.قحط او ولږه عامه وه.دې سره سره د پټو او باغونو میوې پخیدو ته نزدې وې.(۳) هم په دې باغونو او د پټو په فصل باندې د مدینې د خلقو پوره کال د معیشت دارومدار وو.په دې ټولو څیزونو کښې هرڅیز د الله تعالی په لاره کښې د وتلو دپاره د صحابو رضی الله عنهم د خپو زنځیر او رکاوټ جوړیدې شو.خو مرحبا صد مرحبا د اسلام هغه سرفروش مجاهدینو دپاره ،چه هغوی د اسلام ونې ته د ودې ورکولو دپاره دخپلې وینې او دخپل مال قربانی ورکولو کښې همیشه د یوبل نه د وړاندې کیدو کوشش اوکړو.په دې موقعه باندې هم د اسلام رینښتونو او مخلصو بهادرو صحابو رضی الله عنهم د یوبل نه وړاندې شو.او مالی مدد کښې ئې حصه واخستله.حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د خپل کور ټول هرڅه راوړل.حاضر ئې کړل.(۴) کله چه رسول الله ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو.چه په کور کښې دې څه پریخودل؟ عرض ئې اوکړو.الله او دهغه د رسول نوم مې پریخودو.حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه خپل نیم مال راوړه.اوحاضر ئې کړو.(۵) حضرت عثمان غنی رضی الله عنه درې سوه اوښان سره د سامانونو او زر اشرفئ نقدې راوړلې.او د نبی علیه السلام په خدمت کښې ئې پیش کړلې.(۶) دغه شان نورو صحابو رضی الله عنهم د خپل طاقت مطابق په دې مالی امداد کښې حصه واخستله.خو ددې باوجود یو څو غریب صحابه داسې وو.چه دهغوی دسفر دپاره د لارې د توښې انتظام

---

(۱) طبقات ابن سعد(۲\۱۶۵) وفتح الباری (۸\۱۱۱)_

(۲) زادالمعاد(۳\۵۲۶-۵۲۷)_

(۳) الکامل لابن اثیر(۲\۱۸۹)_

(۴) دا څلور زره درهم وو.(سیرت حلبیه ۳\۱۳۰)_

(۵) سیرت حلبیه (۳\۱۳۰)_

(۶) زاد المعاد (۳\۵۲۷) اوپه یو روایت کښې دی.چه لس زره دیناره ئې د نبی علیه السلام په دربار کښې پیش کړې سیرت حلبیه (۳\۱۳۰)_

اونه شو.هغوى د نبي عليه السلام په خدمت كښې حاضرشو.او نبي عليه السلام ته ئې د سورلئ وغيره دپاره درخواست اوكړو.خو نبي عليه السلام سره دهغوى د سفر دپاره سورلئ وغيره نه وه.دغه خلق په ژړا ژړا په بهيدلو ستركو واپس شو.د قرآن شريف دا آيت دهغوى متعلق نازل شوې دې.(۱)

﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ﴾ (التوبة\٩٢)

،،اونه په هغه خلقو څه ګناه شته.کوم چه تا ته راغلل.چه ته هغوى ته (په جهاد كښې)تللو دپاره څه سورلى وركړې.تا هغوى ته اوفرمائيل.چه ما سره سورلى نشته.چه په هغې تاسو سواره كړم.دغه خلق په داسې حال كښې واپس شو.چه د هغوى د ستركو نه اوښكې بهيدلې.ددې غم په وجه چه هغوى سره دخرچ كولو دپاره هيڅ څه نشته،،

په دې جهاد كښې د تللو دا اعلان په حقيقت كښې د ايمان او منافقت په منځ كښې د فرق يو معيار وو.چه په دې موقعه باندې د منافقانو منافقت ښكاره شو.اوهغوى اووئيل. ﴿لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ﴾ (۲)يعنى په ګرمئ كښې جهاد دپاره مه اوځئ.هغوى مختلفې بهانې جوړې كړې.او په جهاد كښې د تلو دپاره ئې عذر اوكړو.بعضې مخلص مسلمانان هم لاړ نه شو.چه په هغوى كښې مشهور صحابي حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه، حضرت هلال بن اميه رضي الله عنه، او حضرت مراره بن ربيع رضي الله عنه شامل وو.ددوى تفصيلي واقعه روستو د بخارى په روايت كښې راروانه ده.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ديرش زره فوج سره د رجب په مياشت ۹هـ كښې د مدينې منورې نه اووتلو.(۳) په لښكر كښې لس زره اسونه وو.(۴) دمشق طرف ته ئې سفركولو.د مدينې منورې نه څوارلس منزله فاصله باندې واقع مقام تبوك ته اورسيدل.نو معلومه شوه.چه هغه خبر صحيح نه وو.او په ځينو رواياتوكښې دى.چه كله د روم بادشاه هرقل ته د مسلمانانو د دومره لوئې جماعت مقابلې دپاره د راتلو خبر اورسيده.نو هغه رعب واخسته.او مقابلې دپاره رانغې.(۵)

په تبوک كښې د قيام موده او واپسى: په تبوك كښې نبي عليه السلام شلو ورځو پورې قيام اوكړو.(۶)

هم ددې ځائې نه نبي عليه السلام حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه ته د ۴۲۰ سورلو يو جماعت وركړو.او د دمشق نه پنځه منزله باندې واقع د،،دومة الجندل،،سردار،،اكيدر بن عبدالملك

۱) تفسير كبير(۳۸۱\۱۲-۳۸۲)_

۲) التوبة\۸۱)_

۳) طبقات ابن سعد(۱۶۶\۲)_

۴) فتح البارى (۱۱۱\۸) په بعضې رواياتوكښې څلويښت زره او اويا زره تعداد هم راغلې دې.(عمدة القارى ۵۲\۱۸)_

۵) السيرة الحلبية(۱۴۲\۳)_

۶) دلته په اصل اردوكښې هم حاشيه نشته،

نصرانی،، ته ئې اولیګه.نبی کریم ﷺ حضرت خالد رضي الله عنه ته د روانیدو په وخت اوفرمائیل.
چه هغه به تاته ښکار کونکې ملاویږی.خو ته هغه مه قتلوه.ماته ئې راوله.که هغه انکار
اوکړی.نو بیا ئې قتل کړه.

حضرت خالد رضي الله عنه د څوارلسمې سپوږمۍ په شپه اورسیده.نو اُکیدر دخپل رور او نورو
ملګرو سره د ښکار دپاره راوتلې وو.د اکیدر رور ،،حسان،، په مقابله کولوکښې مړشو.او
اکیدر ګرفتار کړې شو.او دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر کړې شو.اکیدردوه زره اوبنان،
اته سوه اسونه، څلورسوه زغرې.او څلور سوه نیزې ورکړې.اوصلح ئې اوکړله.(١) په دې مقام
کښې د شلو ورځو قیام کولو نه پس نبی علیه السلام واپس مدینې منورې ته روان شو.

[٤١٥٣] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَرْسَلَنِي أَصْحَابِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ الْحُمْلَانَ لَهُمْ إِذْ هُمْ مَعَهُ فِي جَيْشِ الْعُسْرَةِ وَهِيَ غَزْوَةُ تَبُوكَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّ أَصْحَابِي أَرْسَلُونِي إِلَيْكَ لِتَحْمِلَهُمْ فَقَالَ وَاللَّهِ لَا أَحْمِلُكُمْ عَلَى شَيْءٍ وَوَافَقْتُهُ وَهُوَ غَضْبَانُ وَلَا أَشْعُرُ وَرَجَعْتُ حَزِينًا مِنْ مَنْعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ مَخَافَةِ أَنْ يَكُونَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَأَخْبَرْتُهُمُ الَّذِي قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَلْبَثْ إِلَّا سُوَيْعَةً إِذْ سَمِعْتُ بِلَالًا يُنَادِي أَيْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ فَأَجَبْتُهُ فَقَالَ أَجِبْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوكَ فَلَمَّا أَتَيْتُهُ قَالَ خُذْ هَذَيْنِ الْقَرِينَيْنِ وَهَذَيْنِ الْقَرِينَيْنِ لِسِتَّةِ أَبْعِرَةٍ ابْتَاعَهُنَّ حِينَئِذٍ مِنْ سَعْدٍ فَانْطَلِقْ بِهِنَّ إِلَى أَصْحَابِكَ فَقُلْ إِنَّ اللَّهَ أَوْ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَؤُلَاءِ فَارْكَبُوهُنَّ فَانْطَلَقْتُ إِلَيْهِمْ بِهِنَّ فَقُلْتُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَؤُلَاءِ وَلَكِنِّي وَاللَّهِ لَا أَدَعُكُمْ حَتَّى يَنْطَلِقَ مَعِي بَعْضُكُمْ إِلَى مَنْ سَمِعَ مَقَالَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَظُنُّوا أَنِّي حَدَّثْتُكُمْ شَيْئًا لَمْ يَقُلْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا لِي وَاللَّهِ إِنَّكَ عِنْدَنَا لَمُصَدَّقٌ وَلَنَفْعَلَنَّ مَا أَحْبَبْتَ فَانْطَلَقَ أَبُو مُوسَى بِنَفَرٍ مِنْهُمْ حَتَّى أَتَوْا الَّذِينَ سَمِعُوا قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْعَهُ إِيَّاهُمْ ثُمَّ إِعْطَاءَهُمْ بَعْدُ فَحَدَّثُوهُمْ بِمِثْلِ مَا حَدَّثَهُمْ بِهِ أَبُو مُوسَى [ر: ٢٩٦٤]

په دې روایت کښې بیان کړې شوی دی.چه حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه دخپلو ملګرو
دپاره د سورلۍ غوښتلو دپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.نبی علیه السلام
اوفرمائیل.چه زه تاسو ته هیڅ سورلۍ نه شم درکولې.حضرت ابوموسی رضي الله عنه غمژن شو.خپلو
ملګرو ته لاړو.اوهغوی ته ئې اووئیل.چه رسول الله ﷺ هیڅ قسمه سورلی نه شی راکولې.

١) طبقات ابن سعد ١٦٦/٢_

لړه شيبه پس حضرت بلال ﷺ حضرت ابوموسى ﷺ راوغوښتلو .چه نبى ﷺ دې يادوى.
حضرت ابوموسى ﷺ حاضرشو.نو نبى ﷺ هغه ته شپږ اوښان ورکړل.
حضرت ابوموسى ﷺ دغه اوښان بوتلل.او خپلو ملګرو ته لاړو.چونکه دهغه ملګرو ته داشك كيدې شو.چه ممكن ده.حضرت ابوموسى ﷺ په رومبى ځل د رسول الله ﷺ په باره كښې د غلط بيانۍ نه كار اخستې وى.او دخپل طرفه ئې اووئيل.چه د الله رسول ﷺ مونږ ته هيڅ قسمه سورلى نه راكوى.په دې وجه د شك لرې كولو دپاره ابوموسى ﷺ خپلو ملګرو ته اووئيل.چه زه به تاسو ترهغه وخته پورې نه پرېږدم.تركومې پورې چه تاسو ماسره هغه سړى ته لاړ نه شئ.كوم چه په رومبى ځل د نبى كريم ﷺ د سورلۍ وركولو نه د انكار په وخت حاضروو.نو يو څو حضرات دهغه سره لاړل.او هغه سړى تصديق اوكړو.چه رسول الله ﷺ واقعى د سورلۍ وركولو نه انكار كړې وو.

[٤١٥٤] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى تَبُوكَ وَاسْتَخْلَفَ عَلِيًّا فَقَالَ أَتُخَلِّفُنِي فِي الصِّبْيَانِ وَالنِّسَاءِ قَالَ أَلَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَيْسَ نَبِيٌّ بَعْدِي وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ سَمِعْتُ مُصْعَبًا [ر:٣٥٠٣]

د ،،أَلَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى،، **معنى**: نبى كريم ﷺ چه كله تبوك طرف ته روان شو.نو نبى ﷺ حضرت على ﷺ خپل قائم مقام جوړكړو.چه هغه د نبى ﷺ د اهل وعيال وغيره نګرانى اوكړى.بعضې منافقانو په حضرت على ﷺ باندې غلطې خبرې شروع كړې.چه د ناراضګۍ او خفګان په وجه ئې دځان سره نه بوتلو.[1] حضرت على ﷺ خفه شو.او د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضرشو.او په ژړا شو.او نبى ﷺ ته ئې خبره وړاندې كړله.نو نبى ﷺ اوفرمائيل.«أَلَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى» ته په دې باندې خوشحاله نه يې.چه ته زما دپاره داسې جوړشې.لكه څنګه چه هارون ﷺ د موسى ﷺ دپاره وو،،يعنى لكه څنګه چه موسى ﷺ كوه طور ته د تللو نه پس حضرت هارون دهغه نائب او داهل وعيال نګران وو.دغه شان ته زما نه پس زما د اهل وعيال نګران او زما نائب جوړشه.آيا ته په دې باندې راضى نه يې.

د باب د روايت نه د روافضو غلط استدلال: روافض دا خبره ډېره اوچته وى.وائى.چه د حضرت على ﷺ خلافت بلا فصل باندې صريح نص موجود دې.رسول الله ﷺ دځان نه روستو حضرت على ﷺ خپل خليفه مقرر كړو.خو دهغه خلافت حضرت صديق ﷺ او حضرت فاروق ﷺ او عثمان ﷺ غصب كړو.

خوددې روايت نه دهغوى دا استدلال غلط دې.څكه چه نبى ﷺ باندې دا خبره پټه نه وه.چه د حضرت هارون ﷺ وفات د حضرت موسى ﷺ په ژوندكښې شوې وو.حضرت هارون ﷺ

---

[1]) السيرة الحلبية(١٣٢/٣)_

دحضرت موسى عليه السلام نه پس دهغه خليفه نه وو جوړشوې.بلکه دحضرت موسى عليه السلام خليفه يوشع بن نون جوړشوې وو.هرکله چه هارون عليه السلام دحضرت موسى عليه السلام د وفات نه پس دهغه خليفه دسره جوړشوې نه دې.نو حضرت على رضي الله عنه که د رسول الله ﷺ دپاره ، ،بمنزلة هارون من موسى،، اوګرځولې شى.نو ددې نه د نبى عليه السلام د وفات نه پس دهغه د خليفه کيدو مسئله نه ثابتيږى.ځکه چه په مشبه به کښې دا صورت حال موجود نه دې.(۱)

[۴۱۵۷] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً يُخْبِرُ قَالَ أَخْبَرَنِي صَفْوَانُ بْنُ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعُسْرَةَ قَالَ كَانَ يَعْلَى يَقُولُ تِلْكَ الْغَزْوَةُ أَوْثَقُ أَعْمَالِي عِنْدِي قَالَ عَطَاءٌ فَقَالَ صَفْوَانُ قَالَ يَعْلَى فَكَانَ لِي أَجِيرٌ فَقَاتَلَ إِنْسَانًا فَعَضَّ أَحَدُهُمَا يَدَ الْآخَرِ قَالَ عَطَاءٌ فَلَقَدْ أَخْبَرَنِي صَفْوَانُ أَيُّهُمَا عَضَّ الْآخَرَ فَنَسِيتُهُ قَالَ فَانْتَزَعَ الْمَعْضُوضُ يَدَهُ مِنْ فِي الْعَاضِّ فَانْتَزَعَ إِحْدَى ثَنِيَّتَيْهِ فَأَتَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْدَرَ ثَنِيَّتَهُ قَالَ عَطَاءٌ وَحَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَيَدَعُ يَدَهُ فِي فِيكَ تَقْضَمُهَا كَأَنَّهَا فِي فِي فَحْلٍ يَقْضَمُهَا [ر:۲۱۴۶]

حضرت يعلى بن اميه رضي الله عنه فرمائى.چه ما د نبى کريم ﷺ سره په غزوۀ عسره (تبوك)کښې شرکت اوکړو.اوزما په خپلو ټولو عملونوکښې دټولو نه زيات اعتماد په دې غزوې دې.بيا هغوى اووئيل.چه (د غزوه تبوك په سفرکښې) زما سره يو اجير يعنى غلام وو.هغه يو سړى سره په جګړه شو.نو په دواړوکښې يوکس د بل لاس په غاښونو سره اوچيچه.دچا لاس چه غاښونو سره چيچلې شوې وو.هغه خپل لاس د چك لګونکى د خولې نه راښکلو.چه ددې په وجه د چك لګونکى مخامخ يوغاښ اووتلو.بياهغوى دواړه د فيصلې دپاره دنبى عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو .نبى عليه السلام دهغه غاښ هدر (مباح) اوګرځولو.(او هغه ته ئې هيڅ ديت ورنکړو) اووې فرمائيل.«افيدع يده فى فيك تقضمها كانها فى فحل يقضمها» يعنى هغه به خپل لاس ستا په خوله کښې چيچلو دپاره پريخوده.چه تا داوښ پشان هغه چيچلې وې.

دلته د بخارى په روايت کښې تصريح نشته.خو د مسلم شريف په روايت کښې دى.چه دا واقعه پخپله د حضرت يعلى بن اميه رضي الله عنه دخپل اجير سره پيښه شوې وه.(۲) او غاښ کټ کونکې حضرت يعلى رضي الله عنه وو.

---

(۱) تفصيل دپاره اوګورئ! سيرت مصطفى (۳\۸۸-۹۰) صاحب د سيرت حلبيه ددې حديث نه د شيعه ګانو د استدلال ذکرکولو نه پس ليکى،،هذا الحديث.... من قبيل الآحاد، وكل من الرافضة والشيعة لا يراه حجة فى الامامة وعلى تسليم انه حجة فلا عموم له، بل المراد مادل عليه ظاهرالحديث ان عليا كرم الله وجهه خليفة عن النبى ﷺ فى اهله خاصة مدة غيبة بتبوک كما ان هارون كان خليفة عن موسى فى قومه مدة غيبة عنهم للمناجاة، فعلى تسليم انه عام، لكنه مخصوص والعام المخصوص غير حجة فى الباقى او حجة ضعيفة(السيرة الحلبية ۳\۱۳۳)_

(۲) صحيح مسلم، كتاب القسامة، باب الصائل على نفس الانسان او عضوه... رقم الحديث (۴۲۴۲)_

باب حديث كعب بن مالك وقول الله عزّ وجلّ
وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا (التوبة/١١٨)

[٤١٥٦] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيهِ حِينَ عَمِيَ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ قِصَّةِ تَبُوكَ قَالَ كَعْبٌ لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا إِلَّا فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ تَخَلَّفْتُ فِي غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاتِبْ أَحَدًا تَخَلَّفَ عَنْهَا إِنَّمَا خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ عِيرَ قُرَيْشٍ حَتَّى جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلَى غَيْرِ مِيعَادٍ وَلَقَدْ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حِينَ تَوَاثَقْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِي بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ وَإِنْ كَانَتْ بَدْرٌ أَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا كَانَ مِنْ خَبَرِي أَنِّي لَمْ أَكُنْ قَطُّ أَقْوَى وَلَا أَيْسَرَ حِينَ تَخَلَّفْتُ عَنْهُ فِي تِلْكَ الْغَزَاةِ وَاللّٰهِ مَا اجْتَمَعَتْ عِنْدِي قَبْلَهُ رَاحِلَتَانِ قَطُّ حَتَّى جَمَعْتُهُمَا فِي تِلْكَ الْغَزْوَةِ وَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ غَزَاهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا وَعَدُوًّا كَثِيرًا فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرٌ وَلَا يَجْمَعُهُمْ كِتَابُ حَافِظٍ يُرِيدُ الدِّيوَانَ قَالَ كَعْبٌ فَمَا رَجُلٌ يُرِيدُ أَنْ يَتَغَيَّبَ إِلَّا ظَنَّ أَنْ سَيَخْفَى لَهُ مَا لَمْ يَنْزِلْ فِيهِ وَحْيُ اللّٰهِ وَغَزَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْغَزْوَةَ حِينَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَالظِّلَالُ وَتَجَهَّزَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ فَطَفِقْتُ أَغْدُو لِكَيْ أَتَجَهَّزَ مَعَهُمْ فَأَرْجِعُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا فَأَقُولُ فِي نَفْسِي أَنَا قَادِرٌ عَلَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ يَتَمَادَى بِي حَتَّى اشْتَدَّ بِالنَّاسِ الْجِدُّ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ وَلَمْ أَقْضِ مِنْ جَهَازِي شَيْئًا فَقُلْتُ أَتَجَهَّزُ بَعْدَهُ بِيَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَغَدَوْتُ بَعْدَ أَنْ فَصَلُوا لِأَتَجَهَّزَ فَرَجَعْتُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا ثُمَّ غَدَوْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ بِي حَتَّى أَسْرَعُوا وَتَفَارَطَ الْغَزْوُ وَهَمَمْتُ أَنْ أَرْتَحِلَ فَأُدْرِكَهُمْ وَلَيْتَنِي فَعَلْتُ فَلَمْ يُقَدَّرْ لِي ذٰلِكَ فَكُنْتُ إِذَا خَرَجْتُ فِي النَّاسِ بَعْدَ خُرُوجِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطُفْتُ فِيهِمْ أَحْزَنَنِي أَنِّي لَا أَرَى إِلَّا رَجُلًا مَغْمُوصًا عَلَيْهِ النِّفَاقُ أَوْ رَجُلًا مِمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ مِنَ الضُّعَفَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَلَغَ تَبُوكَ فَقَالَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْقَوْمِ بِتَبُوكَ مَا فَعَلَ كَعْبٌ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ حَبَسَهُ بُرْدَاهُ وَنَظَرُهُ فِي عِطْفِهِ فَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ بِئْسَ مَا قُلْتَ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا فَسَكَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ

فَلَمَّا بَلَغَنِي أَنَّهُ تَوَجَّهَ قَافِلًا حَضَرَنِي هَمِّي وَطَفِقْتُ أَتَذَكَّرُ الْكَذِبَ وَأَقُولُ بِمَاذَا أَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ غَدًا وَاسْتَعَنْتُ عَلَى ذَلِكَ بِكُلِّ ذِي رَأْيٍ مِنْ أَهْلِي فَلَمَّا قِيلَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَظَلَّ قَادِمًا زَاحَ عَنِّي الْبَاطِلُ وَعَرَفْتُ أَنِّي لَنْ أَخْرُجَ مِنْهُ أَبَدًا بِشَيْءٍ فِيهِ كَذِبٌ فَأَجْمَعْتُ صِدْقَهُ وَأَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَادِمًا وَكَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَيَرْكَعُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَعَلَ ذَلِكَ جَاءَهُ الْمُخَلَّفُونَ فَطَفِقُوا يَعْتَذِرُونَ إِلَيْهِ وَيَحْلِفُونَ لَهُ وَكَانُوا بِضْعَةً وَثَمَانِينَ رَجُلًا فَقَبِلَ مِنْهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَانِيَتَهُمْ وَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَوَكَلَ سَرَائِرَهُمْ إِلَى اللَّهِ فَجِئْتُهُ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ ثُمَّ قَالَ تَعَالَ فَجِئْتُ أَمْشِي حَتَّى جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ لِي مَا خَلَّفَكَ أَلَمْ تَكُنْ قَدِ ابْتَعْتَ ظَهْرَكَ فَقُلْتُ بَلَى إِنِّي وَاللَّهِ يا رسول الله لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَيْرِكَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا لَرَأَيْتُ أَنْ سَأَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ بِعُذْرٍ وَلَقَدْ أُعْطِيتُ جَدَلًا وَلَكِنِّي وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيثَ كَذِبٍ تَرْضَى بِهِ عَنِّي لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يُسْخِطَكَ عَلَيَّ وَلَئِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيهِ إِنِّي لَأَرْجُو فِيهِ عَفْوَ اللَّهِ لَا وَاللَّهِ مَا كَانَ لِي مِنْ عُذْرٍ وَاللَّهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَقْوَى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّي حِينَ تَخَلَّفْتُ عَنْكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا هَذَا فَقَدْ صَدَقَ فَقُمْ حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ فِيكَ فَقُمْتُ وَثَارَ رِجَالٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ فَاتَّبَعُونِي فَقَالُوا لِي وَاللَّهِ مَا عَلِمْنَاكَ كُنْتَ أَذْنَبْتَ ذَنْبًا قَبْلَ هَذَا وَلَقَدْ عَجَزْتَ أَنْ لَا تَكُونَ اعْتَذَرْتَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا اعْتَذَرَ إِلَيْهِ الْمُتَخَلِّفُونَ قَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اسْتِغْفَارُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ فَوَاللَّهِ مَا زَالُوا يُؤَنِّبُونِي حَتَّى أَرَدْتُ أَنْ أَرْجِعَ فَأُكَذِّبَ نَفْسِي ثُمَّ قُلْتُ لَهُمْ هَلْ لَقِيَ هَذَا مَعِي أَحَدٌ قَالُوا نَعَمْ رَجُلَانِ قَالَا مِثْلَ مَا قُلْتَ فَقِيلَ لَهُمَا مِثْلُ مَا قِيلَ لَكَ فَقُلْتُ مَنْ هُمَا قَالُوا مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْعَمْرِيُّ وَهِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ فَذَكَرُوا لِي رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا فِيهِمَا أُسْوَةٌ فَمَضَيْتُ حِينَ ذَكَرُوهُمَا لِي وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِينَ عَنْ كَلَامِنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ مِنْ بَيْنِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهُ فَاجْتَنَبَنَا النَّاسُ وَتَغَيَّرُوا لَنَا حَتَّى تَنَكَّرَتْ فِي نَفْسِي الْأَرْضُ فَمَا هِيَ الَّتِي أَعْرِفُ فَلَبِثْنَا عَلَى ذَلِكَ خَمْسِينَ لَيْلَةً فَأَمَّا صَاحِبَايَ فَاسْتَكَانَا وَقَعَدَا فِي بُيُوتِهِمَا يَبْكِيَانِ وَأَمَّا أَنَا فَكُنْتُ أَشَبَّ الْقَوْمِ وَأَجْلَدَهُمْ فَكُنْتُ أَخْرُجُ فَأَشْهَدُ الصَّلَاةَ مَعَ الْمُسْلِمِينَ وَأَطُوفُ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ وَآتِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُسَلِّمُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي مَجْلِسِهِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَأَقُولُ فِي نَفْسِي هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ عَلَيَّ أَمْ لَا ثُمَّ أُصَلِّي قَرِيبًا مِنْهُ فَأُسَارِقُهُ النَّظَرَ فَإِذَا أَقْبَلْتُ عَلَى صَلَاتِي أَقْبَلَ إِلَيَّ وَإِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ أَعْرَضَ عَنِّي حَتَّى إِذَا طَالَ عَلَيَّ ذَلِكَ مِنْ جَفْوَةِ النَّاسِ مَشَيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ أَبِي قَتَادَةَ وَهُوَ ابْنُ عَمِّي وَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَوَاللَّهِ مَا رَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ فَقُلْتُ يَا أَبَا قَتَادَةَ أَنْشُدُكَ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُنِي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَسَكَتَ

فَعُدْتُ لَهُ فَنَشَدْتُهُ فَسَكَتَ فَعُدْتُ لَهُ فَنَشَدْتُهُ فَقَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَفَاضَتْ عَيْنَايَ وَتَوَلَّيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ الْجِدَارَ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي بِسُوقِ الْمَدِينَةِ إِذَا نَبَطِيٌّ مِنْ أَنْبَاطِ أَهْلِ الشَّامِ مِمَّنْ قَدِمَ بِالطَّعَامِ يَبِيعُهُ بِالْمَدِينَةِ يَقُولُ مَنْ يَدُلُّ عَلَى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ فَطَفِقَ النَّاسُ يُشِيرُونَ لَهُ حَتَّى إِذَا جَاءَنِي دَفَعَ إِلَيَّ كِتَابًا مِنْ مَلِكِ غَسَّانَ فَإِذَا فِيهِ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِي أَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ يَجْعَلْكَ اللَّهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضْيَعَةٍ فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِكَ فَقُلْتُ لَمَّا قَرَأْتُهَا وَهَذَا أَيْضًا مِنَ الْبَلَاءِ فَتَيَمَّمْتُ بِهَا التَّنُّورَ فَسَجَرْتُهُ بِهَا حَتَّى إِذَا مَضَتْ أَرْبَعُونَ لَيْلَةً مِنَ الْخَمْسِينَ إِذَا رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينِي فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَعْتَزِلَ امْرَأَتَكَ فَقُلْتُ أُطَلِّقُهَا أَمْ مَاذَا أَفْعَلُ قَالَ لَا بَلْ اعْتَزِلْهَا وَلَا تَقْرَبْهَا وَأَرْسَلَ إِلَى صَاحِبَيَّ مِثْلَ ذَلِكَ فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي الْحَقِي بِأَهْلِكِ فَتَكُونِي عِنْدَهُمْ حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ فِي هَذَا الْأَمْرِ قَالَ كَعْبٌ فَجَاءَتْ امْرَأَةُ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ شَيْخٌ ضَائِعٌ لَيْسَ لَهُ خَادِمٌ فَهَلْ تَكْرَهُ أَنْ أَخْدُمَهُ قَالَ لَا وَلَكِنْ لَا يَقْرَبْكِ قَالَتْ إِنَّهُ وَاللَّهِ مَا بِهِ حَرَكَةٌ إِلَى شَيْءٍ وَاللَّهِ مَا زَالَ يَبْكِي مُنْذُ كَانَ مِنْ أَمْرِهِ مَا كَانَ إِلَى يَوْمِهِ هَذَا فَقَالَ لِي بَعْضُ أَهْلِي لَوْ اسْتَأْذَنْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَأَتِكَ كَمَا أَذِنَ لِامْرَأَةِ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ أَنْ تَخْدُمَهُ فَقُلْتُ وَاللَّهِ لَا أَسْتَأْذِنُ فِيهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يُدْرِينِي مَا يَقُولُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنْتُهُ فِيهَا وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَبِثْتُ بَعْدَ ذَلِكَ عَشْرَ لَيَالٍ حَتَّى كَمَلَتْ لَنَا خَمْسُونَ لَيْلَةً مِنْ حِينَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَلَامِنَا فَلَمَّا صَلَّيْتُ صَلَاةَ الْفَجْرِ صُبْحَ خَمْسِينَ لَيْلَةً وَأَنَا عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِنَا فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ عَلَى الْحَالِ الَّتِي ذَكَرَ اللَّهُ قَدْ ضَاقَتْ عَلَيَّ نَفْسِي وَضَاقَتْ عَلَيَّ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ سَمِعْتُ صَوْتَ صَارِخٍ أَوْفَى عَلَى جَبَلِ سَلْعٍ بِأَعْلَى صَوْتِهِ يَا كَعْبُ بْنَ مَالِكٍ أَبْشِرْ قَالَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا وَعَرَفْتُ أَنْ قَدْ جَاءَ فَرَجٌ وَآذَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَوْبَةِ اللَّهِ عَلَيْنَا حِينَ صَلَّى صَلَاةَ الْفَجْرِ فَذَهَبَ النَّاسُ يُبَشِّرُونَنَا وَذَهَبَ قِبَلَ صَاحِبَيَّ مُبَشِّرُونَ وَرَكَضَ إِلَيَّ رَجُلٌ فَرَسًا وَسَعَى سَاعٍ مِنْ أَسْلَمَ فَأَوْفَى عَلَى الْجَبَلِ وَكَانَ الصَّوْتُ أَسْرَعَ مِنَ الْفَرَسِ فَلَمَّا جَاءَنِي الَّذِي سَمِعْتُ صَوْتَهُ يُبَشِّرُنِي نَزَعْتُ لَهُ ثَوْبَيَّ فَكَسَوْتُهُ إِيَّاهُمَا بِبُشْرَاهُ وَاللَّهِ مَا أَمْلِكُ غَيْرَهُمَا يَوْمَئِذٍ وَاسْتَعَرْتُ ثَوْبَيْنِ فَلَبِسْتُهُمَا وَانْطَلَقْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَتَلَقَّانِي النَّاسُ فَوْجًا فَوْجًا يُهَنُّونِي بِالتَّوْبَةِ يَقُولُونَ لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللَّهِ عَلَيْكَ قَالَ كَعْبٌ حَتَّى دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ حَوْلَهُ النَّاسُ فَقَامَ إِلَيَّ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ يُهَرْوِلُ حَتَّى صَافَحَنِي وَهَنَّانِي وَاللَّهِ مَا قَامَ إِلَيَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ غَيْرَهُ وَلَا أَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ قَالَ كَعْبٌ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبْرُقُ وَجْهُهُ مِنَ السُّرُورِ أَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ قَالَ قُلْتُ أَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمْ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ قَالَ لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّهُ قِطْعَةُ قَمَرٍ وَكُنَّا نَعْرِفُ ذَلِكَ مِنْهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ إِنَّمَا نَجَّانِي بِالصِّدْقِ وَإِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ لَا أُحَدِّثَ إِلَّا صِدْقًا مَا بَقِيتُ فَوَاللَّهِ مَا أَعْلَمُ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَبْلَاهُ اللَّهُ فِي صِدْقِ الْحَدِيثِ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ مِمَّا أَبْلَانِي مَا تَعَمَّدْتُ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِي هَذَا كَذِبًا وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَحْفَظَنِي اللَّهُ فِيمَا بَقِيتُ وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ إِلَى قَوْلِهِ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ فَوَاللَّهِ مَا أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ نِعْمَةٍ قَطُّ بَعْدَ أَنْ هَدَانِي لِلْإِسْلَامِ أَعْظَمَ فِي نَفْسِي مِنْ صِدْقِي لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا أَكُونَ كَذَبْتُهُ فَأَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِينَ كَذَبُوا فَإِنَّ اللَّهَ قَالَ لِلَّذِينَ كَذَبُوا حِينَ أَنْزَلَ الْوَحْيَ شَرَّ مَا قَالَ لِأَحَدٍ فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَى قَوْلِهِ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ قَالَ كَعْبٌ وَكُنَّا تَخَلَّفْنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ عَنْ أَمْرِ أُولَئِكَ الَّذِينَ قَبِلَ مِنْهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَلَفُوا لَهُ فَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَأَرْجَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَنَا حَتَّى قَضَى اللَّهُ فِيهِ فَبِذَلِكَ قَالَ اللَّهُ ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾ وَلَيْسَ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ مِمَّا خُلِّفْنَا عَنِ الْغَزْوِ إِنَّمَا هُوَ تَخْلِيفُهُ إِيَّانَا وَإِرْجَاؤُهُ أَمْرَنَا عَمَّنْ حَلَفَ لَهُ وَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَبِلَ مِنْهُ [ر: ٢٦٠٦]

دا حديث هم غزوۀ تبوك سره متعلق دے.خو چونکه ډیر تفصیلی او اوږد دے.په دے وجه امام بخاری رحمه الله مستقل عنوان قائم کړو.امام بخاری رحمه الله دا حديث په صحيح بخاری کښې لسو ځایونوکښې ذکر کړے دے.(۱) دلته د ټولو نه زيات تفصيلی دے.چه دا دده اصل

---

۱) عمدة القاری (۵۱\۱۱۸) علامه عینی رحمه الله دا ليکلی دی.چه امام بخاری رحمه الله حديث د کعب بن مالك په لسو ځایونوکښې ذکرکړے دے.خو حقيقت دادے.چه امام بخاری رحمه الله حديث د کعب بن مالك رضی الله عنه تقريباً اوولسو۱۷، ځایونوکښې ذکرکړے دے.چه دده تخريج دادے:

.الحديث اخرجه البخاری فی كتاب الوصايا، باب اذا تصدق او وقف بعض رقيقه او دوابه فهوجائز، رقم(۲۷۵۷). وفی كتاب الجهاد، باب من ارادغزوۀ فورّی بغيرها، رقم(۲۹۴۷) و(۲۹۴۸و ۲۹۴۹و۲۹۵۰) وايضاً فی كتاب الجهاد، باب الصلاة اذا قدم من سفر، رقم(۳۰۸۸) وفی كتاب المناقب، باب صفة النبی صلی الله عليه وسلم رقم(۳۵۵۶) وفی كتاب مناقب الانصار، باب وفود الانصار الی النبی صلی الله عليه وسلم بمكة، رقم(۳۸۸۹) وفی كتاب المغازی، باب قصة غزوة بدر، رقم(۳۹۵۱)، وايضاً فی....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

مقام دې.په نورو ځايونوکښې ددې مختلفې حصې په څه مناسبت سره امام بخاری رحمه الله ذکرکړې دی.

دا روايت امام مسلم رحمه الله هم تخريج کړې دې.د امام بخاری رحمه الله د روايت مدار په ابن شهاب زهری دې.او د امام مسلم د روايت مدار په ،،يونس بن يزيد،، باندې دې.(۱)

د غزوهٔ تبوک په موقعه باندې کله چه نبی عليه السلام دجهاد دپاره د سفر اعلان اوکړو .نوډير منافقان لاړنه شو.چه دهغوی تعداد تقريباً ۸۰ ته نزدې وو.په نه تلونکو کښې درې مخلص صحابه هم وو.چه په هغوی کښې يوحضرت کعب بن مالک رضی الله عنه، دويم حضرت مرارة بن الربيع، او دريم حضرت هلال بن اميه رضی الله عنه وو.

حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه په خپل دې اوږد روايت کښې دا واقعه تفصيل سره بيان کړې ده.تاسو مخکښې ددې حديث ترجمه اوګورئ.ددې نه پس چه دکومې خبرې تشريح ضروری وی.دهغې تشريح به کولې شی.

د کعب بن مالک رضی الله عنه د حديث ترجمه: عبدالله بن کعب وائی.چه ما د کعب بن مالک رضی الله عنه نه په غزوهٔ تبوک کښې دهغه د روستو پاتې کيدو قصه واوريده.هغه فرمائی.چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په څومره غزواتو کښې شرکت کړې دې.زه په هغې ټولو کښې سوا د غزوهٔ تبوک نه نبی عليه السلام سره شريک شوې يم. البته په غزوهٔ بدرکښې شريک شوې نه ووم.څوکوم خلق چه د غزوهٔ بدر نه روستو پاتې شوی وو.په هغوی کښې په چاهم دالله د طرفه عتاب (ملامتيا) نه وه راغلې.ځکه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د قريشو د قافلې په اراده وتلې وو.(دجنګ قصد ئې نه وو.اونه دهغې دپاره اعلان شوې وو) اچانک الله جل جلاله مسلمانان او دشمنان جمع کړل.(او د غزوهٔ بدر واقعه پيښه شوه).

اوزه د ليلة العقبه په بيعت کښې هم حاضرووم.چه په هغې کښې مونږ د اسلام د مدد اوحفاظت معاهده کړې وه.او زما دا خبره نه ده خوښه.چه د بيعت عقبه د حاضرئ په ځائې دې زما دپاره غزوهٔ بدرکښې حاضری وی.اګرچه په خلقوکښې د غزوهٔ بدر شهرت زيات دې.

او(په غزوهٔ تبوک کښې زما دنه حاضريدو) واقعه داده.چه زه کله هم دومره خوشحاله او مالداره نه ووم.څومره چه ددې غزوې په وخت کښې ووم.په خدائې قسم! ددې نه وړاندې کله هم زما سره دوه سورلئ نه دی جمع شوې.حالانکه دغه وخت زماسره دوه سورلئ وې.او

...دتيرمخ بقيه] کتاب المغازی، باب حديث کعب بن مالک، رقم(٤٤١٨) وفی کتاب التفسير، باب سيحلفون بالله اذا انقلبتم اليهم لتعرضوا عنهم..... رقم(٤٦٧٣) وايضاً فی کتاب التفسير، باب لقد تاب الله علی النبی والمهاجرين رقم (٤٦٧٦) وأيضا فی کتاب التفسير باب ((وعلی الثلاثة الذين خلفوا ، رقم ٤٦٧٧) وأيضاً فيه باب يايهاالذين آمنوا اتقوا الله وکونوا مع الصادقين رقم ٤٦٧٨) وفی کتاب الاستيذان، باب من لم يسلم علی من ارتکب ذنباً رقم(٦٢٥٥) وفی کتاب الايمان والنذور، باب اذا اهدی ماله علی وجه النذر والتوبة رقم(٦٦٩٠) وفی کتاب الاحکام، باب هل للامام ان يمنع المجرمين واهل المعصية من الکلام معه، رقم (٧٢٢٥)_

۱) اخرجه مسلم فی کتاب التوبة، باب حديث توبة کعب بن مالک وصاحبيه، رقم(٢٧٦٩)_

رسول اللهﷺ چه به کله د يوې غزوې اراده فرمائيله .نو توريه به ئې فرمائيله.(په کوم طرف چه به ئې جهاد دپاره تلل غوښتل دهغې د خلاف طرف حالات به ئې معلومول.چه منافقان خبر ورنکړې) تردې چه د غزوۀ تبوك واقعه پيښه شوه.نبیﷺ په سخته گرمئ کښې ددې جهاد قصد اوکړو.او سفرهم ډير لرې او په بې اوبو او بې گيا صحرا کښې وو.د دشمن تعداد هم ډير وو. په دې وجه رسول اللهﷺ ددې جهاد په ښکاره اعلان اوکړو.چه مسلمانان ددې دپاره پوره تيارى اوکړى.په کوم طرف چه د رسول اللهﷺ اراده وه.نبیﷺ هغه اوخودلو .(يعنى داچه تبوك طرف ته تلل دى).

رسول اللهﷺ سره مسلمانان هم ډير وو.او په هيڅ يو کتاب (رجسټر) کښې د هغوى نومونه نه وو جمع کړې شوى.(چه دهغې نه د نه تلونکو پته اولگى) په دې وجه که يوکس به تلل نه غوښتل.نو دهغه سوچ به هم دا وو.چه رسول اللهﷺ ته به پته نه لگى.البته که الله ﷻ وحى نازله کړى.او نبیﷺ ته اطلاع ورکړى.کوم وخت چه رسول اللهﷺ ددې جهاد دپاره اووتلو.هغه وخت ميوې پخې شوې وې.او (د گرمئ په وجه) سورې خوښ وو.په دې حالت کښې رسول اللهﷺ او عامو مسلمانانو د سفر تيارى اوکړله.

ما به روزانه د سحر اراده کوله.چه دجهاد تيارى اوکړم.خو دڅه تيارئ نه بغير به واپس راتلم.ما به په زړه کښې ونيل.چه زه په جهاد باندې قدرت لرم.(او ما سره ذرائع او اسباب شته دې.بيا جلتى دڅه اوکړم؟) خو دغه شان (په نن صبا کښې) زما اراده روستو کيده.تردې چه خلقو محنت او مشقت برداشت کړو.تيارى ئې اوکړله.رسول اللهﷺ د سحر په وخت مسلمانان دخان سره کړل.او روان شو.خو ما تر اوسه پورې څه تيارى نه وه کړې.خو اوس هم ما په زړه کښې دا اوونيل.چه په يوه ورځ دوه کښې به تيارى اوکړم.په لاره کښې به هغوى سره ملاؤ شم.کله چه هغوى تړول لاړل.نو په دويمه ورځ ما تيارى کول اوغوښتل.خو په دغه ورځ مې هم تيارى اونکړله.په دريمه ورځ هم دغه شان اوشو.زه هم په دغه حال کښې پاتې شوم.تردې چه هغوى ډير په تيزئ سره اووتل.او غزوه زما نه فوت شوه.څو خله ما اراده اوکړله.چه سفر اوکړم.او هغوى سره ملاؤ شم.او کاش! چه ما دغه شان کړې وې.خو دا زما دپاره مقدر نه وو.

د رسول اللهﷺ د تشريف اوړلو نه پس چه به کله زه په مدينه کښې چرته تلم.نو دې خبرې به زه غمژن کولم.چه دې وخت په پوره مدينه کښې يا خو هغه خلق په نظر راتلى.کوم چه په نفاق کښې ډوب وو.يا بيا هغه خلق کوم چه الله ﷻ معذوره او ضعيف گرځولى وو.هلته رسول اللهﷺ ته په ټوله لاره کښې زه ورياد نه شوم.تردې چه نبیﷺ تبوك ته اورسيده.هغه وخت په يو مجلس کښې نبیﷺ اوفرمائيل.،،ما فعل کعب؟،، په کعب څه اوشو؟ (چه هغه رانغې) د بنوسلمه يو سړى اوونيل.،،يا رسول الله! حبسه برداه ونظره فى عطفه،، يعنى هغه لره جهاد دهغه ښائسته جامو او هغې ته نظر کولو منع کړې دې.، حضرت معاذ بن جبلؓ اوونيل. چه تا دا بده خبره اوکړله.اې د الله رسوله! په خدائې قسم! زه په هغه کښې دخير نه سوا هيڅ نه پيژنم.په دې اوريدو سره رسول اللهﷺ خاموش شو.

حضرت کعبؓ فرمائى.چه کله ماته دا خبر ملاؤ شو.چه رسول اللهﷺ واپس تشريف

راوړي.نو ماته ډير فکرشو.اوځه د دروغو بهانې سوچ مې کولو.ما په زړه کښې اووئيل.چه زه د رسول الله ﷺ د ناراضګئ نه څنګه بچ کيدې شم؟ په دې باره کښې ما دخپل کور دښه رانې والا کسانو سره مشوره اوکړله.خوکله چه داخبر ملاؤ شو.چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلي دې.نوددروغو خيالات زمادزړه نه اووتل. او زه پوهه شوم.چه زه د نبی ﷺ د ناراضګئ نه په يو داسې بنياد بانديې نه شم وتلې.چه په هغې کښې دروغ وی.په دې وجه ما بالکل د رښتيا ونيلو قصد اوکړو.

رسول الله ﷺ د سحر په وخت تشريف راوړو.نبی ﷺ چه به کله هم د سفر نه تشريف راوړه.نو دوه رکعته مونځ به ئې جمات کښې کولو.بيا به دخلقو سره کيناستلو.دخپل عادت مطابق چه.کله نبی ﷺ دا اوکړل.نو په غزوې کښې نه شريکيدونکی نبی ﷺ ته راغلل.او قسمونه ئې خوړل.خپل عذورنه ئې بيانول.د داسې خلقو تعداد د اتياؤ نه څه زيات وو.رسول الله ﷺ دهغوی ظاهری قول او اقرار قبول کړو.او هغوی ئې بيعت کړل.هغوی دپاره ئې د مغفرت دعا اوفرمائيله.او دهغوی دننه معامله ئې الله ﷻ ته اوسپارله.

زه هم خدمت کښې حاضرشوم.کله چه ما سلام اوکړو.نونبی ﷺ داسې تبسم اوفرمائيلو. لکه چه د ناراضه سړی تبسم وی.بيا نبی ﷺ اوفرمائيل.،،راشه،،زه ورغلم او د نبی ﷺ مخې ته کيناستم.نبی ﷺ زمانه تپوس اوکړو.ته ولې روستو پاتې شوې.آيا تا سورلئ نه وه اخستې؟ ما اووئيل.په خدائې قسم! که زه ستاسو نه سوا د دنيا د بل يو سړی مخې ته ناست ووم.نو ما به څه عذر جوړکړې وې.او دهغه د ناراضګئ نه به مې ځان بچ کړې وې.ځکه چه ماته د بهانې او خبرې جوړولو مهارت حاصل دې.خوپه خدائې قسم! ماته يقين دې.چه که زه دروغ اووايم.اوتاسو راضی کړم.نو ډيره ممکنه ده.چه الله تعالی حقيقت حال تاسو ته ښکاره کړی.او تاسو زما نه ناراضه کړی.اوکه ما رښتيا خبره اوکړله.چه په هغې سره تاسو زما نه ناراضه هم شئ.نو ماته اميد شته.چه الله تعالی به ما معاف کړی. رښتيا خبره داده.چه دجهاد نه په روستو پاتې کيدو کښې زما هيڅ عذر نه وو.زه کله هم مالی او جسمانی طور بانديې دومره صحت مند او پيسو والا نه ووم.څومره چه دغه وخت ووم.

رسول الله ﷺ اوفرمائيل.چه دې سړی صحيح خبره بيان کړله.بيا ئې اوفرمائيل .اوس لاړشه.تردې چه الله تعالی پخپله ستاسو متعلق څه فيصله اوکړی.زه ددغه ځائې نه پاسيدم.او لاړم.نو د بنی سلمه يو څو سړی ما پسې راغلل.وې وئيل.چه ددې نه وړاندې خو زمونږ په علم کښې تا هيڅ ګناه نه ده کړې.په دې خبره کښې ستا نه ډيره غټه غلطی اوشوه.چه تا هم دغه وخت داسې څه عذر پيش کړې وې.لکه څنګه چه نورو روستو پاتې کيدونکو پيش کړو.ستا د ګناه دپاره به د رسول الله ﷺ استغفار هم کافی وې.په خدائې قسم! دغه خلقو زه دومره ملامته کړم.چه زما په زړه کښې خيال راغې.چه زه دوباره لاړشم.او خپل ځان دروغژن کړم.(او نبی ﷺ ته عرض اوکړم.چه کومه خبره ما مخکښې کړې وه.هغه غلطه وه.زماصحيح عذر موجود دې) بيا ما دهغوی نه تپوس اوکړو.چه زما سره بل هم څوک شته.چه هغه زما پشان دخپل جرم اقرار کړې وی.هغوی اووئيل.او دوه سړی نور هم دی.چه هغوی هم ستا پشان اووئيل.او هغوی ته هم هغه جواب ورکړې شو. کوم چه تاته درکړې شو.ما تپوس اوکړو.چه هغه څوک دی؟ هغوی اووئيل.چه يو مراره بن ربيع العمری

دي.او دويم هلال بن اميه واقفي دي.(١) هغوی د داسې دوؤ سړو ذکر اوکړو.چه هغوی په غزوهٔ بدرکښې شريك شوی وو.(ما اوونيل.بس زما دپاره) هغوی دواړوکښې نمونه ده.(او دهغوی عمل د تقليد قابل دې) نوکله چه هغوی ددغه دواړو بزرګانو ذکراوکړو.نو زه کور ته لاړم.
رسول اللهﷺ مسلمانان مونږ دريو واړو سره د سلام او خبرو کولو نه منع کړل .چه ددې په وجه ټول خلق زمونږ نه جدا شو.او ټول زمونږ دپاره بدل شو.تردې چه زما دپاره زمکه اجنبی (پردئ) جوړه شوه.داسې محسوسه شوه.چه دا هغه زمکه نه ده.کومه چه ما پيژندله.په دې حالت کښې مونږ پنځوس ورځې وو.زما دواړه ملګری عاجزه شو.پخپلو کورونوکښې ناست وو.ژړل به ئې.خو چونکه زه ځوان او صحت مند ووم.په دې وجه به زه بهر راوتلم.مسلمانانو سره به مانځه کښې شريکيدم.او په بازارانو کښې به ګرځيدم. چا به هم ما سره خبرې نه کولې.رسول اللهﷺ ته به راتلم.هغه به د مانځه نه پس په مجلس کښې وو.ما به سلام کولو.بيا به مې کتل.چه د رسول اللهﷺ شونډې مبارکې او خوزيدې اوکه نه؟ بيا به ما نبیﷺ ته نزدې مونځ کولو.نو د سترګو په ګوټونوکښې به مې نبیﷺ طرف ته کتل.نو معلوميده به.چه زه کله په مانځه کښې مشغول شم.نو نبیﷺ زما په طرف ګوری.اوکله چه زه نبیﷺ طرف ته متوجه شم.نو هغه مخ اړوی.
کله چه دخلقو دا بې رخی اوږده شوه.نو يوه ورځ زه روان شوم.تردې چه د ابوقتاده د باغ په ديوال واوختم.او داخل شوم.ابوقتاده زما د تره ځوئې وو.اوبه خلقو کښې ماته دټولو نه زيات محبوب وو.ما سلام اوکړو.په خدائې قسم! هغه د سلام جواب رانه کړو.ما عرض اوکړو. ابوقتاده! زه تاته د الله واسطه درکوم.آيا تاته پته نشته.چه زه الله او دهغه رسول سره محبت کوم.هغه هيڅ جواب رانکړو.ماپه دويم ځلی دا خبره اوکړله.نو بيا هم هغه هيڅ جواب رانکړو.په دريم ځل چه کله ما اوونيل.نو هغه صرف دومره اوونيل.،،الله ورسوله اعلم،، زما د سترګو نه اوښکې جاری شوې.او په ديوار واوړيدم.د باغ نه بهر راغلم.په دغه دوران کښې يوه ورځ زه د مدينې منورې په بازارکښې روان ووم.چه اچانك د ملك شام يو نبطی سړې چه د غلې خرڅولو دپاره دشام نه مدينې ته راغلې وو. هغه وئيل.چه کعب بن مالك چرته دې؟ خلقو زما طرف ته اشاره اوکړله.اووې خودلم.هغه سړې ماته راغې .اوماته ئې د غسان د بادشاه د ريښمو په رومال باندې ليکلې شوې خط راکړو.چه په هغې کښې ئې ليکلی وو.

قوله: اما بعد! فانه قد بلغني ان صاحبك قد جفاك، ولم يجعلك الله بدار هوان ولا مضيعة، فالحق بنا نواسك: ،،امابعد! ماته دا اطلاع ملاؤ شوی ده.چه ستا صاحب په تا جفا کړې ده.الله تعالی دې تا د ذلت او هلاکت په ځائې کښې نه ساتی.حالانکه الله تعالی ته نه ذليل جوړ کړې يې.او نه ئې بيکاره (پيدا کړې يې).يعنی ته دکار سړې يې.ته مونږ ته راشهٔ.مونږ به تاسره همدردی کوو،،
ماچه دا خط اولوسته.نو ما اوونيل.چه دا يو بل امتحان راغې.بيا ما دغه خط په تنورکښې

---

١) دلته په اصل کښې حاشيه نشته،

واچولو.اومي سوزولو.كله چه په پنځوسوكښې خلويښت ورځې تيرې شوې.نو د رسول الله ﷺ يو قاصد ماته راغې.اووې وئيل.چه رسول الله ﷺ تاته دا حكم دركوى.چه ته دخپلې ښځې نه هم جدائى اختياركړه.ما تپوس اوكړو.چه آيا طلاق وركړم.يا څه اوكړم؟ هغوى اووئيل.چه نه! صرف جدا اوسيږه.هغې ته نزدې مه ورځه.دغه شان حكم زما دواړو ملګرو ته هم اورسيده. ما خپلې ښځې ته اووئيل.چه اوس ته خپل موريلار كره لاړه شه.او هلته اوسيږه. تركومه پورې چه الله تعالى څه فيصله اونكړى.

حضرت كعب رضي الله عنه فرمائى.چه د هلال بن اميه رضي الله عنه ښځه د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه.اوعرض ئې اوكړوچه اې دالله رسوله!هلال بن اميه بوډا كمزورې دې.دهغه څوك خادم هم نشته.كه زه دهغه خدمت كوم.نوآيا تاسو به دا ناخوښه ګڼړئ؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل. نه، البته هغه دې ستا خواته نه راځى.هغې اووئيل .په خدائې قسم! (د بوډاوالى په وجه) هغه كښې هيڅ حركت نشته.او دكوم وخت نه چه دعتاب واقعه پيښه شوې ده.دهغه وخت نه هغه هروخت شپه او ورځ ژاړى.كعب بن مالك فرمائى.چه ماته هم زما دكور بعضې كسانو اووئيل.چه كه تاسو هم د خپلې ښځې په باره كښې د رسول الله ﷺ نه اجازت واخلئ.لكه څنګه چه د هلال رضي الله عنه ښځې ته نبى عليه السلام د هلال دخدمت اجازت وركړو.(نو ښه به وى).ما اووئيل.په خدائې قسم! زه به اجازت وانخلم.معلومه نه ده.چه رسول الله ﷺ به څه جواب راكوى.او زه ځوان سړې يم.(ماته دخدمت څه خاص ضرورت هم نشته) بيا ما هم په دې حال كښې لس شپې نورې هم تيرې كړې.تردې چه پنځوس شپې مكمل شوې.كله چه د پنځوسمې شپې په صبا ما د سحر مونځ اوكړو.زه دخپل كور په چت باندې ناست ووم.اوهغه حالت وو.دكوم ذكرچه الله تعالى كړې دې.چه په ما باندې زما بدن او زمكه د فراخئ باوجود تنګه شوې وه.نو اچانك ما د سلع غر دپاس نه د يو آواز كونكى آواز واوريده.چه هغه په اوچت آواز سره وئيل.((ياكعب بن مالك، ابشر)) اې كعب بن مالك زيرې دې وى،،

حضرت كعب رضي الله عنه فرمائى.چه په دې اوريدو سره زه سجده كښې پريوتم.او پوهه شوم.چه اوس فراخى راغله.رسول الله ﷺ د سحر مانځه نه پس صحابو رضي الله عنهم ته زمونږ د توبې قبليدو خبر وركړې وو.ټول خلق مونږ ته د زيرى راكولو دپاره راروان شو.يو سړې (زبير بن عوام) په اس باندې سور ماته راغې.او د قبيله اسلم يو سړې (حمزه بن عمرو اسلمى) په منډه منډه غر باندې راوختنه.(او د خوشخبرئ آواز ئې راكړو) دهغه آواز د اس نه زر راورسيده.بيا هغه كس دچا آواز چه ما مخكښې اوريدلې وو.ماته دخوشخبرئ راكولو دپاره راغې.نو ما خپلې دواړه جامې اوښكلې.د زيرى په خوشحالئ كښې مې هغه ته وركړې.دغه وخت ما سره دهغې نه سوا هيڅ نه وو.اودوه كپړې مې(د ابوقتاده رضي الله عنه نه) عاريتاً واخستلې او ما وغوستلې.او اغوستې وې.زه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضريدو دپاره روان شوم.نو په لاره كښې خلق ډلې ډلې ماسره ملاويدل.او دتوبې په قبليدو ئې مباركيانې راكولې. فرمائى. چه زه جمات ته داخل شوم.نواومې كتل.چه رسول الله ﷺ تشريف فرما دې.خلق د هغه نه ګيرچاپيره ناست دى.زما په كتلو دټولو نه مخكښې طلحه بن عبيدالله اودريده.زما په طرف ئې رامنډه كړله.او ماسره ئې مصافحه اوكړله.مباركى ئې راكړه.زه به د طلحه دا

احسان كله هم هيرنكړم.كله چه ما رسول الله ﷺ ته سلام اوكړو.نو دهغوى مخ مبارك د خوشحالئ په وجه زليده.نبى عليه السلام اوفرمائيل.«ابشر بخير يوم مرعليك منذ ولدتك امك» تاته دې خوشخبرى وى.د داسې مباركې ورځې، چه دا ستا په عمركښې د پيدائش نه واخله ترنن ورځې پورې دټولو نه زياته غوره ورځ ده.

حضرت كعب رضي الله عنه فرمائى.ما تپوس اوكړو.اې د الله رسوله! دا زيرې ستاسو د طرفه دې.اوكه د الله د طرفه دې؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل.نه بلكه د الله د طرفه دى.او رسول الله ﷺ چه به كله په څه خبره خوشحاله شو.نو مخ مبارك به ئې داسې زليده. لكه چه د سپوږمۍ ټكړه وى.مونږ به ئې دمخ مبارك نه خوشحالى معلوموله.كله چه زه دهغوى مخې ته كيناستم.نو عرض مې اوكړو.اې د الله رسوله! زما په توبه كښې دا خبره هم ده.چه زه خپل ټول مال دولت نه راوځم.ټول د الله او دهغه د رسول دپاره صدقه كړم.نبى عليه السلام اوفرمائيل.څه خان ته پريږده.دا غوره ده.ما اووئيل.زه خپله دخيبر والا حصه پريږدم.(او باقى ټول صدقه كوم).

بيا ما عرض اوكړو.اې د الله رسوله! الله تعالى ماته د رښتيا وئيلو په وجه نجات راكړو.اوس زما توبه داده.چه تركومې پورې زه ژوندې يم.رښتيا به وايم.په خدائې قسم! زه هيڅ مسلمان نه پيژنم.چه هغه ته الله د رښتياؤ په وجه دومره عزت وركړې وى.څومره ئې چه ماته راكړې دې.دكوم وخت نه چه ما دا وعده كړې ده.الحمدلله تر نن ورځې پورې مې كله د دروغو اراده هم نه ده كړې.او زما اميد دې.چه الله تعالى به باقى ژوند هم ما ددې نه محفوظ ساتى.په خدائې قسم! د اسلام دهدايت نه پس د الله تعالى هيڅ احسان ددې نه زيات په ما باندې نه دې شوې.چه ماته ئې د رسول الله ﷺ په وړاندې د رښتيا وئيلو توفيق راكړو. چه ما دروغ اونه وئيلې.كينې د دروغ ويونكو پشان به زه هم هلاك شوې ووم.چه دهغوى په باره كښې الله تعالى سخته وحى نازله كړله.چه دا ئې دبل چا دپاره نه ده نازل كړې.لكه د الله تعالى ارشاددې.

﴿سَيَحْلِفُوْنَ بِاللهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ.....الى قوله ..... فَاِنَّ اللهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ﴾

حضرت كعب رضي الله عنه فرمائى.مونږ درې واړه د باقى روستو پاتې كيدونكو نه روستواوساتلې شو. هغوى چه كله رسول الله ﷺ ته قسمونه اوخوړل.نو نبى عليه السلام د هغوى خبره قبوله كړله. هغوى ئې بيعت كړل.او هغوى دپاره ئې دمغفرت دعا اوكړله.او زمونږ معامله رسول الله ﷺ روستوكړله.تردې چه الله تعالى پخپله فيصله اوفرمائيله. ﴿وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا﴾ كښې الله ﷻ دې طرف ته اشاره كړې ده.په،،خلفوا،،كښې د جهاد نه روستو پاتې كيدل مراد نه دى.بلكه زمونږ معامله او فيصله روستو كيدل مراد دى.

د كعب بن مالك رضى الله عنه دحديث د بعضې جملو تشريح:

قوله: وَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِي بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ وَإِنْ كَانَتْ بَدْرٌ أَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا:

حضرت كعب رضي الله عنه فرمائى.چه په بدركښې دحاضريدو په عوض د ليلة العقبه حاضرى ماته زياته محبوبه ده.اګرچه بدر په خلقوكښې د ليلة العقبه په مقابله كښې زيات مشهور دې.دا دحضرت كعب رضي الله عنه رائې ده.كينى د نورو صحابو رضي الله عنهم او تابعينو او دټولو عالمانو رائې

داده.چه د بدر مقام او مرتبه د ليلة العقبه نه زيات دى.د احاديثو نه هم د بدر فضيلت زيات معلوميږى.او د بدر د شريكانو فضائل هم دليلة العقبه د شريكانو نه زيات دې.(١) خو د حضرت كعب رضی الله عنه رائې داده.چه كه دليلة العقبه واقعه راپيښه شوې نه وې.نو د بدر حالت به هم نه وې پيښ شوې.په دې وجه دهغوى په نزد هغه د بدر نه افضل دې.

قوله: وَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا: د نبى كريم صلی الله علیه وسلم عادت مبارك دا وو.چه د يوې غزوې دپاره به تلو.نو صراحت به ئې نه كولو.بلكه توريه به ئې كوله.چه دشمن ته د نبى علیه السلام د ارادې علم اونه شى. خو په غزوهٔ تبوك كښې نبى علیه السلام واضحه اعلان كړې وو.يو خو ددې دپاره چه خلق د دې دپاره مكمله تيارى اوكړى. او دويمه په دې كښې د جنګ حكمت وو.اوهغه دا چه روميانو ته پته اولګى.چه هغوى كوم خلق كمزورى او يوه لقمه ګڼړى.هغوى دومره كمزورى نه دى.په هغوى كښې دومره طاقت شته.چه د دشمن د حملې د انتظار كولو نه بغير ورمخكښې شى.او په هغوى حمله اوكړى. په دې واضح اعلان سره د روميانو مرعوبه كول مقصود وو.او هم دغه شان اوشو.هغوى مرعوبه شو. مقابلې دپاره رانغلل.

قوله: وَالْمُسْلِمُونَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرٌ: د بعضې رواياتو نه معلوميږى.چه نبى علیه السلام سره د لسو زرو كسانو لښكر وو. په ،،اكليل،،كښې د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه روايت نقل كړې دې.چه نبى علیه السلام سره په دې سفر كښې د ديرشو زرو نه زيات كسان وو.(٢) محمد بن اسحاق هم دا نقل كړې دې.(٣) واقدى نقل كړى دى.چه لس زره اسونه وو.(٤) په كومو رواياتو كښې چه دى.چه په دې كښې لس زره كسان وو.شايد دهغې نه لس زره په اسونو سواره مراد وى.دټولو رواياتو كتلو نه معلوميږى.چه ټول شريكان د ديرشو او څلويښتو زرو په منځ منځ كښې وو.(٥)

قوله: حِينَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَالظِّلَالُ:ميوې او سورى خوښ شوى وو.د ميوو خوښيدل خو دهغې د پخيدو نه كيږى. اودسورو خوښيدل دګرمۍ د سختۍ نه كيږى.چه ګرمى سخته وى.نو سورې ډير خوښ معلوميږى.

---

١) باب فضل من شهد بدراً، فتح البارى (٣٠٥\٧)_
٢) فتح البارى(١١٧\٨)_
٣) فتح البارى(١١٧\٨)_
٤) فتح البارى(١١٧\٨)_
٥) ابن سعد ديرش زره تعداد ليكلې دې.(طبقات ابن سعد٢\١۶۶) په بعضې رواياتوكښې څلويښت زره تعداد راغلې دې.(عمدة القارى١٨\٥٢) ابن صلاح د حافظ ابوزرعه په حوالې سره اويا زره تعداد ليكلې دې.(مقدمة بن الصلاح ١٢٧-١٢٨) والله اعلم)_

قوله: فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ يَارَسُولَ اللّٰهِ حَبَسَهُ بُرْدَاهُ وَنَظَرُهُ فِي عِطْفِهِ: دا سړي عبدالله بن انيس وو.(١) هغه اووئيل.اې د الله رسوله! هغه لره دوو څادرونو او خپل خان ته نظر كولو منع كړې دې.يعني نن صبا دهغه حالات لږ ښه دی.دماغ ئې اوچت شوی دی.هغوی ګنړلې ده.چه اوس د جهاد څه ضرورت دې؟ ددې تكبر په وجه هغه نه دې راغلې.

قوله: فَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ بِئْسَ مَا قُلْتَ: په يو روايت كښې راځي.چه د حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه دفاع كونكې ابوقتاده وو.(٢) خو صحيح روايت د بخاری دې.علامه زمحشری په ،،كشاف،، كښې ليكلی دی.چه د حضرت كعب دفاع پخپله نبی كريم صلى الله عليه وسلم كړې وه.(٣) خوعلامه جمال الدين زيلعي رحمه الله په ،،الاسعاف فی تخريج احاديث الكشاف،، كښې او حافظ ابن حجر عسقلانی په ،،الكافی الشاف فی تخريج احاديث الكشاف،، كښې زمحشری باندې تنقيد كړې دې.هغه فرمائيلی دی.چه دلته د زمحشری نه وهم شوې دې.دفاع كونكې حضرت معاذ رضي الله عنه وو.نبی كريم صلى الله عليه وسلم نه وو.لكه څنګه چه د بخاری په روايت كښې دی.(٤)

قوله: وَنَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِينَ عَنْ كَلَامِنَا: اشكال كيږی.چه دا درې واړه حضرات يعنی حضرت كعب، حضرت مراره بن الربيع او حضرت هلال بن اميه پخپل جرم باندې پښيمانه وو.او په حديث كښې دی.چه ،،التوبة الندم،، نو نبی كريم صلى الله عليه وسلم دا سختی ولې اختيار كړله؟

① ددې يوجواب دا وركړې شوې دې.چه دا جرم لوئې وو.په دې باندې پښيمانه كيدو سره سره الله تعالی ته ژړا او زاری كول هم ضروری وو.په دې سختئ سره په دې كښې د ژړا او زارئ كيفيت پيداكول مقصود وو.كوم چه د توبې دتكميل دپاره ضروری وو.او په دې ورځو كښې هغوی ښه اوژړل.نو توبه ئې قبوله شوه.

② بعضې حضراتو وئيلی دی.چه توبه خو ددوی قبوله شوې وه.د مقاطعې (بائيكاټ) اعلان نبی عليه السلام د تاديب دپاره كړې وو.

③ علامه سندهی رحمه الله فرمائيلی دی.چه ،،الندم التوبة،، دعوامو دپاره ده.خواصو نه ژړا اوزاری هم مطلوب ده.بيا هغوی د الله تعالی په بهروسه باندې ربښتيا وئيلی وو.په دې وجه نبی كريم صلى الله عليه وسلم هم دهغوی معامله الله تعالی ته اوسپارله.په مقاطعه كولو سره ئې هغوی كښې د ژړا او زارئ كيفيت پيدا كړو.نوالله تعالی توبه نازله كړله.(٥)

---

(١) فتح الباری(١١٨\٨)_
(٢) فتح الباری(١١٨\٨)_
(٣) تفسير كشاف (٣٢٠\٢)_
(٤) الكافی الشاف فی تخريج احاديث الكشاف(٣٢٠\٢)_
(٥) حاشيه بخاری للسندی(٦٣٤\٢)_

امام ابوالقاسم سهيلى رحمه الله په ،،الروض الانف،، كښې ليكلى دى.چه په اصل كښې ددومره سختۍ ناراضګۍ سبب دادې.چه حضرات انصارو كوم وخت بيعت العقبه كړې وه. نو نبى كريم ﷺ سره هغوى دهرقسمه ملګرتيا وعده كړې وه.دلته دټولو نه لوئې دشمن سره مقابله وه.او دا خلق ورسره يوځائې لاړنه شو.په دې وجه هغوى سره دا سخته معامله اوكړې شوه.(١) والله اعلم.

قوله: فقال لى بعض اهلى: دلته دا اشكال كيږى.چه هركله رسول الله ﷺ هغوى سره د خبرو كولو نه منع فرمائيلې وه.بيا دهغه په كوروالو كښې چا دهغه سره خبرې ولې اوكړې؟ ددې دوه جوابونه وركړې شوى دى:

① دحافظ ابن حجر رحمه الله استاذ علامه سراج الدين ابن ملقن فرمائيلى دى.چه دا خبرې د اشارې په ذريعه وې.په ژبې سره خبرې نه وې.او ممانعت د ژبې دخبرو نه شوې وو.

علامه بدرالدين دمامينى رحمه الله په دې باندې اعتراض كړې دې.چه ابن ملقن صرف الفاظ مراد واخستل.معنى طرف ته ئې نظر اونكړو.مقصود دخبرو نه كولو نه دانه دې.چه ژبې سره خبرې اونكړې شى.او اشارې سره خبرې اوكړې شى.بلكه.مقصود خو مطلقاً مقاطعه ده.كه هغه د ژبې په ذريعه وى.او كه د لاس په اشارې سره وى.يعنى په هيڅ طريقه كلام اونكړې شى.

② دويم جواب دا وركړې شوې دې.چه دكور افراد د كلام د ممانعت نه مستثنى وو.او هم دا خبره راجح ده.(٢)

قوله: سمعت صوت صارخ:داصارخ (آواز كونكې) حضرت حمزه بن عمرو اسلمى وو.(٣) واقدى نقل كړى دى.چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه وو.(٤) په وريسې روايت كښې د ،،وسعى ساع من اسلم،، الفاظو نه د رومبى قول تائيد كيږى.

قوله: وركض الىّ رجل فرساً: دا فارس (په اس سور) حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه وو.په مغازى بن عائذ كښې نقل كړې شوى دى.چه حضرت صديق رضي الله عنه او حضرت فاروق رضي الله عنه هم په اسونو سواره حضرت كعب رضي الله عنه ته د زيرى وركولو دپاره ورغلى وو. (٥)

قوله: فكسوته اياهما ببشراه: حضرت شاه صاحب رحمه الله ليكلى دى.چه دا يوه عامه طريقه راروانه ده.چه كله څوك سړې څه زيرى سره راشى.نوهغه ته څه وركولې شى.حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه هم دخپل بدن دوه كپړې زيرى وركونكى ته وركړلې.(٦)

---

(١) الروض الانف (٣٢٢/٢-٣٢٣)_
(٢) عمدة القارى(٥٤/١٨) وفتح البارى(١٢١/٨)_
(٣) فتح البارى(١٢٢/٨)_
(٤) فتح البارى(١٢٢/٨)_
(٥) فتح البارى(١٢٢/٨)_
(٦) فيض البارى(١٢٧/٤)_

او دحضرت ابوقتاده ﷺ نه ئې عاريتا کپړې واخستلې.واني غوستلې.(١)

د اسلافو د محبت واقعه امام شافعي ﷫ د امام احمد بن حنبل ﷫ ملاقات دپاره لاړه.کله ئې چه واپس تشريف راوړو.نو په خوب کښې د رسول الله ﷺ زيارت اوشو.نبي ﷺ اوفرمائيل. ((بشر احمد على بلوى تصيبه))امام شافعي ﷫ خپلو شاګردانو ته اووئيل.چه امام احمد ﷫ ته به دا خوشخبري څوك يوسي.د امام طحاوي ﷫ ماما او د امام شافعي ﷫ شاګرد امام مزني ﷫ اووئيل.زه به ئې يوسم.کله چه امام مزني ﷫ لاړو.امام احمد ﷫ ته ئې دا خوشخبري واوروله.نوهغوی په اوريدو سره اوفرمائيل.چه نبي کريم ﷺ په ماکښې ضعف اوکمزوري محسوس کړې ده.(په دې وجه ئې ماته تسلي راکړې ده) بيا امام احمد ﷫ خپل قميص اوښکلو.امام مزني ﷫ ته ئې ورکړو.هغه چه قيمص واخستلو.او کله واپس راغې.نوامام شافعي ﷫ اوفرمائيل.چه قميص خوستا حق دې.هغه به زه ستا نه نه اخلم.خو دومره اوکړه.چه دا قميص په اوبوکښې لوندکړه.نچوړ ئې کړه.او ددې نچوړ شوې اوبه ماته راکړه.کله چه هغه نچوړشوې اوبه ورکړې.نو امام شافعي ﷫ دهغې نه څه اوڅکلې.او څه ئې پخپل مخ او سينه باندې اومږلې.دا دې ددې بزرګانو او اکابرو شان.(٢)

قوله: والله ما املك غيرهما يومئذ: ددې مطلب دادې.چه د کپړې د جنس نه هغه دبل څه څيز مالك نه وو.ګينې نور سامانونه او مال دهغه سره ډير وو.لکه چه پخپله هغه فرمائي.چه دغه وخت زما حالت ډير ښه وو.

قوله: ابشر بخير يوم مر عليك منذ ولدتك امك: دلته دا اشکال کيږي.چه هغه دپاره د ژوند غوره ورځ هغه پکارده.په کومه ورځ چه هغه اسلام راوړلې وو.دلته دتوبې قبليدو ورځ دهغه دعمر غوره ورځ څنګه اوګرخولې شوه؟

① بعضې حضراتو وئيلې دي.چه دهغه د اسلام راوړلو ورځ ددې نه مستثنی ده.اګرچه دلته صراحت نشته.خو مراد دادې.چه د اسلام قبلولو والا ورځې نه علاوه باقي ورځو کښې دا ورځ دتوبلو نه زياته غوره ده.(٣)

② او بعضې حضراتو وئيلې دي.چه په کومه ورځ هغه اسلام قبول کړې وو.په هغه ورځ د سعادت ابتداء وه.او الله تعالى چه په کومه ورځ دده دتوبې قبليدو اعلان اوکړو.په دغه ورځ دهغه د سعادت تکميل اوشو.په دې اعتبار سره دا ورځ هغه دپاره زياته د اکرام او شرافت ده.(٤)

قوله: وعلى الثلاثة الذين خلفوا: په دې آيت کښې چه دکوم تخلف (روسته والی) ذکر شوې دې.دهغې نه دالله ﷻ مراد د غزوې نه روستو پاتې کيدل نه دی.څکه چه د غزوې نه

(١) عمدة القاري(١٨\٥٤)_
(٢) فيض الباري(١٢٧\٤)_
(٣) فتح الباري(١٢٢\٨)_
(٤) فتح الباري(١٢٢\٨)_

صرف دا درې كسان روستو نه وو پاتې شوي.بلكه د اتياؤ نه زيات روستو پاتې كيدونكى وو.ددې روستو پاتې كيدونكو نه مراد ،،تخلف عن التوبة،، ده.چه دهغوى توبه مؤخر كړې شوې وه.او پنخوس ورځې پس دهغوى توبه قبوله شوه.باقى روستو پاتې كيدونكو قسمونه اوخوړل.بهانې ئې جوړې كړې.رسول اللهﷺ دهغوى بهانې ښكاره قبولې كړې وې.

بَاب نُزُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِجْرَ

حجر د مدينې او شام په منځ كښې دهغه مقام نوم دې.كوم ځائې چه د صالحعليه السلام قوم، ثمود اوسيده.(١) په ثمودو باندې د الله تعالى عذاب نازل شوې وو. نبى كريمﷺ چه كله غزوهٔ تبوك دپاره تللو.اوپه دې ځائې باندې تيرشو.نو نبىعليه السلام په مخ مبارك باندې څادر واچولو.او سورلى ئې تيزه كړله.صحابوﷺ ته ئې اوفرمائيل.چه ددې ځائې نه په تيزئ سره تيرشئ.څوك ددې ځائې اوبه مه څكئ.كومو صحابوﷺ چه په ناخبرئ كښې ددې نه ځائې نه څان سره اوبه اخستې وې.يا ئې په دغه اوبو سره اوړه وغيره اغړلې وو.نبىعليه السلام هغوى ته حكم وركړو.چه هغه اوبه اوغورځوئ .اوهغه اوړه څاروو باندې اوخروئ.(٢)

[٣١٥٧-٣١٥٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحِجْرِ قَالَ لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجَازَ الْوَادِيَ

[٣١٥٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِ الْحِجْرِ لَا تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلَاءِ الْمُعَذَّبِينَ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَهُمْ [ر: ٤٢٣]

[٣١٥٩] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ عَنْ اللَّيْثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَعْضِ حَاجَتِهِ فَقُمْتُ أَسْكُبُ عَلَيْهِ الْمَاءَ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذَهَبَ يَغْسِلُ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ عَلَيْهِ كُمَّا الْجُبَّةِ فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتِ جُبَّتِهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ مَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ [ر: ١٨٠]

[٣١٦٠] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ يَحْيَى عَنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ حَتَّى إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ هَذِهِ طَابَةُ وَهَذَا أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ [ر: ١٤١١]

---

١) عمدة القارى(١٨\٥٦)_

٢) صحيح بخارى كتاب الانبياء، باب قول الله والى ثمود اخاهم صالحاً، رقم الحديث (٣٣٧٨)_

[۴۱۶۹] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ قَالَ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ [ر: ۲۶۸۴]

قوله: حدثنا عبدالله بن محمد..... لا تدخلوا مساكن الذين ظلموا انفسهم:

علامه کرمانی رحمه الله اشکال کړې دې.چه الله تعالی فرمائی ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ ،،د یو کس ګناه او بوجه به بل څوك نه اوچتوی،،نو دلته ددې ظالمانو په کورونو کښې د داخلیدو نه بیا نبی علیه السلام ولې منع کوی؟

علامه کرمانی رحمه الله جواب ورکړې دې.چه دحدیث تعلق دنیا سره دې.او د آیت تعلق آخرت سره دې.دا ممکن ده.چه په دنیا کښې څوك د عذاب والا په ځائې کښې تیریږی.نو هغه هم په عذاب کښې راګیرشی.خوپه آخرت کښې به داسې نه کیږی.په آخرت کښې به صرف ګناهګار نیولې کیږی.غیرګناهګار به نه نیولې کیږی.(۱)

بَابُ كِتَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ

کِسری (په فتحې اوکسرې دکاف سره) د فارس د هر بادشاه لقب وو.(۲) کوم کسری طرف ته چه رسول الله ﷺ خط اولیګه.دهغه نوم ،پرویز بن هرمز بن نوشیروان ،،وو.دا د ایران د مشهور بادشاه نوشیروان نوسې وو.(۳)

ابن سعد رحمه الله نقل کړی دی.چه رسول الله ﷺ کسری طرف ته په سن ۷ھ کښې خط مبارك لیګلې وو.(۱) خو دامام بخاری رحمه الله د انداز نه معلومیږی.چه دا واقعه د سن ۹ھ ده.ځکه چه امام بخاری رحمه الله دا باب دغزوهٔ تبوك نه پس ذکرکړې ده.او ددې باب په آخر کښې ئې هم د غزوهٔ تبوك سره متعلق حدیث نقل کړې دې.په دې کښې هم دې طرف ته اشاره ده.چه دا واقعه د ۹ھ ده.

قیصر روم هرقل طرف ته رسول الله ﷺ دوه ځله خط مبارك لیګلې وو.یوځل د صلح حدیبیه نه پس سن ۷ھ کښې. اوبه دویم ځل د غزوهٔ تبوك په موقعه باندې. په سن ۹ھ کښې نبی علیه السلام حضرت دحیه رضی الله عنه ته خط مبارك ورکړې وو.او لیګلې ئې وو .ددې پوره تفصیل ،،باب بدء الوحی،،کښې په،،حدیث د هرقل،،کښې تیرشوې دې.د خط مضمون هم هغه حدیث کښې تیرشوې دې.قیصر روم طرف ته په دویم ځل د غزوهٔ تبوك په موقعه باندې نبی علیه السلام خط لیګلې دې.دهغې په باره کښې هیڅ روایت امام بخاری رحمه الله ته دخپل شرط مطابق ملاؤ نه شو.په دې وجه امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې هیڅ یو داسې روایت ذکر

---

۱) شرح الکرمانی، کتاب الصلاة، باب الصلاة فی مواضع الخسف(۹۴/۱٤)_
۲) عمدة القاری(۵۷/۱۸)_
۳) فتح الباری(۱۲۷/۸)_

نه كړو.چه په هغې كښې د ،،كتاب الى قيصر،،ذكروي.اصحاب د مغازي په دويم ځل يعنې سن ۹ ه كښې د غزوهٔ تبوك په موقعه باندې د ،،كتاب الى قيصر،، ذكركړې دې.
په دې باب كښې چه امام بخاري رحمه الله كوم روايت ذكركړې دې.هغې كښې د ،،كتاب الى كسرى،، ذكردې.(٢)

[٤١٦٢] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ فَحَسِبْتُ أَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ [ر:٦٤]

رسول الله ﷺ حضرت عبدالله بن حذافه سهمي رضي الله عنه ته خط وركړو.او كسرى طرف ته ئې اوليګه.نبي عليه السلام هغه ته حكم اوكړو.چه داخط د بحرين حاكم ته وركړه.د بحرين ددغه حاكم نوم،منذر بن ساوى،، وو.(٣) د بحرين علاقه دغه وخت د كسرى ماتحت وه.په دې وجه نبي عليه السلام د بحرين حاكم ته د خط رسولو حكم وركړو.چه هغه ئې وړاندې كسرى ته اورسوى.
نو هغه دغه خط كسرى فارس ،،خسرو پرويز،، ته اورسولو.علامه عيني رحمه الله خط مبارك داسې نقل كړې دې.

د خط مبارك مضمون:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

من محمد رسول الله الى كسرى عظيم فارس، سلام على من اتبع الهدى، وآمن بالله و رسوله وشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له وان محمداً عبده و رسوله، ادعوك بدعاية الله فانى انا رسول الله الى الناس كافة لينذر من كان حياً ويحق القول على الكافرين، اسلم تسلم، فان ابيت فعليك اثم المجوس،،(٤)

كسرى چه كله د رسول الله ﷺ دا خط اولوسته.نو خط مبارك ئې ټكړې ټكړې كړو.رسول الله ﷺ ته چه كله دا اطلاع ملاؤ شوه.نو نبي عليه السلام بددُعا اوكړه.وې فرمائيل.((اللّهم مزّق ملكه))(٥) اې الله! دده ملك ټكړې ټكړې كړه.،،
كسرى چه خط اولوسته.د يمن ګورنر ،،باذان،، ته ئې پيغام اوليګه.چه دوه سړى حجاز ته اوليګه.چه دغه سړې ګرفتار كړى.او ماته ئې حاضركړه.باذان دوؤ سړو ته خط وركړو.مدينې

---

(١) فتح الباري(١٢٧\٨)_
(٢) فتح الباري(١٢٧\٨)_
(٣) فتح الباري(١٢٧\٨)_
(٤) عمدة القاري(٥٨\١٨)_
(٥) فتح الباري(١٢٧\٨)_

منورې ته ئې رسول اللهﷺ ته اولیګل.کله چه هغوی دواړه د نبیﷺ په خدمت کښې حاضرشو.نو د نبیﷺ عظمت او جلال (رعب) ئې چه اولیده.نو په رپیدو شو.په دې حال کښې هغوی د باذان خط پیش کړو.د خط لیکل چه نبیﷺ واوریدل.نو مسکې شو.او هغوی دواړو ته ئې د اسلام دعوت ورکړو.بیا نبیﷺ هغوی دواړو ته اوفرمائیل.((ابلغا صاحبکما ان ربی قتل ربه فی هذه اللیلة)) یعنی خپل صاحب (باذان) ته دا خبره اورسوئ.چه زما رب اللهﷻ دهغه آقا (پرویز) لره نن شپه قتل کړې دې.دا د شنبې (هفتې) لسم جمادی الاولی ۷ھ شپه وه.

هغه دواړه قاصدان لاړل.باذان ته ئې دا اطلاع ورکړله.باذان اوونیل.په خدائې قسم! که دا خبر صحیح وی.نو هغه بې شکه په حقه پیغمبر دې.کله چه هغه تحقیق اوکړو.نو کسری فارس پرویز لره ټیك په هغه شپه دهغه خوی قتل کړې وو.دکومې شپې په باره کښې چه رسول اللهﷺ دهغه د قتل خبر ورکړې وو.باذان ددې نه متاثره شو.او سره د خپل خاندانه مسلمان شو.(١)

[٤١٦٣] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ لَقَدْ نَفَعَنِي اللَّهُ بِكَلِمَةٍ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَّامَ الْجَمَلِ بَعْدَ مَا كِدْتُ أَنْ أَلْحَقَ بِأَصْحَابِ الْجَمَلِ فَأُقَاتِلَ مَعَهُمْ قَالَ لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً [٦٦٨٦]

[٤١٦٤] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ عَنْ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ يَقُولُ أَذْكُرُ أَنِّي خَرَجْتُ مَعَ الْغِلْمَانِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ نَتَلَقَّى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً مَعَ الصِّبْيَانِ

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ السَّائِبِ أَذْكُرُ أَنِّي خَرَجْتُ مَعَ الصِّبْيَانِ نَتَلَقَّى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ مَقْدَمَهُ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ [ر:٢٩١٧]

قوله: لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى: واقعه داشوې وه.چه کله رسول اللهﷺ کسری پرویز ته خط مبارك لیګلې وو.هغه خط مبارك اوشلولو.نو اللهﷻ دهغه د ملك ټکړې ټکړې کولو سبب دا جوړ کړو.چه پخپله د پرویز خوئې شیرویه دخپل پلار دشمن جوړشو.شیرویه د پرویز په ښځې، شیرین،باندې عاشق شوې وو.دهغې دپاره هغه د پرویز دختمولو منصوبه جوړه کړله.پرویز ته چه کله دهغه د منصوبې پته اولګیده.نو هغه پخپله الماریٔ کښې یو ډبی کښې زهر کیخودل.اوپه هغې ئې اولیکل.،،الدواء النافع للجماع،، د منصوبې مطابق شیرویه خپل پلار

(١) فتح الباری (١٢٧/٨)_

پرویز لره قتل کړو.او شیرویه په تخت کیناسته. شیرویه خپل ټول رونړه هم قتل کړل.چه چرته په هغوی کښې څوك د اقتدار دعوه اونکړی.یوه ورځ هغه د پرویز الماریٔ کهلاؤ کړله.
نو دهغه نظر په هغه ډبی باندې پریوتلو.چه په هغې لیکلی شوی وو.،،الدواء النافع للجماع،، نو هغه د طاقت دوائی اوګڼړله.او دغه زهر ئې اوخوړل.اوهلاك شو.
اوس دهغه په خاندان کښې څوك داسې سړې نه وو.چه په تخت ناست وې.او خلقو غوښتل.چه بادشاهت هم په دې خاندان کښې پاتې شی.په دې وجه خلقو بادشاهت د شیرویه لور ،،بوران،، ته اوسپارلو.او هغه دهغوی بادشاه جوړه شوه. په روایت کښې،ملکوا علیهم بنت کسری،، نه هم دا ،،بوران،، مراد ده.(۱) رسول الله ﷺ ته چه کله دا خبر ملاوشو.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.،،لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة،، هغه قوم کله هم کامیابیدې نه شی.چه هغوی خپل حکومت ښځې ته سپارلې وی.

د ښځې حکمرانی(۲)(د مرتب په قلم سره): اسلام ښځې لره د حکومت دکار سنبالولو او چلولو اهل نه ګڼړی.د شریعت څلور واړه اصول قرآن، حدیث، اجماع او قیاس دښځې د حکمرانیٔ نفی کوی.

① د قرآن شریف ارشاد دې. ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ (النساء۱٤/۳) سړی په ښځو حاکمان دی.ځکه چه الله تعالی بعضوته په بعضوباندې فضیلت ورکړې دې،، حافظ ابن کثیر پخپل تفسیرکښې، علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښې اومولانا ظفراحمد عثمانی په احکام القرآن کښې ددې آیت لاندې تصریح کړې ده.چه د سلطنت او حکومت حکمرانی سړو سره خاص ده.(۳)

د ښځې د حکمرانیٔ قائل بعضې حضرات وائی.چه د قرآن د مذکوره آیت تعلق ازدواجی او دکور ژوند سره دې.سلطنت او حکومت سره ددې تعلق نشته.د آیت مقصد دادې.چه دکور د اخراجاتو ذمه داری په خاوند باندې ده.هغه دکور مشر او کفالت کونکې دې.
خو اول په آیت کښې داسې لفظ نشته.چه هغه دې لره د کورنی ژوند سره خاص کوی.دویمه د سوچ خبره داده.چه هرکله قرآن دکور په محدود ماحول کښې ښځه محکومه سړې حاکم، ښځه تابع او سړې متبوع، ښځه مطیع او سړې نګران اوګرځولو.نو دا قرآن د حکومت فراخه

---

۱) فتح الباری(۱۲۸/۸)_
۲) حضرت شیخ الحدیث دامت برکاتهم چه په کوم کال د بخاری دا تقریر کړې دې.تر هغه وخته پورې د ښځې د حکمرانیٔ مسئله د اهل علمو په منځ کښې د بحث موضوع نه وه جوړه شوې.په دې وجه تقریر کښې دې باندې بحث نشته.په دې مسئله باندې سن۱۹۸۸ء کښې په اسلامی جمهوریه پاکستان کښې رومبی ځل د ښځې د قیادت وجود کښې راتلو سره اهل علمو قلم اوچت کړو.احقر اختصار سره د ښځې د قیادت عدم جواز سره سره د مجوزینو دلائل او دهغې جوابات هم لیکلی دی.ابن الحسن عباسی.
۳) تفسیرابن کثیر(٤۹۱/۱) وروح المعانی (۲۳/۵) واحکام القرآن(۱۷۶/۲)_

پلیټ فارم (میدان) باندې دحکومت واګې ښځې ته دحواله کولواجازت څنګه ورکولې شي؟

② په سورة احزاب آیت۳۳ کښې ارشاد دې.﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى....﴾ ،،اوتاسو په خپلو کورونوکښې قرار سره اوسیږئ.او د پخوا زمانې د جاهلیت د دستور موافق مه ګرځئ.....،،

په دې آیت کښې ښځې ته په کورکښې د اوسیدو حکم ورکړې شوې دې.چه دکور دې ډیوې دپاره د بهر طوفانونه مضر دی.په آیت کښې خطاب اګرچه ازواج مطهرات ته دې.خوحکم ټولو ښځو دپاره عام دې.چه ((العبرة لعموم اللفظ لالخصوص المورد...))اوس که حکمرانې ښځې ته حواله کړې شي.نو هغه به په کورکښې څنګه اوسیدې شي؟

③ حدیث باب د ښځې د حکمرانۍ صراحت سره نفی کوی.په دې کښې صفا صفا ونیلی شوی دی.((لن یفلح قوم ولّوا امرهم امرأة،، هغه قوم به کله هم کامیاب نه شی.چاچه دخپل حکومت معامله ښځتې ته اوسپارله،،

په حدیث باندې دوه اعتراضونه: د ښځې د حکمرانۍ قائل بعضې خلقو په دې حدیث باندې دوه اعتراضونه کړی دی:

① **رومبې اعتراض**: داچه دا حدیث موضوع دې.دا روایت په جنګ جمل کښې هغه وخت مخې ته راغې.کله چه حضرت عائشې رضي الله عنها قیادت کولو.دهغې د قیادت غلط ثابتولو دپاره ددې روایت سهارا (مدد) واخستلې شو.

خوپه حدیث باندې د موضوع کیدو اعتراض هغه کس کولې شي.چاته چه د خپلې خوښې نظریه ثابتولوکښې د الله نه ویره نه وی.دا حدیث امام بخاری رحمه الله په.کتاب الفتن کښې هم ذکرکړې دې.د بخاری رحمه الله نه علاوه ترمذی، نسائی، مستدرك حاکم، سنن کبری، او مسند احمد کښې هم صحیح سند سره مذکور دې.([1])

په محدثینوکښې چا هم دې ته موضوع نه دې ونیلې.د خیرالقرون نه واخله ترنن ورځې پورې علماء ددې نه استدلال کوی.د مسائلو استنباط کوی.ددې پس منظراو پیش منظر بیانوی.خو موضوع لا څه چه دې ته ضعیف هم چا نه دې ونیلې

بیادلطف خبره ده.چه ددې حدیث د راوی،د رسول صلی الله علیه وسلم صحابی حضرت ابوبکره خپله رائې هم په جنګ جمل کښې د حضرت عائشې رضي الله عنها په حق کښې وه.خو چونکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا حدیث اوریدلې وو.په دې وجه هغه د حضرت عائشې رضي الله عنها سره د ملګرتیا کولو نه معذرت اوکړو.([2]) اوس په یو صحابی باندې دا الزام لګول،چه هغه د حضرت عائشې رضي الله عنها

---

[1]) الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب الفتن، باب الفتنة التی تموج کموج البحر (۱۰۵۲\۲) والترمذی فی ابواب الفتن (۵۲\۲) والنسائی فی کتاب ادب القضاة، باب النهی عن استعمال النساء فی الحکم (۳۰٤\۲) والحاکم فی المستدرک، کتاب معرفة الصحابة (۱۱۹\۳) والبیهقی فی کتاب الصلاة، باب لا یأتم رجل بامرأة(۹۰\۳) واحمد فی مسنده (۳۸\۵، ٤۷، ۵۱)_

[2]) فتح الباری(۵۶\۱۳) کتاب الفتن)_

د قيادت غلط ثابتولو دپاره صرف وختي طور باندې د سياسي ضرورت په لحاظ سره دخپل طرفه د دروغو روايت جوړکړو.يو داسې زړه ورتيا ئې کړې ده.چه په دې باندې استغفار وئيلو سره هم زړه نه مطمئن کيږي.که د وختي ضرورتونو په وجه د دروغو احاديثو وضع کولو د الزام نه د صحابوﷺ پاکبازه قافله هم بچ نه شي.نو بيا د دين اسلام خدائې حافظ دې.

② **دويم اعتراض**: دا شوې دې.چه په دې حديث کښې دی.چه هريوقوم چه هغوی ښځه حکمرانه جوړه کړې وی.کامیابيدې نه شی.حالانکه تاريخ زمونږ په وړاندې دومره بې شميره واقعات پيش کوی.چه په هغې کښې ډيرې ښځې د خپلو خپلو ملکونو او قومونو حکمرانې شوې.او دهغوی دور دخپل وخت ښه دور وو.د روس ملکه کيتهرائن، د هالينډ ملکه هلنيا، ملکه جوليانه، د برطانيه ملکه وکټوريه او الزبتهه، د سری لنکا مسز بندرانائيکې، او د انډيا مسز اندراګاندهی دخپل خپل وخت کامياب حکمرانې وې..... په مسلمانانو کښې د مصر د بادشاه نجم الدين ايوب وينځه ،،شجرة الدر،، په هندوستان کښې ملکه رضيه سلطانه، چاند بی بی،اودبهوپال دبيګماتو حکومتونه ډير کامياب تيرشوی دی.اوس به دا حديث چرته ځی.آيا ددې مطلب دادې.چه ضرور مونږ دا اومنو.چه تاريخ د رسول اللهﷺ د قول ترديد کړې دې؟

خو دا اعتراض په اصل کښې د ،،فلاح،، دمفهوم نه جهالت باندې مبنی دې.د اسلام د فلاح نظريه، د مال اودولت په ډيروالی، د فتوحاتو په کثرت، او د حکومت رعب او دبدبه نه ده.په قرآن شريف کښې دی.﴿ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ۝﴾ (۱) بې شکه کافران فلاح نه بيامومی،،که د فلاح مفهوم صرف دنياوی کاميابئ پورې محدود اوساتلې شی.بيا خو به د کافرانو د ښائسته او رنګينو مضبوطو حکومتونو تاريخ سره نعوذبالله د داسې قسمه قرآنی آياتونو هم ترديد کيږی. حقيقت دادې.چه په اسلام کښې د فلاح مفهوم د دنيا او آخرت دواړو د کاميابئ نه عبارت دې. اوس تاسو اووايئ.چه د دغه ښځو حکومتونو ته کومه د آخرت کاميابی نصيب شوه.چه دهغې په بنياد باندې دا فرض کړې شی.چه د حديث صحيح منلو په صورت کښې نعوذ بالله تاريخ سره دهغې تکذيب کيږی.

دنياوی اعتبار سره هم ددغه ښځو حکومتونه کامياب نه شی ګڼرلې کيدې.د رضيه سلطانه په دورکښې فتنه او فساد راوچت شو.شجرة الدر په ناجائزه حکمرانه جوړه شوې وه.دهغې د حکومت اطلاع چه کله بغداد کښې خليفه مستنصربالله ته اوشو.نو هغه د مصر امراء ته پيغام اوليګه.چه که په مصرکښې څوك سړې حکمرانئ دپاره باقی پاتې نه شو.نو د بغداد نه مونږ سړې درليګو.(۲) د رضيه سلطانه، چاند بی بی او شجرة الدر دريو واړو انجام قتل شو.

---

۱) سورة المؤمنون ۱۱۷_

۲) مرآة الجنان لليافعی (۱۲۷\۴) واعلام النساء(۲۸۶\۲)_

④ د ښځې د حکمرانۍ نفی کونکې څلورم دلیل د نبی کریم ﷺ هغه ارشاد دې.کوم چه امام ترمذی په ،،ابواب الفتن،، کښې نقل کړې دې.

قوله: اذا کان امراءکم خیارکم واغنیاءکم سمحائکم و امورکم شوری بینکم فظهر الارض خیرلکم من بطنها،واذاکان امراءکم شرارکم واغنیاءکم بخلائکم وامورکم الی نساءکم فبطن الارض خیرلکم من ظهرها:(۱)،،کله چه ستاسو حاکمان په تاسو ټولوکښې غوره وی.ستاسو مالداره سخیان وی.اوستاسو معاملات خپل منځ کښې مشورې سره کیږی.نو ستاسو دپاره د زمکې پورته حصه دهغې د دننه نه غوره ده. خوکله چه ستاسو حاکمان خراب خلق وی.ستاسو مالداره بخیل وی.او ستاسو معاملات ښځو ته سپارلې شوې وی.نو د زمکې دننه حصه ستاسو دپاره ددې دشا نه غوره ده،،

⑤ رسول الله ﷺ یوه سریه اولیګله.الله فتح ورکړله.قاصد نبی علیه السلام ته دفتح زیرې راوړلو. تفصیلاتو بیانولوکښې هغه دا خبره هم اوکړله.چه د دشمنانو قیادت یوې ښځې کولو.په دې باندې نبی علیه السلام اوفرمائیل.«هلکت الرجال حین اطاعت النساء» ..سړی چه کله د ښځو اطاعت اوکړی.نوهغوی تباه او برباد دی،،امام حاکم دا حدیث صحیح الاسناد ګرځولې دې.علامه ذهبی ددې توثیق او تائید کړې دې.(۲)

⑥ دقرآن او حدیث نه پس د اسلام داحکامو دارومدار په اجماع باندې دې.د ښځې دحکمرانۍ په عدم جواز باندې د امت اجماع ده.په کومو مسئلو چه د امت د علماؤ اجماع ده. علامه ابن حزم رحمه الله هغه ټولې مسئلې په ،،مراتب الاجماع،، نوم سره یوکتاب کښې جمع کړی دی.د ښځې د حکمرانۍ په باره کښې لیکی:

«واتفقوا ان الامامة لاتجوز لامرأة»(۳)،،د عالمانو په دې خبره اتفاق دې.چه د حکومت مشری دهیځ یوې ښځې دپاره جائز نه ده،،

د شپږمې صدۍ مشهورعالم امام محی السنه بغوی ،،په شرح السنه،،کښې لیکلی دی.

«اتفقوا علی ان المرأة لاتصلح ان تکون اماما»(۴)

علامه قرطبی رحمه الله په خپل مشهور تفسیرکښې د خلیفه شرائطو بیانولوکښې لیکی:

«واجمعوا علی ان المرأة لایجوز ان تکون اماما»(۵)

امام الحرمین علامه جوینی رحمه الله فرمائی.«واجمعوا ان المرأة لایجوز ان تکون اماما»(۶)

---

(۱) سنن ترمذی ابواب الفتن(۵۲/۲)_
(۲) مستدرک حاکم. کتاب الادب. باب سجدة الشکر(۲۹۱/۴)_
(۳) مراتب الاجماع(۱۲۶)_
(۴) شرح السنة(۷۷/۱۰)_
(۵) تفسیرقرطبی(۲۷۰/۱۱)_
(۶) الارشاد فی اصول الاعتقاد لامام الحرمین الجوینی(۳۵۹)_

داسلام په سياسي نظام باندې ليکلو شوو پخوانو او نوو ټولو کتابونوکښې د حکومت د حکمرانئ دپاره سړې کيدل ضروري ګرځولی شوی دی.په نوو محققينو کښې ډاکټر محمد منيرعجلاني ليکي:

«لانعرف بين المسلمين من أجاز خلافة المرأة، فالاجماع في هذه المسئلة تام لم يشذ عنه احد»[1]

ډاکټر ابراهيم يوسف مصطفى عجو ليکي:

«مما أجمعت عليه الأمة على أن المرأة لايجوز لها أن تلي رياسة الدولة»[2]

عبدالله بن عمر دميجي ليکي.

«من شروط الامام ان يکون ذکرا ولا خلاف في ذالك بين العلماء»[1]

د قرآن او حديث او اجماع نه پس قياس هم دا وائي.چه کوم شريعت په مانځه کښې د ښځې امامت ناجائز ګرځولې دې.جهاد ئې په هغې باندې فرض نه کړو.د محرم نه بغير ئې د کورنه سفر کول ممنوع اوګرځول.په کورکښې ئې د اوسيدو حکم ورکړو.دهغې ګواهي ئې نصف اوګرځوله.د نان نفقې ذمه داري ئې په پلار او خاوند باندې واچوله.هغه شريعت ددې کمزورې په اوګو باندې د رياست او حکومت د مشرئ دا دروند بوج څنګه اچولې شي؟

د ښځو په قيادت د مجوزينو دلائل: په حکومت او سياست کښې د ښځې په وجود سره کائناتو ته رنګ ورکونکي قائلينوکښې بعضې حضراتو د ښځو حکمرانی د اسلامی تعليماتو په رڼا کښې دجائز ګرځولو کوشش کړې دې.دهغوی اهم او لوئې دلائل دادي:

① په جنګ جمل کښې حضرت عائشې رضي الله عنها قيادت کړې وو.دحضرت طلحه رضي الله عنه اوحضرت زبير رضي الله عنه پشان جليل القدر صحابو رضي الله عنهم دهغې د قيادت لاندې په جنګ کښې حصه اخستې وه.چه دهغې نه دښځې د قيادت او حکمرانئ جواز معلوميږي .خو دا هيڅ وزنی دليل نه دې.د جنګ جمل او دهغې د تاريخی پس منظر مطالعه کونکې يو ادنی طالب علم هم په دې خبره ښه پوهيږي.چه په دغه موقعه باندې ام المؤمنين حضرت عائشې رضي الله عنها نه د حکومت او خلافت دعوه کړې وه.او نه ددې مقصد دپاره امارت او مشري هغې ته سپارلې شوې وه.واقعه دا شوې وه.چه امهات المؤمنين حج دپاره تلې وه.شاته په مدينه کښې دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت افسوسناکه حادثه پيښه شوې وه.د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص په باره کښې مسلمانانوکښې اختلاف پيداشوې وو.په دې نازکه موقعه باندې بعضې اکابرو صحابو رضي الله عنهم په مکه کښې حضرت عائشې رضي الله عنها ته مشوره ورکړله.چه ددې محترم ذات دا وخت د امت انتشار او اختلاف ختمولې شی.حضرت عائشې رضي الله عنها اوغوښتل چه مدينې منورې ته لاړه شی.او حضرت علی رضي الله عنه په قصاص باندې راضی کړی.خو بعضې صحابو رضي الله عنهم اووئيل.چه مخکښې بصرې ته لاړشئ.او دهغه ځائې دخلقو حمايت (مدد) حاصلول پکاردی.د بصرې د خلقو د حمايت حاصليدو نه پس به حضرت علی رضي الله عنه دپاره

---

[1] د ډاکټر منيرعجلانی کتاب ..عبقرية الاسلام فی اصول الحکم..(٧٠)_

[2] اوګورئ ابراهيم يو سف مصطفى کتاب تعليق تهذيب الرياسة وترتيب السياسة (٨٢)_

قصاص اخستل اسان شي.اوهغه به قصاص اخستلو دپاره راضي شي.حضرت عائشه رضي الله عنها ددې مشورې نه متاثره شوه.او بصرې ته روانه شوه.او د بعضې اسلامي دشمنانو په سازش سره د جنګ جمل افسوسناکه واقعه پېښه شوه.([2])

دلته دا خبره ياد ساتئ:چه حضرت عائشې رضي الله عنها ته کومو صحابو رضي الله عنهم بصرې ته د تللو مشوره ورکړې وه.دهغوی مقصد امت لره د انتشار نه د بچ کولو يو تدبير وو. حضرت عائشه رضي الله عنها لره خليفه يا امير جوړول دهغوی مقصد لاڅه چه دهغوی په خوا خاطرکښې هم نه وو.او نه پخپله د حضرت عائشې رضي الله عنها دا خواهش وو.کله چه بصرې ته اورسيدل.او قعقاع بن حکيم د حضرت عائشې رضي الله عنها نه دهغې د تشريف راوړلو د مقصد تپوس اوکړو.نووې فرمائيل.((اى بنى! لاصلاح بين الناس))(اې خويه! زه د خلقو په مينځ کښې د صلح کولو دپاره راغلې يم،، روستو هغه پخپل دې سفر باندې دومره پښيمانه وه.چه کله به دا واقعه ورياده شوه.نو په ژړا ژړا به ئې لوپټه لمده شو.([3]) په کومه واقعه کښې چه حضرت عائشه رضي الله عنها نه خليفه وه.اونه حکمرانه وه.اودکومې په راپيښيدو چه هغه دومره حد له پښيمانه وه.نو هغه (واقعه) د ښځې د قيادت په جواز باندې څنګه دليل جوړيدې شي؟

② د ښځې د حکمرانۍ په جواز باندې دويم استدلال ملکهٔ سبا د بلقيس واقعې نه کولې شي. په قرآن کښې دهغې د سلطنت او حکمرانۍ ذکر دې.په حضرت سليمان عليه السلام باندې د ايمان راوړلو نه پس هم بعضې رواياتوکښې راځي.چه هغه د خپل حکومت حکمرانه وه.چه ددې نه د ښځې د قيادت جواز معلوميږي.

خو دا استدلال هم کمزورې دې.د ملکهٔ سبا ايمان راوړل د قرآن نه ثابت دې. خو ددې نه پس دهغې څه اوشو؟ چرته لاړله؟ په دې باره کښې هيڅ يو صحيح روايت نشته.علامه قرطبى ليکى((لم يرد فيه خبر صحيح))([4]).په دې سلسله کښې هيڅ يو صحيح روايت نه دې وارد شوې،، او فرض کړئ.چه حضرت سليمان عليه السلام دهغې حکومت باقي ساتلې وو.نو زيات نه

---

[1]) الامامة العظمى عند اهل السنة (۲۴۳)..... د پاکستان اهل فتوى عالمانوکښې مولانا رشيد احمد صاحب فرمائى،،دښځې حکمرانى بالاجماع جائز نه ده،،(احسن الفتاوى ۶/۲۹۱)
مولانا مفتى محمد رفيع عثمانى صاحب ليکى:،،د امت مسلمه په دې خبره اجماع ده.چه په اسلام کښې د حکومت د مشرئ ذمه دارى هيڅ يوې ښځې ته نه شي سپارلې کيدې،،(عورت کى سربراهى از مولانا محمد رفيع عثمانى ص۱)
مولانا يوسف لدهيانوى صاحب ليکى:،،د حکومت د سربراهئ دپاره سړې شرط کيدل او د ښځې د حکومت مشرئ دپاره اهل نه کيدل صرف داهل اسلام اجماعى مسئله نه ده.بلکه د ټول عالم د عقلاؤ متفق عليه مسئله ده.(عورت کى سربراهى از مولانا محمد يوسف لدهيانوى ص۷)۔

[2]) البداية والنهاية، ابتداء وقعة الجمل (۷/۲۳۰-۲۳۱)۔

[3]) طبقات ابن سعد(۸/۸۰) وسيراعلام النبلاء(۲/۱۷۷) ومنهاج السنة لابن تيمية (۲/۱۸۵)۔

[4]) الجامع لاحکام القرآن للقرطبى (۱۳/۲۱۰)۔

زیات به ددې نه د حضرت سلیمان علیه السلام په شریعت کښې د ښځې د قیادت جواز ثابتیږی.چه دا په شریعت محمدی کښې حجت نه دې.حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کښې د بلقیس د واقعې متعلق لیکی:
,,او زمونږ په شریعت کښې ښځې لره د بادشاه جوړولو ممانعت دې.نو د بلقیس د قصې نه دې څوك شبه نه کوی.اول خو دا فعل د مشرکانو وو.دویم که د سلیمان علیه السلام شریعت هغه قائم ساتلې هم وی.نو په شریعت محمدی کښې ددې د خلاف کیدو په وجه حجت نه دې،([1])
③ د ښځې د حکمرانئ په جواز باندې د حضرت تهانوی رحمه الله د یوې فتوې نه هم استدلال کولې شی.چه په هغې کښې حضرت تهانوی رحمه الله د حدیث باب «لن یفلح قوم ولّوا امرهم امرأة» باره کښې د یوسوال جواب ورکولو کښې فرمائیلی دی.چه جمهوری حکومت ددې وعید لاندې داخل نه دې.([2]) معلومه شوه.چه ښځه د جمهوری حکومت سربراه جوړیدې شی.
د ښځې د سربراه جوړیدو متعلق د حضرت تهانوی رحمه الله رائې پورته د بیان القرآن په حوالې سره تیره شوې ده.چه په هغې کښې هغوی صفا صفا اوفرمائیل .چه ،،زمونږ په شریعت کښې ښځې لره د بادشاه جوړولو ممانعت دی،، البته د جمهوری حکومت متعلق دحضرت تهانوی رحمه الله مذکوره فتوې نه معلومیږی.چه ښځه ددې سربراه جوړیدې شی.حضرت تهانوی رحمه الله ددې وجه دا لیکلې ده.چه ،،په جمهوری سلطنت کښې والئ صوری په حقیقت کښې والی نه وی.بلکه د مشورې یو رکن دې.او والی حقیقی د مجموعه شوری والا دی،،[یعنی وزیراعظم حقیقی والی (حاکم) نه وی.بلکه د شوری یو رکن وی.او د قومی اسمبلئ مجموعه ممبران حقیقی والی وی...ازمترجم]
خو روستنو علماؤ دحضرت تهانوی رحمه الله دې خبرې سره اتفاق نه دې کړې.چه په جمهوری حکومت کښې د والی او سربراه حیثیت صرف د مشورې د یو رکن دې. په موجوده پارلیمانی نظام کښې وزیراعظم صرف د مشیر یا رکن حیثیت نه لری .بلکه هغه د حکومت او انتظامیې پخپله اختیارمند سربراه وی.
البته که چرته داسې حکومت وی.چه په هغې کښې د پارلیمنټ د سربراه حیثیت صرف د مشورې د یو رکن وی.هلته د ښځې د سربراهئ دپاره د جواز گنجائش راوتلې شی.ددې وجه حضرت تهانوی رحمه الله دا بیانوی.چه ،،راز په دې کښې دا دې.چه حقیقت ددې حکومت صرف مشوره ده.او ښځه د مشورې اهل ده،،
حاصل داچه د امت د ټولو علماؤ پشان حضرت تهانوی رحمه الله هم ددې خبرې قائل دې.چه ښځې لره د اسلامی حکومت سربراه جوړول جائز نه دی.البته اختلاف د جمهوری حکومت په حقیقت کښې دې.حضرت تهانوی رحمه الله د جمهوری حکومت د سربراه په باره کښې دا اوگنړل. چه هغه حقیقت کښې سربراه نه وی.بلکه دهغه حیثیت صرف د مشیر وی.حالانکه

[1]) بیان القرآن (٨\٨٥) سورة النمل)_
[2]) ددې فتوی دپاره اوگورئ! امداد الفتاوی ٥\٩٩-١٠٠)_

باقی اهل فتوی عالمان وائی.چه د جمهوری حکومت سربراه صرف مشیرنه وی.بلکه کافی حده پورې خودمختاره اوبا اقتداره وی.په دې وجه ددې سربراه ښځه نشی جوړیدې.

⑧ د ښځې دحکمرانئ په جواز باندې د فقهٔ حنفی مشهورکتاب ،،البحرالرائق،، کښې دعلامه ابن نجیم ددې عبارت نه هم استدلال کولې شی«اما سلطنتها فصحیحة وقد ولی مصر امرأة تسمی شجرة الدر جاریة الملك الصالح بن ایوب»(۱) په دې کښې د ښځې حکمرانئ ته صحیح ونیلې دی.چه ددې نه دښځې دحکمرانئ جواز معلومیږی

ددې جواب دادې.چه په عبارت کښې د ،،صحت،، نه مراد نفاذ دې.مطلب دادې.چه ښځې لره حکمرانه جوړول ناجائز دی.خو ددې باوجود که هغې په څه طریقه قابو حاصل کړله.نو دهغې حکومت به نافذ وی.او په جائزو امورو کښې به دهغې اطاعت واجب وی.دا داسې ده.لکه چه یو غلام په ناجائزه طریقه قابو حاصل کړی.نو دهغه حکومت به نافذ وی.حالانکه حکمران دپاره آزاد کیدل متفق علیه شرط دې.د حکمرانئ جواز او عدم جواز جدا څیز دې.او دحکمران جوړیدو نه پس د حکومت نفاذ او عدم نفاذ جدا څیز دې.په مذکوره عبارت کښې نفاذ مراد دې.جواز مراد نه دې.په شریعت کښې ددې ډیر مثالونه شته.مثلاً فاسق لره په مانځه کښې امام جوړول جائز نه دی.خوکه څوك فاسق امام جوړشو.نو دهغه په اقتداء کښې به مونځ صحیح وی.

بَاب مَرَضِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَفَاتِهِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ (الزمر: ۳۰-۳۱)

امام بخاری رحمه الله سیرت نبویه په ترتیب سره بیانونکې راروان دې.اول ئې د رسول الله ﷺ دخاندان مناقب بیان کړل.دهغې نه پس ئې د رسول الله ﷺ مناقب بیان کړل.بیا ئې د صحابو رضی الله عنهم مناقب او فضائل ذکرکړل.کوم چه د نبوی بارګاه د تاریخ یو ښائسته باب دې. ددې نه پس ئې د غزواتو، سلسلهٔ الوفود او حجة الوداع ذکر اوکړو.او اوس ددې ځائې نه د رسول الله ﷺ د وفات د غم آیاتونه بیانوی.

الله ﷻ چه د دواړوجهانو د سردار جناب نبی کریم ﷺ په ذمه کوم کارلګولې وو.د هغې د مکمل کیدو نه پس.او کوم شریعت چه الله تعالی نبی علیه السلام ته ورکړې وو.د هغې تکمیل نه پس اوس وخت راغې.چه الله تعالی نبی علیه السلام لره خپل خان ته اوبلی.د شریعت د تکمیل اعلان د عرفات په عامه مجمع کښې اوکړې شو. ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾ (۲) سورة فتح نازل شو.اوپه هغې کښې د نبی علیه السلام دوفات اطلاع

---

(۱) البحر الرائق شرح کنزالدقائق(۶/۵) باب کتاب القاضی الی القاضی وغیره)_

(۲) سورة المائده۳)_

ورکړې شوه. ارشاد اوشو. ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ﴾ ،، اوس تاسو تسبیح او استغفار طرف ته متوجه شئ،، ابن جریر دحضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت نقل کړې دې چه د سورة فتح د نازلیدو نه پس به نبی ﷺ اکثر په استغفار او تسبیح کښې مشغول اوسیده.(١) هرکال به ئې رمضان کښې لس شپې اعتکاف کولو.خوپه دې کال شل ورځې اعتکاف کښې کیناسته. حضرت جبرئیل علیه السلام سره ئې د قرآن شریف د دور په هر رمضان کښې یوځل معمول وو.په دې کال ئې دوه ځله د قرآن دور اوکړو.(٢) دا ټول قرائن وو.ددې فانی دنیا نه د نبی ﷺ د تللو. دغزوۀ احد په موقعه باندې چه په کومه بې وسئ،(بغیر مال واسباب) بې کسئ او په کوم اخلاص ٧٠ ته نزدې صحابوﷺ قربانی ورکړله.اوشهادت ئې بیا موندو.دهغوی یاد د نبی ﷺ په زړه کښې تازه وو.د حجة الوداع نه واپسئ باندې یوه ورځ نبی ﷺ دهغوی قبرونوته تشریف یوړه.او اته کاله پس ئې دهغوی د جنازې مونځ اوکړو.او بیا ئې خطبه ورکړله.(٣)

دصفرد میاشتې په آخری تاریخونوکښې یوه شپه نبی ﷺ پاسیده.جنت البقیع ته ئې تشریف یوړه.او د اهل بقیع دپاره د دعا او استغفار کولو نه پس ئې چه کله کور ته تشریف راوړه.نو طبیعت ئې ناسازه شو.په سرکښې ئې د درد شکایت شو.او د مرض وفات ابتداء شوه.(٤)

د مرض الوفات ابتداء: په رسول الله ﷺ باندې د بیمارئ حمله کله اوشوه؟ په دغه ورځ ازواج مطهراتو کښې دچا نمبر وو؟ نبی ﷺ څومره ورځې بیمار وو؟ په دې سلسله کښې روایات مختلف دی:واقدی، ابن سعد، حاکم او ابن حبان رحمهم الله وغیره لیکلی دی.چه نبی کریم ﷺ د چارشنبې په ورځ بیمار شو.(٥) د هفتې او د ګُل د ورځې قول هم شته. (٦) خو زیات روایات د چارشنبې د ورځې دی.

په کومه ورځ چه نبی ﷺ باندې د مرض وفات حمله اوشوه.په دغه ورځ د حضرت میمونه رضي الله عنها نمبر وو.ابومعشرپخپل سیرت کښې دحضرت زینب بنت جحش او سلیمان تیمی پخپل سیرت کښې د ریحانه رضي الله عنها متعلق لیکلی دی.چه د بیمارئ ابتداء دهغوی په کور کښې شوې وه.خو ړومبې قول راجح دې.حافظ ابن حجر رحمه الله هم دې لره معتمد لیکلې دې.(٧)

د بیمارئ ټوله موده: د نبی ﷺ د بیمارئ د ټولې مودې باره کښې د لسو ورځو، دولسو ورځو، دیارلسوورځو،او څوارلسو ورځو مختلف اقوال ملاویږی.خو داکثرو اصحاب سیر

---

١) تفسیر درمنثور(٦\٤٠٨)_
٢) البدایة والنهایة (٥\٢٢٣)_
٣) صحیح مسلم (٢\٢٥٠) کتاب الفضائل، باب اثبات الحوض)_
٤) البدایة والنهایة (٥\٢٢٤)_
٥) طبقات ابن سعد (٢\٢٠٦) وفتح الباری (٨\٢٠٦)_
٦) فتح الباری(٨\١٢٩)_
٧) فتح الباری(٨\١٢٩)_

راتې داده.چه نبی ﷺ ټول د یارلس ورځې بیمار وو.(١)
دبقیع نه چه کله نبی ﷺ واپس تشریف راوړه.او په سر کښې ئې ددرد شکایت شو.نو نبی ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها کره تشریف یوړه.حضرت عائشې رضي الله عنها ته هم د سر د درد شکایت وو. نبی ﷺ ئې چه اولیده.نو فریاد ئې اوکړو.،،واراساه!،، هائې زما سرا نبی ﷺ اوفرمائیل. ،،بل انا اقول: واراساه!،، یعنې وئیل خو ماله پکار دی.چه ،،هائې زماسرا،،(چه هم دا درد زما د وفات سبب دې). بیا نبی ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائیل.اې عائشې! که ته زما نه مخکښې مړه شوې.نو هیڅ د فکر خبره نه ده.زه به ستا د کفن دفن انتظام اوکړم.دجنازې مونځ به اوکړم.ستا دپاره به د مغفرت دعا اوکړم.حضرت عائشې رضي الله عنها د ناز په طور اوفرمائیل ،،او تاسو خو زما مرګ غواړئ.که زه مړه شوم.نوهم په هغه ورځ به تاسو زما په کورکښې بلې یوې بی بی سره آرام کوئ،،(او ما به بالکل هیره کړئ) نبی کریم ﷺ چه دا واوریدل.نو مسکې شو.(٢) حضرت عائشې رضي الله عنها ته څه پته وه.چه یو څو ورځې پس به پخپله رسول الله ﷺ رخصتیږی.او دا به یواځې پریږدی.

دحضرت عائشه رضی الله عنها کورته منتقل کیدل: د نبی کریم ﷺ د مرض سلسله د چارشنبې د ورځې نه شروع شوې وه.د بیبیانو په منځ کښې به نبی کریم ﷺ دعدل ډیراهتمام کولو.دهغې مطابق دبیمارئ په حالت کښې نبی ﷺ په نمبر نمبر د یوې یوې بی بی کورته منتقل کیدو.د ګل په ورځ مرض زیات شو.نو د ازواج مطهرات نه ئې اجازت واخستلو.چه دحضرت عائشه رضي الله عنها په کورکښې قیام اوکړی.صراحت سره نبی ﷺ اونه فرمائیل.خو نبی ﷺ به بار بار تپوس کولو.چه صبا له به زه د چا په کورکښې یم؟ ازواج مطهرات ئې په طبیعت پوهه شو.عرض ئې اوکړو.چه تاسو کوم ځائې غواړئ.قیام اوکړئ.(٣) نو نبی ﷺ د ګل په ورځ د حضرت عائشې رضي الله عنها حجرې (کوټې) ته منتقل شو.او پوره یوه هفته په بیمارئ کښې تیرولو نه پس په بل ګل باندې د عائشې رضي الله عنها په کور کښې نبی ﷺ وفات شو.

دحضرت عائشې رضي الله عنها په کورکښې د بیمارئ تیرولو دخواهش یوه وجه خو ښکاره ده.چه دکوم اُنس او محبت تعلق چه د نبی ﷺ عائشې رضي الله عنها سره وو.په ازواج مطهرات کښې ئې بل چا سره نه وو.اوداُنس(محبت)زیاتوالې دسکون سبب وی.په دې وجه نبی ﷺ دا محسوسه کړله.چه د عائشې رضي الله عنها په کورکښې به ماته زیات راحت او سکون حاصل وی. دویمه خبره داده.چه دحضرت عائشې رضي الله عنها نه علاوه په ازواج مطهراتوکښې دهیڅ چا په بستره کښې نبی کریم ﷺ باندې د وحی نزول نه دې شوې.دحضرت عائشې رضي الله عنها دا خصوصیت وو.چه نبی ﷺ به دهغې په بستره کښې وو.او وحی به نازلیده.نو اوس د بیمارئ په ورځو کښې هم

---

(١) فتح الباری(١٢٩\٨)_
(٢) سیرت ابن هشام مع الروض الانف (٣٦۶\١٢)_
(٣) البدایة والنهایة(٢٢٥\٥)_

د وحی نازلیدو امکان وو.په دې وجه نبی علیه السلام اوغوښتل.چه د بیمارئ دا ورځې د حضرت عائشې رضی الله عنها په کورکښې تیرې کړی.چه که نبی علیه السلام د خپل اهل سره وی.او دغه وخت د وحی وی.نو د الله وحی به نازله شی.

اخری خطبه د بیمارئ په دې ورځوکښې به نبی علیه السلام مسجد نبوی ته د مونځ ورکولو په غرض سره تشریف اوړه.د زیارت په ورځ نبی علیه السلام حکم ورکړو.چه د اوبو اوه مشکونه دې په ما باندې واړولې شی.نو په ډیر اهتمام سره د اوبو اووه مشکونه نبی علیه السلام باندې واړولی شو. په دې طریقه غسل سره نبی علیه السلام ته معمولی شان سکون اوشو.د ماسپخین مونځ کولو نه پس نبی علیه السلام خطبه ورکړله.(۱)

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخری خطبه وه.په دې خطبه کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه فضائل او مناقب بیان کړل.حضرات انصارو رضی الله عنهم سره د نرمئ کولو تاکید ئې اوفرمائیلو. اووې فرمائیل.چه مخکښو قومونو د خپلو انبیاؤ او اولیاؤ قبرونه د عبادت ځایونه جوړ کړل. خیال کوئ! چرته تاسو داسې حرکت اونکړئ.وې فرمائیل. چه مسجد طرف ته څومره دروازې کلاؤ دی.ټولې دې بندې کړې شی.صرف د ابوبکردروازه دې کلاؤ پریخودې شی. نبی علیه السلام اشارتاً د خپل وفات وخت نزدې راتلوذکرهم اوکړو.چه په هغې باندې حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه پوهه شو.او په ژړا شو.نبی علیه السلام هغه ته تسلی ورکړله.اووې فرمائیل. چه ماته داسې معلومه شوې ده.چه تاسو خلق دخپل نبی جدائی اومرګ نه ډیر خفه او یریدونکی یئ.حالانکه دلته چالره هم همیشوالې نشته.(لکه څنګه چه د قرآن شریف په دې آیاتونوکښې دی. ﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ﴾ (۲)﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ (۳) په داسې قسمه نصیحت سره نبی علیه السلام صحابه کرام رضی الله عنهم په دې خبره راضی کړل.چه هغوی د نبی علیه السلام د جدائی غم برداشت کړې شی.ددې نه پس نبی علیه السلام صحابو رضی الله عنهم ته الوداع اووئیل.اوکور ته ئې تشریف یوړه.(۴)

په مسجد نبوی کښې اخری مونځ: د زیارت په ورځ د ماذیګر مانځه نه پس نبی علیه السلام جمات ته تشریف راوړه.او د ماښام په مانځه کښې هم راغې.دماښام په مانځه کښې نبی علیه السلام سورة ﴿وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا﴾ تلاوت کړو.د زیارت په ورځ د ماښام دا مونځ د نبی علیه السلام د ټولو نه آخری مونځ وو. کوم چه نبی علیه السلام ورکړو. لکه چه روستو د بخاری په روایت کښې راروان دی.چه د ماسخوتن وخت راغې.نو تپوس ئې اوکړو.چه مونځ اوشو؟ خلقو اووئیل.ټول ستاسو انتظار کوی.نبی علیه السلام پاسیدل اوغوښتل. خو بې هوشی پرې راغله.د هوش راتلو نه پس ئې بیا

---

۱) البداية والنهاية (۲۲۵\۵)_

۲) سورة الانبياء\۳۴)_

۳) سورة آل عمران\۱۴۴)_

۴) ددې خطبې مبارکې تفصیل دپاره اوګورئ! البداية والنهاية ۶\۲۲۹-۲۳۱) واتحاف السادة المتقين (۱۰\۲۸۹)_

تپوس اوکړو.چه مونځ اوشو؟ خلقو بیا هغه جواب ورکړو .نبی ﷺ پاسیدل اوغوښتل.نو بیا پرې بې هوشي راغله. په دریم ځل هم چه کله بې هوشي راغله نووې فرمائیل.ابوبکر رضی الله عنه دې مونځ ورکړي. نود ماسخوتن مونځ حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ورکړو.(۱)

ددې نه پس به مونځونه صدیق اکبر رضی الله عنه ورکول.د نبی ﷺ تګ راتګ مسجد طرف ته بند شو.البته د هفتې یا اتوار په ورځ د نبی ﷺ په طبیعت کښې څه افاقه اوشوه.نو نبی ﷺ د حضرت عباس رضی الله عنه او د حضرت علی رضی الله عنه په سهارې سره مسجد نبوی ته تشریف راوړه. جماعت اودریدلې وو.حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه مونځ ورکولو .نبی ﷺ د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ګس طرف ته کیناسته.حضرت صدیق رضی الله عنه شاته شو .نبی ﷺ اشارې سره منع کړو.او دهغه په اړخ کښې ګس طرف ته کیناسته.اومونځ ئې ورکړو.اوس نبی ﷺ امام وو.او صدیق اکبر رضی الله عنه د نبی ﷺ اقتداء کوله.باقي مونځ کونکو به د حضرت صدیق اکبر په تکبیرونو باندې د مونځ ارکان اداکول.دا د ماسپخین مونځ وو.(۲)

دماسپخین دا امامت د نبی کریم ﷺ آخری امامت وو.خو د ماسپخین د مانخه پوره امامت نبی ﷺ نه ووکړې.د مونځ د ابتدائی حصې امامت حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه فرمائیلې وو. دکوم مونځ چه مستقل آخری امامت نبی ﷺ فرمائیلې دې. هغه د زیارت د ورځې د مابنام د مونځ امامت وو.لکه څنګه چه اوس وړاندې بیان شو.

په دې بیان سره هغه دواړه قسمه روایاتو منځ کښې تطبیق هم کیږی.چه په هغې کښې بعضوکښې دی.چه نبی ﷺ آخری مونځ د مابنام اوکړو.او په بعضوکښې دی.چه آخری مونځ ئې د ماسپخین ورکړو.دغه شان په کومو روایاتو کښې چه د مابنام مونځ آخری ګرځولې شوې دې.دهغې نه د مستقل امامت په اعتبار سره آخری کیدل مراد دی.نو دا دهغه روایاتو معارض نه دې.په کومو کښې چه راغلی دی.چه آخری مونځ نبی ﷺ د ماسپخین ورکړې دې.ځکه چه د ماسپخین دغه مونځ نبی ﷺ مستقل او پوره پخپله نه وو ورکړې.بلکه دمونځ شروع کیدو نه پس نبی ﷺ راغې.اوامامت ئې اوکړو.(۳)

د اتوار په ورځ مرض سخت شو.د ذات الجنب په خیال سره خلقو دهغې دوائی ورکول اوغوښتل.خو نبی ﷺ ته هغه دوائی. ځکل ناخوښه وو.نو نبی ﷺ انکار اوکړو.مریض چونکه عام طور باندې دوائی ناخوښوی.په دې وجه صحابه کرامو رضی الله عنهم اوګنړل.چه دا طبعی ناخوښی ده.اوپه زبردستئ ئې دوائی ورکړله.روستو چه کله طبیعت ښه شو.نووې فرمائیل. چه ما تاسو نه وئ منع کړی؟ اوس ستاسو سزا داده.چه ټولو ته دوائی ورکړې شی.څوك چه په دې عمل کښې شریك وو.سوا د عباس رضی الله عنه نه،چه هغه په دې عمل کښې شریك نه وو. (البته هغوی مشوره ورکړې وه)(۴)

---

۱) اتحاف السادة المتقین ۱۸۹\۱۰) والبدایة والنهایة (۲۳۳\۵)_

۲) البدایة والنهایة (۲۳۵\۵)_

۳) البدایة والنهایة(۲۳۵\۵)_

۴) لکه څنګه چه روستو د بخاری شریف په روایت باب کښې راځی)_

په کومه ورځ چه وفات اوشو.يعنی د ګل په ورځ، د سحر په وخت نبی عليه السلام د حجرې پرده اوچته کړله.وې کتل.نو خلقو صفونه جوړکړی وو.دسحر په مانځه کښې مشغول وو. خلق ئې چه اوليدل.د خوشحالئ نه مسکې شو.مخ مبارك ئې اوزليده.هلته خلق د ډيرې خوشحالئ نه بې قابو شو.نزدې وه.چه مونځونه ئې مات کړی وی.حضرت صديق اکبر رضی الله عنه امام وو. هغوی اوغوښتل.چه شاته شی.نبی عليه السلام اشارې سره اوفرمائيل.چه مونځ پوره کړه.او دحجرې پرده ئې ښکته کړله.او واپس ئې تشريف يوړه.دا د صحابو رضی الله عنهم دپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم د عام زيارت دټولو نه آخری موقعه وه.(١)

په دغه ورځ د سحر په وخت د نبی عليه السلام طبيعت په سکون کښې وو.حضرت صديق اکبر رضی الله عنه د سحر په وخت خدمت کښې حاضرشو.په طبيعت کښې ئې چه ښه والی اوليده.نو عرض ئې اوکړو.اې د الله رسوله! د الله په فضل وکرم سره نن ستاسو حالت څه قدرې ښه دې.که اجازت وی.نو زه خپلې (دويمې) بی بی حبيبه بنت خارجه ته ورځم.او راځم.چه نن دهغې د نمبر ورځ ده.نبی عليه السلام اجازت ورکړو.او حضرت صديق اکبر رضی الله عنه د مدينې اطرافو ته چرته چه حبيبه بنت خارجه اوسيدله.هلته لاړو.(٢)

نورصحابه رضی الله عنهم هم راغلل.د حضرت علی رضی الله عنه نه ئې دحال پوښتنه اوکړله.حضرت علی رضی الله عنه اوونيل.چه نن په طبيعت کښې الحمدلله افاقه ده.صحابه مطمئن شو.او خواره شو.(٣) خو ورځ راختلو سره سره نبی عليه السلام باندې بې هوشی راتلل شروع شو.او په وقفه وقفه به بې هوشی راتله.حضرت فاطمې رضی الله عنها چه دا کيفيت اوليده.نووې ونيل.،،واکرب اباه،، هائې زما د اباجان بې چينی! نبی عليه السلام اوفرمائيل.ستا اباجان دپاره به د نن نه پس بې چينی نه وی.(٤)

دوفات نه لږوخت مخکښې ئې دحضرت عائشې رضی الله عنها په سينه باندې سر کيخودو.او سملاسته. دحضرت صديق اکبر رضی الله عنه خوئې عبدالرحمن په خدمت اقدس کښې حاضر شو.دعبدالرحمن په لاس کښې مسواك وو.نبی عليه السلام مسواك طرف ته ډير ډير کتل. حضرت عائشه رضی الله عنها پوهه شوه. چه نبی عليه السلام مسواك کول غواړی.د عبدالرحمن نه ئې مسواك واخستلو.په غاښونو ئې نرم کړو.بيا ئې نبی عليه السلام ته ورکړو.نبی عليه السلام د صحت مند سړی پشان مسواك اوکړو.(٥)

وفات: څومره چه به د وفات وخت نزدې راتلو.د نبی عليه السلام تکليف به زياتيده.نزدې ورسره د اوبو پيالئ پرته وه.د درد نه چه به بې آرامه شو.په هغې کښې به ئې لاس اووهلو.او په مخ مبارك به ئې رانښکلو.او دا به ئې فرمائيل.((لا اله الا الله، ان للموت لسکرات)) ،،بې شکه د مرګ

---

(١) لکه چه روستو روايت کښې راروان دی۔

(٢) طبقات ابن سعد(٢١٥\٢)_

(٣) بخاری، کتاب المغازی، رقم الحديث(٤٤٤٢)_

(٤) بخاری کتاب المغازی، رقم الحديث (٤٤٦٢)_

(٥) بخاری کتاب المغازی، باب مرض النبی صلی الله عليه وسلم ووفاته، رقم الحديث(٤٤٥١)_

ډیري سختي دی، ،په دې کښې ئې لاس اوچت کړو.چت طرف ته ئې اوکتل.اووې فرمائیل. «اللّٰهمّ فی الرّفیق الاعلیٰ» لاس ئې ښکته راوغورزیده.او روح مبارک ئې عالم قدس طرف ته والوتلو.(۱) «انا لله و انا الیه راجعون»

تاریخ وفات: په دې خبره تقریباً ټول روایات متفق دی.چه د رسول اللهﷺ وفات په ربیع الاول کښې د ګل په ورځ شوې دې.البته په دې کښې اختلاف دې.چه د ربیع الاول کوم تاریخ وو؟ په دې سلسله کښې درې اقوال ډیر مشهور دی:

① دټولونه زیات مشهور قول کوم چه اکثرو اصحاب سیر اختیار کړې دې. دا دې. چه د نبیﷺ وفات په ۱۲ ربیع الاول د ګل په ورځ شوې دې.(۲) خوپه دې قول باندې یو قوی اشکال داکیږی.چه د ۱۲ربیع الاول نه تقریباً درې میاشتې وړاندې د ذی الحجې ۱۰ھ په نهم تاریخ په اتفاق د روایاتو د جمعې ورځ وه.اوپه یکم ذی الحجه د زیارت ورځ وه.اوس د ذی الحجه، محرم، او صفر درې واړه میاشتې که د دیرشو دیرشو اومنلې شی.اوکه د یوکم دیرشو اومنلې شی.یا بعضې د دیرشو او بعضې د یوکم دیرشو اومنلې شی.په یو صورت کښې هم ۱۲ربیع الاول ۱۱ھ د ګل ورځ نه جوړیږی.حالانکه ټول روایات په دې خبره متفق دی.چه د نبیﷺ وفات د ګل په ورځ شوې دې.(۳)

② دویم قول علامه طبری د کلبی او ابومخنف نه نقل کړې دې.چه د نبیﷺ وفات په ۲ربیع الاول شوې دې.علامه سهیلی په ،،الروض الانف،،کښې لیکلی دی.چه که ذی الحجه، محرم او صفر درې واړه د یوکم دیرشو ورځو اومنلې شی.نو په ۲ ربیع الاول ۱۱ھ د ګل ورځ راځی.(۴) د حافظ ابن حجرؒ میلان هم دې قول طرف ته معلومیږی.البته په دې قول باندې بعضې حضراتو دا اشکال کړې دې.چه د درېو میاشتو پرله پسې د ۲۹ ورځو کیدل شاذ دی.۲ربیع الاول د ګل ورځ هغه وخت راځی.کله چه ذی الحجه، محرم او صفر درې واړه د ۲۹ ورځو اومنلې شی.او دا صورت قلیل الوقوع دې.(۵)

③ دریم قول د امام مغازی موسی بن عقبه، لیث بن سعد او خوارزمی وغیره حضراتو دې. دا خلق فرمائی.چه د رسول اللهﷺ وفات په یکم ربیع الاول د ګل په ورځ شوې دې.(۶) په یکم ربیع الاول به د ګل ورځ هغه وخت وی.کله چه ذی الحجه ،محرم او صفر کښې دوه د

---

۱) البدایة والنهایة(۵\۲۳۹-۲۴۰)_
۲) الکامل لابن اثیر(۲\۲۱۹)_
۳) الروض الانف (۲\۳۷۲)_
۴) الروض الانف (۲\۳۷۲)_
۵) حاشیه سیرة النبیﷺ از مولانا سید سلیمان ندوی ؒ (۲\۱۰۶)_
۶) الروض الانف (۲\۳۷۲) وسیرت مصطفی(۳\۱۷۲)_

۲۹ ورځو او يوه مياشت د ۳۰ ورځو اومنلې شي .او دا صورت كثيرالوقوع دې.علامه سهيلي رحمه الله دې ته اقرب القياس وئيلى دى.[۱]
ددې قول تائيد دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دهغه روايت نه هم كيږى.كوم چه علامه ابن جرير طبرى او حافظ ابن كثير رحمه الله نقل كړې دې.چه د قرآن شريف د آيت ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ...﴾ د نزول د ورځې نه تردوفات ورځې پورې۸۱ ورځې دى .اودا آيت په ۹ ذى الحجه ۱۰ ه نازل شوې دې.اوس د ۹ ذى الحجه نه د يكم ربيع الاول پورې دمذكوره قول په لحاظ سره حساب اولګوه.نو۸۱ ورځې جوړيږى. [۲]
د رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات د ماسپخين مانځه نه مخكښې اوشو.په مغازى دابن اسحاق كښې دى.چه د ساخت په وخت د نبى عليه السلام وفات اوشو.او په مغازى د موسى بن عقبه كښې دى.چه د نبى عليه السلام وفات د زوال په وخت شوې دې.خو په ساخت او زوال كښې څه زياته فاصله نه وى.په دې وجه دا اختلاف زيات ژور نه دې.[۳]
د وفات نه پس د صحابورض كيفيت: د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس ټولو صحابو رضي الله عنهم باندې عجيبه اونا آشنا كيفيت خورشو.حضرت عمر رضي الله عنه توره راوښكله.او په مسجدنبوى كښې اودريده.اووې وئيل.كه چا اووئيل.چه د نبى عليه السلام وفات شوې دې.نو دهغه سټ به وهلې شي.[۴] حضرت عثمان رضي الله عنه باندې سكته (خاموشى) راغلې وه.دحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها او نورو ازواج مطهرات رضى الله عنهن په ژړا ژړا بدحال شوې وو.حضرت على رضي الله عنه په ژړا ژړا بې هوشه شو.[۵]
حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته اطلاع ملاوشوه.هغه تشريف راوړه.او نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته حجرې مباركې ته راروسيده.د نبى عليه السلام په بدن مبارك باندې څادر پروت وو.هغه د مخ مبارك نه څادر لرې كړو.د نبى عليه السلام تندې مبارك ئې ښكل كړو.او((لايجمع الله عليك موتتين)) ئې اووئيل. اووې وئيل.چه كوم مرګ الله تعالى د نبى عليه السلام په تقدير كښې ليكلې وو.دهغې مطابق د نبى عليه السلام وفات شوې دې.بيا جمات ته راغې.د صحابه كرامو رضي الله عنهم مجمع وه.دهيڅ چا په پوهه كښې نه راتلل.چه څه اووئيلې شى.څه اوكړې شى.
حضرت عمر رضي الله عنه پخپل قابوكښې نه وو.او صحابو رضي الله عنهم چه ددوى دا كيفيت اوليده.نو په ويره او غم كښې اخته وو.حضرت صديق اكبر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه لره چيرل او رټل مناسب اونه ګڼړل.د جمات يو ګوټ ته لاړه.چرته چه هغه لاړو.مجمع هم هلته منتقل شوه.حضرت صديق

---

[۱] الروض الانف (۳۷۲\۲)_
[۲] حاشيه سيرة النبى از مولانا سيدسليمان ندوى رحمه الله (۱۰۷\۲)_
[۳] فتح البارى(۱۴۳\۸-۱۴۴)_
[۴] اتحاف السادة المتقين (۲۹۸\۱۰)_
[۵] سيرت مصطفى(۱۷۳\۳)_

اکبر ﷛ خطبه ارشاد اوفرمائیله.په هغې کښې ئې ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ آيت اولوسته.
﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ آيت ئې اولوسته. ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ﴾ آيت ئې تلاوت کړو.او ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ﴾ آيت ئې اولوسته. ددې آياتونو دتلاوت نه پس هغه په زور سره اوونيل.

قوله: من كان منكم يعبد محمداً، فإن محمداً قد مات، ومن كان يعبدالله فإن الله حيٌّ لايموت: دحضرت صديق اکبر ﷛ په دې خطبه کښې الله تعالی داسې اثر واچولو.چه ټول په ټوله صحابه مطمئن شو.او دا يقين اوشو.چه د نبی کريم ﷺ وفات شوی دې. ډيروصحابو ﷡ اوونيل.چه دا آياتونه زمونږ په ذهن کښې نه وو پاتې شوی.د ابوبکر صديق ﷛ په تلاوت کولو سره هلته توجه اوشوه.(۱) ددې آياتونو طرف ته د حضرت عمر ﷛ توجه هم نه وه.اودهغه خيال داوو.چه د نبی ﷺ وختی طور باندې ددې عالم مشاهدې نه عالم قدس طرف ته انقطاع شوې ده.او دا يوه عارضی خبره ده.واپس به بيا نبی ﷺ دې عالم مشاهدې طرف ته ملتفت او متوجه کيږی.او لکه څنګه چه زمونږ سره مخکښې اوسيده.هغه شان به بيا اوسيږی.(۲)
بعضې حضرات فرمائی.چه حضرت عمر بن الخطاب ﷛ ته دا ويره وه.چه ددې نازکې موقعې نه به منافقان فائده واخلی.او فساد به پيدا کړی.په دې وجه هغوی په دغه باندې سخت موقف اختيارکړو.والله اعلم.
تکفين او تدفين ددې نه پس د نبی کريم ﷺ د نيابت او خليفه جوړيدو مسئله.پيښه شوه.چه ددې تفصيل په ، ،سقيفه بنی ساعده، ،کښې تيرشوې دې.دا هم يوه اهمه مسئله وه. چه نبی کريم ﷺ ته غسل څنګه ورکړې شی؟ د نبی ﷺ جنازه څنګه اوکړې شی؟ نبی ﷺ چرته دفن کړې شی؟ عجيبه خبره داوه. چه ددې سوالاتو جوابونه د حضرت صديق اکبر ﷛ نه علاوه بل چا سره نه وو.حضرت صديق اکبر ﷛ ددې ټولو مشکلاتو حل راوبنکلو.اووې وئيل.چه ماته د رسول الله ﷺ نه په دې باره کښې معلومات حاصل دی.ددې نه پس دجامو اوبنکلو نه بغير نبی ﷺ ته غسل ورکړې شو.د جنازې مونځ بغير دجماعت نه اوکړې شو.د عائشې ﷝ په حجره کښې د نبی ﷺ جنازه ايخودې شوې وه.خلق به ورتلل.او خانله خانله به ئې مونځ کولو.واپس به راتلل .او بيا هلته د نبی ﷺ د دفن انتظام اوکړې شو.(۳)

[۴۱۶۵] وَقَالَ يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ يَا عَائِشَةُ مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ

---

۱) البداية والنهاية (۵\۲۴۲-۲۴۳) وطبقات ابن سعد (۲\۲۷۰-۲۶۸)_
۲) طبقات ابن سعد(۲\۲۶۶)_
۳) تفصيل دپاره اوګورئ! طبقات ابن سعد(۲\۲۷۷-۲۹۲)_

دا تعليق دې.بزاز او حاكم دا موصولاً نقل كړې دې.[1]
ابهرد ساه رګ ته وائي.دا د شا نه اوخي.او زړه سره يوځائې په پوره بدن كښې خپل اثرات رسوي. بعضې حضرات فرمائي.چه د خيګر نه اوخي.او د زړه سره خوا كښې تيريږي.د پوره بدن مساماتو او نرى رګونوته خپل اثر رسوي.چه دا اوشليږي .نو انسان وفات كيږي.
نبى كريم ﷺ پخپل مرض وفات كښې اوفرمائيل.چه كوم زهر ماد غزوهٔ خيبرپه موقع باندې د چيلۍ غوښې سره خوړلي وو.دهغې په وجه زه دخپل ساه رګ شليدل محسوسوم.د غزوهٔ خيبر په موقعه باندې نبى عليه السلام ددغه زهريله غوښې ټكړه صرف په خوله كښې ايخودې وه.او د جبرئيل امين په اطلاع وركولو سره ئې تهوكلى وه.خو په خوله كښې د ايخودو په وجه دهغې اثر نبى عليه السلام مسلسل روستو هم محسوسولو.اوپه دې موقع باندې نبى عليه السلام اوفرمائيل.چه د زهرو په وجه ماته دخپل ساه رګ شليدو اندازه كيږي.
ددې نه دا نتيجه اخستې شوې ده.چه الله تعالى رسول الله ﷺ د شهادت مرګ ورنصيب كړې دې.حديث كښې راځي.چه كوم مسلمان د زهرو په وجه وفات شي.هغه د آخرت په لحاظ سره شهيد دې.[2]

[۴۱۶۶] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا ثُمَّ مَا صَلَّى لَنَا بَعْدَهَا حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ [ر:۷۲۹]

دلته دى.چه دمابنام مانځه نه پس نبى عليه السلام بيا هيڅ يو مونځ ته رانكړو.مراد ددې نه دادې.چه هيڅ يو داسې مونځ ئې رانكړو.چه په هغې كښې د نبى عليه السلام د قراءت اوريدو نصيب شوې وى.ګنى د مابنام دا مونځ ئې د زيارت په ورځ اوكړو.او ددې نه پس د هفتې يا اتوار په ورځ د ماسپخين مونځ نبى عليه السلام په مسجد كښې وركړې دې.خوپه هغې كښې د قراءت اوريدو موقعه نه ده ملاوشوې.په دې وجه هغه ددې روايت خلاف نه دې.[3]

[۴۱۶۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُدْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ إِنَّ لَنَا أَبْنَاءً مِثْلَهُ فَقَالَ إِنَّهُ مِنْ حَيْثُ تَعْلَمُ فَسَأَلَ عُمَرُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ فَقَالَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمَهُ إِيَّاهُ فَقَالَ مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَعْلَمُ [ر:۳۴۲۸]

[۴۱۶۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَحْوَلِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قَالَ

---

[1] فتح البارى(۱۳۱۸)_
[2] فيض البارى(۱۴۲۱۴-۱۴۳)_
[3] البداية والنهاية (۲۳۵۱۵)_

ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ فَقَالَ ائْتُونِي أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا فَتَنَازَعُوا وَلَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوا مَا شَأْنُهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ فَذَهَبُوا يَرُدُّونَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ وَأَوْصَاهُمْ بِثَلَاثٍ قَالَ أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَ فَنَسِيتُهَا [ر:۱۱۴]

[۴۱۶۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا حُضِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّوا بَعْدَهُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غَلَبَهُ الْوَجَعُ وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ حَسْبُنَا كِتَابُ اللَّهِ فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ وَاخْتَصَمُوا فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّوا بَعْدَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ غَيْرَ ذَلِكَ فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغْوَ وَالِاخْتِلَافَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ فَكَانَ يَقُولُ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذَلِكَ الْكِتَابَ لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ [ر:۱۱۴]

واقعه قرطاس: دا روایت او دې سره متصل راروان روایت کښې د قرطاس واقعې بیان دې. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی.د زیارت ورځ! او څنګه ده د زیارت ورځ، په دې ورځ د رسول الله ﷺ مرض کښې سختی راغله.ددې زیارت نه د رسول الله ﷺ د وفات نه څلور ورځې مخکښې زیارت مراد دې.

قوله: فَقَالَ ائْتُونِي أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا: نبی علیه السلام اوفرمائیل.ماته راشئ.زه تاسو دپاره یو کتاب (خط) اولیکم.چه دهغې نه پس به تاسو کله هم ګمراه نه شئ.یعنی کله چه دزیارت په ورځ د نبی علیه السلام تکلیف کښې سختی اوشوه.نو نبی علیه السلام حاضرینو ته اوفرمائیل.چه ماته کاغذ اوقلم راوړئ.چه زه تاسو دپاره یوه داسې وصیت نامه اولیکم.چه دهغې نه پس به تاسو نه ګمراه کیږئ.

قوله: فَتَنَازَعُوا وَلَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوا مَا شَأْنُهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ: د رسول الله ﷺ حکم اوریدو سره صحابو رضی الله عنهم جګړه او اختلاف اوکړو.اختلاف په دې کښې اوشو.چه بعضې حضراتو اوونیل.کاغذ او قلم راوړئ.او بعضې نورو حضراتو اوونیل.چه نبی علیه السلام ته دې وخت سخت تکلیف دې.په دې وجه نبی علیه السلام ته د لیکلو په تکلیف کښې اچول نه دی پکار.لکه چه په دې پسې روایت کښې دی. ((فقال بعضهم ان رسول الله ﷺ قد غلبه الوجع، وعندكم القرآن، حسبنا كتاب الله)) بعضو اوونیل.چه په رسول الله ﷺ باندې د مرض سختی او غلبه ده.تاسو سره قرآن شته. مونږ دپاره دالله کتاب کافی دې، ،دلته خو صراحت نشته.د مسلم

شريف په روايت کښې صراحت دې چه دا ويونکې حضرت عمر رضی الله عنه وو .هغوی وئيلی وو.
«حسبنا کتاب الله»[1] په دې باندې دحضرت عمر رضی الله عنه رائې سره اختلاف کونکو بعضې حضراتو اووئيل.

قوله: أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ: ددې جملې دوه مطلبه بيان کړې شوی دی:

① ..اهجر.. کښې همزه د استفهام ده.او دا د ..هُجر..(بضم الهاء) نه ماخوذ دې.د ..هُجر.. نه هغه بې جوړ او بې ربط کلام مراد دې.کوم چه د مريض د ژبې نه د مرض د سختوالی په حالت کښې بغير د سوچ اوفکر نه اوځی.حضرت عمر رضی الله عنه چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرض د سختوالی په وجه د قلم اوکاغذ راوړلو نه منع کړل. او وې وئيل.«حسبنا کتاب الله» نود کومو خلقو رائې چه داوه.چه قلم کاغذ راوړل او وصيت نامه ليکل پکاردی.هغوی دا جمله اووئيله.او مطلب دهغوی داوو.چه ته د نبی کريم صلی الله علیه وسلم د حکم خلاف ورزی آخر ولې کوې؟ آيا رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرض د سختئ په وجه څه فضول خبره اوکړله؟ يعنی هيڅ چرې داسې نه ده.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فضول خبره کړې وی.نو د حکم په تعميل کښې قلم او کاغذ راوړل، اوکوم څه چه نبی علیه السلام ليکل غواړی.هغه ليکل پکاردی.حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله په تحفه اثناء عشريه کښې هم دا مطلب بيان کړې دې.په دې صورت کښې استفهام انکاری دې.[2]

② دويم مطلب دا بيان شوې دې.چه ..اهجر.. د ..هَجر..(بفتح الهاء) نه ماخوذ دې.د هجر معنی فراق او جدائی راځی.يعنی آيا رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ نه جدا کيږی؟ [3]

ددې واقعې په وجه روافضو حضرت عمر رضی الله عنه باندې ډيره ملامته او بدې ردې وئيلې دی. هغوی وائی.چه حضرت عمر رضی الله عنه او دهغه رائې سره اتفاق کونکی صحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم نافرمانی اوکړله.چه دهغې په وجه امت د يو داسې وصيت نامې نه محرومه شو.چه هغې به امت د ګمراهئ او ضلالت نه بچ کړې وې.

خودروافضو دااعتراض بالکل غلط دې.اوحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه سره د هغوی د بغض او حسد په بنياد باندې مبنی دې.د رسول الله صلی الله علیه وسلم هرحکم به ضروری، لازمی اوواجبی نه وو. بلکه د نبی علیه السلام بعضې احکام به اختياری وو.اوبعضې اوامر به ئې ايجابی او لازمی وو. حضرت عمر رضی الله عنه او دهغه رائې سره اتفاق کونکو صحابو دقرائنو نه دا اوګنړل.چه د نبی علیه السلام دا حکم ايجابی اولازمی نه دې.بلکه اختياری دې.اود حضرت عمر رضی الله عنه عادت وو.چه هغه به په داسې موقعو کښې عام طور باندې مشوره ورکوله.او رسول الله صلی الله علیه وسلم به دهغه مشوره قبلوله. ددې يو دوه نه، ډير مثالونه دی.چه په يوه معامله کښې نبی علیه السلام يو اختياری حکم ورکړو.حضرت عمر رضی الله عنه دهغې خلاف مشوره ورکړله.او نبی علیه السلام قبوله کړله.
. مثلاً دحضرت ابوهريره رضی الله عنه واقعه مشهوره ده.چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم سره د

---

[1] صحيح مسلم، کتاب الوصية، باب ترک الوصية لمن ليس له شئ يوصی فيه، رقم الحديث (٤١٠٤)

[2] تحفہ اثنا عشريه (٤٥٣)_

[3] فتح الباری(١٣٣١٨)_

نبى علیہ السلام پیزار مبارك واخستل.او صحابو رضی اللہ عنہم ته د جنت خوشخبرئ دپاره روان شو.په لاره كښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ هغه سره ملاوشو.اوهغه ئې واپس كړو.هغه لاړه .اونبى كريم صلی اللہ علیہ وسلم ته ئې عرض اوكړو.چه دا خوشخبرى صحابو رضی اللہ عنہم ته مه وركوئ.چرته داسې اونه شى.چه هغوى په دې خوشخبرئ سره نيك اعمال پرېږدى.نو نبى علیہ السلام دهغه مشوره قبوله كړله.([1])

په دغه موقع رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم باندې د مرض سختى وه.حضرت عمر رضی اللہ عنہ چه قرائنو.سره كله پوهه شو.چه د نبى علیہ السلام حكم ايجابى او لازمى نه دې.نوهغوى رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم سره د زيات محبت په وجه دا اووئيل.چه د تكليف په دې حالت كښې نبى علیہ السلام لره دڅه څيز د ليكلو په مشقت كښې اچول نه دى پكار.او دا خبره پخپل ځائې صفا ده.چه د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم دا حكم ايجابى او لازمى نه وو.ځكه كه دا لازمى اوايجابى وې.نو نبى علیہ السلام به دچا د اختلاف په وجه هيڅ چرې نه پرېخودو.([2])

اودا دزيارت د ورځې واقعه ده.ددې نه پس رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څلور ورځو پورې ژوندې پاتې شوې دې.او په دې مينځ كښې د نبى په صحت كښې افاقه هم راغلې ده.د زيارت د ورځې د ماسپخين مونځ نبى علیہ السلام وركړو.او دمانځه نه پس ئې خطبه هم وركړله.نوكه دا وصيت نامه ليكل ضرورى او لازمى وې.نو نبى علیہ السلام به په دغه څلورو ورځو كښې څه وخت دا ضرور ليكلې وې.

بعضې حضراتو وئيلى دى.چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څه فرمائيلى وو.دا امر اختبار او امتحان وو.نبى علیہ السلام دا معلومول غوښتل.چه آيا د كتاب الله متعلق صحابو رضی اللہ عنہم ته دا يقين كامل شوې دې.چه هغوى دپاره د لارې د رڼرا جوړيدو دپاره هغه كافى دې؟ ياهغوى ته په هغې كښې اوس هم شك دې.كله چه حضرت عمر رضی اللہ عنہ وغيره دا اووئيل.،،حسبنا كتاب الله،، نو نبى علیہ السلام ته تسلى اوشوه.او نبى علیہ السلام اوفرمائيل.((دعونى فالذى انا فيه خير)) يعنى د كتاب پرېخودو (ستا د جواب اوريدو نه پس) اوس چه ما كومه اراده كړې ده.هغه خيردې.([3])

اوس پاتې شوه داخبره چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم څه ليكل غوښتل.ددې متعلق مختلفې خبرې بيان شوى دى:

① روافض وائى.چه نبى كريم صلی اللہ علیہ وسلم دحضرت على رضی اللہ عنہ دپاره خلافت بلافصل ليكل غوښتل.خودا د روافضو صرف دعوه ده.او هغوى سره ددې دعوې هيڅ دليل نشته

② امام ابن عيينه رحمہ اللہ او علامه بيهقى رحمہ اللہ فرمائى.چه د حضرت صديق اكبر رضی اللہ عنہ خلافت

---

[1]) صحيح مسلم، كتاب الايمان، باب الدليل على ان من مات على التوحيد دخل الجنة قطعاً رقم الحديث (١٥٦) (فتح الملهم ١/٥٩١)_

[2]) قال الامام البيهقى .. ولوكان مراده ان يكتب شيئاً مفروضاً لا يتغنون عنه لم يتركه باختلافهم، ولغطهم، لقوله تعالى بلغ ما انزل اليک، كمالم يترک تبليغ غيره لمخالفة من خالفه ومعاداة من عاداه......(وانظر دلائل النبوة للبيهقى ٧/١٨٤)_

[3]) ددې جملې مختلف مطلبونه روستو راروان دى۔

ليكل نې غوښتل.خو چونکه نبي عليه السلام ته دا معلومه وه.چه زما نه پس به حضرت صديق رضي الله عنه خليفه جوړيږي.په دې وجه کله چه اختلاف اوشو.نو نبي عليه السلام خپله اراده پريخودله.(١)

ددې تائيد دامام مسلم رحمه الله دهغه روايت نه هم کيږي.کوم چه هغوى دحضرت عائشې رضي الله عنها نه نقل کړې دې. هغوى اووئيل.چه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپل مرض وفات کښې اووئيل.((ادعى لى اباكر اباكِ واخاكِ، حتى اكتب كتاباً، فانى اخاف ان يتمنى متمن ويقول قائل: انا اولى، ويأبى الله والمؤمنون الا ابابكر)) (٢)، .يعنى خپل پلار ابوبکر رضي الله عنه، او خپل ورور(عبدالرحمن رضي الله عنه) راوغواړه.چه زه يو تحرير اوليکم.ماته ويره ده.چه څوك تمنا کونکې به تمنا اوکړى.او اوبه وائى.چه زه (دخلافت) زيات مستحق يم.حالانکه الله او مؤمنان د ابوبکر رضي الله عنه نه سوا په هيڅ چا باندې راضى نه دى.

③ او بعضو حضراتو وئيلى دى.چه روستو په روايت کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم درې وصيتونه فرمائيلى دى.هم دغه درې وصيتونه نبي عليه السلام ليکل غوښتل.والله اعلم.

قوله: فَذَهَبُوا يَرُدُّونَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ:

بعضې صحابو رضي الله عنهم اووئيل.چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړئ.چه آيا هغوى دا وصيت نامه ضرور ليکل غواړى.نو بعضې حضراتو دوباره د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په دې باره کښې د خبرو کولو اراده اوکړه.نو په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ،،ما پريږدئ.په څه کښې چه زه يم.هغه خيردې،،

دلته سوال پيداکيږى.چه هغه کوم او څه څيز وو.چه په هغې کښې خپل ځان نبي عليه السلام خير اوګرځولو؟

① يو خبره خو دا مشهوره ده.چه نبي عليه السلام د رب د جمال او جلال په مشاهدې کښې مشغوله وو.نبي عليه السلام اوفرمائيل.ما هم په دې جمال او جلال مشاهده کښې پريږدئ.ما اوس تاسو خپل ځان طرف ته مه متوجه کوئ.(٣)

② بعضې حضراتو وئيلى دى.چه ددې جملې مقصد دادې.چه اوس تاسو د تحرير خبره بيا شروع کوئ.او ما د پريخودو اراده کړې ده.اوس دا تحرير پريخودل زيات غوره او زيات مناسب دى.تاسو بيا د تحرير دپاره ماته مه وايئ.(٤)

③ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلى دى.چه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مقصد دادې.چه زما خيال د کوم تحرير او ليکلو وو.هغه زيات مناسب او غوره وو.دهغې نه کوم چه تاسو د پريخودو رائې

---

(١) دلائل النبوة للبيهقى(١٨٤\٧) باب ماجاء فى همه بان يكتب لاصحابه كتاب..... وفتح البخارى (٢٠٩\١)_

(٢) مسلم (٢٧٣\٢) كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل ابى بكر الصديق رضي الله عنه_

(٣) عمدة القارى(٦٢\١٨)_

(٤) فتح البارى(١٣٤\٨)_

راكړي ده.(١)

قوله: وَأَوْصَاهُمْ بِثَلَاثٍ قَالَ أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ وَسَكَتَ عَنْ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَ فَنَسِيتُهَا: نبى عليه السلام درې وصيتونه اوفرمائيل.رومبي وصيت ئې دا اوفرمائيلو.چه مشركين دجزيرة العرب نه اوباسئ.دويم وصيت ئې دا اوفرمائيلو. چه راتلونكى وفود هغه شان انعام او اكرام سره رخصتوئ.لكه څنګه چه به ما هغوى انعام او اكرام سره رخصتول.او دريم وصيت نه يا خو راوى خاموش پاتې شو.يا هغه اووئيل .چه مانه هيرشو.دلته خبره په دې كښې شوې ده.چه د ،،ثالثة،، نه چپ كيدونكې څوك دې.او نسيان دچا نه شوې دې؟ بعضې شارحينو فرمائيلى دى.چه سكوت كونكې حضرت ابن عباس رضى الله عنه دې.او نسيان د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله نه شوې دې.يعنى سعيد بن جبير رحمه الله دا وائى.چه دريم وصيت يا خو حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه دې بيان كړې.اوياكه هغوى بيان كړې دې.نو ما نه هيرشوې دې.او ماته يادنه دې.چه هغه څه دې.(٢) خو دا صحيح نه ده.صحيح داده.چه سفيان بن عيينه چه د قتيبه بن سعيد استاذ دې.هغه وائى.چه زما استاذ ،، سليمان احول،، اوفرمائيل.چه دريم وصيت زما د استاذ سعيد بن جبير رحمه الله ذكركړې وو.مانه هير شو .يا هغوى ددې نه سكوت كړې وو.يعنى سكوت كونكې سعيد بن جبير رحمه الله دې.او هيره د ،،سليمان احول،، نه شوې ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله دې دويم احتمال ته ترجيح وركړې ده.اووئيلى ئې دى.چه په مستخرج ابى نعيم كښې صراحت دې.چه سكوت كونكې سعيد بن جبرې دې.او هيرونكې،سليمان احول،، دې.(٣) د حافظ نظر غالباً د بخارى ،،ابواب الجزيه،، والا روايت باندې نه دې راغلې. حالانكه هلته هم دا تصريح موجود ده.((والثالثة اما ان سكت عنها واما ان قالها، فنسيتها، قال سفيان: هذا من قول سليمان))(٤)

اوس دا سوال پاتې كيږى.چه دا ،،امرثالث،، څه وو.چه دهغې نبى عليه السلام وصيت فرمائيلې وو؟

① د داؤدى رائې داده.چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د عمل بالقرآن وصيت فرمائيلې وو.(٥)

② د مهلب او ابن بطال رائې داده.چه هغه امرثالث د اسامه د لښكر تنفيذ وو.(٦)

③ بعضې علماء فرمائى.چه دريم وصيت ((الصلاة وما ملكت ايمانكم)) يعنى د مونځ اوغلامانو سره د حسن سلوك د تاكيد وو(٧)

---

١) فتح البارى (١٣٤/٨)_
٢) فتح البارى(١٣٤/٨)_
٣) فتح البارى(١٤٤/٨)_
٤) صحيح بخارى، كتاب الجزية، باب اخراج اليهود من جزيرة العرب (٤٤٩/١)_
٥) فتح البارى(١٣٥/٨)_
٦) فتح البارى(١٣٥/٨)_
٧) فتح البارى(١٣٥/٨)_

په ابن ماجه كښې ددې صراحت موجود دې.(١)

④ او په مؤطا امام مالك كښې ،،اخراج يهود ونصارى من جزيرة العرب،، سره ((لاتتخذوا قبرى وثنايعبد)) هم ذكرشوې دې.بهرحال دا ټول احتمالات دى.خو يقينى طور باندې يو نشى متعين كيدې.

[٤١٧٠] حَدَّثَنَا يَسَرَةُ بْنُ صَفْوَانَ بْنِ جَمِيلٍ اللَّخْمِيُّ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام فِي شَكْوَاهُ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ فَسَارَّهَا بِشَيْءٍ فَبَكَتْ ثُمَّ دَعَاهَا فَسَارَّهَا بِشَيْءٍ فَضَحِكَتْ فَسَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَقَالَتْ سَارَّنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يُقْبَضُ فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَبَكَيْتُ ثُمَّ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ أَهْلِهِ يَتْبَعُهُ فَضَحِكْتُ [ر:٣٤٢٦]

[٤١٧١/٤١٧٢] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَسْمَعُ أَنَّهُ لَا يَمُوتُ نَبِيٌّ حَتَّى يُخَيَّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَأَخَذَتْهُ بُحَّةٌ يَقُولُ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ الْآيَةَ فَظَنَنْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ

[٤١٧٢] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَرِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرَضَ الَّذِي مَاتَ فِيهِ جَعَلَ يَقُولُ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى

[٤١٧٣] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ إِنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَحِيحٌ يَقُولُ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ قَطُّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنْ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُحَيَّا أَوْ يُخَيَّرَ فَلَمَّا اشْتَكَى وَحَضَرَهُ الْقَبْضُ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِ عَائِشَةَ غُشِيَ عَلَيْهِ فَلَمَّا أَفَاقَ شَخَصَ بَصَرُهُ نَحْوَ سَقْفِ الْبَيْتِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى فَقُلْتُ إِذًا لَا يُجَاوِرُنَا فَعَرَفْتُ أَنَّهُ حَدِيثُهُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا وَهُوَ صَحِيحٌ

[٤١٧٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَفَّانُ عَنْ صَخْرِ بْنِ جُوَيْرِيَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مُسْنِدَتُهُ إِلَى صَدْرِي وَمَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سِوَاكٌ رَطْبٌ يَسْتَنُّ بِهِ فَأَبَدَّهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ فَأَخَذْتُ السِّوَاكَ فَقَصَمْتُهُ وَنَفَضْتُهُ وَطَيَّبْتُهُ ثُمَّ دَفَعْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنَّ بِهِ فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَنَّ اسْتِنَانًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ فَمَا عَدَا أَنْ فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَهُ أَوْ إِصْبَعَهُ ثُمَّ قَالَ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى ثَلَاثًا ثُمَّ

---

١) عن انس بن مالك، قال كانت عامة وصيت رسول الله ﷺ حين حضرته الوفاة وهو يغرغر بنفسه ،،الصلاة وما ملكت ايمانكم،،(سنن ابن ماجه ٩٠٠١٢) كتاب الوصايا، باب هل اوصى رسول الله ﷺ رقم (٢٦٩٧)_

قَضَى وَكَانَتْ تَقُولُ مَاتَ بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي [۴۱۷۶، ۴۱۹۴، ۴۴۱۰، ۵۳۵۰، ۵۹۸۸، ۶۱۴۳، وانظر: ۸۵۰]
[ر: ۸۵۰، وانظر: ۴۱۷۱]

[۴۱۷۵] حَدَّثَنِي حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اشْتَكَى نَفَثَ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهِ فَلَمَّا اشْتَكَى وَجَعَهُ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ طَفِقْتُ أَنْفِثُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ الَّتِي كَانَ يَنْفِثُ وَأَمْسَحُ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ [۴۷۲۸، ۴۷۲۹، ۵۴۰۳، ۵۴۱۶، ۵۴۱۹، ۵۹۶۰]

[۴۱۷۶] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُخْتَارٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْغَتْ إِلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ وَهُوَ مُسْنِدٌ إِلَيَّ ظَهْرَهُ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الْأَعْلَى [ر: ۴۱۷۱]

د ,, **والحقنی بالرفیق ،،معنی**: د ،رفیق،، مختلف تشریحات شوی دی.

① بعضو ونیلی دی.چه ،رفیق،، نه مراد جنت دې.

② بعضو حضرات ونیلی دی. فرښتې ددې مصداق دی.

③ بعضو انبیاءعلیهم السلام ددې مصداق ګرځولی دی.

④ بعضې خلقو ونیلی دی.چه ددې نه مراد انبیاء، صدیقین، شهداء او صالحین دی.چه هغوی طرف ته د قرآن شریف په دې آیت کښې اشاره شوې ده. ﴿وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا﴾ (١)
د رفیق اطلاق واحد باندې هم کیږی.او په جماعت باندې هم کیږی.

⑤ بعضې عالمانو ونیلی دی.چه د الله تبارك وتعالی په اسماء حسنی کښې رفیق شامل دې.په دې وجه ددې نه د الله ذات اقدس مراد دې.(٢)

[۴۱۷۷] حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ هِلَالٍ الْوَزَّانِ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ قَالَتْ عَائِشَةُ لَوْلَا ذَلِكَ لَأُبْرِزَ قَبْرُهُ خَشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا [ر: ۴۲۵]

[۴۱۷۸] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاشْتَدَّ بِهِ وَجَعُهُ اسْتَأْذَنَ أَزْوَاجَهُ أَنْ

---

(١) سورة النساء\٦٩)_

(٢) د مذکوره پنځو معانیو دپاره اوګورئ: فتح الباری(١٣٧\٨)_

يُمَرَّضَ فِي بَيْتِي فَأَذِنَّ لَهُ فَخَرَجَ وَهُوَ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ تَخُطُّ رِجْلَاهُ فِي الْأَرْضِ بَيْنَ عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَبَيْنَ رَجُلٍ آخَرَ قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ فَأَخْبَرْتُ عَبْدَ اللَّهِ بِالَّذِي قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ هَلْ تَدْرِي مَنِ الرَّجُلُ الْآخَرُ الَّذِي لَمْ تُسَمِّ عَائِشَةُ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ وَكَانَتْ عَائِشَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَخَلَ بَيْتِي وَاشْتَدَّ بِهِ وَجَعُهُ قَالَ هَرِيقُوا عَلَيَّ مِنْ سَبْعِ قِرَبٍ لَمْ تُحْلَلْ أَوْكِيَتُهُنَّ لَعَلِّي أَعْهَدُ إِلَى النَّاسِ فَأَجْلَسْنَاهُ فِي مِخْضَبٍ لِحَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ طَفِقْنَا نَصُبُّ عَلَيْهِ مِنْ تِلْكَ الْقِرَبِ حَتَّى طَفِقَ يُشِيرُ إِلَيْنَا بِيَدِهِ أَنْ قَدْ فَعَلْتُنَّ قَالَتْ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى النَّاسِ فَصَلَّى بِهِمْ وَخَطَبَهُمْ [ر:١٩٥]

[٤١٧٩] وأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَا لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ فَإِذَا اغْتَمَّ كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ وَهُوَ كَذَلِكَ يَقُولُ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا [ر:٤٢٥]

[٤١٨٠] أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ رَاجَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ وَمَا حَمَلَنِي عَلَى كَثْرَةِ مُرَاجَعَتِهِ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَقَعْ فِي قَلْبِي أَنْ يُحِبَّ النَّاسُ بَعْدَهُ رَجُلًا قَامَ مَقَامَهُ أَبَدًا وَلَا كُنْتُ أُرَى أَنَّهُ لَنْ يَقُومَ أَحَدٌ مَقَامَهُ إِلَّا تَشَاءَمَ النَّاسُ بِهِ فَأَرَدْتُ أَنْ يَعْدِلَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَبِي بَكْرٍ رَوَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَأَبُو مُوسَى وَابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:١٩٥، ٦٣٦، ٦٥٠، ٦٥٥]

[٤١٨١] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ الْهَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّهُ لَبَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي فَلَا أَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِأَحَدٍ أَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٨٥٠]

قوله: مات النبي ﷺ وانه لبين حاقنتي وذاقنتي: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. د رسول الله ﷺ وفات اوشو په داسې حال کښې چه هغه زما د ججورې او ځنې په منځ کښې وو. حاقنه هغه کندې ته وائی. کومه چه د مرئ د رګ او د هډوکی (ګورګوړ) په مینځ کښې وی. او ،،ذاقنه،، نه مراد ،،ذقن،، دې. یعنی ،،زنه،، او وړسې یو روایت کښې دی.،،بین سحری ونحری،، د سحر نه مراد سینه ده. او د نحر نه مراد ځائې د نحردې. یعنی حلق، مطلب دادې چه دوفات په وخت نبی علیه السلام زما سینې ته ډډه لګولې وه.

قوله: فلا اکره شدة الموت لاحد ابداً بعد النبي: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه د وفات په وخت کومه سختی ما په نبی علیه السلام باندې اولیده. دهغې نه پس زه د هیڅ چا دپاره د مرګ سختی ناخوښه نه ګنړم. مطلب دادې. چه مونږ به مخکښې دا ګنړل. چه د مرض سختی د

انسان د اعمالو په وجه وی.خوکله چه ما نبی علیه السلام باندې د مرض د سختئ مشاهده اوکړله.نواوس که څوك د نزع (زنکدن) په وخت سختئ کښې مبتلا اووينم.نو زه دهغې نه څه نتيجه نه اخلم.

[۴۱۸۲] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا بِشْرُ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ أَبِي حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيُّ وَكَانَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ أَحَدَ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تِيبَ عَلَيْهِمْ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خَرَجَ مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَقَالَ النَّاسُ يَا أَبَا حَسَنٍ كَيْفَ أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللَّهِ بَارِئًا فَأَخَذَ بِيَدِهِ عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ لَهُ أَنْتَ وَاللَّهِ بَعْدَ ثَلَاثٍ عَبْدُ الْعَصَا وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْفَ يُتَوَفَّى مِنْ وَجَعِهِ هَذَا إِنِّي لَأَعْرِفُ وُجُوهَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عِنْدَ الْمَوْتِ اذْهَبْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْنَسْأَلْهُ فِيمَنْ هَذَا الْأَمْرُ إِنْ كَانَ فِينَا عَلِمْنَا ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ فِي غَيْرِنَا عَلِمْنَاهُ فَأَوْصَى بِنَا فَقَالَ عَلِيٌّ إِنَّا وَاللَّهِ لَئِنْ سَأَلْنَاهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنَعَنَاهَا لَا يُعْطِينَاهَا النَّاسُ بَعْدَهُ وَإِنِّي وَاللَّهِ لَا أَسْأَلُهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۵۹۱۱]

دا دګُل د ورځې واقعه ده.په کومه ورځ چه د نبی علیه السلام وفات اوشو.[1] حضرت علی رضی الله عنه د سحر په وخت بهر ته راووتلو.نو خلقو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دحال پوښتنه اوکړه .حضرت علی رضی الله عنه اوونيل.چه الحمدلله نن سحر نبی علیه السلام په ښه حالت کښې وو.يعنی نن د نبی علیه السلام صحت څه قدرې ښه دې.

قوله: فَأَخَذَ بِيَدِهِ عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ لَهُ أَنْتَ وَاللَّهِ بَعْدَ ثَلَاثٍ عَبْدُ الْعَصَا: حضرت عباس رضی الله عنه دحضرت علی رضی الله عنه لاس اونيولو.اووې ونيل.چه (ته خلقو ته دا خبر ورکوې.چه د نبی علیه السلام صحت ښه دې.حالانکه) په خدائې قسم! ته به درې ورځې پس د عصا (امسا) غلام يې.يعنی څوك چه امير جوړيږي.ته به دهغه تابعدار او محکوم جوړيږې.زما خو دا خيال دې.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دې مرض کښې نزدې وفات شي.ځکه چه زه د عبدالمطلب په مخونو کښې د مرګ علامتونه پيژنم. راځه،چه د نبی علیه السلام نه مونږ تپوس اوکړو.چه ستاسو نه پس به ستاسو نائب او خليفه څوك وی؟ که په مونږ کښې وی.نو پته به اولګی.اوکه زمونږ نه علاوه بل څوك وی.نو بيا به هم مونږ ته پته اولګی.او نبی علیه السلام به زمونږ متعلق (هغه خليفه ته) وصيت اوکړی.(چه هغه مونږ سره دخير سلوك اوکړی).

حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائيل.په خدائې قسم! زه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په دې باره کښې هيڅ چرې تپوس اونکړم. ځکه که مونږ ددې متعلق تپوس اوکړو.او نبی علیه السلام (په مونږ کښې چالره

---
[1] فتح البارى(۱۴۳/۸)_

دخليفه جوړولونه) انكار اوكړو.نوبيا به خلق دنبي عليه السلام نه پس كله هم مونږته خلافت نه راكوي.

[۳۱۸۳] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ الْمُسْلِمِينَ بَيْنَا هُمْ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي لَهُمْ لَمْ يَفْجَأْهُمْ إِلَّا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَشَفَ سِتْرَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ وَهُمْ فِي صُفُوفِ الصَّلَاةِ ثُمَّ تَبَسَّمَ يَضْحَكُ فَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ الصَّفَّ وَظَنَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَقَالَ أَنَسٌ وَهَمَّ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يَفْتَتِنُوا فِي صَلَاتِهِمْ فَرَحًا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ بِيَدِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ ثُمَّ دَخَلَ الْحُجْرَةَ وَأَرْخَى السِّتْرَ [ر:٦٤٨]

[۳۱۸۴\۳۱۸۶] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ أَبَا عَمْرٍو ذَكْوَانَ مَوْلَى عَائِشَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ كَانَتْ تَقُولُ إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللَّهِ عَلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي وَأَنَّ اللَّهَ جَمَعَ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَبِيَدِهِ السِّوَاكُ وَأَنَا مُسْنِدَةٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ آخُذُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ فَتَنَاوَلْتُهُ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ وَقُلْتُ أُلَيِّنُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ فَلَيَّنْتُهُ فَأَمَرَّهُ وَبَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ أَوْ عُلْبَةٌ يَشُكُّ عُمَرُ فِيهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ ثُمَّ نَصَبَ يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ

قوله: إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللَّهِ عَلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي.چه د رسول الله ﷺ وفات زما په كوركښې اوهم زما دنمبر په ورځ كښې اوشو.حضرت عائشې رضي الله عنها ددې تصريح ځكه اوفرمائيله.چه د دواړو جهانو سردار ﷺ د ازواج مطهرات نه اجازت اخستې وو.او د بيمارئ ورځې ئې د حضرت عائشې رضي الله عنها سره تيرې كړې وې.اوس كه د بلې يوې بى بى په نمبركښې وفات شوې وې.نودهغې په زړه كښې به داتمنا اوغم وو.چه كه دنبي عليه السلام د عائشې كور ته منتقل شوې نه وې.نو نبي عليه السلام به زما په كوركښې وې.او زما په كوركښې به نبي عليه السلام دفن شوې وې. الله ﷻ دا كرم اوكړو.چه د حضرت عائشې رضي الله عنها په نمبركښې د نبى كريم ﷺ وفات اوشو.يعنى بالفرض كه نبي عليه السلام د نورو ازواج مطهرات نه اجازت نه وې اخستې اود عائشې رضي الله عنها كورته نه وې منتقل شوې.نو بيا به هم وفات بهرحال د حضرت عائشې رضي الله عنها سره كيدو.او د دفن كيدو ځائې به ئې د عائشې رضي الله عنها حجره جوړيده.ځكه چه دهغې د نمبر په ورځ خو به نبي عليه السلام هغې كره ضرور راتلو.

[٤١٨٥] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْأَلُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ يَقُولُ أَيْنَ أَنَا غَدًا أَيْنَ أَنَا غَدًا يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَاتَ فِي الْيَوْمِ الَّذِي كَانَ يَدُورُ عَلَيَّ فِيهِ فِي بَيْتِي فَقَبَضَهُ اللَّهُ وَإِنَّ رَأْسَهُ لَبَيْنَ نَحْرِي وَسَحْرِي وَخَالَطَ رِيقُهُ رِيقِي ثُمَّ قَالَتْ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَمَعَهُ سِوَاكٌ يَسْتَنُّ بِهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ أَعْطِنِي هَذَا السِّوَاكَ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ فَأَعْطَانِيهِ فَقَضِمْتُهُ ثُمَّ مَضَغْتُهُ فَأَعْطَيْتُهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنَّ بِهِ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى صَدْرِي

[٤١٨٦] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي وَكَانَتْ إِحْدَانَا تُعَوِّذُهُ بِدُعَاءٍ إِذَا مَرِضَ فَذَهَبْتُ أُعَوِّذُهُ فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ وَقَالَ فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى وَمَرَّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَفِي يَدِهِ جَرِيدَةٌ رَطْبَةٌ فَنَظَرَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَظَنَنْتُ أَنَّ لَهُ بِهَا حَاجَةً فَأَخَذْتُهَا فَمَضَغْتُ رَأْسَهَا وَنَفَضْتُهَا فَدَفَعْتُهَا إِلَيْهِ فَاسْتَنَّ بِهَا كَأَحْسَنِ مَا كَانَ مُسْتَنًّا ثُمَّ نَاوَلَنِيهَا فَسَقَطَتْ يَدُهُ أَوْ سَقَطَتْ مِنْ يَدِهِ فَجَمَعَ اللَّهُ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنَ الدُّنْيَا وَأَوَّلِ يَوْمٍ مِنَ الْآخِرَةِ [ر: ٨٥٠]

[٤١٨٧] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَقْبَلَ عَلَى فَرَسٍ مِنْ مَسْكَنِهِ بِالسُّنْحِ حَتَّى نَزَلَ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلَمْ يُكَلِّمِ النَّاسَ حَتَّى دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَتَيَمَّمَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُغَشًّى بِثَوْبِ حِبَرَةٍ فَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهِ ثُمَّ أَكَبَّ عَلَيْهِ فَقَبَّلَهُ وَبَكَى ثُمَّ قَالَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي وَاللَّهِ لَا يَجْمَعُ اللَّهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ أَمَّا الْمَوْتَةُ الَّتِي كُتِبَتْ عَلَيْكَ فَقَدْ مُتَّهَا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَحَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ خَرَجَ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يُكَلِّمُ النَّاسَ فَقَالَ اجْلِسْ يَا عُمَرُ فَأَبَى عُمَرُ أَنْ يَجْلِسَ فَأَقْبَلَ النَّاسُ إِلَيْهِ وَتَرَكُوا عُمَرَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمَّا بَعْدُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ قَالَ اللَّهُ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ إِلَى قَوْلِهِ الشَّاكِرِينَ وَقَالَ وَاللَّهِ لَكَأَنَّ النَّاسَ لَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ هَذِهِ الْآيَةَ حَتَّى تَلَاهَا أَبُو بَكْرٍ فَتَلَقَّاهَا مِنْهُ النَّاسُ كُلُّهُمْ فَمَا أَسْمَعُ بَشَرًا مِنَ النَّاسِ إِلَّا يَتْلُوهَا فَأَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ عُمَرَ قَالَ وَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ سَمِعْتُ أَبَا بَكْرٍ تَلَاهَا فَعَقِرْتُ حَتَّى مَا تُقِلُّنِي رِجْلَايَ وَحَتَّى أَهْوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ حِينَ سَمِعْتُهُ تَلَاهَا عَلِمْتُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَاتَ [ر: ١١٨٤]

[۴۱۸۸] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَوْتِهِ [۵۳۸۲]

قوله: حدثنا يحى بن بكير: د رسول اللهﷺ چه كله وفات اوشو.نو حضرت صديق رضی الله عنه دمديني اطرافوكښې ، ،سنح،،نومي ځائې ته تلي وو.چرته چه دهغه دويمه بى بى اوسيدله. مديني منورې ته چه راغي.نو د نبى عليه السلام وفات شوې وو.صحابه كرام رضی الله عنهم د اضطراب او بې چينۍ په حالت كښې حيران وو.صديق اكبر رضی الله عنه چه راغي.نو د رسول اللهﷺ مخ مبارك نه ئې ځادر لرې كړو.او تندې مبارك ئې ښكل كړو.او بيا په ژړا شو.اووې فرمائيل.

قوله: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي وَاللَّهِ لَا يَجْمَعُ اللَّهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ: ،،زمامورپلاردې په تاسو قربان وى.په خدائې (قسم)! الله تعالى به په تاسو باندې دوه مرګونه نه جمع كوى،،

حضرت صديق اكبر رضی الله عنه دا جمله ځكه اوونيله.چه بهرحضرت عمر رضی الله عنه وئيل.چه رسول اللهﷺ وفات شوې نه دې.هغه خو الله تعالى ته د ملاقات دپاره تشريف اوړلې دې.نبى عليه السلام به دوباره راځى.او ترهغه وخته پورې به نه وفات كيږى.تركومې پورې چه منافقين د مخ د زمكې نه ختم نكړى.(١)

حضرت صديق اكبر رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه رد اوكړو.اووې وئيل.چه نبى عليه السلام وفات شوې دې. اوس كه نبى عليه السلام دوباره راشى.نو ګويا په نبى عليه السلام به دوباره مرګ راځى. حالانكه الله تعالى به په تاسو باندې دوه مرګونه نه جمع كوى.ځكه چه ستاسو وفات شوې دې.او تاسو به دوباره نه راځئ.

قوله: من كان منكم يعبد محمداً فان محمداًﷺ قد مات: حضرت صديق اكبر رضی الله عنه په دې خطبه كښې د نبى كريمﷺ نوم مبارك واخسته. ،،رسول الله،، ئې اونه وئيل.ځكه چه مقصود وصف د رسالت بيانول نه دى.بلكه ذاتِ محمدى بيانول دى.او دا بيانول دى.چه حضرت محمدﷺ يو انسان وو.الله ﷻ هغه لره په نبوت سره مشرف كړې وو.لكه څنګه چه د نورو انسانانو او نبيانو وفات شوې دې.هغه شان د نبى عليه السلام وفات هم شوې دې.(٢)

قوله: وَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ سَمِعْتُ أَبَا بَكْرٍ تَلَاهَا فَعَقِرْتُ حَتَّى مَا تُقِلُّنِي رِجْلَايَ وَحَتَّى أَهْوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ حِينَ سَمِعْتُهُ تَلَاهَا عَلِمْتُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَاتَ: .په خدائې قسم! كله چه ما د حضرت ابوبكر رضی الله عنه نه دا آيت واوريده.چه تلاوت كولو يې.نو ماته داسې محسوسه شوه.چه زه هلاك شوم.تردې چه زما پښو مالره

---

١) فتح البارى(١٤٦/٨)_
٢) لامع الدرارى (٤١٤/٨)_

اوچتول پريخودل.او زه په زمكه راپريوتم.او زما يقين اوشو.چه واقعى د رسول الله ﷺ وفات شوې دې،،

دا حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه فرمائى.هغه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په هوش كښې نه وو. او مغلوب الحال شوې وو.فرمائيل يې:كه چا اوونيل.چه نبى عليه السلام وفات شوې دې. زه به دهغه څټ والوخوم.كله چه حضرت عمر رضي الله عنه د قرآن آيت ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ ﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ﴾ وغيره آياتونه واوريدل.نو دغه وخت هغه ته يقين اوشو.چه واقعى د نبى عليه السلام وفات شوې دې.

په يو روايت كښې دى.چه كله هغه د صديق اكبر رضي الله عنه نه دا آياتونه واوريدل .نو وې ونيل.

«ما شعرت انها فى كتاب الله»، يعنى ددې نه وړاندې خو ماته احساس هم نه وو.چه دا آياتونه هم په كتاب الله كښې شته.(١)

فعُقرت (د عين ضمې او د قاف كسرې سره) اى هلكتُ، په بعضې رواياتو كښې ،،فعَقِرتُ،، (دعين فتحې او د قاف كسرې سره) دې.ددې معنى متحير او حيرانيدل دى.د حضرت عمر رضي الله عنه مطلب دادې.چه ما د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه نه دا آياتونه واوريدل.او ماته معلومه شوه.چه واقعى د نبى عليه السلام وفات شوې دې.نو په ما باندې دومره غم سور شو.چه زه نه شوم اودريدلې.تردې چه زه په زمكه راپريوتم.

[٤١٨٩] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا يَحْيَى وَزَادَ قَالَتْ عَائِشَةُ لَدَدْنَاهُ فِي مَرَضِهِ فَجَعَلَ يُشِيرُ إِلَيْنَا أَنْ لَا تَلُدُّونِي فَقُلْنَا كَرَاهِيَةُ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ أَلَمْ أَنْهَكُمْ أَنْ تَلُدُّونِي قُلْنَا كَرَاهِيَةَ الْمَرِيضِ لِلدَّوَاءِ فَقَالَ لَا يَبْقَى أَحَدٌ فِي الْبَيْتِ إِلَّا لُدَّ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَّا الْعَبَّاسَ فَإِنَّهُ لَمْ يَشْهَدْكُمْ رَوَاهُ ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٥٣٨٢، ٦٤٩٢، ٦٥٠١]

قوله: لَا يَبْقَى أَحَدٌ فِي الْبَيْتِ إِلَّا لُدَّ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَّا الْعَبَّاسَ فَإِنَّهُ لَمْ يَشْهَدْكُمْ:

واقعهٔ لدود: دلته دا اشكال كيږى.چه رسول الله ﷺ به دخپل ذات دپاره دهيڅ چا نه بدله نه اخستله.بيا دلته زبردستئ سره دوائى وركونكو نه اجتهادى غلطى شوې وه. هغوى دا ګنړل. چه په نبى عليه السلام باندې ذات الجنب مرض حمله كړې ده.او دوائى وركول ضرورى دى.او د نبى عليه السلام انكار طبعى كراهت باندې مبنى دې.لكه څنګه چه عام طور باندې كيږى.نو بيا دغه حضراتو سره د عفو اوكرم او دحلم او برداشت معامله ولې اونكړې شوه؟

① حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى.چه ددې وجه په پوهه كښې نه راتله.يو حكايت زما د نظر نه تيرشو.دهغې نه پس ددې وجه په پوهه كښې راغله.حكايت ئې بيان كړو.چه يو نيك بزرګ وو.ټولو خلقو به دهغه ډير زيات احترام او اكرام كولو.خو يو ځوان به راتلو.اودهغه په

---

١) فتح البارى(١٤٦/٨)_

شان كنبي به ئې ګستاخی کوله.دغه بزرګ به دهغه ټولي ګستاخئ برداشت کولې.اوهيڅ جواب به ئې نه ورکولو.يوه ورځ هغه راغې.اوهغه دا بزرګ په مخ باندې يوګزار اووهلو.د هميشه عادت مطابق خيال هم دا وو.چه نن به هم هغه تحمل او برداشت اوکړی.خو دغه بزرګ فوراً بې قراره شو.خلقو ته ئې اووئيل.چه تاسو هم هغه يو ګزار اووهئ.خو دهيڅ چا جراءت اونه شو.نتيجه دا شوه.چه لږ وخت تيرشوې وو.چه ددغه ځوان وفات اوشو.دې بزرګ اوفرمائيل.کله چه ده زما سره ګستاخيانې کولې.هغه وخت د الله حلم او دهغه تحمل ده لره معاف کولو.خوکله چه نن ده د حد نه تجاوز اوکړو.او زه ئې په مخ اووهلم.نو ماته دا کشف اوشو.چه د الله غضب ته جوش راغلې دې.په دې وجه ما اوغوښتل.چه مونږ د الله د بدلې اخستلو نه وړاندې دده نه بدله واخلو.چه دې د الله د انتقام نه بچ شی.که مونږ انتقام اخستې وې.نو د الله د طرفه ده ته معافی ملاويدې شوه.مونږ په انتقام کنبې د خپل طرفه تاخير اوکړو.نو د الله د انتقام په ګرفت کنبې دې راغې.

شاه صاحب ددې قصې بيانولو نه پس فرمائی.چه دلته رسول الله ﷺ ته په دې لدود (دوائی) سره تکليف رسيدلې وو.او د نبی تکليف موجب د انتقام او قصاص دې، رسول الله ﷺ د الله دانتقام د ګرفت نه هغوی لره د بچ کولودپاره پخپله د انتقام فيصله اوکړله.(١)

⑫ دويمه وجه دا بيان کړې شوې ده.چه په اصل کنبې د نبی کريم ﷺ حکم د الله حکم دې. کوم کس چه د رسول الله ﷺ حکم مات کړو.هغه د الله حکم هم مات کړو.اوس هرکله چه دغه خلقو د نبی عليه السلام دحکم مخالفت اوکړو.نو يواځې د نبی عليه السلام دحکم مخالفت ئې اونکړو. بلکه د الله دحکم مخالفت ئې هم اوکړو.په دې وجه نبی عليه السلام دخپل طرفه معافی ورکولې شوه.خو د الله د طرفه د معافئ ورکولو خو نبی عليه السلام ته اختيار نه وو.په دې وجه نبی عليه السلام بدله واخستله.چه دلته معامله برابره برابره شی.او د الله دغضب نه داخلق بچ شی.(٢)

⑬ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی دی.چه نبی عليه السلام داحکم د انتقام په طور نه وو ورکړې.بلکه ادب دپاره ئې ورکړې وو.په دې سره د نبی عليه السلام مقصود انتقام اخستل نه وو.بلکه دهغوی تاديب مقصود وو.چه چرته هغوی بيا داسې اونکړی.(٣)

بعضې حضراتو وئيلی دی.چه داحکم ئې د خوش طبيعتئ د ظرافت په طور باندې ورکړې وو.(٤) والله اعلم.

---

(١) فيض البارى(١٤٤\٤)_

(٢) اخرج ابن جرير من طريق بكر بن الاسود عن الحسن قال: قال قوم على عهد النبى ﷺ يا محمد، انا نحب ربنا. فانزل الله ﴿ قل ان كنتم تحبون.....ذنوبكم ﴾ فجعل اتباع نبيه محمد ﷺ علماً لحبه وعذاب من خالفه (وانظر: الدرالمنثور فى التفسيربالماثور(١٧\٢)_

(٣) فتح البارى(١٤٧\٨)_

(٤) سيرة النبى(١١٢\٢)_

[۴۱۹۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا أَزْهَرُ أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَى إِلَى عَلِيٍّ فَقَالَتْ مَنْ قَالَهُ لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنِّي لَمُسْنِدَتُهُ إِلَى صَدْرِي فَدَعَا بِالطَّسْتِ فَانْخَنَثَ فَمَاتَ فَمَا شَعَرْتُ فَكَيْفَ أَوْصَى إِلَى عَلِيٍّ؟ [ر: ۲۵۹۰]

[۴۱۹۱] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَوْصَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا فَقُلْتُ كَيْفَ كُتِبَ عَلَى النَّاسِ الْوَصِيَّةُ أَوْ أُمِرُوا بِهَا قَالَ أَوْصَى بِكِتَابِ اللَّهِ

[۴۱۹۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا أَمَةً إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ الَّتِي كَانَ يَرْكَبُهَا وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا جَعَلَهَا لِابْنِ السَّبِيلِ صَدَقَةً [ر: ۲۵۸۸]

[۴۱۹۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ فَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ وَاكَرْبَ أَبَاهُ فَقَالَ لَهَا لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ يَا أَبَتَاهْ مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ يَا أَبَتَاهْ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ يَا أَنَسُ أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ

د نبی کریم ﷺ چه کله وفات اوشو.نو حضرت فاطمې رضي الله عنها اوونیل.

قوله: يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ يَا أَبَتَاهُ مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ: ،،اې زما باباجانه! تا دخپل رب دعوت قبول کړو.اې باباجانه! دچا ځائې چه جنت الفردوس دې.اې باباجانه! مونږ جبرئیل ته ستا د مرګ خبر ورکوو،،

بیا کله چه صحابوﷺ رسول الله ﷺ دفن کړو.نو حضرت فاطمه رضي الله عنها حضرت انس رضي الله عنه ته مخاطبه شوه.وې ونیل.

قوله: يَا أَنَسُ أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ: ،،اې انس آیا تاسو ته دا خوښه ده؟ چه تاسو په رسول الله ﷺ باندې خاورې واړوئ ددې درد نه ډکې اواثرناکې جملې نه دحضرت فاطمې رضي الله عنها د غم اوجذباتو اندازه لګیدې شی.مطلب دهغې دا وو.چه په کوم زړه تاسو په رسول الله ﷺ باندې خاورې واړولې.

بَابُ آخِرِ مَا تَكَلَّمَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۱۹۴] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ يُونُسُ قَالَ الزُّهْرِيُّ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ فِي رِجَالٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ إِنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ حَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرَ فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ وَرَأْسُهُ عَلَى

فَخُذِي غُشِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى سَقْفِ الْبَيْتِ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى فَقُلْتُ إِذًا لَا يَخْتَارُنَا وَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا وَهُوَ صَحِيحٌ قَالَتْ فَكَانَتْ آخِرَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا اللَّهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى [ر:۴۱۷۱]

بعضې عالمانو نقل کړې دی.چه کله نبی کریم ﷺ پیدا شوې وو.نو هغه ،،الله اکبر،، فرمائیلی وو.او اوس کله چه نبی علیه السلام وفات کیږی.نو هغه ،،اللّهم فی الرفیق اعلی،، فرمائی.په شروع کښې ئې هم الله یاد کړو.او دهغه لوئې ئې بیان کړله.او بیائې ټول ژوند دهغه لوئی بیانول خپل مشن جوړکړو.او اوس کله چه رخصتیږی .نو په دغه وخت هم الله یادوی.(۱)

بَاب وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اشکال دا کیږی.چه امام بخاری رحمه الله ددې عنوان یو باب په ،،کتاب المناقب،، کښې قائم کړې دې.(۱) د کوم ځائې نه چه امام بخاری رحمه الله د سیرت نبوی آغاز کړې وو.او اوس ئې دلته هم دا باب قائم کړو.په ښکاره دواړو کښې تکرار دې.دلته خو دا مناسب دې.خو هلته دهغې څه جوړ په پوه کښې نه راځی؟

حضرت شیخ الحدیث رحمه الله ډیر ښائسته جواب ورکړې دې.اوهغه داچه اصل کښې امام بخاری رحمه الله هلته ولادت بیانول غواړی.خو چونکه د ولادت په سلسله کښې د امام بخاری رحمه الله دشرط مطابق هیڅ یو روایت نه وو.په دې وجه هلته هغوی ،،باب وفاة النبی ﷺ،، قائم کړو.او روایت ئې ذکرکړو.چه په هغې کښې ئې اوخودل.چه د نبی کریم ﷺ وفات د دری شپیتو\۶۳ کالو په عمرکښې شوې دې.او دا سن۱۱ھ وو.اوس د سن ولادت معلومولو آسانه طریقه داده.چه د تاریخ وفات نه دری شپیته کاله شاته لاړشئ.نو د نبی علیه السلام د ولادت سن به معلوم شی.(۲)

[۴۱۹۵] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِثَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرًا [۳۶۹۳]

دلته کسر حذف کړې شو.ګینی د مکې د قیام موده دیارلس کاله ده.بعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه په مکه کښې د نبوت ملاویدو نه پس تقریباً درې کاله موده د،فترة الوحی،،وه.په دې وجه په دیارلسو کالوکښې درې کاله د فترة الوحی شمار نکړې شو.(۳)

په دې روایت کښې صراحت نشته.چه د نبی علیه السلام وفات کله شوې دې.البته دا شته.چه نبی علیه السلام په مدینه منوره کښې لس کاله پاتې شوې دې.چه ددې نه دا خبره پخپله معلومیږی.

۱) فیض الباری(۱۴۳\۴)_ .... [بقیه حواشی په راروانه صفحه اوګورئ!....

چه ددې لسو کالونه پس بیا نبی علیه السلام وفات شو.په دې مناسبت سره امام بخاری رحمه الله دا روایت دلته ذکرکړو.(١)

[٤١٩٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ مِثْلَهُ [ر: ٣٣٤٣]

هم دا مشهوراو راجح روایت دې.چه د وفات په وخت د نبی علیه السلام عمر دری شپیته کاله وو.په بعضې روایاتو کښې شپیته کاله راغلی دی.خوپه هغې کښې کسر حذف کړې شوې دې.په بعضې روایاتوکښې د پنځه شپیتو کالو ذکرهم راغلې دې.خو په هغې کښې راوی د ولادت او وفات کالونه مستقل شمار کړی دی.په دې وجه ئې پنځه شپیته کاله وئیلی دی.(٣) والله اعلم.

باب

[٤١٩٧] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ يعني صاعاً من شعير [ر: ١٩٦٢]

ددې باب تعلق هم وفات سره دې.د تیرشوی باب نه په منزله د فصل دې.په روایت کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.چه کله د نبی علیه السلام وفات اوشو.نو د نبی علیه السلام زغره یویهودی سره دریو صاعو په عوض کښې رهن پرته وه.هغه یهودی ته ،، ابو الشحم،،وئیلې شو.(٤) رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل اهل وعیال دپاره دهغه نه دیرش صاع اوربشې اخستې وې.او خپله زغره ئې هغه سره گانړه ایخودې وه.یوکاله پورې هغه سره وه.بیا حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دهغه یهودی قرض اداکړو.هغه زغره ئې ترې واپس واخستله.(٢)

د نبی علیه السلام دنیا سره د بې رغبتئ دا شان دې.چه نبی علیه السلام به دخپل خان دپاره مالونه څه جمع کړی وو.چه دهغه زغره کومه چه هغه دپاره ډیره ضروری وه.هغه هم د وفات په وخت یو یهودی سره گانړه پرته وه.

---

١) صحیح بخاری، کتاب المناقب، باب وفاة النبی صلی الله علیه وسلم (١١\٥٠)_

٢) الابواب والتراجم لصحیح البخاری(٢٢٠)_

٣) فیض الباری(٤\١٤٥)_

١) عمدة القاری(١٨\٧٥)_

٢) فتح الباری(٨\١٥١)_

١) عمدة القاری(١٣\٦٨) کتاب الرهن)_

٢) فتح الباری(٥\١٤٣)_

بَاب بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي مَرَضِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ

[٤١٩٨\٤١٩٩] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ عَنْ الْفُضَيْلِ بْنِ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ فَقَالُوا فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ قُلْتُمْ فِي أُسَامَةَ وَإِنَّهُ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ

[٤١٩٩] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمَارَتِهِ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ [ر: ٣٥٢٣]

امام بخاری رحمه الله دا واقعه دلته ذکر کړله.اګرچه د حضرت اسامه بن زید په مشرئ کښې دا لښکر نبی علیه السلام د مرض الوفات نه مخکښې د روانولو دپاره مقرر کړې وو.البته دا لښکر اوس لا په تیارئ کښې وو.چه د نبی علیه السلام د مرض الوفات سلسله شروع شوه.او دا (لښکر) روان نه شو.بیا د نبی علیه السلام د وفات غمناکه حادثه پیښه شوه.دهغې روانګی پاتې شوه. د وفات نه پس حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه بیا هغه اولیګه.په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا ترجمه د ..باب وفاة النبی صلی الله علیه وسلم.. نه پس قائم کړو

باب

[٤٢٠٠] حَدَّثَنَا أَصْبَغُ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ عَنْ ابْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ الصُّنَابِحِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَهُ مَتَى هَاجَرْتَ قَالَ خَرَجْنَا مِنْ الْيَمَنِ مُهَاجِرِينَ فَقَدِمْنَا الْجُحْفَةَ فَأَقْبَلَ رَاكِبٌ فَقُلْتُ لَهُ الْخَبَرَ فَقَالَ دَفَنَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ خَمْسٍ قُلْتُ هَلْ سَمِعْتَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ شَيْئًا قَالَ نَعَمْ أَخْبَرَنِي بِلَالٌ مُؤَذِّنُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فِي السَّبْعِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

صنابحی تابعی دې.دهغه نوم عبدالرحمن بن عسیله دې.(١) ددوی حدیث امام بخاری رحمه الله د ..باب وفاة النبی صلی الله علیه وسلم.. نه پس ذکرکړې دې.ځکه چه دا واقعه د نبی علیه السلام د وفات نه پس پیښه شوې ده.

---

١) علامه عینی دهغه نوم ،،عبدالله بن عسیله،، لیکلې دې.(عمدة القاری١٨\٧٨) خو دا دهغه نه غلطی شوې ده.دهغه نوم عبدالرحمن او دهغه کنیت ،،ابوعبدالله،،دې.په اصل کښې صنابحی درې دی.یو صنابح بن الاعسر احمسی، دا بالاتفاق صحابی دې.دویم عبدالله صنابحی دې.دده په صحابی کیدو اونه کیدو کښې شبه ده.دریم عبدالرحمن بن عسیله[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

بَاب كَمْ غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٤٢٠١] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَأَلْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَمْ غَزَوْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَ عَشْرَةَ قُلْتُ كَمْ غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تِسْعَ عَشْرَةَ [٣٧٣٣]

[٤٢٠٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ عَشْرَةَ

[٤٢٠٣] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلِ بْنِ هِلَالٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ كَهْمَسٍ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّ عَشْرَةَ غَزْوَةً

باب کم غزا النبي صلی الله علیه وسلم؟

رسول الله ﷺ څومره غزوات اوکړل؟ امام بخاری دخلاصې په طوردکتاب المغازی په اختتام باندې د نبی علیه السلام د غزواتو تعداد بیانوی.د کتاب المغازی په شروع کښې ددې تفصیل تیرشوې دې.

قوله: حدثني احمد بن الحسن قال: حدثنا احمد بن محمد بن حنبل: دا احمد بن الحسن د ترمذ دې.او په ،،ترمذی کبیر،، سره مشهور دې.(١) دا روایت امام بخاری رحمه الله د ،،احمد بن الحسن،، په واسطې سره د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل کړې دې.امام مسلم رحمه الله دا روایت بغیر د واسطې نه براه راست دامام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل کړې دې.(٢)

فائده: د امام بخاری اومسلم عالی سند روایات: ټول څلور روایتونه داسې دی.چه په هغې کښې امام مسلم رحمه الله ته د امام بخاری په مقابله کښې فوقیت حاصل دې.چه امام مسلم رحمه الله هغه بغیر د واسطې نه نقل کړی دی.او امام بخاری رحمه الله ئې واسطې سره ذکرکوې.او دوؤ سوو نه زیات روایتونه داسې دی.چه په هغې کښې امام مسلم رحمه الله باندې امام

...د تیرمخ بقیه] صنابحی دې.دا تابعی دې.عام طور باندې دې دریو واړو کښې اشتباه کیږی.د عربو مشهور محقق شعیب ارنووط په دې دریو واړو باندې په ..الطریقة الواضحة فی تبیین الصنابحة،، نوم سره مستقل رساله لیکلې ده.د عبدالرحمن بن عسیلة صنابحی دحالاتو دپاره اوګورئ! تهذیب الکمال (٢٨٢/١٧_٢٨٤) وسیر أعلام النبلاء (٥٠٥/٣-٥٠٧) وطبقات ابن سعد(٤٣٩/٧) والجرح والتعدیل (٢٦٢/٥)

١) حالاتو دپاره اوګورئ! سیر اعلام النبلاء (١٥٦/١٢-١٥٧)_

٢) صحیح مسلم، کتاب الحج، کتاب الجهاد والسیر، باب عدد غزوات النبی ﷺ رقم الحدیث (٤٤٦)_

بخاری رحمه الله فوقیت اورلي دي. امام بخاری رحمه الله ني بغیر د واسطي نه نقل کوی.او امام مسلم رحمه الله ني د بخاری رحمه الله د هغه شیخ نه یوې واسطې سره نقل کوی.[1]

فائده: په بخاری کښې د امام احمد بن حنبل رحمه الله روایات: دا روایت امام بخاری رحمه الله د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه د احمد بن الحسن په واسطې سره نقل کړې دې.په کتاب النکاح کښې امام بخاری رحمه الله د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه یو روایت بغیر د واسطې نه نقل کړې دې.[2] او په کتاب اللباس کښې ئې د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه یو استشهاد نقل کړې دې.[3] امام بخاری رحمه الله اګرچه د امام احمد بن حنبل رحمه الله زمانه موندلې ده.اوهغه سره ئې ملاقات کړې دې.خو په صحیح بخاری کښې دهغه ذکر صرف په دې دریو مقاتو کښې دې.[4]

«وهٰذا آخر ما اردنا ایراده من شرح احادیث کتاب المغازی من صحیح الامام ابی عبدالله البخاری رحمه الله للشیخ المحدث الجلیل سلیم الله خان حفظه الله و رعاه ومتعنا الله بطول حیاته..... وقد وقع الفراغ من تسویده و اعادة النظرفیه، ثم تصحیح ملازم الطبع بیوم الخمیس ۱۰\ من شعبان ۱۴۱۵ھ الموافق ۱۲\من ینایر۱۹۹۵م، والحمدلله الذی بنعمته تتم الصالحات، وصلی الله علی النبی الامی و آله وصحبه وتابعیهم وسلم علیه وعلیهم مادامت الارض والسّماوات، رتّبه وراجع نصوصه وعلّق علیه ابن الحسن العباسی عضوقسم التحقیق والتصنیف والاستاذ بالجامعة الفاروقیة وفقه الله تعالی لاتمام باقی الکتب کما یحبه و یرضاه، وهو علی کل شئ قدیر، ولاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم، ویلیه ان شاءالله شرح کتاب التفسیر».

---

[1] فتح الباری(۱۵۳\۸) وعمدة القاری(۷۹\۱۸)_

[2] صحیح بخاری، کتاب النکاح، باب ما یحل من النساء وما یحرم(۷۶۵\۲)_

[3] صحیح بخاری، کتاب اللباس، باب هل یجعل نقش الخاتم ثلاثة اسطر(۸۷۳\۲)_

[4] علامه زاهد الکوثری د علامه حازمی مشهورکتاب ،،شروط الائمه،، حاشیه کښې لیکلی دی.چه امام بخاری رحمه الله پخپل صحیح کښې د امام احمد صرف دوه روایات نقل کړی دی.چه په هغې کښې یو په واسطې سره دې.او یو تعلیقاً دې.(اوګورئ:لامع الدراری:۵۱) خو صحیح خبره داده.چه امام بخاری رحمه الله نور روایت کوم چه په کتاب النکاح کښې دی. تعلیقاً نه دی ذکرشوی.بلکه ،،وقال لنا احمد بن حنبل...،، الفاظو سره ئې بغیر د واسطې نه نقل کړی دی._

غزاګانې لنډې لنډې

(د مرتب دقلم نه)

غزوه بدر: د شام نه واپس کيدونکې د قريشو د تجارتي قافلې را لاندې کولو دپاره په ورخ د اتوار (يکشنبه) دولسم ۱۲ رمضان سنه ۲ هجري ۳۱۳ يا ۳۱۴ يا ۳۱۵ صحابه کرام ئې د ځان سره کړه او نبي کريم صلی الله عليه وسلم روان شو. په لښکرکښې صرف دوه اسونه او اويا اوښان وو. مديني منورې نه ديو ميل فاصلې باندې واقع بئر ابي عنبه ته په رسيدو سره نبي کريم صلی الله عليه وسلم د لښکر جائزه واخسته اوماشومان کم عمره ئې ترې واپس کړل.مقام صفراء ته چه اورسيدل نو معلومه شوه چه د تجارت دقافلې دحفاظت دپاره د مکې نه دقريشو لښکر بدر ته نزدې رارسيدلې دې. داسې اوشو چه د تجارت دقافلې مشر ابو سفيان ته چه کله پته او لګيدله چه د محمد صلی الله عليه وسلم ملګري دوي پسې شوي دي نو هغه ضمضم غفاري له په مزدوري باندې قريشو ته دخبر رسولو دپاره اوليګلو او په خپله ابو سفيان لاره بدله کړه او د درياب د غاړې لاره ئې غوره کړه او روان شو.قريشو ته خبر رسيدو سره د ابو جهل په مشرئ کښې د جنګيدونکو خوانانواو منلې شوي شهسوارانو د زرو ۱۰۰۰ کسانو ډله سره د سلو ۱۰۰ اسونو اوه سوه ۷۰۰ اوښانو او ګډيدونکو ښځو ډير په شان شوکت روان شو. کله چه دتجارت قافله په حفاظت سره او وتله نو ابو سفيان د قريشو لښکر ته جواب او ليګلو چه قافله بچ شوه لهذا تاسوهم واپس شي بنو زهره واپس شول ليکن ابو جهل انکار او کړو وې وئيل: چه د بدر ميدان کښې به درې ورځې خوشحالي کولو نه پس واپس کيږو.۱۷ درمضان سنه ۲ د جمعې په سحر ميدان بدر کښې دکفر او اسلام صفونه يو بل ته مخامخ وو. يواځې يواځې مقابله اوشوه. دقريشو نه عتبه، شيبه او وليد ميدان ته را ووتل او د مسلمانانو نه حضرت حمزه رضي الله عنه حضرت علي رضي الله عنه او عبيده ابن الحارث رضي الله عنه ميدان جنګ ته رابهر شو. او دوي دغه درې واړه کافران مردار کړل د عتبه په ګذار باندې د حضرت عبيده پښه کټ شوه. څه وخت روستو هغوي ته شهادت نصيب شو. بيا عام جنګ شروع شو. د توحيد فرزندانو دايمان او دغيرت او بهادري هغه مرانه اوښوده چه نن هم دتاريخ په پاڼرو کښې دهغوی نومونه په غټوټکو ليکلې شوي دي. د قريشو اويا ۷۰ کسان مړه کړې شو او اويا کسان قيد کړې شو څوارلس ۱۴ مسلمانان شهيدان شو. دجنګ قيديانو نه ئې فديه واخستله او آزاد ئې کړل.مدينې منورې ته دروانيدو نه وړاندې ئې د خوشحالئ زيرې رسولو دپاره قاصد اوليګلو. د مسلمانانو زړونه دشکر دجذباتو نه ډك او په ژبه باندې د الله تعالی ثنا او صفت وئيلو او خوشحالئ سره واپس شو.

غزوه احد: د جنګ بدردبدل اغستلو دپاره د قريشو په سينو کښې دانتقام اور بليدلو. دقريشو مشران دار الندوه کښې راجمع شول او د شام نه واپس شوې تجارتي قافلې ټوله ګټه ئې دمسلمانانو خلاف جنګ کښې استعمالولو فيصله او کړه. خوا اوشا قبائل ئې هم په جنګ کښې دشريکولو دپاره رضاکړل. د دريو زرو ۳۰۰۰ لښکر په ۵ د شوال سنه ۳ھ

دمكې نه روان شو چه په هغې كښې اوه سوه ۷۰۰ زغرې اغستونكي، درې زره ۳۰۰۰ اوښان او دوه سوه ۲۰۰ آسونه وو. دقريشو دعزتمند خاندان پنځلس ۱۵ ښځې هم ورسره شريكې شوې. حضرت عباس رضي الله عنه دمكې نه نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته دقريشو دلښكر خبر وركړو. نبى كريم صلى الله عليه وسلم د حالاتو معلومولو دپاره حضرت انس او حضرت مونس اوليګل. هغوى چه واپس راغلل نو ووئې ويل چه لښكر نزدې راغلې دې. نبى كريم صلى الله عليه وسلم دعام عادت مطابق د صحابو نه مشوره واغستله بعض صحابوو او عبد الله ابن ابي منافق او وئيل چه مدينه منوره كښې پاتې كيدل او دفاعى جنګ پكار دې. دنبى كريم صلى الله عليه وسلم خپله مشوره هم دا وه. خو د نورو ډيرو صحابو مشوره بلكه خواهش وو چه د مدينې منورې نه بهر مقابله كول پكار دى.دمشورې نه پس په ۱۱ دشوال سنه ۳ هـ په ورځ دجمعې دمازديګر مانځه نه پس نبى كريم صلى الله عليه وسلم زرو كسانو باندې مشتمل ډله برابره كړه او أحد طرف ته روان شو. شپه ئې په شيخين مقام كښې تيره كړه. كم عمره صحابه رضي الله عنهم يې واپس كړل. دخالې په ورځ چه غر طرف ته روان شو.نو عبدالله بن ابي بهانه جوړه كړه.چه زما مشوره نه ده منلې شوې.او دخان سره ئې درې سوه كسان د اسلامى لښكر نه واپس كړل. په اسلامى لښكر كښې اووه سوه كسان وو.په دوى كښې سلو كسانو زغرې اغوستې وې.او په لښكر كښې صرف دوه اسونه وو. د أحد غر ئې خان نه شاته پرېښوده او صفونه يې جوړ كړل. اود يو غنډې په كنډاو كښې ئې پنځوس ۵۰ تيرانداز صحابه د حضرت عبد الله بن جبير په مشرئ كښې كينول. چه د دغې طرف نه د حملې امكان ختم شي او ورته يې په تاكيد سره او وئيل .كه مسلمانانو شكست اوخوړلو.اوكه فتح ورته حاصله شوه. تاسو به په هيڅ صورت كښې دغه ځائ‌ښه پرېږدئ. په انفرادى مقابله كښې كافرانو ته د مكمل شكست ملاويدو نه پس عام جنګ شروع شو. حضرت حمزه علي او ابو دجانه په دښمن داسې حملې اوكړې چه د كافرانو صفونه ئې مات كړل.د كافرانو قدمونه اوخويدل.اود كنډاو نه ئې منډه كړه.مسلمانانو په غنيمت راجمع كولو شروع اوكړه. په كنډاو باندې مقرر شوې د پنځوسوكسانو دسته هم غنيمت طرف ته راكوزه شوه.امير منع كړل.خوهغوى ورته اووئيل.ميدان خالى دى. اوكافران شكست اوخوړلو.دلته كښې د پاتې كيدو اوس څه ضرورت دې.صرف لس كسان د عبدالله جبير رضى الله سره پاتې شو.خالد بن وليد چه كنډاو خالى اوليدلو.نود څلور سوه كسانو سره كنډاو، ته ورانده شو.اوهلته كښې موجود يوولس صحابه كرام ئې شهيدان كړل.او په مسلمانانو ئې د شا د طرف نه حمله اوكړه.دې ناګهانه حملې د جنګ نقشه بالكل بدله كړه.كوم كافران چه تختيدلى وو.هغوى هم واپس راغلل.مسلمانان د دواړو طرف نه راګير شو.د جنګ په توره وريځه كښې ئې د خپل او پردى تميز نشو كولې.په بې خبرئ كښې د مسلمان توره د مسلمان په وينه باندې هم رنګينه شوه.كافرانو د آفتاب رسالت د مرګ افواه خوره كړه.په دې سره د مسلمانو حوصلې بنكته شوې.څه كسانو وسله اوغورځوله.څا ميدان جنګ پريخودلو.څه صحابه كرامو په كافرانو باندې لكه د باز حملې اوكړې.او دا به ئې وئيل.دنبى عليه السلام د وفات نه پس په دنيا كښې د ژوند تيرولو به څه مزه وى.د افراتفرى په دې حالت كښې هم څه صحابه كرام د نبى عليه السلام د حفاظت دپاره د هغوى

نه گیرچاپیره راجمع شوی وو.حضرات ابودجانه،علی،طلحه، ابوطلحه، سعد بن ابي وقاص هم په دې بهادروکسانو کښې وو.دکافرانو په حمله کښې دنبی علیه السلام دوه غاښونه مبارك شهیدان شوی وو.شونډې مبارکې ئې زخمی شوې وې.اوپه مخ مبارك کښې ئې د وسپنې کړې ننوتې او تندې مبارك ئې په وينو ككړ شوې وو. تقريباً اويا ۷۰ صحابه رضي الله عنهم شهيدان شول او دکفارو۲۳ درويشت کسان مړه کړې شو.په دې باندې خو روايات متفق دي.چه غزوه احد د شوال په مياشت کښې دګل (دوشنبه) په ورځ ۳هـ کښې واقع شوه البته تاريخ وقوع کښې اختلاف دې.د ۷،۸، ۹، ۱۱ ، ۱۵ ، پورې روايات راغلی دی.

غزوه خندق اوبنی قريظه: دمسلمانانو خلاف ديهوديانو سازشونه جوړول څه نوې خبره نه ده.کله چه د مدينې يهود دخپلوکړو په سزا کښې دمدينې منورې نه اوشړلی شو.نوخيبر ته لاړل .اوداسلام خلاف يې سازشونه شروع کړل.په احد کښې مسلمانانو شکست خوړلې وو.نو دوی ته څه حوصله ملاوء شوه.اوقريشو ته ئې اووئيل. دا وخت دې.چه اسلام د مخ د زمکې نه ختم کړې شی.کافرانودا خبره ډيره په خوشحالئ اومنله.او د اخوا ديخوا قبيلې ،بنو اسد ،بنو غطفان ،بنو سعد ،ئې هم تيار کړل.لس زره کسان د اسلام د ختمولو دپاره مدينې ته راروان شو.صرف د قريشو تعداد په کښې څلور زره وو.دوی سره درې سوه اسونه اوپنځلس اوښان وو.نبی علیه السلام ته ددوی دحملې خبر اوشو.صحابه کرامو سره ئې مشوره اوکړه.حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ددفاعي جنګ طريقه اوښودله چه د مدينې منورې دکوم طرف نه چه دحملې خطره وی. هلته دې ژور کنده اوکنستې شی. نبي کريم صلی الله علیه وسلم په خپله دخندق حدود متعين کړل. د دې خندق ژور والې تقريباً پنځه نيم ګزه او اوږدوالې درې نيم ميله وو. دلسو لسو کسانو ډلې يې جوړې کړې. او لس لس ګزه زمکه ئې هر يو سرې ته اوسپارله. دا د قحط زمانه وه د يخنې ورځې وې. يخې شپې وې. او يخې هواګانې الوتلې دريو زرو(۳۰۰۰) د اسلام فدايانو د غه لښکر دحق او باطل کندد کنستله او روان وو، کومې ډلې چه به خپله حصه مکمله کړه نو ده بلې ډلې سره به شريك شو دايمان يوه جذبه وه د اسلام يو جوش وو.دې جذبې ورته دجهاد په لاره کښې دفانی دنيا هر مشقت د موم نه هم زيات نرم کړې وو. په شاګانو باندې به يې خاوره راوړله. ټولو به دا ترانه وئيله:

نحن الذين بايعوا محمداً   على الجهاد ما بقينا ابداً

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په لاس کښې ګرز راواخستلو.اود خندق نه به ئې خپله خاوره وړله، په خيټه مبارکه باندې يې کاڼړی تړلی وو. او په ژبه باندې ئې د خدائې حمد او ثنا وه او دا اشعار به ئې لوستل:

والله لولا الله ما اهتدينا   ولا تصدقنا ولا صلينا

فان نزلن سكينة علينا   وثبت الاقدام ان لاقينا

په شپږو ورځو کښې خندق پوره کولو نه پس دغه اسلامی قافلې د سلع غر سره نزدې صفونه جوړ کړل. دکفارو لښکر ډير په جوش وخروش کښې راورسيدو نو خندق ددوی اول استقبال او کړو دا استقبال ددوی دپاره نوې هم وو او حيرانونکې هم. چه دخندق نه به څنګه

تیریږی؟ د دواړو طرفونه غشي ورول شروع شو. شلو ورځویا یوے میاشت پورې دا سلسله جاری وه. دالله تعالی امداد داسې راورسیدو چه د بنو غطفان نه نعیم بن مسعود اسلام راوړو او داسي چل ئې جوړ کړو چه په هغې سره د کفارو په لښکر کښې اختلاف پیدا شو بل طرف ته داسې تیزه سیلئ راغله چه ددوی دخیمو تنابونه ئې اوشلول دا نغرونه دیګچې پریوتل سامانونه یې خواره واره شو. د هغې وجې ئې زړونه اوبیلل.او د صبا کیدو نه وړاندې په تیښته مکې ته واپس شول. دا ده ٢٣ ذي القعده ۵ھ دچهارشنبي دورځې واقعه وه.په دې غزا کښې شپږ مسلمانان شهیدان شول درې ٣ یا ٨ کافران مردار کړې شول چونکه یهود بنی قریظه په دے جنګ کښې د معاهدې خلاف ورزی اوکړه. او کافرانو سره یې امداد اوکړلو. نو ددې غزا نه پس مسلمانانو چه مدینې منورې ته را واپس شو.لا وسله ئې ایښې نه وه. چه حضرت جبریل امین راغې. او وې وئیل. عجیبه ده چه وسله مو کیښودله؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آو. وسله مو کیخودله. حضرت جبریل اووئیل. فرښتو لا وسله نه ده ایخې. په بنو قریظه باندې د هغوی د عهد شکنئ د وجے حمله کول دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم اعلان وکړو چه دمازیګر مونځ به په بنی قریظه کښے کوئ. د دریو زرو ٣٠٠٠ لښکر دبنی قریظه نه چاپیره شو. په لښکر کښې ٣٦ اسونه وو. پنځویشتو ورځو پورې محاصره جاری پاتې کیدونه پس بنو قریظه دحضرت سعد بن معاذ په فیصله باندې راضی شو او دخپل قلعګانو نه را کوز شول د حضرت سعد فیصله دا وه چه ددوی سړی دې قتل کړې شی. او ښځے اوماشومان دې غلامان جوړ کړې شی.اود دوی مالونه دې په مسلمانانو تقسیم کړې شي. دغه شاند څلورو سوو یهودیانو سرونه قلم کړې شو.

غزوه ذات الرقاع: د ابن اسحاق د بیان مطابق دا غزا په جمادی الاولی سنه ۴ کښې د ابن سعد په نزد په ۵ هجري او د امام بخاري درایت مطابق دخیبر دغزا نه روستو په ۷ کال شوې وه.د امام بخاری رائې څکه غوره ده چه دې غزوه کښې ابو موسی رضی الله عنه اوحضرت ابو هریره رضی الله عنه شریك وو.او دا دواړه دخیبر د غزا نه روستو مسلمانان شوے وو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته خبر ملاو شو چه دغطفان دوه قبیلے مجارب او ثعلبه د مسلمانانو خلاف د جنګ دپاره جمع کیږي. د دې دپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم څلور سوه (۴۰۰) یا اووه سوه (٧٠٠) یا اته سوه(٨٠٠) صحابه کرام خان سره کړل او ددوې مخې ته ورغلل. یو بل ته مخامخ شو لیکن جنګ او نشو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغلته صلوه الخوف ادا کړو څکه چه ذدشمن نه خطره وه.

غزوه بنی المصطلق: بعضې مورخینو سنه ۴ ھ ابن سعد دویم شعبان سنه ۵ھ او ابن اسحاق په ۶ھ کښې ددې واقعې کیدل لیکلې دی. حافظ ابن حجر د پنځمې هجري قول غوره کړې دې.د بنو المصطلق رئیس حارث ابن ضرار په مسلمانانو دحملې تیارې شروع کړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اطلاع اوشوه نو حضرت بریده ابن خصیب ئې د حال معلومولو دپاره اولیګلو. بریده واپس راغلو. او تصدیق ئې اوکړو . نبي کریم صلی الله علیه وسلم زید بن حارثه خپل قائم مقام جوړ کړو او ګل (دوشمبه) په ورځ د مدینې منورې نه.د مریسیع

(دا يوخائي دې) طرف ته روان شو.اوه سوه ۷۰۰ صحابه وو په لښکر کښې ديرش ۳۰ آسونه وو. ام المومنين حضرت عائشه صديقه او ام سلمه هم ورسره وې. دشمنانو خپل څارو ته أبه ورکولې. چه ناڅاپه په ئې پرې حمله اوکړه او شکست ئې ورکړلو. لس ۱۰ کسان يې ترينه هم مردار کړه. دوه سوه خاندانه يي قيديان کړل دوه زره ۲۰۰۰ أښان پنځه زره چيلي په مال غنيمت کښې ملاو شوې. روستو بيا چونکه دبني المصطلق درئيس حارث لور ام المومنين حضرت جويريه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په نکاح کښې راغله نو څکه ئي ټول آزاد کړل هم د دې سفر په واپسئ کښے واقعه د إفك پيښه شوه.

صلح حديبيه: د ذو القعدې په اول تاريخ د دوشنبې (ګل) په ورځ نبى کريم صلى الله عليه وسلم د عمرې په نيت مکے ته روان شو. دې سفر کښې دصحابه کرامو تعداد په مختلف رواياتو کښې ۱۳سوه ۱۴سوه ۱۵سوه او ۱۸ سوه راغلي دي.مشهور په کښ د څلوارلسوه روايت دي د اسلام دې لښکر دذوالحليفې نه دعمرې دپاره احرام أتړلو. او بشر بن سفيان ئي په طور د جاسوس وړاندې اوليګلو. د اسلام دا لښکر چه کله عسفان ته نزدې غدير اشطاط مقام ته اورسيدلو نو بشر خبر راوړلو چه دقريشو او د هغوى ملګرى قبائل اته زره ۸۰۰۰ کسان په مقام "بلدح" کښې راجمع شوى دى. او دوه سوه ۲۰۰ کسانو سورو سره خالد بن وليد د "کراع الغميم" په لاره کښې د حملې دپاره ناست دى. نبى اکرم صلى الله عليه وسلم لاره بدله کړه او حديبيه مقام ته ئې تشريف يوړلو. هرکله چه خالد بن وليد ته پته اولګيده چه مسلمانانو لاره بدله کړه. نو قريش ئې د نوې صورتحال نه خبر کړل. د حديبيې نه حضرت عثمان رضي الله عنه خبرو اترو دپاره قريشو ته اوليګلو. بل خو دا خبره خوره شوه چه حضرت عثمان او هغه سره تلى لس ملګرى شهيدان کړې شو.ددې نه پس د بيعت الرضوان تاريخى واقعه پيښه شوه.د بيعت ا لرضوان خبر قريش مرعوبه کړل.او صلحې کولو ته ئې غاړه کيخودله.دصلح د خبرو اترو دپاره قريشو سهيل بن عمرو راوليږلو.په څو شرطونو باندې د لسو کالو دپاره صلح اوشوه. په مقام حديبيه کښے شل يا د يوې مياشتې پورې پاتې کيدو نه پس نبى کريم صلى الله عليه وسلم دخپلو ملګرو سره واپس مدينې منورې ته روان شو.ددې سفر په واپسئ سورت "فتح" نازل شو.او قرآن کريم صلح حديبيې ته د فتح مبين لقب ورکړو.

غزوه خيبر: دمدينې منورې نه شړلې شوې يهوديان خيبرته لاړل. اوهلته آباد شو.اود مسلمانانو خلاف ئې د مدينې منورې منافقان او دمکې مشرکان را بيدار کړل. چه اوس د مسلمانانو د طاقت ختمولو موقع ده. د ابن هشام په نزد باندې په محرم کال۷ کښې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د شپاړس سوه ۱۶۰۰ صحابه کرامو چه په کښې دوه سوه ۲۰۰ سواره او څوارلس سوه پياده وو د مدينې منورې نه ۹۶ ميله لرې د شام په لار خيبر ته روان شو. د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بيبيانو کښې ام سلمه رضي الله عنها دوى سره وه. او نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مدينه منوره کې حضرت سباع بن عرفطه رضي الله عنه خپل نائب پريخولو.د شپې په وخت کښې خيبر ته اورسيدل. د حملې دپاره د سحر انتظار وو. يهوديان چه سحرکارونو پسې راووتل.نوصحابه ئې اوليدل چغې ئې کړې چه "محمدوالخميس" د اسلام

د ا لښکر د خیبر دقلعګانو نه ګیر چاپیره شو او ترتیب وار اول قلعه ناعم بیا قموص وروسې قلعه صعب بن معاذ او د قله قلعې فتح کړې. ددے نه پس د قلعه ،وطیح ،، او. سلالم ،،ته د څوارلسو ورځو پورې محاصره جاري وه. يهود صلحې ته مجبوره شو.نبي کریم ﷺ په صلح کښے دا شرط کیخودلو .چه يهود به سره زرسپین زراو ټول د جنګ سامان په خیبر کښې پریږدی. اودخیبر نه به څی یهودو دا شرط قبول کړلو.روستو ئې درخواست او کړو. چه مونږ دې هم په خیبر کښې پریخودلی شو. اود خیبر د باغونو نیم آمدن به مونږ تاسو مسلمانانو ته درکوو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو.په دې غزا کښې تقریباً څوارلس صحابه کرام شهیدان او درې نوی (۹۳) یهودیان مردارشو.

فتح مکه مکرمه: د صلح حدیبیې په شرطونو کښې یوشرط دا هم وو.چه دکومې قبیلې سره د مشرکانو معاهده وی.مسلمانان به د دهغوی سره جنګ نه کوی.او نه به دهغوی خلاف چا سره مدد کوی.اودکومو قبیلو سره چه دمسلمانانو معاهده وی. مشرکان به د هغوی سره جنګ نه کوی.او نه به د هغوی خلاف چا سره مدد کوی.دصلح حدیبې نه پس قبیله بنو خزاعه د مسلمانانو او قبیله بنو بکر دقریشو ملګری شو. دې دواړو قبیلو کښې د پخوا نه د شمنې را روانه وه. د دې وجې بنو بکر په بنو خزاعه باندې حمله اوکړه. قریشو د وعدې خلاف ورزی اوکړه او بنو بکر سره امداد اوکړو. د بنو خزاعه مشر عمرو بن سالم مدینې منورې ته لاړلو. او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ئې د قریشو د خلاف ورزئ نه خبر کړو.چه قریشو تاسو سره اومعاهده کړې وه.چه مونږ به دهغه چا خلاف د هغوی د دشمن سره مدد نه کوو .دچا سره چه ستاسو معاهده وی.او اوس بنوبکر په مونږحمله اوکړه.اومشرکانو ورسره مدد اوکړلو.او تاسو سره چه ئې کومه معاهده کړې وه.دهغې خلاف ورزی ئې اوکړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم قریشو ته خبر او لیګلو چه د بنو خزاعه د قتل شوو کسانو دیت (تاوان) ورکړئ. یا د بنو بکر د معاهدې نه لاس واخلئ. او که داسې نه کوئ. نو بیا د صلح حدیبې ماتولو اعلان اوکړئ. قریشو د صلح حدیبې د ماتولو اعلان اوکړو. بیا روستو په خپلو کړو پښیمانه شو. او د معاهدې نوې کول ئې اوغوښتل. خو نبی علیه السلام ترې انکار اوکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم په لسم د رمضان المبارك سنه ۸ ھ (جنوری ۶۳۰عیسوی) په ورځ د چهار شنبې (بدھه) لس زره اسلامی لښکرځان سره روان کړلو. او مکې طرف ته روان شو. ازواج مطهراتو کښې ورسره حضرت میمونه او ام سلمه وه. د ښې مکې ته نزدې ئې ابو سفیان، بدیل او حکم بن خرام اونیولی شو.دوی دحالاتو معلومولو دپاره راوتلی وو. د راروانې ورځې پورې درې واړو اسلام راوړلو.چه سحر شو نو اسلامې لښکر مکې طرف ته روان شو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمکې د بره طرف نه مکې ته بغیر د جنګ نه داخل شو .او حضرت خالد بن ولید د مکې د کوز طرف نه مکې ته بغیر د جنګ نه داخل شو. ده سره د قریشو بعضو کسانو جنګ اوکړلو. چه پکښې درې صحابه کرام حضرت کرز بن جابر حضرت حبیش بن اشعر او مسله بن المیلاد شهیدان او دولس یا څلیرویشت کفار قتل کړې شو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ټولو نه رومبې دحضرت ام هانې کورته ورغلو. اته ۸ رکعته مونځ ئې اوکړل. پیا مسجدحرام ته لاړلو. او په حرم کښې چه کوم درې سوه شپیته ۳۶۰ بُتان وو. هغه ئې مات کړل. او بیت الله ئې د تصویرونو نه

صفا کړلو. حضرت بلال رضي الله عنه او اسامه ئې ځان سره کړل. او دوه رکعته ئې په خانه کعبه کښې دننه اوکړل. د الله اکبر په اواز ئې هغه ځائې روښانه کړلو. بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کعبې نه را بهر.او خطبه ئې او فرمائله. او قریشو سره ئې د رحم او کرم معامله اوکړله. او ټول ئې معاف کړل. د دې هر څه باوجود چه دوی مسلمانانو ته سخت تکلیفونه رسولي وو.

۲۰ رمضان المبارك د جمعې ورځ وه. لګ ساعت بعد دکعبې نه د حضرت بلال رضي د آذان ښکلې او زړه راښکونکې اواز پورته شو. د ماسپخین د مانځه نه پس عام بیعت (لاس نیوه) شروع شوه. د پنځم شوال د شنبې (خیالی) د ورځې پورې نبی کریم صلی الله علیه وسلم مکه کښې حصار وو. او په شپږم شوال باندې حنین طرف ته روان شو.

غزوه حنین: دمکې مکرمې د فتح کولو خبر چه کله د هوازن اوثقیف قبیلو واوریدو کوم چه په طائف کښې آباد وو. نو یو بل سره یې مشوره اوکړه چه په مسلمانانو باندې حمله اوکړي. د دواړو قبیلو شل زره ۲۰۰۰۰ کسان د مالك بن عوف په مشرئ کښې حنین مقام ته راورسیدل. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چه کله دامعلومه شوه. نو حضرت عبد الله بن ابي حدرد ئې د حالاتو معلومولو دپاره اولیګلو. هغوی واپس راغلل او د هغې دواړو قبیلو د آرادې خبرې یې ورکړلو.په شپږم شوال شنبه (خیالی) په ورځ په اتم کال د هجرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دولسو زرو ۱۲۰۰۰ فدایانو سره حنین مقام طرف ته روان شول. کله چه دا اسلامي لښکر د چهار شنبې په شپه د وادي حنین نه تیریدو نو په غرونو کښې پټ د دغې دوو قبیلوپه زرګونو خوانانو ناڅاپه حمله اوکړه. د دې ناڅاپې حملې د وجې مسلمانان اول روستو شو. خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپل ځاې کلك ولاړ وو. او د ژبې مبارکې نه ئې دا جلالی کلمات په چغه راوتل

انا النبي لا کذب انا ابن عبد المطلب

حضرت عباس او یو څو صحابه کرام نور هم ورسره ولاړ وو. حضرت عباس رضی الله عنه ته ئې حکم اوکړلو.چه انصار او مهاجرینو ته آواز اوکړه.چه صحابه کرامو د حضرت عباس آواز واوریدلو. نو د سترګې په رپ کښې دغه اسلامي لښکر لکه د لیونو په دشمن را پریوتل او لګ وخت تیرنه وو. چه میدان بالکل خالی پاتې شو. او

دشمن اوتښتیدو. د دشمن او یا کسان قتل شو. تقریباً شپږ زره کسان ئې بندیان شو. څلوریشت زره اوښان څلویښت زره چیلي او څلور زره اوقیې سپین زر په مال غنیمت کښې د مسلمانانو لاس ته راغلل . صرف څلور مسلمانان شهیدان شول. د حنین په دې مقام کښې چه کوم لښکر شکست اوخوړلو. د هغوی یوه حصه اوطاس او بله طائف ته لاړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت ابو عامر په مشرئ کښې یو لښکر اوطاس طرف ته اولیګلو هلته دوی فتحه حاصله کړه. او بل طرف ته د طائف نه مسلمانانو تر پنځلسو، اوولسو۱۷، اتلسو۱۸، یا شلو ۲۰ ورځو پورې ګیره اچولې وه. دولس مسلمانان شهیدان شو. خو بیا هم قلعه فتحه نه شوه.د قبیله ثقیف دپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هدایت دعا اوکړه. او محاصره ئې ترې ختمه کړه. په پنځمه ذو القعده نبي کریم صلی الله

عليه وسلم مقام جعرانه ته اورسيدو. نو هلته د غزوه حنين بنديان او مال غنيمت جمع وو. نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ديارلسو ورځو پورې انتظار اوکړو. چه کيدې شي. قبيله هوازن او ثقيف راشي .او خپل بنديان آزاد کړي.چه څوك هم رانغلل. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم مال غنيمت سره سره دغه بنديان هم تقسيم کړل. دمال غنيمت تقسيمولو نه پس د قبيله هوازن جرګه راغله.او توبه ګار شو. دې نه پس نبی کريم صلی الله عليه وسلم ټولو صحابه وو ته بنديانو آزادلو سفارش وراند کړو. چه د چا په حصه کښې کوم بنديان راغلی دی.نو زما دا سفارش دې. چه هغه آزاد کړئ. ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم دا سفارش قبول کړلو. او په يو وار يې شپږ زره بنديان آزاد کړل. په اتلسم ۱۸ رمضان اتم کال دهجرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم دفتحې مکې په اراده وتلې وو. او دوه ۲ مياشتې او شپاړس ۱۶ ورځو کښې بيا واپس مدينې ته لاړلو.

غزوه موته: نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت حارث بن عمير ته د اسلام ددعوت خط ورکړو.او قيصر روم ته ئې او ليګلو. د قيصر د بادشاهئ لاندې د مقام بلقاء رئيس شرحبيل بن عمرو دغه سفير شهيد کړو. ددې شهيد دبدلې اخستلو دپاره نبي کريم صلی الله عليه وسلم د دريو زرو صحابه کرامو يوه ډله د حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه په مشرئ کښې او ليګلو.او ورته يې او فرمائيل. چه که چرته زيد شهيد شي نو جعفر بن ابي طالب به امير وی. اوکه جعفر شهيد شي نو عبد الله بن رواحه به امير وي. او که عبدالله بن رواحه هم شهيد شي. نو بيا چه مسلمانان په چا متفق شي هغه به امير وی.شرحبيل چه کله خبر شو نو يو لاکهه فوج يې د مقابلې دپاره را روان کړل. بل طرف ته هرقل نور يو لاکهه کسانو سره په خپله د شرحبيل د امداد دپاره راوسيدلو. د موته په ميدان کښے دوه عظيم طاقتونه يو بل ته مخامخ شو. د حق او باطل دکفر او اسلام جنګ شروع شو. يو طرف ته دوه لاکهه کافران او بل طرف ته صرف درې زره د ايمان په دولت مست مسلمانان وو. حضرت زيد جعفر او عبد الله بن رواحه درې واړه پرله پسې شهيدان شو. مسلمانانو حضرت خالد بن وليد خپل امير جوړ کړلو. حضرت خالد بن وليد په بله ورځ د لښکر ترتيب بدل کړو چه په هغې سره دشمن ته خيال راغې. چه ګني نور لښکرد امداد دپاره راو رسيده. د دې وجې په دشمن رعب پريوته. او ميدان يې پريښودلو. حضرت خالد هم د ښمن پسې تګ مناسب ونه ګڼړلو او مدينې طرف ته روان شو. دې غزا کښې دولس مسلمانان شهيدان شو.ابن اسحاق او موسی بن عقبه دا واقعه په جمادی الاولی اتم کال د هجرت او خليفه بن خياط اووم کال خودلې دی.

غزوه تبوك: د مدينې منورې نه د دمشق په طرف اووه سوه ۷۰۰ کلومتره لرې فاصلې باندې د تبوك مقام واقع دی. نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته خبر ملاو شو چه هرقل د تبوك مقام کښې يو لوی لښکر راجمع کړې دې. او په مدينه منوره باندې دحملې په اراده يې د لښکر اوله حصه مقام بلقاء ته رارسولې ده. خبر رارسيدو سره نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مقابلې دپاره د وړاندې کيدو اعلان اوکړو. موسم دګرمې وو. د فصلونو د ريبلو وخت وو. لوګه او قحط عام وو. سفر ډير لرې وو. او مقابله هم ډيره سخته وه .ځکه چه د هغه وخت د يو لوې سلطنت روم سره مقابله وه. ليکن الله تبارك وتعالی هم دخپل پيغمبر

صلى الله عليه وسلم دملگرتيا دپاره داسې خلق غوره کړې وو. چې دوی دخپل محبوب پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ملگرتيا قدر پيژندلو.ځکه يې په چنده جمع کولو کښې هم د يوبل نه د وړاندې کيدو جذبه ښکاره کړه. ډير مخلص صحابه غزا ته د تللو دپاره ليواله وو. خو د سفر خرچه ورسره نه وه. نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغلل. او دخرچې درخواست يې اوکړو. خو نبی کريم صلى الله عليه وسلم هم د سفر خرچه نشوه برداشت کولې.نبی عليه السلام به ورته معذرت اوکړو. دا صحابه به په ژړا واپس شو. او دومره په درد سره به ئې ژړل. چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم زړه به يې هم راډك کړلو. او آفتاب رسالت به هم په ژړا شولو. كما قال تعالى "تولوا واعينهم تفيض من الدمع حزناً ان لايجدوا ماينفقون" (التوبه/٩٢).د رجب سنه ۹ هـ (نومبر ۶۳۵ء) د زيارت په ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم ديرش ځلويښت يا اويا زره صحابه ځان سره کړل. ورسره لس زره اسونه دولس زره اوښان وو. تبوك ته په پنځلسو ورځو کښې اورسيدل. د مقابلې دپاره څوك هم رانغلل. تبوك کښې د قيام په ورځو کښې نبي کريم صلى الله عليه وسلم خواوشا رياستو نو ته صحابه اوليگل. هغوی کامياب واپس شو. د دومه الجندل، ايله، اجربا ، ازرح سردارانو جزيه قبوله کړه. د تبوك دقيام په موده کښې اختلاف دې. واقدی دوه مياشتې، ابن سعد شل ورځې ابن اثير نورلس ورځې، طبري دولس ورځې ابن هشام لس ورځې ليکلې دي. ليکن معلوميږي .چه د تلو پنځلس ورځې او دراتلو هم پنځلس ورځې او هلته دقيام شل ورځې وې. ټولې پنځوس ورځې وې.کله چه داسلام دا عظيم لښکر مدينې ته نزدې شو. نو خواو شا ډير خلق استقبال دپاره ولاړ وو. دمدينې منورې ماشومانو جينكو نن هم هغه ترانه په ژبه باندې جاري وه. كومه چه د نن نه نهه كاله وړاندې وه"

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع وجب الشكر علينا ما دعا لله داع

ليکن دومره فرق ضرور ووچه هغه وخت يو نا اشنا وطن نه د مسافرو مهاجرينو استقبال وو. اونن دلته دنبوې محبت نه لاندې د اويا زرو صحابه وو لښکر او د مجاهدينو د سردار صلى الله عليه وسلم استقبال او هرکلې وو.

مصادر ومراجع كشف البارى دريم جلد

الابواب والتراجم لصحيح البخارى شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب (متوفى ۱۴۰۲ھ مطابق ۱۹۸۲ء) ايچ ايم سعيد كمپنى پاكستان چوك كراچى

اتحاف السادة المتقين بشرح أسرار إحياء علوم الدين: علامه سيد محمد بن محمد الحسينى الزبيدى المشهور بمرتضى رحمه الله (متوفى ۱۲۰۵ھ) دار احياء التراث العربى

احسن الفتاوى مفتى رشيداحمد صاحب لدهيانوى ايچ ايم سعيد كمپنى

الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان امام ابوحاتم محمد بن حبان بستى رحمه الله متوفى ۳۵۴ھ موسسة الرسالة بيروت.

احكام القرآن \ مولانا ظفر احمد عثمانى \ ادارة القرآن كراچى

أسد الغابة عزالدين أبوالحسن على بن محمد الجزرى المعروف بابن الأثير المتوفى ۶۳۰ھ دار الكتب العلمية بيروت

الإصابة فى تميز الصحابة: شهاب الدين ابوالفضل أحمد بن على القسطلانى المصرى المعروف يابن حجر رحمه الله (متوفى ۸۵۲ھ) دار الفكر. بيروت

الإستيعاب فى اسماء الأصحاب بهامش الإصابة: ابوعمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر رحمه الله (متوفى ۴۶۳ھ) دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع \ بيروت

إعلاء السنن علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله متوفى ۱۳۹۴ھ ادارة القرآن كراچى

الاستيعاب فى اسماء الأصحاب بهامش الإصابة ابوعمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر رحمه الله متوفى ۴۶۳ھ) دار الفكر بيروت۔

الإكمال فى أسماء الرجال \ محمد بن عبدالله تبريزى \ ادارة القرآن كراچى

امداد الفتاوى \ مولانا اشرف على تهانوى رحمه الله (۱۳۶۲ھجرى)

الارشاد فى أصول الإعتقاد \ عبدالملك بن عبدالله (۴۷۸ھجرى)

البحر الرائق علامة زين العابدين بن ابراهيم بن نجيم رحمه الله المتوفى ۹۶۹ھ أو المتوفى يا المتوفى ۹۷۰ھ مكتبه رشيديه كوئته

البداية والنهاية: حافظ عمادالدين أبوالفداء إسماعيل بن عمر المعروف يابن كثير رحمه الله (متوفى ۷۷۴ھ) مكتبة المعارف. بيروت. طبع ثانى ۱۹۷۷ء

بذل المجهود: حضرت العلامه خليل أحمد سهارنپورى رحمه الله (متوفى ۱۳۴۶ھ) مطبع ندوة العلماء لكنهو. ۱۳۹۳ھ مطابق ۱۹۷۳ء

بيان القرآن: حكيم الأمت حضرت مولانا أشرف على صاحب تهانوى نور الله مرقده (متوفى ۱۳۶۲ھ) شيخ غلام على اينڈ سنز لاهور

تاريخ المدينة المنورة \ ابوزيد عمر بن شبه البصرى (۲۶۲ھجرى)

تاريخ الطبرى ابوجعفر محمد بن جرير الطبرى \ مؤسسة الرسالة

تاريخ الخميس فى احوال أنفس نفيس: شيخ حسين بن محمد بن الحسن الديار بكرى المالكى رحمه الله (متوفى ۹۶۶ھ) \ مؤسسة شعبان بيروت،

تاريخ دعوت وعزيمت \ مولانا ابوالحسن على ندوى رحمه الله مجلس نشريات اسلام كراچى
تاليفات رشيديه \ مولانا رشيد احمد گنگوهى \ ادارة اسلاميات لاهور،
تحفه اثناء عشريه \ شاه عبدالعزيز دهلوى رحمه الله \ سهيل اكيدمى لاهور،
تفسير كبير (مفاتيح الغيب): إمام أبوعبدالله فخرالدين محمدبن عمر الحسين رازى رحمه الله (متوفى ٦٠٦ھ). مكتب الاعلام الإسلامى إيران،
تفسيرابن كثير: حافظ أبوالفداء عمادالدين إسماعيل بن عمرابن كثير دمشقى رحمه الله (متوفى ٧٧٤ھ) دارالفكر بيروت،
تعليقات على لامع الدرارى \ شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله المتوفى ١٤٠٢ هجرى الموافق ١٩٨٢م \ مكتبة إمدادية مكة المكرمة۔
التعليق الصبيح: حضرت مولانا محمد ادريس صاحب كاندهلوى رحمه الله متوفى ١٣٩٤ھ مكتبة عثمانية لاهور.
تعليق تهذيب الرياسة وترتيب السياسية ابراهيم يوسف مصطفى عجو رحمه الله
تقريب التهذيب: حافظ إبن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ٨٥٢ھ) دار الرشيد حلب ١٤٠٦ھ
تهذيب الكمال: حافظ جمال الدين أبوالحجاج يوسف بن عبدالرحمن مزى رحمه الله (متوفى ٧٤٢ھ). مؤسسة الرسالة
جامع الأصول \ مبارك بن احمد بن الاثيرالجزرى \ دارالفكر
الجامع لأحكام القرآن: (تفسير قرطبى) إمام أبوعبدالله محمد بن أحمد الأنصارى القرطبى رحمه الله (متوفى ٦٧١ھ) دارالفكر بيروت،
الجرح والتعديل \ عبدالرحمن بن ابى حاتم رازى \ دارالفكر
حلية الأولياء: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهانى رحمه الله (متوفى ٤٣٠ھ) دارالفكر بيروت
الحاشية على صحيح البخارى \ احمد على سهارنپورى رحمه الله \ قديمى كتب خانه
حاشية السندى على البخارى (مطبوعه مع صحيح بخارى): إمام أبوالحسن نورالدين محمد بن عبدالهادى سندهى رحمه الله (متوفى ١١٣٨ھ). قديمى كتب خانه كراچى،
درالمختار للعلامة علاء الدين محمد بن على بن محمد الحصكفى رحمه الله المتوفى ١٠٨٨ ھ \ مكتبة رشيدية كوئٹه،
درالمنثور فى التفسير بالمأثور للحافظ جلال الدين عبدالرحمن السيوطى رحمه الله المتوفى ٩١١ھ \ مؤسسة الرسالة
دلائل النبوة: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهانى رحمه الله (متوفى ٤٣٠ھ). دارالنفائس،
دلائل النبوة: حافظ أبوبكر أحمدبن الحسين بن على البيهقى رحمه الله (متوفى ٤٥٨ھ). مكتبه أثريه لاهور،
رحماء بينهم مولانا محمد نافع صاحب مكه بكس لاهور
الروض الأنف: إمام أبوالقاسم عبدالرحمن بن عبدالله السهيلى رحمه الله (متوفى ٥٨١ھ) مكتبه فاروقيه ملتان ١٣٩٧ھ،
روح المعانى فى تفسير القرآن العظيم والسبع المثانى: أبوالفضل شهاب الدين سيد محمود آلوسى بغدادى رحمه الله (متوفى ١٢٧٠ھ) مكتبه إمداديه ملتان،
الرياض النضرة \ ابوجعفر احمد محب الطبرى دارالتاليف مصر (١٩٥٣عيسوى)

زاد المعاد من هدی خیر الأنام: حافظ شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمۃ اللہ
متوفی ۷۵۱ھ مؤسسۃ الرسالۃ.
زهر الربی: (مع سنن النسائی) حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمۃ اللہ متوفی (۹۱۱ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی.
سنن ترمذی \ إمام أبوعیسی محمد بن عیسی بن سورۃ ترمذی رحمۃ اللہ
سنن ابی داؤد: إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمۃ اللہ (متوفی ۲۷۵ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی \
دار إحیاء السنۃ النبویۃ،
سنن إبن ماجہ: إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجہ رحمۃ اللہ (متوفی ۲۷۳ھ). قدیمی کتب خانہ کراچی \
دار الکتب المصری قاهرہ
السنن الصغری للنسائی: إمام أبوعبد الرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمۃ اللہ (۳۰۳ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،
سنن دار قطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دار قطنی رحمۃ اللہ (متوفی ۳۸۵ھ) دار نشر الکتب الإسلامیۃ لاهور،
سنن کبری للبیهقی: إمام حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمۃ اللہ (متوفی ۴۵۸ھ) نشر السنۃ ملتان،
سیرت النبی ﷺ: علامہ شبلی نعمانی رحمۃ اللہ (متوفی ۱۳۳۲ھ) و مولانا سید سلیمان ندوی (متوفی ۱۹۵۳ء)
دار الإشاعت کراچی،
سیرۃ المصطفی: حضرت مولانا محمد إدریس کاندهلوی رحمۃ اللہ (متوفی ۱۳۹۴ھ مطابق ۱۹۷۴ء) مکتبہ عثمانیہ لاهور،
سیرۃ إبن هشام إمام أبومحمد عبد الملک بن هشام المعافری المصری رحمۃ اللہ (متوفی ۲۱۳ھ) مکتبہ عثمانیہ لاهور
سیرۃ حلبیۃ (انسان العیون فی سیرۃ الأمین المأمون): علامہ علی بن برهان الدین الحلبی رحمۃ اللہ (متوفی ۱۰۴۴ھ)
المکتبۃ الإسلامیہ بیروت،
سیر أعلام النبلاء: حافظ أبوعبداللہ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی رحمۃ اللہ (متوفی ۷۴۸ھ) مؤسسۃ الرسالۃ،
السیرۃ النبویۃ والآثار المحمدیۃ \ احمد زینی دحلان \ المکتبۃ الإسلامیۃ بیروت ولبنان.
شرح السنۃ حدی السنۃ حسین بن مسعود البغوی (۵۱٦)ھ
شرح نهج البلاغۃ \ عبد الحمید بن هبۃ اللہ ابن ابی الحدید \ بیروت دار ائرندلس.
شرح نهج البلاغۃ میثم بن علی بن میثم البحرانی (٦۷۹)ھ انتشارات، قم ایران.
شرح معانی الآثار إمام أبوجعفر احمد بن محمد بن سلامۃ بن سلمہ طحاوی رحمۃ اللہ (متوفی ۳۲۱ھ) میر محمد آرام
باغ کراچی، \ میر محمد آرام باغ کراچی،
شرح طیبی \ إمام شرف الدین حسین بن محمد بن عبداللہ الطیبی رحمۃ اللہ (متوفی ۷۴۳ھ) إدارۃ القرآن کراچی.
. الکواکب الدراری (شرح الکرمانی): علامہ شمس الدین محمد بن یوسف بن علی الکرمانی رحمۃ اللہ (متوفی ۷۸٦
ھ) دار إحیاء التراث العربی،
شرح دیوان حسان بن ثابت رضی اللہ عنہ \ عبد الرحمن البرقوقی \ میر محمد کتب خانہ
شمائل ترمذی \ محمد بن عیسی الترمذی \ ایم ایم سعید کمپنی
شعیت کا اصلی روپ \ غلام محمد \ غلام محمد حیدر آباد سندھ

شرح مسلم\إمام أبوزکریا یحیی بن شرف النووی رحمہ اللہ (٦٧٦ھ)، قدیمی کتب خانہ کراچی،

صحیح بخاری شریف: إمام أبوعبداللہ محمد بن إسماعیل البخاری رحمہ اللہ (متوفی٢٥٦ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

صحیح مسلم إمام أبوالحسین مسلم بن الحجاج القشیری رحمہ اللہ (متوفی٢٦١ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

طبقات الکبری: إمام أبوعبداللہ محمد بن سعد رحمہ اللہ (متوفی٢٣٠ھ) دار صادر بیروت،

عبقریة الإسلام فی أصول الحکم \ڈاکٹر منیر عجلانی \دار نفائس بیروت

عمدة القاری شرح صحیح البخاری: إمام بدر الدین أبومحمد محمود بن أحمد العینی رحمہ اللہ (متوفی٨٥٥ھ)، إدارة الطباعة المنیریة،

عورت کی حکمرانی \ مولانا یوسف لدھیانوی \ مکتبہ بینات کراچی

عین الهدایہ \ مولانا امیرعلی \ میرمحمد کتب خانہ کراچی۔

غنیہ المستملی\الشیخ ابراهیم بن منصور فرغانی(٥٩٢)ھگ\ مکتبہ فاحدیہ کوئٹہ

فتح الباری شرح صحیح البخاری: احمد بن علی المعروف بابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی٨٥٢ھ). دار الفکر بیروت،

فتاوی قاضیخان\حسن بن منصور فرغانی(٥٩٢)ھ مکتبہ قاحدیہ کوئٹہ

فیض الباری: إمام العصر علامہ أنور شاہ کشمیری رحمہ اللہ (متوفی١٣٥٢ھ). ربانی بک ڈپو دھلی،

موطا مالک بن انس المتوفی١٧٩ھ دار إحیاء التراث العربی

مسند أحمد: إمام أحمد بن حنبل رحمہ اللہ (متوفی٢٤١ھ)

المصنف لعبدالرزاق: إمام عبدالرزاق بن همام بن نافع الصنعانی رحمہ اللہ (متوفی٢١١ھ) مجلس علمی،

مصنف ابن أبی شیبة للحافظ عبداللہ بن محمد بن أبی شیبة المعروف بأبی بکر ابن أبی شیبة رحمہ اللہ المتوفی٢٣٥ھ الدار السلفیة بمبئ الهند الطبعة الثانیة ١٣٩٩ھ، ١٩٧٩م،

المجموع شرح المهذب\ محی الدین بن شرف النووی(٦٧٦)ھ شرکة علماء الازهر

مشکاة المصابیح\ محمد بن عبداللہ الخطیب التبریزی(٧٣٢)ھ دار الفکر بیروت.

مرآة الجنان\ عبداللہ بن اسد بن سلیمان(٧٥٨)ھ مؤسسة الأعلمی للمطبوعات بیروت،

المرتضی\ مولانا ابوالحسن علی ندوی\ مجلس نشریات اسلام کراچی

مجمع بحار الأنوار فی غرائب التنزیل ولطائف الأخبار: محدث محمد طاہر پٹنی (متوفی٩٨٦ھ) دائرة المعارف العثمانیہ حیدر آباد ١٣٩٥ھ

مقدمة کتاب مولانا الیاس رحمہ اللہ اور ان کی دینی دعوت\ مولانا سید سلیمان ندوی(١٩٣٩)عیسوی مجلس نشریات اسلام کراچی

المعجم الوسیط: دکتور إبراهیم أنیس\ دکتور عبدالحلیم منتصر عطیة الصوالحی\ محمد خلف اللہ احمد\ مجمع اللغة العربیة دمشق،

معجم البلدان: علامہ أبوعبداللہ یاقوت حموی رومی رحمہ اللہ (متوفی٦٢٦ھ). دار إحیاء التراث العربی بیروت،

المنجد\ لوئیس بن نقولا\ معارج ایران،
مختار الصحاح: إمام محمد بن أبی بکر بن عبد القادر الرازی رحمه الله (متوفی ۶۶۶ھ)، نه روستو، دار المعارف مصر،
میزان الإعتدال فی نقد الرجال: حافظ شمس الدین أبوعبدالله محمد بن احمد بن عثمان، ذهبی رحمه الله (متوفی ۷۴۸ھ) دار إحیاء الکتب العربیة مصر ۱۳۸۲ھ،
المنتقی لإبن جارود،
مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: إمام نور الدین علی بن أبی بکر الهیثمی رحمه الله (متوفی ۸۰۷ھ).
مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: علامه نور الدین علی بن سلطان القاری رحمه الله (متوفی ۱۰۱۴ھ). مکتبه امدادیه ملتان،
معالم السنن للإمام أبی سلیمان أحمد بن محمد الخطابی رحمه الله المتوفی ۳۸۸ھ مطبعة أنصار السنة المحمدیة ۱۳۶۷ھ/۱۹۴۸م)
المستدرك علی الصحیحین: حافظ أبوعبدالله محمد بن عبدالله حاکم نیشاپوری (متوفی ۴۰۵ھ) دار الفکر بیروت،
مقدمة ابن الصلاح (علوم الحدیث) لحافظ تقی الدین أبوعمرو عثمان بن عبد الرحمن المعروف بإبن الصلاح رحمه الله المتوفی ۶۴۳ھ دار الکتب العلمیة بیرت)
معارف القرآن\ مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله \ ادارة المعارف کراچی
المفند علی المهند\ مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله ادارہ اسلامیات لاهور
منهاج السنة\ احمد بن عبد الحلیم (ابن تیمیه رحمه الله)
الأمانة العظمی عند أهل السنة\ عبدالله بن عمر سلیمان دمیجی\ دار الطیب الریاض (۱۴۰۷)ھ.
النهایة فی غریب الحدیث والأثر: علامه مجد الدین أبوالسعادات المبارك بن محمد بن الأثیر رحمه الله (متوفی ۶۰۶). دار إحیاء التراث العربی بیروت،
نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر حافظ ابن حجر العسقلانی المتوفی ۸۵۲ھ الرحیم اکیڈمی
النکت علی کتاب إبن الصلاح: حافظ إبن حجر عسقلانی رحمه الله (متوفی ۸۵۲ھ).
کشف الأسرار علی أصول فخر الإسلام بزدوی\ عبد العزیز بخاری\ صدف پبلشرز کراچی.
الکشاف\ محمد بن عمر الزمخشری (۵۳۸ھ)\ دار الکتب العربی بیروت
الکافی الشاف فی تخریج أحادیث الکشاف\ حافظ ابن حجر عسقلانی\ دار الکتب العربی بیروت
الکامل\ علی بن محمد بن الأثیر (۶۳۰)ھ دار الکتب العربی بیروت
کنز العمال فی سنن الأقوال والأفعال: علامه علاء الدین علی متقی بن حسام الدین هندی برهان پوری رحمه الله (متوفی ۹۷۵ھ). مکتبة التراث الإسلامی حلب،
الهدایة للعلامة برهان الدین أبوالحسن علی بن أبی بکر المرغینانی رحمه الله المتوفی ۵۹۶ھ کتب خانه رشیدیه دهلی \ إدارة القرآن کراتشی)